ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ فِيْهِ

تَعلِيمُ الكِتَاب

آسانه ټکی په ټکی او روانه ترجمه



مولانا مفتی محمد ایاز صاحب

بسم الله الرحمن الرحيم

هو الله الذي لا إله إلا هو الرحمن الرحيم

الملك القدوس السلام المؤمن

المهيمن العزيز الجبار المتكبر الخالق

المصور الغفار القهار الوهاب

الرزاق الفتاح العليم القابض الباسط

الخافض الرافع المعز المذل

السميع البصير الحكم العدل اللطيف

الخبير الحليم العظيم الغفور

الشكور العلي الكبير الحفيظ المقيت

الحسيب الجليل الكريم الرقيب

المجيب الواسع الحكيم الودود المجيد

لا الٰہ الا اللہ محمد رسول اللہ ﷺ

الْبَاعِثُ الشَّهِيدُ الْحَقُّ الْوَكِيلُ الْقَوِيُّ

الْمَتِينُ الْوَلِيُّ الْحَمِيدُ الْمُحْصِي

الْمُبْدِئُ الْمُعِيدُ الْمُحْيِي الْمُمِيتُ الْحَيُّ

الْوَاجِدُ الْمَاجِدُ الْوَاحِدُ الْاَحَدُ

الصَّمَدُ الْقَادِرُ الْمُقْتَدِرُ الْمُقَدِّمُ الْمُؤَخِّرُ

الْاَوَّلُ الْآخِرُ الظَّاهِرُ الْبَاطِنُ

الْوَالِي الْمُتَعَالِي الْبَرُّ التَّوَّابُ الْمُنْتَقِمُ

الْعَفُوُّ الرَّءُوفُ مَالِكُ الْمُلْكِ ذُو الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ

الْمُقْسِطُ الْجَامِعُ الْغَنِيُّ الْمُغْنِي الْمَانِعُ

الضَّارُّ النَّافِعُ النُّورُ الْهَادِي

الْبَدِيعُ الْبَاقِي الْوَارِثُ الرَّشِيدُ الصَّبُورُ

ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ فِيْهِ

تعلیم الکتاب

آسانه تکی په تکی او روانه ترجمه

تالیف

مولانا مفتی محمد ایاز صاحب

ترتیب و تصحیح

مولانا عبدالباری صاحب
مولانا جعفر خان صاحب
مدرسین جامعه تبلیغ القرآن پشاور



عبدالغنی پلازه محله جنگی قصه خوانی پشاور شهر
091-2580325 - 2590315
0333-4532836 / 0332-9241690

العلم پبلیکیشنز

قَالَ اَلَمْ اَقُلْ لَّكَ اِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيْعَ مَعِيَ صَبْرًا ۝

اوویل هغه | آیا مانه وو ویل | تاته | (چه) بیشکه ته | هیڅ کله طاقت نه لرے | ما سره | د صبر کولو

خضرؑ ورته بیا اوویل چه وے ما تاته ویل نه وو چه ته ما سره صبر نه شے کولے

قَالَ اِنْ سَاَلْتُكَ عَنْ شَيْءٍۢ بَعْدَهَا فَلَا تُصٰحِبْنِيْ ۚ

اوویل هغه | که چرے | ما تپوس اوکړو ستا نه | د شیز | پس ددے نه | نو ما مهٔ ملګرے کوه

موسیٰؑ ورته اوویل که ددے نه پس مے دڅه خبرے تپوس اوکړو نو بیا ما د ځان سره مه ساته

قَدْ بَلَغْتَ مِنْ لَّدُنِّيْ عُذْرًا ۝ فَانْطَلَقَا ۫ حَتّٰٓى اِذَآ اَتَيَآ

یقینًا | رسیدلے ئے ته | زما د طرف نه | عذر ته | نو دواړه روان شو | تردے | چه کله | راغلل

ځکه چه تا زما په حقله خپل عذر پوره کړو. نو بس دواړه بیا روان شول تردے چه کله د یو کلی والو په

اَهْلَ قَرْيَةِ ۨاسْتَطْعَمَآ اَهْلَهَا فَاَبَوْا اَنْ يُّضَيِّفُوْهُمَا

یو کلی والو ته | نو خوراک ئے اوغوښتلو | د هغه داوسیدونکو نه | نو هغوی انکار او کړو | چه میلمستیا اوکړی ددے دواړو ته

خوا تیریدل نو د هغوی نه ئے ډوډئ وغوښتله خو هغوی د دوی د میلمستیا کولو نه انکار وکړو

فَوَجَدَا فِيْهَا جِدَارًا يُّرِيْدُ اَنْ يَّنْقَضَّ فَاَقَامَهٗ ۭ قَالَ

پس اوموندلو دواړو | په هغے کښې | یو دیوال | نزدے وو | چه راپریوځی | نو هغه ئے نیغ کړو | اوویل (موسیٰ)

بیا دوی دواړو په دغه کلی کښې یو دیوال ولیدو چه پریوتو ته نزدے وو نو خضر هغه نیغ کړو موسیٰ ورته ووئیل

لَوْ شِئْتَ لَتَّخَذْتَ عَلَيْهِ اَجْرًا ۝ قَالَ هٰذَا فِرَاقُ بَيْنِيْ

که چرے تا غوښتلے وے | نو اغستلی به وے تا | په دے باندے | څه اجرت | اوویل هغه | دا ده | جدائی | په مینځ زما

که تا غوښتلے نو په دے کار به دے ددوی نه اجرت اغستلی وے خضر ورته ووئیل چه بس زما او ستا د

وَبَيْنِكَ ۚ سَاُنَبِّئُكَ بِتَاْوِيْلِ مَا لَمْ تَسْتَطِعْ عَّلَيْهِ صَبْرًا ۝

او په مینځ ستا کښې | زر ده چه زه به تا خبر کړم | په مطلب (حقیقت) | د هغه څه | چه تا طاقت نه لرلو | په هغے باندے | د صبر کولو

جدائی وخت راغے اوس به زه تا د هغه خبرو په مطلب پوهه کړم چه تا پرے صبر نه شو کولے

اَمَّا السَّفِيْنَةُ فَكَانَتْ لِمَسٰكِيْنَ يَعْمَلُوْنَ فِي الْبَحْرِ

هر چه | کشتئ وه | نو هغه وه | مسکینانو د پاره | چه مزدوری ئے کوله | په دریاب کښې

هغه کشتئ خو د فقیرانو خلقو وه چه دریاب کښې ئے (پرے) مزدوری کوله او د هغوی مخے ته یو بادشاه وو

فَاَرَدْتُّ اَنْ اَعِيْبَهَا وَكَانَ وَرَآءَهُمْ مَّلِكٌ يَّاْخُذُ كُلَّ

نو ما اوغوښتل | چه زه عیبجنه کړم دا | او وو | د دوی مخے ته | یو بادشاه | چه نیوله ئے | هره یوه

چه روغه کشتئ به ئے په زوره نیوله نو ما اوغوښتل چه دا عیبژنه (نقصانی) کړم چه بادشاه ئے

سَفِيْنَةٍ غَصْبًا ۝ وَاَمَّا الْغُلٰمُ فَكَانَ اَبَوٰهُ مُؤْمِنَيْنِ فَخَشِيْنَآ

کشتئ | په زوره | او هغه | هلک چه وو | نو وو | مور او پلار د هغه | مؤمنان | نو مونږ ویریدو چه

د خپل بیګار د پاره غصب نه کړی او هغه هلک چه وو نو د هغه مور او پلار مؤمنان وو نو مونږ سره دا ویره پیدا شوه

اَنْ يُّرْهِقَهُمَا طُغْيَانًا وَّكُفْرًا ﴿۸۰﴾ فَاَرَدْنَاۤ اَنْ يُّبْدِلَهُمَا

دے به او غورځوی دے دواړو لره | په سر کشۍ او | په کفر کښې | نو مونږ او غوښتل | چه بدل کښې به ورکړی دوی ته

هسے نه چه دا هلک خپل مور او پلار په کفر او سر کشۍ کښې اخته نه کړی نو مونږ دا او غوښتل چه دوی له به

رَبُّهُمَا خَيْرًا مِّنْهُ زَكٰوةً وَّاَقْرَبَ رُحْمًا ﴿۸۱﴾ وَاَمَّا الْجِدَارُ

رب خپل | غوره | د دهٔ نه | په پاکۍ کښې | او ډیر نزدے | په رحم کښے | او هر چه | دیوال وو

خپل رب د دهٔ په ځای نور اولاد ورکړی چه د ده نه به زیات پاکیزګۍ والا او زیات رحم والا وی. او هغه دیوال چه وو

فَكَانَ لِغُلٰمَيْنِ يَتِيْمَيْنِ فِى الْمَدِيْنَةِ وَكَانَ تَحْتَهٗ كَنْزٌ

نو هغه وو | د پاره د دوو هلکانو | یتیمانو | په ښار کښې | او وه | د هغے لاندے | خزانه

نو هغه د دغه ښار د یو دوو یتیمانو هلکانو وو او د هغے د لاندے د هغوی یوه خزانه پرته وه

لَّهُمَا وَكَانَ اَبُوْهُمَا صَالِحًا ۚ فَاَرَادَ رَبُّكَ اَنْ يَّبْلُغَاۤ

د هغوی | او وو | پلار د هغوی | نیک سړے | پس او غوښتله | رب ستا | چه اورسیږی دوی دواړه

او د هغوی پلار ډیر نیک سړے وو نو ستا رب دا او غوښتله چه دا دواړه د ځوانۍ عمر ته اورسیږی

اَشُدَّهُمَا وَيَسْتَخْرِجَا كَنْزَهُمَا ۖ رَحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ ۚ وَمَا فَعَلْتُهٗ

ځوانۍ خپلے ته | او را او باسی (دواړه) | خزانه خپله | دوجے د مهربانۍ | د رب ستا نه | او ما نه دے کړے دا کار

او خپله خزانه پخپله را او باسی دا هر څه ستا د رب په مهربانۍ سره اوشو او ما یو کار هم په خپلے

عَنْ اَمْرِىْ ؕ ذٰلِكَ تَاْوِيْلُ مَا لَمْ تَسْطِعْ عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴿۸۲﴾ ع

په خپل اختیار سره | دا وو | مطلب (حقیقت) | د هغه څه | چه تا طاقت نه لرلو | په هغے باندے | د صبر کولو

راۓ نه دے کړے. دا د هغه خبرو مطلب وو چه تا پرے صبر نه شو کولے

وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنْ ذِى الْقَرْنَيْنِ ؕ قُلْ سَاَتْلُوْا عَلَيْكُمْ مِّنْهُ

او دوی تپوس کوی ستانه | د ذو القرنین په باره کښې | او وایه | زر ده چه به او لولم | په تاسو باندے | د هغهٔ (د حال) نه

او دا خلق ستانه د ذو القرنین باره کښې تپوس کوی (نو) ورته او وایه چه ډیر زر به زه تاسو ته د هغه څه

ذِكْرًا ﴿۸۳﴾ اِنَّا مَكَّنَّا لَهٗ فِى الْاَرْضِ وَاٰتَيْنٰهُ مِنْ كُلِّ شَىْءٍ

څه نصیحت | بیشکه | مونږ طاقت ور کړے وو | ده ته | په زمکه کښې | او ور کړی وو مونږ هغه ته | د هر قسم نه

حالات بطور نصیحت بیان کړم حقیقت دا دی چه مونږ هغه ته په زمکه کښې ډیر طاقت ور کړے وو او د هر ضروری څیز سامان

سَبَبًا ﴿۸۴﴾ فَاَتْبَعَ سَبَبًا ﴿۸۵﴾ حَتّٰۤى اِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ الشَّمْسِ

سامان | پس دے روان شو | په یوه لار | تر دے | چه کله | اورسیدلو | ځائ د پریوتلو | د نمر ته

(وسائل) مو ور کړی وو. نو دے د دین د غلبے د پاره د مغرب طرف ته روان شو تر دے چه کله د نمر د ډوبیدو ځای (کناره د

وَجَدَهَا تَغْرُبُ فِىْ عَيْنٍ حَمِئَةٍ وَّوَجَدَ عِنْدَهَا قَوْمًا ۬

نو ومے موندلو هغه | چه پریوتلو | په یوه چینه | د تورو خټو کښې | او ومے موندلو | د هغے سره | یو قوم

بحر احمر) ته اورسیدلو نو دا سورته ښکاره شوه چه (نمر) د تورے خټے په یوه چینه کښې ډوبیږی او هلته ئے (یونانی) قوم او لیدلو

قُلۡنَا يٰذَا الۡقَرۡنَيۡنِ اِمَّاۤ اَنۡ تُعَذِّبَ وَاِمَّاۤ اَنۡ تَتَّخِذَ

اوویل مونږ | اے ذوالقرنین! | یا خو | داچه | ته عذاب ورکړه | او یا | داچه | ته اختیار کړه

مونږ دغه ته د وحي یا الهام په ذریعه اوویل چه ای ذوالقرنین ! تاته اختیار دے یا خو دے خلقو له سزا ورکړه او یا ورسره

فِيۡهِمۡ حُسۡنًا ﴿٨٦﴾ قَالَ اَمَّا مَنۡ ظَلَمَ فَسَوۡفَ نُعَذِّبُهٗ

ددوی په باره کښې | ښه سلوک | اوویل | هغه څوک | چه ظلم ئے اوکړو | نو ډیر زر به | مونږ سزا ورکړو هغه ته

ښه سلوک اوکړه. ده اوویل چه څوک پس د دعوت زمانه په ظلم د شرک کښې پاتې شو نو هغوی ته خو به مونږ ډیر زر دنیاوی سزا ورکړو

ثُمَّ يُرَدُّ اِلٰى رَبِّهٖ فَيُعَذِّبُهٗ عَذَابًا نُّكۡرًا ﴿٨٧﴾ وَاَمَّا مَنۡ

بیا به | واپس کړے شی | رب ته خپل | نو عذاب به ورکړی هغه ته | عذاب | سخت | او هغه څوک

او بیا به خپل رب ته واپس کیږی نو هغه به ورله ډیر سخت آخروی عذاب ورکړی ، او چا چه

اٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهٗ جَزَآءَ ۨالۡحُسۡنٰى ۚ وَسَنَقُوۡلُ

چه ایمان ئے راوړو | او عمل ئے اوکړو | نیک | نو د هغه دپاره | بدله ده | ډیره ښه | او ډیر زر به او وایو مونږ

ایمان راوړو او نیک عمل ئے وکړو نو د هغه بدله په آخرت کښې جنت دے او په دنیا کښې به ورسره مونږ

لَهٗ مِنۡ اَمۡرِنَا يُسۡرًا ﴿٨٨﴾ ثُمَّ اَتۡبَعَ سَبَبًا ﴿٨٩﴾ حَتّٰۤى اِذَا بَلَغَ

هغه ته | د کار زمونږ نه | آسان کار | بیا | روان شو هغه | په یوه (بله) لار | تر دے | چه کله | اورسیدو

په کار دین خپل کښې نرمه خبره کوو۔ بیا دے په طرف د مشرق روان شو تر دے چه کله د نور د راختلو ځای ته اورسیدو

مَطۡلِعَ الشَّمۡسِ وَجَدَهَا تَطۡلُعُ عَلٰى قَوۡمٍ لَّمۡ نَجۡعَلۡ

ځای د راختلو | د نمر ته | او وے موندلو هغه | چه راختلو | په یو داسے قوم باندے | چه نه وه جوړه کړے مونږ

نو داسے ورته ښکاره شوه چه دا نمر داسے یو قوم (وحشی قبائل د مکران او باختر یا) باندے راخیژی چه هغوی له مونږ د نمر نه

لَّهُمۡ مِّنۡ دُوۡنِهَا سِتۡرًا ﴿٩٠﴾ ۙ كَذٰلِكَ ؕ وَقَدۡ اَحَطۡنَا بِمَا لَدَيۡهِ

د هغوی دپاره | د دے (نمر) مخے ته | څه پرده | هم دغه شان ده | او یقینًا | مونږ احاطه کړے وو | هغه څه | چه د ده سره وو

د بچ کیدو دپاره څه پرده او آبادی نه وه جوړه کړے۔ د لته ئے هم هغسے کار اوکړو او ذوالقرنین سره د مونږ ډیر اسباب وو چه

خُبۡرًا ﴿٩١﴾ ثُمَّ اَتۡبَعَ سَبَبًا ﴿٩٢﴾ حَتّٰۤى اِذَا بَلَغَ بَيۡنَ السَّدَّيۡنِ

په علم کښې | بیا | روان شو هغه | په یوه (بله) لار | تر دے | چه کله | اورسیدو | مینځ | د دوو غرونو ته

د هغے په حال صرف مونږ پوره خبر وو۔ بیا روان شو په طرف د شمال باندے۔ تر دے چه کله د دوو غرونو (دیوالونو)

وَجَدَ مِنۡ دُوۡنِهِمَا قَوۡمًا ۙ لَّا يَكَادُوۡنَ يَفۡقَهُوۡنَ قَوۡلًا

او وے موندلو | هغے ته نزدے | یو (داسے) قوم | چه نه وو نزدے | چه پوهه شی | په خبره باندے

مینځ ته اورسیدو نو د هغے په خوا کښې ئے څه خلق (کاسپین او کولشی) او لیدل چه د دوی په خبره نه پوهیدل

قَالُوۡا يٰذَا الۡقَرۡنَيۡنِ اِنَّ يَاۡجُوۡجَ وَمَاۡجُوۡجَ مُفۡسِدُوۡنَ

اوویل هغوی | اے ذوالقرنین ! | بیشکه | یاجوج | او ماجوج | فساد کوونکی دی

هغوی ورته وویل اے ذوالقرنین یاجوج او ماجوج (دوه قومونه د اولاد د یافث بن نوح نه) په زمکه کښې فساد خوروی

فِي الْاَرْضِ فَهَلْ نَجْعَلُ لَكَ خَرْجًا عَلٰٓى اَنْ تَجْعَلَ

په زمکه کښې | نو آیا | مونږ راجمع کړو | ستا دپاره | څه مال (خرچه) | په دے شرط | چه ته جوړ کړے

نو آیا مونږ تا له څه مال (خرچ) راجمع کړو؟ چه ته زمونږ او د دوی په مینځ کښې

بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ سَدًّا ۝٩٤ قَالَ مَا مَكَّنِّيْ فِيْهِ رَبِّيْ

په مینځ زمونږ | او په مینځ د دوی کښې | یو دیوال | هغه اوویل | هغه | چه طاقت راکړے دے ماله | په دے کښې | رب زما

یو دیوال جوړ کړے؟ ذوالقرنین ورته اوویل زما رب چه ماله کوم طاقت راکړے دے هغه ډیر ښه (کافی) دے

خَيْرٌ فَاَعِيْنُوْنِيْ بِقُوَّةٍ اَجْعَلْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ رَدْمًا ۝٩٥

(هغه) ډیر ښه دے | پس تاسو مدد او کړئ زما سره | په قوت | زه به جوړ کړم | په مینځ ستاسو | او په مینځ د دوی کښې | یو دیوال

(خو) تاسو د متو په طاقت زما مدد او کړئ نو زۀ به ستاسو او د هغوی په مینځ کښې یو مضبوط دیوال جوړ کړم

اٰتُوْنِيْ زُبَرَ الْحَدِيْدِ ؕ حَتّٰٓى اِذَا سَاوٰى بَيْنَ الصَّدَفَيْنِ

تاسو راوړئ ماله | ټکړے | د اوسپنے | تر دے | چه کله | هغه برابر کړو (دیوال) | په مینځ | د سرونو د دواړو غرونو کښې

ماله د اوسپنے بلاکونه راوړئ تر دے چه د دواړو غرونو تر مینځه ئے دیوال برابر کړو

قَالَ انْفُخُوْا ؕ حَتّٰٓى اِذَا جَعَلَهٗ نَارًا ۙ قَالَ اٰتُوْنِيْٓ اُفْرِغْ

نو وے ویل | چه اوپوکئ | تر دے | چه کله | کړو هغه | (په شان) د اور | نو وے ویل | تاسو راوړئ ماته | چه زۀ واړوم

نو وے ویل چه اوس دے بلاکونو ته اور اوپوکئ تر دے چه کله ئے هغه بلاکونه د اور په شان سره کړل نو وے ویل

عَلَيْهِ قِطْرًا ۝٩٦ فَمَا اسْطَاعُوْٓا اَنْ يَّظْهَرُوْهُ وَمَا اسْتَطَاعُوْا

په دے باندے | ویلې شوے تانبه | پس طاقت نه لرې هغوی | چه راوخیژی په هغے باندے | او طاقت نه لرې هغوی

چه اوس ویلې شوے تانبه راوړئ چه د پاسه ئے پرے واچوم. نو اوس یاجوج ماجوج نه خو د دے د پاسه راختلې شی

لَهٗ نَقْبًا ۝٩٧ قَالَ هٰذَا رَحْمَةٌ مِّنْ رَّبِّيْ ۚ فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ

د هغے | سوری کولو | اووئیل (ذوالقرنین) | دا | رحمت دے | د رب زما | پس کله | چه راشی | وعده

او نه پکښے سوری (سورے) کولے شی. ذوالقرنین اوویل: دا زما د رب مهربانی ده، بیا کله چه زما د رب وعده د قیامت راشی

رَبِّيْ جَعَلَهٗ دَكَّآءَ ۚ وَكَانَ وَعْدُ رَبِّيْ حَقًّا ۝٩٨ وَتَرَكْنَا

د رب زما | نو هغه به اوکرځوی دا دیوال | چوره (ذره ذره) | او ده | وعده | د رب زما | رښتینے | او پرېږدو به مونږ

نو دا دیوال به چوره چوره (وران) کړی او زما د رب وعده رښتنے ده او په دغه ورځ به مونږ دوی

بَعْضَهُمْ يَوْمَئِذٍ يَّمُوْجُ فِيْ بَعْضٍ وَّنُفِخَ فِي الصُّوْرِ

بعضے د دوی نه | په دغه ورځ | چه ورننوځی به | په بعضو کښې | او پوکے به او وهلے شی | په شپیلۍ کښې

(یاجوج ماجوج یا عام انسانان) داسے پرېږدو چه په یو بل کښې به ورننوځی، او شپیلۍ به پوک وهلے شی

فَجَمَعۡنٰهُمۡ جَمۡعًا ﴿٩٩﴾ وَّعَرَضۡنَا جَهَنَّمَ يَوۡمَئِذٍ لِّلۡكٰفِرِيۡنَ عَرۡضَا ﴿١٠٠﴾

نوراجمع به کړو موږ دوی | ټول | او موږ به راولو | دوزخ | په دغه ورځ | کافرانو ته | بلکل مخامخ

نو موږ به دا ټول په یو ځای راجمع کړو او په دغه ورځ به موږ دوزخ د دغه کافرانو مخے ته (د هاړه د سخت والی د عذاب) مخامخ راولو

الَّذِيۡنَ كَانَتۡ اَعۡيُنُهُمۡ فِىۡ غِطَآءٍ عَنۡ ذِكۡرِىۡ وَكَانُوۡا

هغه کسانو ته | چه وو | سترګے د هغوی | په پرده کښ | زما د ذکر نه | او وو دوی

دا به هغه کسان وی چه د هغوی سترګے زموږ د یاد نه په پرده کښ وے او د حق د اوریدو

لَا يَسۡتَطِيۡعُوۡنَ سَمۡعًا ﴿١٠١﴾ اَفَحَسِبَ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡۤا اَنۡ يَّتَّخِذُوۡا ع

چه طاقت ئے نه لرلو | د اوریدلو | آیا ګمان کوی | هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | دا چه اونیسی هغوی

طاقت ئے نه لرلو۔ آیا کافران دا خیال کوی چه زما نه سوا دے زما بندګان

عِبَادِىۡ مِنۡ دُوۡنِىۡۤ اَوۡلِيَآءَ ؕ اِنَّاۤ اَعۡتَدۡنَا جَهَنَّمَ لِلۡكٰفِرِيۡنَ

بندګان زما | زما نه سوا | دوستان (مددګاران) | بیشکه | تیار کړے دے موږ | دوزخ | د کافرانو د پاره

کارسازان او ګرځی. یقین او ساتی چه موږ دا سے کافرانو د میلمستیا د پاره دوزخ تیار کړے دے

نُزُلًا ﴿١٠٢﴾ قُلۡ هَلۡ نُنَبِّئُكُمۡ بِالۡاَخۡسَرِيۡنَ اَعۡمَالًا ؕ﴿١٠٣﴾ اَلَّذِيۡنَ

میلمستیا | او وایه | آیا | زه خبر درکړم تاسو ته | په زیات تاوانی | عمل والو باندے | یعنی هغه کسان

اے نبی! ورته او وایه چه آیا زه تاسو ته هغه څوک او ښایم چه د خپل عمل په اعتبار سره ډیر تاوانیان دی

ضَلَّ سَعۡيُهُمۡ فِى الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا وَهُمۡ يَحۡسَبُوۡنَ اَنَّهُمۡ

چه برباد دے | کوشش د هغوی | په ژوند دنیوی کښ | او دوی | ګمان کوی | دا چه بیشکه دوی

دا هغه خلق دی چه د دنیا په ژوند کښ ئے ټول عملونه برباد شو او (بیا هم) خیال ئے دا دے

يُحۡسِنُوۡنَ صُنۡعًا ﴿١٠٤﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمۡ

ښائسته عمل کوی | هم دا | هغه خلق دی | چه کفر ئے کړے دے | په آیتونو | د رب خپل

چه دوی ډیر ښه کارونه کوی۔ دا هم هغه خلق دی چه د خپل رب د آیتونو او د هغه د ملاقات

وَلِقَآئِهٖ فَحَبِطَتۡ اَعۡمَالُهُمۡ فَلَا نُقِيۡمُ لَهُمۡ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ

او په ملاقات د هغهٔ | بس ضائع شول | عملونه د دوی | پس قائم به نه کړو موږ | د هغوی د پاره | په ورځ | د قیامت

نه ئے انکار او کړو نو ټول عملونه ئے برباد شول نو موږ به ورله د قیامت په ورځ هیڅ وزن د اعمالو

وَزۡنًا ﴿١٠٥﴾ ذٰلِكَ جَزَآؤُهُمۡ جَهَنَّمُ بِمَا كَفَرُوۡا وَاتَّخَذُوۡۤا

څه تول | دا | سزا ده د دوی | دوزخ | په دے وجه | چه کفر کړے وو دوی | او نیولی وو دوی

مقرر نه کړو۔ دا دوزخ د دوی سزا ده ځکه چه دوی کفر کړے وو او زما آیتونو

اٰیٰتِیۡ وَرُسُلِیۡ هُزُوًا۝ اِنَّ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا

آیتونه زما | او پیغمبران زما | توقے | بیشکه | هغه کسان | چا ایمان ئے راوړے دے | او عملونه ئے کړی دی

او پیغمبرانو زما سره ئے توقے کولے (بل طرف ته) چا چه ایمان راوړے دے او نیک عملونه ئے کړی دی

الصّٰلِحٰتِ کَانَتۡ لَهُمۡ جَنّٰتُ الۡفِرۡدَوۡسِ نُزُلًا۝ خٰلِدِیۡنَ

نیک | دی | د دوی دپاره | جنتونه | د فردوس | اتیاره میلمستیا | همیشه به وی

لو د دوی د میلمستیا دپاره به د فردوس باغونه وی ـ همیشه به پکښ اوسیږی

فِیۡهَا لَا یَبۡغُوۡنَ عَنۡهَا حِوَلًا۝ قُلۡ لَّوۡ کَانَ الۡبَحۡرُ مِدَادًا

په هغے کښ | نه به غواړی | د هغے نه | وتل | اووایه | که چرے | شی | دریاب | سیاهی

او د هغے نه به بل ځای ته تلل نه غواړی اے نبی! خلقو ته اووایه چه که چرے زما د رب د خبرو

لِّکَلِمٰتِ رَبِّیۡ لَنَفِدَ الۡبَحۡرُ قَبۡلَ اَنۡ تَنۡفَدَ کَلِمٰتُ

دپاره د لیکلو د کلمو | د رب زما | نو خامخا به ختم شی | دریاب | مخکښ د دے نه چه ختمے شی | کلمے

د حکمتونو لیکلو دپاره دریاب سیاهی شی نو زما د رب د خبرو د حکمتونو د ختمیدو نه مخکښ مخکښ به

رَبِّیۡ وَلَوۡ جِئۡنَا بِمِثۡلِهٖ مَدَدًا۝ قُلۡ اِنَّمَاۤ اَنَا بَشَرٌ

د رب زما | اگر که | راوړو موږ | په شان د هغے | نوره سیاهی | اووایه | بیشکه | زه یم | یو انسان

دریاب اوچ شوے وی اگر چه هم دا سے یو بل سمندر موږ د دے دپاره بطورِ سیاهی راوړو ـ اووایه چه

مِّثۡلُکُمۡ یُوۡحٰۤی اِلَیَّ اَنَّمَاۤ اِلٰهُکُمۡ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ فَمَنۡ

ستاسو غوندے | چه وحی کیږی | ما ته | دا چه بیشکه | معبود ستاسو | معبود دے | اِک یو | نو څوک

یقیناً زه خو ستاسو غوندے انسان یم ـ البته ما ته دا وحی کیږی چه ستاسو معبود اِک یو معبود دے

کَانَ یَرۡجُوۡا لِقَآءَ رَبِّهٖ فَلۡیَعۡمَلۡ عَمَلًا صَالِحًا

چه | امید ساتی | د ملاقات | د رب خپل | نو اودے کړی | عمل | نیک

نو څوک چه د خپل رب سره د ملاقات امید (عقیده) لری نو هغوی لره پکار دی چه نیک عمل اوکړی

وَّلَا یُشۡرِکۡ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖۤ اَحَدًا۝ ع

او نه دے شریکوی | په عبادت | د رب خپل کښ | هیڅ څوک |

او د خپل رب په بندګۍ کښ دے هیڅ څوک نه شریکوی.

ركوعاتها [٦]	سورة مريم مكّيّة	آياتها [٩٨]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

كٓهٰيٰعٓصٓ ﴿١﴾ ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ عَبْدَهٗ زَكَرِيَّا ﴿٢﴾ اِذْ نَادٰى

کهیعص | دا یاداشت دے | د رحمت | د رب ستا | په بنده خپل | زکریا بانٖدے | کله چه | آواز او کړو هغه

کاف۔ ها۔ یا۔ عین۔ صاد۔ دا ستا د رب د مهربانئ تذکره ده چه په خپل بنده زکریا بانٖدے ئے کړے وه۔ دا د هغه وخت

رَبَّهٗ نِدَآءً خَفِيًّا ﴿٣﴾ قَالَ رَبِّ اِنِّيْ وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّيْ

رب خپل ته | آواز | پټ | و وئیل ده | اے زما ربه! | بیشکه زه چه یم | کمزورے شوے دے | هډوکے | زما

خبره ده کله چه هغه خپل رب ته پټ آواز او کړو۔ (او) وئے وئیل چه ای زما ربه زما هډوکی کمزوری شوی دی

وَاشْتَعَلَ الرَّاْسُ شَيْبًا وَّلَمْ اَكُنْۢ بِدُعَآئِكَ رَبِّ شَقِيًّا ﴿٤﴾

او لګیدلے سپین شوے دے | سر زما | د بوډاوالی د وجے | او نه یم زه | ستا نه په دعا غوښتلو | اے ربه زما | بدبخته

او سر مے د بوډاوالی د وجے تک سپین شو او زما ربه زه ستا نه په غوښتلو کله هم نامراده شوے نه یم

وَاِنِّيْ خِفْتُ الْمَوَالِيَ مِنْ وَّرَآءِيْ وَكَانَتِ امْرَاَتِيْ عَاقِرًا

او بیشکه زه | یریږم | د تربورانو نه | زما نه وروسته | او ده | ښځه زما | شنډه

او زه د خپل ځان نه وروستو په سنبالولو د دین کښ د خپلو تربورانو نه یریږم او ښځه مے هم شنډه ده

فَهَبْ لِيْ مِنْ لَّدُنْكَ وَلِيًّا ﴿٥﴾ يَّرِثُنِيْ وَيَرِثُ مِنْ اٰلِ يَعْقُوْبَ ۖ

نو را کړه | ماته | د خپل طرف نه | یو (داسے) وارث | چه میراثی به شی زما نه | او میراثی به شی | د یعقوب د کورنۍ نه

نو ته خاص د خپل طرف نه ماته یو داسے وارث را کړه چه زما او د آل یعقوب د دین وارث وی

وَاجْعَلْهُ رَبِّ رَضِيًّا ﴿٦﴾ يٰزَكَرِيَّآ اِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلٰمِ

او او ګرځوه هغه لره | اے ربه زما | غوره انسان | اے زکریا | بیشکه مونږ | زیری درکوو تاته | د یو هلک

او اے زما ربه! هغه د دین د پاره خوښ (غوره) بنده جوړ کړه۔ (آواز ورته اوشو چه) اے زکریا! بیشکه مونږ

اِۨسْمُهٗ يَحْيٰى ۙ لَمْ نَجْعَلْ لَّهٗ مِنْ قَبْلُ سَمِيًّا ﴿٧﴾ قَالَ رَبِّ

چه نوم د هغه به وی | یحیٰی | نه دے جوړ کړے مونږ | د هغه د پاره | د دے نه مخکښ | هم نام ئے | او وئیل هغه | اے زما ربه

تاته د یو داسے هلک زیرے درکوو چه نوم به ئے یحیٰی وی (او) د ده نه مخکښ په دے نوم مونږ بل کس نه دے پیدا کړے

اَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ غُلٰمٌ وَّكَانَتِ امْرَاَتِيْ عَاقِرًا وَّقَدْ بَلَغْتُ

څنګه به کیږی | زما | هلک | او ده | ښځه زما | شنډه | او یقینًا | زه رسیدلے یم

زکریا او وئیل ای زما ربه زما به لا څنګه هلک او شی حالانکه ښځه مے یو ډېر ده او زه پخپله هم

مِنَ الْكِبَرِ عِتِيًّا ﴿٨﴾ قَالَ كَذٰلِكَ ۚ قَالَ رَبُّكَ هُوَ عَلَيَّ

د بوډا والي | انتهاء ته | او ويل (فرښتې) | دغه شان | ويلي دي | رب ستا | (چه) دا کار | دے په ما باندے

ډيوډاوالي آخري حد ته رسيدلے يم فرښتے ورته او وئيل چه تاسو دواړه به دغه شان په خپل حالت ئي ستا رب ويلي دي چه

هَيِّنٌ وَّقَدْ خَلَقْتُكَ مِنْ قَبْلُ وَلَمْ تَكُ شَيْـًٔا ﴿٩﴾ قَالَ رَبِّ

آسان | او يقيناً | ما پيدا کړے ئے ته | مخکښې دد ے نه | او حال دا وو چه نه وے ته | څه څيز | او ويل ئے | اے زما ربه

دا کار ما ته آسان دے او ته (هم) ما د دے نه مخکښې پيدا کړے ئے حالانکه ته هيڅ څيز نه وے . زکريا او ويل

اجْعَلْ لِّيْٓ اٰيَةً ۭ قَالَ اٰيَتُكَ اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ

مقرر کړه | ما د پاره | څه نخښه | او ويل هغهٔ | (چه) ستا نخښه دا ده | چه ته به خبرے نه شے کولے | د خلقو سره

اے زما ربه زما دپاره يوه نخښه (خو) مقرر کړه الله تعالیٰ ورته او ويل ستا نخښه دا ده چه سره د دے چه روغ رمټ به ئے

ثَلٰثَ لَيَالٍ سَوِيًّا ﴿١٠﴾ فَخَرَجَ عَلٰى قَوْمِهٖ مِنَ الْمِحْرَابِ

درے | شپے | حال دا چه ته به روغ رمټ ئے | پس دے راووتلو | قوم خپل ته | د عبادت خانے نه

(او) د خلقو سره به درے شپے ورځے خبرے نه شے کولے نو بس دے د خپلے عبادت خانے نه د خپل قوم خواله راغے

فَاَوْحٰٓى اِلَيْهِمْ اَنْ سَبِّحُوْا بُكْرَةً وَّعَشِيًّا ﴿١١﴾ يٰيَحْيٰى خُذِ الْكِتٰبَ

نو اشاره ئے او کړه | هغوی ته | چه پاکي بيانوئ | سحر | او ماښام | اے يحيیٰ | او نيسه | کتاب

(او) په اشاره ئے ورته او ويل چه سحر او ماښام (د خپل رب) پاکي بيانوئ (يحيیٰ چه پيدا شو او غټ شو نو مونږ ورته او ويل) اے يحيیٰ

بِقُوَّةٍ ۭ وَاٰتَيْنٰهُ الْحُكْمَ صَبِيًّا ﴿١٢﴾ ۙ وَّحَنَانًا مِّنْ لَّدُنَّا

په قوت سره | او ور کړے وه مونږ دهٔ ته | پوهه | په وړوکوالي کښې | او ترس کول | د خپل طرف نه

زمونږ کتاب کلک او نيسه او مونږ هغهٔ ته په وړوکوالي کښې پوهه ور کړے وه او د خپل طرف نه مو ورله نرم دلي

وَّزَكٰوةً ۭ وَكَانَ تَقِيًّا ﴿١٣﴾ ۙ وَّبَرًّۢا بِوَالِدَيْهِ وَلَمْ يَكُنْ جَبَّارًا

او پاکيزگي | او وو دے | پرهيزګاره | او احسان کوونکے | د پلار او مور خپل سره | او نه وو هغه | زياتے کوونکے

او پاکيزګي هم ور کړي وه او هغه ډير پرهيزګاره وو او د مور او پلار سره ډير ښيګړه کوونکے وو او سرکش او نافرمانه نه وو

عَصِيًّا ﴿١٤﴾ وَسَلٰمٌ عَلَيْهِ يَوْمَ وُلِدَ وَيَوْمَ يَمُوْتُ وَيَوْمَ

نافرمانه | او سلام دے وي | په هغه باندے | په کومه ورځ | چه پيدا شو | او په کومه ورځ | چه مري به | او په کومه ورځ

او (د الله تعالیٰ د طرف نه) په هغه باندے سلام دے په هغه ورځ هم په کومه ورځ چه پيدا شو او په هغه ورځ هم په کومه ورځ

يُبْعَثُ حَيًّا ﴿١٥﴾ ؏ وَاذْكُرْ فِى الْكِتٰبِ مَرْيَمَ ۘ اِذِ انْتَبَذَتْ

چه راپاڅولے به شي | ژوندے | او ياده کړه | په کتاب کښې | مريمٔ | کله چه | جدا شوه

به چه مري او په هغه ورځ هم په کومه ورځ به چه بيا ژوندے راپاڅيږي او ای نبی! په دے کتاب کښې په طور نصيحت د مريمٔ

مِنْ اَهْلِهَا مَكَانًا شَرْقِيًّا ﴿١٦﴾ ۙ فَاتَّخَذَتْ مِنْ دُوْنِهِمْ حِجَابًا ۫

د خپل کور والو نه | يو ځائ | د نمر خاتهٔ طرف ته | نو وے نيوله | د هغوی طرف ته | پرده

تذکره هم او کړه کله چه هغه د خپل کور والو نه جدا شوه (او) د نمر خاتهٔ طرف ته لاړه بيا ئے د هغوی طرف ته يوه پرده واچوله

فَاَرۡسَلۡنَاۤ اِلَيۡهَا رُوۡحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا سَوِيًّا ﴿١٧﴾ قَالَتۡ

پس مونږ را اولیږلو | هغې ته | خپل روح | پس جوړ ئے کړو هغې ته شکل | د انسان | برابر | او ویل هغې

نو (په دغه موقع) مونږ ورته خپل روح (جبرئیلؑ) اولیږلو چه د هغې مخے ته د سم انسان په شکل ښکاره شو

اِنِّيۡۤ اَعُوۡذُ بِالرَّحۡمٰنِ مِنۡكَ اِنۡ كُنۡتَ تَقِيًّا ﴿١٨﴾ قَالَ اِنَّمَاۤ

بیشکه زه | پناه غواړم | په رحمان سره | ستا نه | که چرے | ئے ته | پرهیزګاره | او ویل (هغه) | بیشکه

مریمؑ او ویل چه زه پناه غواړم په رحمٰن ذات سره ستا نه او که ته پرهیزګاره ئے نو زما نه په ډډه شه

اَنَا رَسُوۡلُ رَبِّكِ ۖۗ لِاَهَبَ لَكِ غُلٰمًا زَكِيًّا ﴿١٩﴾ قَالَتۡ اَنّٰى

زه | استازے یم | د رب ستا | چه او بخښم | تا ته | یو هلک | پاک | او ویل هغې | څنګه به

هغوی ته او ویل چه زه ستا د رب د طرف نه رالیږلے شوے فرشته یم (او دے د پاره راغلے یم) چه تاله یو پاک هلک در کړم مریمؑ ورته او ویل

يَكُوۡنُ لِيۡ غُلٰمٌ وَّلَمۡ يَمۡسَسۡنِيۡ بَشَرٌ وَّلَمۡ اَكُ بَغِيًّا ﴿٢٠﴾

کیږی | زما | هلک (څوئے) | او لاس نه دے راوړے ماته | یو بنده | او نه یم زه | بدکاره

چه زما به لا څنګه هلک کیږی حالانکه نه (خو) راله چا لاس راوړے دے او نه زه بدکاره یم

قَالَ كَذٰلِكِ ۚ قَالَ رَبُّكِ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ ۚ وَلِنَجۡعَلَهٗۤ

او ویل فرشتے | د غه شان (به کیګی) | ویلی دی | رب ستا | دا کار دے | په ما باندے | آسان | او د دے د پاره چه جوړه کړو مونږ دغه

فرشتے ورته او ویل همدغسے به کیګی څنګه چه ته وائے خو ستا رب ویلی دی چه دا کار ماته آسان دے او مونږ دے د دے

اٰيَةً لِّلنَّاسِ وَرَحۡمَةً مِّنَّا ۚ وَكَانَ اَمۡرًا مَّقۡضِيًّا ﴿٢١﴾ فَحَمَلَتۡهُ

یو نخښه | د خلقو د پاره | او رحمت | د خپل طرف نه | او دے | دا کار | فیصله شوے | پس حمل واغستلو دے هغه ته چی

د پاره پیدا کوو چه دے د خلقو د پاره (د خپل قدرت) یو نخښه او د خپل رحمت ذریعه جوړه کړو او دا خبره فیصله شوے ده

فَانۡتَبَذَتۡ بِهٖ مَكَانًا قَصِيًّا ﴿٢٢﴾ فَاَجَآءَهَا الۡمَخَاضُ

نو په ډډه شوه | د دے حمل سره | یو ځائ | لرے ته | پس راوستله دے لره | درد د بچی پیدا کیدو

بیا مریمؑ په دے ماشوم سره حامله شوه او په سبب د دے حمل سره د خلقو نه جدا یو لرے ځای ته لاړه

اِلٰى جِذۡعِ النَّخۡلَةِ ۚ قَالَتۡ يٰلَيۡتَنِيۡ مِتُّ قَبۡلَ هٰذَا

تنے | د قجورے ته | او ویل دے | افسوس په ما باندے | چه مړه شوے وے زه | مخکښ | د دے نه

نو د پیدائش درد بیت اللحم مقام ته راوستله او تکیه ئے ولګوله تنے د قجورے ته (او) وئے ویل چه هائے افسوس چه زه د دے نه

وَكُنۡتُ نَسۡيًا مَّنۡسِيًّا ﴿٢٣﴾ فَنَادٰىهَا مِنۡ تَحۡتِهَاۤ اَلَّا تَحۡزَنِيۡ

او وے زه | هیره کړیره (د زړو نه وتلے) | نو آواز او کړو دے ته (هغه رسول) | د دے د کوز طرف نه | چه مه غمژنه کیږه

مخکښ مړه شوے وے او هیره کړیره شوے وے نو په دغه وخت د هغے د کوز طرف نه جبرئیلؑ ورته آواز او کړو چه غم مه کوه

قَدۡ جَعَلَ رَبُّكِ تَحۡتَكِ سَرِيًّا ﴿٢٤﴾ وَهُزِّيۡۤ اِلَيۡكِ بِجِذۡعِ النَّخۡلَةِ

یقیناً | پیدا کړے ده | ستا رب | ستا نه کوز طرف ته | یوه چینه | او او خوزوه | خپل ځان ته | تنه | د قجورے

الله تعالیٰ ستا نه کوز طرف ته یوه روانه چینه پیدا کړے ده. او د قجورے دا لوچه اونه اونیسه او ځان ته (ئے) را او خوځه

تُسٰقِطْ عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا ۝٢٥ فَكُلِيْ وَاشْرَبِيْ وَقَرِّيْ عَيْنًا ۚ

نوراغورځوي به | په تا باندې | قچورې | تازه | پس خوره | او څښکه | او يخې ساته | سترګې

(نو) تاته به ترې نه تازه تازه قچورې راوغورځيږي. اوس خوره او څښکه او خپلې سترګې يخې کړه

فَاِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ الْبَشَرِ اَحَدًا ۙ فَقُوْلِيْۤ اِنِّيْ نَذَرْتُ لِلرَّحْمٰنِ

پس که چېرې | او ليدو تا | د انسانانو نه | يو کس | نو وايه (ورته) | بيشکه ما | نذر منلې دې | د رحمن (ذات) دپاره

او که په انسانانو کښې چا او ليدې نو په اشاره ورته وايه چه ما نن ورځ د رحمن ذات دپاره

صَوْمًا فَلَنْ اُكَلِّمَ الْيَوْمَ اِنْسِيًّا ۝٢٦ فَاَتَتْ بِهٖ قَوْمَهَا

د روژې | نو هيڅ کله | خبرې به نه کومه زه | نن ورځ | د يو انسان سره هم | بيا دې راوړو | هغه (بچے) | خپل قوم ته

د روژې نذر منلې دې نو زه به نن د انسان سره خبرې نه کوم. بيا هغې هغه ماشوم په غيږ کښې

تَحْمِلُهٗ ؕ قَالُوْا يٰمَرْيَمُ لَقَدْ جِئْتِ شَيْئًا فَرِيًّا ۝٢٧

چه په غيږ کښې سپرواوچت کړے وو | او ويل هغوی | اے مريم | يقيناً | تا لخو کړے دے | يو کار | ډير بد

واغستلو او خپل قوم ته راغله هغوی ورته او ويل يقيناً تا خو ډير بد کار کړے دے

يٰۤاُخْتَ هٰرُوْنَ مَا كَانَ اَبُوْكِ امْرَاَ سَوْءٍ وَّمَا كَانَتْ اُمُّكِ

اے خور | د هارونؑ! | نه وو | پلار ستا | سړے | بد | او نه وه | مور ستا

اے د هارونؑ خورې! نه خو ستا پلار بدکار وو او نه دے مور بدکاره وه نو مريمؑ

بَغِيًّا ۝٢٨ فَاَشَارَتْ اِلَيْهِ ؕ قَالُوْا كَيْفَ نُكَلِّمُ مَنْ كَانَ

بدکاره | نو هغې اشاره اوکړه | د هغه طرف ته | او ويل هغوی | څنګه | خبرې اوکړو مونږ | د هغه چا سره | چه دے

د هغه ماشوم طرف ته اشاره اوکړه (نو) خلقو او ويل چه مونږ د غيږ دے (زانګو) ماشوم سره خبرې څنګه اوکړو؟

فِي الْمَهْدِ صَبِيًّا ۝٢٩ قَالَ اِنِّيْ عَبْدُ اللّٰهِ ۟ؕ اٰتٰىنِيَ الْكِتٰبَ

په غيږه کښې | ماشوم | او ويل هغه | بيشکه زه | بنده يم | د الله تعالیٰ | را کړے دے مونږ ماته | کتاب

(په دې هغه ماشوم خبرې شروع کړے او) وے ويل چه زه د الله تعالیٰ بنده يم هغه به ماته کتاب را کوی

وَّجَعَلَنِيْ نَبِيًّا ۝٣٠ ۙ وَّجَعَلَنِيْ مُبٰرَكًا اَيْنَ مَا كُنْتُ ۪ وَاَوْصٰنِيْ

او جوړ کړے يم زه | (نو) پيغمبر | او جوړ کړے يم هغه زه | د برکت والا | چرته چه | زه يم | او حکم کړے دے ماته

او ما به خپل پيغمبر جوړوی او ما به د خلقو دپاره يو فائده مند انسان جوړوی چرته هم چه زه يم او تر څو چه زه ژوندے يم

بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ مَا دُمْتُ حَيًّا ۝٣١ ۖ وَّبَرًّا بِوَالِدَتِيْ ۫

د مانځه | او د زکات | تر څو پورې چه يم زه | ژوندے | او نيکره کونکے | د مور خپلې سره

نو ماته به د مانځه او زکوٰة حکم کوی. او زه ئے د خپلې مور فرمانبردار جوړ کړے يم

وَلَمْ يَجْعَلْنِيْ جَبَّارًا شَقِيًّا ۝٣٢ وَالسَّلٰمُ عَلَيَّ يَوْمَ وُلِدْتُّ

او نه ئے يم جوړ کړے زه | سرکش | بدبخت | او سلام دے | په ما باندې دے | په هغه ورځ | چه زه پيدا شوم

او په مخلوق باندې سرکشي کونکے او بدبخته ئے نه يم پيدا کړے او په کومه ورځ چه زه پيدا شوم او په کومه ورځ به چه مرم

وَيَوْمَ اَمُوْتُ وَيَوْمَ اُبْعَثُ حَيًّا ۝٣٣ ذٰلِكَ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ ۚ

اوپه هغه ورځ | چه زبه مرم | اوپه هغه ورځ | چه زبه راپاڅولے شم | ژوندے | دا دے | عیسیٰ بن مریم

اوپه کومه ورځ به چه دوباره ژوندی کیږم نو په ما بانـدے دالله تعالیٰ دطرف نه سلامتیا او رحمت دے. دا دے عیسیٰ بن مریم

قَوْلَ الْحَقِّ الَّذِیْ فِیْهِ یَمْتَرُوْنَ ۝٣٤ مَا كَانَ لِلّٰهِ اَنْ یَّتَّخِذَ

(وایم زه) وَینا | رشتینے | هغه | چه په هغے کښ | دوی شک کوی | نه دی مناسب | الله تعالیٰ دپاره | چه او نیسی

دهغه په باره کښ دا هغه رشتینے خبر دے چه خلق په کښ شک کوی دالله تعالیٰ دشان سره دا نه ښائی چه هغه دے څوک ځوی (نیـ)

مِنْ وَّلَدٍ ۙ سُبْحٰنَهٗ ۭ اِذَا قَضٰۤی اَمْرًا فَاِنَّمَا یَقُوْلُ لَهٗ كُنْ

څوک بچی (ځوے) | پاک دے هغه | کله چه | فیصله اوکړی | د یو کار | نو بیشکه | وائی | هغه ته | اوشه

جوړ کړی (بلکه) هغه خو د هر قسم شریک نه پاک دے هغه چه کله د یو کار فیصله اوکړی نو صرف دا ورته ووائی چه اوشه نو هغه اوشی

فَیَكُوْنُ ۝٣٥ وَاِنَّ اللّٰهَ رَبِّیْ وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ۭ هٰذَا

نو هغه اوشی | او بیشکه | الله تعالیٰ | زما (هم) رب دے | او ستاسو (هم) رب دے | نو (هم) دهغه عبادت کوئ | دا ده

او (عیسیٰ خلقو ته ووئیل) وو چه اے خلقو یقین وساتئ چه الله تعالیٰ زما هم رب دے او ستاسو هم رب دے نو صرف دهغه بندګی

صِرَاطٌ مُّسْتَقِیْمٌ ۝٣٦ فَاخْتَلَفَ الْاَحْزَابُ مِنْۢ بَیْنِهِمْ ۚ فَوَیْلٌ

لار | نیغه | پس اختلاف جوړ کړو | ډلو | په خپل مینځ کښ | پس هلاکت

اوکړئ همدا نیغه لار ده. بیا دیهودو او نصارا و مختلفو ډلو په خپل مینځ کښ اختلاف اوکړو نو دهغه کسانو دپاره هلاکت

لِّلَّذِیْنَ كَفَرُوْا مِنْ مَّشْهَدِ یَوْمٍ عَظِیْمٍ ۝٣٧ اَسْمِعْ بِهِمْ

دهغه خلقو دپاره دے | چه کفر ئے کړے دے | د | حاضریٔ | د ورځے | لوے نه | ښه به اوری | دوی

او تباهی ده چه دقیامت دلوے ورځے دحاضریٔ نه ئے انکار کړے دے په کومه ورځ به چه دوی زمونږ خواله راشی

وَاَبْصِرْ ۙ یَوْمَ یَاْتُوْنَنَا لٰكِنِ الظّٰلِمُوْنَ الْیَوْمَ فِیْ ضَلٰلٍ

او ښه به وینی دوی | په هغه ورځ | چه راپه شی دوی مونږ ته | لیکن | ظالمان | نن ورځ | په ګمراهیٔ

په هغه ورځ به ډیر ښه اوریدل او لیدل کوی لیکن دا ظالمان نن ورځ په ښکاره ګمراهیٔ کښ پراته دی

مُّبِیْنٍ ۝٣٨ وَاَنْذِرْهُمْ یَوْمَ الْحَسْرَةِ اِذْ قُضِیَ الْاَمْرُ ۘ وَهُمْ

ښکاره کښ دی | او ویروه دوی | د ورځے | د افسوس نه | کله چه | فیصله به اوکړے شی | د کار | او دوی

او اے نبی دا خلق د افسوس (د پښیمانتیا) د ورځے نه اوویروه کله به چه د هر یو خبرے فیصله اوشی. حالانکه دا خلق

فِیْ غَفْلَةٍ وَّهُمْ لَا یُؤْمِنُوْنَ ۝٣٩ اِنَّا نَحْنُ نَرِثُ الْاَرْضَ وَمَنْ

په غفلت کښ دی | او دوی | ایمان نه راوړی | بیشکه | هم مونږ به | میراث کښ اوړو | زمکه | او هغه څوک

(نن) په غفلت کښ پراته دی او ایمان نه راوړی. یقین اوساتئ چه دا زمکه او څوک چه په دے زمکه دی دا ټول به اخیر

عَلَیْهَا وَاِلَیْنَا یُرْجَعُوْنَ ۝٤٠ ع وَاذْكُرْ فِی الْكِتٰبِ اِبْرٰهِیْمَ ۬ ؕ

چه پرے باندے دی | او خاص مونږ ته به | دوی راګرځولی شی | او یاد کړه | په کتاب کښ | ابراهیم علیه السلام

مونږ ته پاتے کیږی او هم زمونږ طرف ته به دا ټول واپس کیږی او اے نبی! په دے کتاب کښ دا ابراهیم تذکره هم بیان کړه

اِنَّهٗ كَانَ صِدِّيْقًا نَّبِيًّا ۝٤١ اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ يٰۤاَبَتِ

بیشکه هغه | وو | ډیر رشتینے | نبی | کله چه | وویل هغه | پلار خپل ته | اے زما پلاره

هغه یو ډیر رشتینے پیغمبر وو ـ کله چه هغه خپل پلار ته اوویل چه اے زما پلاره!

لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِيْ عَنْكَ شَيْــًٔا ۝٤٢

ته ولے عبادت کوے | د هغه څه | چه نه اوری | او نه وینی | او نه لرے کولے شی | ستا نه | څه څیز

ته د هغه څه عبادت ولے کوے چه نۀ څه اوری او نه وینی او نه ستا نه څه مصیبت لرے کولے شی

يٰۤاَبَتِ اِنِّيْ قَدْ جَآءَنِيْ مِنَ الْعِلْمِ مَا لَمْ يَاْتِكَ

اے زما پلاره | بیشکه زهٔ | راغلی دی ما ته | د علم نه | هغه څه | چه نه دی راغلی تا ته

اے زما پلاره! یقین اوکړه چه ما ته داسے علم ملاو شوے دے چه تا سره نشته

فَاتَّبِعْنِيْۤ اَهْدِكَ صِرَاطًا سَوِيًّا ۝٤٣ يٰۤاَبَتِ لَا تَعْبُدِ الشَّيْطٰنَ ؕ

نو ما پسے روان شه | زهٔ به اوښایم تا ته | لاره | برابره | اے زما پلاره | ته عبادت مه کوه | د شیطان

نو ته ما پسے روان شه زه به درته سمه لار اوښایم. اے زما پلاره ته د شیطان بندګی مه کوه

اِنَّ الشَّيْطٰنَ كَانَ لِلرَّحْمٰنِ عَصِيًّا ۝٤٤ يٰۤاَبَتِ اِنِّيْۤ اَخَافُ

بیشکه | شیطان | دے | د مهربان ذات | نافرمانه | اے زما پلاره | بیشکه زه | . یریږم

(شکه چه) شیطان خو پخپله د رحمن ذات نافرمانه دے. اے زما پلاره! ما سره دا یره ده

اَنْ يَّمَسَّكَ عَذَابٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ فَتَكُوْنَ لِلشَّيْطٰنِ وَلِيًّا ۝٤٥

چه او به رسی تا ته | عذاب | د مهربان ذات د طرف نه | نو شے به ته | د شیطان | دوست

چه چرته په تا باندے د رحمن د طرف نه عذاب را نه شی پس ته به د شیطان ملګرے شے پلار ورته اوویل

قَالَ اَرَاغِبٌ اَنْتَ عَنْ اٰلِهَتِيْ يٰۤاِبْرٰهِيْمُ ۚ لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهِ

اوویل هغهٔ | آیا مخ ګرځونکے ئے | ته | زما د خدایانو نه | اے ابراهیم! | که چرے | ته منع نه شوے

اے ابراهیم! آیا ته زما د معبودانو نه انکار کوے یاد اوساته که چرے ته د دغے خبرے نه منع نه شوے

لَاَرْجُمَنَّكَ وَاهْجُرْنِيْ مَلِيًّا ۝٤٦ قَالَ سَلٰمٌ عَلَيْكَ ۚ

نو خامخا به زه په کانړو اولم تا | او لرے شه زما نه | ډیره موده | اوویل (ابراهیمؑ) | سلام (د جدائی) دے | په تا

نو زهٔ به دے سنګسار کړم او (اوس) ته زما نه د همیشه دپاره لرے (لاړ) شه. هغه ورته اوویل په تا دے د رخصتی سلام وی

سَاَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّيْ ؕ اِنَّهٗ كَانَ بِيْ حَفِيًّا ۝٤٧ وَاَعْتَزِلُكُمْ

زر دے چه زه به بخښنه غواړم | ستا دپاره | د خپل رب نه | بیشکه هغه | دے | په ما باندے | ډیر مهربان | او زه جدا کیږم ستاسو نه

زهٔ به ستا دپاره د خپل رب نه بخښنه غواړم. یقیناً هغه په ما باندے ډیر مهربان دے او زهٔ تاسو او تاسو چه

وَمَا تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَاَدْعُوْا رَبِّيْ ۖ عَسٰۤى

او د هغه څه نه | چه تاسو ئے رابلئ | د | الله نه سوا | او زه رابلم | (یوازے) خپل رب | اُمید دے

د الله تعالیٰ نه سوا څوک رابلئ پریږدم او زه صرف خپل رب رابلم. زما پوره اُمید دے

اَلَّآ اَكُوْنَ بِدُعَآءِ رَبِّیْ شَقِیًّا ۝ فَلَمَّا اعْتَزَلَهُمْ وَمَا

چه نه به یم زه | په غوښتلو کښې | د خپل رب نه | بدبخته (نامراده) | پس هرکله | چه جدا شو د دوی نه | او د هغه څه نه

چه زه به د خپل رب نه په غوښتلو نامراده نه شم. نو کله چه ابراهیمؑ هغوی او هغه څه چه هغوی ئے

یَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۙ وَهَبْنَا لَهٗۤ اِسْحٰقَ وَیَعْقُوْبَ ؕ

چه هغوی ئے عبادت کولو | د الله | نه سوا | ورکړو مونږ | ده ته | اسحاقؑ | او یعقوبؑ

د الله تعالیٰ نه سوا عبادت کولو پریښودل نو مونږ ورله اسحاقؑ او یعقوبؑ ورکړل

وَكُلًّا جَعَلْنَا نَبِیًّا ۝ وَوَهَبْنَا لَهُمْ مِّنْ رَّحْمَتِنَا وَجَعَلْنَا لَهُمْ

او هریو | جوړ کړے وو مونږ | نبی | او ورکړے وو مونږ | دوی ته | خپل رحمت | او ورکړے وو مونږ | دوی ته

او هریو مو نبی جوړ کړو او هغوی ته مونږ خپل رحمت ورکړے وو او د هغوی ذکر خیر مو

لِسَانَ صِدْقٍ عَلِیًّا ۝ وَاذْكُرْ فِی الْكِتٰبِ مُوْسٰۤی ۫ اِنَّهٗ كَانَ ع

ذکر | نیک | اوچت | او یاد کړه | په کتاب کښې | موسٰیؑ | بیشکه هغه | وو

ډیر اوچت کړے وو. او اے نبی په دے کتاب کښې د موسٰیؑ تذکره هم بیان کړه. هغه هم د الله تعالیٰ

مُخْلَصًا وَّكَانَ رَسُوْلًا نَّبِیًّا ۝ وَنَادَیْنٰهُ مِنْ جَانِبِ الطُّوْرِ الْاَیْمَنِ

پاک کسے غوره شوے | او وو | رالیږلے شوے | پیغمبر (نبی) | او آواز کړے وو مونږ هغه ته | د طور د ښی طرف نه

چونړ شوے (خاص) بنده وو او (د الله د طرفه) رالیږلے شوے پیغمبر وو (خلقو ته) او مونږ هغه ته د طور د ښی طرف نه

وَقَرَّبْنٰهُ نَجِیًّا ۝ وَوَهَبْنَا لَهٗ مِنْ رَّحْمَتِنَاۤ اَخَاهُ

او نزدے کړے وو مونږ هغه | راز دار | او ورکړے وو مونږ | هغه ته | د رحمت خپل نه | ورور د هغه

آواز کړے وو او د رازدارئ د خبر د پاره مو خان ته رانزدے کړے وو. او مونږ په خپل رحمت سره هغه ته د هغه ورور

هٰرُوْنَ نَبِیًّا ۝ وَاذْكُرْ فِی الْكِتٰبِ اِسْمٰعِیْلَ ۫ اِنَّهٗ كَانَ

هارونؑ | پیغمبر (نبی) | او یاد کړه | په کتاب کښې | اسماعیلؑ | بیشکه هغه | وو

هارونؑ د پیغمبر په طور ورکړے وو او اے نبی! په دے کتاب کښې د اسماعیلؑ تذکره هم بیان کړه یقیناً هغه هم

صَادِقَ الْوَعْدِ وَكَانَ رَسُوْلًا نَّبِیًّا ۝ وَكَانَ یَاْمُرُ اَهْلَهٗ

رشتینے | وعدے والا | او وو هغه | رالیږلے شوے | نبی | او هغه به حکم کولو | خپل کور والو ته

د وعدے رشتینے او رالیږلے شوے پیغمبر وو او هغه به خپل کور والو ته هم

بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ ۪ وَكَانَ عِنْدَ رَبِّهٖ مَرْضِیًّا ۝ وَاذْكُرْ

د مانځه | او د زکات | او وو هغه | په نزد | د رب خپل | غوره | او یاد کړه

د مانځه او زکات حکم کولو او (په دغه) (هم) خپل رب ته ډیر خوښ وو. او په دے کتاب کښې

فِی الْكِتٰبِ اِدْرِیْسَ ۫ اِنَّهٗ كَانَ صِدِّیْقًا نَّبِیًّا ۝ وَّرَفَعْنٰهُ

په کتاب کښې | ادریسؑ | بیشکه هغه | وو | ډیر رشتینے | نبی | او اوچت کړے وو مونږ هغه لره

د ادریسؑ تذکره هم وکړه یقیناً هغه ډیر رشتینے نبی وو. او مونږ هغه ډیر اوچت مقام ته

مَكَانًا عَلِيًّا ۝٥٧ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ

مقام | اوچت ته | دا | هغه کسان دي | چه انعام کړے دے | الله تعالیٰ | په دوی باندے

رسولے ووـ د آدمؑ په اولاد کښې دا هغه انبیاء دي چه الله تعالیٰ پرے انعام کړے دے

مِّنَ النَّبِيّٖنَ مِنْ ذُرِّيَّةِ اٰدَمَ ۗ وَمِمَّنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوْحٍ ۢ

د پیغمبرانو نه | د اولاد | د آدمؑ نه | او دهغه چانه | چه مونږ سواره کړي وو | د نوحؑ سره

او په دے کښې څه دهغه چا اولاد دے چه مونږ د نوحؑ سره په کشتۍ کښې سواره کړي وو او څه پکښې

وَّمِنْ ذُرِّيَّةِ اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْرَآءِيْلَ ۡ وَمِمَّنْ هَدَيْنَا وَاجْتَبَيْنَا ۭ

او د اولاد | د ابراهیمؑ | او د اسرائیل نه | او دهغه چانه | چه هدایت (ورته) کړے وو مونږ | او غوره کړي وو مونږ

د ابراهیمؑ او یعقوبؑ اولاد دے دا ټول هغه خلق دي چه مونږ ورته هدایت کړے دے او مونږ د خپل دین دپاره غوره کړي دي

اِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُ الرَّحْمٰنِ خَرُّوْا سُجَّدًا وَّبُكِيًّا ۝٥٨

کله به چه | لوستلے شو | په دوی باندے | آیتونه | د مهربان ذات | لوپریوتل به دوی | سجده کونکی | او ژړا کونکی

دوی ته به چه کله د رحمن آیتونه بیان شول نو دوی به په ژړا ژړا په سجده پریوتل

فَخَلَفَ مِنْ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّبَعُوا

بیا جانشین شول | دوی نه وروسته | نا اهل نائبان | چه برباد ئے کړو | مونځ لره | او روان شو

خو بیا د دوی نه وروسته د دوی په ځای دا سے (نااهل) خلق راغلل چه مونځونه ئے برباد کړل او خپلو

الشَّهَوٰتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا ۝٥٩ اِلَّا مَنْ تَابَ وَاٰمَنَ

په خواهشاتو پسے | نو ډیر زر به | دوی مخامخ شی | سزا د سرکشۍ سره | مګر | هغه چا | چه توبه ئے اوویستله | او ایمان ئے راوړو

خواهشاتو پسے روان شول، نو بس ډیر زر به دوی ته د خپلے ګمراهۍ سزا ملاؤ شی البته چا چه توبه اوویستله

وَعَمِلَ صَالِحًا فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُوْنَ

او عمل ئے اوکړو | نیک | نو هم دا خلق به | داخلیږی | جنت ته | او ظلم به نه کیږی په دوی باندے

او ایمان ئے راوړو او نیک عمل ئے اوکړو نو دا خلق به جنت ته داخلیږی او معمولی ظلم به پرے هم نه کیږی

شَيْـًٔا ۝٦٠ جَنّٰتِ عَدْنِ ۨالَّتِيْ وَعَدَ الرَّحْمٰنُ عِبَادَهٗ

هیڅ قسمه | باغونو | د همیشه والی ته | هغه | چه وعده ئے کړے ده | رحمن ذات | د بندګانو خپلو سره

دا سے د همیشه جنتونو (ته به داخلیږی) چه د هغے وعده رحمان ذات د خپلو بندګانو سره بغیر د لیدو

بِالْغَيْبِ ۭ اِنَّهٗ كَانَ وَعْدُهٗ مَاْتِيًّا ۝٦١ لَا يَسْمَعُوْنَ فِيْهَا لَغْوًا

غائبانه | بیشکه | ده | وعده دهغه | پوره شوے | دوی به نه اوری | په هغے کښې | څه عبث خبرے

کړے ده. یقیناً د هغه وعده خامخا پوره کیدونکے ده. دوی به په هغے کښې د سلامتیا خبرے اوری او

اِلَّا سَلٰمًا ۭ وَلَهُمْ رِزْقُهُمْ فِيْهَا بُكْرَةً وَّعَشِيًّا ۝٦٢ تِلْكَ الْجَنَّةُ

لیکن سلام (به اوری) | او دوی به د دوی دپاره | رزق د دوی | په هغے کښې | سحر | او ماښام | دا دے | جنت

عبث خبرے به نه اوری، او هلته به ورته سحر او ماښام خپل رزق ملاویږی. دا هغه جنت دے چه د دے وارثان به مونږ

الَّتِیْ نُوْرِثُ مِنْ عِبَادِنَا مَنْ كَانَ تَقِیًّا ﴿٦٣﴾ وَمَا نَتَنَزَّلُ

هغه | چه وارثان به ئې جوړوو مونږ | د بندګانو خپلو نه | هغه څوک | چه وي | پرهیزګاره | او مونږ نه راکوزیږو

په خپلو بندګانو کښې هغه خلق جوړوو چه متقیان وي او (جبرئیل پیغمبر ته ووئیل کله چه وړ ته لږ او فرمائیل چه ته ولے

اِلَّا بِاَمْرِ رَبِّكَ ۚ لَهٗ مَا بَیْنَ اَیْدِیْنَا وَمَا خَلْفَنَا

مګر | په حکم | د رب ستا | خاص دهغه دی | هغه څه | چه زمونږ مخے ته دي | او هغه څه | چه زمونږ نه وروسته دي

زرزر نه راځے) مونږ د الله تعالیٰ د حکم نه بغیر نه شو را کوزیدے زمونږ مخکښې او وروستو چه څه دي او څه چه ددے په

وَمَا بَیْنَ ذٰلِكَ ۚ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِیًّا ﴿٦٤﴾ رَبُّ السَّمٰوٰتِ

او هغه څه | چه په مینځ کښې دي | ددے | او نه دے | رب ستا | هیرونکے | رب دے | د آسمانونو

مینځ کښې دي هغه ټول دهغه (الله) په اختیار (ملکیت) کښې دي او ستا رب له څه نه هیریږي. هغه د اسمانونو

وَالْاَرْضِ وَمَا بَیْنَهُمَا فَاعْبُدْهُ وَاصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهٖ ؕ

او د زمکے | او هغه څه | چه ددے دواړو په مینځ کښې دي | لو (هم) دهغه عبادت کوه | او ټینګ اوسه | بندګي دهغه ته

او زمکے او ددے دواړو په مینځ کښې چه څه دے ددي ټولو رب دے نو هم دهغه عبادت کوه او هم دهغه په عبادت

ع هَلْ تَعْلَمُ لَهٗ سَمِیًّا ﴿٦٥﴾ وَیَقُوْلُ الْاِنْسَانُ ءَاِذَا مَا مِتُّ

آیا | ته پیژنے | دهغه | څوک هم نامے | او وائي | انسان | آیا کله چه | مړ شم زه

کلک اوسه آیا ستا په علم کښې بل څوک دا سے شته چه دهغه په شان صفتونه لري؟ او کافر انسان وائي چه آیا زهٔ مړ شم

لَسَوْفَ اُخْرَجُ حَیًّا ﴿٦٦﴾ اَوَلَا یَذْكُرُ الْاِنْسَانُ اَنَّا خَلَقْنٰهُ

نو خامخا زهٔ به | بیا راوستلے کیږم | ژوندے | آیا نه یادوي | انسان | دا چه بیشکه مونږ | پیدا کړے وو دے

نو بیا به دوباره پیدا کیږم؟ آیا دے انسان ته دا خبره یاد نه ده چه مونږ ددے نه وړاندے دے هغه وخت پیدا

مِنْ قَبْلُ وَلَمْ یَكُ شَیْــًٔا ﴿٦٧﴾ فَوَرَبِّكَ لَنَحْشُرَنَّهُمْ وَالشَّیٰطِیْنَ

مخکښې ددے نه | او نه وو دے | هیڅ شے | پس قسم دے ستا په رب | خامخا به مونږ را جمع کړو دوی | او شیطانان

کړے وو چه هیڅ وجود ئې نه لرلو. نو ستا په رب قسم دے مونږ به دوي او شیطانان ضرور را جمع کوو

ثُمَّ لَنُحْضِرَنَّهُمْ حَوْلَ جَهَنَّمَ جِثِیًّا ﴿٦٨﴾ ثُمَّ لَنَنْزِعَنَّ

بیا به | خامخا مونږ حاضروو دوی | چاپیره | د دوزخ نه | په ځنګونو بانـدے پراته | بیا به | خامخا مونږ راوباسو

بیا به دا ټول د دوزخ نه چاپیره دا سے حالت کښې حاضروو چه پر مخے به (په ګونډو) پراته وي بیا به مونږ

مِنْ كُلِّ شِیْعَةٍ اَیُّهُمْ اَشَدُّ عَلَی الرَّحْمٰنِ عِتِیًّا ﴿٦٩﴾ ثُمَّ

د هرے | ډلے نه | کوم یو چه د دوی نه | زیات سخت وو | په رحمان بانـدے | په سرکشۍ کښې | بیا

د هرے ډلے نه هغه خلق راوباسو چه د رحمن ذات په نافرمانۍ (مخالفت) کولو کښې د ټولو نه زیات سخت وو

لَنَحْنُ اَعْلَمُ بِالَّذِیْنَ هُمْ اَوْلٰی بِهَا صِلِیًّا ﴿٧٠﴾ وَاِنْ مِّنْكُمْ

خامخا مونږ | پیژنو | هغه کسان | چه هغوي | ډیر حقدار دي | دوزخ ته | د داخلیدو | او نشته ستاسو نه (هیڅ څوک)

بیا مونږ هغه خلق هم ښه پیژنو چه په دوزخ کښې د داخلیدو زیات حقدار (مستحق) دي. او تاسو کښې به هر

اِلَّا وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلٰى رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا ۝ ثُمَّ نُنَجِّي

مګر | ورتلونکی دی په هغه باندې | ده | ستا په رب باندې | ضروري | فیصله کړے شوے | بیا به | مونږ بچ کړو

يو کس خامخا په دے ورتیر یږي، د دے خبرے ذمه داري ستا رب په خپله اخستلے ده. بیا به مونږ

الَّذِيْنَ اتَّقَوْا وَّنَذَرُ الظّٰلِمِيْنَ فِيْهَا جِثِيًّا ۝ وَاِذَا تُتْلٰى

هغه خلق | چه تقوی دار وو | او پریږدے به پدو | ظالمان | په هغے کښې | په زنګونو پر یوتی | او کله چه | اولوستلے شي

متقیانو ته نجات ورکړو او ظالمان به په دے کښې پر مخے (په ګونډو غورزیدلی) پرېږدو او کله چه دوی ته

عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا ۙ

په هغوی باندے | زمونږ آیتونه | ښکاره (واضحه) | نو وائي | هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | هغه خلقو ته | چه ایمان ئے راوړے دے

زمونږ آیتونه صفا صفا بیان شي نو کافران مؤمنانو ته وائي چه په مونږ دواړو ډلو کښې د چا مقام ډیر ښه دے او د چا

اَيُّ الْفَرِيْقَيْنِ خَيْرٌ مَّقَامًا وَّاَحْسَنُ نَدِيًّا ۝ وَكَمْ اَهْلَكْنَا

چه کوم | په دواړو ډلو کښې | ښه | مرتبے والادی | او ډیر ښائسته | مجلس والادي | او څومره | هلاک کړی دی مونږ

مجلس ډیر ښائسته دے. او (دوی دا نه ګوري) چه د دوی نه مخکښې مونږ څومره ډیر دا سے نسلونه (قومونه)

قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْنٍ هُمْ اَحْسَنُ اَثَاثًا وَّرِءْيًا ۝ قُلْ مَنْ

مخکښې د دوی نه | د پیړونه | چه هغوی | زیات بهتر وو | په سامان | او په ښودنه کښې | او وایه | هغه څوک

هلاک کړی دی چه هغوی د دوی نه په ساز و سامان او په ظاهري ښکل او صورت کښې ډیر ښائسته وو. او وایه

كَانَ فِي الضَّلٰلَةِ فَلْيَمْدُدْ لَهُ الرَّحْمٰنُ مَدًّا ۚ حَتّٰٓى اِذَا رَاَوْا

چه وي | په ګمراهۍ کښې | پس مهلت ورکوي | هغه ته | رحمن | مهلت | تر دے | چه کله | او وینی دوی

اے نبی! څوک چه په ګمراهۍ کښې اخته دي نو مهربان الله تعالیٰ هغوی له پوره پوره مهلت ورکوي تر دے چه

مَا يُوْعَدُوْنَ اِمَّا الْعَذَابَ وَاِمَّا السَّاعَةَ ؕ فَسَيَعْلَمُوْنَ

هغه څه | چه د دوی سره ئے وعده کیږی | یا | عذاب | او یا | قیامت | پس ډیر زر به دوی پوهه شي

کله دوی هغه څه وویني د څه چه ورسره وعده کیږي برابره خبره ده که د دنیا عذاب وي او که د قیامت نو په

مَنْ هُوَ شَرٌّ مَّكَانًا وَّاَضْعَفُ جُنْدًا ۝ وَيَزِيْدُ اللّٰهُ

چه څوک دے | هغه | زیات بد | په مرتبه کښې | او زیات کمزورے | په لښکر کښې | او زیاتوي | الله تعالیٰ

هغه وخت به دوی په دے پوهه شي چه څوک بدترین مقام والا دے او څوک زیات کمزوری لښکر والا دے

الَّذِيْنَ اهْتَدَوْا هُدًى ؕ وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ خَيْرٌ

هغه چالره | چه سمه لار ئے موندلے ده | هدایت | او باقي پاتے کیدونکی | نیک عملونه | ډیر غوره دي

او چا چه سمه لار اختیار کړے ده الله تعالیٰ هغوی ته په هدایت کښې لور هم ترقي ورکوي او هغه نیک عملونه چه باقي پاتے

عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَّخَيْرٌ مَّرَدًّا ۝ اَفَرَءَيْتَ الَّذِيْ كَفَرَ

په نزد د رب ستا | په ثواب کښې | او ډیر غوره دي | په انجام کښې | آیا ته خبر ئے | د هغه کس نه | چه کفر ئے کړے دے

کیدونکی دي د هغے بدله هم ستا د رب په نزد ډیره غوره ده او د هغے انجام هم ډیر ښه دے آیا تا هغه کس لیدلے دے چه

بِاٰيٰتِنَا وَقَالَ لَاُوۡتَيَنَّ مَالًا وَّوَلَدًا ﴿٧٧﴾ اَطَّلَعَ الۡغَيۡبَ

په آیتونو زمونږ | او وائي | چه خامخا به ماته را کولے شي | مال | او اولاد | آیا دے خبر دے | په غیبو باندے

زمونږ د آیتونو نه انکار کوي او وائي چه ماته به په آخرت کښې هم مال او اولاد ملاویږي. آیا دے د غیبو نه

اَمِ اتَّخَذَ عِنۡدَ الرَّحۡمٰنِ عَهۡدًا ﴿٧٨﴾ كَلَّا ؕ سَنَكۡتُبُ مَا يَقُوۡلُ

یا ده نیولے ده | د مهربان ذات سره | وعده | چرے هم داسے نه ده | زر ده چه مونږ به اولیکو | هغه څه | چه دے ئے وائي

خبر شوے دے یا ئے د رحمٰن ذات نه څه لوظ اخستے دے؟ هر گز داسے خبره نه ده. دا چه څه وائي هغه مونږ لیکو

وَنَمُدُّ لَهٗ مِنَ الۡعَذَابِ مَدًّا ﴿٧٩﴾ وَّنَرِثُهٗ مَا يَقُوۡلُ وَيَاۡتِيۡنَا

او مونږ به زیاتوو | د ده د پاره | عذاب | په زیاتولو سره | او مونږ به وارثان یو | د هغه څه | چه دے ئے وائي | او را به شي دے مونږ ته

او مونږ د ده عذاب لور هم زیاتوو او دا چه د څه (خبرو) حواله ورکوي د هغے وارثان به مونږ یو او دا به مونږ ته

فَرۡدًا ﴿٨٠﴾ وَاتَّخَذُوۡا مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ اٰلِهَةً لِّيَكُوۡنُوۡا لَهُمۡ عِزًّا ﴿٨١﴾

یو اځے | او دوی نیولی دی | سوا د الله نه | لور معبودان | د دے د پاره چه شي | د دوی د پاره | سبب د عزت

اِک یو اځے راشي او دوی د الله تعالیٰ نه سوا لور معبودان د دے د پاره جوړ کړي دي چه هغوی به د دوی ملاتړ شي

كَلَّا ؕ سَيَكۡفُرُوۡنَ بِعِبَادَتِهِمۡ وَيَكُوۡنُوۡنَ عَلَيۡهِمۡ ضِدًّا ﴿٨٢﴾ ع

هیڅ کله داسے نه شي کیدے | زر ده چه هغوی به انکار اوکړي | د هغوی د عبادت نه | او شي به | په هغوی باندے | مخالف

(خو) دا تولے خبرے غلطے دي بلکه هغوی خو به د دوی د عبادت نه هم انکار اوکړي، او د دوی مخالف به شي

اَلَمۡ تَرَ اَنَّاۤ اَرۡسَلۡنَا الشَّيٰطِيۡنَ عَلَى الۡكٰفِرِيۡنَ تَؤُزُّهُمۡ

آیا ته نه گورے | چه بیشکه مونږ | رالیږلي دي | شیطانان | په کافرانو باندے چه | راپاروي دوی

اے نبی آیا تا ته پته نشته چه مونږ کافرانو پسے شیطانان ورپریښي دي چه هغوی مسلسل دوی (په کفر او گناه)

اَزًّا ﴿٨٣﴾ فَلَا تَعۡجَلۡ عَلَيۡهِمۡ ؕ اِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمۡ عَدًّا ﴿٨٤﴾ يَوۡمَ

په راپارولو سره | پس ته تلوار مه کوه | په دوی باندے | بیشکه | مونږ شمارو | دوی لره | شمارل | په هغه ورځ

راپاروي نو ته د دوی په باره کښې تلوار مه کوه، مونږ د دوی د پاره ورځے (عملونه) شمارو. په هغه ورځ چه

نَحۡشُرُ الۡمُتَّقِيۡنَ اِلَى الرَّحۡمٰنِ وَفۡدًا ﴿٨٥﴾ وَّنَسُوۡقُ الۡمُجۡرِمِيۡنَ

چه مونږ به راجمع کړو | متقیان | رحمٰن ته | ډلے ډلے | او مونږ به اوشړو | مجرمان

مونږ به متقیان رحمٰن ذات ته د میلمستیا په طور ډلے ډلے راجمع کړو او مجرمان به د تږو څناورو په شان

اِلٰى جَهَنَّمَ وِرۡدًا ﴿٨٦﴾ لَا يَمۡلِكُوۡنَ الشَّفَاعَةَ اِلَّا مَنِ اتَّخَذَ

دوزخ ته | تږي | اختیار به نه لري دوی | د سفارش کولو | مگر | هغه څوک | چه نیولی ئے وي

دوزخ ته اوشړو. (چه) د سفارش اختیار به هم نه لري سوا د هغه چا نه چه د رحمٰن ذات نه ئے

عِنۡدَ الرَّحۡمٰنِ عَهۡدًا ﴿٨٧﴾ وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحۡمٰنُ وَلَدًا ﴿٨٨﴾ لَقَدۡ

د رحمٰن سره | وعده | او وائي دوی | (چه) نیولے دے | رحمٰن | بچے (خوے) | یقیناً

اجازت اخستے وي. او دوی وائي چه رحمٰن ذات خوي (نائب) جوړ کړے دے (دا سے خبره کولو) حقیقت دا دے

جِئْتُمْ شَيْـًٔا إِدًّا ﴿٨٩﴾ تَكَادُ السَّمٰوٰتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ وَتَنْشَقُّ

تاسو راوړو | یو شیز | بد (درونډ) | نزدې ده | چه آسمانونه | اوچوی | ددې وجې نه | او اوشلیږی

چه تاسو (خو) داسې بده خبره اوکړه چه نزدې ده چه د هغې د وجې آسمانونه اوچوی

الْأَرْضُ وَتَخِرُّ الْجِبَالُ هَدًّا ﴿٩٠﴾ أَنْ دَعَوْا لِلرَّحْمٰنِ وَلَدًا ﴿٩١﴾

زمکه | او راپریوځی | غرونه | ذرې ذرې | ددې وجې نه | چه دوی بیان کړو | رحمن د پاره | بچے (ځوے)

او زمکه ټوټې ټوټې شی او غرونه او غورزیږی (او ذره ذره شی). ځکه چه دوی د رحمن د پاره ځوے مقرر کړے دے

وَمَا يَنْبَغِي لِلرَّحْمٰنِ أَنْ يَتَّخِذَ وَلَدًا ﴿٩٢﴾ إِنْ كُلُّ مَنْ

او نه دی مناسب | د رحمن د پاره | چه اونیسی | ځوے | نه دی ټول | (هر) هغه څوک

حالانکه د الله تعالیٰ سره دا نه ښائی چه د هغه دے اولاد وی په آسمانونو او زمکه کښی چه څومره خلق دی

فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ إِلَّا آتِي الرَّحْمٰنِ عَبْدًا ﴿٩٣﴾ لَقَدْ

چه دی په آسمانونو | او په زمکه کښی | مگر | راتلونکی دی | رحمن ته | په بندگۍ سره | یقیناً

هغه ټول به رحمن ته د بنده په حیثیت (په عاجزۍ سره) حاضریږی. هغه د ټولو احاطه کړے ده

أَحْصٰهُمْ وَعَدَّهُمْ عَدًّا ﴿٩٤﴾ وَكُلُّهُمْ آتِيهِ يَوْمَ

هغه راگیر کړی دی دوی | او شمارلی ئے دی دوی | په شمارلو سره | او هر یو د دوی نه (ټول) | راځی به هغه ته | په ورځ

او ټول ئے ښه شمارلی دی. او د قیامت په ورځ به ټول هغه ته تش تور (یواځے) راځی

الْقِيٰمَةِ فَرْدًا ﴿٩٥﴾ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

د قیامت | یواځے (تش تور) | بیشکه | هغه خلق | چه ایمان ئے راوړے دے | او عملونه ئے کړی دی | نیک

البته یقیناً چا چه ایمان راوړے دے او نیک عملونه ئے کړی دی. رحمٰن ذات به (د خلقو په زړونو کښی)

سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمٰنُ وُدًّا ﴿٩٦﴾ فَإِنَّمَا يَسَّرْنٰهُ بِلِسَانِكَ

ډیر زر به پیدا کړی | د دوی د پاره | رحمن | مینه | پس بیشکه | مونږ آسان کړے دے دا (قرآن) | په ژبه ستا

د هغوی د پاره محبت پیدا کړی. نو یقیناً مونږ دا قرآن ستا په ژبه د دے د پاره آسان کړے دے

لِتُبَشِّرَ بِهِ الْمُتَّقِينَ وَتُنْذِرَ بِهِ قَوْمًا لُدًّا ﴿٩٧﴾

چه ته زیرے ورکړے | په دے سره | متقیانو ته | او ته اویروے | په دے سره | قوم | جگړه مار

چه ته متقیانو ته د دے په ذریعه زیرے ورکړے او هم د دے په ذریعه جگړه مار خلق اویروے

وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِنْ قَرْنٍ هَلْ تُحِسُّ

او څومره ډیر | هلاک کړی دی مونږ | مخکښی د دوی نه | قومونه | آیا | ته محسوسوے

او د دوی نه مخکښی مونږ څومره ډیر قومونه تباه کړی دی آیا ته

مِنْهُمْ مِنْ أَحَدٍ أَوْ تَسْمَعُ لَهُمْ رِكْزًا ﴿٩٨﴾ ع

د هغوی نه | یو کس | آیا ته آورے | د هغوی د پاره | کشار (کنگوسه) قدرے

په هغوی کښی څوک پاتے وینے یا د هغوی کنگوسه (کشار) آورے؟.

آیاتها [١٣٥] سورة طٰهٰ مكيّة رکوعاتها [٨]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

طٰهٰ ۞ مَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ لِتَشْقٰٓى ۞ اِلَّا تَذْكِرَةً

طٰهٰ | مونږ نه دے رالیږلے | په تا بان دے | قرآن | چه ته په تکلیف کښې شې | مګر | یاداشت

طٰهٰ. اے نبی! مونږ دا قرآن په تا باندے د دے دپاره (خو) نه دے نازل کړے چه ته دے په تکلیف شې بلکه دا خو

لِّمَنْ يَّخْشٰى ۞ تَنْزِيْلًا مِّمَّنْ خَلَقَ الْاَرْضَ وَالسَّمٰوٰتِ

دهغه چا دپاره | چه یریږی | رالیږلے شوے دے | دهغه چا طرف نه | چه پیدا کړی شوے | زمکه | او آسمانونه

مونږ دهغه چا ته د نصیحت کولو دپاره نازل کړے دے چه (د الله نه) یریږی۔ دا دهغه ذات له لږ لږ نازل کړے دے چه زمکه او

الْعُلٰى ۞ اَلرَّحْمٰنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوٰى ۞ لَهٗ مَا

اوچت | رحمٰن دے | په عرش باندے | برابر دے | دهغه په اختیار (کښې) دی | هغه څه

اوچت آسمانونه ئے پیدا کړی دی۔ هغه مهربان ذات په عرش باندے استواء کړے ده آسمانونو او

فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَمَا تَحْتَ

چه په آسمانونو کښې دی | او هغه څه | چه په زمکه کښې دی | او هغه څه | چه د دواړو په مینځ کښې دی | او هغه څه | چه لاندے

زمکه کښې چه څه دی او د دواړو په مینځ کښې او څه چه د زمکے د خاورے لاندے دی دا ټول دهغه په اختیار کښې دی

الثَّرٰى ۞ وَاِنْ تَجْهَرْ بِالْقَوْلِ فَاِنَّهٗ يَعْلَمُ السِّرَّ وَاَخْفٰى ۞

دخاورے نه دی | او که | ته په زوره کوے | خبره | نو بیشکه هغه | پوهیږی | په پټه خبره | او په ډیر پټه خبره

که ته په زوره خبره کوے (او که په دمه) نو هغه په پټو خبرو (رازونو) (بلکه) بیه په پټو خبرو (چه په زړونو کښې وی) هم پوهیږی

اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ لَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى ۞

الله تعالیٰ | نشته | حقدار د بندګۍ | سوا | دهغه نه | دهغه دپاره دی | نومونه | ډیر ښائسته

الله تعالیٰ هغه ذات دے چه دهغه نه سوا بل هیڅ څوک د عبادت حقدار نشته، هم دهغه ډیر ښائسته ښائسته نومونه دی

وَهَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ مُوْسٰى ۞ اِذْ رَاٰ نَارًا فَقَالَ لِاَهْلِهِ

او ایا | راغلے دے تا ته | خبر | د موسیٰ | کله چه | هغهٔ اولیدو | اور | نو ویے ویل | خپل کور والا ته

او (اے نبی!) ایا تا ته د موسی علیه السلام خبر (واقعه) را رسیدلے ده؟۔ کله چه هغه اور اولیدو نو خپل کور والا ته ئے

امْكُثُوْٓا اِنِّىْٓ اٰنَسْتُ نَارًا لَّعَلِّىْٓ اٰتِيْكُمْ مِّنْهَا بِقَبَسٍ

لږ ایسار شئ | بیشکه | ما اولیدو | اور | کیدے شی | چه راوړم تاسو ته | د هغے نه | یو لمبکے (شعله)

او ویل چه تاسو د لته لږ ایسار شئ، ما اور لیدلے دے کیدے شی چه زه تاسو له د هغے نه یوه شعله راوړم

اَوْ اَجِدُ عَلَى النَّارِ هُدًى ﴿١٠﴾ فَلَمَّآ اَتٰىهَا نُوْدِيَ يٰمُوْسٰى ﴿١١﴾

یا به زه اوموم | داورپه خوا کښې | لاربنود ونکے | پس کله چه | ورسیدو هلته | نو آواز ورته اوشو | اے موسیٰ

یا به داورپه خوا کښې دلارے پته اولګوم نو بس کله چه هغه داور خواله راغے نو آواز ورته اوشو چه اے موسیٰ!

اِنِّيْٓ اَنَا رَبُّكَ فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ ۚ اِنَّكَ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ

بیشکه | هم زه | ستارب یم | پس اوباسه | پیزار خپل | بیشکه ته ئے | په میدان | پاک کښې

یقین اوکره چه زه ستارب یم. اوس ته خپلے پنړے اوباسه ځکه چه ته دطوی په پاک میدان کښې (ولاړ) ئے او ما

طُوًى ﴿١٢﴾ وَاَنَا اخْتَرْتُكَ فَاسْتَمِعْ لِمَا يُوْحٰى ﴿١٣﴾ اِنَّنِيْٓ اَنَا

د طوی | او ما | غوره کړے ئے ته | نو غور کیږده | هغه څه ته | چه وحی ئے کیږی (تاته) | بیشکه | هم زه

ته دپیغمبرئ دپاره غوره کړے ئے نو تاته چه څه وحی کیږی هغه په غور واوره. حقیقت دادے چه هم زه الله تعالیٰ یم

اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدْنِيْ ۙ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ لِذِكْرِيْ ﴿١٤﴾

الله تعالیٰ یم | نشته هیڅ | حقدار دبندګئ | سوا | زما نه | نو زما عبادت کوه | او کوه | مونځ | زما دیادداشت دپاره

زما نه سوا بل څوک دعبادت حقدار نشته نو بس ته صرف زما عبادت کوه. او زما دیاد دپاره دمانځه پابندی (هم) کوه

اِنَّ السَّاعَةَ اٰتِيَةٌ اَكَادُ اُخْفِيْهَا لِتُجْزٰى كُلُّ نَفْسٍۭ

بیشکه | قیامت | راتلونکے دے | زه غوارم | چه پټه اوساتم هغه | چه بدله ورکړے شی | هر یو کس ته

(اودا) یقین (هم) اوساته چه قیامت راتلونکے دے (خو فی الحال) ئے زه پټ ساتل غوارم دے دپاره چه هر کس ته دخپل

بِمَا تَسْعٰى ﴿١٥﴾ فَلَا يَصُدَّنَّكَ عَنْهَا مَنْ لَّا يُؤْمِنُ بِهَا

دهغه څه | چه کوشش ئے کوی | پس منع دے نه کړی تا | دهغے نه | هغه څوک | چه ایمان نه راوړی | په هغے باندے

کوشش بدله ملاو شی. نو تا دے ددے (قیامت) نه هیڅ کله هغه څوک غافله نه کړی چه په دے ایمان نه راوړی

وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ فَتَرْدٰى ﴿١٦﴾ وَمَا تِلْكَ بِيَمِيْنِكَ يٰمُوْسٰى ﴿١٧﴾

او روان شو مخے | په خپل خواهش پسے | ګنی تو هلاک به شے | او څه دی | دا | ستا په ښی لاس کښې | اے موسیٰ

او خپل خواهشاتو پسے روان وی ګنی نو ته به هلاک شے او اے موسیٰ ستا په ښی لاس کښې (دا) څه دی؟

قَالَ هِيَ عَصَايَ ۚ اَتَوَكَّؤُا عَلَيْهَا وَاَهُشُّ بِهَا عَلٰى غَنَمِيْ

وویل (هغه) | دا (خو) | زما امساده | زه ډډه وهم | په دے باندے | او زه پانړے راشنډم | په دے | خپلو ګډو ته

موسیٰ وویل دا (خو) زما امساده. زه په دے تکیه هم وهم او خپلو چیلو دپاره پرے پانړے هم راشنډم

وَلِيَ فِيْهَا مَاٰرِبُ اُخْرٰى ﴿١٨﴾ قَالَ اَلْقِهَا يٰمُوْسٰى ﴿١٩﴾ فَاَلْقٰىهَا

او زما دپاره دی په دے کښې | فائدے | نورے | اووئیل (الله) | او غورځوه دا | اے موسیٰ | نو هغه او غورځوله

او په دے سره زما نور ضرورتونه هم پوره کیږی (الله ورته) اووئیل: اے موسیٰ دا او غورځوه نو هغه او غورځوله

فَاِذَا هِيَ حَيَّةٌ تَسْعٰى ﴿٢٠﴾ قَالَ خُذْهَا وَلَا تَخَفْ ٚ

پس ناګهانه | هغه شو | یو مار | چه منډے ئے وهلے | اووئیل (الله) | اونیسه دا | او مه یریږه

نو سمدستی دهغے نه یو مار جوړ شو چه منډے ئے وهلے. الله تعالیٰ ورته بیا اووئیل دا راونیسه او یریږه مه

سَنُعِيْدُهَا سِيْرَتَهَا الْاُوْلٰى ﴿٢١﴾ وَاضْمُمْ يَدَكَ اِلٰى جَنَاحِكَ

ژر به يې موږ بیا واپس کړو | خپل حالت | ورومبنی ته | او جوخت کړه | لاس خپل | د خپل تړخ سره

دا به اوس موږ بیا خپل زوړ حالت ته واپس کړو. او خپل لاس په خپل تړخ کښې ورګړه

تَخْرُجْ بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوْٓءٍ اٰيَةً اُخْرٰى ﴿٢٢﴾ لِنُرِيَكَ

نو راوبه وځي | سپین | بغیر | د څه نقصان نه | نخښه | بله | چه اوښایو موږ تاته

(نو) هغه به بغیر د څه بیمارۍ نه تک سپین (پرقیدونکے) راوځي (او دا ستا دنبوت) یوه بله نخښه شوه دا موږ ځکه اوکړل

ع

مِنْ اٰيٰتِنَا الْكُبْرٰى ﴿٢٣﴾ اِذْهَبْ اِلٰى فِرْعَوْنَ اِنَّهٗ طَغٰى ﴿٢٤﴾

خپلے نخښے | لوے لوے | لاړ شه | فرعون ته | بیشکه هغه | سرکشي کړے ده

چه د خپلو لویو لویو نخښو نه تاته بعضے اوښایو (اوس) ته فرعون ته ورشه ځکه چه هغه سرکشي کړے ده

قَالَ رَبِّ اشْرَحْ لِيْ صَدْرِيْ ﴿٢٥﴾ وَيَسِّرْ لِيْٓ اَمْرِيْ ﴿٢٦﴾

اوویل موسیٰ | اے زما ربه! | پرانیزه | زما دپاره | سینه زما | او آسان کړه | ماته | کار زما

موسیٰ اوویل اے زما ربه! زما سینه (استقامت اختیارولو ته) پرانیزه. او زما کار ماته آسان کړه

وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّنْ لِّسَانِيْ ﴿٢٧﴾ يَفْقَهُوْا قَوْلِيْ ﴿٢٨﴾ وَاجْعَلْ لِّيْ

او پرانیزه | غوټه | د ژبے زما | چه پوهه شي دوی | په خبره زما | او جوړ کړه | زما دپاره

او زما د ژبے غوټه پرانیزه چه خلق زما په خبره پوهه شي او زما په خاندان کښې یو کس

وَزِيْرًا مِّنْ اَهْلِيْ ﴿٢٩﴾ هٰرُوْنَ اَخِي ﴿٣٠﴾ اشْدُدْ بِهٖٓ اَزْرِيْ ﴿٣١﴾

یو وزیر (ملاتړ) | زما د کورنۍ نه | هارون | زما ورور | مضبوط کړه | په هغه سره | ملا زما

(هارون چه زما ورور دے) زما ملاتړ جوړ کړه. او په هغے زما قوت (ملا) مضبوطه کړه

وَاَشْرِكْهُ فِيْٓ اَمْرِيْ ﴿٣٢﴾ كَيْ نُسَبِّحَكَ كَثِيْرًا ﴿٣٣﴾ وَّنَذْكُرَكَ

او شریک کړه هغه | په کار زما کښې | د دے دپاره | چه موږ پاکي بیان کړو ستا | ډیره | او یاد کړو تا

او زما په کار کښې ئے راسره شریک کړه. چه موږ ستا ډیره پاکي بیان کړو او تا ډیر یاد کړو

كَثِيْرًا ﴿٣٤﴾ اِنَّكَ كُنْتَ بِنَا بَصِيْرًا ﴿٣٥﴾ قَالَ قَدْ اُوْتِيْتَ سُؤْلَكَ

ډیر | بیشکه | ته ئے | موږ لره | ښه لیدونکے | اوویل (الله) | یقیناً | درکړے شو تاته | ستا غوښتلے شوی څیزونه

یقیناً ته موږ ډیر ښه وینے. الله تعالیٰ ورته وویل اے موسیٰ! تا چه څه غوښتل هغه تاته درکړے شو

يٰمُوْسٰى ﴿٣٦﴾ وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَيْكَ مَرَّةً اُخْرٰٓى ﴿٣٧﴾ اِذْ اَوْحَيْنَآ

اے موسیٰ | او یقیناً | موږ احسان کړے دے | په تا باندے | یو ځل | بل هم | کله چه | خبر ورکړو موږ

او یقیناً موږ (خو) د دے نه مخکښ هم په تا باندے یو ځل احسان کړے وو کله چه موږ

اِلٰٓى اُمِّكَ مَا يُوْحٰٓى ﴿٣٨﴾ اَنِ اقْذِفِيْهِ فِي التَّابُوْتِ فَاقْذِفِيْهِ

مور ستا ته | هغه | چه خبر ورکیدے شو | چه کیږده دا لره | په تابوت کښې | بیا اوغورځوه دا (تابوت)

ستا مور په زړه کښې دا خبره واچوله چه دا ماشوم په یو صندوق کښې کیږده (او) بیا هغه صندوق دریاب ته اوغورځوه نو

فِي الْيَمِّ فَلْيُلْقِهِ الْيَمُّ بِالسَّاحِلِ يَأْخُذْهُ عَدُوٌّ لِّي

په درياب کښې | نو اوبه غورځوي دې لره | درياب | په غاړه بائد ے | (نو) او به ئې نيسي دې لره | دشمن | زما

درياب به ئې په خپله غاړے ته راولي (چه دغې په نتيجه کښې به) يو داسے کس دا ماشوم را واخلي چه زما هم دشمن دے

وَعَدُوٌّ لَّهُ ۚ وَأَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّي ۚ وَلِتُصْنَعَ

او دشمن | دده | او ما واچولو | په تا بائد ے | محبت | دخپل طرف نه | او چه ته وپاللے شې

او دده هم دشمن دے، او ما په تا بائد ے دخپل طرف مينه دخلقو واچوله او دا هر څه دد ے دپاره وو چه ستا پالنه زما په نګرانۍ

عَلَىٰ عَيْنِي ﴿٣٩﴾ إِذْ تَمْشِي أُخْتُكَ فَتَقُولُ هَلْ أَدُلُّكُمْ

زما دسترګو په وړاندې | کله چه | روانه وه | خور ستا | نو وے ويل | آيا | او ښايم تاسو ته

کښې اوشي۔ هغه وخت ياد کړه کله چه ستا خور فرعونيانو خواله ورغله او ورته ئې وويل چه آيا زه تاسو ته يو داسے ښځه او ښايم

عَلَىٰ مَن يَكْفُلُهُ ۖ فَرَجَعْنَاكَ إِلَىٰ أُمِّكَ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا

هغه څوک | چه پالنه او کړي دده | پس موږ واپس راوستے ته | خپلے مور ته | د ے دپاره | چه يخے شي | سترګے دهغې

چه دد ے ماشوم پالنه او کړي نو (په د ے طريقه) موږ ته خپلے مور له واپس راوستلے چه په تا بائد ے دهغې سترګے

وَلَا تَحْزَنَ ۚ وَقَتَلْتَ نَفْسًا فَنَجَّيْنَاكَ مِنَ الْغَمِّ وَفَتَنَّاكَ

او خفه نه شي | او تا او وژلو | يو کس | نو خلاص کړے موږ ته | د غم نه | او موږ او ازمائيلے ته

يخے شي او خفه نه شي او تا يو کس وژلے وو بيا د ے مشکل (غم) نه هم موږ خلاص کړے او په تا موږ ير امتحانو نه

فُتُونًا ۚ فَلَبِثْتَ سِنِينَ فِي أَهْلِ مَدْيَنَ ثُمَّ جِئْتَ

په ازمائيلو سره | پس ته ايسار شوے | څو کالونه | په مدين والو کښې | بيا | ته راغلے

او تکليفونه راوستل بيا څو کاله تا د مدين خلقو سره تير کړل. بيا اے موسیٰ! ته په يو داسے وخت راغلے

عَلَىٰ قَدَرٍ يَا مُوسَىٰ ﴿٤٠﴾ وَاصْطَنَعْتُكَ لِنَفْسِي ﴿٤١﴾ اذْهَبْ أَنتَ

په مقرر وخت بائد ے | اے موسیٰ | او ته ما غوره کړے ئې | دخپل ذات دپاره | لاړ شه | ته

چه دمخکښې نه مقرر وو او ما ته دخپل ځان دپاره غوره کړے ئې (اوس) ته او ستا ورور زما د آيتونو (نخښو)

وَأَخُوكَ بِآيَاتِي وَلَا تَنِيَا فِي ذِكْرِي ﴿٤٢﴾ اذْهَبَا إِلَىٰ فِرْعَوْنَ

او ستا ورور | زما د آيتونو (نخښو) سره | او سستي مه کوئ | زما په ياد کښې | لاړ شئ دواړه | فرعون ته

سره لاړ شئ او زما په ذکر کښې سستي مه کوئ۔ دواړه فرعون له ورشئ ځکه چه

إِنَّهُ طَغَىٰ ﴿٤٣﴾ فَقُولَا لَهُ قَوْلًا لَّيِّنًا لَّعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ

بيشکه هغه | سر کشي کړے ده | نو دواړه او وائئ | هغه ته | خبره | نرمه | کيد ے شي هغه | نصيحت واخلي

هغه د حد نه او ړيد لے دے نو هغه سره نرمے خبرے او کړئ کيد ے شي چه هغه نصيحت قبول کړي

أَوْ يَخْشَىٰ ﴿٤٤﴾ قَالَا رَبَّنَا إِنَّنَا نَخَافُ أَن يَفْرُطَ عَلَيْنَا

يا او ويريږي | او ويل دواړو | اے زموږ ربه! | بيشکه موږ | يريږو | چه هغه به زياتے او کړي | په موږ بائد ے

يا د الله تعالیٰ نه او ويريږي، دواړو او ويل اے زموږ ربه! موږ سره دا يره ده چه چرته هغه په موږ بائد ے زياتے او نه کړي

اَوْ اَنْ يَّطْغٰى ۝٤٥ قَالَ لَا تَخَافَآ اِنَّنِىْ مَعَكُمَآ اَسْمَعُ وَاَرٰى ۝٤٦

يا | داچه | هغه په دحد نه واوړى | اوويل (الله) | مه يرېږئ | بيشكه زه يم | ستاسو سره | زه اورم | او وينم

يا زيات سركشه نه شى الله تعالى ورته اوويل يرېږئ مه يقيناً زه ستاسو سره يم، هرڅه اورم او هرڅه وينم

فَاْتِيٰهُ فَقُوْلَآ اِنَّا رَسُوْلَا رَبِّكَ فَاَرْسِلْ مَعَنَا

بس لاړ شئ خوا ر هغه ته | لو (ورته) ووايئ | چه بيشكه مونږ | پيغمبران يو | ستا د رب | لو ته راپرېږده | زمونږ سره

(اوس) د هغه خواله ورشئ او ورته ووايئ چه مونږ ستا د رب پيغمبران يو لو ته بنى اسرائيل زمونږ سره

بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۙ وَلَا تُعَذِّبْهُمْ ؕ قَدْ جِئْنٰكَ بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّكَ ؕ

بنى اسرائيل | او عذاب مه ور كوه دوى ته | يقيناً | راوړے ده مونږ تا ته | نخښه | ستا د رب د طرف نه

پرېږده او هغوى ته تكليف مه وركوه يقيناً مونږ تا ته ستا د رب د طرف نه نخښه راوړے ده

وَالسَّلٰمُ عَلٰى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدٰى ۝٤٧ اِنَّا قَدْ اُوْحِىَ اِلَيْنَآ

او سلام دے وى | په هغه چا باندے | چه روان شو | په سمه لار (هدايت) | بيشكه | وحى شوے ده | مونږ ته

او سلامتيا هم د هغه چا دپاره ده څوك چه په سمه لار روان شو۔ مونږ ته دا وحى شوے ده

اَنَّ الْعَذَابَ عَلٰى مَنْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى ۝٤٨ قَالَ فَمَنْ

چه يقيناً عذاب | په هغه چا راځى | چه دروغ اوګڼړى | او مخ واړوى | اوويل (فرعون) | پس څوك دے

چه عذاب به هغه چا ته ملاوېږى څوك چه حق دروغژن اوګڼړى او مخ ترے نه واړوى۔ فرعون اوويل

رَّبُّكُمَا يٰمُوْسٰى ۝٤٩ قَالَ رَبُّنَا الَّذِىْٓ اَعْطٰى كُلَّ شَىْءٍ

ستاسو دواړو رب | اے موسىٰ | اوويل (هغه) | چه زمونږ رب | هغه ذات دے | چه وركړے ئے دے | هر يو څيز ته

اے موسىٰ! ستاسو (دواړو) رب څوك دے؟ موسىٰ ورته اوويل زمونږ رب هغه ذات دے چه هر يو څيز ته ئے د هغے شكل وركړے

خَلْقَهٗ ثُمَّ هَدٰى ۝٥٠ قَالَ فَمَا بَالُ الْقُرُوْنِ الْاُوْلٰى ۝٥١

پيدائش د هغه | بيا ئے (ورته) | لار ښودلے ده | اوويل (فرعون) | پس څه حال دے | د اُمتونو | وړومبنو

دے او بيا ئے ورته د ژوندتېرولو طريقه ښودلے ده۔ فرعون اوويل نو بيا د پخوانو خلقو څه حال شو (چه د غير الله بندګى ئے كوله)؟

قَالَ عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّىْ فِىْ كِتٰبٍ ۚ لَا يَضِلُّ رَبِّىْ وَلَا يَنْسَى ۝٥٢

اوويل (هغه) | د هغے علم | زما د رب سره دے | په كتاب كښ | نه خطا كيږى | زما رب | او نه هيروى

موسىٰ ورته اوويل د هغوى علم خو زما رب سره په يو كتاب كښ محفوظ دے۔ زما رب نه غلطى كوى او نه ترے نه څه هيرېږى

الَّذِىْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ مَهْدًا وَّسَلَكَ لَكُمْ

هغه (ذات) | چه جوړه كړے ئے ده | ستاسو دپاره | زمكه | د آرام ځاى | او جوړے كړى ئے دى | ستاسو دپاره

هغه دا سے ذات دے چه تاسو دپاره ئے زمكه فرش كړے ده او په هغے كښ ئے ستاسو دپاره لارے

فِيْهَا سُبُلًا وَّاَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ؕ فَاَخْرَجْنَا بِهٖٓ

په هغے كښ | لارے | او را اورولى ئے دى | د آسمان نه | اوبه | پس مونږ را اوباسو | په هغے سره

جوړے كړى دى او د آسمان نه ئے اوبه راوروِلى دى بيا مونږ د هغے په ذريعه قسما قسم مختلف بوټى (شينكى)

أَزْوَاجًا مِّن نَّبَاتٍ شَتَّىٰ ﴿٥٣﴾ كُلُوا وَارْعَوْا أَنْعَامَكُمْ ۗ إِنَّ

جوړے | د بوټو | مختلفو له | خورئ تاسو (پخپله هم) | او څروئ | څاروي خپل | بېشکه

راپیدا کړي دي. تاسو پخپله هم خورئ او خپل څاروي هم څروئ. یقیناً په دے هر څه کښې دعقل مندو دپاره

فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّأُولِي النُّهَىٰ ﴿٥٤﴾ مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ وَفِيهَا

په دے کښې | خامخا ډیرے نخښے دي | دعقل مندو دپاره | هم دد ځمکے نه | پیدا کړي یئ مونږ تاسو | او هم په دے کښې به

ډیرے نخښے دقدرت دالله پرسته دي هم دد ے ځمکے (خاورے) نه مونږ تاسو پیدا کړي یئ او هم دے ته به مونږ تاسو واپس

نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَىٰ ﴿٥٥﴾ وَلَقَدْ أَرَيْنَاهُ

مونږ تاسو واپس کوو | او هم ددے نه به | مونږ تاسو راو باسو | یو ځل | بل | او یقیناً | او ښودے لے مونږ هغه ته

راولو او هم ددے نه به مونږ تاسو یو ځل بیا (د مرګ نه پس) راو باسو حقیقت دا دے چه مونږ فرعون ته خپلے ټولے

آيَاتِنَا كُلَّهَا فَكَذَّبَ وَأَبَىٰ ﴿٥٦﴾ قَالَ أَجِئْتَنَا لِتُخْرِجَنَا

نخښے خپلے | ټولے | نو هغه دروغ او ګڼړلے | او انکار ئے او کړو | و ئے وئیل | آیا ته راغلے ئے مونږ ته | دے دپاره چه ته او باسے مونږ

نخښے دتوحید او قدرت او ښودے لے خو بیا هم هغه تکذیب او کړو او منل ئے قبول (موسیٰ ته ئے) او وئیل چه اے موسیٰ آیا ته مونږ ته

مِنْ أَرْضِنَا بِسِحْرِكَ يَا مُوسَىٰ ﴿٥٧﴾ فَلَنَأْتِيَنَّكَ بِسِحْرٍ مِّثْلِهِ

د ځمکے خپلے نه | په جادو خپل سره | اے موسیٰ | نو خامخا به مونږ راوړو تا ته | جادو | په شان ددے

ددے دپاره راغلے ئے چه ته په خپل جادو سره مونږ د خپلے ځمکے (ملک) نه او باسے نو بس مونږ به هم ستا د مقابلے دپاره دغه شان

فَاجْعَلْ بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ مَوْعِدًا لَّا نُخْلِفُهُ نَحْنُ وَلَا أَنتَ

پس مقرر کړه | په مینځ زمونږ | او په مینځ خپل کښې | یو وعده | چه خلاف به نه کوو د هغے نه | مونږ هم | او نه | ته

جادو پیش کړو او س ته زمونږ او خپل مینځ کښې دمقابلے دپاره په یو هوار میدان کښې یو داسے وخت مقرر کړه چه نه ئے مونږ

مَكَانًا سُوًى ﴿٥٨﴾ قَالَ مَوْعِدُكُمْ يَوْمُ الزِّينَةِ وَأَن يُحْشَرَ

یعنی یو میدان | برابر | او وئیل (موسیٰ) | نیټه ستاسو | ورځ ده | د خوشحالئ | او دا چه | راجمع کړی شی

خلاف ورزي او کړو او نه ته موسیٰ ورته او وئیل چه تاسو سره د میلے ورځ نیټه ده او دا هم مقرر شوه چه خلق دے د چاشت په

النَّاسُ ضُحًى ﴿٥٩﴾ فَتَوَلَّىٰ فِرْعَوْنُ فَجَمَعَ كَيْدَهُ ثُمَّ أَتَىٰ ﴿٦٠﴾

خلق | د چاشت په وخت کښې | بیا مخ او ګرځو | فرعون | نو راجمع ئے کړو | چل خپل | بیا | راغے

وخت کښې راجمع شي نو بس فرعون لاړو او خپل ټول ساز و سامان او ساحران ئے راجمع کړل بیا مقابلے دپاره راغے

قَالَ لَهُم مُّوسَىٰ وَيْلَكُمْ لَا تَفْتَرُوا عَلَى اللَّهِ كَذِبًا

او وئیل | دوی ته | موسیٰ | هلاک به شئ | مه تړئ | په الله تعالیٰ باندے | دروغ

موسیٰ دوی ته او وئیل چه په تاسو افسوس دے الله تعالیٰ باندے دروغ مه تړئ

فَيُسْحِتَكُم بِعَذَابٍ ۖ وَقَدْ خَابَ مَنِ افْتَرَىٰ ﴿٦١﴾ فَتَنَازَعُوا

ګنی بیخ کنی به او کړي ستاسو | په عذاب سره | او یقیناً | نامراده شو | هغه څوک | چه دروغ ئے جوړ کړل | نو هغوي په جګړه شو

ګنی نو په عذاب به مو هلاک کړي او څوک چه دروغ جوړوي هغه نامراده کیږي. په دے خبره هغوي په خپلو کښې

اَمۡرَهُمۡ بَيۡنَهُمۡ وَاَسَرُّوا النَّجۡوٰى ۝٦٢ قَالُوۡۤا اِنۡ هٰذٰنِ

په کار خپل کښې | په خپل مینځ کښې | او پټه ئې اوکړه | مشوره | وے ویل | بیشکه | دا دواړه

په اختلاف شو او پټے مشورے ئې اوکړے او ویل فرعونیانو یقیني خبره ده چه دا دواړه

لَسٰحِرٰنِ يُرِيۡدٰنِ اَنۡ يُّخۡرِجٰكُمۡ مِّنۡ اَرۡضِكُمۡ بِسِحۡرِهِمَا

خامخا جادوګر دي | غواړي | چه | اوباسي تاسو | د زمکے ستاسو نه | په جادو خپل سره

جادوګران دي او دا غواړي چه په خپل جادو تاسو د خپلے زمکے نه اوباسي

وَيَذۡهَبَا بِطَرِيۡقَتِكُمُ الۡمُثۡلٰى ۝٦٣ فَاَجۡمِعُوۡا كَيۡدَكُمۡ ثُمَّ ائۡتُوۡا

او چه ختمه کړي | طریقه ستاسو | غوره | پس راجمع کړئ | خپل تدبیرونه | بیا | راشئ

او ستاسو بهترین دین ختم کړي، نو بس تاسو خپل ټول تدبیرونه اوکړئ او بیا

صَفًّا ۚ وَقَدۡ اَفۡلَحَ الۡيَوۡمَ مَنِ اسۡتَعۡلٰى ۝٦٤ قَالُوۡا يٰمُوۡسٰۤى

قطار قطار | او یقینًا | کامیاب شو | نن ورځ | هغه څوک | چه غالب شو | او ویل دوی | اے موسیٰ

قطار قطار راشئ. یقینًا نن چه څوک غالب شو هغه ته به کامیابي حاصل وي (بیا) جادوګرانو (موسیٰ ته) او ویل

اِمَّاۤ اَنۡ تُلۡقِىَ وَاِمَّاۤ اَنۡ نَّكُوۡنَ اَوَّلَ مَنۡ اَلۡقٰى ۝٦٥ قَالَ بَلۡ

یا خو | ته اوغورځوه | او یا به | شو مونږ | اول | غورځونکی | او ویل (هغه) | بلکه

اے موسیٰ! یا خو ته وړومبے خپله امسا اوغورځوه یا به مونږ شروع اوکړو. موسیٰ ورته او ویل بلکه تاسو ئې

اَلۡقُوۡا ۚ فَاِذَا حِبَالُهُمۡ وَعِصِيُّهُمۡ يُخَيَّلُ اِلَيۡهِ مِنۡ سِحۡرِهِمۡ

تاسو اوغورځوئ | پس ناڅاپه | رسۍ د دوی | او امساګانے د دوی | خیال کیدو ورته | د ده | د هغوی د جادو د وجه

اول اوغورځوئ پس ناګهانه د هغوی رسۍ او امساګانے د هغوی د جادو د وجے د موسیٰ په قوت خیالیه داسے اثر انداز شوے

اَنَّهَا تَسۡعٰى ۝٦٦ فَاَوۡجَسَ فِىۡ نَفۡسِهٖ خِيۡفَةً مُّوۡسٰى ۝٦٧ قُلۡنَا

چه بیشکه دا | منډے وهی | پس محسوسه کړه | په خپل زړه کښې | یره | موسیٰ | او ویل مونږ

لکه چه منډے وهي په دے باندے موسیٰ ته په زړه کښې لږه یره محسوس شوه مونږ ورته (د وحی په ذریعه) او ویل چه

لَا تَخَفۡ اِنَّكَ اَنۡتَ الۡاَعۡلٰى ۝٦٨ وَاَلۡقِ مَا فِىۡ يَمِيۡنِكَ تَلۡقَفۡ

مه یریږه | بیشکه | هم ته به | غالب ئې | او اوغورځوه | هغه څه | چه ستا په ښی لاس کښې دی | تیر به کړی

یریږه مه یقین اوساته چه هم ته به غالب ئې او ستا په ښی لاس کښې چه کومه امسا ده هغه اوغورځوه هغه به د دوی

مَا صَنَعُوۡا ؕ اِنَّمَا صَنَعُوۡا كَيۡدُ سٰحِرٍ ؕ وَلَا يُفۡلِحُ

هغه څه | چه دوی جوړ کړی دی | بیشکه هغه څه | چه دوی جوړ کړی دی | (هغه نور چل) | د جادوګر دے | او نه شی کامیابیدے

جوړ کړی شیزونه ټول تیر کړی، دوی چه دا څه جوړ کړی دی دا خو بس دیو جادوګر مکر او فریب دے او جادوګر چه

السّٰحِرُ حَيۡثُ اَتٰى ۝٦٩ فَاُلۡقِىَ السَّحَرَةُ سُجَّدًا قَالُوۡۤا اٰمَنَّا

جادوګر | چرته هم | چه راشی | پس پریوتل | جادوګران | په سجده | وے ویل | (چه) مونږ ایمان راوړو

چرته هم لاړ شی نو کامیابیدے نه شی بس هم داسے اوشوه ټول جادوګران بے اختیاره په سجده پریوتل (او) وئے ویل چه

بِرَبِّ هٰرُوْنَ وَمُوْسٰى ﴿۷۰﴾ قَالَ اٰمَنْتُمْ لَهٗ قَبْلَ اَنْ

په رب | د هارون | او موسیٰ | او ویل هغه | آیا تاسو ایمان راوړو | په ده | مخکښې | د دے نه

مونږ د هارون او د موسیٰ په رب ایمان راوړو. فرعون ورته او ویل آیا تاسو په ده باندے زما د اجازت نه بغیر

اٰذَنَ لَكُمْ ۚ اِنَّهٗ لَكَبِيْرُكُمُ الَّذِيْ عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ۚ

چه زه اجازت او کړم | تاسو ته | بیشکه دا | ستاسو مشر دے چه | ښودلے دے تاسو ته | جادو

ایمان راوړو. زما یقین دے چه دا (موسیٰ) ستاسو مشر دے چه تاسو ته ئے جادو ښودلے دے

فَلَاُقَطِّعَنَّ اَيْدِيَكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ وَّلَاُوصَلِّبَنَّكُمْ

پس خامخا زه به پریکړم | لاسونه ستاسو | او خپے ستاسو | اَدل بدل | او خامخا به زه تاسو په سولئ او خیژوم

(خو) اوس ما کلکه اراده کړے ده چه زه به ستاسو لاس خپے ادل بدل (اړولی) پریکوم او د ققجورو په ونو

فِيْ جُذُوْعِ النَّخْلِ ۡ وَلَتَعْلَمُنَّ اَيُّنَآ اَشَدُّ عَذَابًا

په تنو | د ققجورو کښې | او خامخا به تاسو پوهه شئ | چه کوم یو زمونږ نه | سخت | عذاب والا دے

(تنو) کښې به مو په سولئ خیژوم او تاسو ته به یقیناً پته اولګی چه په مونږ کښې د چا عذاب ډیر سخت او

وَّاَبْقٰى ﴿۷۱﴾ قَالُوْا لَنْ نُّؤْثِرَكَ عَلٰى مَا جَآءَنَا مِنَ الْبَيِّنٰتِ

او باقی پاتے کیدونکے دے | او ویل دوی | هیڅ کله به غوره کړو مونږ تا | په هغه شے باندے | چه راغلی دی مونږ ته | ښکاره دلیلونه

همیشه دے. جادوګرانو ورته او ویل: مونږ ته چه کوم ښکاره دلیلونه راغلی دی په هغے

وَالَّذِيْ فَطَرَنَا فَاقْضِ مَآ اَنْتَ قَاضٍ ۭ اِنَّمَا تَقْضِيْ

او په هغه ذات | چه مونږ ئے پیدا کړی یو | پس فیصله او کړه | څه چه | ته | فیصله کول غواړے | بیشکه | ته فرض فیصله کوے شے

باندے او په هغه ذات چه مونږ ئے پیدا کړی یو مونږ تا هرګز نه شو غوره کولے اوس ته چه څه کول غواړے هغه او کړه ته چه څه کوے

هٰذِهِ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ﴿۷۲﴾ اِنَّآ اٰمَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغْفِرَ لَنَا

(صرف) په دے | ژوند | دلیوی کښې | بیشکه | مونږ ایمان راوړو | په رب خپل باندے | چه معاف کړی | مونږ ته

هغه به صرف د دے دنیا په ژوند کښې چلیږی (او) مونږ خو په خپل رب باندے ایمان د دے دپاره راوړے دے چه ګناهونه

خَطٰيٰنَا وَمَآ اَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ السِّحْرِ ۭ وَاللّٰهُ خَيْرٌ

ګناهونه زمونږ | او هغه څه | چه تا مونږ مجبوره کړی وو | په هغے باندے | د جادو کولو نه | او الله تعالیٰ | ډیر غوره

راته معاف کړی او تا چه په کوم جادو مجبوره کړی وو هغه راته هم معاف کړی او الله تعالیٰ د ټولو نه بهتر او همیشه

وَّاَبْقٰى ﴿۷۳﴾ اِنَّهٗ مَنْ يَّاْتِ رَبَّهٗ مُجْرِمًا فَاِنَّ لَهٗ جَهَنَّمَ ۭ

او باقی پاتے کیدونکے دے | بیشکه | هغه څوک | چه راشی | رب خپل ته | مجرم | نو بیشکه دے | د هغه دپاره | دوزخ

پاتے کیدونکے ذات دے حقیقت دا دے چه څوک هم خپل رب ته د مجرم په حیثیت راشی نو یقیناً د هغه دپاره دوزخ دے

لَا يَمُوْتُ فِيْهَا وَلَا يَحْيٰى ﴿۷۴﴾ وَمَنْ يَّاْتِهٖ مُؤْمِنًا قَدْ عَمِلَ

نه به مری | په هغے کښې | او نه به ژوندے اوسی | او هغه څوک | چه راشی هغه ته | مؤمن | (چه) کړی ئے وی عملونه

چه نه به پکښې مری او نه به ژغیږی او څوک چه هغه ته د ایمان په حالت کښې ورشی چه نیک عملونه ئے

الصّٰلِحٰتِ فَاُولٰٓئِكَ لَهُمُ الدَّرَجٰتُ الْعُلٰى ۝۷۵ جَنّٰتُ عَدْنٍ

نیک | نو دغه خلق | دی دوی دپاره | درجے | اوچتے | باغونه | دهمیشه والی دی

هم کړی وی نو دا سے خلقو دپاره اوچتے درجے دی۔ چه دهمیشه اوسیدو باغونه دی

تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ وَذٰلِكَ جَزٰٓؤُا

چه بهیږی به | دهغے دلاندے | نهرونه | همیشه به وی | په هغے کښ | او دا | بدله ده

چه لاندے به ئے نهرونه بهیږی (او) دوی به پکښ همیشه وی او هغوک چه ځان پاک ساتی دا

مَنْ تَزَكّٰى ۝۷۶ وَلَقَدْ اَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى ۙ اَنْ اَسْرِ بِعِبَادِيْ ع

دهغه چا | چه ځان پاک کړی | او یقیناً | مونږ وحی کړے وه | موسیٰ ته | چه د شپے یوځه | بندګان زما

دهغوی بدله ده۔ او یقیناً مونږ موسیٰ ته وحی اوکړه چه زما بندګان د شپے شپے اوباسه

فَاضْرِبْ لَهُمْ طَرِيْقًا فِى الْبَحْرِ يَبَسًا ۙ لَّا تَخٰفُ دَرَكًا

بیا اووهه | د دوی دپاره | لاره | په دریاب کښ | اوچه | نه خوبه ته یریږے | دلاندے کولو (دفرعون) نه

او بیا ورله په دریاب کښ یوه داسے اوچه لار جوړه کړه چه نه خو به تاسره دراګیریدو یره وی

وَلَا تَخْشٰى ۝۷۷ فَاَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ بِجُنُوْدِهٖ فَغَشِيَهُمْ مِّنَ الْيَمِّ

اوله به یریږے (دډوبیدو نه) | پس لاړو دوی پسے | فرعون | دخپلو لښکرو سره | پس ډوب کړل دوی لره | د دریاب نه

او نه د ډوبیدو۔ نو فرعون د خپلو لښکرو سره په دوی پسے شو نو د دریاب چپو راګیر کړل

مَا غَشِيَهُمْ ۝۷۸ وَاَضَلَّ فِرْعَوْنُ قَوْمَهٗ وَمَا هَدٰى ۝۷۹

هغه څه | چه راګیر ئے کړل دوی | او بے لارے کړو | فرعون | قوم خپل | او سمه لار ئے (ورته) ونه ښودله

او ډوب ئے کړل، او فرعون خپل قوم ګمراه کړو او سمه لار ئے ورته ونه ښودله

يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ قَدْ اَنْجَيْنٰكُمْ مِّنْ عَدُوِّكُمْ وَوٰعَدْنٰكُمْ

اے بنی اسرائیلو | یقیناً | مونږ بچ کړئ تاسو | د دشمن خپل نه | او مونږ وعده کړے وه تاسو سره

اے بنی اسرائیلو! مونږ تاسو ستاسو د دشمن نه خلاص کړئ او تاسو سره مو

جَانِبَ الطُّوْرِ الْاَيْمَنَ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوٰى ۝۸۰

د طور ښی طرف نه | او مونږ رالیږلی وو | تاسو باندے | مَن | او سلوی

د طور ښی طرف ته د راتلو وعده اوکړه او په تاسو مو مَن او سلوی نازل کړل۔

كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ وَلَا تَطْغَوْا فِيْهِ فَيَحِلَّ

خورئ | د پاکیزه | هغے نه | چه مونږ درکړی دی تاسو ته | او سرکشی مه کوئ | په دے کښ | ګنی نازل به شی

لو کوم پاکیزه خوراک چه مونږ درکړے دے هغه خورئ او سرکشی پکښ مه کوئ ګنی لو

عَلَيْكُمْ غَضَبِيْ ۚ وَمَنْ يَّحْلِلْ عَلَيْهِ غَضَبِيْ فَقَدْ هَوٰى ۝۸۱

په تاسو باندے | غضب زما | او هغه څوک | چه نازل شو | په هغه باندے | غضب زما | نو یقیناً | هغه تباه شو

زما غضب به درباندے نازل شی او په چا چه زما غضب نازل شی هغه تباه کیږی

وَاِنِّیْ لَغَفَّارٌ لِّمَنْ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ

او بیشکه زه | خامخا بخښونکے یم | هغه چا لره | چه توبه اوباسي | او ایمان راوړي | او عمل اوکړي | نیک | بیا

او دا هم حقیقت دے چه څوک توبه اوباسي او ایمان راوړي او نیک عمل اوکړي بیا په نیغه لار کلک پاتے شي نو زه د هغه دپاره

اهْتَدٰی ۝٨٢ وَمَآ اَعْجَلَكَ عَنْ قَوْمِكَ یٰمُوْسٰی ۝٨٣ قَالَ هُمْ

په نیغه لار روان شي | او څه شي | زر راوستلے ته | د قوم | نه | اے موسیٰ | او ویل (موسیٰ) | هغوی

ډیر بخښونکے یم۔ او اے موسیٰ! ته د خپل قوم نه زر ولے راغلے؟ موسیٰ او ویل هغوی دا دی

اُولَآءِ عَلٰۤی اَثَرِیْ وَعَجِلْتُ اِلَیْكَ رَبِّ لِتَرْضٰی ۝٨٤ قَالَ

دغه دی | ما پسے دی | او زه زر راغلم | تا ته | اے ربه زما | چه ته خوشاله شے | او ویل (الله)

ما پسے وروستو راروان دي او زه زر څکه راغلم چه ته رضا شے۔ الله تعالیٰ ورته او ویل

فَاِنَّا قَدْ فَتَنَّا قَوْمَكَ مِنْۢ بَعْدِكَ وَاَضَلَّهُمُ السَّامِرِیُّ ۝٨٥

پس بیشکه مونږ | ازمیښت کښې اچولے دے | قوم ستا | وروسته ستا نه | او ګمراه کړي دي هغوی لره | سامري

بیا مونږ ستا قوم په یوه فتنه کښې واچولو او سامري هغوی ګمراه کړل۔

فَرَجَعَ مُوْسٰۤی اِلٰی قَوْمِهٖ غَضْبَانَ اَسِفًا ۚ قَالَ یٰقَوْمِ

پس واپس لاړو | موسیٰ | قوم خپل ته | ډیر غصه | افسوس کونکے | وے ویل | اے زما قومه!

نو موسیٰ د ډیر غم او غصے په حالت کښې خپل قوم ته واپس راغے (او ورته ئے) او ویل اے زما قومه!

اَلَمْ یَعِدْكُمْ رَبُّكُمْ وَعْدًا حَسَنًا ۚ اَفَطَالَ عَلَیْكُمُ

آیا وعده نه وه کړے تاسو سره | رب خپل | وعده | ښائسته | آیا نو اوږده شوه | په تاسو باندے

آیا تاسو سره ستاسو رب ډیره ښه وعده د تورات د ورکولو نه وه کړے. آیا په تاسو باندے وخت

الْعَهْدُ اَمْ اَرَدْتُّمْ اَنْ یَّحِلَّ عَلَیْكُمْ غَضَبٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ

موده (وعده) | یا او غوښتل تاسو | چه راشي | په تاسو باندے | غضب | ستاسو د رب نه

ډیر تیر شو چه وعده مو هیره شوه یا دا غواړئ چه د خپل رب غضب در باندے نازل شي نو څکه تاسو

فَاَخْلَفْتُمْ مَّوْعِدِیْ ۝٨٦ قَالُوْا مَآ اَخْلَفْنَا مَوْعِدَكَ بِمَلْكِنَا

نو مخالفت اوکړو تاسو | زما د وعدے | او ویل دوی | مونږ مخالفت نه دے کړے | د وعدے ستا نه | په خپل اختیار سره

زما د وعدے خلاف ورزي اوکړه۔ دوی او ویل چه مونږ ستا د وعدے خلاف ورزي په خپل اختیار نه ده کړے بلکه او شوه دا چه

وَلٰكِنَّا حُمِّلْنَاۤ اَوْزَارًا مِّنْ زِیْنَةِ الْقَوْمِ فَقَذَفْنٰهَا

لیکن مونږ باندے | بار کړي شوي وو | بوجونه (پیټي) | د | کالو | د قوم | نو مونږ هغه اوغورځول

په مونږ باندے د خلقو (فرعونیانو) د کالو د ګناه بوجونه پروت وو (څکه هغه مال غنیمت وو سو ولے ګناه ګارو) نو هغه مونږ اوغورځول

فَكَذٰلِكَ اَلْقَی السَّامِرِیُّ ۝٨٧ فَاَخْرَجَ لَهُمْ عِجْلًا جَسَدًا

پس دغه شان | او غورځول | سامري (هم) | بیا راویستلو دهٔ | د دوی دپاره | یو سخے | یوه جوسه

بیا دغه شان سامري هم اور ته اوغورځول۔ نو بیا سامري دے خلقو ته یو سخے راښکاره کړو چه د غټے یوه جوسه وه

لَّهٗ خُوَارٌ فَقَالُوْا هٰذَآ اِلٰهُكُمْ وَاِلٰهُ مُوْسٰى ۥ فَنَسِيَ ﴿٨٨﴾

چه ئې ورله | آواز وو | پس اُووئيل خوی | (چه) دا | معبود دے ستاسو (هم) | او معبود دے | د موسٰیٰ (هم) | خو هغه هیر کړے دے

چه آواز به ئے کولو بیا دوی او وئیل چه هم دا ستاسو معبود دے او د موسٰیٰ هم معبود دے خو هغه نه هیر شوے دے

اَفَلَا يَرَوْنَ اَلَّا يَرْجِعُ اِلَيْهِمْ قَوْلًا ۥ وَّلَا يَمْلِكُ لَهُمْ ضَرًّا

آیا دوی نه کتل | چه هغه نشی ور گرخولی | دوی ته | څه خبره | او اختیار نه لری | د دوی د پاره | د نقصان

آیا دوی دا نه کتل چه هغه خو دوی ته نه د څه خبرے جواب ور کوی او نه دوی ته څه نقصان

ع وَّلَا نَفْعًا ﴿٨٩﴾ وَلَقَدْ قَالَ لَهُمْ هٰرُوْنُ مِنْ قَبْلُ يٰقَوْمِ اِنَّمَا

او نه د فائدے | او یقینًا | وئیل وو | دوی ته | هارونؑ | د دے نه مخکښې | (چه) اے زما قومه | بیشکه

یا فائده رسولے شی۔ او د دے نه مخکښې ورته هارونؑ وئیل وو چه اے زما قومه تاسو د دے سخی په وجه

فُتِنْتُمْ بِهٖ ۚ وَاِنَّ رَبَّكُمُ الرَّحْمٰنُ فَاتَّبِعُوْنِيْ وَاَطِيْعُوْٓا

ازمینبت کښې اچولی شوی یئ تاسو | په دے سره | او بیشکه | ستاسو رب (خو) | رحمن دے | نو ما پسے راځئ | او او منئ

په ازمینبت کښې اچولی شوی یئ او په حقیقت کښې خو ستاسو رب رحمن ذات دے نو زما تابعداری او کړئ

اَمْرِيْ ﴿٩٠﴾ قَالُوْا لَنْ نَّبْرَحَ عَلَيْهِ عٰكِفِيْنَ حَتّٰى يَرْجِعَ

حکم زما | او وئیل دوی | همیشه به یو مونږ | په دے باندے | عبادت کونکی | تر دے | چه واپس راشی

او زما حکم او منئ دوی ورته او وئیل چه تر څو مونږ ته موسٰیٰ واپس نه وی راغلے مونږ به تر هغے د دے په عبادت

اِلَيْنَا مُوْسٰى ﴿٩١﴾ قَالَ يٰهٰرُوْنُ مَا مَنَعَكَ اِذْ رَاَيْتَهُمْ

مونږ ته | موسٰیٰ | وویل (موسٰیٰ) | اے هارون | څه شی | منع کړے وے ته | کله چه | تا او لیدل دوی

باندے کلک ولاړ یو۔ موسٰیٰ (چه راغے نو هارونؑ ته) او وئیل چه اے هارونؑ تا چه کله دا اولیدل چه دا خلق گمراه شول

ضَلُّوْٓا ﴿٩٢﴾ اَلَّا تَتَّبِعَنِ ۭ اَفَعَصَيْتَ اَمْرِيْ ﴿٩٣﴾ قَالَ يَبْنَؤُمَّ

چه گمراه شول | چه تا زما پیروی اونه کړه | آیا (نو) تا نافرمانی او کړه | د حکم زما | او وئیل هغه | اے د مور خوئیه!

نو ته څه شیز منع کړے چه ما پسے راغلے وے؟ آیا تا زما د خبرے (حکم) خلاف ورزی او کړه؟ هارونؑ ورته او وئیل اے زما

لَا تَاْخُذْ بِلِحْيَتِيْ وَلَا بِرَاْسِيْ ۚ اِنِّيْ خَشِيْتُ اَنْ تَقُوْلَ

مه نیسه | زما گیره | او نه | زما سر | بیشکه زه | یریدم | چه ته به او وائے

د مور خوئیه! زما گیره او سر مه نیسه، حقیقت کښې ما سره دا یره وه چه ته به بیا دا وائے چه

فَرَّقْتَ بَيْنَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ وَلَمْ تَرْقُبْ قَوْلِيْ ﴿٩٤﴾ قَالَ

چه تا ئې لے جوړے کړے | په مینځ | د بنی اسرائیلو کښې | او انتظار د دے ونه کړو | زما د وینا | او وئیل (موسٰیٰ)

تا په بنی اسرائیلو کښې ډلے جوړے کړے۔ او زما د خبرے لحاظ دے ونه کړو موسٰیٰ (سامری ته) او وئیل

فَمَا خَطْبُكَ يٰسَامِرِيُّ ﴿٩٥﴾ قَالَ بَصُرْتُ بِمَا لَمْ يَبْصُرُوْا بِهٖ

نو ستا څه حال دے | اے سامری | هغهٔ او وئیل | ما لیدلی وو | هغه څه | چه دوی نه وو لیدلی | هغه

چه دا په تا څه شوی وو؟ هغه ورته او وئیل چه ما یو داسے څیز لیدلے وو چه دے خلقو نه وو لیدلے

فَقَبَضْتُ قَبْضَةً مِّنْ اَثَرِ الرَّسُوْلِ فَنَبَذْتُهَا وَكَذٰلِكَ

پس ما راواغستله | يو موټی | د نقش قدم | د رسول (فرښتې) نه | نو بيا مې هغه واچوله | او دغه شان

نو ما د جبرئيل د آس د قدمونو د خاورې نه يو موټی را واغستله او بيا مې په دې کښې واچوله او دغه شان زما نفس

سَوَّلَتْ لِيْ نَفْسِيْ (٩٦) قَالَ فَاذْهَبْ فَاِنَّ لَكَ فِي الْحَيٰوةِ

ښائسته ښکاره کړو | ما ته (دا کار) | زما نفس | او وئيل (موسیٰ) | پس ځه (لرې شه) | پس بيشکه | ستا دپاره | په ژوند کښې ده

دا هر څه ما ته ښائسته ښکاره کړل. موسیٰ ورته او وئيل نو ځه ته ځه لرې شه د قوم نه. او س به ته په ټول ژوند کښې خلقو ته

اَنْ تَقُوْلَ لَا مِسَاسَ ۪ وَاِنَّ لَكَ مَوْعِدًا لَّنْ تُخْلَفَهٗ ۚ

دا چه ته به وائې | چه مه راورئ ما ته لاس | او بيشکه | ستا دپاره ده | يوه وعده | چه هرگز به مخالفت نه کيږي ستا د هغې نه

دا وائې چه ما له لاس مه راوړئ او د دې نه علاوه تا سره د عذاب يوه بله وعده هم ده چه د هغې نه بچ کيدې نه شې

وَانْظُرْ اِلٰۤى اِلٰهِكَ الَّذِيْ ظَلْتَ عَلَيْهِ عَاكِفًا ؕ لَنُحَرِّقَنَّهٗ

او او گوره | خپل معبود ته | هغه | چه ته وې | په هغې باندې | منجور (ګلک ولاړ) | خامخا به مونږ سوزو دا

او ته چه په کوم معبود کلک ولاړ وې هغې ته لږ او گوره مونږ دا سوزوو

ثُمَّ لَنَنْسِفَنَّهٗ فِي الْيَمِّ نَسْفًا (٩٧) اِنَّمَاۤ اِلٰهُكُمُ اللّٰهُ الَّذِيْ

بيا به | خامخا ذره ذره کوو دا | په دریاب کښې | په ذره کولو سره | بيشکه | معبود ستاسو | الله دې | هغه ذات

او بيا به ئې ذره ذره کړو (او) دریاب ته به ئې او غورځوو. په حقیقت کښې ستاسو د ټولو معبود هغه

لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ وَسِعَ كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا (٩٨) كَذٰلِكَ

چه نشته | حقدار د عبادت | سوا | د هغه نه | را ګير کړې دې هغه | هر څيز لره | په علم کښې | دغه شان

اِک يو الله تعالیٰ دې چه د هغه نه سوا بل څوک د عبادت حقدار نشته او د هغه علم په هر څيز باندې احاطه کړې ده

نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ مَا قَدْ سَبَقَ ۚ وَقَدْ اٰتَيْنٰكَ

مونږ بيانوو | تا ته | د خبرو د هغه څه نه | چه تير شوي دي | او يقيناً | در کړے دے مونږ تا ته

(اے نبی) دغه شان مونږ تا ته هغه واقعات (حالات) بيانوو کوم چه مخکښې تير شوي دي او يقيناً مونږ تا ته

مِنْ لَّدُنَّا ذِكْرًا ۖ (٩٩) مَنْ اَعْرَضَ عَنْهُ فَاِنَّهٗ يَحْمِلُ يَوْمَ

د خپل طرف نه | ياداشت (نصيحت) | چا چه | مخ واړولو | د دې نه | نو بيشکه هغه به | پورته کوي | په ورځ

د خپل طرف نه د نصيحت کتاب در کړے دے څوک چه د دې نه مخ واړوي هغه به د قيامت په ورځ د ګناه

الْقِيٰمَةِ وِزْرًا ۙ (١٠٠) خٰلِدِيْنَ فِيْهِ ؕ وَسَآءَ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

د قيامت | بوج (پيټی) | هميشه به وي | په هغې کښې | او ډير بد دے | د دوي دپاره | په ورځ | د قيامت

يو درولد بوج او چتوي چه د هغې په عذاب کښې به هميشه وي او د قيامت په ورځ به دا د هغوي دپاره ډير بدترين بوج وي

حِمْلًا ۙ (١٠١) يَّوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ وَنَحْشُرُ الْمُجْرِمِيْنَ

دا بوج | په هغه ورځ | چه پو کے به او وهلی شي | په شپیلۍ کښې | او مونږ به را جمع کړو | مجرمان

په کومه ورځ چه شپیلۍ به پو ک وهلے شي نو په دغه ورځ به مونږ مجرمان په دا سې حال کښې را جمع کړو چه شنې سترګې

يَوۡمَئِذٍ زُرۡقًا ﴿۱۰۲﴾ يَّتَخَافَتُوۡنَ بَيۡنَهُمۡ اِنۡ لَّبِثۡتُمۡ اِلَّا عَشۡرًا ﴿۱۰۳﴾

په دغه ورځ | شين سترګي | پټ پټ به خبرے کوی | په خپل مينځ کښې | (چه) تاسو نه يئ پاتے شوی | مګر | لس ورځے

به ئے ليولی وی په خپلو کښې به پټ پټ خبرے کوی چه تاسو خو په دنيا کښې د لسو ورځو نه زيات نه ئے پاتے شوی

نَحۡنُ اَعۡلَمُ بِمَا يَقُوۡلُوۡنَ اِذۡ يَقُوۡلُ اَمۡثَلُهُمۡ طَرِيۡقَةً

مونږ | پوهيږو | په هغه څه | چه دوی ئے وائی | کله به چه | اووائی | هوښيار د دوی | په رائے کښې

دوی چه د څه باره کښې خبرے کوی د هغے حقيقت مونږ ته ښه معلوم دے په دغه وخت به په دوی کښې زيات عقلمند

ع اِنۡ لَّبِثۡتُمۡ اِلَّا يَوۡمًا ﴿۱۰۴﴾ وَيَسۡـَٔلُوۡنَكَ عَنِ الۡجِبَالِ فَقُلۡ

(چه) تاسو نه يئ پاتے شوی | مګر | يوه ورځ | او دوی تپوس کوی ستا نه | د غرونو په باره کښې | نو (ورته) اووايه

(د ډير هيبت د وجے نه) اووائی چه تاسو خو د يوے ورځے نه زيات نه ئے پاتے شوی او دا خلق ستا نه د غرونو باره کښې تپوس کوی نو

يَنۡسِفُهَا رَبِّىۡ نَسۡفًا ﴿۱۰۵﴾ فَيَذَرُهَا قَاعًا صَفۡصَفًا ﴿۱۰۶﴾ لَّا تَرٰى

(چه) ذره به کړی دے لره | رب زما | ذره ذره | نو پريږدي به دا | يو ميدان | هوار (خويه) | (چه) ته به نه وينے

ته ورته ووايه چه زما رب به دا غرونه والوزوی (او) ذره ذره به ئے کړی او دا زمکه به دا سے هواره (صفا) ميدان پريږدی چه ته به

فِيۡهَا عِوَجًا وَّلَاۤ اَمۡتًا ﴿۱۰۷﴾ يَوۡمَئِذٍ يَّتَّبِعُوۡنَ الدَّاعِىَ لَا عِوَجَ

په دے کښې | کوږوالے | او نه لوړوالے | په دغه ورځ به | دوی روان وی | په بلونکی پسے | چه نه به وی کوږوالے

پکښې نه څه کوږوالے وينے او نه څه لوړوالے په دغه ورځ به ټول په يو بلونکی پيشوا د قوم پسے داسے سيدها روان وی چه د هغے نه به ورته

لَهٗ ۚ وَخَشَعَتِ الۡاَصۡوَاتُ لِلرَّحۡمٰنِ فَلَا تَسۡمَعُ اِلَّا هَمۡسًا ﴿۱۰۸﴾

د هغه ته | او ښکته به شي | آوازونه | رحمن ته | پس ته به نه آورے | مګر | ګشار (د روا وان)

اخوا ديخوا کيدی نه او د خلقو آوازونه به د رحمن ذات په مخکښے داسے ټيټ شي چه ته به د ځپو د ګشار نه بغير بل څه آواز نه آورے

يَوۡمَئِذٍ لَّا تَنۡفَعُ الشَّفَاعَةُ اِلَّا مَنۡ اَذِنَ لَهُ الرَّحۡمٰنُ

په دغه ورځ به | فائده نه ورکوی | سفارش | مګر | هغه چا ته | چه اجازت ورکړی | د هغه د پاره | رحمن

او په دغه ورځ به د هيڅ چا سفارش په کار نه راځي سوا د هغه چا نه چه رحمن ذات ورته اجازت اوکړی

وَرَضِىَ لَهٗ قَوۡلًا ﴿۱۰۹﴾ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ اَيۡدِيۡهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡ

او راضی وی | د هغه په وينا باندے | پوهيږی هغه | په هغه څه | چه د دوی مخے ته وی | او په هغه څه | چه د دوی د روستو دی

او د هغه خبره ئے خوښه کړی وی هغه (الله) د خلقو مخکښې وروستو ټولو خبرے ښه پيژنی او دوی (مخلوق)

وَلَا يُحِيۡطُوۡنَ بِهٖ عِلۡمًا ﴿۱۱۰﴾ وَعَنَتِ الۡوُجُوۡهُ لِلۡحَىِّ الۡقَيُّوۡمِ ؕ

او دوی نه شي راګيروِلے | هغه | په علم خپل کښې | او ذليل به شي | مخونه | ژوندی | او تدبير کونکی ذات ته

هغه په خپل علم کښې نه شي راګيروِلے او ټول مخونه به د هميشه ژوندی (او) تدبير کونکی ذات مخے ته عاجز شي

وَقَدۡ خَابَ مَنۡ حَمَلَ ظُلۡمًا ﴿۱۱۱﴾ وَمَنۡ يَّعۡمَلۡ مِنَ الصّٰلِحٰتِ

او يقيناً | نامراده شو | هغه څوک | چه بار کړے ئے | ظلم | او هغه څوک | چه کوی عمل | نيک

او چا چه د (شرک د) ظلم بوج اوچت کړے دے هغه به يقيناً ناکام شي. او څوک چه د ايمان په حالت کښې نيک کارونه اوکړی

وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا يَخٰفُ ظُلْمًا وَّلَا هَضْمًا ۝١١٢ وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ

او وی دے | مؤمن | پس نه به یریږی | د ظلم نه | او نه د کمی نه | او دغه شان | مونږ رالیږلے دے دا

نو هغوی سره به نه د څه ظلم یره وی او نه د څه نقصان (کمی) او مونږ دا وحی دیو عربی قرآن په شکل کښ

قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا وَّصَرَّفْنَا فِيْهِ مِنَ الْوَعِيْدِ لَعَلَّهُمْ

قرآن | په عربی کښ | او قسما قسم بیان کړی دی مونږ | په دے کښ | د یرے خبرے | دے دپاره چه دوی

نازل کړے ده او په دے کښ مو قسما قسم یرے ددے دپاره بیان کړی دی چه دا خلق متقیان شی یا دا

يَتَّقُوْنَ اَوْ يُحْدِثُ لَهُمْ ذِكْرًا ۝١١٣ فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ

یریږی | یا پیدا کړی هغه | ددوی دپاره | څه نصیحت | لو ډیر لوئے دے | الله | چه بادشاه دے | حق

قرآن په دوی کښ څه سوچ (او پوهه) پیدا کړی نو ډیر اوچت شان دے دهغه الله تعالیٰ چه حقیقی بادشاه دے

وَلَا تَعْجَلْ بِالْقُرْاٰنِ مِنْ قَبْلِ اَنْ يُّقْضٰٓى اِلَيْكَ وَحْيُهٗ

او په تلوار مه لوله | قرآن | مخکښ د دے نه | چه پوره کړے شی | تا ته | وحی د هغے

او اے نبی! کومه وحی چه تا ته کیږی نو د هغے پوره کیدو نه مخکښ د قرآن په لوستلو کښ تلوار مه کوه

وَقُلْ رَّبِّ زِدْنِيْ عِلْمًا ۝١١٤ وَلَقَدْ عَهِدْنَآ اِلٰٓى اٰدَمَ

او او وایه | اے زما ربه! | زیات کړه زما | علم | او یقیناً | مونږ حکم کړے وو | آدمؑ ته

او دا دعا غواړه چه اے زما ربه زما علم زیات کړه. او ددے نه مخکښ مونږ د آدمؑ نه یو لوظ اغستلے وو

مِنْ قَبْلُ فَنَسِيَ وَلَمْ نَجِدْ لَهٗ عَزْمًا ۝١١٥ وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ ع

د دے نه مخکښ | نو هغه هیر کړل | او نه وو موندلے مونږ | د هغه | قصد | او کله چه | وویل مونږ | ملائکو ته

خو هغه نه هیر شو او مونږ په هغه کښ د گناه قصد نه وو موندلے او هغه وخت یاد کړه کله چه مونږ فرشتو ته او ویل

اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ اَبٰى ۝١١٦ فَقُلْنَا يٰٓاٰدَمُ

چه سجده وکړئ | آدمؑ ته | نو سجده او کړه هغوی | سوا | د ابلیس نه | هغه انکار او کړو | پس مونږ او ویل | اے آدمؑ!

چه آدمؑ ته سجده وکړئ نو د ابلیس نه بغیر ټولو سجده او کړه او هغه انکار او کړو نو مونږ آدمؑ ته او ویل چه اے آدمؑ!

اِنَّ هٰذَا عَدُوٌّ لَّكَ وَلِزَوْجِكَ فَلَا يُخْرِجَنَّكُمَا مِنَ الْجَنَّةِ

بیشکه | دا | دشمن دے | ستا | او ستا د ښځے | نو او دے نه باسی دے تاسو دواړه | د جنت نه

دا ستا او ستا د ښځے دشمن دے نو دا دے تاسو د جنت نه اونه باسی گنی نو

فَتَشْقٰى ۝١١٧ اِنَّ لَكَ اَلَّا تَجُوْعَ فِيْهَا وَلَا تَعْرٰى ۝١١٨ وَاَنَّكَ

گنی نو په تکلیف به شې | بیشکه | دی ستا دپاره | چه نه به وږے کیږے | په دے کښ | او نه به بربنډ یږے | او بیشکه ته به

په تکلیف به شې. دلته خو به نه ته وږے کیږے او نه به بربنډیږے. او نه به دلته

لَا تَظْمَؤُا فِيْهَا وَلَا تَضْحٰى ۝١١٩ فَوَسْوَسَ اِلَيْهِ الشَّيْطٰنُ قَالَ

نه تږے کیږے | په دے کښ | او نه به د دے گرمی کیږی | پس وسوسه واچوله | ده ته | شیطان | وئے ویل

نه تږے کیږے او نه به دے گرمی کیږی. بیا دهٔ (آدمؑ) ته شیطان وسوسه واچوله (او) ورته ئے او ویل چه آدمؑ!

يٰۤاٰدَمُ هَلْ اَدُلُّكَ عَلٰى شَجَرَةِ الْخُلْدِ وَمُلْكٍ لَّا يَبْلٰى ۝١٢٠

اے آدمہ | آیا | زہ اوښایم تاتہ | دهمیشوالی | او (دا سے) بادشاهی | چہ نہ بہ زړیږی | اُونہ

آیا زہ تاتہ یو داسے بوټی (اُونہ) اُوښایم چہ دهغے پہ خوړلو بہ تاتہ همیشہ ژوند اونہ زړیدونکی بادشاهی حاصل شی

فَاَكَلَا مِنْهَا فَبَدَتْ لَهُمَا سَوْاٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفٰنِ

پس اوخوړہ دواړو | دهغے نہ | نو ښکارہ شول | دواړو تہ | خپل عورتونہ | او شروع شول دواړہ | چہ لګولے ئے

نو بس دواړو دهغے (ونے) خوراک وکړو چہ پہ هغے سرہ ورتہ خپل شرمګاهونہ ښکارہ شو او دواړو پہ ځان باندے

عَلَيْهِمَا مِنْ وَّرَقِ الْجَنَّةِ ۘ وَعَصٰۤى اٰدَمُ رَبَّهٗ فَغَوٰى ۝١٢١

پہ ځان باندے | پاڼړے | د جنت | او خلاف اوکړو | آدم | د خپل رب (د حکم) نہ | نو غلطی کښں پریوتلو

د جنت پاڼړے لګول شروع کړل او (دغہ شان) آدم نہ د خپل رب پہ حکم کښں غلطی وشوہ نو خپل مقصد تہ اُونہ رسیدو

ثُمَّ اجْتَبٰهُ رَبُّهٗ فَتَابَ عَلَيْهِ وَهَدٰى ۝١٢٢ قَالَ اهْبِطَا

بیا | غورہ کړو دغہ لرہ | رب خپل | تو مهربانی ئے وکړہ | پہ دہ باندے | او لار ئے (ورتہ) اوښودلہ | او وئیل (اللہ) | ښکتہ لاړ شئ دواړہ

بیا خپل رب هغہ غورہ (مقبول) کړو نو توبہ ئے ورلہ قبول کړہ او سمہ لار ئے ورتہ اوښودلہ (او) ورتہ ئے او وئیل چہ تاسو

مِنْهَا جَمِيْعًا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۚ فَاِمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ

د دے ځائی نہ | ټول | بعضے ستاسو بہ وی | د بعضو | دشمنان | پس کہ چرے | راشی تاسو تہ

دواړہ او س د دلتہ نہ (لاندے) لاړ شئ. تاسو بہ د یو بل دشمنان یئ بیا کہ چرے زما د طرف نہ څہ

مِّنِّيْ هُدًى ۙ فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقٰى ۝١٢٣

زما د طرف نہ | هدایت | نو څوک | چہ روان شو | زما هدایت پسے | نو نہ بہ ګمراہ کیږی | او نہ بہ بدبختہ کیږی

هدایت راغے نو څوک چہ زما هدایت پسے روان شو نو نہ بہ ګمراہ شی او نہ بہ پہ تکلیف شی (نہ بہ محرومہ شی)

وَمَنْ اَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِيْ فَاِنَّ لَهٗ مَعِيْشَةً ضَنْكًا

او څوک | چہ مخ واړوی | زما د یاد نہ | نو بیشکہ وی بہ | د هغہ | ژوند | تنګ

او چا چہ زما د نصیحت نہ مخ واړولو نو د هغہ ژوند بہ ډیر تنګ وی

وَّنَحْشُرُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَعْمٰى ۝١٢٤ قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِيْۤ

او مونږ بہ راپاڅوو دے | پہ ورځ | د قیامت | ړوند | وائی بہ دے | اے زما ربہ | ولے دے زہ راپاڅولم

او د قیامت پہ ورځ بہ ئے مونږ ړوند راپاڅوو (نو) دا بہ وائی چہ اے زما ربہ ازہ دے ړوند ولے راپاڅولم

اَعْمٰى وَقَدْ كُنْتُ بَصِيْرًا ۝١٢٥ قَالَ كَذٰلِكَ اَتَتْكَ اٰيٰتُنَا

ړوند | او یقیناً | وومہ زہ | لیدونکے (بینا) | اُو بہ وائی (اللہ) | دغہ شان | راغلی وو تاتہ | آیتونہ زمونږ

حالانکہ زہ خو بینا ومہ. اللہ تعالی بہ ورتہ اووائی دغہ شان زمونږ آیتونہ تاتہ درغلی وو

فَنَسِيْتَهَا ۚ وَكَذٰلِكَ الْيَوْمَ تُنْسٰى ﴿١٢٦﴾ وَكَذٰلِكَ نَجْزِيْ مَنْ

نو تا هېر کړې وو | او دغه شان | نن ورځ به | ته هېر ولے شې | او دغه شان | مونږ بدله ورکوو | هغه چا ته

خو تا هغه هېر کړې وو او نن دغه شان ته هم هېر کړے شوے او څوک چه د حد نه واوړي او د خپل

اَسْرَفَ وَلَمْ يُؤْمِنْ بِاٰيٰتِ رَبِّهٖ ۭ وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَشَدُّ

چه زیاتے کړے وي او ایمان ئے نه وي راوړے | په آیتونو | د خپل رب | او خامخا عذاب | د آخرت | ډېر سخت

رب په آیتونو (نخښو) ایمان رانه وړي هغه ته مونږ هم دغسے سزا ورکوو او د آخرت عذاب خو ډېر سخت او همیشه دے

وَاَبْقٰى ﴿١٢٧﴾ اَفَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنَ الْقُرُوْنِ

او همیشه دے | آیا نو له دے ښکاره شوے | دوی ته | چه څومره ډېر | هلاک کړي دي مونږ | مخکښې د دوی نه | قومونه

آیا دے خلقو ددے خبرے نه هم (ددے آیت) سبق وانه خستلو چه د دوی نه مخکښې مونږ څومره نسلونه تباه کړي دي

يَمْشُوْنَ فِيْ مَسٰكِنِهِمْ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّاُولِي النُّهٰى ﴿١٢٨﴾ ع

چه دوی ګرځي | په آبادو د هغوی کښې | بیشکه | په دے کښې | خامخا ډېرے نخښے دي | د عقل مندو د پاره

چه د هغوی په کورونو کښې دوی ګرځي راګرځي؟ یقیناً په دې کښې د عقلمندو د پاره (د عبرت) ډېرے نخښے پرتے دي

وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ لَكَانَ لِزَامًا

او که نه وے | فیصله (خبره) | چه وړاندے نه (شوے) وه | ستا د رب د طرف نه | نو خامخا وو به (عذاب) | لازم

او که ستا د رب د طرف نه یوه خبره (د مهلت ورکولو) د مخکښې نه فیصله شوے نه وے او (عذاب د پاره) یو وخت مقرر نه وے

وَّاَجَلٌ مُّسَمًّى ﴿١٢٩﴾ فَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ

او (که نه وے) نیټه | مقرره | پس صبر کوه | په هغه څه | چه دوی ئے وائي | او پاکي بیانوه | سره د حمد

نو (په دوی به) عذاب راتلل لازم شوی وی نو اے نبي ! ته د دوی په خبرو صبر کوه او د نمر د راختلو نه مخکښې

رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوْبِهَا ۚ وَمِنْ اٰنَآئِ

د رب خپل | مخکښې | د راختلو | د نمر | او مخکښې | د ډوبیدو د هغے نه | او په څه وختونو

او د ډوبیدو نه مخکښې د خپل رب تسبیح او حمد وایه او د شپے په وختونو کښې هم

الَّيْلِ فَسَبِّحْ وَاَطْرَافَ النَّهَارِ لَعَلَّكَ تَرْضٰى ﴿١٣٠﴾ وَلَا تَمُدَّنَّ

د شپے کښې | پس پاکي بیانوه | او په طرفونو | د ورځ کښې | چه ته | خوشحاله شې | او مه اوږدوه

پاکي بیانوه او د ورځے په طرفونو کښې هم، دے د پاره چه ته خوشحاله شې. او د دنیا د ژوند هغه

عَيْنَيْكَ اِلٰى مَا مَتَّعْنَا بِهٖٓ اَزْوَاجًا مِّنْهُمْ زَهْرَةَ

سترګے خپلے | هغه څه ته | چه مونږ فائده ور کړے ده | په هغے سره | مختلفو خلقو ته | د دوی نه | د پاره د ژول

ژوند او د (زیب و زینت) څیزونو ته خپلے سترګے مه پورته کوه کوم چه د کافرو مختلفو ډلو ته د مزو اغستلو

الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۙ لِنَفْتِنَهُمْ فِيْهِ ۗ وَرِزْقُ رَبِّكَ خَيْرٌ

د ژوند | دنیوی | دے دپاره چه مونږ اوازمایو دوی | په هغے سره | او رزق | د رب ستا | ډیر غوره دے

دپاره مونږ ورکړی دی چه مونږ د هغے په ذریعه د دوی ازمیښت اوکړو. او ستا د رب رزق د ټولو نه غوره او د ټولو نه

وَّاَبْقٰى ۝١٣١ وَاْمُرْ اَهْلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا ۭ

او همیشه دے | او حکم کوه | خپل کورو الو ته | د مانځه | او (پخپله هم) پابند اوسه | په مانځه باندے

زیات باقی پاتے کیدونکے دے. او خپل کور والو ته هم د مانځه حکم کوه او پخپله پرے هم کلک اودرېږه

لَا نَسْـَٔلُكَ رِزْقًا ۭ نَحْنُ نَرْزُقُكَ ۭ وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوٰى ۝١٣٢ وَقَالُوْا

مونږ نه غوارو ستا نه | رزق | (بلکه) مونږ | رزق در کوو تا ته | او (ښه) انجام | د تقوی (والو) دے | او وائی دوی

مونږ تا نه رزق نه غوارو (بلکه) رزق خو تا ته مونږ در کوو او ښه انجام د تقوی (والو) دے. او دا خلق وائی چه

لَوْلَا يَاْتِيْنَا بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ ۭ اَوَلَمْ تَاْتِهِمْ بَيِّنَةُ مَا

ولے نه راوړی دے مونږ ته | یوه نخښه | د خپل رب د طرف نه | آیا نه دے راغلے دوی ته | ښکاره بیان | د هغه څه

دا پیغمبر مونږ ته د خپل رب د طرف نه یوه نخښه ولے نه راوړی آیا دوی ته د پخوانو کتابونو خبرے

فِي الصُّحُفِ الْاُوْلٰى ۝١٣٣ وَلَوْ اَنَّآ اَهْلَكْنٰهُمْ بِعَذَابٍ

چه وو په صحیفو | ورومبنو کښ | او که چرے | مونږ | هلاک کړو دوی | په عذاب سره

ښکاره نه دی راغلے؟ او که چرے مونږ دوی د قرآن د نازلولو نه مخکښ په یو عذاب سره تباه کړی وے

مِّنْ قَبْلِهٖ لَقَالُوْا رَبَّنَا لَوْلَآ اَرْسَلْتَ اِلَيْنَا

مخکښ د دے نه | نو خامخا دوی به وائی | اے زمونږ ربه | ولے تا رانه لیږلو | مونږ ته

نو دوی به ویل چه اے زمونږ ربه! تا مونږ ته یو پیغمبر ولے رانه لیږو چه مونږ

رَسُوْلًا فَنَتَّبِعَ اٰيٰتِكَ مِنْ قَبْلِ اَنْ نَّذِلَّ

یو پیغمبر | پس چه مونږ تابعداری کړے وے | ستا د آیتونو | مخکښ د دے نه | چه مونږ ذلیل شو

د ذلیله او رسوا کیدو نه مخکښ مخکښ ستا د آیتونو تابعداری کړے وے.

وَنَخْزٰى ۝١٣٤ قُلْ كُلٌّ مُّتَرَبِّصٌ فَتَرَبَّصُوْا ۚ فَسَتَعْلَمُوْنَ

او مونږ رسوا شو | او وایه | هر یو | انتظار کونکے دے | نو انتظار کوئ | پس ډیر زر به تاسو پوهه شئ

اے نبی! دوی ته او وایه چه (مونږ) ټول انتظار کوو نو تاسو هم انتظار کوئ ډیر زر به تاسو ته پته اولګی

مَنْ اَصْحٰبُ الصِّرَاطِ السَّوِيِّ وَمَنِ اهْتَدٰى ۝١٣٥ ع

چه څوک | د نیغے لارے والا دی | او هغه څوک دے | چه هدایت ئے بیاموندلو

چه سمے لار والا څوک دی او هدایت موندونکی دی.

آیاتها [١١٢]	سورة الأنبيآء مكيّة	ركوعاتها [٧]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

اِقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ مُّعْرِضُوْنَ ١

(ډیر) نزدے شو | خلقوته | حساب د دوی | او دوی | په غفلت کښ | مخ اړونکی دی

خلقوته دعملونو د حساب (کتاب) وخت ډیر را نزدے شو (خو) دوی (بیا هم) دغفلت په حالت کښ دهغے نه مخ

مَا يَأْتِيْهِمْ مِّنْ ذِكْرٍ مِّنْ رَّبِّهِمْ مُّحْدَثٍ اِلَّا اسْتَمَعُوْهُ

نه راځی دوی ته | څه یادداشت (نصیحت) | دخپل رب دطرف نه | نوے (تازه تازه) | مګر | دوی آوری هغه

اړوونکی دی کله هم چه دوی ته دخپل رب دطرف نه دنصیحت څه نوے خبره راځی نو دوی ئے داسے (حالت کښ) اوری

وَهُمْ يَلْعَبُوْنَ ٢ لَاهِيَةً قُلُوْبُهُمْ ۭ وَاَسَرُّوا النَّجْوَى ۖ الَّذِيْنَ

او دوی | لوبے کوی | بے پروا دی | زړونه د دوی | او پټے کوی | جرګے (سازشونه) | هغه خلق

لکه چه لوبو کښ اخته وی، زړونه ئے غافله دی (فضول کارونو کښ مشغوله دی) او دا ظالمان دیو بل سره د پیغمبر په

ظَلَمُوْا ۖ هَلْ هٰذَآ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ۚ اَفَتَاْتُوْنَ السِّحْرَ

چه ظلم ئے کړے دے | (چه) نه دے دا | مګر | یو انسان | ستاسو غوندے | آیا نو تاسو راځئ | جادو ته

خلاف کښ پټے پټے مشورے کوی (او وائی) چه دا (نبی) خو ستاسو غوندے یو انسان دے، آیا بیا هم تاسو سره د پوهے

وَاَنْتُمْ تُبْصِرُوْنَ ٣ قٰلَ رَبِّيْ يَعْلَمُ الْقَوْلَ فِي السَّمَآءِ

او تاسو | به ګورئ (پوهیږئ) | وویل هغه (نبی) | چه رب زما | پوهیږی | په هره خبره | په آسمان

د جادو خبرو پسے ځئ؟ پیغمبر په جواب کښ او ویل چه په آسمان او زمکه کښ چه څه خبرے کیږی هغه زما رب ته

وَالْاَرْضِ ۡ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ٤ بَلْ قَالُوْٓا اَضْغَاثُ

او په زمکه کښ | او هغه | به اوریدونکے | به پوهه دے | بلکه | دوی وائی | (چه) دا (خو) ګډوډ

معلومے دی، او هغه همیشه هره خبره اوری او په هر څه پوهیږی۔ صرف دا نه بلکه دوی دا هم او ویل چه دا قرآن

اَحْلَامٍۭ بَلِ افْتَرٰىهُ بَلْ هُوَ شَاعِرٌ ۚۖ فَلْيَاْتِنَا بِاٰيَةٍ

خوبونه دی | بلکه | دځان نه ئے جوړ کړے دے | بلکه | دے (خو) | شاعر دے | نو دا دے راوړی موږ ته | یوه نخښه

ګډوډ دروغ خوبونه دی بلکه دا دځان نه جوړ کړے دے بلکه دا خو شاعر دے، نو دا له پکار دی چه موږ ته یو داسے نخښه

كَمَآ اُرْسِلَ الْاَوَّلُوْنَ ٥ مَآ اٰمَنَتْ قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْيَةٍ

لکه څنګه | چه رالیږلی شوی وو | ورومبی (پیغمبران) | ایمان نه وو راوړے | مخکښ د دوی نه | هیڅ یو کلی (والو)

پیش کړی لکه څنګه چه پخوانی پیغمبران دنخښو سره رالیږلی شوی وو حالانکه د دوی نه مخکښ (هم) د کوم کلو خلق

أَهْلَكْنَاهَا ۖ أَفَهُمْ يُؤْمِنُونَ ۝٦ وَمَا أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ إِلَّا

چه مونږ هلاک کړې دي هغوی | آیا نو دوی (به) | ایمان راوړي | او نه دي لیږلي مونږ | مخکښې ستا نه | مګر

چه مونږ تباه کړي دي وه هغوی ایمان نه وو راوړے نو آیا (اوس) دوی به ایمان راوړي؟ (اے نبي) مونږ ستا نه مخکښې صرف

رِجَالًا نُّوحِي إِلَيْهِمْ ۖ فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُمْ

سړي | (چه) وحي به کوله مونږ | لوري ته | هغوی ته | نو تپوس او کړئ | د علماو (د اهل کتابو) نه | که چرے تاسو

هم سړي پیغمبران رالیږلي وو چه مونږ به ورته وحي کوله نو (کافرانو ته او وایه) که چرے تاسو سره پخپله (په دے خبره)

لَا تَعْلَمُونَ ۝٧ وَمَا جَعَلْنَاهُمْ جَسَدًا لَّا يَأْكُلُونَ الطَّعَامَ

نه پوهیږئ | او مونږ نه وو پیدا کړي دوی لره | داسے بدن نو له | چه نه ئے خوړلو | خوراک

علم نه وي نو د علماو نه تپوس او کړئ. او مونږ دوی له داسے بدن نوله نه وو ورکړي چه ګټے خوراک ئے نه کولو او نه دوی به

وَمَا كَانُوا خَالِدِينَ ۝٨ ثُمَّ صَدَقْنَاهُمُ الْوَعْدَ فَأَنجَيْنَاهُمْ

او نه وو دوی | همیشه (ژوندي) | بیا | رښتیا کړه مونږ دوی سره | وعده | نو مونږ نجات ورکړو دوی ته

دنیا کښې همیشه پاتے شوي دي. بیا مونږ دوی سره خپله وعده رښتیا (پوره) کړه نو دوی هم او د دوی نه

وَمَن نَّشَاءُ وَأَهْلَكْنَا الْمُسْرِفِينَ ۝٩ لَقَدْ أَنزَلْنَا إِلَيْكُمْ

او هغه چا ته | چه مونږ غوښتل | او هلاک کړل مونږ | د حد نه وتونکي | یقینًا | مونږ رالیږلے دے | تاسو ته

علاوه چه څومره خلق مونږ غوښتل مونږ بچ کړل او د حد نه اوړیدونکي مو تباه کړل یقینًا مونږ تاسو ته یو داسے

كِتَابًا فِيهِ ذِكْرُكُمْ ۖ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ۝١٠ وَكَمْ قَصَمْنَا ع

(داسے) یو کتاب | چه په هغے کښې | یاداشت ستاسو دے | آیا پس تاسو نه پوهیږئ | او څومره ډیر | برباد کړي دي مونږ

کتاب رالیږلے دے چه په هغے کښې ستاسو دپاره نصیحت (یاداشت) دے آیا بیا هم تاسو نه پوهیږئ. او ډیر داسے

مِن قَرْيَةٍ كَانَتْ ظَالِمَةً وَأَنشَأْنَا بَعْدَهَا قَوْمًا آخَرِينَ ۝١١

کلي | چه وو هغوی | ظالمان | او پیدا کړل مونږ | وروستو د هغوی نه | خلق (قوم) | نور

کلي چه ظلم ئے کولو مونږ هلاک کړي دي او د هغوی نه وروستو مو نور نسلونه (قومونه) پیدا کړي دي

فَلَمَّا أَحَسُّوا بَأْسَنَا إِذَا هُم مِّنْهَا يَرْكُضُونَ ۝١٢

پس هرکله چه | چه محسوس کړو هغوی | عذاب زمونږ | نو ناڅاپه به | هغوی | د هغے نه | منډے وهلے

نو کله به چه هغوی زمونږ عذاب اولیدو (محسوس کړو) نو فورًا به د هغے نه په تختیدو شو

لَا تَرْكُضُوا وَارْجِعُوا إِلَىٰ مَا أُتْرِفْتُمْ فِيهِ وَمَسَاكِنِكُمْ

منډے مه وهئ | او واپس شئ | هغه څه ته | چه تاسو مست کړے شوي وئ | په هغے کښې | او کورونو خپلو ته

(خو ورته او ویلي شو چه) تښتئ مه (بلکه) هغه نعمتونو ته چه تاسو پکښې عیش عشرت کولو او خپلو کورونو ته واپس راشئ

لَعَلَّكُمْ تُسْأَلُونَ ۝١٣ قَالُوا يَا وَيْلَنَا إِنَّا كُنَّا ظَالِمِينَ ۝١٤

دے دپاره چه تاسو نه | تپوس اوشي | نو اوویل هغوی | هلاے افسوس دے زمونږ | بیشکه | مونږ وو | ظالمان

دے دپاره چه تاسو نه تپوس او شي؟ هغوی (خپل ځان سره) اوویل چه افسوس او هلاکت دے زمونږ رښتیا خبره داده

فَمَا زَالَتْ تِّلْكَ دَعْوٰىهُمْ حَتّٰى جَعَلْنٰهُمْ حَصِيْدًا

نو بس همیشه وے | هم دغه | چغې د دوی | تر دے | چه مونږ او گرځول دوی | ریبلی شوی

چه هم مونږ ظالمان وو۔ نو بس د دوی هم دا چغې شروع وے تر دے چه مونږ دریبل شوی فصل او د مړهٔ شوی

خٰمِدِيْنَ ۝ وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا

یخ پراته (مړهٔ شوی) | او نه دی پیدا کړی مونږ | آسمان | او زمکه | او هغه څه | چه د دے دواړو په مینځ کښې دی

اور په شان کړل۔ او مونږ اسمان او زمکه او د دوی په مینځ کښې چه څه دی د دے دپاره نه دی پیدا کړی

لٰعِبِيْنَ ۝ لَوْ اَرَدْنَآ اَنْ نَّتَّخِذَ لَهْوًا لَّاتَّخَذْنٰهُ مِنْ لَّدُنَّآ ۗ

لوبے کوونکی | که چرے مونږ غوښتلے | چه او نیسو | څه مشغله | نو خامخا به مونږ نیولی وے هغه | د خپل طرف نه

گنی چه مونږ څه لوبے کول غوښتل که چرے مونږ (زمکه او آسمانونه) لوبه (تماشه) جوړول غوښتل نو مونږ به د ځان سره ساتلے وو

اِنْ كُنَّا فٰعِلِيْنَ ۝ بَلْ نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى الْبَاطِلِ

که چرے | وو مونږ | کوونکی | بلکه | مونږ غورځوو | حق | په باطل باندے

او تاسو ته به مے د هغے دلیلونه نه ښکاره کول که مونږ دا سے کولے نو جزاء سزا به مے نهٔ پیدا کول۔ بلکه مونږ حق

فَيَدْمَغُهٗ فَاِذَا هُوَ زَاهِقٌ ؕ وَلَكُمُ الْوَيْلُ مِمَّا تَصِفُوْنَ ۝

نو سر ماتوی د هغه | نو ناگهانه | شی هغه | ورک (وران) | او ستاسو دپاره | تباهی ده | د هغه خبرونه | چه تاسو یے کوئی

د باطل د پاسه راولو نو هغه ورله سر ماتوی بیا هغه فوراً ورک شی۔ او تاسو چه کومے خبرے کوئی د هغے په وجه تاسو دپاره بربادی ده

وَلَهٗ مَنْ فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَمَنْ عِنْدَهٗ

او خاص د هغه په اختیار کښې دی | هغه څوک | چه دی په آسمانونو | او په زمکه کښې | او هغه څوک | چه د هغه سره دی

او آسمانونو او زمکه کښې چه څومره خلق دی ټول د الله تعالیٰ په اختیار کښې دی او فرښتے چه د هغه په خوا کښې دی

لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِهٖ وَلَا يَسْتَحْسِرُوْنَ ۝ يُسَبِّحُوْنَ الَّيْلَ

ځان لوے نه گنړی | د عبادت د هغهٔ نه | او نهٔ ستړے کیږی | پاکی وائی هغوی | د شپے

هغوی د هغه د عبادت نه سرکشی نه کوی او نهٔ ستړی کیږی هغوی شپه او ورځ (د الله) تسبیح وائی

وَالنَّهَارَ لَا يَفْتُرُوْنَ ۝ اَمِ اتَّخَذُوْٓا اٰلِهَةً مِّنَ الْاَرْضِ هُمْ

او د ورځے | سستی نه کوی هغوی | آیا دوی نیولی دی | نور خدایان | د زمکے نه | چه هغوی به

(او) سستی پکښې نه کوی۔ آیا دے خلقو د زمکے والو نه نور داسے معبودان نیولی دی چه هغوی دوی بیا راژوندی کړے شی؟

يُنْشِرُوْنَ ۝ لَوْ كَانَ فِيْهِمَآ اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا ۚ

بیا ژوندی کوی دوی | که چرے وی | په دے دواړو کښې | نور خدایان | غیر د الله نه | نو دواړه به تباه شوی وو

که چرے اسمان او زمکه کښې د الله تعالیٰ نه سوا نور حق خدایان وے نو دا دواړه به تباه شوی وو ځکه چه تمام نظم به یے په زور سره مینځ کول به

فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ۝ لَا يُسْئَلُ

پس پاکی ده | (هغه) الله تعالیٰ | چه رب | د عرش دے | د هغه څه نه | چه هوی یے بیانوی | تپوس نشی کیدے د هغه نه

ممکن شی او په دے تنازع سره الوهیت باطلیږی ځکه چه الوهیت قدرت مستقله غواړی نو د عرش مالک الله تعالیٰ د هغه خبرو نه پاک دے چه هوی

عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْئَلُوْنَ ﴿٢٣﴾ اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ

دهغه څه باره کښې | چه هغه ئے کوي | او دوی نه به | تپوس کيدے شي | آيا دوی نيولی دي | د هغه نه سوا

سوالئ هغه چه څه کوي نو پوښتنه ترے نشي کيدے او دوی نه به تپوس کيږي. آيا دوی دالله تعالی نه سوا نور خدايان جوړ کړي دي.

اٰلِهَةً ؕ قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ ۚ هٰذَا ذِكْرُ مَنْ مَّعِيَ

نور خدايان | او وايه | راوړئ تاسو | خپل (پوخ) دليل | هم دا | ذکر دے | دهغه چا | چه زما سره دی

(نو) اے نبی ورته ووايه چه په دے خبره خپل مضبوط دليل پيش کړئ. دا (ردِ شرک) زما د ملګرو هم وعظ دے

وَذِكْرُ مَنْ قَبْلِيْ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۙ الْحَقَّ فَهُمْ

او ذکر دے | دهغه چا | چه زما نه مخکښې وو | بلکه | اکثر د دوی نه | نه پيژنی | حق | پس دوی

او دهغه خلقو هم چه زما نه مخکښې وو ليکن حقيقت دادے چه په دوی کښې اکثر خلق حق نه پيژنی

مُّعْرِضُوْنَ ﴿٢٤﴾ وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا نُوْحِيْٓ

مخ اړونکی دی | او نه دے ليږلے موږ | ستا نه مخکښې | هيڅ يو پيغمبر | مګر | موږ به وحی کوله

نو ځکه ترے نه مخ اړوی او څومره پيغمبران چه موږ ستا نه مخکښې ليږلی دی هغوی ته موږ دا وحی کړے وه

اِلَيْهِ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدُوْنِ ﴿٢٥﴾ وَقَالُوا اتَّخَذَ

هغه ته | چه بيشکه | نشته دے | معبود | سوا | زما نه | نو هم زما عبادت کوئ | او وائی دوی | چه نيولے دے

چه زما نه سوا بل هيڅ څوک د عبادت لائق نشته نو يواځے زما عبادت کوئ. او دوی (مشرکان) وائی چه رحمن ذات

الرَّحْمٰنُ وَلَدًا سُبْحٰنَهٗ ؕ بَلْ عِبَادٌ مُّكْرَمُوْنَ ﴿٢٦﴾ لَا يَسْبِقُوْنَهٗ

رحمن ذات | ځوی (اولاد) | پاک دے هغه | بلکه | هغوی خو بندګان دی | عزتمند | نشی وړاندے کيدی ځوی دالله نه

(ځانله) ځوی نيولے دے سبحان الله (الله پاک دے) بلکه دا (فرشتے) خو د الله تعالی عزتمند بندګان دی

بِالْقَوْلِ وَهُمْ بِاَمْرِهٖ يَعْمَلُوْنَ ﴿٢٧﴾ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ

په خبره کښې | او دوی | دهغه په حکم | عمل کوی | پوهيږی هغه | په هغه څه | چه د دوی وړاندے دی

دوی خو دهغه نه وړاندے خبره قدرے نه شی کولی (بلکه) دوی خو دهغه په هر يو حکم عمل کوی هغه (الله)

وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يَشْفَعُوْنَ ۙ اِلَّا لِمَنِ ارْتَضٰى وَهُمْ

او په هغه څه | چه د دوی پورستو دی | او نه دوی سفارش کولے شی | مګر | دهغه چا دپاره | چه راضی وی ترے الله | او دوی

د دوی د مخکښې وروستو ټولو خبرو نه به واقف (خبر) دے. او دوی د چا سفارش هم نه شی کولے سوا د هغه چا نه

مِّنْ خَشْيَتِهٖ مُشْفِقُوْنَ ﴿٢٨﴾ وَمَنْ يَّقُلْ مِنْهُمْ اِنِّيْٓ اِلٰهٌ

د هغه د يرے نه | يريدونکی دی | او چا چه | او ويل | د دوی نه | چه بيشکه زه (هم) | معبود يم

چه الله تعالی ترے رضا وی او هغوی (خو) دالله تعالی د هيبت نه هميشه په يره وی. او په دوی کښې که (بالفرض) چا

مِّنْ دُوْنِهٖ فَذٰلِكَ نَجْزِيْهِ جَهَنَّمَ ؕ كَذٰلِكَ نَجْزِي

سوا د الله نه | پس دغه کس له به | سزا ور کوو موږ | د دوزخ | دغه شان | موږ سزا ور کوو

دا او ويل چه زه هم دالله تعالی نه سوا معبود (د عبادت لائق) يم نو هغه ته به موږ د دوزخ سزا ور کوو. او دا سے



الظّٰلِمِيْنَ۝ اَوَلَمْ يَرَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنَّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

ظالمانو ته | آیا نه گوری | هغه خلق | چه کفر ئې کړے دے | چه یقینًا | آسمانونه | او زمکه

ظالمانو ته مونږ هم دغه شان سزا ورکوو آیا کافرانو خلقو ته دا نۀ ده معلوم چه آسمانونه او زمکه یو بل سره

كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنٰهُمَا ۭ وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَآءِ كُلَّ شَيْءٍ

دواړه وو | بند (جوخت) | نو مونږ دواړه پرانستل | او مونږ پیدا کړے دے | د اوبو نه | هر یو شیز

جوخت وو بیا مونږ دواړه جدا جدا کړل او مونږ د اوبو نه هر شیز ژوندے پیدا کړے دے.

حَيٍّ ۭ اَفَلَا يُؤْمِنُوْنَ۝ وَجَعَلْنَا فِي الْاَرْضِ رَوَاسِيَ

ژوندے | آیا نو دوی ایمان نه راوړی | او مونږ جوړ کړی دی | په زمکه کښې | کلک غرونه

آیا بیا هم دوی ایمان نه راوړی او مونږ په زمکه کښې مضبوط غرونه پیدا کړی دی

اَنْ تَمِيْدَ بِهِمْ ۠ وَجَعَلْنَا فِيْهَا فِجَاجًا سُبُلًا لَّعَلَّهُمْ

چه اونۀ خوزی | په دوی باندے | او مونږ جوړے کړی دی | په دے کښې | فراخه (پلنے) | لارے | د دے دپاره چه دوی

چه دا زمکه په دوی اونۀ خوزی، او مونږ په دے کښې پلنے پلنے لارے جوړے کړی دی چه دوی په هغے

يَهْتَدُوْنَ۝ وَجَعَلْنَا السَّمَآءَ سَقْفًا مَّحْفُوْظًا ښ وَهُمْ عَنْ اٰيٰتِهَا

لار بیا مومی | او مونږ جوړ کړے دے | آسمان لره | چت | محفوظ | او دوی | د هغے د نخښو نه

خپل منزل ته ورسی، او مونږ آسمان یو محفوظ چت جوړ کړے دے خو دوی بیا هم د هغے د نخښو نه

مُعْرِضُوْنَ۝ وَهُوَ الَّذِيْ خَلَقَ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ وَالشَّمْسَ

مخ اړونکی دی | او هم هغه | هغه ذات دے | چه پیدا کړے ئې | شپه | او ورځ | او نمر

مخ اړوی. او هم دغه الله تعالیٰ شپه او ورځ او نمر او سپوږمۍ پیدا کړی دی.

وَالْقَمَرَ ۭ كُلٌّ فِيْ فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ۝ وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ

او سپوږمۍ | هر یو | په خپل مدار کښې | لامبو وهی | او مونږ نه دے ګرځولے | یو انسان لره

هر یو په خپل مدار (خاڅ د چاپیر ګرځیدو) کښې په طریقے سره رفتار کوی. او ای نبی! ستا نه مخکښې مونږ هیڅ یو بنده ته

مِّنْ قَبْلِكَ الْخُلْدَ ۭ اَفَا۟ىِٕنْ مِّتَّ فَهُمُ الْخٰلِدُوْنَ۝ كُلُّ

ستا نه مخکښې | همیشه والے | آیا که چرے | ته مړ شے | نو دوی به | همیشه وی؟ | هر یو

د همیشه ژوندانه دے ور کړے نو که ته وفات شے نو ولے دوی به (په دنیا کښې) همیشه پاتے وی څه؟ هر یو کس

نَفْسٍ ذَاۗىِٕقَةُ الْمَوْتِ ۭ وَنَبْلُوْكُمْ بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً ۭ

کس | څکونکے | د مرګ دے | او مونږ ازمایو تاسو | په سختۍ | او په آرام سره | دپاره د امتحان

(نفس) به د مرګ مزه څکی، او مونږ تاسو بطور امتحان په ښه حالت او بد حالت ازمایو

وَاِلَيْنَا تُرْجَعُوْنَ۝ وَاِذَا رَاٰكَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ يَّتَّخِذُوْنَكَ

او خاص مونږ ته به | تاسو واپس کولی شئ | او کله چه | او وینی تا لره | هغه خلق | چه کفر ئې کړے دے | لو نۀ نیسی دوی تا لره

او تاسو ټول به هم مونږ ته واپس راځئ او کافران چه کله (هم) تا او وینی نو تشے ټوقے درپورے کوی

اِلَّا هُزُوًا ؕ اَهٰذَا الَّذِیۡ یَذۡكُرُ اٰلِهَتَكُمۡ ۚ وَهُمۡ بِذِكۡرِ

مګر | ټوکې | آیا دا دے | هغه کس | چه یادوی | ستاسو خدایان (په بدۍ) | او دوی | د یاد (ذکر)

(او خپل مونځ کښې وائي) ایا دا هم هغه کس دے چه ستاسو د خدایانو (بده) تذکره کوی حالانکه دا کافران

الرَّحۡمٰنِ هُمۡ كٰفِرُوۡنَ ۝ خُلِقَ الۡاِنۡسَانُ مِنۡ عَجَلٍ ؕ سَاُورِیۡكُمۡ

د رحمٰن ذات نه | انکار کوونکی دی | پیدا کړے شوے دے | انسان | د تلوار نه | زر به زه وښایم تاسو ته

د رحمٰن ذات د یادولو نه (په توحید سره) انکار کوی انسان داسې تلوار زن دے ته به وائے چه ګنی د تلوار (تادۍ) نه پیدا شوے دے

اٰیٰتِیۡ فَلَا تَسۡتَعۡجِلُوۡنِ ۝ وَیَقُوۡلُوۡنَ مَتٰی هٰذَا الۡوَعۡدُ

نخښې خپلې | نو زر ئې مه غواړئ زما نه | او دوی وائي | چه کله به وی | دا | وعده

زر به زه تاسو ته خپلې نخښې او ښایم نو تاسو ئې زما نه زر مه غواړئ - او دوی وائي (مسلمانانو ته) که تاسو رشتنی یئ

اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِیۡنَ ۝ لَوۡ یَعۡلَمُ الَّذِیۡنَ كَفَرُوۡا حِیۡنَ

که چرے | یئ تاسو | رشتینی | که چرے | پوهه وے | هغه خلق | چه کفر ئې کړے دے | په هغه وخت

نو (آخر) دا وعده (د عذاب) به کله پوره کیږی؟ که چرے دی کافرانو ته د هغه وخت (لږه) پته لګیدلے

لَا یَكُفُّوۡنَ عَنۡ وُّجُوۡهِهِمُ النَّارَ وَلَا عَنۡ ظُهُوۡرِهِمۡ وَلَا هُمۡ

چه نه به شی لرے کولے | د مخولو خپلو نه | اور | او نه د شاګانو خپلو نه | او نه به دوی سره

چه دوی به د خپلو مخونو نه او د شاګانو نه اور نشی اخوا کولے او نه به د دوی مدد کیږی

یُنۡصَرُوۡنَ ۝ بَلۡ تَاۡتِیۡهِمۡ بَغۡتَةً فَتَبۡهَتُهُمۡ فَلَا یَسۡتَطِیۡعُوۡنَ

مدد کیدے شی | بلکه | را به شی دوی ته هغه (عذاب) | ناګهانه | نو وار خطا به کړی دوی لره | پس طاقت به نه لری دوی

(نو عذاب به ئې زر نه غوښتلو) بلکه عذاب خو به په دوی ناڅاپي راشی نو دوی به حیران (وار خطا) کړی

رَدَّهَا وَلَا هُمۡ یُنۡظَرُوۡنَ ۝ وَلَقَدِ اسۡتُهۡزِئَ بِرُسُلٍ

د هغې د واپس کولو | او نه به دوی ته | (نور) مهلت ور کولے شی | او یقیناً | ټوکې شوی وے | په پیغمبرانو پورے

بیا به دوی نه د هغې د واپس کولو طاقت لری او نه به دوی ته نور مهلت ملاویږی. او اے نبی! تا نه مخکښې هم

مِّنۡ قَبۡلِكَ فَحَاقَ بِالَّذِیۡنَ سَخِرُوۡا مِنۡهُمۡ مَّا كَانُوۡا

مخکښې ستا نه | پس راګیر کړل | هغه خلق | چه ټوکې ئې کړې وے | د دوی نه | هغه (عذاب) | چه دوی

ډیرو پیغمبرانو پورے ټوکې شوی وے خو آخر کومو خلقو چه ټوکې کولے په هغوی باندے هم

بِهٖ یَسۡتَهۡزِءُوۡنَ ۝ قُلۡ مَنۡ یَّكۡلَؤُكُمۡ بِالَّیۡلِ وَالنَّهَارِ ع

په هغې پورے | ټوکې کولے | او وایه | څوک | ساتنه (بچ کول) کوی ستاسو | د شپے | او د ورځے

هغه عذاب راغے په کوم پسے به ئې چه ټوکې کولے. دوی ته او وایه چه د شپے او د ورځے تاسو د رحمٰن ذات

مِنَ الرَّحۡمٰنِ ؕ بَلۡ هُمۡ عَنۡ ذِكۡرِ رَبِّهِمۡ مُّعۡرِضُوۡنَ ۝ اَمۡ لَهُمۡ

د (عذاب د) رحمٰن نه | بلکه | دوی | د ذکر (یاد) | د رب خپل نه | مخ اړوونکی دی | آیا هسته د دوی

(د عذاب) نه څوک بچ کوی؟ بلکه دوی د خپل رب د ذکر نه (همیشه) مخ اړوی. آیا د دوی زمونږ نه سوا څه داسے

اٰلِهَةٌ تَمْنَعُهُمْ مِّنْ دُوْنِنَا ؕ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ نَصْرَ اَنْفُسِهِمْ

(دا سے) خدایان | چه او ساتي هوی لره | سیوا زمونږ نه | طاقت نه لري هغوی | د مدد | د ځانونو خپلو

خدایان شته چه دوی حفاظت کوي؟ هغوی خو پخپله د خپل ځان مدد نه شي کولے او نه زمونږ په مقابله کښې د هغوی څوک

وَلَا هُمْ مِّنَّا يُصْحَبُوْنَ ۝ بَلْ مَتَّعْنَا هٰۤؤُلَآءِ وَاٰبَآءَهُمْ

او نه دا هغوی سره | زمونږ د طرف نه | ملګرتیا کولے شي | بلکه | مونږ فائدے ور کړي دي | دے خلقو ته | او د دوی پلار نیکه ته

مرسته کولے شي بلکه اصل معامله دا ده چه مونږ دے خلقو ته او د دوی مشرانو ته د دنیا فائدے ور کړے وے تر دے چه

حَتّٰى طَالَ عَلَيْهِمُ الْعُمُرُ ؕ اَفَلَا يَرَوْنَ اَنَّا نَاْتِي الْاَرْضَ

تر دے چه | اوږده شو | په دوی باندے | عمرونه | آیا نو دوی نه ګوري | چه بیشکه | مونږ راځو | زمکے ته

په دے حالت د دوی عمرونه تیر شول (نو دوی دا خیال او کړو کنے چه دوی په حقه دي) آیا دوی دا نه ګوري چه مونږ د دوی

نَنْقُصُهَا مِنْ اَطْرَافِهَا ؕ اَفَهُمُ الْغٰلِبُوْنَ ۝ قُلْ اِنَّمَاۤ اُنْذِرُكُمْ

چه کموو مونږ هغے لره | د طرفونو د هغے نه | آیا نو دوی | غالب کیدونکي دي | او وایه | بیشکه | زه یروم تاسو

د ملک زمکه د مختلفو طرفونو نه تدریجًا راکموو نو آیا بیا هم دوی په غلبه بیاموندي؟ اے نبی (دے خلقو ته) او وایه چه

بِالْوَحْيِ ۖ وَلَا يَسْمَعُ الصُّمُّ الدُّعَآءَ اِذَا مَا يُنْذَرُوْنَ ۝ وَلَئِنْ

په وحی سره | او نه آوري | کاڼړه | بلنه | کله هم (چه) | دوی او یرولی شي | او که چرے

زه (خو) تاسو د وحی په ذریعه یروم خو تاسو په شان د کڼړو یئ او کاڼړه خلق چه اویرولی شي نو هغوی آواز (بلنه) نه آوري او که چرے

مَّسَّتْهُمْ نَفْحَةٌ مِّنْ عَذَابِ رَبِّكَ لَيَقُوْلُنَّ يٰوَيْلَنَاۤ اِنَّا

او سپړي دوی ته | څه حصه | د عذاب | د رب ستا نه | نو خامخا به وائي دوی | اے بد بختي زمونږ | بیشکه

دوی ته ستا د رب د طرف نه څه معمولي عذاب اورسي (نو کوونړوالے به ئے ختم شي) او بیا به وائي هائے زمونږ بد بختي!

كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ۝ وَنَضَعُ الْمَوَازِيْنَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ

مونږ وو | ظالمان | او مونږ به کیږدو | تلے | دپاره د انصاف قائمولو | په ورځ | د قیامت

یقینًا مونږ خو ظالمان وو۔ او مونږ به د قیامت په ورځ د انصاف (نه ډکے) تلے کیږدو

فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْـًٔا ؕ وَاِنْ كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ

نو ظلم به نه شي کولے | په هیڅ یو کس | هیڅ قسم | او که چرے | وي (عمل) | په اندازه | د دانے | د | اوري

نو په چا باندے به معمولي ظلم هم نه کیږي، او که چرے یو عمل د اوري د دانے برابر (هومره) وي

اَتَيْنَا بِهَا ؕ وَكَفٰى بِنَا حٰسِبِيْنَ ۝ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسٰى

نو مونږ به راوړو | هغه | او کافي یو | مونږ | حساب اغوستونکي | او یقینًا | مونږ ور کړے وو | موسیٰ

نو هغه به هم مونږ پیش کړو او د حساب اخستو دپاره یوا ځے مونږ کافي یو۔ او یقینًا مونږ موسیٰ

وَهٰرُوْنَ الْفُرْقَانَ وَضِيَآءً وَّذِكْرًا لِّلْمُتَّقِيْنَ ۝ۙ الَّذِيْنَ

او هارون ته | فرق کونکے کتاب | او ډیره رڼړا | او یاداشت | د متقیانو دپاره | هغه خلق

او هارون ته د حق او باطل ترمینځه فرق کونکے، ښکاره احکامو باندے مشتمل یو کتاب ور کړے وو چه د متقیانو دپاره

يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ وَهُمْ مِّنَ السَّاعَةِ مُشْفِقُوْنَ ﴿٤٩﴾

چه یریږي | د خپل رب نه | غائبانه (بے دلیده وله) | او هغوی | د قیامت نه | یریدونکي دي

په هغې کښې وعظ او نصیحت وو. هغه متقیان چه د خپل رب نه غائبانه یریږي او د قیامت د راتلو نه هم یریږي۔

ع

وَهٰذَا ذِكْرٌ مُّبٰرَكٌ اَنْزَلْنٰهُ ؕ اَفَاَنْتُمْ لَهٗ مُنْكِرُوْنَ ﴿٥٠﴾

او دا (قرآن) | یادداشت دے | برکتونو والا | چه مونږ رالیږلے دے دا | آیا نو تاسو | د دے نه | انکار کونکي یئ

او (اوس) دا قرآن د برکتونو نه ډک یو نصیحت دے چه مونږ نازل کړے دے. آیا بیا هم تاسو د دے نه انکار کوئ؟

وَلَقَدْ اٰتَيْنَآ اِبْرٰهِيْمَ رُشْدَهٗ مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا بِهٖ

او یقینًا | مونږ ورکړے وه | ابراهیمؑ ته | پوهه د هغه | د دے نه مخکښې | او وو مونږ | په هغه باندے

او د موسٰیؑ نه مخکښې مونږ ابراهیمؑ ته پوهه (نبوت) ورکړے وو او مونږ د هغهٔ حال

عٰلِمِيْنَ ﴿٥١﴾ اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖ مَا هٰذِهِ التَّمَاثِيْلُ

پوهه (لرونکي) | کله چه | او ویل هغه | خپل پلار | او خپل قوم ته | څه دي | دا | شکلونه

ښه پیژندلو کله چه هغه خپل پلار او قوم ته او ویل چه دا څه دلیل دے د عبادت کولو د دے شکلونو

الَّتِيْٓ اَنْتُمْ لَهَا عٰكِفُوْنَ ﴿٥٢﴾ قَالُوْا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا لَهَا

هغه | چه تاسو | د هغې | منجوران یئ | او ویل هغوی | (چه) مونږ موندلي دي | پلار نیکه خپل | د دے

چه تاسو د دے په عبادت باندے کلک ولاړ یئ. هغوی ورته او ویل چه مونږ خو خپل پلار نیکه د دے

عٰبِدِيْنَ ﴿٥٣﴾ قَالَ لَقَدْ كُنْتُمْ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ فِيْ ضَلٰلٍ

عبادت کونکي | او ویل (ابراهیمؑ) | یقینًا | یئ | تاسو | او ستاسو پلار نیکه | په گمراهئ

په عبادت لیدلي دي ابراهیمؑ ورته او ویل چه یقینًا تاسو هم او ستاسو پلار نیکه (مشران) هم په ښکاره گمراهئ کښې

مُّبِيْنٍ ﴿٥٤﴾ قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا بِالْحَقِّ اَمْ اَنْتَ مِنَ اللّٰعِبِيْنَ ﴿٥٥﴾

ښکاره کښې | او ویل هغوی | آیا تا راوړے دے مونږ ته | حق | یا | ته ئے | د ټوقو کونکو نه

اخته یئ. هغوی ورته او ویل چه آیا تا مونږ ته څه حق راوړے دے یا هسے ټوقے راسره کوے؟

قَالَ بَلْ رَّبُّكُمْ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الَّذِيْ

او ویل (ابراهیمؑ) | بلکه | رب ستاسو (خو) | رب (مالک) | د آسمانونو | او د زمکے دے | هغه ذات

ابراهیمؑ ورته او ویل چه نا بلکه ستاسو رب (خو) د اسمانونو او د زمکے مالک هغه الله دے چه دا ئے په اول ځل

فَطَرَهُنَّ ۖ وَاَنَا عَلٰى ذٰلِكُمْ مِّنَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿٥٦﴾ وَتَاللّٰهِ

چه پیدا کړي ئے دي دا | او زهٔ یم | په دے باندے | د گواهي کونکو نه | او قسم په الله

پیدا کړي دي. او ای خلقو زهٔ په دے خبره تاسو ته خبر درکوم او په الله تعالٰی قسم! تاسو چه کله سالانه عُرس د پاره

لَاَكِيْدَنَّ اَصْنَامَكُمْ بَعْدَ اَنْ تُوَلُّوْا مُدْبِرِيْنَ ﴿٥٧﴾ فَجَعَلَهُمْ

زهٔ به ضرور (څه) تدبیر جوړوم | ستاسو بتانو ته | پس د دے نه | چه وګرځئ تاسو | شا کونکي | پس ده کړل هغه

بهر لاړ شئ او دا درګاه خالي شي نو زهٔ به دوی سره دا سے کار (چال) کوم (چه تاسو به د دے په حقیقت پوهه شئ) لو د غټ بت نه سوا

جُذٰذًا اِلَّا كَبِيْرًا لَّهُمْ لَعَلَّهُمْ اِلَيْهِ يَرْجِعُوْنَ ۝۵۸ قَالُوْا

ټوټې ټوټې | بغیر | د غټ بُت | د هغوی نه | دے دپاره چه دوی | هغه ته | رجوع اوکړی | او ویل دوی

نور ټول بتان ئے ټوټې ټوټې کړل شاید چه دوی د ابراهیمٰ دعوت یاد ے غټ بُت ته رجوع اوکړی هغوی (چه کله راغلل نو)

مَنْ فَعَلَ هٰذَا بِاٰلِهَتِنَآ اِنَّهٗ لَمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ۝۵۹ قَالُوْا

چا | کړے دے | دا کار | زمونږ د خدایانو سره | بیشکه هغه دے | د ظالمانو نه | او ویل دوی

وے ویل چه زمونږ د خدایانو سره دا حرکت (سلوک) چا کړے دے؟ یقیناً دا خو چر ته د ظالمانو د ډلے نه دے. بعضے کسانو اوویل

سَمِعْنَا فَتًى يَّذْكُرُهُمْ يُقَالُ لَهٗٓ اِبْرٰهِيْمُ ۝۶۰ قَالُوْا

چه مونږ اوریدلی دی | دیو ځوان نه | چه تل کره کوی د دوی | چه ویلی شی | هغه ته | ابراهیمٰ | او ویل هغوی

چه مونږ. د یو ځوان د خولے نه د دوی بدی اوریدلے ده چه هغه ته ابراهیمٰ ویلی شی. دوی او ویل

فَاْتُوْا بِهٖ عَلٰٓى اَعْيُنِ النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَشْهَدُوْنَ ۝۶۱ قَالُوْا

پس راولئ | هغه | مخامخ د سترګو | د خلقو | دے دپاره چه هغوی | ګواهی اوکړی | او ویل دوی

چه دا د ټولو خلقو مخے ته راولئ چه ټول پرے ګواهی ورکړی (یا سزا ورکولو ته حاضر شی د عبرت دپاره). (ابراهیمٰ چه کله راغلو)

ءَاَنْتَ فَعَلْتَ هٰذَا بِاٰلِهَتِنَا يٰٓاِبْرٰهِيْمُ ۝۶۲ قَالَ بَلْ فَعَلَهٗ ۖ

آیا تا | کړے دے | دا کار | زمونږ د خدایانو سره | اے ابراهیمٰ! | و ویل هغه | بلکه | کړے دے دا

دوی ورته اوویل چه اے ابراهیمٰ آیا زمونږ د خدایانو سره دا حرکت تا کړے دے؟ ابراهیمٰ ورته اوویل چه تا، دا خو دے

كَبِيْرُهُمْ هٰذَا فَسْئَلُوْهُمْ اِنْ كَانُوْا يَنْطِقُوْنَ ۝۶۳ فَرَجَعُوْٓا

لوئی بت د دوی | دے | نو تپوس اوکړئ د دوی نه | که چرے | دوی | خبرے کولے شی | پس رجوع اوکړه دوی

غټ بت کړی دی اوس دا نور بتان که خبرے کولے شی نو د دوی نه تپوس اوکړئ کنه. په دے جواب دوی په خپلو

اِلٰٓى اَنْفُسِهِمْ فَقَالُوْٓا اِنَّكُمْ اَنْتُمُ الظّٰلِمُوْنَ ۝۶۴ ثُمَّ نُكِسُوْا

خپلو ځانونو ته | بیائے و ویل | چه بیشکه هم تاسو | ظالمان یئ | بیا | نسکور کړی شول دوی

کښې سوچ شروع کړو او بیائے خپلو کښې و ویل یقیناً خبره دا ده چه تاسو په خپله ظالمان یئ. بیائے (د شرم د وجے)

عَلٰى رُءُوْسِهِمْ ۚ لَقَدْ عَلِمْتَ مَا هٰٓؤُلَآءِ يَنْطِقُوْنَ ۝۶۵ قَالَ

په خپلو سرونو | یقیناً | تا ته پته ده | چه نه دی دا | چه خبرے اوکړے شی | او ویل (ابراهیمٰ)

خپل سرونه خکته (ټیټ) کړل او (وے ویل چه) تا ته خو پته ده چه دا خبرے نه شی کولے ابراهیمٰ ورته او ویل چه (نه)

اَفَتَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُكُمْ شَيْئًا

آیا نو تاسو عبادت کوئ | سوا | د الله نه | د هغه څه | چه فائده نه درکوی تاسو ته | هیڅ قسم

آیا تاسو د الله تعالیٰ نه سوا د هغه څیز عبادت کوئ چه نه څه فائده درکولے شی، او نه څه نقصان درکولے شی، افسوس دے

وَّلَا يَضُرُّكُمْ ۝۶۶ اُفٍّ لَّكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ

او نه نقصان درکوی تاسو ته | زه بد ګنړم | تاسو | او هغه څه (شرک) | چه تاسو ئے عبادت کوئ | د الله تعالیٰ نه سوا

په تاسو هم او په هغه چا هم چه تاسو ئے د الله تعالیٰ نه سوا عبادت کوئ (زه تاسو نه او تاسو چه د الله تعالیٰ نه سوا د چا عبادت کوئ

اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ۝ قَالُوْا حَرِّقُوْهُ وَانْصُرُوْٓا اٰلِهَتَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ

آیا لو تاسو نه پوهیږئ | او ویل دوی | او سوزوئ دے | او مدد او کړئ | د خدایانو خپلو | که چرے | یئ تاسو

دهغه نه بیزاره یم) آیا تاسو دومره هم عقل نه لرئ. دوی یو بل ته او ویل چه دے او سوزئ او د خپلو خدایانو مدد او کړئ

فٰعِلِيْنَ ۝ قُلْنَا يٰنَارُ كُوْنِيْ بَرْدًا وَّسَلٰمًا عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ ۝

کونکی (کار) | او ویل مونږ | اے اورہ! | شه ته | یخ | او سلامتیا والا | په ابراهیمؑ باندے

که تاسو دے کار له کونکی یئ (ابراهیمؑ ئے چه کله اور کښې وغورځولو نو) مونږ اور ته وویل چه د ابراهیمؑ دپاره یخ شه،

وَاَرَادُوْا بِهٖ كَيْدًا فَجَعَلْنٰهُمُ الْاَخْسَرِيْنَ ۝ وَنَجَّيْنٰهُ وَلُوْطًا

او دوی اراده او کړه | د هغهٔ سره | د فریب | پس کړل مونږ دوی | پوره ناکامه | او مونږ بچ کړو هغه لره | او لوط لره

او بے ضرره شه. او دوی خو د ابراهیمؑ بدی غوښتله خو مونږ دوی پوره ناکامه (تاوانی) کړل. او مونږ هغه او لوط دواړه

اِلَى الْاَرْضِ الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا لِلْعٰلَمِيْنَ ۝ وَوَهَبْنَا

زمکے | هغے ته | چه برکت اچولے دے مونږ | په هغے کښې | د مخلوق دپاره | او ورکړو مونږ

هغه زمکے (شام) ته بچ او ویستل چه په هغے کښې مونږ د مخلوق دپاره برکت اچولے دے. او مونږ

لَهٗٓ اِسْحٰقَ ؕ وَيَعْقُوْبَ نَافِلَةً ؕ وَكُلًّا جَعَلْنَا صٰلِحِيْنَ ۝

هغه ته | اسحاقؑ | او یعقوبؑ | زیاتی (په انعام کښې) | او دا ټول | گرځولی وو مونږ | نیکان

هغه ته اسحاقؑ ځوی ورکړو او یعقوبؑ (لمسی) مو د انعام په طور ورکړو، او دا ټول مونږ نیکان گرځولی وو

وَجَعَلْنٰهُمْ اَئِمَّةً يَّهْدُوْنَ بِاَمْرِنَا وَاَوْحَيْنَآ اِلَيْهِمْ

او جوړ کړل مونږ دوی | پیشوایان | چه لاره په ئے ښودله | زمونږ په حکم | او وحی کړے وه مونږ | دوی ته

او مونږ دوی دا سے امامان (مشران) کړل چه زمونږ په حکم به ئے د خلقو (د دین د لارے) رهنمائی کوله

فِعْلَ الْخَيْرٰتِ وَاِقَامَ الصَّلٰوةِ وَاِيْتَآءَ الزَّكٰوةِ ۚ وَكَانُوْا لَنَا

د کولو | د نیکو کارونو | او د پابندئ کولو | د مانځه | او د ورکولو | د زکات | او وو دوی | خاص زمونږ

او مونږ دوی ته د وحی په ذریعه د نیکو کولو او د مانځه د پابندئ او د زکات ورکولو حکم کړے وو، او دوی ټولو خاص زمونږ

عٰبِدِيْنَ ۝ وَلُوْطًا اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّعِلْمًا وَّنَجَّيْنٰهُ مِنَ الْقَرْيَةِ

عبادت کونکی | او لوطؑ | ور کړے وو مونږ هغه ته | حکم | او علم | او بچ کړے وو مونږ هغه | د کلی (والو) نه

عبادت کولو. او لوطؑ ته مونږ پیغمبری او پوهه د دین ورکړے وه. او د هغه کلی نه مو بچ کړے وو

الَّتِيْ كَانَتْ تَّعْمَلُ الْخَبٰٓئِثَ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمَ سَوْءٍ

هغه | چه | کول به ئے | پلیت کارونه | بیشکه دوی | وو | خلق (قوم) | ډیر خراب

چه هغوی به پلیت کارونه کول، یقیناً هغه ډیر خراب او بدکار (نافرمانه) قوم وو

فٰسِقِيْنَ ۝ وَاَدْخَلْنٰهُ فِيْ رَحْمَتِنَا ؕ اِنَّهٗ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝

نافرمانه | او مونږ داخل کړے وو هغه | په خپل رحمت کښې | بیشکه هغه وو | د | نیکانو | نه

او هغه مونږ په خپل رحمت کښې داخل کړے وو یقیناً هغه په کاملو نیکانو خلقو کښې شامل وو

وَنُوحًا اِذْ نَادٰی مِنْ قَبْلُ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ فَنَجَّیْنٰهُ

او (یاد کړه) نوح | کله چه | آواز کړے وو هغه | مخکښې د دے نه | نو قبوله کړه مونږ | دعا د هٔ | پس خلاص مو کړو دے

او نوح (ته هم مونږ علم او حکمت ور کړے وو) کله چه هغه د دے واقعے نه (وړین) مخکښې مونږ ته آواز کړے وو

وَاَهْلَهٗ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِیْمِ ۝٧٦ وَنَصَرْنٰهُ مِنَ الْقَوْمِ الَّذِیْنَ

او کورنۍ د هٔ | د مصیبت | لوئے نه | او بدله واغستله مونږ د هٔ | د هغه قوم نه

نو مونږ د هغه دعا قبوله کړه او هغه او د هغه ملګری (کورنۍ) مو د لوئ مصیبت نه بچ کړل. او د هغه قوم په مقابله کښې

كَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَا ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمَ سَوْءٍ فَاَغْرَقْنٰهُمْ

چه دروغ ئے ګڼلی وو | زمونږ آیتونه | بیشکه دوی | وو | قوم | ډیر خراب | نو غرق کړل مونږ دوی

مونږ د هغه مدد او کړو چه زمونږ آیتونه ئے دروغ ګڼلی وو حقیقت دا دے چه هغه ډیر خراب قوم وو لو ځکه مونږ ټول

اَجْمَعِیْنَ ۝٧٧ وَدَاوٗدَ وَسُلَیْمٰنَ اِذْ یَحْكُمٰنِ فِی الْحَرْثِ اِذْ

ټول | او (یاد کړه) داود او سلیمان (علیهما السلام) | کله چه | دواړو فیصله کوله | په باره د فصل کښې | کله چه

(په یو ځائے) غرق کړل. او داود او سلیمان (ته هم مونږ پیغمبری او د دین پوهه ور کړے وه) کله چه هغوی د یو فصل د جګړے

نَفَشَتْ فِیْهِ غَنَمُ الْقَوْمِ ۚ وَكُنَّا لِحُكْمِهِمْ شٰهِدِیْنَ ۝٧٨

خړ یدلے وے | په هغے کښې | ګډے (پیزے) | د خلقو | او وو مونږ | د فیصلے د هغوی | خبر لرونکی

په باره کښې فیصله کوله چه په هغے کښې د یو قوم پیزے د شپے خړ یدلے وے. او مونږ د هغوی فیصلے ته حاضر او ناظر وو

فَفَهَّمْنٰهَا سُلَیْمٰنَ ۚ وَكُلًّا اٰتَیْنَا حُكْمًا وَّعِلْمًا ؗ

پس پوهه کړو مونږ په هغے (فیصلے) | سلیمانؑ | او هر یو ته | ور کړی وو مونږ | پیغمبری | او علم

نو مونږ د دے فیصلے په طریقه سلیمان علیه السلام پوهه کړو. او پیغمبری او پوهه د دین خو مونږ دواړو ته ور کړے وه

وَّسَخَّرْنَا مَعَ دَاوٗدَ الْجِبَالَ یُسَبِّحْنَ وَالطَّیْرَ ؕ وَكُنَّا

او تابع کړی وو مونږ | د داود سره | غرونه | چه پاکی به ئے بیانوله | او مارغان (هم) | او وو مونږ

او مونږ د داود سره غرونه او مارغان تابع کړی وو چه هغوی به هم (د الله) تسبیح ویله او دا معجزے هم مونږ ور کړے وے

فٰعِلِیْنَ ۝٧٩ وَعَلَّمْنٰهُ صَنْعَةَ لَبُوْسٍ لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُمْ

(دا کار) کونکی | او مونږ ښودلی وو هغه ته | جوړول | د زغرو | ستاسو د پاره | چه بچ کړی تاسو

(د داؤد په کښې خپل څهٔ اختیار نهٔ وو) او مونږ هغه ته ستاسو د فائدے د پاره د یو جنګی لباس (زغرو) د جوړولو چل ښودلی وو

مِّنْ بَاْسِكُمْ ۚ فَهَلْ اَنْتُمْ شٰكِرُوْنَ ۝٨٠ وَلِسُلَیْمٰنَ الرِّیْحَ

د جنګ ستاسو نه | لو آیا | تاسو | شکر اوباسئ؟ | او (تابع کړے وو مونږ) د سلیمانؑ | هوا

چه په جنګ کښې ستاسو حفاظت کوی. نو بیا کار دی چه تاسو شکر او کړئ؟. او مونږ د سلیمانؑ د پاره تیزے چلیدونکے هوا ګانے

عَاصِفَةً تَجْرِیْ بِاَمْرِهٖۤ اِلَی الْاَرْضِ الَّتِیْ بٰرَكْنَا فِیْهَا ؕ

تیزه | چه چلیده به | د هغه په حکم | زمکے | هغے ته | چه برکت اچولی وو مونږ | په هغے کښې

تابع کړے وے چه د هغه په حکم به هغے زمکے (شام) طرف ته چلیدے چه په هغے کښې مونږ برکت اچولے وو

وَكُنَّا بِكُلِّ شَیْءٍ عٰلِمِيْنَ ﴿۸۱﴾ وَمِنَ الشَّيٰطِيْنِ مَنْ يَّغُوْصُوْنَ

او وو مونږ | په هر یو | څیز باندے | پوهه لرونکی | او د شیطانانو نه | هغه څوک | چه غوپه به ئے وهلے

او مونږ په هر څیز باندے پوهه یو۔ او مونږ بعضے پیریان هم د هغه تابع کړی وو چه د هغه دپاره به ئے په دریاب کښ غوپې وهلے

لَهٗ وَيَعْمَلُوْنَ عَمَلًا دُوْنَ ذٰلِكَ ۚ وَكُنَّا لَهُمْ حٰفِظِيْنَ ﴿۸۲﴾

د هغه دپاره | او کولو به هغوی | نور کارونه | د دے نه سوا (هم) | او وو مونږ | د هغوی | حفاظت کونکی

او د دے نه علاوه به ئے نور کارونه هم کول او د هغوی ټولو حفاظت (ساتنه) هم مونږ کوله (چه چرته سلیمانؑ ته تکلیف ورنکړی)

وَاَيُّوْبَ اِذْ نَادٰى رَبَّهٗٓ اَنِّيْ مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَاَنْتَ

او (یاد کړه) ایوب | کله چه | هغه آواز وکړو | رب خپل ته | چه بیشکه ما ته رسیدلے دے | تکلیف | او ته ئے

او (په وخت د مصیبتونو کښ د عبرت حاصلولو دپاره حالات) د ایوبؑ یاد کړه کله چه هغه خپل رب ته آواز (فریاد) او کړو چه ما ته تکلیف

اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿۸۳﴾ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ فَكَشَفْنَا مَا بِهٖ

زیات رحم کونکے | د رحم کونکو نه | پس مونږ قبوله کړه | دعا د هغهٔ | نو لرے کړو مونږ | هغه څه | چه په هغه وو

رارسیدلے دے او ته د ټولو نه زیات رحم کونکے ئے بیا مونږ د هغه دعا قبوله کړه او کوم تکلیف چه پرے وو هغه مو ترے نه

مِنْ ضُرٍّ وَّاٰتَيْنٰهُ اَهْلَهٗ وَمِثْلَهُمْ مَّعَهُمْ رَحْمَةً

د تکلیف نه | او ورکړو مونږ هغه ته | بال بچ د هغهٔ | او د هغوی هومره (نور) | د هغوی سره | د وجے د رحمت

لرے کړو، او هغه ته مو د هغه خپله کورنۍ او د هغوی هومره نور خلق (اولاد وغیره) هم ورکړو

مِّنْ عِنْدِنَا وَذِكْرٰى لِلْعٰبِدِيْنَ ﴿۸۴﴾ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِدْرِيْسَ

د خپل طرف نه | او نصیحت (یاداشت) | دپاره د عبادت کونکو | او (یاد کړه) اسماعیلؑ | او ادریسؑ

دا دے دپاره چه دا زمونږ د رحمت یوه مظاهره وه او د عبادت کونکو بندګانو دپاره یو سبق (نصیحت) وو او اسحاقؑ او ادریسؑ

وَذَا الْكِفْلِ ؕ كُلٌّ مِّنَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۸۵﴾ ۚۖ وَاَدْخَلْنٰهُمْ فِيْ رَحْمَتِنَا ؕ

او ذوالکفلؑ | دا ټول | د صبر کونکو نه وو | او مونږ داخل کړی وو دا ټول | په خپل رحمت کښ

او ذوالکفلؑ ته او ګوره! دا ټول ډیر صبر کونکی وو او مونږ دا ټول په خپل رحمت کښ داخل کړی وو.

اِنَّهُمْ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۸۶﴾ وَذَا النُّوْنِ اِذْ ذَّهَبَ مُغَاضِبًا

بیشکه وو دوی | د نیکانو نه | او (یاد کړه) مهی والا | کله چه | لاړو هغه | (وړن) غصه (خپل قوم ته)

یقینًا دا ټول کامل نیکان وو۔ او مهی والا (یونسؑ) ته او ګوره! کله چه هغه (د خپل قوم نه) غصه (خفه) روان شو

فَظَنَّ اَنْ لَّنْ نَّقْدِرَ عَلَيْهِ فَنَادٰى فِي الظُّلُمٰتِ اَنْ

نو خیال ئے او کړو | چه | مونږ به تنګی را نه ولو | په ده باندے | پس آواز ئے او کړو | په تیارو کښ | (دا) چه

او دا خیال ئے او کړو چه ګنے مونږ به ده باندے څه تنګی رانه ولو. (خو) بیا ده په تیارو کښ آواز (فریاد) او کړو

لَّآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ ۖ اِنِّيْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۸۷﴾ ۚۖ

نشته دے | حقدار د عبادت | سوا | ستا نه | ته پاک ئے | بیشکه زه | یم | د نقصان کونکو نه

(چه اے الله) ستا نه سوا بل هیڅ څوک فریاد اوریدونکے نشته ته د هر عیب نه پاک ئے او یقینًا زه قصوروار یم

فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ ۙ وَنَجَّیْنٰهُ مِنَ الْغَمِّ ؕ وَكَذٰلِكَ نُنْجِی

نو قبوله کړه مونږ | د ده دعاء | او مونږ خلاص کړو ده لره | د غم نه | او دغه شان | مونږ خلاصوو

نو مونږ د هغهٔ دعا قبوله کړه او مختلف قسمه ټیرو د غم نه مو خلاص کړو. او دغه شان مونږ (عامو) مؤمنانو ته هم نجات ور کوو۔

الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿٨٨﴾ وَزَكَرِیَّاۤ اِذْ نَادٰی رَبَّهٗ رَبِّ لَا تَذَرْنِیْ

مؤمنان | او زکریا (هم یاد کړه) | کله چه | آواز او کړو هغهٔ | رب خپل ته | (چه) ای زما ربه! | ما مه پرېږده

او زکریا هم یاد کړه کله چه هغه (هم) خپل رب ته اواز (فریاد) او کړو چه اے زما ربه ما یوا ځے مهٔ پرېږده

فَرْدًا وَّاَنْتَ خَیْرُ الْوٰرِثِیْنَ ﴿٨٩﴾ ۚۖ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ ۫ وَوَهَبْنَا

یوا ځے | او ته | ډیر ښهٔ ئے | د ټولو وارثانو | نو قبوله کړه مونږ دعا د هغهٔ | او ور کړو مونږ

او د ټولو نه غوره باقي پاتے کیدونکے ئے۔ نو مونږ د هغه دعا (هم) قبوله

لَهٗ یَحْیٰی وَاَصْلَحْنَا لَهٗ زَوْجَهٗ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا یُسٰرِعُوْنَ

هغهٔ ته | یحیٰی | او روغه کړه مونږ | دپاره د هغهٔ | د هغه ښځه | بیشکه | دوي به | کوشش کولو

او یحیٰی (پشان) ځوي مو ورله ور کړو او د هغه بي بي مو د هغه دپاره د اولاد قابله کړه. یقیناً دے ټولو به

فِی الْخَیْرٰتِ وَیَدْعُوْنَنَا رَغَبًا وَّرَهَبًا ؕ وَكَانُوْا لَنَا خٰشِعِیْنَ ﴿٩٠﴾

په نیکو کښې | او مونږ به ئے رابللو | په شوق | او په ویره | او وو دوي | مونږ ته | عاجزي کونکي

د نیکۍ په کارونو کښې تیزي کوله او مونږ به ئے په امید (شوق) او ویرے سره رابللو او ټول مونږ ته عاجزوو

وَالَّتِیْۤ اَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِیْهَا مِنْ رُّوْحِنَا

او هغه زنانه | چه بچ ئے ساتلے وه | شرمګاه خپله | پس پوکې او کړو مونږ | په هغے کښې | د روح خپل نه

او هغه زنانه ته او ګوره چه د خپل عزت خیال ئے ساتلي وو نو په هغے کښې مونږ خپل روح او پوکلو

وَجَعَلْنٰهَا وَابْنَهَاۤ اٰیَةً لِّلْعٰلَمِیْنَ ﴿٩١﴾ اِنَّ هٰذِهٖۤ اُمَّتُكُمْ

او جوړه کړه مونږ هغه | او ځوے د هغے | یوه نخښه | د مخلوقاتو دپاره | بیشکه | دا کارونه دا نبیاؤ | ستاسو دین دے

او هغه او د هغے ځوي مو د مخلوق دپاره د خپل قدرت یوه نخښه جوړه کړه دا ے خلقو یقین او کړئ چه دا (دین) ستاسو

اُمَّةً وَّاحِدَةً ۫ۖ وَّاَنَا رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْنِ ﴿٩٢﴾ وَتَقَطَّعُوْۤا اَمْرَهُمْ

دین | یو | او زه | ستاسو رب یم | نو زما عبادت او کړئ | او دوی ټکړے ټکړے کړو | کار (دین) خپل

د ټولو دین دے چه هم یو دین دے او زه ستاسو پالنهار یم نو هم زما عبادت کوئ. خو دے خلقو خپل دین

ع

بَیْنَهُمْ ؕ كُلٌّ اِلَیْنَا رٰجِعُوْنَ ﴿٩٣﴾ ۧ فَمَنْ یَّعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ

په خپل مینځ کښې | ټول | مونږ ته | واپس راتلونکي دي | پس چا چه | عمل او کړو | د نیکو نه

په خپلو کښې ټوټے ټوټے کړو. خو دوي ټول به مونږ ته واپس راځي. نو څوک چه د ایمان په حالت کښې د نیکۍ

وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا كُفْرَانَ لِسَعْیِهٖ ۚ وَاِنَّا لَهٗ كٰتِبُوْنَ ﴿٩٤﴾

او وو دے | مؤمن | نو نشته هیڅ ناقدري | د کوشش د دهٔ | او بیشکه مونږ | د دے (عمل) | لیکونکي یو

کارونه کوي نو د دهٔ د کوشش ناقدري به نه کیږي، او مونږ یقیناً د هغه دا کوشش (عمل) لیکو.

وَحَرٰمٌ عَلٰى قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَآ اَنَّهُمْ لَا يَرْجِعُوْنَ ﴿٩٥﴾

او لازم دی | په هر هغه کلي (والو) | چه موږ هغه هلاک کړي دي | چه بیشکه دوی به | واپس نه راځي

او کوم کلي چه موږ هلاک کړي دي د هغوی دپاره دا ناممکن ده چه واپس دنیا ته راشي،

حَتّٰىٓ اِذَا فُتِحَتْ يَاْجُوْجُ وَمَاْجُوْجُ وَهُمْ مِّنْ كُلِّ حَدَبٍ

تردے | چه کله | راپرانستل شي | یاجوج | او ماجوج | او دوی به | د هرے | ویږۍ نه

تر دے چه کله یاجوج او ماجوج پرانستل شي (آزاد کړی شي) او دوی به د هرے لوړے نه

يَّنْسِلُوْنَ ﴿٩٦﴾ وَاقْتَرَبَ الْوَعْدُ الْحَقُّ فَاِذَا هِيَ شَاخِصَةٌ

منډے وهي (راځي) | او (به) نزدے به شي | وعده | رښتنے | پس ناڅاپه به | وازے (حیرانے) پاتے شي

په منډه را کوزیږي، او د رښتینے وعدے د پوره کیدو وخت به را نزدے شي نو دغه وخت به ناګهانه د کافرانو سترګے وازے

اَبْصَارُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۭ يٰوَيْلَنَا قَدْ كُنَّا فِيْ غَفْلَةٍ

سترګے | د هغه کسانو | چه کفر ئے کړے دے | افسوس په موږ | یقینًا | موږ وو | په غفلت کښ

(حیرانے) پاتے شي او وائي به چه هائے افسوس! موږ خو د دے (حقیقت) نه په غفلت کښ

مِّنْ هٰذَا بَلْ كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿٩٧﴾ اِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُوْنَ

د دے نه | بلکه | وو موږ | ظالمان | بیشکه تاسو | او هغه څه | چه تاسو ئے عبادت کوئ

پراته وو بلکه (واقعي) موږ ظالمان وو (اے مشرکانو!) تاسو هم او د الله تعالیٰ نه سوا چه تاسو د چا عبادت کوئ

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ ۭ اَنْتُمْ لَهَا وٰرِدُوْنَ ﴿٩٨﴾

د الله نه سوا | خشاک دے | د دوزخ | تاسو به | هغے ته | ورننوځئ

دا ټول د دوزخ خشاک دے تاسو ټول به په هغے کښ ورداخلیږئ.

لَوْ كَانَ هٰٓؤُلَاۗءِ اٰلِهَةً مَّا وَرَدُوْهَا ۭ وَكُلٌّ فِيْهَا

که چرے | وے | دا خلق | معبودان (خدایان) | نو نه به ورننوتل دے (دوزخ) ته | او دا ټول به | په هغے کښ

که چرے دا خلق (په رښتیا) خدایان وے نو دے دوزخ ته به نه ورتلے او ټول به هلته

خٰلِدُوْنَ ﴿٩٩﴾ لَهُمْ فِيْهَا زَفِيْرٌ وَّهُمْ فِيْهَا لَا يَسْمَعُوْنَ ﴿١٠٠﴾

همیشه وي | وي به دوی دپاره | په هغے کښ | زیږګے (شور او غوغا) | او دوی به | په هغے کښ | هیڅ نه آوري

همیشه اوسیږي. هلته به دوی چغے وهي (شور او غوغا به کوي) او بل به هیڅ خبره نه اوري.

اِنَّ الَّذِيْنَ سَبَقَتْ لَهُمْ مِّنَّا الْحُسْنٰٓى ۙ اُولٰۗىِٕكَ عَنْهَا

بیشکه | هغه کسان | چه مخکښ له مقرر شوے ده | د هغوی دپاره | زمونږ د طرف نه | بنیګړه (جنت) | نو دغه خلق به | د دے نه

البته (یقینًا) د کومو خلقو په حقله چه زمونږ د طرف نه د نیکۍ (جنت) فیصله د مخکښ نه شوے ده هغوی به د هغه دوزخ نه

مُبْعَدُوْنَ ﴿١٠١﴾ لَا يَسْمَعُوْنَ حَسِيْسَهَا ۚ وَهُمْ فِيْ مَا اشْتَهَتْ

لرے ساتلی شي | نه به اوري دوی | ګشار (آواز) د هغے | او دوی به | په هغه څه کښ | چه غواړي ئے

لرے ساتلی شي دوی به د هغے (دوزخ) ګشار هم نه اوري، او د خپلے خوښے په ژوند کښ به

اَنْفُسُهُمْ خٰلِدُوْنَ ۚ﴿۱۰۲﴾ لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْاَكْبَرُ وَتَتَلَقّٰىهُمُ

نفسونه ددوی | (او) همیشه به وی | نه به غمژن کوی دوی لره | یره | لویه | او مخے له به راځی دوی

همیشه همیشه اوسیږی. د قیامت هغه لویه یره به (هم) دوی نه پریشانه کوی او فرشتے به ورله مخے له ورځی

الْمَلٰٓئِكَةُ ؕ هٰذَا يَوْمُكُمُ الَّذِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ﴿۱۰۳﴾ يَوْمَ

فرشتے | داده | ورځ ستاسو | هغه | چه تاسو سره ئے | وعده کولے شوه | په هغه ورځ

(او ورته به وائی چه) چه دا ستاسو هغه ورځ ده چه تاسو سره به ئے وعده کیدله. هغه ورځ را یاده کړه په کومه ورځ به

نَطْوِي السَّمَآءَ كَطَيِّ السِّجِلِّ لِلْكُتُبِ ؕ كَمَا بَدَاْنَآ

چه مونږ به را ونغاړو | آسمان | په شان د را نغښتلو | د رجسټر | خطونو لره | لکه څنګه چه | شروع کړے مونږ

چه مونږ آسمان داسے را ونغاړو لکه چه په رجسټر لیکلے شوی مضامین په ځان کښ را نغښتلے وی څنګه چه مونږ په اول ځل

اَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِيْدُهٗ ؕ وَعْدًا عَلَيْنَا ؕ اِنَّا كُنَّا فٰعِلِيْنَ ﴿۱۰۴﴾

اول | پیدائش | (د هغه شان) مونږ به دوباره پیدائش او کړو | (دا) وعده ده | زمونږ په ذمه | بیشکه | مونږ یو | کونکی

(کائنات) پیدا کړی دی د غسے به ئے بیا دوباره پیدا کړو دا یو وعده ده چه پوره کول ئے زمونږ په ذمه دی یقیناً مونږ به دا کار کوو

وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُوْرِ مِنْۢ بَعْدِ الذِّكْرِ اَنَّ الْاَرْضَ

او یقیناً | مونږ لیکلی دی | په زبور کښ | وروسته | د ذکر نه | چه بیشکه | (دا) زمکه چه ده

او یقیناً مونږ په زبور کښ د نصیحت نه پس دا خبره لیکلے وه چه د زمکے وارثان به

يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصّٰلِحُوْنَ ﴿۱۰۵﴾ اِنَّ فِيْ هٰذَا لَبَلٰغًا

د دے مالکان به وی | بندګان زما | نیکان | بیشکه | په دے کښ | خامخا یو لوئے پیغام دے

صرف زما نیکان بنده ګان وی. یقیناً په دے تیر شوی مضمون کښ د عبادت کونکو دپاره پوره پیغام او کفایت

لِّقَوْمٍ عٰبِدِيْنَ ﴿۱۰۶﴾ۭ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۰۷﴾

دپاره د هغه خلقو | چه عبادت کونکی دی | او مونږ نه ئے لیږلے ته | مګر | رحمت | دپاره د مخلوق

پروت دے. او اے نبی! مونږ ته د ټول مخلوق دپاره رحمت را لیږلے ئے.

قُلْ اِنَّمَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ اَنَّمَآ اِلٰـهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ فَهَلْ

او وایه | چه بیشکه | وحی کیږی | ماته | هم دا چه بیشکه | معبود ستاسو | معبود دے | اِک یو | نو آیا

اے نبی! دے خلقو ته او وایه چه یقیناً ماته خو هم دا وحی کیږی چه ستاسو معبود اِک یو معبود دے نو آیا

اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۱۰۸﴾ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ اٰذَنْتُكُمْ عَلٰى سَوَآءٍ ؕ

تاسو | غاړه ایخودونکی یئ | پس که چرے | مخ واړوو دوی | نو او وایه | چه خبر کړی ما تاسو | برابر

تاسو خبره منئ؟ که بیا هم دوی مخ اړوی نو ورته او وایه چه ما (خو) تاسو ټول پوره پوره خبر کړی یئ.

وَاِنْ اَدْرِيْٓ اَقَرِيْبٌ اَمْ بَعِيْدٌ مَّا تُوْعَدُوْنَ ﴿۱۰۹﴾ اِنَّهٗ

او ماته پته نشته | چه آیا نزدے دی | یا لرے دی | هغه څه | چه تاسو سره ئے وعده کیږی | بیشکه هغه (الله)

او ماته دا پته نشته چه د کومے سزا تاسو سره وعده کیږی هغه را نزدے ده یا لرے. یقیناً الله تعالیٰ په زوره خبرو هم

يَعْلَمُ الْجَهْرَ مِنَ الْقَوْلِ وَيَعْلَمُ مَا تَكْتُمُونَ ﴿١١٠﴾ وَاِنْ اَدْرِيْ

پوهيږي | په ښکاره | خبره (وینا) | او پوهيږي | په هغه څه | چه تاسو ئې پټوئ | او ما ته پته نشته

پوهيږي او تاسو چه کومې خبرې پټې کوئ په هغې هم پوهيږي، او ما ته دا پته نشته کیدے شي چه دا (تاخیر د عذاب)

لَعَلَّهٗ فِتْنَةٌ لَّكُمْ وَمَتَاعٌ اِلٰى حِيْنٍ ﴿١١١﴾ قٰلَ رَبِّ احْكُمْ

کیدے شي چه دا | ازمیښت وي | ستاسو دپاره | او څه فګره اخستل وي | څه وخته پورے | او ویل (نبي) | اے زما ربه | فیصله او کړه

ستاسو دپاره یو ازمیښت او دیو خاص وخته پورے د مزو (خوند) اخستلو موقع وي. (اخیر کار پیغمبر او ویل چه اے زما ربه!

بِالْحَقِّ ؕ وَرَبُّنَا الرَّحْمٰنُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰى مَا تَصِفُوْنَ ﴿١١٢﴾ ع

په حقه | او زمونږ رب | ډیر مهربان دے | مدد غوښتلی کیږی ځني | په مقابله د هغه څه کښې | چه تاسو ئې بیانوئ

ته د حق فیصله او کړه، او زمونږ رب ډیر مهربان دے، او تاسو چه څه خبرې کوئ د هغې په برداشت کولو کښې هغه نه مدد غوښتلی شي

رکوعاتها [١٠]	سورة الحج مدنيّة	آياتها [٧٨]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم.

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمْ ۚ اِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ

اے | خلقوا | اوویریږئ | د رب خپل نه | بیشکه | زلزله | د قیامت | یو څیز دے

اے خلقو د خپل رب نه اوویریږئ . او یقین وکړئ چه د قیامت زلزله یوه

عَظِيْمٌ ﴿١﴾ يَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّاۤ

ډیر لوے (هیبتناک) | په هغه ورځ | چه او به وینئ تاسو هغې لره | چه غافله به شي | هره | پئ ور کونکے | د هغه چا (ماشوم) نه

لویه (هیبتناکه) حادثه ده. اے مخاطبه! په کومه ورځ چه دا زلزله تاسو اووینئ په هغه ورځ به هره پئ ور کونکے زنانه

اَرْضَعَتْ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى النَّاسَ

چه پئ (ورله) ور کوی هغه | او او به غورځوی | هره | حمله اره ښځه | حمل خپل لره | او وبه وینے ته | خلق

خپل د تی ماشوم هیر کړی او هره حامله زنانه به خپل حمل او غورځوی او ته به خلق وینے چه

سُكٰرٰى وَمَا هُمْ بِسُكٰرٰى وَلٰكِنَّ عَذَابَ اللّٰهِ شَدِيْدٌ ﴿٢﴾

نشه | او حال دا دے چه نه به وی هغوی | نشه | لیکن | عذاب | د الله | ډیر سخت دے

نشه نشه به وی حالانکه هغوی به نشه نه وی لیکن د الله تعالیٰ عذاب به ډیر سخت وی (لو دا حالت به ځکه وی)

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ فِى اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّيَتَّبِعُ

او بعضے د خلقو نه | هغه څوک دی | چه جګړه کوی | د الله په باره کښې | بغیر | د علم نه | او روان وی

او څه خلق داسے هم دی چه د الله تعالیٰ په توحید کښې بغیر د علم نه جګړے کوی او په هر

كُلَّ شَيۡطٰنٍ مَّرِيۡدٍۙ۝ كُتِبَ عَلَيۡهِ اَنَّهٗ مَنۡ تَوَلَّاهُ

په هر | يو شيطان | سر كش پسې | ليكلې شوې ده | په هغهٔ باندې | چه بيشكه | څوك چه | دوستي كوي ده سره

سر كش شيطان پسې روان وي او دَ دهٔ تابعدار و باره كښې دا مقرر شوې ده چه دَ دهٔ سره څوك هم دوستي كوي

فَاَنَّهٗ يُضِلُّهٗ وَيَهۡدِيۡهِ اِلٰى عَذَابِ السَّعِيۡرِ۝ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ

تو بيشكه دے | گمراه كوي هغهٔ لره | او بيائي هغهٔ ته لار | په طرف دعذاب | داور گرم (دوزخ) | اے خلقو!

نو دے به ے گمراه كوي او دگرم اور دعذاب طرف ته به ے ئې بوځي يعني حق تعالىٰ باري مستلزم ده گمراهي او جهنم لره ـ اے خلقو!

اِنۡ كُنۡتُمۡ فِىۡ رَيۡبٍ مِّنَ الۡبَعۡثِ فَاِنَّا خَلَقۡنٰكُمۡ

كه چرے | يئ تاسو | په شك كښے | د بيا ژوندون نه | نو بيشكه | مونږ پيدا كړي يئ تاسو

كه چرے ستاسو د دوباره ژوندون باره كښې شك وي نو په دے دليل كښې لږ سوچ او كړئ چه مونږ تاسو په اول ځل

مِّنۡ تُرَابٍ ثُمَّ مِنۡ نُّطۡفَةٍ ثُمَّ مِنۡ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِنۡ مُّضۡغَةٍ

د خاورے نه | بيا | د نطفے نه | بيا | د وينے ديوے ټكړے نه | بيا | د غوښے ديوے ټكړے نه

د خاورے نه پيدا كړئ بيا د يو څاڅكي اوبو (نطفے) نه بيا د وينے ديوے ټكړے نه بيا د غوښے ديو ټكړے نه

مُّخَلَّقَةٍ وَّغَيۡرِ مُخَلَّقَةٍ لِّنُبَيِّنَ لَكُمۡ ؕ وَنُقِرُّ فِى الۡاَرۡحَامِ

چه پوره اندامونو والا وي | او نيمګړي اندامونو والا هم وي | چه مونږ واضح كړو | تاسو ته | او مونږ ساتو | په رحمونو كښې

چه بعضے پوره اندامونو والا وي او بعضے پوره نه وي چه تاسو ته مونږ ستاسو حقيقت واضح كړو، او مونږ چه څومره وخت پورے

مَا نَشَآءُ اِلٰۤى اَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ نُخۡرِجُكُمۡ طِفۡلًا

څومره وخت | چه مونږ او غواړو | تر نيټے | مقرر ے پورے | بيا | راوباسو مونږ تاسو | ماشومان

غواړو نو پورے مقرر ے مودے پورے (تاسو) د ميندو په رحمونو كښې ساتو، بيا مونږ تاسو د ماشوم په شكل كښې راوباسو

ثُمَّ لِتَبۡلُغُوۡۤا اَشُدَّكُمۡ ۚ وَمِنۡكُمۡ مَّنۡ يُّتَوَفّٰى وَمِنۡكُمۡ

بيا (پالو تاسو) | چه ورسئ تاسو | خپلے ځوانئ ته | او بعضے ستاسو نه | هغه څوك دي | چه مړ شي | او بعضے ستاسو نه

بيا ستاسو پالنه كوو چه خپلے ځوانئ ته اورسيږئ او بعضے په تاسو كښې (د بوډا والي نه مخكښې) مړه شي. او بعضے

مَّنۡ يُّرَدُّ اِلٰۤى اَرۡذَلِ الۡعُمُرِ لِكَيۡلَا يَعۡلَمَ مِنۡۢ بَعۡدِ عِلۡمٍ

هغه څوك دي | چه واپس كړے شي | ډير سپك | عمر ته | (د ے د پاره) چه بيا نه پوهيږي | وروستو | د پوهے نه

په تاسو كښې بد ترين عمر ته او رسي نو انجام ئے دا شي چه پس د پوهے نه پس په هيڅ نه پوهيږي،

شَيۡـئًـا ؕ وَتَرَى الۡاَرۡضَ هَامِدَةً فَاِذَاۤ اَنۡزَلۡنَا عَلَيۡهَا

په هيڅ څيز باندے | او ته وينے | زمكه | او چه (كلكه) | پس هر كله | چه نازل كړو مونږ | په دے باندے

او ته وينے كورے چه زمكه اوچه مړه پرته وي نو بيا چه پرے مونږ كله باران

الۡمَآءَ اهۡتَزَّتۡ وَرَبَتۡ وَاَنۡۢبَتَتۡ مِنۡ كُلِّ زَوۡجٍۢ بَهِيۡجٍ۝

اوبه | نو (دا) او خوزيږي | او راوپړسيږي | او راوټوكوي | د هر قسم | بوټو | ښائسته (تازه) نه

راورَوو نو هغه حركت كښې راشي او راوپړسيږي (زرغونه شي) او هر قسم ښائسته شينكي (بوټے) راوټوكوي

ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ وَاَنَّهٗ يُحْيِ الْمَوْتٰى

دا(تول)ځکه | چه بیشکه | الله | هم هغه دے | حق | او(ځکه چه) بیشکه هم هغه په | ژوندي کوي | مړي

دا دوارہ خبرے دلیل دے په دے خبره چه موجود دالله یقیني دے او دلیل دے په دے خبره چه هم هغه به مړي ژوندي کوي

وَاَنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۙ﴿٦﴾ وَّاَنَّ السَّاعَةَ اٰتِيَةٌ

او(ځکه چه) بیشکه هغه | په هر یو | څیز باندے | قادر دے | او(ځکه چه) | قیامت | راتلونکے دے

او هم هغه په هر څیز پوره قدرت لری۔ او دا چه قیامت راتلونکے دے

لَّا رَيْبَ فِيْهَا ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ يَبْعَثُ مَنْ فِي الْقُبُوْرِ ﴿٧﴾

هیڅ شک نشته | په هغے کښ | او(ځکه چه) | الله به | راپاڅوي | هغه څوک | چه په قبرونو کښ دي

چه هیڅ شک پکښ نشته او دا چه الله تعالیٰ به هغه ټول خلق بیا راپاڅوي چه په قبرونو کښ دي.

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّلَا هُدًى

او بعضے د خلقو نه | هغه څوک دي | چه جګړه کوي | دالله په باره کښ | بغیر | دعلم نه | او بغیر د هدایت نه

او بعضے خلق داسے دي چه دالله تعالیٰ په باره کښ جګړے کوي حالانکه نه ورسره څه عقلي دلیل شته. او نه ورسره څه نقلي دلیل

وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِيْرٍ ۙ﴿٨﴾ ثَانِيَ عِطْفِهٖ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ

او بغیر د یو کتاب | روښانه نه | تاوونکے | د وے خپلے لره | چه ګمراه کړي(خلق) | د لارے د الله نه

شته او نه ورسره څه واضحه کتاب(دوي دلیل) شته دے په تکبر سره خپله غاړه تاووي چه خلق دالله تعالیٰ دلارے نه ګمراه کړي

لَهٗ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَّنُذِيْقُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَذَابَ

ده د پاره | په دنیا کښ | رسوائي ده | او او به څکوو مونږ ده ته | په ورځ | د قیامت | عذاب

دداسے کس دپاره په دنیا کښ هم رسوائي ده او د قیامت په ورځ به پرے مونږ د سوزونکي اور د عذاب خوند و څکوو

الْحَرِيْقِ ﴿٩﴾ ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ يَدٰكَ وَاَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ

د(اور) سوزونکي | دا | په وجه د هغه څه | چه مخکښ لیږلي دي | لاسونو ستا | او بیشکه | الله تعالیٰ | نه دے

(او ورته به وايو چه) دا ستا د هغه عملونو سزا ده چه تا په خپلو لاسونو مخکښ لیږلي وو او دا خبره یقیني ده چه الله تعالیٰ

بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿١٠﴾ ع وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّعْبُدُ اللّٰهَ

ظلم کونکے | په بندګانو باندے | او بعضے د خلقو نه | هغه څوک دے | چه عبادت کوي | د الله تعالیٰ

په خپلو بندګانو معمولي ظلم هم نه کوي. او بعضے خلق داسے (هم) دي چه د الله تعالیٰ عبادت

عَلٰى حَرْفٍ ۚ فَاِنْ اَصَابَهٗ خَيْرُ ۣاطْمَاَنَّ بِهٖ ۚ وَاِنْ اَصَابَتْهُ

په یوه غاړه(شک) باندے | پس که چیرے | اورسي ده ته | څه خیر | نو مطمئن شي | په هغے | او که چیرے | اورسي ده ته

په یوه غاړے کوي او پوره نه دا خلیږي نو چه کله ورته څه دنیوي فائده اورسي په هغے مطمئن شي او چه کله ورته څه

فِتْنَةُ ۨانْقَلَبَ عَلٰى وَجْهِهٖ ۚ خَسِرَ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةَ ؕ ذٰلِكَ

څه مصیبت | نو اُلټه او ګرځي | په مخ خپل باندے | تاواني کړه ده | دنیا | او آخرت | هم دا

مصیبت اورسي نو مخ اړوي او بیا د کفر طرف ته لاړ شي. داسے کس خپله دنیا هم برباد (تاواني) کړه ځکه چه بے اعتماده شو

هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِيْنُ ﴿١١﴾ يَدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا

دے تاوان | ښکاره | دے رابلي (دعا کوي) | د الله نه سوا | هغه څه

او آخرت هم (ځکه چه عملونه يې برباد شو) هم دا ښکاره تاوان دے. دے د الله تعالیٰ نه سوا داسې څوک رابلي چه نه ورته

لَا يَضُرُّهٗ وَمَا لَا يَنْفَعُهٗ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الضَّلٰلُ الْبَعِيْدُ ﴿١٢﴾

چه نقصان نه شي رسولے ورته | او هغه څه | چه فائده نه شي ور کولے ورته | هم دا | ده گمراهي | ډيره لرې (د حق نه)

څۀ نقصان رسولے شي او نه ورله څه فائده ورکولے شي، هم دا ډيره لويه گمراهي ده۔

يَدْعُوْا لَمَنْ ضَرُّهٗۤ اَقْرَبُ مِنْ نَّفْعِهٖ ؕ لَبِئْسَ الْمَوْلٰى

دے رابلي (امداد کوي) | هغه څوک | چه نقصان د هغه | زيات نزدے دے | د فائدے د هغه نه | خامخا ډير ناکاره | دوست دے هغه

دے (د الله تعالیٰ نه سوا) داسې څوک رابلي چه د (هغه (د رابللو) نقصان د هغه د فائدے نه زيات نزدے دے داسې مددگار

وَلَبِئْسَ الْعَشِيْرُ ﴿١٣﴾ اِنَّ اللّٰهَ يُدْخِلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

او خامخا ډير بد | ملگرے دے (هغه) | بيشکه | الله | داخلوي | هغه کسان | چه ايمان يې راوړے دے

(مقتدا) ډير ناکاره مددگار (مقتدا) دے او داسې ملگرے ډير بد ملگرے دے چا چه ايمان راوړے دے او نيک

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ؕ

او عملونه يې کړي دي | نيک | (دا به) جنتونو ته | چه بهيږي به | د هغې د لاندې | نهرونه

عملونه يې کړي دي. الله تعالیٰ به يقيناً هغوي داسې جنتونو (باغونو) ته داخل کړي چه د هغې د لاندې به نهرونه بهيږي.

اِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ ﴿١٤﴾ مَنْ كَانَ يَظُنُّ اَنْ لَّنْ يَّنْصُرَهُ

بيشکه | الله | کوي | هغه څه | چه غواړي (يې) | هغه څوک | چه کوي | گمان | چه هيڅ به نصرت نه کوي د هغه پيغمبر

يقيناً الله تعالیٰ چه څه غواړي هغه کوي. او د چا چه د پيغمبر سره دشمني پيدا شوې ده او د هغې دوجې دا تمنا کوي چه

اللّٰهُ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ اِلَى السَّمَآءِ

الله | په دنيا | او په آخرت کښې | پس او دې ور دے کړي | يوه رسۍ | آسمان ته

الله تعالیٰ به د خپل پيغمبر مدد په دنيا او آخرت کښې نه کوي نو هغه دې تر آسمانه پورې يوه پړې او غزوي بيا دې پړې

ثُمَّ لْيَقْطَعْ فَلْيَنْظُرْ هَلْ يُذْهِبَنَّ كَيْدُهٗ مَا يَغِيْظُ ﴿١٥﴾

بيا دے | پرې کړي | نو بيا دې او گوري | (چه) آيا | لرې به کړي | د ده دا چل | هغه څه | چه غصه کوي د هغه له

او خپل ځان ورته اوروي دے بند کړي او بيا دې او گوري چه آيا په دے تدبير سره د هغه مقصد حاصليږي (نا هيڅ که نه حاصليږي)

وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ يَهْدِيْ

او دغه شان | مونږ نازل کړے دے دا (قرآن) | آيتونه | ښکاره (واضحه) | او بيشکه | الله تعالیٰ | لار ښائي

او هم دغه شان مونږ دا قرآن د ښکاره نخښو په صورت کښې نازل کړے دے او الله تعالیٰ چه چا ته غواړي هدايت ورته کوي،

مَنْ يُّرِيْدُ ﴿١٦﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَادُوْا

هغه چا ته | چه اوي غواړي | بيشکه | هغه کسان | چه ايمان يې راوړے دے | او هغه کسان | چه يهوديان شوي دي

يقيناً چا چه ايمان راوړے دے او څوک چه يهوديان دي او څوک چه

وَالصَّابِئِينَ وَالنَّصٰرٰى وَالْمَجُوسَ وَالَّذِينَ اَشْرَكُوٓا ۖ اِنَّ

او دستورو عبادت کوونکي | او عیسائیان | او مجوس | او هغه کسان | چه شرک ئے کړے دے | بیشکه

دستورو عبادت کوونکي دي او څوک چه عیسائیان دي او څوک چه آتش پرست دي او څوک چه مشرکان دي،

اللّٰهَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ

الله به | فیصله کوي | د دوي په مینځ کښې | په ورځ | د قیامت | بیشکه | الله | په هر

الله تعالیٰ به د قیامت په ورځ د دے ټولو په مینځ کښې فیصله اوکړي. یقیناً الله تعالیٰ د هر څیز

شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴿١٧﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يَسْجُدُ لَهٗ مَنْ

څیز باندے | نظر لرونکے دے | آیا ته نه ګورے | چه بیشکه | الله | سجده کوي | ده ته | هغه څوک

نه خبر دے. آیا ته نه ئے خبر چه الله تعالیٰ ته هغه ټول مخلوق سجده کوي چه په آسمانونو کښې دي

فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ وَالنُّجُومُ

چه آسمانونو کښې دي | او هغه څوک | چه په زمکه کښې دي | او نمر | او سپوږمۍ | او ستوري

او په زمکه کښې دي او نمر، سپوږمۍ او ستوري

وَالْجِبَالُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَآبُّ وَكَثِيرٌ مِّنَ النَّاسِ ؕ وَكَثِيرٌ

او غرونه | او ونے | او ځناور | او ډیر | د خلقو نه | او ډیر خلق (داسے دي)

او غرونه او ونے او ځناروي او ډیر انسانان هم (هغه ته سجده کوي) او ډیر خلق داسے دي

حَقَّ عَلَيْهِ الْعَذَابُ ؕ وَمَنْ يُّهِنِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ

(چه) ثابت شوے دے | په هغه باندے | عذاب | او هغه څوک | چه سپک ئے کړي | الله | نو نشته | هغهٔ ته

چه د عذاب فیصله پرے شوے ده. او هغه څوک چه الله تعالیٰ ئے ذلیله کړي نو هغه له څوک

مِنْ مُّكْرِمٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ﴿١٨﴾ ۩ هٰذٰنِ خَصْمٰنِ

څوک عزت ورکوونکے | بیشکه | الله | کوي | هغه څه | چه غواړي (ئے) | دا دوه ډلے دي | جګړه کوونکي

عزت ورکوونکے نشته یقیناً الله تعالیٰ چه څه غواړي هغه کوي. دا (مؤمنان او کافران) دوه (جګړه کوونکي) ډلے دي

اخْتَصَمُوا فِي رَبِّهِمْ ؗ فَالَّذِينَ كَفَرُوا قُطِّعَتْ لَهُمْ

چه جګړه کوي خوي | د خپل رب په باره کښې | پس هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | جوړ وے به شي | دوي د پاره

چه د خپل رب په باره کښې د یو بل سره اختلاف (جګړه) کوي (او س فیصله به داسے وي چه) کوم خلق کافران دي

ثِيَابٌ مِّنْ نَّارٍ ؕ يُصَبُّ مِنْ فَوْقِ رُءُوسِهِمُ الْحَمِيمُ ﴿١٩﴾

جامے (جوړے شوے) | د اور نه | اچولے به شي | د پاسه | د سرونو د دوي | ایشیدلے اوبه

لو د هغوي د پاره به د اور نه جامے جوړے کړے شي او سرونو د پاسه به ئے خوټکیدلے کړے اوبه ورتویولے شي

يُصْهَرُ بِهٖ مَا فِي بُطُونِهِمْ وَالْجُلُودُ ﴿٢٠﴾ ؕ وَلَهُمْ مَّقَامِعُ

چه ویلی کولے به شي | په هغے سره | هغه څه | چه کوي په ګیډو کښې دي | او څرمنے (هم) | او د دوي د پاره | ګرزونه دي

چه په هغے سره به د دوي د خیټو دننه کولمے او د دوي څرمنے ویلی کولے شي. او د دوي (د وهلو) د پاره به

مِنْ حَدِيْدٍ ۝ كُلَّمَآ اَرَادُوْٓا اَنْ يَّخْرُجُوْا مِنْهَا مِنْ غَمٍّ

د اوسپنے | هر كله | چه اراده اوكړي | چه | اوځي | د هغے نه | د غم د وجے نه

داوسپنے ګرزونه موجود وي. كله هم چه د تكليف د وجے دوي په د دوزخ نه د بهر وتلو اراده اوكړي

اُعِيْدُوْا فِيْهَا ۗ وَذُوْقُوْا عَذَابَ الْحَرِيْقِ ۝ اِنَّ اللّٰهَ يُدْخِلُ

نو واپس كولے به شي | په هغے كښ | او اوڅكئ | عذاب | د اور سوزونكي | بيشكه | الله | داخلوي

لو واپس به هغے ته وردېكه كولے شي (او ورته به وئيلي شي چه) د سوزونكي اور عذاب اوڅكئ. بل طرف ته چا چه

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ

هغه خلق | چه ايمان ئے راوړے دے | او عملونه ئے كړي دي | نيك | داسے جنتونو ته | چه بهيږي به

ايمان راوړے دے او نيك عملونه ئے كړي دي الله تعالىٰ به هغوي داسے جنتونو (باغونو) ته داخل كړي چه د هغے

مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ يُحَلَّوْنَ فِيْهَا مِنْ اَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ

لاندے د هغے نه | نهرونه | اچولے به شي دوي ته | په هغے كښ | د بنګړو | د سرو زرو نه

د اونو او د بنګلو لاندے به نهرونه بهيږي (چه) هلته به ورته د سرو زرو بنګړي (ياهوكان) او ملغلرے اچولے شي

وَّلُؤْلُؤًا ۭ وَلِبَاسُهُمْ فِيْهَا حَرِيْرٌ ۝ وَهُدُوْٓا اِلَى الطَّيِّبِ

او ملغلرے | او جامے به د دوي | په هغے كښ | ريښم وي | او لار ښودلے شوے وه دوي ته | د پاكے

او هلته به د دوي جامے د ريښمو وي. او (د دے وجه داده چه) دوي ته (په دنيا كښ) د كلمے د توحيد لار ښودلے شوے وه

مِنَ الْقَوْلِ ۚ وَهُدُوْٓا اِلٰى صِرَاطِ الْحَمِيْدِ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ

خبرے | او هدايت ور كړے شوے وو دوي ته | په طرف د لارے | د ستائيلي شوي ذات | بيشكه | هغه خلق

او هغه الله تعالىٰ د قرآن طرف ته رسيدلي وو چه هغه د هر تعريف مستحق دے. يقيناً هغه خلق د سزا لائق دي

كَفَرُوْا وَيَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ

چه كفر ئے كړے دے | او منع كوي (خلق) | د الله د لارے نه | او د مسجد | حرام نه

چه كفر ئے كړے دے او د الله تعالىٰ د لارے نه او د هغه مسجد حرام نه خلق منع كوي چه هغه مونږ د ټولو خلقو د پاره

الَّذِيْ جَعَلْنٰهُ لِلنَّاسِ سَوَآءَ ۨ الْعَاكِفُ فِيْهِ وَالْبَادِ ۭ

كوم چه | جوړ كړے دے مونږ | د خلقو د پاره | برابر دي | او سيدونكي | په هغے كښ | او مسافر (د بهر نه راتلونكي)

داسے جوړ كړے دے چه په هغے كښ د هغے اوسيدونكي او د بهر نه راتلونكي (مسافر) برابر دي (لو د غه خلق تباه شو)

وَمَنْ يُّرِدْ فِيْهِ بِاِلْحَادٍۭ بِظُلْمٍ نُّذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ۝

او څوك | چه غواړي | په هغے كښ | بے دينئ | په ظلم سره | لو او به څكو مونږ هغه | د عذاب | دردناك نه

او څوك چه په دے كښ په ظلم سره د بے دينئ اراده اوكړي لو هغه ته به مونږ د دردناك عذاب مزه ور كړو

وَاِذْ بَوَّاْنَا لِاِبْرٰهِيْمَ مَكَانَ الْبَيْتِ اَنْ لَّا تُشْرِكْ بِيْ

او كله چه | مونږ ځائ ور كړو | ابراهيم ته | ځائ | په بيت الله كښ | چه شريك مه جوړوه | زما سره

او هغه وخت ياد كړه كله چه مونږ ابراهيم ته د دے كور (خانه كعبے) ځائ وښودلو (او ورته مو حكم اوكړو چه) چه زما سره

شَيْـًٔا وَّطَهِّرْ بَيْتِيَ لِلطَّآئِفِيْنَ وَالْقَآئِمِيْنَ وَالرُّكَّعِ
هیڅ یو څیز | او پاک ساته | زما کور | د طواف کونکو دپاره | او د قیام کونکو | او د رکوع کونکو
هیڅ څوک شریک مه جوړوه او زما کور د هغه خلقو دپاره پاک ساته چه دلته طواف کوي او قیام کوي
السُّجُوْدِ ۝ وَاَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَاْتُوْكَ رِجَالًا
او سجده کونکو دپاره | او اعلان وکړه | په خلقو کښې | د حج | (نو دوی به راځي تاته | پیدل
او رکوع او سجدے کوي. او په خلقو کښې د حج اعلان اوکړه نو هغوی به درله پیدل هم راځي
وَّعَلٰى كُلِّ ضَامِرٍ يَّاْتِيْنَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيْقٍ ۝
او په هره یوه | مانده سورلۍ باندے | چه راځي به | د هرے | لارے | لرے نه
او تیو تیز رفتاره اوښانو باندے سواره هم چه په لویو غریزو او په اوږدو لارو به ځان را رسوي
لِّيَشْهَدُوْا مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ فِيْٓ اَيَّامٍ
چه دوی حاضر شي | فائدو | خپلو ته | او یاد کړي دوی | نوم | د الله | په ورځو
دے دپاره چه دوی خپلو فائدو ته حاضر شي او په معلوم (مقررو) ورځو کښې د الله تعالیٰ نوم
مَّعْلُوْمٰتٍ عَلٰى مَا رَزَقَهُمْ مِّنْۢ بَهِيْمَةِ الْاَنْعَامِ ۚ فَكُلُوْا
معلومو کښې | په هغه څه | چه ورکړی دی الله دوی ته | د چارپایانو | د څاروو نه | پس خورئ
په هغه څاروو واخلي چه الله تعالیٰ ورله ورکړي دي، نو اے مسلمانانو! پخپله هم د هغے نه خورئ
مِنْهَا وَاَطْعِمُوا الْبَآئِسَ الْفَقِيْرَ ۝ ثُمَّ لْيَقْضُوْا تَفَثَهُمْ
د دے نه | او خوراک ورکوئ | مصیبت وهلي | محتاج ته | بیا دے | لرے کړي دوی | خیری خپل
او په تنګسته محتاجانو باندے هم خورئ. بیا حاجیانو له پکار دي چه خپل خیری لرے کړي
وَلْيُوْفُوْا نُذُوْرَهُمْ وَلْيَطَّوَّفُوْا بِالْبَيْتِ الْعَتِيْقِ ۝ ذٰلِكَ ۚ
او پوره دے کړي | نذرونه خپل | او طواف دے اوکړي | د کور | پخوانی | دا (یاد لرئ)
او خپل نذرونه پوره کړي او د دے زوړ کور (خانه کعبه) طواف دے اوکړي، دا خبرے یاد ساتئ
وَمَنْ يُّعَظِّمْ حُرُمٰتِ اللّٰهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَّهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ ۗ
او څوک چه | تعظیم اوکړي | د حرمتونو (د شعائرو) | د الله | نو دا | ډیر ښه ده | د هغه دپاره | په نزد | د رب خپل
او څوک چه د هغه څیزونو تعظیم کوي چه الله تعالیٰ ورله عزت ورکړے دے نو دا عمل به د هغه د رب په نزد د هغه دپاره ډیر بهتر وي
وَاُحِلَّتْ لَكُمُ الْاَنْعَامُ اِلَّا مَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ
او حلال کړے شوي دي | ستاسو دپاره | څاروي (ټول) | سوا | د هغے نه | چه لوستل شي | په تاسو باندے
او ستاسو دپاره ټول څاروي حلال کړے شوي دي سوا د هغے نه چه د هغے حرمت تاسو ته بیان شوے دے
فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْاَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوْا قَوْلَ الزُّوْرِ ۝
پس ځان بچ کړئ تاسو | د پلیتۍ | د بتانو نه | او ځان اوساتئ | د دروغو نه
نو د بتانو (د غیر الله) د ګندګۍ نه ځان بچ کړئ او د دروغو خبرو نه هم ځان دا سے بچ ساتئ چه تاسو

حُنَفَآءَ لِلّٰهِ غَيْرَ مُشْرِكِيْنَ بِهٖ ؕ وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ

مائله اوسیږئ | الله ته | چه نه ئے شریکولکی | دهغه سره | او هغه څوک | چه شرک اوکړي | دالله سره

الله تعالیٰ ته یو مخیزي شئ (او) دهغه سره هیڅ څوک مه شریکوئ، او چا چه د الله تعالیٰ سره شرک اوکړو

فَكَاَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَآءِ فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ اَوْ تَهْوِيْ بِهِ

نو ګویا چه | هغه راپرېوتو | د آسمان نه | نو اوتښتوو هغه لره | مارغانو | یا راوغورځوو | هغه لره

نو هغه داسې دے لکه چه د اسمان نه راپرېوتلو بیا خو یا مارغانو په فضاء کښې اوتختولو

الرِّيْحُ فِيْ مَكَانٍ سَحِيْقٍ ۝ ذٰلِكَ ۗ وَمَنْ يُّعَظِّمْ شَعَآئِرَ

هوا | په یو ځائے | ډېر لرې کښې | دا ده اصل خبره | او څوک | چه تعظیم کوي | د نخښو

یا هوا چرته لرې یو ورځائ کښې اوغورځولو. دا ټولے خبرے یادساتئ او څوک چه د الله تعالیٰ د دین د نخښو تعظیم کوي

اللّٰهِ فَاِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوْبِ ۝ لَكُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ

دالله (ددین) | نو بیشکه داده | د پرهیز ګارۍ | د زړونو نه | ستاسو دپاره دي | په دے کښې | فائدے

نو دا حقیقي تقوی ده ځکه ددے تقوی تعلق د زړه سره دے. تاسوله ددے څاروونه یو مقرر وخته پورے (یعني یوم النحر پورے)

اِلٰۤى اَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ مَحِلُّهَاۤ اِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيْقِ ۝ ع

تر نیټے | مقررے پورے | بیا | ددے د ذبح کولو ځائ | د کور | پخوانی سره دے

دفائدو اغستلو حق حاصل دے بیا ددے د حلالولو ځائ د زوړ کور (بیت الله) په خوا کښې مقرر دے (چه ټول حرم دے)

وَلِكُلِّ اُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا لِّيَذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلٰى مَا

او دهر یو | امت دپاره | مونږ مقرر کړے ده | قربانی | چه هغوی یاد کړي | نوم | د الله | په هغه څه

او په مِنیٰ کښې ذبحه افضل ده) او مونږ د هر امت دپاره قربانی په دے غرض مقرر کړے وه چه کوم څاروي هغوی ته

رَزَقَهُمْ مِّنْۢ بَهِيْمَةِ الْاَنْعَامِ ؕ فَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ

چه هغۀ ورکړي دي دوی ته | د چارپایانو | د څاروو نه | پس معبود ستاسو | معبود دے | اِک یو

الله تعالیٰ ورکړي دي په هغے د الله تعالیٰ نوم واخلي ځکه چه ستاسو د ټولو معبود دلس اِک یو معبود دے لو هم دهغه تابعدار اوسئ

فَلَهٗۤ اَسْلِمُوْا ؕ وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِيْنَ ۝ الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ

نو خاص هغه ته | غاړه کیږدئ | او زیرے ورکړه | عاجزي کوونکو ته | هغه کسان | چه کله | یاد کړے شي | الله

او زیری ورکړه هغه خلقو ته چه الله تعالیٰ ته عاجزي کوي. او حالت ئے دا دے چه کله د هغوی مخے ته د الله تعالیٰ ذکر اوشي

وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ وَالصّٰبِرِيْنَ عَلٰى مَاۤ اَصَابَهُمْ وَالْمُقِيْمِي

لو یریږي | زړونه دهغوی | او صبر کوونکي وي | په هغه څه | چه هغوی ته اورسیږي | او پابندي کوونکي وي

نو د هغوی زړونه په یریدو شي او کله چه ورته مصیبت اورسي نو په هغے باندے صبر کوي، او د مونځونو

الصَّلٰوةِ ۙ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ۝ وَالْبُدْنَ جَعَلْنٰهَا

د مانځه | او دهغه څه نه | چه مونږ هغوی ته ورکړي دي | خرچ کوي | او غټ څاروي (اوښان) | جوړ کړي دي مونږ هغه

پابندي کوي، او څه چه ورله مونږ ورکړي دي د هغے نه د الله تعالیٰ په لار کښې خرچ کوي او د قربانۍ غټ څاروي (اوښان)

لَكُمْ مِّنْ شَعَآئِرِ اللّٰهِ لَكُمْ فِيْهَا خَيْرٌ ۖ فَاذْكُرُوا

ستاسو دپاره | د نخښو | دالله (ددين) نه | ستاسو دپاره | په هغے کښ | ډير خير دے | پس ياد کړئ

مونږ ستاسو دپاره دالله تعالیٰ ددين په نخښو کښ شامل کړي دي چه په کښ ستاسو ډير ے فائدے (هم) دي. نو کله چه

اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهَا صَوَآفَّ ۚ فَاِذَا وَجَبَتْ جُنُوْبُهَا

نوم | دالله | په هغے باندے | په قطار کښ چه ولاړ وي په قطار | پس کله چه | اوغورځيږي | په اړخونو

دغه څاروي دقربانۍ دپاره په قطار کښ ولاړ وي نو دالله تعالیٰ نوم پرے واخلئ بيا چه کله په خپلو اړخونو (په زمکه باندے) پريوځي

فَكُلُوْا مِنْهَا وَاَطْعِمُوا الْقَانِعَ وَالْمُعْتَرَّ ۚ كَذٰلِكَ سَخَّرْنٰهَا

نو خورئ | دهغے نه | او خوراک ور کوئ | قناعت کونکي فقير ته | او غوښتونکي فقير ته | دغه شان | تابع کړي دي مونږ دا (څاروي)

نو دهغے غوښے په خپله هم خورئ او صبر کونکو او د سوال دپاره بار بار پېښ کيدونکو او غوښتونکو فقيرانو باندے ئے هم

لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿٣٦﴾ لَنْ يَّنَالَ اللّٰهَ لُحُوْمُهَا وَلَا دِمَآؤُهَا

ستاسو دپاره | دے دپاره چه تاسو | شکر گزار شئ | هيڅ کله نه رسي | الله ته | غوښے دد ے | او نه وينے دد ے

اوخوروئ. او دا څاروي مونږ هم دغه شان ستاسو تابع جوړ کړي دي چه تاسو شکر گزار شئ. الله تعالیٰ ته خو نه ددے څاروو غوښے

وَلٰكِنْ يَّنَالُهُ التَّقْوٰى مِنْكُمْ ۚ كَذٰلِكَ سَخَّرَهَا لَكُمْ

ليکن | رسي هغه ته | تقوىٰ | ستاسو نه | دغه شان | تابع کړي دي هغه دا څاروي | ستاسو دپاره

رسي او نه ئے وينے رسي بلکه هغه ته خو صرف ستاسو تقوىٰ (اخلاص) رسيږي، هغه دا څاروي دغه شان ستاسو تابع کړي دي

لِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ ۚ وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٣٧﴾

چه تاسو لوئي بيان کړئ | دالله | په هغه طريقه | چه ښودلے ده تاسو ته | او زيرے ورکړه | نيکانو ته

چه تاسو دهغه لوئي بيان کړئ په هغه طريقه چه هغه در ته ښودلے ده او د غسے نيکانو ته زيرے ورکړه.

اِنَّ اللّٰهَ يُدٰفِعُ عَنِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۚ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ

بيشکه | الله | اړوي (کافران) | د هغه خلقو نه | چه ايمان ئے راوړے دے | بيشکه | الله | نهٔ خوښوي

يقيناً الله تعالیٰ دهغه خلقو نه دښمنان لرے کوي (دفع کوي) چه ايمان ئے راوړے دے. يقيناً الله تعالیٰ هيڅ يو خيانت گر

ع كُلَّ خَوَّانٍ كَفُوْرٍ ﴿٣٨﴾ اُذِنَ لِلَّذِيْنَ يُقٰتَلُوْنَ بِاَنَّهُمْ

هر | خيانتگر | ناشکره | اجازت ورکړے شو | هغه خلقو ته | چه جنگ ورسره کيږي | ځکه چه په هغوي ظلم باندے

او ناشکره سره مينه نه کوي. کوم مسلمانانو سره چه جنگ کيږي هغوي ته د خپلے دفاع کولو اجازت ملاو شو ځکه چه

ظُلِمُوْا ۚ وَاِنَّ اللّٰهَ عَلٰى نَصْرِهِمْ لَقَدِيْرُ ﴿٣٩﴾ الَّذِيْنَ اُخْرِجُوْا

ظلم شوے دے | او بيشکه | الله تعالیٰ | د دوي په مدد کولو | خامخا قادر دے | هغه خلق | چه ويستلي شوي دي

په هغوي باندے ظلم شوے دے، او يقين او کړئ چه الله تعالیٰ د دوي په مدد کولو پوره قدرت لري. دا هغه خلق دي

مِنْ دِيَارِهِمْ بِغَيْرِ حَقٍّ اِلَّآ اَنْ يَّقُوْلُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ۚ

د کورونو خپلو نه | په ناحقه | صرف په دے | چه دوي وائي | چه رب زمونږ | الله دے

چه صرف په دومره خبره د خپلو کورونو نه په ناحقه وويستلي شو چه دا به ئے ويل چه زمونږ رب (يواځے) الله تعالیٰ دے

وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ

او كه چیرے نه دفع كولے | الله | خلقو لره | بعضے دهغوی لره | په بعضو سره | نو خامخا به نړولی شوی وے

او كه چیرے الله تعالیٰ د خلقو دیوے ډلے شر دبلے ډلے په ذریعه نه لرے كولے لو خانقاه گانے

صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَّصَلَوٰتٌ وَّمَسٰجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللّٰهِ

خلوت خانے | او گرجے | او عبادت خانے | او جوماتونه | چه یادولے شی | په هغے كښې | نوم | د الله

كلیسے او عبادت خانے او جماتونه چه د الله تعالیٰ نوم پكښې ډیر یادیږی دا ټول به وران شوی وو

كَثِيرًا ۗ وَلَيَنْصُرَنَّ اللّٰهُ مَنْ يَّنْصُرُهٗ ۗ اِنَّ اللّٰهَ لَقَوِيٌّ

ډیر (ډیر) | او خامخا مدد به كوی | الله | دهغه چا | چا مدد كوی دهغه (ددین) | بیشكه | الله | خامخا ډیر قوت والا

او الله تعالیٰ به خامخا د هغه چا مدد كوی څوك چه د الله تعالیٰ د دین مدد كوی. یقیناً الله تعالیٰ پوره طاقتور

عَزِيزٌ ۝ اَلَّذِينَ اِنْ مَّكَّنّٰهُمْ فِي الْاَرْضِ اَقَامُوا الصَّلٰوةَ

غالب دے | هغه خلق | كه چیرے | طاقتور كړو مونږ هغوی ته | په زمكه كښې | نو پابندی به كوی | د مانځه

او زورور ذات دے. دا مؤمنان داسے خلق دی كه چیرے مونږ دوی ته په زمكه كښې څه اقتدار (حكومت) وركړو

وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ وَاَمَرُوْا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ ۗ

او وركوی به | زكات | او حكم به كوی | د نیكۍ | او منع به كوی | د بدۍ نه

نو د مانځه پابندی به كوی او زكات به وركوی او د نیكۍ حكم به كوی او د بدۍ نه به خلق منع كوی

وَلِلّٰهِ عَاقِبَةُ الْاُمُورِ ۝ وَاِنْ يُّكَذِّبُوكَ فَقَدْ كَذَّبَتْ

او خاص الله لره دے | انجام | د ټولو كارونو | او كه چیرے | دوی دروغژن گڼری تا | نو یقیناً | دروغژن گڼرلی وو (پیغمبران)

او د ټولو كارونو انجام د الله تعالیٰ په قبضه كښې دے. او (اے نبی) كه دا خلق تا دروغژن گڼری لو تاته مه خفه كیږه ځكه چه

قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَّعَادٌ وَّثَمُودُ ۝ وَقَوْمُ اِبْرٰهِيمَ وَقَوْمُ

د دوی نه مخكښې | قوم | د نوحؑ | او عاد | او ثمود | او قوم | د ابراهیمؑ | او قوم

د دوی نه مخكښې هم د نوح علیه السلام قوم او عادیانو او ثمودیانو او د ابراهیم علیه السلام قوم او د لوط علیه السلام

لُوطٍ ۝ وَّاَصْحٰبُ مَدْيَنَ ۚ وَكُذِّبَ مُوسٰى فَاَمْلَيْتُ

د لوطؑ | او مدین والو | او دروغژن گڼرلے شوے وو | موسیٰ | پس ما مهلت وركړو

قوم او مدین والو هم خپل خپل پیغمبران دروغژن گڼرلی وو. او موسیٰؑ هم دروغژن گڼرلے شوے وو

لِلْكٰفِرِينَ ثُمَّ اَخَذْتُهُمْ ۚ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ۝ فَكَاَيِّنْ

كافرانو ته | بیا ما | اونیول دوی | پس څنگه | وو | عذاب زما | پس ډیر

خو ما كافرانو ته لږ مهلت وركړو او بیا مے را اونیول لو او گوره چه زما عذاب څنگه وو؟ او ډیر كلی

مِّنْ قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ فَهِيَ خَاوِيَةٌ

د كلو نه | هلاك كړی دی مونږ هغه | او حال دا دے چه هغه وو | ظلم كوونكی | نو هغه | رالړیدلی دی

داسے وو چه كله هغوی ظلم كولو لو مونږ هلاك كړل لو د هغوی كورونه په چتونو پړ مخے پراته دی

عَلٰى عُرُوْشِهَا وَبِئْرٍ مُّعَطَّلَةٍ وَّقَصْرٍ مَّشِيْدٍ ﴿٤٥﴾ اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا

په خپلو چتونو | او (ډیر) کوهیان | شاړ شوي | او ډیرے بنګلے | پخے (هم) | آیا لو دوی نه دي ګرځیدلی

او (دغه شان) ډیر بیکاره کوهیان او ډیرے لوړے ماڼۍ وران پراته دي۔ نو آیا دا خلق

فِى الْاَرْضِ فَتَكُوْنَ لَهُمْ قُلُوْبٌ يَّعْقِلُوْنَ بِهَآ اَوْ اٰذَانٌ

په زمکه کښې | چه شي | (دوي دپاره) | دا سے زړونه | چه پوهیدے لے | په هغے سره | یا (دا سے) غوږونه

په زمکه کښې ګرځیدلی نه دي چه د دوی زړونه دا سے شوي وی چه په هغے ئے پوهه اغستلے یا ئے

يَّسْمَعُوْنَ بِهَا ۚ فَاِنَّهَا لَا تَعْمَى الْاَبْصَارُ وَلٰكِنْ تَعْمَى

چه اوریدل ئے | په هغے سره | پس بیشکه | نه دي ړندے | سترګے (د دوی) | لیکن | ړانده دي

غوږونه دا سے وے چه حق ئے پرے اوریدل حقیقت دا دے چه د دوی سترګے ړندے نه دي بلکه هغه

الْقُلُوْبُ الَّتِىْ فِى الصُّدُوْرِ ﴿٤٦﴾ وَيَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالْعَذَابِ

زړونه | هغه | چه سینو کښې دي | او دوی زر غواړي ستانه | عذاب

زړونه ئے ړانده دي چه په سینو کښې دي، او دوی تا نه عذاب زر غواړي حالانکه الله تعالٰی

وَلَنْ يُّخْلِفَ اللّٰهُ وَعْدَهٗ ؕ وَاِنَّ يَوْمًا عِنْدَ رَبِّكَ كَاَلْفِ

او هیڅ کله به خلاف اونه کړي | الله | د وعدے خپلے نه | او بیشکه | یوه ورځ | ستا د رب په نزد | په شان د زرو

د خپلے وعدے خلاف ورزي هیڅ کله نه کوي، او یقین او کړئ چه ستا د رب د حساب یوه ورځ ستاسو د شمار مطابق

سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّوْنَ ﴿٤٧﴾ وَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ اَمْلَيْتُ لَهَا

کالو ده | د هغه (کالو) نه | چه تاسو ئے شمارئ | او ډیر | کلي (دا سے) دي | چه ما مهلت ورکړے وو | هغوي ته

د زرو کالو سره برابره ده ، او ډیر کلي دا سے وو چه ما ورله مهلت ورکړے وو

وَهِىَ ظَالِمَةٌ ثُمَّ اَخَذْتُهَا ۚ وَاِلَىَّ الْمَصِيْرُ ﴿٤٨﴾ قُلْ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ ع

او هغوي | ظالمان وو | بیا | ما اونیول هغوي | او خاص ماته | واپس راتلل دي | او وایه! | اے خلقو!

او هغوي ظلم کولو خو بیا مے راونیول او ټول به آخر ماته واپس راځي، اے نبی! او وایه چه اے خلقو!

اِنَّمَآ اَنَا لَكُمْ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٤٩﴾ فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

بیشکه | زه (خو) | ستاسو دپاره | یرونکی یم | ښکاره | پس هغه خلق | چه ایمان ئے لوړے دے | او عملونه ئے کړي دي

زه خو ستاسو دپاره صفا صفا یرونکی یم. پس چا چه ایمان راوړے دے او نیک عملونه ئے کړي دي

الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ﴿٥٠﴾ وَالَّذِيْنَ سَعَوْا

نیک | د هغوي دپاره دے | مغفرت | او رزق | عزتمند | او هغه خلق | چه کوشش ئے کړے دے

نو د هغوي دپاره مغفرت او عزتمند رزق مقرر دے او کوم خلق چه زمونږ د آیتونو د عاجزه کولو

فِىْۤ اٰيٰتِنَا مُعٰجِزِيْنَ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ﴿٥١﴾ وَمَآ اَرْسَلْنَا

زمونږ په آیتونو کښې | عاجزه کولو کښې لره | نو دغه خلق دي | دوزخ والا | او نه دے لیږلے مونږ

(کمزوري ښکاره کولو) دپاره منډے تړے وهي (کوشش کوي) نو هم دغه خلق دوزخیان دي، او (اے نبی!)

مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ وَّلَا نَبِيٍّ اِلَّآ اِذَا تَمَنّٰٓى اَلْقَى

ستا له مخکښې | يو رسول | او نه يو نبي | مګر | کله به | چه بيان کولو هغه | نو وسوسے به اچولے

ستا له مخکښې چه کله هم مونږ يو رسول يا يو نبي ليږلے دے (نو هغه سره دا شوي دي) چه هغه به کله بيان کولو

الشَّيْطٰنُ فِيْٓ اُمْنِيَّتِهٖ ۚ فَيَنْسَخُ اللّٰهُ مَا يُلْقِي الشَّيْطٰنُ

شيطان | د هغه ديبان په وخت کښې | نو لرے به کړے | الله | هغه (وسوسے) چه اچولے | شيطان

نو شيطان به د هغه ديبان په حوران کښې د خلقو په زړونو کښې وسوسے اچولے خو بيا به الله تعالیٰ د شيطان هغه اچولې شوے وسوسے لرې

ثُمَّ يُحْكِمُ اللّٰهُ اٰيٰتِهٖ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝۵۲ۙ لِّيَجْعَلَ

بيا | مضبوط به کړل | الله | خپل آيتونه | او الله | ښه پوهه | ښه حکمت والا دی | دے دپاره چه الله او ګرځوي

په ذريعه ختمے کړے او خپل آيتونه به ئے په دليلونو سره مضبوط کړل، او الله تعالیٰ ښه پوهه او لوئے حکمت والا ذات دے

مَا يُلْقِي الشَّيْطٰنُ فِتْنَةً لِّلَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ

هغه څه | چه اچوي ئے | شيطان | يو ازميښت | د هغه خلقو دپاره | چه په زړونو د هغوي کښې | مرض دے

او دا تسلط د وسوسو شيطان ته الله ځکه ور کړے دے چه دا وسوسے د هغه خلقو دپاره يو ازميښت جوړ کړي د چا په زړونو کښې

وَّالْقَاسِيَةِ قُلُوْبُهُمْ ۭ وَاِنَّ الظّٰلِمِيْنَ لَفِيْ شِقَاقٍۢ بَعِيْدٍ ۝۵۳ۙ

او (د هغه خلقو دپاره چه) سخت دي | زړونه د هغوي | او بيشکه | ظالمان | خامخا دي په ضد کښې | ډير لرے د حق نه

چه مرض د نفاق دے او زړونه ئے په کفر کښې سخت دي او يقيناً ظالمان په مخالفت کښې د حق نه ډير لرے پراته دي

وَّلِيَعْلَمَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ اَنَّهُ الْحَقُّ

او دے دپاره چه پوهه شي | هغه خلق | چه ور کړے شوے دے هغوي ته | علم | چه بيشکه دا (خو) | حق دے

او الله تعالیٰ دا وسوسے ځکه لرے کوي چه پوهه خلق په دے يقين وکړي چه دا کلام ستا د رب د طرف نه

مِنْ رَّبِّكَ فَيُؤْمِنُوْا بِهٖ فَتُخْبِتَ لَهٗ قُلُوْبُهُمْ ۭ وَاِنَّ

ستا د رب د طرف نه | نو ايمان به راوړي | په دے باندے | بيا به ښه نرم شي | هغے ته | زړونه د هغوي | او بيشکه

حق دے نو هغوي به پرے ايمان راوړي او زړونه به ئے الله ته ټيټ (عاجزه) شي

اللّٰهَ لَهَادِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝۵۴

الله | خامخا هدايت کونکے دے | هغه خلقو ته | چه ايمان ئے راوړے دے | په طرف د لارے | نيغے

او يقين وکړئ چه الله تعالیٰ ايمان والو ته د نيغے لارے توفيق ورکوي.

وَلَا يَزَالُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْهُ حَتّٰى تَاْتِيَهُمُ

او هميشه به وي | هغه خلق | چه کفر ئے کړے دے | په شک کښې | د دے نه | تر دے | چه راشي دوي ته

او کافران به هميشه د دے قرآن په باره کښې په شک کښې پراته وي تر دے چه يا خو پرے

السَّاعَةُ بَغْتَةً اَوْ يَاْتِيَهُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَقِيْمٍ ۝۵۵ اَلْمُلْكُ

قيامت | ناڅاپه | يا راشي دوي ته | عذاب | د ورځے | شنډ دے (بے خيره دے) | بادشاهي به

قيامت سمدستي راشي يا پرے د بے خيرئ (بے برکته) ورځے عذاب راشي. په دغه ورځ به بادشاهي

يَوْمَئِذٍ لِّلّٰهِ ۭ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ ۭ فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

په دغه ورځ | یوا ځې د الله وی | هغه به فیصله کوی | د دوی په مینځ کښې | پس هغه خلق | چه ایمان ئے راوړے دے

صرف د الله وی هغه به د دوی په مینځ کښې فیصله کوی نو چا چه ایمان راوړے دے

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿٥٦﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا

او عملونه ئے کړی دی | نیک | (هغوی به وی په) جنتونو | د نعمت کښې | او هغه خلق | چه کفر ئے کړے دے

او نیک عملونه ئے کړی دی هغوی به د نعمتونو په باغونو کښې وی. او چا چه کفر کړے دے

وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا فَاُولٰۗىِٕكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿٥٧﴾ وَالَّذِيْنَ ع

او دروغ ئے ګڼړلی دی | آیتونه زمونږ | نو هم دغه | خلقو دپاره دے | عذاب | سپکوونکے | او هغه خلق

او زمونږ آیتونه ئے دروغ ګڼړلی دی نو د هغوی دپاره به رسوا کونکے عذاب وی. او چا چه

هَاجَرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ثُمَّ قُتِلُوْٓا اَوْ مَاتُوْا لَيَرْزُقَنَّهُمُ

چه هجرت ئے کړے دے | د الله په لار کښې | بیا | وژلی شوی دی | یا مړه شوی دی | خامخا به ورکړی هغوی ته

د الله په لار کښې هجرت کړے دے بیا شهید کړے شوی دی یا په خپل مرګ مړ شوی دی نو هغوی ته به الله تعالیٰ

اللّٰهُ رِزْقًا حَسَنًا ۭ وَاِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿٥٨﴾ لَيُدْخِلَنَّهُمْ

الله | رزق | ډیر ښائسته | او بیشکه | الله | خامخا دے | بهتر | رزق ورکونکے | خامخا به هغه داخل کړی هغوی

خامخا بهترین رزق ورکوی او یقین اوکړئ چه الله بهترین رزق ورکونکے دے. هغه به خامخا دوی داسے ځای ته

مُّدْخَلًا يَّرْضَوْنَهٗ ۭ وَاِنَّ اللّٰهَ لَعَلِيْمٌ حَلِيْمٌ ﴿٥٩﴾ ذٰلِكَ ۚ

داسے ځای (د داخلیدو) ته | چه دوی به خوشحاله وی هغه | او بیشکه | الله | خامخا به پوهه | صبرناک دے | دا (یقینی دی)

داخل کړی چه دوی به پرے خوشحاله وی. او یقیناً الله به پوهه صبرناک ذات دے. دا خبره خو مقرر ده. او دا هم واورئ

وَمَنْ عَاقَبَ بِمِثْلِ مَا عُوْقِبَ بِهٖ ثُمَّ بُغِيَ عَلَيْهِ

او څوک | چه بدله واخلی | په شان | د هغے | چه تکلیف ورکړے شوے وو | دده ته | بیا | ظلم اوشو | په ده باندے

څوک چه د زیاتی دومره بدله واخلی څومره زیاتے چه په ده باندے شوے دے او بیا په ده باندے (نور) زیاتے اوشی

لَيَنْصُرَنَّهُ اللّٰهُ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَعَفُوٌّ غَفُوْرٌ ﴿٦٠﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّ

(نو) خامخا مدد به کوی دده سره | الله | بیشکه | الله | خامخا معاف کونکے | ډیر بخښونکے دے | دا ځکه | چه بیشکه

نو الله تعالیٰ به خامخا دده مدد کوی یقیناً الله تعالیٰ معاف کونکے بخښنه کونکے دے. دا ځکه چه د الله تعالیٰ دومره لوئ

اللّٰهَ يُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُوْلِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ وَاَنَّ

الله | ننباسی | شپه | په ورځ کښې | او ننباسی | ورځ | په شپه کښې | او دا چه بیشکه

قدرت دے چه شپه په ورځ کښې او ورځ په شپه کښې داخلوی او دا ځکه چه

اللّٰهَ سَمِيْعٌۢ بَصِيْرٌ ﴿٦١﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ وَاَنَّ

الله | همیشه اوریدونکے | همیشه لیدونکے دے | دا | ځکه چه | الله | هم هغه دے | حق (رښتنے) | او بیشکه

الله تعالیٰ هر څه اوري او هر څه ویني، دا مدد په ځکه کیږي چه هم الله حق دے

مَا يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ هُوَ الْبَاطِلُ وَاَنَّ اللّٰهَ هُوَ

هغه څه | چه دوی ئے رابلي | د هغه نه سوا | هغه دي | باطل (دروغ) | او بیشکه | الله | هم هغه دے

او د هغه نه سوا چه دا مشرکان څوک رابلي هغه باطل دي. او هم الله په مرتبه کښې اوچت دے

الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ ﴿٦٢﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً

ډیر اوچت | ډیر لوئے | آیا ته نه گورے | چه بیشکه | الله | راوروِل دی | د آسمان نه | او به

او په اعتبار د ذات سره لوئے دے. آیا ته نه گورے چه الله تعالیٰ د آسمان نه اوبه راوروِلې دی چه په هغے سره

فَتُصْبِحُ الْاَرْضُ مُخْضَرَّةً ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَطِيْفٌ خَبِيْرٌ ﴿٦٣﴾ لَهٗ

نو شي | زمکه | تکه شنه | بیشکه | الله | ډیر باریک بین | ډیر خبردار دے | خاص هغه (اختیار کښې) دی

زمکه تکه شنه شي. حقیقت دا دے چه الله ډیر مهربان او د هر څه نه خبردار دے.

مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ

هغه څه | چه په آسمانونو کښې دی | او هغه څه | چه په زمکه کښې دی | او بیشکه | الله | خامخا هم هغه دے

آسمانونو او زمکه کښې چه څه دی دا ټول د هغه (په اختیار کښې) دی او یقین او کړئ چه الله بے حاجته

الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ﴿٦٤﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ سَخَّرَ لَكُمْ مَّا ع

بے حاجته | ستائیلے شوے | آیا ته نه گورے | چه بیشکه | الله | تابع کړی دی | ستاسو دپاره | هغه څه

او د صفتونو لائق دے. آیا ته دے ته نه گورے چه الله تعالیٰ د زمکے ټول څیزونه ستاسو په کار

فِي الْاَرْضِ وَالْفُلْكَ تَجْرِيْ فِي الْبَحْرِ بِاَمْرِهٖ ؕ وَيُمْسِكُ

چه په زمکه کښې دی | او کشتۍ | چه روانے وی | په دریاب کښې | په حکم د هغه | او هغه راټینګ کړے دے

(خدمت) کښې لګولی دی او کشتۍ هم د هغه په حکم په دریاب کښې روانے دی (چلیږی) او آسمان ئے بغیر د ستنو نه دا سے

السَّمَآءَ اَنْ تَقَعَ عَلَى الْاَرْضِ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

آسمان | د دے نه | چه راپریوځي | په | زمکه | مگر | په حکم د هغهٔ | بیشکه | الله

راټینګ کړے دے چه د هغه د اجازت نه بغیر په زمکه راپریوتلے نه شي. یقیناً الله تعالیٰ په خلقو ډیر مهربان (شفقت کونکی)

بِالنَّاسِ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿٦٥﴾ وَهُوَ الَّذِيْٓ اَحْيَاكُمْ ثُمَّ

په خلقو | ډیر شفقت کونکے | رحم کونکے دے | او هغه | هغه ذات دے | چه تاسو ئے ژوندی کړی یئ | بیا به

رحم کونکی دی. او الله هم هغه ذات دے چه تاسو ئے پیدا کړی یئ بیا به مړه کوي او بیا به مو را ژوندی کوی یقیناً انسان بلو جود کند دے

يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيْكُمْ ؕ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَكَفُوْرٌ ﴿٦٦﴾ لِكُلِّ اُمَّةٍ

مره کړي تاسو | بيا به | ژوندي کړي تاسو | بيشکه | انسان | خامخا ډير ناشکره دے | د هر يو | امت د پاره

دليلونو ډير ناشکره دے چه شرک کوي، د هر يو امت د خلقو د پاره مونږ د عبادت يو طريقه مقرر کړے دے چه دوي په هغه طريقه عبادت

جَعَلْنَا مَنْسَكًا هُمْ نَاسِكُوْهُ فَلَا يُنَازِعُنَّكَ فِي الْاَمْرِ

مقرر کړے دے مونږ | يو طريقه د بندګۍ | چه دوي | په هغے چليږي | پس جګړه دے نه کوي دوي تاسره | په دے معامله (د دين) کښ

کوي نو اے نبي! دا خلق دے تاسره په دے معامله کښ جګړه دے نه کوي (يعني جګړے د دوي دے تا بند نه کړي حکم د دين نه خپل نه)

وَادْعُ اِلٰى رَبِّكَ ؕ اِنَّكَ لَعَلٰى هُدًى مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٦٧﴾ وَاِنْ

او رابله (خلق) | رب خپل ته | بيشکه ته ئے | خامخا په لاره | نيغه باندے | او که چرے (بيا هم) دوي

او ته خپل رب طرف ته خلق رابله ته خو يقيناً په نيغه لار (روان) ئے. او که دوي (بيا هم)

جٰدَلُوْكَ فَقُلِ اللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿٦٨﴾ اَللّٰهُ يَحْكُمُ

جګړه کوي تاسره | نو او وايه | (چه) الله | ښه پوهيږي | په هغه څه | چه تاسو ئے کوئ | الله به | فيصله او کړي

تاسره جګړه کوي نو ورته او وايه چه الله تعالیٰ ته ستاسو عملونه ښه معلوم دي. الله به د قيامت په ورځ

بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ﴿٦٩﴾

په مينځ ستاسو کښ | په ورځ | د قيامت | په هغه څه کښ | چه تاسو به | په هغے کښ | اختلاف کولو

ستاسو په مينځ کښ د هغه خبرو فيصله او کړي چه تاسو به پکښ اختلاف کولو.

اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ؕ

آيا ته نه پوهيږے | چه بيشکه | الله | پوهيږي | په هغه څه | چه آسمانونو کښ دي | او زمکه کښ دي

آيا ته نه پوهيږے چه د آسمانونو او د زمکے د ټولو څيزونو علم د الله سره دے

اِنَّ ذٰلِكَ فِيْ كِتٰبٍ ؕ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ﴿٧٠﴾ وَيَعْبُدُوْنَ

بيشکه | دا ټول | په کتاب کښ (محفوظ) دي | بيشکه | دا دي | الله ته | ډير آسان | او دوي عبادت کوي

دا ټولے خبرے په يو کتاب کښ محفوظ دي. يقيناً دا ټول کار د الله ته ډير اسان دي. او دا خلق

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ سُلْطٰنًا وَّمَا لَيْسَ

د الله نه | سوا | د هغه څه (چه) | چه نه دے نازل کړے الله | په هغے باندے | څه دليل | او | نشته

د الله نه سوا د هغه څيزونو عبادت کوي چه د هغے په حق ئے الله نه څه دليل رالیږلے دے او نه پرے

لَهُمْ بِهٖ عِلْمٌ ؕ وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ نَّصِيْرٍ ﴿٧١﴾ وَاِذَا تُتْلٰى

دوي سره | په هغے باندے | څه علم (پوهه) | او نشته | ظالمانو د پاره | هيڅ قسم مدد ګار | او کله چه | لوستل شي

د دوي سره څه علم شته، او د دے ظالمانو به په آخرت کښ هيڅ څوک مدد ګار نه وي. او (د دوي حالت خو دا دے چه) کله ورته

عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ تَعْرِفُ فِيْ وُجُوْهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوا

په دوي باندے | آيتونه زمونږ | واضحه | لو ته به پېژنے | په مخونو | د هغه خلقو کښ | چه کفر ئے کړے دے

زمونږ آيتونه پوره وضاحت سره بيانيږي نو ته به د کافرانو په مخونو د خفګان نخښے پېژنے

الْمُنْكَرَ ؕ يَكَادُوْنَ يَسْطُوْنَ بِالَّذِيْنَ يَتْلُوْنَ عَلَيْهِمْ اٰيٰتِنَا ؕ

خفگان | نژدے دی دوی | چه حمله اوکړی | په هغه خلقو | چه هغوی لولی | په دوی باندے | آیتونه زمونږ

دا سے ښکاری چه دوی به په هغه خلقو حمله اوکړی چه زمونږ آیتونه ورته بیانوی

قُلْ اَفَاُنَبِّئُكُمْ بِشَرٍّ مِّنْ ذٰلِكُمْ ؕ اَلنَّارُ ؕ وَعَدَهَا اللّٰهُ

او وایه | آیا نو زه تاسو خبر کړم | په ډیر بد څیز | د دے نه | (چه هغه) اور دے | وعده کړے ده د هغے | الله

ته ورته او وایه چه آیا زه تاسو ته د دے نه زیات خراب څیز او ښایم؟ چه هغه اور دے د هغے وعده الله تعالی

ع

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۟ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ ضُرِبَ

د هغه خلقو سره | چه کفر ئے کړے دے | او ډیر بد ځای دے | دوړتلو هغه | اے | خلقو ! | بیانیږی

د کافرانو سره کړے ده او هغه ډیر ناکاره ځای د وړتلو دے . اے خلقو ! (اوس) یو ناشنا مثال بیانیږی

مَثَلٌ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

یو مثال | نو ښه غوږ کیږدئ | هغے ته | بیشکه | هغه خلق | چه رابلئ ئے تاسو | د | الله | نه | سوا

نو ښه غوږ ورته کیږدئ حقیقت دا دے چه تاسو چه د الله تعالی نه سوا څوک رابلئ

لَنْ يَّخْلُقُوْا ذُبَابًا وَّلَوِ اجْتَمَعُوْا لَهٗ ؕ وَاِنْ يَّسْلُبْهُمُ

هیڅ بره نه شی پیدا کولے هغوی | یو مچ قدرے | اگر که | هغوی را یو ځای شی (ټول) | هغے ته | او که چرے | او تختوی ترے نه

هغوی یو مچ قدرے هم نه شی پیدا کولے اگر که ټول ورته را یو ځای (هم) شی او که چرے د غه مچ

الذُّبَابُ شَيْئًا لَّا يَسْتَنْقِذُوْهُ مِنْهُ ؕ ضَعُفَ الطَّالِبُ

مچ | څه څیز | نو نه شی خلاصولے دوی دغه څیز | د هغه نه | (ډیر) بے وسه دے | طالب

د هغوی د دربار نه څه څیز او تختوی نو هغه ترے نه هم نه شی خلاصولے . غوښتونکی (عابد) او د چا نه ئے چه غواړی

وَالْمَطْلُوْبُ ۝ مَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

او مطلوب | قدر او نه کړو دوی | د الله | څنگه چه حق | د هغه د قدر وو | بیشکه | الله

(معبود) دواړه ډیر کمزوری دی . د دے خلقو د الله تعالی هغسے قدر او عزت او نه کړو څنگه چه پکار وو (حالانکه) حقیقت دا دے

لَقَوِيٌّ عَزِيْزٌ ۝ اَللّٰهُ يَصْطَفِيْ مِنَ الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا

خامخا ډیر قوت والا | زورور دے | الله | غوره کوی | د فرښتو نه | پیغام رسونکی

چه الله تعالی ډیر طاقتور او ډیر غالب ذات دے . الله تعالی په فرښتو کښې هم پیغام رسونکی غوره کوی

وَّمِنَ النَّاسِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌۢ بَصِيْرٌ ۟ يَعْلَمُ مَا

او د انسانانو نه هم | بیشکه | الله | همیشه اوریدونکے | همیشه لیدونکے دے | پوهیږی هغه | په هغه څه

او په انسانانو کښې هم . یقیناً الله تعالی هر څه اوری هر څه وینی . هغه ته د مخلوق مخکښې او روستو

بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ؕ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ۝

چه ددوی وړاندے دی | او په هغه څه | چه ددوی وروستو دی | او خاص الله ته | واپس کولے شی | ټول کارونه

ټول حالات معلوم دی او ټول کارونه به الله تعالیٰ ته واپس کیږی۔

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ارْكَعُوْا وَاسْجُدُوْا وَاعْبُدُوْا رَبَّكُمْ وَافْعَلُوا

اے مؤمنانو! | رکوع کوئ | او سجده کوئ | او عبادت کوئ | درب خپل | او کوئ

اے مومنانو! رکوع کوئ او سجده کوئ او صرف د خپل رب عبادت کوئ او

الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ۝ۚ وَجَاهِدُوْا فِى اللّٰهِ حَقَّ

د خیر کارونه | د دے دپاره چه تاسو | کامیاب شئ | او جهاد کوئ | د الله په لار کښ | (څومره چه) حق دے

د نیکئ ټول کارونه کوئ چه کامیاب شئ. او د الله په لار کښ داسے جهاد وکړئ لکه څنګه چه ئے د پوره والی حق دے

جِهَادِهٖ ؕ هُوَ اجْتَبٰىكُمْ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِى الدِّيْنِ

د هغه د جهاد | هغه | غوره کړی یئ تاسو | او نه دے ایخودے هغه | په تاسو | په دین کښ

هغه تاسو د خپل دین دپاره غوره کړی یئ او په تاسو ئے د دین په حقله هیڅ قسم

مِنْ حَرَجٍ ؕ مِلَّةَ اَبِيْكُمْ اِبْرٰهِيْمَ ؕ هُوَ سَمّٰىكُمُ

څه قسم تنګی | (روان شئ په) دین | د خپل پلار | ابراهیمؑ | هغه | نوم ایخودے ئے تاسو له

تنګی نه ده راوستلے، د خپل پلار ابراهیمؑ دین مضبوط ونیسئ، هغه د دے نه مخکښ هم ستاسو نوم

الْمُسْلِمِيْنَ ۙ۬ مِنْ قَبْلُ وَفِىْ هٰذَا لِيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ

مسلمانان | مخکښ د دے نه | او په دے (کتاب) کښ (هم) | د دے دپاره چه شی | پیغمبر

مسلمان ایښودلے دے، او په دے قرآن کښ هم (ستاسو دا نوم دے) دا د دے دپاره چه پیغمبر

شَهِيْدًا عَلَيْكُمْ وَتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ ۚۖ

ګواه | په تاسو باندے | او شئ تاسو | ګواهان | په خلقو باندے

په تاسو ګواه جوړ شی او تاسو په نورو خلقو ګواهان جوړ شئ.

فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاعْتَصِمُوْا بِاللّٰهِ ؕ

پس پابندی کوئ | د مانځه | او ورکوئ | زکات | او کلک شئ | د الله په دین

نو بس د مانځه پابندی کوئ، او زکات ورکوئ او د الله دین مضبوط راونیسئ

هُوَ مَوْلٰىكُمْ ۚ فَنِعْمَ الْمَوْلٰى وَنِعْمَ النَّصِيْرُ ۝ ع

هغه | مالک ستاسو دے | نو ډیر ښه | کارساز دے هغه | او ډیر ښه | مددګار دے هغه

هم هغه ستاسو مالک (کارساز) دے، او ګورئ هغه څومره ښه کارساز دے او څومره ښه مددګار دے.

آیاتها [١١٨]	سورة المؤمنون مكّيّة	رکوعاتها [٦]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ ۝ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خٰشِعُوْنَ ۝

یقیناً | کامیاب شو | هغه کسان | چه هغوی | په خپل مانځه کښ | عاجزی کونکی دی

یقیناً هغه مومنان کامیاب شول چه په خپلو مونځونو کښ عاجزی کوی

وَالَّذِيْنَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُوْنَ ۝ وَالَّذِيْنَ هُمْ لِلزَّكٰوةِ

او هغه کسان | چه هغوی | دفضول کارونو (خبرو) نه | مخ اړونکی دی | او هغه کسان | چه هغوی | (د) زکات

او دفضول خبرو او عبث کارونو نه مخ اړوی (ځان ساتی) او د زکات په حکم باندے عمل کوی

فٰعِلُوْنَ ۝ وَالَّذِيْنَ هُمْ لِفُرُوْجِهِمْ حٰفِظُوْنَ ۝ اِلَّا عَلٰۤى اَزْوَاجِهِمْ

ورکونکی دی | او هغه خلق | چه هغوی | دخپلو شرمګاهونو | حفاظت کونکی دی | مګر | په خپلو بیبیانو باندے

(زکات ورکوی)۔ او د خپلو ښځو او وینزو نه سوا نور د هر چا نه

اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ فَاِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُوْمِيْنَ ۝ فَمَنِ

یا په هغه وینزو باندے | چه مالکان ئے دی | بی لا سوته ددوی | پس بیشکه دوی | نه دی ملامته (کړی شوی) | پس چا چه

دخپلو شرمګاهونو حفاظت کوی البته دخپلو ښځو او وینزو باره کښ دوی ملامته نه دی خو څوک چه

ابْتَغٰى وَرَآءَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْعٰدُوْنَ ۝ وَالَّذِيْنَ

اولټوو | سوا | ددے نه | لوهم دغه خلق | دوی | د حد نه اوړیدونکی دی | او هغه خلق

ددے نه سوا بله طریقه اختیار کړی نو دغه خلق د حد نه تیریدونکی دی، او دغه مومنان چه

هُمْ لِاَمٰنٰتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رٰعُوْنَ ۝ وَالَّذِيْنَ هُمْ

چه هغوی | د امانتونو خپلو | او د لوظونو خپلو | خیال ساتونکی دی | او هغه خلق | چه هغوی

د خپلو دینی او دنیوی ذمه وارو او دخپلو وعدو خیال ساتی. او د خپلو مونځونو همیشه پوره

عَلٰى صَلَوٰتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ۝ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْوٰرِثُوْنَ ۝ الَّذِيْنَ

د مونځونو خپلو | حفاظت کوی | هم دغه خلق | دوی | وارثان (حقداران) دی | هغه خلق

حفاظت کوی ، هم دا خلق حقداران دی چه په میراث کښ به

يَرِثُوْنَ الْفِرْدَوْسَ ؕ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝ وَلَقَدْ خَلَقْنَا

چه وارثان به شی | د فردوس | دوی به | په هغے کښ | همیشه وی | او یقیناً | پیدا کړے دے مونږ

جنة الفردوس حاصل کړی. (چه) په هغے کښ به همیشه اوسیږی. او یقیناً مونږ انسان

الْإِنْسَانَ مِنْ سُلٰلَةٍ مِّنْ طِيْنٍ ۝ ثُمَّ جَعَلْنٰهُ نُطْفَةً

انسان | د چانړ کړی شوي | خټي نه | بيا | جوړ کړو مونږ هغه لره | په وړه نطفه

د لرمي چانړ کړے شوے خټے نه پيدا کړو بيا مو هغه په يو محفوظ

فِيْ قَرَارٍ مَّكِيْنٍ ۝ ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا

په ځائے د قرار کې | محفوظ کښې | بيا | مونږ جوړه کړه | (دغه) نطفه | ټکړا د وينې | بيا مونږ جوړه کړه

او محفوظ ځاي کښې د نطفې په شکل او ساتلو بيا مو هغې نطفې نه د وينې د ټوټې شکل ور کړو بيا مو د هغه وينې

الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظٰمًا فَكَسَوْنَا الْعِظٰمَ

د ټکړے د وينې نه | يو ټوټے د غوښے | بيا مونږ جوړ کړه | د ټوټې د غوښې نه | هډوکي | بيا مونږ واغوستله | هډوکو ته

د ټوټې نه د غوښې يو ټوټے جوړ کړو بيا مو د غوښې هغه ټوټې نه هډوکي کړل بيا مو هډوکو ته

لَحْمًا ۝ ثُمَّ اَنْشَاْنٰهُ خَلْقًا اٰخَرَ ۝ فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ اَحْسَنُ

غوښه | بيا | پيدا کړو مونږ دغه لره | په شکل | بل کښې | پس ډير برکتوالا دے | الله | چه ډير ښائسته

غوښه واچوله بيا مو هغې ته يو نوي شکل ور کړو (يعنې روح اچول او کړ مو که پوره تول احوال) پس هغه الله ډير

الْخٰلِقِيْنَ ۝ ثُمَّ اِنَّكُمْ بَعْدَ ذٰلِكَ لَمَيِّتُوْنَ ۝ ثُمَّ اِنَّكُمْ

شکل جوړونکو نه دے | بيا | بيشکه تاسو به | د دے نه وروسته | خامخا مړه کيږئ | بيا | بيشکه تاسو به

برکتونو والا ذات دے چه د ټولو نه ښائسته شکل جوړونکے دے. بيا د دے هر څه نه پس يقيناً تاسو به مرئ بيا به د قيامت

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ تُبْعَثُوْنَ ۝ وَلَقَدْ خَلَقْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعَ طَرَآئِقَ ۝

په ورځ | د قيامت | راپاڅول شئ | او يقيناً | مونږ پيدا کړي دي | ستاسو د پاسه | اووه | لارے (آسمانونه)

په ورځ دوباره راپاڅولی شئ او يقيناً مونږ ستاسو د پاسه اووه آسمانونه جوړ کړی دی (چه د ملائکو د تللو راتللو لارے دی)

وَمَا كُنَّا عَنِ الْخَلْقِ غٰفِلِيْنَ ۝ وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً

او نه يو مونږ | د مخلوق نه | بے خبره | او راوروله دی مونږ | د آسمان نه | اوبه

او مونږ (د خپل) مخلوق نه غافله نه يو، او مونږ د آسمان نه په يوه اندازه اوبه راوروله دی

بِقَدَرٍ فَاَسْكَنّٰهُ فِي الْاَرْضِ ۝ وَاِنَّا عَلٰى ذَهَابٍ بِهٖ

په اندازه | او ايسارے کړی دی مونږ هغه | په زمکه کښې | او بيشکه مونږ | په بوتللو | د هغے

بيا مو هغه په زمکه کښې د چينو او درياب نو په شکل ايسارے کړلے. او يقين او کړئ چه مونږ د هغے په ختمولو

لَقٰدِرُوْنَ ۝ فَاَنْشَاْنَا لَكُمْ بِهٖ جَنّٰتٍ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّاَعْنَابٍ ۘ

خامخا قدرت لرونکي يو | پس مونږ پيدا کړی دی | ستاسو د پاره | په هغے سره | باغونه | د قجورو | او د انګورو نه

پوره قادر يو. بيا مونږ د هغے په ذريعه ستاسو د پاره د قجورو او د انګورو باغونه پيدا کړل

لَكُمْ فِيْهَا فَوَاكِهُ كَثِيْرَةٌ وَّمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ۝ وَشَجَرَةً

ستاسو د پاره دی | په هغے کښې | ميوے | ډيرے | او بعضے د هغے نه | تاسو خورئ | او اونه

چه د هغے نه تاسو ډيرے ميوے حاصلوئ او د هم هغے نه تاسو خورئ او هغه اونه (د خونه) هم

تَخْرُجُ مِنْ طُوْرِ سَيْنَآءَ تَنْۢبُتُ بِالدُّهْنِ وَصِبْغٍ لِّلْاٰكِلِيْنَ ﴿٢٠﴾

چه راوځي | د غر | ښائسته نه | چه راټوکوي | تیل | او ترکاري | د خوړونکو دپاره

مونږ په ښائسته غر کښې پیدا کړه چه د تیلو دپاره او د خوړونکو د ترکارئ دپاره بطور سالن استعمالیږي

وَاِنَّ لَكُمْ فِي الْاَنْعَامِ لَعِبْرَةً ؕ نُسْقِيْكُمْ مِّمَّا

او بیشکه | ستاسو دپاره (شته) | په څاروو کښې | خامخا عبرت | مونږ څکوو په تاسو باندې | د هغه څه نه

او حقیقت دا دے چه ستاسو دپاره په څاروو کښې (هم) د عبرت ډیرے نخښے دي. د هغې د خیټو نه مونږ په تاسو

فِيْ بُطُوْنِهَا وَلَكُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ كَثِيْرَةٌ وَّمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ﴿٢١﴾

چه د هغې په خیټو کښې دي | او ستاسو دپاره | په هغې کښې دي | فائدے | ډیرے | او بعضے د هغې نه | تاسو خورئ

باندې پئ څکوو او په هغې کښې ستاسو دپاره نورے هم ډیرے فائدے دي او د هغې نه تاسو غذا هم حاصلوئ

وَعَلَيْهَا وَعَلَى الْفُلْكِ تُحْمَلُوْنَ ﴿٢٢﴾ ع وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا

او په هغې باندې | او په کشتۍ باندې | تاسو سوروَلے شئ | او یقینًا | مونږ لیږلے وو | نوح علیه السلام

او په د غې څاروو او په کشتو تاسو سورلی هم کوئ. او یقینًا مونږ نوح علیه السلام

اِلٰى قَوْمِهٖ فَقَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ

قوم خپل ته | پس او ویل هغه | اے زما قومه! | عبادت کوئ | د الله | نشته دے | ستاسو (دپاره)

خپل قوم ته لیږلے وو نو ورته ئے او ویل چه اے زما قومه یوازې د الله بندګي کوئ ځکه چه

مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿٢٣﴾ فَقَالَ الْمَلَؤُا الَّذِيْنَ

هیڅ څوک د عبادت لائق | د هغه نه سوا | آیا نو تاسو نه یریږئ | پس او ویل | مشرانو | هغه کسانو

د هغه نه سوا بل هیڅ څوک ستاسو معبود نشته. آیا تاسو نه ویریږئ. نو د دهٔ د قوم کافرانو سردارانو

كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ مَا هٰذَآ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ۙ يُرِيْدُ اَنْ

چه کفر ئے کړے وو | د قوم د دهٔ نه | نه دے دے | مګر | یو بنیادم دے | ستاسو په شان | غواړي | چه

(مشرانو) او ویل چه دا خو هم ستاسو غوندے یو اِنسان دے په تاسو باندې

يَّتَفَضَّلَ عَلَيْكُمْ ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَاَنْزَلَ مَلٰٓئِكَةً ۚۖ

فضیلت حاصل کړي | په تاسو باندې | او که چرے | غوښتلے | الله | نو خامخا به ئے رالیږلے وے | فرشتے

ځان اوچتول غواړي او که الله غوښتلے نو فرشته به ئے رالیږلے وے.

مَّا سَمِعْنَا بِهٰذَا فِيْٓ اٰبَآئِنَا الْاَوَّلِيْنَ ﴿٢٤﴾ اِنْ هُوَ اِلَّا رَجُلٌۢ

مونږ نه دي اوریدلي | دا خبره | په خپل پلار نیکه | مخکنیو کښې | نه دے دے | مګر | یو سړے دے

دا خبرے خو مونږ د خپلو پخوانو مشرانو نه دي اوریدلي. (او) دا خو یو لیونے سړے دے

بِهٖ جِنَّةٌ فَتَرَبَّصُوْا بِهٖ حَتّٰى حِيْنٍ ﴿٢٥﴾ قَالَ رَبِّ

چه په دهٔ باندې | لیونتوب دے | نو انتظار کوئ | د دهٔ | تر څه وخته پورې | او ویل (نوح) | اے زما ربه

نو څهٔ وخته پورې ورته انتظار او کړئ (مړ به شي یا روغ به شي). نوح په دعا کښې او ویل اے زما ربه

انْصُرْنِیْ بِمَا كَذَّبُوْنِ ﴿٢٦﴾ فَاَوْحَيْنَآ اِلَيْهِ اَنِ اصْنَعِ الْفُلْكَ

مدد او کړه زما | په دے سوبه چه | چه دوی زما دروغژن او ګڼړلم | پس مونږ وحی او کړه | ده ته | چه جوړه کړه | کشتۍ

دے خلقو زه دروغژن او ګڼړلم نو ته زما مدد او کړه. نو مونږ ورته وحی اولیږله چه زمونږ په نګرانۍ کښې

بِاَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا فَاِذَا جَآءَ اَمْرُنَا وَفَارَ التَّنُّوْرُ ۙ فَاسْلُكْ

زمونږ د سترګو وړاندے | او زمونږ په وحی | پس کله | چه راشی | حکم زمونږ | او جوش او وهی | تنور | نو داخل کړه

او زمونږ په حکم (وحی) یوه کشتۍ جوړه کړه. بیا چه کله زمونږ حکم راشی او تنور جوش او وهی

فِيْهَا مِنْ كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ وَاَهْلَكَ اِلَّا مَنْ سَبَقَ

په دے کښې | د هر قسم (ځناور) نه | جوړه | دوه | او اهل خپل هم | سوا | د هغه چانه | چه مخکښې شوے ده

نو د هر قسمه ځناورو نه پکښې جوړه جوړه (یعنی نر او ماده) سواره کړه او خپل اهل وعیال هم سوا د هغه چانه چه

عَلَيْهِ الْقَوْلُ مِنْهُمْ ۚ وَلَا تُخَاطِبْنِیْ فِی الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ۚ

په هغه باندے | وینا (فیصله) | د دوی نه | او خبرے مه کوه زما سره | د هغه خلقو په باره کښې | چه ظلم ئے کړے دے

په هغه باندے د عذاب فیصله د مخکښې نه شوے ده. او د دے ظالمانو باره کښې ما سره خبره (سفارش) مه کوه

اِنَّهُمْ مُّغْرَقُوْنَ ﴿٢٧﴾ فَاِذَا اسْتَوَيْتَ اَنْتَ وَمَنْ مَّعَكَ

بیشکه دوی | غرقولے شی | بیا کله چه | برابر شے | ته | او هغه څوک | چه تا سره دی

(ځکه چه) دوی په خامخا ډوبیږی. بیا چه کله ته او ستا ملګری په کشتۍ کښې سم برابر برابر کیني

عَلَى الْفُلْكِ فَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ نَجّٰنَا مِنَ الْقَوْمِ

په کشتۍ کښې | نو او وایه | (چه) حمد وثنه دی | الله لره | هغه ذات | چه بچ ئے کړو مونږ | د قوم

نو او وایه چه د هغه الله حمد وثنه (شکرونه) دی چه مونږ ئے د ظالمانو خلقو نه بچ او ساتلو.

الظّٰلِمِيْنَ ﴿٢٨﴾ وَقُلْ رَّبِّ اَنْزِلْنِیْ مُنْزَلًا مُّبٰرَكًا وَّاَنْتَ خَيْرُ

ظالمانو نه | او او وایه | اے زما ربه | ته کوز کړه ما | په ځای د کوزیدو | برکتی کښې | او ته ئے | د ټولو نه ښه

او دا او وایه چه اے زما ربه ما د برکت او د سلامتیا په ځائے کښې کوز کړه او ته د ټولو نه غوره کوزوونکے ئے.

الْمُنْزِلِيْنَ ﴿٢٩﴾ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ وَّاِنْ كُنَّا لَمُبْتَلِيْنَ ﴿٣٠﴾

کوزوونکے | بیشکه | په دے کښې | خامخا لوی لوی نخښے دی | او بیشکه | مونږ یو | خامخا امتحان کوونکی

یقیناً دے واقعه کښې لوی لوی دلیلونه دی (د نافرمانو د پاره پکښې عبرت او د مسلمانانو لره پکښې حکمت د ابتلا څرګندے) او یقیناً مونږ ازمیښت کوونکی یو.

ثُمَّ اَنْشَاْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ قَرْنًا اٰخَرِيْنَ ﴿٣١﴾ فَاَرْسَلْنَا فِيْهِمْ

بیا | مونږ پیدا کړل | روستو د هغوی نه | قومونه | نور | پس راولیږلو مونږ | په هغوی کښې

بیا مونږ د دوی نه وروستو نور نسلونه (عادیان، ثمودیان) پیدا کړل او هغوی ته مو هم د هغوی نه یو پیغمبر

رَسُوْلًا مِّنْهُمْ اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ۭ

یو پیغمبر | د هغوی نه | چه عبادت کوئ | د الله | نشته دے | ستاسو (د پاره) | هیڅ څوک د عبادت لائق | سوا د هغه نه

(په دے پیغام سره) اولیږلو چه د یو الله عبادت او کړئ (ځکه چه) د هغه نه سوا بل څوک ستاسو حقدار د بندګۍ نشته

اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ۝٣٢ وَقَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

آیانو تاسو نه پرہیزئ | او اوویل | سردارانو | دقوم د هغهٔ نه | هغه کسانو | چه کفرئے کړے وو

آیا نو تاسو ځان نه ساتئ د شرک نه؟ او د هغه د قوم هغه مشرانو (سردارانو) چه کفر ئے کړے وو

وَكَذَّبُوْا بِلِقَآءِ الْاٰخِرَةِ وَاَتْرَفْنٰهُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۙ

او دروغژن ئے ګڼلے وو | ملاقات | د آخرت | او عیش ور کړے وو مونږ خوئ ته | په ژوند | دُنیوی کښې

او د آخرت ملاقات ئے دروغ ګڼلے وو او مونږ ورله د دنیا په ژوند کښے مزے ور کړے

مَا هٰذَآ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ۙ يَاْكُلُ مِمَّا تَاْكُلُوْنَ مِنْهُ

(چه) نه دے دے | مګر | یو بُنیادم | پشان ستاسو | خوراک کوی دے | د هغه څه نه | چه تاسو خوراک کوئ | د هغے نه

(هغوی) اوویل چه دا خو ستاسو غوندے، یو انسان دے تاسو چه څه خورئ دے هم هغه خوری

وَيَشْرَبُ مِمَّا تَشْرَبُوْنَ ۝٣٣ وَلَئِنْ اَطَعْتُمْ بَشَرًا مِّثْلَكُمْ

او څکی | د هغه څه نه | چه تاسو ئے څکئ | او که چرے | تاسو خبره او منله | د یو بنیادم | ستاسو په شان

او تاسو چه څه څکئ دے هم هغه څکی، او که تاسو د ځان غوندے د یو سړی خبره او منله

اِنَّكُمْ اِذًا لَّخٰسِرُوْنَ ۝٣٤ اَيَعِدُكُمْ اَنَّكُمْ اِذَا مِتُّمْ وَكُنْتُمْ

(نو) بیشکه تاسو به | دغه وخت | خامخا په زیان کښے | آیا دے وعده کوی تاسو سره | چه بیشکه تاسو | کله چه | مړه شئ | او شئ تاسو

نو بیا تاوان کښې به پریوځئ. آیا دے تاسو سره د دے خبرے وعدے کوی چه کله تاسو مړه شئ او

تُرَابًا وَّعِظَامًا اَنَّكُمْ مُّخْرَجُوْنَ ۝٣٥ هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ لِمَا

خاورے | او هډوکی | (نو) بیشکه تاسو به | راویستلی شئ | ډیر لرے دی | ډیر لرے دی | هغه څه

خاورے او هډوکی شئ نو تاسو به بیا (د قبرونو نه) راویستلی شئ. د کومے خبرے چه دے تاسو سره وعده کوی

تُوْعَدُوْنَ ۝٣٦ اِنْ هِيَ اِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوْتُ وَنَحْيَا

چه تاسو سره ئے وعده کولے شی | نه دے ژوند | مګر | ژوند زمونږ | دنیوی | بعضے مونږ نه مړه کیږی | او بعضے مونږ نه پیدا کیږی

هغه خو د عقل نه ډیره لرے (خبره) ده. زمونږ خو دے دنیا ژوند نه سوا بل ژوند نشته څوک را کښې مری او څوک را کښې

وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوْثِيْنَ ۝٣٧ اِنْ هُوَ اِلَّا رَجُلُ ۨافْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ

او نه یو مونږ | بیا راپاخول شوی | نه دے دے | مګر | یو (داسے) سړے | چه جوړوی | په الله باندے

پیدا کیږی او مونږ به بیا د مرګ نه پس هیڅ کله دوباره نه شو ژوندی کولے. دا خو یو داسے سړے دے چه په الله باندے

كَذِبًا وَّمَا نَحْنُ لَهٗ بِمُؤْمِنِيْنَ ۝٣٨ قَالَ رَبِّ انْصُرْنِيْ

دروغ | او نه یو مونږ | د ده لره | منونکی (یقین کونکی) | او ویل (نبی) | اے زما ربه | مدد او کړه زما

ئے دروغ جوړ کړی دی او مونږ په ده ایمان نه راوړو- پیغمبر اوویل اے زما ربه! دے خلقو

بِمَا كَذَّبُوْنِ ۝٣٩ قَالَ عَمَّا قَلِيْلٍ لَّيُصْبِحُنَّ نٰدِمِيْنَ ۝٤٠

په سبب د هغه چه | دوی زما دروغژن ګڼلے دی | او ویل (الله) | د لږ وخت نه پس | خامخا به دوی شی | پښیمانه

چه څنګه زه دروغژن ګڼلے یم په هغے مے هم ته مدد و کړه. الله (ورته) اوویل لږ وخت پس به دوی پښیمانه شی.

فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ بِالْحَقِّ فَجَعَلْنٰهُمْ غُثَآءً ۚ

پس اونیول دوی | هیبتناکے چغے | په حقه سره | پس مونږ کړل دوی | (تور شوی) بوس

پس دهغه رشتینی وعدے مطابق دوی یوے سختے چغے راونیول نو مونږ دوی (دبوسو پشان) ریزه ریزه کړل او

فَبُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٤١﴾ ثُمَّ اَنْشَاْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ

پس هلاکت دے وی | د قوم | ظالمانو دپاره | بیا | پیدا کړل مونږ | وروسته د دوی نه

په داسے ظالمانو خلقو دے لعنت وی۔ بیا مونږ د دوی نه وروستو

قُرُوْنًا اٰخَرِيْنَ ﴿٤٢﴾ؕ مَا تَسْبِقُ مِنْ اُمَّةٍ اَجَلَهَا وَمَا يَسْتَاْخِرُوْنَ ﴿٤٣﴾ؕ

پیړۍ | نورے | نه مخکښ کیږی | هیڅ یو اُمت | د خپلے نیټے نه | او نۀ روسته کیږی

نور نسلونه پیدا کړل، هیڅ یو امت د خپل مقرر وخت نه نه مخکښ کیدلے شی او نه وروستو کیدلے شی،

ثُمَّ اَرْسَلْنَا رُسُلَنَا تَتْرَا ؕ كُلَّمَا جَآءَ اُمَّةً رَّسُوْلُهَا

بیا | اولیږل مونږ | پیغمبران ډیر | پرله پسے | هر کله به | چه راغے | یو امت ته | پیغمبر خپل

بیا مونږ پرله پسے خپل ډیر پیغمبران راولیږل، هر کله به چه یو قوم ته خپل پیغمبر راغلو

كَذَّبُوْهُ فَاَتْبَعْنَا بَعْضَهُمْ بَعْضًا وَّجَعَلْنٰهُمْ اَحَادِيْثَ ۚ

نو دروغژن به اوګڼلو دوی هغه | پس وروسته به کړل مونږ | بعضے دوی نه | په بعضو پسے | او وبه ګرځول مونږ دوی لره | قصے (د عبرت)

نو هغوی به دروغژن اوګڼلو نو مونږ به هغه قومونه یو بل پسے هلاک کړل او دهغوی نه به مو د عبرت قصے جوړے کړے

فَبُعْدًا لِّقَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٤٤﴾ ثُمَّ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى وَاَخَاهُ

پس هلاکت دے | د(داسے) قوم دپاره | چه ایمان نه راوړی | بیا | ولیږل مونږ | موسیٰ | او ورور دهغهٔ

پس داسے خلق دِ هلاک شی چه ایمان نه راوړی۔ بیا مونږ موسیٰ او د هغه ورور هارون

هٰرُوْنَ ۙ بِاٰيٰتِنَا وَسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿٤٥﴾ۙ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ

هارونؑ | په خپلو نخښو (معجزو) سره | او په دلیل | روښانه سره | فرعون | او سردارانو دهغهٔ ته

د خپلو نخښو او ډ ښکاره دلیل سره فرعون او د هغه سردارانو ته اولیږل

فَاسْتَكْبَرُوْا وَكَانُوْا قَوْمًا عَالِيْنَ ﴿٤٦﴾ۚ فَقَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ

نو لوئی اوکړه هغوی | او وو هغوی | قوم | لوئی کونکی (زورور) | پس اوویل هغوی | آیا مونږ ایمان راوړو

نو هغوی (هم) تکبر اوکړو او هغوی یو سرکشه قوم وو، نو هغوی اوویل چه آیا مونږ

لِبَشَرَيْنِ مِثْلِنَا وَقَوْمُهُمَا لَنَا عٰبِدُوْنَ ﴿٤٧﴾ۚ فَكَذَّبُوْهُمَا

په (هغه) دوو سړو | چه زمونږ پشان دی | او قوم د دے دواړو | زمونږ | غلامان دی | پس حوی دروغژن اوګڼل هغه دواړه

دخان غوندے په یو دوو سړو ایمان راوړو حالانکه د دوی قوم خو زمونږ غلامی (خدمت) کوی، د غه شان هغوی هم

فَكَانُوْا مِنَ الْمُهْلَكِيْنَ ﴿٤٨﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ لَعَلَّهُمْ

پس شول دوی | د هلاک شوو نه | او یقیناً | ورکړے وو مونږ | موسیٰ ته | کتاب | د دے دپاره چه دوی

دا دواړه پیغمبران دروغژن اوګڼل نو دوی هم هلاک کړی شو او یقیناً مونږ موسیٰ ته کتاب د دے دپاره ورکړے وو

يَهْتَدُوْنَ ۝٤٩ وَجَعَلْنَا ابْنَ مَرْيَمَ وَاُمَّهٗۤ اٰيَةً وَّاٰوَيْنٰهُمَآ

هدایت بیامومی | او مونږ جوړ کړے وو | خوئے د مریم | او مور د هغه | یوه نخښه | او پناه ځای یو کړے وو مونږ هغوی دواړو ته

چه هغه خلق هدایت حاصل کړی. او مونږ د مریم ځوی او د هغه مور (د خپل قدرت) نخښه جوړه کړے وه او دواړو ته مو

اِلٰى رَبْوَةٍ ذَاتِ قَرَارٍ وَّمَعِيْنٍ ۝٥٠ يٰۤاَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوْا

زمکے او چتے ته | چه د آرام ځائے وو | او د روانو اوبو | اے پیغمبرانو | خورئ

په داسے او چت ځائے کښ پناه ور کړے وه چه د سکون او د صفا اوبو ځائے وو. (او وئیلے وو مونږ) ای پیغمبرانو

مِنَ الطَّيِّبٰتِ وَاعْمَلُوْا صَالِحًا ؕ اِنِّىْ بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ ۝٥١

د پاکیزه څیزونو نه | او عمل کوئ | نیک | بیشکه زه | په هغه څه | چه تاسو ئے کوئ | ښه پوهه یم

پاکیزه څیزونه خورئ او نیک عملونه کوئ. یقیناً زه ستاسو د عملونو نه پوره خبر یم.

وَاِنَّ هٰذِهٖۤ اُمَّتُكُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّاَنَا رَبُّكُمْ فَاتَّقُوْنِ ۝٥٢

او بیشکه | دا | دین ستاسو دے | دین | یو | او زه | ستاسو رب یم | نو زما نه اویرېږئ

او ستاسو دا ډله (جماعت) په حقیقت کښ هم یوه ډله ده او زه ستاسو رب یم نو هم زما نه ویرېږئ.

فَتَقَطَّعُوْۤا اَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ زُبُرًا ؕ كُلُّ حِزْبٍۢ بِمَا لَدَيْهِمْ

پس ټوټے کړو دوی | دین خپل | په مینځ خپل کښ | ټوټے ټوټے | هره یوه | ډله | په هغه څه | چه د دوی سره دی

بیا دے (وروستنو) خلقو په خپل دین کښ په خپل مینځ کښ جدا جدا ډلے جوړے کړے او هره ډله هم په خپله طریقه او دین

فَرِحُوْنَ ۝٥٣ فَذَرْهُمْ فِىْ غَمْرَتِهِمْ حَتّٰى حِيْنٍ ۝٥٤ اَيَحْسَبُوْنَ

خوشحاله دی | پس پریږده دوی | په خپل غفلت (گمراهۍ) کښ | تر یو وخته پورے | آیا دوی گمان کوی

باندے خوشحاله ده. نو اے نبی! دوی یو مقرر وخت د عذاب پورے په خپل غفلت کښ پراته پریږده. آیا دوی په دے گمان کښ

اَنَّمَا نُمِدُّهُمْ بِهٖ مِنْ مَّالٍ وَّبَنِيْنَ ۝٥٥ لَا نُسَارِعُ لَهُمْ

چه بیشکه هغه څه | چه مونږ ئے ورکوو دوی لره | په هغے سره | د مال | او ځامنو نه | (لو گڼی چه) مونږ تلوار کوو | د دوی دپاره

پراته دی چه مونږ دوی ته کوم مال او اولاد ورکوو نو دا گنے مونږ دوی ته د دوی د نیکو زر زر فائدے ور کوو.

فِى الْخَيْرٰتِ ؕ بَلْ لَّا يَشْعُرُوْنَ ۝٥٦ اِنَّ الَّذِيْنَ هُمْ مِّنْ خَشْيَةِ

په نیکو کښ | بلکه | دوی نه پوهیږی | بیشکه | هغه کسان | چه هغوی | د وېرې دېرے

(نه) بلکه دوی (په حقیقت) نه پوهیږی. حقیقت دا دے چه کوم خلق د خپل رب د رعب

رَبِّهِمْ مُّشْفِقُوْنَ ۝٥٧ لَا وَالَّذِيْنَ هُمْ بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ يُؤْمِنُوْنَ ۝٥٨ لَا

د رب خپل نه | اندیښه لری (ناکلاره دی) | او هغه کسان | چه هغوی | په آیتونو | د رب خپل | ایمان راوړی

(هیبت) نه یریږی او کوم خلق چه د خپل رب په آیتونو ایمان راوړی

وَالَّذِيْنَ هُمْ بِرَبِّهِمْ لَا يُشْرِكُوْنَ ۝٥٩ لَا وَالَّذِيْنَ يُؤْتُوْنَ مَاۤ

او هغه کسان | چه هغوی | د خپل رب سره | شرک نه کوی | او هغه کسان | چه ورکوی | (هغه) څه

او کوم خلق چه د خپل رب سره شرک نه کوی او کوم خلق چه څه قسم عمل هم کوی نو د هغے د کولو

اٰتَوْا وَّقُلُوْبُهُمْ وَجِلَةٌ اَنَّهُمْ اِلٰى رَبِّهِمْ رٰجِعُوْنَ ۝٦٠

چه ورکوي ئې | او زړونه د دوی | یریدونکي وي | چه بیشکه دوی | خپل رب ته | واپس تلونکي دي

په وخت کښې دغسې زړونه د دے خبرے نه یریږي چه دوی به خپل رب ته واپس کیږي.

اُولٰٓئِكَ يُسٰرِعُوْنَ فِي الْخَيْرٰتِ وَهُمْ لَهَا سٰبِقُوْنَ ۝٦١

دغه خلق | تلوار کوي | په نیکو کښې | او دوی | هغے ته | وړاندے کیدونکي دي

هم دا هغه خلق دي چه د نیکو په حاصلولو کښې کوشش کوي او هم دا خلق په نیکو کښې مخکښې کیدونکي دي.

وَلَا نُكَلِّفُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا وَلَدَيْنَا كِتٰبٌ يَّنْطِقُ

او مونږ تکلیف نه ورکوو | یو نفس ته | مګر | د هغه د وس برابر | او زمونږ سره | یو کتاب دے | چه خبرے به کوي

او مونږ هیڅ یو کس ته هم د هغه د وس نه زیاته ذمه واري نه ورکوو او زمونږ سره یو کتاب دے (عملنامه) چه

بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ۝٦٢ بَلْ قُلُوْبُهُمْ فِيْ غَمْرَةٍ مِّنْ هٰذَا

په حق وئیلو سره | او په دوی به | ظلم نه شي کولے | بلکه | زړونه د دوی | په غفلت کښې دي | د دے نه

د ټولو حالو به سم سم بیانوي او په دوی به ظلم نه کیږي. لیکن د دے خلقو زړونه د دے عملنامے نه په غفلت کښې

وَلَهُمْ اَعْمَالٌ مِّنْ دُوْنِ ذٰلِكَ هُمْ لَهَا عٰمِلُوْنَ ۝٦٣ حَتّٰٓى

او د دوی د پاره | (نور) عملونه دي | سوا د دے نه | چه دوی | هغے لره | (همیشه) کونکي دي | تر دے

پوری ته دي او د دے نه علاوه د دوی نور (خراب) عملونه هم دي چه دوی ئې کوي.

اِذَآ اَخَذْنَا مُتْرَفِيْهِمْ بِالْعَذَابِ اِذَا هُمْ يَجْئَرُوْنَ ۝٦٤

چه کله | را ونیسو مونږ | بدمسته خلق د دوی | په عذاب سره | نو دغه وخت به | دوی | فریاد کوي

تر دے چه کله مونږ د دوی مالدار (آسوده حاله) خلق په عذاب کښې راګیر کړو نو دغه وخت به دوی د سپوږمان چغے وهلی

لَا تَجْئَرُوا الْيَوْمَ اِنَّكُمْ مِّنَّا لَا تُنْصَرُوْنَ ۝٦٥ قَدْ كَانَتْ

فریاد مه کوئ | نن | بیشکه تاسو سره به | زمونږ د طرف نه | مدد نه شي کولے | یقینًا | وو

ورته به وئیلے شي چه نن ورځ چغے مه وهئ. یقینًا تاسو ته (اوس) زمونږ د طرف نه مدد نه شي ملاویدے. یقینًا

اٰيٰتِيْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ فَكُنْتُمْ عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ تَنْكِصُوْنَ ۝٦٦

آیتونه زما | چه لوستلے به شول | په تاسو | پس وئ تاسو | په خپلو پوندو باندے | چه اوښتلئ

تاسو ته به زما آیتونه بیانیدل (لوستل کیدل) نو تاسو به ترے مخ په شا تختیدلئ.

مُسْتَكْبِرِيْنَ ۚ بِهٖ سٰمِرًا تَهْجُرُوْنَ ۝٦٧ اَفَلَمْ يَدَّبَّرُوا الْقَوْلَ

(لوئي کونکي (وئ) | د دے قرآن نه | قصے کونکي وئ | تاسو به پریخودلو د قرآن | آیا نو سوچ نه کوي دوی | په دے خبره کښې

او لوئي به مو کوله د قرآن نه او د ماښختن په وخت کښې به مو قصے کولے او قرآن او رسول مو پریخودلو. آیا د دے خلقو په دے

اَمْ جَآءَهُمْ مَّا لَمْ يَاْتِ اٰبَآءَهُمُ الْاَوَّلِيْنَ ۝٦٨ اَمْ لَمْ يَعْرِفُوْا

یا راغلي دي دوی ته | هغه څه | چه نه وو راغلي | د دوی پلار نیکه | پخوانو ته | یا دوی او نه پیژندلو

کلام کښې غور نه دے کړے یا دوی ته داسې یو څیز راغلے دے چه د دوی پخوانو مشرانو ته نه وو راغلي یا دوی خپل پیغمبر

رَسُوْلَهُمْ فَهُمْ لَهٗ مُنْكِرُوْنَ ۝ اَمْ يَقُوْلُوْنَ بِهٖ جِنَّةٌ ؕ

پیغمبر خپل | نو دوی | هغه لره | ناآشنا گڼرونکی دی | یا دوی وائی | چه په ده باندے | لیونتوب دے

نه دے پیژندلے نو ځکه ترے نه انکار کوی. یا دوی وائی چه دا لیونے دے.

بَلْ جَآءَهُمْ بِالْحَقِّ وَاَكْثَرُهُمْ لِلْحَقِّ كٰرِهُوْنَ ۝ وَلَوِ

بلکه | راغلے دے هغوی ته | په حق سره | او اکثر د دوی | حق لره | بد گڼرونکی دی | که چرے

(نه) بلکه اصل خبره دا ده چه دے پیغمبر (خو) دوی ته حق راوړے دے او په دوی کښی اکثر خلق حق نه خوښوی

اتَّبَعَ الْحَقُّ اَهْوَآءَهُمْ لَفَسَدَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ وَمَنْ

روان شی | حق | په خواهشاتو د دوی پسے | نو خامخا خراب به شی | آسمانونه | او زمکه | او هغه څوک

او که چرے حق د دوی خواهشاتو (شرک او کفر) پسے روان شی نو آسمانونه او زمکه او څوک چه په دے کښی او سیږی

فِيْهِنَّ ؕ بَلْ اَتَيْنٰهُمْ بِذِكْرِهِمْ فَهُمْ عَنْ ذِكْرِهِمْ

چه په دے کښی دی | بلکه | راوړے دے مونږ دوی ته | یادداشت (نصیحت) د دوی | پس دوی | د خپل یادداشت (نصیحت) نه

هغه ټول به تباه شی. (نه) بلکه مونږ دوی ته د دوی نصیحت راوړے دے خو دوی د خپل نصیحت نه مخ اړوی.

مُّعْرِضُوْنَ ۝ اَمْ تَسْـَٔلُهُمْ خَرْجًا فَخَرَاجُ رَبِّكَ خَيْرٌ ۖۗ وَّهُوَ

مخ اړونکی دی | یا ته غواړے د دوی نه | څه مزدوری | نو مزدوری | د رب ستا | ډیره ښه ده | او هغه دے

یا (دوی د انکار وجه دا ده چه) ته د دوی نه څه معاوضه غواړے (نو دا خبره هم غلط ده ځکه چه ستا رب عطا او بخشش ډیر ښه دے

خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ۝ وَاِنَّكَ لَتَدْعُوْهُمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝

د ټولو نه ښه | رزق ورکونکے | او بیشکه ته | خامخا رابلے دوی | لارے | نیغے ته

او هغه د ټولو نه ښه رزق ورکونکے دے. او مقصد د دعوت ستا هم غلط نه دے ځکه چه ته دا خلق سمے لارے ته رابلے.

وَاِنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ عَنِ الصِّرَاطِ لَنٰكِبُوْنَ ۝

او بیشکه | هغه کسان | چه ایمان نه لری | په آخرت | د (دغے) لارے نه | خامخا اوړه کوی

بلکه حقیقت دا دے چه کوم خلق په آخرت ایمان نه لری نو هغوی د کفر بالآخرت سبب د دے سمے لارے نه مخ اړولو

وَلَوْ رَحِمْنٰهُمْ وَكَشَفْنَا مَا بِهِمْ مِّنْ ضُرٍّ لَّلَجُّوْا

او که چرے | مونږ رحم او کړو په دوی باندے | او لرے کړو مونږ | هغه | چه دے په دوی باندے | څه تکلیف | نو خامخا ټینګ به شوی

او که چرے مونږ په دوی باندے رحم وکړو او کوم مصیبت (د قحط) کښی چه گیر دی هغه ترے نه لرے کړو

فِيْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ۝ وَلَقَدْ اَخَذْنٰهُمْ بِالْعَذَابِ

په سر کشئ خپله کښی | (چه) سر گردانه به وی | او یقینًا | او نیول مونږ دوی | په عذاب

نو بیا به هم دوی په خپله سر کشئ (گمراهئ) کښی سرو هلی برو هلی کرځی، او یقینًا مونږ (یو ځل) دوی په عذاب

فَمَا اسْتَكَانُوْا لِرَبِّهِمْ وَمَا يَتَضَرَّعُوْنَ ۝ حَتّٰٓى اِذَا فَتَحْ

نو تابعدار نه شو دوی | رب خپل ته | او نه دوی زاری او کړه | تر دے | چه کله | پرانیزو

او نیول خو بیا هم دوی نه خپل رب ته ټیټ شول او نه ئے (ورته) عاجزی او کړه، تر دے چه کله

ع

عَلَيْهِمْ بَابًا ذَا عَذَابٍ شَدِيْدٍ اِذَا هُمْ فِيْهِ مُبْلِسُوْنَ ۝٧٧

په دوی باندې | دروازه | د عذاب سخت والا | لو دغه وخت به | دوی | په هغې کښې | نا امیده شی

په دوی باندې د یو سخت ترین عذاب دروازه (د جهنم) پرانزو لو بیا به دوی په هغې کښې نا امیده شی

وَهُوَ الَّذِیْٓ اَنْشَاَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ؕ

او الله | هم هغه ذات دے | چه پیدا کړی دی | تاسو دپاره | غوږونه | او سترګے | او زړونه

او الله تعالیٰ هم هغه ذات دے چه تاسو له ئے غوږونه، سترګے او زړونه درکړی دی

قَلِیْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ۝٧٨ وَهُوَ الَّذِیْ ذَرَاَكُمْ فِی الْاَرْضِ

ډیر لږ | تاسو شکر کوئ | او الله هغه ذات دے | چه خواره کړی ئے یئ تاسو | په زمکه کښې

(خو تاسو ډیر لږ شکر کوئ (چه اقرار د دے نعمت کوئ خو سر تشکر کے نه) او الله تعالیٰ هم هغه ذات دے چه تاسو ئے په زمکه کښې خواره کړی یئ

وَاِلَیْهِ تُحْشَرُوْنَ ۝٧٩ وَهُوَ الَّذِیْ یُحْیٖ وَیُمِیْتُ وَلَهُ

او خاص هغه ته به | تاسو جمع کولی شئ | او هم الله هغه ذات دے | چه ژوندی کول کوی | او مړه کول کوی | او هم د هغه په اختیار کښې دی

او هم هغه ته به تاسو ور جمع کیږئ، او هم الله هغه ذات دے چه ژوندی ور کوی او مرګ راولی او هم د هغه په اختیار کښې دی

اخْتِلَافُ الَّیْلِ وَالنَّهَارِ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ۝٨٠ بَلْ قَالُوْا مِثْلَ مَا

بدلیدل | د شپے | او د ورځے | آیا نو تاسو عقل نه لرئ | بلکه | دوی وائی | په شان د هغے

انقلابات د شپے او د ورځے (په تلوار تلو سره او په تیارهٔ او رڼا کیدو سره). آیا نو تاسو بیا هم د عقل نه کار نه اخلئ؟

قَالَ الْاَوَّلُوْنَ ۝٨١ قَالُوْٓا ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا

چه ویلی وو | پخوانو خلقو | دوی وائی | آیا کله چه | مړه شو مونږ | او شو مونږ | خاورے | او هډوکی

بلکه (خبره داده چه) دوی هم د پخوانو په شان خبرے کوی. (او) وائی چه کله مونږ مړهٔ شو او خاورے او هډوکی شو

ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ۝٨٢ لَقَدْ وُعِدْنَا نَحْنُ وَاٰبَآؤُنَا هٰذَا

آیا مونږ به | خامخا بیا راپاځولی شو | یقیناً | وعده کړے شوے وه | مونږ سره | او زمونږ پلار نیکه سره | د دے

لو آیا مونږ به بیا ژوندی راپاځولی شو. یقیناً دا خو هم هغه وعده ده چه مونږ سره هم کیږی او زمونږ

مِنْ قَبْلُ اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِیْرُ الْاَوَّلِیْنَ ۝٨٣ قُلْ لِّمَنِ

مخکښې د دے نه | نهٔ دی دا | مګر | قصے | د پخوانو | او وایه | د چا په اختیار کښې ده

مشرانو سره هم شوے ده دا خو صرف د پخوانو خلقو قصے دی. اے نبی لږ دوی ته ووایه چه

الْاَرْضُ وَمَنْ فِیْهَآ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۝٨٤ سَیَقُوْلُوْنَ

(زمکه) | او څوک چه دی | په دے کښې | که چرے | تاسو | پوهیږئ | زر به او وائی دوی

او زمکه چه څه پکښې او سیږی دا ټول د چا په اختیار کښې دی، که پوهیږئ (نو جواب را کړئ) دوی به ضرور وائی

لِلّٰهِ ؕ قُلْ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ۝٨٥ قُلْ مَنْ رَّبُّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ

یار الله په اختیار کښې دی | او وایه | آیا نو تاسو نصیحت نه اخلئ | او وایه | څوک دے | مالک | د آسمانونو | اوو

کلام الله په اختیار کښې دی. ته ورته او وایه چه بیا تاسو نصیحت ولے نه قبلوئ؟ ورته ووایه چه د اوو آسمانونو

وَرَبُّ الۡعَرۡشِ الۡعَظِيۡمِ ۝٨٦ سَيَقُوۡلُوۡنَ لِلّٰهِ ؕ قُلۡ اَفَلَا تَتَّقُوۡنَ ۝٨٧

او مالک | دعرش | لوئے | زر به اووائی دوی | چه الله (دے) | او وایه | آیا نو تاسو له یریږئ

لو د عظیم الشان عرش مالک څوک دے؟ دوی به خامخا وائی چه دا هر څه د الله دی ته ورته او وایه چه بیا تاسو ولے نه یریږئ (چه شرک کوئ)؟

قُلۡ مَنۡۢ بِيَدِهٖ مَلَكُوۡتُ كُلِّ شَىۡءٍ وَّهُوَ يُجِيۡرُ

او وایه | څوک دے | چه د هغه په لاس کښې | حکومت دے | د هر یو | څیز | او هغه | پناه ور کوی

که ورته او وایه! چه د هر یو څیز مکمل اختیار (بادشاهی) د چا په لاس کښې ده؟ او هم هغه پناه ور کوی او د هغه په

وَلَا يُجَارُ عَلَيۡهِ اِنۡ كُنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ ۝٨٨ سَيَقُوۡلُوۡنَ لِلّٰهِ ؕ

او پناه نه شی ور کیدے | د هغه خلاف | که چرے | تاسو | پوهیږئ | زر به اووائی دوی | (چه) الله (دے)

مقابله کښې څوک پناه نه شی ور کولے، که تاسو پوهیږئ (نو جواب را کړئ) دوی به خامخا وائی چه الله دے

قُلۡ فَاَنّٰى تُسۡحَرُوۡنَ ۝٨٩ بَلۡ اَتَيۡنٰهُمۡ بِالۡحَقِّ وَاِنَّهُمۡ

او وایه | پس د کوم ځای نه | په تاسو جادو کولے شی | بلکه | مونږ راوړے دے دوی ته | حق | او بیشکه دوی

ته ورته او وایه چه بیا د کوم خوا نه ستاسو دماغ خراب شوی دی چه د الله دا صفتونه منئ او بیا هم شرک کوئ. (نه) بلکه اصل خبره

لَكٰذِبُوۡنَ ۝٩٠ مَا اتَّخَذَ اللّٰهُ مِنۡ وَّلَدٍ وَّمَا كَانَ مَعَهٗ

خامخا دروغژن دی | نه دی نیولے | الله | هیڅ څوک | او نشته دے | د هغه سره

دا ده چه مونږ دوی ته حق (خبره) را رسولے ده او دا خلق یقیناً دروغژن دی. نه خو الله څوی نیولے دے او نه ورسره بل څوک

مِنۡ اِلٰهٍ اِذًا لَّذَهَبَ كُلُّ اِلٰهٍۢ بِمَا خَلَقَ

بل هیڅ څوک اختیار مند برابر | (ګني) دغه وخت | به بوتلے وے | هر | اختیار مند | هغه څه | چه پیدا کړی ئے وو

برابر اختیار مند شته. ګني نو په دغه وخت کښې به هر خدائے پیدائش کړے شوے او بیا به ئے خپل مخلوق ځانله بیل کړے وو

وَلَعَلَا بَعۡضُهُمۡ عَلٰى بَعۡضٍ ؕ سُبۡحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا يَصِفُوۡنَ ۝٩١ۙ

او خامخا زور ور شوی به وو | بعضے د دوی نه | په بعضو باندے | پاک دے | الله | د هغه څه نه | چه دوی ئے بیانوی

او یو به په بل زور ور شوی وو. ... الله د هغه عیبونو نه پاک دے چه دوی ئے بیانوی

عٰلِمِ الۡغَيۡبِ وَالشَّهَادَةِ فَتَعٰلٰى عَمَّا يُشۡرِكُوۡنَ ۝٩٢ قُلۡ

پوهه دے | په پټو | او په ښکارو | پس ډیر اوچت دے هغه | د هغه څه نه | چه دوی ئے ورسره شریکوی | او وایه

او الله په پټو او ښکاره خبرو باندے ښه پوهه دے پس (غرض دا چه) الله په مرتبه کښې ډیر اوچت دے د دوی د شریکانو نه

رَّبِّ اِمَّا تُرِيَنِّىۡ مَا يُوۡعَدُوۡنَ ۝٩٣ۙ رَبِّ فَلَا تَجۡعَلۡنِىۡ

اے زما ربه | که چرے | ته ښائے ما ته | هغه څه | چه دوی سره ئے وعده کولے شی | اے زما ربه | نو ما مه شاملوه

اے نبی دعا وکړه (و وایه) چه ای زما ربه! د کوم عذاب چه دوی سره وعده شوے ده که ته هغه ما ته ښائے

فِى الۡقَوۡمِ الظّٰلِمِيۡنَ ۝٩٤ وَاِنَّا عَلٰٓى اَنۡ نُّرِيَكَ مَا نَعِدُهُمۡ

په قوم | ظالمانو کښې | او بیشکه مونږ | په دے | چه او ښایو تا ته | هغه څه | چه مونږ ئے وعده کوو د دوی سره

نو اے زما ربه ما د ظالمانو خلقو سره په عذاب کښې او په سبب د عذاب کښې مه شاملوه او یقین او کړه چه مونږ د کوم څیز نه دوی یرو و

لَقٰدِرُوْنَ ﴿٩٥﴾ اِدْفَعْ بِالَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ السَّیِّئَةَ ط نَحْنُ اَعْلَمُ

خامخا قادر یو | دفع کوه | په هغه طریقه | چه هغه | ډیره ښائسته ده | بدئ لره | مونږ | پوهیږو

مونږ تاته د هغے ښودلو پورے قدرت لرو. اے نبی! ته په ښه طریقه دعوت ورکوه او کوم کښې چه بدی وی نو په جواب کښې ښائسته طریقه اختیاروه

بِمَا یَصِفُوْنَ ﴿٩٦﴾ وَقُلْ رَّبِّ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ هَمَزٰتِ

په هغه څه | چه دوی ئے بیانوی | او وایه | اے زما ربه | زه پناه غواړم | په تا سره | د | وسوسو

(یعنی صبر کوه عفوه کوه او دعا کښے غواړه) دوی چه څه بیانوی په هغے مونږ ښه پوهیږو او اے نبی! ته او وایه چه اے زما ربه! زه د شیطانانو د وسوسو نه

الشَّیٰطِیْنِ ﴿٩٧﴾ وَاَعُوْذُ بِكَ رَبِّ اَنْ یَّحْضُرُوْنِ ﴿٩٨﴾ حَتّٰۤی

د شیطانانو نه | او زه پناه غواړم | په تا سره | اے زما ربه | (د دے نه) چه | دوی حاضر شی ما ته | تر دے

ستا پناه غواړم. او اے زما ربه! زه د دے خبرے نه هم ستا پناه غواړم چه هغوی ما له راشی (دوی به مخالفت کوی) تر دے

اِذَا جَآءَ اَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُوْنِ ﴿٩٩﴾ لَعَلِّیْۤ

چه کله | راشی | یو کس ته د دوی نه | مرګ | (نو) وائی به | اے زما ربه | واپس او لیږه ما | کیدے شی چه زه

چه کله په دوی کښې یو کس له مرګ راشی نو او به وائی چه اے زما ربه ما واپس ولیږه دے دپاره (کیدے شی

اَعْمَلُ صَالِحًا فِیْمَا تَرَكْتُ كَلَّا ط اِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ

عمل او کړم | نیک | په بدله د هغه څه کښې | چه پریښودلی دی ما | هیڅ کله نه | بیشکه دا خو | یوه خبره ده | چه دے

چه کوم عملونه ما پریښودلے دی د هغے په بدله کښې (څه) نیک عمل او کړم. هرګز نه، دا خو یوه خبره ده چه دے ئے

قَآئِلُهَا ط وَمِنْ وَّرَآئِهِمْ بَرْزَخٌ اِلٰی یَوْمِ یُبْعَثُوْنَ ﴿١٠٠﴾ فَاِذَا

وئیلے د هغے دے | او د دوی مخے ته | یوه پرده د برزخ | تر هغے پورے | چه دوی به بیا را پاڅولی شی | پس کله چه

په خوله کوی. او د دوی مخے ته به یوه پرده تر هغه وخته پورے وی چه کله به دوی (د قبرونو نه) را پاڅیږی بیا چه کله

نُفِخَ فِی الصُّوْرِ فَلَآ اَنْسَابَ بَیْنَهُمْ یَوْمَئِذٍ

پوکے او وهلی شی | په شپیلۍ کښې | نو نه به وی نسبونه (رشتے) | د دوی په مینځ کښې | په دغه ورځ

د ویره شپیلۍ کښې پوک او وهلی شی نو په دغه ورځ به نه د دوی په مینځ کښې رشتے باقی پاتے شی

وَلَا یَتَسَآءَلُوْنَ ﴿١٠١﴾ فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِیْنُهٗ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿١٠٢﴾

او نه به دوی تپوسونه کوی یو بل نه | پس هغه څوک | چه درنے شی | تلے د هغه | نو هم دغه خلق به | کامیاب وی

او نه به د یو بل نه د رحم تپوس کولے شی، نو د چا د عملونو تله چه درنه شی هم دغه خلق به کامیاب شی

وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِیْنُهٗ فَاُولٰٓئِكَ الَّذِیْنَ خَسِرُوْۤا اَنْفُسَهُمْ

او هغه څوک | چه سپکے شی | تلے د هغه | نو هم دا | خلق دی | چه تلوان کښې ئے اچول | ځانونه خپل

او د چا د عملونو تله چه سپکه شی نو هم دا هغه خلق دی چه پخپله ئے د خپل ځانونو تاوان کړے دے

فِیْ جَهَنَّمَ خٰلِدُوْنَ ﴿١٠٣﴾ تَلْفَحُ وُجُوْهَهُمُ النَّارُ وَهُمْ فِیْهَا

په دوزخ کښې به | همیشه وی | سوزوی به | مخونو د دوی لره | اور | او دوی به | په هغے کښې

(او) همیشه په دوزخ کښې اوسیږی. اور به د دوی مخونه سوزوی او د دوی مخونه به هلته وران شوی وی.

كَالِحُوْنَ۝ اَلَمْ تَكُنْ اٰيٰتِىْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ فَكُنْتُمْ بِهَا

بدشکله وی | آیا نه وو | آیتونه زما | چه لوستل به شو | په تاسو باندے | نو وئ تاسو | چه هم هغه به مو

(او ورته به او ویل شی چه) آیا تاسو ته به زما آیتونه نه بیانیدل نو تاسو به هغه دروغژن گنړل؟

تُكَذِّبُوْنَ۝ قَالُوْا رَبَّنَا غَلَبَتْ عَلَيْنَا شِقْوَتُنَا وَكُنَّا

دروغژن گنړل | دوی به او وائی | اے زمونږ ربه | غالبه شوے وه | په مونږ باندے | بدبختی زمونږ | او وو مونږ

دوی به او وائی اے زمونږ ربه! مونږ باندے زمونږ بدبختی غالبه شوے وه او یقینًا مونږ

قَوْمًا ضَآلِّيْنَ۝ رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا مِنْهَا فَاِنْ عُدْنَا فَاِنَّا

یو قوم | گمراه | اے ربه زمونږ | او باسه مونږ | د دے نه | پس که چرے | واپس شو مونږ | نو بیشکه مونږ به

گمراه خلق وو. اے زمونږ ربه! اته مونږ د دے دوزخ نه اوباسه که بیا هم مونږ دوباره کفر او شرک او کړو نو یقینًا مونږ به

ظٰلِمُوْنَ۝ قَالَ اخْسَئُوْا فِيْهَا وَلَا تُكَلِّمُوْنِ۝ اِنَّهٗ كَانَ

ظالمان یو | او به وائی (الله) | کورے شئ | په دے کښ | او خبرے مه کوئ زما سره | بیشکه | وه

ډیر ظالمان یو. الله به ورته او وائی په دے دوزخ کښ ذلیله او سپیځ او ما سره خبرے مه کوئ. یقینًا

فَرِيْقٌ مِّنْ عِبَادِىْ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اٰمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا

یوه ډله | د بندګانو زما نه | چه ویل ئے | اے ربه زمونږ | ایمان راوړے دے مونږ | نو وبخښنه او کړه | مونږ ته

زما په بندګانو کښ یو ډلے به ویل چه اے زمونږ ربه! مونږ ایمان راوړے دے نو ته را ته معافی وکړه

وَارْحَمْنَا وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰحِمِيْنَ۝ۚ فَاتَّخَذْتُمُوْهُمْ سِخْرِيًّا

او رحم او کړه په مونږ | او ته ئے | (د ټولو نه) غوره | رحم کونکے | نو تاسو به کولے په دوی پورے | ټوقے

او رحم را باندے او کړه او ته د ټولو نه ښه رحم کونکے یے. نو تاسو به په دوی پورے ډیرے زیاتے ټوقے کولے

حَتّٰىٓ اَنْسَوْكُمْ ذِكْرِىْ وَكُنْتُمْ مِّنْهُمْ تَضْحَكُوْنَ۝ اِنِّىْ

تر دے | چه دوی هیر کړو تاسو نه | یاد زما | او وئ تاسو | چه په دوی پورے به مو | خندا کوله | بیشکه ما

تر دے چه ددوی هغه مسخرو تاسو نه زما یاد هیر کړو او تاسو به په دوی پورے خندل. د هغوی

جَزَيْتُهُمُ الْيَوْمَ بِمَا صَبَرُوْٓا ۙ اَنَّهُمْ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ۝

بدله ورکړه دوی ته | نن | په دے وجه | چه هغوی صبر کړے وو | (دا) چه بیشکه هم دوی | کامیاب | دی

د صبر په وجه ما هغوی ته نن دا بدله ورکړه چه هم هغوی په خپل مقصد کښ کامیاب شول.

قٰلَ كَمْ لَبِثْتُمْ فِى الْاَرْضِ عَدَدَ سِنِيْنَ۝ قَالُوْا

او به وائی (الله) | څومره | وخت تیر کړے دے تاسو | په زمکه کښ | په شمار | د کلونو؟ | او به وائی دوی

الله به دوی ته او وائی چه تاسو په زمکه کښ د کلونو په حساب څومره موده پاتے شوی یئ؟ دوی به او وائی

لَبِثْنَا يَوْمًا اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ فَسْئَلِ الْعَآدِّيْنَ۝ قٰلَ

څه مونږ وخت تیر کړے دے | یوه ورځ | یا څه حصه د ورځ | پس تپوس وکړه | د شمار کونکو نه | او به وائی (الله)

چه یوه ورځ یا د ورځے څه لږه حصه به پاتے شوی یو. د شمار کونکو نه تپوس او کړه. الله به ورته او وائی که چرے تاسو هغه لږے

إِنْ لَّبِثْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا لَّوْ أَنَّكُمْ كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ⑭ أَفَحَسِبْتُمْ

وخت نه مو تېر کړے تاسو | مګر | ډير لږ | که | تاسو | پوهيدلئ | آيا نو تاسو خيال کوئ

نو تاسو (خو) ډير لږ وخت پاتے شوي يئ. آيا ستاسو دا خيال دے چه

أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ ⑮

چه بيشکه | مونږ پيدا کړي يئ تاسو | بېکاره (فضول) | او دا چه بيشکه تاسو به | مونږ ته | واپس کولی نه شئ

ګنړے مونږ تاسو هسے عبث (بے مقصده) پيدا کړي يئ او تاسو به ګنړے مونږ ته واپس نه راځئ؟

فَتَعَالَى اللَّهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ ۖ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ

پس ډير او چت دے | الله | چه بادشاه دے | حقيق | نشته | لائق د عبادت | سوا | دهغه نه | مالک دے | د عرش

غرض ډير او چت شان دے دهغه الله چه حقيقي بادشاه دے. دهغه نه سوا بل هيڅ څوک د عبادت لائق نشته

الْكَرِيمِ ⑯ وَمَن يَدْعُ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ لَا بُرْهَانَ لَهُ

عزتمند | او هغه څوک | چه رابلي | د الله سره | مددګار | بل | چه نشته هيڅ دليل | دهغه سره

هغه دعزتمند عرش مالک دے. او څوک چه د الله تعالیٰ سره بل مددګار ته رامدد شه وائي چه په هغے ورسره

بِهِ فَإِنَّمَا حِسَابُهُ عِندَ رَبِّهِ ۚ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْكَافِرُونَ ⑰

په دے باندے | نو بيشکه | دهغه حساب | دخپل رب سره دے | بيشکه | نه شي کاميابيدے | کافران

هيڅ دليل نشته نو يقيناً دهغه حساب به دخپل رب سره کيږي يقين او کړه چه کافران نه شي کاميابيدے.

وَقُل رَّبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ وَأَنتَ خَيْرُ الرَّاحِمِينَ ⑱

او اووايه | اے زما ربه | بخښنه او کړه | او رحم او کړه | او ته ئے | (د ټولو نه) ښه | رحم کونکے

او اے نبي! دا دعا غواړه چه اے زما ربه معافي او کړه او رحم او کړه په ما باندے او زما په حال ګروه باندے او ته د ټولو نه ښه رحم کونکے ئے

آياتها [٦۴]	سورة النّور مدنيّة	ركوعاتها [٩]

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډير مهربان | زيات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم.

سُورَةٌ أَنزَلْنَاهَا وَفَرَضْنَاهَا وَأَنزَلْنَا فِيهَا آيَاتٍ

دا يو سورت دے | مونږ رالیږلے دے دا | او مونږ فرض کړے دے دا | او مونږ راليږلي دي | په دے کښې | آيتونه

دا يو لوے شان والا سورت (دے) چه مونږ راليږلے دے او مونږ په دے باندے عمل کول فرض کړي دي او مونږ

بَيِّنَاتٍ لَّعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ① الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا

واضحه | دے دپاره چه تاسو | نصيحت واخلئ | زناکاره ښځه | او زناکار سړے | پس او وهئ

راليږلي دي په دے کښې واضحه احکام دے دپاره چه تاسو ترينه نصيحت واخلئ زناکاره ښځه او زناکار سړے او وهئ

كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ وَّلَا تَأْخُذْكُمْ بِهِمَا

هر | یو | د دے دواړو نه | سل | کوړے | او او دے نه نیسی تاسو | په حق د دواړو باندے

هر یو د دے دواړو نه سل کوړے. او جائز نه دی تاسو لره چه نرمی او رعایت او کړے د دے دواړو سره

رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ

رحم (ترس) | په دین د الله کښ | که چرے تاسو | ایمان لرئ | په الله | او په ورځ

د الله تعالیٰ د حکم په نافذ کولو کښ که چرے تاسو ایمان لرئ په الله او په ورځ د آخرت

الْآخِرِ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَائِفَةٌ مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ الزَّانِي

روستئ | او حاضر دی شی | سزا د دے دواړو ته | یوه ډله | د | مومنانو نه | زناکار سړے

او د مومنانو یوه ډله د دے د عبرت د پاره د دے دواړو سزا ته حاضر دے شی۔ زناکار سړے

لَا يَنْكِحُ إِلَّا زَانِيَةً أَوْ مُشْرِكَةً وَّالزَّانِيَةُ لَا يَنْكِحُهَا

نکاح نه کوی | مگر | د زناکارے ښځے | یا مشرکے ښځے سره | او (د غه شان) زناکاره ښځه (هم) | نکاح نه کوی د هغے سره

نکاح نه کوی (بنا په عادت ناکړی خپل باندے) مگر د زناکارے ښځے یا مشرکے سره. او زناکاره ښځه (بنا په عادت ناکړی خپل)

إِلَّا زَانٍ أَوْ مُشْرِكٌ وَحُرِّمَ ذَلِكَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَالَّذِينَ

مگر زناکار سړے | یا مشرک سړے | او حرام کړے شوے دے | دا کار | په مومنانو باندے | او هغه خلق

نکاح نه کوی د هغے سره مگر زناکار سړے یا مشرک. او بند کړے شوے دے دا عادت نیول په مؤمنانو باندے

يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ

چه بدنامی | پاک لمنے زنانه | بیا | رانه ول دوی | څلور | گواهان | نو ووهئ دوی

او کوم خلق چه په پاک لمنو زنانو (او نارینو) باندے تهمت لگوی او بیا ورسره څلور (نارینه) گواهان نه وی نو ووهئ

ثَمَانِينَ جَلْدَةً وَّلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا وَأُولَئِكَ

اتیا | کوړے (درے) | او مه قبلوئ | د دوی | گواهی | هیڅ چرے (همیشه) | هم دغه خلق

اتیا کوړے (دُرے) او وهئ او گواهی ئے هیڅ کله مه قبلوئ او دا خلق

هُمُ الْفَاسِقُونَ إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِنْ بَعْدِ ذَلِكَ وَأَصْلَحُوا

نافرمانه | دی | مگر | هغه خلق | چه توبه او باسی | وروسته د دے نه | او اصلاح او کړی د عمل

هم دوی فاسقان دی. البته چا چه د دے کار نه وروستو توبه او ویستله او خپل عمل ئے سم کړو (نو اثر د فسق به ترینه

فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ

پس بیشکه | الله | ډیر بخښونکے | زیات مهربان دے | او هغه خلق | چه تهمت لگوی | په خپلو ښځو باندے

ختم شی ځکه چه) یقیناً الله تعالیٰ ډیر بخښونکے مهربان دے. او کوم خلق چه په خپلو ښځو تهمت یا الزام د زنا لگوی

وَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنْفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ

او نه وی | د دوی سره | گواهان | سوا | د خپلو ځانونو نه | پس گواهی | د یو کس د دوی

او بیا ورسره د خپل ځان نه علاوه (نور) گواهان نه وی نو د داسے سړی د گواهئ طریقه داده

اَرْبَعُ شَهٰدٰتٍۭ بِاللّٰهِ ۙ اِنَّهٗ لَمِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۞ ۶ وَالْخَامِسَةُ اَنَّ

څلور | گواهئ (قسمه) دی | په الله | چه بیشکه دے | خامخا د رشتینوله دے | او پنځمه گواهي دا (ده) | چه بیشکه

چه څلور ځله به په الله تعالیٰ قسم خوری چه دا یقیناً رشتنے دے او په پنځم ځل به

لَعْنَتَ اللّٰهِ عَلَيْهِ اِنْ كَانَ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۞ ۷ وَيَدْرَؤُا عَنْهَا

لعنت | د الله دے شوی | په ده باندے | که چرے | وی دے | د دروغژنو نه | او لرے کوی | د دے ښځے نه

دا او وائی چه که چرے دے دروغژن وی نو په ده دے د الله لعنت وی، او د ښځے نه د زنا

الْعَذَابَ اَنْ تَشْهَدَ اَرْبَعَ شَهٰدٰتٍۭ بِاللّٰهِ ۙ اِنَّهٗ

عذاب | دا چه | گواهي ورکړی هغه | څلور | گواهئ (قسمونه) | په الله | چه بیشکه هغه دے

دسزا د لرے کولو طریقه دا ده چه هغه به څلور ځلے په الله تعالیٰ قسم خوری چه یقیناً دا (خاوند)

لَمِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۞ ۸ وَالْخَامِسَةَ اَنَّ غَضَبَ اللّٰهِ عَلَيْهَآ اِنْ كَانَ

خامخا د دروغژنو نه | او پنځمه (گواهي) دا (ده) | چه غضب دے وی | د الله | په دے باندے | که چرے وی هغه

دروغژن دے او په پنځم ځل به دا او وائی که چرے دا (خاوند) رشتنے وی نو په دے (ښځه) دے د الله تعالیٰ غضب نازل شی.

مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۞ ۹ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ وَاَنَّ

د رشتینو نه | او که چرے نه وے | فضل | د الله | په تاسو | او رحمت د هغهٔ | او دا چه بیشکه

او که چرے د الله تعالیٰ فضل (ستاسو په حال) نه وے او رحمت (ستاسو په حال) نه وے نو تاسو به ... او الله تعالیٰ توبه قبلونکے

اللّٰهَ تَوَّابٌ حَكِيْمٌ ۞ ۱۰ ع اِنَّ الَّذِيْنَ جَآءُوْ بِالْاِفْكِ عُصْبَةٌ

الله | ډیر توبه قبلونکے | حکمت والا دے | بیشکه | هغه خلق | چه راوړے ئے دی | دروغ (بهتان) | یو مضبوط ډله ده

او حکمت والا ذات نه وے (نو تاسو به ضرور مبتلا شوی وی په فحشو کښې) یقیناً او کړی چه کوم خلقو بدنامه لګولے حضرت عائشه باندے

مِّنْكُمْ ؕ لَا تَحْسَبُوْهُ شَرًّا لَّكُمْ ؕ بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ؕ

ستاسو نه | مه ګڼړئ تاسو دا | بد | د ځان د پاره | بلکه | دا | ډیر غوره ده | ستاسو د پاره

هغوی هم ستاسو یوه ډله ده. تاسو دا خبره د ځان د پاره بده (شر) مه ګڼړئ بلکه دا (خو) ستاسو د پاره ډیره فائده منده ده

لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ مَّا اكْتَسَبَ مِنَ الْاِثْمِ ۚ وَالَّذِيْ

د پاره د هر یو کس | د دوی نه | سزا د هغه څه ده | چه هغه کړی وی | د ګناه نه | او هغه کس

په دوی کښې چه هر چا څومره حصه اخستلے ده هغه ته به هغه هومره د ګناه سزا ملاویږی. او چا

تَوَلّٰى كِبْرَهٗ مِنْهُمْ لَهٗ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۞ ۱۱ لَوْلَآ

چه ذمه واری ئے اخستلے ده | د لوے بوج د دے | د دوی نه | د هغه د پاره | عذاب دے | ډیر لوئے | ولے نه وه

چه په کښې د ټولو نه زیاته حصه اخستے ده (عبدالله بن ابی بن سلول) هغه ته به سزا هم ډیره غټه ملاویږی کله چه

اِذْ سَمِعْتُمُوْهُ ظَنَّ الْمُؤْمِنُوْنَ وَالْمُؤْمِنٰتُ بِاَنْفُسِهِمْ

کله چه | واوریدله تاسو دا خبره | چه ګمان کړے وے | مؤمنانو سړو | او مؤمنانو ښځو | په خپلو خلقو

تاسو دا خبره واوریدله نو مؤمنانو سړو او ښځو په خپلو ملګرو باندے ښه ګمان ولے او نه کړو؟

خَيْرًا ۙ وَّقَالُوْا هٰذَآ اِفْكٌ مُّبِيْنٌ ۝۱۲ لَوْلَا جَآءُوْ عَلَيْهِ بِاَرْبَعَةِ

د نیکۍ | او ویل ئې وے (چه) دا | دروغ دي | ښکاره | ولې رانهٔ وستل دوی | په دے باندے | څلور

او دا به ئې ویلي وو چه دا خو ښکاره دروغ دي. تهمت لګونکو په دے خبره څلور ګواهان ولې

شُهَدَآءَ ۚ فَاِذْ لَمْ يَاْتُوْا بِالشُّهَدَآءِ فَاُولٰٓئِكَ عِنْدَ اللّٰهِ

ګواهان | پس هر کله | چه دوی رانه وستل | ګواهان | نو هم دغه خلق | په نزد | د الله

پیش نه کړل؟ اوس چه هغوی ګواهان نه دي پیش کړي نو د الله تعالیٰ په نزد هم

هُمُ الْكٰذِبُوْنَ ۝۱۳ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ

دوی دروغژن دي | او که چرے نه وے | فضل | د الله | په تاسو باندے | او رحمت د هغهٔ

دوی دروغژن دي. او که په تاسو باندے په دنیا او آخرت کښې د الله تعالیٰ فضل او رحمت

فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ لَمَسَّكُمْ فِيْمَآ اَفَضْتُمْ فِيْهِ

په دنیا | او په آخرت کښې | نو خامخا به رسیدلے وے تاسو ته | د هغه کار په وجه | چه تاسو ورننوتي یوئ | په هغے کښې

(چه نازل دخائسته آدابو دي) نه وے نو په کومو خبرو کښې چه تاسو لګیا وئ د هغے په وجه به در باندے

عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۝۱۴ اِذْ تَلَقَّوْنَهٗ بِاَلْسِنَتِكُمْ وَتَقُوْلُوْنَ

عذاب | ډیر لوئې | کله چه | واخستله تاسو دا خبره | په خپلو ژبو | او تاسو ویل

ډیر لوئې عذاب راغلے وے. کله چه دا خبره تاسو په خپلو ژبو دیو بل نه نقل کوله او په خپلو خولو مو

بِاَفْوَاهِكُمْ مَّا لَيْسَ لَكُمْ بِهٖ عِلْمٌ وَّتَحْسَبُوْنَهٗ هَيِّنًا ۖ

په خپلو خولو | هغه څه | چه نه وو | تاسو سره | په هغے باندے | څه علم | او ګڼړله تاسو دا خبره | معمولي

هغه خبرے کولے چه د هغے باره کښې تاسو سره هیڅ علم نه وو او تاسو دا خبره معمولي ګڼړله

وَّهُوَ عِنْدَ اللّٰهِ عَظِيْمٌ ۝۱۵ وَلَوْلَآ اِذْ سَمِعْتُمُوْهُ قُلْتُمْ

او هغه وه | په نزد | د الله | ډیره لویه (خبره) | او ولے نه وه | کله چه | واوریدلو تاسو دا تهمت | چه ویلي (وئ) تاسو

حالانکه د الله تعالیٰ په نزد ډیره غټه (خرابه) خبره وه. کله چه تاسو دا خبره واوریدله نو تاسو دا ولے او نه ویل

مَّا يَكُوْنُ لَنَآ اَنْ نَّتَكَلَّمَ بِهٰذَا ۖ سُبْحٰنَكَ هٰذَا بُهْتَانٌ

نه دي مناسب | مونږ لره | چه خوله اوخوزوو | په دے خبره | پاک ئې ته | دا خو | بهتان دے

چه مونږ سره دا سے خبرے کول نه ښائي. اے الله ته ډیر پاک ئې. دا خو ډیر لوئې بهتان دے

عَظِيْمٌ ۝۱۶ يَعِظُكُمُ اللّٰهُ اَنْ تَعُوْدُوْا لِمِثْلِهٖٓ اَبَدًا اِنْ كُنْتُمْ

ډیر لوئې | نصیحت کوي تاسو ته | الله | چه بیا ونه کړئ | د دے پشان کار | هیڅ کله | که چرے | یئ تاسو

که تاسو واقعي مومنان یئ نو الله تعالیٰ در ته په دے ذکر شوؤ آدابو سره نصیحت کوي چه بیا دا سے کار ونه کړئ،

مُّؤْمِنِيْنَ ۝۱۷ وَيُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝۱۸

مومنان | او بیانوي | الله | تاسو ته | آیتونه (احکام) | او الله | ښه پوهه | لوئې حکمت والا دے

او الله تعالیٰ تاسو ته خپل حکمونه (آیتونه) صفا صفا بیانوي او الله تعالیٰ ډیر پوهه او حکمت والا ذات دے.

اِنَّ الَّذِیْنَ یُحِبُّوْنَ اَنْ تَشِیْعَ الْفَاحِشَةُ فِی الَّذِیْنَ

بیشکه | هغه کسان | چه خوښوی | دا چه خوره شی | بے حیائی | په هغه خلقو کښ

یاد ساتۍ کوم خلق چه دا غواړی چه په مسلمانانو کښ بے حیائی خوره شی

اٰمَنُوْا لَهُمْ عَذَابٌ اَلِیْمٌ ۙ فِی الدُّنْیَا وَالْاٰخِرَةِ ؕ

چه ایمان ئے راوړے دے | هغوی دپاره | عذاب دے | دردناک | په دنیا | او په آخرت کښ

د هغوی دپاره په دنیا او اخرت کښ ډیر دردناک عذاب مقرر دے.

وَاللّٰهُ یَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ۝١٩ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَیْكُمْ

او الله | پوهیږی | او تاسو | نه پوهیږئ | او که چرے نه وے | فضل | د الله | په تاسو باندے

او الله تعالیٰ په هر څه پوهیږی او تاسو نه پوهیږئ. او که د الله تعالیٰ فضل او رحمت په تاسو باندے نه وے

وَرَحْمَتُهٗ وَاَنَّ اللّٰهَ رَءُوْفٌ رَّحِیْمٌ ۝٢٠ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا

او رحمت دهغهٔ | او دا چه | الله | ډیر شفقت کونکے | زیات رحم کونکے دے | اے | مؤمنانو!

(په بندولو د اشاعت د فاحشے سره) او الله تعالیٰ نرمی کونکے مهربان نه وے (نو تاسو نه شوئ بچ کیدے) اے مومنانو!

لَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّیْطٰنِ ؕ وَمَنْ یَّتَّبِعْ خُطُوٰتِ الشَّیْطٰنِ

مه ځئ تاسو | په قدمونو | د شیطان (پسے) | او هغه څوک | چه روان شی | په قدمونو | د شیطان پسے

شیطان پسے مه ځئ او څوک چه شیطان پسے روان شی

فَاِنَّهٗ یَاْمُرُ بِالْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ ؕ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ

نو بیشکه هغه (خو) | ښودنه کوی | د بے حیایئ | او د ناروا (بدکار) | او که چرے نه وے | فضل | د الله

نو یقیناً هغه ورته د بے حیائی او د بدکارو حکم کوی. او که د الله تعالیٰ فضل

عَلَیْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ مَا زَكٰی مِنْكُمْ مِّنْ اَحَدٍ اَبَدًا ۙ وَّلٰكِنَّ

په تاسو | او رحمت دهغهٔ | نو پاک شوے به نهٔ وے | ستاسو نه | یو کس (هم) | هیڅ کله | لیکن

او رحمت په تاسو باندے نه وے (په نازلولو د دے سورت سره) نو په تاسو کښ به یو کس هم پاک شوے نه وے لیکن

اللّٰهَ یُزَكِّیْ مَنْ یَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ سَمِیْعٌ عَلِیْمٌ ۝٢١ وَلَا یَاْتَلِ

الله | پاکوی | چالره | چه او غواړی | او الله | ښه اوریدونکے | ښه پوهه دے | او قسم دے نه خوری

الله تعالیٰ چه چالره او غواړی نو پاکوی ئی. او الله تعالیٰ د هر څه اوریدونکے په هر څه باندے پوهه دے.

اُولُوا الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ اَنْ یُّؤْتُوْۤا اُولِی الْقُرْبٰی

فضیلت والا (خلق) | ستاسو نه | او فراخۍ والا (خلق) | دا چه ورکړه به نهٔ کوی | خپلوانو ته

(اے مومنانو) او په تاسو کښ دے اهل فضیلت او مالداره خلق دا بے قسمونه نه خوری چه خپلو خپلوانو.

وَالْمَسٰكِیْنَ وَالْمُهٰجِرِیْنَ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ ۪ۖ وَلْیَعْفُوْا وَلْیَصْفَحُوْا ؕ

او مسکینانو ته | او مهاجرینو ته | د الله په لار کښ | او معاف دے اوکړی | او مخ دے واړوی

مسکینانو او د الله تعالیٰ په لاره کښ هجرت کونکو ته څه به نه ورکوی. بلکه د معافۍ او درگزر نه دے کار واخلی.

ع

اَلَا تُحِبُّوْنَ اَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٢٢﴾

آيا تاسو له غواړئ | چه بخښنه اوکړي | الله | تاسو ته | او الله | ډير بخښونکے | زيات رحم کونکے دے

ولے تاسو دا نۀ غواړئ چه الله تعالٰی درته معافي اوکړي؟ او الله تعالٰی ډير بخښونکے ډير رحم کونکے دے

اِنَّ الَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ الْمُحْصَنٰتِ الْغٰفِلٰتِ الْمُؤْمِنٰتِ

بيشکه | هغه کسان | چه تهمت لګوي | په پاک لمنو | بے خبره | مومنانو ښځو باندے

يقينًا کوم خلق چه په پاکدامنو بے خبرو مومنانو زنانو باندے تهمتونه لګوي هغوي باندے

لُعِنُوْا فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۪ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿٢٣﴾

لعنت کړے شوے دے په هغوي باندے | په دنيا | او په آخرت کښ | او د هغوي دپاره | عذاب دے | ډير لوئے

په دنيا او آخرت کښ لعنت کړے شوے دے او د هغوي دپاره ډير لوئے عذاب مقرر دے.

يَّوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ اَلْسِنَتُهُمْ وَاَيْدِيْهِمْ وَاَرْجُلُهُمْ

په هغه ورځ | چه ګواهي به کوي | په دوي باندے | ژبے | خپلے | او لاسونه | خپل | او خپے | خپلے

په هغه ورځ چه د دوي ژبے، لاسونه او خپے به د دوي خلاف د هغه عملونو ګواهي ورکوي

بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٢٤﴾ يَوْمَئِذٍ يُّوَفِّيْهِمُ اللّٰهُ دِيْنَهُمُ الْحَقَّ

د هغه څه | چه دوي به | کول | په دغه ورځ | پوره پوره به ورکړي دوي ته | الله | بدله د دوي | په انصاف

چه دوي به کول. په دغه ورځ به الله تعالٰی دوي ته د دوي پوره پوره بدله ورکړي

وَيَعْلَمُوْنَ اَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ الْمُبِيْنُ ﴿٢٥﴾ اَلْخَبِيْثٰتُ

او پوهه به شي دوي | چه بيشکه | الله | هم هغه دے | حق | ښکاره کونکے | پليتے ښځے

او دوي ته به پته اولګي چه يقينًا هم الله حق دے او حقه خبره ښکاره کونکے دے پليتے ښځے

لِلْخَبِيْثِيْنَ وَالْخَبِيْثُوْنَ لِلْخَبِيْثٰتِ ۚ وَالطَّيِّبٰتُ لِلطَّيِّبِيْنَ

د پليتو سړو دپاره دي | او پليت سړي | د پليتو ښځو دپاره دي | او پاکے ښځے | د پاکو سړو دپاره دي

د پليتو سړو لائق دي او پليت سړي د پليتو ښځو سره لائق دي او پاکے ښځے د پاکو سړو سره لائق دي

وَالطَّيِّبُوْنَ لِلطَّيِّبٰتِ ۚ اُولٰٓئِكَ مُبَرَّءُوْنَ مِمَّا يَقُوْلُوْنَ ؕ

او پاک سړي | د پاکو ښځو دپاره دي | دغه خلق | پاک کړے شوي دي | د هغه څه نه | چه دوي ئے وائي

او پاک سړي د پاکو ښځو سره لائق دي دا (پاک سړي او ښځے) د هغه خبرو نه بلکل پاک دي چه دا خلق ئے ورله وائي

ع لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ﴿٢٦﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا

د هغوي دپاره | بخښنه ده | او رزق دے | عزتمند | اے | مومنانو | مه داخليږئ

د دوي (پاکو خلقو) دپاره بخښنه او عزتمند رزق مقرر دے. اے مومنانو د خپلو کورونو (د خپلے ښځے دا وسيدو ځائے) نه سوا

بُيُوْتًا غَيْرَ بُيُوْتِكُمْ حَتّٰى تَسْتَاْنِسُوْا وَتُسَلِّمُوْا عَلٰۤى اَهْلِهَا ؕ

کورونو ته | سيوا | د خپلو کورونو نه | تر دے | چه اجازت اوغواړئ تاسو | او سلام واچوئ | په اوسيدونکو د هغے باندے

نورو کورونو ته تر هغه وخته پورے مه ورننوځئ ترڅو چه تاسو اجازت نه وي اغستے او د هغے په اوسيدونکو مو سلام نه وي اچولے

ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ۝ فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا

دا | ډیره غوره ده | ستاسو دپاره | دے دپاره چه تاسو | نصیحت واخلئ | پس که چرے | بیا نه موندلو تاسو

دا ستاسو دپاره ډیره غوره ده امید دے چه تاسو دا یاد اوساتئ او که په دغه کورونو کښې تاسو څوک اُونه موندلو

فِيْهَآ اَحَدًا فَلَا تَدْخُلُوْهَا حَتّٰى يُؤْذَنَ لَكُمْ ۚ وَاِنْ قِيْلَ

په هغے کښې | هیڅ څوک | نو مه ورننوځئ هغے ته | تر دے | چه اجازت درکړے شي | تاسو ته | او که چرے | او وئیلی شي

نو بیا هم تر هغے پورے مه ورننوځئ تر څو چه درته اجازت اُونه شي. او که تاسو ته وئیلی شي

لَكُمُ ارْجِعُوْا فَارْجِعُوْا هُوَ اَزْكٰى لَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

تاسو ته | چه واپس لاړ شئ | نو واپس شئ | دا | زیاته پاکیزه ده | ستاسو دپاره | او الله | په هغه څه | چه تاسو یے کوئ

چه واپس لاړ شئ، نو واپس لاړ شئ هم دا خبره ستاسو دپاره د پاکئ طریقه ده او تاسو چه څه کوئ الله تعالیٰ ته

عَلِيْمٌ ۝ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَدْخُلُوْا بُيُوْتًا

ښه پوهه دے | نشته | په تاسو باندے | هیڅ ګناه | چه ورننوځئ | (داسے) کورونو ته

د هغے پوره علم (حاصل) دے. په تاسو باندے په دے خبره کښې هیڅ ګناه نشته چه تاسو داسے کورونو ته (بے اجازته) ورننوځئ

غَيْرَ مَسْكُوْنَةٍ فِيْهَا مَتَاعٌ لَّكُمْ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُوْنَ

چه داوسیدو نه دی | چه په هغے کښې | سامان (فائده) وی | ستاسو | او الله | پوهیږی | په هغه څه | چه تاسو یے ښکاره کوئ

چه څوک پکښې نه اوسیږی او ستاسو پکښې سامان پروت وی او تاسو چه څه ښکاره کوئ

وَمَا تَكْتُمُوْنَ ۝ قُلْ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ يَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ

او په هغه څه | چه تاسو یے پټوئ | او وایه | مومنانو سړو ته | چه ټیټے دے ساتی | سترګے خپلے

او څه پټ کوئ الله تعالیٰ ته هغه معلوم دی. اے نبی! مومنانو سړو ته اووایه چه خپل نظرونه ډیټ ساتی

وَيَحْفَظُوْا فُرُوْجَهُمْ ؕ ذٰلِكَ اَزْكٰى لَهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ

او بچ دے ساتی | شرمګاهونه خپل | دا طریقه | ډیره پاکیزه ده | د دوی دپاره | بیشکه | الله | ښه خبر دے

او د خپلو شرمګاهونو حفاظت دے کوی دا د دوی دپاره ډیر د پاکئ خبره ده. دوی چه څه کوی

بِمَا يَصْنَعُوْنَ ۝ وَقُلْ لِّلْمُؤْمِنٰتِ يَغْضُضْنَ مِنْ اَبْصَارِهِنَّ

د هغه څه نه | چه دوی یے کوی | او او وایه | مومنانو ښځو ته | چه ښکته دے ساتی | نظرونه خپل

الله تعالیٰ د هغے نه پوره خبر دے. او اے نبی! مومنانو زنانو ته اووایه چه خپل نظرونه دے ټیټ ساتی

وَيَحْفَظْنَ فُرُوْجَهُنَّ وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ اِلَّا مَا ظَهَرَ

او بچ دے ساتی | شرمګاهونه خپل | او نه دے ښکاره کوی | خپل ښائست | مګر | هغه | چه ښکاره وی

او د خپلو شرمګاهونو حفاظت دے کوی او خپل ښول او سنګار (ښائست) دے نه ښکاره کوی سوا د هغے نه چه پخپله

مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلٰى جُيُوْبِهِنَّ ۪ وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ

د هغے نه | او را او دے چوی | لوپټے خپلے | په ګریوانو نو خپلو باندے | او نه دے ښکاره کوی | ښائست خپل

ښکاره شی او خپلے لوپټے (غټے څادرے) دے په خپلو سینو باندے راچوی او د خپلو

اِلَّا لِبُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ اٰبَآئِهِنَّ اَوْ اٰبَآءِ بُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ اَبْنَآئِهِنَّ

مګر | خاوندانو خپلو ته | یا پلارانو خپلو ته | یا سخرانو خپلو ته | یا ځامنو خپلو ته

خاوندانو او خپلو پلارانو او خپلو سخرانو او خپلو ځامنو

اَوْ اَبْنَآءِ بُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ اِخْوَانِهِنَّ اَوْ بَنِیْٓ اِخْوَانِهِنَّ اَوْ بَنِیْٓ اَخَوٰتِهِنَّ

یا بنځو خپلو ته | یا ورورو خپلو ته | یا وريرونو خپلو ته | یا خوريونو خپلو ته

او د خپلو بنځو او خپلو ورونړو او خپلو وريرونو او خپلو خوريونو

اَوْ نِسَآئِهِنَّ اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُنَّ اَوِ التّٰبِعِيْنَ

یا زنانو خپلو ته | یا هغه چا ته | چه مالکان شي دي | بنې لاسونه د دوی | یا هغه خدمتګارانو ته

او د خپلو زنانو او د خپلو وينځو او د هغه خدمتګارانو نه چه نفساني

غَيْرِ اُولِی الْاِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ اَوِ الطِّفْلِ الَّذِيْنَ لَمْ يَظْهَرُوْا

چه حاجت (شهوت) والا نه دي | د نارينو نه | يا هغه ماشومان | چه نه دي خبر هغوی

خواهشات نه لري او د هغه ماشومانو نه چه د زنانو په پټو خبرو نه پوهيږي دده ته تولونه علاوه دے

عَلٰى عَوْرٰتِ النِّسَآءِ ۪ وَلَا يَضْرِبْنَ بِاَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا

په شرمګاهونو | د زنانو | او نه دے وهي | خپے خپلے (په زوره) | چه معلوم شي | هغه څه

بل چاته خپل ښائست (ډول او سنګار) نه ښکاره کوي، او خپلے خپے دے دومره په زوره (په زمکه) نه وهي

يُخْفِيْنَ مِنْ زِيْنَتِهِنَّ ؕ وَتُوْبُوْٓا اِلَى اللّٰهِ جَمِيْعًا اَيُّهَ الْمُؤْمِنُوْنَ

چه دوی پټوي | د ښائست خپل نه | او توبه اوباسئ | الله ته | ټول | اے | مومنانو!

چه کوم ښائست هغوی پټ کړے دے چه هغه ښکاره شي، او اے مومنانو ټول الله تعالیٰ ته توبه اوباسئ

لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ۝٣١ وَاَنْكِحُوا الْاَيَامٰى مِنْكُمْ وَالصّٰلِحِيْنَ

دے دپاره | چه کامیاب شئ | او نکاح اوکړئ | د لونډانو | ستاسو نه | او د نیکانو

چه کامیاب شئ او په تاسو کښې چه د چا نکاح نه وي شوے د هغوی هم نکاح اوکړئ او ستاسو په غلامانو

مِنْ عِبَادِكُمْ وَاِمَآئِكُمْ ؕ اِنْ يَّكُوْنُوْا فُقَرَآءَ يُغْنِهِمُ اللّٰهُ

غلامانو خپلو | او وينځو خپلو نه | که چرے | وي دوی | فقيران | نو مالداره به کړي دوی لره | الله

او وينځو کښې چه څوک د نکاح قابل وي (نیکان) وي د هغوی هم نکاح اوکړئ، که چرے هغوی تنګدسته (محتاجه) وي

مِنْ فَضْلِهٖ ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ۝٣٢ وَلْيَسْتَعْفِفِ الَّذِيْنَ

د خپل فضل نه | او الله | ښه فراخئ والا | ښه پوهه دے | او ځان دے پاک ساتي | هغه کسان

نو الله تعالیٰ به ئے په خپل فضل سره مالداره کړي، او الله تعالیٰ ډیر فراخئ والا او پوهه ذات دے او کوم خلق چه

لَا يَجِدُوْنَ نِكَاحًا حَتّٰى يُغْنِيَهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ؕ

چه وَس نه لري | د نکاح | تر دے پورے | چه مالداره کړي دوی لره | الله | د خپل فضل نه

د نکاح کولو وس نه لري نو هغوی دے ځان پاک ساتي تر دے چه الله تعالیٰ ئے په خپل فضل مالداره کړي،

وَالَّذِيْنَ يَبْتَغُوْنَ الْكِتٰبَ مِمَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ

او هغه كسان | چه غواړي | معاهده د كتابت | د هغه چانه | چه مالكان دي | ستاسو ښي لاسونه (د هغوى)

او ستاسو چه كوم غلامان مكاتبت كول غواړي

فَكَاتِبُوْهُمْ اِنْ عَلِمْتُمْ فِيْهِمْ خَيْرًا ۖ وَّاٰتُوْهُمْ

پس ليكل او كړئ د هغوى سره | كه چرې | تاسو معلومه كړئ | په هغوى كښې | څه نيكي | او ور كړئ دوى ته

نو كه تاسو په هغوى كښې څه نيكي (ايمان) وينئ نو مكاتبت ورسره او كړئ. او الله تعالىٰ چه تاسو له

مِّنْ مَّالِ اللّٰهِ الَّذِيْٓ اٰتٰىكُمْ ۗ وَلَا تُكْرِهُوْا فَتَيٰتِكُمْ

د الله د مال | هغې نه | چه در كړې ئې دے تاسو ته | او زبردستي مه كوئ | په پيغلو خپلو باندې

كوم مال در كړے دے د هغې نه د غسې غلامانو او وينځو ته هم (د بدل كتابت دادائيګئ د پاره) وركوئ. او د دنيا د سازو سامان

عَلَى الْبِغَآءِ اِنْ اَرَدْنَ تَحَصُّنًا لِّتَبْتَغُوْا عَرَضَ

د بدكارئ | كه چرې | غواړي هغوى | دے د پاره چه تاسو تلاش كړئ | پاكدامني | سامان (فائده)

(فائدو) د حاصلولو د پاره خپلې جينكئ په بدكارئ (او په نكاح نه كولو) مه مجبوروئ هر كله چه

الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۗ وَمَنْ يُّكْرِهْهُّنَّ فَاِنَّ اللّٰهَ مِنْۢ بَعْدِ اِكْرَاهِهِنَّ

د ژوند | دنيوى | او څوك چه | زور كوي په هغوى | لو بېشكه | الله | پس د هغوى د مجبوره كولو نه

هغوى پاك او سيدل (او نكاح كول) غواړي. او څوك چه هغوى مجبوره كوي نو يقيناً الله د هغوى د مجبوره كولو نه پس

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝٣٣ وَلَقَدْ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكُمْ اٰيٰتٍ مُّبَيِّنٰتٍ

ډير بخښونكے | زيات رحم كونكے دے | او يقيناً | مونږ راليږلي دي | تاسو ته | آيتونه | وضاحت كونكي

ډير بخښونكے مهربان دے. او يقيناً مونږ تاسو ته داسې آيتونه هم راليږلي دي چه هره خبره واضح كوي

وَمَثَلًا مِّنَ الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ۝٣٤

او مثالونه | د هغه خلقو نه | چه تېر شوي دي | مخكښې ستاسو نه | او نصيحت | د متقيانو د پاره

او د پخوانو خلقو مثالونه هم او د متقيانو د پاره نصيحت هم راليږلے دے.

اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۗ مَثَلُ نُوْرِهٖ كَمِشْكٰوةٍ فِيْهَا

الله | نور دے | د آسمانونو | او د زمكې | مثال | د هغه د نور | په شان د طاق دے | چه په هغې كښې

الله تعالىٰ د ټولو آسمانونو او زمكې نور (منور) دے. د هغه د نور د توحيد مثال (په بدن د مومن كښې) داسې دے لكه يو طاق وي

مِصْبَاحٌ ۗ اَلْمِصْبَاحُ فِيْ زُجَاجَةٍ ۗ اَلزُّجَاجَةُ كَاَنَّهَا كَوْكَبٌ

يوه ډيوه ده | ډيوه | په يوه شيشه كښې ده | شيشه داسې ده | لكه چه هغه | يو ستورے دے

هغه ډيوه په شيشه كښې وي (چه زړه د مومن دے). شيشه داسې وي لكه يو پرقيدونكے ستورے (دا رنګ زړه د مومن

دُرِّيٌّ يُّوْقَدُ مِنْ شَجَرَةٍ مُّبٰرَكَةٍ زَيْتُوْنَةٍ لَّا شَرْقِيَّةٍ

پرقيدونكے | چه بلولے شي | د يوې اونې | بركتي نه | د زيتون | چه نه نور خاته طرفته ده

ځلنده په ظلمات كښې). چه د هغه ډيوه د يو بركتي ونې زيتون (د قرآن او حديث) نه بلېږي چه نه نور خاته طرف ته ولاړه ده

وَّلَا غَرْبِيَّةٍ ۙ يَّكَادُ زَيْتُهَا يُضِيْٓءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ ؕ

اونه نوریږیواته طرف ته | لزدے ده | چه د هغے تیل | رنړا ورکړی | اګر که | نه وی رسیدلی هغے ته | اور

اونه نوریږیواته طرفته نوتیل ئے داسے چمکدار ښکاری (نزدے ده) چه پخپله بل شی اګر که اور ورته رسیدلے هم نه وی (دا رنګ

نُوْرٌ عَلٰى نُوْرٍ ؕ يَهْدِى اللّٰهُ لِنُوْرِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَيَضْرِبُ

رنړا ده | د پاسه د رنړا | لاره ښائی | الله | خپلے رنړا ته | چاته | چه او غواړی | او بیانوی

دمؤمن بزرګ سینه کښ اندے نور (هدایت فطری) دپاسه نور (هدایت وحی) دے. الله تعالی چاتو خپل خاص بنده ګانو ته نور کوی او الله تعالی د خلقو

اللّٰهُ الْاَمْثَالَ لِلنَّاسِ ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيْمٌ ۙ فِىْ بُيُوْتٍ

الله | مثالونه | خلقو دپاره | او الله | په هر یو | شیز باندے | ښه پوهه دے | په هغه کورونو کښ

دپاره مثالونه بیانوی. او الله تعالی په هر یو شیز باندے پوهه دے. دعوت دعے نور دکوحید او دایمان وی په هغے کورونو (جماتونو)

اَذِنَ اللّٰهُ اَنْ تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ فِيْهَا اسْمُهٗ ۙ يُسَبِّحُ

چه حکم کړے دے | الله | چه اوچت کړے شی | او یاد کړے شی | په هغے کښ | نوم د هغهٔ | پاکی بیانوی

دالله تعالی کښ چه الله هغے د عزت او تعظیم حکم کړے دے او د احکم ئے کړے دے چه په هغے کښ دے د هغه نوم یاد کړے شی

لَهٗ فِيْهَا بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ ۙ رِجَالٌ ۙ لَّا تُلْهِيْهِمْ تِجَارَةٌ

د هغه | په هغے کښ | سحر | او ماښام | داسے سړی | چه نه غافله کوی دوی لره | تجارت

په هغے کښ سحر او ماښام. داسے خلق (اصحاب النور) د الله پاکی بیانوی چه تجارت او اغستل خرڅول هغوی لره

وَّلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَاِقَامِ الصَّلٰوةِ وَاِيْتَآءِ الزَّكٰوةِ ۙ

اونه اخستل خرڅول | د یاد | دالله نه | او د قائمولو | د مانځه نه | او د ورکولو | د زکات نه

د الله تعالی د ذکر نه او د مانځه د پابندئ نه او د زکات د ورکولو نه نهٔ منع کوی

يَخَافُوْنَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيْهِ الْقُلُوْبُ وَالْاَبْصَارُ ۙ

یریږی | د هغے ورځے نه | چه ګډوډ به خوزی | په هغے کښ | زړونه | او سترګے

او دوی د هغے ورځے نه یریږی چه په هغے کښ به زړونه او سترګے اوړی راوړی

لِيَجْزِيَهُمُ اللّٰهُ اَحْسَنَ مَا عَمِلُوْا وَيَزِيْدَهُمْ

دے دپاره چه بدله ورکړی دوی ته | الله | خائسته بدله | د هغه عملونو | چه دوی کړی دی | او چه زیات ورکړی دوی ته

نتیجه دا ده چه الله تعالی به دے خلقو ته د خپلو عملونو ډیره ښه بدله ورکړی

مِّنْ فَضْلِهٖ ؕ وَاللّٰهُ يَرْزُقُ مَنْ يَّشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ۝ وَالَّذِيْنَ

د فضل خپل نه | او الله | رزق ورکوی | چاته | چه او غواړی | بے حسابه | او هغه خلق

او د خپل فضل نه به ورله څه زیاتی هم ورکړی. او الله تعالی چه چالره او غواړی بے حسابه رزق ورکوی. (بل طرف ته) چه

كَفَرُوْٓا اَعْمَالُهُمْ كَسَرَابٍۭ بِقِيْعَةٍ يَّحْسَبُهُ الظَّمْاٰنُ

چه کفر ئے کړے دے | عملونه د هغوی | پشان د سراب دی | په یو بیابان کښ | چه ګمان پرے کوی | تږے

کوم کافر خلق دی د هغوی د ظاهری نیکو عملونو مثال په برباد کیدلو کښ داسے دے لکه چه په یو بیابان کښ یو سراب

مَآءً ؕ حَتّٰۤى اِذَا جَآءَهٗ لَمْ يَجِدْهُ شَيْـًٔا وَّ وَجَدَ اللّٰهَ

داوبو | ترڅو | چه کله | راشي هغې ته | نو اونه مومي هغې لره | هيڅ څيز | او ومومي | الله

(يو تږي ورته ګمان کوي) ترڅو چه کله ورته نزدې راشي نو (هلته) هيڅ هم ونه مومي (دا مثال د هغو کافرانو دے چه په دنيا کښې په خپلو عملونو دا ګمان کوي چه ګنې ډير ښه عمل دے) خو چه کله (قيامت) راشي (نو هلته) هيڅ هم ونه مومي

عِنْدَهٗ فَوَفّٰىهُ حِسَابَهٗ ؕ وَاللّٰهُ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ۙ

د هغې په خوا کښې | نو هغه پوره پوره کړي هغه ته | حساب د ده | او الله | ډير زر | حساب کونکے دے

نو هيڅ بيا نه مومي او هلته الله تعالىٰ بيا مومي نو هغه ورسره خپل حساب پوره پوره کړي. او الله تعالىٰ ډير زر حساب کونکے دے.

اَوْ كَظُلُمٰتٍ فِىْ بَحْرٍ لُّـجِّىٍّ يَّغْشٰهُ مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهٖ مَوْجٌ

يا په شان د ډيرو تيارو دے | په يو درياب | ژور کښې | چه پټوي دے لره | يوه څپه | چه د پاسه د هغې | بله څپه وي

او د کافر د بدو عملونو مثال په تورو والي د کفر، د جهل او د فسق کښې دا سے دے لکه چه يو کس په ژور درياب کښې وي او پټ

مِّنْ فَوْقِهٖ سَحَابٌ ؕ ظُلُمٰتٌ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ ؕ اِذَاۤ

د هغې د پاسه | وريځ وي | ډيرے تيارے وي | بعضے د هغې نه وي | د پاسه | د بعضو نورو | کله چه

کړے وي دغه لره هغه څپه چه د هغې د پاسه بله څپه وي (او) د هغې د پاسه وريځ وي (غرض دا چه) لاندے باندے تيارے وي

اَخْرَجَ يَدَهٗ لَمْ يَكَدْ يَرٰىهَا ؕ وَمَنْ لَّمْ يَجْعَلِ اللّٰهُ لَهٗ

دے راوباسي | لاس خپل | (نو) نزدے نه وي | چه اووينې هغې لره | او هغه څوک | چه ورنکړي | الله | هغه لره

که چرے دغه کس خپل لاس بهر راوباسي نو ليدل ئے نه شي (د دغه شان کافر د خپل عمل په بدوالي هم نه پوهيږي) څکه چه

نُوْرًا فَمَا لَهٗ مِنْ نُّوْرٍ ۧ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يُسَبِّحُ لَهٗ ع

نور | نو نشته | د هغه د پاره | هيڅ نور | آيا ته نه ګورے | چه بيشکه | الله | پاکي بيانوي | د هغه

چا له چه الله تعالىٰ نور ورنه کړي نو د هغه د پاره هيڅ نور نشته. آيا د دے نور د حصول د پاره ته د دے نه دليل نه نيسے

مَنْ فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَالطَّيْرُ صٰٓفّٰتٍ ؕ كُلٌّ قَدْ

هغه څوک | چه په آسمانونو | او په زمکه کښې دي | او مارغان (هم) | وزرے خورونکي | هر يو | يقيناً

چه د آسمانونو او زمکے ټول مخلوق د الله تعالىٰ پاکي بيانوي. او مارغان هم په دا سے حال کښې چه وزرے ئے غوړولي وي او هر يو ته

عَلِمَ صَلَاتَهٗ وَتَسْبِيْحَهٗ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِمَا يَفْعَلُوْنَ ۞ وَلِلّٰهِ

پيژنی | مونځ خپل | او تسبيح خپله | او الله | ښه پوهه دے | په هغه څه | چه هوي ئے کوي | او خاص د الله ده

د خپل مانځه او تسبيح طريقه معلومه ده. او الله تعالىٰ د دوي د ټولو کارونو نه پوره خبر دے او د

مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ۞ اَلَمْ تَرَ

بادشاهي | د آسمانونو | او د زمکے | او خاص الله ته | واپس تلل دي | آيا ته نه ګورے

آسمانونو او د زمکے بادشاهي يوائے د الله ده. او د الله طرف ته (د ټولو) واپس ورتلل دي. آيا تا ته معلومه نه ده

اَنَّ اللّٰهَ يُزْجِىْ سَحَابًا ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيْنَهٗ ثُمَّ يَجْعَلُهٗ

چه بيشکه | الله | روانوي (پورته کوي) | وريځے | بيا | يوځائے کوي (هغه) | په خپل مينځ کښې | بيا | او ګرځوي هغه

چه الله تعالىٰ وريځے روانوي بيا ټکړے د هغې په خپل مينځ کښې را يوځائے کوي بيا ئے د يو بل د پاسه

رُكَامًا فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلٰلِهٖ ۚ وَيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَآءِ

لاندے باندے | نو ته وینے | باران | چه راوځی | د مینځ د هغے نه | او هغه راوروی | د آسمان نه

(لاندے باندے) کړی بیا ته گورے چه باران د هغے د مینځ نه راوځی او په آسمانونو کښې

مِنْ جِبَالٍ فِيْهَا مِنْ بَرَدٍ فَيُصِيْبُ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ

دغرونو (نښان وریځو) نه | چه په هغے کښې | بعضے ږلۍ وی | هغے لره | نو رسوی | چا ته چه | اوغواړی

چه د وریځو کومو غرونه دی د هغے نه ږلۍ راوروی نو په چاچه ئے اوغواړی په هغوی ئے راووروی

وَيَصْرِفُهٗ عَنْ مَّنْ يَّشَآءُ ؕ يَكَادُ سَنَا بَرْقِهٖ يَذْهَبُ

او اړوی هغے لره | د چانه ئے چه | اوغواړی | نزدے وی | چه برق د بریښنا د هغے | یوځی

او د چانه چه ئے اوغواړی نو د هغوی نه ئے واړوی داسے ښکاری چه د هغے بریښنا (بجلۍ) به

بِالْاَبْصَارِ ۞ يُقَلِّبُ اللّٰهُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً

نظرونه | بدلوی رابدلوی | الله | شپه | او ورځ | بیشکه | په دے کښې | خامخا عبرت دے

د سترگو نظرونه ختم کړی۔ الله تعالیٰ شپه او ورځ اړوی راړوی، یقینًا په دے کښې د عقلمندو دپاره

لِّاُولِى الْاَبْصَارِ ۞ وَاللّٰهُ خَلَقَ كُلَّ دَآبَّةٍ مِّنْ مَّآءٍ ۚ فَمِنْهُمْ

د سترگو والو دپاره | او الله | پیدا کړے دے | هر یو | ساه والا څیز | د | اوبو نه | بیا بعضے دوی نه

لوئے عبرت پروت دے. او الله په زمکه باندے گرځیدونکی هر ساه والا څیز د اوبو نه پیدا کړے دے بیا په

مَّنْ يَّمْشِيْ عَلٰى بَطْنِهٖ ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِيْ عَلٰى رِجْلَيْنِ ۚ

هغه دی | چه گرځی | په خیټه خپله | او بعضے د دوی نه | هغه دی | چه گرځی | په دوو خپو

هغے کښې بعضے داسے دی چه په خپله خیټه باندے خوځیږی او ځنے پکښې داسے دی چه په دوو خپو گرځی

وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِيْ عَلٰى اَرْبَعٍ ؕ يَخْلُقُ اللّٰهُ مَا يَشَآءُ ؕ

او بعضے د دوی نه | هغه دی | چه گرځی | په څلورو | پیدا کوی | الله | هغه | چه اوئے غواړی

او ځنے پکښې داسے دی چه په څلورو خپو گرځی الله چه څه غواړی هغه پیدا کوی.

اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۞ لَقَدْ اَنْزَلْنَآ اٰيٰتٍ مُّبَيِّنٰتٍ ؕ

بیشکه | الله | په هر یو | څیز باندے | قادر دے | یقینًا | مونږ رالیږلی دی | آیتونه | وضاحت کونکی

یقینًا الله تعالیٰ په هر څه قادر دے. یقینًا مونږ داسے آیتونه رالیږلی دی چه پوره وضاحت کونکی دی.

وَاللّٰهُ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۞ وَيَقُوْلُوْنَ

او الله | ښائی | چا ته چه | وغواړی | لاره | نیغه | او دوی وائی

او الله تعالیٰ چه چا ته اوغواړی (نو) سمه لار ورته ښائی. او دا (منافق) خلق وائی

اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَبِالرَّسُوْلِ وَاَطَعْنَا ثُمَّ يَتَوَلّٰى فَرِيْقٌ

چه ایمان راوړے دے مونږ | په الله | او په پیغمبر | او تابعداری کړے ده مونږ | بیا | اوړی | یوه ډله

چه مونږ په الله او په پیغمبر ایمان راوړے دے او مونږ خبره منلے ده بیا هم د دوی (نه) یوه ډله

مِّنْهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ ؕ وَمَآ اُولٰٓئِكَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ ۝ وَاِذَا

د دوی نه | پس د دے نه | او نه دی | دا خلق | مومنان | او کله چه

د دے نه پس مخ اړوی . او دا خلق بلکل مومنان نه دی . او هر کله چه دوی

دُعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ اِذَا فَرِيْقٌ

راوبللے شی دوی | الله ته | او رسول دهغه ته | د دے دپاره چه هغه فیصله او کړی | په مینځ ددوی کښې | نو (ناګهانه) | دغه یوه ډله

دالله او دهغه د رسول طرف ته د دے دپاره راوبلل شی چه هغه د دوی په مینځ کښې فیصله او کړی نو په دغه وخت

مِّنْهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ۝ وَاِنْ يَّكُنْ لَّهُمُ الْحَقُّ يَاْتُوْٓا اِلَيْهِ

د دوی نه | مخ اړونکې وی | او که چرے | وی | د دوی (دپاره) | حق (فائده) | نو راځی | هغے ته

د دوی یوه ډله مخ اړوی (انکار کوی) او که چرے د دوی څه حق جوړیږی نو حکم منونکی (فرمانبردار)

مُذْعِنِيْنَ ۝ؕ اَفِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ اَمِ ارْتَابُوْٓا اَمْ يَخَافُوْنَ

زر قبلونکی (منونکی) | آیا د دوی په زړونو کښې | مرض دے | یا دوی شک کړے دے | یا دوی یریږی

د پیغمبر طرف ته راځی بلکه د دوی په زړونو کښې مرض (کمزوری د عقیدے) دے بلکه دوی په شک کښې پراته دی بلکه دوی

اَنْ يَّحِيْفَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَرَسُوْلُهٗ ؕ بَلْ اُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ۝ع

چه ظلم به او کړی | الله | په دوی باندے | او رسول دهغه | بلکه | هم دا خلق | دی | ظالمان

د دے نه یریږی چه الله تعالٰی او دهغه رسول به په دوی باندے ظلم او کړی بلکه دا خلق (پخپله) ظالمان دی.

اِنَّمَا كَانَ قَوْلَ الْمُؤْمِنِيْنَ اِذَا دُعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ

بیشکه | وی | خبره | د مومنانو | هر کله | چه راوبللے شی دوی | الله | او دهغه رسول ته

یقینًا د مومنانو خبره خو دا وی چه کله هم هغوی الله او دهغه رسول د دے دپاره راوبلل چه هغه

لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ اَنْ يَّقُوْلُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا ؕ وَاُولٰٓئِكَ

چه فیصله او کړی هغه | د دوی په مینځ کښې | دا چه وائی دوی | واوریدل مونږ | او تابعداری کوو مونږ | او هم دغه خلق

د دوی په مینځ کښې فیصله او کړی نو هغوی وائی چه مونږ (حکم) واوریدلو او و مونلو. او هم د دے خلقو د دے خیر حاصل کړو

هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَخْشَ اللّٰهَ

دوی | کامیاب | دی | او څوک | چه حکم او منی | د الله | او د رسول دهغه | او اویریږی | د الله نه

چه اثر ئے همیشه باقی پاتے کیدونکے دے. او څوک چه د الله تعالٰی او دهغه د رسول حکم منی او د الله تعالٰی نه یریږی او دهغه

وَيَتَّقْهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ۝ وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ

ځان بچ او ساتی دهغه د نافرمانئ نه | نو هم دغه خلق | کامیاب دی | او دوی قسمونه کړی دی | په الله | پاخه

د نافرمانئ نه په آئنده کښې ځان بچ کوی نو هم دغه خلق د هر مصیبت نه بچ شو او هر مقصد ئے حاصل کړو. او دا منافقان خلق په

اَيْمَانِهِمْ لَئِنْ اَمَرْتَهُمْ لَيَخْرُجُنَّ ؕ قُلْ لَّا تُقْسِمُوْا ۚ

قسمونه خپل | که چرے | ته حکم او کړے دوی ته | نو خامخا به او ځی دوی | او وایه | (چه) قسمونه مه خورئ

الله تعالٰی باندے پاخه قسمونه خوری چه که ته دوی ته حکم او کړے نو خامخا به دوی (تر سره د جهاد دپاره) بهر و وځی. ته ورته او وایه چه

طَاعَةٌ مَّعْرُوْفَةٌ ؕ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۵۳﴾ قُلْ

(ستاسو)تابعداری | ښکاره ده | بیشکه | الله | په خبر دے | د هغه څه نه | چه تاسو ئے کوئ | او وایه

قسمونه مه خورئ (ستاسو) تابعداری هر چاته معلومه ده. یقین او کړئ چه الله تعالیٰ ستاسو د عملونو نه پوره خبر دے. اے نبی! دوی ته

اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ۚ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا عَلَيْهِ

حکم او منئ | د الله | او حکم او منئ | د پیغمبر | پس که چرے | مخ واړولو تاسو | لو بیشکه | دی د ده په ذمه

او وایه چه د الله تعالیٰ حکم او منئ او د هغه د پیغمبر تابعداری او کړئ. بیا هم که تاسو مخ اړوئ نو په د ے پیغمبر باندے

مَا حُمِّلَ وَعَلَيْكُمْ مَّا حُمِّلْتُمْ ؕ وَاِنْ تُطِيْعُوْهُ

هغه څه | چه څه ئے سپارلی شوی دی | او په تاسو دی | هغه څه | چه تاسو ته سپارلی شوی دی | او که چرے | تاسو تابعداری او کړئ د ده

خپله ذمه واری پوره کول دی او په تاسو باندے خپلے ذمه واری پوره کول دی. او که چرے تاسو د دے (رسول)

تَهْتَدُوْا ؕ وَمَا عَلَى الرَّسُوْلِ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۵۴﴾ وَعَدَ اللّٰهُ

نو هدایت به بیا مومئ | او نشته | په پیغمبر باندے | مگر (پیغام) رسول | ښکاره | وعده کړے ده | الله

تابعداری او کړه نو سمه لاره به بیا مومئ. او د پیغمبر ذمه داری خو صرف (د الله تعالیٰ پیغام) صفا صفا رسول دی.

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ

د هغه کسانو سره | چه ایمان ئے راوړے دے | ستاسو نه | او عملونه ئے کړی دی | نیک | (چه) خامخا خلافت به ورکوی هغه دوی ته

په تاسو کښې چه چا ایمان راوړے دے او نیک عملونه ئے کړی دی هغوی سره الله تعالیٰ وعده کړے ده

فِى الْاَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۪

په زمکه کښې | لکه څنګه چه | هغه خلافت ورکړے وو | هغه کسانو ته | چه مخکښې وو د دوی نه

چه هغوی ته به خامخا د زمکے خلافت، ورکوی لکه څنګه چه ئے د دوی نه پخوانو خلقو ته خلافت ورکړے وو

وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِيْنَهُمُ الَّذِى ارْتَضٰى لَهُمْ

او خامخا کلک به کړی | د دوی د پاره | دین د دوی | هغه (دین) | چه هغه خوښ کړے دے | د دوی د پاره

او هغه دین به ورله مضبوط کړی چه دوی له ئے خوښ کړے دے او ډیرے به په بدل کښې به ورله

وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ خَوْفِهِمْ اَمْنًا ؕ يَعْبُدُوْنَنِىْ لَا يُشْرِكُوْنَ

او خامخا بدل کښې به ور کړی دوی ته | پس د یرے د دوی نه | امن | دوی به بندګی کوی زما | شریک به نه جوړوی

امن ورکړی (پس) هغوی به صرف زما عبادت کوی او هیڅ یو څیز به ما سره

بِىْ شَيْئًا ؕ وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۵۵﴾

زما سره هیڅ هم | او چا چه | کفر او کړو | وروستو د دے نه | لو هم دغه خلق | دوی فاسقان (نافرمان) دی

نه شریکوی او کوم خلق چه د دے نه وروسته (هم) ناشکری (کفر) او کړی نو هم دا خلق به نافرمانه وی

وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ لَعَلَّكُمْ

او قائموئ | مونځ | او ورکوئ | زکات | او خبره منئ | د پیغمبر | (د دے د پاره) چه په تاسو

او د مانځه پابندی کوئ او زکات ورکوئ او د پیغمبر خبره منئ چه

تُرْحَمُوْنَ۝ لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا مُعْجِزِیْنَ فِی الْاَرْضِ ۚ

رحم اوکړے شی | نه گمان مه کوه | په هغه خلقو | چه کفر ئے کړے دے | چه دوی عاجزوونکی دی | په زمکه کښې

رحم درباندے اوشی، اے نبی! دا خیال هرگز مه کوه چه کافران په (تښته) الله تعالیٰ په زمکه کښې کمزورے (عاجز) کړی

وَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ ؕ وَلَبِئْسَ الْمَصِیْرُ۝ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا

او ځائے د دوی | اور دے | او خامخا ډیر بد ځائ | د ورتلو دے دا | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے

او د دوی ځائے اور دے او هغه د ورتلو ډیر بد ځائے دے. اے مومنانو!

لِیَسْتَاْذِنْكُمُ الَّذِیْنَ مَلَكَتْ اَیْمَانُكُمْ وَالَّذِیْنَ

اجازت دے غواړی ستاسو نه | هغه کسان | چه مالکان دی | ښی لاسونه ستاسو (د هغوی) | او هغه کسان

ستاسو وینځے او غلامان او هغه ماشومان چه بالغ شوی نه دی هغوی له پکار دی

لَمْ یَبْلُغُوا الْحُلُمَ مِنْكُمْ ثَلٰثَ مَرّٰتٍ ؕ مِنْ قَبْلِ صَلٰوةِ

چه نه وی رسیدلی | بلوغ ته | ستاسو نه | درے | ځل | مخکښې | د مانځه

چه هغوی درے په درے وختونو کښې تاسو نه اجازت غواړی (یو) د سحر مانځه نه مخکښې

الْفَجْرِ وَحِیْنَ تَضَعُوْنَ ثِیَابَكُمْ مِّنَ الظَّهِیْرَةِ وَمِنْۢ بَعْدِ

د سحر نه | او په هغه وخت کښې | چه اوباسئ | جامے خپلے | د غرمے (په وخت کښې) | او وروستو

او (بل) څه وخت چه تاسو د غرمے خپلے جامے اوباسئ او (بل) د ماسخوتن

صَلٰوةِ الْعِشَآءِ ۫ؕ ثَلٰثُ عَوْرٰتٍ لَّكُمْ ؕ لَیْسَ عَلَیْكُمْ

د مانځه | د ماسخوتن نه | (دا) درے (وختونه) | د پردے دی | ستاسو (د پاره) | نشته | په تاسو

د مانځه نه وروستو، دا درے وختونه ستاسو د پردے (خلوت) وختونه دی، د دے وختونو نه علاوه نه په تاسو

وَلَا عَلَیْهِمْ جُنَاحٌۢ بَعْدَهُنَّ ؕ طَوّٰفُوْنَ عَلَیْكُمْ بَعْضُكُمْ

او نه په دوی باندے | څه گناه | وروستو د دے نه | ډیر تلونکی راتلونکی دی | په تاسو باندے | بعضے ستاسو نه

څه گناه شته او نه په دوی، او هر وخت اجازت غوښتل څکه نشته چه د کثرت حاجاتو د وجے نه تاسو د یو بل خوا له تئ رائځئ

عَلٰی بَعْضٍ ؕ كَذٰلِكَ یُبَیِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰیٰتِ ؕ وَاللّٰهُ عَلِیْمٌ

په بعضو باندے | دغه شان | بیانوی | الله تعالیٰ | تاسو ته | آیتونه | او الله | ښه پوهه

دغه شان الله تعالیٰ تاسو ته خپل ایتونه (حکمونه) صفا صفا بیانوی، او الله تعالیٰ په هر څه باندے پوهه

حَكِیْمٌ۝ وَاِذَا بَلَغَ الْاَطْفَالُ مِنْكُمُ الْحُلُمَ فَلْیَسْتَاْذِنُوْا

لوئی حکمت والا دے | او کله چه | اورسیږی | ماشومان | ستاسو (نه) | بلوغت ته | نو اجازت دے اخلی

او لوئی حکمت خاوند دے. او کله چه ستاسو ماشومان بالغ شی نو هغوی دے هم هغه شان اجازت غواړی

كَمَا اسْتَاْذَنَ الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ كَذٰلِكَ یُبَیِّنُ اللّٰهُ

لکه څنگه | چه اجازت غوښتلو | هغه خلقو | چه مخکښې وو د دوی نه | دغه شان | بیانوی | الله

څنگه چه د هغوی نه مخکښې (بالغ کسانو) اجازت غوښتلو دغه شان الله تعالیٰ تاسو ته خپل آیتونه صفا

لَكُمُ اٰيٰتِهٖ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ۝۵۹ وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَآءِ
تاسو ته | آیتونه خپل | او الله | ښه پوهه | ډیر حکمت والا دے | او ناستے (بوډۍ) | زنانه
صفا بیانوي، او الله تعالیٰ په هر څه باندے پوهه او حکمت والا ذات دے، او هغه بوډۍ ګانے (په کورونو کښې ناستے)
الّٰتِيْ لَا يَرْجُوْنَ نِكَاحًا فَلَيْسَ عَلَيْهِنَّ جُنَاحٌ اَنْ يَّضَعْنَ
هغه | چه امید نه لري | د نکاح کولو | پس نشته | په هغوی باندے | هیڅ ګناه | چه کیږدي
زنانه چه د نکاح کولو طمع نه لري په هغوی باندے په دے خبره کښې هیڅ ګناه نشته چه خپلے
ثِيَابَهُنَّ غَيْرَ مُتَبَرِّجٰتٍۭ بِزِيْنَةٍ ؕ وَاَنْ يَّسْتَعْفِفْنَ خَيْرٌ
جامے خپلے | چه نه به وي ښکاره کوونکې | خپل ښائست | او که ځان بچ او ساتي (احتیاط او کړي) | نو دا به ډیره ښه وي
زیاتې جامے کوزے کړي خو په دے شرط چه خپل ښول او سنګار (ښائست) نه ښکاره کوي، او که بیا هم دوی احتیاط او کړي
لَّهُنَّ ؕ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ۝۶۰ لَيْسَ عَلَى الْاَعْمٰى حَرَجٌ
د دوی دپاره | او الله | ښه اوریدونکے | ښه پوهه دے | نشته دے | په ړوند باندے | څه ګناه
نو دا ورله ډیره غوره ده، او الله تعالیٰ هر څه اوري او هر څه باندے پوهه دے. نه په ړوند څه ګناه شته
وَّلَا عَلَى الْاَعْرَجِ حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْمَرِيْضِ حَرَجٌ
او نه په ګوډ باندے | څه ګناه | او نه په مریض باندے | څه ګناه
او نه په ګوډ او نه په بیمار
وَّلَا عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ اَنْ تَاْكُلُوْا مِنْۢ بُيُوْتِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ اٰبَآئِكُمْ
او نه په تاسو باندے | چه خوراک کوئ | د کورونو خپلو نه | یا د کورونو | د پلارانو خپلو نه
او نه په تاسو (پخپله) څه ګناه شته چه د خپلو کورونو نه خوراک اوکړئ یا د خپلو پلارانو د کورونو نه
اَوْ بُيُوْتِ اُمَّهٰتِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ اِخْوَانِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ اَخَوٰتِكُمْ
یا د کورونو | د میندو خپلو نه | یا د کورونو | د وروڼو خپلو نه | یا د کورونو | د خویندو خپلو نه
یا د خپلو میندو د کورونو نه یا د خپلو وروڼو د کورونو نه یا د خپلو خویندو د کورونو نه
اَوْ بُيُوْتِ اَعْمَامِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ عَمّٰتِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ اَخْوَالِكُمْ
یا د کورونو | د ترونو خپلو نه | یا د کورونو | د تروریانو (پوپي ګانو) خپلو نه | یا د کورونو | د ماماګانو خپلو نه
یا د خپلو ترونو د کورونو نه یا د خپلو تروریانو د کورونو نه یا د خپلو ماماګانو د کورونو نه
اَوْ بُيُوْتِ خٰلٰتِكُمْ اَوْ مَا مَلَكْتُمْ مَّفَاتِحَهٗٓ اَوْ صَدِيْقِكُمْ ؕ
یا د کورونو | د تروریانو (ماسیګانو) خپلو نه | یا د هغه کورونو نه | چه مالکان یئ تاسو | د چابیانو د هغے | یا د خپلو دوستانو (د کورونو نه)
یا د خپلو ماسیګانو د کورونو نه یا د هغه کورونو نه چه ستاسو په اختیار کښې وي یا د خپلو دوستانو د کورونو نه (خوراک او کړئ)
لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَاْكُلُوْا جَمِيْعًا اَوْ اَشْتَاتًا ؕ فَاِذَا
نشته | په تاسو | څه ګناه | چه خوراک کوئ تاسو | په یو ځای | یا ځان ځانله | پس کله چه
په دے کښې هم په تاسو هیڅ ګناه نشته چه په یو ځای خوراک کوئ او که ځانله ځانله. خو چه کله هم

دَخَلْتُمْ بُيُوْتًا فَسَلِّمُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ

داخليږئ تاسو | كوروتو ته | توسلام كوئ | په خپلو خلقو | دعاء د خير | د الله د طرف نه

(د ـغ) كوروتو ته ورننوځئ نو اوسيدونكو د هغے ته هغه سلام كوئ چه هغه د الله د طرف نه پيشكش ده

مُبٰرَكَةً طَيِّبَةً ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ

بركتونو والا | پاكيزه | دغه شان | بيانوي | الله | تاسو ته | آيتونه | د ے دپاره چه تاسو

او ډير بركت والا زړه خوشحالونكے دعاء ده. الله تعالىٰ هم دغه شان تاسو ته آيتونه (حكمونه) صفا صفا بيانوي چه تاسو

ع تَعْقِلُوْنَ ۟ اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ

پوهه شئ | بيشكه | مومنان (خو) | هغه خلق دي | چه ايمان ئے راوړے دے | په الله | او په رسول د هغهٔ

پوهه شئ. يقيناً مومنان خو هغه خلق دي چه الله او د هغه رسول د زړه نه مني

وَاِذَا كَانُوْا مَعَهٗ عَلٰٓى اَمْرٍ جَامِعٍ لَّمْ يَذْهَبُوْا حَتّٰى

او كله چه | وي هغوي | د هغه سره | په يو كار | راجمع كونكي باندے | نو دوي نه ځي | تر دے

او كله چه رسول (پيغمبر) سره په يو اجتماعي كار كښ شريك وي نو د هغه د اجازت نه بغير نه ځي

يَسْتَاْذِنُوْهُ ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ يَسْتَاْذِنُوْنَكَ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ

چه اجازت وانخلي د هغه نه | بيشكه | هغه خلق | چه اجازت غواړي ستا نه | هم دا | هغه خلق دي

(اے نبي!) كوم خلق چه تا نه (د عذر دوجے) اجازت اخلي (غواړي) هم دا خلق الله او رسول

يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ۚ فَاِذَا اسْتَاْذَنُوْكَ لِبَعْضِ شَاْنِهِمْ

چه ايمان لري | په الله | او په رسول د هغهٔ | پس كله چه | اجازت غواړي دوي ستا نه | د بعضے | كارونو خپلو دپاره

د زړه نه مني. نو دوي چه كله د څه كار دپاره تا نه اجازت غواړي نو په دوي كښ چه ته چاته غواړے

فَاْذَنْ لِّمَنْ شِئْتَ مِنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمُ اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

نو اجازت ورکړه | هغه چاته | خوښه وي ستا | د دوي نه | او بخښنه غواړه | د دوي دپاره | د الله نه | بيشكه | الله

نو اجازت وركړه او د الله نه ورله بخښنه غواړه، يقيناً الله تعالىٰ

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۟ لَا تَجْعَلُوْا دُعَآءَ الرَّسُوْلِ بَيْنَكُمْ كَدُعَآءِ

ډير بخښونكے | زيات رحم كونكے دے | تاسو مه گرځئ | بلنه | د پيغمبر | په خپل مينځ كښ | په شان د بللے

ډير بخښونكے ډير مهربان دے. اے خلقو د پيغمبر بلنه دا سے (معمول) مه گرځئ لكه څنگه چه تاسو

بَعْضِكُمْ بَعْضًا ؕ قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ يَتَسَلَّلُوْنَ مِنْكُمْ

د بعضو ستاسو | بعضو لره | يقيناً | پيژني | الله | هغه خلق | چه پټ خوئيږي | ستاسو نه

خپل مينځ كښ يو بل رابلئ (په نومونو سره). يقيناً الله تعالىٰ په تاسو كښ هغه خلق ښه پيژني چه يو اړخ ته شي نو

لِوَاذًا ۚ فَلْيَحْذَرِ الَّذِيْنَ يُخَالِفُوْنَ عَنْ اَمْرِهٖٓ اَنْ تُصِيْبَهُمْ

ديو بل نه پناه پناه | پس او د ے يريږي | هغه خلق | چه خلاف كوي | د هغه د حكم نه | د دينه چه او به رسيږي هغوي ته

ځي غونډ ے د مجلس نه او كشيږي. نو كوم خلق چه د پيغمبر د حكم خلاف كوي هغوي د ے د د ے خبر نه او يريږي

فِتْنَةٌ اَوْ يُصِيْبَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٦٣﴾ اَلَآ اِنَّ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ

څه مصیبت | یا او به رسیږي هغوی ته | عذاب | دردناک | خبردار! | بیشکه | خاص د الله دي | هغه څه چه په آسمانونو

چه چرته څه آفت (مصیبت) کښې ګیر نه شي یا پرې دردناک عذاب رانشي. یاد ساتئ چه د آسمانونو او زمکې هر څه

وَالْاَرْضِ ؕ قَدْ يَعْلَمُ مَآ اَنْتُمْ عَلَيْهِ ؕ وَيَوْمَ يُرْجَعُوْنَ

او په زمکه کښې دي | یقیناً | پوهیږي الله | هغه (حالت) | چه تاسو یئ | په هغې باندې | او په هغه ورځ | چه واپس کولے به شي هغوی

د الله (په اختیار کښې) دي، تاسو چه په کوم حالت یئ هغه الله ته ښه معلوم دے. او په کومه ورځ به چه هغوی ټول الله ته

اِلَيْهِ فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿٦٤﴾

هغه ته | نو هغه به خبر کړي هغوی | په هغه څه | چه هغوی کړي دي | او الله | په هر یو | څیز باندې | ښه پوهه دے

واپس ورشي نو په هغه ورځ به ئے الله خبر کړي چه هغوی څه عملونه کړي وو، او الله تعالیٰ په هر څیز باندې پوره پوهه دے.

رکوعاتها [٦]	سورة الفرقان مكّيّة	اٰیاتها [٧٧]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

تَبٰرَكَ الَّذِيْ نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلٰى عَبْدِهٖ لِيَكُوْنَ

(ډیر) برکتونو والا دے | هغه ذات | چه رالیږلے ئے دے | فرقان | په بنده خپل باندې | چه شي

هغه ذات د لوئي شان او برکتونو والا دے چه په خپل بنده ئے فیصله کن کتاب رالیږلے دے چه هغه

لِلْعٰلَمِيْنَ نَذِيْرَا ۙ ﴿١﴾ الَّذِيْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

مخلوقاتو لره | یرونکے | هغه ذات | چه خاص د هغه ده | بادشاهي | د آسمانونو | او د زمکې

مخلوق لره خبردار کړي۔ او وېرېوي هم هغه ذات چه د اسمانونو او د زمکې بادشاهي د هغه ده

وَلَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَّلَمْ يَكُنْ لَّهٗ شَرِيْكٌ فِي الْمُلْكِ

او نه ئے دے نیولے | ځوئے | او | نشته | د هغه سره | هیڅ څوک شریک | په بادشاهۍ کښې

او هغهٔ نهٔ څوک ځوئے نیولے دے او نه ورسره په بادشاهۍ کښې څوک شریک شته

وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهٗ تَقْدِيْرًا ﴿٢﴾ وَاتَّخَذُوْا

او هغه پیدا کړے دے | هر یو | څیز | بیا ئے په اندازه کړے دے هغه | په اندازه کولو سره | او دوی نیولي دي

او هغه هر یو څیز پیدا کړے دے بیا ئے ورله یوه خاص اندازه مقرر کړے ده. او مشرکانو د الله تعالیٰ نه

مِنْ دُوْنِهٖٓ اٰلِهَةً لَّا يَخْلُقُوْنَ شَيْئًا وَّهُمْ يُخْلَقُوْنَ

سوا د هغه نه | نور خدایان | چه نه شي پیدا کولے | هیڅ یو شے | او هغوی | پخپله پیدا کړے شوي دي

سِوا (نور داسې) خدایان جوړ کړي دي چه هغوی هیڅ شے نه شي پیدا کولے. بلکه هغوی

وَلَا يَمۡلِكُوۡنَ لِاَنۡفُسِهِمۡ ضَرًّا وَّلَا نَفۡعًا وَّلَا يَمۡلِكُوۡنَ مَوۡتًا

او اختیار نه لري هغوي | دخپل ځان دپاره | دنقصان | او نه دفائدے | او اختیار نه لري هغوي | دمرګ

(خو) په خپله پیدا کړے شوي دي (مخلوق دي) او نه دخپل ځان نه دنقصان دلرے کولو اختیار لري

وَّلَا حَيٰوةً وَّلَا نُشُوۡرًا ۝ وَقَالَ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡۤا اِنۡ هٰذَاۤ

او نه دژوند | او نه دبیا راپورته کولو | او وائي | هغه کسان | چه کفرے کړے دے | نه دے دا

او نه دفائدے او نه دمرګ او دژوند اختیار لري، او نه دبیا ژوندي کولو. او کافران وائي چه دا (قرآن)

اِلَّاۤ اِفۡكُ ࣙافۡتَرٰىهُ وَاَعَانَهٗ عَلَيۡهِ قَوۡمٌ اٰخَرُوۡنَ ۛۚ

مګر | دروغ | چه جوړ کړي ئے دي دځان نه | او مدد کړے دے ده سره | په دے کښې | خلقو | نورو

خو تش دروغ دي چه دے پیغمبر دځان نه جوړ کړے دے او په دے کښې ورسره نورو خلقو مدد کړے دے.

فَقَدۡ جَآءُوۡ ظُلۡمًا وَّزُوۡرًا ۝ۚۛ وَقَالُوۡۤا اَسَاطِيۡرُ الۡاَوَّلِيۡنَ

پس یقینًا | دوي راتګ اوکړو | ظلم ته | او دروغو ته | او وائي دوي | (چه دا) قصے | دپخوانو دي

پس یقینًا دے خلقو ډیر زیاتے اوکړو او ډیر دروغ ئے اوویل. او دوي وائي چه دا (خو) دپخوانو خلقو قصے دي

اكۡتَتَبَهَا فَهِيَ تُمۡلٰى عَلَيۡهِ بُكۡرَةً وَّاَصِيۡلًا ۝ قُلۡ

چه ده طلب د لیکلو کړے دے | نو هغه | بیان ئے کیدے شي | په ده باندے | سحر | او ماښام | او وایه

چه دے (پیغمبر) په چا لیکلي دي او سحر او ماښام ده ته لوستل کیږي (بیانیږي) اے نبي ته ورته ووایه

اَنۡزَلَهُ الَّذِيۡ يَعۡلَمُ السِّرَّ فِي السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ اِنَّهٗ كَانَ

(چه) رالیږلے دے دا هغه (ذات) | چه پوهیږي | په پټو څیزونو | په آسمانونو | او زمکه کښې | بیشکه هغه | دے

چه دا خو هغه ذات نازل کړے دے چه په اسمانونو او زمکه کښې هره پټه خبره پیژني. یقینًا هغه

غَفُوۡرًا رَّحِيۡمًا ۝ وَقَالُوۡا مَالِ هٰذَا الرَّسُوۡلِ يَاۡكُلُ الطَّعَامَ

ډیر بخښونکے | زیات مهربان | او وائي دوي | (چه) څه وجه ده دے | پیغمبر لره | چه خوري | خوراک

ډیر بخښونکے ډیر مهربان دے. او دوي وائي چه دا (لا) څنګه پیغمبر دے چه خوراک (هم) کوي

وَيَمۡشِيۡ فِي الۡاَسۡوَاقِ ؕ لَوۡلَاۤ اُنۡزِلَ اِلَيۡهِ مَلَكٌ فَيَكُوۡنَ

او ګرځي | په بازارونو کښې | ولے رانه لیږلے شوه | ده ته | یوه فرشته | چه هغه وي

او بازارونو کښې (هم) ګرځي. ده ته یوه فرشته ولے رانه لیږلے شوه چه هغې

مَعَهٗ نَذِيۡرًا ۝ۙ اَوۡ يُلۡقٰۤى اِلَيۡهِ كَنۡزٌ اَوۡ تَكُوۡنُ لَهٗ جَنَّةٌ

ده سره | یره ورکونکے | یا (ولے) غورزولې نه شي | ده ته | یوه خزانه | یا ولے نشته | د ده | یو باغ

ورسره خلق یرولے، یا ورته یوه خزانه ورکړے شوے وے، یا د ده یو باغ وے چه ده ترے نه

يَّاۡكُلُ مِنۡهَا ؕ وَقَالَ الظّٰلِمُوۡنَ اِنۡ تَتَّبِعُوۡنَ اِلَّا رَجُلًا

چه ده خوراک کولے | د هغے نه | او وائي | ظالمان | نه یئ روان تاسو | مګر | پسے یو سړي پسے

خوراک کولے. او ظالمان وائي (مسلمانانو ته) چه تاسو خو یو داسے سړي پسے روان یئ

مَّسْحُوْرًا۝ اُنْظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوْا لَكَ الْاَمْثَالَ فَضَلُّوْا
چه جادو پرے شوے دے | اوګوره | څنګه | بیانوی دوی | ستا دپاره | مثالونه | پس خوی ګمراه شوی دی
چه جادو پرے شوے دے اے نبی! اوګوره ستا دپاره کښ خوی څنګه څنګه نکاره خبرے جوړوی نو پس خوی حاسے ګمراه شول
ع فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ سَبِيْلًا۝ تَبٰرَكَ الَّذِيْٓ اِنْ شَآءَ
نو طاقت نه لری دوی | د سمے لارے | ډیر برکتونو والا دے | هغه ذات | که چرے | اوغواړی هغه
چه اوس سمه لار موندل د دوی د وس نه بهر دی. هغه الله ډیر برکتونو (لوئی شان) والا دے که هغه اوغواړی
جَعَلَ لَكَ خَيْرًا مِّنْ ذٰلِكَ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا
(نو) دربه کړی | تاته | ډیر غوره | د دے نه | (دا سے) باغونه | چه بهیږی به | د هغے د لاندے
نو تاله به د دے هرڅه نه ډیر غوره څیز، دا سے جنتونه درکړی چه د هغے د لاندے به
الْاَنْهٰرُ ۙ وَيَجْعَلْ لَّكَ قُصُوْرًا۝ بَلْ كَذَّبُوْا بِالسَّاعَةِ ۟
نهرونه | او دربه کړی | تالره | بنګلے | بلکه | دوی دروغ ګڼړی | قیامت لره
نهرونه بهیږی، او محلونه به درله جوړ کړی ۔ اصل خبره داده چه د دے خلقو قیامت دروغ ګڼړ لے دے.
وَاَعْتَدْنَا لِمَنْ كَذَّبَ بِالسَّاعَةِ سَعِيْرًا۝ اِذَا رَاَتْهُمْ
اوموتیار کړے دے | د هغه چا دپاره | چه دروغ ګڼړی | قیامت | بل کړے شوے اور | کله چه | اووینی هغه اور دوی لره
او خوک چه قیامت دروغ ګڼړی د هغوی دپاره موتږ ګرم اور تیار کړے دے. کله چه هغه (اور) دوی لره
مِّنْ مَّكَانٍ بَعِيْدٍ سَمِعُوْا لَهَا تَغَيُّظًا وَّزَفِيْرًا۝ وَاِذَآ اُلْقُوْا
د ځائے | لرے نه | (نو) اوری به دوی | د هغے | غرمبیدل | او هڼریدل | او کله چه | وغورځولی شی دوی
د لرے نه اووینی نو بیا به تیزئی نو دوی به د هغه زور او شور (غرمبیدل او هڼریدل) اوری، او کله چه دوی د هغے
مِنْهَا مَكَانًا ضَيِّقًا مُّقَرَّنِيْنَ دَعَوْا هُنَالِكَ ثُبُوْرًا۝
د هغے نه | په یو ځای | تنګ کښ | تړلی شوی (یو بل سره) | نو غواړی به دوی | په دغه وخت کښ | هلاکت (مرګ)
په یو تنګ ځای کښ به کلک تړلی شوی او غورځولی شی نو هغه وخت به ځان دپاره مرګ غواړی.
لَا تَدْعُوا الْيَوْمَ ثُبُوْرًا وَّاحِدًا وَّادْعُوْا ثُبُوْرًا كَثِيْرًا۝
مه غواړئ | نن ورځ | یو | هلاکت (مرګ) | او اوغواړئ | هلاکتونه (مرګونه) | ډیر
(نو) ورته به اوویلی شی چه نن یو ځل مرګ مه غواړئ بلکه ډیر ډیر مرګونه اوغواړئ.
قُلْ اَذٰلِكَ خَيْرٌ اَمْ جَنَّةُ الْخُلْدِ الَّتِيْ وُعِدَ الْمُتَّقُوْنَ ؕ
او وایه | آیا دا | ډیر غوره دے | یا جنت | د همیشوالی | هغه | چه وعده کړے شوے ده | د متقیانو سره
اے نبی! او وایه چه آیا دا انجام غوره دے یا د همیشه اوسیدو هغه جنتونه چه د متقیانو سره ئے وعده شوے ده؟
كَانَتْ لَهُمْ جَزَآءً وَّمَصِيْرًا۝ لَهُمْ فِيْهَا مَا يَشَآءُوْنَ
وی به دا | د دوی دپاره | بدله | او ځائ د ورتلو | د دوی دپاره به وی | په دے کښ | هغه څه | چه دوی ئے غواړی
چه هغه به د دوی بدله (انعام) او آخیری ځائ وی. دوی ته به هلته هر هغه څیز ملاویږی چه دوی ئے غواړی

خٰلِدِيْنَ ۗ كَانَ عَلٰى رَبِّكَ وَعْدًا مَّسْـُٔوْلًا ﴿١٦﴾ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ

همیشه | ده | ستا په رب باندے | وعده | پوره کړے شوے | او په هغه ورځ | چه هغه به راجمع کړی حوی

(او) همیشه به پکښې اوسیږی. دا هغه ذمه داری وعده ده چه ستا رب په ځان (لازم کړے دہ) او په هغه ورځ چه الله تعالیٰ به

وَمَا يَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ فَيَقُوْلُ ءَاَنْتُمْ اَضْلَلْتُمْ

او هغه څه | چه دوی ئے عبادت کوی | د الله نه سوا | نو وبه وائی (الله) | آیا تاسو | گمراه کړی وو

دا کافران او د دوی هغه (خدایان) چه دوی ئے د الله نه سوا عبادت کړے وو راجمع کړی نو الله به د دوی هغه خدایانو ته او وائی

عِبَادِيْ هٰٓؤُلَآءِ اَمْ هُمْ ضَلُّوا السَّبِيْلَ ﴿١٧﴾ قَالُوْا سُبْحٰنَكَ

بندګان زما | دغه | یا دوی (پخپله) | گمراه شوی وو | د سمے لار نه | او به وائی هغوی | پاک ئے ته

چه آیا تاسو زما دا بندګان گمراه کړی وو یا دوی پخپله د سمے لارے نه گمراه شوی وو، هغوی به او وائی اے الله ته

مَا كَانَ يَنْۢبَغِيْ لَنَآ اَنْ نَّتَّخِذَ مِنْ دُوْنِكَ مِنْ اَوْلِيَآءَ وَلٰكِنْ

نه دی | مناسب | مونږ لره | چه مونږ اونیسو | سوا ستا نه | نور دوستان | لیکن

د هر عیب نه پاک ئے، زمونږ (خو) دا مجال قدرے نه وو چه ستا نه سوا نور دوستان (کارسازان) جوړ کړو لیکن

مَّتَّعْتَهُمْ وَاٰبَآءَهُمْ حَتّٰى نَسُوا الذِّكْرَ ۚ وَكَانُوْا قَوْمًۢا

تا ګټه مو کړے موے دوی ته | او د دوی پلار نیکه ته | تردے | چه دوی هیر کړو | نصیحت | او وو دوی | یو قوم

(حقیقت دا دے چه) تا دوی ته او د دوی مشرانو ته د دنیا فائدے (ساز و سامان) ور کړے وو تر دے چه دوی ستا یاد هیر کړو

بُوْرًا ﴿١٨﴾ فَقَدْ كَذَّبُوْكُمْ بِمَا تَقُوْلُوْنَ ۙ فَمَا تَسْتَطِيْعُوْنَ

تباه کیدونکے | پس یقیناً | دوی دروغژن کړی تاسو | په هغه څه کښې | چه تاسو به وئیل | نو تاسو طاقت نه لرئ

او تباه او برباد شول. (الله به وائی) اے کافرانو! دوی خو ستاسو تولے خبرے دروغژنے کړے نو اوس خو نه

صَرْفًا وَّلَا نَصْرًا ۚ وَمَنْ يَّظْلِمْ مِّنْكُمْ نُذِقْهُ عَذَابًا

د اړولو (د عذاب) | او نه د مدد کولو | او څوک | چه ظلم ئے کړے دے | ستاسو نه | نو او به څکوو مونږ هغه ته | عذاب

تاسو پخپله دا عذاب ځان نه لرے کولے شئ او نه مدد حاصلولی شئ او په تاسو کښې چه چا هم ظلم کړے دے هغه ته به مونږ

كَبِيْرًا ﴿١٩﴾ وَمَآ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ اِلَّآ اِنَّهُمْ

ډیر لوئے | او مونږ نه دی لیږلی | ستا نه مخکښې | پیغمبران | مګر | بیشکه هغوی

ډیر لوئے عذاب او څکوو. او اے نبی! مونږ (چه) ستا نه مخکښې څومره پیغمبران (هم) لیږلی دی هغوی ټولو به

لَيَاْكُلُوْنَ الطَّعَامَ وَيَمْشُوْنَ فِي الْاَسْوَاقِ ۗ وَجَعَلْنَا

خامخا خوړلو | خوراک | او ګرځیدل | په بازارونو کښې | او مونږ جوړ کړی دی

خوراک (هم) کولو او بازارونو کښې به (هم) ګرځیدل. او مونږ تاسو د یو بل دپاره

بَعْضَكُمْ لِبَعْضٍ فِتْنَةً ۗ اَتَصْبِرُوْنَ ۚ وَكَانَ رَبُّكَ بَصِيْرًا ﴿٢٠﴾ ع

بعضے ستاسو نه | د بعضو دپاره | ازمیښت | آیا تاسو صبر کوئ | او دے | ستا رب | ښه لیدونکے

د ازمیښت ذریعه ګرځولی یئ، نو آیا تاسو صبر کوئ؟ او ستا رب هر څه وینی.

وَقَالَ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا الْمَلٰٓئِكَةُ

او وائي | هغه خلق | چه اُمید نه ساتي | دملاقات زمونږ | (چه) ولے نه نازلیږی | په مونږ باندے | فرشتے

او کوم خلق چه زمونږ دملاقات امید (عقیده) نه ساتي هغوي وائي چه په مونږ باندے فرشتے

اَوْ نَرٰی رَبَّنَا ؕ لَقَدِ اسْتَكْبَرُوْا فِیْٓ اَنْفُسِهِمْ وَعَتَوْ عُتُوًّا

او (ولے) نهٔ وینو | خپل رب | یقینًا تکبر کړے دے هغوی | (چه پوهٔ ځانونو کښ) په زړونو خپلو کښ | او سر کشي کړے هغوی | سر کشي

ولے نه نازلیږی یا مونږ خپل رب ولے نهٔ وینو؟ حقیقت دا دے چه دے خلقو خپل ځان ډیر لوے ګنړلے دے

كَبِیْرًا ۝ يَوْمَ يَرَوْنَ الْمَلٰٓئِكَةَ لَا بُشْرٰی يَوْمَئِذٍ لِّلْمُجْرِمِیْنَ

لویه | په هغه ورځ | چه دوی (به) اووینی | فرشتے | نو نه به وی هیڅ خوشحالي | په دغه ورځ | د مجرمانو دپاره

او په سر کشئ کښې د حد نه اوړیدلي دي په کومه ورځ به چه دوی فرشتے اووینی (نو) په هغه ورځ به د مجرمانو دپاره هیڅ

وَيَقُوْلُوْنَ حِجْرًا مَّحْجُوْرًا ۝ وَقَدِمْنَآ اِلٰی مَا عَمِلُوْا مِنْ عَمَلٍ

او وائي به دوی | پناه غواړو | پناه کلکه | او وړاندے به شومونږ | هغه څه ته | چه دوی کړی دي | د څه عمل نه

خوشحالي نه وی بلکه دا به وائي چه پناه غواړو پناه کلکه او دوی چه څه عملونه کړی دی مونږ به هغے ته متوجه شو

فَجَعَلْنٰهُ هَبَآءً مَّنْثُوْرًا ۝ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ يَوْمَئِذٍ خَیْرٌ

نو کړو به مونږ هغه | دوړه | الوزولے شوے | جنتیان به | په دغه ورځ | په ډیر ښه

نو هغه به ورله د الوتونکي ګرد او غبار په شان (بے قیمته) کړو جنتیان به په دغه ورځ په ځائسته

مُّسْتَقَرًّا وَّاَحْسَنُ مَقِیْلًا ۝ وَيَوْمَ تَشَقَّقُ السَّمَآءُ بِالْغَمَامِ

ځائي کښې اوسیدو کښې وی | او ښائسته | آرامګاه کښې به وی | او په هغه ورځ | (چه) اوچوی | آسمان | په وریځو سره

ځایونو او ځائسته آرام ګاه (خوابګاه) کښې وی. او په کومه ورځ چه آسمان به د ویځے وریځے نه اوچوی

وَنُزِّلَ الْمَلٰٓئِكَةُ تَنْزِیْلًا ۝ اَلْمُلْكُ يَوْمَئِذِ ۣ الْحَقُّ لِلرَّحْمٰنِ ؕ

او را کوزی به کړے شي | فرشتے | په را کوزولو سره | بادشاهي | په دغه ورځ | حق ده | رحمان ذات لره

او فرشتے به (د میدانِ حشر د انتظام دپاره) را کوزے کړے شي په دغه ورځ به حقیقي (رشتنی) بادشاهي د رحمن وی

وَكَانَ يَوْمًا عَلَى الْكٰفِرِیْنَ عَسِیْرًا ۝ وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ

او وی به دغه | ورځ | په | کافرانو | ډیره سخته | او په هغه ورځ | چه چیچله به لګوی | ظالم

او دغه ورځ به په کافرانو ډیره سخته وی او په دغه ورځ به ظالم انسان (د افسوس نه) په خپلو لاسونو

عَلٰی يَدَيْهِ يَقُوْلُ يٰلَيْتَنِی اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُوْلِ سَبِیْلًا ۝

په دواړو لاسونو خپلو | وائي به | هائے افسوس په ما | چه ما نیولے وے | د پیغمبر سره | لار

چکونه لګوی (او) دا به وائي چه کاش اما هم د پیغمبر د تابعدارئ لار اختیار کړے وے

يٰوَيْلَتٰی لَيْتَنِیْ لَمْ اَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِیْلًا ۝ لَقَدْ اَضَلَّنِیْ

هائے هلاکته | افسوس دے زما | چه ما نه وے نیولے | فلانکے | دوست | یقینًا | هغه بے لارے کړم زه

هائے زما بد نصیبه ! کاش چه فلانکے مے خپل دوست نه وے جوړ کړے یقینًا ده خو زه

عَنِ الذِّكْرِ بَعْدَ اِذْ جَآءَنِيْ ؕ وَكَانَ الشَّيْطٰنُ لِلْاِنْسَانِ

دنصیحت (قرآن) نه | پس ددے نه | کله چه | راغے ما ته | او دے | شیطان | انسان لره

ددے نه پس گمراه کړم چه نصیحت راته راغے او عادت د شیطان دا دے چه دے انسان لره

خَذُوْلًا ۝ وَقَالَ الرَّسُوْلُ يٰرَبِّ اِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوْا هٰذَا

شرموونکے | او اوبه وائی | پیغمبر | اے زما ربه! | بیشکه | زما قوم | نیولے وو | دا

بے یارومددگار پریږدی او پیغمبر به او وائی چه اے زما ربه! زما قوم (خو) دا قرآن بالکل

الْقُرْاٰنَ مَهْجُوْرًا ۝ وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا

قرآن | پریښودلے شوے | او دغه شان | جوړ کړے دے مونږ | د هر | نبی دپاره | دشمن

پریښودلے وو او دغه شان مونږ مجرمان خلق د هر نبی دشمنان جوړ کړی دی

مِّنَ الْمُجْرِمِيْنَ ؕ وَكَفٰى بِرَبِّكَ هَادِيًا وَّنَصِيْرًا ۝ وَقَالَ

د مجرمانو نه | او کافی دے | رب ستا | لاره ښودونکے | او مددکونکے | او وائی

او ستا رب هدایت کوونکے او مددګار کافی دے او دا کافران وائی

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ الْقُرْاٰنُ جُمْلَةً وَّاحِدَةً ۚ

هغه کسان | چه کفر نے کړے دے | ولے نه نازلیږی | په ده باندے | قرآن | په یو ځل

چه دا قرآن په دے پیغمبر باندے ټول په یو ځل ولے نه نازلیږی اے نبی دغه شان نے په دمه دمه ځکه نازلولو چه په وخت

كَذٰلِكَ ۚ لِنُثَبِّتَ بِهٖ فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنٰهُ تَرْتِيْلًا ۝

دغه شان | د دے دپاره چه مونږ کلک کړو | په دے سره | زړه ستا | او په آرام (ترتیل) لوستلے دے مونږ دا (قرآن) | په لوستلو سره

د اعتراضونو د ځوابونو کښ په دے سره مونږ ستا زړه مضبوط کړو او مونږ دا په ورو ورو لوستلے دے چه د الفاظو وضاحت نے وکړو

وَلَا يَاْتُوْنَكَ بِمَثَلٍ اِلَّا جِئْنٰكَ بِالْحَقِّ وَاَحْسَنَ تَفْسِيْرًا ۝

او راتله نه کوی دوی تا ته | په څه شی سره | مگر | راوړو مونږ تا ته | حق جواب | او ښایسته | بیان (ښه وضاحت)

او کله هم چه دوی تا ته څه ناشنا سوال راوړی نو مونږ د هغے سم (صحیح) جواب او ښه وضاحت تا ته او ښایو

الَّذِيْنَ يُحْشَرُوْنَ عَلٰى وُجُوْهِهِمْ اِلٰى جَهَنَّمَ ۙ اُولٰٓئِكَ شَرٌّ

هغه خلق | چه جمع به کړی شی | په مخونو خپلو باندے | جهنم ته | دغه خلق دی | ډیر بد

کوم خلق به چه پر مخے جهنم ته راجمع کړے شی دهغوی ځائے هم ډیر خراب دے

مَّكَانًا وَّاَضَلُّ سَبِيْلًا ۝ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ

ځائے والا | او ډیر ورکونکی دی | لار (د جنت لره) | او یقینا | مونږ ور کړے وو | موسیٰ ته | کتاب

او د سمے لارے هم بے لارے دی او یقینا مونږ موسیٰ ته کتاب ورکړے وو

وَجَعَلْنَا مَعَهٗٓ اَخَاهُ هٰرُوْنَ وَزِيْرًا ۝ فَقُلْنَا اذْهَبَآ

او جوړ کړے وو مونږ | دهغه سره | ورور دهغه | هارونؑ | وزیر (ملاتړ) | نو او ویل مونږ | لاړ شئ دواړه

او دهغه سره مو دهغه ورور هارونؑ مددګار مقرر کړے وو نو مونږ وئیل وو هغوی ته چه دواړه هغه قوم ته لاړ شئ

اِلَى الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ؕ فَدَمَّرْنٰهُمْ تَدْمِيْرًا ؕ

قوم | هغې ته | چه دروغ ئې ګڼلي دي | آيا تونه زمونږ | پس هلاك كړل مونږ هغوی | په هلاكولو سره

چه زمونږ آيا تونه ئې دروغ ګڼلي دي آخر دا چه مونږ هغوی پوره تباه كړل

وَقَوْمَ نُوْحٍ لَّمَّا كَذَّبُوا الرُّسُلَ اَغْرَقْنٰهُمْ وَجَعَلْنٰهُمْ

او قوم | د نوح (هم) | كله چه | دروغژن كړل هغوی | پيغمبران | (نو) مونږ غرق كړل هغوی | او او ګرځول مونږ هغوی لره

او د نوح قوم هم چه كله پيغمبران دروغژن اوګڼرل نو مونږ غرق كړل او د خلقو دپاره مو

لِلنَّاسِ اٰيَةً ؕ وَاَعْتَدْنَا لِلظّٰلِمِيْنَ عَذَابًا اَلِيْمًا ۚ وَّعَادًا

د خلقو لپاره | نښه | او مونږ تيار كړے دے | د ظالمانو دپاره | عذاب | دردناك | او عاديان

د عبرت يوه نښه جوړه كړه او د ظالمانو دپاره مونږ دردناك عذاب تيار كړے دے او (دغه شان) عاديان

وَّثَمُوْدَا۠ وَاَصْحٰبَ الرَّسِّ وَقُرُوْنًا بَيْنَ ذٰلِكَ كَثِيْرًا ۝ وَكُلًّا

او ثموديان | او كوهي والا | او (نور) قومونه | په مينځ | د دے كښې | ډير | او هر يو ته

او ثموديان او كوهي والا او د دے په مينځ كښې نور ډير نسلونه (مونږ تباه كړل)

ضَرَبْنَا لَهُ الْاَمْثَالَ ۫ وَكُلًّا تَبَّرْنَا تَتْبِيْرًا ۝ وَلَقَدْ اَتَوْا

بيان كړي وو مونږ | هغه ته | مثالونه | او هر يو | تباه كړل مونږ | په تباه كولو سره | او يقينا | تير شوي دي هوی

او دے ټولو ته مونږ د پوهے دپاره مثالونه بيان كړي وو او (چه وے نه منل نو) ټول مو تباه او برباد كړل

عَلَى الْقَرْيَةِ الَّتِيْۤ اُمْطِرَتْ مَطَرَ السَّوْءِ ؕ اَفَلَمْ يَكُوْنُوْا

په | كلي | هغې باندے | چه وروله شوی وه په هغوی باندے | باران | بد | آيا پس نه وو دوی

او يقيناً دا اوسني كافران په هغه كلي هم تير شوي دي چه د كاڼو ډير سخت باران پرے شوی وو نو آيا

يَرَوْنَهَا ۚ بَلْ كَانُوْا لَا يَرْجُوْنَ نُشُوْرًا ۝ وَاِذَا رَاَوْكَ

چه ليدلے ئې وے هغې لره | بلكه | دوی | اميد نه لري | د بيا را پورته كيدلو | او كله چه | او وينی دوی تا لره

دوی دغه كلي نه وينی؟ بلكه دوی د دوباره ژوندون عقيده نه ساتي او اے نبي! دا كافران چه كله تا او وينی

اِنْ يَّتَّخِذُوْنَكَ اِلَّا هُزُوًا ؕ اَهٰذَا الَّذِيْ بَعَثَ اللّٰهُ رَسُوْلًا ۝

(نو) نه نيسي تا لره | مګر | ټوقے | آيا دا دے | هغه كس | چه را اوليږلے دے | الله | پيغمبر

نو تا پورے ټوقے كوي (او دا وائي چه) آيا دا هغه كس دے چه الله پيغمبر را اوليږلے دے؟

اِنْ كَادَ لَيُضِلُّنَا عَنْ اٰلِهَتِنَا لَوْلَاۤ اَنْ صَبَرْنَا عَلَيْهَا ؕ

بيشكه | نزدے وه | چه ګمراه كړي يو دے حضور ﷺ | د خدايانو خپلو نه | كه چرے مونږ ټينګ شوي نه وو | په هغې باندې

كه چرے مونږ په خپلو خدايانو كلك ولاړ نه وے نو دے سړي خو به مونږ د خپلو خدايانو نه اړولي (ګمراه كړي) وے

وَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ حِيْنَ يَرَوْنَ الْعَذَابَ مَنْ اَضَلُّ

او ډير زر به | دوی پوهه شي | كله چه | ووينی | عذاب | (چه) څوك | زيات بے لارے دی

نو كله چه دوی عذاب او وينی نو پته به ورته اولګي چه څوك د سمے لارے نه زيات اوړيدلي دي

سَبِيْلًا ۝٤٢ اَرَءَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوٰىهُ ؕ اَفَاَنْتَ تَكُوْنُ

دلارے نه | آیا تا لیدلے دے | هغه څوک | چه نیولے ئے دے | معبود خپل | خواهش خپل لره | آیا نو ته | ئے

اے نبی! آیا تا د هغه چا په حال نظر کړے دے چه خپل خواهش ئے معبود (خدائے) جوړ کړے دے نو آیا ته

عَلَيْهِ وَكِيْلًا ۝٤٣ اَمْ تَحْسَبُ اَنَّ اَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُوْنَ

په هغه باندے | ذمه وار (نګهبان) | آیا ته ګمان کوے | چه بیشکه | اکثر د دوی | آوری

ددۀ د هدایت ذمه وار ئے؟ یا ته دا خیال کوے چه په دوی کښی اکثر خلق (حق) آوری

اَوْ يَعْقِلُوْنَ ؕ اِنْ هُمْ اِلَّا كَالْاَنْعَامِ بَلْ هُمْ اَضَلُّ

یا د عقل نه کار اخلی | نه دی دوی | مګر | په شان د څاروو | بلکه | دوی | زیات بے لارے دی

یا پوهیږی، نا بلکه دوی خو بس د څارویو په شان دی بلکه د څارویو نه هم زیات بے لارے دی (په بې عقلۍ کښی؟) ... خپل لاره

سَبِيْلًا ۝٤٤ اَلَمْ تَرَ اِلٰى رَبِّكَ كَيْفَ مَدَّ الظِّلَّ ۚ وَلَوْ شَآءَ ع

دلار نه | آیا تا نه دی کتلی | خپل رب ته | چه څنګه ئے | خور کړے دے | سورے | او که چرے | هغه غوښتلے

آیا تا د خپل رب قدرت ته نه دے لیدلے چه سورے ئے څنګه خور کړے دے او که هغه غوښتلے (نو تور به ئے ئې را اخیژولے)

لَجَعَلَهٗ سَاكِنًا ۚ ثُمَّ جَعَلْنَا الشَّمْسَ عَلَيْهِ دَلِيْلًا ۝٤٥

نو خامخا ګرځولے به ئے هغه لره | ولاړ په ځائ | بیا | جوړ کړے دے مونږ | نمر | په هغه باندے | دلیل

نو دا به ئے ځائے په ځائے ولاړ پریښودلے وے بیا مونږ د نور راخیژول په هغه باندے یو نښه مقرر کړے ده

ثُمَّ قَبَضْنٰهُ اِلَيْنَا قَبْضًا يَّسِيْرًا ۝٤٦ وَهُوَ الَّذِيْ جَعَلَ

بیا | راټول کړو مونږ هغه | خپل ځان ته | په راټولولو | آسان سره | او الله هم هغه ذات دے | چه جوړه کړے ئے ده

بیا مونږ دا (سوری) خپل طرف ته ورو ورو راټولوو او الله تعالیٰ هم هغه ذات دے چه شپه ئے ستاسو د پاره جامه

لَكُمُ الَّيْلَ لِبَاسًا وَّالنَّوْمَ سُبَاتًا وَّجَعَلَ النَّهَارَ نُشُوْرًا ۝٤٧

ستاسو د پاره | شپه | جامه | او خوب | آرام | او جوړه کړے ئے ده | ورځ | وخت د خوریدلو

(پرده پوش) او خوب ئے د رله د آرام ذریعه جوړه کړے ده او ورځ ئے د ګرځیدو راګرځیدو ذریعه جوړه کړے ده

وَهُوَ الَّذِيْٓ اَرْسَلَ الرِّيٰحَ بُشْرًاۢ بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهٖ ۚ

او هم الله هغه ذات دے | چه رالیږی | هواګانے | زیرے | مخکښې | د رحمت خپل نه

او الله تعالیٰ هم هغه ذات دے چه د خپل رحمت (باران) نه مخکښې د زیری په طور هواګانے رالیږی

وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً طَهُوْرًا ۝٤٨ لِّنُحْیِۦَ بِهٖ بَلْدَةً

او مونږ راوروو | د | آسمان نه | او به | پاکوونکے | د دے د پاره چه مونږ ژوندے کړو | په هغے سره | ښار

او بیا هم مونږ د آسمان د طرف نه پاکوونکے اوبۀ راوروو چه مونږ په هغے سره یو اوچ ښار تازه کړو

مَّيْتًا وَّنُسْقِيَهٗ مِمَّا خَلَقْنَآ اَنْعَامًا وَّاَنَاسِيَّ كَثِيْرًا ۝٤٩

مړ (اوچ) | او مونږ او څکوو هغه | هغه چا ته | چه مونږ پیدا کړی دی | څاروی | او انسانان | ډیر

او د خپل مخلوق نه ډیر څاروی او انسانان په هغے باندے سیراب (خړوب) کړو

وَلَقَدْ صَرَّفْنٰهُ بَيْنَهُمْ لِيَذَّكَّرُوْا ۖ فَاَبٰىٓ اَكْثَرُ النَّاسِ

او یقینا | اګرځوراګرځو مونږ دا اوبه | په مینځ ددوی کښې | چه دوی نصیحت واخلی | پس نه کوی | ډیر | خلق

او مونږ دا (کرشمه د اوبو) په مختلفو طریقو سره په دوی کښې تقسیموو چه دوی غور او کړی خو اکثر خلق

اِلَّا كُفُوْرًا ﴿٥٠﴾ وَلَوْ شِئْنَا لَبَعَثْنَا فِيْ كُلِّ قَرْيَةٍ نَّذِيْرًا ﴿٥١﴾

مګر | ناشکری | او که چیرے | مونږ خوښتلے | نو خامخا به مونږ رالیږلے وے | په هر یو | کلی کښې | یرووُنکے

د ناشکرئ نه سوا د هرے خبرے نه انکار کوی او که مونږ غوښتلے لو مونږ به هر کلی ته یروُنکے (پیغمبر) لیږلے وو

فَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ وَجَاهِدْهُمْ بِهٖ جِهَادًا كَبِيْرًا ﴿٥٢﴾

پس ته خبره مه منه | د کافرانو | او جهاد کوه ددوی سره | په دے باندے | جهاد | لوے

نو اے نبی ! ته د کافرانو خبره مه منه او دوی ته د قرآن په تبلیغ کښې پوره ځان او کړوه (ځکه چه) دا لوے جهاد دے

وَهُوَ الَّذِيْ مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَّهٰذَا

او هم الله هغه ذات دے | چه یو ځائ سره روان کړی دی | دوه دریابونه | دا یو | خوږ دے | تنده ماتوونکے | او دا (بل)

او الله تعالیٰ هم هغه ذات دے چه دوه دریابونه بغیر د ګډون نه په داسے طریقه یو ځائ روان کړی دی چه دا یو داسے خوږ دے

مِلْحٌ اُجَاجٌ ۚ وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَّحِجْرًا مَّحْجُوْرًا ﴿٥٣﴾

مالګین | تریخ دے | او هغه جوړه کړے ده | په مینځ ددے دواړو کښې | یوه پرده | او یو بند | پوخ (مضبوط)

چه تنده ماتوی او دا بل مالګین تریخ دے او هغه ددے دواړو په مینځ کښې یوه پرده او یو مضبوط بند جوړ کړے دے

وَهُوَ الَّذِيْ خَلَقَ مِنَ الْمَآءِ بَشَرًا فَجَعَلَهٗ نَسَبًا

او هم الله هغه ذات دے | چه پیدا کړے ئے دے | د اوبو نه | بنیادم | بیا ئے جوړ کړے دے هغه | د نسب والا

او الله تعالیٰ هم هغه ذات دے چه د اوبو (نطفے) نه ئے انسان پیدا کړے دے او بیا ئے ده له نسب

وَّصِهْرًا ؕ وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيْرًا ﴿٥٤﴾ وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

او سخر ګنئ والا | او دے | ستا رب | قدرت لرونکے | او دوی عبادت کوی | سوا د الله نه

او سخر ګنئ ور کړے ده او ستا رب په هر څه قادر دے او دا (مشرکان) د الله تعالیٰ نه سوا د هغه چا عبادت کوی

مَا لَا يَنْفَعُهُمْ وَلَا يَضُرُّهُمْ ؕ وَكَانَ الْكَافِرُ عَلٰى رَبِّهٖ

د هغه چا | چه نه فائده ور کوی دوی ته | او نه نقصان ور کوی دوی ته | او دے | کافر | خپل رب ته

چه نه ورته فائده ور کولے شی او نه نقصان او کافر د خپل رب مخالفت ته ملا تړلے ده او اے نبی ! مونږ خو ته صرف

ظَهِيْرًا ﴿٥٥﴾ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا مُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ﴿٥٦﴾ قُلْ مَآ اَسْئَلُكُمْ

شا ګرځوونکے | او نه ئے لیږلے مونږ ته | مګر | زیرے ور کونکے | او ویره ور کوونکے | او وایه | (چه) نه غواړم تاسو نه

د دے د پاره لیږلے ئے چه خلقو ته زیرے ور کړے (د جنت) او خبردارے ورکړے (په حالت د دوزخ) اے نبی ! ته دوی ته او وایه چه زه خو تاسو نه

عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ اِلَّا مَنْ شَآءَ اَنْ يَّتَّخِذَ اِلٰى رَبِّهٖ سَبِيْلًا ﴿٥٧﴾

په دے باندے | څه اجرت (بدله) | لیکن | څوک چه | غواړی | چه اختیار کړی | خپل رب ته | لاره

په دے (دعوت) هیڅ بدله (اجرت) نه غواړم لیکن د چا چه خوښه وی چه خپل رب ته حرسیده لاره اختیار کړی (نو ملګرے سره روان شی)

وَتَوَكَّلْ عَلَى الْحَيِّ الَّذِيْ لَا يَمُوْتُ وَسَبِّحْ بِحَمْدِهٖ ؕ

او توکل اوکره | په ژوندي | هغه ذات | چه مرګ پرے نه راځي | او پاکي بیانوه | سره د تعریف دهغه نه

اوته په هغه ذات بانـدے ځان اوسپاره چه همیشه ژوندے دے مرګ پرے نه راځي او دهغه د صفتونو سره دهغه پاکي بیانوه

وَكَفٰى بِهٖ بِذُنُوْبِ عِبَادِهٖ خَبِيْرًا ۚ ﴿٥٨﴾ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ

او کافي دے | هغه | په ګناهونو | دبندګانو خپلو بانـدے | خبردار | هغه ذات | چه پیدا کړي دي | آسمانونه

اوهغه دخپلو بندګانو دګناهونو نه پوره خبردار دے الله هغه ذات دے چه آسمانونه

وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى

او زمکه | اوڅه چه | په مینځ دد ے دواړو کښ دي | په شپږو | ورځو کښ | بیا | برابر شو

او زمکه او ددي په مینځ کښ ټول څیزونه ئے په اندازه د شپږو ورځو کښ پیدا کړل بیا په عرش بانـدے

عَلَى الْعَرْشِ ۛ اَلرَّحْمٰنُ فَسْئَلْ بِهٖ خَبِيْرًا ﴿٥٩﴾ وَاِذَا قِيْلَ

په عرش بانـدے | رحمان دے | پس تپوس اوکړه | دهغه په باره کښې | د خبردار نه | او کله چه | او ویل شي

مستوي (برابر) شو هغه رحمان دے نو دهغه (دشان) باره کښې دهغه چاته تپوس اوکړه چه دهغه د صفاتو معرفت لري او کله چه دے

لَهُمُ اسْجُدُوْا لِلرَّحْمٰنِ قَالُوْا وَمَا الرَّحْمٰنُ ۗ اَنَسْجُدُ

دوی ته | (چه) سجده اوکړئ | رحمان ته | (نو) وائي دوی | او څه دے | رحمٰن؟ | آیا مونږ سجده اوکړو

خلقو ته او ویل شي چه رحمان ته سجده اوکړئ (نو) وائي رحمان څوک دے؟ آیا مونږ به هغه چاته سجده کوو

لِمَا تَاْمُرُنَا وَزَادَهُمْ نُفُوْرًا ۩ ﴿٦٠﴾ تَبٰرَكَ الَّذِيْ جَعَلَ ع

هغه چاته | چه ته رسـره ئې حکم کوے مونږ ته | او زیات کړي دوي لره | نفرت | برکت والا دے | هغه ذات | چه جوړ کړي ئې دي

چه ته ئے راته حکم کوے او دا خبره د دوي نفرت نور هم زیات کړي. ډیر برکت والا دے هغه (الله) چه په

فِي السَّمَآءِ بُرُوْجًا وَّجَعَلَ فِيْهَا سِرٰجًا وَّقَمَرًا مُّنِيْرًا ﴿٦١﴾

په آسمان کښې | منزلونه | او جوړه کړے ئے ده | په هغې کښې | یوه ډیوه | او سپوږمۍ | روښانه

آسمان کښې ئے ستورو د ښکاره کیدلو منزلونه پیدا کړي دي او په هغې کښې ئې لیدونکې نور او رڼا کونکې سپوږمۍ پیدا کړے ده

وَهُوَ الَّذِيْ جَعَلَ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ خِلْفَةً لِّمَنْ اَرَادَ

او هم الله هغه ذات دے | چه جوړه کړي ئې ده | شپه | او ورځ | یو بل پسے راتلونکې | دهغه چا دپاره | چه غواړي

او الله تعالیٰ هم هغه ذات دے چه شپه او ورځ ئې داسے جوړ کړي دي چه یو بل پسے راځي خو دا نخښے دهغه چا دپاره (فائده مندې) دي

اَنْ يَّذَّكَّرَ اَوْ اَرَادَ شُكُوْرًا ﴿٦٢﴾ وَعِبَادُ الرَّحْمٰنِ الَّذِيْنَ يَمْشُوْنَ

چه نصیحت واخلي | یا غواړي | شکر کول | او (خاص) بندګان | د رحمان | هغه خلق دي | چه ګرځي

چه د نصیحت اغستلو اراده لري یا شکر ادا کول غواړي او د رحمٰن بندګان (خو) هغه خلق دي چه په زمکه په عاجزۍ سره،

عَلَى الْاَرْضِ هَوْنًا وَّاِذَا خَاطَبَهُمُ الْجٰهِلُوْنَ قَالُوْا سَلٰمًا ﴿٦٣﴾

په زمکه بانـدے | په قلاره | او کله چه | خبرے کوي ورسره | ناپوهه خلق | نو وائي دوی | د سلامتیا خبره

نرم رفتار سره او درمیانه چال سره ګرځي او کله چه ورسره جاهلان خلق خبرے کوي نو دوي ورته د سلامتیا خبره کوي

وَالَّذِيْنَ يَبِيْتُوْنَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَّقِيَامًا ۝٦٤ وَالَّذِيْنَ

اوهغه خلق دي | چه شپه تيروي | خپل رب ته | سجده كوونكي | او ولاړ | اوهغه خلق دي

اودوي هغه خلق دي چه خپل رب ته په حالت دسجده او قيام كښ شپه تيروي او داهغه خلق دي

يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ ۖ اِنَّ عَذَابَهَا

چه وائي | اے ربه زموږه | واړوه | زموږنه | عذاب | د دوزخ | بيشكه | عذاب دهغے

چه دا دعا غواړي (چه) اے زموږ ربه د جهنم عذاب زموږ نه لرے اوساته يقيناً د هغے عذاب

كَانَ غَرَامًا ۖ اِنَّهَا سَآءَتْ مُسْتَقَرًّا وَّمُقَامًا ۝٦٦ وَالَّذِيْنَ اِذَآ

دے | لازم | بيشكه هغه | ډيربد | ځائے د آرام | اوځائے د ډيره كيدو دے | او هغه خلق دي | چه كله

هميشه لازم (تاوان) دے يقيناً هغه ډيره خرابه ټيكونره او ډير خراب ځائے د اقامت دے او دا هغه خلق دي چه كله

اَنْفَقُوْا لَمْ يُسْرِفُوْا وَلَمْ يَقْتُرُوْا وَكَانَ بَيْنَ ذٰلِكَ قَوَامًا ۝٦٧

خرچ كوي | نو نه فضول خرچي كوي | او نه شومتيا كوي | او وي | په منيځ د دے كښ | په اعتدال

خرچ كوي نو نه فضول خرچي كوي او نه تنگي (شومتيا) كوي بلكه د هغوي خرچ په اعتدال سره وي

وَالَّذِيْنَ لَا يَدْعُوْنَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ وَلَا يَقْتُلُوْنَ النَّفْسَ

اوهغه خلق دي | چه نه رابلي | د الله سره | مددګار | بل | او نه وژني | نفس

او داهغه خلق دي چه د الله تعالیٰ سره بل هيڅ څوك مددګار نه رابلي او الله تعالیٰ چه د چا وژل حرام كړي دي

الَّتِيْ حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُوْنَ ۚ وَمَنْ يَّفْعَلْ

هغه | چه حرام كړے دے | الله | مگر | په حقه (په جرم شرعي سره) | او نه زنا كوي | او څوك چه | او كړي

هغه په ناحقه نه وژني او نه زنا كوي او څوك چه (په حالت د كفر او شرك كښ) دا كار او كړي (نو) هغه به دخپلے گناه

ذٰلِكَ يَلْقَ اَثَامًا ۝٦٨ يُّضٰعَفْ لَهُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

دا كار | نو مخامخ به شي | (سزاد) گناه سره | دوه چنده به كړے شي | د هغه دپاره | عذاب | په ورځ | د قيامت

سزا سره مخامخ كيږي د قيامت په ورځ به د هغه عذاب دوه چنده زياتيږي

وَيَخْلُدْ فِيْهٖ مُهَانًا ۝٦٩ اِلَّا مَنْ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ

اوهغه به هميشه وي | په هغے كښ | ذليله كړے شوي | مگر | هغه چا | چه توبه ئے اوويستله | او ايمان ئے راوړو | او عمل ئے كړو

او په هغے كښې به هميشه ذليل او خوار وي، مگر چا چه توبه اوويستله او ايمان ئے راوړو او نيك

عَمَلًا صَالِحًا فَاُولٰٓئِكَ يُبَدِّلُ اللّٰهُ سَيِّاٰتِهِمْ حَسَنٰتٍ ۗ وَكَانَ

عمل | نيك | نو دغه خلق دي | چه بدل به كړي | الله | د دوي گناهونه | په نيكو سره | او دے

عمل ئے او كړو نو د داسے خلقو گناهونه به الله تعالیٰ په نيكو بدل كړي. او الله تعالیٰ ډير بخښونكے ډير مهربان دے

اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝ وَمَنْ تَابَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَاِنَّهٗ

الله | ډیر بخښونکے | ډیر مهربان | او څوک | چه توبه اوکړی | او عمل اوکړی | نیك | نو بیشکه هغه

او څوك چه (په حالت د ایمان کښې دده) ګناهونو نه توبه اوباسی او نیك عمل اوکړی نو دهغه توبه هم قبوله ده ځکه چه دے په

يَتُوْبُ اِلَى اللّٰهِ مَتَابًا ۝ وَالَّذِيْنَ لَا يَشْهَدُوْنَ الزُّوْرَ ۙ وَاِذَا

رجوع کوی | الله ته | په رجوع کولو سره | او هغه خلق دی | چه ګواهی نه ورکوی | د دروغو | او کله چه

حقیقت کښې الله تعالیٰ ته پوره راګرځیدو (او دا دلیل دا خلاص دے) او (دا) هغه خلق دی چه د دروغو ګواهی نه ورکوی او کله چه دوی

مَرُّوْا بِاللَّغْوِ مَرُّوْا كِرَامًا ۝ وَالَّذِيْنَ اِذَا ذُكِّرُوْا بِاٰيٰتِ

تیریږی خوی | په ناروا کار | تیریږی | په عزت | او دا هغه خلق دی | چه کله | نصیحت اوکړی شی دوی ته | په آیتونو

په ناروا (فضول) کارونو او ګناهونو باندے تیریږی نو په عزت سره مخ اړونکی تیریږی او دا هغه خلق دی چه کله ورته د خپل رب

رَبِّهِمْ لَمْ يَخِرُّوْا عَلَيْهَا صُمًّا وَّعُمْيَانًا ۝ وَالَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ

د رب خپل | (نو) نه پریوزی | په هغے باندے | کاڼه | او ړانده | او دا هغه خلق دی | چه وائی

په آیتونو باندے نصیحت اوکړے شی نو په هغے په بندو غوږونو او په پټو سترګو په غفلت سره نه ورپریوزی او دا هغه

رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ اَزْوَاجِنَا وَذُرِّيّٰتِنَا قُرَّةَ اَعْيُنٍ

اے ربه زمونږه | را کړه | مونږ ته | د ښځو زمونږ نه | او د بچو زمونږ نه | یخوالے | د سترګو

خلق دی چه په دعا کښې وائی اے زمونږ ربه! مونږ له د خپلو ښځو او بچو نه د سترګو یخوالے را کړه

وَّاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِيْنَ اِمَامًا ۝ اُولٰٓئِكَ يُجْزَوْنَ الْغُرْفَةَ بِمَا

او جوړ کړه مونږ | د متقیانو د پاره | پیشوایان | هم دغه خلق دی | چه بدله کښې به ورکړے شی | بنګلے | په سبب د هغه چه

او مونږ د متقیانو مشران جوړ کړه۔ هم دغه خلق دی چه د صبر کولو په وجه به ورته بالاخانے ورکړے شی

صَبَرُوْا وَيُلَقَّوْنَ فِيْهَا تَحِيَّةً وَّسَلٰمًا ۙ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ

چه صبر ئے کړے دے | او پیش کولے به شی دوی ته | په هغے کښې | دعا د ژوند | او سلام | همیشه به وی دوی | په هغے کښې

او هلته به ورسره فرښتے او ملګری د دعا او سلام سره ملاقات کوی په هغے کښې به همیشه اوسیږی

حَسُنَتْ مُسْتَقَرًّا وَّمُقَامًا ۝ قُلْ مَا يَعْبَؤُا بِكُمْ رَبِّيْ

ډیر ښائسته دے (جنت) | ځائے د اوسیدو | او ځائے د دیره کیدو | او وایه! | پروا نه کوی | په تاسو | رب زما

او هغه د اسیدو او دیره کیدو ډیر بهترین ځائے دے اے نبی! خلقو ته اووایه که چرے تاسو الله نه رابللے خپل توحید ته نو زما رب

لَوْلَا دُعَآؤُكُمْ ۚ فَقَدْ كَذَّبْتُمْ فَسَوْفَ يَكُوْنُ لِزَامًا ۝ ع

که چرے نه وے | رابلل د هغه ستاسو له ره | پس یقیناً | دروغ اوګڼل تاسو | نو زر ده | چه شی به عذاب | لازم

ستاسو د عذاب هیڅ پروا نه کوله خو اوس (اے کافرانو) تاسو توحید د الله دروغژن ګڼلے دے نو سزا به ئے لازمی وی۔

آياتها [٢٢٧]	سورة الشعرآء مكّيّة	ركوعاتها [١١]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډير مهربان | زيات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

طٰسٓمّٓ ۝١ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ۝٢ لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ

طٰسم | دا | آياتونه | د کتاب | واضح دي | شايد چه ته | هلا کونکے ئے | خپل ځان لره

طٰسٓمّٓ دا دهغه کتاب آيتونه دي چه حق واضحه کوي اے نبي! شايد چه ته په دے غم کښې ځان هلاک کوے

اَلَّا يَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ۝٣ اِنْ نَّشَاْ نُنَزِّلْ عَلَيْهِمْ

(په دے وجه) چه ولې دوي ايمان راوړونکي | که چرے | اوغواړو مونږ | (لو) نازل به کړو مونږ | په دوي باندے

چه دوي ايمان (ولے) نه راوړي؟ که مونږ (د دوي جبري ايمان) اوغواړو نو دوي ته به

مِّنَ السَّمَآءِ اٰيَةً فَظَلَّتْ اَعْنَاقُهُمْ لَهَا خٰضِعِيْنَ ۝٤

د آسمان نه | يوه نخښه | نو شي | د دوي څټونه | هغے ته | عاجزي کونکي (ټيټ)

د آسمان نه يوه داسے نخښه راوليږو چه هغے ته به د دوي څټونه ټيټ شي

وَمَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ ذِكْرٍ مِّنَ الرَّحْمٰنِ مُحْدَثٍ اِلَّا كَانُوْا عَنْهُ

او نه راځي دوي ته | څه يادداشت (نصيحت) | د رحمان د طرف نه | نوے | مگر | وي دوي | د هغے نه

او د دوي حال خو دا دے چه د رحمن د طرف نه ورته څه نوے نصيحت راشي نو دوي د هغے نه

مُعْرِضِيْنَ ۝٥ فَقَدْ كَذَّبُوْا فَسَيَاْتِيْهِمْ اَنْۢبٰٓؤُا مَا كَانُوْا

مخ اړونکي | پس يقيناً | دوي دروغژن کړو (حق) | پس ډير زر به راشي دوي ته | خطرناک خبرونه | دهغه څه | چه دوي به

مخ اړوي نو بس دوي حق دروغژن گنړلے دے نو اوس به ورته ډير زر د هغه څه حقيقت معلوم شي چه

بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝٦ اَوَلَمْ يَرَوْا اِلَى الْاَرْضِ كَمْ اَنْۢبَتْنَا

په هغے پورے | توقے کولے | آيا دوي نه گوري | زمکے ته | چه څومره | رازرغون کړي دي مونږ

دوي په ورپورے توقے کولے آيا دے خلقو زمکے ته نه دي کتلي چه مونږ پکښې د هر قسم

فِيْهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍ كَرِيْمٍ ۝٧ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ

په دے کښې | د هر قسم | څيزونو | فائده مندو نه | بيشکه | په دے کښې | خامخا نخښه ده

فائده مند بوټي پيدا کړي دي يقيناً په دے څيزونو کښې د الله د قدرت نخښه ده

وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝٨ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ

او نه دي | اکثر د دوي | ايمان راوړونکي | او بيشکه | ستا رب | خامخا (هم) هغه دے | زورور (غالب)

بيا هم په دوي کښې اکثر خلق ايمان نه راوړي او يقيناً ستا رب خامخا (هم) هغه ډير زورور او (غالب) دے مگر ډيرو ته مهلت ورکوونکے

ع الرَّحِيْمُ ﴿٩﴾ وَاِذْ نَادٰى رَبُّكَ مُوْسٰٓى اَنِ ائْتِ الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٠﴾

مهربان | او کله چه | آواز او کړو | رب ستا | موسیٰ ته | چه لاړ شه | قوم | ظالمانو ته

او ډیر رحم کوونکے دے (مومنانو باندے) او دغه وخت حال او وره کله چه ستا رب موسیٰ ته آواز او کړو چه ظالم قوم ته ورشه

قَوْمَ فِرْعَوْنَ ؕ اَلَا يَتَّقُوْنَ ﴿١١﴾ قَالَ رَبِّ اِنِّيْٓ اَخَافُ

قوم | د فرعون ته | آیا دوی نه یریږی | او وئیل هغه | اے زما ربه | بیشکه زه | یریږم

یعنی د فرعون قوم (ته ورشه) آیا دوی د الله نه نه یریږی؟ موسیٰ او وئیل اے زما ربه ماسره دا یره ده

اَنْ يُّكَذِّبُوْنِ ﴿١٢﴾ وَيَضِيْقُ صَدْرِيْ وَلَا يَنْطَلِقُ لِسَانِيْ فَاَرْسِلْ

چه دروغژن به او ګڼړی هغوی ما | او تنګه به شی | سینه زما | او او به نه چلیږی | ژبه زما | نو (وحی) او لیږه

چه دوی به ما دروغژن کړی۔ او زما زړه به تنګیږی او ژبه به مے نه چلیږی نو هارونؑ ته هم

اِلٰى هٰرُوْنَ ﴿١٣﴾ وَلَهُمْ عَلَيَّ ذَنْۢبٌ فَاَخَافُ اَنْ يَّقْتُلُوْنِ ﴿١٤﴾

هارونؑ ته | او د دوی | په ما باندے | یو جرم دے | نو زه یریږم | چه دوی به او وژنی ما

د نبوت پیغام او لیږه او دوی په ما باندے یو الزام د جرم لګولے دے نو ماسره یره ده چه ما او نه وژنی؟

قَالَ كَلَّا ۚ فَاذْهَبَا بِاٰيٰتِنَآ اِنَّا مَعَكُمْ مُّسْتَمِعُوْنَ ﴿١٥﴾

او وئیل (الله) | هیڅ چرے نه | پس لاړ شئ دواړه | زمونږ د نخښو سره | بیشکه مونږ | تاسو سره | اوریدونکی یو

الله تعالیٰ ورته او وئیل هیڅ کله داسے نه شی کیدے تاسو دواړه زمونږ معجزاتو سره لاړ شئ یقین او ساتئ چه مونږ ستاسو سره یو هر څه اورو

فَاْتِيَا فِرْعَوْنَ فَقُوْلَآ اِنَّا رَسُوْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٦﴾

پس دواړه لاړ شئ | فرعون ته | نو (ورته) او وایئ | (چه) بیشکه مونږ | رسولان | د رب | د ټولو مخلوقاتو یو

نو اوس فرعون ته ورشئ او ورته او وایئ چه مونږ د رب العالمین پیغمبران یو

اَنْ اَرْسِلْ مَعَنَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿١٧﴾ قَالَ اَلَمْ نُرَبِّكَ فِيْنَا

(چه) ته راپریږده | زمونږ سره | بنی | اسرائیل | او وئیل هغه | آیا ته مونږ نه ئے پاللے | په خپل کور کښ

او دے د پاره راغلی یو چه ته بنی اسرائیل مونږ سره راپریږده فرعون ورته او وئیل چه آیا مونږ

وَلِيْدًا وَّلَبِثْتَ فِيْنَا مِنْ عُمُرِكَ سِنِيْنَ ﴿١٨﴾ وَفَعَلْتَ

وړوکے | او تا او وخت تیر کړے دے | په مونږ کښ | د خپل عمر نه | ډیر کلونه | او تا کړے دے

په وړوکوالی کښی ستا پالنه نه ده کړے او تا د خپل عمر ډیر کلونه زمونږ سره نه دی تیر کړی؟ او تا یو بل

فَعْلَتَكَ الَّتِيْ فَعَلْتَ وَاَنْتَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿١٩﴾ قَالَ

کار خپل | هغه | چه تا کړے دے | او ته ئے | د ناشکرو نه | او وئیل هغه

حرکت (قتل) هم کړے وو او ته خو ډیر ناشکره سړے ئے۔ موسیٰ او وئیل دغه وخت

فَعَلْتُهَآ اِذًا وَّاَنَا مِنَ الضَّآلِّيْنَ ﴿٢٠﴾ فَفَرَرْتُ مِنْكُمْ لَمَّا

ما کړے وو دغه کار | هغه وخت | او زه وومړ | د ناخبرو نه | نو زه او تښتیدم | ستاسو نه | کله چه

قتل د قبطی ما په داسے حال کښی کړے وو چه ما ته پته نه وه (چه دے به په موکه قدرے مړ کیږی) بیا چه کله ماسره

خِفْتُكُمْ فَوَهَبَ لِيْ رَبِّيْ حُكْمًا وَّجَعَلَنِيْ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۲۱﴾

زه او بېرېدم ستاسو نه | نو را کړو | ماته | زما رب | هوښیارتوب | او جوړ ئې کړمه زه | د پیغمبرانو نه

ستاسو له ډېره پیدا شوه نو ستاسو نه او تختیدم بیا زما رب ماته پوهه (حکمت) را کړو او زه ئې په پیغمبرانو کښې شامل کړم

وَتِلْكَ نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَيَّ اَنْ عَبَّدْتَّ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿۲۲﴾

او دغه | څه احسان دے | چه ته ئې زما نه کوے دغه | په ما ئې ایښے دے | چه غلامان کړی دی تا | بنی | اسرائیل

او دغه احسان چه ته ئې په ما ایښے دے زما نه کوے دغه حقیقت دا دے چه تا بنی اسرائیل خپل غلامان کړی دی (نو ته ستا ظلم دوے)

قَالَ فِرْعَوْنُ وَمَا رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۲۳﴾ قَالَ رَبُّ السَّمٰوٰتِ

اووئیل | فرعون | او څوک دے | رب | د ټولو جهانونو؟ | اووئیل (موسیٰ) | رب | د آسمانونو

ستا په پالنه کښې راغلے وو م) فرعون اووئیل رب العالمین څه شے دے؟ موسیٰ اووئیل هغه د ټولو اسمانونو او د زمکے او دهغه ټولو

وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ؕ اِنْ كُنْتُمْ مُّوْقِنِيْنَ ﴿۲۴﴾ قَالَ

او د زمکے | او څه چه | د دے دواړو په مینځ کښې دی | که چرے | تاسو | یقین کوونکی یئ | اووئیل (هغه)

شیزونو مالک او پروردګار دے چه د دے په مینځ کښې دی که تاسو یقین کوئ نو دے اشیاؤ کښې غور کولو سره یقین پیدا کړئ فرعون

لِمَنْ حَوْلَهٗٓ اَلَا تَسْتَمِعُوْنَ ﴿۲۵﴾ قَالَ رَبُّكُمْ وَرَبُّ اٰبَآئِكُمُ

هغه چاته | چه چاپیره ورځه وو | آیا | تاسو نه آورئ | اووئیل (موسیٰ) | رب ستاسو دے | او رب | ستاسو د پلار نیکه

خپل ګیر چاپیره خلقو ته ووئیل آیا تاسو (دده خبرے) اورئ؟ موسیٰ ورته اووئیل چه هغه ستاسو هم رب دے او ستاسو

الْاَوَّلِيْنَ ﴿۲۶﴾ قَالَ اِنَّ رَسُوْلَكُمُ الَّذِيْٓ اُرْسِلَ اِلَيْكُمْ

وړومبنو هم دے | اووئیل (هغه) | بیشکه | رسول ستاسو | هغه | چه را لیږلے شوے دے | تاسو ته

د پخوانو مشرانو هم رب دے فرعون اووئیل یقین او کړئ تاسو ته چه دا کوم پیغمبر را لیږلے شوے دے دا خو

لَمَجْنُوْنٌ ﴿۲۷﴾ قَالَ رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَمَا بَيْنَهُمَا ؕ

خامخا لیونے دے | اووئیل (موسیٰ) | رب دے | د مشرق | او د مغرب | او د هغه څه | چه د دے دواړو په مینځ کښې دی

لیونے دے موسیٰ اووئیل چه هغه د مشرق او د مغرب هم رب دے او د دے دواړو په مینځ کښې چه څه دی د هغے هم رب دے

اِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۲۸﴾ قَالَ لَئِنِ اتَّخَذْتَ اِلٰهًا غَيْرِيْ

که چرے | تاسو | عقل لرئ | اووئیل (فرعون) | که چرے | تا اونیولو | معبود | زما نه سوا

که تاسو د عقل نه کار واخلئ فرعون اووئیل (اے موسیٰ یاد ساته) که چرے تا زما نه سوا څوک

لَاَجْعَلَنَّكَ مِنَ الْمَسْجُوْنِيْنَ ﴿۲۹﴾ قَالَ اَوَلَوْ جِئْتُكَ بِشَيْءٍ

نو خامخا زه به او ګرځوم تا | د | قیدیانو نه | اووئیل (موسیٰ) | اګر که زه راوړم تاته | یو شیز (دلیل)

قدرت والا او منلو نو زه به دې قید کړم موسیٰ ورته اووئیل که زه تاته یو واضح دلیل پیش کړم

مُّبِيْنٍ ﴿۳۰﴾ قَالَ فَاْتِ بِهٖٓ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۳۱﴾

ښکاره | اووئیل (فرعون) | پس راوړه ته | هغه | که چرے | ئې ته | د | رشتینو نه

نو بیا هم؟ فرعون اووئیل څه که ته رشتنی ئې نو هغه (دلیل) پیش کړه

فَاَلْقٰى عَصَاهُ فَاِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِيْنٌ ۝٣٢ وَّنَزَعَ يَدَهٗ

پس اوغورزوله هغه | امسا خپله | پس ناګهانه | هغه (شوه) | یو اودها | ښکاره | او راوویستلو هغه | لاس خپل

پس موسیٰ خپله امسا او غورزوله نو فوراً هغه یو ښکاره اودها (جوړه) شوه او خپل لاس ئے را او ویستلو

فَاِذَا هِيَ بَيْضَآءُ لِلنّٰظِرِيْنَ ۝٣٣ قَالَ لِلْمَلَاِ حَوْلَهٗٓ

ع

پس ناګهانه | هغه شو | سپین | د کتونکو دپاره | اوویل (فرعون) | سردارانو ته | چه چاپیره د هغه نه وو

نو د کتونکو دپاره تک سپین شو فرعون خپل ګیر چاپیره (ناست) مشرانو ته اوویل

اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ عَلِيْمٌ ۝٣٤ يُّرِيْدُ اَنْ يُّخْرِجَكُمْ مِّنْ اَرْضِكُمْ

چه بیشکه | دا | خامخا جادوګر دے | ډیر پوهه | غواړي | چه تاسو اوباسي | د زمکے ستاسو نه

یقیناً دا (خو) یو ماهر جادوګر دے. دے غواړي چه د خپل جادو په ذریعه تاسو د خپلے زمکې نه اوباسي

بِسِحْرِهٖ ۖ فَمَاذَا تَاْمُرُوْنَ ۝٣٥ قَالُوْٓا اَرْجِهْ وَاَخَاهُ وَابْعَثْ

په جادو خپل سره | پس څه | حکم کوئ تاسو | اوویل هغوي | مهلت ورکړه هغه | او د ده ورور ته | او اولیږه

نو ستاسو څه رائے (مشوره) ده هغوي ورته او ویل دے دواړو ته فی الحال مهلت ورکړه او

فِي الْمَدَآئِنِ حٰشِرِيْنَ ۝٣٦ يَاْتُوْكَ بِكُلِّ سَحَّارٍ عَلِيْمٍ ۝٣٧ فَجُمِعَ

په ښارونو کښې | راجمع کوونکی | (چه) راولي هغوي تاته | هر یو | جادوګر | پوهه | پس راجمع کړی شو

ټولو ښارونو ته راجمع کوونکی کسان اولیږه چه هر یو پوهه جادوګر تاته راولي بس یوه ورځ

السَّحَرَةُ لِمِيْقَاتِ يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ ۝٣٨ وَّقِيْلَ لِلنَّاسِ هَلْ اَنْتُمْ

جادوګران | مقرر وخت | د ورځے | معلومے ته | او اوویل شو | خلقو ته | (چه) آیا تاسو

په مقرر وخت باندے ټول جادوګران راجمع کړی شو او خلقو ته (هم) اوویلے شو چه تاسو ټولو له هم

مُّجْتَمِعُوْنَ ۝٣٩ لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ السَّحَرَةَ اِنْ كَانُوْا هُمُ الْغٰلِبِيْنَ ۝٤٠

جمع کیدونکی یئ | کیدے شي چه | مونږ روان شو | جادوګرانو پسے | که چرے | شول | دوی | غالب (زورآور)

جمع کیدل پکار دي. دے دپاره که چرے جادوګران غالب (زوراور) شو نو چه مونږ په دوی پسے روان شو

فَلَمَّا جَآءَ السَّحَرَةُ قَالُوْا لِفِرْعَوْنَ اَئِنَّ لَنَا لَاَجْرًا

پس هرکله | چه راغلل | جادوګران | اوویل هغوي | فرعون ته | آیا وي به | زمونږ دپاره | څه بدله

بیا چه کله جادوګران راغلل نو فرعون ته ئے اوویل چه دا خبره (خو) یقیني ده کنه چه که چرے

اِنْ كُنَّا نَحْنُ الْغٰلِبِيْنَ ۝٤١ قَالَ نَعَمْ وَاِنَّكُمْ اِذًا

که چرے | شو | مونږ | غالب | اوویل هغه | آو | او بیشکه تاسو به | دغه وخت کښې

مونږ غالب شو نو مونږ ته به څه انعام (بدله) ملاویږي؟ فرعون ورته اوویل بالکل او یقیناً تاسو به په دغه وخت

لَّمِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ ۝٤٢ قَالَ لَهُمْ مُّوْسٰٓى اَلْقُوْا مَآ اَنْتُمْ مُّلْقُوْنَ ۝٤٣

خامخا د نزدیکانو نه | اوویل | هغوي ته | موسیٰ | اوغورزوئ | هغه څه | چه تاسو ئے | غورزونکی یئ

په نزدیکانو (مقربینو) خلقو کښې داخل کړے شئ موسیٰ جادوګرانو ته اوویل تاسو چه څه غورزول غواړئ هغه او غورزوئ

فَأَلْقَوْا حِبَالَهُمْ وَعِصِيَّهُمْ وَقَالُوْا بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ

پس او غورزول هغوی | پړی خپل | او امساګانې خپلې | او وئیل دوی | قسم دے په عزت | د فرعون

نو هغوی خپل پړی او امساګانې او غورزولے او وے وئیل چه د فرعون په عزت قسم دے

إِنَّا لَنَحْنُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿۴۴﴾ فَأَلْقٰى مُوْسٰى عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ

چه بیشکه مونږ به | خامخا غالب یو | پس او غورزوله | موسیٰ | امسا خپله | نو ناګهانه | هغې

چه مونږ به خامخا غالب کیږو بیا موسیٰ خپله امسا او غورزوله نو فورا ئې هغه

تَلْقَفُ مَا يَأْفِكُوْنَ ﴿۴۵﴾ فَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سٰجِدِيْنَ ﴿۴۶﴾ قَالُوْا

تیرول | هغه شه | چه دوی دروغ جوړ کړی وو | پس او غورزولے شو | جادوګران | سجده کوونکی | او وئیل هغوی

هر څه تیرول شروع کړل چه دوی خودساخته جوړ کړی وو پس جادوګران بے اختیاره په سجده پریوتل (او) وے وئیل

اٰمَنَّا بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۴۷﴾ رَبِّ مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ﴿۴۸﴾ قَالَ

مونږ ایمان راوړے دے | په رب | د مخلوقاتو | په رب | د موسیٰ | او د هارونؑ | او وئیل (فرعون)

چه مونږ په رب العالمین چه د موسیٰ او د هارونؑ رب دے ایمان راوړو فرعون ورته او وئیل

اٰمَنْتُمْ لَهُ قَبْلَ أَنْ اٰذَنَ لَكُمْ إِنَّهُ لَكَبِيْرُكُمُ

آیا تاسو ایمان راوړو | په ده باندے | مخکښې د دے نه | چه زه اجازت او کړم | تاسو ته | بیشکه دے | خامخا ستاسو مشر دے

آیا تاسو زما د اجازت نه (بغیر) مخکښې په ده باندے ایمان راوړو؟ یقینا دا ستاسو (هغه) مشر دے

الَّذِيْ عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ فَلَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ لَأُقَطِّعَنَّ

هغه | چه ښودلے ئې دے تاسو ته | جادو | پس ډیر زر به | تاسو پوهه شئ | زه به خامخا پریکړم

چه تاسو ته ئې جادو ښودلے دے ډیر زر به تاسو ته د دے انجام معلوم شی زه به ستاسو

أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ وَّلَأُصَلِّبَنَّكُمْ أَجْمَعِيْنَ ﴿۴۹﴾

لاسونه ستاسو | او خپے ستاسو | ادل بدل | او زه به خامخا په سولئ کړم تاسو | ټول

د یو غاړے لاس او د بلے غاړے خپے پریکړم. او تاسو ټول به په سولئ زوړند کړم

قَالُوْا لَا ضَيْرَ إِنَّا إِلٰى رَبِّنَا مُنْقَلِبُوْنَ ﴿۵۰﴾ إِنَّا نَطْمَعُ

او وئیل هغوی | هیڅ پروا نشته | بیشکه مونږ | رب خپل ته | واپس تلونکی یو | بیشکه | مونږ طمع لرو

هغوی ورته جواب کښې او وئیل دا هیڅ د نقصان خبره نه ده زمونږ یقین دے چه مونږ به خپل رب ته واپس کیږو

ع أَنْ يَّغْفِرَ لَنَا رَبُّنَا خَطٰيٰنَا أَنْ كُنَّا أَوَّلَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۵۱﴾

چه معاف به کړی | مونږ ته | رب زمونږ | ګناهونه زمونږ | په دے وجه | چه مونږ یو | د اول | ایمان راوړونکو نه

زمونږ امید دے چه زمونږ رب به زمونږ ګناهونه په دی وجه معاف کړی چه مونږ د ټولو نه وړومبی ایمان راوړے دے

وَأَوْحَيْنَا إِلٰى مُوْسٰى أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِيْ إِنَّكُمْ مُّتَّبَعُوْنَ ﴿۵۲﴾

او مونږ وحی او کړه | موسیٰ ته | چه د شپے شپے بوځه | بندګان زما | بیشکه تاسو پسے به | در تلل کیدے شی

او مونږ موسیٰ ته وحی او لیږله چه زما بندګان د شپے بوځه یقینا تاسو پسے به در تلل کیږی

فَاَرْسَلَ فِرْعَوْنُ فِي الْمَدَآئِنِ حٰشِرِيْنَ ۝٥٣ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ لَشِرْذِمَةٌ

پس اولیږل | فرعون | په ښارونو کښې | راجمع کوونکي | بیشکه | دا خلق | خامخا یوه ډله ده

نو (پس) فرعون په ښارونو کښې سپاهیان اولیږل (او وے وئیل چه) یقیناً دا یو ورو کے شان ډله ده

قَلِيْلُوْنَ ۝٥٤ وَاِنَّهُمْ لَنَا لَغَآئِظُوْنَ ۝٥٥ وَاِنَّا لَجَمِيْعٌ حٰذِرُوْنَ ۝٥٦

لږه شان | او بیشکه دوی | مونږ لره | خامخا غصه کوونکي دي | او بیشکه مونږ | خامخا ټول | هوښیاران یو

او یقیناً دوی مونږ غصه کوي او یقیناً مونږ ټول په ساز و سامان او په اسبابو پوره یو پس (دغه شان

فَاَخْرَجْنٰهُمْ مِّنْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ۝٥٧ وَّكُنُوْزٍ وَّمَقَامٍ كَرِيْمٍ ۝٥٨

پس او ویستل مونږ دوی | د باغونو نه | او د چینو نه | او د خزانو نه | او د ځایونو | عزتمندو نه

مونږ هغوي د باغونو او د چینو او د خزانو او د عزتمندو ځایونو نه را اوویستل هم دغه شان وشوه او بنی اسرائیل مو

كَذٰلِكَ ۭ وَاَوْرَثْنٰهَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۝٥٩ فَاَتْبَعُوْهُمْ مُّشْرِقِيْنَ ۝٦٠

دغه شان | او وارث کړل مونږ هغه | بنی اسرائیلو ته | پس هغوي ورپسے شول په دوی پسے | د نور ختلو په وخت کښې

دغه شان د هر څه وارثان جوړ کړل غرض دا چه دا ټول (فرعونیان) په هغوی پسے د نور خاته په وخت کښې روان شو

فَلَمَّا تَرَآءَ الْجَمْعٰنِ قَالَ اَصْحٰبُ مُوْسٰٓى اِنَّا

پس هر کله | چه اولیدل یو بل | دوارو ډلو | او وئیل | ملګرو | د موسیٰ | چه بیشکه مونږ

بیا چه کله دوارو ډلو یو بل ولیدل (نو) د موسیٰ ملګرو او وئیل مونږ خو بس را لاندے کړے شو

لَمُدْرَكُوْنَ ۝٦١ قَالَ كَلَّا ۚ اِنَّ مَعِيَ رَبِّيْ سَيَهْدِيْنِ ۝٦٢

(نو) خامخا را لاندے کړے شو | او وئیل هغه | هیڅ کله نه | بیشکه | زما سره دے | رب زما | زر ده چه ما ته به لار او ښائی

موسیٰ ورته او وئیل هیڅ کله داسے نه شي کیدے زما سره یقیني طور زما رب دے هغه به را ته لار او ښائي

فَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى اَنِ اضْرِبْ بِّعَصَاكَ الْبَحْرَ ۭ فَانْفَلَقَ

پس مونږ وحی او کړه | موسیٰ ته | چه | اووهه | په خپله امسا | دریاب | پس هغه او شلیدلو

بس مونږ موسیٰ ته وحي اولیږله چه دریاب په خپله امسا اووهه بس دریاب اوچودو

فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَالطَّوْدِ الْعَظِيْمِ ۝٦٣ وَاَزْلَفْنَا ثَمَّ

نو شوه | هر یوه | ټکړه | په شان د غونډۍ | لوئے | او مونږ را نزدے کړل | دغه ځائے ته

او هره حصه ئے د لوے غونډۍ په شان شوه او نور خلق (فرعونیان) هم مونږ

الْاٰخَرِيْنَ ۝٦٤ وَاَنْجَيْنَا مُوْسٰى وَمَنْ مَّعَهٗٓ اَجْمَعِيْنَ ۝٦٥ ثُمَّ

نور خلق | او نجات ورکړو مونږ | موسیٰ ته | او هغه چا ته | چه د هغه سره وو | ټول | بیا

دغه ځائے ته را نزدے کړل او مونږ موسیٰ د خپلو ټولو ملګرو سره بچ کړو بیا مو

اَغْرَقْنَا الْاٰخَرِيْنَ ۝٦٦ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ۭ وَمَا كَانَ

غرق کړل مونږ | هغه نور خلق | بیشکه | په دے کښې | خامخا نخښه ده | او نه دی

هغه نور غرق کړل یقیناً په دے کښې (د موجوده خلقو د پاره) یو لویه نخښه د عبرت ده بیا هم په دوی کښې



أَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٨﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿٩﴾

اکثر د دوی | ایمان راوړونکی | او بیشکه | خامخا هم هغه دے | ستا رب | ډیر زورور | زیات رحم کونکے

اکثر خلق ایمان نه راوړی او یقینا او ساته چه هم ستا رب ډیر زور ور او ډیر مهربان دے

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ إِبْرٰهِيْمَ ﴿٦٩﴾ إِذْ قَالَ لِأَبِيْهِ وَقَوْمِهٖ

او اولوله | په دوی باندے | خبر | د ابراهیمؑ | کله چه | او وئیل هغه | پلار خپل | او قوم خپل ته

او اے نبیؐ ته دے خلقو ته د ابراهیمؑ واقعه بیان کړه کله چه هغه خپل پلار او خپل قوم ته اووئیل

مَا تَعْبُدُوْنَ ﴿٧٠﴾ قَالُوْا نَعْبُدُ أَصْنَامًا فَنَظَلُّ لَهَا

د څه | عبادت کوئ تاسو؟ | او وئیل دوی | مونږ عبادت کوو | د بتانو | پس مونږ به یو همیشه | دیته

چه تاسو د څه څیز عبادت کوئ؟ هغوی او وئیل مونږ (خو) د بتانو عبادت کوو او د دے په بندګۍ به همیشه

عٰكِفِيْنَ ﴿٧١﴾ قَالَ هَلْ يَسْمَعُوْنَكُمْ إِذْ تَدْعُوْنَ ﴿٧٢﴾ أَوْ يَنْفَعُوْنَكُمْ

پاخه ناست | او وئیل (هغه) | آیا | دوی اوری ستاسو | کله چه | (ے) تاسو رابلئ | یا فائده در کوی تاسو ته

کلک ولاړ یو ابراهیمؑ ورته او وئیل چه تاسو چه دوی ته آواز کوئ (دوی رابلئ) نو آیا دوی ستاسو خبره اوری

أَوْ يَضُرُّوْنَ ﴿٧٣﴾ قَالُوْا بَلْ وَجَدْنَا آبَاءَنَا كَذٰلِكَ يَفْعَلُوْنَ ﴿٧٤﴾

یا نقصان در کوی | او وئیل دوی | بلکه | مونږ لیدلی دی مونږ | خپل پلار نیکه | چه دغه شان | کار ئے کولو

یا درته څه فائده او نقصان در کولے شی؟ هغوی ورته او وئیل نه بلکه مونږ خپل پلار نیکه لیدلی وو چه هم دا به ئے کول

قَالَ أَفَرَءَيْتُمْ مَّا كُنْتُمْ تَعْبُدُوْنَ ﴿٧٥﴾ أَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمُ

او وئیل (ابراهیمؑ) | آیا لیدلے دے تاسو | حالت هغه چا | چه تاسو ئے | عبادت کوئ | تاسو | او ستاسو پلار نیکه

ابراهیمؑ ورته او وئیل چه آیا تاسو د هغه چا په حال خبر یئ چه تاسو او ستاسو

الْأَقْدَمُوْنَ ﴿٧٦﴾ فَإِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِّيْ إِلَّا رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٧٧﴾ الَّذِيْ

پخوانو | پس بیشکه دوی | دښمنان دی | زما | سوا | د رب | د مخلوقاتو نه | هغه (ذات)

پخوانو مشرانو ئے عبادت کولو؟ سوا د رب العالمین نه دا ټول زما دښمنان دی

خَلَقَنِيْ فَهُوَ يَهْدِيْنِ ﴿٧٨﴾ وَالَّذِيْ هُوَ يُطْعِمُنِيْ وَيَسْقِيْنِ ﴿٧٩﴾

چه زه ئے پیدا کړے یم | بیا هغه | ماته لار ښائی | او هغه ذات | چه هغه | خوراک را کوی ماته | او څکاک را کوی ماته

(هغه رب العالمین) چه زه ئے پیدا کړے یم او هم هغه ماته سمه لار ښائی او هم هغه ذات چه ماته خوراک څکاک را کوی

وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِيْنِ ﴿٨٠﴾ وَالَّذِيْ يُمِيْتُنِيْ ثُمَّ يُحْيِيْنِ ﴿٨١﴾

او کله چه | زه ناجوړه شم | نو هغه | شفاء را کوی ماته | او هغه ذات | چه مړ کوی به ما | بیا به | ژوندی کوی ما

او کله چه زه ناجوړه شم نو هم هغه شفاء را کوی او هغه به ما مړ کوی بیا به مے دوباره را ژوندے کوی

وَالَّذِيْ أَطْمَعُ أَنْ يَّغْفِرَ لِيْ خَطِيْئَتِيْ يَوْمَ الدِّيْنِ ﴿٨٢﴾ رَبِّ

او هغه ذات | چه زه طمع لرم | چه او به بخښی | ماته | خطائی زما | په ورځ | د قیامت | اے زما ربه

او هغه ذات چه زه طمع لرم چه د قیامت په ورځ به ماته زما خطاګانے معاف کړی اے زما ربه

هَبْ لِيْ حُكْمًا وَّاَلْحِقْنِيْ بِالصّٰلِحِيْنَ ﴿٨٣﴾ وَاجْعَلْ لِّيْ لِسَانَ

راکره | ماته | علم د فیصلو | او یوځائے کره ما | د نیکانو سره | او راکره | ماته | ژبه

ماته حکمت راکره او د نیکانو سره مے یوځائے کره او په وروستو راتلونکو خلقو کښې

صِدْقٍ فِي الْاٰخِرِيْنَ ﴿٨٤﴾ وَاجْعَلْنِيْ مِنْ وَّرَثَةِ جَنَّةِ النَّعِيْمِ ﴿٨٥﴾

د صدق | په ورستنو کښې | او جوړ کړه ما | د وارثانو | د جنت | د نعمتونو والا نه

زما نیک ذکر (تذکره) جاري اوساته او ما د نعمتونو والا جنت په وارثانو کښې شامل کړه

وَاغْفِرْ لِاَبِيْٓ اِنَّهٗ كَانَ مِنَ الضَّآلِّيْنَ ﴿٨٦﴾ وَلَا تُخْزِنِيْ يَوْمَ

او بخښنه او کړه | پلار زما ته | بیشکه هغه | دے | د گمراهانو نه | او مه شرموه ما | په هغه ورځ

او زما پلار ته بخښنه او کړه یقیناً هغه په گمراهانو کښې شامل دے او په کومه ورځ به چه خلق راپاڅولے شي

يُبْعَثُوْنَ ﴿٨٧﴾ يَوْمَ لَا يَنْفَعُ مَالٌ وَّلَا بَنُوْنَ ﴿٨٨﴾ اِلَّا مَنْ اَتَى

چه خلق راپاڅولے شي | په هغه ورځ | چه فائده به نه ورکوي | مال | او نه ځامن | مگر | هغه چا ته | چه راشي

په هغه ورځ ما مه رسوا کوه په کومه ورځ به چه نه مال څه فائده ورکولے شي او نه ځامن البته څوک چه

اللّٰهَ بِقَلْبٍ سَلِيْمٍ ﴿٨٩﴾ وَاُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿٩٠﴾ وَبُرِّزَتِ

الله ته | په زړه | روغ سره | او نزدے به کړے شي | جنت | متقیانو ته | او ښکاره به کړے شي

الله تعالیٰ ته په پاک زړه سره ورشي (نو هغه به نجات او مومي) او جنت به د متقیانو دپاره رانزدے کړے شي

الْجَحِيْمُ لِلْغٰوِيْنَ ﴿٩١﴾ وَقِيْلَ لَهُمْ اَيْنَمَا كُنْتُمْ تَعْبُدُوْنَ ﴿٩٢﴾

دوزخ | سرکشو ته | او او به وئیلے شي | دوی ته | (چه) چرته دي هغه څوک | چه تاسو به ئے | عبادت کولو

او دوزخ به گمراهانو خلقو ته ښکاره (مخامخ) کړے شي او ورته به او وئیلے شي چه تاسو به د الله تعالیٰ نه سوا

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ هَلْ يَنْصُرُوْنَكُمْ اَوْ يَنْتَصِرُوْنَ ﴿٩٣﴾ فَكُبْكِبُوْا

سوا | د الله نه | آیا | هغوی مدد کولے شي ستاسو | او هغوی بدله اخستلے شي | پس پړمخے به او غورزولے شي

د چا عبادت کولو هغه چرته دي؟ آیا (نن) هغوی ستاسو مدد کولے شي یا هغوی بدله اخستلے شي؟ بیا به هغوی

فِيْهَا هُمْ وَالْغَاوٗنَ ﴿٩٤﴾ وَجُنُوْدُ اِبْلِيْسَ اَجْمَعُوْنَ ﴿٩٥﴾ قَالُوْا

په هغے کښې | دوی | او سرکشان | او لښکرے | د ابلیس | ټولے (یوځائے) | او به وائي دوی

(معبودان) او گمراهان (عابدان) پړمخے دوزخ ته او غورزولے شي او د ابلیس ټولے لښکرے به هم (و غورزولے شي)

وَهُمْ فِيْهَا يَخْتَصِمُوْنَ ﴿٩٦﴾ تَاللّٰهِ اِنْ كُنَّا لَفِيْ ضَلٰلٍ

او دوی به | په هغے کښې | جګړے کوي دیو بل سره | قسم په الله | بیشکه | وو مونږ | خامخا په گمراهئ

دا ټول به هلته په خپلو کښې جګړې کوي (او) خپلو معبودانو ته به او وائي چه قسم په الله په هغه وخت کښې

مُّبِيْنٍ ﴿٩٧﴾ اِذْ نُسَوِّيْكُمْ بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٩٨﴾ وَمَآ اَضَلَّنَآ اِلَّا

ښکاره کښې | کله چه | مونږ برابرول تاسو | د رب | د مخلوقاتو سره | او نه وو گمراه کړي مونږ | مگر

مونږ ډیر ښکاره گمراهان وو کله چه مونږ تاسو د رب العالمین سره شریک کړي وئ او مونږ خو هم دے

الْمُجْرِمُوْنَ ۝۹۹ فَمَا لَنَا مِنْ شَافِعِيْنَ ۝۱۰۰ وَلَا صَدِيْقٍ حَمِيْمٍ ۝۱۰۱

(دے) مجرمانو | پس نشته | زمونږ دپاره | هیڅ سفارش کونکی | او نه څوك دوست | ګرم

غټو مجرمانو ګمراهان کړی وو نتیجه دا شوه چه نه اوس زمونږ څوك سفارشی شته او نه مو څوك مهربان دوست شته

فَلَوْ اَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝۱۰۲ اِنَّ

پس که چرے | وے زمونږ دپاره | یو ځل بیا تلل | نو شو به مونږ | د مومنانو نه | بیشکه

کاش (څومره به ښه وی) چه مونږ ته یو ځل بیا دنیا ته دتلو موقع ملاو شی نو مونږ به مسلمانان شو یقینا

فِیْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝۱۰۳ وَاِنَّ رَبَّكَ

په دے کښی | خامخا نخښه ده | او نه دی | اکثر د دوی | ایمان راوړونکی | او بیشکه | ستا رب

په دے هر څه کښی لویه نخښه دعبرت ده (خو) بیا هم په دوی کښی اکثر خلق ایمان نه راوړی او یقین وکړه چه

لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ۝۱۰۴ كَذَّبَتْ قَوْمُ نُوْحِ ِۨ الْمُرْسَلِيْنَ ۝۱۰۵ ع

خامخا هم هغه دے | ډیر زورآور | ډیر رحم کوونکے | دروغژن کړی وو | قوم | د نوح | پیغمبران

ستا رب ډیر زورآور (غالب) او زیات مهربان دے د نوح قوم (هم) پیغمبران دروغژن ګڼلی وو

اِذْ قَالَ لَهُمْ اَخُوْهُمْ نُوْحٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ۝۱۰٦ اِنِّیْ لَكُمْ

کله چه | او وئیل | هغوی ته | ورور د هغوی | نوح | آیا تاسو نه یریږئ (د الله نه) | بیشکه زه یم | ستاسو دپاره

کله چه هغوی ته خپل ورور نوح او وئیل (چه) آیا تاسو د الله نه نه یریږئ؟ یقین او کړئ چه زه ستاسو دپاره

رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ۝۱۰۷ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ۝۱۰۸ وَمَآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ

یو رسول | امانتدار | پس او یریږئ | د الله نه | او ومنئ زما خبره | او زه نه غواړم ستاسو نه | په دے باندے

یو امانتدار پیغمبر یم نو د الله تعالیٰ نه او یریږئ او زما خبره او منئ او زه تاسو نه په دے دعوت هیڅ بدله

مِنْ اَجْرٍ ۚ اِنْ اَجْرِیَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝۱۰۹ فَاتَّقُوا اللّٰهَ

څه بدله | نه ده زما بدله | مګر | په رب | د مخلوقاتو باندے | پس او یریږئ | د الله نه

نه غواړم زما بدله هغه ذات په خپله ذمه اخستے ده چه د ټولو جهانونو مالك (رب) دے بس (تو) د الله نه او یریږئ

وَاَطِيْعُوْنِ ۝۱۱۰ قَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ لَكَ وَاتَّبَعَكَ الْاَرْذَلُوْنَ ۝۱۱۱ؕ

او زما خبره او منئ | او وئیل دوی | آیا مونږ ایمان راوړو | په تا | حال دا دے چه روان دی تا پسے | سپك خلق

او زما خبره او منئ هغوی ورته او وئیل آیا مونږ په تا ایمان راوړو حالانکه تا پسے خو ډیر سپك خلق روان دی

قَالَ وَمَا عِلْمِیْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝۱۱۲ اِنْ حِسَابُهُمْ

او وئیل هغه | او ما ته څه خبر دے | په هغه څه | چه دوی ئے کوی | نه دے حساب د دوی

هغه ورته او وئیل ما ته پته نشته چه دوی څه سپک کارونه کوی د دوی د باطن حساب اخستل

اِلَّا عَلٰى رَبِّیْ لَوْ تَشْعُرُوْنَ ۝۱۱۳ وَمَآ اَنَا بِطَارِدِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝۱۱۴

مګر | په رب زما باندے | که چرے تاسو پوهیږئ | او نه یم زه | شړونکے | د مومنانو

صرف زما د رب کار دے کاش چه تاسو پوهیدئ او زه دا مومنان (د خپل خوا نه صرف د غریبۍ په وجه) شړلے نه شم

إِنْ أَنَا إِلَّا نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿١١٥﴾ قَالُوا لَئِن لَّمْ تَنتَهِ يَا نُوحُ

نه يم زه | مګر | يو ويروونکے يم | ښکاره | اووئيل هغوی | که چرے | منع نه شوے ته | اے نوحؑ!

زه خو بس يو ښکاره ويروونکے يم هغوی ورته اووئيل اے نوحؑ که چرے ته منع نه شوے د دعوت خپل نه

لَتَكُونَنَّ مِنَ الْمَرْجُومِينَ ﴿١١٦﴾ قَالَ رَبِّ إِنَّ قَوْمِي

نو خامخا شے به ته | د سنګسار کړے شوو نه | اووئيل هغه | اے زما ربه! | بيشکه | خپل قوم

نو ضرور به سنګسار کړے شے۔ نوحؑ اووئيل اے زما ربه يقينا زه خپل قوم

كَذَّبُونِ ﴿١١٧﴾ فَافْتَحْ بَيْنِي وَبَيْنَهُمْ فَتْحًا وَنَجِّنِي

دروغژن کړے يم زه | نو ته فيصله اوکړه | په مينځ زما کښې | او په مينځ د دوی کښې | (پوره) فيصله | او بچ کړه ما

دروغژن اوګڼړلم نو ته زما او د دوی په مينځ کښې فيصله اوکړه او ما او زما د الږغونډے مومنان

وَمَن مَّعِيَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١١٨﴾ فَأَنجَيْنَاهُ وَمَن مَّعَهُ فِي الْفُلْكِ

او هغه څوک | چه زما سره دی | مومنان | پس بچ کړو مونږ هغه | او هغه څوک | چه د ده سره وو | په کشتئ

ملګری بچ کړه نو (پس) مونږ هغه او د هغه ملګری په ډکه کشتئ کښې بچ کړل

الْمَشْحُونِ ﴿١١٩﴾ ثُمَّ أَغْرَقْنَا بَعْدُ الْبَاقِينَ ﴿١٢٠﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ

ډکه کړے شوی کښې | بيا | مونږ غرق کړل | پس د دے نه | باقی پاتے شوی خلق | بيشکه | په دے کښې

بيا مونږ د دے نه وروستو باقی ټول انسانان غرق کړل يقينا په دے واقعه کښې

لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٢١﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ

خامخا نخښه ده | او نه دی | اکثر د دوی | ايمان راوړونکی | او بيشکه | ستا رب | خامخا هم هغه دے

يوه نخښه د عبرت ده او په دوی کښې اکثر خلق ايمان نه راوړی او يقينا ستا رب

الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿١٢٢﴾ كَذَّبَتْ عَادٌ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٢٣﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ

ډير زورآور | ډير مهربان | دروغژن ګڼړلی وو | عاديانو | پيغمبران | کله چه | اووئيل | هغوی ته

ډير زورآور او زيات مهربان دے عاديانو هم پيغمبران دروغژن ګڼړلی وو کله چه هغوی ته

أَخُوهُمْ هُودٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٢٤﴾ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٢٥﴾

ورور د هغوی | هودؑ | آيا تاسو ځان نه بچ کوئ (نافرمانئ د الله) | بيشکه زه يم | ستاسو دپاره | يو رسول | امانتدار

خپل ورور هودؑ اووئيل (چه) آيا تاسو د الله نه نه يريږئ؟ يقين اوکړئ چه زه ستاسو دپاره يو امانتدار پيغمبر يم

فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٢٦﴾ وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ

پس او يريږئ | د الله نه | او او منئ خبره زما | او زه نه غواړم ستاسو نه | په دے باندے | څه بدله

نو د الله نه او يريږئ او زما تابعدار شئ او زه تاسو نه په دے دعوت هيڅ بدله نه غواړم زما بدله خو

إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٢٧﴾ أَتَبْنُونَ بِكُلِّ رِيعٍ

نه ده بدله زما | مګر | په رب | د مخلوقاتو | آيا تاسو جوړوئ | په هره | او چته زمکه باندے

د هغه ذات سره ده چه رب العالمين دے آيا تاسو په هر اوچت ځائے (ډير کې) باندے فضول يادګارونه جوړوئ

اٰيَةً تَعْبَثُوْنَ ۝١٢٨ وَتَتَّخِذُوْنَ مَصَانِعَ لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُوْنَ ۝١٢٩

يوه نخښه | عبث کار کوئ | او جوړوئ تاسو | مانړئ (قلا ګانې) | شايد چه تاسو به | هميشه اوسئ (دنيا کښې)

او لوړې لوړې عمارتونه (مانړئ) دا سې جوړوئ لکه چه تاسو به په دنيا کښې هميشه ژوندي اوسيږئ

وَاِذَا بَطَشْتُمْ بَطَشْتُمْ جَبَّارِيْنَ ۝١٣٠ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ۝١٣١

او کله چه | نيول کوئ تاسو | نو نيول کوئ | ظلم کونکي | پس اوويريږئ | د الله نه | او او منئ زما خبره

او څوک چه رانيسئ نو ډير په سختئ سره ئې رانيسئ نو د الله نه اوويريږئ او زما خبره او منئ

وَاتَّقُوا الَّذِيْٓ اَمَدَّكُمْ بِمَا تَعْلَمُوْنَ ۝١٣٢ اَمَدَّكُمْ

او اوويريږئ | د هغه ذات نه | چه مدد ګر ئې دے ستاسو | په هغه څه | چه تاسو ئې پيژنئ | مدد ګرے دے ستاسو

او د هغه الله نه اوويريږئ چه تاسو ته ئې هغه نعمتونه زياتي درکړي دي چه تاسو ئې پيژنئ تاسو سره ئې په

بِاَنْعَامٍ وَّبَنِيْنَ ۝١٣٣ وَجَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ۝١٣٤ اِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ

په څارووو | او په ځامنو | او په باغونو | او په چينو سره | بيشکه زه | يريږم | په تاسو باندے

څارووو او ځامنو او په باغونو او چينو سره مدد کړے دے حقيقت دا دے چه ما سره ستاسو په باره کښې

عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ۝١٣٥ قَالُوْا سَوَآءٌ عَلَيْنَآ اَوَعَظْتَ

د عذاب | د ورځے | لوئې نه | اوو ئيل دوی | برابره ده | په مونږ | که ته نصيحت کوے

د ډيرے لوئې ورځے د عذاب يره ده هغوی ورته اوو ئيل که ته را ته نصيحت او کړے

اَمْ لَمْ تَكُنْ مِّنَ الْوٰعِظِيْنَ ۝١٣٦ اِنْ هٰذَآ اِلَّا خُلُقُ الْاَوَّلِيْنَ ۝١٣٧

يا نه ئې ته | د نصيحت کوونکو نه | نه دي دا | مګر | عادتونه | د پخوانو خلقو

يا اونه ئې کړے زمونږ د پاره دواړه برابر دي دا خو بس هم هغه د پخوانو خلقو عادتونه دي

وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِيْنَ ۝١٣٨ فَكَذَّبُوْهُ فَاَهْلَكْنٰهُمْ ؕ اِنَّ

او نه يُو مونږ | عذاب کړے شوی | پس دروغژن ئې او ګڼړلو هغه | پس هلاک کړل مونږ دوی | بيشکه

او په مونږ باندے به هيڅ عذاب نه راځي پس دوی هود دروغژن او ګڼړلو نو بس مونږ دوی لره هلاک کړل يقينا

فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝١٣٩ وَاِنَّ رَبَّكَ

په دے کښې | خامخا نخښه ده | او نه دي | اکثر د دوی نه | ايمان راوړونکي | او بيشکه | ستا رب

په دے واقعه کښې يوه لويه نښه د عبرت ده (خو) بيا هم په دوی کښې اکثر خلق ايمان نه راوړي او يقينا ستا رب

ع لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ۝١٤٠ كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ الْمُرْسَلِيْنَ ۝١٤١ اِذْ

خامخا هم هغه دے | ډير زورور | زيات مهربان | دروغژن ګڼړلي وو | ثموديانو | پيغمبران | کله چه

ډير زورور او زيات مهربان دے ثموديانو (هم) پيغمبران دروغژن ګڼړلي وو کله چه

قَالَ لَهُمْ اَخُوْهُمْ صٰلِحٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ۝١٤٢ اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ

اوو ئيل | دوی ته | ورور د دوی | صالح | آيا تاسو ځان نه بچ کوئ د شرک نه | بيشکه زه يم | ستاسو د پاره | يو رسول

هغوی ته خپل ورور صالح اوو ئيل چه آيا تاسو د الله نه نه يريږئ يقين او کړئ چه زه ستاسو د پاره يو امانتدار

اَمِيْنٌ ﴿١٤٣﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿١٤٤﴾ وَمَآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ

امانتدار | پس اویریږئ | د الله نه | او ومنئ خبره زما | او زه نه غوارم ستاسو نه | په دے باندے

پیغمبر یم نو د الله نه اویریږئ او زما خبره ومنئ او زه تاسو نه په دے دعوت هیڅ بدله

مِنْ اَجْرٍ ۚ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٤٥﴾ اَتُتْرَكُوْنَ

هیڅ بدله | نه ده زما بدله | مګر | په رب | د مخلوقاتو | آیا تاسو به پریښودلی شئ

نه غوارم (بلکه) زما بدله خو د هغه ذات سره ده چه رب العالمین دے آیا تاسو به په هغه نعمتونو کښې

فِيْ مَا هٰهُنَآ اٰمِنِيْنَ ﴿١٤٦﴾ فِيْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿١٤٧﴾ وَّزُرُوْعٍ

په هغه څه کښې | چه دلته دی | په امن سره | په باغونو | او په چینو کښې | او فصلونو

چه په دنیا کښې دی (تاسو به) په هغے کښې په امن پریښودلی شئ په باغونو او چینو کښې او په فصلونو

وَّنَخْلٍ طَلْعُهَا هَضِيْمٌ ﴿١٤٨﴾ وَتَنْحِتُوْنَ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوْتًا

او (داسے) قجورو کښې | چه خوشه د هغے | نازکه ده | او تراشئ تاسو | د غرونو نه | کورونه

او داسے قجورو کښې چه د هغے خوشے (غنچکونه) نرمے او نازکے دی او تاسو غرونه تراشئ او د فخر (ناز) دپاره کورونه

فٰرِهِيْنَ ﴿١٤٩﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿١٥٠﴾ وَلَا تُطِيْعُوْٓا اَمْرَ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿١٥١﴾

لوئی (فخر) کونکی | نو اویریږئ | د الله نه | او ومنئ زما خبره | او مه منئ | حکم | د حد نه د اوړیدونکو

(مانړئ) جوړوئ نو د الله نه اویریږئ او زما خبره ومنئ او د حد نه د اوړیدونکو خلقو خبره مه منئ

الَّذِيْنَ يُفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ وَلَا يُصْلِحُوْنَ ﴿١٥٢﴾ قَالُوْٓا اِنَّمَآ

هغه کسان | چه فساد کوی | په زمکه کښې | او اصلاح نه کوی | او وئیل هغوی | بیشکه

چه په زمکه کښې فساد کوی او اصلاح نه کوی هغوی ورته اووئیل یقینا

اَنْتَ مِنَ الْمُسَحَّرِيْنَ ﴿١٥٣﴾ مَآ اَنْتَ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا ۖۚ فَاْتِ

ته ئے | د جادو کړے شوو نه | نه ئے ته | مګر | بنیادم | پشان زمونږ | پس راوړه

تا باندے (خو) جادو شوے دے. ته خو بس زمونږ پشان یو بنیادم ئے نو که چرے ته

بِاٰيَةٍ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿١٥٤﴾ قَالَ هٰذِهٖ نَاقَةٌ لَّهَا

یوه نښه | که چرے | ئے ته | د رشتینو نه | او وئیل هغه | دا | اوښه ده | د دے

رشتینے ئے نو څه نښه مونږ ته پیش کړه. صالح ورته اووئیل ګورئ دا اوښه ده

شِرْبٌ وَّلَكُمْ شِرْبُ يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿١٥٥﴾ وَلَا تَمَسُّوْهَا بِسُوْٓءٍ

داوبو نمبر دے | او ستاسو دپاره (هم نمبر داوبو) | د ورځے | معلومے (دے) | او مه رسوئ تاسو دے ته | هیڅ تکلیف

یو ورځ د دے داوبو څښلو نمبر دے او یوه مقرره ورځ ستاسو داوبو څښلو نمبر دے او تاسو دے ته تکلیف

فَيَاْخُذَكُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿١٥٦﴾ فَعَقَرُوْهَا فَاَصْبَحُوْا

ګنی نو او به نیسی تاسو | عذاب | د ورځے | لوئے | پس هغوی پریکړل لاندے موته د هغے (اوښے) | نو شول هغوی

مه رسوئ ګنی نو د یرے لوئے ورځے عذاب به درباندے راشی (نو بس) هغوی د اوښے خپے پریکړے

نٰدِمِيْنَ ۝۱۵۷ فَاَخَذَهُمُ الْعَذَابُ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ

پښیمانه | پس اونیول هغوی لره | عذاب | بیشکه | په دے کښې | خامخا نخښه ده

او دعذاب په راتللو ډیر پښیمانه شول نو بس عذاب راګیر کړل یقیناً په دے واقعه کښې لویه نښه دعبرت ده

وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝۱۵۸ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ

او نه دی | اکثر ددوی | ایمان راوړونکی | او بیشکه | ستا رب | خامخا هم هغه دے | ډیر زورآور (غالب)

او بیا هم په دوی کښې اکثر ایمان نه راوړی او یقیناً ستا رب ډیر زور آور (غالب)

ع

الرَّحِيْمُ ۝۱۵۹ كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوْطِ ۣ الْمُرْسَلِيْنَ ۝۱۶۰ اِذْ قَالَ لَهُمْ

ډیر رحم کونکے | دروغژن ګڼړلی وو | قوم | د لوط | پیغمبران | کله چه | او وئیل | هغوی ته

زیات رحم کوونکے دے د لوط قوم (هم) پیغمبران دروغژن ګڼړلی وو کله چه هغوی ته

اَخُوْهُمْ لُوْطٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ۝۱۶۱ اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ۝۱۶۲

وړور دهغوی | لوط | آیا تاسو ځان نه بچ کوئ دبے حیائی نه | بیشکه زه یم | ستاسو دپاره | یو رسول | امانتدار

خپل خیر خواه لوط اووئیل چه آیا تاسو د الله نه نه یریږئ؟ بیشکه زه ستاسو دپاره یو امانتدار رسول یم

فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ۝۱۶۳ وَمَآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ ۚ

پس اویریږئ | د الله نه | او ومنئ زما خبره | او زه نه غواړم ستاسو نه | په دے دعوت | هیڅ بدله

نو د الله نه اویریږئ او زما خبره اومنئ او زه تاسو نه په دے دعوت هیڅ بدله نه غواړم

اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝۱۶۴ اَتَاْتُوْنَ الذُّكْرَانَ

نه ده زما بدله | مګر | په | رب | د مخلوقاتو | آیا تاسو بدفعل کوئ | هلکانو سره

(بلکه) زما بدله خو د رب العالمین په ذمه ده. آیا په ټوله دنیا کښې یوازے تاسو سړو سره

مِنَ الْعٰلَمِيْنَ ۝۱۶۵ وَتَذَرُوْنَ مَا خَلَقَ لَكُمْ رَبُّكُمْ

په ټوله دنیا کښې | او پریږدئ تاسو | هغه څه | چه پیدا کړی دی | ستاسو دپاره | رب ستاسو

(هلکانو سره) بدفعل کوئ او ستاسو رب چه تاسو له کومے بیبیانے پیدا کړی دی هغه پریږدئ

مِّنْ اَزْوَاجِكُمْ ؕ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ عٰدُوْنَ ۝۱۶۶ قَالُوْا لَئِنْ

د ښځو | نه | بلکه | تاسو | یو قوم یئ | د حد نه اوړیدونکی | او وئیل هغوی | که چرے

حقیقت دا دے چه تاسو خو د حد نه تیروتونکی خلق یئ هغوی ورته اووئیل اے لوط که چرے

لَمْ تَنْتَهِ يٰلُوْطُ لَتَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُخْرَجِيْنَ ۝۱۶۷ قَالَ اِنِّيْ

منع نه شوے ته | اے لوط | لو خامخا ته به شے | د شړلے شوؤ نه | او وئیل (لوط) | بیشکه زه یم

ته د دعوت نه منع نه شوے نو (د دے کلی نه به) بهر اوویستلے شے هغه ورته اووئیل یقین اوکړئ چه زه

لِعَمَلِكُمْ مِّنَ الْقَالِيْنَ ۝۱۶۸ رَبِّ نَجِّنِيْ وَاَهْلِيْ مِمَّا يَعْمَلُوْنَ ۝۱۶۹

ستاسو عمل لره | د بد ګڼړونکو نه | اے زما ربه | بچ اوساته ما | او زما کورنئ | د هغه څه نه | چه دوی یے کوی

ستاسو دد ے عمل نه ډیر نفرت کوم (بیزاره یم) اے زما ربه ما او زما کورنئ د دوی د عملونه بچ اوساته

فَنَجَّيْنٰهُ وَاَهْلَهٗۤ اَجْمَعِيْنَ ۝١٧٠ اِلَّا عَجُوْزًا فِى الْغٰبِرِيْنَ ۝١٧١

پس نجات ور کړو مونږ هغه ته | او کورنۍ د هغهٔ | ټولو ته | سوا | د بوډۍ نه | چه باقي پاتے کیدونکو کښې وه

نو بس مونږ هغه او د هغه کورنۍ د عذاب نه بچ کړه سوا د یوے بوډۍ نه چه پاتے شوو خلقو سره په عذاب کښې پاتے شوه

ثُمَّ دَمَّرْنَا الْاٰخَرِيْنَ ۝١٧٢ وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ مَّطَرًا ۚ فَسَآءَ

بیا | هلاک کړل مونږ | هغه نور | او راووروو مونږ | په هغوی باندے | (ناشنا) باران | پس ډیر بد وو

بیا مونږ هغه نور تباه کړل او یو زبردست باران مو پرے راووروو نو ډیر خراب باران وو

مَطَرُ الْمُنْذَرِيْنَ ۝١٧٣ اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ۗ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ

باران | د یرول شوو خلقو | بیشکه | په دے کښې | خامخا نخښه ده | او نه دي | اکثر د دوی نه

په هغه خلقو چه د عذاب نه یرول شوی وو یقینا په دے واقعه کښې یوه نښه د عبرت ده بیا هم په دوی کښې اکثر خلق

مُّؤْمِنِيْنَ ۝١٧٤ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ۝١٧٥ كَذَّبَ

مومنان | او بیشکه | ستا رب | خامخا هم هغه دے | ډیر زورور | او زیات رحم کوونکے | دروغژن کنړلي وو

ایمان نه راوړی او یقینا ستا رب ډیر زورآور (او) زیات مهربان دے

اَصْحٰبُ لْئَيْكَةِ الْمُرْسَلِيْنَ ۝١٧٦ اِذْ قَالَ لَهُمْ شُعَيْبٌ

بنړ والو | پیغمبران | کله چه | او وئیل | هغوی ته | شعیبؑ

ایکه (بنړ) والو هم پیغمبران دروغژن کنړلي وو کله چه هغوی ته شعیبؑ او وئیل (چه)

اَلَا تَتَّقُوْنَ ۝١٧٧ اِنِّىْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ۝١٧٨ فَاتَّقُوا اللّٰهَ

آیا تاسو ځان نه بچ کوئ د فساد خورولو نه | بیشکه زه یم | ستاسو دپاره | یو رسول | امانتدار | پس او ویریږئ | د الله نه

آیا تاسو د الله نه نه یریږئ؟ یقین اوکړئ چه زه ستاسو دپاره یو امانتدار پیغمبر یم نو د الله تعالیٰ نه اویریږئ

وَاَطِيْعُوْنِ ۝١٧٩ وَمَاۤ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ ۚ اِنْ اَجْرِىَ اِلَّا

او او منئ زما خبره | او زه نه غوارم ستاسو نه | په دے باندے | هیڅ بدله | نه ده زما بدله | مګر

او زما خبره او منئ او زه تاسو نه په دے دعوت هیڅ بدله نه غوارم زما بدله (خو)

عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝١٨٠ اَوْفُوا الْكَيْلَ وَلَا تَكُوْنُوْا مِنَ الْمُخْسِرِيْنَ ۝١٨١

په رب | د مخلوقاتو | پوره کوئ | پیمانه | او مه کیږئ | د کمې کوونکو نه

د رب العالمین په ذمه ده (کوړئ) پیمانه پوره پوره ورکوئ او هغه خلقو کښې مه شاملیږئ چه خلقو ته نقصان ورکوی

وَزِنُوْا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيْمِ ۝١٨٢ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ اَشْيَآءَهُمْ

او تول کوئ | په تله | لیغه (سمے سره) | او کم مه ورکوئ | خلقو ته | څیزونه د هغوی

او تول په سمه روغه تله باندے کوئ او خلقو ته د هغوی (اخستل شوی) څیزونه کم مه ورکوئ

وَلَا تَعْثَوْا فِى الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ۝١٨٣ وَاتَّقُوا الَّذِىْ خَلَقَكُمْ

او مه ګرځئ | په زمکه کښې | فساد کوونکی | او او ویریږئ | د هغه ذات نه | چه تاسو ئے پیدا کړی یئ

او په ملک کښې فساد مهٔ خوروئ او د هغه الله نه اویریږئ چه تاسو او تاسو نه

وَالْجِبِلَّةَ الْاَوَّلِيْنَ ۝١٨٤ قَالُوْٓا اِنَّمَآ اَنْتَ مِنَ الْمُسَحَّرِيْنَ ۝١٨٥

او خلق | پخوانی | او وئیل هغوی | بیشکه | ته ئے | د جادو کړے شوو نه

پخوانی خلق ئے پیدا کړی دی هغوی ورته او وئیل چه تا بانده (خو) چا غټ جادو کړے دے۔

وَمَآ اَنْتَ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا وَاِنْ نَّظُنُّكَ لَمِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۝١٨٦

او نه ئے ته | مګر | بنیادم | په شان زمونږ | او بیشکه | مونږ ګمان کوو په تا | خامخا د دروغژنو نه

او ته (خو) هم زمونږ په شان یو انسان ئے او مونږ تا په یقین سره دروغژن ګڼړو۔

فَاَسْقِطْ عَلَيْنَا كِسَفًا مِّنَ السَّمَآءِ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۝١٨٧

نو ته راوغورزوه | په مونږ بانده | یوه ټکړه | د آسمان نه | که چرے ئے ته | د رشتینو نه

نو که ته واقعی رشتینے ئے نو مونږ بانده د آسمان نه یوه ټکړه راوغورزوه۔

قَالَ رَبِّيْٓ اَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ۝١٨٨ فَكَذَّبُوْهُ فَاَخَذَهُمْ

او وئیل هغه | رب زما | ښه پوهیږی | په څه | چه تاسو ئے کوئ | لو هغوی دروغژن او ګڼړلو هغه | نو راونیول هغوی لره

شعیبؑ ورته او وئیل ستاسو عملونه زما رب ته ښه معلوم دی بس هغوی شعیبؑ دروغژن او ګڼړلو نو نتیجه دا شوه

عَذَابُ يَوْمِ الظُّلَّةِ ۭ اِنَّهٗ كَانَ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ۝١٨٩ اِنَّ

عذاب | د ورځے | د سوری | بیشکه هغه | وو | عذاب | د ورځے | ډیرے لوئے | بیشکه

چه د سوری (سائبان) د ورځے عذاب راګیر کړل یقیناً هغه د ډیر لوئے ورځے عذاب وو یقیناً

فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ۭ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝١٩٠ وَاِنَّ رَبَّكَ

په دے کښ | خامخا نخښه ده | او نه دی | اکثر د دوی | مومنان | او بیشکه | ستا رب

په دے واقعه کښ لویه نخښه د عبرت ده بیا هم په دوی کښ اکثر خلق ایمان نه راوړی او یقیناً ستا رب

لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ۝١٩١ وَاِنَّهٗ لَتَنْزِيْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝١٩٢

خامخا هم هغه دے | ډیر زورور | ډیر مهربان | او بیشکه دا (قرآن) | خامخا نازل کړے شوے | د رب | د مخلوقاتو دے

ډیر زورور (غالب) او رحم کولکے دے او (اے نبی) یقیناً دا قرآن ستا رب رالیږلے دے

نَزَلَ بِهِ الرُّوْحُ الْاَمِيْنُ ۝١٩٣ عَلٰى قَلْبِكَ لِتَكُوْنَ

راوړے دے | دے لره | روح | امانتدار | ستا په زړه بانده | (د دے دپاره) چه ته ئے

او دا روح الامین (جبرائیلؑ) راوړے دے (او دا) ستا په زړه (نازل شوے دے) چه ته خلق اوېروے

مِنَ الْمُنْذِرِيْنَ ۝١٩٤ بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِيْنٍ ۝١٩٥ وَاِنَّهٗ لَفِيْ زُبُرِ

د یره ورکونکو نه | په ژبه | د عربی | واضحه | او بیشکه دا | خامخا وو په کتابونو

(او) د عربی په واضحه ژبه نازل شوے دے او د دے تذکره په پخوانو (آسمانی) کتابونو کښی

الْاَوَّلِيْنَ ۝١٩٦ اَوَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ اٰيَةً اَنْ يَّعْلَمَهٗ عُلَمٰٓؤُا

د ورومبنو کښ | آیا او نشته | د دوی دپاره | یوه نخښه | دا چه پیژنی دا | عالمان

(هم) موجود ده آیا دے خلقو دپاره دا خبره دلیل نه دے چه د بنی اسرائیلو عالمان دا پیژنی

بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ ﴿١٩٧﴾ وَلَوْ نَزَّلْنَٰهُ عَلَىٰ بَعْضِ الْأَعْجَمِينَ ﴿١٩٨﴾

د بني اسرائيلو | او كه چرے | مونږ را ليږلے وے دا (قران) | په بعضے | عجميانو باندے

(ددے نه واقف دی) او كه چرے مونږ دا قران په يو عجمى نازل كړے وے

فَقَرَأَهُۥ عَلَيْهِم مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ مُؤْمِنِينَ ﴿١٩٩﴾ كَذَٰلِكَ سَلَكْنَٰهُ

بيا هغه لوستلے وے دا | په هغوی باندے | نو نه وو دوی | په دے | ايمان راوړونكی | دغه شان | اچولے ده مونږ دا خبره

او بيا هغه دوی ته لوستلے وے نو بيا به هم دوی (دخپل تعصب دوجے) منلے نه وے د مجرمانو په زړونو كښې مونږ

فِى قُلُوبِ الْمُجْرِمِينَ ﴿٢٠٠﴾ لَا يُؤْمِنُونَ بِهِۦ حَتَّىٰ يَرَوُا۟

په زړونو | د مجرمانو كښې | دوی ايمان نه راوړی | په دے باندے | ترڅو چه او وينی دوی

هم دغه شان دا (انكار) داخل كړے دے دوی چه ترڅو پورے دوی دردناك عذاب او نهٔ وينی (په دے)

الْعَذَابَ الْأَلِيمَ ﴿٢٠١﴾ فَيَأْتِيَهُم بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٠٢﴾

عذاب | دردناك | پس را به شی دوی ته هغه (عذاب) | ناګهانه | او دوی به | نه پوهيږی

ايمان نه راوړی او هغه عذاب به په دوی باندے داسے ناګهانه راشی چه دوی ته به پته هم اونه لګی

فَيَقُولُوا۟ هَلْ نَحْنُ مُنظَرُونَ ﴿٢٠٣﴾ أَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُونَ ﴿٢٠٤﴾

پس وائی به دوی | آيا | مونږ ته به | مهلت را كړے شی نور | آيا نو زمونږ عذاب | دوی زر غواړی

بيا به دوی وائی چې آيا مونږ ته نور مهلت ملاويدے شی؟ آيا نو دوی زمونږ عذاب زر غواړی؟

أَفَرَءَيْتَ إِن مَّتَّعْنَٰهُمْ سِنِينَ ﴿٢٠٥﴾ ثُمَّ جَآءَهُم مَّا كَانُوا۟

آيا پس ته خبر ئے | كه چرے | فائده ور كړو مونږ دوی ته | څو كلونه | بيا | راشی دوی ته | هغه څه | چه دوی سره ئے

آيا تا په دے غور كړے دے چه كه چرے مونږ څو كاله دوی ته د دنيا فائدے وركړو او بيا پرے هغه عذاب راشی

يُوعَدُونَ ﴿٢٠٦﴾ مَآ أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يُمَتَّعُونَ ﴿٢٠٧﴾

وعدے كولے شی | (نو) پكار به رانشی | د دوی | هغه څه | چه دوی ته | فائده ور كولے شی

چه دوی سره ئے وعده شوی ده نو دوی ته چه كومے فائدے وركړے شوی دی هغه به ئے پكار رانشی.

وَمَآ أَهْلَكْنَا مِن قَرْيَةٍ إِلَّا لَهَا مُنذِرُونَ ﴿٢٠٨﴾ ذِكْرَىٰ

او مونږ نه دے هلاك كړے | هيڅ يو كلے | مګر | دهغے دپاره وو | يروونكی | د نصيحت دپاره

مونږ چه د منكرينو څومره كلی (هم) تباه كړی دی هغے ته لو ته اول يروونكی پيغمبران راغلی وو د نصيحت دپاره

وَمَا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴿٢٠٩﴾ وَمَا تَنَزَّلَتْ بِهِ الشَّيَٰطِينُ ﴿٢١٠﴾ وَمَا يَنۢبَغِى

او مونږ نه يو | ظالمان | او نه دے راوړے | دا قرآن | شيطانانو | او نه ښائی دا

او مونږ ظالمان نه يو۔ او دا قرآن شيطانانو نه دے راوړے او دا د هغوی سره مناسب هم نه دی

لَهُمْ وَمَا يَسْتَطِيعُونَ ﴿٢١١﴾ إِنَّهُمْ عَنِ السَّمْعِ لَمَعْزُولُونَ ﴿٢١٢﴾

دهغوی سره | او نه طاقت لری هغوی | بيشكه هغوی | د اوريدلو نه | خامخا شړلی شوی دی

او نه ئے هغوی كولے شی يقيناً هغوی (خو) د وحی د اوريدلو نه لرے كړے شوی دی

فَلَا تَدْعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَتَكُوْنَ مِنَ الْمُعَذَّبِيْنَ ۝٢١٣

پس ته مه رابله | د الله سره | خدائے (معبود) | بل | گنې نو شے به ته | د عذاب ورکړے شوو نه

نو ته د الله سره بل حاجت روا او معبود مه رابله گنې نو عذاب کښې به مبتلا شے

وَاَنْذِرْ عَشِيْرَتَكَ الْاَقْرَبِيْنَ ۝٢١٤ وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِمَنِ

او ته اوېروه | خپلوان خپل | نزدے | او ښکته کړه | وزر خپل | هغه چا ته

او اے نبیؐ اخپل نزدے خپلوان (رشته دار) اوېروه او هغه مومنانو ته خپل وزر ښکته ساته (نرمي ورسره کوه)

اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝٢١٥ فَاِنْ عَصَوْكَ فَقُلْ اِنِّيْ

چه روان دی تا پسے | د مومنانو نه | پس که چرے | نافرماني اوکړی هغوی ستا | نو اووایه | بیشکه زه

چه تا پسے روان دی نو که هغوی ستا نافرماني اوکړی نو ورته اووایه چه زه

بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تَعْمَلُوْنَ ۝٢١٦ وَتَوَكَّلْ عَلَى الْعَزِيْزِ الرَّحِيْمِ ۝٢١٧

بیزاره یم | د هغه څه نه | چه تاسو ئے کوئ | او توکل کوه | په ډیر زورآور | زیات رحم کونکی باندے

ستاسو د عملونو نه بیزار یم او ته په هغه زورآور (غالب) او مهربان ذات توکل کوه

الَّذِيْ يَرٰىكَ حِيْنَ تَقُوْمُ ۝٢١٨ وَتَقَلُّبَكَ فِي السّٰجِدِيْنَ ۝٢١٩ اِنَّهٗ

هغه | چه وینی تا | کله چه | ته اودرېږے | او اوړېدل راوړېدل ستا | په سجده کوونکو کښې | بیشکه

چه تا په هغه وخت کښې هم وینی چه کله ته عبادت د پاره پاڅې او د سجده کوونکو په مینځ کښې ستا تلل راتلل هم وینی

هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۝٢٢٠ هَلْ اُنَبِّئُكُمْ عَلٰى مَنْ تَنَزَّلُ

هم هغه دے | ښه اورېدونکے | ښه پوهه | آیا | خبر کړم تاسو | په هغه چا باندے | چه را کوزیږی (پرېږی)

یقینًا چه هم هغه هر څه آوری په هر څه پوهیږی آیا زه تاسو ته هغه څوك اوښایم چه

الشَّيٰطِيْنُ ۝٢٢١ تَنَزَّلُ عَلٰى كُلِّ اَفَّاكٍ اَثِيْمٍ ۝٢٢٢ يُّلْقُوْنَ السَّمْعَ

شیطانان | را کوزیږی | په هر یو | غټ دروغژن | گناهګار | غوږ اېږدی دوی | اورېدو ته

شیطانان پرے را کوزیږی شیطانان په هر دروغژن گناهګار باندے را کوزیږی چه د ملائکو خبرو ته غوږ اېږدی او بیا

وَاَكْثَرُهُمْ كٰذِبُوْنَ ۝٢٢٣ وَالشُّعَرَآءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوٗنَ ۝٢٢٤ اَلَمْ تَرَ

او اکثر د دوی نه | دروغژن دی | او شاعران | تابعداری کوی د دوی | سرکشه خلق | آیا ته نه گورے

ئے کاهن ته رسوی او اکثر پکښې دروغژن وی او شاعرانو پسے خو ګمراهان (سرکشه) خلق روان وی آیا ته نه دی کتلی

اَنَّهُمْ فِيْ كُلِّ وَادٍ يَّهِيْمُوْنَ ۝٢٢٥ وَاَنَّهُمْ يَقُوْلُوْنَ مَا

چه بیشکه دوی | په هر یو | کنده کښې | سرگردانه گرځی | او دا چه بیشکه دوی | وائی | هغه څه

چه دوی په هر میدان کښې سر وهلی پروهلی ګرځی او دا ے خبرے وائی چه

لَا يَفْعَلُوْنَ ۝٢٢٦ اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

چه نه ئے کوی | مگر | هغه خلق | چه ایمان ئے راوړے دے | او عملونه ئے کړی دی | نیك

پخپله ئے نه کوی البته چا چه ایمان راوړو او نیك عمل ئے اوکړو

وَذَكَرُوا اللّٰهَ كَثِيْرًا وَّانْتَصَرُوْا مِنْۢ بَعْدِ مَا ظُلِمُوْا ؕ
اولیاد کړے ئې | الله | ډیر | او بدله اخستې ده | پس د دے نه | چه ظلم شوے وے پرهغوی باندے
او الله تعالىٰ ئې ډیر یاد کړو او چه ظلم پرے اوشو نو روستو د ظلم نه ئې بدله واخسته (لو دوی ته په بدله ملاویږی)
وَسَيَعْلَمُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْۤا اَیَّ مُنْقَلَبٍ يَّنْقَلِبُوْنَ ۟﴿٢٢٧﴾
او زر ده چه پوهه به شی | هغه خلق | چه ظلم ئې کړے دے | چه کوم ځائے ته | دوی اوړی
او ظالمانو ته به ډیر زر پته اولګی چه هغوی د لعنتولو د حالت نه د کوم انجام (عذاب) طرف ته ورتلونکی دی

آیاتها [٩٣]	سورة النمل مكّيّة	ركوعاتها [٧]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)
خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

طٰسٓ ۚ تِلْكَ اٰيٰتُ الْقُرْاٰنِ وَكِتَابٍ مُّبِيْنٍ ۟ۙ﴿١﴾ هُدًى وَّبُشْرٰى
طس | دا | آیتونه | د قرآن | او د کتاب | واضح دی | هدایت | او زیرے دے
طاسین دا د قران او د داسے کتاب آیتونه دی چه حق او باطل ښکاره کوی دا د هغه مومنانو دپاره هدایت
لِلْمُؤْمِنِيْنَ ۟ۙ﴿٢﴾ الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ
دپاره د مومنانو | هغه خلق | چه قائموی | مونځ | او ورکوی | زکات | او دوی
او زیرے دے چه د مانځه پابندی کوی او زکات ورکوی او په آخرت باندے
بِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ﴿٣﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ
په آخرت | هم دوی | یقین لری | بیشکه | هغه خلق | چه ایمان نه راوړی | په آخرت
پوخ یقین ساتی حقیقت دا دے چه کوم خلق په آخرت ایمان نه لری د هغوی
زَيَّنَّا لَهُمْ اَعْمَالَهُمْ فَهُمْ يَعْمَهُوْنَ ؕ﴿٤﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ
ښائسته کړی دی مونږ | هغوی ته | عملونه د هغوی | پس هغوی | سرګردانه ګرځی | دا | هغه خلق دی
بد عملونه مونږ هغوی ته ښائسته ښکاره کړی دی نو ځکه هغوی سرګردانه ګرځی هم دا هغه خلق دی
لَهُمْ سُوْٓءُ الْعَذَابِ وَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ هُمُ الْاَخْسَرُوْنَ ﴿٥﴾
چه د دوی دپاره | سخت | عذاب دے | او دوی | په آخرت کښې | پوره تاوان مونده ونکی دی
چه سخت عذاب ورله تیار دے او په آخرت کښې د ټولو نه زیات تاوان (نقصان) اوچتونکی دی
وَاِنَّكَ لَتُلَقَّى الْقُرْاٰنَ مِنْ لَّدُنْ حَكِيْمٍ عَلِيْمٍ ﴿٦﴾ اِذْ قَالَ
او بیشکه ته | درکولے شی تاته | قرآن | د طرفه | د حکمت والا | او پوهه ذات نه | کله چه | او ویل
او (اے نبیؐ!) تاته (خو) دا قران د هغه ذات د طرف نه ملاویږی (راځی) چه حکمت والا هم دے او علم والا هم دے

مُوْسٰى لِاَهْلِهٖٓ اِنِّيْٓ اٰنَسْتُ نَارًا ؕ سَاٰتِيْكُمْ مِّنْهَا بِخَبَرٍ

موسٰیؑ | خپل کور والاته | بیشکه | ما ولیدہ | اور | زر دہ چہ زہ بہ راورم تاسو ته | د هغې نه | څه خبر

(هغه وخت یاد کړه) کله چه موسٰیؑ خپل کور والاته اوو وئیل چه ما اور اولیدلو نو زه به تاسو ته د هغې ځائے نه د لارے

اَوْ اٰتِيْكُمْ بِشِهَابٍ قَبَسٍ لَّعَلَّكُمْ تَصْطَلُوْنَ ۝٧ فَلَمَّا

یا به راورم تاسو ته | سکروټه | بله | دے دپاره چه تاسو | ګرم شئ | پس هر کله

خبر راوړم یا به یو بل شوے شغله راورم چه تاسو پرے ګرم شئ پس (نو) کله چه موسٰیؑ د هغې خواله

جَآءَهَا نُوْدِيَ اَنْۢ بُوْرِكَ مَنْ فِي النَّارِ وَمَنْ

چه راغے هغې ته | (نو) آواز ورته او کړے شو | چه برکت ور کړے شوے دے | هغه چاته | چه په اور کښې دے | او هغه څوک

راغے نو آواز (ورته) اوشو چه څوک (موسٰیؑ) چه په ځای د اور کښې دے او څوک (ملائک) چه ترے ګیر چاپیره دی هغه تول مبارک دی

حَوْلَهَا ؕ وَسُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝٨ يٰمُوْسٰٓى اِنَّهٗٓ اَنَا

چه د هغې نه چاپیره دی | او پاک دے | (هغه) الله | چه رب | د مخلوقاتو دے | اے موسٰیؑ | بیشکه زه

او هغه الله چه رب العالمین دے د هر قسم تشبیه او عیبونو نه پاک دے اے موسٰیؑ حقیقت دا دے چه زه الله (معبود برحق) یم

اللّٰهُ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝٩ۙ وَاَلْقِ عَصَاكَ ؕ فَلَمَّا رَاٰهَا تَهْتَزُّ

الله | ډیر زورور | او حکمت والا یم | او او غورزوه | امسا خپله | پس هر کله | چه ئے اولیدله هغه | چه خوځی

چه ډیر زورور او حکمت والا یم. او ته لږه خپله امسا او غورزوه نو چه کله ئے او غورزوله او وئے لیدله چه دا سے حرکت کوی

كَاَنَّهَا جَآنٌّ وَّلّٰى مُدْبِرًا وَّلَمْ يُعَقِّبْ ؕ يٰمُوْسٰى

ګویا چه هغه | چیچمار دے | (نو) مخ ئے وا ړولو | شا کونکے | او وروسته ئے او نه کتل | اے موسٰیؑ

لکه چه چیچمار وی نو مخ په شا شو او وروستو ئے نه کتل (الله ورته اووئیل) اے موسٰیؑ

لَا تَخَفْ ۫ اِنِّيْ لَا يَخَافُ لَدَيَّ الْمُرْسَلُوْنَ ۝١٠ۖ اِلَّا مَنْ

مه یریږه | بیشکه زه | نه یریږی | زما په خوا کښې | پیغمبران | لیکن | هغه څوک

مه یریږه! زما په قرب کښې پیغمبران نه یریږی سوا د هغه چا نه چه

ظَلَمَ ثُمَّ بَدَّلَ حُسْنًۢا بَعْدَ سُوْٓءٍ فَاِنِّيْ غَفُوْرٌ

چه ظلم ئے او کړو | بیا ئے | بدل کښې او کړه | نیکی | وروستو | د بدئ نه | نو بیشکه زه یم | ډیر بخښونکے

زیاتے ئے کړے وی بیا د بدئ په ځائے نیکی او کړی نو یقینا زه ډیر بخښونکے

رَّحِيْمٌ ۝١١ وَاَدْخِلْ يَدَكَ فِيْ جَيْبِكَ تَخْرُجْ بَيْضَآءَ

ډیر مهربان | او ننباسه | لاس خپل | په ګریوان خپل کښې | را وو به وځی | سپین

رحم کونکے ذات یم او (اے موسٰیؑ!) خپل لاس په خپل ګریوان کښې داخل کړه (نو) هغه به د څه بیمارئ نه

مِنْ غَيْرِ سُوْٓءٍ ۫ فِيْ تِسْعِ اٰيٰتٍ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَقَوْمِهٖ ؕ اِنَّهُمْ

بے د عیب نه | په نهو | معجزو کښې | فرعون ته | او قوم د هغهٔ ته | بیشکه دوی

بغیر تک سپین را وځی دا هم په هغه نهه معجزاتو کښې دی چه فرعون او د هغه قوم ته ستا په ذریعه لیږلے کیږی

كَانُوْا قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ۝١٢ فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ اٰيٰتُنَا مُبْصِرَةً قَالُوْا

وو | قوم | فاسقان | پس هر کله چه | راغلل دوی ته | آیاتونه زمونږ | روښانه | او وئیل دوی

یقیناً دوی نافرمانه خلق دی بیا چه کله هغوی ته زمونږ روښانه معجزے (لخښے) اورسیدے نو هغوی او وئیل

هٰذَا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝١٣ وَجَحَدُوْا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَآ اَنْفُسُهُمْ

دا | جادو دے | ښکاره | او انکار او کړو دوی | د هغے نه | او یقین کړے وو په هغے باندے | زړونو د دوی

چه دا خو ښکاره جادو دے اګرچه د هغوی زړونو په دے معجزا تو یقین کړے وو خو بیا هم

ظُلْمًا وَّعُلُوًّا ۭ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِيْنَ ۝١٤ ع

د ظلم | او د سرکشۍ په وجه | پس او ګوره | چه څنګه | شو | انجام | د فساد کوونکو

د ظلم او د تکبر د وجے نه ئے تر ینه انکار او کړو نو سوچ او کړه چه د فساد خورونکو انجام څنګه شو؟

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ عِلْمًا ۚ وَقَالَا الْحَمْدُ لِلّٰهِ

او یقیناً | ور کړے وو مونږ | داودؑ | او سلیمانؑ ته | علم | او او وئیل هغوی دواړو (چه) | حمد ونه دی | د الله د پاره

او یقیناً مونږ داودؑ او سلیمانؑ ته علم ور کړے وو او هغوی دواړو او وئیل چه ټول حمد ونه د هغه الله لپاره دی

الَّذِيْ فَضَّلَنَا عَلٰى كَثِيْرٍ مِّنْ عِبَادِهِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝١٥

هغه ذات | چه فضیلت ئے را کړے دے مونږ ته | په ډیرو باندے | د خپلو بندګانو | مومنانو نه

چه په خپلو ډیرو مومنانو بندګانو باندے ئے مونږ له فضیلت را کړے دے.

وَوَرِثَ سُلَيْمٰنُ دَاوٗدَ وَقَالَ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ عُلِّمْنَا مَنْطِقَ

او وارث شو | سلیمانؑ | د داودؑ | او او وئیل هغه | اے خلقو! | ښودلے شوی دی مونږ ته | خبرے

او سلیمانؑ د داودؑ قائم مقام (نائب) شو او هغه او وئیل اے خلقو! مونږ ته د مارغانو خبرے ښودلے شوی دی

الطَّيْرِ وَاُوْتِيْنَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ ۭ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْفَضْلُ

د مارغانو | او را کړے شوی دی مونږ ته | د هر یو | څیز نه | بیشکه | هم دا دے | خامخا | فضل

او د ضرورت هر یو څیز را کړے شوے دے یقیناً هم دا (د الله تعالیٰ) ښکاره فضل دے

الْمُبِيْنُ ۝١٦ وَحُشِرَ لِسُلَيْمٰنَ جُنُوْدُهٗ مِنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ

ښکاره | او راجمع کړے شو | سلیمانؑ ته | لښکرے د هغهٔ | د پیریانو | او انسانانو

او سلیمانؑ ته به د هغه د پیریانو او د انسانانو او د مارغانو ټول لښکرے راجمع کړے شوے

وَالطَّيْرِ فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ ۝١٧ حَتّٰٓى اِذَآ اَتَوْا عَلٰى وَادِ

او مارغانو نه | پس هغوی به | تقسیم کړے شو | تر دے | چه کله | راغلل دوی | په میدان

او هغوی به ځائے په ځائے په انتظام سره او درول شو تر دے چه یو ورځ دوی روان شو نو کله چه دوی ټول

النَّمْلِ ۙ قَالَتْ نَمْلَةٌ يّٰٓاَيُّهَا النَّمْلُ ادْخُلُوْا مَسٰكِنَكُمْ ۚ

د میږو | (نو) او وئیل | یو میږی | اے میږیانو! | داخل شئ | خپلو کورونو ته

د میږو یو میدان ته اورسیدل نو یو میږئ دا او وئیل اے میږو! خپلو کورونو ته داخل شئ هسے نه چه

لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمٰنُ وَجُنُوْدُهٗ ۙ وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ۝۱۸

(چه) چخنړي نه کړي تاسو | سليمانؑ | او لښکرے دهغهٔ | او هغوي ته به | پته نه وي

سليمانؑ او دهغه لښکرے مو په نا پوهۍ (بے خبرۍ) کښې چخنړي نه کړي

فَتَبَسَّمَ ضَاحِكًا مِّنْ قَوْلِهَا وَقَالَ رَبِّ اَوْزِعْنِيْٓ

پس مسکے شو هغه | خندېدونکے | په خبره د هغے | او وے ویل | اے زمار به | توفيق را کړه ماله

نو سليمانؑ د هغے په دے خبره مسکے شو او خوشحاله شو او وے وئيل اے زمار به ما د دے پابند جوړ کړه

اَنْ اَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلٰى وَالِدَيَّ

چه زهٔ شکر ادا کړم | د نعمت ستا | هغه | چه تا کړے دے | په ما باندے | او په مور او پلار زما باندے

چه زهٔ ستا د هغه نعمتونو شکر ادا کړم چه تا په ما او زما په مور او پلار کړي دي

وَاَنْ اَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضٰىهُ وَاَدْخِلْنِيْ بِرَحْمَتِكَ فِيْ عِبَادِكَ

او دا چه زهٔ عمل او کړم | نيک | چه ته خوښوے هغه | او داخل کړه ما | په رحمت خپل سره | په بندګانو خپلو

او چه دا سے نيک عمل او کړم چه تا ته خوښ وي او په خپل رحمت سره ما په خپلو نيکانو بندګانو کښې شامل کړه

الصّٰلِحِيْنَ ۝۱۹ وَتَفَقَّدَ الطَّيْرَ فَقَالَ مَا لِيَ لَآ اَرَى الْهُدْهُدَ ۖ

نيکانو کښې | او او لټول هغه | مارغان | نو وے وئيل | څه وجه ده ما ته | چه زهٔ نه وينم | ملا چرګک

او (يو ځل) سليمانؑ د مارغانو حاضري (جائزه) واغستله نو وے وئيل څه وجه ده؟ چه هدهد په نظر نه راځي

اَمْ كَانَ مِنَ الْغَآئِبِيْنَ ۝۲۰ لَاُعَذِّبَنَّهٗ عَذَابًا شَدِيْدًا

يا دے هغه | د | غائبانو نه | خامخا زهٔ به سزا ورکړم هغه ته | سزا | ډيره سخته

يا هغه چرته غائب شوے دے؟ زهٔ به خامخا هغه ته (د ډيو تي نه د غائب کيدو) سخته سزا ورکړم

اَوْ لَاَاذْبَحَنَّهٗٓ اَوْ لَيَاْتِيَنِّيْ بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ۝۲۱ فَمَكَثَ

يا خامخا ذبح به کړم هغه | يا خامخا راوړي به هغه ما ته | څه دليل | ښکاره | پس وخت تير کړو هغه

يا به ئے ذبحه کوم يا به هغه ما ته صحيح دليل (وجه) پيش کوي (نو معاف به ئے کړم) لږ وخت تير نه وو چه

غَيْرَ بَعِيْدٍ فَقَالَ اَحَطْتُّ بِمَا لَمْ تُحِطْ بِهٖ وَجِئْتُكَ

لږ شان | پس وے وئيل | ما احاطه کړے ده | په هغه څه | چه تا احاطه نه ده کړے | په هغے | او ما راوړے دے تا ته

هدهد راغے او وے وئيل چه ما (خو) دا سے معلومات حاصل کړي دي چه تا ته ئے علم نشته او ما

مِنْ سَبَاٍۭ بِنَبَاٍ يَّقِيْنٍ ۝۲۲ اِنِّيْ وَجَدْتُّ امْرَاَةً تَمْلِكُهُمْ

د سبا نه | يو خبر | يقيني | بيشکه ما | او موندله | يوه ښځه | چه بادشاهي ئے کوله په هغوي

د ملک سبا نه تا ته يو يقيني خبر راوړے دے ما (هلته) يوه ښځه او ليدله چه په هغه خلقو ئے حکومت کولو

وَاُوْتِيَتْ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ وَّلَهَا عَرْشٌ عَظِيْمٌ ۝۲۳ وَجَدْتُّهَا

او ورکړے شوي وو هغے ته | د هر يو | څيز نه | او د هغے | يو تخت وو | ډير لوے | او وے موندله هغه

او د ضرورت هر يو څيز ورته ورکړے شوے وو او د هغے يو لوئے تخت هم وو ما هغه ښځه

وَقَوْمَهَا يَسْجُدُوْنَ لِلشَّمْسِ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَزَيَّنَ لَهُمُ

او قوم د هغې | چه سجده کوي | لمر ته | سوا | د الله نه | او ښائسته کړي دي | هغوي ته

او د هغې قوم او ليدلو چه د الله تعالىٰ نه سوا لمر ته سجدې کوي او شيطان ورته خپل بد عملونه ښائسته

الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيْلِ فَهُمْ لَا يَهْتَدُوْنَ ۝٢٤

شيطان | عملونه د هغوي | پس بند کړي دي هغوي | د سمې لارې نه | پس هغوي | سمه لار نه مومي

ښکاره کړي دي او د سمې لارې (د هدايت نه) ئې بند کړي دي (لو ځکه) هغوي سمه لار (د هدايت) نه مومي

اَلَّا يَسْجُدُوْا لِلّٰهِ الَّذِيْ يُخْرِجُ الْخَبْءَ فِي السَّمٰوٰتِ

چه سجده نه کوي حوي | الله ته | هغه (الله) | چه راوباسي هغه | پټ څيزونه | په آسمانونو

په دې وجه چه دوي هغه الله تعالىٰ ته سجده نه خاص کوي چه د اسمانونو او زمکې پټ څيزونه بهر راوباسي

وَالْاَرْضِ وَيَعْلَمُ مَا تُخْفُوْنَ وَمَا تُعْلِنُوْنَ ۝٢٥ اَللّٰهُ

او زمکه کښې | او پوهيږي هغه | په هغه څه | چه تاسو ئې پټوئ | او په هغه څه | چه تاسو ئې ښکاره کوئ | الله

او تاسو چه څه پټوئ او څه ښکاره کوئ هغه ټول پيژني الله تعالىٰ خو هغه ذات دے

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ۝٢٦ قَالَ سَنَنْظُرُ

نشته | حقدار د عبادت | سوا | د هغه نه | چه مالک | د عرش | لوئې دے | او وئيل هغه | زر ده چه وګورو به او ګورو

چه د هغه نه سوا بل هيڅ څوک د عبادت لائق نشته (او) د لوئې عرش مالک دے سليمانؑ او وئيل مونږ به خامخا

اَصَدَقْتَ اَمْ كُنْتَ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۝٢٧ اِذْهَبْ بِّكِتٰبِيْ هٰذَا

(چه) آيا رښتيا وائې | يا ئې ته | د دروغژنو نه | يوسه | زما دا خط

د دې خبرې تحقيق کړو چه ته رښتيا وائې که دروغ، ته زما دا خط يوسه او هغوي ته ئې اوغورزوه

فَاَلْقِهْ اِلَيْهِمْ ثُمَّ تَوَلَّ عَنْهُمْ فَانْظُرْ مَاذَا يَرْجِعُوْنَ ۝٢٨

پس او غورزوه دا | هغوي ته | بيا | په څنګ شه | د هغوي نه | پس او ګوره | چه څه | جواب ور کوي هغوي

بيا يو اړخ ته شه او ګوره چې هغوي څه جواب ور کوي

قَالَتْ يٰٓاَيُّهَا الْمَلَؤُا اِنِّيْٓ اُلْقِيَ اِلَيَّ كِتٰبٌ كَرِيْمٌ ۝٢٩ اِنَّهٗ

او وئيل هغې | اے سردارانو | بيشکه زه | غورزولے شوے | ما ته | يو خط | عزتمند | بيشکه دا دے

ملکه (خپل دربار والو ته) او وئيل اے د قوم سردارانو ما ته څ يو عزتمند خط راغورزولے شوے دے

مِنْ سُلَيْمٰنَ وَاِنَّهٗ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝٣٠

د طرف د سليمانؑ نه | او بيشکه (دا شروع دے) | په نوم | د الله | چه عام رحم کونکے | مهربان دے

(چه) د سليمانؑ د طرف نه دے او د هغه الله په نوم شروع شوے دے چه رحمٰن او رحيم دے (او مضمون ئې دا دے)

ع اَلَّا تَعْلُوْا عَلَيَّ وَاْتُوْنِيْ مُسْلِمِيْنَ ۝٣١ قَالَتْ يٰٓاَيُّهَا الْمَلَؤُا

چه تاسو لوئي او نه کړئ | په ما | او راشئ ما ته | تابعداري کوونکي | او وئيل هغې | اے سردارانو

چه زما په مقابله کښې سرکشي مه کوئ او زما خواله تابعدار راشئ ملکه سبا او وئيل اے د قوم سردارانو ما ته په دے

اَفْتُوْنِیْ فِیْۤ اَمْرِیْۚ مَا كُنْتُ قَاطِعَةً اَمْرًا حَتّٰى تَشْهَدُوْنِ۝٣٢

راتہ را کړئ ماته | زما د کار په باره کښې | نه یم زه | فیصله کوونکے | د یو کار | تر دے چه تاسو حاضر شئ ماته

معامله کښې څه مشوره را کړئ زه تر هغے پورے د یو معاملے فیصله نه کوم چه تر څو تاسو زما خوا کښې موجود نشئ

قَالُوْا نَحْنُ اُولُوْا قُوَّةٍ وَّاُولُوْا بَاْسٍ شَدِیْدٍ ۙ۬ وَّالْاَمْرُ اِلَیْكِ

او وئیل هغوی | (چه) مونږ | طاقتور یو | او جنګ والا یو | سخت | او اختیار | ستا دے

هغوی ورته ووئیل مونږ (خو) طاقتور او په جنګیالی خلق یو، او نور اختیار ستا دے اوس ته سوچ او کړه

فَانْظُرِیْ مَاذَا تَاْمُرِیْنَ۝٣٣ قَالَتْ اِنَّ الْمُلُوْكَ اِذَا دَخَلُوْا

پس وګوره | چه د څه | حکم کوے ته | او وئیل هغے | بیشکه | بادشاهان | چه کله | هغوی داخل شی

چه د څه حکم را کول غواړے۔ هغے ورته او وئیل چه حقیقت دا دے چه بادشاهان کله هم

قَرْیَةً اَفْسَدُوْهَا وَجَعَلُوْۤا اَعِزَّةَ اَهْلِهَاۤ اَذِلَّةً ۚ وَكَذٰلِكَ

یو کلی ته | نو ورانوی هغه | او ګرځوی | عزتمند | خلق د هغے | ذلیله | او دغه شان

یو کلی ته داخل شی نو هغه خرابوی او د هغے عزتمند خلق ذلیله کوی او دوی به هم دغه شان کوی

یَفْعَلُوْنَ۝٣٤ وَاِنِّیْ مُرْسِلَةٌ اِلَیْهِمْ بِهَدِیَّةٍ فَنٰظِرَةٌۢ بِمَ یَرْجِعُ

دوی کوی | او بیشکه زه | لیږونکے یم | هغوی ته | څه دالۍ (تحفه) | پس ګورم | چه په څه (جواب) | واپس راځی

او زه هغوی ته څه تحفه لیږم بیا ګورم چه سفیران څه جواب راوړی

الْمُرْسَلُوْنَ۝٣٥ فَلَمَّا جَآءَ سُلَیْمٰنَ قَالَ اَتُمِدُّوْنَنِ بِمَالٍ ؗ

قاصدان | پس هر کله | چه راغے (قاصد) | سلیمانؑ ته | (نو) او وئیل هغه | آیا تاسو مدد کوئ زما | په مال سره

نو کله چه قاصدان سلیمانؑ ته راغلل نو هغه ورته او وئیل آیا تاسو په مال سره زما مدد کول غواړئ؟

فَمَاۤ اٰتٰىنِۦَ اللّٰهُ خَیْرٌ مِّمَّاۤ اٰتٰىكُمْ ۚ بَلْ اَنْتُمْ

نو هغه څه | چه را کړی دی ماته | الله | ډیر غوره دی | د هغه څه نه | چه تاسو ته ئے در کړی دی | بلکه | تاسو

نو دا او وړئ الله تعالیٰ چه ماته څه را کړی دی هغه د هغے څه نه زیات بهتر دی چه تاسو ته ئے در کړی دی البته تاسو

بِهَدِیَّتِكُمْ تَفْرَحُوْنَ۝٣٦ اِرْجِعْ اِلَیْهِمْ فَلَنَاْتِیَنَّهُمْ بِجُنُوْدٍ

په خپله دالۍ | خوشحالیږئ | واپس لاړ شه | هغوی ته | پس خامخا مونږ به راولو هغوی ته | (داسے) لښکرے

په خپلو تحفو لوئ کوونکی یئ هغوی ته واپس لاړ شه او ورته او وایه که دوی تابعدار نه شو نو مونږ به دوی پسے

لَّا قِبَلَ لَهُمْ بِهَا وَلَنُخْرِجَنَّهُمْ مِّنْهَاۤ اَذِلَّةً

چه طاقت به نه وی | د هغوی | د مقابلے د هغے | او خامخا مونږ به راوباسو هغوی | د هغے (سبا) نه | ذلیله (کمزوری)

داسے لښکرے او لیږو چه دوی به ئے هیڅ مقابله نه شی کولے او دوی به مونږ د هغه ملک نه ذلیله او باسو

وَّهُمْ صٰغِرُوْنَ۝٣٧ قَالَ یٰۤاَیُّهَا الْمَلَؤُا اَیُّكُمْ یَاْتِیْنِیْ

او هغوی به | رسوا وی | او وئیل (سلیمانؑ) | اے | سردارانو | کوم یو په تاسو کښې به | راوړی ماته

او دوی به رسوا وی۔ سلیمانؑ او وئیل اے درباریانو (سردارانو)! په تاسو کښې داسے څوک دی

بِعَرْشِهَا قَبْلَ اَنْ يَّاْتُوْنِىْ مُسْلِمِيْنَ ۝٣٨ قَالَ عِفْرِيْتٌ

تخت د هغې | مخکښ | د دې نه | چه دوی راشي ما ته | تابعداری کوونکي | اووئیل | یو دیو

چه دوی د تابعدار راتلو نه مخکښ ما ته د هغې تخت راوړی؟ یو طاقتور پیری اووئیل

مِّنَ الْجِنِّ اَنَا اٰتِيْكَ بِهٖ قَبْلَ اَنْ تَقُوْمَ مِنْ مَّقَامِكَ ۚ

د پیریانو نه | (چه) زه به | راوړم تا ته | هغه (تخت) | مخکښ | د دې نه چه ته پاڅې | د خپل ځائے نه

ته به د خپل ځائے (مجلس قضاء) نه پاڅیدلے لا نۀ ئے چه زه به هغه تاسو ته راوړم

وَاِنِّىْ عَلَيْهِ لَقَوِىٌّ اَمِيْنٌ ۝٣٩ قَالَ الَّذِىْ عِنْدَهٗ عِلْمٌ

او بیشکه زه | په دې باندې | خامخا طاقت لرونکے | امانتدار یم | اووئیل | هغه کس | چه د هغه سره وو | علم

او یقین او کړه چه زه په دې کار پوره طاقت لرم او امانتدار هم یم (په دې کښې) چا سره چه د کتاب علم وو (جبرئیل)

مِّنَ الْكِتٰبِ اَنَا اٰتِيْكَ بِهٖ قَبْلَ اَنْ يَّرْتَدَّ اِلَيْكَ

د کتاب | (چه) زه به | راوړم تا ته | هغه | مخکښ | د دې نه | چه واپس شي | تا ته

هغه اووئیل چه زۀ به ئے د سترګو د رپولو نه مخکښ تا ته راوړم

طَرْفُكَ ؕ فَلَمَّا رَاٰهُ مُسْتَقِرًّا عِنْدَهٗ قَالَ هٰذَا

نظر ستا | پس هر کله | چه ده اولیدلو هغه | ایښودلے شوے | د خپل ځان سره | (نو) وئے ویل | دا دے

بیا کله چه سلیمانؑ هغه تخت د ځان سره پروت اولیدلو نو وئے وئیل چه دا

مِنْ فَضْلِ رَبِّىْ ۗ لِيَبْلُوَنِىْٓ ءَاَشْكُرُ اَمْ اَكْفُرُ ؕ وَمَنْ شَكَرَ

فضل | د رب زما | چه اوازمائي ما | (چه) آیا شکر کوم زه | یا ناشکری کوم زۀ | او څوک چه | شکر کوی

زما د رب فضل دے چه ما اوازمائي چه زه شکر اوباسم که ناشکری کوم او څوک چه شکر کوی نو یقیناً

فَاِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ كَفَرَ فَاِنَّ رَبِّىْ غَنِىٌّ

نو بیشکه | هغه شکر کوی | د خپل ځان د پاره | او څوک چه | ناشکری کوی | نو بیشکه | رب زما | ډیر بے پروا

دا شکر ویستل ئے د خپل ځان د فائدے د پاره دی او څوک چه ناشکری کوی نو یقیناً زما رب ډیر بے پروا (بے حاجته)

كَرِيْمٌ ۝٤٠ قَالَ نَكِّرُوْا لَهَا عَرْشَهَا نَنْظُرْ اَتَهْتَدِىْٓ

ډیر عزتمند دے | اووئیل هغه | ناشنا کړئ | هغې ته | تخت د هغې | (چه) مونږ اوګورو | چه آیا سمه لار مونده شي هغه

عزتمند ذات دے سلیمانؑ اووئیل چه ملکه بلقیس د تخت د هغې د پاره ناشنا (بدل) کړئ ګورو چه هغې کښې استعداد د قبلولو

اَمْ تَكُوْنُ مِنَ الَّذِيْنَ لَا يَهْتَدُوْنَ ۝٤١ فَلَمَّا جَآءَتْ قِيْلَ

یا کیږی | د هغه خلقو نه | چه سمه لار نه شي موندلے | پس هر کله | چه راغله هغه | (نو) اووئیل شو

د هدایت شته او که په هغه خلقو کښې ده چه څه شیز پوهېدلے نه شي؟ پس هر کله چه هغه راغله (نو) تپوس ترے اوشو چه ستا تخت

اَهٰكَذَا عَرْشُكِ ؕ قَالَتْ كَاَنَّهٗ هُوَ ۚ وَاُوْتِيْنَا الْعِلْمَ

آيا داسے دے | تخت ستا | او وئيل هغې | لكه چه دا خو | هم هغه دے | او را كړے شوے دے مونږ ته | علم

هم داسے دے؟ هغې او وئيل دا سے ښكاري چې دا هم هغه دے او مونږ ته (خو) د دے نه وړاندے (ستا د رښتينوالي)

مِنْ قَبْلِهَا وَكُنَّا مُسْلِمِيْنَ ﴿۴۲﴾ وَصَدَّهَا مَا كَانَتْ تَّعْبُدُ

مخكښې د دے نه | او شو مونږ | مسلمانان (تابعدار) | او منع كړے وه دے لره | هغه څه | چه عبادت يې ئے كولو دے

علم را كړے شوے وو او مونږ تابعدار شوي يو او (تر اوسه پورے) هغه (د ايمان راوړو نه) د دے خبرے منع كړے وه چه

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ اِنَّهَا كَانَتْ مِنْ قَوْمٍ كٰفِرِيْنَ ﴿۴۳﴾ قِيْلَ لَهَا

سوا د الله نه | بيشكه دا | وه | د | قوم | كافرانو نه | او وئيل شو | هغې ته

دے به د الله نه سوا د بل چا عبادت كولو (او د وېجه د دے خبرے چه) يقيناً هغې د يو كافر قوم سره تعلق ساتلو (بيا) هغې ته او وئيل شو

ادْخُلِي الصَّرْحَ ۚ فَلَمَّا رَاَتْهُ حَسِبَتْهُ لُجَّةً

داخله شه | محل ته | پس هر كله | چه هغې او ليدو هغه | نو گمان ئے او كړو په هغې باندے | د ژورو اوبو

چه د دے محل ته داخله شه هغه ئے چه او ليدلو نو خيال ئے پرے او كړو چه دا گټې اوبه دي

وَّكَشَفَتْ عَنْ سَاقَيْهَا ؕ قَالَ اِنَّهٗ صَرْحٌ مُّمَرَّدٌ

او واخستے كړے (پائنچے) | د خپلو پنډو نه | او وئيل هغه | (چه) بيشكه دا (خو) | يو محل دے | ځليدونكے

(نو خپلے پائنچې ئے را او چتې كړې) او پنډې ئے ښكاره كړے سليمانؑ ورته او وئيل دا خو يو محل دے چه

مِّنْ قَوَارِيْرَ ؕ۬ قَالَتْ رَبِّ اِنِّيْ ظَلَمْتُ نَفْسِيْ وَاَسْلَمْتُ

جوړ كړے شوے د شيشو نه | او وئيل هغې | اے زما ربه | ما | ظلم كړے دے | په خپل ځان | او خالص كومه بندگي

د شيشو نه جوړ شوے دے هغې او وئيل اے زما ربه حقيقت دا دے چه ما په ځان ظلم كړے دے او اوس ے

مَعَ سُلَيْمٰنَ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۴۴﴾ ع وَلَقَدْ اَرْسَلْنَآ اِلٰى ثَمُوْدَ

د سليمانؑ سره | الله لره | چه رب | د مخلوقاتو دے | او يقيناً | مونږ ليږلے وو | ثموديانو ته

د سليمانؑ په تابعدارئ كښې د الله رب العالمين تابعداري قبوله كړه او يقيناً مونږ ثموديانو ته

اَخَاهُمْ صٰلِحًا اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ فَاِذَا هُمْ فَرِيْقٰنِ

ورور د هغوي | صالحؑ | چه عبادت او كړئ | د الله | پس دغه وخت | دوي شو | دوه ډلے

د هغوي ورور صالحؑ (د دے پيغام سره) ليږلے وو چه يو ازے د الله عبادت كوئ نو هغوي دوه ډلے شوے

يَخْتَصِمُوْنَ ﴿۴۵﴾ قَالَ يٰقَوْمِ لِمَ تَسْتَعْجِلُوْنَ بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ

چه جگړے ئے كوله يو بل سره | او وئيل هغه | اے زما قومه | ولے | تاسو زر غواړئ | بد حالت | مخكښې

(او) په خپل مينځ كښې ئے جگړے شروع كړے صالحؑ ورته او وئيل اے زما قومه اتاسو د نيكئ كولو نه مخكښې

الْحَسَنَةِ ۚ لَوْلَا تَسْتَغْفِرُونَ اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿٤٦﴾ قَالُوا

د نیکۍ نه | ولې بخښنه نه غواړئ تاسو | د الله نه | دې دپاره چه په تاسو رحم اوکړے شي | اوونیل دوی

عذاب ولې زر غواړئ تاسو د الله نه معافي ولې نه غواړئ چه رحم درباندې اوشي هغوی اوونیل

اطَّيَّرْنَا بِكَ وَبِمَنْ مَّعَكَ ۚ قَالَ طَائِرُكُمْ عِنْدَ اللَّهِ

(چه) سپیره شو مونږ | ستا په وجه | او دهغه چا په وجه | چه تاسره دي | اوونیل هغه | سپیره توب ستاسو | د الله د طرفنه دے

چه ستا او ستا د ملګرو د وجې په مونږ سپیره حالت راغلے دے. صالحؑ ورته اوونیل چه ستاسو سپیره توب د الله د طرفنه دے

بَلْ أَنْتُمْ قَوْمٌ تُفْتَنُونَ ﴿٤٧﴾ وَكَانَ فِي الْمَدِينَةِ تِسْعَةُ

بلکه | تاسو | یو قوم یئ | چه ازمائیل کیږئ | او وو | په ښار کښې | نهه

البته تاسو داسې خلق یئ چه ازمینښت درباندې کولے شي او په دغه ښار کښې نهه

رَهْطٍ يُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ ﴿٤٨﴾ قَالُوا

کسان | چه فساد به ئې کولو | په زمکه کښې | او اصلاح ئې نه کوله | اوونیل هغوی یو بل ته

کسان داسې وو چه په زمکه کښې ئې فساد خورولو او اصلاح ئې نه کوله هغوی خپلو کښې یو بل ته اوونیل

تَقَاسَمُوا بِاللَّهِ لَنُبَيِّتَنَّهُ وَأَهْلَهُ ثُمَّ لَنَقُولَنَّ

قسمونه اوخورئ | په الله | (چه) خامخا مونږ به د شپې حمله کوو په دهٔ | او په کور والو دهٔ باندې | بیا به | خامخا مونږ وایو

چه ټول د الله په نوم قسمونه اوخورئ چه مونږ به په صالحؑ او دهغه په کور والو د شپې حمله کوو او بیا به دهٔ

لِوَلِيِّهِ مَا شَهِدْنَا مَهْلِكَ أَهْلِهِ وَإِنَّا لَصَادِقُونَ ﴿٤٩﴾

وارث دهٔ ته | چه مونږ نه یو حاضر شوی | په وخت دوژلو | د کورنۍ د دهٔ نه | او بیشکه مونږ | خامخا یو رشتیني

وارث ته وایو چه مونږ خو دهغه د کور والو د هلاکت په وخت کښې هم موجود هم نه وو او یقین وکړئ چه مونږ رشتیا وایو

وَمَكَرُوا مَكْرًا وَمَكَرْنَا مَكْرًا وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٥٠﴾

اودوی چل جوړ کړو | چل | او مونږ هم تدبیر جوړ کړو | تدبیر | او دوی | نه پوهیدل

اودوی مکرونه او حیلې جوړې کړې او مونږ هم تدبیرونه جوړ کړل د حفاظت د صالحؑ او د هلاکت د دوی او دوی نه پوهیدل

فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ مَكْرِهِمْ ۙ أَنَّا دَمَّرْنَاهُمْ

پس اوګوره | (چه) څنګه | شو | انجام | د چلونو د دوی | بیشکه | مونږ هلاک کړل دوی

نو اوس ته اوګوره چه دهغوی د چلونو او حیلو انجام څنګه شو؟ یقیناً مونږ هغوی او دهغوی

وَقَوْمَهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٥١﴾ فَتِلْكَ بُيُوتُهُمْ خَاوِيَةً بِمَا ظَلَمُوا ۗ

او قوم د دوی | ټول | پس دغه دي | کورونه د دوی | چه راپرېوتلي دي | په وجه | چه دوی ظلم کړے وو

ټول قوم تباه کړل نو (اوس) دغه دهغوی کورونه دي چه دهغوی د ظلم د وجې وران ویجاړ پراته دي

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿٥٢﴾ وَاَنْجَيْنَا الَّذِيْنَ

بیشکه | په دے کښې | خامخا نخښه ده | دپاره دهغه قوم | چه پوهیږی | او بچ کړل مونږ | هغه خلق

یقیناً په دے واقعه کښې دهغه خلقو دپاره دعبرت نخښه ده چه د پوهے نه کار اخلی او کومو خلقو چه

اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ﴿٥٣﴾ وَلُوْطًا اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖٓ

چه ایمان ئے راوړے وو | او هغوی | ایریدل (دالله نه) | او لوطؑ | کله چه | او وئیل هغه | قوم خپل ته

ایمان راوړے وو او تقوی ئے اختیار کړے وه هغوی مونږ بچ اوساتل او لوطؑ یاد کړه څه وخت چه هغه خپل قوم ته او وئیل

اَتَاْتُوْنَ الْفَاحِشَةَ وَاَنْتُمْ تُبْصِرُوْنَ ﴿٥٤﴾ اَئِنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ الرِّجَالَ

آیا تاسو راتلل کوئ | بے حیائی ته | او تاسو | ګورئ (یو بل ته) | آیا تاسو | خامخا راتلل کوئ | سړو ته

آیا تاسو د بے حیائی کار کوئ سره ددے چه یو بل وینئ ګورئ؟ آیا تاسو د خپلو ښځو په ځائے سړو سره

شَهْوَةً مِّنْ دُوْنِ النِّسَآءِ ؕ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُوْنَ ﴿٥٥﴾

په شهوت سره | تجاوز کولکی د ښځو نه | بلکه | تاسو | یو قوم ئے | چه د جهالت کار کوئ

بدفعلی کوئ (خپل شهوت پوره کوئ) حقیقت دادے چه تاسو داسے خلق ئے چه د جهالت کار کوئ۔

فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖٓ اِلَّآ اَنْ قَالُوْٓا اَخْرِجُوْٓا اٰلَ لُوْطٍ

پس نه وو | جواب | د قوم دهغهٔ | مګر | دا چه | هغوی او وئیل | او باسئ | کورنۍ د لوط

لو دهغه دقوم جواب ددی خبرے نه سوا بل څه نه وو چه یو بل ته ئے او وئیل چه دلوط کورنۍ د خپل کلی نه او باسئ (ځکه چه)

مِّنْ قَرْيَتِكُمْ ۚ اِنَّهُمْ اُنَاسٌ يَّتَطَهَّرُوْنَ ﴿٥٦﴾ فَاَنْجَيْنٰهُ وَاَهْلَهٗٓ

د کلی خپل نه | بیشکه دوی | داسے خلق دی | چه ځان پاک پاک کوی | پس نجات ورکړو مونږ هغه ته | او کورنۍ دهغهٔ ته

دوی ځانونه پاک پاک ښکاره کوی پس مونږ لوطؑ او دهغه کورنۍ بچ کړه سوا دهغه د ښځے نه چه د هغے باره کښې مونږ

اِلَّا امْرَاَتَهٗ قَدَّرْنٰهَا مِنَ الْغٰبِرِيْنَ ﴿٥٧﴾ وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ

سوا | د ښځے دهغهٔ نه | مقرر کړے وه مونږ هغه | په وروستو پاتے شوو کښې | او مونږ باران راوورولو | په هغوی باندے

فیصله کړے وه چه وروستو پاتے کیدونکو کښې به شامله وی او مونږ په هغوی باندے دیر نا اشنا باران اوورولو نو په

مَّطَرًا ۚ فَسَآءَ مَطَرُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿٥٨﴾ قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ وَسَلٰمٌ ع

(نا اشنا) باران | پس دیر بد وو | باران | د ډیره ورکړے شوو | او او وایه | (چه) حمد وله دی | الله لره | او سلامتیا ده

هغه خلقو دیر خراب باران اووروی شو چه دالله د عذاب نه ئے ډیرولی شوی وو اے نبیؐ! او وایه ټول تعریفونه دالله دپاره دی

عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى ؕ آٰللّٰهُ خَيْرٌ اَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿٥٩﴾

په بندګانو د هغهٔ | هغه کسان | چه غوره کړی ئے دی | آیا الله | غوره دے | یا هغه شرک | چه دوی شریکوی

او دهغه په هغه بندګانو سلامتیا وی چه هغه چولر کړی دی آیا الله تعالیٰ غوره دے که هغه شرک چه دوی ئے شریکوی؟

أَمَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَاَنْزَلَ لَكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ

یاهغه څوک | چه پیدا کړی شوی | آسمانونه | او زمکه | او را اورولی شوی | ستاسو دپاره | د آسمان نه

که هغه ذات (غوره) دے چه آسمانونه او زمکه ئے پیدا کړی دی او د آسمان نه ئے ستاسو دپاره

مَآءً ۚ فَاَنْۢبَتْنَا بِهٖ حَدَآئِقَ ذَاتَ بَهْجَةٍ ۚ مَا كَانَ لَكُمْ

اوبه | پس راز رغون کړی دی مونږ | په هغے سره | باغونه | تازګئ والا (ښائسته) | نه وو ممکن | تاسو لره

اوبه (باران) را ورولے دی، بیا مونږ د هغے اوبو په ذریعه ښائسته ښائسته باغونه راټوکولی دی، د هغے ونے راز رغونول

اَنْ تُنْۢبِتُوْا شَجَرَهَا ۗ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ۗ بَلْ هُمْ قَوْمٌ

دا چه راز رغون کړئ | ونے د هغے | آیا شته (بل) تصرف کوونکے | د الله سره | بلکه | دوی (دا سے) قوم دے

ستاسو په وس کښې نه وو نو آیا د الله سره بل څوک دد ے کارونو واکدار شته؟ نه بلکه دا خلق د حق نه اوړی

يَّعْدِلُوْنَ ۝۶۰ اَمَّنْ جَعَلَ الْاَرْضَ قَرَارًا وَّجَعَلَ خِلٰلَهَآ

چه اوړی (د حق نه) | یا هغه څوک | چه جوړه کړے شده | زمکه | ځای د قرار | او جوړ کړی شوی | په مینځ د هغے کښې

که هغه ذات غوره دے چه زمکه ئے (د انسانانو او ځناورو دپاره) د قرار ځای جوړ کړے دے او د هغے په مینځ کښې ئے نهرونه روان

اَنْهٰرًا وَّجَعَلَ لَهَا رَوَاسِيَ وَجَعَلَ بَيْنَ الْبَحْرَيْنِ حَاجِزًا ۗ

نهرونه | او جوړ کړی شوی | د هغے دپاره | غرونه | او پیدا کړے شده | په مینځ | د دوو دریابونو کښې | یوه پرده

کړی دی او د هغے د ټینګولو دپاره ئے غرونه پیدا کړی دی او د دوو دریابونو په مینځ کښې ئے یوه پرده (دیوال) پیدا کړے ده

ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ۗ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝۶۱ اَمَّنْ يُّجِيْبُ

آیا بل واکدار شته | د الله سره | بلکه | اکثر د دوی | نه پوهیږی | آیا هغه څوک | چه سوال قبلوی

آیا د الله سره بل تصرف کوونکے شته؟ نه، بلکه په دوی کښې اکثر خلق په حقیقت نه پوهیږی که هغه ذات غوره دے

الْمُضْطَرَّ اِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوْٓءَ وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَآءَ

د ډیر ناچاره | کله چه | دعا غواړی د هغه نه | او لرے کوی | تکلیف | او جوړوی تاسو | خلیفه ګان

چه د ناقلاره (ناچاره) بنده فریاد اوری کله چه ورته هغه بلنه (فریاد) کوی. او تکلیف (ئے) لرے کوی او په زمکه کښې تاسو

الْاَرْضِ ۗ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ۗ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ۝۶۲ اَمَّنْ

د زمکے | آیا شته بل واکدار | د الله سره | ډیر لږ | نصیحت قبلوئ تاسو | یا هغه څوک

خلیفه ګان جوړوی؟ آیا د الله سره بل څوک ... شته؟ نه بلکه ډیر لږ تاسو نصیحت قبلوئ

يَّهْدِيْكُمْ فِيْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَنْ يُّرْسِلُ الرِّيٰحَ

چه لار ښائی تاسو ته | په | تیارو | د اوچه | او دریاب کښې | او هغه څوک | چه رالیږی | هواګانے

که هغه ذات چه تاسو ته د وچے او دریاب په تیارو کښې لار ښائی او هغه ذات چه د خپل رحمت (باران) نه مخکښې زیری ور کوونکی

بُشْرًاۢ بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهٖ ۗ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ۗ تَعٰلَى اللّٰهُ

د زیری | مخکښې | د رحمت خپل نه | آیا شته بل څوک واکدار | د الله سره | ډیر اوچت دے | الله

هواګانے رالیږی آیا د الله سره بل څوک معبود شته؟ نه (هرګز نه) الله د هغه شرک نه ډیر اوچت دے

عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ۝ۭ اَمَّنْ يَّبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ

هغه څخه | چه دوی ئې شریکوي (د هغه سره) | یا هغه څوک | چه اول خل پیدا کوي | مخلوق | بیا به ئې | دوباره پیدا کوي

چه دا خلق ئې (ور سره) کوي که هغه ذات غوره دے چه مخلوق ئې په اول خل پیدا کړے دے او بیا به ئې دوباره (هم) پیدا کوي

وَمَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَاۗءِ وَالْاَرْضِ ۭ ءَاِلٰـهٌ مَّعَ اللّٰهِ ۭ

او هغه څوک | چه رزق درکوي تاسو ته | د آسمان | او د زمکے نه | آیا شته بل څوک وا کدار | الله سره

او هغه ذات چه د آسمان او د زمکے نه تاسو له رزق درکوي آیا د الله سره بل څوک واکدار شته؟

قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝ قُلْ لَّا يَعْلَمُ

او وایه | راوړئ | یقیني دلیل خپل | که چرے | یئ تاسو | رشتینی | او وایه | نه پوهیږي

اے نبي! ته ورته او وایه که تاسو رشتني یئ نو خپل دلیل پیش کړئ (اے نبي د ے خلقو ته) او وایه چه د الله نه سوا

مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ ۭ وَمَا يَشْعُرُوْنَ

هغه څوک | چه دي په آسمانونو | او په زمکه کښ | په غیبو باندے | سوا | د الله نه | او دوی نه پوهیږي

په آسمانونو او په زمکه کښ هیڅ څوک په غیبو نه پوهیږي او نه ورته دا پته شته چه

اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ ۝ بَلِ ادّٰرَكَ عِلْمُهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ ۣ بَلْ هُمْ

چه کله به | دوی راپاځولی شي | بلکه | ختم شوے دے | علم د دوی | د آخرت په باره کښ | بلکه | دوی دي

کله به دوی د قبرونو نه راپاځولی شي بلکه د آخرت په باره کښ د دے کافرانو نه د بعضے خلقو علم ختم شوے دے

فِيْ شَكٍّ مِّنْهَا ۣ بَلْ هُمْ مِّنْهَا عَمُوْنَ ۝ۧ وَقَالَ الَّذِيْنَ ع

په شک کښ | د هغے نه | بلکه | دوی | د هغے نه | ړانده دي | او وائي | هغه خلق

او بعضے د دوی نه د هغے په باره کښ په شک کښ پراته دي او بعضے د هغے نه ړانده شوي دي او کافران وائي

كَفَرُوْٓا ءَاِذَا كُنَّا تُرٰبًا وَّاٰبَاۗؤُنَآ اَىِٕنَّا لَمُخْرَجُوْنَ ۝

چه کفر ئې کړے دے | آیا کله چه | شو مونږ | خاورے | او پلاران زمونږ | (نو) آیا مونږ به | خامخا راویستل کیږو

چه کله مونږ او زمونږ پلار نیکه خاورے شو نو آیا مونږ به د قبرونو نه دوباره راویستل کیږو؟

لَقَدْ وُعِدْنَا هٰذَا نَحْنُ وَاٰبَاۗؤُنَا مِنْ قَبْلُ ۙ اِنْ هٰذَآ

یقینًا | وعده شوے وه | د دے | زمونږ سره | او زمونږ پلارانو سره | مخکښ د دے نه | نه دي | دا

دا یے وعدے خو د پخوا نه مونږ سره او زمونږ پلار نیکه (مشرانو) سره کیږي دا خو بس د پخوانو خلقو

اِلَّآ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ۝ قُلْ سِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا

مگر | قصے | د پخوانو خلقو | او وایه | او گرځئ | په زمکه کښ | نو اوگورئ

قصے دي چه رانقل کیږي (اے نبي! ته دوی ته) او وایه چه لږ په زمکه کښ اوگرځئ او اوگورئ چه

كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِيْنَ ۝ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُنْ

چه څنگه | شو | انجام | د مجرمانو | او ته مه غمژن کیږه | په دوی باندے | او مه کیږه

د مجرمانو څه انجام شو؟ او (اے نبي!) ته د دے کافرانو په حال غم مه کوه او ستا خلاف چه دوی د مرکې پیروئ له

فِیْ ضَیْقٍ مِّمَّا یَمْكُرُوْنَ ۝٧٠ وَیَقُوْلُوْنَ مَتٰی هٰذَا الْوَعْدُ

زړه تنګے | دهغه څه نه | چه دوی ئے تدبیر کوی | او وائی دوی | (چه) کله به وی | دا | وعده

(چالونه) کوی د هغے دوجے زړه مه تنګوه او دوی تاسو ته وائی چه که چرے تاسو رشتنی یئ

اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ ۝٧١ قُلْ عَسٰۤی اَنْ یَّكُوْنَ رَدِفَ لَكُمْ

که چرے | یئ تاسو | رشتینی | اووایه | یقینی ده | دا خبره چه شی | نژدے | تاسو ته

نو دا وعده به کله پوره کیږی؟ته ورته اووایه چه کیدے شی (څه بعیده نه ده) چه کوم عذاب تاسو دومره زر غواړئ

بَعْضُ الَّذِیْ تَسْتَعْجِلُوْنَ ۝٧٢ وَاِنَّ رَبَّكَ لَذُوْ فَضْلٍ

بعضے | هغه (عذاب) | چه تاسو ئے زر غواړئ | او بیشکه | رب ستا | خامخا د فضل والا دے

د هغے څه حصه تاسو ته بلکل نژدے راغلے وی او حقیقت دا دے چه ستا رب په خلقو باندے (په وروستو کولو د عذاب سره)

عَلَی النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا یَشْكُرُوْنَ ۝٧٣ وَاِنَّ رَبَّكَ

په خلقو باندے | لیکن | اکثر د دوی نه | شکر نه اوباسی | او بیشکه | رب ستا

فضل کونکے دے لیکن اکثر خلق شکر نه اوباسی او یقین اوکړه چه ستا رب هغه ټولے

لَیَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُوْرُهُمْ وَمَا یُعْلِنُوْنَ ۝٧٤ وَمَا

خامخا پوهیږی | په هغه څه | چه پټوی ئے | سینے د دوی | او په هغه څه | چه دوی ئے ښکاره کوی | او نیشته

خبرے پیژنی چه د دوی په سینو کښی پټے پرتے دی او هغه څه (هم پیژنی) چه دوی ئے ښکاره کوی

مِنْ غَآىِٕبَةٍ فِی السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ اِلَّا فِیْ كِتٰبٍ مُّبِیْنٍ ۝٧٥

هیڅ یو پټ څیز | په آسمان | او په زمکه کښی | مګر | (هغه دے) په کتاب | روښانه کښی

او په آسمان او زمکه کښی داسے هیڅ یو پټ څیز نشته چه هغه په لوح محفوظ کښی درج شوی نه وی

اِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ یَقُصُّ عَلٰی بَنِیْۤ اِسْرَآءِیْلَ اَكْثَرَ الَّذِیْ

بیشکه | دا | قرآن | بیانوی | په بنی اسرائیلو باندے | ډیرے | هغه خبرے

حقیقت دا دے چه دا قرآن بنی اسرائیلو ته هغه ډیرے خبرے واضح کوی چه

هُمْ فِیْهِ یَخْتَلِفُوْنَ ۝٧٦ وَاِنَّهٗ لَهُدًی وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِیْنَ ۝٧٧

چه دوی | په هغے کښی | اختلاف کوی | او بیشکه دا | خامخا هدایت | او رحمت دے | د مؤمنانو دپاره

هغوی پکښی اختلاف کوی، او یقیناً دا د مومنانو دپاره (د) هدایت او رحمت (کتاب) دے.

اِنَّ رَبَّكَ یَقْضِیْ بَیْنَهُمْ بِحُكْمِهٖ ۚ وَهُوَ الْعَزِیْزُ الْعَلِیْمُ ۝٧٨

بیشکه | رب ستا | فیصله به کوی | په مینځ د دوی کښی | په خپل حکم سره | او هغه دے | ډیر زورور (غالب) | ډیر پوهه

(او) یقیناً ستا رب به په خپل حکم (سره) د دوی تر مینځه فیصله اوکړی او هغه ډیر زورور او ډیر حکمت والا ذات دے.

فَتَوَكَّلْ عَلَی اللّٰهِ ؕ اِنَّكَ عَلَی الْحَقِّ الْمُبِیْنِ ۝٧٩ اِنَّكَ لَا تُسْمِعُ

نو ته توکل کوه | په الله باندے | بیشکه ته ئے | په حق | واضح باندے | بیشکه ته | نه شے اورولے

نو (اے نبی) ته په الله باندے توکل (بهروسه) کوه یقیناً ته په ښکاره حق باندے ئے ولاړ ئے (چه) ته کافرانو ته چه په شان د مړو دی

الْمَوْتٰى وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَآءَ اِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِيْنَ ﴿٨٠﴾

مړو ته | او ته نشې اوروولے | کڼرو ته | آواز (بلنه) | هرکله چه | هغوی او ګرځوي مخونه | شا کونکي

په نه اوریدلو کښې خپله خبره (دعوت) نشې اوروولے او نه ته کڼرو ته خپل آواز اوروولے شې خاص کر کله چه هغوی شا کړي او روان شي

وَمَآ اَنْتَ بِهٰدِي الْعُمْيِ عَنْ ضَلٰلَتِهِمْ ؕ اِنْ تُسْمِعُ اِلَّا

او نه ئې ته | لاره ښودونکے | ړندو ته | د ګمراهۍ د هغوی نه | ته (خو) نشې اوروولے | مګر

او نه ته ړانده خلق د ګمراهۍ نه سمے لارے ته راوستلے شې ته (خو) هم هغه چا ته خبره (دعوت) اوروولے شې

مَنْ يُّؤْمِنُ بِاٰيٰتِنَا فَهُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿٨١﴾ وَاِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ

هغه چا ته | چه ایمان راوړي | زمونږ په آیتونو | پس دوی | مسلمانان دي | او کله چه | پوره شي | خبره (فیصله)

چه زمونږ په آیتونو ایمان لري او بیا عمل کول ته غاړه کیښودونکي دي او کله چه په دوي باندے

عَلَيْهِمْ اَخْرَجْنَا لَهُمْ دَآبَّةً مِّنَ الْاَرْضِ تُكَلِّمُهُمْ ۙ

په دوی باندے | (نو) مونږ به راوباسو | د دوی د پاره | یو ښناور | د زمکے نه | چه خبرے به کوي دوی سره

د عذاب د پوره کیدو وخت راشي نو مونږ به د دوی د پاره د زمکے یو ښناور راوباسو چه دوی سره به د ټولو قبلیدو د ایمان خبرے کوي

اَنَّ النَّاسَ كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا لَا يُوْقِنُوْنَ ﴿٨٢﴾ وَيَوْمَ نَحْشُرُ

ځکه چه بیشکه | خلق | به وي | چه زمونږ په آیتونو | به یقین نه کوي | او په هغه ورځ | چه راجمع به کړو مونږ

د دے وجے نه چه خلق (به) زمونږ په آیتونو یقین نه لري او (هغه ورځ هیره نه کړئ) کله به چه مونږ د هر امت نه د هغه

مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ فَوْجًا مِّمَّنْ يُّكَذِّبُ بِاٰيٰتِنَا فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ ﴿٨٣﴾

د هر یو | امت نه | یو ډله | د هغه چا نه | چه دروغژن ګڼړي | آیتونه زمونږ | پس دوی به | ډلے ډلے کړے شي

خلقو یوه یوه ډله راجمع کړو چه زمونږ آیتونه ئے دروغ ګڼړل بیا به دوی په ډلو (صفونو) کښې تقسیم کړے شي

حَتّٰٓى اِذَا جَآءُوْ قَالَ اَكَذَّبْتُمْ بِاٰيٰتِيْ وَلَمْ تُحِيْطُوْا

تر دے | چه کله | راشي دوی | او به وائي (الله) | آیا دروغ ګڼړل تاسو | آیتونه زما | او (حال دا دے چه) احاطه نه وه کړے تاسو

تر دے چه کله دوی ټول راشي نو الله به ورته او وائي (چه) آیا تاسو زما آیتونه دروغ ګڼړل وو حالانکه تاسو په هغے ځان

بِهَا عِلْمًا اَمَّاذَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٨٤﴾ وَوَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ

په هغے باندے | په علم سره | یا لوڅه وو | چه تاسو به | کول؟ | او واقع به شي | فیصله | په دوی باندے

پوره پوهه کړے نه وو بلکه د دے نه علاوه تاسو نور څه (خراب) کارونه کول او د دوی د ظلم په وجه به په دوی باندے

بِمَا ظَلَمُوْا فَهُمْ لَا يَنْطِقُوْنَ ﴿٨٥﴾ اَلَمْ يَرَوْا اَنَّا جَعَلْنَا

ځکه چه | دوی ظلم کړے وو | پس دوی به | خبرے نشي کولے | آیا دوی نه ګوري | چه بیشکه | مونږ جوړه کړے ده

د عذاب فیصله پوره شي او دوی به خبرے هم نشي کولے آیا دوی دیته نه ګوري چه مونږ

الَّيْلَ لِيَسْكُنُوْا فِيْهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

شپه | چه دوی آرام اوکړي | په هغے کښې | او ورځ | روښانه | بیشکه | په دے کښې

شپه (تیارے والا) د دے د پاره پیدا کړے ده چه دوی په کښې آرام اوکړي، او ورځ مو روښانه کړے ده (چه دوی په کښې کسب اوکړي)

ع

لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٨٦﴾ وَيَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ فَفَزِعَ

خامخا نخښې دي | دپاره ددغه قوم | چه ایمان راوړي | او په هغه ورځ | چه پو کبه او وهلی شي | په شپېلۍ کښې | لو او به تړبږي

یقیناً په دے کښې ددغه چادپاره ډیرے نخښے د عبرت دي چه ایمان لري او په کومه ورځ چه شپېلۍ به پو ک وهلے شي

مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ اِلَّا مَنْ شَآءَ اللّٰهُ ؕ

هغه څوک | چه آسمانونو کښې دي | او هغه څوک | چه په زمکه کښې دي | سوا | د هغه چا نه | چه او غواړي | الله

نو د آسمانونو او زمکے ټول مخلوق به او یرېږي سوا د هغه چا نه چه الله ئے بچ کول غواړي

وَكُلٌّ اَتَوْهُ دٰخِرِيْنَ ﴿٨٧﴾ وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً

او هریو به | راشي الله ته | عاجزي کوونکي | او ته (به) وینے | غرونه | (چه) ګمان کوے ته په ځپے ځائے ولاړ دے | کلک په ځائي ولاړ

او ټول به الله ته عاجزه (ذلیله) راشي او (لن) ته غرونه وینے نو دا خیال کوے چه دا به خپل ځاي کلک ولاړ دي

وَّهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ ؕ صُنْعَ اللّٰهِ الَّذِيْٓ اَتْقَنَ

او هغه به | روان وي | په شان د روانېدو | د وریځو | کاریګري | د الله | هغه (الله) | چه هغه مضبوط کړے دے

خو په هغه ورځ د وریځو په شان روان وي، دا هر څه د هغه الله کاریګري ده چه هر یو څیز ئے

كُلَّ شَيْءٍ ؕ اِنَّهٗ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَفْعَلُوْنَ ﴿٨٨﴾ مَنْ جَآءَ

هر یو | څیز | بیشکه هغه | پوره خبر دے | په هغه څه | چه تاسو ئے کوئ | څوک چه | راشي

ډیر مضبوط جوړ کړے دے یقیناً هغه ستاسو د ټولو کارونو نه پوره خبر دے چا چه نیکي (کلمه د توحید) راوړه

بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ خَيْرٌ مِّنْهَا ۚ وَهُمْ مِّنْ فَزَعٍ يَّوْمَئِذٍ

د نیکۍ سره | نو د هغه دپاره | ډیره غوره بدله ده | د هغے نه | او دوي به | د | یرے | د دغه ورځے نه

نو هغه ته به د هغے په وجه ډیره ښه (غوره) بدله ملاؤ شي او دوي به د دغے ورځے د ډیرے نه په امن وي

اٰمِنُوْنَ ﴿٨٩﴾ وَمَنْ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ فَكُبَّتْ وُجُوْهُهُمْ فِي النَّارِ ؕ

په امن وي | او څوک چه | راشي | د ګناه سره | نو نسکور به او غورځولے شي | مخونه د هغوي | په اور کښې

او چا چه بدي (شرک او کفر) راوړو نو هغوي به په اور کښې پر مخے او غورځولے شي او ورته به او ویلے شي چه دا تاسو ته صرف

هَلْ تُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٩٠﴾ اِنَّمَآ اُمِرْتُ

تاسو ته (به) سزا نشي ورکولے | مګر | د هغه څه | چه تاسو به | کول | بیشکه | احکم کړے شوے دے ماته

د هغه عملونو سزا ملاویږي چه تاسو به کول (اے نبي! دے خلقو ته او وایه چه) ماته دا حکم شوے دے چه زه

اَنْ اَعْبُدَ رَبَّ هٰذِهِ الْبَلْدَةِ الَّذِيْ حَرَّمَهَا

چه عبادت او کړم | د رب | د دے | ښار | هغه (مالک) | چه عزت ئے ور کړے دے دې ته

د دے ښار د (هغه) رب (مالک) بندګي او کړم چه دے له ئے عزت ورکړے دے

وَلَهٗ كُلُّ شَيْءٍ ۫ وَّاُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ

او هم د هغه (په اختیار کښې) دے | هر یو څیز | او ماته حکم کړے شوے دے | چه زه شم

او هر یو څیز د هغه (په اختیار کښې) دے او ماته دا حکم (هم) شوے دے چه زه د په حکم منونکو خلقو کښې

مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ۝ وَاَنْ اَتْلُوَا الْقُرْاٰنَ ۚ فَمَنِ اهْتَدٰى

د مسلمانانو نه | او دا چه | زه لولم | قرآن لره | پس چاچه | هدايت اوموندلو

شامل اوسيږم او دا (حکم راته هم شوېدے) چه زه (د) قرآن لولم نو اوس کوم کس چه ليغه لار اختيار کړی

فَاِنَّمَا يَهْتَدِيْ لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ ضَلَّ فَقُلْ اِنَّمَآ

نو بيشکه | هغه هدايت اوموندلو | د خپل ځان دپاره | او څوک چه | گمراه شو | نو ته او وايه | (چه) بيشکه

نو هم د خپلے فائدے دپاره ئے اختيار روی او څوک چه گمراهي اختيار کړی نو ته او وايه زه خو بس (صرف)

اَنَا مِنَ الْمُنْذِرِيْنَ ۝ وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ سَيُرِيْكُمْ

زه خو يم | د يره ورکوونکو نه | او ته او وايه | (چه) ټول حمدونه | دالله دپاره دی | زر ده چه هغه به او ښائي تاسو ته

خلقو لره يره ورکوونکے يم او ته او وايه چه ټول حمدونه د الله دپاره دی هغه به ډير زر تاسو ته خپلے نخښے

اٰيٰتِهٖ فَتَعْرِفُوْنَهَا ؕ وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ۝

خپلے نخښے | بيا تاسو به اوپيژنئ هغے لره | او نه دے ستا رب | بے خبره | د هغه څه نه | چه تاسو ئے کوئ

(نو ئے د عذاب) او ښائي او تاسو به ئے اوپيژنئ، او ستا رب ستاسو د عملونو نه بے خبره نه دے.

آياتها [۸۸]	سورة القصص مكّيّة	ركوعاتها [۹]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډير مهربان | زيات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

طٰسٓمّٓ ۝ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ۝ نَتْلُوْا عَلَيْكَ مِنْ نَّبَاِ

طسم | دا دی | آيتونه | د کتاب | واضحه | موږ لولو | تا ته | څه خبر (حال)

طاسين ميم: دا د هغه کتاب آيتونه دی چه حق او باطل واضحه کوی (اے نبیؐ!) موږ د مومنانو د فائدے دپاره

مُوْسٰى وَفِرْعَوْنَ بِالْحَقِّ لِقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ۝ اِنَّ فِرْعَوْنَ

د موسیٰ | او د فرعون | په حقه | دپاره د هغه قوم | چه ايمان راوړی | بيشکه | فرعون

تا ته د موسیٰ او د فرعون بعضے رښتيني حالات بيانوو۔ حقيقت دا دے چه فرعون په زمکه کښ

عَلَا فِي الْاَرْضِ وَجَعَلَ اَهْلَهَا شِيَعًا يَّسْتَضْعِفُ

لوئي کړے وه | په زمکه کښ | او جوړ کړی ئے وو اوسيدونکی (خلق) د هغے | ډلے ډلے | (چه) کمزورے کوله ئے

ډيره سرکشي اختيار کړے وه او د هغے (ملک) اسيدونکی خلق ئے په مختلفو ډلو کښ تقسيم کړی وو چه

طَآئِفَةً مِّنْهُمْ يُذَبِّحُ اَبْنَآءَهُمْ وَيَسْتَحْيٖ نِسَآءَهُمْ ؕ

يوه ډله | د هغوی نه | ذبح کول به ئے | ځامن د هغوی | او ژوندی به ئے پريښودلے | زنانه (ښځے) د هغوی

په هغوی کښ ئے يوه ډله کمزورے کړے وه او د هغوی ځامن به ئے ذبح کول او جينکۍ به ئے ورله ژوندی پريښودلے

إِنَّهُ كَانَ مِنَ الْمُفْسِدِينَ ۝٤ وَنُرِيدُ أَنْ نَّمُنَّ عَلَى الَّذِينَ

پیشکه هغه | وو | د فساد کوونکو نه | او مونږ غوښتل | چه احسان اوکړو | په هغه خلقو باندې چې

یقیناً فرعون ډیر فساد خوروونکے وو او مونږ دا غوښتل چه کوم خلق په زمکه (مُلک) کښې کمزوری کړی شوی وو

اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ

چه کمزوری کړے شوی وو | په زمکه کښې | او جوړ کړو مونږ هغوی | امامان (مشران) | او جوړ کړو مونږ هغوی

په هغوی باندې احسان اوکړو او پیشوایان ئے جوړ کړو او هم هغوی د دے مُلک

الْوَارِثِينَ ۝٥ وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَنُرِيَ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ

وارثان | او طاقت ور کړو مونږ | هغوی ته | په زمکه کښې | او اوښایو | فرعون | او هامان ته

وارثان جوړ کړو او هغوی له په زمکه کښې اقتدار (مضبوطیا) ورکړو او فرعون، هامان

وَجُنُودَهُمَا مِنْهُمْ مَا كَانُوا يَحْذَرُونَ ۝٦ وَأَوْحَيْنَا

او لښکرو دَ دوی دواړو ته | د هغوی (دلاس) نه | هغه څه | چه دوی (په) ترے | یریدل | او مونږ الهام اوکړو

او دَ دوی لښکرو ته دَ بنی اسرائیلو هغه څه اوښایو د څه نه چه دوی یریدل. او مونږ د موسیٰ

إِلَىٰ أُمِّ مُوسَىٰ أَنْ أَرْضِعِيهِ ۖ فَإِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ فَأَلْقِيهِ

مور د موسیٰ ته | چه ئے ورکړه ده ته | پس کله چه | ته اویرېږے | په ده باندې | نو او غورځوه ده لره

مور ته الهام اوکړو چه ته دے (ماشوم) له پئ ورکوه بیا چه کله ته د ده په باره کښې خطره محسوس کړے نو دریاب ته ئے

فِي الْيَمِّ وَلَا تَخَافِي وَلَا تَحْزَنِي ۖ إِنَّا رَادُّوهُ إِلَيْكِ

په دریاب کښې | او مه یرېږه | او مهٔ غم کوه | بیشکه مونږ | واپس راوستونکی یو ده لره | تا ته

اوغورځوه او ددهٔ د هلاکت په باره کښې یرېږه مهٔ او ددهٔ په جدائی غمژنه کیږه هم مهٔ، یقین اوساته چه مونږ به تا ته دے

وَجَاعِلُوهُ مِنَ الْمُرْسَلِينَ ۝٧ فَالْتَقَطَهُ آلُ فِرْعَوْنَ لِيَكُونَ

او جوړونکی یو ده لره | د پیغمبرانو نه | نو را اوچت کړو ده لره | د فرعون د کور خلقو | چه شی هغه

واپس رارسوو او خپلو پیغمبرانو کښې به ئے شاملوو. نو د فرعون خلقو هغه ماشوم (موسیٰ) را اوچت کړو چه نتیجه ئے دا شی

لَهُمْ عَدُوًّا وَحَزَنًا ۗ إِنَّ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَجُنُودَهُمَا كَانُوا

د هغوی دپاره | دشمن | او غم | بیشکه | فرعون | او هامان | او د هغوی لښکرے | وو

چه هغه د دوی دپاره دشمن او د غم ذریعه جوړه شی، یقیناً فرعون هامان او د هغوی دواړو لښکرے

خَاطِئِينَ ۝٨ وَقَالَتِ امْرَأَتُ فِرْعَوْنَ قُرَّتُ عَيْنٍ لِّي وَلَكَ ۖ

خطا کار (گناهگار) | او اوویل | ښځے | د فرعون | (دا) یخوالے | د سترګو | زما | او ستا دے

ډیر خطاکار وو. او د فرعون ښځے (فرعون ته) اوویل چه دا ماشوم زما او ستا د سترګو یخوالے دے

لَا تَقْتُلُوهُ عَسَىٰ أَنْ يَنْفَعَنَا أَوْ نَتَّخِذَهُ وَلَدًا وَهُمْ

مه وژنه ده لره | کیدے شی | چه دا به فائده را کړی مونږ ته | یا به جوړ کړو مونږ ده لره | (خپل) ځوئے | او دوی

(لو) دا مه وژنه کیدے شی چه دے به مونږ ته فائده را کړی یا به ئے خپل ځوئے (جوړ) کړو او دوی ته

لَا يَشْعُرُونَ ﴿٩﴾ وَأَصْبَحَ فُؤَادُ أُمِّ مُوسَىٰ فَارِغًا ۖ إِن كَادَتْ

نه پوهیدل | او شو | زړه | د مور | د موسیٰ | اوزګار د هرڅه نه | بیشکه | نژدې وه هغه

دا انجام پته نه وه. او د موسیٰ د مور زړهٔ بې قراره شو نژدې وه چه ټول راز ئې

لَتُبْدِي بِهِ لَوْلَا أَن رَّبَطْنَا عَلَىٰ قَلْبِهَا لِتَكُونَ

چه ښکاره کړی | (حال د) هغه | که چرې مونږ نه وې تړلې (قلت د صبر) | په زړهٔ د هغې | د دې دپاره چه شی هغه

ښکاره کړې وې که چرې مونږ د هغې زړه مضبوط کړې نه وې. د دې دپاره چه هغه زمونږ په وعده

مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٠﴾ وَقَالَتْ لِأُخْتِهِ قُصِّيهِ ۖ فَبَصُرَتْ بِهِ

د مومنانو نه | او اوویل هغې | خور د هغهٔ ته | اته رواله شه د ده پسې | لو کتل هغې | ده ته

کلک یقین وساتی او هغې د موسیٰ خور ته اوویل چه ته ورپسې (ورستو ورستو) ځه نو هغې موسیٰ ته د لرې نه

عَن جُنُبٍ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿١١﴾ وَحَرَّمْنَا عَلَيْهِ الْمَرَاضِعَ

د لرې نه | او هغوی | نه پوهیدل | او حرام کړی وو مونږ | په ده باندې | تئ ورکونکې (دایه ګانې)

(پټ پټ) داسې کتل چه هغوی ته پته نه لګیده او مونږ د مخکښې نه په موسیٰ باندې د دایه ګانو تئ بند کړی وو

مِن قَبْلُ فَقَالَتْ هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ أَهْلِ بَيْتٍ

مخکښې د دې نه | نو اوویل هغې (خور د موسیٰ) | آیا | زه اوښایم تاسو ته | یو کور والا

نو (ځکه خو) (د موسیٰ) خور اوویل چه آیا زه تاسو ته داسې یو کورنۍ اوښایم چه ستاسو دپاره به ستاسو د دې ماشوم

يَكْفُلُونَهُ لَكُمْ وَهُمْ لَهُ نَاصِحُونَ ﴿١٢﴾ فَرَدَدْنَاهُ إِلَىٰ أُمِّهِ

چه پالنه او کړی د دهٔ | ستاسو دپاره | او هغوی به | د ده | خیر خواهان (هم) وی | اپس مونږ واپس کړو دهٔ لره | خپلې مور ته

پرورش اوکړی او هغوی به د ده خیر خواهان (هم) وی؟ نو په (دې طریقه) مونږ موسیٰ خپلې مور ته واپس راوستلو

كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ وَلِتَعْلَمَ أَنَّ وَعْدَ اللَّهِ

دپاره د دې | چه یخې شی | سترګې د هغې | او غم اونکړی | او چه پوهه شی | (په دې) چه بیشکه | وعده | د الله

چه د هغې سترګې یخې شی او غمژنه نه شی او ورته ښه پته اولګی چه د الله تعالیٰ وعده

حَقٌّ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٣﴾ وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ ع

رشتینې ده | لیکن | اکثر د دوی نه | نه پوهیږی | او هر کله | چه اورسید و هغه | ځوانۍ خپلې ته

رشتینې ده خو اکثر خلق (په حُسن عاقبت دَ صبر) نه پوهیږی. او کله چه موسیٰ ځوانۍ ته اورسید و

وَاسْتَوَىٰ آتَيْنَاهُ حُكْمًا وَعِلْمًا ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي

او برابر شو | نو مونږ ورکړو هغهٔ ته | حکمت | او علم | او دغه شان | مونږ بدله ورکوو

او پوره ځوان (ښه تکړه) شو نو مونږ ورله په امورو د دنیا او آخرت باندې پوهه ورکړو او نیکانو خلقو ته مونږ هم دغه شان

الْمُحْسِنِينَ ﴿١٤﴾ وَدَخَلَ الْمَدِينَةَ عَلَىٰ حِينِ غَفْلَةٍ مِّنْ أَهْلِهَا

نیکی کونکو ته | او داخل شو هغه | ښار ته | په وخت | د غفلت کښې | د اوسیدونکو د هغې

بدله (صله) ورکوو. او (یوه ورځ) موسیٰ ښار ته په داسې وخت کښې داخل شو چه د هغې خلق په غفلت کښې وو

فَوَجَدَ فِيهَا رَجُلَيْنِ يَقْتَتِلَانِ ۖ هَٰذَا مِنْ شِيعَتِهِ وَهَٰذَا

نو وے موندل | په هغې کښې | دوه سړي | چه یو بل سره ئې جنګ کولو | دا یو | د دهٔ د ډلے نه وو | او دا (بل)

لو هلته ئے دوه کسان په خپلو کښې په جنګ اولیدل (چه) یو خو د موسیٰ د قوم نه وو او بل

مِنْ عَدُوِّهِ ۖ فَاسْتَغَاثَهُ الَّذِي مِنْ شِيعَتِهِ عَلَى الَّذِي

د دهٔ د دشمن د ډلے نه وو | پس مدد اوغوښتلو د دهٔ نه | هغه کس | چه د دهٔ د ډلے نه وو | په مقابله د هغه کس کښې

د هغه د دشمن د قوم نه وو، نو کوم کس چه د دهٔ د قوم نه وو هغه د دشمن د قوم د کس په مقابله کښې

مِنْ عَدُوِّهِ ۖ فَوَكَزَهُ مُوسَىٰ فَقَضَىٰ عَلَيْهِ ۖ قَالَ هَٰذَا

چه د دهٔ د دشمن د ډلے نه وو | پس سوک ور کړو هغه ته | موسیٰ | نو کار ئے تمام کړو | د هغه | او وئیل (موسیٰ) | دا (خو)

د موسیٰ نه مدد اوغوښتلو، نو موسیٰ ورله یو سوک ور کړو او د هغه کار ئے پوره (تمام) کړو موسیٰ او وئیل دا خو

مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ ۖ إِنَّهُ عَدُوٌّ مُضِلٌّ مُبِينٌ ﴿١٥﴾ قَالَ رَبِّ

عمل | د شیطان وو | بیشکه هغه | دشمن دے | ګمراه کونکے | ښکاره | او وئیل (دهٔ) | اے ربه زما

یو شیطانی کار وو، یقیناً شیطان ښکاره دشمن دے چه خلق بے (لارے کوی). موسیٰ او وئیل اے زما ربه!

إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي فَاغْفِرْ لِي فَغَفَرَ لَهُ ۚ إِنَّهُ هُوَ

بیشکه ما | ظلم او کړو | په ځان خپل | نو ته بخښنه او کړه | ما ته | نو بخښنه او کړه (الله) | دهٔ ته | بیشکه هم هغه دے

ما (خو) په ځان زیاتے او کړو خو ته را ته معافی او کړه نو الله ورته معافی او کړه یقیناً هغه (الله)

الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ﴿١٦﴾ قَالَ رَبِّ بِمَا أَنْعَمْتَ عَلَيَّ

ډیر بخښونکے | ډیر رحم کونکے | او وئیل (هغه) | اے زما ربه | په دے وجه | چه تا انعام کړے دے | په ما باندے

ډیر بخښونکے مهربان دے. موسیٰ او وئیل اے زما ربه! تا چه په ما باندے کوم احسان کړے دے

فَلَنْ أَكُونَ ظَهِيرًا لِلْمُجْرِمِينَ ﴿١٧﴾ فَأَصْبَحَ فِي الْمَدِينَةِ

(نو) زهٔ به هیڅ کله نشم | مددګار | د مجرمانو | پس صبا کړو هغه | په ښار کښې

نو زهٔ به (آئنده) هم هیچرے د مجرمانو مددګار جوړ نشم. الغرض موسیٰ چه کله صبا کړو په ښار کښې

خَائِفًا يَتَرَقَّبُ فَإِذَا الَّذِي اسْتَنْصَرَهُ بِالْأَمْسِ

یریدونکے | انتظار ئے کولو | پس ناګهانه | هغه کس | چه مدد ئے غوښتلے وو د دهٔ نه | پرون

نو یریدلو او انتظار ئے کولو چه څه (چل) به کیږی په دے کښې هم هغه کس چه پرون ئے د دهٔ نه مدد غوښتلے وو

يَسْتَصْرِخُهُ ۚ قَالَ لَهُ مُوسَىٰ إِنَّكَ لَغَوِيٌّ مُبِينٌ ﴿١٨﴾ فَلَمَّا

چغے ئے وهلے دهٔ ته | او وئیل | هغهٔ ته | موسیٰ | بیشکه ته ئے | خامخا سرکش | ښکاره | پس هر کله

هغه ورته (ئن بیا) د مدد دپاره چغے وهلے موسیٰ هغهٔ ته او وئیل چه (معلومه شوه چه) ته ښکاره بے لارے (شرارتی) ئے

أَنْ أَرَادَ أَنْ يَبْطِشَ بِالَّذِي هُوَ عَدُوٌّ لَهُمَا ۙ قَالَ

چه دهٔ اراده او کړه | چه راونیسی | هغه کس | چه هغه | دشمن وو | د دے دواړو | نو او وئیل (هغه)

بیا چه کله موسیٰ د هغه قبطی کس د را نیولو اراده او کړه کوم چه د دے دواړو دشمن وو نو هغه (اسرائیلی) او وئیل

يٰمُوْسٰٓى اَتُرِيْدُ اَنْ تَقْتُلَنِيْ كَمَا قَتَلْتَ نَفْسًا بِالْاَمْسِ ۖ

اے موسیٰ | آیا ته غواړے | چه اووژنے ما | لکه چه | تا ووژلے دے | یو کس | پرون

اے موسیٰ! ته ما هم هغه شان وژل غواړے څنګه چه دے پرون یو کس وژلے وو

اِنْ تُرِيْدُ اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ جَبَّارًا فِى الْاَرْضِ وَمَا تُرِيْدُ

ته (خو) نه غواړے | مګر | دا چه | شے ته | زور ور | په زمکه کښ | او ته نه غواړے

ته هم دا غواړے چه په زمکه (ملک) کښ ستا رعب جوړ شی

اَنْ تَكُوْنَ مِنَ الْمُصْلِحِيْنَ ۝ وَجَآءَ رَجُلٌ مِّنْ اَقْصَا

چه ته شے | د | اصلاح کونکو نه | او راغے | یو سړے | د لرے طرف

او اصلاح (روغه) کول نه غواړے ، او د ښار د لرے طرف نه یو کس

الْمَدِيْنَةِ يَسْعٰى ۡ قَالَ يٰمُوْسٰٓى اِنَّ الْمَلَاَ يَاْتَمِرُوْنَ

د ښار نه | چه منډه یے وهله | وے ویل | اے موسیٰ | بیشکه! سرداران | مشورے کوی

په منډه منډه راغے (او موسیٰ ته ئے) او ویل چه اے موسیٰ! د ښار سرداران ستا په باره کښ مشورے کوی

بِكَ لِيَقْتُلُوْكَ فَاخْرُجْ اِنِّىْ لَكَ مِنَ النّٰصِحِيْنَ ۝ فَخَرَجَ

ستا خلاف | چه اووژنی تا | نو ته اوځه | بیشکه زه | ستا | د خیر خواهانو نه یم | پس اووتلو هغه

چه تا اووژنی، نو د دے ځائے نه اوځه، او یقین اوکړه چه زه ستا خیر خواه یم۔ نو (بس) موسیٰ

مِنْهَا خَآئِفًا يَّتَرَقَّبُ ۡ قَالَ رَبِّ نَجِّنِىْ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ۝ ع

د هغه (ښار) نه | یریدونکے | انتظار ئے کولو | وے ویل | اے زما ربه | ما بچ کړه | د | قوم | ظالمانو نه

په یره یره د هغے ځائے نه اووتلو چه او ګوری چه څه کیږی وئے ویل اے زما ربه! ما د ظالمانو خلقو نه بچ کړه

وَلَمَّا تَوَجَّهَ تِلْقَآءَ مَدْيَنَ قَالَ عَسٰى رَبِّىْٓ اَنْ يَّهْدِيَنِىْ

او هر کله | چه هغه مخ کړو | طرف | د مدین ته | وے ویل | نزدے ده | چه رب زما به | او ښائی | ما ته

او هر کله چه د مدین په اړخ روان شو نو وئے ویل چه زما پوره امید دے چه زما رب به ما ته

سَوَآءَ السَّبِيْلِ ۝ وَلَمَّا وَرَدَ مَآءَ مَدْيَنَ وَجَدَ عَلَيْهِ اُمَّةً

نیغه | لار | او هر کله | چه اورسیدو | او بو | د مدین ته | (نو) تر ګوتو شوله | په هغے باندے | یوه ډله

سمه لار او ښائی او کله چه د مدین د کوهی (او بو) غاړے ته اورسید، نو هلته ئے د خلقو یوه ډله او لیدله

مِّنَ النَّاسِ يَسْقُوْنَ ۟ۥ وَوَجَدَ مِنْ دُوْنِهِمُ امْرَاَتَيْنِ

د | خلقو نه | چه او به ئے ورکولے خپلو څارووته | او ده او موندلے | جدا د هغوی نه | دوه ښځے

چه خپل څاروی خړوبوی او د هغوی نه یو طرف ته ئے یو دوه زنانه او لیدلے چه خپل څاروی

تَذُوْدٰنِ ۚ قَالَ مَا خَطْبُكُمَا ؕ قَالَتَا لَا نَسْقِىْ

چه منع کول ئے (خپل څاروی) | او ویل ده | څه حال دے ستاسو دواړو | هغوی دواړو او ویل | (چه) او به نه ورکوو مونږ خپلو څارووته

رامنع کوی، موسیٰ تر ے تپوس او کړو چه تاسو څه غواړئ؟ هغے دواړو ورته او ویل چه مونږ خپل څاروی تر هغه وخته پورے

حَتّٰى يُصْدِرَ الرِّعَآءُ ٚ وَاَبُوْنَا شَيْخٌ كَبِيْرٌ ۝٢٣ فَسَقٰى

تر دے | چه واپس کړی | داشپونکی (خپل شاروی) | او پلار زمونږ | بوډا دے | ډیر زیات | نو اوبه ئے کړل شاروی

څروبولے نه شو ترڅو پورے چه دا ټول شپونکی خپل شاروی واپس بوته نه څی، او زمونږ پلار ډیر زیات بوډا دے

لَهُمَا ثُمَّ تَوَلّٰۤى اِلَى الظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ اِنِّىْ لِمَاۤ

دے دواړو لره | بیا | لاړو | سوری ته | نو وئے ویل | اے زما ربه! | بیشکه زه | هغه شی ته

نو موسٰیؑ د هغوی شاروی څروب کړل بیا یو سوری طرف ته لاړو او وئے ویل اے زما ربه اته چه کوم خیر

اَنْزَلْتَ اِلَىَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيْرٌ ۝٢٤ فَجَآءَتْهُ اِحْدٰىهُمَا تَمْشِىْ

چه تا نازل کړے | ما ته | د خوراک نه | محتاج یم | پس راغله ده له سے | یوه زنانه د هغے دواړو نه | چه راتله

په ما باندے را نازلوے زه هغے ته محتاج یم (لږ ساعت پس) په هغه دواړو زنانو کښې یوه زنانه د موسٰیؑ خوا له

عَلَى اسْتِحْيَآءٍ ۡ قَالَتْ اِنَّ اَبِىْ يَدْعُوْكَ لِيَجْزِيَكَ اَجْرَ

کلکه په حیاء باندے | وئے ویل | بیشکه | زما پلار | راغواړی تا | چه درکړی تا ته | مزدوری (بدله)

ډیره په شرم او حیاء سره راغله (او ورته ئے) او ویل چه زما پلار دے غواړی چه تا ته د دے خیر دے اجرت درکړی

مَا سَقَيْتَ لَنَا ؕ فَلَمَّا جَآءَهٗ وَقَصَّ عَلَيْهِ الْقَصَصَ ۙ

د هغے | چه څروب کړی دی تا (شاروی) زمونږ (دپاره) | پس هر کله | چه حضرت راغے هغه ته | او بیان ئے کړه | هغه ته | قصه پوره

چه تا زمونږ شاروی څروب کړی دی نو کله چه موسٰیؑ د هغه خواله اورسید او ټوله قصه ئے ورته بیان کړه

قَالَ لَا تَخَفْ ٚ نَجَوْتَ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ۝٢٥ قَالَتْ

او ویل هغه | مه یریږه | ته بچ شوے | د | قوم | ظالمانو نه | او ویل

نو هغه ورته او ویل چه یریږه مه. ته د ظالمانو خلقو نه بچ شوے هغه دواړو زنانو کښې

اِحْدٰىهُمَا يٰۤاَبَتِ اسْتَاْجِرْهُ ۡ اِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَاْجَرْتَ

یوے د هغے دواړو نه | اے پلاره زما | په مزدورئ اونیسه دا لره | بیشکه | ډیر به | د هغه چا نه | چه ته ئے په مزدورئ نیسے

یوے او ویل (چه) اے پلاره اته دا کس په اُجرت اوساته، یقیناً ته چه په اجرت د چا نه کار اخلے نو د هغے دپاره

الْقَوِىُّ الْاَمِيْنُ ۝٢٦ قَالَ اِنِّىْۤ اُرِيْدُ اَنْ اُنْكِحَكَ اِحْدَى

دا طاقتور | امانتدار دے | او ویل هغهٔ | بیشکه | زه غواړم | چه په نکاح درکړم تا ته | یوه

بهترین کس هم دا دے چه طاقتور او امانتدار دے هغه (پلار ئے) او ویل زه دا غواړم چه خپلو دے دواړو لونړو کښې

ابْنَتَىَّ هٰتَيْنِ عَلٰۤى اَنْ تَاْجُرَنِىْ ثَمٰنِىَ حِجَجٍ ۚ فَاِنْ

زما د دے دوو لونړو نه | په دے (شرط) | چه ته به مزدوری کوے عزما سره | اته | کاله | پس که چرے

دیوے تا سره نکاح او کړم خو په دے شرط چه ته به زما سره اَتهٔ کاله په اجرت باندے کار کوے بیا که تا

اَتْمَمْتَ عَشْرًا فَمِنْ عِنْدِكَ ۚ وَمَاۤ اُرِيْدُ اَنْ اَشُقَّ عَلَيْكَ ؕ

تا پوره کړل | لس (کاله) | نو هغه به ستا د طرف نه (احسان) وی | او زه نه غواړم | چه سختی او کړم | په تا باندے

لس (کاله) پوره کړل نو هغه به ستا د طرف نه احسان وی، او زه تا په تکلیف کښې اچول نه غواړم.

سَتَجِدُنِيْٓ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ٢٧ قَالَ ذٰلِكَ

زر دے چہ تہ بہ مومے ما | کہ چیرے | اوغواړی | الله | د نیکانو نه | اوویل (هغه) | دا (وعده) شوه

ته به ان شاء الله ما (په معامله کښ) ډیر ښه بیا مومې. موسیٰ ورته اوویل دا خبره

بَيْنِيْ وَبَيْنَكَ ؕ اَيَّمَا الْاَجَلَيْنِ قَضَيْتُ فَلَا عُدْوَانَ

په مینځ زما کښ | او په مینځ ستا کښ | هر یو | د دواړو مودو نه | چه پوره کړه ما | نو نه به وی څه زیاتے کول

زما او ستا تر مینځه فیصله شوه. په دواړو مودو کښ چه هره یوه ما پوره کړه نو په ما به څه زیاتے (جبر) نه کیږی

عَلَيَّ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى مَا نَقُوْلُ وَكِيْلٌ ٢٨ ع فَلَمَّا قَضٰى مُوْسَى

په ما باندے | او الله | په هغه څه | چه مونږ ئے وایو | گواه دے | پس هر کله | چه پوره کړه | موسیٰ

او مونږ چه څه وایو الله په هغے گواه دے. بیا چه کله موسیٰ هغه موده پوره کړه

الْاَجَلَ وَسَارَ بِاَهْلِهٖٓ اٰنَسَ مِنْ جَانِبِ الطُّوْرِ نَارًا ۚ

نیټه (موده) | او روانه ئے کړه | کورنۍ خپله | نو ده اولیدو | د طرفه | د طور نه | یو اور

او خپل کور والا ئے روان کړل نو د کوه طور د طرف نه ئے یو اور اولیدو

قَالَ لِاَهْلِهِ امْكُثُوْٓا اِنِّيْٓ اٰنَسْتُ نَارًا لَّعَلِّيْٓ اٰتِيْكُمْ

اوویل ده | خپل کور والا ته | ایسار شئ تاسو | بیشکه | ما اولیدو | اور | کیدے شی چه زه | راوړم تاسو ته

(نو) خپل کور والا ته ئے اوویل تاسو (دلته) ایسار شئ. ما اور اولیدو کیدے شی چه زه د هغے نه تاسو ته

مِّنْهَا بِخَبَرٍ اَوْ جَذْوَةٍ مِّنَ النَّارِ لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُوْنَ ٢٩ فَلَمَّآ

د هغے نه | څه خبر | یا یو سکروټه | د اور نه | چه تاسو (ورته) | ځان گرم کړئ | پس هر کله

څه خبر (ډلا رے) راوړم یا د اور یوه سکروټه (راوړم) دے دپاره چه تاسو ورته ځان تود کړئ پس کله چه هغه

اَتٰىهَا نُوْدِيَ مِنْ شَاطِئِ الْوَادِ الْاَيْمَنِ فِي الْبُقْعَةِ

چه دے راغلے ته | آواز ورته اوکړے شو | د غاړے | د میدان | ښی طرف نه | په ځای (زمکه)

د هغے اور خواته راغے نو د هغه میدان د ښی طرف نه په هغه مبارک ځای کښ ورته

الْمُبٰرَكَةِ مِنَ الشَّجَرَةِ اَنْ يّٰمُوْسٰٓى اِنِّيْٓ اَنَا اللّٰهُ رَبُّ

برکتی کښ | د ونے نه | چه اے موسیٰ | بیشکه | هم زهٔ | الله یم | رب

د یوے ونے نه آواز اوشو چه اے موسیٰ! یقیناً هم زه الله یم چه د ټول مخلوق

الْعٰلَمِيْنَ ۙ ٣٠ وَاَنْ اَلْقِ عَصَاكَ ؕ فَلَمَّا رَاٰهَا تَهْتَزُّ كَاَنَّهَا

د مخلوقاتو | او (دا چه) | ته اوغورځوه | امسا خپله | پس چه ده اولیده هغه | چه خوځیږی | لکه چه هغه

پالنه کونکے یم او (دا چه) خپله امسا اوغورځوه نو کله چه هغه ولیده چه امسا داسے حرکت کوی

جَآنٌّ وَّلّٰى مُدْبِرًا وَّلَمْ يُعَقِّبْ ؕ يٰمُوْسٰٓى اَقْبِلْ وَلَا تَخَفْ ۟

یو مار دے | (نو) واپس شو | شا کونکے | او په شا ئے نه کتل | اے موسیٰ! | را مخکښ شه | او مه یریږه

لکه نرے مار، نو په شا ئے منډه کړه او په وروستو ئے نه کتل (آواز ورته اوشو چه) اے موسیٰ مخ کړه او یریږه مهٔ

اِنَّكَ مِنَ الْاٰمِنِيْنَ ۝٣١ اُسْلُكْ يَدَكَ فِيْ جَيْبِكَ تَخْرُجْ

بیشکه ته ئے | د امن والو نه | دننه کره | لاس خپل | په گریوان خپل کښې | را وبه وځی هغه

ته بلکل په امن ئے (او) خپل لاس په خپل گریوان کښې ورننباسه (نو) د څه بیمارئ (عیب) نه بغیر به

بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوْٓءٍ ۗ وَّاضْمُمْ اِلَيْكَ جَنَاحَكَ مِنَ الرَّهْبِ

تک سپین | بغیر د څه عیب نه | او جوخت کره | ځان پورے | مټ خپل | د ډیرے (هیبت) نه

سپین ځلنده (پړقیدونکے) راوځی، او ډیرے لړے کولو دپاره خپل مټ د ځان سره یو ځای کړه

فَذٰنِكَ بُرْهَانٰنِ مِنْ رَّبِّكَ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ ۭ اِنَّهُمْ

پس دا دواړه | دلیلونه دی | ستا د رب د طرف نه | فرعون ته | او سردارانو د هغهٔ ته | بیشکه دوی

دا ستا د رب د طرف نه فرعون او د هغه سردارانو ته دوه معجزے دی، یقیناً دوی

كَانُوْا قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ۝٣٢ قَالَ رَبِّ اِنِّيْ قَتَلْتُ مِنْهُمْ نَفْسًا

وو | قوم | نافرمانه | او ویل (هغه) | اے زما ربه | بیشکه | ما وژلے دے | د دوی نه | یو کس

ډیر نافرمانه خلق دی، موسیٰ او ویل اے زما ربه! ما (خو) د هغوی نه یو کس وژلے دے

فَاَخَافُ اَنْ يَّقْتُلُوْنِ ۝٣٣ وَاَخِيْ هٰرُوْنُ هُوَ اَفْصَحُ مِنِّيْ

نو زه یریږم | چه دوی به او وژنی ما | او وروړ زما | هارونؑ | هغه | ډیر فصیح دے | زما نه

(نو) ما سره یره ده چه هغوی به ما قتل کړی. او زما ورور هارونؑ زما نه زیات فصیح دے

لِسَانًا فَاَرْسِلْهُ مَعِيَ رِدْاً يُّصَدِّقُنِيْٓ ۡ اِنِّيْٓ اَخَافُ

په ژبه کښې | نو ته او لیږه هغه | زما سره | مددگار | چه تصدیق اوکړی زما | بیشکه زه | یریږم

(نو) هغه (هم) د مددگار په طور زما سره اولیږه، چه زما تائید (تصدیق) کوی ما سره یره ده

اَنْ يُّكَذِّبُوْنِ ۝٣٤ قَالَ سَنَشُدُّ عَضُدَكَ بِاَخِيْكَ وَنَجْعَلُ

چه هغوی به ما دروغژن اوگنړی | او ویل (الله) | زر ده چه مونږ به مضبوط کړو | مټے ستا | په وروړ ستا سره | او مونږ به جوړ کړو

چه هغوی به ما دروغژن اوگنړی. الله ورته او فرمایل مونږ به ستا د ورور په ذریعه ستا مټے مضبوط کړو

لَكُمَا سُلْطٰنًا فَلَا يَصِلُوْنَ اِلَيْكُمَا ۚ بِاٰيٰتِنَآ ۚ اَنْتُمَا

تاسو دواړو ته | غلبه (رعب) | نو نه به شی رسیدلے دوی | تاسو ته | (لاړ شئ) زمونږ په نخښو سره | یئ به تاسو

او تاسو له به داسے رعب (غلبه) درکړو چه هغوی به تاسو ته دررسیدلے هم نه شی زمونږ د نخښو سره لاړ شئ تاسو

وَمَنِ اتَّبَعَكُمَا الْغٰلِبُوْنَ ۝٣٥ فَلَمَّا جَآءَهُمْ مُّوْسٰى بِاٰيٰتِنَا

او څوک | چه تاسو پسے روان شی | زورور (غالب) | پس هر کله | چه راغلو دوی ته | موسیٰ | په نخښو زمونږ سره

او ستاسو تابعدار به غالب راځی. بیا هر کله چه موسیٰ هغوی ته زمونږ ښکاره نخښے راوړلے

بَيِّنٰتٍ قَالُوْا مَا هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ مُّفْتَرًى وَّمَا سَمِعْنَا

ښکاره | (نو) او ویل دوی | نه دی دا | مگر | جادو | د ځان نه جوړ کړے شوے | او مونږ نه دی اوریدلے

نو هغوی او ویل چه دا خو (بس) د ځان نه جوړ شوے جادو دے او دا خبرے (خو) مونږ د خپل پخوانو

بِهٰذَا فِیۡۤ اٰبَآئِنَا الۡاَوَّلِیۡنَ ۞ وَقَالَ مُوۡسٰی رَبِّیۡۤ اَعۡلَمُ بِمَنۡ

دا(خبره) | په پلارانو خپلو | پخوانو کښې | او اوویل | موسیٰ | رب زما | ښه پوهه دے | په هغه چا

پلار نیکه په وختونو کښې (هم) نه دي اورېدلے. موسیٰ ورته اوویل زما رب ښه پېژني چه چا

جَآءَ بِالۡهُدٰی مِنۡ عِنۡدِهٖ وَمَنۡ تَكُوۡنُ لَهٗ عَاقِبَةُ

چه راوړی | هدایت لره | د هغه د طرف نه | او په هغه چا(هم) | چه وی به | د هغه دپاره | (ښه) انجام

د هغه د طرف نه هدایت (سم دین) راوړے دے او د آخرت انجام د چا ښه کیدونکے دے

الدَّارِ ؕ اِنَّهٗ لَا یُفۡلِحُ الظّٰلِمُوۡنَ ۞ وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ یٰۤاَیُّهَا الۡمَلَاُ

د کور(د آخرت) | بیشکه | نه کامیابیږی | ظالمان | او اوویل | فرعون | اے سردارانو!

دا یقینی خبره ده چه ظالمان کامیابیدے نشی. او فرعون اوویل اے درباریانو! (سردارانو!)

مَا عَلِمۡتُ لَكُمۡ مِّنۡ اِلٰهٍ غَیۡرِیۡ ۚ فَاَوۡقِدۡ لِیۡ یٰهَامٰنُ

زه نه پېژنم | ستاسو دپاره | بل څوک معبود | سوا زما نه | تو ته بل کړه اور | زما دپاره | اے هامانه

ما ته خو د ځان نه سوا ستاسو بل معبود (خدائے) معلوم نه دے تو اے هامان!

عَلَی الطِّیۡنِ فَاجۡعَلۡ لِّیۡ صَرۡحًا لَّعَلِّیۡۤ اَطَّلِعُ اِلٰۤی اِلٰهِ

په خټه باندے | بیا جوړ کړه | زما دپاره | یو محل | د دے دپاره چه | زه اوخیژم | الله

ته زما دپاره خټه (خښتې) په اور کښې پخې کړه او بیا یو لوئے محل راله جوړ کړه چه زه د هغې نه

مُوۡسٰی ۙ وَاِنِّیۡ لَاَظُنُّهٗ مِنَ الۡكٰذِبِیۡنَ ۞ وَاسۡتَكۡبَرَ هُوَ

د موسیٰ ته | او بیشکه زه | گمان کوم په هغه باندے | د دروغژنو (نه) | او تکبر اوکړو | هغه

د موسیٰ خدائ اولیدے شم او زه پوره یقین سره دا سړے دروغژن گڼړم. او (غرض دا چه) هغه او د هغه

وَجُنُوۡدُهٗ فِی الۡاَرۡضِ بِغَیۡرِ الۡحَقِّ وَظَنُّوۡۤا اَنَّهُمۡ اِلَیۡنَا

او لښکرو د هغه | په زمکه کښې | په ناحقه | او گمان ئے اوکړو | چه بیشکه دوی به | مونږ ته

لښکرو په ناحقه په زمکه (ملک) کښې تکبر (سرکشی) شروع کړه او دا خیال ئے اوکړو چه هغوی به (گنې) مونږ ته

لَا یُرۡجَعُوۡنَ ۞ فَاَخَذۡنٰهُ وَجُنُوۡدَهٗ فَنَبَذۡنٰهُمۡ فِی الۡیَمِّ ۚ

واپس نه کړے شی | پس راونیولو مونږ هغه | او لښکرے د هغه | پس او غورځول مونږ دوی لره | په دریاب کښې

واپس نه راځی. پس (نو ځکه خو) مونږ هغه او د هغه لښکرے راونیولے او دریاب ته مو اوغورځول

فَانۡظُرۡ كَیۡفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظّٰلِمِیۡنَ ۞ وَجَعَلۡنٰهُمۡ اَئِمَّةً

پس اوگوره | څنگه | شو | انجام | د ظالمانو | او جوړ کړی وو مونږ دوی لره | (دا سے) مشران

نو ته اوگوره چه د ظالمانو انجام څنگه شو؟ او مونږ هغوی دا سے مشران (پیشویان) جوړ کړی وو

یَّدۡعُوۡنَ اِلَی النَّارِ ۚ وَیَوۡمَ الۡقِیٰمَةِ لَا یُنۡصَرُوۡنَ ۞

چه رابلل ئے (خلق) | اور ته | او په ورځ | د قیامت به | مدد او نکړے شی د دوی

چه خلق به ئے اور ته رابلل او د قیامت په ورځ به ورسره هیڅ قسمه مدد او نکړے شی.

وَ اَتْبَعْنٰهُمْ فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا لَعْنَةً ۚ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ هُمْ

او مونږ پوله لیږل دوی پسې په دې | دنیا کښې | لعنت | او په ورځ | د قیامت به | دوی وی

او په دنیا کښې (هم) ورپسې مونږ لعنت اولګولو او د قیامت په ورځ به هم

مِّنَ الْمَقْبُوْحِيْنَ ﴿٤٢﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ مِنْۢ بَعْدِ مَآ ع

د بد حاله خلقو نه | او یقینًا | مونږ ورکړے وو | موسیٰ ته | کتاب | پس د دے نه

د دوی بدل وتیلے شی او د پخوانی امتونو د هلاکولو نه پس مونږ موسیٰ ته

اَهْلَكْنَا الْقُرُوْنَ الْاُوْلٰى بَصَآئِرَ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَّرَحْمَةً

چه هلاک کړی وو مونږ | نسلونه (قومونه) | ورومبنی | دلیلونه | دپاره د پوهے د خلقو | او هدایت | او رحمت

دا سے کتاب ورکړے وو چه د خلقو دپاره بصیرت هدایت او رحمت وو چه هغوی ترے

لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٤٣﴾ وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الْغَرْبِيِّ اِذْ

دے دپاره چه دوی | نصیحت واخلی | او نه وے ته | په طرف | مغربی کښې | کله چه

سبق (نصیحت) واخلی. او اے نبیؐ ته په اول وخت د وحی کښې د موسیٰؑ سره مغربی طرف کښې موجود نه وے

قَضَيْنَآ اِلٰى مُوْسَى الْاَمْرَ وَمَا كُنْتَ مِنَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿٤٤﴾ۙ

مونږ حواله کړو | موسیٰ ته | کار (د پیغمبریؑ) | او نه وے ته | د حاضرو خلقو نه (هلته)

کله چه مونږ موسیٰ ته کار د پیغمبریؑ حواله کولو. او نه ته په هغه خلقو کښې شامل وے چه (هلته) حاضر وو

وَلٰكِنَّآ اَنْشَاْنَا قُرُوْنًا فَتَطَاوَلَ عَلَيْهِمُ الْعُمُرُ ۚ وَمَا كُنْتَ

او لیکن | مونږ پیدا کړل | ډیر نسلونه | نو اوږده شول | په هغوی باندے | عمرونه | او نه وے ته

لیکن مونږ د هغوی نه وروستو ډیر نسلونه پیدا کړل بیا په هغوی باندے ډیره اوږده زمانه تیره شوه (نو مونږ ته را اولیګلے بس حزمانے)

ثَاوِيًا فِيْٓ اَهْلِ مَدْيَنَ تَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِنَا ۙ وَلٰكِنَّا كُنَّا

اوسیدونکے | په مدین والو کښې | چه لوستل تا | په هغوی باندے | آیتونه زمونږ | لیکن | مونږ یو

دفکر قه) او نه ته په مدین والو کښې اوسیدونکے وے چه تا د هغوی نه دا واقعات لوستل ایزده کړی دی بلکه هم مونږ پیغمبران

مُرْسِلِيْنَ ﴿٤٥﴾ وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الطُّوْرِ اِذْ نَادَيْنَا وَلٰكِنْ

رالیږونکی (د پیغمبرانو) | او نه وے ته | په طرف | د طور کښې | کله چه | آواز اوکړو مونږ | لیکن (داخو)

رالیږونکی یو او نه ته په هغه وخت کښې د طور طرف (غارے) ته موجود وے کله چه مونږ موسیٰ ته د تورات ورکولو دپاره

رَّحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَّآ اَتٰىهُمْ مِّنْ نَّذِيْرٍ

مهربانی ده | ستا د رب د طرف نه | (د دے دپاره) چه ته ویروے | هغه قوم | چه نه دی راغلی هغوی ته | څوک یروونکی

آواز کړے وو بلکه دا (رالیږل ستا) خو ستا د رب رحمت دے چه ته هغه خلق اویروے چه ستا نه مخکښې ورته څوک

مِّنْ قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٤٦﴾ وَلَوْلَآ اَنْ تُصِيْبَهُمْ

مخکښې ستا نه | د دے دپاره چه دوی | نصیحت واخلی | او که چرے نه وے (دا خبره) | چه اورسی دوی ته

یروونکے نه دے راغلے شاید چه دوی نصیحت قبول کړی. او (د دے دپاره موته رالیږلے شے چه) په دے خلقو

مُّصِيبَةٌ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ فَيَقُولُوا رَبَّنَا لَوْلَا أَرْسَلْتَ

څه مصیبت | په سبب د هغې | چه مخکښې لیږلې دي | لاسونو د دوی | نو دوی به وائي | اے زمونږ ربه! | ولے تا نه راليږلو

د خپلو عملونو د وجے څه مصیبت راشي نو چه دا اونهٔ وائي چه اے زمونږ ربه! تا مونږ ته يو رسول

إِلَيْنَا رَسُولًا فَنَتَّبِعَ آيَاتِكَ وَنَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٧﴾

مونږ ته | يو پيغمبر | چه مونږ روان شوي وے | په آيتونو ستا پسے | او شوي وے مونږ | د مومنانو نه

ولے رانهٔ ليږلو چه مونږ ستا د آيتونو تابعداري کړے وے او مومنانو کښې شامل شوي وے

فَلَمَّا جَاءَهُمُ الْحَقُّ مِنْ عِنْدِنَا قَالُوا لَوْلَا أُوتِيَ مِثْلَ مَا

پس هر کله | چه راغلو دوی ته | حق | زمونږ د طرف نه | نو اووئيل دوی | ولے ورنه کړے شو دغه | په شان د هغه څه

بيا هر کله چه هغوی ته زمونږ د طرف نه حق راغلو وے وئيل چه دے نبي ته هغه شان معجزات او کتاب په يو ځائ ولے ورنکړی شو

أُوتِيَ مُوسَى ۚ أَوَلَمْ يَكْفُرُوا بِمَا أُوتِيَ مُوسَى

چه ورکړے شوي وو | موسیٰ ته | آيا دوی کفر نه دے کړے | په هغه څه | چه ورکړے شوي وو | موسیٰ ته

کوم چه موسیٰ ته ورکړے شوي وو. حالانکه څه چه موسیٰ ته ورکړے شوي وو ولے دوی په هغے مخکښې د دے نه

مِنْ قَبْلُ ۖ قَالُوا سِحْرَانِ تَظَاهَرَا وَقَالُوا إِنَّا بِكُلٍّ

مخکښې د دے نه | او وئيل دوی | دا دواړه جادوګران دي | چه ديو بل مدد کوي | او او وئيل دوی | بيشکه مونږ | په هر يو

کفر نهٔ وو کړے څه؟ دوی خو وئيل وو چه دا دواړه جادو دے چه ديو بل تائيد کوي او (وائي) مونږ د هر يو نه انکار کوو

كَافِرُونَ ﴿٤٨﴾ قُلْ فَأْتُوا بِكِتَابٍ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ هُوَ أَهْدَى

کفر کوونکي يُو | او وايه | پس راوړئ | يو (داسے) کتاب | د الله د طرف نه | چه هغه | ډير هدايت والا وي

اے نبي! دوی ته اووايه اګه تاسو رشتيني يئ نو د الله د طرف نه يو بل داسے کتاب راوړئ چه د دے دواړو نه

مِنْهُمَا أَتَّبِعْهُ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿٤٩﴾ فَإِنْ لَمْ يَسْتَجِيبُوا

د دے دواړو نه | چه زه روان شم په هغے پسے | اګه چرے | يئ تاسو | رشتيني | پس که چرے | دوی قبول نه کړي

زيات هدايت کوونکے وي چه زه هغے پسے روان شم. بيا که دوی ستا خبره قبول نه کړي

لَكَ فَاعْلَمْ أَنَّمَا يَتَّبِعُونَ أَهْوَاءَهُمْ ۚ وَمَنْ أَضَلُّ

خبره ستا | نو ته پوهه شه | چه بيشکه | دوی روان دي | خواهشاتو خپلو پسے | او څوک دے | زيات ګمراه

نو پوهه شه چه دوی صرف خواهشاتو پسے روان دي. او د هغه چا نه زيات بے لارے څوک دے

مِمَّنِ اتَّبَعَ هَوَاهُ بِغَيْرِ هُدًى مِنَ اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ

د هغه چا نه | چه روان وي | په خواهش خپل پسے | بغير | د هدايت نه | د الله د طرف نه | بيشکه | الله

چه د الله هدايت پريږدي (او) خپل خواهشاتو پسے روان شي؟ يقيناً الله

لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿٥٠﴾ وَلَقَدْ وَصَّلْنَا لَهُمُ الْقَوْلَ ع

هدايت نه کوي | قوم | ظالمانو ته | او يقيناً | مونږ پيوست ليږلے ده | دوی ته | خبره

ظالمانو خلقو ته توفيق د سمے لارے نهٔ ورکوي. او يقيناً مونږ د خلقو د (فائدے) د پاره پر له پسے د هدايت خبرے ليږلے دي

لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ۝ اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِهٖ

دے دپاره چه هغوی | نصیحت واخلی | هغه خلق | چه ورکړے دے مونږ هغوی ته | کتاب | مخکښې دد ے نه

چه دوی نصیحت قبول کړی. کومو خلقو ته چه مونږ د قرآن نه مخکښې کتاب ورکړے دے هغوی

هُمْ بِهٖ يُؤْمِنُوْنَ ۝ وَاِذَا يُتْلٰى عَلَيْهِمْ قَالُوْٓا اٰمَنَّا

هغوی | په دے | ایمان راوړی | او کله چه | اولوستلے شی دا | په هغوی باندے | نو وائی (چه) | مونږ ایمان راوړے دے

په خپل کتاب ایمان راوړی. او کله چه هغوی ته قرآن واوروے شی نو هغوی وائی مونږ په دے ایمان راوړے دے

بِهٖٓ اِنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّنَآ اِنَّا كُنَّا مِنْ قَبْلِهٖ مُسْلِمِيْنَ ۝

په دے باندے | بیشکه دا | حق دے | زمونږ د رب د طرف نه | بیشکه | مونږ وو | مخکښې دد ے نه | مسلمانان

یقیناً دا زمونږ د رب د طرف نه بر حق دے مونږ خو دد ے د راتلو نه مخکښې هم دا منلو

اُولٰٓئِكَ يُؤْتَوْنَ اَجْرَهُمْ مَّرَّتَيْنِ بِمَا صَبَرُوْا وَيَدْرَءُوْنَ

دغه خلق دی | چه ورکولے به شی دوی ته | اجر خپل | دوه ځله | ځکه چه | دوی صبر کړے دے | او لرے کوی دوی

دا ہے خلقو ته به د دوی اجر دوه ځل ملاویږی ځکه چه دوی د صبر نه کار واغستلو او د نیکئ په ذریعه ئے

بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ۝ وَاِذَا سَمِعُوا

په نیکئ سره | بدئ لره | او د هغه څه | چه ورکړی دی مونږ دوی ته | خرچ کوی | او کله چه | واوری دوی

بدی (ګناه) لرے کړه او مونږ چه ورله څه ورکړی دی د هغے نه څه حصه د الله په لار کښې خرچ کوی او کله چه

اللَّغْوَ اَعْرَضُوْا عَنْهُ وَقَالُوْا لَنَآ اَعْمَالُنَا وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ

فضول خبره | لو مخ اړوی | د هغے نه | او وائی | زمونږ دپاره | زمونږ عملونه دی | او ستاسو دپاره | ستاسو عملونه دی

څه فضول خبره واوری نو د هغے نه مخ اړوی او وائی چه زمونږ عملونه زمونږ دپاره دی او ستاسو عملونه ستاسو دپاره دی

سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ لَا نَبْتَغِى الْجٰهِلِيْنَ ۝ اِنَّكَ لَا تَهْدِىْ مَنْ

سلام دے | په تاسو باندے | مونږ نه غواړو | طریقه د جاهلانو | بیشکه ته | هدایت نشے کولے | هغه چا ته

په تاسو دے سلام د جدائئ وی مونږ د جاهلانو سره ملګرتیا کول نه غواړو. (اے نبیؐ!) حقیقت دا دے چا ته چه

اَحْبَبْتَ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَهْدِىْ مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَهُوَ اَعْلَمُ

چه ته ئے خوښوے | لیکن | الله | هدایت کوی | چا ته (ئے) | چه او غواړی | او هغه | ښه پوهه دے

ته ئے خپله او غواړے نو توفیق د هدایت نشے ورکولے بلکه الله چه چا ته او غواړی (نو) توفیق د هدایت ورکوی او الله هدایت

بِالْمُهْتَدِيْنَ ۝ وَقَالُوْٓا اِنْ نَّتَّبِعِ الْهُدٰى مَعَكَ نُتَخَطَّفْ

په هدایت موندونکو | او وائی دوی | که چرے | مونږ روان شو | په سمه لار | تا سره | (نو) مونږ به اوتختولی شو

قبلونکی ښه پیژنی او دا خلق وائی (اے نبیؐ!) که چرے مونږ تا سره په هدایت (حق دین) پسے روان شو نو د خپل ملک نه به او شړلی شو

مِنْ اَرْضِنَا ۭ اَوَلَمْ نُمَكِّنْ لَّهُمْ حَرَمًا اٰمِنًا يُّجْبٰٓى اِلَيْهِ

د ملکے خپلے نه | آیا مونږ ځای نه دے ور کړے | دوی ته | په حرم کښې | چه امن والا دے | چه راښکلے شی | هغے ته

(دوی ته لږه دا تپوس او کړه چه) آیا مونږ دوی له په هغه حرم کښې ځای نه دے ورکړے چه امن والا دے

ثَمَرٰتُ كُلِّ شَیْءٍ رِّزْقًا مِّنْ لَّدُنَّا وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ

میوے د | هر یو قسم له | دپاره درزق | زمونږ د طرف نه | خو لیکن | اکثر په دوی کښې

چه هر قسم میوے ورته رارسولے شی چه هغه خاص زمونږ د طرف نه ورکړے شوے رزق دے. لیکن

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٥٧﴾ وَكَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍۭ بَطِرَتْ مَعِيْشَتَهَا ۚ

نه پوهیږی | او څومره (ډیر) | هلاک کړی دی مونږ | (دا سے) کلی | چه د حد نه اوړیدلی وو | په ژوند خپل کښې

په دوی کښې اکثر خلق نه پوهیږی او مونږ ډیر (دا سے) کلی هلاک کړی دی چه په خپل ژوند (سامانونو) غاوره شوی وو

فَتِلْكَ مَسٰكِنُهُمْ لَمْ تُسْكَنْ مِّنْۢ بَعْدِهِمْ اِلَّا قَلِيْلًا ؕ

پس دغه دی | کورونه د هغوی | چه او سیدل نهٔ دی شوے | وروسته د هغوی نه | مګر | لږ

اوس دغه د هغوی کورونه دی چه د هغوی نه پس ډیر کم آباد شوی دی

وَكُنَّا نَحْنُ الْوٰرِثِيْنَ ﴿٥٨﴾ وَمَا كَانَ رَبُّكَ مُهْلِكَ الْقُرٰى

او وو | هم مونږ | وارثان (آخری مالکان) | او نه دے | رب ستا | هلاکوونکے | د کلو

او اخیر هم مونږ ئے وارثان شو. او ستا رب کلی تر هغے پورے نه هلاکوی

حَتّٰى يَبْعَثَ فِیْۤ اُمِّهَا رَسُوْلًا يَّتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِنَا ۚ

تر دے | چه راولیږی | په مینځ د هغے کښې | پیغمبر | چه لولی | په هغوی باندے | آیتونه زمونږ

ترڅو پورے چه د هغے په مرکزی مقام کښې یو پیغمبر ونه لیږی چه هغوی ته زمونږ آیتونه واوروی

وَمَا كُنَّا مُهْلِكِى الْقُرٰۤى اِلَّا وَاَهْلُهَا ظٰلِمُوْنَ ﴿٥٩﴾ وَمَاۤ

او نه یُو مونږ | هلاکوونکی | د کلو | مګر (دا چه) | خلق د هغے | ظالمان وی | او هغه

او مونږ یوکلے صرف هله تباه کوو کله چه د هغے خلق ظالمان وی. او (اے خلقو!)

اُوْتِيْتُمْ مِّنْ شَیْءٍ فَمَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَزِيْنَتُهَا ۚ

چه در کړے شوے دے تاسو ته | څه څیز | لو (هغه) فائده | د ژوند | دلیوی ده | او ښائست دے د هغے

تاسو ته چه څه هم درکړے شوی دی هغه (خو بس) د دلیوی ژوند سامان او د دے زیب وزینت دے

وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿٦٠﴾ اَفَمَنْ

او هغه څه | چه د الله سره دی | (هغه) ډیر غوره | او باقی پاتے کیدونکی دی | آیا نو تاسو عقل نه لرئ؟ | آیا نو هغه څوک

او الله سره چه څه دی هغه ډیر بهتر او همیشه پاتے کیدونکی دی آیا تاسو بیا هم د عقل نه کار نه اخلئ؟ (لږ سوچ او کړه چه)

وَّعَدْنٰهُ وَعْدًا حَسَنًا فَهُوَ لَاقِيْهِ كَمَنْ

چه وعده کړے ده مونږ د هغه سره | وعده | ښائسته | پس هغه | ملاویدونکے دے د هغے سره | په شان د هغه چا دے

آیا هغه کس چه مونږ ورسره ښه وعده کړے ده او دے به هغه وعده حاصله (هم) کړی، دا د هغه چا په شان کیدے شی چه مونږ ورله

مَّتَّعْنٰهُ مَتَاعَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ثُمَّ هُوَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

چه ور کړی وی مونږ هغه ته فائده | فائده | د ژوند | دلیوی | بیا | هغه وی | په ورځ | د قیامت

د دنیا په ژوند کښې لږ مزے ورکړی دی او بیا به د قیامت په ورځ هغه خلقو کښې شامل وی چه دوزخ ته به

مِنَ الْمُحْضَرِينَ ۝ وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ أَيْنَ

د حاضر کړے شوو نه | او په هغه ورځ | چه آواز به او کړي الله دوی ته | نو وائی به | (چه) چرته دی

حاضرولی شی. او هغه ورځ (هیره نه کړئ) په کومه ورځ به چه الله دے خلقو ته آواز او کړی او ورته به وائی

شُرَكَآءِيَ الَّذِينَ كُنتُمْ تَزْعُمُونَ ۝ قَالَ الَّذِينَ حَقَّ

شریکان زما | هغه کسان | چه تاسو به | (پرے) گمان کولو؟ | او به وائی | هغه خلق | چه ثابت شوے دے

چه چرته دی زما هغه شریکان چه تاسو به ئے دعوے د شرکت او شفاعت کولے؟ نو په چا چه د عذاب فیصله

عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ رَبَّنَا هَٰٓؤُلَآءِ الَّذِينَ أَغْوَيْنَآ ۚ

په هغوی باندے | حکم (د عذاب) | اے زمونږ ربه | دا دی | هغه خلق | چه گمراه کړی دی مونږ

پوره شوی وی هغوی به او وائی اے زمونږ ربه دا هغه خلق دی چه مونږ گمراه کړی وو.

أَغْوَيْنَٰهُمْ كَمَا غَوَيْنَا ۖ تَبَرَّأْنَآ إِلَيْكَ ۖ مَا كَانُوٓا إِيَّانَا

گمراه کړی دی مونږ دوی | لکه څنګه چه | گمراه (شوی) وو مونږ | بیزاری ښکاره کوو مونږ | تا ته | نه وو دوی | چه مونږ لره

مونږ دوی هغه شان گمراه کړل څنګه چه مونږ په خپله گمراه وو مونږ ستا مخے ته د دوی نه بیزار کیږو دوی خو زمونږ

يَعْبُدُونَ ۝ وَقِيلَ ادْعُوا شُرَكَآءَكُمْ فَدَعَوْهُمْ

عبادت به ئے کولو | او او به ویلی شی | (چه) راوبلئ | شریکان خپل | پس دوی به راوبلی هغوی

عبادت نه کولو. او کافرانو ته به او ویلی شی چه هغه خلق راوبلئ چه تاسو د الله سره شریک کړی وو نو دوی به ئے راوبلی

فَلَمْ يَسْتَجِيبُوا لَهُمْ وَرَأَوُا الْعَذَابَ ۚ لَوْ أَنَّهُمْ كَانُوا

پس ورپه نه کړی هغوی هیڅ جواب | دوی ته | او او به وینی دوی | عذاب | کاش | چه | دوی وو

خو هغوی به ورله جواب ورنکړی، او دوی به عذاب او وینی او ارمان به او کړی چه هدایت ئے قبول کړے وے

يَهْتَدُونَ ۝ وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ مَاذَآ أَجَبْتُمُ

چه هدایت ئے قبول کړے وے | او په هغه ورځ | چه الله به آواز ورکړی دوی ته | نو او به وائی | څه جواب ورکړے وو تاسو

او هغه ورځ (هیر نه کړئ) چه الله به دوی ته آواز او کړی او تپوس به ترے او کړی چه تاسو پیغمبرانو ته

الْمُرْسَلِينَ ۝ فَعَمِيَتْ عَلَيْهِمُ الْأَنۢبَآءُ يَوْمَئِذٍ فَهُمْ

پیغمبرانو ته | پس پټ به شی | په دوی باندے | خبرونه (دلیلونه) | په دغه ورځ | پس دوی به

څه جواب ورکړے وو؟ نو په دغه ورځ به د دوی نه ټول جوابونه او تاویلات هیر شی او خپلو کښی به د یو بل نه

لَا يَتَسَآءَلُونَ ۝ فَأَمَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحًا

تپوس نشی کولے د یو بل نه | پس چا چه | توبه او ویستله | او ایمان ئے راوړلو | او عمل ئے او کړو | نیک

څه تپوس هم نشی کولے البته چا چه توبه و ویستله او ایمان ئے راوړو او عملونه ئے او کړل موافق د سنت

فَعَسَىٰٓ أَن يَكُونَ مِنَ الْمُفْلِحِينَ ۝ وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ

نو یقینی ده | چه شی به هغه | د کامیابی موندونکو نه | او ستا رب | پیدا کوی | هغه څه | چه غواړی ئے

نو پوره امید دے چه دا خلق به کامیاب شی. او ستا رب چه څه غواړی (نو) پیدا کوی ئے

وَيَخْتَارُ ۗ مَا كَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ ۗ سُبْحٰنَ اللّٰهِ وَتَعٰلٰى عَمَّا

او خپله خوښه کوي | نشته دے | دَ دوي دپاره | هيڅ اختيار | پاک دے | الله | او ډېر اوچت دے | د هغه څه نه

او (څه چه غواړي) لوخپله خوښه کوي. مخلوق لره هيڅ اختيار د الوهيت نشته. الله د دوي د شرک نه پاک او ډېر اوچت دے

يُشْرِكُوْنَ ۝٦٨ وَرَبُّكَ يَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُوْرُهُمْ وَمَا

چه دوي شريکوي | او رب ستا | پوهيږي | په هغه څه | چه پټوي ئے | سينے د دوي | او په هغه څه

او ستا رب هغه خبرے هم پيژني چه د دوي سينو پټے کړي دي او هغه خبرے هم پيژني چه دوي ئے

يُعْلِنُوْنَ ۝٦٩ وَهُوَ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۗ لَهُ الْحَمْدُ

چه ئے ښکاره کوي | او هم هغه | الله دے | نشته | لائق د عبادت | سيوا | د هغهٔ نه | خاص د هغه دپاره | حمدونه دي

ښکاره کوي او الله هم هغه دے چه د هغهٔ نه سوا بل هيڅ څوک د عبادت حقدار نشته. دنيا او آخرت (دواړو) کښې

فِى الْاُوْلٰى وَالْاٰخِرَةِ ۫ وَلَهُ الْحُكْمُ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ۝٧٠

په دنيا | او په آخرت کښې | او خاص هم د هغه | اختيار دے | او خاص هغه ته به | تاسو واپس کولې شئ

هم د هغه تعريف کيږي او حکم (فيصله) هم د هغه چليږي او د هغه طرف ته به تاسو ټول واپس کيږئ.

قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ الَّيْلَ سَرْمَدًا

او وايه | آيا خبر يئ تاسو | که چرے | او گرځوي | الله | په تاسو باندے | شپه | هميشه (دپاره)

اے نبيؐ! دوي ته او وايه چه لږ دا راته او وايئ که چرے الله شپه په تاسو باندے

اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَأْتِيْكُمْ بِضِيَآءٍ ۗ

تر ورځے | د قيامت پورے | (نو) څوک دے | بل واکدار | سيوا | د الله نه | چه راولي تاسو ته | رڼا

د قيامت د ورځ پورے مسلط کړي نو د الله نه سوا بل څوک خدائے دے چه تاسو له رڼا در کړي؟

اَفَلَا تَسْمَعُوْنَ ۝٧١ قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ

آيا نو تاسو نه آورئ؟ | او وايه | آيا خبر يئ تاسو | که چرے | او گرځوي | الله | په تاسو باندے

آيا تاسو نه اورئ؟ اے نبيؐ! دوي ته تپوس او کړه چه لږ دا راته او وايئ چه که چرے الله په تاسو باندے

النَّهَارَ سَرْمَدًا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ

ورځ | هميشه (دپاره) | تر ورځے | د قيامت پورے | (نو) څوک دے | بل تصرف کونکے | سيوا | د الله نه

ورځ هميشه د قيامت د ورځے پورے مسلط کړي نو د الله نه سوا بل څوک خدائے دے

يَأْتِيْكُمْ بِلَيْلٍ تَسْكُنُوْنَ فِيْهِ ۗ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ ۝٧٢ وَمِنْ رَّحْمَتِهٖ

چه راولي تاسو ته | شپه | چه تاسو آرام اوکړئ | په هغے کښې | آيا نو تاسو نه گورئ؟ | او د خپل رحمت د وجے

چه شپه در باندے راولي چه تاسو پکښې آرام او کړئ؟ نو آيا تاسو گورئ نه؟ او هغه (الله) په خپل رحمت سره

جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ لِتَسْكُنُوْا فِيْهِ وَلِتَبْتَغُوْا

هغه جوړه کړے ده | ستاسو دپاره | شپه | او ورځ | چه تاسو آرام اوکړئ | په هغے کښې | او چه اولټوئ تاسو

تاسو دپاره شپه او ورځ جوړه کړے ده چه تاسو په شپه کښې آرام او کړئ او د ورځے د هغه فضل

مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ۝ وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ فَيَقُوْلُ

فضل د هغهٔ | او دے دپاره چه تاسو | شکر او کړئ | او په هغه ورځ | چه آواز به او کړی الله دوی ته | نو او به وائی

تلاش کړئ او شکر ادا کړئ. او هغه (ورځ هیره نه کړئ) کله به چه الله مشرکانو ته آواز او کړی او ورته به او وائی

اَيْنَ شُرَكَآءِيَ الَّذِيْنَ كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ۝ وَنَزَعْنَا مِنْ كُلِّ

چرته دی | شریکان زما | هغه کسان | چه تاسو به | پرے گمان کولو | او مونږ به راوباسو | د هر یو

چه چرته دی زما هغه شریکان چه تاسو به هغوی زما سره شریک گڼل. او مونږ به د هر یو امت نه د توحید تبلیغ کوونکے

اُمَّةٍ شَهِيْدًا فَقُلْنَا هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ فَعَلِمُوْٓا اَنَّ الْحَقَّ

امت نه | یو گواه | بیا به او وایو مونږ | راوړئ | یقینی دلیل خپل | پس پوهه به شی دوی | چه بیشکه | حق

یو گواه راولو بیا به (دوی ته) او وایو چه خپل دلیل پیش کړئ. نو هغه وخت به دوی ته پته اولگی چه حق دخدائے توب

لِلّٰهِ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ۝ اِنَّ قَارُوْنَ كَانَ ع

دالله دے | او ورک به شی | د دوی نه | هغه څه | چه دوی به دروغ جوړول | بیشکه | قارون | وو

خو صرف دالله دے. او دوی چه څه دروغ شرکی قصے دځان نه جوړے کړے وے هغه ټولے به ترے ورکے شی. قارون

مِنْ قَوْمِ مُوْسٰى فَبَغٰى عَلَيْهِمْ ۪ وَاٰتَيْنٰهُ مِنَ الْكُنُوْزِ

د | قوم | د موسیٰ نه | نو سرکشی ئے اوکړه | په هغوی باندے | او ورکړے وے مونږ هغه ته | خزانے

د موسیٰ د قوم یو کس وو خو هم په هغوی ئے سرکشی شروع کړه او سبب د سرکشئ دا وو چه مونږ ورله دومره

مَآ اِنَّ مَفَاتِحَهٗ لَتَنُوْٓءُ بِالْعُصْبَةِ اُولِي الْقُوَّةِ ۗ اِذْ قَالَ

دومره | چه بیشکه | چابیانے د هغے | خامخا در نوے | په یو ے ډلے | طاقتورے باندے | کله چه | او وئیل

خزانے ورکړے وے چه د هغے چابیانے به یو ے طاقتورے ډلے په گرانه اوچتولے نو یو وخت هغه ته

لَهٗ قَوْمُهٗ لَا تَفْرَحْ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْفَرِحِيْنَ ۝ وَابْتَغِ

ده ته | قوم خپل | لوئی مه کوه | بیشکه | الله | نه خوښوی | لوئی کوونکی | او اولټوه

خپل قوم او وئیل چه غاوره کیږه مه (ځکه چه) الله تعالیٰ تکبر کوونکی غاوره خلق نه خوښوی.

فِيْمَآ اٰتٰىكَ اللّٰهُ الدَّارَ الْاٰخِرَةَ وَلَا تَنْسَ نَصِيْبَكَ

په هغه څه کښی | چه در کړی دی تاته | الله | کور | د آخرت | او مه هیروه | برخه خپله

او الله تعالیٰ چه درله څه درکړی دی په هغے کښی د آخرت د کور دپاره څه کوشش او کړه. او د دنیا نه هم

مِنَ الدُّنْيَا وَاَحْسِنْ كَمَآ اَحْسَنَ اللّٰهُ اِلَيْكَ وَلَا تَبْغِ

د دنیا نه | او خیر ښیگړه کوه | لکه څنگه چه | احسان کړے دے | الله | تا سره | او مه لټوه

خپله حصه مه هیروه. او څنگه چه تا سره الله احسان کړے دے ته هم (د خلقو سره) احسان او کړه

الْفَسَادَ فِي الْاَرْضِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِيْنَ ۝ قَالَ

فساد | په زمکه کښی | بیشکه | الله | نه خوښوی | فساد کوونکی | او وئیل هغه

او په زمکه (ملک) کښی د فساد خورولو کوشش مه کوه. یقین او کړه چه فساد کوونکی د الله تعالیٰ خوښ نه دی

اِنَّمَآ اُوْتِيْتُهٗ عَلٰى عِلْمٍ عِنْدِيْ ؕ اَوَلَمْ يَعْلَمْ اَنَّ

بیشکه هغه (په جواب کښې) اوویل چه دا هر څه خو ماته زما د علم (مهارت) په وجه ملاو شوي دي. آیا دوته دومره پته هم نه وه

اللّٰهَ قَدْ اَهْلَكَ مِنْ قَبْلِهٖ مِنَ الْقُرُوْنِ مَنْ هُوَ اَشَدُّ

چه الله تعالیٰ د ده نه وړاندې داسې ډېر نسلونه تباه کړي دي چه د ده نه زیات طاقتور

مِنْهُ قُوَّةً وَّاَكْثَرُ جَمْعًا ؕ وَلَا يُسْئَلُ عَنْ ذُنُوْبِهِمُ

او ډېر مال دولت راجمع کولکي وو) او د مجرمانو نه به د دوي د ګناهونو په باره کښې تپوس

الْمُجْرِمُوْنَ ۝ فَخَرَجَ عَلٰى قَوْمِهٖ فِيْ زِيْنَتِهٖ ؕ قَالَ الَّذِيْنَ

نه کیږي. بیا یوه ورځ قارون د خپل پوره شان او شوکت سره د خپل قوم مخې ته راووتلو (نو) کوم خلق چه

يُرِيْدُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا يٰلَيْتَ لَنَا مِثْلَ مَآ اُوْتِيَ

د دنیا د ژوند طلبګار وو هغوي اوویل کاش چه مونږ سره هم هغه څه وې کوم چه قارون ته ورکړې شوي دي

قَارُوْنُ ۙ اِنَّهٗ لَذُوْ حَظٍّ عَظِيْمٍ ۝ وَقَالَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا

یقیناً دا خو ډېر خوش نصیبه دے. او کومو خلقو ته چه علم ورکړې شوې وو هغوي اوویل په تاسو (خو) افسوس دے

الْعِلْمَ وَيْلَكُمْ ثَوَابُ اللّٰهِ خَيْرٌ لِّمَنْ اٰمَنَ

(چه دا سې خبرې کوئ) د الله تعالیٰ بدلې او نعمتونه (خو) د هغه چا دپاره ډېر بهتر دي چا چه ایمان راوړے دے

وَعَمِلَ صَالِحًا ۚ وَلَا يُلَقّٰهَآ اِلَّا الصّٰبِرُوْنَ ۝ فَخَسَفْنَا بِهٖ

او نیک عملونه ئې کړي دي او دا خصلت د زړه هم هغه چاته ملاویږي چه د صبر نه کار اخلي. بیا مونږ قارون

وَبِدَارِهِ الْاَرْضَ ۟ فَمَا كَانَ لَهٗ مِنْ فِئَةٍ يَّنْصُرُوْنَهٗ

او د هغه کور په زمکه کښې ورننوځ کړو نو (بیا) د الله نه سوا د هغه څوک داسې ډله نه وه چه مدد ئې

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۗ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُنْتَصِرِيْنَ ۝ وَاَصْبَحَ الَّذِيْنَ

ورسره کړے وې او نه هغه پخپله ځان بچ کړې شو. او چا چه د هغه د مرتبې پرون

تَمَنَّوۡا مَكَانَهٗ بِالۡاَمۡسِ يَقُوۡلُوۡنَ وَيۡكَاَنَّ اللّٰهَ يَبۡسُطُ

چه ارمان ئے کولو | دهغه د درجے | پرون | وئیل ئے | عجیبه ده یقینًا | الله | فراخوی

تمنا کوله صبا له هغوی او وئیل مونږ تعجب کوو دد ے حالت نه او پته او لګیده چه الله تعالیٰ په خپلو بندګانو کښې د چا د پاره او غواړی

الرِّزۡقَ لِمَنۡ يَّشَآءُ مِنۡ عِبَادِهٖ وَيَقۡدِرُ ۚ لَوۡلَاۤ اَنۡ مَّنَّ اللّٰهُ

رزق | چا د پاره | چه او غواړی | د بندګانو خپلو نه | او تنګوی ئے | که چرے احسان نه وے کړے | الله

رزق ورله فراخوی او د چا د پاره چه او غواړی تنګوی ئے، که چرے په مونږ باندے الله احسان د ایمان راوړلو

عَلَيۡنَا لَخَسَفَ بِنَا ؕ وَيۡكَاَنَّهٗ لَا يُفۡلِحُ الۡكٰفِرُوۡنَ ﴿۸۲﴾ ع

په مونږ باندے | (نو) ښخ کړی به ئے وے | مونږ له (هم) | عجیبه ده یقینًا شان دا دے | چه نه کامیابیږی | کافران

نه وے کړے نو مونږ به ئے هم په زمکه کښې ښخ کړی وے. عجیبه ده چه کافران سرته نه رسی الدار نه د الله د عذاب نه نشی بچ کیدے

تِلۡكَ الدَّارُ الۡاٰخِرَةُ نَجۡعَلُهَا لِلَّذِيۡنَ لَا يُرِيۡدُوۡنَ عُلُوًّا

دغه | کور | روستنے | خاص کوو مونږ دے لره | د پاره د هغه کسانو | چه اراده نه لری | د لوئی کولو

دا د آخرت کور خو به مونږ د هغه چا د پاره مخصوص کړو چه په زمکه کښې تکبر (لوئی)

فِى الۡاَرۡضِ وَلَا فَسَادًا ؕ وَالۡعَاقِبَةُ لِلۡمُتَّقِيۡنَ ﴿۸۳﴾ مَنۡ جَآءَ

په زمکه کښې | او نه د فساد کولو | او (ښه) انجام | د متقیانو د پاره ثابت دے | څوک چه | راغے

او فساد کول نه غواړی. او ښه انجام د متقیانو د پاره مقرر دے. چا چه د ځان سره

بِالۡحَسَنَةِ فَلَهٗ خَيۡرٌ مِّنۡهَا ۚ وَمَنۡ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلَا يُجۡزَى

د نیکئ سره | نو وی به هغه د پاره | دیر غوره | د هغے نه | او څوک چه | راغے | د بدئ سره | نو بدله به نه ورکړے کیږی

نیکی راوړه نو هغه ته به د هغے نه بهتره بدله ملاو شی او چا چه بدی (ګناه) راوړه

الَّذِيۡنَ عَمِلُوا السَّيِّاٰتِ اِلَّا مَا كَانُوۡا يَعۡمَلُوۡنَ ﴿۸۴﴾ اِنَّ

هغه خلقو ته | چه کړی ئے دی | بدیانے (ګناهونه) | مګر | د هغے (عملونو) | چه هغوی به کول | بیشکه

نو چا چه بد کارونه کړی وو هغوی ته به صرف د خپلو کړو (بدو عملونو) سزا ملاویږی. اے نبی! یقین او کړه

الَّذِىۡ فَرَضَ عَلَيۡكَ الۡقُرۡاٰنَ لَرَآدُّكَ اِلٰى مَعَادٍ ؕ

هغه (ذات) | چه فرض کړے ئے دے | په تا باندے | قرآن | خامخا واپس کوونکے دے تا لره | ځائے د واپسئ ته

کوم ذات چه په تا باندے قرآن فرض کړے دے هغه به دے خامخا خپل ځائے (مکے مکرمے) ته واپس راولی

قُلۡ رَّبِّىۡۤ اَعۡلَمُ مَنۡ جَآءَ بِالۡهُدٰى وَمَنۡ هُوَ

او وایه | رب زما | ښه پیژنی | هغه څوک | چه راغلے دے | هدایت سره | او هغه څوک (هم) | چه هغه دے

ته دوی ته او وایه چه زما رب هغه څوک هم پیژنی چه هدایت (حق دین) ئے راوړے دے او هغه څوک (هم پیژنی)

فِىۡ ضَلٰلٍ مُّبِيۡنٍ ﴿۸۵﴾ وَمَا كُنۡتَ تَرۡجُوۡۤا اَنۡ يُّلۡقٰۤى اِلَيۡكَ

په ګمراهئ | ښکاره کښې | او نه وے ته | چه امید دے لرلو | چه در به کړے شی | تا ته

چه په ښکاره ګمراهئ کښې پروت دے. او اے نبی! د دے نه مخکښې خو ستا دا امید نه وو چه په تا باندے به

الۡكِتٰبُ اِلَّا رَحۡمَةً مِّنۡ رَّبِّكَ فَلَا تَكُوۡنَنَّ ظَهِيۡرًا لِّلۡكٰفِرِيۡنَ ﴿۸۶﴾

کتاب | مګر | په رحمت | د رب ستا سره | پس ته مه کیږه | مددګار | د کافرانو

دا قرآن نازل شي لیکن دا خو ستا د رب په مهربانۍ نازل شو. نو ته هیڅ کله د کافرانو مددګار جوړ نشې

وَلَا يَصُدُّنَّكَ عَنۡ اٰيٰتِ اللّٰهِ بَعۡدَ اِذۡ اُنۡزِلَتۡ اِلَيۡكَ

او دوي دې منع نه کړي تا | د | آیتونو | د الله نه | پس د دې نه | چه نازل کړے شول هغه | تا ته

او د الله آیتونه چه کله په تا باندې نازل شو نو هغې نه پس دې دا خلق (کافران) هرګز تا لره د هغې د تبلیغ

وَادۡعُ اِلٰى رَبِّكَ وَلَا تَكُوۡنَنَّ مِنَ الۡمُشۡرِكِيۡنَ ﴿۸۷﴾ وَلَا تَدۡعُ

او رابله (خلق) | رب خپل ته | او ته مه کیږه | د مشرکانو نه | او مه رابله

او عمل نه منع نه کړي او خپل رب طرف ته خلق رابله او په مشرکانو کښې هرګز مه شاملیږه. او الله تعالی سره

مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ ۘ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۟ كُلُّ شَيۡءٍ هَالِكٌ

د الله سره | معبود | بل | نشته دے لائق د عبادت | سوا | د هغه نه | هر یو | څیز | هلاک کیدونکے دے

بل (هیڅ څوک) مددګار مه رابله (ځکه چه) د هغه نه سوا بل هیڅ څوک مددګار نشته. د الله تعالی ذات نه سوا

اِلَّا وَجۡهَهٗ ؕ لَهُ الۡحُكۡمُ وَاِلَيۡهِ تُرۡجَعُوۡنَ ﴿۸۸﴾ ع

سوا | د مخ د هغه نه | خاص د هغه | حکم (اختیار) دے | او خاص هغه ته به | تاسو واپس کولی شئ |

هر یو څیز فنا کیدونکے دے حکومت (فیصله) هم د هغه ده او د هغه طرف ته به تاسو واپس کیږئ.

رکوعاتها [۷]	سورة العنكبوت مكية	آياتها [۶۹]

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم.

الٓمّٓ ﴿۱﴾ اَحَسِبَ النَّاسُ اَنۡ يُّتۡرَكُوۡۤا اَنۡ يَّقُوۡلُوۡۤا اٰمَنَّا

الٓمٓ | آیا ګمان کوي | خلق | چه دوی به پرېښودے شي | (په دې) چه دوی او وائي | ایمان راوړے دے مونږ

الف لام میم. آیا د خلقو دا خیال دے چه صرف په دے وینا چه مونږ ایمان راوړے دے دوی به هم داسې پرېښودل شي

وَهُمۡ لَا يُفۡتَنُوۡنَ ﴿۲﴾ وَلَقَدۡ فَتَنَّا الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ

او (حال دا چه) دوی | نه شي ازمائیلے | او یقیناً | مونږ ازمائیلي وو | هغه کسان | چه مخکښې د دوی نه وو

او نور تکویني او شرعي تکلیفونه به پرې نه راځي حالانکه د دوی نه مخکښې خلقو باندې هم مونږ ازمېښت کړے وو،

فَلَيَعۡلَمَنَّ اللّٰهُ الَّذِيۡنَ صَدَقُوۡا وَلَيَعۡلَمَنَّ الۡكٰذِبِيۡنَ ﴿۳﴾

پس خامخا به ښکاره کوي | الله | هغه خلق | چه رشتیا ئې ویلي دي | او خامخا به ښکاره کوي الله | دروغژن

(او فائده د امتحان دا ده) چه الله خو به خامخا هغه خلق ښکاره کوي چه رشتیا وائي او هغه خلق هم چه دروغژن دي

اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ السَّيِّاٰتِ اَنْ يَّسْبِقُوْنَا ؕ سَآءَ

آیا گمان کوی | هغه کسان | چه کوی | بد کارونه | چه (ګنې) مونږ نه به وتښتي | ډیره بده ده

کوم خلق چه ګناهونه (بدکارونه) کوی دهغوی څه خیال دے چه (ګنې) زمونږ د قابو نه به ووځي څه؟

مَا يَحْكُمُوْنَ ۝٤ مَنْ كَانَ يَرْجُوْا لِقَآءَ اللّٰهِ فَاِنَّ اَجَلَ

هغه فیصله چه دوی ئے کوی | هغه څوک | چه امید ساتی | د ملاقات | د الله | پس بیشکه | نیټه

ډیره غلط اندازے دوی لګوی څوک چه الله تعالیٰ سره د ملاقات امید (عقیده) ساتی هغوی لره یقین ساتل پکار دی

اللّٰهِ لَاٰتٍ ؕ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۝٥ وَمَنْ جَاهَدَ فَاِنَّمَا

د الله | خامخا راتلونکے ده | او هم هغه | اوریدونکے | پوهه دے | او هغه څوک | چه ځان کړوی | پس بیشکه

چه د الله تعالیٰ مقرر شوے نیټه به خامخا راځي (لو صبر دے او کړي) او هم هغه الله هر څه اوري او هر څه وینی. او څوک چه

يُجَاهِدُ لِنَفْسِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَغَنِيٌّ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ۝٦ وَالَّذِيْنَ

هغه ځان کړوی | د خپل ځان د پاره | بیشکه | الله دے | خامخا بے حاجته | د مخلوقاتو نه | او هغه کسان

بدنی او مالی مجاهدے کوی لو د خپل ځان د فائدے د پاره ئے کوی. ځکه چه الله تعالیٰ (خو) مخلوقاتو ته محتاج نه دے

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَنُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ

چه ایمان ئے راوړے دے | او عملونه ئے کړی دی | نیک | خامخا به ورژوو مونږ | د هغوی نه | ګناهونه د هغوی

او چا چه ایمان راوړے دے او نیک عملونه ئے کړی دی مونږ به د هغوی ګناهونه د هغوی نه خامخا لرے کړو

وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ اَحْسَنَ الَّذِيْ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝٧ وَوَصَّيْنَا

او خامخا به بدله ورکړو مونږ هغوی ته | خائسته بدله | د هغه څه | چه هغوی به | کول | او مونږ حکم کړے دے

او هغوی ته به د هغوی د عملونو بهتر نه بدله خامخا ورکړو. او مونږ انسان ته دا پوخ حکم کړے دے چه

الْاِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ حُسْنًا ؕ وَاِنْ جَاهَدٰكَ لِتُشْرِكَ

انسان ته | د مور او پلار سره | ښیګړے کولو | او که چرے | زور چلوی هغوی ستا په چه تا پابند دے | چه ته شریک کړے

د مور او پلار سره ښیګړه کوه او که چرے هغوی دواړه تا مجبوره کړي چه ما سره دا سے (معبود) شریک

بِيْ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا ؕ اِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ

زما سره | هغه څه | چه نشته | تا سره | په هغې باندے | هیڅ علم | نو مه منه خبره د هغوی دواړو | خاص ما ته | واپس کیدل دی ستاسو

جوړ کړے چه تا سره په ے هیڅ قسم دلیل نشته نو د هغوی خبره مه منه. تاسو ټول به هم زما طرف ته واپس راځئ

فَاُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝٨ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

نو زه به خبر کړم تاسو | د هغه څه نه | چه تاسو به | کول | او هغه کسان | چه ایمان ئے راوړے دے | او عملونه ئے کړی دی

نو هغه وخت به مو د هغه هر څه نه خبر کړم چه تاسو به کول. او چا چه ایمان راوړے دے او نیک عملونه ئے کړی دی

الصّٰلِحٰتِ لَنُدْخِلَنَّهُمْ فِي الصّٰلِحِيْنَ ۝٩ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ

نیک | خامخا به مونږ داخل کړو دوی | په نیکانو کښې | او بعضے د خلقو نه | هغه څوک دی

مونږ به هغوی خامخا په نیکانو خلقو کښې شامل کړو. او څه خلق دا سے هم شته

يَّقُوْلُ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ فَاِذَآ اُوْذِيَ فِي اللّٰهِ جَعَلَ

چه وائي | مونږ ایمان راوړے دے | په الله باندے | پس کله چه | تکلیف ورکړے شي هغه | په لار د الله کښې | نو اوګرځوي

چه دا وائي چه مونږ په الله تعالیٰ ایمان راوړے دے بیا کله چه ورته د الله په لار کښې څه تکلیف اورسي

فِتْنَةَ النَّاسِ كَعَذَابِ اللّٰهِ ؕ وَلَئِنْ جَآءَ نَصْرٌ مِّنْ رَّبِّكَ

ازمیښت | د خلقو | په شان د عذاب | د الله | او که چرے | راشي | مدد | ستا د رب د طرف نه

نو د خلقو د تکلیف او فتنے نه داسے یریږي لکه د الله د عذاب چه یره پکار ده او که چرے ستا د رب د طرف نه څه مدد راشي

لَيَقُوْلُنَّ اِنَّا كُنَّا مَعَكُمْ ؕ اَوَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَعْلَمَ بِمَا

نو خامخا به وائي دوي | (چه) بیشکه | مونږ | تاسو سره یُو | آیا نه دے | الله | ښه پوهه | په هغه څه

نو دوي به خامخا (مومنانو ته) دا وائي چه مونږ خو ستاسو ملګري یُو آیا الله تعالیٰ ته هغه خبرے (د اخلاص و عدم اخلاص) معلومے نه دي

فِيْ صُدُوْرِ الْعٰلَمِيْنَ ۝١٠ وَلَيَعْلَمَنَّ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

چه دي په سینو | د مخلوقاتو کښې | او خامخا ښکاره کوي به | الله | هغه کسان | چه ایمان ئے راوړے دے

چه د خلقو په سینو کښې پرتے دي؟ او الله تعالیٰ به هغه خلق خامخا ښکاره کوي چا چه ایمان راوړے دے

وَلَيَعْلَمَنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ ۝١١ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلَّذِيْنَ

او خامخا ښکاره کوي به | منافقان | او وائي | هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | هغه چا ته

او منافقان به هم خامخا ښکاره کوي. او کافران مومنانو ته وائي چه

اٰمَنُوْا اتَّبِعُوْا سَبِيْلَنَا وَلْنَحْمِلْ خَطٰيٰكُمْ ؕ وَمَا هُمْ

چه ایمان ئے راوړے دے | روان شئ | په لاره زمونږ | او مونږ به اوچت کړو | ګناهونه ستاسو | او (حال دا چه) نه دي دوي

زمونږ په لاره (طریقه) روان شئ او ستاسو د ګناهونو بوج به مونږ په خپل سر واخلو حالانکه دوي د هغوي

بِحٰمِلِيْنَ مِنْ خَطٰيٰهُمْ مِّنْ شَيْءٍ ؕ اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ۝١٢

اوچتونکي | د ګناهونو د هغوي نه | هیڅ څیز لره | بیشکه دوي | خامخا دروغژن دي

د ګناهونو نه لږ غوندے بوج هم په خپل سر نشي اغستلے. یقیناً دا خلق دروغژن دي.

وَلَيَحْمِلُنَّ اَثْقَالَهُمْ وَاَثْقَالًا مَّعَ اَثْقَالِهِمْ ۫ وَلَيُسْئَلُنَّ

او خامخا دوي به اوچتوي | بوجونه خپل | او نور بوجونه | د خپلو بوجونو سره | او خامخا پوښتنه به کیږي د دوي نه

او دوي به د خپلو ګناهونو بوجونه خامخا اوچتوي او د خپلو بوجونو سره به څه نور بوجونه هم اوچتوي. او دوي چه

ع

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَمَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ۝١٣ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا

په ورځ | د قیامت | د هغه څه باره کښې | چه دوي به | دروغ جوړول | او یقیناً | مونږ لیږلے وو | نوح

څه دروغ خبرے جوړولے د قیامت په ورځ به تر ے د هغے باره کښې خامخا پوښتنه کیږي. او یقیناً مونږ نوح

اِلٰى قَوْمِهٖ فَلَبِثَ فِيْهِمْ اَلْفَ سَنَةٍ اِلَّا خَمْسِيْنَ عَامًا ؕ

قوم خپل ته | نو هغه تیر کړل | په هغوي کښې | زر | کاله | سوا | د پنځوس | کالونه

خپل قوم ته لیږلے وو نو هغه په هغوي کښې پنځوس کم زر کاله پاتے شو.

فَأَخَذَهُمُ الطُّوفَانُ وَهُمْ ظٰلِمُونَ ﴿١٤﴾ فَأَنْجَيْنٰهُ

پس راونیوول هغوی لره | طوفان | او هغوی | ظالمان وو | پس نجات ورکړو موږ هغه ته

بیا په هغوی باندے طوفان راغے او هغوی ظالمان وو. نو (بیا) موږ نوح

وَأَصْحٰبَ السَّفِينَةِ وَجَعَلْنٰهَآ اٰيَةً لِّلْعٰلَمِينَ ﴿١٥﴾ وَإِبْرٰهِيمَ

او کشتۍ والو ته | او (جوړه) کړه موږ هغه (کشتۍ) | یوه نخښه | د مخلوق دپاره | او ابراهیم

او کشتۍ والا بچ کړل، او هغه کشتۍ مو د ټول جهان والو دپاره د عبرت یوه نخښه جوړه کړه. او ابراهیم

إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاتَّقُوهُ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ

کله چه | هغه او ویل | خپل قوم ته | (چه) عبادت اوکړئ | د (یو) الله | او او ویرېږئ د هغه نه | دا | ډیره ښه ده

مو لیږلے وو کله چه هغه خپل قوم ته او ویل چه (یوا ځے) د الله تعالیٰ عبادت کوئ او د هغه نه ویرېږئ،

لَّكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١٦﴾ إِنَّمَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللّٰهِ

ستاسو دپاره | که چرے | تاسو | پوهېږئ | بیشکه | تاسو عبادت کوئ | سوا | د الله نه

که تاسو پوهه لرئ نو دا خبره در له غوره ده. تاسو (خو) د الله تعالیٰ نه سوا د بتانو عبادت کوئ

أَوْثٰنًا وَّتَخْلُقُونَ إِفْكًا إِنَّ الَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللّٰهِ

د بتانو | او جوړوئ تاسو | دروغ | بیشکه | هغه کسان | چه تاسو (ئے) عبادت کوئ | سوا | د الله نه

او د ځان نه دروغ جوړوئ، یقین اوکړئ چه تاسو چه د الله تعالیٰ نه سوا د چا عبادت کوئ

لَا يَمْلِكُونَ لَكُمْ رِزْقًا فَابْتَغُوا عِنْدَ اللّٰهِ الرِّزْقَ

هغوی اختیار نه لری | ستاسو دپاره | د رزق | پس اولټوئ تاسو | د الله سره | رزق

هغوی (خو) تاسو له د رزق درکولو اختیار (هم) نه لری. پس رزق د الله نه اوغوارئ

وَاعْبُدُوهُ وَاشْكُرُوا لَهُ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿١٧﴾ وَإِنْ تُكَذِّبُوا

او عبادت اوکړئ د هغه | او شکر ادا کړئ | د هغهٔ | خاص هغه ته به | تاسو واپس کولی شئ | او که چرے | تاسو دروغژن گنړئ (ما)

او د هغه عبادت اوکړئ او شکر ئے اداء کړئ، تاسو ټول به هم د هغه طرف ته واپس کېږئ. او که چرے تاسو

فَقَدْ كَذَّبَ أُمَمٌ مِّنْ قَبْلِكُمْ وَمَا عَلَى الرَّسُولِ

نو یقینًا | دروغژن گنړلے وو (حق لره) | ډیرو امتونو | مخکښ ستاسو نه | او نشته | په پیغمبر باندے

ما دروغژن گنړئ نو هیڅ خبره نه ده ځکه چه تاسو نه مخکښ قومونو هم خپل پیغمبران دروغژن گنړلی وو او د پیغمبر ذمه داری

إِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِينُ ﴿١٨﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا كَيْفَ يُبْدِئُ اللّٰهُ

مگر (پیغام) رسول | ښکاره | آیا دوی نه گوری | چه څنگه | په اول ځل پیدا کوی | الله

خو صرف دا وی چه حق صفا صفا بیان کړی. آیا دے خلقو ته معلومه نه ده چه الله تعالیٰ څنگه مخلوق په اول ځل

الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ إِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيرٌ ﴿١٩﴾ قُلْ سِيرُوا

مخلوق | بیا به ئے | هغه دوباره پیدا کوی | بیشکه | دا کار | په الله باندے | ډیر آسان دے | او وایه | او گرځئ

پیدا کوی بیا (به) ئے هم هغه دوباره پیدا کوی دا کار الله ته ډیر آسان دے. او وایه چه لږ

فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ بَدَأَ الْخَلْقَ ثُمَّ اللَّهُ

په زمکه کښې | پس اوګورئ | چه څنګه | په اول ځل پیدا کړے دے الله | مخلوق | بیا به | الله

په زمکه کښې اوګرځئ (او) اوګورئ چه الله تعالیٰ مخلوق څنګه په اول ځل پیدا کړو بیا به ئے هم الله

يُنْشِئُ النَّشْأَةَ الْآخِرَةَ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٠﴾

پیدا کول کوی | پیدا کول | وروستی | بیشکه | الله | په هر یو | څیز | قادر دے

په دویم ځل پیدا کوی . یقیناً الله تعالیٰ په هر څه قادر دے.

يُعَذِّبُ مَنْ يَشَاءُ وَيَرْحَمُ مَنْ يَشَاءُ ۖ وَإِلَيْهِ تُقْلَبُونَ ﴿٢١﴾

هغه عذاب ورکوی | چاته | چه اوغواړی | او رحم کوی | په چا | چه اوغواړی | او خاص هغه ته به | تاسو واپس کولے شئ

هغه چه چاته اوغواړی سزا به ورکړی او په چا چه اوغواړی رحم (به) اوکړی، او تاسو ټول به هم د هغه طرف ته واپس کړے شئ.

وَمَا أَنْتُمْ بِمُعْجِزِينَ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ ۖ وَمَا لَكُمْ

او نه یئ تاسو | عاجزه کونکی | په زمکه کښې | او نه په آسمان کښې | او نشته ستاسو دپاره

او تاسو نه په زمکه کښې (الله) عاجزه کولے شئ او نه په آسمان کښې . او د الله نه سوا

مِنْ دُونِ اللَّهِ مِنْ وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿٢٢﴾ وَالَّذِينَ كَفَرُوا ع

سوا | د الله نه | هیڅ څوک دوست | او نه څوک مددګار | او هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے

نه ستاسو نه څوک بچ کوونکے دوست شته او نه څوک مددګار . او چا چه د الله د آیتونو نه

بِآيَاتِ اللَّهِ وَلِقَائِهِ أُولَٰئِكَ يَئِسُوا مِنْ رَحْمَتِي وَأُولَٰئِكَ

په آیتونو | د الله | او په ملاقات د هغه | هم دغه کسان | ناامیده شوی دی | د رحمت زما نه | او هم دغه خلق

او د هغه د ملاقات نه انکار کړے دے هغوی زما د رحمت نه ناامیده شوی دی او د هغوی دپاره

لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢٣﴾ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ إِلَّا أَنْ

د دوی دپاره | عذاب دے | دردناک | پس نه وو | جواب | د قوم د هغهٔ | مګر | دا چه

دردناک عذاب مقرر دے. غرض (نو) د ابراهیمؑ د قوم جواب صرف دا وو چه هغوی اوویل چه

قَالُوا اقْتُلُوهُ أَوْ حَرِّقُوهُ فَأَنْجَاهُ اللَّهُ مِنَ النَّارِ ۚ إِنَّ

اوویل دوی | چه ووژنئ دے | یا اوسوزوئ دے | پس بچ کړو هغه لره | الله | د | اور نه | بیشکه

یا خو دے اووژنئ او یا ئے اوسوزوئ، لیکن الله تعالیٰ هغه د اور نه بچ کړو . یقیناً

فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٢٤﴾ وَقَالَ إِنَّمَا اتَّخَذْتُمْ

په دے کښې | خامخا لوے نخښے دی | دپاره د هغه قوم | چه ایمان راوړی | او اوویل هغه | بیشکه | تاسو نیولی دی

په دے واقعه کښې د ایمان لرونکو خلقو دپاره د عبرت ډیرے نخښے دی. او ابراهیمؑ (ورته دا هم) ویلی وو

مِنْ دُونِ اللَّهِ أَوْثَانًا مَوَدَّةَ بَيْنِكُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۖ

سوا | د الله نه | بُتان | ذریعه د محبت | په خپل مینځ کښې | په ژوند | دنیوی کښې

چه تاسو د الله تعالیٰ نه سوا بتان په خپل مینځ کښې د محبت (او دوستانے) ذریعه جوړه کړے ده

ثُمَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكْفُرُ بَعْضُكُمْ بِبَعْضٍ وَّيَلْعَنُ بَعْضُكُمْ

بیا | په ورځ | د قیامت | انکار به کوی | بعضے ستاسو | د بعضو نه | او لعنت به وائی | بعضے ستاسو

خو د قیامت په ورځ به تاسو د یو بل نه انکار کوئ او په یو بل باندے به لعنت وایئ

بَعْضًا ۡ وَّمَاْوٰىكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿۲۵﴾ فَاٰمَنَ

په بعضو باندے | او ځائے ستاسو | اور دے | او نه به وی | ستاسو دپاره | هیڅ څوک مدد کوونکی | پس ایمان ښکاره کړو

او ستاسو داوسیدو ځائے به اور وی او هیڅوک به مو مددګار نه وی. پس (بیا) لوط

لَهٗ لُوْطٌ ۘ وَقَالَ اِنِّيْ مُهَاجِرٌ اِلٰى رَبِّيْ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْعَزِيْزُ

ده ته | لوط | او اوویل هغه | بیشکه زه | هجرت کوونکے یم | د خپل رب طرف ته | بیشکه | هم هغه | ډیر زورور

د هغه تصدیق او کړو. او ابراهیم اوویل چه زه د خپل رب طرف ته هجرت کوم یقیناً هغه ډیر غالب

الْحَكِيْمُ ﴿۲۶﴾ وَوَهَبْنَا لَهٗۤ اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ وَجَعَلْنَا فِيْ ذُرِّيَّتِهِ

ډیر حکمت والا دے | او ورکړل مونږ | هغه ته | اسحاق | او یعقوب | او جاری کړه مونږ | په اولاد د هغه کښ

او لوئے حکمت والا دے. او مونږ هغه ته (د) اسحاق او یعقوب (ښّان بچی) ورکړل او د هغه په اولاد کښ مو

النُّبُوَّةَ وَالْكِتٰبَ وَاٰتَيْنٰهُ اَجْرَهٗ فِي الدُّنْيَا ۚ وَاِنَّهٗ

پیغمبری | او کتاب | او ورکړو مونږ هغه ته | اجر د هغه | په دنیا کښ | او بیشکه هغه به وی

د نبوت او کتاب سلسله جاری او ساتله. او هغه ته مو د هغه اجر (صله) په دنیا کښ هم ورکړه او یقیناً

فِي الْاٰخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۲۷﴾ وَلُوْطًا اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖۤ

په آخرت کښ | خامخا د نیکانو نه | او لوط | کله چه | او وویل هغه | قوم خپل ته

په آخرت کښ به هم هغه په کاملو نیکانو کښ شامل وی. او (د) لوط (حالات یاد کړه) کله چه هغه خپل قوم ته اوویل

اِنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ الْفَاحِشَةَ ۡ مَا سَبَقَكُمْ بِهَا مِنْ اَحَدٍ

بیشکه تاسو | خامخا راتلل کوئ | بے حیائی ته | چه وړاندے شوی نه دی تاسو نه | هغے ته | هیڅ څوک (هم)

چه حقیقت دا دے چه تاسو (خو) داسے بے حیائی کوئ چه تاسو نه مخکښ په مخلوقاتو کښ هیڅ چا

مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۲۸﴾ اَئِنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ الرِّجَالَ وَتَقْطَعُوْنَ السَّبِيْلَ ۙ۬

د مخلوقاتو نه | آیا تاسو | خامخا راځئ | نارینو ته | او شوکوئ | لار

نه ده کړے آیا (ستاسو دا حال دے چه د ښځو په ځائے) د نارینو نه خپل شهوت پوره کوئ او لارے (هم) شوکوئ

وَتَاْتُوْنَ فِيْ نَادِيْكُمُ الْمُنْكَرَ ؕ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖۤ اِلَّاۤ

او راتلل کوئ تاسو | په مجلسونو خپلو کښ | خراب کارونو ته | پس نه وو | جواب | د قوم د هغه | مگر

او په خپلو مجلسونو کښ ناروا (نامناسب) کارونه کوئ؟ نو د قوم جواب ورته صرف دا وو چه که ته

اَنْ قَالُوا ائْتِنَا بِعَذَابِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۲۹﴾

دا چه | او ویل هغوی | راوړه مونږ ته | عذاب | د الله | که چرے | ئے ته | د | رشتینو نه

رشتینے ئے نو په مونږ باندے د الله عذاب راوله.



قَالَ رَبِّ انْصُرْنِیْ عَلَی الْقَوْمِ الْمُفْسِدِیْنَ ۝ وَلَمَّا جَآءَتْ

اوویل هغه | اے زمارَبه! | مدداوکړه زما | په خلاف د قوم | فساد کونکو | او هرکله | چه راوړو

(لوط دعاء اوغوښتنه) چه اے زمارَبه ادد ے فسادیانو خلقو په مقابله کښې زما مدد اوکړه. اوکله چه زمونږ

رُسُلُنَآ اِبْرٰهِیْمَ بِالْبُشْرٰی ۙ قَالُوْٓا اِنَّا مُهْلِكُوْٓا اَهْلِ

فرشتوزمونږ | ابراهیمؑ ته | زیرے | اوویل هغوی | بیشکه مونږ | هلاک کونکی یُو | اوسیدونکی (خلق)

فرشتے د ابراهیمؑ خواله (د زیری دپاره) راغلے نو دا ئے ورته هم اوویل چه مونږ د دغه کلی خلق تباه کول غواړو

هٰذِهِ الْقَرْيَةِ ۚ اِنَّ اَهْلَهَا كَانُوْا ظٰلِمِيْنَ ۝ قَالَ اِنَّ فِيْهَا

دد ے | کلی | بیشکه | دد ے خلق | وو | ظالمان | اوویل هغهٔ | بیشکه | په دے کښې (خو)

(ځکه چه) دهغے خلق ظالمان (بدکار) دی. ابراهیمؑ ورته اوویل چه په هغے کښې (خو) لوطؑ هم د ے. فرشتو

لُوْطًا ۭ قَالُوْا نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَنْ فِيْهَا ۡ لَنُنَجِّيَنَّهٗ وَاَهْلَهٗٓ

لوط دے | اوویل هغوی | مونږ | ښه خبریُو | په هغه چا | چه چرے کښې دی | خامخا مونږ به بچ کوو هغه | او کورنۍ دهغه

ورته اوویل چه هلته چه څوک اوسیږی هغه ټول مونږ پیژنو. مونږ به لوط او دهغه کور والا (کورنۍ) ضرور بچ کوو

اِلَّا امْرَاَتَهٗ ۡ كَانَتْ مِنَ الْغٰبِرِيْنَ ۝ وَلَمَّآ اَنْ جَآءَتْ رُسُلُنَا

سوا | د ښځے دهغهٔ نه | وی به هغه | دوروستو پاتے کیدونکونه | او هرکله | چه | راغلے | فرشتے زمونږ

سوا د هغه د ښځے نه چه هغه به په وروستو پاتے کیدونکو خلقو کښې شاملیږی. اوکله چه زمونږ فرشتے

لُوْطًا سِیْٓءَ بِهِمْ وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا وَّقَالُوْا لَا تَخَفْ

لوط ته | (نو) غمژن شو | په وجه دهغوی | او تنګ ئے شو | دهغوی په وجه | زړه | او اوویل هغوی | مه یَریږه

د لوطؑ خواله راغلے نو لوطؑ دهغوی په راتلو ډیر خفه شو او زړه ئے تنګ شو (او) هغه فرشتو ورته اوویل ته مه یَریږه

وَلَا تَحْزَنْ ۫ اِنَّا مُنَجُّوْكَ وَاَهْلَكَ اِلَّا امْرَاَتَكَ كَانَتْ

او مهٔ غمژن کیږه | بیشکه مونږ | بچ کونکی یو تالره | او کورنۍ ستا لره | سوا | د ښځے ستا نه | وی به هغه

او مه غم کوه. یقیناً مونږ به تا او ستا کور والا ضرور بچ کوو سوا ستا د ښځے نه چه هغه به

مِنَ الْغٰبِرِيْنَ ۝ اِنَّا مُنْزِلُوْنَ عَلٰٓی اَهْلِ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ رِجْزًا

دوروستو پاتے کیدونکونه | بیشکه مونږ | راکوزونکی یُو | په اوسیدونکو | د دے | کلی بانده | عذاب

په وروستو پاتے کیدونکو خلقو کښې شاملیږی. یقیناً مونږ د دے کلی د خلقو د نافرمانۍ د وجے

مِّنَ السَّمَآءِ بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ۝ وَلَقَدْ تَّرَكْنَا مِنْهَآ

د آسمان نه | ځکه چه | دوی به فسق کولو | او یقیناً | مونږ پریښودله | دهغے (کلی) نه

په دوی بانده د آسمان نه عذاب رالیږو. او یقیناً مونږ د عقل لرونکو خلقو دپاره په دغه کلی کښې

اٰيَةً بَيِّنَةً لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿٣٥﴾ وَاِلٰى مَدْيَنَ اَخَاهُمْ شُعَيْبًا

يوه نخښه | ښكاره | دپاره دهغه قوم | چه عقل لري | او مدين والو ته | ورور دهغوي | شعيب

ښكاره نخښے (كنډرات) پريښودلي دي. او مدين والو ته مونږ دهغوي ورور شعيبؑ ليږلے وو

فَقَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَارْجُوا الْيَوْمَ الْاٰخِرَ وَلَا تَعْثَوْا

پس هغه ووئيل | اے زما قومه! | عبادت اوكړئ | د الله | او عقيده لرئ | د ورځ | روستنۍ | او مه ګرځئ

نو هغه ورته ووئيل اے زما قومه! د يو الله عبادت اوكړئ او د آخرت د ورځے اميد (عقيده) ساتئ

فِي الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ﴿٣٦﴾ فَكَذَّبُوْهُ فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ

په زمكه كښ | فساد كونكي | پس هغوي دروغژن اوګڼلو هغه | پس اونيوله هغوي لره | زلزلے

او په زمكه (ملک) كښ فساد مه خوروئ. خو هغوي شعيبؑ دروغژن اوګڼلو نو زلزله پرے راغله

فَاَصْبَحُوْا فِيْ دَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ﴿٣٧﴾ وَعَادًا وَّثَمُوْدَا۟ وَقَدْ

نو شول هغوي | په كورونو خپلو كښ | پر مخے پراته | او عاد | او ثمود (هم مونږ هلاک كړل) | او يقينًا

او هغوي په خپلو كورونو كښ پر مخے پريوتي پاتے شو. او عاديان او ثموديان هم مونږ هلاک كړل

تَّبَيَّنَ لَكُمْ مِّنْ مَّسٰكِنِهِمْ ۟ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ

ښكاره شوي دي | تاسو ته | د كورونو د هغوي نه (د حالات) | او ښائسته كړي وو | هغوي ته | شيطان | (بد) عملونه خپل

او تاسو ته د هغوي تباهي د هغوي د كورونو نه ښه معلومه شوے ده. او شيطان ورته خپل بد عملونه ښائسته ښكاره كړي وو

فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيْلِ وَكَانُوْا مُسْتَبْصِرِيْنَ ﴿٣٨﴾ وَقَارُوْنَ وَفِرْعَوْنَ

پس منع كړي ئے وو | د (سمے) لارے نه | او وو هغوي | هوښياران | او قارون | او فرعون

نو د سمے لارے نه ئے بند كړي وو (سره د دے چه) هغوي ښه هوښياران وو او قارون، فرعون

وَهَامٰنَ ۟ وَلَقَدْ جَآءَهُمْ مُّوْسٰى بِالْبَيِّنٰتِ فَاسْتَكْبَرُوْا

او هامان (هم) | او يقينًا | راغلے وو دوي ته | موسٰیؑ | په ښكاره دليلونو سره | پس تكبر اوكړو دوي

او هامان هم مونږ تباه كړي دي او يقينًا موسٰیؑ هغوي ته ښكاره دليلونه پيش كړي وو خو (بيا) هم هغوي

فِي الْاَرْضِ وَمَا كَانُوْا سٰبِقِيْنَ ﴿٣٩﴾ فَكُلًّا اَخَذْنَا بِذَنْۢبِهٖ ۚ

په زمكه كښ | او نه وو دوي | بچ كيدونكي | پس هر يو | نيولے وو مونږ | په ګناه دهغه

په زمكه كښ تكبر اوكړو حالانكه هغوي زمونږ نه بچ كيدے نشو. نو مونږ هر يو دهغه د ګناه په وجه راونيولو

فَمِنْهُمْ مَّنْ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ

پس بعضے دوي نه | هغه (څوک) وو | چه راليږلے وو مونږ | په هغه باندے | باران د كاڼو | او بعضے دوي نه | هغه څوک وو

نو په عاديانو او قومِ لوطؑ باندے مو كاڼړي راواورول. او په ثموديانو باندے

اَخَذَتْهُ الصَّیْحَةُ ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ خَسَفْنَا بِهِ الْاَرْضَ ۚ

چه نیولے و هغه لره | سخته چغه | او بعضے د دوی نه | هغه څوک وو | چه ښخ کړل مونږ | هغه | په زمکه کښې

یوه چغه او وهلے شوه او قارون مونږ په زمکه کښې ورښخ کړو.

وَمِنْهُمْ مَّنْ اَغْرَقْنَا ۚ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِیَظْلِمَهُمْ

او بعضے د دوی نه | هغه څوک وو | چه غرق کړل مونږ | او نه دے | الله | چه ظلم ئے کولو په هغوی

او فرعون او قوم نوح مو په دریاب کښې ډوب کړل، او الله په دوی ظلم نه کولو

وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ یَظْلِمُوْنَ ۝۴۰ مَثَلُ الَّذِیْنَ اتَّخَذُوْا

لیکن | دوی | په خپلو ځانونو | ظلم کولو | مثال | د هغه کسانو | چه نیولی ئے دی

بلکه دوی پخپله په خپلو ځانونو ظلم کولو. کومو خلقو چه د الله تعالیٰ نه سوا

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْلِیَآءَ كَمَثَلِ الْعَنْكَبُوْتِ ۚۖ اِتَّخَذَتْ بَیْتًا ؕ

سوا | د الله نه | نور دوستان | په شان د مثال | د جولاګۍ دے | چه جوړ کړے ئے وی | کور

نور کارسازان جوړ کړی دی د هغوی حال د جولاګۍ د حال پشان دے چه یو کور ئے جوړ کړے وی

وَاِنَّ اَوْهَنَ الْبُیُوْتِ لَبَیْتُ الْعَنْكَبُوْتِ ۘ لَوْ كَانُوْا یَعْلَمُوْنَ ۝۴۱

او بیشکه | ډیر کمزورے | د کورونو نه | خامخا کور | د جولاګۍ دے | کاش | چه دوی | پوهیدلے

او دا ښکاره خبره ده چه په ټولو کورونو کښې زیات کمزورے کور د جولاګۍ دے (دغسے حال د مشرک دے چه شرک به

اِنَّ اللّٰهَ یَعْلَمُ مَا یَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ مِنْ شَیْءٍ ؕ

بیشکه | الله | پیژنی | حال د هغه چا | چه دوی ئے رابلی | سوا د هغه نه | هر څیز چه وی

ورته هیڅ فائده ورنکړی) کاش که دوی پوهیدلے دا خلق چه د الله نه سوا څوک رابلی الله د هغوی په عجز ښه خبر دے

وَهُوَ الْعَزِیْزُ الْحَكِیْمُ ۝۴۲ وَتِلْكَ الْاَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ ۚ

او هم هغه | ډیر زورور | او لوے حکمت والا دے | او دا | مثالونه دی | چه مونږ ئے بیانوو | خلقو ته

او هم هغه ډیر غالب او حکمت والا دے، او دا مثالونه مونږ د خلقو د فائدے د پاره بیانوو

وَمَا یَعْقِلُهَآ اِلَّا الْعٰلِمُوْنَ ۝۴۳ خَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ

او نه پوهیږی په دے باندے | مګر | پوهه خلق | پیدا کړی دی | الله | آسمانونه

او په دے باندے هم هغه خلق پوهیږی چه علم لری. الله تعالیٰ آسمانونه او زمکه د حق ښکاره کولو د پاره

وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ؕ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیَةً لِّلْمُؤْمِنِیْنَ ۝۴۴ ع

او زمکه | په حقه سره | بیشکه | په دے کښې | خامخا نخښه ده | د پاره د مومنانو

پیدا کړی دی، یقیناً د مومنانو د پاره په دے کښې د الله د قدرت او توحید غټ دلیل پروت دے.

اُتْلُ مَآ اُوْحِیَ اِلَیْكَ مِنَ الْكِتٰبِ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ ؕ اِنَّ

لوله ته | هغه څه | چه وحی کړے شوے ده | تاته | د کتاب نه | او قائم کړه | مونځ | بیشکه

(اے نبیؐ !) د کوم کتاب چه تاته وحی شوے ده هغه لوله او د مانځه پابندی کوه. یقیناً

الصَّلٰوةَ تَنْهٰی عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ ؕ وَلَذِكْرُ اللّٰهِ اَكْبَرُ ؕ

مونځ | منع کوی | د بے حیایئ | او د ناروا نه | او خامخا ذکر | د الله | ډیر لوئے څیز دے

مونځ د بے حیائی او د بدو کارونو نه منع کوی. او د الله ذکر (یاد) د ټولو نه لوئے څیز دے

وَاللّٰهُ یَعْلَمُ مَا تَصْنَعُوْنَ ۝ وَلَا تُجَادِلُوْٓا اَهْلَ الْكِتٰبِ

او الله | پوهیږی | په هغه څه | چه تاسو ئے کوئ | او جګړه مه کوئ تاسو | د اهل کتابو سره

او تاسو چه څه عمل عادة کوئ الله ته هغه معلوم دے. او (اے مسلمانانو !) د اهل کتابو سره جګړه (بحث) مه کوئ

اِلَّا بِالَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ ۖ ۗ اِلَّا الَّذِیْنَ ظَلَمُوْا مِنْهُمْ

مګر | په هغه طریقه | چه هغه | ښائسته ده | سوا | د هغه خلقو نه | چه ظلم ئے کړے دے | د دوی نه

مګر په داسے طریقه چه هغه ډیره ښه وی البته په هغوی کښ چه څوک په ضد باندے ولاړ دی هغوی سره هم د هغوی په شان معامله کوئ

وَقُوْلُوْٓا اٰمَنَّا بِالَّذِیْٓ اُنْزِلَ اِلَیْنَا وَاُنْزِلَ اِلَیْكُمْ

او ووایئ تاسو | (چه) مونږ ایمان راوړے دے | په هغه څه | چه نازل کړے شوی دی | مونږ ته | او (چه) نازل کړے شوی دی | تاسو ته

او دا (ورته) او وایئ چه مونږ په هغه کتاب هم ایمان راوړے دے کوم چه مونږ ته نازل شوے دے او په هغه کتابونو هم کوم چه تاسو ته

وَاِلٰهُنَا وَاِلٰهُكُمْ وَاحِدٌ وَّنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ۝ وَكَذٰلِكَ

او زمونږ خدائے | او ستاسو خدائے | یو دے | او مونږ | خاص (هم) هغه | حکم منونکی یو | او د غه شان

نازل شوی وو او زمونږ او ستاسو حقدار د بندګئ یو دے، او مونږ هم د هغه ټول حکمونه منو.

اَنْزَلْنَآ اِلَیْكَ الْكِتٰبَ ؕ فَالَّذِیْنَ اٰتَیْنٰهُمُ الْكِتٰبَ

نازل کړے دے مونږ | تاته | کتاب | پس هغه خلق | چه ور کړے دے مونږ هغوی ته | کتاب

او (اے نبیؐ !) دغه شان مونږ تاته هم کتاب رالیږلو. نو چاته چه مونږ (پخوا) کتاب ور کړے دے

یُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ۚ وَمِنْ هٰٓؤُلَآءِ مَنْ یُّؤْمِنُ بِهٖ ؕ وَمَا یَجْحَدُ

هغوی ایمان راوړی | په دے باندے | او بعضے د دے خلقو نه | هغه څوک دی | چه ایمان راوړی | په دے باندے | او انکار نه کوی

هغوی هم په دے ایمان راوړی او د دے موجوده خلقو نه هم بعضے خلق په دے ایمان راوړی. او زمونږ د آیتونو نه

بِاٰیٰتِنَآ اِلَّا الْكٰفِرُوْنَ ۝ وَمَا كُنْتَ تَتْلُوْا مِنْ قَبْلِهٖ

د آیتونو زمونږ نه | مګر | کافران | او نه وے ته | چه لوستلے وے تا | مخکښ د دے نه

خو صرف (ضدی) کافران انکار کوی. او د دے قرآن نه مخکښ تا نه څه کتاب لوستلے وو او نه دے څه کتاب

مِنْ كِتٰبٍ وَّلَا تَخُطُّهٗ بِیَمِیْنِكَ اِذًا لَّارْتَابَ الْمُبْطِلُوْنَ ۝

څه کتاب | او نه لیکلے دے تا کتاب لره | په ښی (لاس) خپل | دغه وخت | خامخا شک به کړے وے | باطل پرستو خلقو

په خپل ښی لاس لیکلے وو که چرے داسے وے نو دے باطل پرستو خلقو به خامخا شکونه کول

بَلْ هُوَ اٰيٰتٌۢ بَيِّنٰتٌ فِيْ صُدُوْرِ الَّذِيْنَ اُوْتُوا

بلکه | دا (قرآن) | (خو) آیتونه دي | ښه واضحه | په سینو | دهغه کسانو کښې | چې ورکړے شوے دے هغوی ته

بلکه حقیقت (خو) دا دے چه کومو خلقو ته علم ورکړے شوے دے دهغوی په سینو (زړونو) کښې

الْعِلْمَ ؕ وَمَا يَجْحَدُ بِاٰيٰتِنَآ اِلَّا الظّٰلِمُوْنَ ۝ وَقَالُوْا

علم | او انکار نه کوي | دا آیتونو زمونږ نه | مګر | ظالمان | او وائي دوي

دا (کتاب) بلکل واضحه دلیلونه دصدق دي او زمونږ د آیتونو نه خو صرف ظالمان (ضدیان) خلق انکار کوي. او کافران وائي چه

لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيٰتٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ قُلْ اِنَّمَا الْاٰيٰتُ

ولے نشي نازلیدی لے | په ده باندے | نخښے | دخپل رب دطرف نه | او وایه | (چه) بیشکه | نخښے (خو)

په دے پیغمبر باندے دخپل رب دطرف نه نخښے (معجزات) ولے نه راځي؟ اے نبیؐ اته ورته جواب ورکړه چه نخښے خو

عِنْدَ اللّٰهِ ؕ وَاِنَّمَآ اَنَا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۝ اَوَلَمْ يَكْفِهِمْ اَنَّآ

د الله سره دي | او بیشکه | زه (خو) یم | یروونکے | ښکاره | آیا نه ده کافي دوی لره (دا خبره) | چه بیشکه

دالله په اختیار کښې دي او زه (خو بس) صفا صفا خبردارونکے (یروونکے) یم. آیا دے خلقو دپاره دا نخښه (معجزه) کافي نه ده

اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ يُتْلٰى عَلَيْهِمْ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

مونږ نازل کړے دے | په تا باندے | دا کتاب | چه لوستلے کیږي | په دوی باندے | بیشکه | په دے کښې

چه مونږ تا ته (یو داسے) کتاب رالیږلے دے چه هغه دوی ته بیا بیا لوستلے کیږي یقیناً په دے کښې

لَرَحْمَةً وَّذِكْرٰى لِقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ۝ قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ بَيْنِيْ

خامخا رحمت | او نصیحت دے | دپاره دهغه قوم | چه ایمان راوړي | او وایه | کافي دے | الله | زما تر مینځه

دمومنو خلقو دپاره رحمت (د زړونو اطمینان) او نصیحت پروت دے. (اے نبیؐ اته) او وایه چه زما او ستاسو په مینځ کښې

وَبَيْنَكُمْ شَهِيْدًا ۚ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ

او ستاسو تر مینځه | ګواهي کونکے | هغه پیژني | هغه څه | چه دي په آسمانونو | او زمکه کښې

د ګواهۍ دپاره الله کافي دے. هغه د آسمانونو او د زمکے د ټولو څیزونو علم لري.

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْبَاطِلِ وَكَفَرُوْا بِاللّٰهِ ۙ اُولٰٓئِكَ

او هغه کسان | چه ایمان راوړي | په باطل | او کفر کوي | په الله | هم دغه خلق

او چا چه په باطل شبهاتو باندے ایمان راوړے دے او د الله نه ئے انکار کړے دے هم دغه

هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ۝ وَيَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالْعَذَابِ ؕ وَلَوْلَآ اَجَلٌ

پوره تاوانیان دي | او دوي زر غواري ستا نه | عذاب | او که چرے له وے نیته

پوره تاوانیان دي. (اے نبیؐ!) دا خلق تا نه عذاب زر غواري او (حالانکه) که چرے دعذاب دپاره

مُّسَمًّى لَّجَآءَهُمُ الْعَذَابُ ؕ وَلَيَاْتِيَنَّهُمْ بَغْتَةً وَّهُمْ

مقرره | نو خامخا راغلے وو په دوی باندے | عذاب | او خامخا به راشي دوی ته هغه (عذاب) | ناګهانه | او دوی به (پرے)

یو وخت مقرر نه وے نو (اوس) به په دوی عذاب راغلے وو. او یقیناً هغه (عذاب) به په دوی (په خپل وخت)

لَا یَشْعُرُوْنَ ﴿۵۳﴾ یَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالْعَذَابِ ؕ وَاِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِیْطَةٌۢ

نه پوهیږي | دوی زر غواړي تا نه | عذاب | او بیشکه | دوزخ | خامخا راګیرونکے دے

دومره ناڅاپه راشي چه دوی ته به پته هم ونه لګي. دا خلق تا نه عذاب زر غواړي او (حالانکه) یقیناً عذاب د جهنم احاطه کوونکے دے

بِالْكٰفِرِیْنَ ﴿ۙ۵۴﴾ یَوْمَ یَغْشٰهُمُ الْعَذَابُ مِنْ فَوْقِهِمْ

کافرانو لره | په هغه ورځ | چه پټ به کړي دوی لره | عذاب | د پاسه د دوی نه

په کافرانو باندے د هر طرف نه. او په کومه ورځ چه عذاب به په دوی باندے د پره نه او د دوی

وَمِنْ تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ وَیَقُوْلُ ذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۵۵﴾

او د خپو د لاندے د دوی نه | او وائی به هغه (الله) | او څکئ (خوند) | د هغه څه | چه تاسو به | کول

د خپو د لاندے نه راخورشي او الله تعالیٰ به ورته او وائي د هغه کارونه مزه او څکئ چه تاسو به همیشه کول.

یٰعِبَادِیَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اِنَّ اَرْضِیْ وَاسِعَةٌ فَاِیَّایَ

اے بندګانو زما! | هغه کسانو | چه ایمان مو راوړے دے | بیشکه | زمکه زما | فراخه ده | پس خاص زما

اے زما مومنانو بندګانو! یقین او کړئ چه زما زمکه د طاعاتو د اداګئ د پاره فراخه ده نو هجرت او کړئ خو خالص

فَاعْبُدُوْنِ ﴿۵۶﴾ كُلُّ نَفْسٍ ذَآىِٕقَةُ الْمَوْتِ ۫ ثُمَّ اِلَیْنَا تُرْجَعُوْنَ ﴿۵۷﴾

عبادت کوئ | هر یو کس | څکونکے | د مرګ دے | بیا | خاص مونږ ته به | تاسو واپس کولی شئ

زما عبادت کوئ هر ژوندے به (یو ځل) خامخا د مرګ خوند څکی. بیا به تاسو ټول مونږ ته واپس کیږئ.

وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَنُبَوِّئَنَّهُمْ

او هغه کسان | چه ایمان ئے راوړے دے | او عملونه ئے کړی دی | نیک | خامخا به ورکړو مونږ دوی ته

او چا چه ایمان راوړے دے او نیک عملونه ئے کړی دی هغوی به مونږ ضرور

مِّنَ الْجَنَّةِ غُرَفًا تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِیْنَ فِیْهَا ؕ

د جنت نه | بالاخانے | چه بهیږی به | لاندے د هغے نه | نهرونه | همیشه به وی | په هغے کښې

د جنت په دا سے بالاخانو (محلونو) کښې آباد کړو چه لاندے به ئے نهرونه بهیږی همیشه به په کښې اوسیږی

نِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِیْنَ ﴿ۖۗ۵۸﴾ الَّذِیْنَ صَبَرُوْا وَعَلٰی رَبِّهِمْ یَتَوَكَّلُوْنَ ﴿۵۹﴾

ډیر ښه | بدله ده | د عمل کوونکو | هغه خلق | چه صبر ئے کړے دے | او په خپل رب باندے | توکل کوی

د هغه نیک عملو خلقو د پاره دا ډیر بهترین اجر دے چه د صبر نه ئے کار اخستلے وو او په خپل رب باندے ئے ئان سپارلے دے

وَكَاَیِّنْ مِّنْ دَآبَّةٍ لَّا تَحْمِلُ رِزْقَهَا ۖۗ اَللّٰهُ یَرْزُقُهَا

او ډیر | ژوندي سر دي | چه نشی اوچتولے | رزق خپل | الله | روزي ورکوی هغوی ته

او (ګوره) ډیر ځناور دا سے شته چه د خپل رزق (روزئ) د پیدا کولو طاقت نه لری الله هغوی ته هم رزق ورکوی

وَاِیَّاكُمْ ۖۗ وَهُوَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ ﴿۶۰﴾ وَلَىِٕنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ

او تاسو ته هم | او هم هغه دے | ښه اوریدونکے | ښه پوهه | او که چرے | ته تپوس او کړے د دوی نه | چه چا

او تاسو ته هم. او هم هغه ښه خبره اوری او په هر څه پوهیږی. او (اے نبی!) که ته د دے خلقو نه تپوس او کړے

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ

پیدا کړي دي | آسمانونه | او زمکه | او تابع کړي ئې دي | نمر | او سپوږمۍ

چه آسمانونه او زمکه چا پیدا کړي دي او نمر او سپوږمۍ چا په کار لګولې دي؟

لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ۚ فَاَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ۞ اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ

نو خامخا به دوي ووائي | چه الله | پس کوم خوا | اړول شي دوي | الله | فراخه کوي | روزي | چا د پاره

نو دوي به ضرور ووائي چه الله. نو بیا (آخر) څه رنګ دوي د حق نه اړولے شي؟ هم الله په خپلو بندګانو کښې

يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ وَيَقْدِرُ لَهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ

چه او غواړي | د بندګانو خپلو نه | او کموي ئې | هغه لره | بیشکه | الله | په هر څیز باندے

چه چاله او غواړي رزق ورله فراخه کوي او چاله چه او غواړي رزق ورله تنګوي یقیناً الله په هر یو څیز باندے

عَلِيْمٌ ۞ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ نَّزَّلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً

ښه پوهه دے | او که چرے | تپوس او کړے ته د دوي نه | چه چا | راوړول دي | د آسمان نه | اوبه

پوره پوهیږي. او که ته د دوي نه تپوس او کړے چه د آسمان نه اوبه (باران) چا راوړولې دي

فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ مِنْۢ بَعْدِ مَوْتِهَا لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ؕ

بیا ئې ژوندئ کړے ده | په هغې سره | زمکه | وروستو | د مرګ د هغې نه | نو خامخا به دوي ووائي | چه الله

بیا ئې د هغې په ذریعه زمکه پس د اوچ والي نه تازه کړه نو دوي به ضرور ووائي چه الله.

قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ۞ وَمَا هٰذِهِ

او وایه | تعریفونه دي | د الله د پاره | بلکه | اکثر د دوي نه | عقل نه لري | او نه دے | دا

ته او وایه الحمد لله (حمد و ثنا ټول د الله دي) لیکن اکثر خلق د عقل نه کار نه اخلي. او دا

الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا لَهْوٌ وَّلَعِبٌ ؕ وَاِنَّ الدَّارَ الْاٰخِرَةَ

ژوند | دنیوي | مګر | تماشا | او لوبے | او بیشکه | کور | روستنئ

د دنیا ژوند خو صرف لوبے تماشے دي او د همیشه ژوند مقام خو د آخرت کور دے.

لَهِيَ الْحَيَوَانُ ۘ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ۞ فَاِذَا رَكِبُوْا

خامخا هم هغه دے | اصل ژوند | کاش! | که دوي | پوهیدلے | پس هر کله | چه دوي سواره شي

کاش که دا خلق پوهیدلے بیا چه کله دوي په کشتۍ کښې سواره شي

فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۚ فَلَمَّا

په کشتۍ کښې | نو رابلي | الله | خالص کونکي | هغه لره | په بلنه کښې | پس هر کله

نو په خالص اعتقاد سره صرف الله رابلي. خو هر کله چه ئې الله د اوچې

نَجّٰىهُمْ اِلَى الْبَرِّ اِذَا هُمْ يُشْرِكُوْنَ ۙ لِيَكْفُرُوْا بِمَآ

چه بچ کړي هغه (الله) دوي لره | اوچې طرف ته | (نو) هغه وخت | دوي | شرک کوي | چه انکار او کړي دوي | د هغه څه نه

طرف ته بچ کړي راولي نو دوي (د هغه سره) شرک شروع کړي نو نتیجه دا شي چه هغوي دوي له کوم نعمتونه ورکړي وي د هغې ناشکري

أَتَيْنٰهُمْ ۚ وَلِيَتَمَتَّعُوْا ۗ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿٦٦﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا

چاور کړی وی مونږ دوی ته | او چه فائدے واخلی دوی | پس ډیر زر به | دوی پوهه شی | آیا دوی نه گوری

شروع کړی، او نجات ئے درکړو، او چه مزے واخلی پس ډیر زر به دوی (په حقیقت) پوهه شی. آیا دوی ته خبر نه دے چه مونږ جوړ کړو چه کوی

اَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا اٰمِنًا وَّيُتَخَطَّفُ النَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ ۗ

چه بیشکه | مونږ جوړ کړے دے | حرم | امن والا | او تختولے کیږی | خلق | چار چاپیره د دوی نه

چه مونږ حرم د امن ځائے جوړ کړے دے حالانکه د دوی نه گیر چاپیره (نور) خلق (د خپلو علاقو نه) بهر ویستلی شی

اَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُوْنَ وَبِنِعْمَةِ اللّٰهِ يَكْفُرُوْنَ ﴿٦٧﴾ وَمَنْ اَظْلَمُ

آیا نو په باطل | دوی ایمان راوړی | او په نعمت | د الله | کفر کوی | او څوک دے | غټ ظالم

آیا (بیا هم) دوی په لات او منات باندے ایمان راوړی او د الله د نعمت نه انکار کوی او هغه چا نه به غټ ظالم څوک وی

مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ كَذَّبَ بِالْحَقِّ لَمَّا جَآءَهٗ ۗ

دهغه چا نه | چه جوړوی | په الله باندے | دروغ | یا نسبت د دروغو کوی | حق ته | هر کله | چه راغے هغه ده ته

چه په خپل شرک کولو کښې په الله تعالیٰ باندے دروغ تړی یا نسبت د دروغو کوی قرآن او پیغمبر ته هر کله چه راغے دوی ته

اَلَيْسَ فِيْ جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْكٰفِرِيْنَ ﴿٦٨﴾ وَالَّذِيْنَ جَاهَدُوْا

آیا نشته | په دوزخ کښې | ځای (د اوسیدو) | دپاره د کافرانو | او هغه خلق | چه محنت کوی

آیا په دوزخ کښې د دا سے کافرانو ټیکانه (ځای د ډیره کیدو) نشته؟ او کوم خلق چه زمونږ (د رضا) دپاره ځان کړوے دے

فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ۭ وَاِنَّ اللّٰهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٦٩﴾

په رضا زمونږ کښې | خامخا به مونږ او ښایو هغوی ته | لارے خپلے | او بیشکه | الله | خامخا د نیک کوونکو سره دے

مونږ به هغوی ته ضرور خپلے لارے د عمل او طاعت او ښایو. او یقیناً الله تعالیٰ د نیک کوونکو سره دے

رکوعاتها [٦]	سورة الروم مكّيّة	آیاتها [٦٠]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم.

الٓمّٓ ﴿١﴾ غُلِبَتِ الرُّوْمُ ﴿٢﴾ فِيْٓ اَدْنَى الْاَرْضِ وَهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ

الم | کمزوری کړی شول | رومیان | په نزدے | زمکه کښې | او دوی به | پس

الم، رومیان په نزدے علاقو کښې کمزوری (مغلوبه) شول، او دوی به د کمزوری کیدو نه پس

غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُوْنَ ﴿٣﴾ فِيْ بِضْعِ سِنِيْنَ ۭ ﴿٤﴾ لِلّٰهِ الْاَمْرُ

د کمزوری کیدلو خپلو نه | زر دے چه غالب به شی | په یو څو | کلونو کښې | خاص د الله مره اختیار کښې دے | فیصله د کار

په یو څو کلونو کښې (دننه) بیا غالب شی. د دے نه مخکښې هم پوره اختیار (د حکم) د الله وو

مِنْ قَبْلُ وَمِنْۢ بَعْدُ ؕ وَيَوْمَئِذٍ يَّفْرَحُ الْمُؤْمِنُوْنَ ۝٤

مخکښې (هم) | او وروستو (هم) | او په دغه ورځ | خوشحاله به شي | مومنان

او وروستو به هم پوره اختيار دالله وي. او په دغه ورځ به مسلمانان خوشحاله شي (يو د جنګ بدر په غلبه. دويم د روميانو په غلبه)

بِنَصْرِ اللّٰهِ ؕ يَنْصُرُ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ۝٥ وَعْدَ

په مدد | د الله | مدد کوي هغه | د چا | چه او غواړي | او هم هغه دے | ډير زورور | ډير رحم کونکے | وعده کړے شده

د الله په مدد. هغه چه د چا او غواړي مدد (ئې) کوي. او هغه ډير زورور (غالب) او ډير مهربان دے.

اللّٰهِ ؕ لَا يُخْلِفُ اللّٰهُ وَعْدَهٗ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝٦

الله | خلاف نه کوي | الله | دوعدے خپلے | ليکن | اکثر | خلق | نه پوهيږي

الله دا وعده کړے ده. او الله د خپلے وعدے خلاف نه کوي ليکن اکثر خلق نه پوهيږي.

يَعْلَمُوْنَ ظَاهِرًا مِّنَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۖۚ وَهُمْ عَنِ الْاٰخِرَةِ

دوي پوهيږي | په ښکاره آبادولو | د | ژوندِ | دنيوي | او دوي | د | آخرت نه

دا خلق خو صرف د دنيا د ژوند په ظاهر پوهيږي او د آخرت نه پوره غافله دي.

هُمْ غٰفِلُوْنَ ۝٧ اَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوْا فِيْۤ اَنْفُسِهِمْ ۫ مَا خَلَقَ اللّٰهُ

هم دوي په غفلت کښې دي | آيا دوي شور نه کوي | په زړونو خپلو کښې | (چه) نه دي پيدا کړي | الله

آيا دوي په خپلو زړونو کښې سوچ نه دے کړے چه الله تعالیٰ

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ وَاَجَلٍ

آسمانونه | او زمکه | او هغه څه | چه د دے دواړو په مينځ کښې دي | مګر | په حقه | او د نيټے

دا آسمانونه او زمکه او څه چه د دے دواړو ترمينځه دي د حق ښکاره کولو د پاره او د يو مے مقرر دے

مُّسَمًّى ؕ وَاِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ بِلِقَآئِ رَبِّهِمْ لَكٰفِرُوْنَ ۝٨

مقرر پورے | او بيشکه | ډير | د خلقو نه | په ملاقات | د رب خپل | خامخا انکار کونکي دي

نيټے د پاره پيدا کړي دي. او ډير خلق د خپل رب د ملاقات نه منکر دي.

اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا فِى الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ

آيا دوي نه ګرځي | په زمکه کښې | چه او ګوري دوي | چه څنګه | وو | انجام

آيا دوي په زمکه کښې نه دي ګرځيدلي چه کتلي ئې وے چه د دوي نه د مخکنو خلقو انجام څنګه وو؟

الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ كَانُوْۤا اَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَّاَثَارُوا

د هغه خلقو | چه د دوي نه مخکښې وو | وو هغوي | ډير سخت | د دوي نه | په طاقت کښې | او اړولے ئې وه

هغوي د دوي نه زيات طاقتور وو او (د دوي نه ئې زياته) زمکه کرونده کړے وه.

الْاَرْضَ وَعَمَرُوْهَآ اَكْثَرَ مِمَّا عَمَرُوْهَا وَجَآءَتْهُمْ

زمکه | او آباده کړے ئې وه دا (زمکه) | زياته | د هغے نه | چه آباده کړے ده دوي زمکے لره | او راغلي وو هغوي ته

او دوي چه څومره زمکه آباده کړے ده د دے نه هغوي زياته آباده کړے وه. او هغوي ته خپلو

رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ۭ فَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلٰكِنْ كَانُوْٓا

پيغمبران خپل | په ښكاره دليلونو سره | پس نه وو | الله (داسې) | چه ظلم ئې كولو په دوى | ليكن | هغوى په خپله

پيغمبران نو ښكاره دليلونه راوړي وو. او الله په هغوى باندې څه زياتې (ظلم) نه كولو ليكن هغوى

اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ۝۹ۭ ثُمَّ كَانَ عَاقِبَةَ الَّذِيْنَ اَسَاۗءُوا

په ځانونو خپلو | ظلم كولو | بيا | شو | انجام | د هغه خلقو | چه كړې ئې بدئ

پخپله په خپلو ځانونو باندې په وجه د ګناهونو ظلم كولو. بيا ناكاره فعل د هغه خلقو انجام شو چه بدئ ئې

السُّوْۗاٰى اَنْ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَكَانُوْا بِهَا

ناكاره (فعل) | دا چه | دروغژن او ګڼل دوى | آيتونه | د الله | او وو هغوى | چه په ټوقو پورې

كړې وې (هغه ناكاره فعل دا وو) چه دوى دالله آيتونه دروغ او ګڼل او ټوقو پورې ئې هميشه ټوقې كولې.

يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝۱۰ۧ اَللّٰهُ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ثُمَّ اِلَيْهِ ع

په ئې ټوقې كولې | الله | اول ځل پيدائش كوى | د مخلوق | بيا به ئې | دوباره (هم) پيدا كوى | بيا به | خاص هغه

هم الله تعالى مخلوق په اول ځل پيدا كوى بيا به ئې هم هغه دوباره پيدا كوى بيا به هم د هغه طرف ته

تُرْجَعُوْنَ ۝۱۱ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ يُبْلِسُ الْمُجْرِمُوْنَ ۝۱۲

تاسو واپس كولې شئ | او په هغه ورځ | چه قائم به شى | قيامت | نا اُميده به شى | مجرمان

تاسو واپس كيږئ. او په كومه ورځ چه قيامت راشى نو په هغه ورځ به مجرمان مايوسه شى

وَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ مِّنْ شُرَكَاۗىِٕهِمْ شُفَعٰۗؤُا وَكَانُوْا بِشُرَكَاۗىِٕهِمْ

او نه به وى | د دوى دپاره | د شريكانو خپلو نه | سفارشيان | او شى به دوى | د شريكانو خپلو نه

او د دوى جوړ كړى شريكانو كښې به هيڅ څوك د دوى سفارشى نه وى بلكه دوى (به په دغه ورځ) د خپلو

كٰفِرِيْنَ ۝۱۳ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ يَوْمَىِٕذٍ يَّتَفَرَّقُوْنَ ۝۱۴

انكار كونكى | او په هغه ورځ | چه قائم به شى | قيامت | په دغه ورځ | جدا جدا به شى دوى

شريكانو نه منكر شى. او په كومه ورځ چه قيامت راشى نو په هغه ورځ به دا ټول خلق د يو بل نه جدا جدا شى

فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَهُمْ فِيْ رَوْضَةٍ

پس هغه كسان | چه ايمان ئې راوړے دے | او عملونه ئې كړى دى | نيك | نو هغوى به | په باغيچه كښې

بيا چا چه ايمان راوړے وو او نيك عملونه ئې (هم) كړى وو هغوى به د جنت په باغ كښې

يُّحْبَرُوْنَ ۝۱۵ وَاَمَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَلِقَاۗئِ

خوشحاله وى | او هغه خلق | چه كفر ئې كړے دے | او دروغژن ئې ګڼلى دى | آيتونه زمونږ | او ملاقات

(بيا بيا) خوشحاله وى. او چا چه كفر كړے وو او زمونږ آيتونه او د آخرت ملاقات ئې دروغ ګڼلے وو

الْاٰخِرَةِ فَاُولٰۗىِٕكَ فِي الْعَذَابِ مُحْضَرُوْنَ ۝۱۶ فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ

د آخرت | نو دغه كسان به | په عذاب كښې | حاضر كړے شى | پس پاكى وايئ پاكى | د الله

نو هم هغوى به په عذاب كښې (دائماً) حاضر كړے شى. نو (پس) د سحر او د ماښام

حِيْنَ تُمْسُوْنَ وَحِيْنَ تُصْبِحُوْنَ ۝۱۷ وَلَهُ الْحَمْدُ فِي السَّمٰوٰتِ

پەهغەوخت کښې | چەتاسوبیګاه کوئ | اوپەهغەوخت کښې | چەتاسوصبا کوئ | اودهغەدپارەدی | صفتونەحمدثنائی توب | پەآسمانونو

پەوختونو کښې د الله پاکی بیانوئ (تسبیح وایئ). او هم د هغه حمد وله (صفتونه) کیږی پەآسمانونو کښې

وَالْاَرْضِ وَعَشِيًّا وَّحِيْنَ تُظْهِرُوْنَ ۝۱۸ يُخْرِجُ الْحَيَّ

او زمکه کښې | اودورځې پەاخیره کښې | اوکوم وخت چه | تاسوماسپخین کوئ | هغه راوباسی | ژوندے

هم او پەزمکه کښې هم. او دورځې پەآخیری حصه کښې هم او دماسپخین هم. هم هغه

مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَيُحْيِ الْاَرْضَ

د مړی نه | او راوباسی | مړے | د ژوندی نه | او ژوندئ کوی | زمکه

دمړی نه ژوندے او د ژوندی نه مړے راوباسی (پیدا کوی) او هم هغه زمکه د وچوالی نه پس تازه کوی

ع بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ وَكَذٰلِكَ تُخْرَجُوْنَ ۝۱۹ وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ خَلَقَكُمْ

پس دمرګ دهغې نه | او دغه شان به | تاسو (هم) راویستلی شئ | اوبعضے دنخښو دهغهٔ نه | دا دی | چه پیدا کړی ئې تاسو

او (هم) دغه شان به تاسو (هم) (دمرګ نه پس) راویستلی شئ. او دهغه دقدرت دنخښو نه یوه نخښه دا هم ده چه تاسو ئې

مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ اِذَآ اَنْتُمْ بَشَرٌ تَنْتَشِرُوْنَ ۝۲۰ وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ

د خاورے نه | بیا | شوئ تاسو | بشر | چه خوریږئ (پەزمکه کښې) | او بعضے دنخښو دهغهٔ نه

اصلاً دخاورے نه پیدا کړئ بیا تاسو سمدم انسانان شوئ (او) پەزمکه کښې خوارهواره شوئ. او دهغهٔ دنخښو نه یوه نخښه دا هم ده

اَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوْٓا

دادی | چه هغه پیدا کړی دی | ستاسو دپاره | ستاسو د نفسونو نه | بیبیانے | چه تاسو آرام حاصل کړئ

چه ستاسو دپاره ئې ستاسو د جنس نه بیبیانے پیدا کړی دی چه تاسو ورسره آرام (اطمینان) حاصل کړئ

اِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَّوَدَّةً وَّرَحْمَةً ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

هغوی ته | او هغه پیدا کړے ده | پەمینځ ستاسو کښې | مینه | او مهربانی | بیشکه | پەدے کښې

او ستاسو پەمینځ کښې ئې محبت او مهربانی پیدا کړے ده کوم خلق چه غور او فکر کوی د هغوی دپاره پەدے کښې

لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ۝۲۱ وَمِنْ اٰيٰتِهٖ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ

خامخا ډیرے نخښے دی | دپاره دهغه قوم | چه غور کوی | او بعضے دلیلونو دهغه نه | پیدا کول | د آسمانونو

(د عبرت) ډیرے نخښے دی. او دهغه د قدرت او توحید پەدلیلونو کښې آسمانونه

وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافُ اَلْسِنَتِكُمْ وَاَلْوَانِكُمْ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

او د زمکے دی | او اختلاف | د ژبو ستاسو | او د رنګونو ستاسو (دے) | بیشکه | پەدے کښې

او زمکه پیدا کول او ستاسو د ژبو او رنګونو اختلاف (جدا جدا کول) هم دی. یقیناً د پوهه خلقو دپاره

لَاٰيٰتٍ لِّلْعٰلِمِيْنَ ۝۲۲ وَمِنْ اٰيٰتِهٖ مَنَامُكُمْ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ

خامخا ډیرے نخښے دی | دپاره د پوهه لرونکو | او بعضے دنخښو دهغه نه | ستاسو خوب کول دی | پەشپه | او پەورځ کښې

پەدے کښې ډیرے نخښے دی. او دهغه د قدرت پەنخښو کښې د شپے او د ورځے ستاسو خوب کول

وَابْتِغَآؤُكُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ

اوتلاش کول ستاسو (دی) | د هغه فضل لره | بیشکه | په دے کښې | خامخا ډیرے نخښے دی | دپاره دهغه قوم

او دهغه فضل لټول (تلاش کول) هم دی، کوم خلق چه (خبره) آوری دهغوی دپاره په دے کښې ډیرے نخښے دی

يَّسْمَعُوْنَ ۝٢٣ وَمِنْ اٰيٰتِهٖ يُرِيْكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَّطَمَعًا

چه آوری | او بعضے د نخښو د الله نه (دا دی) | چه ښائی تاسو ته | بریښنا | د یرے | او طمع دپاره

او دهغه په نخښو کښې (یوه نخښه) دا هم ده چه هغه تاسو ته دیرے او د طمع پیدا کولو دپاره د بریښنا پرق

وَّيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَيُحْيٖ بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۭ

او راوروی | د آسمان نه | اوبه | بیا ژوندئ کوی | په ذریعه | زمکه | پس د وچوالی دهغے نه

(چمک) ښائی، او د آسمان نه باران راوروی (بیا) دهغے په ذریعه زمکه دهغے د وچوالی نه پس تازه کوی

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ۝٢٤ وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ

بیشکه | په دے کښې | خامخا ډیرے نخښے دی | دپاره دهغه قوم | چه عقل لری | او بعضے د نخښو دهغه نه

کوم خلق چه د عقل نه کار اخلی دهغوی دپاره په دے کښې ډیرے نخښے دی. او دهغه په نخښو کښې

اَنْ تَقُوْمَ السَّمَآءُ وَالْاَرْضُ بِاَمْرِهٖ ۭ ثُمَّ اِذَا دَعَاكُمْ

دا ده | چه قائم دے | آسمان | او زمکه | په حکم دهغه | بیا | کله چه | راوبلی هغه تاسو

یوه نخښه دا هم ده چه آسمان او زمکه دهغه په حکم قائم دی. بیا کله چه هغه

دَعْوَةً ۖ مِّنَ الْاَرْضِ ۤ اِذَآ اَنْتُمْ تَخْرُجُوْنَ ۝٢٥ وَلَهٗ مَنْ

په رابللو سره | د زمکے نه | نو دغه وخت به | تاسو | راوځئ | او هم دهغه دی | هغه څوک

تاسو د زمکے نه په یو آواز (سره) راوبلی نو تاسو به فوراً بهر راوځئ.

فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوْنَ ۝٢٦ وَهُوَ الَّذِيْ

چه دی په آسمانونو | او په زمکه کښې | ټول | دهغه | تابعدار دی | او هم الله هغه ذات دے

او د آسمانونو او د زمکے ټول مخلوق هم دهغه (په اختیار کښې) دی. ټول دهغه د حکم تابعدار دی

يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ وَهُوَ اَهْوَنُ عَلَيْهِ ۭ وَلَهُ

چه اول پیدائش کوی | بیا به ئے دوباره هم کوی | او دا | آسان دی | هغه ته | او هم دهغه دپاره دے

او هم الله هغه ذات دے چه مخلوق په اول ځل پیدا کوی بیا به ئے دوباره (هم) پیدا کوی. او دا هغه ته ډیر آسان دی.

الْمَثَلُ الْاَعْلٰى فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ

صفت (شان) | ډیر اوچت | په آسمانونو | او په زمکه کښې | او هم هغه دے | ډیر زورور

او په اسمانونو او په زمکه کښې دهغه ډیر لوی شان دی، او هغه ډیر زورور (غالب) او لوئے حکمت والا دے

الْحَكِيْمُ ۝٢٧ ع ضَرَبَ لَكُمْ مَّثَلًا مِّنْ اَنْفُسِكُمْ ۭ هَلْ لَّكُمْ

لوئے حکمت والا | بیان کړے دے هغه | ستاسو دپاره | یو مثال | ستاسو د نفسونو نه | آیا | شته تاسو دپاره

(اے خلقو!) الله ستاسو د (پوهے دپاره) یو مثال ستاسو د جنس نه بیانوی (چه) مونږ تاسو ته کوم رزق درکړے دے

مِّمَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ مِّنْ شُرَكَآءَ فِيْمَا رَزَقْنٰكُمْ

دهغه چانه | چه مالکان (ستۀ) دی | ښې لاسونه ستاسو | څوک شریکان | په هغه څه کښې | چه مونږ در کړی دی تاسو ته

آیا تاسو سره په هغې کښې ستاسو د غلامانو نه څوک حصه دار شته چه تاسو او هغه

فَاَنْتُمْ فِيْهِ سَوَآءٌ تَخَافُوْنَهُمْ كَخِيْفَتِكُمْ اَنْفُسَكُمْ ؕ كَذٰلِكَ

چه تاسو یئ | په هغې کښې | برابر | چه تاسو یریږئ د هغوی نه | په شان د یرې ستاسو | د خپلو رونړو نه | دغه شان

په دې مال کښې برابر شئ (او) تاسو د هغوی نه داسې یره او کړئ لکه څنګه چه په خپلو کښې د یو بل نه یریږئ؟

نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ٢٨ بَلِ اتَّبَعَ الَّذِيْنَ

په تفصیل سره بیانوو مونږ | آیتونه | دپاره د هغه قوم | چه عقل لری | بلکه | روان دی | هغه خلق

هم دغه شان مونږ د هغه خلقو دپاره چه د عقل نه کار اخلی آیتونه (دلیلونه) واضح (په تفصیل سره) بیانوو. لیکن (بیا هم)

ظَلَمُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۚ فَمَنْ يَّهْدِيْ مَنْ اَضَلَّ

چه ظلم ئې کړی دے | پسې د خواهشاتو خپلو پسې | بغیر | د علم نه | نو څوک دی | چه هدایت اوکړی | هغه څوک | چه ګمراه کړی وی

ظالمان خلق بغیر د علم نه په خپلو خواهشاتو پسې روان دی نو هغه چاته څوک هدایت کولې شی چه الله ګمراه

اللّٰهُ ؕ وَمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ٢٩ فَاَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّيْنِ

الله | او نشته | د دوی دپاره | هیڅوک مددګاران | پس ته قائم کړه | مخ خپل | دین ته

کړی وی، او د داسې خلقو به هیڅ څوک مددګار نه وی. نو (پس) (اے نبیؐ) ته همیشه خپل مخ دین حقه طرف ته برابر ساته

حَنِيْفًا ؕ فِطْرَتَ اللّٰهِ الَّتِيْ فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا ؕ

کلک په حق باندې | حال د پیدائش | د الله | هغه | چه پیدا کړی ئې دی | (ټول) خلق | په هغې باندې

(او) یو مخیز ئې اوسیږه. د الله تعالیٰ په هغه حالت د پیدائش چه توحید دے قائم اوسیږه چه ټول خلق ئې په هغې پیدا کړی دی

لَا تَبْدِيْلَ لِخَلْقِ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ ۙ وَلٰكِنَّ

نشته | بدلیدل | پیدا ښت | د الله لره | دغه دے | دین | پوخ | لیکن

د الله تعالیٰ په دغه تخلیق کښې تبدیلی نه راځی الا دا چه روستو موانع موجود شی نو انسان عقیده د توحید پریږدی. هم دا لیکن

اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ٣٠ مُنِيْبِيْنَ اِلَيْهِ وَاتَّقُوْهُ وَاَقِيْمُوا

اکثر | خلق | نه پوهیږی | رجوع کونکی ئې | هغه ته | او او یریږئ د هغه نه | او قائم کړئ

صحیح دین دے لیکن اکثر خلق نه پوهیږی. اے خلقو! د الله طرف ته ور ګرځیدونکی جوړ شئ او هم د هغه نه او یریږئ

الصَّلٰوةَ وَلَا تَكُوْنُوْا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ٣١ مِنَ الَّذِيْنَ فَرَّقُوْا

مونځ | او مه کیږئ | د مشرکانو نه | د هغه خلقو نه | چه ټوټې ټوټې کړې ئې دے

او د مانځه پابندی کوئ او په هغه مشرکانو کښې مه شاملیږئ. چه هغوی خپل دین

دِيْنَهُمْ وَكَانُوْا شِيَعًا ؕ كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُوْنَ

دین خپل | او شول هغوی | ډلې ډلې | هره یوه | ډله | په هغه څه | چه هغوی سره دی | خوشحاله دی

ټوټې ټوټې کړے دے او په مختلفو ډلو کښې تقسیم شوی دی، هره یوه ډله په خپله خپله طریقه خوشحاله ده

وَاِذَا مَسَّ النَّاسَ ضُرٌّ دَعَوْا رَبَّهُمْ مُّنِيْبِيْنَ اِلَيْهِ

او کله چه | اورسي | خلقو ته | څه تکلیف | (نو) رابلي دوي | رب خپل | رجوع کونکي وي | هغه ته

او (دخلقو حال خو دادے چه) کله ورته څه تکلیف اورسي نو خپل رب رابلي او هم هغه ته ور ګرځیدونکي وي،

ثُمَّ اِذَآ اَذَاقَهُمْ مِّنْهُ رَحْمَةً اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ

بیا | هر کله چه | او څکوي هغه دوي ته | دخپل طرف نه | څه رحمت | نو دغه وخت | یوه ډله | د دوي نه

بیا چه ورته کله هغه دخپل رحمت مزه اوڅکوي نو یوه ډله د دوي فورًا د خپل رب سره

بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُوْنَ ﴿۳۳﴾ لِيَكْفُرُوْا بِمَآ اٰتَيْنٰهُمْ ؕ فَتَمَتَّعُوْا ۟

دخپل رب سره | شرک کوي | چه کفر اوکړي دوي | په هغه څه | چه مونږ ورکړي وي دوي ته | پس فائده واخلئ

شرک شروع کړي نو انجام داشي چه مونږ ورله څه ورکړي دي دهغې ناشکري اوکړي نو (پس) (څه ورځے) مزے واخلئ

فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿۳۴﴾ اَمْ اَنْزَلْنَا عَلَيْهِمْ سُلْطٰنًا فَهُوَ يَتَكَلَّمُ

پس ډیر زر به | تاسو پوهه شئ | یا نازل کړي دي مونږ | په دوي باندے | څه دلیل | نو هغه | بیانوي

پس ډیر زر به پوهه شئ. آیا مونږ دوي ته څه داسے دلیل (سند) رالیږلے دے چه هغه دوي ته دهغه شریک دېندګ

بِمَا كَانُوْا بِهٖ يُشْرِكُوْنَ ﴿۳۵﴾ وَاِذَآ اَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً

هغه څه | چه دوي ئے | د الله سره | شریکوي | او کله چه | او څکوو مونږ | خلقو ته | څه مهرباني

(دلیل) بیانوي چه دوي ئے د الله سره شریکوي؟ او کله چه مونږ خلقو ته دخپل رحمت مزه وڅکوو

فَرِحُوْا بِهَا ۚ وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ ۢ بِمَا قَدَّمَتْ

نو دوي خوشحاله شي | په هغې باندے | او که چرے | اورسي دوي ته | څه بد حالي | په وجه دهغه څه | چه مخکښ لیږلي دي

نو دوي په هغې مست شي او که چرے د خپل عمل د لاسه پرے څهٔ مصیبت راشي

اَيْدِيْهِمْ اِذَا هُمْ يَقْنَطُوْنَ ﴿۳۶﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ

لاسونو د دوي | نو دغه وخت | دوي | نا اُمیده شي | آیا دوي نه ګوري | چه بیشکه | الله

نو بیا فورًا نا امیدي شروع کړي. آیا دوي دے خبرے ته سوچ نه دے کړے چه الله تعالیٰ

يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

فراخه کوي | روزي | چا دپاره | چه او غواړي | او کوي ئے | بیشکه | په دے کښ | خامخا نخښے دي

چه دچا دپاره او غواړي رزق ورله فراخه کوي او دچا دپاره ئے چه او غواړي تنګ ئے کړي. یقینًا په دے کښ

لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۳۷﴾ فَاٰتِ ذَا الْقُرْبٰى حَقَّهٗ وَالْمِسْكِيْنَ

دپاره دهغه قوم | چه ایمان راوړي | پس ورکړه | رشته دار ته | حق دهغهٔ | او مسکین ته

دهغه خلقو دپاره ډیرے نخښے دي چه ایمان راوړي. نو (پس) خپلو خپلوانو او مسکینانو

وَابْنَ السَّبِيْلِ ؕ ذٰلِكَ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ يُرِيْدُوْنَ وَجْهَ اللّٰهِ

او مسافر ته هم | دا | ډیره ښه ده | دهغه خلقو دپاره | چه غواړي | مخ (رضا) | د الله

او مسافرو ته خپل حق ورکړه. څوک چه د الله تعالیٰ رضا لټوي دا دهغوي دپاره ډیره بهتره ده.

وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝ وَمَآ اٰتَيْتُمْ مِّنْ رِّبًا لِّيَرْبُوَا

او هم دغه خلق | دوی دي | کامیاب | او څه | چه تاسو ورکوئ | د سود (دمال) نه | چه زیات شي

او هم دا خلق پوره کامیاب دي . او تاسو چه څه په سود ورکوئ چه د خلقو

فِیْٓ اَمْوَالِ النَّاسِ فَلَا يَرْبُوْا عِنْدَ اللّٰهِ ۚ وَمَآ اٰتَيْتُمْ

په مالونو | د خلقو کښې | نو نه زیاتیږي هغه | په نزد | د الله | او هغه (څه) | چه تاسو ئې ورکوئ

دمالونو سره ملاو شي (او) زیات شي نو هغه د الله تعالیٰ سره نه ډیریږي، او تاسو چه د الله د رضا د حاصلولو دپاره

مِّنْ زَكٰوةٍ تُرِيْدُوْنَ وَجْهَ اللّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُوْنَ ۝

د څه زکات (صدقه) نه | چه غواړئ تاسو | رضا | د الله | نو هم دغه خلق | ډیروونکي دي

کوم زکات ورکوئ نو هم دغه خلق خپل مال زیاتوي .

اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ

الله | هغه ذات دے | چه تاسو ئې پیدا کړئ | بیا ئې | رزق در کړو تاسو ته | بیا به | مړه کړي تاسو | بیا به

الله تعالیٰ هغه ذات دے چه تاسو ئې پیدا کړئ بیا ئې رزق درکړو بیا به مو مړه کوي بیا به مو

يُحْيِيْكُمْ ۭ هَلْ مِنْ شُرَكَاۗىِٕكُمْ مَّنْ يَّفْعَلُ مِنْ ذٰلِكُمْ

ژوندي کړي تاسو | آیا شته | ستاسو د شریکانو نه | هغه څوک | چه او کړي | د دے (کارونو) نه

ژوندي کوي. آیا ستاسو په شریکانو کښې داسے څوک شته چه په دے کارونو کښې

مِّنْ شَيْءٍ ۭ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ۝ ظَهَرَ ع

څه شیز | پاکي بیانوئ پاکي د هغه | او هغه ډیر اوچت دے | د هغه څه نه | چه دوی ئې (ورسره) شریکوي | ښکاره شوے دے

یو کار کولے شي؟ پاک دے الله تعالیٰ او ډیر اوچت دے د هغه څه نه چه دوی ئې (ورسره) شریکوي.

الْفَسَادُ فِی الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ اَيْدِی النَّاسِ

فساد | په وچه | او په دریاب کښې | په وجه د هغه څه | چه کړي دي | لاسونو | د خلقو

په اوچه (خشکۍ) او په لمده (دریاب) کښې د خلقو د بد عملونو د وجے فساد خور شو

لِيُذِيْقَهُمْ بَعْضَ الَّذِیْ عَمِلُوْا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ۝

چه وڅکوي هغه (الله) دوی ته | (مزه) د بعضے | هغه (عملونو) | چه دوی کړي دي | د دے دپاره چه دوی | رجوع او کړي

چه الله تعالیٰ دوی ته د دوی د بعضے عملونو (سزا) او څکوي شاید چه دوی (د معصیت نه) الله ته واپس شي.

قُلْ سِيْرُوْا فِی الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ

او وایه | او ګرځئ | په زمکه کښې | نو او ګورئ | چه څنګه | شو | انجام | د هغه خلقو

او وایه (اے نبی!) چه زمکه کښې او ګرځئ او (بیا) او ګورئ چه د پخوانو خلقو انجام څنګه شو؟

مِنْ قَبْلُ ۭ كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّشْرِكِيْنَ ۝ فَاَقِمْ وَجْهَكَ

چه مخکښې وو | وو | اکثر د هغوی نه | مشرکان | پس قائم ساته | مخ خپل

په هغوی کښې اکثر مشرکان وو . نو (اے نبی!) ته خپل مخ (رخ) د صحیح

لِلدِّیْنِ الْقَیِّمِ مِنْ قَبْلِ اَنْ یَّاْتِیَ یَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهٗ

دین | مضبوط ته | مخکښې د دے نه | چه راشي | هغه ورځ | چه نه به وي واپس | د هغې

(مضبوط) دین طرف ته قائم (برابر) ساته. د هغې ورځې د راتلو نه مخکښې چه د الله د طرف نه د هغې

مِنَ اللّٰهِ یَوْمَئِذٍ یَّصَّدَّعُوْنَ ۝ مَنْ كَفَرَ فَعَلَیْهِ

د الله د طرف نه | په دغه ورځ به | دوي جدا جدا شي (دیو بل نه) | هغه چا | چه کفر نے کړے دے | نو هم په هغه باندے به وي

د واپسۍ څه امکان نشته. په دغه ورځ به خلق جدا جدا ډلے ډلے شي. چا چه کفر کړے دے د هغه

كُفْرُهٗ ۚ وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِاَنْفُسِهِمْ یَمْهَدُوْنَ ۝

(وبال) د کفر د هغهٔ | او هغه چا | چه عمل نے کړے دے | نیک (ښه) | نو د خپلو ځانونو د پاره | ځائے تیاروي

د کفر ضرر به هم هغه ته رسیږي او چا چه نیک عمل کړے دے (نو) هغوي د خپل ځان د پاره د آرام ځائے تیاروي

لِیَجْزِیَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

د دے د پاره چه الله بدله ورکړي | هغه خلقو ته | چه ایمان نے راوړے دے | او کړي نے دي عملونه | نیک

نتیجه به دا وي چه الله تعالیٰ به هغه خلقو ته په خپل فضل سره بدله ورکړي چا چه ایمان راوړے دے

مِنْ فَضْلِهٖ ؕ اِنَّهٗ لَا یُحِبُّ الْكٰفِرِیْنَ ۝ وَمِنْ اٰیٰتِهٖۤ اَنْ

د خپل فضل نه | بیشکه هغه (الله) | نه خوښوي | کافران | او بعضے د نخښو د هغهٔ نه | دا دي چه

او نیک عملونه نے کړي دي. یقیناً الله تعالیٰ کافران نه خوښوي. او الله تعالیٰ د قدرت د نخښو نه یوه نخښه دا هم ده

یُّرْسِلَ الرِّیَاحَ مُبَشِّرٰتٍ وَّلِیُذِیْقَكُمْ مِّنْ رَّحْمَتِهٖ

رالیږي | هواګانے | زیري ورکونکي | او (د دے د پاره) چه اوڅکوي هغه په تاسو | د رحمت خپل نه

چه هغه د باران زیري ورکونکي هواګانے رالیږي (او د دے د پاره) چه په تاسو د خپلے مهربانۍ خوند (مزه) اوڅکوي

وَلِتَجْرِیَ الْفُلْكُ بِاَمْرِهٖ وَلِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ

او چه روانے وي | کشتۍ | په حکم د هغهٔ | او چه اولټوئ تاسو | د فضل د هغهٔ نه | او (د دے د پاره) چه تاسو

او (د دے د پاره) چه کشتۍ د هغه په حکم اوچلیږي او د دے د پاره چه تاسو د هغه فضل تلاش کړئ. او چه د هغه

تَشْكُرُوْنَ ۝ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ رُسُلًا اِلٰی قَوْمِهِمْ

شکر اوباسئ | او یقیناً | مونږ لیږلي دي | مخکښې ستا نه | (ډیر) پیغمبران | قومونو خپلو ته

شکر اداء کړئ. او (اے نبي!) مونږ ستا نه مخکښې هم ډیر پیغمبران خپلو خپلو قومونو ته لیږلي دي

فَجَآءُوْهُمْ بِالْبَیِّنٰتِ فَانْتَقَمْنَا مِنَ الَّذِیْنَ اَجْرَمُوْا ؕ وَكَانَ

نو راوړي و دوي هغوي ته | ښکاره دلیلونه | پس بدله واغستله مونږ | د هغه خلقو نه | چه جرم نے کړے وو | او دے

نو هغوي ورته ښکاره (واضحه) دلیلونه پیش کړي وو بیا مونږ د مجرمانو نه انتقام واغستلو

حَقًّا عَلَیْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِیْنَ ۝ اَللّٰهُ الَّذِیْ یُرْسِلُ الرِّیٰحَ

حق | په مونږ باندے | مدد (کول) | د مومنانو سره | الله | هغه (ذات) دے | چه رالیږي | هواګانے

او د مومنانو سره مدد کول په مونږ لازم دي. الله تعالیٰ هغه ذات دے چه هواګانے رالیږي

فَتُثِیۡرُ سَحَابًا فَیَبۡسُطُهٗ فِی السَّمَآءِ کَیۡفَ یَشَآءُ وَیَجۡعَلُهٗ

تورا اوچتے کړی هغه | وریځے | نو خوروی هغے لره | په آسمان کښې | څنګه چه | غواړی هغه | او اوګرځوی دا وریځے

نو هغه هواګانے وریځے را اوچتے کړی بیا الله چه څنګه غواړی هغه شان ئے په فضا کښې خورے کړی

کِسَفًا فَتَرَی الۡوَدۡقَ یَخۡرُجُ مِنۡ خِلٰلِهٖ ۚ فَاِذَاۤ اَصَابَ

ټکړے ټکړے دیو بل دپاسه | نو ته وینے | څاڅکے | چه راوځی | د مینځ د هغے نه | پس کله چه | هغه اورسوی

اولا ئے بادل ئے ټکړے ټکړے ترینه جوړے کړی. بیا ته ګورے چه څاڅکی باران د هغے د مینځ نه راوریږی. بیا چه

بِهٖ مَنۡ یَّشَآءُ مِنۡ عِبَادِهٖۤ اِذَا هُمۡ یَسۡتَبۡشِرُوۡنَ ۴۸ وَاِنۡ

هغے لره | هغه چاته | چه غواړی ئے | د بندګانو خپلو نه | نو دغه وخت | دوی | خوشحاله شی | او بیشکه

الله تعالیٰ په خپلو بندګانو کښې په چا او غواړی هغوی ته باران اورسوی نو (دغه وخت) هغوی خوشحاله شی. حالانکه

کَانُوۡا مِنۡ قَبۡلِ اَنۡ یُّنَزَّلَ عَلَیۡهِمۡ مِّنۡ قَبۡلِهٖ لَمُبۡلِسِیۡنَ ۴۹

وو دوی | مخکښې د دے نه | چه راوروله شی | په دوی باندے (باران) | مخکښې د دے نه | خامخا ناامیده

د دے وخت نه مخکښې تر څو پورے چه پرے باران نه وو شوے دوی ناامیده وو.

فَانۡظُرۡ اِلٰۤی اٰثٰرِ رَحۡمَتِ اللّٰهِ کَیۡفَ یُحۡیِ الۡاَرۡضَ

پس اوګوره | نخښو | د رحمت | د الله ته | (چه) څنګه | ژوندئ کوی الله | زمکه

پس (اوس لږ) د الله تعالیٰ د رحمت اثرات (بوټی فصلونه) اوګوره چه هغه زمکه روستو د هغے د وچوالی نه څنګه

بَعۡدَ مَوۡتِهَا ؕ اِنَّ ذٰلِکَ لَمُحۡیِ الۡمَوۡتٰی ۚ وَهُوَ عَلٰی کُلِّ شَیۡءٍ

پس | د مرګ د هغے نه | بیشکه | دغه (ذات) | خامخا ژوندی کوونکے | د مړو دے | او هغه | په هر څیز باندے

تازه کړه. حقیقت دا دے چه هم دغه الله مړو لره ژوندی کوونکے دے. او هغه په هر څیز قادر دے.

قَدِیۡرٌ ۵۰ وَلَئِنۡ اَرۡسَلۡنَا رِیۡحًا فَرَاَوۡهُ مُصۡفَرًّا لَّظَلُّوۡا

قادر دے | او که چرے | رالیږو مونږ | سیلۍ | پس اووینی دوی فصل لره | زیړ | نو خامخا شی دوی

او که چرے مونږ داسے باد ونه رالیږو چه د هغے په سبب دوی خپل فصل اوګوری چه زیړ شوے دے نو دوی به د هغے نه پس

مِنۡۢ بَعۡدِهٖ یَکۡفُرُوۡنَ ۵۱ فَاِنَّکَ لَا تُسۡمِعُ الۡمَوۡتٰی وَلَا تُسۡمِعُ

روستو د هغے نه | چه کفر به کوی | پس بیشکه ته | نشے اورولے | مړو ته | او ته نشے اورولے

ناشکری شروع کړی. غرض اے نبی! ته مړو ته خپله خبره نشے اورولے (او دا کافران هم په شان د مړو، کڼو او ړندو دی)

الصُّمَّ الدُّعَآءَ اِذَا وَلَّوۡا مُدۡبِرِیۡنَ ۵۲ وَمَاۤ اَنۡتَ بِهٰدِ

کڼو ته | آواز د بلنے | کله چه | دوی واپس شی | شا کوونکی | او نه ئے ته | لار ښودونکے

او نه کڼو ته (اورولے شے) (خاص کر) کله چه هغوی شا کړی او روان شی. او نه ته ړاندہ د هغوی

الۡعُمۡیِ عَنۡ ضَلٰلَتِهِمۡ ؕ اِنۡ تُسۡمِعُ اِلَّا مَنۡ یُّؤۡمِنُ بِاٰیٰتِنَا

ړندو ته | د ګمراهۍ د هغوی نه | ته نشے اورولے | مګر | هغه چاته | چه ایمان راوړی | په آیتونو زمونږ

د ګمراهۍ نه سمے لارے ته راوستے شے. ته خو صرف هم هغه خلقو ته اورولے شے چه زمونږ په آیتونو ایمان لری

ربع

فَهُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿٥٣﴾ اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ مِّنْ ضُعْفٍ

پس هم دوی | حکم منونکی دی | الله | هغه (ذات) دے | چه تاسو ئے پیدا کړی یئ | د کمزورے (اوبو) نه

او هم دغه خلق فرمانبردار دی. الله تعالیٰ هغه (ذات) دے چه ستاسو پیدائش ابتداء ئے د کمزورئ (څیز) نه کړے ده

ثُمَّ جَعَلَ مِنْۢ بَعْدِ ضُعْفٍ قُوَّةً ثُمَّ جَعَلَ مِنْۢ بَعْدِ قُوَّةٍ

بیا | اګرځولے ئے هغه | پس د | کمزورئ نه | طاقت | بیا | پیدا کړے ده هغه | پس د | طاقت نه

بیا ئے د ماشوم والی نه پس طاقت د ځوانۍ درکړو بیا ئے دریانه ے د طاقت نه پس

ضُعْفًا وَّشَيْبَةً ۭ يَخْلُقُ مَا يَشَاۗءُ ۚ وَهُوَ الْعَلِيْمُ الْقَدِيْرُ ﴿٥٤﴾

کمزوری | او بوډاوالے | هغه پیدا کوی | څه | چه غواړی | او هغه دے | ښه پوهه | قدرت لرونکے

کمزوری او بوډاتوب راوستلو، هغه چه څه غواړی هغه پیدا کوی، او هغه ډیر پوهه پوره قادر دے.

وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ يُقْسِمُ الْمُجْرِمُوْنَ ڏ مَا لَبِثُوْا

او په هغه ورځ | چه قائم به شی | قیامت | قسمونه به خوری | مجرمان | چه وخت نه دے تیر کړے دوی

او په کومه ورځ چه قیامت قائم شی په هغه ورځ به مجرمان قسمونه خوری چه دوی خو د یو ساعت نه

غَيْرَ سَاعَةٍ ۭ كَذٰلِكَ كَانُوْا يُؤْفَكُوْنَ ﴿٥٥﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ

سوا | د یو ساعت نه | دغه شان به | دوی | اړول شو | او او به وائی | هغه خلق

زیات وخت نه دے تیر کړے. دغه شان دوی (په دنیا کښې هم) اړول شو د حق نه. او چاته چه

اُوْتُوا الْعِلْمَ وَالْاِيْمَانَ لَقَدْ لَبِثْتُمْ فِيْ كِتٰبِ

چاته ورکړے شوے وو هغوی ته | علم | او ایمان | (چه) یقیناً | تاسو وخت تیر کړے دے | په کتاب

علم او ایمان ورکړے شوے وو هغوی به او وائی چه تاسو د الله تعالیٰ د کتاب (تقدیر) مطابق

اللّٰهِ اِلٰى يَوْمِ الْبَعْثِ ۡ فَهٰذَا يَوْمُ الْبَعْثِ وَلٰكِنَّكُمْ

د الله کښې | تر ورځے | د بیا پاڅیدو پورے | نو هم داده | ورځ | د بیا پاڅیدو | لیکن تاسو

د قیامت د ورځے پورے پاتے شوی یئ. نو (اوس) هم دا د قیامت (هغه) ورځ ده. لیکن تاسو

كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٥٦﴾ فَيَوْمَىِٕذٍ لَّا يَنْفَعُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا

وئ چه | پوهه مو نه لرله | پس په دغه ورځ | فائده به نه ورکوی | هغه خلقو ته | چه ظلم ئے کړے دے

(په دے) یقین نه کولو. نو (پس) په دغه ورځ به کافرانو ته د هغوی عذرونه (بهانے) هیڅ فائده ورنه کړی

مَعْذِرَتُهُمْ وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ ﴿٥٧﴾ وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ

بهانے د هغوی | او نه به د دوی | توبه قبلولے شی | او یقیناً | مونږ بیان کړی دی | خلقو د پاره

او نه به ورته د الله د راضی کولو موقع ورکړے شی. او حقیقت دا دے چه مونږ د خلقو د پوهے د پاره

فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ ۭ وَلَىِٕنْ جِئْتَهُمْ بِاٰيَةٍ

په دے | قرآن کښې | د هر قسم | مثال نه | او که چرے | ته راوړے دوی ته | څه نخښه

په دے قرآن کښې هر قسم خبرے (مثالونه) بیان کړی دی، او (اے نبی!) د دوی حال خو دا دے

لَيَقُوْلَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا مُبْطِلُوْنَ ۝ كَذٰلِكَ

نو خامخا وائي به | هغه خلق | چه كفر ئے كړے دے | (چه) نه يئ تاسو | مګر | دروغ ويونكي | دغه شان

كه چرے ته ورته څه نخښه پيش كړے نو دا كافر به هم دا وائي چه تاسو دروغژن يئ

يَطْبَعُ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝ فَاصْبِرْ اِنَّ

مهر وهي | الله | په | زړونو | د هغه خلقو | چه نه پوهيږي | پس صبر كوه | بيشكه

الله تعالىٰ هم دغه شان د هغه خلقو په زړونو مهر لګوي چه د پوهے ته كار نه اخلي. نو (اے نبي!) ته د صبر نه كار واخله

وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّلَا يَسْتَخِفَّنَّكَ الَّذِيْنَ لَا يُوْقِنُوْنَ ۝

وعده | د الله | حقه ده | او بے همته دے نه كړي تا لره | هغه خلق | چه يقين نه كوي

اويقين اوكړه چه د الله وعده رشتنے ده او كوم خلق چه يقين نه لري هغوي (چرته) تا بے همته نه كړي

آياتها [۳۴]	سورة لقمٰن مكّيّة	ركوعاتها [۴]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډير مهربان | زيات رحم كونكے دے (شروع كوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع كوم۔

الٓمّٓ ۝ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِيْمِ ۝ هُدًى وَّرَحْمَةً

الم | دا | آيتونه دي | د كتاب | حكمت والا | هدايت | او رحمت دے

الف لام ميم. دا د داسے كتاب آيتونه دي چه د حكمتونو نه ډك دے او د هغه نيكانو خلقو دپاره

لِّلْمُحْسِنِيْنَ ۝ الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ

دپاره د نيكانو | هغه كسان | چه قائموي | مونځ | او وركوي | زكات

هدايت او رحمت دے، چه د مانځه پابندي كوي او زكات وركوي

وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ۝ اُولٰٓئِكَ عَلٰى هُدًى

او دوي | په آخرت باندے | هم دوي | يقين لري | دغه خلق | په هدايت دي

او په آخرت پوخ يقين لري. هم دغه خلق د خپل رب د طرف نه په هدايت (په سمه لار) دي

مِّنْ رَّبِّهِمْ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ

د خپل رب د طرف نه | او هم دغه خلق | هم دوي | (پوره) كامياب دي | او بعضے د خلقو نه | هغه څوك دي

او هم دغه خلق پوره كامياب دي. او په خلقو كښ بعضے داسے هم دي چه د الله تعالىٰ د قرآن نه

يَّشْتَرِيْ لَهْوَ الْحَدِيْثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِغَيْرِ

چه اخلي | عبث (فضول) | خبرے | (د دے دپاره چه ګمراه كړي (خلق) | د لارے | د الله نه | بغير

غافله كوونكي (فضول) خبرے (قصے) اخلي د دے دپاره چه بغير د پوهے نه پرے خلق د الله د لارے نه ګمراه كړي

عِلْمٍ ۖ وَّيَتَّخِذَهَا هُزُوًا ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿٦﴾

دخه علم نه | او(چه) اوګرځوي هغه لره | ټوکې | دغه خلق | د هغوي دپاره | عذاب | رسوا کونکے

اولار د الله يعنې قرآن لره په ټوکو سره اونيسي، هم دا سے خلقو دپاره رسوا کونکے عذاب تيار دے.

وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِ اٰيٰتُنَا وَلّٰى مُسْتَكْبِرًا كَاَنْ لَّمْ يَسْمَعْهَا

اوکله چه | لوستل شي | په هغه باندے | آيتونه زمونږ | نو مخ اړوي | تکبر کونکے وي | لکه چه ده | نه دي اوريدلي هغه

اوکله هم چه ورته زمونږ آيتونه بيان شي نو دے په غرور (تکبر) سره دا سے مخ واړوي لکه چه هغوي اوريدلي نه وي

كَاَنَّ فِيْۤ اُذُنَيْهِ وَقْرًا ۚ فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿٧﴾

لکه چه | په غوږونو دده کښې | درونډوالے دے | پس زيرے ورکړه دده ته | په عذاب | دردناک سره

لکه چه په غوږونو کښې ئے درونډوالے وي، نو دده ته د دردناک عذاب خوشخبري واوروه

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ جَنّٰتُ

بيشکه | هغه خلق | چه ايمان ئے راوړے دے | اوکړي ئے دي عملونه | نيک | د هغوي دپاره | جنتونه

(بل طرف ته) چا چه ايمان راوړے دے او نيک عملونه ئے کړي دي د هغوي دپاره

النَّعِيْمِ ﴿٨﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا ؕ وَهُوَ الْعَزِيْزُ

د نعمتونو دي | هميشه به وي | په هغے کښې | وعده د | الله ده | رښتينے | او هم هغه دے | ډير زورور

د نعمتونو جنتونه مقرر دي، چه په هغے کښې به هميشه اوسيږي، د الله وعده رښتينے ده. او هغه ډير زورور (غالب)

الْحَكِيْمُ ﴿٩﴾ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا وَاَلْقٰى

لوئي حکمت والا | پيدا کړي دي هغه | آسمانونه | بغير | د ستنو نه | چه تاسو وينئ هغه | او غورځولي ئے دي

او حکمت والا ذات دے. (هم) الله آسمانونه د ستنو نه بغير پيدا کړي دي چه تاسو ئے وينئ

فِي الْاَرْضِ رَوَاسِيَ اَنْ تَمِيْدَ بِكُمْ وَبَثَّ فِيْهَا

په زمکه کښې | غرونه | چه اونه خوزي (دا) | په تاسو | او خواره کړي ئے دي | په دے کښې

او په زمکه ئے (د راتلو) غرونه ايښودلي دي چه په تاسو زمکه اونه خوزي، او هر قسم ژوندي سر (ځناور)

مِنْ كُلِّ دَآبَّةٍ ؕ وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا

د هر قسم | ژوندي سر نه | او راوروو مونږ | د آسمان نه | اوبه | نو راز رغونو مونږ | په دے کښې

ئے پکښې خواره کړي دي. او (هم) مونږ د اسمان نه باران (اوبه) راورولي دي بيا مو په دے (زمکه) کښې

مِنْ كُلِّ زَوْجٍ كَرِيْمٍ ﴿١٠﴾ هٰذَا خَلْقُ اللّٰهِ فَاَرُوْنِيْ مَاذَا

د هر قسم | جوړے | فائده والا نه | دا دے | پيدائش | د الله | پس وښايئ تاسو ماته | چه څه

هر قسم فائده والا څيزونه راز رغون کړي دي. دا د الله مخلوق (جوړ کړي څيزونه) دي نو (اوس لږ) تاسو ماته وښايئ چه

خَلَقَ الَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖ ؕ بَلِ الظّٰلِمُوْنَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿١١﴾ ع

پيدا کړي دي | هغه کسانو | چه د هغه نه سوا دي | بلکه | ظالمان دي | په ګمراهئ | ښکاره کښې

د الله نه سوا نور چا څه پيدا کړي دي؟ اصل خبره دا ده چه ظالمان په ښکاره ګمراهئ کښې پراته دي.

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا لُقْمٰنَ الْحِكْمَةَ اَنِ اشْكُرْ لِلّٰهِ ؕ وَمَنْ يَّشْكُرْ

او يقينًا | ور كړے وو موږ | لقمان ته | حكمت | چه شكر كوه | د الله | او چا چه | شكر اوكړو

او يقينًا موږ لقمان ته هوښيارتوب (يو علم لږ په خاكسارئ شي) وركړے وو (او دا موږ ته ولي وو) چه د الله شكر ادا كوه او څوك چه شكر اداء كړي

فَاِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ كَفَرَ فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ

نو بيشكه | هغه شكر كوي | د خپل ځان دپاره | او چا چه | ناشكري اوكړه | نو بيشكه | الله | بے حاجته دے

نو د خپلے فائدے دپاره شكر ادا كوي. او څوك چه ناشكري اوكړي نو يقينًا الله تعالىٰ بے پروا (بے حاجته)

حَمِيْدٌ ۝ وَاِذْ قَالَ لُقْمٰنُ لِابْنِهٖ وَهُوَ يَعِظُهٗ يٰبُنَيَّ

صفتونو والا دے | او كله چه | او ويل | لقمان | خوي خپل ته | او دے | نصيحت كولو هغه ته | (چه) اے زما بچوريه

ستائلے شوے ذات دے. او هغه وخت ياد كړه كله چه لقمان خپل ځوي ته په نصيحت كښ او ويل چه اے زما بچوريه!

لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ ؕ اِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيْمٌ ۝ وَوَصَّيْنَا

شرك مه كوه | د الله سره | بيشكه | شرك | خامخا دے ظلم | ډير لوئے | او موږ حكم كړے دے

د الله تعالىٰ سره شرك مه كوه ځكه چه شرك ډير لوئے ظلم دے. او موږ انسان ته د مور او پلار

الْاِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ ۚ حَمَلَتْهُ اُمُّهٗ وَهْنًا عَلٰى وَهْنٍ

انسان ته | د د مور او پلار په باره كښ | او چت كړے وو هغه | مور د هٔ | د كمزورئ سره | د پاسه د كمزورئ

په باره كښ د ښيګړے كولو پوخ حكم كړے دے. (ځكه چه) د هغه مور دهٔ ډير ډير كمزورئ سره په خپله ګيډه برداشت كړے وو

وَّفِصٰلُهٗ فِيْ عَامَيْنِ اَنِ اشْكُرْ لِيْ وَلِوَالِدَيْكَ ؕ اِلَيَّ

او پريكول د هغه (د پيو نه) | په دوه كالو كښ دي | چه شكر اوكړه | زما | او د مور او پلار خپل | خاص ما ته

او بيا تكليف د هٔ چه په دوه كالو كښ د شيدو نه پرے كړو حكم د دے چه اے بنده! زما هم شكر ادا كوه او د خپل مور او پلار هم. زما طرف ته

الْمَصِيْرُ ۝ وَاِنْ جَاهَدٰكَ عَلٰۤى اَنْ تُشْرِكَ بِيْ

واپس راتلل دي (ستاسو) | او كه چرے | هغه دواړه كوشش كوي په تا باندے | د دے خبرے | چه ته شريك كړے | زما سره

ستاسو واپس راتلل دي. او كه چرے هغه دواړه په تا باندے دا زور كوي چه ته زما سره په خدائي كښ څوك شريك كړے

مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ ۙ فَلَا تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا

هغه څه | چه نشته | تا سره | په هغے باندے | هيڅ علم | نو خبره مه منه د هغوي دواړو | او ملګرتيا كوه د هغوي دواړو سره

چه تا سره پرے څه علم (دليل) هم نه وي (او نهٔ شته) نو د هغوي خبره مه منه. او په دنيا كښ ورسره

فِي الدُّنْيَا مَعْرُوْفًا ۫ وَّاتَّبِعْ سَبِيْلَ مَنْ اَنَابَ اِلَيَّ ۚ ثُمَّ

په دنيا كښ | ښه (ملګرتيا) | او روان شه | په لاره | د هغه چا | چه راګرځي | ما ته | بيا

ښه سلوك كوه او د خپلو آباؤ غلطه تابعداري مه كوه بلكه د داسے كس تابعداري كوه چه متبع د سنت وي او ما ته راګرځي

اِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَاُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝ يٰبُنَيَّ

ما ته | واپس راتلل ستاسو دي | نو زه به خبر دركوم تاسو ته | په هغه څه | چه تاسو | ئے كوئ | اے زما بچوريه!

بيا به تاسو ټول زما طرف ته واپس راځئ نو تاسو چه څه عمل كولو د هغے نه به موزه خبر كړم.

اِنَّهَآ اِنْ تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ فَتَكُنْ فِيْ صَخْرَةٍ

بیشکه دا (عمل) | که چرے وی | په اندازه | د یوے دانے | د اوری | بیا وی دا | په یوه کټه کښی

اے زما بچوړیه! که (خصلت دَ نیکئ یا بدئ) د اوری د دانے برابر وی او په یوه کټه کښی وی

اَوْ فِي السَّمٰوٰتِ اَوْ فِي الْاَرْضِ يَاْتِ بِهَا اللّٰهُ ۭ اِنَّ اللّٰهَ

یا په آسمانونو کښی | یا په زمکه کښی | نو راوړی به | هغے لره | الله | بیشکه | الله دے

یا په آسمانونو کښی وی یا په زمکه کښی وی نو بیا به ئے هم الله تعالی حاضر کړی. یقین اوکړه چه الله تعالی

لَطِيْفٌ خَبِيْرٌ ۝ يٰبُنَيَّ اَقِمِ الصَّلٰوةَ وَاْمُرْ بِالْمَعْرُوْفِ

باریک لیدونکے | ډیر خبردار | اے بچوړیه! | قائموه | مونځ | او حکم کوه | د نیکئ

باریک بین خبردار دے. اے زما بچوړیه! د مانځه پابندی کوه او د نیکئ حکم کوه

وَانْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَاصْبِرْ عَلٰي مَآ اَصَابَكَ ۭ اِنَّ ذٰلِكَ

او منع کوه (خلق) | د ناروا نه | او صبر کوه | په هغه څه | چه اورسیږی تاته | بیشکه | دا

او د بدو نه (خلق) منع کوه او کوم مصیبت چه درسی په هغے صبر کوه، یقیناً دا

مِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ۝ وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمْشِ

د همت | د کارونو نه دی | او مه اړوه | رُخسار خپل | د خلقو نه | او مه ګرځه

ډیر د همت کارونه دی. او په وخت د خبرو کښی خلقو سره ته خپل مخ مه اړوه او په زمکه کښی په غرور او نزا کت

فِي الْاَرْضِ مَرَحًا ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُوْرٍ ۝

په زمکه کښی | په غرور سره | بیشکه | الله | نه خوښوی | هر لوئی کونکے (مغروره) | فخر کونکے

سره مه ګرځه. یقین اوکړه چه الله تعالی دا سے متکبر انسان نهٔ خوښوی چه بل سپک ګڼړی او په خپل ځان فخر کوی.

وَاقْصِدْ فِيْ مَشْيِكَ وَاغْضُضْ مِنْ صَوْتِكَ ۭ اِنَّ اَنْكَرَ

او میانه روی کوه | په تګ خپل کښی | او ښکته ساته | آواز خپل | بیشکه | ډیر بد

او په خپل تګ کښی اعتدال اختیار کړه او په بعضے آواز خپل کښی نرمی پیدا کړه (آواز ټیټ ساته) یقیناً

الْاَصْوَاتِ لَصَوْتُ الْحَمِيْرِ ۝ اَلَمْ تَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ سَخَّرَ ع

په آوازونو کښی | خامخا آواز | د خرو دے | آیا تاسو نه ګورئ | چه بیشکه | الله | په کار لګولی دی

په ټولو آوازونو کښی بد ترین آواز د خره دے (ځکه چه بے ضرورته وی). آیا تاسو د عبرت حاصلولو د پاره نهٔ ګورئ چه الله تعالی

لَكُمْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ وَاَسْبَغَ عَلَيْكُمْ

ستاسو د پاره | هغه څه | چه په آسمانونو کښی دی | او هغه څه | چه په زمکه کښی دی | او پوره کړی ئے دی | په تاسو باندے

د آسمانونو او د زمکے هرڅه ستاسو په کار (خدمت) کښی لګولی دی او خپل

نِعَمَهٗ ظَاهِرَةً وَّبَاطِنَةً ۭ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ

نعمتونه خپل | (څه) ښکاره | او (څه) پټ | او بعضے د خلقو نه | هغه څوک دی | چه جګړه کوی

ظاهری او باطنی نعمتونه ئے تاسو ته پوره پوره درکړی دی او (بیا هم) بعضے خلق د الله تعالی

فِى اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّلَا هُدًى وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِيْرٍ ۝٢٠ وَاِذَا

دالله په باره کښې | بغير | د علم نه | او د هدايت نه | او د يو کتاب | روښانه نه | او کله چه

د توحيد په باره کښې جګړه کوي حالانکه نه ورسره څه علم وي او نه څه هدايت او نه يو روښانه کتاب. او کله

قِيْلَ لَهُمُ اتَّبِعُوْا مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ قَالُوْا بَلْ نَتَّبِعُ

او ويل شي | دوي ته | چه روان شئ | په هغه څه پسے | چه نازل کړي دي | الله | نو وائي دوي | بلکه | مونږ روان يُو

چه ورته او ويل شي چه هغه څه پسے روان شئ چه الله تعالىٰ راليږلي دي نو وائي چه نه بلکه مونږ

مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا ؕ اَوَلَوْ كَانَ الشَّيْطٰنُ

په هغه څه پسے | چه مونږ موندلي دي | په هغے باندے | پلاران خپل | آيا اګر که وي | شيطان

به په هغه څه پسے روان يُو په څه چه مونږ خپل پلار نيکه (مشران) موندلي دي اګر که شيطان

يَدْعُوْهُمْ اِلٰى عَذَابِ السَّعِيْرِ ۝٢١ وَمَنْ يُّسْلِمْ وَجْهَهٗۤ

چه رابلي دوي | عذاب | د اور لمبو والا ته | او هغه څوک | چه او سپاري | خپل مخ (ځان)

دوي ګرم اور ته رابلي (نو بيا به هم ورپسے دوي روان وي؟) او څوک چه الله ته

اِلَى اللّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى ؕ

الله ته | او وي دے | نيک کوونکے | نو يقيناً | ده را ټينګه کړه | کړۍ | مضبوطه

خپل ځان او سپاري او نيک کونکي وي نو يقيناً ده مضبوطه کړۍ را ونيوله.

وَاِلَى اللّٰهِ عَاقِبَةُ الْاُمُوْرِ ۝٢٢ وَمَنْ كَفَرَ فَلَا يَحْزُنْكَ

او خاص الله ته | انجام | د ټولو کارونو دے | او هغه څوک | چه کفر کړے دے | نو غمژن دے نه کړي تا

او د ټولو کارونو آخري انجام الله تعالىٰ ته حواله دے. او (اے نبي!) چا چه کفر اختيار کړے دے د هغه کفر دے تا

كُفْرُهٗ ؕ اِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ فَنُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ

کفر د هغهٔ | خاص مونږ ته | د هغوي واپس راتلل دي | نو مونږ به خبر کړو هغوي | په هغه څهٔ | چه هغوي کړي دي | بيشکه | الله

غمژن نه کړي آخر د ټول به زمونږ طرف ته واپس راځي نو مونږ به ورته او ښايو چه دوي څه کارونه کړي دي؟

عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۝٢٣ نُمَتِّعُهُمْ قَلِيْلًا ثُمَّ نَضْطَرُّهُمْ

ښه پوهه دے | په راز | د سينو | مونږ فائده ور کوو هغوي ته | لږه شان | بيا به | راکاږو مونږ هغوي

يقيناً الله تعالىٰ په سينو کښې پټے خبرے هم پيژني. مونږ دوي ته د مزو اخستلو لږه موقع ور کوو بيا به ئے مونږ

اِلٰى عَذَابٍ غَلِيْظٍ ۝٢٤ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ

عذاب | ډير سخت ته | او که چرے | ته تپوس او کړے د دوي نه | چه چا | پيدا کړي دي | آسمانونه

يو سخت ترين عذاب ته راکاږو. او که چرے ته د دوي نه تپوس او کړے چه آسمانونه او زمکه چا پيدا کړي دي؟

وَالْاَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ؕ قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ

او زمکه | نو خامخا به دوي وائي | چه الله | او وايه | چه صفتونه دي | د الله د پاره | بلکه | اکثر د دوي نه

نو دوي به ضرور وائي چه الله. ته او وايه چه الحمد لله. خو د دے باوجود (بلکه) اکثر خلق

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۲۵﴾ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ اِنَّ اللّٰهَ

نه پوهيږي | خاص د الله دي | هغه څه | چه په آسمانونو | او زمکه کښې دي | بيشکه | الله

د پوهې نه کار نه اخلي. د آسمانونو او د زمکې هر څه خاص د الله تعالىٰ (په اختيار کښې) دي يقيناً الله تعالىٰ

هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ﴿۲۶﴾ وَلَوْ اَنَّ مَا فِي الْاَرْضِ مِنْ شَجَرَةٍ

هم هغه دے | بے حاجته | ستائلے شوے | او که چرے شي | هغه څه | چه په زمکه کښې دي | د ونو نه

بے پروا د صفتونو لائق ذات دے. او په زمکه کښې چه څومره ونې دي که دا ټول

اَقْلَامٌ وَّالْبَحْرُ يَمُدُّهٗ مِنْۢ بَعْدِهٖ سَبْعَةُ اَبْحُرٍ مَّا نَفِدَتْ

قلمونه | او درياب | چه صدا و کړي څه | د دهٔ نه وروستو | اوه (نور) | درياب ونه | نو ختم به نه شي

قلمونه شي او زياتې کړې دے سمندر له او وه درياب له وروستو د ختميدلو د دهٔ نه او سياهي شي نو بيا به هم د الله تعالىٰ خبرے

كَلِمٰتُ اللّٰهِ ۗ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۲۷﴾ مَا خَلْقُكُمْ

کلمے (خبرے) | د الله | بيشکه | الله دے | ډير زورور | او لوئے حکمت والا | نه دي پيدا کول ستاسو

صفات، عجائب او حکمتونه ختم نشي. يقيناً الله تعالىٰ ډير غالب لوے حکمت والا ذات دے. ستاسو پيدا کول او بيا دوباره

وَلَا بَعْثُكُمْ اِلَّا كَنَفْسٍ وَّاحِدَةٍ ۗ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ بَصِيْرٌ ﴿۲۸﴾

او بيا ژوندي کول ستاسو | مګر | په شان د نفس | يو | بيشکه | الله دے | ښه اوريدونکے | ښه ليدونکے

ژوندي کول خو الله تعالىٰ ته داسے دي لکه يو کس (پيدا کول او دوباره ژوندي کول) يقيناً الله هر څه اوري هر څه ويني

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُوْلِجُ النَّهَارَ

آيا تا نه دي کتلي | چه بيشکه | الله | داخلوي | شپه | په ورځ کښې | او داخلوي | ورځ

آيا تا نه دي کتلي چه الله تعالىٰ شپه په ورځ کښې او ورځ په شپه کښې داخلوي

فِي الَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَّجْرِيْۤ اِلٰۤى اَجَلٍ

په شپه کښې | او هغه تابع کړي دي | نمر | او سپوږمۍ | هر يو | روان دے | تر نيټے

او نمر او سپوږمۍ ئے په کار لګولي دي (چه) هر يو به تر مقررے نيټے پورے روان وي،

مُّسَمًّى وَّاَنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿۲۹﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ

مقررے | او (دا چه) بيشکه | الله | په هغه څه | چه تاسو ئے کوئ | خبردار دے | دا ځکه | چه بيشکه | الله

او الله تعالىٰ ستاسو د ټولو کارونو (عملونو) نه پوره خبردار دے. دا تفصيل دے د پاره او شو چه ښکاره شي چه الله تعالىٰ

هُوَ الْحَقُّ وَاَنَّ مَا يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهِ الْبَاطِلُ ۙ وَاَنَّ

هم هغه دے | حق | او بيشکه | هغه څه | چه دوي ئے رابلي | سوا د هغه نه | باطل دي | او بيشکه

حق دے او د هغه نه سوا چه دوي څوک رابلي هغه باطل دي. او دا هم ښکاره شي چه يقيناً الله تعالىٰ

اللّٰهَ هُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ ﴿۳۰﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ الْفُلْكَ تَجْرِيْ ع

الله | هم هغه دے | ډير اوچت | ډير لوئے | آيا تا نه دي کتلي | چه بيشکه | کشتۍ | روانے وي

ډير اوچت مرتبے والا او لوے ذات دے. آيا تا نه دي کتلي چه کشتۍ په درياب کښې د الله تعالىٰ

فِی الْبَحْرِ بِنِعْمَتِ اللّٰهِ لِیُرِیَكُمْ مِّنْ اٰیٰتِهٖ ؕ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ

په دریاب کښې | په نعمت | د الله سره | چه اوښائي هغه تاسو ته | څه نخښې خپلې | بیشکه | په دے کښې

په نعمت (په لرمو هواگانو) سره روانے وي دے دپاره چه الله تاسو ته دخپل قدرت بعضې نخښے اوښائي. یقیناً په دے کښې

لَاٰیٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ۝ وَاِذَا غَشِیَهُمْ مَّوْجٌ

خامخا نخښے دي | دپاره د هر | صبر کونکی | شکر کونکی | او هر کله | چه پټ کړي دوي لره | چپه

د هر عادتي صبر ناک شکر گزار دپاره ډیرے نخښے پرتے دي. او کله چه د دریاب چپے

كَالظُّلَلِ دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِیْنَ لَهُ الدِّیْنَ ۚ۬ فَلَمَّا نَجّٰىهُمْ

پشان د سائبان | نو رابلي دوي | الله لره | خالص کونکي وي | د هغه دپاره | دین (عبادت) | پس هر کله | چه هغه بچ کړي دوي لره

د سائبانو په شان په دوي باندے راخورے شي نو دوي ډیر په اخلاص سره الله رابلي. بیا کله چه ئے الله

اِلَی الْبَرِّ فَمِنْهُمْ مُّقْتَصِدٌ ؕ وَمَا یَجْحَدُ بِاٰیٰتِنَاۤ اِلَّا كُلُّ خَتَّارٍ

دوچے طرف ته | نو بعضے د دوي نه | په اعتدال وي | او انکار نه کوي | د آیتونو زمونږ له | مگر | هر وعده ماتونکے

دخشکۍ طرف ته بچ راولي نو په دوي کښې څه خلق توحید پرست پاتے شي او زمونږ د آیتونو نه خو صرف بے لوظه (دهری)

كَفُوْرٍ ۝ یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمْ وَاخْشَوْا یَوْمًا لَّا یَجْزِیْ

ناشکره | اے | خلقو! | او ویریږئ | د رب خپل نه | او او ویریږئ | د هغه ورځے نه | چه نه به شي لرے کولے

او ناشکره (مشرک) انکار کوي. اے خلقو! د خپل رب د عذاب نه ځان وساتئ او د هغے ورځے نه او ویریږئ چه

وَالِدٌ عَنْ وَّلَدِهٖ ۫ وَلَا مَوْلُوْدٌ هُوَ جَازٍ عَنْ وَّالِدِهٖ شَیْـًٔا ؕ

یو پلار | د ځوي خپل نه | او نه یو ځوے به لرے کوونکے وي | د پلار خپل نه | څه څیز

یو پلار به د خپل ځوي په کار نه راځي او نه به یو ځوئے د پلار په کار راشي.

اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَیٰوةُ الدُّنْیَا ٙ

بیشکه | وعده | د الله | رښتنے ده | پس دهوکه دے نه کړي تاسو | ژوند | دُنیوي

یقین او کړئ چه د الله تعالیٰ وعده رښتنې ده، پس د دنیا ژوند دے تاسو دهوکه نه کړي

وَلَا یَغُرَّنَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ ۝ اِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗ عِلْمُ

او دهوکه دے نه کړي تاسو | د الله په باره کښې | دهوکه باز | بیشکه | الله | هم د هغه سره دے | علم

او نه دے لوئے دهوکه باز (شیطان) د الله تعالیٰ په باره کښې تاسو دهوکه کړي. یقیناً د قیامت (د راتلو) علم الله سره دے

السَّاعَةِ ۚ وَیُنَزِّلُ الْغَیْثَ ۚ وَیَعْلَمُ مَا فِی الْاَرْحَامِ ؕ

د قیامت | او هغه راورَوي | باران | او پوهیږي هغه | په هغه څه | چه رحمونو کښې دي

او هم هغه باران راوروي، او هم هغه ته معلوم دي چه په رحمونو کښې (د بچي پوره حالات) څه دي

وَمَا تَدْرِیْ نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا ؕ وَمَا تَدْرِیْ

او نه پوهیږي | هیڅ یو تن | چه دے به څه کوي | صبا | او نه پوهیږي

او هیڅ یو کس ته پته نه لګي چه صبا به هغه څه کوي. او نه یو کس ته دا پته شته چه



نَفْسٌ بِاَيِّ اَرْضٍ تَمُوْتُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ خَبِيْرٌ ۠

هيڅ يو تن | چه په كومه زمكه به | دے مري | بيشكه | الله | ښه پوهه | ښه خبردار دے

په كومه زمكه به دے مري. يقيناً الله تعالىٰ په هر څه پوهه د هر څه نه پوره خبردار دے

ركوعاتها [۲]	سورة السجدة مكية	آياتها [۳۰]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډير مهربان | زيات رحم كولكے دے (شروع كوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع كوم.

الٓمّٓ ۚ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ لَا رَيْبَ فِيْهِ مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ؕ

الٓم | رالیږل | د (دے) كتاب | نشته دے هيڅ شك | په دے كښ | د طرفه د رب | د مخلوقاتو نه دى

الٓم، په دے كښ هيڅ شك نشته چه د دے كتاب رالیږل د رب العالمين د طرف نه دى

اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ۚ بَلْ هُوَ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ

آيا وائي دوى | چه دے ځان نه جوړ كړے دے دا (قرآن) | بلكه | دا (خو) | حق دے | ستا د رب د طرف نه

آيا دا خلق دا وائي چه دے پيغمبر دا (قرآن) د ځان نه جوړ كړے دے (نه نه) بلكه دا خو حق دے ستا د رب

لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَّآ اَتٰىهُمْ مِّنْ نَّذِيْرٍ مِّنْ قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ

چه او یرو دے ته | هغه قوم | چه نه دے راغلے هغوی ته | څوك يروونكے | مخكښ ستا نه | د دے د پاره چه هغوی

د طرف نه دے د پاره راغلے دے چه ته د دے په ذريعه هغه خلق (قوم) او يروے چه ستا نه مخكښ ورته څوك يروونكے

يَهْتَدُوْنَ ۞ اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا

هدايت بيا موهي | الله | هغه (ذات) دے | چه پيدا كړي دى | آسمانونه | او زمكه | او هغه څه

نه وو راغلے (د دے د پاره) چه هغوی په سمه لار راشي. الله خو هغه ذات دے چه آسمانونه او زمكه او څه چه د دے دوارو

بَيْنَهُمَا فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ؕ

چه د دے دواړو په مينځ كښ دى | په شپږو | ورځو كښ | بيا | برابر شوے دے | په عرش باندے

په مينځ كښ دى دا ټول ئے په اندازه د شپږو ورځو كښ پيدا كړي دى بيا په عرش باندے قائم (مستوى) شوے دے

مَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا شَفِيْعٍ ؕ اَفَلَا تَتَذَكَّرُوْنَ ۞

نشته ستاسو د پاره | د هغه نه سوا | هيڅ څوك دوست | او نه څوك سفارش كونكے | آيا نو تاسو نصيحت نه قبلوئ

د هغه نه سوا ستاسو نه څوك دوست شته او نه څوك سفارشي، آيا بيا هم تاسو نصيحت نه قبلوئ.

يُدَبِّرُ الْاَمْرَ مِنَ السَّمَآءِ اِلَى الْاَرْضِ ثُمَّ يَعْرُجُ اِلَيْهِ

هغه بندوبست كوي | د كار | د آسمان نه | زمكے ته | بيا به | خيږي | د هغه طرف ته

هم هغه د آسمان نه تر زمكے پورے د هر كار انتظام (بندوبست) پخپله كوي بيا به هر يو كار په دا سے

فِيْ يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهٗٓ اَلْفَ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّوْنَ ۝٥ ذٰلِكَ

(ناسته) ورځ کښې | چه دے | مقدار دهغے | زر | کاله | دهغه (مودے) نه | چه تاسو ئے شمارئ | دغه (ذات)

یوه ورځ (قیامت) کښې هغه ته واپس کیږي چه د هغې مقدار ستاسو د حساب مطابق زر کاله دے.

عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ۝٦ الَّذِيْٓ

عالم دے | په هر پټ | او ښکاره (څیز) | ډیر زورآور | ډیر مهربان دے | هغه (ذات)

هم دا (الله) په پټو او په ښکاره خبرو باندے پوهه دے او زورور (غالب) او مهربان دے. هغه ذات

اَحْسَنَ كُلَّ شَيْءٍ خَلَقَهٗ وَبَدَاَ خَلْقَ الْاِنْسَانِ

چه ښائسته ئے جوړ کړے دے | هر څیز | چه پیدا کړے ئے دے هغه | او شروع کړے ده هغه | پیدائش | د انسان

چه هر یو څیز ئے ښائسته پیدا کړے دے. او د انسان پیدائش ئے

مِنْ طِيْنٍ ۝٧ ثُمَّ جَعَلَ نَسْلَهٗ مِنْ سُلٰلَةٍ مِّنْ مَّآءٍ

د خټے نه | بیا ئے | جوړ کړے دے | نسل د هغهٔ | د رابنکلے شوو | او بو

د خټے نه شروع کړے دے. بیا ئے د هغه نسل د نچوړ شوو بے قدره اوبو نه چلولے دے

مَّهِيْنٍ ۝٨ ثُمَّ سَوّٰىهُ وَنَفَخَ فِيْهِ مِنْ رُّوْحِهٖ وَجَعَلَ

سپکو نه | بیا | ئے برابر کړے دے دغه | او پوک وهلے ئے دے | په ده کښې | د روح خپل نه | او پیدا کړی ئے دی

بیا ئے ورله اندامونه برابر کړی دی او خپل روح ئے پکښې پوک وهلے دے. او (اے انسانانو!)

لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ۚ قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ۝٩

ستاسو د پاره | غوږونه | او سترگے | او زړونه | (خو) ډیر لږ | تاسو شکر کوئ

ستاسو د پاره ئے غوږونه، سترگے، او زړونه پیدا کړل (خو) تاسو ډیر لږ شکر کوئ.

وَقَالُوْٓا ءَاِذَا ضَلَلْنَا فِي الْاَرْضِ ءَاِنَّا لَفِيْ خَلْقٍ جَدِيْدٍ ؕ

او وائی دوی | آیا هر کله | چه ورک شو مونږ | په زمکه کښې | آیا (نو) شو به مونږ | خامخا په پیدائش | نوی کښې

او دا خلق وائی چه (آیا) کله چه مونږ په زمکه کښې ورک (خاورے) شو نو آیا مونږ به د نوی سره بیا راژوندی کیږو،

بَلْ هُمْ بِلِقَآئِ رَبِّهِمْ كٰفِرُوْنَ ۝١٠ قُلْ يَتَوَفّٰىكُمْ مَّلَكُ

بلکه | دوی | د ملاقات | د رب خپل نه | انکار کوونکی دی | او وایه | ساه (به) اخلی ستاسو | فرشته

اصل خبره دا ده چه دوی د خپل رب د ملاقات نه منکر دی. اے نبیؐ! ورته او وایه چه تاسو نه به

الْمَوْتِ الَّذِيْ وُكِّلَ بِكُمْ ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ تُرْجَعُوْنَ ۝١١

د مرگ | هغه | چه مقرر کړے شوے ده | په تاسو | بیا به | خپل رب ته | تاسو واپس کولے شئ

د مرگ هغه فرشته روح قبض کوی کومه چه په تاسو مقرر شوے ده، بیا به تاسو خپل رب ته واپس کیږئ.

وَلَوْ تَرٰٓى اِذِ الْمُجْرِمُوْنَ نَاكِسُوْا رُءُوْسِهِمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ

او که چرے | ته اووینے | کله چه | مجرمان | ښکته کوونکی | د خپلو سرونو وی | د خپل رب په وړاندے

او کاش چه ته هغه منظر اووینے څه وخت چه دے مجرمانو به د خپل رب مخے ته سرونه ټیټ نیولی وی

رَبَّنَآ اَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا فَارْجِعْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا اِنَّا

اے ربه زمونږ! | ولیدل مونږ | او واوریدل مونږ | پس واپس کړه مونږ | چه عمل اوکړو | نیک | بیشکه مونږ

(او وائي به) اے زمونږ ربه! زمونږ سترګے او غوږونه کولاؤ شو، نو واپس مو دنیا ته اولیږه چه نیک عمل اوکړو

مُوْقِنُوْنَ ﴿١٢﴾ وَلَوْ شِئْنَا لَاٰتَيْنَا كُلَّ نَفْسٍ هُدٰىهَا وَلٰكِنْ

یقین کوونکی یو | او که چرے | غوښتلے مونږ | نو خامخا ورکړے به وو مونږ | هر یو تن ته | هدایت د هغه | لیکن

(اوس) زمونږ پوره یقین راغے. او که چرے مونږ غوښتلے نو مونږ به هر یو کس ته هدایت کړے وے لیکن

حَقَّ الْقَوْلُ مِنِّیْ لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ

پوره شوے ده | فیصله | زما د طرف نه | چه خامخا به ډکومه | دوزخ | د پیریانو | او د انسانانو

زما د طرف نه دا خبره فیصله شوے ده چه زه به دوزخ د پیریانو او انسانانو ټولو نه ضرور ډکوم.

اَجْمَعِيْنَ ﴿١٣﴾ فَذُوْقُوْا بِمَا نَسِيْتُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا ۚ

ټولو نه په یو ځائے | پس اوڅکئ (عذاب) | په بدله د هغے | چه تاسو هیر کړے وو | ملاقات | د دے ورځے ستاسو

پس (اوس) د اور خوند (مزه) واخلئ ځکه چه تاسو د دے ورځے راتلل هیر کړی وو

اِنَّا نَسِيْنٰكُمْ وَذُوْقُوْا عَذَابَ الْخُلْدِ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿١٤﴾

بیشکه | مونږ (به) هیر کړو تاسو | او اوڅکئ | عذاب | د همیشه | په بدله د هغه کئن | چه تاسو به | کول

(نن) مونږ هم تاسو هیر کړئ او د خپلو بد عملونو په بدله کښ د همیشه عذاب خوند (مزه) واخلئ

اِنَّمَا يُؤْمِنُ بِاٰيٰتِنَا الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِّرُوْا بِهَا خَرُّوْا

بیشکه | ایمان راوړی | په آیتونو زمونږ باندے | هغه خلق | چه کله | نصیحت اوکړے شی هغوی ته | په دے سره | نو پریوځی

یقینًا (حقیقت دا دے چه) زمونږ په آیتونو باندے هغه خلق ایمان راوړی چه کله ورته زمونږ په آیتونو سره نصیحت اوکړے شی

سُجَّدًا وَّسَبَّحُوْا بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿١٥﴾ تَتَجَافٰى

سجده کوونکی | او پاکی وائی | سره د حمد | د رب خپل | او دوی | ځان لوئے نه ګنړی | جدا وی

نو هغوی په سجده پریوځی او د خپل رب د حمد سره د هغه تسبیح وائی او لوئی (تکبر) نه کوی.

جُنُوْبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَّطَمَعًا ۫

ارخونه د هغوی | د بسترو نه | رابلی هغوی | رب خپل | په یره | او په طمع

د هغوی ارخونه د خوب د ځایونو (بسترو) نه جدا وی (او) خپل رب د یرے او د طمعے سره رابلی،

وَّمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴿١٦﴾ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ اُخْفِیَ

او که هغه څه نه | چه مونږ ورکړی دی هغوی ته | خرچ کوی | پس نه پوهیږی | هیڅ یو کس | په هغه څه | چه پټ ساتلی شوی دی

او مونږ چه ورله څه ورکړی دی د هغے نه خرچ کوی. پس هیڅ چا ته پته (علم) نشته چه دا سے خلقو دپاره

لَهُمْ مِّنْ قُرَّةِ اَعْيُنٍ ۚ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٧﴾

هغوی دپاره | د یخوالی | د سترګو نه | بدله (به ورکولے شی) | د هغه څه | چه هغوی به | کول

د هغوی د عملونو په بدله کښ د سترګو د یخوالی څومره سامان پټ ستبال پروت دے

اَفَمَنْ كَانَ مُؤْمِنًا كَمَنْ كَانَ فَاسِقًا ؕ لَا يَسْتَوٗنَ ۝۱۸

آیا نو هغه څوک | چه وي | مومن | په شان د هغه چا دے | چه وي هغه | فاسق | نه برابریږي

آیا څوک چه مؤمن وي هغه د هغه چا په شان کیدے شي چه هغه فاسق وي؟ نشي برابریدے.

اَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَلَهُمْ جَنّٰتُ

هغه کسان | چه ایمان ئے راوړے دے | او عملونه ئے کړي دي | نیک | نو وي به هغوی د پاره | جنتونه

چا چه ایمان راوړے دے او نیک عملونه ئے کړي دي د هغوی د اوسیدو د پاره به باغونه وي

الْمَاْوٰى ۫ نُزُلًا بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝۱۹ وَاَمَّا الَّذِيْنَ

د اوسیدو | میلمستیا به وي | په بدله د هغه څه کښې | چه دوي ئے | کوي | او هغه کسان

چه دا به د هغوی د عملونو په بدله کښې د هغوی میلمستیا وي . او چا چه

فَسَقُوْا فَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ ؕ كُلَّمَاۤ اَرَادُوْۤا اَنْ يَّخْرُجُوْا

چه نافرماني ئے کړے ده | نو ځائے د دوي | اور دے | هر کله | چه اراده اوکړي هغوی | چه راوځي

نافرماني کړے ده نو د هغوی د اوسیدو ځائے اور دے. کله هم چه هغوی د هغے نه د راوتلو اراده اوکړي

مِنْهَاۤ اُعِيْدُوْا فِيْهَا وَقِيْلَ لَهُمْ ذُوْقُوْا عَذَابَ النَّارِ

د هغے نه | (نو) واپس به کړل شي | په هغے کښې | او اوبه ویلے شي | هغوی ته | چه اوڅکئ | عذاب | د اور

نو واپس به ورته اوغورځولے شي او ورته به اوویلے شي د اور کوم عذاب چه تاسو دروغ ګڼړلو

الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ۝۲۰ وَلَنُذِيْقَنَّهُمْ مِّنَ الْعَذَابِ

هغے | چه تاسو به | هغه | دروغ ګڼړلو | او خامخا مونږ به اوڅکوو دوي ته | د | عذاب

د هغے خوند (مزه) واخلئ. او مونږ به دوي ته (د قیامت) د لوئ عذاب نه مخکښې د دنیا

الْاَدْنٰى دُوْنَ الْعَذَابِ الْاَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ۝۲۱ وَمَنْ

نږدے نه | مخکښې | د عذاب | لوئ نه | د دے د پاره چه دوي | واپس شي (د نافرمانۍ نه) | او څوک دے

نږدے عذاب اوڅکوو شاید چه دوي حق ته رجوع اوکړي. او د هغه چا نه

اَظْلَمُ مِمَّنْ ذُكِّرَ بِاٰيٰتِ رَبِّهٖ ثُمَّ اَعْرَضَ عَنْهَا ؕ

غټ ظالم | د هغه چا نه | چه نصیحت ورکړلو کړے شي | په آیتونو | د رب خپل | بیا | هغه مخ واړوي | د هغے نه

غټ ظالم څوک کیدے شي چه د خپل رب د آیتونو په ذریعه ورته نصیحت اوشي نو هغه ترے مخ واړوي

اِنَّا مِنَ الْمُجْرِمِيْنَ مُنْتَقِمُوْنَ ۝۲۲ ؑ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى

بیشکه مونږ | د | مجرمانو نه | بدله اغستونکي یو | او یقینًا | مونږ ورکړے وو | موسٰی ته

مونږ به د دا سے مجرمانو نه ضرور بدله اخلو. او حقیقت دا دے چه مونږ موسٰی ته کتاب ورکړے وو

الْكِتٰبَ فَلَا تَكُنْ فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْ لِّقَآئِهٖ وَجَعَلْنٰهُ هُدًى

کتاب | پس مه کیږه ته | په شک کښې | د ملاقات د هغهٔ نه | او جوړ کړے وو مونږ هغه لره | هدایت

نو (اے نبي!) ته (په شپه د معراج) د موسٰی د ملاقات په باره کښې شک مه کوه او مونږ تورات د بني اسرائیلو د پاره

لِّبَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ ﴿۲۳﴾ وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ اَىِٕمَّةً یَّهْدُوْنَ بِاَمْرِنَا

د پاره د بنی اسرائیلو | او جوړ کړي وو موږ | د هغوی نه | امامان | چه لاره ئې ښودله (خلقو ته) | زموږ په حکم

د هدایت ذریعه جوړه کړے وه. او موږ په هغوی کښې څه خلق پیشوایان جوړ کړي وو چه زموږ په حکم به ئې

لَمَّا صَبَرُوْا ؕ وَكَانُوْا بِاٰیٰتِنَا یُوْقِنُوْنَ ﴿۲۴﴾ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ

کله چه | هغوی صبر کړے وو | او وو هغوی | چه زموږ په آیتونو به ئې | یقین کولو | بیشکه | رب ستا | (هم) هغه به

بیان د دین کوؤ کله چه هغوی د صبر نه کار واغستلو او زموږ په آیتونو ئې یقین محکم شو. یقیناً هم ستا رب به

یَفْصِلُ بَیْنَهُمْ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ فِیْمَا كَانُوْا فِیْهِ یَخْتَلِفُوْنَ ﴿۲۵﴾

فیصله کوي | د دوی په مینځ کښې | په ورځ | د قیامت | په هغه څه کښې | چه دوی به | په هغے کښې | اختلاف کولو

د قیامت په ورځ د دوی په مینځ کښې د هغه خبرو فیصله او کړي چه دوی به پکښې اختلاف کولو

اَوَلَمْ یَهْدِ لَهُمْ كَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنَ الْقُرُوْنِ

آیا نه ده ښکاره شوے | دوی ته | چه څومره هلاک کړي دي موږ | مخکښې د دوی نه | د قومونو نه

آیا دے کفارانو ته د دے خبرے نه (هم) هدایت حاصل نه شو چه د دوی نه مخکښې څومره قومونه موږ هلاک کړي دي

یَمْشُوْنَ فِیْ مَسٰكِنِهِمْ ؕ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیٰتٍ ؕ اَفَلَا یَسْمَعُوْنَ ﴿۲۶﴾

چه دوی ګرځي | په کورونو د هغوی کښې | بیشکه | په دے کښې | خامخا نخښے دي | آیا نو دوی نه آوري؟

چه د هغوی په کورونو کښې دوی ګرځي راګرځي یقیناً په دے کښې (د خلقو د پاره) ډیرے نخښے پرتے دي آیا نو دوی نه آوري؟

اَوَلَمْ یَرَوْا اَنَّا نَسُوْقُ الْمَآءَ اِلَى الْاَرْضِ الْجُرُزِ فَنُخْرِجُ

آیا دوی نه ګوري | چه بیشکه موږ | چلوو | اوبه | زمکے | شاړے ته | پس راوباسو موږ

او یا دوی نه ګوري چه موږ اوبه او چے زمکے ته رسوو بیا په هغے سره هغه فصلونه راوباسو

بِهٖ زَرْعًا تَاْكُلُ مِنْهُ اَنْعَامُهُمْ وَاَنْفُسُهُمْ ؕ اَفَلَا یُبْصِرُوْنَ ﴿۲۷﴾

په هغے سره | فصل | چه خوري | د هغے نه | څاروي د دوی | او دوی په خپله (هم) | آیا نو دوی نه وینی؟

چه د هغے نه د دوی څاروی هم خوري او دوی پخپله هم. آیا نو دوی (بیا هم) نه وینی؟

وَیَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْفَتْحُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ ﴿۲۸﴾ قُلْ

او دوی وائي | چه کله به وي | دا | فتح (فیصله) | که چرے | یئ تاسو | رشتني | او وایه

او دوی وائي که تاسو واقعي رشتني یئ نو د فیصلے دا ورځ به کله راځي؟ ته ورته او وایه چه

یَوْمَ الْفَتْحِ لَا یَنْفَعُ الَّذِیْنَ كَفَرُوْٓا اِیْمَانُهُمْ وَلَا هُمْ

په ورځ | د فتح (فیصلے) | فائده به نه ور کوي | هغه کسانو ته | چه کافران ګرځیدلي | د هغوی ایمان | او نه به دوی ته

د فیصلے په ورځ به کافرانو ته د هغوی ایمان را وړل هیڅ فائده ورله کړي او نه به ورته (نور) مهلت ور کړے شي

یُنْظَرُوْنَ ﴿۲۹﴾ فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ وَانْتَظِرْ اِنَّهُمْ مُّنْتَظِرُوْنَ ﴿۳۰﴾ ع

مهلت ور کولے شي | پس مخ واړوه | د دوی نه | او انتظار کوه | بیشکه دوی (هم) | انتظار کونکي دي

نو (اے نبیؐ!) د دے خلقو (د خبرو) پروا مه کوه (د دوی نه مخ واړه) او انتظار کوه دوی هم انتظار کوي

آیاتها [۷۳] | **سورة الأحزاب مدنية** | رکوعاتها [۹]

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم.

یٰۤاَیُّهَا النَّبِیُّ اتَّقِ اللّٰهَ وَلَا تُطِعِ الۡکٰفِرِیۡنَ وَالۡمُنٰفِقِیۡنَ ؕ

اے پیغمبره! | اوویریږه | د الله نه | او خبره مه منه | د کافرانو | او منافقانو

اے نبی! د الله تعالیٰ نه یره کوه او د کافرانو او منافقانو خبره مه منه.

اِنَّ اللّٰهَ کَانَ عَلِیۡمًا حَکِیۡمًا ۙ﴿۱﴾ وَّاتَّبِعۡ مَا یُوۡحٰۤی اِلَیۡکَ

بیشکه | الله | دے | ښه پوهه | لوئے حکمت والا | او روان اوسه | هغه څه پسے | چه وحی سے کیږی | تا ته

یقیناً الله تعالیٰ په هر څه باندے پوهه (او) لوئی حکمت والا دے. او ستا د رب د طرف نه چه تا ته کومه وحی کیږی

مِنۡ رَّبِّکَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ کَانَ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ خَبِیۡرًا ۙ﴿۲﴾ وَّتَوَکَّلۡ

ستا د رب د طرف نه | بیشکه | الله | دے | په هغه څه | چه تاسو ئے کوئ | پوره خبردار | او توکل کوه

هغے پسے روان شه یقیناً الله تعالیٰ ستاسو د عملونو نه پوره خبردار دے. او په الله تعالیٰ باندے توکل کوه.

عَلَی اللّٰهِ ؕ وَکَفٰی بِاللّٰهِ وَکِیۡلًا ﴿۳﴾ مَا جَعَلَ اللّٰهُ لِرَجُلٍ

په الله باندے | او پوره دے | یواځے الله | کارساز | نه دی جوړ کړی | الله | هیڅ یو سړی لره

او (ستا د) کار جوړولو دپاره یواځے الله کافی دے. (اے خلقو!) الله تعالیٰ د هیڅ کس په سینه کښې دوه زړونه

مِّنۡ قَلۡبَیۡنِ فِیۡ جَوۡفِهٖ ۚ وَمَا جَعَلَ اَزۡوَاجَکُمُ الّٰٓئِیۡ تُظٰهِرُوۡنَ

دوه زړونه | دهغه په خیټه کښې | او نه ئے دی جوړے کړے | ښځے ستاسو | هغه | چه ظِهار کوئ تاسو

نه دی پیدا کړی (نو شرک او توحید دواړه په یو کس کښې نشی جمع کیدے). او تاسو چه کومے ښځے په ځان باندے حراموئ په شان

مِنۡهُنَّ اُمَّهٰتِکُمۡ ۚ وَمَا جَعَلَ اَدۡعِیَآءَکُمۡ اَبۡنَآءَکُمۡ ؕ

دهغوی سره | ستاسو میندے | او نه ئے دی جوړ کړی | په خولے بللی شوی ستاسو | ځامن ستاسو

د میندو، هغه ئے ستاسو حقیقی میندے کړی نه دی او نه ئے ستاسو په خوله بللی هلکان ستاسو څخه حقیقی ځامن جوړ کړی دی

ذٰلِکُمۡ قَوۡلُکُمۡ بِاَفۡوَاهِکُمۡ ؕ وَاللّٰهُ یَقُوۡلُ الۡحَقَّ وَهُوَ یَهۡدِی

دا | خبره ستاسو ده | په خولو ستاسو | او الله | وائی | حق | او هغه | ښائی

دا خو هسے ستاسو د خولے بے دلیله خبرے دی. او الله تعالیٰ (خو) حق وائی او هم په نیغه لار روانول کوی.

السَّبِیۡلَ ﴿۴﴾ اُدۡعُوۡهُمۡ لِاٰبَآئِهِمۡ هُوَ اَقۡسَطُ عِنۡدَ اللّٰهِ ۚ

سمه لار | رابلئ دوی لره | د دوی د پلارانو په نومونو | دا (خبره) | ډیره د انصاف ده | په نزد د الله

تاسو دوی د دوی د پلارانو په نومونو رابلئ هم دا طریقه د الله په نزد ډیره د انصاف ده.

فَاِنْ لَّمْ تَعْلَمُوْٓا اٰبَآءَهُمْ فَاِخْوَانُكُمْ فِی الدِّیْنِ

پس كه چرے | نه پیژنئ تاسو | پلاران د دوی | نو (دوی) وروڼه دی ستاسو | په دین كښ

او كه چرے تاسو ته د دوی پلاران معلوم نه وی نو ستاسو دینی وروڼه

وَمَوَالِیْكُمْ ؕ وَلَیْسَ عَلَیْكُمْ جُنَاحٌ فِیْمَآ اَخْطَاْتُمْ

او (آزاد شوی) غلامان ستاسو دی | او نشته | په تاسو باندے | هیڅ گناه | په هغه څه كښ | چه تاسو غلطی كړے ده

او دوستان دی. او تاسو ته چه كوم غلطی (خطائی) په اقوالو كښ اوشی نو په هغے كښ په تاسو څه گناه نشته

بِهٖ ۙ وَلٰكِنْ مَّا تَعَمَّدَتْ قُلُوْبُكُمْ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ

په هغے سره | لیكن (گناه شته) | د هغه څه | چه قصد ئے كړے وی | زړونو ستاسو | او دے | الله

لیكن د زړه په قصد چه كوم كار او كړئ په هغے كښ در باندے گناه شته. یقیناً الله تعالی

غَفُوْرًا رَّحِیْمًا ۝ اَلنَّبِیُّ اَوْلٰی بِالْمُؤْمِنِیْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ

ډیر بخښونكے | ډیر رحم كونكے | پیغمبر | زیات حقدار دے | په مومنانو باندے | د هغوی د ځانونو نه

ډیر بخښونكے ډیر مهربان دے. نبیؐ په مومنانو باندے د خپلو ځانونو نه هم زیات حق لری

وَاَزْوَاجُهٗٓ اُمَّهٰتُهُمْ ؕ وَاُولُوا الْاَرْحَامِ بَعْضُهُمْ اَوْلٰی

او بیبیانے د هغه | میندے د دی دی | او (نزدے) رشته داران | بعضے د هغوی نه | زیات حقدار دی

او د هغه بیبیانے (په تعظیم او په حرمت د نكاح كښ) د دوی میندے دی. باقی د الله تعالی په كتاب كښ خپل خپلوان

بِبَعْضٍ فِیْ كِتٰبِ اللّٰهِ مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ وَالْمُهٰجِرِیْنَ اِلَّآ

په (میراث كښ) بعضو سره | په كتاب | د الله كښ | د مومنانو نه | او د مهاجرینو نه | مگر

د نورو (عامو) مسلمانانو او مهاجرینو نه په یو بل باندے (د میراث) زیات حق لری البته

اَنْ تَفْعَلُوْٓا اِلٰٓی اَوْلِیٰٓئِكُمْ مَّعْرُوْفًا ؕ كَانَ ذٰلِكَ فِی الْكِتٰبِ

دا چه | تاسو كوئ | خپلو دوستانو سره | څه نیكی (نیكگړه) | دے | دا حكم | په كتاب كښ

كه تاسو د خپلو دوستانو سره څه نیكی كول غواړئ (نو كولے شئ) دا خبره په كتاب كښ لیكلے شوے ده.

مَسْطُوْرًا ۝ وَاِذْ اَخَذْنَا مِنَ النَّبِیّٖنَ مِیْثَاقَهُمْ وَمِنْكَ

لیكلے شوے | او كله چه | واغستلو مونږ | د پیغمبرانو نه | پوخ لوظ د هغوی | او ستا نه

او اے نبیؐ! هغه وخت یاد كړه كله چه مونږ د ټولو پیغمبرانو نه وعده اغستلے وه او ستا نه هم

وَمِنْ نُّوْحٍ وَّاِبْرٰهِیْمَ وَمُوْسٰی وَعِیْسَی ابْنِ مَرْیَمَ ۪ وَاَخَذْنَا

او د نوحؑ نه | او د ابراهیمؑ نه | او د موسیٰؑ نه | او د عیسیٰؑ | ځوی | د مریم نه | او اغستلو مونږ

او د نوحؑ د ابراهیمؑ، د موسیٰؑ او د عیسیٰؑ بن مریم نه هم، او مونږ د دوی نه (د دعوت د دین او د یو بل د تصدیق كولو)

مِنْهُمْ مِّیْثَاقًا غَلِیْظًا ۝ لِّیَسْـَٔلَ الصّٰدِقِیْنَ عَنْ صِدْقِهِمْ ۚ

د دوی نه | لوظ | پوخ | د دے دپاره چه تپوس او كړی (الله) | د رشتینو نه | د هغوی د رشتیا په باره كښ

پخه وعده اغستلے وه (د دے دپاره) چه الله تعالی د رشتینو خلقو نه د هغوی د رشتیا په باره كښ تپوس او كړی



وَاَعَدَّ لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا اَلِيْمًا ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا

او تیار کړے دے هغه | د کافرانو دپاره | عذاب | دردناک | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے

او هغه د کافرانو دپاره ډیر دردناک عذاب تیار کړے دے. اے مومنانو!

اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ جَآءَتْكُمْ جُنُوْدٌ فَاَرْسَلْنَا

یاد کړئ | نعمت | د الله | په تاسو باندے | کله چه | راغلل تاسو ته | لښکرے | نو راولیږله مونږ

د الله هغه مهربانی یاده کړئ چه په تاسو ئے (په موقع د غزوهٔ خندق) کړے ده کله چه د کافرو لښکرے ستاسو خواته راغلے

عَلَيْهِمْ رِيْحًا وَّجُنُوْدًا لَّمْ تَرَوْهَا ۗ وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا

په هغوی باندے | هوا | او (داسے) لښکرے | چه نه لیدلے تاسو هغه | او دے | الله | هغه څه لره

نو مونږ پرے یوه سیلۍ راولیږله او داسے لښکرے (د ملائکو هم) چه تاسو نه لیدلے او تاسو چه څه کوئ الله تعالٰی

تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرًا ۝ اِذْ جَآءُوْكُمْ مِّنْ فَوْقِكُمْ وَمِنْ اَسْفَلَ

چه تاسو ئے کوئ | ښه لیدونکے | کله چه | راغلل دوی تاسو ته | ستاسو دبره طرف نه | او د لاندے طرف

هغه هر څه وینی. څه وخت چه هغوی د مدینے دبره مشرقی طرف نه او د مدینے د لاندے مغربی طرف نه په تاسو راوختل

مِنْكُمْ وَاِذْ زَاغَتِ الْاَبْصَارُ وَبَلَغَتِ الْقُلُوْبُ الْحَنَاجِرَ

ستاسو نه | او کله چه | کږے شوے | سترګے | او اورسیدل | زړونه | ستو ته

او څهٔ وخت چه ستاسو سترګے (د ډیرے دوېرے) وازے پاتے شوے او زړونه (مو) خولے ته راغلل

وَتَظُنُّوْنَ بِاللّٰهِ الظُّنُوْنَا ۝ هُنَالِكَ ابْتُلِيَ الْمُؤْمِنُوْنَ

او ګمان کولو تاسو | په الله باندے | ګمانونه (مختلف) | د دغه ځائے کښ | او ازمایل شو | مومنان

او تاسو د الله تعالٰی په باره کښ قسما قسم ګمانونه شروع کړل. په دغه موقع باندے د مومنانو

وَزُلْزِلُوْا زِلْزَالًا شَدِيْدًا ۝ وَاِذْ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالَّذِيْنَ

او اوجړقول شو | په جړقولو | سختو سره | او کله چه | او وئیل | منافقانو | او هغه کسانو

پوره ازمیښت اوکړے شو. او ډیر سخت وجړقولی شو. او کله چه منافقانو او د چا

فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ مَّا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗٓ اِلَّا غُرُوْرًا

چه په زړونو د هغوی کښ | مرض وو | چه نه ده کړے مونږ سره وعده | الله | او رسول د هغهٔ | مګر | د دهوکے

په زړونو کښ چه مرض وو دا اووئیل چه مونږ سره الله او د هغه رسول صرف د دهوکے وعده کړے ده.

وَاِذْ قَالَتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ يٰٓاَهْلَ يَثْرِبَ لَا مُقَامَ لَكُمْ

او کله چه | ووئیل | یو ے ډلے | د دوی نه | اے یثرب والو | هیڅ طاقت (ځای) نشته | ستاسو

او څه وخت چه د هغوی یوے ډلے اووئیل چه اے مدینے (یثرب) والو! تاسو کښ د دشمن سره د مقابلے

فَارْجِعُوْا ۚ وَيَسْتَاْذِنُ فَرِيْقٌ مِّنْهُمُ النَّبِيَّ يَقُوْلُوْنَ اِنَّ

نو واپس شئ | او اجازت غوښتلو | یوے ډلے | د دوی (نه) | د پیغمبر نه | وئیل ئے | چه بیشکه

هیڅ طاقت نشته پس (نو) واپس لاړ شئ. او د دوی یوے ډلے د پیغمبر نه اجازت غوښتلو چه زمونږ

بُيُوْتَنَا عَوْرَةٌ ۛ وَمَا هِيَ بِعَوْرَةٍ ۚ اِنْ يُّرِيْدُوْنَ اِلَّا فِرَارًا ۝

کورونه زمونږ | خالي دي | او نه وو هغه | خالي | نه غوښتل دوی | مګر | تختېدل

کورونه غیر محفوظ (په ډاګه) دي حالانکه هغه غیر محفوظ نه وو بلکه د دوی مقصد خو صرف تختېدل وو

وَلَوْ دُخِلَتْ عَلَيْهِمْ مِّنْ اَقْطَارِهَا ثُمَّ سُئِلُوا الْفِتْنَةَ

او که چیرې | داخل (کړے) شي لښکرے | پر دوی باندے | د اطرافو د دے (مدینې) نه | بیا | او غوښتلے شي دوی نه | فتنه

او که چرے د مدینې د اطرافو نه په دوی باندے دشمن را ننوځي او دوی ته د فساد کولو او ویل شي

لَاٰتَوْهَا وَمَا تَلَبَّثُوْا بِهَآ اِلَّا يَسِيْرًا ۝ وَلَقَدْ كَانُوْا

نو خامخا به دوی را شي هغې ته | او ایسار به نشي هغوی | په دے کښې | مګر | لږ | او یقینًا | دوی

نو دوی به دا خبره او مني او په دے مدینه کښې به ډیر لږ وخت پاتے شي. او حقیقت دا دے چه دوی

عَاهَدُوا اللّٰهَ مِنْ قَبْلُ لَا يُوَلُّوْنَ الْاَدْبَارَ ۭ وَكَانَ عَهْدُ

وعده کړے وه | د الله سره | مخکښې د دے نه | چه نه به اړوی | شاګانے | او ده | وعده

مخکښې د الله سره دا وعده کړے وه چه دوی به (هیڅ کله) نه شا کوی (تختې به نه) او د الله د وعدے

اللّٰهِ مَسْئُوْلًا ۝ قُلْ لَّنْ يَّنْفَعَكُمُ الْفِرَارُ اِنْ فَرَرْتُمْ

د الله | چا پوښتنه به نے کولے شي | او وایه | هرګز به فائده ورنه کړي تاسو ته | تیښته | که چرے | وتختېږئ تاسو

تپوس به ضرور کیږي. اے نبي! دوی ته او وایه چه که تاسو د مرګ یا د قتل نه تختئ

مِّنَ الْمَوْتِ اَوِ الْقَتْلِ وَاِذًا لَّا تُمَتَّعُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ۝

د مرګ نه | یا د قتل نه | او دغه وخت | فائده به ورنه کړے شي تاسو ته | مګر | لږه

نو دا تختېته به هیڅ فائده ورنه کړي او په دغه وخت کښې به تاسو ډیره لږه فائده او چته کړئ.

قُلْ مَنْ ذَا الَّذِيْ يَعْصِمُكُمْ مِّنَ اللّٰهِ اِنْ اَرَادَ بِكُمْ

او وایه | څوک دے | هغه ذات | چه بچ کړي تاسو | د الله نه | که چرے | اوغواړي هغه | په تاسو باندے

دوی ته او وایه چه څوک به مو د الله تعالیٰ نه بچ کړي که هغه تاسو ته تکلیف رسول اوغواړي

سُوْٓءًا اَوْ اَرَادَ بِكُمْ رَحْمَةً ۭ وَلَا يَجِدُوْنَ لَهُمْ

تکلیف را وستل | یا اوغواړي هغه | په تاسو باندے | رحمت (کول) | او دوی به بیا نه مومي | د خپل ځان د پاره

یا که په تاسو مهربانی کول غواړي (نو څوک ئے منع کولے شي؟) او دوی به د ځان د پاره

مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ۝ قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ

سوا د الله نه | څوک دوست | او نه څوک مددګار | یقینًا | پیژني | الله

د الله تعالیٰ نه سوا نه څوک دوست بیا مومي او نه څوک مددګار. الله په تاسو کښې هغه خلق به پیژني

الْمُعَوِّقِيْنَ مِنْكُمْ وَالْقَآئِلِيْنَ لِاِخْوَانِهِمْ هَلُمَّ اِلَيْنَا ۚ

منع کونکي (خلق) | ستاسو نه | او وینا کوونکي | خپلو ورونړو ته | (چه) راشئ | زمونږ خواله

چه (د جهاد نه خلق) منع کوی او خپلو ورونړو ته وائي چه زمونږ خواله راځئ.

وَلَا يَاْتُوْنَ الْبَاْسَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۱۸﴾ اَشِحَّةً عَلَيْكُمْ ۚ فَاِذَا

او نه راځي دوی | جنګ ته | مګر | لږ | حال دا چې سخت شومان دي | ستاسو په حق کښې | پس کله چه

او پخپله جنګ له ډیر لږ راځي. ستاسو په حق کښې ډیر شومان دي بیا کله چه

جَآءَ الْخَوْفُ رَاَيْتَهُمْ يَنْظُرُوْنَ اِلَيْكَ تَدُوْرُ اَعْيُنُهُمْ

راشي | یره | (نو) ته به وینې دوی | چه ګوري به | تا ته | چه اوړي را اوړي به | سترګې د دوی

د دشمن د حملې یره پیدا شي نو ته به دوی وینې چه دا سې به در ته ګوري چه ډیر سے له به ئې سترګې اوړي را اوړي

كَالَّذِيْ يُغْشٰى عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ ۚ فَاِذَا ذَهَبَ الْخَوْفُ

پشان د هغه کس | چه بے هوشي راغلې وي | په هغه باندے | د مرګ (د وجې) | پس کله چه | لاړه شي | یره

لکه چه د مرګ بے هوشي پرے راغلې وي. بیا کله چه یره ختمه شي نو

سَلَقُوْكُمْ بِاَلْسِنَةٍ حِدَادٍ اَشِحَّةً عَلَى الْخَيْرِ ؕ اُولٰٓئِكَ

نو دوی تکلیف در کوي تاسو ته | په ژبو | تیرو سره | سخت شومان دي | په مال باندے | دغه خلقو

دوی د مال په حرص کښې په تیزو ژبو سره تاسو ته طعنې در کوي.

لَمْ يُؤْمِنُوْا فَاَحْبَطَ اللّٰهُ اَعْمَالَهُمْ ؕ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ

ایمان نه دے راوړے | پس ضائع کړل | الله | د دوی عملونه | او دے | دا (کار) | په الله باندے

دے خلقو ایمان نه دے راوړے (ځکه خو) الله تعالی د دوی اعمال برباد کړل. او دا کار الله ته

يَسِيْرًا ﴿۱۹﴾ يَحْسَبُوْنَ الْاَحْزَابَ لَمْ يَذْهَبُوْا ۚ وَاِنْ يَّاْتِ

ډیر آسان | دوی ګمان کوي | په لښکرو باندے | چه (تر اوسه) نه دي تلي | او که چیرے | راشي (حمله اوکړي)

ډیر آسان دے. دوی دا خیال کوي چه د حملې کوونکو لښکرے تر اوسه پورے واپس نه دي تلي او که چیرے دغه لښکرے

الْاَحْزَابُ يَوَدُّوْا لَوْ اَنَّهُمْ بَادُوْنَ فِي الْاَعْرَابِ يَسْاَلُوْنَ

لښکرے | (نو) دوی خوښوي | دا (چه) کاش چه دوی | او سیدونکي وے | په بانډو کښې | (چه) تپوس ئې کولے

بیا راشي (حمله اوکړي) نو دوی به دا غواړي چه د مدینې نه بهر په بانډو کښې دیره وے او ستاسو د حالاتو تپوس نه ئې کولے

عَنْ اَنْۢبَآئِكُمْ ؕ وَلَوْ كَانُوْا فِيْكُمْ مَّا قٰتَلُوْٓا اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۲۰﴾

د خبرونو ستاسو | او که چیرے | دوی وے | په تاسو کښې | نو جنګ به نه وو کړے دوی | مګر | لږ

او که چیرے دوی ستاسو په مینځ کښې (تاسو سره) هم وي نو په جنګ کښې ډیره لږه حصه اخلي.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَنْ

یقینًا | شته | ستاسو دپاره | په رسول | د الله کښې | نمونه | ښائسته | د هغه چا دپاره

حقیقت دا دے چه ستاسو دپاره د رسول الله په ذات کښې یوه بهترینه نمونه ده.

كَانَ يَرْجُوا اللّٰهَ وَالْيَوْمَ الْاٰخِرَ وَذَكَرَ اللّٰهَ كَثِيْرًا ﴿۲۱﴾ وَلَمَّا

چه هغه | اُمید لري | د الله | او د ورځې | د آخرت | او یادوي | الله | ډیر | او هر کله

خو دا د هغه خلقو دپاره چه څوک د الله او د آخرت د ورځې (عقیده) ساتي او الله تعالی ډیر یادوي.

رَاَ الْمُؤْمِنُوْنَ الْاَحْزَابَ ۙ قَالُوْا هٰذَا مَا وَعَدَنَا

چه اولیدل لے | مومنانو | لښکرے (دکفرانو) | نو اوویل دوی | دا دی | هغه څه | چه وعده ئے کړے وه مونږ سره

او کله چه مومنانو د کافرانو لښکرے اولیدلے نو وئے ویل چه دا هم هغه خبره ده چه

اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَصَدَقَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ ۡ وَمَا زَادَهُمْ اِلَّا

الله | او رسول د هغهٔ | او رشتیا ویلی دی | الله | او رسول د هغهٔ | او دے زیات نه کړو دوی لره | مگر

الله او رسول ئے زمونږ سره وعده کړے وه او الله او دهغه رسول رشتیا ویلی وو، او دے خبرے دوی ایمان او اطاعت

اِيْمَانًا وَّتَسْلِيْمًا ۝ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا

ایمان | او فرمانبرداری | بعضے د مومنانو نه | (هغه) سری دی | چه رشتیا کړل هغوی | هغه څه

نور هم سوا کړو. په دے مومنانو کښې څه خلق داسے هم دی چه د الله تعالیٰ سره ئے خپل کړی

عَاهَدُوا اللّٰهَ عَلَيْهِ ۚ فَمِنْهُمْ مَّنْ قَضٰى نَحْبَهٗ وَمِنْهُمْ

چه وعده ئے کړے وه | د الله سره | په هغے باندے | پس بعضے د دوی نه | هغه څوک دی | چه پوره ئے کړو | نذر خپل | او بعضے د دوی نه

لوظونه رشتیا پوره کړل، نو چا پکښې خپله منتخته پوره کړه او بعضے

مَّنْ يَّنْتَظِرُ ۖ وَمَا بَدَّلُوْا تَبْدِيْلًا ۙ لِّيَجْزِيَ اللّٰهُ

هغه څوک دی | چه انتظار کوی | او بدل نه کړو دوی (خپل لوظ) | په (هیڅ) بدلولو سره | د دے دپاره چه بدله ورکړی | الله

(لا د وخت) انتظار کوی او په خپلو لوظونو کښې ئے بلکل تبدیلی اونه کړه. دا واقعه ځکه اوشوه چه الله تعالیٰ

الصّٰدِقِيْنَ بِصِدْقِهِمْ وَيُعَذِّبَ الْمُنٰفِقِيْنَ اِنْ شَآءَ

رشتینو (خلقو) ته | د رشتیاو د هغوی | او سزا به ورکړی هغه | منافقانو ته | که چرے | او غواړی هغه

رشتینو خلقو ته د هغوی د رشتیاو بدله (انعام) ورکړی او منافقانو ته که اوغواړی

اَوْ يَتُوْبَ عَلَيْهِمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝ وَرَدَّ اللّٰهُ

یا توفیق د توبے به ورکړی | هغوی ته | بیشکه | الله | دے | ډیر بخښونکے | ډیر مهربان | او واپس کړل | الله

نو سزا به ورکړی یا به دهغوی توبه قبوله کړی. یقیناً الله تعالیٰ ډیر بخښونکے ډیر مهربان دے. او کافران الله تعالیٰ

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِغَيْظِهِمْ لَمْ يَنَالُوْا خَيْرًا ۭ وَكَفَى اللّٰهُ

هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | د خپلے غصے سره | چه حاصل نه کړه هغوی | هیڅ فائده | او کافی شو | الله

د خپلے غصے سره واپس کړل چه هیڅ فائده ئے حاصل نه کړه. او (هم) الله تعالیٰ

الْمُؤْمِنِيْنَ الْقِتَالَ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ قَوِيًّا عَزِيْزًا ۝ وَاَنْزَلَ

د مومنانو دپاره | په جنګ کښې | او دے | الله | ډیر طاقتور | ډیر زورور | او را کوز ئے کړل

د مومنانو دپاره په جنګ کښې کافی شو. او الله تعالیٰ ډیر طاقتور ډیر غالب دے. او په اهل کتابو کښې

الَّذِيْنَ ظَاهَرُوْهُمْ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ مِنْ صَيَاصِيْهِمْ

هغه کسان | چه مدد ئے کړے وو د هغوی (دکافرانو) | د اهل کتابو نه | د قلاګانو د هغوی نه

چه چا د هغوی (د مشرکانو) مدد کړے وو هغه ئے د خپلو قلاګانو نه بهر راوایستل

وَقَذَفَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الرُّعْبَ فَرِيْقًا تَقْتُلُوْنَ وَتَأْسِرُوْنَ

او واچولو | په زړونو دهغوی کښې | رعب | (چه) يوه ډله | تاسو وژله | او قيد کوله تاسو

او په زړونو کښې ئې ورله رعب او غورځولو نو څه کسان پکښې تاسو وژل او څه مو پکښې قيد کول.

فَرِيْقًا ۝ وَاَوْرَثَكُمْ اَرْضَهُمْ وَدِيَارَهُمْ وَاَمْوَالَهُمْ وَاَرْضًا

بله ډله | او وارثان ئې کړئ تاسو | د ځمکو دهغوی | او د کورونو دهغوی | او د مالونو دهغوی | او دهغې ځمکې هم

او تاسو ته ئې دهغوی ځمکې او کورونه او مالونه درکړل او (يوه داسې) ځمکه (د خيبر) ئې درکړه

لَّمْ تَطَـُٔوْهَا ۚ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرًا ۝ ع

چه قدم نه وو ايخود تاسو پکښې | او دے | الله | په هر څيز باندے | قادر

چه تاسو پرے (د جنګ په غرض) قدمونه نه وو ايخودلی. او الله تعالی په هر څه باندے قادر دے.

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ اِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا

اے نبیؐ! | او وايه! | خپلو بيبيانو ته | که چرے | تاسو | غواړئ | ژوند | دنيوی

اے نبیؐ! خپلو بيبيانو ته و وايه! که چرے تاسو د دنيا ژوند او دهغې زيب وزينت (ډول سنګار)

وَزِيْنَتَهَا فَتَعَالَيْنَ اُمَتِّعْكُنَّ وَاُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيْلًا ۝

او دهغې ښائست | نو راشئ | چه فائده (سامان) درکړم زه تاسو ته | او پريږدم تاسو | په پريښودلو | خائسته سره

غواړئ نو راشئ چه زه تاسو ته په تحفه کښې (څه لږ ډير سامان) درکړم او په ښه طريقه مو رخصت کړم.

وَاِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَالدَّارَ الْاٰخِرَةَ فَاِنَّ اللّٰهَ

او که چرے | تاسو | غواړئ | الله | او رسول دهغهٔ | او کور | روستنے | نو بيشکه | الله

او که چرے تاسو الله او دهغه رسول او د آخرت کور غواړئ نو يقين او کړئ چه الله تعالی

اَعَدَّ لِلْمُحْسِنٰتِ مِنْكُنَّ اَجْرًا عَظِيْمًا ۝ يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ

تيار کړے دے | د نيکی کونکو دپاره | ستاسو نه | اجر | ډير لوئے | اے بيبيانو | د پيغمبر!

ستاسو نيک عمله زنانو دپاره ډير لوئے اجر تيار کړے دے. اے د نبیؐ بيبيانو!

مَنْ يَّاْتِ مِنْكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ يُّضٰعَفْ لَهَا

هغه څوک | چه او کړی | ستاسو نه | بے حيائی | ښکاره | نو غبرګ به کړے شی | دهغې دپاره

په تاسو کښې چه څوک ښکاره بے حيائی (ښکاره ګناه) او کړی نو هغے ته به

الْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ ۚ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ۝

عذاب | دوه غبرګه | او دے | دا (کار) | په الله باندے | آسان

دو چنده سزا ورکولے شی. او دا کار الله تعالی ته ډير آسان دے.

وَمَنْ يَّقْنُتْ مِنْكُنَّ لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتَعْمَلْ صَالِحًا

او څوک چه | تابعداري کوي | ستاسو نه | د الله | او د رسول دهغهٔ | او عمل کوي | نیک

(اے د پیغمبر بیبیانو) په تاسو کښې چه څوک د الله تعالیٰ او د هغه د رسول اطاعت کوي او نیک عمل کوي

نُّؤْتِهَآ اَجْرَهَا مَرَّتَيْنِ ۙ وَاَعْتَدْنَا لَهَا رِزْقًا كَرِيْمًا ﴿۳۱﴾

(نو) ورته کړو مونږ هغې ته | اجر د هغې | دوه چند | او تیار کړے دے مونږ | د هغې دپاره | رزق | عزتمند (ښه)

نو مونږ به هغې ته د هغې دوه (غبرګ) اجرونه ورکړو او مونږ د هغې دپاره ډیر ښه (عزتمند) رزق تیار ساتلے دے

يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَاَحَدٍ مِّنَ النِّسَآءِ اِنِ اتَّقَيْتُنَّ

اے بیبیانو | د پیغمبر! | نه یئ تاسو | پشان د یو تن | د (نورو) زنانو نه | که چرے | تقوی لرئ تاسو

اے د پیغمبر بیبیانو! تاسو (په فضیلت کښې) د عامو زنانو پشان نه یئ که تاسو پرهیزګار اوسیدل غواړئ

فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِيْ فِيْ قَلْبِهٖ مَرَضٌ

نو مه کوئ تاسو نرمي | په خبرو کښې | ګنې نو طمع (به) اوکړي | هغه کس | چه په زړهٔ د هغهٔ کښې | مرض دے

نو د پردو (اجنبي) سره نرمے نرمے خبرے مه کوئ (که داسے مو اوکړل) نو د چا په زړه کښې چه مرض د میلان وي ښځو ته

وَّقُلْنَ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ﴿۳۲﴾ وَقَرْنَ فِيْ بُيُوْتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ

او وایئ تاسو | خبره | نیکه | او ناستے اوسئ | په کورونو خپلو کښې | او مه ښکاره کوئ ښائست

د هغه به د رته طمع پیدا شي او د قاعدے مطابق خبرے کوئ. او په خپلو کورونو کښې په قلاره (ناستے) اوسیږئ

تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْاُوْلٰى وَاَقِمْنَ الصَّلٰوةَ وَاٰتِيْنَ الزَّكٰوةَ

پشان د ښکاره کولو د ښائست | د جاهلیت | زوړ | او قائموئ | مونځ | او ورکوئ | زکات

او (پردو سړو ته) د تیرے زمانے د جاهلیت پشان ډول او سنګار مه ښایئ او د مانځه پابندي کوئ او زکات ورکوئ

وَاَطِعْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ؕ اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ

او خبره منئ | د الله | او د رسول دهغهٔ | بے شکه | غواړي | الله | چه لرے کړي | ستاسو نه

او د الله او د هغه د رسول تابعداري کوئ اے د نبيؐ کور والو! الله تعالیٰ خو دا غواړي چه تاسو نه

الرِّجْسَ اَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيْرًا ﴿۳۳﴾ وَاذْكُرْنَ مَا

پلیتي | اے کورنۍ (د پیغمبر) | او پاک کړي تاسو | په (پوره) پاکولو سره | او یادوئ | هغه څه

ګندګي لرے اوساتي او تاسو ښه پاک کړي. او ستاسو په کورونو کښې چه د الله تعالیٰ

يُتْلٰى فِيْ بُيُوْتِكُنَّ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ وَالْحِكْمَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

چه لوستلې کیږي | په کورونو ستاسو کښې | د آیتونو | د الله | او د حکمت (سنت) نه | بے شکه | الله

نو مر آیتونه او د پیغمبر سنت بیانیږي هغه یاد کړئ یقین اوکړئ چه الله تعالیٰ

ع كَانَ لَطِيْفًا خَبِيْرًا ﴿۳۴﴾ اِنَّ الْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمٰتِ

دے | ډیر باریک (څیزونه) لیدونکے | خبردار | بے شکه | مسلمانان سړي | او مسلمانانے ښځے

ډیر باریک بین پوره خبردار ذات دے. یقیناً مسلمانان سړي او مسلمانانے ښځے

وَالْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ وَالْقٰنِتِيْنَ وَالْقٰنِتٰتِ وَالصّٰدِقِيْنَ

او مؤمنان سړي | او مؤمنانے ښځے | اوتابعداری کوونکی سړی | اوتابعداری کوونکی ښځے | او رشتونی سړی

او مؤمنان سړي او مؤمنانے ښځے. اطاعت کوونکی سړی او اطاعت کوونکی ښځے. رشتنی سړی

وَالصّٰدِقٰتِ وَالصّٰبِرِيْنَ وَالصّٰبِرٰتِ وَالْخٰشِعِيْنَ وَالْخٰشِعٰتِ

او رشتونے ښځے | او صبر کوونکی سړی | او صبر کوونکی ښځے | او عاجزی کوونکی سړی | او عاجزی کوونکی ښځے

او رشتنے ښځے، صبر کوونکی سړی او صبر کوونکی ښځے. عاجزی کوونکی سړی او عاجزی کوونکی ښځے

وَالْمُتَصَدِّقِيْنَ وَالْمُتَصَدِّقٰتِ وَالصَّآئِمِيْنَ وَالصّٰٓئِمٰتِ

او خیرات کوونکی سړی | او خیرات کوونکی ښځے | او روژه نیوونکی سړی | او روژه نیوونکی ښځے

خیرات ورکوونکی سړی او خیرات ورکوونکی ښځے. روژه دار سړی او روژه دارے ښځے.

وَالْحٰفِظِيْنَ فُرُوْجَهُمْ وَالْحٰفِظٰتِ وَالذّٰكِرِيْنَ اللّٰهَ كَثِيْرًا

او حفاظت کوونکی سړی | د شرمګاهونو خپلو | او حفاظت کوونکی ښځے | او یادوونکی سړی | الله لره | ډیر

د خپلو شرمګاهونو حفاظت کوونکی سړی او حفاظت کوونکی ښځے او د الله تعالیٰ ډیر ذکر کوونکی سړی

وَّالذّٰكِرٰتِ ۙ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ مَّغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِيْمًا ۝

او یادوونکی ښځے | تیار کړے دہ | الله | د دوی دپاره | بخښنه | او اجر | ډیر لوئے

او ذکر کوونکی ښځے، د دے ټولو دپاره الله تعالیٰ مغفرت او ډیر لوئے اجر تیار کړے دے.

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا مُؤْمِنَةٍ اِذَا قَضَى اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ

او نشته دے حق | دیو مؤمن سړی | او نه دیوے مؤمنے ښځے | کله چه | فیصله او کړی | الله | او رسول دهغهٔ

او کله چه الله تعالیٰ او د هغه رسول د یوے خبرے فیصله او کړی نو بیا د یو مؤمن سړی یا

اَمْرًا اَنْ يَّكُوْنَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ اَمْرِهِمْ ؕ وَمَنْ

د یو کار | چه وی دے | دوی لره | اختیار (خپله خوښه) | دَ کار خپل نه | او څوک

مؤمنے ښځے دپاره دا ګنجائش نشته چه خپله خوښه دے او کړی په کار خپل کښې. او چا چه

يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا مُّبِيْنًا ؕ ۝ وَاِذْ

چه نافرمانی کوی | د الله | او د رسول دهغهٔ | نو یقیناً | هغه ګمراه شو | په ګمراهئ | ښکاره سره | او کله چه

د الله تعالیٰ او د هغه د رسول نافرمانی او کړه نو یقیناً هغه په ښکاره ګمراهئ کښې اخته شو.

تَقُوْلُ لِلَّذِيْٓ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاَنْعَمْتَ عَلَيْهِ

او ویل تا | هغه کس ته | چه انعام کړے دے | الله | په هغه باندے | او تا هم انعام کړے دے | په هغه باندے

او (اے نبیؐ!) هغه وخت یاد کړه کله چه تا هغه کس ته چه الله پرے احسان کړے وو او تا ورسره هم احسان کړے وو

اَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ وَاتَّقِ اللّٰهَ وَتُخْفِيْ فِيْ نَفْسِكَ

چه ساته | د ځان سره | بی بی خپله | او ویریږه | د الله نه | او تا پټوله | په زړهٔ خپل کښې

دا ویل چه خپله بی بی په خپله نکاح کښې ساته او د الله نه ویریږه او تا چه په خپل زړهٔ کښې کومه خبره پټه ساتله

مَا اللّٰهُ مُبْدِيْهِ وَتَخْشَى النَّاسَ ۚ وَاللّٰهُ اَحَقُّ

هغه خبره | چه الله | ښکاره کوونکے دے هغه و | او ته یریدے | د خلقو نه | او الله | ډیر حقدار دے

الله تعالیٰ هغه ښکاره کول غوښتل او ته د خلقو نه یریدے حالانکه الله تعالیٰ ډیر حقدار دے

اَنْ تَخْشٰىهُ ؕ فَلَمَّا قَضٰى زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنٰكَهَا

چه ته او یریږے د هغه نه | پس هر کله | چه پوره کړو | زید | د هغے نه | (خپل) حاجت | نو مونږ په نکاح در کړه تاته هغه

چه ته تر دے او یریږے بیا کله چه زید د خپلے بی بی نه خپل حاجت پوره کړو نو مونږ تاسره د هغے نکاح او کړه

لِكَیْ لَا یَكُوْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِیْنَ حَرَجٌ فِیْٓ اَزْوَاجِ اَدْعِیَآئِهِمْ

د دے دپاره چه نه وی | په مؤمنانو باندے | څه تنګی | (په نکاح کولو) ښځو | د خوله لیانو شوی ځامنو خپلو کښ

دا د دے دپاره چه (آئنده) مسلمانانو ته د خپلو متبنٰی ګانو د بیبیانو سره په نکاح کولو

اِذَا قَضَوْا مِنْهُنَّ وَطَرًا ؕ وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ مَفْعُوْلًا ﴿۳۷﴾

کله چه | پوره کړی دوی | د هغوی نه | حاجت | او دے | حکم (کار) | د الله | پوره کړے شوے

کښ څه قسم تنګی پاتے نه شی کله چه هغوی تر دے خپل حاجت پوره کړی او د الله تعالیٰ حکم خامخا پوره کیږی۔

مَا كَانَ عَلَى النَّبِیِّ مِنْ حَرَجٍ فِیْمَا فَرَضَ اللّٰهُ لَهٗ ؕ

نه دے وی | په پیغمبر باندے | هیڅ تنګی | په هغه څه کښ | چه فرض کړی دی | الله | د هغه دپاره

د پیغمبر دپاره (څو) جائز نه دی چه حرج محسوس کړی په رسولو د هغه حکم کښ، کوم چه د هغه دپاره الله مقرر کړے وی

سُنَّةَ اللّٰهِ فِی الَّذِیْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلُ ؕ وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ

پشان د طریقے | د الله | په هغه خلقو کښ | چه تیر شوی دی | پخوا د دهٔ نه | او دے | کار (حکم) | د الله

هم دا د الله تعالیٰ دستور (طریقه) ده د هغه پیغمبرانو د تبلیغ په باره کښ چه مخکښ تیر شوی دی، او د الله تعالیٰ هر حکم (تقدیر)

قَدَرًا مَّقْدُوْرَا ﴿۳۸﴾ الَّذِیْنَ یُبَلِّغُوْنَ رِسٰلٰتِ اللّٰهِ وَیَخْشَوْنَهٗ

په اندازه | مقرر کړے شوے | هغه کسان | چه رسوی | پیغامونه | د الله | او یریږی د هغه نه

مقرر شوے دے دا پیغمبران هغه خلق وو چه د الله تعالیٰ (رالیږلی شوی) پیغامات ئے پوره پوره (خلقو ته) رسول او هم

وَلَا یَخْشَوْنَ اَحَدًا اِلَّا اللّٰهَ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ حَسِیْبًا ﴿۳۹﴾

او نه یریږی | د هیڅ چا نه | سوا | د الله نه | او کافی دے | الله (یوا ځے) | حساب کوونکے

د هغه نه یریدل او د الله نه سوا ئے د هیڅ چا نه نه یریدل، او د اعتراض کوونکو د حساب اخستلو دپاره یوا ځے الله کافی دے

مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ

نه دے | محمد ﷺ | پلار | د هیڅ یو کس | د سړو ستاسو نه | لیکن (هغه دے) | پیغمبر

(اے مسلمانانو!) محمد صلی الله علیه وسلم ستاسو په سړو کښ د هیڅ چا پلار نه دے بلکه هغه، خو د الله رسول

ع اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِیّٖنَ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمًا ﴿۴۰﴾

د الله | او اخیری | د پیغمبرانو | او دے | الله | په هر یو | څیز باندے | ښه پوهه

او اخیری پیغمبر دے. او الله تعالیٰ په هر څیز باندے ډیر (ښه) پوهیږی۔

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوا اللّٰهَ ذِكْرًا كَثِيْرًا ﴿٤١﴾ وَّسَبِّحُوْهُ

اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | یا دوئ | الله | په یادولو | ډیرو سره | او پاکی بیانوئ دهغه

اے مؤمنانو! الله تعالیٰ ډیر یادوئ. او سحر او ماښام دهغه پاکی (تسبیح) وایئ

بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ﴿٤٢﴾ هُوَ الَّذِيْ يُصَلِّيْ عَلَيْكُمْ وَمَلٰٓئِكَتُهٗ

سحر | او بیگا (ماښام) | هم الله هغه ذات دے | چه رالیږی رحمت | په تاسو باندے | او ملائک دهغه (دعاگانے غواړی)

الله هم هغه ذات دے چه پخپله هم په تاسو رحمت رالیږی او دهغه ملائکے هم (درته د رحمت دعاگانے کوی)

لِيُخْرِجَكُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ؕ وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ

چه او باسی الله تاسو | د تیارو نه | رڼرا ته | او دے الله | په مؤمنانو باندے

دے دپاره چه هغه تاسو د تیارو نه رڼرا ته راوباسی. او الله تعالیٰ په مؤمنانو باندے

رَحِيْمًا ﴿٤٣﴾ تَحِيَّتُهُمْ يَوْمَ يَلْقَوْنَهٗ سَلٰمٌ ۚ وَّاَعَدَّ

ډیر مهربان | پیشکش (دعا) دهوی به | په هغه ورځ | چه مخامخ به شی دهغه (الله) سره | سلام وی | او تیار کړے دے هغه

ډیر مهربان دے په کومه ورځ چه مؤمنان به د الله سره ملاو شی په هغه ورځ به دهغوی تحفه (استقبال) په سلام سره وی

لَهُمْ اَجْرًا كَرِيْمًا ﴿٤٤﴾ يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا

دهوی دپاره | اجر | عزتمند | اے پیغمبره! | بیشکه | مونږ رالیږلے ئے ته | گواهی ورکوونکے

او الله تعالیٰ دهغوی دپاره ډیر د عزت اجر (انعام) تیار ساتلے دے اے نبی! یقیناً مونږ ته یو داسے نبی رالیږلے ئے

وَّمُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ﴿٤٥﴾ وَّدَاعِيًا اِلَى اللّٰهِ بِاِذْنِهٖ وَسِرَاجًا

او زیرے ورکوونکے | او یروونکے | او رابلونکے | الله ته | په حکم دهغه | او ډیوه بلیدونکے

چه گواه هم ئے او زیرے ورکوونکے او یروونکے هم ئے. او د الله تعالیٰ طرف ته دهغه په حکم سره رابلونکے او رڼرا خوروونکے

مُّنِيْرًا ﴿٤٦﴾ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ بِاَنَّ لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ فَضْلًا

روښانه | او زیرے ورکړه | مؤمنانو ته | چه بیشکه | دهغوی دپاره | د الله د طرف نه | فضل دے

ډیوه هم ئے اے نبی! ته مؤمنانو ته زیرے واوروه چه الله تعالیٰ دهغوی دپاره دخپل طرفه ډیر لوئے فضل تیار کړے دے

كَبِيْرًا ﴿٤٧﴾ وَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ وَدَعْ اَذٰىهُمْ

ډیر لوئے | او ته خبره مه منه | د کافرانو | او د منافقانو | او پریږده | تکلیفونه دهغوی

او ته د کافرانو او منافقانو خبره مه منه او دهغوی د طرف نه درسیدونکی تکلیفونو پرواه مه کوه

وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ﴿٤٨﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا

او توکل کوه | په الله باندے | او کافی دے | الله (یواځے) | ذمه وار | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے

او په الله تعالیٰ باندے توکل کوه. او الله تعالیٰ (یواځے) کارساز کافی دے. اے مؤمنانو!

اِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنٰتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ مِنْ قَبْلِ

کله چه | نکاح او کړئ تاسو | د مؤمنانو ښځو سره | بیا | طلاق ورکړئ تاسو هغوی ته | مخکښ

کله چه تاسو د مؤمنانو ښځو سره نکاح او کړئ (او) بیا د لاس لګولو نه مخکښ ورله طلاق ورکړئ

أَنْ تَمَسُّوهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّونَهَا ۚ

ددېنه چه لګولاس ورو ړو وي هغوي ته | تو نشته ستاسو دپاره | په هغوي باندې | هیڅ عدت | چه تاسو شماري هغه

نو په هغوي باندې ستاسو په وجه هیڅ عدت (تېرول) نشته چه تاسو يې شمېره اوکړئ.

فَمَتِّعُوهُنَّ وَسَرِّحُوهُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا ﴿٤٩﴾ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا

پس سامان ورکړئ هغوي ته | او پرېږدئ هغوي | په پرېښودلو | خائسته وسره | اے نبي! | بیشکه

البته څه تحفه ورله ورکړئ او په ښه طريقه يې رخصت کړئ اے نبي! مونږ ستا دپاره

أَحْلَلْنَا لَكَ أَزْوَاجَكَ اللَّاتِي آتَيْتَ أُجُورَهُنَّ وَمَا

مونږ حلالے کړي دي | ستا دپاره | بيبيانے ستا | هغه | چه تا ورکړي دي | مهرونه دهغوي | او هغه

ستا هغه بيبيانے حلالے کړي دي چه تا ورله مهر ورکړے دے او هغه ښځے هم چه

مَلَكَتْ يَمِينُكَ مِمَّا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَيْكَ وَبَنَاتِ

چه مالک شوے | ښے لاس ستا | دهغے نه | چه په غنيمت کښې درکړي دي | الله | تاته | او لونړه

ستا په ملکيت کښې دي چه الله تعالىٰ درله د مال د کافرانو په غنيمت کښې درکړي دي، او ستا

عَمِّكَ وَبَنَاتِ عَمَّاتِكَ وَبَنَاتِ خَالِكَ وَبَنَاتِ خَالَاتِكَ

د تره ستا | او لونړه | د ترورېانو ستا | او لونړه | د ماما ستا | او لونړه | د خاله ګانو ستا

د تره او د ترورېانو لونړه هم او د ماما او خاله ګانو لونړه (هم ستا دپاره حلالے دي) چه

اللَّاتِي هَاجَرْنَ مَعَكَ وَامْرَأَةً مُؤْمِنَةً إِنْ وَهَبَتْ

هغه | چه هغوي هجرت کړے دے | تاسره | او (ېوه) زنانه | مسلمانه هم | که چرے | او بخښي هغه

تاسره يې هجرت کړے دے. او هغه مومنه زنانه هم چه (د مهر نه بغير) خپل ځان پيغمبر ته اوبخښي

نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ إِنْ أَرَادَ النَّبِيُّ أَنْ يَسْتَنْكِحَهَا خَالِصَةً

ځان خپل | پيغمبر ته | که چرے | غواړي | پيغمبر | چه نکاح اوکړي دهغے سره | (دا حکم صرف) خاص

په دے شرط چه پيغمبر ورسره نکاح کول غواړي، دا کثرت د بيبيانو او هبه کول دځان خپل خاص

لَكَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ ۗ قَدْ عَلِمْنَا مَا فَرَضْنَا

ستا دپاره دے | سوا | د نورو مؤمنانو نه | يقيناً | پوهه يُو مونږ | په هغه څه | چه فرض کړي دي مونږ

ستا دپاره دي نورو مسلمانانو دپاره نه دي. يقيناً مونږ ته هغه څیزونه (نان نفقه او مهر) ښه معلوم دي کوم چه مونږ

عَلَيْهِمْ فِي أَزْوَاجِهِمْ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ

په دوي باندے | د دوي د ښځو په باره کښې | او د هغه (وينځو) په باره کښې | چه مالکان شوي دي | ښي لاسونه دوي

په دوي باندے د دوي د بيبيانو او د دوي د وينځو په باره کښې (چه نفقه ده) مقرر کړي دي (او اے نبي! اته مو د دوي نه

لِكَيْلَا يَكُونَ عَلَيْكَ حَرَجٌ ۗ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا ﴿٥٠﴾

د دے دپاره | چه نشي | په تا باندے | هيڅ تنګي | او دے | الله | ډير بخښونکے | ډير مهربان

مستثنىٰ کړے) د دے دپاره چه په تا باندے څه تنګي په تبليغ د دين کښې را نشي او الله تعالىٰ ډير بخښونکے ډير مهربان دے.

تُرْجِیْ مَنْ تَشَآءُ مِنْهُنَّ وَتُـْٔوِیْۤ اِلَیْكَ مَنْ تَشَآءُ ؕ

لرے کوے ته | چا لره | چه غواړے ته | د دوی نه | او ځائے ورکوه | د ځان سره | چا لره | چه غواړے

په دے بيبيانو کښې چه ته کومه غواړے نو نمبر ته ئے لرے کولے شے او کومه چه غواړے نو ځان ته ئے رانزدے کولے شے

وَمَنِ ابْتَغَیْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَیْكَ ؕ

او هغه (بی بی) | چه ته غواړے (چه نو ځائے کیدل) | د هغه چا نه | چه جدا کړی وی (د ځان نه) | نو نشته هیڅ ګناه | په تا باندے

او کومه بی بی چه تا د نمبر نه ویستلے ده که هغه بیا نزدے کول غواړے نو (په دے کښې) په تا باندے هیڅ ګناه نشته

ذٰلِكَ اَدْنٰۤی اَنْ تَقَرَّ اَعْیُنُهُنَّ وَلَا یَحْزَنَّ وَیَرْضَیْنَ

دا (حکم) | زیات نزدے دے | چه یخیږی به | سترګے د دوی | او خفه کیږی به نه | او خوشحاله به وی

په دے اختیار در کولو کښې تا ته فائده دا ده چه د دوی سترګے به یخے وی او غمژنے به نه وی

بِمَاۤ اٰتَیْتَهُنَّ كُلُّهُنَّ ؕ وَاللّٰهُ یَعْلَمُ مَا فِیْ قُلُوْبِكُمْ ؕ

په هغه څه | چه تا ور کړی دی دوی ټولو ته | او الله | پوهیږی | په هغه څه | چه ستاسو په زړونو کښې دی

او ته چه ورله څه ورکوے نو دوی ټولے به په هغے باندے خوشحاله وی، او ستاسو په زړونو کښې چه څه دی

وَكَانَ اللّٰهُ عَلِیْمًا حَلِیْمًا ۵۱ لَا یَحِلُّ لَكَ النِّسَآءُ مِنْ بَعْدُ

او دے | الله | ښه پوهه | صبر والا | نه دی روا | ستا د پاره | زنانه | روستو د دے (قسمونو) نه

هغه الله ته معلوم دی او الله تعالیٰ ډیر پوهه ډیر صبرناک دے د دے ذکر شوو قسمونو نه پس نورے ښځے ستا د پاره حلالے نه دی

وَلَاۤ اَنْ تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنْ اَزْوَاجٍ وَّلَوْ اَعْجَبَكَ

او نه دا (روا دی) | چه بدلے کړے | د دوی په ځائے | نورے بیبیانے | اګر که | تعجب کښې اچوی تا

او نه درله دا جائز دی چه ته د دوی په بدله کښې نورے ښځے او کړے اګر که د هغوی حسن تا ته ښه لګی،

حُسْنُهُنَّ اِلَّا مَا مَلَكَتْ یَمِیْنُكَ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰی كُلِّ

ښائست د هغوی | مګر | هغه | چه مالک ئے دے | ښے لاس ستا | او دے | الله | په هر یو

البته کومے وینزے چه ستا ملکیت کښې دی هغه درله حلالے دی، او الله تعالیٰ د هر یو څیز

شَیْءٍ رَّقِیْبًا ۵۲ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا بُیُوْتَ ع

څیز باندے | نګهبان | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | مه داخلیږئ | کورونو

پوره نګرانی کوونکے دے اے مؤمنانو د پیغمبر کور ته د اجازت نه بغیر مه داخلیږئ.

النَّبِیِّ اِلَّاۤ اَنْ یُّؤْذَنَ لَكُمْ اِلٰی طَعَامٍ غَیْرَ نٰظِرِیْنَ

د پیغمبر ته | مګر (هغه وخت) | چه اجازت او کړے شی | تاسو ته | د خوراک | نه به یئ انتظار کوونکی

البته که د خوراک اجازت در کړے شی (نو بیا داخلیږئ) خو هغه هم په دے شان چه د مخکښې نه د خوراک

اِنٰىهُ ۙ وَلٰكِنْ اِذَا دُعِیْتُمْ فَادْخُلُوْا فَاِذَا طَعِمْتُمْ

د پخیدلو د هغے | لیکن | کله چه | تاسو راوبللی شئ | نو داخل شئ | بیا کله چه | خوراک او کړئ

د پخیدلو په انتظار کښې مه کینئ لیکن څه وخت چه درته د خوراک د پاره دعوت اوشی نو داخل شئ بیا چه کله خوراک او کړئ

فَانْتَشِرُوْا وَلَا مُسْتَاْنِسِيْنَ لِحَدِيْثٍ ؕ اِنَّ ذٰلِكُمْ كَانَ يُؤْذِى

نو خوارہ شئ | او مه ایسارېږئ مینه کوونکی | د خبرو | بیشکه | دا (کار) | تکلیف رسوی

نو خوارہ شئ او خبرو ته ښخ ناست مه پاتې کېږئ حقیقت دادے چه په دے سره پیغمبر ته تکلیف رسی

النَّبِىَّ فَيَسْتَحْىٖ مِنْكُمْ وَاللّٰهُ لَا يَسْتَحْىٖ مِنَ الْحَقِّ ؕ وَاِذَا

پیغمبر ته | نو هغه حیا کوی | ستاسو نه | او الله | حیا نه کوی | دحق (بیانولو) نه | اوکله چه

خو هغه ستاسو لحاظ کوی (اوتاسو ته د ویلو نه) شرمیږی. او الله تعالی دحق په ویلو کښې د چالحاظ نه کوی

سَاَلْتُمُوْهُنَّ مَتَاعًا فَسْئَلُوْهُنَّ مِنْ وَّرَآءِ حِجَابٍ ؕ ذٰلِكُمْ

غواړئ تاسو دهغوی نه | څه سامان | نو غواړئ دهغوی نه | وروستو | د پردے نه | دا طریقه

او کله چه تاسو د پیغمبر د بیبیانو نه څه سامان غواړئ نو د پردے نه شاته (اخوا) نے ترینه غواړئ.

اَطْهَرُ لِقُلُوْبِكُمْ وَقُلُوْبِهِنَّ ؕ وَمَا كَانَ لَكُمْ اَنْ تُؤْذُوْا

ډیره پاکیزه ده | ستاسو دزړونو دپاره | او دهغوی دزړونو دپاره | او نه دی جائز | تاسو لره | چه تکلیف اورسوئ

دا طریقه ستاسو او د هغوی د زړونو د پاک ساتلو ښه ذریعه ده. او تاسو له دا نه دی جائز چه

رَسُوْلَ اللّٰهِ وَلَاۤ اَنْ تَنْكِحُوْۤا اَزْوَاجَهٗ مِنْۢ بَعْدِهٖۤ

پیغمبر | د الله ته | او نه دا (جائز دی) | چه تاسو نکاح اوکړئ | د بیبیانو دهغهٔ سره | وروستو د هغهٔ نه

د الله رسول ته تکلیف اورسوئ او نهٔ دا جائز دی چه دهغه نه وروستو دهغه د بیبیانو سره نکاح اوکړئ

اَبَدًا ؕ اِنَّ ذٰلِكُمْ كَانَ عِنْدَ اللّٰهِ عَظِيْمًا ۝ اِنْ تُبْدُوْا

همیشه | بیشکه | دا | (گناه) ده | د الله په نزد | ډیره لویه | اکه چرے | تاسو ښکاره کوئ

یقینًا دا د الله تعالی په نزد ډیر لوئے جرم دے. که تاسو څه خبره ښکاره کوئ

شَيْـًٔا اَوْ تُخْفُوْهُ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيْمًا ۝

څه څیز | یا پټوئ هغه | نو بیشکه | الله | دے | په هر یو | څیز باندے | ښه پوهه

یا یې پټوئ نو (یاد ساتئ چه) الله تعالی د هر څیز پوره علم لری.

لَا جُنَاحَ عَلَيْهِنَّ فِىْۤ اٰبَآئِهِنَّ وَلَاۤ اَبْنَآئِهِنَّ وَلَاۤ اِخْوَانِهِنَّ

نشته دے هیڅ گناه | په دوی باندے | په باره د پلارانو د دوی کښې | او نه په باره د ځامنو د دوی کښې | او نه په باره د وروڼو د دوی کښې

د پیغمبر په بیبیانو باندے د خپلو پلارانو نه په پرده نه کولو کښې هیڅ گناه نشته (دا رنګ) د خپلو ځامنو.

وَلَاۤ اَبْنَآءِ اِخْوَانِهِنَّ وَلَاۤ اَبْنَآءِ اَخَوٰتِهِنَّ وَلَا نِسَآئِهِنَّ

او نه په باره د وریرونو د دوی کښې | او نه په باره د خوریونو د دوی کښې | او نه په باره د ښځو د دوی کښې

د خپلو وروڼو، د خپلو وریرونو، د خپلو خوریونو او د عامو مسلمانانو ښځو او د خپلو وینځو

وَلَا مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُنَّ ۚ وَاتَّقِيْنَ اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

او نه په باره د هغه څه کښې | چه مالکان شوی | ښی لاسونه د دوی | او اویریږئ | د الله نه | بے شکه | الله

(په باره کښې پرے هم هیڅ گناه نشته) او اے ښځو د الله تعالی نه اویریږئ. یقین اوکړئ

كَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدًا ﴿٥٥﴾ اِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓئِكَتَهٗ

دے | په هر يو | څيز باندے | ګواه(حاضر) | بے شکه | الله | او ملائک د هغهٔ

چه الله تعالیٰ په هر څيز باندے حاضر ناظر دے. الله تعالیٰ او د هغه ملائکے

يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ ۚ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ

درود(رحمت) ليږی | په پيغمبر باندے | اے هغه کسانو چه ايمان مو راوړے دے | درود وايئ | په هغه باندے

په پيغمبر باندے درود ليږی. اے مؤمنانو تاسو هم په هغه باندے درود وايئ

وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿٥٦﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ

اوسلام وايئ | په(پوره) سلام ويلو سره | بيشکه | هغه کسان | چه تکليف رسوی | الله | او رسول د هغهٔ ته

او ښه (ډير) سلام پرے ليږئ (وايئ) يقيناً کوم خلق چه الله تعالیٰ او د هغه رسول ته تکليف رسوی

لَعَنَهُمُ اللّٰهُ فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ وَاَعَدَّ لَهُمْ

لعنت کړے دے په هغوی باندے | الله | په دنيا | او آخرت کښ | او تيار کړے دے | د دوی دپاره

نو الله تعالیٰ په دنيا او آخرت کښ په هغوی باندے لعنت کړے دے او د هغوی دپاره ئے

عَذَابًا مُّهِيْنًا ﴿٥٧﴾ وَالَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ

عذاب | رسوا کوونکے | او هغه کسان | چه تکليف رسوی | مؤمنانو سړو | او مؤمنانو ښځو ته

سپکوونکے (رسوا کوونکے) عذاب تيار کړے دے او کوم خلق چه مؤمنانو سړو او مؤمنانو ښځو ته

بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوْا فَقَدِ احْتَمَلُوْا بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿٥٨﴾ ع

بغير | د څه(جرم) نه چه هغوی کړی وی | نو يقيناً | دوی اوچت کړو | بهتان | او ګناه | ښکاره

بغير د څه جرم کولو نه تکليف رسوی نو هغوی د بهتان او د ښکاره ګناه بوج په خپل سر اوچت کړے دے

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ وَبَنٰتِكَ وَنِسَآءِ الْمُؤْمِنِيْنَ

اے نبئ! | اووايه | بيبيانو خپلو ته | او لونړو خپلو ته | او زنانو (ښځو) | د مؤمنانو ته

اے نبئ! خپلو بيبيانو او خپلو لونړو او د مسلمانانو ښځو (زنانو) ته اووايه چه

يُدْنِيْنَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيْبِهِنَّ ۗ ذٰلِكَ اَدْنٰٓى

چه هغوی دے راخکته ساتی | په ځانو نو خپلو باندے | (لوئے) شادرونه خپل | دا (خبره) | ډيره نزدے ده

خپلے لوئے شادرے دے په ځان راخکته ساتی په دے طريقه کښ ډيره توقع ده

اَنْ يُّعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ ۗ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿٥٩﴾

چه دوی به او پيژندلی شی | نو تکليف به نه شی ورکولے ته | او دے | الله | ډير بخښونکے | ډير مهربان

چه دهغوی پيژندګلو به کيږی چه دا اصيله ښځه ده نو څوک به ورته تکليف نه ورکوی او الله تعالیٰ ډير بخښونکے ډير مهربان دے

لَئِنْ لَّمْ يَنْتَهِ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالَّذِيْنَ فِىْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ

که چرے | منع نه شول | منافقان | او هغه کسان | چه د هغوی په زړونو کښ | مرض دے

که چرے منافقان او هغه خلق چه د هغوی په زړونو کښ مرض دے او هغه خلق چه

وَالْمُرْجِفُونَ فِي الْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ

او دروغ (خبر) خوروونکي | په مدینه کښې | نو خامخا مونږ به او لمسوو تا | (جنګ د) دوی ته | بیا به

په مدینه کښې غلط (د شر) خبرونه خوروي منع نشول نو مونږ به تا په دوی پسې او لګوو نو بیا به دوی

لَا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَا إِلَّا قَلِيلًا ۝ مَلْعُونِينَ ۖ أَيْنَمَا ثُقِفُوا

دوی نه او سیږي تاسره | په دے (مدینه) کښې | مګر | لږ وخت | لعنت کړے شوي به وي | چرته چه | بیا موندلی شي دوی

تاسره په مدینه کښې ډیر لږ (وخت) پاتے شي (او که پاتے هم شي نو) لعنت به پرے وریږي (بیا) چرته هم

أُخِذُوا وَقُتِّلُوا تَقْتِيلًا ۝ سُنَّةَ اللَّهِ فِي الَّذِينَ خَلَوْا

نیولے به شي | او وژلی به شي | په وژلو سره | پښان د طریقے | د الله | په هغه کسانو کښې | چه تیر شوي دي

چه موندلی شي نو نیولی به شي او (یو یو به) وژلے شي. دا د الله تعالی هغه معمول (دستور) دے

مِنْ قَبْلُ ۖ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللَّهِ تَبْدِيلًا ۝ يَسْأَلُكَ

پخوا (د دے نه) | او ته به هیڅکله او نه مومے | طریقے | د الله لره | بدلول | تپوس کوي ستا نه

چه د پخوانو خلقو باره کښې هم وو، او ته به د الله تعالی په معمول (دستور) کښې هیڅ قسم تبدیلي بیا نه مومے

النَّاسُ عَنِ السَّاعَةِ ۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ اللَّهِ ۚ

خلق | په باره د قیامت کښې | او وایه | (چه) بیشکه | علم د هغے | د الله سره دے

اے نبی! خلق تا نه د قیامت د راتلو باره کښې تپوس کوي ته ورته او وایه چه د هغے علم خو بس الله سره دے

وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ السَّاعَةَ تَكُونُ قَرِيبًا ۝ إِنَّ اللَّهَ

او څه شیز خبر در کولے شي تاته | کیدے شي | چه قیامت | وي هغه | نزدے | بیشکه | الله

او تاته څه پته ده کیدے شي چه قیامت ډیر نزدے وي په دے کښې هیڅ شک نشته چه الله تعالی

لَعَنَ الْكَافِرِينَ وَأَعَدَّ لَهُمْ سَعِيرًا ۝ خَالِدِينَ فِيهَا

لعنت کړیدے | په کافرانو | او تیار کړے ئے دے | د هغوی دپاره | اور د لمبو والا | همیشه به وي | په هغے کښې

کافران د خپل رحمت نه لرے کړي دي او د هغوی دپاره ئے ګرم اور تیار کړے دے چه په هغے کښې به

أَبَدًا ۖ لَا يَجِدُونَ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ۝ يَوْمَ تُقَلَّبُ

همیشه | نه به مومي دوی | څوک دوست | او نه څوک مددګار | هغه ورځ | چه اړولی راړولی به شي

هغوی همیشه دپاره او سیږي نه به د ځان دپاره څوک بچ کوونکے ملګرے بیا مومي او نه څوک مددګار په دغه ورځ به

وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ يَقُولُونَ يَا لَيْتَنَا أَطَعْنَا اللَّهَ

مخونه د دوی | په اور کښې | وائي به دوی | هلے ئے ارمان دے زمونږ | چه مونږ خبره منلے وے | د الله

د دوی مخونه په اور کښې اړولی راړولی شي (نو) وائي به چه اے کاش مونږ د الله تعالی حکمونه منلے وے

وَأَطَعْنَا الرَّسُولَا ۝ وَقَالُوا رَبَّنَا إِنَّا أَطَعْنَا سَادَتَنَا

او مونږ خبره منلے وے | د پیغمبر | او وائي به دوی | اے ربه زمونږه! | بیشکه مونږ | خبره منلے وه | د سردارانو خپلو

او د رسول خبره مو منلے وے او وائي به اے زمونږ ربه حقیقت دا دے چه مونږ د خپلو سردارانو (پیرانو)

وَكُبَرَآءَنَا فَاَضَلُّوْنَا السَّبِيْلَا ﴿٦٧﴾ رَبَّنَآ اٰتِهِمْ ضِعْفَيْنِ

او د غټانو خپلو | نو هغوی گمراه کړو مونږ | د سمې لارې نه | اې ربه زمونږ | ور کړه دوی ته | غبرګ

او مشرانو (اقتدار والو) خبره مو منلې وه نو هغوی مونږ د سمې لارې نه گمراه کړو. اې زمونږ ربه! اته دوی ته دوچنده

مِنَ الْعَذَابِ وَالْعَنْهُمْ لَعْنًا كَبِيْرًا ﴿٦٨﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ع

د عذاب نه | او لعنت او کړه په دوی باندې | لعنت | لوې | اې هغه کسانو چه ایمان مو راوړې دې

عذاب ور کړه او د خپل رحمت نه ئې مکمل لرې کړه اې مؤمنانو!

لَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ اٰذَوْا مُوْسٰى فَبَرَّاَهُ اللّٰهُ مِمَّا

مه کیږئ تاسو | په شان د هغه خلقو | چه تکلیف ئې ور سولی وو | موسیٰ ته | نو بچ او ساتلو هغه لره | الله | د هغه څه نه

د هغه خلقو په شان مه کیږئ چا چه موسیٰ ته تکلیفونه رسول نو الله تعالیٰ هغه

قَالُوْا ؕ وَكَانَ عِنْدَ اللّٰهِ وَجِيْهًا ﴿٦٩﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

چه هغوی (ورپسې) وئیل | او وو دې | په نزد | د الله | او چت مرتبې والا | اې هغه کسانو چه ایمان مو راوړې دې

(د خلقو د بدنامو لګولو نه) بری کړو او هغه (خو) د الله تعالیٰ په نزد ډیر محبوب (عزتمند) وو اې مؤمنانو!

اتَّقُوا اللّٰهَ وَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا ﴿٧٠﴾ يُّصْلِحْ لَكُمْ

او یریږئ | د الله نه | او وایئ | خبره | سمه (برابره) | درست به کړی الله | ستاسو

د الله تعالیٰ نه یره کوئ او سمه (درسته) خبره کوئ الله تعالیٰ به ستاسو د فائدې د پاره ستاسو

اَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ ؕ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ

کارونه (عملونه) | او او به بخښی | تاسو ته | گناهونه ستاسو | او چا چه | خبره او منله | د الله

اعمال سم کړی او گناهونه به مو معاف کړی. او څوک چه د الله تعالیٰ او د هغه د رسول خبره منی

وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا ﴿٧١﴾ اِنَّا عَرَضْنَا الْاَمَانَةَ

او د رسول د هغه | نو یقیناً | کامیاب شو هغه | په کامیابۍ | لوې سره | بیشکه | مونږ پیش کړه | ذمه داری (امانت)

نو یقیناً هغه ډیره لوئې کامیابي حاصل کړه. یقیناً مونږ (دا) امانت

عَلَى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَالْجِبَالِ فَاَبَيْنَ اَنْ يَّحْمِلْنَهَا

په آسمانونو | او په زمکه | او غرونو باندې | نو ځان بچ کړو دوی | د دینه چه او چت کړی دوی دا امانت

آسمانونو، زمکې، او غرونو ته پیش کړو نو هغوی د دې د اوچتولو نه انکار اوکړو

وَاَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الْاِنْسَانُ ؕ اِنَّهٗ كَانَ ظَلُوْمًا

او او یریدل دوی | د دې نه | او او چت کړو دې لره | انسان | بې شکه دې | وو | ډیر ظالم

او د دې نه او یریدل او انسان د دې بوج اوچت کړو یقیناً دا انسان ډیر لوې ظالم وو چه پس د قبلولو نه ئې کښې خیانت شروع

جَهُوْلًا ﴿٧٢﴾ لِّيُعَذِّبَ اللّٰهُ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْمُشْرِكِيْنَ

ډیر نادان | د دې د پاره چه عذاب ور کړی | الله | منافقانو سړو | او منافقانو ښځو ته | او مشرکانو سړو

کړو او ډیر ناپوهه وو چه په خپل انجام ئې سوچ او نکړو نو نتیجه دا شوه چه الله تعالیٰ به منافقانو سړو او منافقانو ښځو ته او مشرکانو سړو

وَالْمُشْرِكٰتِ وَيَتُوْبَ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ ؕ

او مشرکانو ښځو ته | او توبه قبوله کړي | الله | د مؤمنانو سړو | او د مؤمنانو ښځو

او مشرکانو ښځو ته سزا (عذاب) ورکړي، او مؤمنانو سړو او مؤمنانو ښځو باندې به خپل رحمت اوکړي

ع وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۟ع

او دے | الله | ډیر بخښونکے | ډیر مهربان |

او الله تعالیٰ ډیر بخښونکے ډیر مهربان دے.

آیاتها [۵۴]	سورة سبا مكّيّة	رکوعاتها [۶]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا

ټول حمدونه دي | الله لره | هغه ذات | چه د هغه دي | هغه څه | چه په آسمانونو کښې دي | او هغه څه

ټول حمدونه د هغه الله دپاره دي چه د آسمانونو او زمکے هر څه د هغه (په اختیار کښې) دي

فِي الْاَرْضِ وَلَهُ الْحَمْدُ فِي الْاٰخِرَةِ ؕ وَهُوَ الْحَكِيْمُ

چه په زمکه کښې دي | او خاص د هغه دپاره | حمدونه دي | په آخرت کښې | او هم هغه | حکمت والا

او په آخرت کښې به هم د هغه تعریف وي، او هم هغه ډیر لوے حکمت والا

الْخَبِيْرُ ۝ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الْاَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ

خبردار دے | هغه پوهیږي | په هغه څه | چه ورننوځي | په زمکه کښې | او په هغه څه | چه راوځي

او پوره خبردار ذات دے هغه عالم دے په هغه ټولو څیزونو چه زمکه کښې د ننه ورننوځي او هغه څیزونه هم (پیژني) چه

مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَآءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيْهَا ؕ وَهُوَ

د هغے نه | او په هغه څه | چه را کوزیږي | د آسمان نه | او په هغه څه | چه خیژي | په دے کښې | او هغه دے

د زمکے نه بهر راوځي او هغه څیزونه (هم پیژني) چه د آسمان نه را کوزیږي او هغه څیزونه (هم پیژني) چه آسمان ته ور خیژي

الرَّحِيْمُ الْغَفُوْرُ ۝ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَاْتِيْنَا

ډیر مهربان | ډیر بخښونکے | او وائي | هغه خلق | چه کفر ئے کړے دے | چه نه به راځي مونږ باندے

او هغه ډیر مهربان ډیر بخښونکے دے او کافران خلق وائي چه په مونږ باندے به قیامت نه راځي

السَّاعَةُ ؕ قُلْ بَلٰى وَرَبِّيْ لَتَاْتِيَنَّكُمْ ۙ عٰلِمِ الْغَيْبِ ۚ

قیامت | او وایه | ولے نه | زما قسم دے په خپل رب | چه هغه به خامخا راځي په تاسو | پوهه دے | په غیبو

اے نبی! (ته ورته) او وایه ولے به نه راځي زما قسم دے په خپل رب چه په تاسو باندے به قیامت ضرور راځي هغه عالم دے

لَا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْاَرْضِ
نه شي پټيدی لے | دهغهٔ نه | په اندازه | د يو ذرے | په آسمانونو کښې | او نه په زمکه کښې
په غيبو پاندے ذره برابر څيز د هغه نه پټ نه دے نه په آسمانونو کښې اونهٔ په زمکه

وَلَآ اَصْغَرُ مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ اَكْبَرُ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ۙ
او نه وړوکے | د دے نه | او نه غټ | مګر | دی په کتاب | ښکاره کښې
او نه د دے نه وړوکے يو دا سے څيز شته او نه لوئے چه هغه په ښکاره کتاب (لوح محفوظ) کښې درج نه وی.

لِّيَجْزِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۭ اُولٰٓئِكَ
د دے دپاره چه هغه بدله ورکړی | هغه خلقو ته | چه ايمان ئے راوړے دے | او عملونه ئے کړی دی | نيک | هم دغه خلق دی
(او قيامت به ځکه راځی) چه کومو خلقو ايمان راوړے دے او نيک اعمال ئے کړی دی الله تعالیٰ هغوی له

لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ۝ وَالَّذِيْنَ سَعَوْ فِيْٓ اٰيٰتِنَا
چه د دوی دپاره | بخښنه ده | او رزق | عزتمند دے | او هغه خلق | چه کوشش کوی | زمونږ په آيتونو کښې
انعام (بدله) ورکړی هم د دا سے خلقو دپاره مغفرت او عزتمند رزق تيار دے او کوم خلق چه زمونږ د آيتونو باره کښې

مُعٰجِزِيْنَ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مِّنْ رِّجْزٍ اَلِيْمٌ ۝ وَيَرَى
عاجزه کوونکی | هم دغه خلق دی | چه د دوی دپاره | عذاب دے | د | عذاب | دردناک نه | او ويني
دا کوشش کوی چه هغه ناکامه کړی د هغوی دپاره د سختئ نه ډک دردناک عذاب (تيار) دے

الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ الَّذِيْٓ اُنْزِلَ اِلَيْكَ
هغه خلق | چه ور کړے شوے دے هغوی ته | علم | هغه (کتاب) لره | چه نازل کړے شوے دے | تا ته
او (اے نبیؐ!) کومو خلقو ته چه علم ور کړے شوے دے هغوی ښه پوهيږی چه تا ته چه ستا د رب د طرف نه

مِنْ رَّبِّكَ هُوَ الْحَقَّ ۙ وَيَهْدِيْٓ اِلٰى صِرَاطِ الْعَزِيْزِ
ستا د رب د طرف نه | هم هغه دے | حق | او هدايت کوی | لارے | د زورور (غالب)
څه (کتاب) نازل شوے دے هغه بلکل حق دے او د هغه الله ښائی چه هغه زورور (غالب)

الْحَمِيْدِ ۝ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا هَلْ نَدُلُّكُمْ عَلٰى رَجُلٍ
او ستائيلی شوی ذات ته | او وائی | هغه کسان | چه کفر ئے کړيدے | آيا | او ښايو مونږ تاسو ته | (دا سے) يو سړے
او د صفتونو مستحق دے او دا کافران (يو بل ته) وائی چه آيا تاسو ته يو دا سے کس او ښايو چه

يُّنَبِّئُكُمْ اِذَا مُزِّقْتُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ ۙ اِنَّكُمْ لَفِيْ خَلْقٍ
چه خبر در کوی تاسو ته | کله چه | ذره ذره شئ تاسو | په پوره ذره کيدلو سره | نو يقيناً تاسو به | خامخا په پيدائش
هغه تاسو ته دا خبر در کوی چه کله تاسو بلکل ريزه ريزه شئ نو بيا به سر دوباره پيدا کيږئ؟

جَدِيْدٍ ۝ اَفْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَمْ بِهٖ جِنَّةٌ ۭ بَلِ
نوی کښې يئ | آيا ده تړلی دی | په الله باندے | دروغ | يا | په ده | ليونتوب دے | بلکه
پته نشته چه دے سړی په الله باندے دروغ تړلے دی او که ليونے شوے دے. (نه) بلکه

الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ فِي الْعَذَابِ وَالضَّلٰلِ الْبَعِيْدِ۝

هغه خلق | چه ایمان نه راوړي | په آخرت | په عذاب کښې | او په ګمراهۍ | لرې کښې دي
حقیقت دا دے چه کوم خلق په آخرت ایمان نه لري هغوي په عذاب او د حق نه لرے ګمراهۍ کښې اخته دي

اَفَلَمْ يَرَوْا اِلٰى مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ مِّنَ السَّمَآءِ

آیا نو دوي نه ګوري | هغه څه ته | چه د دوي مخے ته دي | او هغه څه ته | چه د دوي وروستو دي | د آسمان
آیا دا خلق آسمان او زمکے ته نه ګوري چه په دوي ئے د مخکښې او روستو هر طرف ته احاطه کړے ده

وَالْاَرْضِ ؕ اِنْ نَّشَاْ نَخْسِفْ بِهِمُ الْاَرْضَ اَوْ نُسْقِطْ

او د زمکے نه | که چرے | اوغواړو مونږ | نو ښخ به کړو | دوي | په زمکه کښې | یا به مونږ را وغورځو
که چرے مونږ اوغواړو نو دوي به په زمکه کښې ښخ کړو یا به پرے

عَلَيْهِمْ كِسَفًا مِّنَ السَّمَآءِ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً

په دوي باندے | یوه ټکره | د آسمان نه | بے شکه | په دے کښې | خامخا نخښه ده
د آسمان نه یوه ټکره را وغورځوو. یقیناً په دے کښې د هر هغه بنده د پاره نخښه ده چه

لِّكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيْبٍ۝ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ مِنَّا فَضْلًا ؕ ع

د پاره د هر یو | بنده | رجوع کوونکی | او یقیناً | مونږ ورکړے وو | داؤد علیه السلام ته | د خپل طرف نه | غوره والے
(الله ته) رجوع کوونکے وي او یقیناً مونږ داؤد ته د خپل طرف نه فضیلت ورکړے وو.

يٰجِبَالُ اَوِّبِيْ مَعَهٗ وَالطَّيْرَ ۚ وَاَلَنَّا لَهُ الْحَدِيْدَ۝

اے غرونو | تسبیح وایئ | د هغه سره | او مارغان هم مونږ تابع کړي وو د هغه | او مونږ نرمه کړے وه | د هغه د پاره | او سپنه
(او مونږ حکم کړے وو) اے غرونو! د هغه سره تسبیح وایئ او مارغان مو د هغه مسخر کړي وو او د هغه د پاره مو اوسپنه نرمه کړے وه

اَنِ اعْمَلْ سٰبِغٰتٍ وَّقَدِّرْ فِي السَّرْدِ وَاعْمَلُوْا صَالِحًا ؕ

چه جوړوه | پوره (کشاده) زغرے | او اندازه ساته | په یو ځائے کولو د کړو کښې | او عمل کوئ | نیک
(او حکم مو ورته کړے وو) چه پوره پوره (کشاده) زغرے جوړوه او د کړو په جوړولو کښې د توازن نه کار اخله او تاسو ټول نیک عمل کوئ

اِنِّيْ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ۝ وَلِسُلَيْمٰنَ الرِّيْحَ غُدُوُّهَا

بیشکه زه | د هغه څه | چه تاسو ئے کوئ | لیدونکے یم | او د سلیمان د پاره (تابع کړے وو مونږ) | هوا | چه د صبا منزل د هغے
یقیناً زه ستاسو ټولو اعمالو له لیدونکے یم او د سلیمان د پاره مونږ هوا مسخر کړے وه چه د هغے د سحر سفر به د یو میاشتے

شَهْرٌ وَّرَوَاحُهَا شَهْرٌ ۚ وَاَسَلْنَا لَهٗ عَيْنَ الْقِطْرِ ؕ

یو د میاشت وو | او د ماښام منزل د هغے | یو میاشت وو | او مونږ بهولے وه | د هغه د پاره | چینه | د تانبے
په منزل وو او د ماښام سفر به ئے هم د یو میاشتے په منزل وو او مونږ د هغه د پاره د ویلے شوے تانبے یوه چینه جاري کړے وه

وَمِنَ الْجِنِّ مَنْ يَّعْمَلُ بَيْنَ يَدَيْهِ بِاِذْنِ رَبِّهٖ ؕ

او د پیریانو نه | بعضے هغه وو | چه کار به ئے کولو | په وړاندے د هغهٔ | په حکم | د رب د هغهٔ
او بعضے جنات (پیریانو) به د هغه په وړاندے د هغه د رب په حکم کار (خدمت) کولو او

وَمَنْ يَّزِغْ مِنْهُمْ عَنْ اَمْرِنَا نُذِقْهُ مِنْ عَذَابِ

او څوک به | چه کوږ شو | د دوی نه | زمونږ د حکم نه | نو مونږ به او څکوله هغه ته | دَ عذاب

په هغوی کښې به چه څوک زمونږ د حکم نه کوږ شو (واوړيدو) نو هغه ته به مونږ د ګرم اور د عذاب مزه او څکوله

السَّعِيْرِ ۝١٢ يَعْمَلُوْنَ لَهٗ مَا يَشَآءُ مِنْ مَّحَارِيْبَ وَتَمَاثِيْلَ

د اور ګرم نه | دوی به جوړول | د هغه دپاره | هغه څه | چه هغه به غوښتل | عبادت خانې | او تصويرونه د آبادۍ

دے پيريانو به د سليمان عليه السلام د مرضۍ مطابق څيزونه جوړول لکه عبادت خانې او شکلونه د آبادۍ،

وَجِفَانٍ كَالْجَوَابِ وَقُدُوْرٍ رّٰسِيٰتٍ ؕ اِعْمَلُوْٓا اٰلَ دَاوٗدَ

او خانګونه | په شان د حوضونو | او ديګونه | کلک په ځای پراته | عمل کوئ | اے اولاده د داؤد عليه السلام

او د حوضونو غوندے لوئے لوئے خانګونه او لوئے لوئے ديګونه چه په ځائے به پراته وو. اے د داؤد خاندان

شُكْرًا ؕ وَقَلِيْلٌ مِّنْ عِبَادِيَ الشَّكُوْرُ ۝١٣ فَلَمَّا قَضَيْنَا

د شکر کولو | او ډير لږ | زما د بندګانو نه | شکر ګزار دی | بيا هر کله چه | مونږ فيصله او کړه

دا سے عملونه کوئ چه شکر ترے څرګند شی، او زما په بندګانو کښې ډير لږ خلق شکر ګذار دی بيا کله چه

عَلَيْهِ الْمَوْتَ مَا دَلَّهُمْ عَلٰى مَوْتِهٖٓ اِلَّا دَآبَّةُ الْاَرْضِ

په هغه باندے | د مرګ | نو خبر نه کړل دوی | په مرګ د هغه باندے | مګر | يو وينه | د زمکے

مونږ د سليمان د مرګ فيصله اوکړه نو پيريانو ته د هغه د مرګ پته بل چا ورنکړه بلکه يو وينه ورکړه

تَاْكُلُ مِنْسَاَتَهٗ ۚ فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ الْجِنُّ اَنْ لَّوْ

چه خوړله ئے | امسا د هغه | بيا کله چه | هغه راپريوتلو | نو پوهه شول | پيريان | په دے | که چرے

چه د هغه امسا ئے خوړله. نو کله چه هغه راپريوتلو نو پيريانو ته معلومه شوه چه که چرے دوی

كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ الْغَيْبَ مَا لَبِثُوْا فِي الْعَذَابِ الْمُهِيْنِ ۝١٤

دوی | پوهيدلے | په غيبو باندے | نو وخت به ئے نه وو تير کړے | په | عذاب | رسوا کوونکی کښې

په غيبو پوهيدلے نو د ذلت په تکليف به (دومره وخت) نه وے پراته

لَقَدْ كَانَ لِسَبَاٍ فِيْ مَسْكَنِهِمْ اٰيَةٌ ۚ جَنَّتٰنِ عَنْ يَّمِيْنٍ

يقينًا | وه | د سبا (والو) دپاره | په کورونو د هغوی کښې | نخښه (د توحيد) | دوه باغونه وو | د ښی طرف

حقيقت دا دے چه د سبا والو دپاره د هغوی په آبادۍ کښې يوه نخښه (د توحيد) موجود وه (چه) د هغے ښی

وَّشِمَالٍ ۬ؕ كُلُوْا مِنْ رِّزْقِ رَبِّكُمْ وَاشْكُرُوْا لَهٗ ؕ بَلْدَةٌ

او د کس طرف نه | خورئ | د | رزق | د رب خپل نه | او شکر اداء کوئ | د هغه | دا يو ښار دے

او ګس طرف ته دوه باغونه وو (هغوی ته حکم شوے وو چه) د خپل رب رزق خورئ او د هغه شکر اداء کوئ

طَيِّبَةٌ وَّرَبٌّ غَفُوْرٌ ۝١٥ فَاَعْرَضُوْا فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ

پاکيزه | او رب دے | بخښنه کوونکے | نو مخ واړولو دوی | نو مونږ راوليږلو | په دوی باندے

يو (خو) دا ښار د مزو والا دے او (بل مو) رب بخښونکے دے خو بيا هم هغوی (د هدايت نه) مخ واړولو نو مونږ پرے

سَيْلَ الْعَرِمِ وَبَدَّلْنٰهُمْ بِجَنَّتَيْهِمْ جَنَّتَيْنِ ذَوَاتَيْ

سیلاب | دبند تړلی شوی | او په بدل کښې ورکړل مونږ دوی ته | په ځائے د دوؤ باغونو د دوی | دوه باغونه نور | خاوندان

دبند والا سیلاب راپریخودلو او د هغے دواړو باغونو په ځائے مو ورله دوه نور داسے باغونه ورکړل

اُكُلٍ خَمْطٍ وَّاَثْلٍ وَّشَيْءٍ مِّنْ سِدْرٍ قَلِيْلٍ ۝ ذٰلِكَ

د میوو بے خوندو | او وُنے د غز | او څه (وُنے) | د بېرو | لږ مے شان | دا

چه بے خونده میوے او غزان او لږ مے غونډے د بېرے جاړے پکښې ولاړے وے دا سزا مو ورله

جَزَيْنٰهُمْ بِمَا كَفَرُوْا ۭ وَهَلْ نُجٰزِيْٓ اِلَّا الْكَفُوْرَ ۝

بدله ورکړے وه مونږ دوی ته | په سبب د هغه | چه دوی کفر کړے وو | او نه ورکوو مونږ بدله | مګر | غلتو ناشکرو ته

ځکه ورکړه چه دوی کفر (ناشکری) اختیار کړے وو او داسے سزا مونږ د غلتو ناشکرو نه سوا بل چاته نه ورکوو

وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ الْقُرَى الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا

او مونږ جوړ کړی وو | په مینځ د دوی کښې | او په مینځ | د کلو | هغے کښې | چه مونږ برکت اچولے وو | په هغے کښې

او مونږ د دوی او د هغه کلو په مینځ کښې چه مونږ پکښې قسمه قسم برکات اچولی وو د لے نور کلی آباد کړی وو چه د لرے نه به ښکاریدل تا په

قُرًى ظَاهِرَةً وَّقَدَّرْنَا فِيْهَا السَّيْرَ ۭ سِيْرُوْا فِيْهَا لَيَالِيَ

کلی | ښکاره | او په اندازه کړے وو مونږ | په هغے کښې | مزل | ګرځئ | په هغے کښې | د شپے

وخت د سفر کولو ښکاریدل او په هغے کښې مو د سفر منزلونه (مرحلے) مقرر کړے وے (او ورته مو ویلی وو چه) په دے کلو کښې د شپے

وَاَيَّامًا اٰمِنِيْنَ ۝ فَقَالُوْا رَبَّنَا بٰعِدْ بَيْنَ اَسْفَارِنَا

او د ورځے | په امن سره | پس او ویل دوی | اے ربه زمونږه | لرے والے راولے | زمونږ د سفرونو په مینځ کښې

او د ورځے په امن سره سفر کوئ نو دوی دعاء او غوښتله چه اے زمونږ ربه زمونږ د سفرونو منزلونه لرے لرے کړه

وَظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَجَعَلْنٰهُمْ اَحَادِيْثَ وَمَزَّقْنٰهُمْ

او دوی ظلم اوکړو | په خپلو ځانونو | پس اوګرځول مونږ دوی لره | قیصے (د عبرت) | او ټوټے ټوټے کړل مونږ دوی لره

او په خپلو ځانونو یے ظلم اوکړو (چه د هغے په نتیجه کښې) مونږ ترے نه د عبرت قیصے جوړے کړے او خواره

كُلَّ مُمَزَّقٍ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ۝

په پوره ټوټے کولو سره | بے شکه | په دے کښې | خامخا نخښے دی | دپاره د هر یو | ډیر صبر کوونکی | شکر ګزار

واره مو کړل یقیناً په دے واقعه کښې د هر صبر ناک شکر ګزار دپاره د عبرت ډیرے نخښے پرتے دی

وَلَقَدْ صَدَّقَ عَلَيْهِمْ اِبْلِيْسُ ظَنَّهٗ فَاتَّبَعُوْهُ

او یقیناً | رشتینے او موندلو | په دوی باندے | شیطان | ګمان خپل | (پس) دوی روان شو په هغه پسے

او یقیناً شیطان د دے خلقو په باره کښې خپل ګمان (د ګمراه کولو) صحیح او موندلو، نو د لږو مؤمنانو

اِلَّا فَرِيْقًا مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝ وَمَا كَانَ لَهٗ عَلَيْهِمْ

سوا | د یوے ډلے | د مؤمنانو نه | او نه وو | د شیطان دپاره | په دوی باندے

نه سوا ټول په ابلیس پسے روان شول حالانکه د هغه په دوی باندے څه زور نه وو

مِّنْ سُلْطٰنٍ اِلَّا لِنَعْلَمَ مَنْ يُّؤْمِنُ بِالْاٰخِرَةِ مِمَّنْ

هیڅ زور (غلبه) | مګر د دې دپاره چه مونږ ښکاره کړو | هغه څوک | چه ایمان راوړي | په آخرت | د هغه چانه

مګر مُسلط کیدل د شیطان صرف د دې دپاره دي چه مونږ هغه څوک چه په آخرت ایمان لري د هغه چانه

هُوَ مِنْهَا فِيْ شَكٍّ ۗ وَرَبُّكَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ حَفِيْظٌ ۞ ع

چه هغه | د دې نه | په شک کښې دے | او رب ستا | په هر یو | څیز | نګهبان دے

جدا کړو چه د آخرت په باره کښې شک کښې پراته دي. او ستا رب د هر څیز حفاظت کوونکے دے.

قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۚ لَا يَمْلِكُوْنَ

او وایه | راوبلئ | هغه کسان | چه تاسو (ورته) ګمان کوئ | سوا | د الله نه | هغوی اختیار نه لري

(اے نبي د دے کافرانو ته) او وایه چه تاسو چه د الله نه سوا په چا د خدایئ ګمان کوئ هغه راوبلئ

مِثْقَالَ ذَرَّةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْاَرْضِ وَمَا لَهُمْ

په اندازه | د یو دے ذرے | په آسمانونو کښې | او نه په زمکه کښې | او نشته | د دوی دپاره

هغوی (خو) په آسمانونو او په زمکه کښې د ذرے برابر (د یو څیز) اختیار نه لري او نه په آسمانونو

فِيْهِمَا مِنْ شِرْكٍ وَّمَا لَهٗ مِنْهُمْ مِّنْ ظَهِيْرٍ ۞ وَلَا تَنْفَعُ

په دے دواړو کښې | څه شرکت | او نشته | د الله دپاره | د دوی نه | څوک مدد ګار | او فائده نه ورکوي

او زمکه کښې د دوی څه برخه شته او نه په دوی کښې څوک د الله مدد ګار شته او د الله تعالیٰ په وړاندے

الشَّفَاعَةُ عِنْدَهٗٓ اِلَّا لِمَنْ اَذِنَ لَهٗ ۗ حَتّٰٓى اِذَا

سفارش | د هغه په نزد | مګر | هغه چا ته | چه هغه اجازت اوکړي | د هغه دپاره | تر دے | چه کله

(د هیڅ چا) سفارش هیڅ چا ته فائده نه ورکوي سوا د هغه چا نه چه د هغه په باره کښې الله پخپله اجازت ورکړي تر دے چه

فُزِّعَ عَنْ قُلُوْبِهِمْ قَالُوْا مَاذَا ۙ قَالَ رَبُّكُمْ ۗ قَالُوا

لرے کړے شي یره | د دوی د زړونو نه | (نو) وائي به دوی | څه | اووئیل | رب ستاسو؟ | وائي هغوی

کله دے شفعاؤ د زړونو نه یره (هیبت) لرے شي نو دوی به اووائي چه ستاسو رب څه اووئیل نو خبر راوړونکے ملائک به هغوی ته

الْحَقَّ ۚ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ ۞ قُلْ مَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمٰوٰتِ

چه دے وئیل حق | او هم هغه | ډیر اوچت | ډیر لوئے دے | او وایه | څوک | رزق درکوي تاسو ته | د | آسمانونو

جواب کښې اووائي چه حق خبر ئے ارشاد اوفرمائیلو (یعني د مؤمنانو دپاره سفارش اجازت اوشو) او هغه ډیر اوچت ډیر لوئے دے

وَالْاَرْضِ ۗ قُلِ اللّٰهُ ۙ وَاِنَّآ اَوْ اِيَّاكُمْ لَعَلٰى هُدًى

او د زمکے نه | او وایه | الله | او بیشکه مونږ | یا | تاسو | خامخا یو په هدایت

د دوی نه تپوس اوکړه چه تاسو ته د آسمانونو او د زمکے نه رزق څوک درکوي؟ او وایه چه الله. او ورته او وایه چه مونږ او تاسو کښې

اَوْ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ۞ قُلْ لَّا تُسْئَلُوْنَ عَمَّآ اَجْرَمْنَا

یا په ګمراهئ | ښکاره کښې | او وایه | تاسو نه به تپوس نشي کیدے | د هغه څه په باره کښې | چه مونږ جرم کړے وي

یوه ډله په سمه لاره ده او بله ډله په ګمراهئ کښې پرته ده دوی ته او وایه چه نه به زمونږ د جرمونو تاسو نه تپوس کیږي

وَلَا نُسْئَلُ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ۝ قُلْ يَجْمَعُ بَيْنَنَا رَبُّنَا

اوزمونږ نه به تپوس نه شي کيدے | د هغه څه په باره کښ | چه تاسو يې کوئ | او وايه | جمع به کړي | مونږ لره | رب زمونږ

اونه به ستاسو د عملونو زمونږ نه تپوس کيږي او وايه چه زمونږ پروردګار به مونږ ټول را جمع کړي

ثُمَّ يَفْتَحُ بَيْنَنَا بِالْحَقِّ ؕ وَهُوَ الْفَتَّاحُ الْعَلِيْمُ ۝ قُلْ

بيا به | فيصله او کړي | په مينځ مونږ کښ | په حق سره | او هغه دے | (ښه) فيصله کوونکے | ډير پوهه | او وايه

بيا به زمونږ تر مينځ په حقه فيصله او کړي او هم هغه ښه فيصله کوونکے ډير پوهه ذات دے

اَرُوْنِيَ الَّذِيْنَ اَلْحَقْتُمْ بِهٖ شُرَكَآءَ كَلَّا ؕ بَلْ

او ښايئ ماته | هغه کسان | چه تاسو (هغوی) يو ځائے کړي دي | د الله سره | شريکان | هيڅکله نه | بلکه

(اے نبی! دے مشرکانو ته) او وايه چه لږ ماته هغه شريکان وښايئ چه تاسو د الله تعالیٰ سره يو ځائے کړي دي ناهرګز نه

هُوَ اللّٰهُ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ

هم هغه دے | الله | زورور | ډير حکمت والا | او نه ئے ليږلے مونږ ته | مګر | د ټولو | خلقو دپاره

(د هغه شريک نشته) بلکه هغه الله ډير زورور او لوے حکمت والا دے او (اے نبی!) مونږ (خو) ته د ټولو انسانانو دپاره

بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝ وَيَقُوْلُوْنَ

زيرے ور کوونکے | او يروونکے | ليکن | اکثر | خلق | نه پوهيږي | او وائی دوی

زيرے ور کوونکے او يروونکے پيغمبر راليږلے ئے ليکن اکثر خلق نه پوهيږي او (تا ته) وائی که چرے تاسو

مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝ قُلْ لَّكُمْ مِّيْعَادُ

چه کله به وي | دا | وعده | که چرے | يئ تاسو | رشتني | او وايه | تاسو دپاره | وعده ده

واقعي رشتني يئ نو (د قيامت) دا وعده به کله پوره کيږي؟ ته ورته او وايه چه تاسو سره د يوے دا سے

يَوْمٍ لَّا تَسْتَاْخِرُوْنَ عَنْهُ سَاعَةً وَّلَا تَسْتَقْدِمُوْنَ ۝ وَقَالَ ع

د (دا سے) ورځے | چه تاسو به نه وروستو کيدے شئ | د هغے نه | يو ساعت | او نه به مخکښ کيدے شئ | او وائی

مقررے ورځے وعده (نيټه) ده چه تاسو به د هغے نه ته يو ساعت وروستو کيدے شئ او نه مخکښ کيدے شئ

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ بِهٰذَا الْقُرْاٰنِ وَلَا بِالَّذِيْ

هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | هيڅ کله مونږ ايمان نه راوړو | په دے | قرآن | او نه په هغه (کتاب)

او کافران خلق وائی چه نه مونږ په دے قرآن ايمان راوړو او نه په هغه (کتاب) چه

بَيْنَ يَدَيْهِ ؕ وَلَوْ تَرٰٓى اِذِ الظّٰلِمُوْنَ مَوْقُوْفُوْنَ

چه د دے نه مخکښے وو | او که چرے ته او وينے | هغه وخت | چه ظالمان به | او درول شي

د دے نه مخکښے وو، او که چرے ته هغه وخت او وينے کله به چه ظالمان د خپل رب مخے ته ولاړ وي

عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ يَرْجِعُ بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضِ ۨالْقَوْلَ ۚ يَقُوْلُ

د خپل رب په وړاندے | واپس کوي به | بعضے د دوی نه | بعضو ته | خبره | وائی به

(نو) يو بل ته به خبره ور اړوي (يعنی يو بل ته به جواب نه ور کوي) کوم خلق چه په دنيا کښ کمزوري ګڼړلي شوي وو هغوي به

الَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْا لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا لَوْلَآ اَنْتُمْ

هغه کسان | چه کمزوري ګڼلي شوي وو | هغه خلقو ته | چه تکبر ئې کړے وو | که چرے نه وئ تاسو

هغه چاته وائي چه ځان ئې لوئے ګڼلے وو چه که چرے تاسو نه وئ

لَكُنَّا مُؤْمِنِيْنَ ۝ قَالَ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا لِلَّذِيْنَ

نو خامخا مونږ به وو | مؤمنان | اَو به وائي | هغه کسان | چه ځان ئې لوئے ګڼلے وو | هغه کسانو ته

نو مونږ به خامخا مؤمنان وُو ۔ غټان به کمزورو ته اووائي

اسْتُضْعِفُوْٓا اَنَحْنُ صَدَدْنٰكُمْ عَنِ الْهُدٰى بَعْدَ اِذْ

چه کمزوري ګڼلي شوي وو | آیا مونږ | بند کړي وئ تاسو | د هدایت نه | وروستو د دے نه | کله چه

آیا مونږ تاسو د هدایت (د قبلولو) نه منع کړي وئ څه وخت چه هغه (هدایت) تاسو ته راغلے وو؟

جَآءَكُمْ بَلْ كُنْتُمْ مُّجْرِمِيْنَ ۝ وَقَالَ الَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْا

راغے تاسو ته | (نه) بلکه | وئ تاسو | (پخپله) جرم کوونکي | او او به وائي | هغه کسان | چه کمزوري ګڼلي شوي وو

بلکه (اصل خبره دا ده) چه تاسو په خپله مجرمان وئ او کمزوري خلق به غټانو ته اووائي

لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا بَلْ مَكْرُ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ اِذْ

هغه کسانو ته | چه ځان ئې لوئے ګڼلے وو | (نه) بلکه | مکر | د شپے | او د ورځے | کله چه به

چه نه بلکه دا خو ستاسو د شپے او د ورځے مکرونو (تدبیرونو) (مونږ منع کړي وو) چه

تَاْمُرُوْنَنَآ اَنْ نَّكْفُرَ بِاللّٰهِ وَنَجْعَلَ لَهٗٓ اَنْدَادًا ؕ وَاَسَرُّوا

حکم کولو تاسو مونږ ته | چه مونږ کفر او کړو | په الله | او جوړ کړو | د هغه د پاره | شریکان | او پټ به کړي

تاسو به راته حکم کولو چه د الله نه انکار او کړو او د هغه سره شریکان جوړ کړو. او (دا ټول چه)

النَّدَامَةَ لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ ؕ وَجَعَلْنَا الْاَغْلٰلَ فِيْٓ اَعْنَاقِ

پښیمانتیا | کله چه | او وینی دوی | عذاب لره | او مونږ به واچوو | طوقونه | په څټونو

کله عذاب او وینی نو خپله پښیمانتیا به پټوي. او مونږ به د کافرانو په غاړو کښې طوقونه واچوو.

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ هَلْ يُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝

د هغه کسانو کښې | چه کفر ئې کړے دے | نه به ورکړے کیږي دوي ته بدله | مګر | د هغه څه چه | دوی به کول.

او دوی ته به د خپل عمل نه سوا د بل څه بدله (سزا) نه ملاویږي

وَمَآ اَرْسَلْنَا فِيْ قَرْيَةٍ مِّنْ نَّذِيْرٍ اِلَّا قَالَ مُتْرَفُوْهَآ ۙ

او نه دي لیږلے مونږ | په هیڅ یو کلی کښې | هیڅ یو یروونکے | مګر | ویل به | خوشحاله (بدمستو) خلقو د هغے

او مونږ چه کوم یو کلی ته هم یو پیغمبر لیږلے دے نو د هغے خوشحاله (مالداره) خلقو به هم دا ویل چه

اِنَّا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ كٰفِرُوْنَ ۝ وَقَالُوْا نَحْنُ

(چه) بیشکه مونږ | په هغه څه | چه تاسو رالیږلي شوي یئ | په هغے باندے | کفر کوونکي یو | او وئیل به دوی | چه مونږ

تاسو د کوم پیغام سره رالیږلي شوي یئ مونږ د هغے نه انکار کوو او (دا به ئې هم) ویل چه زمونږ

أَكْثَرُ أَمْوَالًا وَّأَوْلَادًا ۙ وَّمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ۝ قُلْ إِنَّ

ډیر یو | په مال | او اولاد کښې | او نه یو | مونږ | عذابیدونکي | او وایه | بے شکه

مال او اولاد تاسو نه زیات دے او مونږ ته به عذاب نه ملاویږی. (اے نبی! ته ورته) او وایه چه

رَبِّي يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَاءُ وَيَقْدِرُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ

رب زما | فراخوی | رزق | چالره | چه وغواړی | او کموی ئے | لیکن | اکثر

زما رب چه چاله او غواړی رزق ورله فراخوی او (چاله چه او غواړی رزق ورله) تنګوی لیکن اکثر

ع

النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ۝ وَمَا أَمْوَالُكُمْ وَلَا أَوْلَادُكُمْ بِالَّتِي

د خلقو نه | نه پوهیږی | او نه دی | مالونه ستاسو | او نه اولاد ستاسو | دا سے څیز

(په دے خبره) نه پوهیږی. او (اے خلقو!) ستاسو مال او اولاد څه دا سے څیز نه دے

تُقَرِّبُكُمْ عِنْدَنَا زُلْفَىٰ إِلَّا مَنْ آمَنَ وَعَمِلَ

چه هغه نزدے کړی تاسو | مونږ ته | په نزدیکت کښې | مګر | هغه څوک | چه ایمان ئے راوړے دے | او عمل ئے کړے دے

چه تاسو به زمونږ مقرب جوړ کړی البته چا چه ایمان راوړے دے او نیک اعمال ئے کړی دی

صَالِحًا فَأُولَٰئِكَ لَهُمْ جَزَاءُ الضِّعْفِ بِمَا عَمِلُوا

نیک | نو هم دغه خلق دی | چه دوی دپاره | بدله ده | دوچنده | په وجه د هغه څه | چه دوی عملونه کړی دی

نو هغوی ته به د خپل عمل دوچند اجر ورکولے شی

وَهُمْ فِي الْغُرُفَاتِ آمِنُونَ ۝ وَالَّذِينَ يَسْعَوْنَ فِي آيَاتِنَا

او دوی به وی | په بالاخانو کښې | امن والا | او هغه خلق | چه کوشش کوی | په آیتونو زمونږ کښې

او (د جنت) په بالاخانو کښې به په امن او سیږی. او کوم خلق چه زمونږ د آیتونو د ناکامه کولو کوشش کوی

مُعَاجِزِينَ أُولَٰئِكَ فِي الْعَذَابِ مُحْضَرُونَ ۝ قُلْ إِنَّ رَبِّي

عاجزه کوونکی | دغه خلق به | په عذاب کښې | حاضرولے شی | او وایه | بیشکه | رب زما

هغوی به عذاب ته ورمخامخ (حاضر) کړے شی ته ورته او وایه چه زما رب

يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَيَقْدِرُ لَهُ ۗ

فراخوی | رزق | د چا دپاره | چه او غواړی | د بندګانو خپلو نه | او کموی یئ | هغه دپاره

په خپلو بندګانو کښې چاله چه او غواړی رزق ورله فراخوی او (چاله چه او غواړی رزق ورله) تنګوی

وَمَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ ۖ وَهُوَ خَيْرُ

او هغه | چه تاسو ئے خرچ کوئ | د څه څیز نه | نو الله | په بدل ئے ورکوی دهغے | او هغه دے | ډیر بهٔ

او تاسو چه څه هم خرچ کوئ نو دهغے په ځائے به الله نور څه درکوی او هغه د ټولو نه

الرَّازِقِينَ ۝ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ يَقُولُ لِلْمَلَائِكَةِ

رزق ورکوونکے | او په هغه ورځ | چه هغه به راجمع کړی دوی | ټول | بیا به | او وائی | ملائکو ته

بهٔ رزق ورکوونکے دے او (هغه ورځ یاد ساتئ) په کومه ورځ به چه الله دا ټول راجمع کړی بیا به ملائکو ته او وائی

أَهٰؤُلَآءِ إِيَّاكُمْ كَانُوْا يَعْبُدُوْنَ ۝۴۰ قَالُوْا سُبْحٰنَكَ

آیاهم دا (هغه خلق) دي | چه خاص ستاسو به | دوی عبادت کولو | او به وائی ملائک | پاکی ده تالره

آیا دے خلقو به واقعی خاص ستاسو عبادت کولو؟ ملائک به او وائی چه مونږ خو ستا پاکی بیانوو زمونږ تعلق خو

أَنْتَ وَلِيُّنَا مِنْ دُوْنِهِمْ ۚ بَلْ كَانُوْا يَعْبُدُوْنَ الْجِنَّ ۚ

(اے الله) ته | زمونږ دوست ئے | بے د دوی نه | بلکه | دوی وو | چه عبادت به ئے کولو | د پیریانو

تاسره دے دوی سره نه دے (ته زمونږ کارساز ئے دوی نه دي) بلکه (اصل خبره دا ده چه) دوی به د پیریانو عبادت کولو

أَكْثَرُهُمْ بِهِمْ مُّؤْمِنُوْنَ ۝۴۱ فَالْيَوْمَ لَا يَمْلِكُ بَعْضُكُمْ

اکثر د دوی | په پیریانو باندے | ایمان راوړونکی وو | پس نن ورځ | اختیار نه لری | بعضے ستاسو

او اکثرو پکښې په هغوی ایمان لرلو پس (نو) نن ورځ په تاسو کښې هیڅوک نه چا ته

لِبَعْضٍ نَّفْعًا وَّلَا ضَرًّا ۭ وَنَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ذُوْقُوْا

د بعضو د پاره | د فائدے | او نه د نقصان | او او به وایو مونږ | هغه کسانو ته | چه ظلم ئے کړے وو | او څکئ

د فائدے رسولو اختیار لری او نه د نقصان رسولو. او مونږ به ظالمانو ته او وایو

عَذَابَ النَّارِ الَّتِيْ كُنْتُمْ بِهَا تُكَذِّبُوْنَ ۝۴۲ وَإِذَا تُتْلٰى

عذاب | د اور | هغه | چه تاسو به | هغے لره | دروغ گنړلو | او کله چه | لوستلے کیږی

چه د هغه اور مزه او څکئ چه تاسو به دروغ گنړلو او کله چه دوی ته زمونږ آیتونه لوستلی کیږی

عَلَيْهِمْ أٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ قَالُوْا مَا هٰذَآ إِلَّا رَجُلٌ يُّرِيْدُ

په دوی باندے | آیتونه زمونږ | واضحه | (نو) وائی دوی | نه دے دا | مگر | یو سړے | چه غواړی

نو دوی (د پیغمبر په باره کښې) وائی چه دا سړے خو بس دا غواړی چه

أَنْ يَّصُدَّكُمْ عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ أٰبَآؤُكُمْ ۚ وَقَالُوْا مَا هٰذَآ

چه بند کړی تاسو | د هغه څه نه | چه عبادت به ئے کولو | پلارانو ستاسو | او وائی دوی | نه دی دا

ستاسو پلار نیکه چه د چا عبادت کولو د هغے نه مو واړوی (منع کړی) او وائی چه دا (قرآن)

إِلَّآ إِفْكٌ مُّفْتَرًى ۭ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلْحَقِّ لَمَّا

مگر | دروغ | د ځان نه جوړ کړے شوی | او وائی | هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | د حق په باره کښې | کله چه

خو بس د ځان نه جوړ کړے شوی دروغ دي او دے کافرانو ته چه کله حق راغے

جَآءَهُمْ ۙ إِنْ هٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝۴۳ وَمَآ أٰتَيْنٰهُمْ

راغے هغه دوی ته | نه دے دا | مگر | جادو | ښکاره | او نه دے ورکړے مونږ دوی ته

نو د هغے په باره کښې ئے دا او ویل چه دا خو دیو ښکاره جادو نه علاوه بل څه نه دی حالانکه مونږ دوی ته

مِّنْ كُتُبٍ يَّدْرُسُوْنَهَا وَمَآ أَرْسَلْنَآ إِلَيْهِمْ قَبْلَكَ مِنْ نَّذِيْرٍ ۝۴۴ ؕ

هیڅ یو کتاب | چه دوی ئے لولی | او مونږ نه دی لیږلے | دوی ته | مخکښے ستا نه | هیڅ یرووُنکی

د دے نه مخکښے نه څه داسے کتابونه ورکړی وو چه دوی ئے لولی او نه مو ورته ستا نه مخکښے څوک یرووُنکی رالیږلے وو

وَكَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۙ وَمَا بَلَغُوْا مِعْشَارَ مَآ

اودروغ گڼلي وو (توحيد لره) | هغه کسانو | چه مخکښې وو دوی نه | او نه دي رسيدلي دوی | لسمې حصې | دهغه شي ته

او دوی نه مخکښې خلقو هم (حق) دروغژن گڼلي وو او هغوی ته چه موږ کوم قوت بدني او مالي ور کړے وو نو دا مشرکين خو

اٰتَيْنٰهُمْ فَكَذَّبُوْا رُسُلِيْ ۫ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ۝

چه ورکړي وو موږ هغوی ته | پس دروغ او گڼل هغوی | پيغمبران زما | پس څنګه | شو | عذاب زما

دهغې لسمې حصې ته هم نه دي رسيدلي خو بيا هم کله چه هغوی زما پيغمبران دروغژن او گڼل نو (اوگوره) چه زما عذاب څنګه وو

قُلْ اِنَّمَآ اَعِظُكُمْ بِوَاحِدَةٍ ۚ اَنْ تَقُوْمُوْا لِلّٰهِ مَثْنٰى

او وايه | چه بيشکه | زه نصيحت کوم تاسو ته | ديو ے خبرے | (دا) چه او دريږئ تاسو | د الله دپاره | دوه دوه

(اے نبي!) دوی ته او وايه چه زه تاسو ته صرف ديوے خبرے نصيحت کوم هغه دا چه تاسو خالص دالله دپاره دوه دوه

وَفُرَادٰى ثُمَّ تَتَفَكَّرُوْا ۫ مَا بِصَاحِبِكُمْ مِّنْ جِنَّةٍ ۭ

او يو يو | بيا | سوچ او کړئ | نشته دے | ستاسو په ملګري بانديے | هيڅ ليونتوب

او يو يو او دريږئ او بيا غور او کړئ (نو تاسو ته به معلومه شي چه) ستاسو دے رفيق (پيغمبر) کښې هيڅ

اِنْ هُوَ اِلَّا نَذِيْرٌ لَّكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيْدٍ ۝ قُلْ

نه دے هغه | مگر | يرووونکے | تاسو لره | مخکښې | د عذاب | ډير سخت نه | او وايه

د ليونتوب خبره نشته دے خو ديو سخت عذاب د راتلو نه مخکښې تاسو ته خبر درکوي، ته ورته او وايه

مَا سَاَلْتُكُمْ مِّنْ اَجْرٍ فَهُوَ لَكُمْ ۭ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا

هغه | چه غواړم زه ستاسو نه | څه | اجر | نو هغه | ستاسو شو | نه دے اجر زما | مگر

که چرے ما ستاسو نه په دے (دعوت) څه اجرت غوښتلے وي نو هغه ستاسو شو زما اجر خو

عَلَى اللّٰهِ ۚ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ۝ قُلْ اِنَّ رَبِّيْ

په الله بانديے | او هغه دے | په هر يو | څيز بانديے | گواه | او وايه | بيشکه | رب زما

دالله نه سوا د بل چا په ذمه نشته او هغه په هر څيز خبردار دے (حاضر ناظر دے) او وايه چه زما رب

يَقْذِفُ بِالْحَقِّ ۚ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ ۝ قُلْ جَآءَ الْحَقُّ

اُولي | په حق بانديے (باطل لره) | هغه ډير پوهه دے | په غيبو بانديے | او وايه | راغے | حق

په حق سره گوزار ونه کوي په باطل بانديے او هغه د غيب تولے خبرے پيژني. او وايه حق راغلے دے او باطل (معبود)

وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيْدُ ۝ قُلْ اِنْ ضَلَلْتُ

او پيدائش شي کولے په اول ځل بانديے | باطل (معبود) | او نه دوباره پيدائش کولے شي | او وايه | که چرے گمراه يم زه

نه په اول ځل څه پيدا کولی شي او نه به ئے دوباره پيدا کړي او وايه چه که چرے زه (د سمے لارے نه) گمراه يم

فَاِنَّمَآ اَضِلُّ عَلٰى نَفْسِيْ ۚ وَاِنِ اهْتَدَيْتُ فَبِمَا يُوْحِيْٓ

نو بيشکه | زه گمراه کيږم | (او وبال زما) په خپل ځان دے | او که چرے | زه په هدايت يم | نو په دے وجه | چه وحي کوي

نو زما د گمراه کيدو نقصان به هم ماته رسي او که چرے زه په سمه لار يم نو دا دهغه وحي په وجه دي چه ماته ئے خپل رب

اِلٰى رَبِّىْ ؕ اِنَّهٗ سَمِيْعٌ قَرِيْبٌ ۝ وَلَوْ تَرٰٓى اِذْ فَزِعُوْا

ما ته | رب زما | بیشکه هغه دے | ښه اوریدونکے | نژدے | او که چرے | ته اووینې | کله چه | دوی به اویریږی

راالیږی. یقیناً هغه ډیر ښه اوریدونکے هر چا ته نژدے دے او (اے نبی!) که چرے ته هغه وخت اووینې کله به چه دوی ګبراوشی

فَلَا فَوْتَ وَاُخِذُوْا مِنْ مَّكَانٍ قَرِيْبٍ ۝ لا وَّقَالُوْٓا اٰمَنَّا

نو نه به وی بچ کیدل | او دوی به اونیولی شی | د ځائے | نژدے نه | او اوبه وائی دوی | چه مونږ ایمان راوړے دے

نو د خلاصیدو څه لار به نه وی او دوی به د نژدے ځای نه رااونیولی شی (او هغه وخت به) دوی اووائی چه مونږ په دے باندے

بِهٖ ۚ وَاَنّٰى لَهُمُ التَّنَاوُشُ مِنْ مَّكَانٍۭ بَعِيْدٍ ۝ ج وَّقَدْ

په دے | او چرته به وی | د دوی دپاره | رانیول (د ایمان) | د ځائے | لرے نه | او یقیناً

ایمان راوړے دے حالانکه د کومه لرے ځائی نه د دوی لاس ته (ایمان) څنګه راتلے شی؟ څنګه چه د ایمان راوړلو ځائے دنیا وه،

كَفَرُوْا بِهٖ مِنْ قَبْلُ ۚ وَيَقْذِفُوْنَ بِالْغَيْبِ مِنْ مَّكَانٍۭ

دوی کفر کړے وو | په دے باندے | مخکښې د دینه | او ویشتل به کول دوی | بے دلیلو | د ځائے

حالانکه دوی د دے نه مخکښے د دے نه انکار کړے وو او د لرے نه به ئے بے دلیله خیال غشی ویشتل۔

بَعِيْدٍ ۝ وَحِيْلَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ مَا يَشْتَهُوْنَ كَمَا

لرے نه | او پرده به واچولے شی | د دوی په مینځ کښې | او په مینځ | د هغه څه کښې | چه دوی ئے غواړی | لکه څنګه

او (په هغه وخت) به چه دوی د کوم څیز (ایمان) آرزو کوی د هغے او د دوی تر مینځه به یو دیوال پرده شی

فُعِلَ بِاَشْيَاعِهِمْ مِّنْ قَبْلُ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا فِىْ شَكٍّ مُّرِيْبٍ ۝ ع

چه کار او کړے شو | د دوی د ډلو سره | مخکښې د دینه | بیشکه دوی | وو | په شک | مضبوط کښې

لکه څنګه چه د دے نه مخکښے د دوی په شان خلقو سره کار او کړے شو حقیقت دا دے چه دا ټول په پوخ شک کښې پراته وو

رکوعاتها [٥]	سورة فاطر مكيّة	آياتها [٣٥]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ جَاعِلِ الْمَلٰٓئِكَةِ

ټول حمدونه | د هغه الله دپاره دی | چه پیدا کوونکے | د آسمانونو | او د زمکے دے | جوړونکے دے | ملائکو لره

ټول حمدونه هغه الله دپاره دی چه د آسمانونو او د زمکے پیدا کوونکے دے (او چه) فرشتے ئے

رُسُلًا اُولِىْٓ اَجْنِحَةٍ مَّثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ ؕ يَزِيْدُ فِى الْخَلْقِ

پیغام رسوونکی | وزرو | والا | دوه دوه | او درے درے | او څلور څلور | زیاتول کوی | په پیدائش کښې

پیغام رسوونکے مقرر کړی دی چه دوه دوه، درے درے او څلور څلور وزرو والا دی، او بعضے ملائکو ته ئے د دینه زیات ئے وزرے

مَا يَشَآءُ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝١ مَا يَفْتَحِ
څه چه | اوغواړي | بيشكه | الله | په هر يو | څيز باندے | قادر دے | هغه | چه پرانزي
څه چه اوغواړي. بيشكه الله په هر څيز باندے قادر دے. الله تعالی چه
هغه چه په خپل مخلوق كښ څه غواړي نو زياتوي ئے. يقيناً الله تعالی په هر څيز قادر دے الله تعالی چه
ورکړے دي څكه چه)
اللّٰهُ لِلنَّاسِ مِنْ رَّحْمَةٍ فَلَا مُمْسِكَ لَهَا ۚ وَمَا يُمْسِكْ ۙ
الله | دخلقو دپاره | د رحمت نه | نو نشته | بندوونكے | دهغے | او هغه څه | چه بندے كړي هغه
دخپل رحمت (دروازه) (دخپل) مخلوق دپاره پرانځي نو هغه څوک بندولے نه شي او (کومه) دروازه چه
فَلَا مُرْسِلَ لَهٗ مِنْۢ بَعْدِهٖ ۭ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝٢
نو نشته دے | آزادوونكے | دهغے | وروستو دهغه نه | او هغه دے | ډير زورور | لوے حكمت والا
بنده كړي نو روسته دبندولو دهغه نه ئے څوک پرانستلے نه شي او هم هغه ډير زورور او لوے حكمت والا ذات دے
يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ ۭ هَلْ مِنْ خَالِقٍ
اے خلقو | ياد كړئ | نعمت | دالله | په تاسو باندے | آيا شته | څوک پيدا كوونكے ذات
اے خلقو! دالله تعالی هغه نعمتونه ياد كړئ چه په تاسو ئے كړي دي آيا دالله تعالی نه سوا بل داسے خالق شته
غَيْرُ اللّٰهِ يَرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ۭ لَآ اِلٰهَ
سوا | دالله نه | چه رزق دركوي هغه تاسو ته | د آسمان | او دزمكے نه | نشته دے | حقدار دبندگۍ
چه تاسو له د آسمانونو او د زمكے نه رزق دركړي؟ دهغه نه سوا هيڅ څوک د عبادت لائق نشته.
اِلَّا هُوَ ڮ فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ۝٣ وَاِنْ يُّكَذِّبُوْكَ فَقَدْ
سوا | دهغه نه | پس كوم خوا | اړولے شئ تاسو | او كه چرے | دوي دروغژن گنړي تا | نو يقيناً
نو دا تاسو كوم طرف ته اړولے روان يئ؟ او (اے نبي!) كه داخلق تا دروغژن گنړي نو مه خفه كيږه څكه چه ستا نه مخكے
كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ ۭ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ۝٤
دروغژن گنړلي شوي دي | پيغمبران | مخكے ستا نه | او خاص الله ته | واپس كولے شي | كارونه
هم پيغمبران دروغژن گنړلي شوي دي. او ټول معاملات (كارونه) به اخير الله ته واپس كيږي
يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيٰوةُ
اے خلقو | بے شكه | وعده | دالله | حقه ده | نو دهوكه دے نه كړي تاسو | ژوند
اے خلقو! يقين اوكړئ چه دالله تعالی وعده رښتنے ده نو دنيا ژوند مو (چرته) دهوكه نه كړي
الدُّنْيَا ۥ وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ ۝٥ اِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمْ
دنيوي | او دهوكه دے نه كړي تاسو | دالله په باره كښ | دهوكه باز | بے شكه | شيطان | ستاسو
او نه مو دالله تعالی په باره كښ دهوكه باز (شيطان) دهوكه كړي. يقين اوكړئ چه شيطان ستاسو
عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوْهُ عَدُوًّا ۭ اِنَّمَا يَدْعُوْا حِزْبَهٗ لِيَكُوْنُوْا
دشمن دے | پس اونيسئ دهٔ لره | (خپل) دشمن | بے شكه | دے رابلي | ډله خپله | دے دپاره چه شي هغوي
دشمن دے نو خپل دشمن ئے اوگنړئ. يقيناً هغه خپله ډله (خپل منونكي) (خپل ځان ته) دے دپاره رابلي چه (اخير)

مِنْ اَصْحٰبِ السَّعِيْرِ ۝٦ اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَهُمْ عَذَابٌ

د دوزخ والو نه | هغه كسان | چه كفر ئے كړے دے | دهغوى دپاره | عذاب دے

هغوى په دوزخيانو كښې شامل شي. دد ے (حزب الشيطن) كافرانو دپاره ډير سخت عذاب تيار شوے دے

شَدِيْدٌ ۝ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ

ډير سخت | او هغه كسان | چه ايمان ئے راوړے دے | او عملونه ئے كړي دي | نيك | دهغوى دپاره

او چا چه ايمان راوړے دے او نيك عملونه ئے كړي دي (حزب الرحمٰن) دهغوى دپاره

ع

مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ كَبِيْرٌ ۝٧ اَفَمَنْ زُيِّنَ لَهٗ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ

بخښنه ده | او اجر دے | ډير لوئے | آيا نو هغه څوك | چه ښائسته كړے شوي دے | هغه ته | بد | عمل خپل

مغفرت او ډير لوئے اجر دے آيا چا ته چه خپل بد عملونه ښائسته (ښكاره) كړے شوي وي پس هغه ئے ښه گڼړي؟

فَرَاٰهُ حَسَنًا ۚ فَاِنَّ اللّٰهَ يُضِلُّ مَنْ يَّشَآءُ وَيَهْدِيْ

نو ويني دے هغے لره | ښائسته | پس بے شكه | الله | گمراه كوي | چا لره | چه او غواړي | او سمه لار ښائي

(خبره داده چه) الله تعالىٰ چا له او غواړي گمراه ئے كړي او چا له چه او غواړي نو په سمه لار ئے روان كړي

مَنْ يَّشَآءُ ۖ فَلَا تَذْهَبْ نَفْسُكَ عَلَيْهِمْ حَسَرٰتٍ ۚ اِنَّ

چا ته | چه او غواړي | پس لاړه دے نه شي | ساه ستا | په دوي پسے | دوجے د افسوسونو نه | بے شكه

تو (اے نبي!) په دے كافرانو پسے دے د افسوس په وجه ستا ساه لاړه نشي يقين او ساته

اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِمَا يَصْنَعُوْنَ ۝٨ وَاللّٰهُ الَّذِيْٓ اَرْسَلَ الرِّيٰحَ

الله | ښه پوهه دے | په هغه څه | چه دوي ئے كوي | او الله | هغه (ذات) دے | چه راليږي | هواگانے

چه دوي چه څه كوي الله تعالىٰ ته هغه معلوم دي او الله تعالىٰ هم هغه ذات دے چه هواگانے راليږي

فَتُثِيْرُ سَحَابًا فَسُقْنٰهُ اِلٰى بَلَدٍ مَّيِّتٍ فَاَحْيَيْنَا بِهِ

نو پورته كوي هغه | وريځو لره | بيا مونږ او چلوو هغه | يو ښار | وچ ته | نو تازه كړو مونږ | په هغے سره

بيا هغه هواگانے وريځے اوچتے كړي بيا مونږ هغه داسے ښار ته بوځو چه هغه (دقحط دوجے) اوچ شوے وي، نو مونږ

الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ كَذٰلِكَ النُّشُوْرُ ۝٩ مَنْ كَانَ يُرِيْدُ

زمكه | پس | د وچوالي د هغے نه | دغه شان به | دوباره پيدائش وي | هغه څوك | چه دے غواړي

د هغے (اوبو) په ذريعه زمكه د هغے د اوچوالي نه پس تازه كړو بس هم دغه شان به د انسانانو بيا ژوندون وي څوك چه

الْعِزَّةَ فَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ جَمِيْعًا ۚ اِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ

عزت | نو خاص الله دپاره دے | عزت | ټول | خاص هغه ته | ورخيژي | كلمے

عزت غواړي نو عزت ټول د الله تعالىٰ (په قبضه كښې) دے پاكيزه خبرے (كلمے) الله تعالىٰ طرف ته بره خيژي

الطَّيِّبُ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهٗ ۚ وَالَّذِيْنَ يَمْكُرُوْنَ

پاك | او عمل | نيك هم | پورته كوي الله هغے لره | او هغه خلق | چه تدبيرونه كوي

او نيك عمل هم الله بره خيژوي. او كوم خلق چه (د حق خلاف) ناكاره تدبيرونه جوړوي

السَّيِّاٰتِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ؕ وَمَكْرُ اُولٰٓئِكَ هُوَ

دَ بدو کارونو | د هغوی دپاره | عذاب دے | ډیر سخت | او تدبیر (چل) | د دغه خلقو | هغه به

د هغوی دپاره به ډیر سخت عذاب وی او د هغوی دا تدبیر به برباد شی

يَبُوْرُ ۝ وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ ثُمَّ

بے کاره شی | او الله | پیدا کړی تاسو | د خاورے نه | بیا | د نطفے نه | بیا ئے

او الله تعالیٰ تاسو د خاورے نه پیدا کړئ بیا ئے د نطفے نه (پیدا کړئ) بیا ئے

جَعَلَكُمْ اَزْوَاجًا ؕ وَمَا تَحْمِلُ مِنْ اُنْثٰى وَلَا تَضَعُ اِلَّا

جوړ کړئ تاسو | جوړے | او نه حامله کیږی | یوه زنانه | او نه (ئے) زیږوی | مګر

جوړے جوړے کړئ او یوه زنانه چه حمل اخلی یا زیږون کوی

بِعِلْمِهٖ ؕ وَمَا يُعَمَّرُ مِنْ مُّعَمَّرٍ وَّلَا يُنْقَصُ مِنْ عُمُرِهٖٓ اِلَّا

په علم د هغهٔ سره | او نه ور کولے کیږی عمر | یو عمرور کړے شوی ته | او نه کمیدے شی | د عمر د هغهٔ نه | مګر

نو دا هر څهٔ د الله په علم کښې دی، او نه د چا عمر زیاتیږی او نه کمیږی مګر دا ټول

فِىْ كِتٰبٍ ؕ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ۝ وَمَا يَسْتَوِى

(دا) په کتاب کښې دی | بیشکه | دا کار | په الله بانډے | آسان دے | او نه دی برابر

په یو کتاب (لوحِ محفوظ) کښې درج دی. یقیناً دا کار د الله ته ډیر آسان دی. او دوه

الْبَحْرٰنِ ۗ هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ سَآئِغٌ شَرَابُهٗ وَهٰذَا

دوه دریابونه | دا (یو) | خوږ دے | تنده ماتوونکے | چه آسان دی | څکل د هغے | او دا (بل)

دریابونه برابر نه دی یو دا دے خوږ دے چه تنده ماتوی او څکل ئے خوشګوار دی او بل

مِلْحٌ اُجَاجٌ ؕ وَمِنْ كُلٍّ تَاْكُلُوْنَ لَحْمًا طَرِيًّا وَّتَسْتَخْرِجُوْنَ

مالګین | تریو دے | او د هر یو نه | خورئ تاسو | غوښه | تازه | او راوباسئ تاسو

تریو مالګین دے او د هر یو نه تاسو تازه غوښے خورئ او هغه زیورات (ګاڼې) ترے راوباسئ

حِلْيَةً تَلْبَسُوْنَهَا ۚ وَتَرَى الْفُلْكَ فِيْهِ مَوَاخِرَ لِتَبْتَغُوْا

ګاڼې | چه اغوندئ تاسو هغه | او ته وینے | کشتۍ | په دے کښې | شلوونکی دا و بو | دے دپاره چه تاسو ولټوئ

چه هغه ستاسو دا غوستلو په کار راځی او ته کشتۍ وینے چه په دریاب کښې او به شلوی (او روانے وی)

مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ۝ يُوْلِجُ الَّيْلَ فِى النَّهَارِ

د فضل د هغه نه | او چه تاسو | شکر اوکړئ | هغه ننباسی | شپه | په ورځ کښې

دا دے دپاره چه تاسو د الله فضل اولټوئ او شکر ګزار شئ هغه (الله) شپه په ورځ کښې

وَيُوْلِجُ النَّهَارَ فِى الَّيْلِ ۙ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ؗ

او ننباسی | ورځ | په شپه کښې | او په کار ئے لګولی دی | نور | او سپوږمۍ

او ورځ په شپه کښې داخلوی او نور او سپوږمۍ ئے په کار لګولی دی.

كُلٌّ يَّجْرِيْ لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ لَهُ

هر يو | روان دے | تر يو وخت | مقرر پورے | هم دغه | الله | رب ستاسو دے | هم دهغه ده

هر يو مقرر ميعاد پورے روان دے، هم دا الله ستاسو رب دے ټوله بادشاهي هم دهغه ده

الْمُلْكُ ؕ وَالَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ مَا يَمْلِكُوْنَ

بادشاهي | او هغه كسان | چه تاسو ئے رابلئ | سوا دهغه نه | اختيار نه لري هغوي

او دهغه نه سوا چه تاسو كوم (معبودان) رابلئ نو هغوي (خو) دقجورے دهډوكي دپاسه د نرى

مِنْ قِطْمِيْرٍ ؕ اِنْ تَدْعُوْهُمْ لَا يَسْمَعُوْا دُعَآءَكُمْ ۚ وَلَوْ

دقجورے دهډوكي پوستكي | كه چرے | تاسو رابلئ هغوي | (نو) هغوي نه آوري | بلنه ستاسو | اوكه چرے

پوستكي برابر اختيار هم نه لري. كه چرے تاسو ئے رابلئ نو ستاسو بلنه (آواز) هم نه آوري، اوكه چرے بالفرض

سَمِعُوْا مَا اسْتَجَابُوْا لَكُمْ ؕ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكْفُرُوْنَ

هغوي (ئے) واوري | نو جواب نشي دركولے | تاسو ته | او په ورځ | دقيامت به | هغوي انكار كوي

واوري نو (بيا هم) تاسو ته جواب نشي دركولے او دقيامت په ورځ به دوي ستاسو (ددے) شرك نه انكار كوي

بِشِرْكِكُمْ ؕ وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثْلُ خَبِيْرٍ ۧ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ

ستاسو دشرك نه | او خبر به درنكړي تاله (هيڅوك) | پشان | دپوره خبردار ذات | اے | خلقو

او كوم ذات چه دهر څه نه پوره خبردار دے دهغه پشان به هيڅوك تاته صحيح خبره اونه ښائي اے خلقو!

اَنْتُمُ الْفُقَرَآءُ اِلَى اللّٰهِ ۚ وَاللّٰهُ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ

تاسو | محتاج يئ | الله ته | او الله | هم هغه دے | بے پروا (بے حاجته) | ستائيلے شوے

تاسو ټول الله ته محتاج يئ او الله تعالى بے حاجته (بے نياز) دے دصفتونو مستحق دے

اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ وَيَاْتِ بِخَلْقٍ جَدِيْدٍ ۚ وَمَا ذٰلِكَ

كه چرے | اوغواړي هغه | نولرے به كړي تاسو | او رابه ولي | مخلوق | نوے | او نه دے دا كار

كه هغه اوغواړي نو تاسو ټول به ختم (فنا) كړي او نوے مخلوق به پيدا كړي او دا كار

عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيْزٍ ۞ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ؕ وَاِنْ

په الله بانـدے | څه گران | او نشي اوچتولے | يو بوج اوچتونكے | بوج | دبل چا | اوكه چرے

الله تعالى ته څه گران نه دے. او هيڅ يو بوج اوچتونكے به دبل چا بوج دگناه اوچت نه كړي اوكه چرے

تَدْعُ مُثْقَلَةٌ اِلٰى حِمْلِهَا لَا يُحْمَلْ مِنْهُ شَيْءٌ وَّلَوْ

رابلي | يو درون بوج والا | دخپل بوج (داوچتولو) دپاره | نو اوچت به نه كړے شي | دهغه نه | هيڅ څيز | اگر كه

يو درون بوج والا دخپل بوج داوچتولو دپاره څوك رابلي نو (بيا به ترے هم) معمولي بوج اوچت نه كړے شي

كَانَ ذَا قُرْبٰى ؕ اِنَّمَا تُنْذِرُ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ

وي هغه | نزدے رشته دار | بے شكه | ته يروے | هغه كسان | چه يريږي | درب خپل نه

اگر كه هغه ئے نزدے خپلوان وي. (اے نبي!) ته (خو) هم هغه خلق يروے شے چه دخپل رب نه

بِالْغَيْبِ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ ؕ وَمَنْ تَزَكّٰى فَاِنَّمَا يَتَزَكّٰى
بے لیدلو | او قائموی | مونځ لره | او څوک چه | پاک شو | نو بیشکه | هغه پاک شو
بے لیدو یریږی او د مانځه پابندی کوی، او چا چه ځان پاک کړو نو یقیناً هغه د خپلے فائدے دپاره
لِنَفْسِهٖ ؕ وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ۝ وَمَا يَسْتَوِى الْاَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ ۝
دپاره فائدے دځان خپل | او خاص الله ته | (واپس) ورتلل دی | او نه دی برابر |ړوند | او | بینا
ځان پاک کوی او خاص الله تعالیٰ ته د ټولو واپس تلل دی. او ړوند او بینا برابر نه دی.
وَلَا الظُّلُمٰتُ وَلَا النُّوْرُ ۝ وَلَا الظِّلُّ وَلَا الْحَرُوْرُ ۝ وَمَا يَسْتَوِى
او نه تیارے | او نه رڼرا | او نه سورے | او نه ګرمی | او نه دی برابر
او نه تیارے او رڼرا (برابر دی) او نه سوری او نور (برابر دی)
الْاَحْيَآءُ وَلَا الْاَمْوَاتُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُسْمِعُ مَنْ يَّشَآءُ ۚ
ژوندی | او نه مړی | بیشکه | الله | آوروی | چاته | چه اوغواړی
او نه ژوندی او مړه برابر دی یقیناً الله تعالیٰ چه چاته اوغواړی (خبره) ورته آوروی
وَمَآ اَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَّنْ فِى الْقُبُوْرِ ۝ اِنْ اَنْتَ اِلَّا نَذِيْرٌ ۝
او نه ئے ته | اوروونکے | هغه چاته | چه په قبرونو کښ دی | نه ئے ته | مګر | یروونکے
او ته (خبره) هغه چاته نشے اوروے څوک چه قبرونو کښ پراته دی. ته خو بس یروونکے ئے
اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ بِالْحَقِّ بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا ؕ وَاِنْ مِّنْ اُمَّةٍ اِلَّا
بیشکه | مونږ لیږلے ئے ته | په حقه | زیرے ورکوونکے | او یروونکے | او نه دے هیڅ یو امت | مګر
مونږ ته په حقه زیرے ورکوونکے او یروونکے رالیږلے ئے. او داسے یو امت نشته
خَلَا فِيْهَا نَذِيْرٌ ۝ وَاِنْ يُّكَذِّبُوْكَ فَقَدْ كَذَّبَ الَّذِيْنَ
تیر شوے دے | په هغے کښ | یو یروونکے | او که چرے | دوی دروغژن ګنړی تا | نو یقیناً | دروغژن ګنړلی وو | هغه کسانو
چه هغے ته یو یروونکے نه وی راغلے. او که دا خلق تا دروغژن ګنړی نو د دوی نه پخوا نو (کافرانو) هم
مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ وَبِالزُّبُرِ
چه مخکښ وو د دوی نه | راغلی وو هغوی ته | پیغمبران خپل | په ښکاره دلیلونو سره | او د صحیفو سره
(پیغمبران) دروغژن ګنړلی وو، د هغوی پیغمبرانو هغوی ته ښکاره دلیلونه. صحیفے
وَبِالْكِتٰبِ الْمُنِيْرِ ۝ ثُمَّ اَخَذْتُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَكَيْفَ
او د کتاب | روښانه سره | بیا | اونیول ما | هغه خلق | چه هغوی کفر کړے وو | پس څنګه
او روښانه کتابونه راوړی وو بیا ما کافران خلق راونیول نو اوګوره چه
كَانَ نَكِيْرِ ۝ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ۚ ع
وو | عذاب زما | آیا ته نه ګورے | چه بیشکه | الله | راوروله دی | د آسمان نه | اوبه
زما سزا څنګه وه؟ آیا تا نه دی کتلی چه الله تعالیٰ د آسمان نه اوبه راوروله دی

فَاَخْرَجْنَا بِهٖ ثَمَرٰتٍ مُّخْتَلِفًا اَلْوَانُهَا ؕ وَمِنَ الْجِبَالِ

بیا مونږ را ویستلي دي | په هغې سره | میوې | چه مختلف دي | رنګونه دهغې | او د غرونو نه

بیا مونږ په هغې سره رنګ په رنګ میوې پیدا کړې او په غرونو کښې هم

جُدَدٌۢ بِيْضٌ وَّحُمْرٌ مُّخْتَلِفٌ اَلْوَانُهَا وَغَرَابِيْبُ سُوْدٌ ﴿٢٧﴾

ټوټې دي | څه سپینې | او څه سرې | چه مختلف دي | رنګونه دهغې | او ډ کارغانو پشان | تک تور دي

رنګ په رنګ ټکړې دي څه پکښې سپینې دي څه پکښې سرې دي مختلف رنګونو والا او څه پکښې تکې تورې دي

وَمِنَ النَّاسِ وَالدَّوَآبِّ وَالْاَنْعَامِ مُخْتَلِفٌ اَلْوَانُهٗ كَذٰلِكَ ؕ

او بعضې د خلقو | او د ژندو سرو | او د څاروو نه | مختلف دي | رنګونه دهغې | هم دغه شان

او په انسانانو او ځناورو او څاروو کښې هم دغه شان مختلف رنګونو والا دي

اِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ

بیشکه | ېرېږي | د الله نه | د بندګانو د هغهٔ نه | پوهه خلق (عالمان) | بیشکه | الله دے | ډیر زورور (غالب)

یقینًا د الله تعالیٰ نه د هغه په بندګانو کښې هغه خلق ېرېږي چه علم لري، یقینًا الله تعالیٰ ډیر زورور

غَفُوْرٌ ﴿٢٨﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يَتْلُوْنَ كِتٰبَ اللّٰهِ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ

ډیر بخښونکے | بیشکه | هغه کسان | چه لولي | کتاب | د الله | او قائموي | مونځ

ډیر بخښونکے دے کوم خلق چه د الله تعالیٰ کتاب لولي او د مانځه پابندي کوي

وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً يَّرْجُوْنَ

او خرچ کوي | دهغه څه نه | چه مونږ ور کړي دي دوی ته | په پټه | او په ښکاره | هغوی امید لري

او مونږ چه ورله کوم رزق ور کړے دے دهغې نه په پټه او په ښکاره خرچ کوي هغوی د داسې تجارت امید لري

تِجَارَةً لَّنْ تَبُوْرَ ﴿٢٩﴾ لِيُوَفِّيَهُمْ اُجُوْرَهُمْ وَيَزِيْدَهُمْ

د (داسې) تجارت | چه هیڅ کله تاوان نه کوي | د دې دپاره چه الله پوره ور کړي دوی ته | اجرونه د دوی | او زیات ور کړي دوی ته

چه کله به هم نقصان نه کوي دا ځکه چه الله تعالیٰ هغوی ته د هغوی اجر پوره ور کړي او د خپل فضل نه ورله

مِّنْ فَضْلِهٖ ؕ اِنَّهٗ غَفُوْرٌ شَكُوْرٌ ﴿٣٠﴾ وَالَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ

د فضل خپل نه | بیشکه هغه | ډیر بخښونکے | ډیر قدردان دے | او هغه څه | چه مونږ وحی کړے ده

زیات هم ور کړي یقینًا هغه ډیر بخښونکے ډیر قدردان دَعمل دے. او (اے نبي!) مونږ چه تا ته

اِلَيْكَ مِنَ الْكِتٰبِ هُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ ؕ

تا ته | د کتاب نه | هم هغه دي | حق | چه تصدیق کوونکي دي | دهغه څه | چه مخکښې دي دهغه نه

د کوم کتاب وحي در لیږلے ده هغه بلکل حق دے (او) د مخکښې کتابونو تصدیق کوونکے دے.

اِنَّ اللّٰهَ بِعِبَادِهٖ لَخَبِيْرٌۢ بَصِيْرٌ ﴿٣١﴾ ثُمَّ اَوْرَثْنَا الْكِتٰبَ

بیشکه | الله | په بندګانو خپلو | پوره خبردار | (او) لیدونکے دے | بیا | مونږ په میراث کښې ور کړو | کتاب

یقینًا الله تعالیٰ د خپلو بندګانو نه پوره خبردار دے او هر څه وینی. بیا مونږ د دے کتاب وارثان

الَّذِيْنَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا ۚ فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ ۚ

هغه خلقو ته | چه غوره کړی دی مونږ | دبندګانو خپلو نه | نو بعضې دهغوی نه | ظلم کوونکی دی | د ځان خپل سره

په خپلو بندګانو کښې هغه خلق چوړ کړل چه مونږ غوره کړی وو بیا په هغوی کښې بعضې په ځان ظلم کوونکی دی

وَمِنْهُمْ مُّقْتَصِدٌ ۚ وَمِنْهُمْ سَابِقٌۢ بِالْخَيْرٰتِ بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ

او بعضې دهغوی نه | په اعتدال دی | او بعضې دهغوی نه | مخکښې کیدونکی دی | په نیکو کښې | په حکم | د الله

او بعضې پکښې میانه حال دی او بعضې پکښې د الله تعالیٰ په حکم د نیکۍ په کارونو کښې مخکښې کیدوونکی دی

ذٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيْرُ ﴿٣٢﴾ جَنّٰتُ عَدْنٍ يَّدْخُلُوْنَهَا

دا | دے | فضل | ډیر لوئې | جنتونه | دهمیشه والی | چه دوی به داخلیږی هغې ته

دا د الله تعالیٰ ډیر لوئې فضل دے. دهمیشه اوسیدو باغونه دی چه دوی به ورته داخلیږی

يُحَلَّوْنَ فِيْهَا مِنْ اَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ وَّلُؤْلُؤًا ۚ وَلِبَاسُهُمْ

اغوستے شی به دوی ته | په هغې کښې | بازوګان (بنګړی) | د سرو زرو | او ملغلرے | او جامے د دوی به

هلته به دوی د سرو زرو او د ملغلرو په بنګړو (بازوګانو) ښائسته کولے شی. او جامے به یې

فِيْهَا حَرِيْرٌ ﴿٣٣﴾ وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْٓ اَذْهَبَ عَنَّا

په هغې کښې | ریښم وی | او وائی به دوی | (چه) حمدونه دی | الله لره | هغه (الله) | چه لرے ئې کړو | زمونږ نه

هلته د ریښمو وی او دوی به وائی چه ټول تعریفونه د هغه الله دی چه زمونږ نه ئې

الْحَزَنَ ؕ اِنَّ رَبَّنَا لَغَفُوْرٌ شَكُوْرٌ ﴿٣٤﴾ الَّذِيْٓ اَحَلَّنَا

غم | بیشکه | رب زمونږ دے | خامخا ډیر بخښونکے | ډیر قدردان | هغه (ذات) | چه مونږ ئې راوستلو

هر غم لرے کړو یقیناً زمونږ رب ډیر بخښونکے ډیر قدردان د عمل دے. (هغه ذات چه) مونږ ئې

دَارَ الْمُقَامَةِ مِنْ فَضْلِهٖ ۚ لَا يَمَسُّنَا فِيْهَا نَصَبٌ

کور | د پاتې کیدو ته | په خپل فضل سره | نه به رسی مونږ ته | په دے کښې | څه تکلیف (سترے والی)

په خپل فضل د همیشه اوسیدو ځائې ته راوستلو چه نه به پکښې مونږ ته څه تکلیف رارسی

وَّلَا يَمَسُّنَا فِيْهَا لُغُوْبٌ ﴿٣٥﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَهُمْ نَارُ

او نه به رسی مونږ ته | په دے کښې | څه ستومانی | او هغه کسان | چه کفر ئې کړے دے | دهغوی دپاره | اور

او نه سترتیا والے. او چا چه کفر کړے دے د هغوی دپاره د دوزخ اور دے

جَهَنَّمَ ۚ لَا يُقْضٰى عَلَيْهِمْ فَيَمُوْتُوْا وَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ

د جهنم دے | فیصله به نه کیږی | په هغوی باندے | چه مړه شی | او نه به کمولے شی | د هغوی نه

نه به ورله اجل راځی چه مړه شی او نه به ترے د هغې (دوزخ) عذاب کمیدے شی

مِّنْ عَذَابِهَا ؕ كَذٰلِكَ نَجْزِيْ كُلَّ كَفُوْرٍ ﴿٣٦﴾ وَهُمْ يَصْطَرِخُوْنَ

د عذاب د هغې | دغه شان | مونږ بدله ورکوو | هر یو | غټ ناشکره ته | او هغوی به | چغې وهی

هر غټ ناشکره ته مونږ هم دغه شان سزا ورکوو. او دوی به په هغې کښې چغې وهی

فِيهَا ۚ رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا غَيْرَ الَّذِى كُنَّا

په هغې کښې | اے ربه زمونږ | او باسه مونږ | چه عمل اوکړو | نیک | غیر د هغې نه | چه مونږ به همیشه

(اووائي به چه) اے زمونږ ربه مونږ بهر وباسه چه د نیکئ کارونه اوکړو د هغې عملونو نه خلاف چه پخوا به مو کول

نَعْمَلُ ؕ اَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ مَّا يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَنْ

کولو | آیا مونږ نه وو درکړے تاسو ته عمر | دومره | (چه) نصیحت قبول کړی | په هغې کښې | هغه څوک

(ورته به اووئیلی شی چه) آیا مونږ تاسو ته دومره عمر نه وو درکړے چه یو نصیحت قبلولو نکے پکښې

تَذَكَّرَ وَجَآءَكُمُ النَّذِيرُ ؕ فَذُوقُوا فَمَا لِلظّٰلِمِينَ

چه نصیحت قبلول غواړی | او راغلی وو تاسو ته | یرووُنکی | پس اوڅکئ (عذاب) | پس نشته د ظالمانو دپاره

نصیحت قبلولے شو او تاسو ته خو یرووُنکی (هم) راغلی وو، پس (اوس) (د عذاب) خوند اوڅکئ (ځکه چه) د دا سے ظالمانو

مِنْ نَّصِيرٍ ۝ اِنَّ اللّٰهَ عٰلِمُ غَيْبِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ اِنَّهٗ ع

هیڅوک مددګار | بیشکه | الله | پوهه دے | په پټو څیزونو | د آسمانونو | او د زمکے | بیشکه هغه

دپاره هیڅوک مددګار نشته یقیناً الله تعالیٰ د آسمانونو او د زمکے د پټو څیزونو علم لري. یقیناً

عَلِيمٌ ۢ بِذَاتِ الصُّدُورِ ۝ هُوَ الَّذِى جَعَلَكُمْ خَلٰٓئِفَ

ښه پوهه دے | په رازونو | د سینو | هم الله هغه ذات دے | چه جوړ کړی ئې تاسو | خلیفه ګان

هغه د سینو په پټو خبرو ښه پوهیږی او (الله تعالیٰ) هم هغه ذات دے چه تاسو ئې په زمکه کښې خلیفګان

فِى الْاَرْضِ ؕ فَمَنْ كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهٗ ؕ وَلَا يَزِيدُ

په زمکه کښې | پس چا | چه کفر وکړو | نو په هغه بانددے | (وبال) د کفر د هغهٔ دے | او نه زیاتوی

جوړ کړی ئې او س څوک چه کفر کوی نو د هغه د کفر وبال به هم هغه ته رسی. او کافرانو لره

الْكٰفِرِينَ كُفْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ اِلَّا مَقْتًا ۚ وَلَا يَزِيدُ

کافرانو لره | کفر د هغوی | په نزد | د رب د هغوی | مګر | غصه | او نه زیاتوی

د هغوي کفر د خپل رب په نزد د (هغه د) غصے نه سوا نور څه نه زیاتوی. او کافرانو لره

الْكٰفِرِينَ كُفْرُهُمْ اِلَّا خَسَارًا ۝ قُلْ اَرَءَيْتُمْ شُرَكَآءَكُمُ

کافرانو لره | کفر د هغوی | مګر | تاوان | اووایه | آیا تاسو لیدلی دی | شریکان خپل

کفر د تاوان نه سوا نور څه نه زیاتوی. (اے نبي! دوي ته) اووایه چه آیا تاسو خپل هغه شریکان لیدلی دی

الَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللّٰهِ ؕ اَرُونِى مَاذَا خَلَقُوا

هغه چه | تاسو ئے رابلئ | سوا | د الله نه | اوښایئ ماته | چه څه څیز | پیدا کړے دے هغوی

چه تاسو ئې د الله نه سوا رابلئ، لږ ماته اوښایئ چه هغوی په زمکه کښې

مِنَ الْاَرْضِ اَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِى السَّمٰوٰتِ ۚ اَمْ اٰتَيْنٰهُمْ

د زمکے نه | یا شته د هغوی دپاره | څه برخه | په آسمانونو کښې | یا ورکړی دی مونږ هغوی ته

څه پیدا کړی دی؟ یا په آسمانونو کښې د هغوی څه شرکت شته؟ یا مونږ دوی ته

كِتٰبًا فَهُمْ عَلٰى بَيِّنَتٍ مِّنْهُ ۚ بَلْ اِنْ يَّعِدُ الظّٰلِمُوْنَ

څه کتاب | چه هغوی | په یو ښکاره دلیل دی | د هغې نه | (نه) بلکه | وعده نه کوی | ظالمان

یو دا سې کتاب ور کړے دے چه دوی د هغې په یو ښکاره دلیل ولاړ دی (نا) بلکه دا ظالمان

بَعْضُهُمْ بَعْضًا اِلَّا غُرُوْرًا ۝ اِنَّ اللّٰهَ يُمْسِكُ السَّمٰوٰتِ

بعضې | د بعضو سره | مګر | د دهوکے | بیشکه | الله | راټینګوی | آسمانونه

د یو بل سره خالص د دهوکے وعدے کوی۔ حقیقت دا دے چه الله تعالی آسمانونه او زمکه

وَالْاَرْضَ اَنْ تَزُوْلَا ۚ وَلَئِنْ زَالَتَآ اِنْ اَمْسَكَهُمَا

او زمکه | چه (اونه) خوزی | او که چرے | او خوزیدل دا دواړه | نو نشی راټینګولے دے دواړو لره

راټینګ کړی دی چه د ځپل ځائے نه اونه خوزی او که چرے دا دواړه او خوزی (د ځپل ځائے نه)

مِنْ اَحَدٍ مِّنْ بَعْدِهٖ ؕ اِنَّهٗ كَانَ حَلِيْمًا غَفُوْرًا ۝ وَاَقْسَمُوْا

هیڅ څوک | وروستو د ده نه | بیشکه هغه | دے | ډیر صبر ناک | ډیر بخښونکے | او دوی قسمونه کړی دی

نو د هغه نه سوا هیڅ څوک دا سے نشته چه راټینګ ئے کړی، یقیناً هغه ډیر صبر ناک ډیر بخښونکے دے

بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ لَئِنْ جَآءَهُمْ نَذِيْرٌ لَّيَكُوْنُنَّ

په الله پاندے | پاخه | قسمونه خپل | (چه) که چرے | راغے دوی ته | یروونکے | نو خامخا وی به دوی

او دے (کافرانو) به په الله تعالی باندے کلک قسمونه خوړل چه که چرے دوی ته څوک یروونکے راغے

اَهْدٰى مِنْ اِحْدَى الْاُمَمِ ۚ فَلَمَّا جَآءَهُمْ نَذِيْرٌ

ډیر هدایت والا | د هر یو | د امتونو نه | بیا هر کله چه | راغے دوی ته | یروونکے

نو دوی به د هر امت نه زیات هدایت قبلوونکی وی خو چه کله ورته یروونکے راغے نو د هغے سره ئے نفرت

مَّا زَادَهُمْ اِلَّا نُفُوْرًا ۝ اِسْتِكْبَارًا فِى الْاَرْضِ وَمَكْرَ

(نو) زیات ئے نه کړو دوی لره | مګر | نفرت | د وجه د ځان لوئے ګنړلو نه | په زمکه کښې | او تدبیر

نور هم زیات شو ځکه چه دوی په زمکه کښې ځان ډیر لوی ګنړلو او ناکاره (غلط) تدبیرونه ئے جوړ کړل حالانکه

السَّيِّئِ ؕ وَلَا يَحِيْقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ اِلَّا بِاَهْلِهٖ ؕ فَهَلْ يَنْظُرُوْنَ

ناکاره | او نه چاپیریږی | تدبیر | ناکاره | مګر د هغې په کوونکو پاندے | پس نه کوی دوی انتظار

ناکاره تدبیرونه بل څوک نه بلکه پخپله تدبیرونه جوړونکی راګیروی اوس دوی د هغه دستور (قانون) نه سوا د څه خبرے

اِلَّا سُنَّتَ الْاَوَّلِيْنَ ۚ فَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّتِ اللّٰهِ تَبْدِيْلًا ۚ

مګر | د طریقے | د وړومبنو | پس هیڅکله به ته نه مومے | طریقے | د الله لره | څه تبدیلی

په انتظار کښې دی چه هغه پخوا تیر شوے دے (که دا خبره وی) نو ته به د الله په دستور کښې هیڅ تبدیلی اونه مومے

وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّتِ اللّٰهِ تَحْوِيْلًا ۝ اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا فِى الْاَرْضِ

او هیڅکله به ته اونه مومے | طریقے | د الله لره | اوړیدل | آیا دوی نه دی ګرځیدلی | په زمکه کښې

او نه به د الله په دستور کښې بل طرف ته اوړیدل بیا مومے۔ آیا دے خلقو په زمکه کښې کله سفر نه دے کړے

فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَكَانُوْا

چه کتلی ئے وے | چه څنګه | وو | انجام | دهغه کسانو | چه ددوی نه مخکښے وو | اووو هغوی

چه دا ئے لیدلے وے چه ددوی نه دپخوا نو خلقو څه انجام شو؟ حالانکه هغوی ددوی نه

اَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً ۭ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعْجِزَهٗ مِنْ شَيْءٍ

زیات سخت | ددوی نه | په طاقت کښ | او نه دے | الله | (داسے) چه عاجزه کړی هغه لره | هیڅ یو څیز

زیات طاقتور وو. او الله تعالیٰ داسے نه دے چه په آسمانونو یا په زمکه کښ

فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْاَرْضِ ۭ اِنَّهٗ كَانَ عَلِيْمًا قَدِيْرًا ۝

په آسمانونو کښ | او نه په زمکه کښ | بے شکه هغه | دے | ډیر پوهه | قدرت لرونکے

دے څه څیز هغه لره عاجزه (کمزورے) کړی. یقیناً هغه ښه پوهه او (پوره) قدرت والا ذات دے

وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللّٰهُ النَّاسَ بِمَا كَسَبُوْا مَا تَرَكَ

او که چرے | نیولے | الله | خلق | په هغه څه | چه دوی کړی دی | نو نه به ئے وو پریخودلی

او که چرے الله تعالیٰ دا خلق ددوی د (بد) عملونو په وجه (فوراً) نیولے نو په مخ د زمکه به ئے

عَلٰي ظَهْرِهَا مِنْ دَاۗبَّةٍ وَّلٰكِنْ يُّؤَخِّرُهُمْ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ

په شا د زمکے | هیڅ یو ساه والا څیز | لیکن | هغه وروستو کوی دوی | تر نیټے | مقرر ے پورے

یو ساه والا څیز هم نه وے پریخودے لیکن الله تعالیٰ دوی ته دیو معین وخت پورے مهلت ورکوی

ع

فَاِذَا جَاۗءَ اَجَلُهُمْ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِعِبَادِهٖ بَصِيْرًا ۝

بیا هر کله | چه راشی | نیټه ددوی | نو بیشکه | الله | دے | بندګانو خپلو لره | ښه لیدونکے

پس بیا هر کله چه دهغه نیټه راشی نو الله تعالیٰ د خپلو بندګانو په حال ښهٔ خبر دے.

آیاتها [٨٣]	سورة يٰسٓ مكّيّة	ركوعاتها [٥]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم.

يٰسٓ ۝ وَالْقُرْاٰنِ الْحَكِيْمِ ۝ اِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ۝

يٰسٓ | قسم دے په قرآن | حکمت والا (بااثر ے) | (چه) بیشکه ته ئے | خامخا د پیغمبرانو نه

يٰسٓ. د حکمت نه ډک قرآن بااثر ے قسم دے (چه) ته یقیناً پیغمبرانو کښ شامل ئے (او) په نیغه لار باندے

عَلٰي صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝ تَنْزِيْلَ الْعَزِيْزِ الرَّحِيْمِ ۝

په لاره | نیغه باندے | رالیږل (د دے) | د زورور (غالب) | ډیر مهربان (د طرف نه دی)

(روان) ئے (دا قرآن) د هغه ذات د طرف نه نازل شوے دے چه هغه ډیر زورور (غالب) ډیر مهربان دے.

لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَّآ اُنْذِرَ اٰبَآؤُهُمْ فَهُمْ غٰفِلُوْنَ ۝٦ لَقَدْ

دے دپاره چه او یروے | (هغه) قوم | چه نه دي یرووُلی شوی | پلاران دهغوی | پس هغوی | غافله دي | یقینًا

چه ته (یرے) هغه قوم او یروے چه دهغوی پلار نیکه نه وو یرووُلی شوی نو هغوی بے خبره پاتے دي.

حَقَّ الْقَوْلُ عَلٰٓى اَكْثَرِهِمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝٧ اِنَّا

ثابته شوے ده | فیصله (دالله) | په ډیرو ډدوی باندے | نو دوی | ایمان نه راوړی | بیشکه

حقیقت دادے چه ددوی داکثرو خلقو په باره کښ فیصله ثابته شوے ده نو ځکه دوی ایمان نه راوړی. یقینًا

جَعَلْنَا فِيْٓ اَعْنَاقِهِمْ اَغْلٰلًا فَهِيَ اِلَى الْاَذْقَانِ فَهُمْ

مونږ اچولی دي | په څټونو ددوی کښ | طوقونه | نو هغه | تر زنے پورے وی | نو دوی

مونږ ددوی په څټونو کښ (دموانعو دقبول ایت نه) داسے طوقونه اچولی دي چه تر زنے پورے رسیدلی دي (او) دهغے دوجے

مُّقْمَحُوْنَ ۝٨ وَجَعَلْنَا مِنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ سَدًّا وَّمِنْ خَلْفِهِمْ

سرونه پورته کړی دي | او مونږ جوړ کړے دے | مخے د دوی ته | یو دیوال | او وروستو ددوی نه

سرونه ډلارے دهدایت نه بره طرف ته او چت پاتے شوی دي او مونږ مخکښ روستو ددوی نه دشکو او شبهاتو

سَدًّا فَاَغْشَيْنٰهُمْ فَهُمْ لَا يُبْصِرُوْنَ ۝٩ وَسَوَآءٌ عَلَيْهِمْ

یو دیوال | پس پټ کړی دي مونږ دوی | نو دوی | (څه) نه وینی | او برابره ده | په دوی باندے

او شهواتو دیوالونه جوړ کړی دي نو دوی دحق نه ړانده شوے دي او هیڅ لاردهدایت نه وینی او ددوی دپاره

ءَاَنْذَرْتَهُمْ اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝١٠ اِنَّمَا تُنْذِرُ

که چرے ته یروے دوی | یا نه یروے دوی | دوی ایمان نه راوړی | بیشکه | ته یروے

دواړه خبرے یو برابر دي که ته دوی یروے یا یے نه یروے دوی ایمان نه راوړی یقینًا ستا یرول په هغه چا

مَنِ اتَّبَعَ الذِّكْرَ وَخَشِيَ الرَّحْمٰنَ بِالْغَيْبِ ۚ فَبَشِّرْهُ

هغه څوک | چه تابعداری کوی | دنصیحت | او یریږی | د رحمٰن (ذات) نه | بے د لیدلو | پس زیرے ورکړه هغه ته

اثرانداز دي چه په نصیحت (قرآن) پسے روان شي او د رحمٰن ذات نه په حال دنه لیدلو دهغهٔ کښ یریږی

بِمَغْفِرَةٍ وَّاَجْرٍ كَرِيْمٍ ۝١١ اِنَّا نَحْنُ نُحْيِ الْمَوْتٰى وَنَكْتُبُ

د بخښنے | او د اجر | عزتمند | بیشکه | مونږ | ژوندی کوو | مړی | او مونږ لیکو

نو داسے کس ته ته دمغفرت او ډیر ښه (عزتمند) اجر زیرے ورکړه یقینًا هم مونږ به مړی ژوندی کوو او ددوی چه

مَا قَدَّمُوْا وَاٰثَارَهُمْ ۗ وَكُلَّ شَيْءٍ اَحْصَيْنٰهُ فِيْٓ اِمَامٍ

هغه څه | چه مخکښے لیږلی دي دوی | او وروستو پریخودلی شوی بدکارونه ددوی | او هر یو | څیز | محفوظ کړے دے مونږ هغه | په کتاب

څه عملونه مخکښے لیږلی دي هغه هم لیکو او څه چه دوی وروستو پریږدی (هغه هم لیکو) او مونږ هر یو څیز



مُّبِيْنٍ ۝١٢ وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلًا اَصْحٰبَ الْقَرْيَةِ ۘ اِذْ جَآءَهَا

ښکاره کښ | او بیان کړه | دوی ته | یو مثال | د یو کلی والو | کله چه | راغلل هغے ته

په واضح کتاب کښ محفوظ کښ درج کړے دے او (اے نبیؐ!) ته دوی ته د یو کلی والو مثال پیش کړه کله چه هغے (کلی) ته پیغمبران

الْمُرْسَلُوْنَ ﴿١٣﴾ اِذْ اَرْسَلْنَآ اِلَيْهِمُ اثْنَيْنِ فَكَذَّبُوْهُمَا

پیغمبران | کله چه | اولیږل مونږ | هغوی ته | دوه کسان | نو هغوی دروغژن اوګڼل هغه دواړه

راغلل کله چه مونږ هغوی ته دوه پیغمبران ولیږل نو هغوی دروغژن اوګڼل نو بیا مو دیو دریم پیغمبر په ذریعه

فَعَزَّزْنَا بِثَالِثٍ فَقَالُوْٓا اِنَّآ اِلَيْكُمْ مُّرْسَلُوْنَ ﴿١٤﴾ قَالُوْا

نو مونږ مضبوط کړل | په دریم | پس اوویل هغوی | بیشکه مونږ | تاسو ته | رالیږلی شوی یُو | اوویل هغوی

دهغوی (دوو) تائید اوکړو او دریواړو هغوی ته اوویل چه یقین اوکړئ چه مونږ تاسو ته رالیږلی شوی یو هغوی ورته

مَآ اَنْتُمْ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا ۙ وَمَآ اَنْزَلَ الرَّحْمٰنُ مِنْ شَيْءٍ ۙ

(چه) نه یئ تاسو | مګر | بندګان | پشان زمونږ | او نه دے رالیږلے | مهربان (ذات) | هیڅ یو څیز

(جواب کښې) اوویل تاسو خو هم زمونږ پشان بنیادمان یئ او رحمٰن ذات هیڅ څیز نه دے نازل کړے

اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا تَكْذِبُوْنَ ﴿١٥﴾ قَالُوْا رَبُّنَا يَعْلَمُ اِنَّآ

نه یئ تاسو | مګر | دروغ وایئ | پیغمبرانو اوویل | زمونږ رب | پوهیږی (چه) | بیشکه مونږ

تاسو تش دروغ وایئ پیغمبرانو ورته اوویل (چه) زمونږ رب ته ښه پته ده چه مونږ واقعی

اِلَيْكُمْ لَمُرْسَلُوْنَ ﴿١٦﴾ وَمَا عَلَيْنَآ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿١٧﴾ قَالُوْٓا

تاسو ته | خامخا رالیږلی شوی یُو | او نشته په مونږ باندے | مګر | پیغام رسول | ښکاره | اوویل دوی

تاسو ته رالیږلی شوی یو، او زمونږ ذمه داری خو صرف داده چه صفا صفا پیغام اورسوو کل والو ورته اوویل

اِنَّا تَطَيَّرْنَا بِكُمْ ۚ لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهُوْا لَنَرْجُمَنَّكُمْ

چه بیشکه مونږ | سپیره شو مونږ | ستاسو په وجه | که چرے | منع نه شوئ تاسو | نو خامخا مونږ به سنګسار کړو تاسو

یقیناً ستاسو د وجے نه زمونږ حالت سپیره شوے دے یقین اوکړئ که تاسو منع نه شوئ نو سنګسار به مو کړو

وَلَيَمَسَّنَّكُمْ مِّنَّا عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿١٨﴾ قَالُوْا طَآئِرُكُمْ

او خامخا اوبه رسی تاسو ته | زمونږ (د طرف) نه | سزا | دردناکه | اوویل هغوی (پیغمبرانو) | ستاسو سپیره توب خو

او زمونږ د طرف نه به درته ډیر سخته سزا ملاؤ شی پیغمبرانو (ورته) اوویل ستاسو سپیره توب ستاسو د بد عملو توکو چه تاسو پورے نختے دے

مَعَكُمْ ۚ اَئِنْ ذُكِّرْتُمْ ۚ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُوْنَ ﴿١٩﴾ وَجَآءَ

تاسو سره لازم دے | آیا که چرے نصیحت اوکړے شی تاسو ته | بلکه | تاسو | یو قوم یئ | اسراف کوونکی | او راغے

آیا دا سپیره توب دے چه تاسو ته نصیحت اوکړے شو او تاسو انکار کوئ، (نه) بلکه اصل خبره داده چه تاسو د حد نه تیریدونکی خلق یئ

مِنْ اَقْصَا الْمَدِيْنَةِ رَجُلٌ يَّسْعٰى قَالَ يٰقَوْمِ اتَّبِعُوا

د لرے طرف | د ښار نه | یو سړے | چه منډے ئے وهلے | وے ویل: | اے زما قومه! | روان شئ

او د ښار د لرے (ځلے) غاړے نه یو کس په منډه منډه راغے (او) خلقو ته ئے اوویل: اے زما قومه!

الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٢٠﴾ ۙ اتَّبِعُوْا مَنْ لَّا يَسْئَلُكُمْ اَجْرًا وَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿٢١﴾

(دے) پیغمبرانو پسے | روان شئ | په هغه چا پسے | چه نه غواړی تاسو نه | څه اجر | او هغوی | په سمه لار روان دی

دے پیغمبرانو پسے روان شئ، هغه چا پسے روان شئ چه تاسو نه هیڅ اجرت (بدله) نه غواړی او (پخپله) په سمه لار دی

وَمَا لِیَ لَآ اَعْبُدُ الَّذِیْ فَطَرَنِیْ وَاِلَیْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۲۲﴾

اوڅه علت دے | زما دپاره | چه زه (د) عبادت نه کوم | دهغه (ذات) | چه زه ئے پیدا کړے یم | او خاص هغه ته به | تاسو واپس کولی شئ

او زما څه عذر دے چه زه دهغه ذات عبادت ونه کړم چه زه ئے پیدا کړے یم او هم دهغه طرف ته به تاسو واپس کیږئ

ءَاَتَّخِذُ مِنْ دُوْنِهٖٓ اٰلِهَةً اِنْ یُّرِدْنِ الرَّحْمٰنُ بِضُرٍّ

آیا زه اونیسم | سوا د هغهٔ نه | خدایان | که چرے | اوغواړی ما ته | رحمان (ذات) | ضرر رسول

آیا زه دهغه نه سوا نور داسے خدایان جوړ کړم چه که چرے رحمٰن ذات ما ته څه ضرر (نقصان)

لَّا تُغْنِ عَنِّیْ شَفَاعَتُهُمْ شَیْـًٔا وَّلَا یُنْقِذُوْنِ ﴿۲۳﴾ اِنِّیْٓ

(نو) نشی لرے کولے | زما نه | سفارش دهغوی | هیڅ څیز | او نه هغوی خلاصولے شی ما | بیشکه زه به شم

دا رسول اوغواړی نو نه دهغوی سفارش زما په کار راځی او نه مے خلاصولے شی که زه داسے وکړم

اِذًا لَّفِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ﴿۲۴﴾ اِنِّیْٓ اٰمَنْتُ بِرَبِّكُمْ فَاسْمَعُوْنِ ﴿۲۵﴾

په دغه وخت | خامخا په ګمراهئ | ښکاره کښے | بیشکه ما | ایمان راوړے دے | په رب ستاسو | لو واورئ زما خبره

لو یقیناً زه (خو به په ښکاره ګمراهئ کښے مبتلا شم ما (خو ستاسو په رب ایمان راوړے دے نو تاسو (هم) زما نصیحت واورئ

قِیْلَ ادْخُلِ الْجَنَّةَ ؕ قَالَ یٰلَیْتَ قَوْمِیْ یَعْلَمُوْنَ ﴿۲۶﴾ بِمَا

او وئیلے شو | (چه) داخل شه | جنت ته | او وئیل هغه | اے کاش | چه قوم زما | پوهیدے | په هغه څه

(مر ګ نه پس روح هغه ته) او وئیلے شو چه جنت ته داخل شه (او په جنت کښ) هغه او وئیل کاش چه زما قوم په هغه توحید علم او عقیده طرف

غَفَرَ لِیْ رَبِّیْ وَجَعَلَنِیْ مِنَ الْمُكْرَمِیْنَ ﴿۲۷﴾ وَمَآ اَنْزَلْنَا

(چه) بخښنه او کړه | ما ته | رب زما | او وے ګرځولم زهٔ | د عزتمندو له | او نهٔ وو رالیږلے مونږ

د کوم توحید په وجه چه زما رب ما ته بخښنه او کړه او زه ئے په عزتمندو خلقو کښے داخل کړم او دغه کس د شهادت نه پس مونږ

عَلٰی قَوْمِهٖ مِنْ بَعْدِهٖ مِنْ جُنْدٍ مِّنَ السَّمَآءِ وَمَا كُنَّا

په قوم دهغهٔ باندے | وروستو د هغهٔ نه | هیڅ لښکر | د آسمان نه | او نه یو مونږ

دده په قوم باندے (د عذاب دپاره) د آسمان نه څه لښکر را کوز کړے نه وو او نه دیو قوم د استیصال (عذاب دپاره) لښکر رالیږلو ته مونږ

مُنْزِلِیْنَ ﴿۲۸﴾ اِنْ كَانَتْ اِلَّا صَیْحَةً وَّاحِدَةً فَاِذَا هُمْ

رالیږونکی | نه وو (د هلاکت) | مګر | چغه | یوه | بس دغه وخت | دوی

څه ضرورت شته۔ هلاکت د دوی خو بس یوه چغه وه (چه هغے سره) دوی ټول په شان د اور

خٰمِدُوْنَ ﴿۲۹﴾ یٰحَسْرَةً عَلَی الْعِبَادِ ۚ مَا یَاْتِیْهِمْ مِّنْ رَّسُوْلٍ

مړهٔ پراتهٔ وو | افسوس دے | په بندګانو | چه نهٔ راځی دوی ته | یو پیغمبر

ساړه پریوتل۔ (د داسے) بندګانو په حال افسوس اګله هم چه دوی ته یو پیغمبر راغلے دے

اِلَّا كَانُوْا بِهٖ یَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۳۰﴾ اَلَمْ یَرَوْا كَمْ اَهْلَكْنَا

مګر | دوی | په هغه پورے | توقے کوی | آیا دوی نه دی کتلی | چه څومره | هلاک کړی دی مونږ

نو دوی ورپورے همیشه توقے کړے دی آیا دوی نه دی کتلی (غور نه دے کړے) چه د دوی نه مخکښ مونږ

قَبْلَهُمْ مِّنَ الْقُرُوْنِ اَنَّهُمْ اِلَيْهِمْ لَا يَرْجِعُوْنَ ۝ وَاِنْ كُلٌّ

مخکښ ددوی نه | د قومونو نه | چه هغوی | دوی ته | واپس نه راځی | او نه دی داټول

خومره پیړئ (قومونه) هلاک کړی دی چه بیا هغوی دوی ته واپس نه راځی او داټول به (یوه ورځ)

لَّمَّا جَمِيْعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُوْنَ ۝ وَاٰيَةٌ لَّهُمُ الْاَرْضُ الْمَيْتَةُ ۚ ع

مګر | ټول به | زمونږ مخے ته | حاضر کړے شی | او نخښه | د دوی دپاره | زمکه | او چه ده

زمونږ مخے ته حاضر کړے شی او ددوی دپاره یوه نخښه دتوحید اود قدرت د الله تعالیٰ هغه مړه (او چه) زمکه ده

اَحْيَيْنٰهَا وَاَخْرَجْنَا مِنْهَا حَبًّا فَمِنْهُ يَاْكُلُوْنَ ۝ وَجَعَلْنَا

چه تازه کړه مونږ هغے لره | او را او باسلے مونږ | د هغے نه | دانے | لو د هغے نه | دوی خوری | او جوړ کړل مونږ

چه مونږ راژوندئ کړه او مونږ ترے غله راپیدا کړه چه داټول تر ینه خوراک کوی او مونږ

فِيْهَا جَنّٰتٍ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّاَعْنَابٍ وَّفَجَّرْنَا فِيْهَا

په دے کښے | باغونه | د | قجورو | او د انګورو نه | او وبهیولے مونږ | په دے کښے

په دے زمکه کښے دقجورو او دانګورو باغونه پیدا کړل او چینے موپکښے جاری کړے

مِنَ الْعُيُوْنِ ۝ لِيَاْكُلُوْا مِنْ ثَمَرِهٖ ۙ وَمَا عَمِلَتْهُ اَيْدِيْهِمْ ۭ

د چینو نه | دے دپاره چه دوی اوخوری | د میوو د هغے نه | او نه دی جوړ کړی دے لره | لاسونو ددوی

(دے دپاره) چه دوی د هغے (باغونو) میوے اوخوری حالانکه دا (شیزونه) ددوی لاسونو نه دی (جوړ) کړی

اَفَلَا يَشْكُرُوْنَ ۝ سُبْحٰنَ الَّذِيْ خَلَقَ الْاَزْوَاجَ كُلَّهَا

آیا نو دوی شکر نه کوی | پاکی (وایئ) | د هغه ذات | چه پیدا کړی دی | جوړے | ټول

آیا نو بیا هم دوی شکر نه اوباسی پاکی (بیانوه) دهغه ذات چه دهر یو شیز ئے جوړے (نر او ماده) پیدا کړی دی

مِمَّا تُنْۢبِتُ الْاَرْضُ وَمِنْ اَنْفُسِهِمْ وَمِمَّا لَا يَعْلَمُوْنَ ۝

د هغه څه نه | چه را زرغونوی ئے | زمکه | او د نفسونو ددوی نه | او د هغه څه نه | چه دوی ئے نه پیژنی

د زمکے په زرغونه کښے هم او ددوی په نفسونو کښے هم او په هغه شیزونو کښے هم چه دوی ئے پیژنی هم نه

وَاٰيَةٌ لَّهُمُ الَّيْلُ ۚ نَسْلَخُ مِنْهُ النَّهَارَ فَاِذَا هُمْ

او بله نخښه | ددوی دپاره | شپه ده | (چه) مونږ را اوکاږو | د هغے نه | ورځ | نو د غه وخت | دوی

او د دوی دپاره یوه بله نخښه شپه ده چه مونږ ترے ورځ راکاږو نو دغه وخت دوی

مُّظْلِمُوْنَ ۝ وَالشَّمْسُ تَجْرِيْ لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا ۭ ذٰلِكَ

په تیاره کښے شی | او | نمر | روان دے | وخت مقرر | د هغه ته | دا

په تیاره کښے پاتے شی او بله نښه نمر دے چه خپل مقرر وخت طرف ته (فناء دُ دنیا طرف ته) روان دے داحرکت دنمر

تَقْدِيْرُ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ۝ وَالْقَمَرَ قَدَّرْنٰهُ مَنَازِلَ حَتّٰى

اندازه | د زور آور | پوهه ذات ده | او سپوږمئ | مقرر کړی دی مونږ هغے لره | منزلونه | تر دے

اندازه دهغه ذات ده چه ډیر غالب او ډیر پوهه دے. اوسپوږمئ دپاره مونږ منزلونه (ځایونه دُ ښکاره کیدلو) مقرر کړی دی

عَادَ كَالْعُرْجُوْنِ الْقَدِيْمِ۝ لَا الشَّمْسُ يَنْۢبَغِيْ لَهَآ

چه واپس شي | پشان د شاڼگے د قجور زړے | نه دے نور | چه آسان شي | هغهٔ ته

تر دے چه د قجورے د زړے شاڼگے پشان پاتے شي۔ نه (خو) نور له دا ممکنه ده

اَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ وَلَا الَّيْلُ سَابِقُ النَّهَارِ ؕ وَكُلٌّ

داچه رالاندے کړي | سپوږمۍ | او نه شپه | مخکښې کیدونکے ده | د ورځ نه | او هريو

چه سپوږمۍ رالاندے کړي او نه شپه د ورځ نه مخکښې کیدے شي او دا هريو

فِيْ فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ۝ وَاٰيَةٌ لَّهُمْ اَنَّا حَمَلْنَا ذُرِّيَّتَهُمْ

په (خپل) مدار کښے | لامبو وهي | او يوله نخښه | د دوي دپاره | دا ده چه مونږ | سوارهٔ کړي دي | بچي د دوي

په خپل مدار (خائ د گرځيدلو) کښے لامبو وهي (روان دي) او د دوي دپاره يوه نخښه دا ده چه مونږ د دوي اولاد (بچي)

فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُوْنِ۝ۙ وَخَلَقْنَا لَهُمْ مِّنْ مِّثْلِهٖ مَا

په کشتۍ | ډکه کښے | او مونږ پيدا کړي دي | د دوي دپاره | پشان د دے | هغه څيزونه

په ډکه کشتۍ کښے سوارهٔ کړي دي او مونږ د دوي دپاره هم د دے پشان نور دا سے څيزونه پيدا کړي دي

يَرْكَبُوْنَ۝ وَاِنْ نَّشَاْ نُغْرِقْهُمْ فَلَا صَرِيْخَ لَهُمْ

چه دوي (پرے) سورلي کوي | او که چرے | اوغواړو مونږ | نو غرق به کړو دوي | بيا به نه وي هيڅ څوک فرياد رس | د دوي

چه دوي پرے سورلي کوي او که چرے مونږ اوغواړو نو دوي به ډوب کړو بيا به نه د دوي څوک

وَلَا هُمْ يُنْقَذُوْنَ۝ۙ اِلَّا رَحْمَةً مِّنَّا وَمَتَاعًا اِلٰى حِيْنٍ۝

او نه به دوي | بچ کړے شي | مګر | په وجه د رحمت | د طرف زمونږ نه | او (په وجه) د فائدے ورکولو | تر څه وخته پورے

فرياد اوريدونکے وي او نه به بچ کړے شي ليکن دا تول زمونږ مهرباني او څه وخته پورے فائدے ورکول دي۔

وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ اتَّقُوْا مَا بَيْنَ اَيْدِيْكُمْ وَمَا خَلْفَكُمْ

او کله چه | او وئيلے شي | دوي ته | چه اويريږئ | د هغه څه نه | چه ستاسو مخکښې دي | او د هغه څه نه | چه ستاسو وروستو دي

او کله چه دوي ته او وئيلے شي چه د عذاب د آخرت نه ځان بچ کړئ چه ستاسو وړاندے دے او د هغه عذاب د دنيا نه چه ستاسو نه وروستو په

لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ۝ وَمَا تَاْتِيْهِمْ مِّنْ اٰيَةٍ مِّنْ اٰيٰتِ رَبِّهِمْ

دے دپاره چه په تاسو | رحم اوکړے شي | او نهٔ راځي دوي ته | هيڅ يوه نخښه | د نخښو | د رب د دوي نه

اقوام مکذبو تير شو مخکښے دے دپاره چه په تاسو رحم اوکړے شي (نو دوي اعراض کوي) او دوي ته چه د خپل رب د نخښو نه هر يوه نخښه راشي

اِلَّا كَانُوْا عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ۝ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ اَنْفِقُوْا

مګر | دوي | د هغے نه | مخ اړونکي وي | او کله چه | او وئيلے شي | دوي ته | چه خرچ کړئ

نو دوي تر دے نه مخ اړوي او کله چه دوي ته او وئيلے شي چه الله چه تاسو له کوم رزق درکړے دے د هغے نه

مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ ۙ قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلَّذِيْنَ

د هغه څه نه | چه درکړي دي تاسو ته | الله | وائي | هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | د هغه خلقو په باره کښے

څه (حصه) (په غريبانو) خرچ کړئ نو کافران د مومنانو په باره کښې وائي

اٰمَنُوْٓا اَنُطْعِمُ مَنْ لَّوْ یَشَآءُ اللّٰهُ اَطْعَمَهٗٓ ۖ

چا ایمان سے راوړی وو | (چه) آیا خوراك ور كړو مونږ | هغه چاته | كه چیرے | غوښتلے | الله | نو خوراك به ئے ور كړے وو هغه

آیا مونږ به هغه چا بانديے خوراك او كړو چه كه دالله مرضي وے نو پخپله به ئے ورله خوراك ور كړے وے؟

اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا فِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ۝٤٧ وَیَقُوْلُوْنَ مَتٰی هٰذَا

نه یئ تاسو | مگر | په گمراهئ | ښكاره كښے | او وائی دوی | (چه) كله به وی | دا

تاسو خو په ښكاره گمراهئ كښے پراته (اخته) یئ او وائی كه چیرے تاسو رشتینی یئ نو دا (دقیامت) وعده به

الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ ۝٤٨ مَا یَنْظُرُوْنَ اِلَّا صَیْحَةً

وعده | كه چیرے | یئ تاسو | رشتینی | دوی انتظار نه كوی | مگر | د چغے

كله پوره كیږی؟ نو دوی چه دكوم څیز انتظار كوی هغه خو به اوله شپیلئ وهل وی

وَّاحِدَةً تَاْخُذُهُمْ وَهُمْ یَخِصِّمُوْنَ ۝٤٩ فَلَا یَسْتَطِیْعُوْنَ

یوے | چه راوبه نیسی دوی لره | او دوی به | جگړے كوی | پس (بیا به) طاقت نه لری دوی

چه دوی به دفناء دپاره په داسے حال كښے راونیسی چه خپلو كښے به په دُنیاوی اُمورو كښے بحثونه كوی بیا خو به دوی نه

تَوْصِیَةً وَّلَآ اِلٰٓی اَهْلِهِمْ یَرْجِعُوْنَ ۝٥٠ ع وَنُفِخَ فِی الصُّوْرِ

د وصیت كولو | او نه به خپل كور والو ته | واپس تلے شی | او پوك به او وهلے شی | په شپیلئ كښے

وصیت كولے شی او نه به خپل كور (والو) ته واپس تلے شی او (كله چه دویمه) شپیلئ كښے پوكے د بعث دپاره او وهلے شی

فَاِذَا هُمْ مِّنَ الْاَجْدَاثِ اِلٰی رَبِّهِمْ یَنْسِلُوْنَ ۝٥١ قَالُوْا

نو ناگهانه به | دوی | د | قبرونو نه | خپل رب طرف ته | وړزغل | وائی به دوی

نو دوی به دغه وخت د قبرونو نه د خپل رب طرف ته په منډه روان وی۔ وائی به

یٰوَیْلَنَا مَنْۢ بَعَثَنَا مِنْ مَّرْقَدِنَا ۜ هٰذَا مَا وَعَدَ

هائے تباهئ زمونږه | چا | راپورته كړو مونږ | دخایونو دملاستے خپلے نه | دا | هغه څه دی | چه وعده ئے كړے وه

هائے زمونږ بد نصیبه! مونږ چا دخپلو قبرونو نه راپاځولو؟ (جواب به ور كړے شی چه) دا خو هم هغه (قیامت) دے

الرَّحْمٰنُ وَصَدَقَ الْمُرْسَلُوْنَ ۝٥٢ اِنْ كَانَتْ اِلَّا صَیْحَةً وَّاحِدَةً

رحمٰن | او رشتیا وئیلی وو | پیغمبرانو | نه به وی دا | مگر | چغه | یوه

چه رحمٰن ذات ئے وعده كړے وه او پیغمبرانو رشتیا وئیلی وو دا به بس یوه درنه چغه وی

فَاِذَا هُمْ جَمِیْعٌ لَّدَیْنَا مُحْضَرُوْنَ ۝٥٣ فَالْیَوْمَ لَا تُظْلَمُ

پس ناگهانه به | دوی | ټول | زمونږ مخے ته | حاضر كړے شی | پس نن ورځ | ظلم به اونه كړے شی

(چه دغے نه پس به) دا ټول زمونږ مخے ته حاضر (كړے) شی پس نن ورځ به په هیڅ چا باندے هیڅ قسمه ظلم نه كیږی

نَفْسٌ شَیْئًا وَّلَا تُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝٥٤ اِنَّ

په هیڅ یو كس | هیڅ هم | او نه به تاسو ته بدله دركولے شی | مگر | دهغه څه | چه تاسو به | كول | بیشكه

او تاسو ته به صرف دخپلو عملونو (كه بلا واسطه وی او كهٔ بالواسطه وی) بدله ملاویږی

أَصْحٰبَ الْجَنَّةِ الْيَوْمَ فِيْ شُغُلٍ فٰكِهُوْنَ ۚ۝۵۵ هُمْ وَأَزْوَاجُهُمْ

جنت والا به | نن ورځ | په خپله مشغولا کښې وي | خوشحاله به وي | دوي | او ددوي بيبيانې (ښځې)

يقيناً جنتيان به نن ورځ په خپله مشغولا کښې وي او خوشحاله به وي۔ دوي او د دوي بيبيانو به

فِيْ ظِلٰلٍ عَلَى الْأَرَآئِكِ مُتَّكِـُٔوْنَ ۝۵۶ لَهُمْ فِيْهَا فَاكِهَةٌ

په سورو کښې وي | په تختونو باندې | تکيه وهونکي به وي | وي به ددوي دپاره | په دې کښې | ميوې

د سورو لاندې په تختونو باندې تکيه لګولي وي او د دوي دپاره به هلته ميوې

وَلَهُمْ مَّا يَدَّعُوْنَ ۝۵۷ سَلٰمٌ قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ رَّحِيْمٍ ۝۵۸

او وي به ددوي دپاره | هرڅه چه | چه دوي (يې) غواړي | سلام دې | وينا به کيږي | د طرفه د رب | ډير مهربان نه

او هر هغه څيز وي چه دوي يې غواړي د مهربان پروردګار د طرف نه به ورته سلام وئيلې شي

وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُوْنَ ۝۵۹ أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ

او جدا شئ | نن ورځ | اې مجرمانو | آيا په څه خبره نه وه کړې ما | تاسو ته

او (کافرانو ته به او وئيلې شي چه) اې مجرمانو! نن تاسو (د مومنانو نه) جدا شئ۔ اې د آدم بچو

يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ أَنْ لَّا تَعْبُدُوا الشَّيْطٰنَ ۚ إِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ

اې د آدم بچو! | داچه نه به کوئ تاسو عبادت | د شيطان | بيشکه هغه دې | تاسو لره | دشمن

آيا ما تاسو ته (دا دې خبرې) تاکيد نه وو کړې چه د شيطان عبادت مه کوئ ځکه چه هغه ستاسو ښکاره

مُّبِيْنٌ ۝۶۰ وَّأَنِ اعْبُدُوْنِيْ ۚ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ۝۶۱ وَلَقَدْ

ښکاره | او (داچه) بندګي به کوئ زما | دا ده | لاره | نيغه | او يقيناً

دشمن دې او دا چه (صرف) زما عبادت به کوئ همدا نيغه لار ده۔ او حقيقت دا دې

أَضَلَّ مِنْكُمْ جِبِلًّا كَثِيْرًا ۚ أَفَلَمْ تَكُوْنُوْا تَعْقِلُوْنَ ۝۶۲ هٰذِهٖ

ده ګمراه کړي دي | ستاسو نه | خلق | ډير | آيا نو تاسو | عقل نه لرلو | دا دې

چه دې (شيطان) په تاسو کښې ډير خلق ګمراه کړي وو نو آيا تاسو د عقل نه کار نه اخستلو؟ دا هغه

جَهَنَّمُ الَّتِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ۝۶۳ اِصْلَوْهَا الْيَوْمَ بِمَا

دوزخ | هغه | چه تاسو سره به ئې | وعده کيدله | داخل شئ دې ته | نن ورځ | په دې وجه

دوزخ دې چه تاسو سره به ئې (په صورت د خلاف کولو کښې) وعده کيدله نن دې ته داخل شئ ځکه چه

كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ۝۶۴ اَلْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلٰٓى أَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَآ

چه تاسو به | کفر کولو | نن ورځ به | مونږ مهر اووهو | په خلو د دوي باندې | او خبرې به کوي زمونږ سره

تاسو به هميشه کفر کولو. نن به مونږ د دوي په خلو باندې مهر اولګوو او د دوي لاسونه به مونږ سره

أَيْدِيْهِمْ وَتَشْهَدُ أَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ۝۶۵ وَلَوْ

لاسونه د دوي | او ګواهي به کوي | ښپې د دوي | په هغه څه | چه دوي به | کول | او که چرې

خبرې کوي او د دوي ښپې به (د دوي خلاف) د هغه کارونو ګواهي ورکوي کوم چه دوي (په دنيا کښې) کسب کول. او که چرې

نَشَآءُ لَطَمَسْنَا عَلٰٓی اَعْیُنِهِمْ فَاسْتَبَقُوا الصِّرَاطَ

او غواړو مونږ | نو خامخا مونږ به ورانې کړو | سترګې د دوی | نو دوی به ورالندې کیږدی | لارې ته

مونږ وغواړو نو (په دنیا کښې به) د دوی سترګې بې نوره (ړندې) کړو بیا به دوی د لارې طرف ته منډې وهی

فَاَنّٰی یُبْصِرُوْنَ ﴿٦٦﴾ وَلَوْ نَشَآءُ لَمَسَخْنٰهُمْ عَلٰی مَكَانَتِهِمْ

نو څنګه به | لیدل کوی | او که چرې | مونږ او غواړو | نو مسخ به کړو دوی | (ولاړ) په خپلو ځایونو باندې

لیکن څه به نه وینی او که چرې مونږ او غواړو نو هم د دوی په ځائے به د دوی شکلونه مسخ کړو

فَمَا اسْتَطَاعُوْا مُضِیًّا وَّلَا یَرْجِعُوْنَ ﴿٦٧﴾ وَمَنْ نُّعَمِّرْهُ

ع

نو (بیا به) وس نه لری | د (مخکښې) تللو | او نه به واپس کیدے شی | او هغه څوک | چه مونږ زیات ور کړو هغه ته عمر

بیا به دوی نه وړاندې تلے شی او نه به واپس ګرځیدے شی او چا له چه مونږ ډیر عمر ور کړو

نُنَكِّسْهُ فِی الْخَلْقِ ؕ اَفَلَا یَعْقِلُوْنَ ﴿٦٨﴾ وَمَا عَلَّمْنٰهُ الشِّعْرَ

نو الټا کړو مونږ هغه | په پیدائښت کښې | آیا نو دوی عقل نه لری | او مونږ نه دے ښودلے دے نبی ته | شعر

نو واپس ئے کړو کمزورئ ته آیا نو بیا هم دوی نه پوهیږی او مونږ دے (خپل پیغمبر) ته نه شاعری ښودلے ده

وَمَا یَنْۢبَغِیْ لَهٗ ؕ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ وَّقُرْاٰنٌ مُّبِیْنٌ ﴿٦٩﴾

او نه (دا) مناسب دے | ددهٔ سره | نه دے دا (کتاب) | مګر | نصیحت | او قرآن | واضح

او نه ورسره دا مناسب ده دا خو بس یو نصیحت او واضح (روښانه) قرآن دے۔

لِّیُنْذِرَ مَنْ كَانَ حَیًّا وَّیَحِقَّ الْقَوْلُ عَلَی الْكٰفِرِیْنَ ﴿٧٠﴾

د دے د پاره چه خبردار کړی | هغه څوک | چه وی | ژوندے | او ثابته شی | خبره (حجت) | په کافرانو باندے

د دے د پاره صورالی ـ لحے ـ چه هغه خلق پو ـ ـ خبردار کړی چه ژړونه ـ ژوندی دی او په کافرانو باندے حجت (خبره) پوره شی۔

اَوَلَمْ یَرَوْا اَنَّا خَلَقْنَا لَهُمْ مِّمَّا عَمِلَتْ اَیْدِیْنَآ

آیا او دوی نه ګوری | چه بیشکه | پیدا کړی دی مونږ | د دوی د پاره | د هغه څه نه | چه جوړ کړی دی | لاسونو زمونږ

او آیا دوی دیته نه ګوری چه مونږ د خپلو لاسو جوړ شوی څیزونو نه دوی د پاره څاروی پیدا کړل

اَنْعَامًا فَهُمْ لَهَا مٰلِكُوْنَ ﴿٧١﴾ وَذَلَّلْنٰهَا لَهُمْ فَمِنْهَا

څاروی | نو دوی | د هغے | مالکان دی | او مونږ تابع کړی دی دا (څاروی) | د دوی | نو بعضے د هغے نه

او دوی د هغے مالکان دی او مونږ دا څاروی د دوی په قابو کښې را وستل دی نو په بعضو باندے دوی

رَكُوْبُهُمْ وَمِنْهَا یَاْكُلُوْنَ ﴿٧٢﴾ وَلَهُمْ فِیْهَا مَنَافِعُ وَمَشَارِبُ ؕ

سورلئ د دوی دی | او بعضے د هغے نه | دوی خوری | او د دوی د پاره | په هغے کښے | فائدے دی | او د څښلو څیزونه دی

سورلی کوی او د بعضو نه خوراک کوی او دوی ته د دے څارو و نه (نورے ډیرے) فائدے او د څښلو څیزونه ملاویږی

اَفَلَا یَشْكُرُوْنَ ﴿٧٣﴾ وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اٰلِهَةً لَّعَلَّهُمْ

آیا نو دوی شکر نه کوی | او دوی نیولی دی | د الله نه سوا | (نور) خدایان | د دے د پاره چه دوی (سره)

آیا بیا هم دوی شکر نه او باسی او دوی د الله نه سوا نور ګنړ خدایان په دے امید جوړ کړی دی چه مدد به ورسره او کړے شی

يُنْصَرُوْنَ ۝ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ نَصْرَهُمْ ۙ وَهُمْ لَهُمْ جُنْدٌ

مدد وكړے شي | هغوي طاقت نه لري | د مدد كولو د دوي | او دوي | د هغوي (دپاره) | لښكر دے

حالانكه په هغوي كښے د دوي سره د مدد كولو هيڅ طاقت نشته او بيا هم دوي د هغوي دَ خوكيدارئ دپاره لښكر

مُّحْضَرُوْنَ ۝ فَلَا يَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ ۘ اِنَّا نَعْلَمُ مَا يُسِرُّوْنَ

حاضر كړے شوے | پس غمژن دِ نه كړي تا لره | وَينا دَ دوي | بيشكه | مونږ پوهيږو | په هغه څه | چه دوي پټوي

حاضر كړے شوے دے. پس (اے نبي!) دَ دوي خبرے دِ تا خفه نه كړي يقين او كړه دوي چه څه

وَمَا يُعْلِنُوْنَ ۝ اَوَلَمْ يَرَ الْاِنْسَانُ اَنَّا خَلَقْنٰهُ

او په هغه څه | چه دوي ئے ښكاره كوي | آيا او نه گوري | انسان | چه بيشكه | مونږ پيدا كړے دے دَهٔ لره

ښكاره كوي او څه پټوي هغه ټول مونږ ته معلوم دي او آيا انسان دے ته نه گوري چه مونږ دے د يوے

مِنْ نُّطْفَةٍ فَاِذَا هُوَ خَصِيْمٌ مُّبِيْنٌ ۝ وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا

د نطفے نه | پس ناگهانه | دے (شو) | جګړه مار | ښكاره | او بيانوي دے | زمونږ دپاره | مثال

نطفے نه پيدا كړو؟ بيا دے ښكاره جګړے كوي (په توحيد كښ) او زمونږ دَ قدرت نه دَ انكار دپاره مثالونه بيانوي

وَّنَسِيَ خَلْقَهٗ ۭ قَالَ مَنْ يُّحْيِ الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيْمٌ ۝

او هير كړے ئے دے | پيدائش خپل | وائي دے | څوك به | ژوندي كړي | هډوكي | حال دا دے چه هغه به وي | زړه زړه

او خپل پيدائش ئے هير كړے دے (او) وائي چه دا هډوكي به څوك را ژوندي كوي حالانكه دا به زاړه شوي وي؟

قُلْ يُحْيِيْهَا الَّذِيْٓ اَنْشَاَهَآ اَوَّلَ مَرَّةٍ ۭ وَهُوَ بِكُلِّ

او وايه | ژوندي به كړي دے لره | هغه ذات | چه هغه پيدا كړي وو دا | په اول | ځل | او هغه | په هر

ته ورته جواب وركړه چه دا به هم هغه ذات را ژوندي كوي چا چه په اول ځل پيدا كړي وو او هغه ته

خَلْقٍ عَلِيْمُۨ ۝ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمْ مِّنَ الشَّجَرِ الْاَخْضَرِ

مخلوق باندے | ښه پوهه دے | هغه ذات | چه پيدا كړے دے هغه | ستاسو دپاره | د اوښي | شنے نه

د هر كار د پيدا كولو پوره علم دے هم هغه ذات (به ئے پيدا كوي) چه ستاسو دپاره ئے د شنے اوښي نه

نَارًا فَاِذَآ اَنْتُمْ مِّنْهُ تُوْقِدُوْنَ ۝ اَوَلَيْسَ الَّذِيْ خَلَقَ

اور | نو ناگهانه | تاسو | د هغے نه | اور بلوئ | آيا نه دے | هغه ذات | چه پيدا كړي ئے دي

اور پيدا كړے دے نو بيا تاسو د هغے نه اور بلوئ آيا كوم ذات چه

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِقٰدِرٍ عَلٰٓى اَنْ يَّخْلُقَ مِثْلَهُمْ ۭ بَلٰى ق

آسمانونه | او | زمكه | قدرت لرونكے | په | دے چه پيدا كړي | په شان دَ دوي | ولے نه

آسمانونه او زمكه پيدا كړي دي هغه په دے قادر نه دے چه دوي بيا هم هغه شان پيدا كړي؟ ولے نه؟

وَهُوَ الْخَلّٰقُ الْعَلِيْمُ ۝ اِنَّمَآ اَمْرُهٗٓ اِذَآ اَرَادَ شَيْـًٔا

او هغه | دير پيدا كوونكے | ښه پوهه دے | بيشكه | حكم د هغهٔ | كله چه | اراده او كړي | د يو څيز

او (حالانكه) هغه هر څه پيدا كوونكے ښه پوهه دے. د هغه شان خو دا دے چه كله دَ يو څيز د پيدا كولو اراده او كړي

اَنْ يَّقُوْلَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿۸۲﴾ فَسُبْحٰنَ الَّذِیْ بِيَدِهٖ

(داوی چه) اووائی | هغه ته | شه | نو هغه اوشی | پس پاکی (بیانوه) | دهغه ذات | چه دهغه په لاس کښے

نو صرف دومره (ورته) اووائی چه اوشه نو هغه اوشی پس هغه ذات ډیر پاک دے (پاکی بیان کړه دهغه ذات)

مَلَكُوْتُ كُلِّ شَیْءٍ وَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۸۳﴾ ع

بادشاهی ده | د هر یو | څیز | او هغه ته به | تاسو واپس کولے شئ

چه دهغه په لاس کښے دهر څیز بادشاهی ده او تاسو ټول به دهغه طرف ته واپس کیږئ.

آیاتها [۱۸۲]	سورة صٰفّٰت مکّيّة	رکوعاتها [۵]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

وَالصّٰٓفّٰتِ صَفًّا ﴿۱﴾ فَالزّٰجِرٰتِ زَجْرًا ﴿۲﴾ فَالتّٰلِيٰتِ

قسم دے په صف جوړونکو فرشتو په صف جوړولو سره | بیا قسم دے په هغه شړونکو ملائکو | په شړلو سره | بیا قسم دے په هغه ملائکو چه لوستونکو دی

په صف جوړونکو فرشتو باندے قسم دے بیا په هغه فرشتو قسم دے چه (شیطانان) په کلکه رټی بیا په

ذِكْرًا ﴿۳﴾ اِنَّ اِلٰهَكُمْ لَوَاحِدٌ ﴿۴﴾ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

وحی لره | بیشکه | معبود ستاسو | خامخا یو دے | چه رب دے | د آسمانونو | او د زمکے

هغه فرشتو قسم دے چه ذکر (قرآن) لولی (چه) یقیناً ستاسو حقدار د بندګۍ هم یو دے چه د ټولو اسمانونو او د زمکے

وَمَا بَيْنَهُمَا وَرَبُّ الْمَشَارِقِ ﴿۵﴾ اِنَّا زَيَّنَّا السَّمَآءَ

او دهغه څه | چه د دے دواړو تر مینځه دی | او رب دے | د مشرقونو | بیشکه | مونږ ښائسته کړے دے | آسمان

او د دے دواړو په مینځ کښے چه څه دی دهغے مالك (رب) دے او دلمر د راختلو د ځایونو مالك (رب) دے

الدُّنْيَا بِزِيْنَةِ ۨالْكَوَاكِبِ ﴿۶﴾ وَحِفْظًا مِّنْ كُلِّ شَيْطٰنٍ

دنیوی | په ښائست سره | چه ستوری دی | او بچ موساتلے دے په ساتنے سره | د هر | شیطان

یقیناً مونږ د دنیا آسمان د ستورو په ښائست سره ښائسته کړے دے او د هر یو سرکش شیطان نه

مَّارِدٍ ﴿۷﴾ لَا يَسَّمَّعُوْنَ اِلَى الْمَلَاِ الْاَعْلٰى وَيُقْذَفُوْنَ مِنْ كُلِّ

سرکش نه | دوی غوږ نشی کیښودلے | هغه ډلے | او چتے ته | او دوی ویشتلے کیږی | د هر

مونږ بچ ساتلے دے۔ (داشیطانان) د ملائکو د برنی مجلس خبرے نشی اوریدلے او د هر طرف نه ویشتلے کیږی

جَانِبٍ ﴿۸﴾ دُحُوْرًا وَّلَهُمْ عَذَابٌ وَّاصِبٌ ﴿۹﴾ اِلَّا مَنْ

طرف نه | زغلولے شی په زغلولو سره | او د دوی د پاره | عذاب دے | پیوست کیدونکے | مګر | هغه څوك

دهلته نه د شړلو د پاره (دوی له رټلے شی) او دوی د پاره پیوست کیدونکے عذاب دے. البته که څوك

خَطِفَ الْخَطْفَةَ فَاَتْبَعَهٗ شِهَابٌ ثَاقِبٌ ۝ فَاسْتَفْتِهِمْ

چه اوتختوي (څه خبره) | په تختولو سره | نو ور پسے شي | يَوه شعله | بليدونكے | پس ته تپوس او كړه دوي نه

پكښے يو خبره نيمه اوتختوي نو يوه ګرمه ځلنده شعله ورپسے (روانه) شي اوس دے كافرانو نه (يو) تپوس او كړه چه

اَهُمْ اَشَدُّ خَلْقًا اَمْ مَّنْ خَلَقْنَا ؕ اِنَّا خَلَقْنٰهُمْ

چه آيا دوي | ډير سخت دي | په پيدائش كښے | يا هغه څوك | چه مونږ پيدا كړي دي | بيشكه مونږ | پيدا كړي دي هغوي

ددوي پيدا كول ډير سخت دي يا د نورو څيزونو چه مونږ پيدا كړي دي؟ مونږ خو دوي د ښليخناكے خټے نه پيدا كړي

مِّنْ طِيْنٍ لَّازِبٍ ۝ بَلْ عَجِبْتَ وَيَسْخَرُوْنَ ۝ وَاِذَا ذُكِّرُوْا

د خټے | ښليخناكے نه | بلكه | ته تعجب كوے | او دوي خندا كوي | او كله چه | نصيحت او كړے شي دوي ته

(اے نبي!) حقيقت خو دا دے چه ته (ددوي په خبره) تعجب كوے او دوي خندا كانے (توقے) كوي. او كله چه ورته

لَا يَذْكُرُوْنَ ۝ وَاِذَا رَاَوْا اٰيَةً يَّسْتَسْخِرُوْنَ ۝ وَقَالُوْٓا اِنْ هٰذَآ

نو نصيحت نه قبلوي | او كله چه | او ويني | څه نخښه | نو دوي توقے كوي (په ښخه پورے) | او وائي | نه دے دا

نصيحت او (كړے) شي نو نه ئے مني او كله چه څه نخښه او ويني نو ښخے پورے ملندے (توقے) كوي. او وائي چه

اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝ ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا

مګر | يَو جادو | ښكاره | آيا كله چه | مړ شو مونږ | او شو مونږ | خاورے | او هډوكي

دا خو بس (صرف) يو ښكاره جادو دے آيا چه مونږ كله مړ شو او خاورے او هډوكي شو

ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ۝ اَوَاٰبَآؤُنَا الْاَوَّلُوْنَ ۝ قُلْ نَعَمْ وَاَنْتُمْ

(نو) مونږ به | بيا راپورته كولے شو | آيا او زمونږ پلاران | ورومبني (هم) | او وايه | هاؤ | او تاسو به

نو (لا بيا به) ژوندي كيږو او آيا زمونږ پخواني پلارنيكه به (هم راژوندي كيږي)؟ ته ورته او وايه چه او (هو)!

دَاخِرُوْنَ ۝ فَاِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَّاحِدَةٌ فَاِذَا هُمْ

ذليل يئ | پس بيشكه | دا به | (تيزه) چغه وي | يَوه | پس دغه وخت به | دوي

او تاسو به ذليله (هم) يئ. بس دا خو به يوه درنه چغه وي نو دغه وخت به دوي يو بل ته ګوري يا خپل حالت ته به ګوري

يَنْظُرُوْنَ ۝ وَقَالُوْا يٰوَيْلَنَا هٰذَا يَوْمُ الدِّيْنِ ۝ هٰذَا يَوْمُ

ګوري | او وائي به | هاے هلاكت دے زمونږ | دا ده | ورځ | د جزاء | دا ده | ورځ

او وائي به هاے زمونږ بد نصيبه! دا خو د حساب او كتاب (د قيامت) ورځ ده (ورته به او ويلے شي چه) دا هم هغه

الْفَصْلِ الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ۝ اُحْشُرُوا الَّذِيْنَ

د فيصلے | هغه | چه تاسو به | هغه | دروغ ګڼړله | راجمع كړئ | هغه خلق

د فيصلے ورځ ده چه تاسو به دروغ ګڼړله. فرشتو ته به حكم وشي (چه) ظالمان او د هغوي ملګري

ظَلَمُوْا وَاَزْوَاجَهُمْ وَمَا كَانُوْا يَعْبُدُوْنَ ۝ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

چه ظلم ئے كړے وے | او د هغوي ملګري | او هغه څه | چه دوي به ئے | عبادت كولو | سوا د الله نه

او هغه معبودان چه دوي به ئے د الله نه سوا عبادت كولو هغه ټول راجمع كړئ

فَاهْدُوْهُمْ اِلٰى صِرَاطِ الْجَحِيْمِ ﴿٢٣﴾ وَقِفُوْهُمْ اِنَّهُمْ مَّسْئُوْلُوْنَ ﴿٢٤﴾

پس روان کړئ دوی | په طرف دلارے | د دوزخ | او اودروئ دوئ | بیشکه دوی ته | تپوس کیږی

بیا ئے د دوزخ په لار روان کړئ او لږ ئے اودروئ (ایسار ئے کړئ) دَ دوی نه تپوس کیږی

مَا لَكُمْ لَا تَنَاصَرُوْنَ ﴿٢٥﴾ بَلْ هُمُ الْيَوْمَ مُسْتَسْلِمُوْنَ ﴿٢٦﴾

څه اوشو په تاسو | چه دیو بل مدد نه کوئ | بلکه | دوی به | نن ورځ | تابعدار وی

(چه دا) په تاسو څه (چل) اوشو چه دیو بل مدد نه کوئ؟ بلکه نن خو دوی سرونه ټیټ ولاړ دی (فرمانبردار دی)

وَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ يَّتَسَآءَلُوْنَ ﴿٢٧﴾ قَالُوْٓا اِنَّكُمْ

او را مخامخ به شی | بعضے د دوی نه | په بعضو باندے | دیو بل نه به تپوس کوی | وائی به | چه بیشکه

او یو بل ته به رامخامخ شی (او یو بل نه به) تپوسونه شروع کړی (کشران به مشرانو ته) او وائی چه تاسو به

كُنْتُمْ تَاْتُوْنَنَا عَنِ الْيَمِيْنِ ﴿٢٨﴾ قَالُوْا بَلْ لَّمْ تَكُوْنُوْا

تاسو وئ | چه راتلئ مونږ ته | د ښی طرف نه | او به وائی | (نه) بلکه | نه وئ تاسو (پخپله)

مونږ ته د ښی چوپے نه راتلئ او د صحیح دین نه مو منع کړی وو (مشران به ورته) او وائی چه نه بلکه تاسو خو پخپله

مُؤْمِنِيْنَ ﴿٢٩﴾ وَمَا كَانَ لَنَا عَلَيْكُمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ ۚ بَلْ كُنْتُمْ

ایمان راوړونکی | او نه وو | زمونږ | په تاسو باندے | څه | زور | بلکه | وئ تاسو (پخپله)

ایمان نه راوړو او زمونږ خو په تاسو هیڅ زور نه وو اصل خبره دا ده چه تاسو پخپله

قَوْمًا طٰغِيْنَ ﴿٣٠﴾ فَحَقَّ عَلَيْنَا قَوْلُ رَبِّنَآ ۖ اِنَّا لَذَآئِقُوْنَ ﴿٣١﴾

یو قوم | سرکشی کوونکی | پس ثابته شوے ده | په مونږ | وینا | درب زمونږه | بیشکه مونږ | خامخا څکونکی یو (دعذاب)

سرکشان وئ او س خو زمونږ په باره کښے دخپل رب خبره (فیصله) ثابته شوے ده او س خو به مونږ ضرور دعذاب خوند څکو

فَاَغْوَيْنٰكُمْ اِنَّا كُنَّا غٰوِيْنَ ﴿٣٢﴾ فَاِنَّهُمْ يَوْمَئِذٍ فِى الْعَذَابِ

پس گمراه کړی وئ مونږ تاسو | (ځکه چه) مونږ | وو پخپله | گمراهان | پس بیشکه دوی به | په دغه ورځ | په عذاب کښے

مونږ تاسو گمراه کړی وئ د دے وجے نه چه مونږ پخپله هم گمراه وو. پس په دغه ورځ به دوی ټول په عذاب کښے

مُشْتَرِكُوْنَ ﴿٣٣﴾ اِنَّا كَذٰلِكَ نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِيْنَ ﴿٣٤﴾ اِنَّهُمْ كَانُوْٓا

شریک وی | بیشکه مونږ | دغه شان | کار کوو | د مجرمانو سره | بیشکه دوی | وو

دیو بل سره شریک وی. یقیناً مونږ مجرمانو سره هم دغه شان (کار) کوو. د دوی حال دا وو

اِذَا قِيْلَ لَهُمْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ۙ يَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿٣٥﴾

کله به چه | او ویلے شو | دوی ته | چه نشته دے | لائق دعبادت | غیر | د الله نه | نو دوی به ځان لوئے گڼړلو

چه کله به ورته او ویلے شو چه د الله تعالیٰ نه سوا بل څوک معبود نشته نو دوی به لوئی (تکبر) کولو

وَيَقُوْلُوْنَ اَئِنَّا لَتَارِكُوْٓا اٰلِهَتِنَا لِشَاعِرٍ مَّجْنُوْنٍ ﴿٣٦﴾ ؕ بَلْ

او (دوی به) وئیل | آیا مونږ | پریښودونکی یو | خپلو خدایانو لره | دوجے دیو شاعر | لیونی نه | بلکه

او وئیل به ئے چه آیا مونږ دیو لیونی شاعر په وینا خپل معبودان پریږدو؟ (حالانکه پیغمبر نه لیونے وو او نه شاعر)

جَآءَ بِالْحَقِّ وَصَدَّقَ الْمُرْسَلِيْنَ ۝٣٧ اِنَّكُمْ لَذَآئِقُوا

هغه راوړے دے | حق | او تصدیق ئے کړے دے | د پیغمبرانو | بیشکه تاسو | خامخا څکونکی یئ

بلکه هغه خو دوی ته یو حق (رشتینے) دین راوړے دے او د ټولو پیغمبرانو تصدیق ئے کړے دے.

الْعَذَابِ الْاَلِيْمِ ۝٣٨ وَمَا تُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝٣٩

د عذاب | ډیر دردناک | او بدله به نشی درکولے تاسو ته | مګر | د هغه څه | چه تاسو به همیشه کول

یقیناً تاسو (ټول) به ضرور د دردناک عذاب مزه (خوند) څکئ او هم د هغه څه بدله به درته ملاویږی چه تاسو به همیشه کول

اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ۝٤٠ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ رِزْقٌ مَّعْلُوْمٌ ۝٤١

مګر | بندګان | د الله | خالص کړے شوی | هم دغه کسان دی | د دوی دپاره | رزق دے | معلوم

البته کوم چه د الله خالص کړے شوی (مخلص) بندګان دی د هغوی دپاره معلوم رزق دے

فَوَاكِهُ ۚ وَهُمْ مُّكْرَمُوْنَ ۝٤٢ فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ۝٤٣ عَلٰى سُرُرٍ

میوے دی | او دوی به | عزتمند کړے شی | په | جنتونو | د نعمتونو کښے | په تختونو باندے (به ناست وی)

چه هغه (قسما قسم) میوے دی او د نعمتونو نه ډک جنتونو (باغونو) کښے به به په عزت سره وی په او چتو تختونو

مُّتَقٰبِلِيْنَ ۝٤٤ يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِكَاْسٍ مِّنْ مَّعِيْنٍ ۝٤٥ بَيْضَآءَ

یو بل ته مخامخ | ګرځولے به شی | په دوی باندے | ډک جامونه | د جاری شرابو نه | سپین (به وی)

به یو بل ته مخامخ ناست وی او د بهیدونکو شرابو ډک ډک جامونه به پرے ګرځولے شی چه ټول سپین به وی

لَذَّةٍ لِّلشّٰرِبِيْنَ ۝٤٦ لَا فِيْهَا غَوْلٌ وَّلَا هُمْ عَنْهَا يُنْزَفُوْنَ ۝٤٧

خوند ورکونکی | څکونکو ته | نه به وی په هغے کښے | دسردرد | او نه به دوی | د هغے نه | نشه کیږی

څکونکو ته به ډیر خوند ورکوونکی وی (چه) نه به پرے سر ګرځوی او نه به ئے په عقل کښے فتور راولی

وَعِنْدَهُمْ قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ عِيْنٌ ۝٤٨ كَاَنَّهُنَّ بَيْضٌ

او وی به د دوی سره | (ښځے) بند ساتونکی | نظر لره | غټو سترګو والا | لکه چه دی هغوی | اګئے

او د دوی سره به د غټو سترګو والا حورے وی چه (د حیا د وجے به) خپل نظرونه ښکته ساتی (دا بے به ښکاری)

مَّكْنُوْنٌ ۝٤٩ فَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ يَّتَسَآءَلُوْنَ ۝٥٠

پټے ساتلے شوی | نو را مخامخ به شی | بعضے د دوی نه | په بعضو باندے | د یو بل نه به تپوس کوی

لکه دا ګئے (محفوظ) ساتلے شوی اګئ دی بیا به یو بل ته مخ راواړوی د یو بل نه به تپوس کوی

قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ اِنِّيْ كَانَ لِيْ قَرِيْنٌ ۝٥١ يَّقُوْلُ اَئِنَّكَ

او به وائی | یو ویونکے | د دوی نه | (چه) بیشکه | وو | زما | یو ملګرے | وئیل به هغه | (چه) آیا ته

یو به ئے کښے او وائی چه زما یو ملګرے وو (چه ما ته به ئے) وئیل چه آیا ته (هم)

لَمِنَ الْمُصَدِّقِيْنَ ۝٥٢ ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا

خامخا د رشتیا ګڼړونکو نه ئے | آیا کله چه | مړه شو موږ | او شو موږ | خاورے | او هډوکی | (نو) آیا موږ ته به

په هغه خلقو کښے ئے چه آخرت رشتیا ګڼړی؟ آیا چه موږ کله مړه شو او خاورے او هډوکی شو نو موږ ته به

لَمَدِيْنُوْنَ ۝ قَالَ هَلْ اَنْتُمْ مُّطَّلِعُوْنَ ۝ فَاطَّلَعَ فَرَاٰهُ

بدله را کولے شی | اوبه وائی | آیا | تاسو | ور بنکاره کیدونکی یئ | تو ور بنکاره شی دے | تو اوبه وینی هغه لره

دخپل عملونو بدله ملاویږی؟ بیا به (دا جنتی) (نورو ته) اووائی آیا تاسو ئے لیدل غواړئ؟ بیا به ئے هغه (پخپله) اوګوری

فِيْ سَوَآءِ الْجَحِيْمِ ۝ قَالَ تَاللّٰهِ اِنْ كِدْتَّ لَتُرْدِيْنِ ۝

په مینځ | د دوزخ کښے | اوبه وائی دے | قسم په الله | بیشکه | نزدے وے ته | چه زه دِ هلاک کړے وے

نو دجهنم په مینځ کښے به ئے اووینی دے به اووائی چه قسم په الله اتا خو بس زه هم هلاک کړے وے وم

وَلَوْلَا نِعْمَةُ رَبِّيْ لَكُنْتُ مِنَ الْمُحْضَرِيْنَ ۝ اَفَمَا نَحْنُ

اوکه نه وے | نعمت | د رب زما | تو خامخا وے به زه | د حاضر کړے شوو نه | آیا نو نه یُو مونږ

که چرے زما درب مهربانی (احسان) نه وے نو زه به هم (ستا غوندے) په عذاب کښے حاضر کړے شوے وم.

بِمَيِّتِيْنَ ۝ اِلَّا مَوْتَتَنَا الْاُوْلٰى وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِيْنَ ۝ اِنَّ

مړه کیدونکی | مګر | مرګ زمونږ | وړومبے | او نه یُو مونږ | عذابیدونکی | بیشکه

آیا نو اوس به په مونږ مرګ نه راځی سوا دهغه وړومبی مرګ نه او نه به راته عذاب ملاویږی؟ یقیناً

هٰذَا لَهُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝ لِمِثْلِ هٰذَا فَلْيَعْمَلِ الْعٰمِلُوْنَ ۝

دا | خامخا ده | کامیابی | ډیره لویه | دپاره دد غسے (کامیابئ) | پس عمل دِ اوکړی | عمل کوونکی

هم دا ډیره لویه کامیابی ده دد ے پشان کامیابئ دپاره عمل کوونکو لره عمل کول پکاردی

اَذٰلِكَ خَيْرٌ نُّزُلًا اَمْ شَجَرَةُ الزَّقُّوْمِ ۝ اِنَّا جَعَلْنٰهَا فِتْنَةً

آیا دا | ډیره به | میلمستیاده | که | اونه | د زقوم | بیشکه مونږ | جوړه کړے ده هغه | ازمیښت

آیا دا میلمستیا به ده که د زقوم اونه؟ مونږ دغه اونه د ظالمانو دپاره

لِّلظّٰلِمِيْنَ ۝ اِنَّهَا شَجَرَةٌ تَخْرُجُ فِيْٓ اَصْلِ الْجَحِيْمِ ۝

د ظالمانو دپاره | بیشکه هغه | یُوه اونه ده | چه راوځی به | په ویخ | د دوزخ کښں

یو ازمیښت جوړ کړے دے دا یوه داسے اونه ده چه د جهنم په ویخ کښے راتوکیږی.

طَلْعُهَا كَاَنَّهٗ رُءُوْسُ الشَّيٰطِيْنِ ۝ فَاِنَّهُمْ لَاٰكِلُوْنَ مِنْهَا

ځانګے دهغے | (داسے دی) لکه | سرونه دی | دمارانو (شیطانانو) | بیشکه دوی به | خامخا خوړونکی وی | د هغے نه

دهغے ځانګے داسے دی لکه دشیطانانو (مارانو) سرونه. پس دوی (دوزخیان) به هم دهغے نه خوراک کوی

فَمَالِـُٔوْنَ مِنْهَا الْبُطُوْنَ ۝ ثُمَّ اِنَّ لَهُمْ عَلَيْهَا لَشَوْبًا

پس ډکونکی به وی | دهغے نه | خیټے | بیا | بیشکه وی به | د دوی دپاره | دهغے دپاسه | ګډون

او هم دهغے نه به خپلے خیټے ډکوی بیا به ورته دهغے دپاسه خټکیدلے خړپوړ ئے

مِّنْ حَمِيْمٍ ۝ ثُمَّ اِنَّ مَرْجِعَهُمْ لَاِلَى الْجَحِيْمِ ۝ اِنَّهُمْ

د خټکیدلو اوبو نه | بیا | بیشکه | د دوی واپسی کیدل دی | دوزخ ته | بیشکه دوی

اوبه ورکولے شی بیا به دوی هم دے جهنم ته واپس کیږی. یقیناً دوی

اَلْفَوْا اٰبَآءَهُمْ ضَآلِّيْنَ ﴿٦٩﴾ فَهُمْ عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ يُهْرَعُوْنَ ﴿٧٠﴾

موندلي وو | پلاران خپل | ګمراهان | نو دوی | دهغوی دقدمونوپه نخښو باندې | زغلولی شو

خپل پلار نیکه ګمراهان (موندلي) وو نو دوی (هم) د هغوی په نقش قدم په منډه روان وو.

وَلَقَدْ ضَلَّ قَبْلَهُمْ اَكْثَرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٧١﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا

او یقینا | ګمراه شوي دي | مخکښې د دوی نه | ډیر | د پخوانو نه | او یقینا | مونږ لیږلي وو

او دوی نه وړاندې هم اکثر پخواني خلق ګمراه شوي وو او یقینا مونږ دوی ته یرووونکي

فِيْهِمْ مُّنْذِرِيْنَ ﴿٧٢﴾ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿٧٣﴾

په دوی کښې | یره ورکوونکي | پس اوګوره | (چه) څنګه | شو | انجام | ډیرووُلے شوو (خلقو)

(پیغمبران) لیږلي وو (پس) ته اوګوره چه د یرووُلے شوو. خلقو انجام څنګه شو

اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ﴿٧٤﴾ وَلَقَدْ نَادٰىنَا نُوْحٌ فَلَنِعْمَ

سوا | د بندګانو | دالله نه | چه خالص کړے شوي وو | او یقینا | آواز کړے وو مونږ ته | نوحؑ | پس ډیر ښه

البته دالله د مخلصو بندګانو انجام ډیر ښه وو او یقینا نوحؑ مونږ ته آواز کړے وو نو (اوګوره) مونږ

الْمُجِيْبُوْنَ ﴿٧٥﴾ وَنَجَّيْنٰهُ وَاَهْلَهٗ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ﴿٧٦﴾

جواب ورکونکي وو | او بچ کړو مونږ هغه | او کورنۍ د هغهٔ | د | مصیبت | ډیرلوے نه

څومره ښه جواب ورکونکي وو او مونږ هغه او د هغه کور والا د ډیرلوے مصیبت نه بچ کړل

وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهٗ هُمُ الْبٰقِيْنَ ﴿٧٧﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِى الْاٰخِرِيْنَ ﴿٧٨﴾

او اوګرځول مونږ | بچي د هغهٔ | یوا ځے پاتے کیدونکي | او مونږ پریښودلو | په هغه باندې (ثنا) | په وروستنو کښې

او هم د هغه نسل مو باقي پاتے کړو او په وروستنو خلقو کښې مو د هغه ښه ثنا کره پریښودله

سَلٰمٌ عَلٰى نُوْحٍ فِى الْعٰلَمِيْنَ ﴿٧٩﴾ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِى

سلام دے | په نوحؑ | په مخلوقاتو کښې | بیشکه مونږ | دغه شان | بدله ورکوو

چه په ټول مخلوق کښې دے په نوحؑ باندې سلام وي مونږ نیک عملو خلقو ته هم داسې بدله ورکوو

الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٨٠﴾ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٨١﴾ ثُمَّ اَغْرَقْنَا

نیکي کوونکو ته | بیشکه هغه وو | د بندګانو زمونږ | مومنانو نه | بیا | غرق کړل مونږ

یقینًا هغه زمونږ په (کاملو) مومنانو بندګانو کښې شامل وو. بیا مونږ هغه نور خلق ډوب (غرق) کړل

الْاٰخَرِيْنَ ﴿٨٢﴾ وَاِنَّ مِنْ شِيْعَتِهٖ لَاِبْرٰهِيْمَ ﴿٨٣﴾ اِذْ جَآءَ رَبَّهٗ

نور خلق | او بیشکه | د هغه د ډلے نه | خامخا ابراهیمؑ (هم) وو | کله چه | هغه راغے | رب خپل ته

او هم د هغه په طریقه تلونکي خلقو کښې ابراهیمؑ وو. (کله) چه هغه خپل رب ته

بِقَلْبٍ سَلِيْمٍ ﴿٨٤﴾ اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖ مَاذَا تَعْبُدُوْنَ ﴿٨٥﴾

په زړه | روغ سره | کله چه | هغه اووئیل | پلار خپل | او قوم خپل ته | (چه) د څه څیز | عبادت کوئ تاسو؟

په صفا زړه راغے کله چه هغه خپل پلار او خپل قوم ته او وئیل چه تاسو د څه څیزونو عبادت کوئ؟

أَئِفْكًا آلِهَةً دُونَ اللَّهِ تُرِيدُونَ ۝۸۶ فَمَا ظَنُّكُمْ بِرَبِّ

آیا د دروغو | خدایان | سوا د الله نه | تاسو غواړئ | نو څه دے ګمان ستاسو | په رب

آیا تاسو د الله تعالیٰ نه بغیر د دروغو (جوړ کړے شوي) خدایان غواړئ؟ نو د رب العالمین په باره کښے

الْعَالَمِينَ ۝۸۷ فَنَظَرَ نَظْرَةً فِي النُّجُومِ ۝۸۸ فَقَالَ إِنِّي سَقِيمٌ ۝۸۹

د مخلوقاتو بانَدے؟ | بیا هغهٔ او کتل | یو نظر | په ستورو کښے | نو وے وئیل | بیشکه زهٔ (مرض) | ناجوړه یم

ستاسو څه خیال دے؟ بیا (څه وخت پس) هغه ستورو ته په غور او کتل او وے وئیل چه زما طبیعت خراب دے

فَتَوَلَّوْا عَنْهُ مُدْبِرِينَ ۝۹۰ فَرَاغَ إِلَىٰ آلِهَتِهِمْ فَقَالَ

پس هغوي لاړل | د دهٔ نه | شا کړخونکی | پس پټ راغے | خدایانو د هغوي ته | پس وے وئیل

نو (پس) هغوي تر ینه لاړل روان شول بیا ابراهیمؑ د هغوي خدایانو پسے ورغے او ورته ئے او وئیل آیا تاسو

أَلَا تَأْكُلُونَ ۝۹۱ مَا لَكُمْ لَا تَنْطِقُونَ ۝۹۲ فَرَاغَ عَلَيْهِمْ

(چه) آیا تاسو نه خورئ؟ | څه شوي دي په تاسو | چه خبرے نه کوئ؟ | پس شروع ئے او کړه | په هغوي بانَدے

خوراک (څکاک) نه کوئ؟ دا څه درباندے شوي دي چه خبرے هم نه کوئ؟ بیا ئے په ښي لاس (تبه په قوت سره)

ضَرْبًا بِالْيَمِينِ ۝۹۳ فَأَقْبَلُوا إِلَيْهِ يَزِفُّونَ ۝۹۴ قَالَ أَتَعْبُدُونَ

په وهلو سره | په ښي لاس باندے | پس را مخامخ راغلل هغوي | دهٔ ته | منډے ئے وهلے | او وئیل هغه | آیا تاسو عبادت کوئ

(بتان) ماتول شروع کړل (نو) هغوي ورپسے په منډه منډه راغلل ابراهیمؑ ورته او وئیل آیا تاسو د هغه (بتانو) عبادت کوئ

مَا تَنْحِتُونَ ۝۹۵ وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ ۝۹۶ قَالُوا ابْنُوا

د هغه څه | چه تاسو ئے په خپله تراشئ | او الله | پیدا کړي دي تاسو | او هغه څه (هم) | چه تاسو ئے کوئ | او وئیل هغوي | جوړ کړئ

چه په خپلو لاسو نو ئے تراشئ؟ حالانکه تاسو او څه چه تاسو جوړوئ هغه ټول صرف الله پیدا کړي دي هغوي او وئیل

لَهُ بُنْيَانًا فَأَلْقُوهُ فِي الْجَحِيمِ ۝۹۷ فَأَرَادُوا بِهِ كَيْدًا

د دهٔ د پاره | یو آبادي | بیا او غورځوئ دے | په اور کښے | پس اراده او کړه هغوي | د دهٔ په خلاف | د تدبیر جوړولو

چه د دهٔ (ابراهیمؑ) د پاره یو عمارت جوړ کړئ بیا دے په سور انګار کښے او غورځوئ غرض دا چه (د دغه شان) هغوي د ابراهیمؑ

فَجَعَلْنَاهُمُ الْأَسْفَلِينَ ۝۹۸ وَقَالَ إِنِّي ذَاهِبٌ إِلَىٰ رَبِّي

نو او ګرځول مونږ هغوي لره | ذلیلان | او او وئیل هغه | بیشکه زهٔ | تلونکے یم | د خپل رب طرف ته

خلاف سازش او کړو خو مونږ هغوي ذلیله کړل او ابراهیمؑ او وئیل چه زهٔ د خپل رب طرف ته ځم

سَيَهْدِينِ ۝۹۹ رَبِّ هَبْ لِي مِنَ الصَّالِحِينَ ۝۱۰۰ فَبَشَّرْنَاهُ

ډیر زر به هغه لار او ښائی ماته | اے زما ربه | را کړه | ماته | (یو ځوے) د نیکانو نه | نو مونږ زیرے ورکړو هغه ته

او هم هغه به ماته سمه لار او ښائی اے زما ربه ماته یو داسے اولاد را کړه چه په نیکانو کښے شامل وي

بِغُلَامٍ حَلِيمٍ ۝۱۰۱ فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يَا بُنَيَّ

د یو هلک | ډیر صبر ناک | پس هر کله | چه هغه او رسیدو | د دهٔ سره | کار کولو ته | او وئیل دهٔ | (چه) اے زما بچوړیه

نو مونږ هغه ته د یو صبر ناک هلک زیرے ورکړو بیا چه کله هغه هلک د ابراهیمؑ سره د ګرځیدو قابل شو نو ابراهیمؑ ورته او وئیل

إِنِّيٓ أَرَىٰ فِي ٱلْمَنَامِ أَنِّيٓ أَذْبَحُكَ فَٱنظُرْ مَاذَا تَرَىٰ ؕ

بیشکه زه | وینم | په خوب کښې | چه زه | ذبح کوم تا | نو ته او گوره | چه ستا څه رائے ده؟

چه اے ځویه! زه خوب کښې وینم چه تا ذبحه کوم نو ته هم غور او کړه چه ستا څه رائے ده؟

قَالَ يَٰٓأَبَتِ ٱفْعَلْ مَا تُؤْمَرُ ۖ سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ

او وئیل هغه | اے زما پلاره | ته او کړه | هغه څه | چه تاته حکم کیږی | زر دې چه مونده به او موے ما | کم چرے | او غواړی | الله

هغه ورته او وئیل! اے پلاره! تاته چه د څه حکم شوے دے هم هغه او کړه انشاء الله ته به ما صبر کوونکے

مِنَ ٱلصَّٰبِرِينَ ۝١٠٢ فَلَمَّآ أَسْلَمَا وَتَلَّهُۥ لِلْجَبِينِ ۝١٠٣ وَنَٰدَيْنَٰهُ

د صبر کوونکو نه | پس هر کله | چه دواړو غاړه کیخودله | او هغه ئے څملولو | په تندی ئے سر باندے | او آواز او کړو مونږ هغه

بیا مومے. بیا کله چه دواړو د الله حکم ته غاړه کیخودله او ځوئے ئے د مخ په طرف څملولو او مونږ ورته آواز او کړو

أَن يَٰٓإِبْرَٰهِيمُ ۝١٠٤ قَدْ صَدَّقْتَ ٱلرُّءْيَآ ۚ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي

چه اے ابراهیمؑ | یقیناً | تا رشتیا کړو | خوب (خپل) | بیشکه مونږ | دغه شان | بدله ورکوو

چه اے ابراهیمؑ! تا خپل خوب یقیناً رشتیا کړو یقیناً مونږ نیکی کوونکو ته هم دغه شان بدله

ٱلْمُحْسِنِينَ ۝١٠٥ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلْبَلَٰٓؤُا۟ ٱلْمُبِينُ ۝١٠٦ وَفَدَيْنَٰهُ

نیکانو ته | بیشکه | دا | خامخا وو | ازمینت | ښکاره | او مونږ بدل ئے ور کړو هغه

(صله) ور کوو حقیقت کښې دا یو ښکاره امتحان وو او مونږ هغهٔ ته په فدیه کښې

بِذِبْحٍ عَظِيمٍ ۝١٠٧ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي ٱلْءَاخِرِينَ ۝١٠٨ سَلَٰمٌ

یوه حلاله | ډیره لویه | او مونږ پریښودله | په هغه باندے | په وروستنو کښې (ښه ثناء) | سلام دے

یوه لویه قربانی ور کړه او په وروستنو خلقو کښې مو د هغه (ابراهیمؑ) ښه ثناء پاتے کړه (چه)

عَلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ ۝١٠٩ كَذَٰلِكَ نَجْزِي ٱلْمُحْسِنِينَ ۝١١٠ إِنَّهُۥ مِنْ عِبَادِنَا

په ابراهیمؑ باندے | دغه شان | مونږ بدله ورکوو | نیکانو ته | بیشکه هغه وو | د بندګانو زمونږ

په ابراهیمؑ دے سلام وی. مونږ نیکانو ته هم دغه شان بدله ورکوو. یقیناً هغه زمونږ په مومنانو

ٱلْمُؤْمِنِينَ ۝١١١ وَبَشَّرْنَٰهُ بِإِسْحَٰقَ نَبِيًّا مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ۝١١٢

مومنانو نه | او مونږ زیرے ور کړو هغه ته | په اسحاقؑ سره | چه نبی (به وی) | د نیکانو خلقو نه

بندګانو کښې (شامل) وو او مونږ ورته د اسحاقؑ نبی زیرے هم ور کړو (چه هغه به هم) د نیکانو نه وی.

وَبَٰرَكْنَا عَلَيْهِ وَعَلَىٰٓ إِسْحَٰقَ ۚ وَمِن ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ

او مونږ برکت واچولو | په هغه باندے | او په اسحاقؑ باندے | او د دوی دواړو د اولاد نه | څه نیک دی

او مونږ په هغه او په اسحاقؑ باندے برکتونه نازل کړی وو او د هغوی په اولاد کښې نیک عمله هم شته

وَظَالِمٌ لِّنَفْسِهِۦ مُبِينٌ ۝١١٣ وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَىٰ مُوسَىٰ

او څه ظلم کوونکی دی | په خپل ځان | ښکاره | او یقیناً | مونږ احسان کړے وو | په | موسیٰ

او په خپل ځان باندے ښکاره ظلم کوونکی (ګناهګار) هم شته. او یقیناً مونږ په موسیٰ

وَهٰرُوْنَ ۚ وَنَجَّيْنٰهُمَا وَقَوْمَهُمَا مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ۚ

او هارونؑ باندے | او خلاص کړی وو موږ دوی دواړه | او قوم د دوی لره | د مصیبت | لوئے نه

او هارونؑ باندے هم احسان کړے وو او دوی او د دوی قوم ته مو د یو لوے مصیبت نه نجات ور کړے وو

وَنَصَرْنٰهُمْ فَكَانُوْا هُمُ الْغٰلِبِيْنَ ۚ وَاٰتَيْنٰهُمَا الْكِتٰبَ

او موږ مدد کړے وو د دوی | نو شول | هم دوی | غالب | او ور کړے وو موږ دواړو ته | کتاب

او د دوی سره مو مدد کړے وو چه دهغے په نتیجه کښې هم دوی غالب شول او موږ دواړو ته یو

الْمُسْتَبِيْنَ ۚ وَهَدَيْنٰهُمَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ۚ وَتَرَكْنَا

واضحه | او ښودلے وه موږ دواړو ته | لاره | نیغه | او پرېښودلے وه موږ

واضح کتاب ور کړے وو او دواړه مو په نیغه لاره روان کړی وو او په وروستنو خلقو کښې مو

عَلَيْهِمَا فِي الْاٰخِرِيْنَ ۖ سَلٰمٌ عَلٰى مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ

په دوی دواړو باندے | په وروستنو کښې (ښه ثنا) | سلام دے | په موسیٰؑ | او هارونؑ

د دوی ښه تذکره پاتے کړے وه (چه) په موسیٰؑ او هارونؑ دے سلام وی

اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ اِنَّهُمَا مِنْ عِبَادِنَا

بیشکه موږ | دغه شان | بدله ور کوو | نیکانو ته | بیشکه دوی دواړه وو | زموږ د بندګانو

یقیناً موږ نیکانو ته هم دغه شان بدله (صله) ور کوو یقیناً دوی دواړه زموږ په مومنانو

الْمُؤْمِنِيْنَ وَاِنَّ اِلْيَاسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ۙ اِذْ قَالَ

مومنانو نه | او بیشکه | الیاسؑ وو | خامخا د پیغمبرانو نه | کله چه | او وئیل هغه

بندګانو کښې شامل وو۔ او یقیناً الیاسؑ هم په پیغمبرانو کښې شامل وو کله چه هغه

لِقَوْمِهٖٓ اَلَا تَتَّقُوْنَ اَتَدْعُوْنَ بَعْلًا وَّتَذَرُوْنَ اَحْسَنَ

قوم خپل ته | آیا تاسو نهٔ یریږئ؟ | آیا تاسو رابلئ | بَعل | او پرېږدئ | خائسته

خپل قوم ته او وئیل چه آیا تاسو د شرک د بد انجام نه نهٔ یریږئ آیا تاسو بعل بُت رابلئ او د ټولو نه بهتر

الْخٰلِقِيْنَ ۙ اللّٰهَ رَبَّكُمْ وَرَبَّ اٰبَآئِكُمُ الْاَوَّلِيْنَ

د شکل جوړوونکو نه | الله | چه رب دے ستاسو (هم) | او رب دے | د پلار نیکه ستاسو | پخوانو

پیدا کوونکے ذات پرېږدئ یعنی هغه الله چه ستاسو هم رب دے او ستاسو د پخوانو پلار نیکه (مشرانو) هم پالنهار دے؟

فَكَذَّبُوْهُ فَاِنَّهُمْ لَمُحْضَرُوْنَ ۙ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ

پس هغوی دروغژن او ګڼړلو هغه | نو بیشکه هغوی به | خامخا حاضر کړے شی (عذاب ته) | سوا | د بندګانو | د الله نه

نو هغوی دروغژن او ګڼړلو نو ځکه به هغوی دوزخ ته حاضر کړے شی البته د الله تعالیٰ خاص بندګان

الْمُخْلَصِيْنَ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْاٰخِرِيْنَ ۖ سَلٰمٌ عَلٰٓى اِلْ يَاسِيْنَ

خالص کړے شوی | او موږ پرېښودله | په هغه باندے | په وروستنو کښې (ښه ثنا) | سلام دے | په الیاسینؑ باندے

(به محفوظ وی) او په وروستنو خلقو کښې موږ د هغه ښه تذکره پرېښودله (چه) په الیاسؑ دے سلام وی.

إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ۝ إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ ۝

بیشکه موږ | دغه شان | بدله ورکوو | نیکانو ته | بیشکه هغه وو | زموږ د بندګانو | مومنانو نه

یقینا موږ نیکانو ته هم دغه شان بدله ورکوو یقینا هغه زموږ په مومنانو بندګانو کښې شامل وو.

وَإِنَّ لُوطًا لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ ۝ إِذْ نَجَّيْنَاهُ وَأَهْلَهُ أَجْمَعِينَ ۝

او بیشکه | لوط وو | خامخا د پیغمبرانو نه | کله چه | نجات ورکړو موږ هغه ته | او کورنۍ د هغه | ټولو ته

او یقینا لوط هم په پیغمبرانو کښې (شامل) وو کله چه موږ هغه ته او د هغه ټول کوروالو ته (د عذاب نه) نجات ورکړو

إِلَّا عَجُوزًا فِي الْغَابِرِينَ ۝ ثُمَّ دَمَّرْنَا الْآخَرِينَ ۝ وَإِنَّكُمْ

سوا | د یوې بوډۍ نه | چه وروستو پاتې کیدونکو کښې وه | بیا | موږ تباه کړل | نور خلق | او بیشکه تاسو

سوا د یوې بوډۍ نه چه وروستو پاتې کیدونکو خلقو کښې شامله وه بیا موږ هغه نور (وروستني) تباه کړل

لَتَمُرُّونَ عَلَيْهِمْ مُصْبِحِينَ ۝ وَبِاللَّيْلِ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ۝ ع

خامخا تیریږئ | په هغوی باندې | د صبا په وخت کښې | او د شپې | آیا نو تاسو عقل نه لرئ؟

او (اې مکې والو!) تاسو د هغوی په کلو (علاقو) تیریږئ د سحر هم او د شپې هم آیا نو بیا هم تاسو د عقل نه کار نه اخلئ؟

وَإِنَّ يُونُسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ ۝ إِذْ أَبَقَ إِلَى الْفُلْكِ

او بیشکه | یونس وو | خامخا د پیغمبرانو نه | کله چه | او تختیدلو هغه | کشتۍ

او یقینا یونس (هم) په پیغمبرانو کښې (شامل) وو کله چه هغه او تختیدلو (او) یوې

الْمَشْحُونِ ۝ فَسَاهَمَ فَكَانَ مِنَ الْمُدْحَضِينَ ۝ فَالْتَقَمَهُ

ډکې (شوې) ته | پس خسنړې (قرعه) واچولو | نو شو هغه | د پرشوو (مغلوبو) نه | پس تیر کړو هغه لره

ډکې کشتۍ ته او رسیدو بیا په قرعه اندازۍ کښې شریک شو او په قرعه کښې مغلوب شو. بیا مهي (لوی)

الْحُوتُ وَهُوَ مُلِيمٌ ۝ فَلَوْلَا أَنَّهُ كَانَ مِنَ الْمُسَبِّحِينَ ۝

مهي | او هغه وو | ملامته کونکې ځان لره | پس که چرې نه وې | هغه | د تسبیح ویونکو نه

تیر کړو او ځان ته ئې ملامته کولو نو که چرې هغه د الله تسبیح ویونکې نه وې نو د مهي په خیټه کښې به

لَلَبِثَ فِي بَطْنِهِ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ۝ فَنَبَذْنَاهُ

نو خامخا پاتې شوې به وو | په خیټه د هغه کښې | (د هغې) ور ځې پورې | چه خلق به بیا راپاڅولې شي | پس او غورځولو موږ هغه

تر هغه وخته پورې پروت وې په کومه ورځ چه خلق به راژوندي کولې شي بیا موږ په داسې حالت کښې

بِالْعَرَاءِ وَهُوَ سَقِيمٌ ۝ وَأَنْبَتْنَا عَلَيْهِ شَجَرَةً مِنْ يَقْطِينٍ ۝

په یو میدان کښې | او هغه | بیمار وو | او موږ راز رغون کړه | په هغه باندې | یوه اونه | د کدو (زیلو والا)

یو هوار میدان کښې واچولو چه ډیر کمزورې (بیمار) وو او د پاسه موږ پرې د کدو (زیلو والا) اونه راز رغون کړه

وَأَرْسَلْنَاهُ إِلَىٰ مِائَةِ أَلْفٍ أَوْ يَزِيدُونَ ۝ فَآمَنُوا فَمَتَّعْنَاهُمْ

او موږ ولیږلو هغه | سل زره (یو لک) خلقو ته | یا زیات نه هم هغوی زیاتیدل | پس ایمان راوړو هغوی | نو فائده ورکړه موږ هغوی ته

او موږ هغه یو لاک بلکه د دې نه هم زیاتو خلقو ته لیږلې وو. بیا هغوی ایمان راوړو نو څکه موږ هغوی له څه وخته پورې

اِلٰى حِيْنٍ ۚ فَاسْتَفْتِهِمْ اَلِرَبِّكَ الْبَنٰتُ وَلَهُمُ الْبَنُوْنَ ۚ

څه وخته پورې | پس ته تپوس او کړه دوی نه | (چه) آیا ستا درب دپاره | لونړه دي | او ددوی دپاره | ځامن دي؟

دفائدو اغستلو موقع ورکړه او س (دد مشرکانو نه) تپوس وکړه چه آیا ستا درب لونړه رسیدلی دي او ددوی ځامن؟

اَمْ خَلَقْنَا الْمَلٰٓئِكَةَ اِنَاثًا وَّهُمْ شٰهِدُوْنَ ۞ اَلَآ اِنَّهُمْ

یا مونږ پیدا کړی دي | ملائکې | زنانه | او دوی | حاضر وو | خبردار | بیشکه دوی

یا مونږ چه کله فرښتې زنانه پیدا کولې نو دوی هغه وخت موجود وو؟ گورئ (یادساتئ) دوی

مِّنْ اِفْكِهِمْ لَيَقُوْلُوْنَ ۙ وَلَدَ اللّٰهُ ۙ وَاِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ۞

د دروغو خپلو نه | خامخا وائي | چه خوځ کړاو دے | الله | او بیشکه دوی | خامخا دروغژن دي

دخپلو دروغو خبرو په وجه وائي چه د الله ځوئ (اولاد) دے حالانکه یقینا دوی دروغژن دي.

اَصْطَفَى الْبَنٰتِ عَلَى الْبَنِيْنَ ۞ مَا لَكُمْ ۟ كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ ۞

آیا غوره کړې دي هغه | لونړه | په ځامنو باندې | څه شوي دي په تاسو؟ | څنګه | فیصلې کوئ تاسو؟

آیا الله تعالیٰ دځامنو په ځائے لونړه غوره کړې دي؟ دا په تاسو څه شوي دي؟ تاسو دا څنګه فیصله کوئ؟

اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ۞ اَمْ لَكُمْ سُلْطٰنٌ مُّبِيْنٌ ۞ فَاْتُوْا بِكِتٰبِكُمْ

آیا نو تاسو نصیحت نه قبلوئ | یا شته ستاسو دپاره | څه دلیل | واضح | پس راوړئ | کتاب خپل لره

آیا تاسو (لږ) دسوچ نه کار نه اخلئ؟ یا تاسو سره څه واضحه (ښکاره) دلیل شته. که تاسو رښتینی یئ

اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۞ وَجَعَلُوْا بَيْنَهٗ وَبَيْنَ الْجِنَّةِ

که چرې یئ تاسو | رښتینی | او دوی جوړه کړے ده | په منیځ دهغه (الله) | او په مینځ | د پیریانو کښې

نو خپل کتاب پیش کړئ او دوی دالله او د پیریانو په مینځ کښې (هم) رشته (داری) جوړه کړے ده

نَسَبًا ۭ وَلَقَدْ عَلِمَتِ الْجِنَّةُ اِنَّهُمْ لَمُحْضَرُوْنَ ۙ سُبْحٰنَ

یو رشته | او یقینا | پوهه دي | پیریان | (چه) بیشکه دوی به | خامخا حاضر کړے شي (عذاب ته) | (پاکي بوایه) پاکي

حالانکه پیریانو ته ښه پته ده چه هغوی به عذاب ته ضرور حاضرولے شي دوی چه څه بیانوی

اللّٰهِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ۙ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ۞ فَاِنَّكُمْ

د الله | دهغه څه نه | چه دوی ئې بیانوی | سوا | د بندګانو | د الله | خالص کړے شوو نه | پس بیشکه تاسو

الله تعالیٰ دهغې نه پاک دے البته د الله تعالیٰ خالص بندګان (به محفوظ وی). پس تاسو

وَمَا تَعْبُدُوْنَ ۙ مَآ اَنْتُمْ عَلَيْهِ بِفٰتِنِيْنَ ۙ اِلَّا مَنْ

او هغه څه | چه تاسو (ئې) عبادت کوئ | نه یئ تاسو | دهغه نه | هیڅ چالره اړونکی | سوا | دهغه چا نه

او تاسو چه دچا عبادت کوئ (ستاسو معبودان) دالله تعالیٰ په باره کښې هیڅ څوک ګمراه کولے نشئ سوا دهغه چا نه

هُوَ صَالِ الْجَحِيْمِ ۞ وَمَا مِنَّآ اِلَّا لَهٗ مَقَامٌ مَّعْلُوْمٌ ۙ

چه هغه | ورننوتونکے وی | ګرم دوزخ ته | او نشته ځمونږ نه هیڅوک | مګر | دهغه (دپاره) | ځائے دے | معلوم

چه دوزخ ته داخلیدونکے وی او (فرښتې خودا وائي چه) په مونږ کښې دهر یو یو مقرر مقام دے

وَّاِنَّا لَنَحْنُ الصَّآفُّوْنَ ۝۱۶۵ وَاِنَّا لَنَحْنُ الْمُسَبِّحُوْنَ ۝۱۶۶ وَاِنْ

او بیشکه | خامخا مونږ | صف جوړونکی یُو | او بیشکه | خامخا مونږ | تسبیح ویونکی یُو | او بیشکه

او یقیناً مونږ (خو دالله تعالیٰ په اطاعت کښے) په صفونو کښے ولاړ یُو. او یقیناً مونږ دالله تعالیٰ تسبیح ویونکی یُو.

كَانُوْا لَيَقُوْلُوْنَ ۝۱۶۷ لَوْ اَنَّ عِنْدَنَا ذِكْرًا مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ ۝۱۶۸ لَكُنَّا

وو دوی | چه خامخا وئیل به ئے | که چرے | وے زمونږ سره | نصیحت | د وړومبنو خلقو | نو خامخا وے به مونږ

او دے کافرانو به اګرچه داوئیل (چه) که چرے زمونږ سره د پخوانو خلقو غوندے د نصیحت څه کتاب وے نو مونږ به هم

عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ۝۱۶۹ فَكَفَرُوْا بِهٖ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ۝۱۷۰

بندګان | دالله | خالص کړے شوی | پس دوی کفر اوکړو | په دے (قران) | نو ډیر زر به | پوهه شی

دالله تعالیٰ خالص بندګان وُو. لیکن اوس دهغے (قرآن) نه انکار کوی نو بس ډیر زر به ورته خپل انجام معلوم شی

وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِيْنَ ۝۱۷۱ اِنَّهُمْ لَهُمُ

او یقیناً | مخکښے مقرر شوے ده | وعده زمونږ | د بندګانو زمونږ سره | چه پیغمبران دی | (چه) بیشکه | دوی سره به

او مونږ د خپلو پیغمبرانو بندګانو سره د پخوانه دا وعده کړے ده چه یقیناً د دوی به

الْمَنْصُوْرُوْنَ ۝۱۷۲ وَاِنَّ جُنْدَنَا لَهُمُ الْغٰلِبُوْنَ ۝۱۷۳ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ

مدد کولے شی | او بیشکه | لښکر زمونږ | خامخا هم دوی به | غالب وی | پس مخ واړوه | د دوی نه

مدد کیږی او یقیناً زمونږ لښکر به غالب راځی. نو اے نبی! اخه وخته پورے د دوی د خبرو

حَتّٰى حِيْنٍ ۝۱۷۴ وَّاَبْصِرْهُمْ فَسَوْفَ يُبْصِرُوْنَ ۝۱۷۵ اَفَبِعَذَابِنَا

تر څه وخته پورے | او ګوره دوی ته | پس ډیر زر به | دوی (هم) اوګوری | آیا نو عذاب زمونږ لره

پرواه مه ساته او دوی ته ګوره ډیر زر به دوی هم (خپل انجام دُنیوی) اوګوری آیا نو دوی زمونږ عذاب

يَسْتَعْجِلُوْنَ ۝۱۷۶ فَاِذَا نَزَلَ بِسَاحَتِهِمْ فَسَآءَ صَبَاحُ

دوی زر غواړی؟ | پس کله چه | نازل شی هغه (عذاب) | په میدان د دوی کښے | نو بد به وی | صبا

زر غواړی؟ نو کله چه (عذاب) د دوی په صحن (میدان) کښے راکوز شی نو د ډیروے شوو خلقو صبا به

الْمُنْذَرِيْنَ ۝۱۷۷ وَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتّٰى حِيْنٍ ۝۱۷۸ وَّاَبْصِرْ فَسَوْفَ

ډیروے شوو خلقو | او مخ واړوه | د دوی نه | تر څه وخته پورے | او ګوره | پس ډیر زر به

ډیر خراب وی او ته څه وخته پورے د دوی پرواه مه کوه او ګوره ډیر زر به دوی

يُبْصِرُوْنَ ۝۱۷۹ سُبْحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ۝۱۸۰

دوی (هم) اوګوری | (پاکی وایه) پاکی | د رب خپل | (چه) رب | د عزت دے | د هغه څه نه | چه دوی ئے بیانوی

هم (خپل انجامِ اخروی) او ګوری ستا رب چه د عزت مالک دے د هغه ټولو خبرو نه پاک دے چه دا مشرکان ئے ورله بیانوی

وَسَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ ۝۱۸۱ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝۱۸۲

او سلام دے | په پیغمبرانو باندے | او ټول حمدونه دی | (هغه) الله لره | چه رب | د مخلوقاتو دے

او په پیغمبرانو دے سلام وی او ټول تعریفونه د ټولو جهانونو د مالک د پاره دی

آیاتها [٨٨] — **سورة صٓ مكيّة** — ركوعاتها [٥]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

صٓ وَالْقُرْاٰنِ ذِى الذِّكْرِ ۝١ بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِىْ عِزَّةٍ

ص | قسم دے په قرآن | چه نصیحت والا دے | بلکه | هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | په تکبر

ص، قسم دے د نصیحت نه ډک قرآن باندے (چه ته په حقه ئے) مګر دا کافران په غرور او مخالفت کښے

وَّشِقَاقٍ ۝٢ كَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ قَرْنٍ فَنَادَوْا

او ضد کښے دی | ډیر | هلاک کړی دی مونږ | مخکښې د دوی نه | د پیړو نه | نو (په) اوهلے هغوی

پراته دی۔ د دوی نه مخکښې مونږ څومره قومونه هلاک کړی دی نو هغوی په هغه وخت کښے فریاد او کړو

وَّلَاتَ حِيْنَ مَنَاصٍ ۝٣ وَعَجِبُوْٓا اَنْ جَآءَهُمْ مُّنْذِرٌ

او نه وو دغه وخت | د خلاصی | او دوی تعجب کوی | په دے (خبره) | چه راغلے دے دوی ته | یو یرووُنکے

خو د خلاصی په وخت پاتے شوے نه وو او دوی د دے خبرے نه تعجب کوی چه دوی ته یو یرووُنکے

مِّنْهُمْ وَقَالَ الْكٰفِرُوْنَ هٰذَا سٰحِرٌ كَذَّابٌ ۝٤ اَجَعَلَ

د دوی نه | او وائی | کافران | دا دے | جادوګر | غټ دروغژن | آیا ګرځولے دی ده

هم د دوی د جنس نه راغلے دے او کافران وائی چه دا جادوګر ډیر دروغژن دے۔ آیا ده د دومره

الْاٰلِهَةَ اِلٰهًا وَّاحِدًا ۚ اِنَّ هٰذَا لَشَیْءٌ عُجَابٌ ۝٥ وَانْطَلَقَ

ډیرو خدایانو لره | خدائے | یو | بیشکه | دا (خو) | خامخا یو څیز دے | ډیر عجیبه | او روان شو

ډیرو معبودانو نه (صرف) یو معبود جوړ کړو دا خو ډیره عجیبه خبره ده۔ او د دوی سرداران

الْمَلَاُ مِنْهُمْ اَنِ امْشُوْا وَاصْبِرُوْا عَلٰٓى اٰلِهَتِكُمْ ۖ اِنَّ هٰذَا

سرداران | د دوی | چه ځئ | او ټینګ شئ | په خپلو خدایانو باندے | بیشکه | دا

(معزز خلق) روان شول (او وے وئیل چه) لاړ شئ او د خپلو معبودانو په عبادت باندے ټینګ او درېږئ دا توحید خو

لَشَیْءٌ يُّرَادُ ۝٦ مَا سَمِعْنَا بِهٰذَا فِى الْمِلَّةِ الْاٰخِرَةِ ۖ

خامخا یو (داسے) څیز دے | چه اراده ئے شوے ده | مونږ نه ده اوریدلے | دا (خبره) | په دین | وروستنی کښے

داسے څیز دے چه ستاسو نه د دے د منلو اراده کولے شی مونږ خو دا خبرے د متأخرینو مشرانو نه هیڅکله نه وے اوریدلے

اِنْ هٰذَآ اِلَّا اخْتِلَاقٌ ۝٧ ءَاُنْزِلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ

نه دی دا | مګر | دروغ جوړ کړے شوے | آیا نازل کړے شوی | په ده باندے | نصیحت (قرآن)

دا بالکل د ځان نه جوړے کړے شوے خبرے دی. آیا د نصیحت دا خبره (وحی) په مونږ ټول کښے صرف په ده

مِنۢ بَيْنِنَا ؕ بَلْ هُمْ فِىْ شَكٍّ مِّنْ ذِكْرِىْ ۚ بَلْ لَّمَّا يَذُوْقُوْا

په مينځ زمونږ کښے | بلکه | دوی | په شك کښں دی | د نصيحت زما نه | (نه) بلکه | لا نه دے څکلے دوی

نازله شوے ده؟ اصل خبره داده چه دوی زما د نصيحت د کتاب نه په شك کښے دی بلکه دوی لا تر اوسه

عَذَابِ ؕ۸ اَمْ عِنْدَهُمْ خَزَآئِنُ رَحْمَةِ رَبِّكَ الْعَزِيْزِ الْوَهَّابِ ۚ۹

عذاب زما | يا دوی سره دی | خزانے | د رحمت | د رب ستا | چه ډير غالب | ډير ور کوونکے دے

زما د عذاب خوند نه دے څکلے يا دوی سره ستا د رب د رحمت خزانے دی چه هغه ډير غالب او عطا کوونکے دے

اَمْ لَهُمْ مُّلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۟ فَلْيَرْتَقُوْا

يا د دوی د پاره | بادشاهی | د آسمانونو | او د زمکے | او د هغه څه | چه د دے دواړو په مينځ کښے دی

يا د آسمانونو او د زمکے او څه چه د دے دواړو په مينځ کښے دی په دے ټولو د دوی حکومت دے

فَلْيَرْتَقُوْا فِى الْاَسْبَابِ ۝۱۰ جُنْدٌ مَّا هُنَالِكَ مَهْزُوْمٌ

پس او دِ خيژی دوی | په رسو (آسمان ته) | يو لښکر دے لږ غوندے | چه په دغه ځائے به | شکست ور کړے شی

بيا خو دوی له پکار دی چه په اندرپايو بره او خيژی (او وحی بنده کړی) دا هم د مخالفو ډلو يو وړو کے لښکر (غوندے) دے

مِّنَ الْاَحْزَابِ ۝۱۱ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوْحٍ وَّعَادٌ

د ډلو نه | دروغژن گنړلے وو (حق) لره | مخکښں د دوی نه | قوم | د نوح | او عاديانو

چه د لته په مکه کښں به شکست خورده شی د دوی نه مخکښں د نوح قوم او عاديانو او د ميخونو والا

وَّفِرْعَوْنُ ذُو الْاَوْتَادِ ۝۱۲ وَثَمُوْدُ وَقَوْمُ لُوْطٍ وَّاَصْحٰبُ لْـَٔيْكَةِ ؕ

او فرعون | ميخونو والا | او ثمودیانو | او قوم | د لوط | او د بڼو والو

فرعون دے ټولو پيغمبرانو لره دروغژن گنړلی وو او د ثمودیانو او د لوط قوم او د بڼو او سيدونکو

اُولٰٓئِكَ الْاَحْزَابُ ۝۱۳ اِنْ كُلٌّ اِلَّا كَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ

هم دا دی | (مخالفے) ډلے | نه وو دا ټول | مگر | دروغژن ئے گنړلی وو | پيغمبران | نو ثابت شو (پرے)

هم (پيغمبرانو لره دروغژن گنړلی وو) او هم دا هغه مخالفے ډلے دی د دے ټولو د پيغمبرانو تکذيب او کړو نو (حکه)

عِقَابِ ۝۱۴ وَمَا يَنْظُرُ هٰٓؤُلَآءِ اِلَّا صَيْحَةً وَّاحِدَةً مَّا لَهَا 「ع」

عذاب زما | او انتظار نه کوی | دا خلق | مگر | (د دا سے) چغے | يو ے | چه نشته د دے هغے لره

زما د عذاب مستحق شول او دا (مکے والا) خلق خو صرف د يوے داسے درنے چغے انتظار کوی چه په هغے کښے به

مِنْ فَوَاقٍ ۝۱۵ وَقَالُوْا رَبَّنَا عَجِّلْ لَّنَا قِطَّنَا قَبْلَ يَوْمِ

هيڅ ايسار يدل | او وائی دوی | اے زمونږ ربه | زر را کړه | مونږ ته | برخه زمونږ | مخکښں | د ورځے

هيڅ وقفه نه وی او دوی وائی چه اے زمونږ ربه امونږ ته زمونږ (د نعمتونو يا د عذاب حصه) د حساب د ورځے نه مخکښں

الْحِسَابِ ۝۱۶ اِصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَاذْكُرْ عَبْدَنَا دَاوٗدَ

د حساب نه | ته صبر کوه | په هغه څه | چه دوی ئے وائی | او ياد کړه | بنده زمونږ | داؤد

په تلوار را کړه (اے نبی!) د دوی په خبرو صبر کوه او زمونږ بنده داؤد را ياد کړه چه

ذَا الْاَيْدِۚ اِنَّهٗۤ اَوَّابٌ ۝١٧ اِنَّا سَخَّرْنَا الْجِبَالَ مَعَهٗ

همت والا (طاقتور) | بیشکه هغه وو | ډیر رجوع کوونکے | بیشکه | مونږ تابع کړی وو | غرونه | دهغه سره

ډیر طاقتور (باهمت) وو (او بیا هم) الله تعالیٰ ته رجوع کوونکے وو مونږ غرونه دهغه تابع کړی وو

يُسَبِّحْنَ بِالْعَشِيِّ وَالْاِشْرَاقِ ۝١٨ وَالطَّيْرَ مَحْشُوْرَةً ؕ كُلٌّ

چه تسبیح به ئے وئیله | په ماښام | او سحر کښې | او مارغان (هم) | چه راغونډ کړے شوی وو | ټول وو

چه سحر او ماښام به ئے دهغه سره دالله پاکی (تسبیح) بیانوله او مارغان هم چه هغه ته به راجمع وو

لَّهٗۤ اَوَّابٌ ۝١٩ وَشَدَدْنَا مُلْكَهٗ وَاٰتَيْنٰهُ الْحِكْمَةَ وَفَصْلَ

هغه ته | راګرځیدونکی | او مضبوط کړے وو مونږ | حکومت دهغه | او ورکړے وو مونږ هغه ته | حکمت (پوهه) | او فیصله کوونکے

دا ټول دهغه تابع وو او مونږ دهغه حکومت مضبوط کړے وو او هغه ته مو حکمت او د فیصله کن خبرو

الْخِطَابِ ۝٢٠ وَهَلْ اَتٰىكَ نَبَؤُا الْخَصْمِ ۘ اِذْ تَسَوَّرُوا

خبرے | او آیا | راغلے دے تاته | خبر | د جګړه کوونکو | کله چه | هغوی راواوړیدل په دیوال

صلاحیت ورکړے وو او آیا تاته دهغه مقدمے والو (جګړه کوونکو) خبر راسیدلے دے کله چه هغوی په دیوال

الْمِحْرَابَ ۝٢١ اِذْ دَخَلُوْا عَلٰى دَاوٗدَ فَفَزِعَ مِنْهُمْ قَالُوْا

د عبادت خانے | کله چه | هغوی داخل شو | په داؤدؑ | نو هغه ویریدلو | دهغوی نه | او وئیل هغوی

دعبادت خانے را اوړیدلی وو نو کله چه هغوی د داؤدؑ خواله ورغلل نو هغه ترے اوویریدلو (نو) هغوی ورته او وئیل

لَا تَخَفْۚ خَصْمٰنِ بَغٰى بَعْضُنَا عَلٰى بَعْضٍ فَاحْكُمْ

مهٔ یریږه | (مونږ) دوه جګړه کوونکی یو | (چه) زیاتے کړے دے | یو زمونږ نه | په بل باندے | نو ته فیصله اوکړه

چه یریږه مهٔ مونږ دوه جګړه کوونکی یو په مونږ کښے یو په بل باندے زیاتے کړے دے نو ته زمونږ

بَيْنَنَا بِالْحَقِّ وَلَا تُشْطِطْ وَاهْدِنَاۤ اِلٰى سَوَآءِ الصِّرَاطِ ۝٢٢

په مینځ زمونږ کښې | په انصاف | او بے انصافي مه کوه | او رهنمائي اوکړه زمونږ | لارے | برابرے ته

په مینځ کښے دانصاف فیصله اوکړه او بے انصافي (زیاتے) مه کوه او مونږ ته سمه لار اوښایه

اِنَّ هٰذَاۤ اَخِيْ ۫ لَهٗ تِسْعٌ وَّتِسْعُوْنَ نَعْجَةً وَّلِيَ نَعْجَةٌ

بیشکه | دا | زما ورور دے | دده | نهه او نوی (یو کم سل) | ګډے دی | او زما ده | ګډه

دا زما ورور دے دده (سره) یو کم سل ګډے دی او زما (سره) یوه ګډه ده

وَّاحِدَةٌ ۫ فَقَالَ اَكْفِلْنِيْهَا وَعَزَّنِيْ فِي الْخِطَابِ ۝٢٣ قَالَ

یوه | پس دے وائی | چه ته او سپاره ما ته هغه | دے غالب شوے دے ما باندے | په خبرو کښے | او وئیل (داؤدؑ)

اوس دا (ماته) وائی چه دا (یوه هم) ما ته حواله کړه او دے په خبرو کښے (هم) په ما باندے زوراور دے

لَقَدْ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ نَعْجَتِكَ اِلٰى نِعَاجِهٖ ؕ وَاِنَّ كَثِيْرًا

یقینًا | ده ظلم کړے دے په تا | په غوښتلو | د ګډے ستا سره | خپلو ګډو ته | او بیشکه | ډیر

داؤدؑ (ورته) او وئیل دے (کس) ستا ګډه د خپلو ګډو سره د یو ځائے کولو په مطالبه کښے یقینًا په تا ظلم کړے دے

مِّنَ الۡخُلَطَآءِ لَیَبۡغِیۡ بَعۡضُهُمۡ عَلٰی بَعۡضٍ اِلَّا الَّذِیۡنَ

د شریکانو نه | خامخا زیاتے کوی | بعضے د دوی | په بعضو باندے | سوا | دهغه کسانو نه

او (دا هم داسے چه) اکثر شریکان په یو بل باندے زیاتے کوی سوا دهغه چا نه

اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَقَلِیۡلٌ مَّا هُمۡ ؕ وَظَنَّ

چه ایمان ئے راوړے دے | او عملونه ئے کړے دی | نیک | او ډیر لږ دی | هغوی | او خیال او کړو

چه ایمان راوړی او نیک عملونه کوی او هغه هم ډیر لږ دی او داؤدؑ ته خیال راغے

دَاوٗدُ اَنَّمَا فَتَنّٰهُ فَاسۡتَغۡفَرَ رَبَّهٗ وَخَرَّ رَاکِعًا

داؤدؑ | چه بیشکه | از میښت او کړو مونږ په دهٔ | پس بخښنه ئے او غوښته | د رب خپل نه | او پریوتلو | رکوع کوونکے

چه (په دے واقعے سره) مونږ دهغه ازمیښت او کړو نو د خپل رب نه ئے معافی او غوښتله او په سجده پریوتلو

وَاَنَابَ ﴿۲۴﴾ فَغَفَرۡنَا لَهٗ ذٰلِکَ ؕ وَاِنَّ لَهٗ عِنۡدَنَا لَزُلۡفٰی

او راو ګرځیدلو (الله ته) | پس بخښنه او کړه مونږ | هغه ته | دغه خبره | او بیشکه | (شته) هغه دپاره | زمونږ سره | خامخا نزدے والے

او (الله ته ئے) رجوع او کړه پس مونږ ورته دا (خبره) معاف کړه او حقیقت دادے چه دهغه دپاره زمونږ په نزد

وَحُسۡنَ مَاٰبٍ ﴿۲۵﴾ یٰدَاوٗدُ اِنَّا جَعَلۡنٰکَ خَلِیۡفَةً فِی الۡاَرۡضِ

او ښائسته | ځائے د ورتلو | اے داؤدؑ! | بیشکه مونږ ته جوړ کړے ئے | خلیفه | په زمکه کښے

ډیر نزدیکت او ښائسته ځائے دے۔ اے داؤدؑ! مونږ ته په زمکه کښے خلیفه جوړ کړے ئے

فَاحۡکُمۡ بَیۡنَ النَّاسِ بِالۡحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ الۡهَوٰی فَیُضِلَّکَ

نو فیصله کوه | په مینځ | د خلقو کښے | په انصاف | او مهٔ روانیږه | په خواهش پسے | ګنی نو هغه به ئے بے لارے کړی تا

نو د خلقو په مینځ کښے په انصاف (حقے) فیصلے کوه او خواهشاتو پسے مه ځه ګنی نو

عَنۡ سَبِیۡلِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ الَّذِیۡنَ یَضِلُّوۡنَ عَنۡ سَبِیۡلِ اللّٰهِ

د لارے | د الله نه | بیشکه | هغه کسان | چه بے لارے کیږی | د الله د لارے نه

دالله د لارے نه به دے واړوی یقین وکړه چه کوم خلق دالله تعالیٰ د لارے نه واوړی (ګمراه شی)

لَهُمۡ عَذَابٌ شَدِیۡدٌۢ بِمَا نَسُوۡا یَوۡمَ الۡحِسَابِ ﴿۲۶﴾

دهغوی دپاره | عذاب دے | ډیر سخت | په دے وجه | چه هغوی هیره کړے ده | ورځ | د حساب

دهغوی دپاره ډیر سخت عذاب دے ځکه چه هغوی د حساب ورځ هیره کړے ده

وَمَا خَلَقۡنَا السَّمَآءَ وَالۡاَرۡضَ وَمَا بَیۡنَهُمَا بَاطِلًا ؕ

او مونږ نه دے پیدا کړے | آسمان | او زمکه | او هغه څه | چه د دواړو په مینځ کښے دی | بے کاره

او مونږ آسمان او زمکه او څه چه د دے دواړو تر مینځه دی فضول (بیکاره) نه دی پیدا کړی

ذٰلِکَ ظَنُّ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا ۚ فَوَیۡلٌ لِّلَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا

دا | خیال (ګمان) | دهغه کسانو دے | چه کفر ئے کړے دے | پس هلاکت دے | دهغه خلقو دپاره | چه کفر ئے کړے دے

دا (خو) دکافرانو خیال (ګمان) دے بس دکافرانو دپاره د دوزخ د اور په شکل کښے تباهی ده

مِنَ النَّارِ ۝٢٧ اَمْ نَجْعَلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

د اور نه | آیا مونږ وګرځوو | هغه کسان | چه ایمان ئې راوړے دے | او عملونه ئې کړي دي | نیک

څا چه ایمان راوړے دے او نیک عملونه ئې کړي دي آیا مونږ هغوی

كَالْمُفْسِدِيْنَ فِى الْاَرْضِ ۡ اَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِيْنَ كَالْفُجَّارِ ۝٢٨

پشان د فساد کوونکو | په زمکه کښے | یا مونږ وګرځوو | پرهیزګاران | پشان د بدکارو

د هغه چا سره برابر کړو چه هغوی په زمکه کښے فساد خوروي؟ آیا مونږ متقیان د بدکارو پشان اوګرځوو؟

كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ مُبٰرَكٌ لِّيَدَّبَّرُوْٓا اٰيٰتِهٖ

(دا) کتاب | رالیږلے مونږ دغه | تا ته | برکتوالا دے | د دے دپاره چه خوی سوچ وکړي | په آیتونو د دے کښے

اے نبي! دا کتاب چه مونږ تا ته نازل کړے دے برکت والا دے د دے دپاره مونږ رالیږلے (چه) خوی د دے په آیتونو کښے

وَلِيَتَذَكَّرَ اُولُوا الْاَلْبَابِ ۝٢٩ وَوَهَبْنَا لِدَاوٗدَ سُلَيْمٰنَ ۭ

او د دے دپاره چه نصیحت واخلي | عقل مند خلق | او مونږ ور کړے وو | داؤد ته | سلیمانؑ

سوچ (غور) وکړي او عقل مند خلق ترے نه نصیحت حاصل کړي او داؤد ته مونږ (د) سلیمانؑ (غوندے ځوئے) ور کړو

نِعْمَ الْعَبْدُ ۭ اِنَّهٗٓ اَوَّابٌ ۝٣٠ ۭ اِذْ عُرِضَ عَلَيْهِ بِالْعَشِيِّ

ډیر ښه | بنده وو (هغه) | بیشکه هغه وو | رجوع کوونکے (الله ته) | کله چه | پیش کړے شو | په هغه باندے | په ماښکر کښے

هغه ډیر ښه بنده وو الله ته ډیر راګرځیدونکے وو (هغه یو یادګار وخت وو) کله چه هغه ته د ماښام (ماښکن) په وخت

الصّٰفِنٰتُ الْجِيَادُ ۝٣١ ۙ فَقَالَ اِنِّيْٓ اَحْبَبْتُ حُبَّ الْخَيْرِ

په درے خپو ولاړ | کره (اسونه) | نو او وئیل هغه | بیشکه محبت کوومه زهٔ | محبت | د مال

ډیر ښه نسل کره (اصیل) اسونه پیش کړے شو نو هغه اووئیل (چه) ما د دے (دولت) سره محبت د خپل رب د یاد (جهاد) د وجے

عَنْ ذِكْرِ رَبِّيْ ۚ حَتّٰى تَوَارَتْ بِالْحِجَابِ ۝٣٢ رُدُّوْهَا عَلَيَّ ۭ

د وجے د یاد د لو | اکر ب خپل نه | تر دے | چه پټ شو هغه (اسونه) | په پرده کښے | را واپس کړئ هغه | ما ته

اختیار کړے دے تر دے پورے چه هغه اسونه په پرده کښے پټ شول (نو بے وئیل چه) دا زما خواله واپس راولئ

فَطَفِقَ مَسْحًۢا بِالسُّوْقِ وَالْاَعْنَاقِ ۝٣٣ وَلَقَدْ فَتَنَّا

پس شروع شو | چه لاس ئې وهلو | (د هغې) په پنډو باندے | او په ځټونو باندے | او یقینا | مونږ از مینت کړے وو

بیا ئې د هغې په پنډو او ځټونو لاس راښکل شروع کړل او مونږ په سلیمانؑ از مینت کړے وو او پس حملاقت د هغه ته په یو شپه کښې تسلو

سُلَيْمٰنَ وَاَلْقَيْنَا عَلٰى كُرْسِيِّهٖ جَسَدًا ثُمَّ اَنَابَ ۝٣٤

په سلیمانؑ | او مونږ غورزولے وو | د هغه په کرسئ باندے | یو (نیمګړے) جسم | بیا | هغه رجوع وکړه (الله ته)

بیبیانو سره د دے دپاره د مطلب حاولاد (د مجاهدینو) بغیر د انشاء الله وئیلو نه نو د هغه په تخت مونږ یو نیمګړے ماشوم واچولو بیا هغه (الله ته) رجوع وکړه

قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ وَهَبْ لِيْ مُلْكًا لَّا يَنْۢبَغِيْ لِاَحَدٍ

او وئیل هغه | اے زما ربه | بخښنه اوکړه | ما ته | او راکړه | ما ته | (داسے) حکومت | چه نه وي مناسب | هیڅ چا لره

هغه او وئیل چه اے زما ربه! ما ته معافي اوکړه او داسے سلطنت (حکومت) راته راکړه چه زما نه وروستو

مِّنۢ بَعۡدِیۡ ۚ اِنَّكَ اَنۡتَ الۡوَهَّابُ ۝ فَسَخَّرۡنَا لَهُ الرِّیۡحَ

زمانه وروستو | بیشکه | هم ته ئې | ډیر ور کوونکې ذات | پس تابع کړه مونږ | هغهٔ لره | هوا

ئې هیچاته ور نکړې یقیناً هم ته ډیر ور کړه کوونکې ئې. نو مونږ هوا د هغه په قابو کښې راوستله چه چرته به هغه

تَجۡرِیۡ بِاَمۡرِهٖ رُخَآءً حَیۡثُ اَصَابَ ۝ۙ وَالشَّیٰطِیۡنَ كُلَّ

چه روانه به وه | په حکم د هغهٔ | په نرمۍ سره | چرته به | چه تلو (هغه) | او پیریان | هر

تلل غوښتل د هغه په حکم به په نرمۍ سره چلیدله او سرکش پیریان هم مونږ د هغه په قابو کښې راوستل چه په هغوی کښې

بَنَّآءٍ وَّغَوَّاصٍ ۝ۙ وَّاٰخَرِیۡنَ مُقَرَّنِیۡنَ فِی الۡاَصۡفَادِ ۝ هٰذَا

آبادۍ جوړوونکې | او غوطې وهونکې | او نور | تړلې شوی | په زنځیرونو کښې | دا ده

هر قسم عمارت جوړونکي او غوطې وهونکي شامل وو او څه نور پیریان هم وو چه په زنځیرونو کښې تړلي شوي وو (او ورته مو

عَطَآؤُنَا فَامۡنُنۡ اَوۡ اَمۡسِكۡ بِغَیۡرِ حِسَابٍ ۝ وَاِنَّ لَهٗ

ور کړه زمونږ | پس ته احسان کوه | یا بندا وساته (ځان سره) | بغیر | د حساب نه | او بیشکه | هغهٔ لره

ونیل وو چه) دا زمونږ ور کړه ده تو ستا اختیار دې چه په چا احسان کوې یائې ځان سره بند ساتې په تا هیڅ حساب نشته

عِنۡدَنَا لَزُلۡفٰی وَحُسۡنَ مَاٰبٍ ۝ۧ وَاذۡكُرۡ عَبۡدَنَاۤ اَیُّوۡبَ ۘ اِذۡ

زمونږ سره | خامخا ډیر نزدې والې | او ښائسته | ځائې د ورتلو دې | او یاد کړه | بنده زمونږ | ایوبٌ | کله چه

او حقیقت دا دې چه د هغه زمونږ سره ډیر نزدیکت او ډیر ښه ځائې د ورتلو دې او زمونږ بنده ایوبٌ یاد کړه

نَادٰی رَبَّهٗۤ اَنِّیۡ مَسَّنِیَ الشَّیۡطٰنُ بِنُصۡبٍ وَّعَذَابٍ ۝ؕ

آواز او کړو هغه | رب خپل ته | چه بیشکه زهٔ | رسولې دې ما ته | شیطان | مرض | او تکلیف (عذاب)

کله چه هغه خپل رب ته آواز (فریاد) او کړو چه شیطان زهٔ په رنځ او آزار اخته کړې یم (مونږ ورته او وئیل)

اُرۡكُضۡ بِرِجۡلِكَ ۚ هٰذَا مُغۡتَسَلٌۢ بَارِدٌ وَّشَرَابٌ ۝ وَوَهَبۡنَا

او وهه (زمکه) | په خپه خپله باندې | دا | ځائې د غسل دې | یخ | او اوبهٔ د څکلو | او ور کړل مونږ

خپله خپه په زمکه او وهه (او ګوره) دا لښتې او به دی د لامبلو د پاره هم او د څکلو د پاره هم او (د هغه رنګ) مونږ

لَهٗۤ اَهۡلَهٗ وَمِثۡلَهُمۡ مَّعَهُمۡ رَحۡمَةً مِّنَّا وَذِكۡرٰی

هغه ته | بال بچ د هغهٔ | او د هغوی پشان (نور) | د هغوی سره | د وجې د رحمت خپل نه | او (د پاره) د نصیحت

هغهٔ ته د هغهٔ کور والا هم ور کړل او د هغې سره د هغې هومره نور هم د خپل طرف نه د رحمت په طور او د عقل مندو

لِاُولِی الۡاَلۡبَابِ ۝ وَخُذۡ بِیَدِكَ ضِغۡثًا فَاضۡرِبۡ بِّهٖ

د عقل مندو | او او نیسه | په لاس خپل کښې | یو موټی (جارو) | بیا او وهه | په هغې باندې (خپله بي بي)

د پاره د نصیحت په طور. او (مونږ ورته دا هم او وئیل چه) په لاس کښې یو موټې ډکې واخله او (خپله بي بي پرې) او وهه

وَلَا تَحۡنَثۡ ؕ اِنَّا وَجَدۡنٰهُ صَابِرًا ؕ نِعۡمَ الۡعَبۡدُ ؕ اِنَّهٗۤ

او قسم مه ماتوه | بیشکه مونږ | مونده لې وو هغهٔ لره | صبر کوونکې | ډیر ښهٔ | بنده وو (هغه) | بیشکه هغه وو

او خپل قسم مه ماتوه حقیقت دا دې چه مونږ هغه ډیر صبر والا مونده لې وو هغه ډیر ښه بنده وو یقیناً هغه

أَوَّابٌ ۝ وَاذْكُرْ عِبٰدَنَآ إِبْرٰهِيمَ وَإِسْحٰقَ وَيَعْقُوبَ

ډیر رجوع کوونکی (الله ته) | او یاد کړه | بندګان زمونږ | ابراهیمؑ | او اسحاقؑ | او یعقوبؑ

الله ته ډیر راګرځیدونکی وو۔ او زمونږ بندګان ابراهیمؑ، اسحاقؑ او یعقوبؑ یاد کړه

أُولِي الْأَيْدِي وَالْأَبْصٰرِ ۝ إِنَّآ أَخْلَصْنٰهُم بِخَالِصَةٍ ذِكْرَى

طاقت والا | او بصیرت والا | بیشکه | مونږ غوره کړی وو هغوی | په یو غوره والی سره | (چه هغه) یادول

چه ډیر طاقتور (همت والا) او صاحب نظر خلق وو مونږ هغوی په یوه خاص خبره (صفت) کښې خاص کړی وو

الدَّارِ ۝ وَإِنَّهُمْ عِندَنَا لَمِنَ الْمُصْطَفَيْنَ الْأَخْيَارِ ۝ وَاذْكُرْ

د آخرت د کور دی | او بیشکه هغوی دی | زمونږ په نزد | خامخا د صفا کړے شوو | غوره خلقو نه | او یاد کړه

چه هغه د آخرت د کور یاد وو. او حقیقت دا دے چه دا ټول زمونږ په نزد غوره کړے شوی نیکانو خلقو کښې دی

إِسْمٰعِيلَ وَالْيَسَعَ وَذَا الْكِفْلِ ۖ وَكُلٌّ مِّنَ الْأَخْيَارِ ۝ هٰذَا

اسماعیلؑ | او یسعؑ | او ذو الکفلؑ | او دا ټول وو | د غوره خلقو نه | دا

او اسماعیلؑ او الیسعؑ او ذوالکفلؑ یاد کړه او دا ټول ډیر غوره خلق وو۔ دا (یو)

ذِكْرٌ ۚ وَإِنَّ لِلْمُتَّقِينَ لَحُسْنَ مَـَٔابٍ ۝ جَنّٰتِ عَدْنٍ

نصیحت دے | او بیشکه | د پرهیزګارانو دپاره | خامخا دے ښائسته | ځائے د ورتلو | جنتونه | د همیشه اوسیدلو

نصیحت دے او یقین وکړئ چه د متقیانو دپاره ډیر ښائسته ځائے دے (چه هغه) د همیشه اوسیدو

مُّفَتَّحَةً لَّهُمُ الْأَبْوَابُ ۝ مُتَّكِـِٔينَ فِيهَا يَدْعُونَ فِيهَا

پرانستلی شوے به وی | هغوی ته | دروازے | تکیه وهونکی به وی | په هغے کښے | (را) غواړی به | هغے کښے

جنتونه دی چه د هغے دروازے به دوی ته (پوره) کهولاوی هلته به دوی تکیه لګولی وی

بِفٰكِهَةٍ كَثِيرَةٍ وَشَرَابٍ ۝ وَعِندَهُمْ قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ

میوے | ډیرے | او څکل | وی به د هغوی سره | (حورے) بندونکی | د سترګو

ډیرے میوے او شربتونه (شراب) به راغواړی او د دوی سره په همزولے حورے وی چه نظرونه به (د حیاء دوجے)

أَتْرَابٌ ۝ هٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِيَوْمِ الْحِسَابِ ۝ إِنَّ هٰذَا

همزولے | دا دی | هغه څه | چه تاسو سره ئے وعده کولے شی | د پاره د ورځے | د حساب | بیشکه | دا

لاندے ساتی (وټیټے به ئی دوی ته) دا هغه نعمتونه دی چه تاسو سره ئے د حساب په ورځ وعده شوے ده یقیناً دا زمونږ

لَرِزْقُنَا مَا لَهُ مِن نَّفَادٍ ۝ هٰذَا ۚ وَإِنَّ لِلطّٰغِينَ لَشَرَّ

خامخا زمونږ ورکړه ده | نشته | د دے | هیڅ ختمیدل | دا ثابت دی د پاره د مومنانو | او بیشکه | د سرکشانو د پاره | خامخا بد

دا ئے رزق دے چه هیڅ کله ختمیدونکے نه دے. یو خوا خو به دا وی او (بل) خوا) د سرکشو خلقو د پاره به

مَـَٔابٍ ۝ جَهَنَّمَ ۚ يَصْلَوْنَهَا ۚ فَبِئْسَ الْمِهَادُ ۝ هٰذَا ۙ فَلْيَذُوقُوهُ

ځائے د ورتلو دے | جهنم | چه هغوی به دا خلیږی ورته | پس ډیر بد | ځائے د آرام دے (هغه) | دا جهنم دے | پس او د څکی دوی دا

ډیر خراب ځائے وی یعنی دوزخ چه هغوی به ورته ورداخلیږی پس هغه ډیر خراب ځائے دے. دا څکیدل لے

حَمِيْمٌ وَّغَسَّاقٌ ﴿۵۷﴾ وَّاٰخَرُ مِنْ شَكْلِهٖٓ اَزْوَاجٌ ﴿۵۸﴾ هٰذَا

(دا) خټکين سلے اوبه | او وخضب (زوے) دی | او نور (عذابونه به وی) | پشان د دے | قسما قسم | دا دے

(گرمے) اوبه او زوے دی نو بس څکوی دے دے خوندن او څکل او د دے په شان به نور قسم قسم عذابونه وی

فَوْجٌ مُّقْتَحِمٌ مَّعَكُمْ ۚ لَا مَرْحَبًۢا بِهِمْ ؕ اِنَّهُمْ صَالُوا

يَو لښکر | چه ننوتونکی دے | تاسو سره | نه دے وی هيڅ خوشحالی | د دوی دپاره | بيشکه دوی | داخليدونکی دی

(ملائک به مشرانو ته اووائی) دا يو لښکر دے چه تاسو سره د دے تنگ ځائے ته داخليږی نو مشران به جواب کښی اووائی هيڅ کله دِ

النَّارِ ﴿۵۹﴾ قَالُوْا بَلْ اَنْتُمْ ۟ لَا مَرْحَبًۢا بِكُمْ ؕ اَنْتُمْ قَدَّمْتُمُوْهُ

اور ته | او به وائی ځغوی | بلکه | تاسو | نه دے وی خوشحالی | ستاسو دپاره | تاسو | وړاندے کړے وو دا

خوشحاله نشی يقيناً دوی به اور ته داخليږی ځغوی به ورته اووائی نا بلکه تاسو دپاره دِ خوشحالی نه وی دا مصيبت خو هم تاسو

لَنَا ۚ فَبِئْسَ الْقَرَارُ ﴿۶۰﴾ قَالُوْا رَبَّنَا مَنْ قَدَّمَ لَنَا

موږ ته | پس ډير بد ځائے دے | د استو گنے | او به وائی دوی | اے زموږ ربه | چاچه | وړاندے کړے وو | موږ ته

موږ ته را مخکښی کړے دے پس دا دا وسيدو ډير خراب ځائے دے (بيا به) اووائی اے زموږ ربه چاچه دا شرک زموږ مخے ته

هٰذَا فَزِدْهُ عَذَابًا ضِعْفًا فِي النَّارِ ﴿۶۱﴾ وَقَالُوْا مَا لَنَا

دا | پس زيات کړه هغه ته | عذاب | دوچنده | په اور کښے | او او به وائی دوی | چه څه او شو په موږ پاندے

راوستلے دے هغے له په اور کښے دوچند عذاب ور کړه او (دوی به يو بل ته) اووائی څه وجه ده

لَا نَرٰى رِجَالًا كُنَّا نَعُدُّهُمْ مِّنَ الْاَشْرَارِ ﴿۶۲﴾ اَتَّخَذْنٰهُمْ

چه نه وينو موږ | (هغه) سړی | چه موږ به گڼړل هغوی | د خرابو خلقو نه | آيا موږ نيولی وو هغوی

چه موږ هغه موحدين خلق نه وينو چه موږ به په شريرانو خلقو کښے شمارل آيا موږ په هغوی پورے

سِخْرِيًّا اَمْ زَاغَتْ عَنْهُمُ الْاَبْصَارُ ﴿۶۳﴾ اِنَّ ذٰلِكَ لَحَقٌّ

په ټوقو سره | يا کږے شوی دی | د هغوی نه | سترگے | بيشکه | دا | خامخا حق دی

(په ناحقه) ټوقے کولے يا د هغوی نه زموږ سترگے اوړيدلے دی؟ يقيناً د دوزخيانو په خپلو کښے

تَخَاصُمُ اَهْلِ النَّارِ ﴿۶۴﴾ قُلْ اِنَّمَآ اَنَا مُنْذِرٌ ۖۗ وَّمَا مِنْ اِلٰهٍ

جګړه کول دی | د دوزخ والو | او وايه | بيشکه | زه | يرووونکے يم | او نشته دے | هيڅ څوک لائق د عبادت

د جګړے کولو دا ټولے خبرے بالکل حق (رشتيا) دی (اے نبی!) او وايه زه خو بس يو يرووونکے يم او د هغه الله نه سوا

اِلَّا اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿۶۵﴾ ۚ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا

سوا | د الله نه | چه يو دے | ډير غالب (زور آور) | رب دے | د آسمانونو | او د زمکے | او د هغه څه

بل څوک د عبادت لائق نشته چه يو دے (او) په ټولو غالب (زور اور) دے د اسمانونو او د زمکے او د دے

بَيْنَهُمَا الْعَزِيزُ الْغَفَّارُ ﴿٦٦﴾ قُلْ هُوَ نَبَؤٌا عَظِيمٌ ﴿٦٧﴾

چه د دے دواړو په مینځ کښې دی | ډیر غالب | ډیر بخښونکے | او وایه | دا (قیامت) | یو خبر دے | ډیر لوئے

دواړو په مینځ کښې دهر څیز مالک دے ډیر غالب ډیر بخښونکے دے ته (دوی ته) او وایه چه دا یو ډیر لوئے خبر دے

أَنْتُمْ عَنْهُ مُعْرِضُونَ ﴿٦٨﴾ مَا كَانَ لِيَ مِنْ عِلْمٍ بِالْمَلَإِ

تاسو | د هغے نه | مخ اړوونکی یئ | نشته دے | ماته | هیڅ علم | په ډله

د کوم نه چه تاسو مخ اړوئ۔ ماته د عالم بالا (فرشتو باره کښې) هیڅ علم نشته

الْأَعْلَىٰ إِذْ يَخْتَصِمُونَ ﴿٦٩﴾ إِنْ يُوحَىٰ إِلَيَّ إِلَّا أَنَّمَا أَنَا

او چته باندے | کله چه | هغوی بحث کولو | نه کیږی وحی | ماته | مګر | دا چه بیشکه | زه یم

کله چه هغوی بحث کولو (په استخلاف دآدمؑ کښې) ماته خو همدا وحی کیږی چه زه صرف یو ښکاره یروونکے

نَذِيرٌ مُبِينٌ ﴿٧٠﴾ إِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي خَالِقٌ

یروونکے | ښکاره | کله چه | اووئیل | رب ستا | ملائکو ته | چه بیشکه زه | پیدا کوونکے یم

یم هغه وخت یاد کړه کله چه ستا رب ملائکو ته اووئیل چه زه د خټے نه یو انسان پیدا کوم

بَشَرًا مِنْ طِينٍ ﴿٧١﴾ فَإِذَا سَوَّيْتُهُ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِنْ رُوحِي

یو بنیادم لره | د خټے نه | پس کله چه | زه برابر کړم هغه | او پو کے او کړم | په هغهٔ کښے | د خپل روح نه

نو کله چه زه هغه پوره جوړ کړم او خپل روح پکښے پوک وهم نو

فَقَعُوا لَهُ سَاجِدِينَ ﴿٧٢﴾ فَسَجَدَ الْمَلَائِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ ﴿٧٣﴾

نو تاسو پریوزئ | هغه ته | سجده کوونکی | پس سجده او کړه | ملائکو | ټولو | په یو ځائے

تاسو ورته سجده او کړئ بیا ټولو ملائکو سجده او کړه

إِلَّا إِبْلِيسَ اسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِينَ ﴿٧٤﴾ قَالَ يَا إِبْلِيسُ

سوا | د ابلیس نه | تکبر او کړو هغه | او وو هغه | د کافرانو نه | اووئیل (الله) | اے ابلیس!

البته ابلیس او نکړه هغهٔ تکبر او کړو او هغه د الله په علم کښې د مخکښې نه په کافرانو کښې شامل وو الله ورته اووئیل

مَا مَنَعَكَ أَنْ تَسْجُدَ لِمَا خَلَقْتُ بِيَدَيَّ

څه شی | منع کړے ته | د دے نه | چه سجده او کړے ته | هغه څه ته | چه پیدا کړے دے ما | په لاسونو خپلو

کوم څیز چه ما په خپلو لاسونو پیدا کړو هغے ته د سجدے کولو نه ته څه څیز منع کړے

أَسْتَكْبَرْتَ أَمْ كُنْتَ مِنَ الْعَالِينَ ﴿٧٥﴾ قَالَ أَنَا خَيْرٌ مِنْهُ

آیا تکبر او کړو تا | یا ته ئے | د اوچتو خلقو نه | اووئیل (هغه) | زه | ډیر غوره یم | د هغه نه

آیا تا تکبر او کړو یا ته په اوچتو خلقو کښے ئے (د لوئے مرتبے والا ئے) ابلیس اووئیل زه د دهٔ نه ډیر غوره یم

خَلَقْتَنِیْ مِنْ نَّارٍ وَّخَلَقْتَهٗ مِنْ طِیْنٍ ۝٧٦ قَالَ فَاخْرُجْ

تا پیدا کړے یم زه | د اور نه | او تا پیدا کړے دے دے | د خټے نه | او وئیل (الله) | پس اوځه

تا زه د اور نه پیدا کړے یم او دے دِ د خټے نه پیدا کړے دے الله (ورته) او وئیل ځه دلته نه

مِنْهَا فَاِنَّكَ رَجِیْمٌ ۝٧٧ وَّاِنَّ عَلَیْكَ لَعْنَتِیْۤ اِلٰی یَوْمِ

د دے نه | پس بیشکه ته ئے | رټلے شوے | او بیشکه | وی به په تا | لعنت زما | تر ورځے

او وځه ځکه چه ته رټلے شوے (مردود) ئے او یقین او کړه چه د قیامت د ور ځے پورے به په تا باندے زما لعنت وی

الدِّیْنِ ۝٧٨ قَالَ رَبِّ فَاَنْظِرْنِیْۤ اِلٰی یَوْمِ یُبْعَثُوْنَ ۝٧٩

د جزاء پورے | او وئیل هغه | اے زما ربه! | پس مهلت را کړه ماته | تر هغے ورځے پورے | چه دوی به بیا را پاڅولے شی

هغه او وئیل اے زما ربه (بیا خو) ماته د هغے ورځے پورے مهلت را کړه چه خلق په کښے دوباره ژوندی کیږی

قَالَ فَاِنَّكَ مِنَ الْمُنْظَرِیْنَ ۝٨٠ اِلٰی یَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُوْمِ ۝٨١

او وئیل الله | پس بیشکه ته | د مهلت ور کړے شوو نه | تر ورځے | د وخت | معلوم پورے

الله ورته او وئیل ځه ته په هغه خلقو کښے شامل شوے چه مهلت ورته ور کړے شوے دے (خو) د یو متعین وخت

قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَاُغْوِیَنَّهُمْ اَجْمَعِیْنَ ۝٨٢ اِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ

او وئیل هغه | پس قسم دے ستا په عزت | خامخا به زه گمراه کوم دوی | ټول | مګر | بندګان ستا | د دوی نه

پورے هغه او وئیل ستا په عزت مې د قسم وی چه زه به دا ټول گمراه کوم سوا ستا د هغه بندګانو نه

الْمُخْلَصِیْنَ ۝٨٣ قَالَ فَالْحَقُّ وَالْحَقَّ اَقُوْلُ ۝٨٤ لَاَمْلَئَنَّ

چه خالص کړے شوی دی | او وئیل (الله) | پس دا خبره حقه ده | او حق | زه وایم | چه خامخا زه به ډکوم

چه خالص (بچ کړے شوی) وی الله او فرمائیل ! دا رشتیا خبره ده او زه (همیشه) رشتینی خبره کوم

جَهَنَّمَ مِنْكَ وَمِمَّنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ اَجْمَعِیْنَ ۝٨٥ قُلْ

جهنم | ستا نه | او د هغه چا نه | چه روان وی تا پسے | د دوی | ټولو نه | او وایه

چه زه به ستا نه او ستا د ټولو منونکو نه دوزخ ډکوم۔ (اے نبیؐ ! خلقو ته) او وایه

مَاۤ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَیْهِ مِنْ اَجْرٍ وَّمَاۤ اَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِیْنَ ۝٨٦

زه نه غواړم ستاسو نه | په دے باندے | هیڅ اجر | او نه یم زه | د تکلف کوونکو نه

چه زه تاسو نه په دے (دعوت) هیڅ اجرت نه غواړم او نه زه تکلف (بناوټ) کوونکے یم



اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِیْنَ ۝٨٧ وَلَتَعْلَمُنَّ نَبَاَهٗ بَعْدَ حِیْنٍ ۝٨٨

نه دے دا (قرآن) | مګر | نصیحت | د مخلوقاتو د پاره | او خامخا تاسو به پوهه شئ | د دے په خبر | پس | د څه وخت نه

دا (قرآن) خو د ټول جهان د پاره یو نصیحت دے او لږ وخت پس به تاسو ته د دے حال (حقیقت) معلوم شی

آياتها [٧٥] | # سورة الزمر مكية | ركوعاتها [٨]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مبارک نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ۝١ اِنَّآ اَنْزَلْنَآ

نازلول | د دے کتاب | د طرفه د الله دی | چه ډیر غالب | لوے حکمت والا دے | بیشکه | مونږ رالیږلے دے

دا کتاب د هغه الله د طرف نه رالیږلے کیږی چه هغه ډیر زور آور او لوے حکمت والا ذات دے (اے نبیﷺ) یقین او کړه

اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ فَاعْبُدِ اللّٰهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ ۝٢

تاته | کتاب | په حقه | پس عبادت کوه | د الله | (چه) خالص کونکے (ئے) | هغه لره | دین

چه مونږ دا کتاب تاته په حقه رالیږلے دے نو د الله د ے عبادت او کړه چه بندګی خالص د هغه وی

اَلَا لِلّٰهِ الدِّيْنُ الْخَالِصُ ؕ وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ

خبردار | خاص الله د پاره دے | دین | خالص | او هغه کسان | چه جوړ کړی ئے دی | سوا د هغه نه

یاد ساتئ (خبردار) چه خالص بندګی هم د الله حق دے او کوم خلقو چه د الله نه سوا

اَوْلِيَآءَ ۘ مَا نَعْبُدُهُمْ اِلَّا لِيُقَرِّبُوْنَآ اِلَى اللّٰهِ زُلْفٰى ؕ

نور دوستان | (وائی) مونږ عبادت نه کوو د دوی | مګر | د دے د پاره چه دوی نزدے کړی مونږ | الله ته | په نزدے کولو سره

نور دوستان (معبودان) جوړ کړی دی (وائی چه) مونږ د دوی عبادت صرف د دے د پاره کوو چه مونږ الله ته نزدے کړی

اِنَّ اللّٰهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِيْ مَا هُمْ فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ۝٣

بیشکه | الله (به) | فیصله کوی | په مینځ د دوی کښے | په هغه څه کښے | چه دوی | په هغے کښے | اختلاف کوی

د دوی په مینځ کښے به الله تعالیٰ د هغه خبرو فیصله او کړی کومو کښے چه دوی اختلاف کوی

اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ مَنْ هُوَ كٰذِبٌ كَفَّارٌ ۝٤ لَوْ اَرَادَ

بیشکه | الله | لار نه ښائی | هغه چا ته | چه وی هغه | دروغژن | ډیر ناشکره | که چرے | غوښتلے

یقین او کړئ چه الله تعالیٰ د اسے کس ته توفیق نه ور کوی چه دروغژن وی (او) په کفر باندے کلک وی که الله تعالیٰ غوښتل

اللّٰهُ اَنْ يَّتَّخِذَ وَلَدًا لَّاصْطَفٰى مِمَّا يَخْلُقُ مَا

الله | چه | اونیسی | ځوئے | او خامخا غوره کړے (به ئے) وو | د هغه چا نه | چه پیدا کوی ئے | هغه څوک

خپل ځوئے (اولاد) جوړول غوښتلے نو په خپل مخلوق کښے ئے چه څوک خوښ وو هغه به ئے جوړ کړے وو

يَشَآءُ ۙ سُبْحٰنَهٗ ؕ هُوَ اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ۝٤ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ

چه خوښ ئے (لیکن) پاکی ده د هغه | هم هغه دے | الله | اِک یو | ډیر زور اور | پیدا کړی دی هغه | آسمانونه

(لیکن) هغه خو (د دے خبرو نه) پاک دے هم هغه الله دے اِک یو (او) ډیر زور اور (غالب) (هم) هغه آسمانونه

وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ۚ يُكَوِّرُ الَّيْلَ عَلَى النَّهَارِ وَيُكَوِّرُ النَّهَارَ

او زمکه | په حقه | رانغاړي هغه | شپه | په ورځ | او رانغاړي | ورځ

او زمکه په حقه (په تدبير سره) پيدا کړي دي (هم) هغه شپه په ورځ باندې رانغاړي او ورځ

عَلَى الَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۖ كُلٌّ يَّجْرِيْ لِاَجَلٍ

په شپه | او تابع کړي ئې دي | نمر | او سپوږمۍ | هريو | روان دې | يو وخت (ته)

په شپه باندې رانغاړي او نمر سپوږمۍ ئې په کار لګولي دي هريو د معين (مقرر) موده پورې

مُّسَمًّى ۗ اَلَا هُوَ الْعَزِيْزُ الْغَفَّارُ ۝ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ

مقرر پورې | خبردار | هم هغه دې | ډير زور اور | ډير بخښونکې | هغه پيدا کړي يئ تاسو | د نفس

روان دې خبردار هم هغه ډير غالب ډير بخښونکې ذات دې هغه (الله) تاسو ديو نفس

وَّاحِدَةٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَاَنْزَلَ لَكُمْ

يو نه | بيا ئې | جوړه کړې ده | د هغهٔ نه | بي بي د هغهٔ | او پيدا کړي ئې دي | ستاسو دپاره

(کس) نه پيدا کړي يئ بيا ئې د هغهٔ نه د هغهٔ بي بي (ښځه) جوړه کړه او ستاسو دپاره ئې

مِّنَ الْاَنْعَامِ ثَمٰنِيَةَ اَزْوَاجٍ ۗ يَخْلُقُكُمْ فِيْ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ

د څاروو نه | اته | جوړې | پيدا کوي هغه تاسو | په خيټو | د ميندو ستاسو کښې

په څاروو کښې اته جوړې پيدا کړي دي هم هغه تاسو ستاسو د ميندو په خيټو کښې

خَلْقًا مِّنْ بَعْدِ خَلْقٍ فِيْ ظُلُمٰتٍ ثَلٰثٍ ۗ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ

په يو پيدائش | وروستو | د بل پيدائش نه | په تيارو | دريو کښې | هم دا | الله

په مختلف مرحلو کښې په دريو تيارو کښې دننه پيدا کوي هم دا الله

رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ ۗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ فَاَنّٰى تُصْرَفُوْنَ ۝

ستاسو رب دې | هم د هغه | بادشاهي ده | نشته دې | لائق د عبادت | بيوا | د هغهٔ نه | پس کوم خوا | اړولے شئ تاسو

ستاسو رب دې تول بادشاهي هم د هغه ده د هغه نه سوا هيڅ څوک د عبادت لائق نشته نو بيا تاسو کوم خوا روان يئ؟

اِنْ تَكْفُرُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ عَنْكُمْ ۟ وَلَا يَرْضٰى

که چرې | کفر کوئ تاسو | نو بيشکه | الله | بے پرواه دې | ستاسو نه | او نه خوښوي هغه

که چرې تاسو کفر اختيار کړئ نو يقين او کړئ چه الله تعالیٰ تاسو نه بے نيازه دې او هغه د خپلو بندګانو

لِعِبَادِهِ الْكُفْرَ ۚ وَاِنْ تَشْكُرُوْا يَرْضَهُ لَكُمْ ۗ وَلَا تَزِرُ

د خپلو بندګانو دپاره | کفر | او که چرې | تاسو شکر کوئ | نو هغه خوښوي دا | ستاسو دپاره | او نه به او چتوي

دپاره کفر نه خوښوي او که چرې تاسو شکر او کړئ نو هغه ئې در له خوښوي او هيڅ بوج او چتونکے به

وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ۗ ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ مَّرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُمْ

يو او چتونکے | بوج (بار) | د بل چا | بيا | رب خپل ته | واپس کيدل دي ستاسو | پس خبر به هر کړي تاسو ته

د بل چا بوج پورته نهٔ کړي بيا ستاسو د ټولو خپل رب طرف ته واپس تلل دي نو تاسو

بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ؕ اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۝

دهغه څه | چه تاسو به | کول | بیشکه هغه | ښه پوهه دے | په رازونو | د سینو

چه څه کول دهغے نه به مو خبر کړی یقیناً هغه د زړونو خبرے ښے پیژنی

وَاِذَا مَسَّ الْاِنْسَانَ ضُرٌّ دَعَا رَبَّهٗ مُنِيْبًا اِلَيْهِ ثُمَّ

اوکله چه | اورسی | انسان ته | څه تکلیف | لورابلی هغه | رب خپل | رجوع کوونکے | الله ته | بیا

اوکله چه انسان ته څه تکلیف اورسی نو خپل رب رابلی او (د زړه نه) هغه ته رجوع کوی (خو) بیا

اِذَا خَوَّلَهٗ نِعْمَةً مِّنْهُ نَسِيَ مَا كَانَ يَدْعُوْۤا اِلَيْهِ

کله چه | ورکړی دهٔ ته | نعمت | دخپل طرف نه | (نو) دے هیر کړی | هغه څه | چه رابللو ئے (الله) | هغے ته

چه کله ورته الله دخپل طرف نه څه نعمت ورکړی نو هغه (حالت یا تکلیف) هیر کړی چه دهغے دپاره ئے

مِنْ قَبْلُ وَجَعَلَ لِلّٰهِ اَنْدَادًا لِّيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِهٖ ؕ

مخکښې دد ے نه | او دے جوړ کړی | دالله دپاره | شریکان | چه گمراه کړی (خلق) | د لارے د هغهٔ نه

مخکښے الله رابللو او دالله سره شریکان جوړ کړی نو نتیجه دا شی چه خلق دالله دلارے نه واړوی

قُلْ تَمَتَّعْ بِكُفْرِكَ قَلِيْلًا ۖۗ اِنَّكَ مِنْ اَصْحٰبِ النَّارِ ۝

اووایه | فائده واخله | په خپل کفر سره | لږه | بیشکه ته ئے | د | اور والؤ | نه

ته ورته اووایه په خپل کفر (ناشکری) لږے مزے واخله یقین اوکړه چه ته په دوزخیانو کښے شامل ئے

اَمَّنْ هُوَ قَانِتٌ اٰنَآءَ الَّيْلِ سَاجِدًا وَّقَآئِمًا يَّحْذَرُ

آیا هغه څوک | چه وی | تابعداری کوونکے | په وختونو | دشپے کښے | سجده کوونکے | او ولاړ | یرېږی

آیا (دغه شرک بنه دے یا) هغه کس چه دشپے په وختونو کښے (دالله تعالیٰ) عبادت کوی کله په سجده کښے وی او کله په ولاړه

الْاٰخِرَةَ وَيَرْجُوْا رَحْمَةَ رَبِّهٖ ؕ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِيْنَ

د آخرت نه | او اُمید ساتی | د رحمت | د رب خپل | اووایه | آیا | برابر دی | هغه کسان

(او) د آخرت نه یرېږی او د خپل رب د رحمت اُمید ساتی؟ اے نبیؐ! اووایه چه آیا هغه خلق

يَعْلَمُوْنَ وَالَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ؕ اِنَّمَا يَتَذَكَّرُ اُولُوا الْاَلْبَابِ ۝ ع

چه پوهیږی | او هغه کسان | چه نه پوهیږی | بیشکه | نصیحت اخلی | عقل مند خلق

چه پوهیږی او هغه خلق چه نه پوهیږی برابر کیدے شی؟ نصیحت خو صرف عقل مند خلق قبلوی

قُلْ يٰعِبَادِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوْا رَبَّكُمْ ؕ لِلَّذِيْنَ

اووایه | اے بندګانو زما! | هغه کسانو | چه ایمان مو راوړے دے | یریږئ | دخپل رب نه | دهغه خلقو دپاره

(مومنانو ته زمونږ د طرف نه) اووایه چه اے زما مومنانو بندګانو! دخپل رب نه یریږئ۔ چا چه

اَحْسَنُوْا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ ؕ وَاَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةٌ ؕ

چه نیکئ ئے کړی دی | په دے | دنیا کښے | ښه بدله ده | او زمکه | دالله | فراخه ده

په دے دنیا کښے نیکی کړے ده ښه بدله هم دهغوی دپاره مقرر ده او دالله تعالیٰ زمکه ډیره فراخه ده

اِنَّمَا يُوَفَّى الصّٰبِرُوْنَ اَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ۝١٠ قُلْ اِنِّيْٓ

بیشکه | پوره به ورکړے شی | صبر کوونکو ته | اجر د هغوی | بغیر | د حساب نه | او وایه | بیشکه

خولګ چه د صبر نه کار اخلی هغوی ته به د هغوی اجر بے حسابه (بے شماره) ورکړے شی او وایه چه ماته (خو)

اُمِرْتُ اَنْ اَعْبُدَ اللّٰهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ ۝١١ وَ اُمِرْتُ

ماته حکم شوے دے | چه زه عبادت او کړم | د الله | چه خالص کوونکے یم | هغه لره | دین (عبادت) | او ماته حکم کړے شوے دے

دا حکم شوے دے چه زه د الله تعالیٰ دا سے عبادت او کړم چه زما بندګی (دین) خالص د هغه (دپاره) وی او ماته دا حکم

لِاَنْ اَكُوْنَ اَوَّلَ الْمُسْلِمِيْنَ ۝١٢ قُلْ اِنِّيْٓ اَخَافُ اِنْ عَصَيْتُ

چه زهٔ شم | وړومبے | د مسلمانانو نه | او وایه | بیشکه زهٔ | یریږم | که چرے | نافرمانی او کړم

(هم) شوے دے چه د ټولو نه وړومبے مسلمان (فرمانبردار) زه جوړ شم او وایه چه که چرے زه د خپل رب

رَبِّيْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ۝١٣ قُلِ اللّٰهَ اَعْبُدُ مُخْلِصًا

د رب خپل | د عذاب | د ورځے | لوئے نه | او وایه | خاص د الله | عبادت کوم زه | خالص کوونکے (یم)

نافرمانی او کړم نو زهٔ د یو دے لوئے (زبردست) ورځے د عذاب نه یریږم او وایه چه زه د الله تعالیٰ دا سے عبادت کوم

لَّهٗ دِيْنِيْ ۝١٤ فَاعْبُدُوْا مَا شِئْتُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ ؕ قُلْ

هغهٔ لره | دین (عبادت) خپل | پس تاسو عبادت کوئ | د چا چه | غواړئ تاسو | سوا د هغه نه | او وایه

چه ما خپله بندګی (دین) د هغه دپاره خالص کړے دے اوس ستاسو چه د هغه نه سوا د چا خوښه وی عبادت کوئ

اِنَّ الْخٰسِرِيْنَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ وَاَهْلِيْهِمْ يَوْمَ

بیشکه | تاوانیان | هغه کسان دی | چه تاوان کښے اچولی دی | ځانونه خپل | او کور والا خپل | په ورځ

او وایه چه تاوان موندونکی (خو) هغه خلق دی چه د قیامت په ورځ به خپل ځانونه او خپله کورنئ تاوانی کړی

الْقِيٰمَةِ ؕ اَلَا ذٰلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِيْنُ ۝١٥ لَهُمْ مِّنْ فَوْقِهِمْ

د قیامت | خبردار | هم دا دے | تاوان | ښکاره | وی به هغوی دپاره | د پاسه د دوی نه

یاد ساتئ چه هم دا ښکاره تاوان دے۔ د دا سے خلقو دپاره به د هغوی د بره نه هم

ظُلَلٌ مِّنَ النَّارِ وَمِنْ تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ ؕ ذٰلِكَ يُخَوِّفُ اللّٰهُ

سوری | د | اور نه | او د لاندے د دوی نه به | (هم) سوری وی | دا | یروی | الله

د اور سائبان (شعلے) وی او د لاندے نه به هم د غه شان سائبان (لمبے) وی دا هم هغه څیز دے چه الله

بِهٖ عِبَادَهٗ ؕ يٰعِبَادِ فَاتَّقُوْنِ ۝١٦ وَالَّذِيْنَ اجْتَنَبُوا الطَّاغُوْتَ

په دے سره | بندګان خپل | اے زما بندګانو | نو زما نه اُویریږئ | او هغه کسان | چه ځان ساتی | د غټ سرکش نه

پرے خپل بندګان یروی نو اے زما بندګانو ! زما نه اُویریږئ او کوم خلق چه د طاغوت

اَنْ يَّعْبُدُوْهَا وَاَنَابُوْٓا اِلَى اللّٰهِ لَهُمُ الْبُشْرٰى ۚ فَبَشِّرْ

چه دوی عبادت اوکړی دهغهٔ | اورجوع کوی دوی | الله ته | ددوی دپاره | خوشحالی ده | پس ته زیرے ورکړه

دبندګئ نه ځان بچ کوی او الله تعالی ته رجوع کوی دخوشحالئ خبر (زیرے) هم دهغوی دپاره دے

عِبَادِ ۙ الَّذِيْنَ يَسْتَمِعُوْنَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُوْنَ اَحْسَنَهٗ ؕ

بندګانو زماته | هغه کسان | چه غوږ ایږدی | خبرے ته | بیا روانیږی | خائسته خبرے دهغے پسے

تو (اے نبیؐ!) زما هغه بندګانو ته زیرے ورکړه چه (دالله) خبرو (کلام) ته په غور سره آوری او دهغے دښو خبرو تابعداری کوی

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ هَدٰىهُمُ اللّٰهُ وَاُولٰٓئِكَ هُمْ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿۱۸﴾

هم دا | هغه کسان دی | چه سمه لاره ورښودلے ده | الله | او هم دغه کسان | دوی | عقل مند دی

هم دا هغه خلق دی چه الله ورته هدایت کړے دے او هم دا عقل مند خلق دی

اَفَمَنْ حَقَّ عَلَيْهِ كَلِمَةُ الْعَذَابِ ؕ اَفَاَنْتَ تُنْقِذُ مَنْ

آیا تو هغه څوک | چه ثابت شوی وی | په هغه باندے | خبره | د عذاب | آیا تو ته | خلاصوے | هغه څوک

آیا هغه کس چه دعذاب فیصله پرے (پوره) شوے وی نو آیا ته هغه څوک بچ کولے شے

فِى النَّارِ ۚ ﴿۱۹﴾ لٰكِنِ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ غُرَفٌ

چه په اور کښے وی | لیکن | هغه کسان | چه یریږی | درب خپل نه | دهغوی دپاره | بالاخانے دی

چه اور ته داخل شوے وی؟ البته کوم خلق د خپل رب نه یریږی دهغوی دپاره

مِّنْ فَوْقِهَا غُرَفٌ مَّبْنِيَّةٌ ۙ تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۬ؕ

چه دهغے دپاسه (په) | (نورے) بالاخانے وی | جوړے شوی | بهیږی به | لاندے دهغے نه | نهرونه

لاندے باندے جوړ شوی او چت او چت محلونه (عمارتونه) دی چه دهغے د لاندے نهرونه بهیږی

وَعْدَ اللّٰهِ ؕ لَا يُخْلِفُ اللّٰهُ الْمِيْعَادَ ﴿۲۰﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ

(وعده کړے ده) وعده الله | خلاف نه کوی | الله | د وعدے | آیا ته نهٔ ګورے | چه بیشکه | الله

دا دالله تعالی وعده ده الله هیڅ کله دخپلے وعدے خلاف ورزی نه کوی آیا تا دے خبرے ته نه دی کتلی

اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَسَلَكَهٗ يَنَابِيْعَ فِى الْاَرْضِ ثُمَّ

راوروی | د آسمان نه | اوبه | بیا چلوی هغے لره | چینے | په زمکه کښے | بیا

چه الله تعالی دبره ته اوبه (باران) راوروولے دے بیا ئے هغه دزمکے په چینو کښے روانے کړی دی بیا هم هغه

يُخْرِجُ بِهٖ زَرْعًا مُّخْتَلِفًا اَلْوَانُهٗ ثُمَّ يَهِيْجُ فَتَرٰىهُ

راوباسی | په هغے سره | فصل | چه مختلف دی | رنګونه دهغے | بیا | اوچ شی | نو ته وینے هغه

دهغے په ذریعه مختلف رنګونو والا فصلونه راټوکوی بیا هغه اوچ شی نو ته ئے

مُصْفَرًّا ثُمَّ يَجْعَلُهٗ حُطَامًا ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَذِكْرٰى

زیړ | بیا | او گرځوي (الله) هغه لره | چوره چوره | بیشکه | په دے کښے | خامخا نصیحت دے

تك زیړ وینئے بیا ئے هغه (الله) چوره چوره (مات مات) کړي یقینا په دے خبرو کښے

ع لِاُولِي الْاَلْبَابِ ﴿٢١﴾ اَفَمَنْ شَرَحَ اللّٰهُ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ

دپاره د عقل مندو | آیا نو هغه څوك | چه پرانستلے وي | الله | سینه د هغهٔ | اِسلام ته

د عقل مندو دپاره ډیر لوئے نصیحت (سبق) پروت دے آیا دچا سینه چه الله تعالٰی اسلام ته پرانستلے ده

فَهُوَ عَلٰى نُوْرٍ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ فَوَيْلٌ لِّلْقٰسِيَةِ قُلُوْبُهُمْ

نو هغه وي | په رڼرا | دخپل رب د طرف نه | پس هلاکت دے | هغه چالره چه سخت وي | زړونه د هغوي

او هغه دخپل رب د طرف نه په یوه رڼرا کښے وي؟ پس دچا زړونه چه دالله تعالٰی د ذکر نه سخت شوي دي

مِّنْ ذِكْرِ اللّٰهِ ؕ اُولٰٓئِكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٢٢﴾ اَللّٰهُ نَزَّلَ

د ذکر | دالله نه | هم دغه کسان دي | په گمراهئ | ښکاره کښے | الله | رالیږلے ده

دهغوي دپاره تباهي ده دا خلق په ښکاره گمراهئ کښے پراته دي۔ الله تعالٰی ډیره

اَحْسَنَ الْحَدِيْثِ كِتٰبًا مُّتَشَابِهًا مَّثَانِيَ ۖ تَقْشَعِرُّ

ډیره خائسته | خبره | چه کتاب دے | یو شان دیو بل سره | (چه) بیا بیا او ستلے شي | (چه) زیگ زیگ کیږي

بهترینه خبره رالیږلے دي دا یو کتاب په شکل کښ چه د هغے مضمون دیو بل سره سم برابر دے بیا بیا او ستلے شوے دے

مِنْهُ جُلُوْدُ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ۚ ثُمَّ تَلِيْنُ جُلُوْدُهُمْ

د هغے نه | څرمنے | دهغه کسانو | چه یریږي | د رب خپل نه | بیا | نرمیږي | څرمنے دهغوي

کوم خلق چه دخپل رب نه یریږي دهغوي څرمنے دهغے سره غوږ ئے کیږي بیا دهغوي بدنونه

وَقُلُوْبُهُمْ اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ يَهْدِيْ بِهٖ

او زړونه دهغوي | ذکر | د الله ته | دا دے | هدایت | دالله | چه لار ښائي | په دے سره

او زړونه نرم شي (او) دالله ذکر ته متوجه شي هم دا دالله هدایت دے ددے په ذریعه چه

مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ﴿٢٣﴾

چاته | چه او غواړي | او هغه څوك | چه گمراه (ئے) کړي | الله | نو نشته | دهغه دپاره | هیڅ څوك لاره ښودونکے

چاته او غواړي هدایت ور کوي او الله تعالٰی چه څوك بے لارے کړي نو هغه ته هیڅ څوك سمه لاره ښودونکے نشته

اَفَمَنْ يَّتَّقِيْ بِوَجْهِهٖ سُوْٓءَ الْعَذَابِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ

آیا نو هغه څوك | چه بچ کوي به ځان خپل | په مخ خپل سره | د سخت | عذاب نه | په ورځ | د قیامت

آیا څوك (به) چه دقیامت په ورځ په خپل مخ سره د بدترین عذاب نه ځان بچ کوي (د هغه چا په شان کیدے شي چه په راحت کښے

وَقِيْلَ لِلظّٰلِمِيْنَ ذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ تَكْسِبُوْنَ ﴿٢٤﴾ كَذَّبَ

او اوبه وئیلے شي | ظالمانو ته | او څکئ (خوند) | دهغه څه | چه تاسو به | کسب کول | دروغژن گنړلے وو

به وي؟) او ظالمانو ته به او وئیلے شي چه تاسو چه څه کول دهغے مزه (خوند) وڅکئ کوم خلق چه دوی نه مخکښ وو هغوي هم

الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَاَتٰىهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٢٥﴾

هغه کسانو | چه مخکښ وو دوی نه | نو راغے په هغوی | عذاب | دداسے ځائے نه | چه هغوی پرے نه پوهیدل

حق دروغژن ګنړلے وو چه دهغے په نتیجه کښے پرے عذاب دداسے ځائے نه راغے چه دوی پرے ګمان هم نه کولو

فَاَذَاقَهُمُ اللّٰهُ الْخِزْيَ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ

پس اوڅکوله دوی ته | الله | رسوائی | په ژوند | دنیوی کښے | او خامخا عذاب | د آخرت

پس الله تعالٰی هغوی ته په دُنیوی ژوند کښے (دعذاب) مزه اوڅکوله او دآخرت عذاب

اَكْبَرُ ۘ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿٢٦﴾ وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِيْ هٰذَا

ډیر لوے دے | کاش که دوی | پوهیدلے | او یقیناً | مونږبیان کړی دی | دخلقو دپاره | په دے

خو ډیر لوئے دے کاش چه دا خلق پوهیدلے او حقیقت دا دے چه مونږ په دے قرآن کښے

الْقُرْاٰنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٢٧﴾ قُرْاٰنًا

قرآن کښ | د هر قسم | مثال نه | دے دپاره چه دوی | نصیحت واخلی | (دا ئے) قرآن

دخلقو (دپوهے) دپاره هر قسم مثالونه بیان کړی دی چه دوی ترے سبق (نصیحت) واخلی دا قرآن

عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِيْ عِوَجٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿٢٨﴾ ضَرَبَ اللّٰهُ

په عربئ ژبه کښ | چه نه دے هیڅ کوږوالی والا | دے دپاره چه دوی | او ویریږی | بیانوی | الله

په عربئ ژبه کښے دے چه هیڅ عیب (کوږوالے) پکښے نشته دے دپاره راغلے دے چه دوی (دالله نه) اُو ویریږی الله تعالٰی

مَثَلًا رَّجُلًا فِيْهِ شُرَكَآءُ مُتَشٰكِسُوْنَ وَرَجُلًا سَلَمًا

یو مثال | دیو (دا ئے) سړی | چه په هغهٔ کښ | حصه داران وی | یو بل سره جګړه کونکی | او دیو بل (دائے) سړی | چه ټول

یو مثال بیانوی چه یو غلام دے چه په هغه کښے ډیر کسان شریک دی چه دیو بل سره ضد هم ساتی او یو بل غلام دے چه هغه پوره

لِّرَجُلٍ ؕ هَلْ يَسْتَوِيٰنِ مَثَلًا ؕ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ۚ بَلْ اَكْثَرُهُمْ

دیوسړی وی | آیا | برابر دی دواړه | په مثال کښ | ټول حمدونه دی | الله لره | بلکه | اکثر د دوی نه

دیو سړی په ملکیت کښے دے آیا د دے دواړو حالت یو شان کیدے شی؟ ټول تعریفونه الله لره دی بلکه په دوی کښے

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٢٩﴾ اِنَّكَ مَيِّتٌ وَّاِنَّهُمْ مَّيِّتُوْنَ ﴿٣٠﴾ ثُمَّ

نه پوهیږی | بیشکه ته | مړ کیدونکے ئے | او بیشکه دوی (هم) | مړه کیدونکی دی | بیا (به)

اکثر خلق نه پوهیږی (اے نبی) ته به هم مرے او دوی به هم مری۔ بیا به

اِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عِنْدَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُوْنَ ﴿٣١﴾ ع

بیشکه تاسو | په ورځ | د قیامت | په نزد | د رب خپل | جګړه کوئ |

تاسو ټول د قیامت په ورځ خپلے جګړے د خپل رب وړاندے پیش کوئ۔

فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ كَذَبَ عَلَى اللّٰهِ وَكَذَّبَ بِالصِّدْقِ

نو څوک دے | غټ ظالم | دهغه چانه | چه دروغ وائي | په الله بانــدے | او دروغژن گڼړی | رشتیاؤ لره

نو(اوس تاسو اووايئ چه) دهغه چانه به غټ ظالم څوک وی چه په الله تعالیٰ بانــدے دروغ وائي او چه رشتنی خبره ورته

اِذْ جَآءَهٗ ۭ اَلَيْسَ فِيْ جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْكٰفِرِيْنَ ۝۳۲ وَالَّذِيْ

کله چه | راغلل دهٔ ته | آیا نه دے | په جهنم کښ | ځائے (داوسیدو) | دپاره د کافرانو | او هغه کس

کله راشي نو هغه دروغ گڼړی؟ آیا په جهنم کښ ددا سے کافرانو (د اوسیدو) ځائے نشته؟ او چا چه

جَآءَ بِالصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهٖٓ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ ۝۳۳

چه راوړی | رشتیاؤ لره | او تصدیق کوی | دهغے | دغه خلق | هم دوی | پرهیزگاران دی

رشتنے خبره راوړه (یعنی قرآن) او پخپله ئے هم دهغے تصدیق اوکړو هم دا خلق متقیان دی

لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۭ ذٰلِكَ جَزٰٓؤُا الْمُحْسِنِيْنَ ۝۳۴

ددوی دپاره دی | هغه څه | چه دوی به(ئے) غواړی | د خپل رب سره | دا ده | بدله | د نیکی کوونکو

دوی ته به د خپل پروردگار سره هر هغه څه ملاویږی چه دوی (به) ئے غواړی د نیکانو خلقو هم دا بدله ده.

لِيُكَفِّرَ اللّٰهُ عَنْهُمْ اَسْوَاَ الَّذِيْ عَمِلُوْا وَيَجْزِيَهُمْ

دے دپاره چه لرے کړی | الله | د دوی نه | ناکاره | دهغه عملونو | چه دوی کړی دی | او بدله ورکړی دوی ته

(دا دے دپاره) چه الله تعالیٰ د دوی نه هغه بد کارونه چه دوی کړی وو لرے کړی

اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ الَّذِيْ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝۳۵ اَلَيْسَ اللّٰهُ بِكَافٍ

اجر د دوی | په ډیر ښائسته | هغه عملونو سره | چه دوی به همیشه کول | آیا نه دے | الله | کافی

او کوم ښه کارونه چه دوی کړی وو دهغے بدله (ثواب) ورله ورکړی (اے نبی!) آیا الله تعالیٰ دخپل بنده دپاره کافی

عَبْدَهٗ ۭ وَيُخَوِّفُوْنَكَ بِالَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖ ۭ وَمَنْ يُّضْلِلِ

بنده خپل لره | او دوی یروی تا لره | په هغه چا | چه دالله نه سوا دی | او هغه څوک | چه گمراه ئے کړی

(ہیچ کوونکے) نه دے؟ او دا کافران دالله تعالیٰ نه سوا په نورو خلقو (معبودانو خپلو بانــدے) تا یروی او الله تعالیٰ چه څوک گمراه کړی

اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ۝۳۶ وَمَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ

الله | نو نشته دهغه دپاره | هیڅ څوک | لاره ښودونکے | او هغه څوک | چه هدایت (ورته) اوکړی | الله | نو نشته دهغه (دپاره)

هغه ته هیڅ څوک سمه لار ښودونکے نشته، او چا ته چه الله تعالیٰ سمه لار اوښائی نو هغه لره هیڅ څوک

مِنْ مُّضِلٍّ ۭ اَلَيْسَ اللّٰهُ بِعَزِيْزٍ ذِي انْتِقَامٍ ۝۳۷ وَلَئِنْ

هیڅ څوک | گمراه کوونکے | آیا نه دے | الله | ډیر زورور | بدلے والا | او که چرتــه

گمراه کوونکے نه شی. آیا الله تعالیٰ ډیر زورور (غالب) بدله اخستونکے نه دے؟ او که چرته ته

سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ۭ

تپوس اوکړے ددوی نه | چه چا | پیدا کړی دی | آسمانونه | او زمکه | (نو) خامخا به دوی ووائي | (چه) الله

ددے مشرکانو نه تپوس اوکړی چه آسمانونه او زمکه چا پیدا کړی دی؟ نو دوی به ضرور هم دا وائي چه الله

قُلْ اَفَرَءَيْتُمْ مَّا تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ اَرَادَنِيَ

وو ایه | آیا نو تاسو خبر یئ | په هغه چا | چه تاسو (ئې) رابلئ | سوا | د الله نه | که چرے | اُوغواړی زما د پاره

ته ورته او وایه چه لږ او ګورئ (سوچ او کړئ) که چرے الله تعالیٰ ما ته څه تکلیف رسول اوغواړی

اللّٰهُ بِضُرٍّ هَلْ هُنَّ كٰشِفٰتُ ضُرِّهٖٓ اَوْ اَرَادَنِيْ بِرَحْمَةٍ

الله | څه تکلیف | (نو) آیا دوی | لرې کوونکی | د تکلیف د هغهٔ دی | یا (که) اُوغواړی هغه زما د پاره | څه مهربانی

نو آیا دوی د هغه تکلیف لرے کولے شی؟ یا که الله تعالیٰ په ما باندے مهربانی کول اُوغواړی

هَلْ هُنَّ مُمْسِكٰتُ رَحْمَتِهٖ ؕ قُلْ حَسْبِيَ اللّٰهُ ؕ عَلَيْهِ

(نو) آیا دوی | بندوونکی | د مهربانئ د هغهٔ دی | او وایه | کافی دے زما د پاره | الله | هم په هغه باندے

نو آیا دوی د هغه مهربانی (رحمت) بندولے شی؟ او وایه چه زما د پاره هم الله کافی دے خاص په هغهٔ

يَتَوَكَّلُ الْمُتَوَكِّلُوْنَ ۝ قُلْ يٰقَوْمِ اعْمَلُوْا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ

توکل کوی | توکل کوونکی | او وایه | اے زما قومه | عمل کوئ | په ځائے خپل

توکل کوونکی توکل کوی. ته ورته او وایه چه اے زما قومه! تاسو په خپله طریقه عمل کوئ

اِنِّيْ عَامِلٌ ۚ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۝ مَنْ يَّاْتِيْهِ عَذَابٌ

بیشکه زهٔ (هم) | عمل کوونکے یم | پس ډیر زر به | تاسو پوهه شئ | چه څوک دی | چه راشی په هغه باندے | (داسے) عذاب

او زهٔ هم (په خپله طریقه) عمل کوم بیا به ډیر زر تاسو ته پته اولګی چه په چا باندے هغه عذاب راځی

يُّخْزِيْهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ۝ اِنَّآ اَنْزَلْنَا

چه رسوا به کړی هغه لره | او را کوز (به) شی | په هغه باندے | عذاب | همیشه | بیشکه | مونږ نازل کړے دے

چه رسوا به ئې کړی او (په چا باندے) همیشه عذاب رانازلیږی (اے نبی!) یقیناً مونږ د خلقو د فائدے د پاره

عَلَيْكَ الْكِتٰبَ لِلنَّاسِ بِالْحَقِّ ۚ فَمَنِ اهْتَدٰى فَلِنَفْسِهٖ ۚ

په تا باندے | (دا) کتاب | د خلقو د پاره | په حقه | پس چا چه | لاره اُوموندله | نو (فائده ئې) د خپل ځان ده

په تا باندے دا کتاب په حقه رالیږلے دے اوس چه څوک په سمه لار شی نو فائده ئې د خپل ځان ده

وَمَنْ ضَلَّ فَاِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۚ وَمَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ

او څوک چه | ګمراه شو | نو بیشکه | هغه ګمراه شو | (چه وبال د ګمراهئ) په هغه باندے دے | او نهٔ ئې ته | په دوی باندے

او څوک چه ګمراه شی نو د ګمراهئ نقصان هم په هغه دے او (اے نبی!) ته د دوی ذمه وار نهٔ ئې

بِوَكِيْلٍ ۝ اَللّٰهُ يَتَوَفَّى الْاَنْفُسَ حِيْنَ مَوْتِهَا وَالَّتِيْ

ذمه وار | الله | اخلی | روحونه | په وخت | د مرګ د هغے کښې | او هغه روحونه

الله تعالیٰ ټول روحونه د هغوی د مرګ په وخت کښې قبض کوی (اخلی) او د چا مرګ

لَمْ تَمُتْ فِيْ مَنَامِهَا ۚ فَيُمْسِكُ الَّتِيْ قَضٰى عَلَيْهَا

چه نه مری | (اخلی ئې) په خوب د هغے کښې | بیا حصار کړی | هغه روحونه | چه فیصله ئې کړی وی | په هغے باندے

چه لا نه وی راغلے نو د هغوی روحونه هم په خوب کښې اخلی (قبضه کوی) بیا چه هغه په چا د مرګ فیصله کړی وی

ع

الْمَوْتَ وَيُرْسِلُ الْأُخْرَىٰٓ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ

د مرګ | او را اولیږي هغه | نور | تر نیټې | مقرر پورې | بیشکه | په دې کښې

هغه (روحونه) ایسار کړي او نور روحونه دیو مقرر وخت پورې را اولیږدي یقیناً په دې کښې

لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ۝ أَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

خامخا (ډیرې) نخښې دي | دپاره د هغه قوم | چه فکر کوي | آیا دوي نیولي دي | سوا د الله نه

د غور او فکر کوونکو دپاره ډیرې نخښې دي آیا دوي د الله نه سوا نور سفارشیان جوړ کړي دي؟

شُفَعَآءَ ؕ قُلْ أَوَلَوْ كَانُوْا لَا يَمْلِكُوْنَ شَيْئًا وَّلَا يَعْقِلُوْنَ ۝

سفارشیان | او وایه | اګر که | دوي | اختیار نه لري | د هیڅ یو څیز | او نه عقل لري

دوي ته او وایه چه اګر که هغوي د هیڅ څیز اختیار نه لري او نه په څه پوهیږي (نو بیا به هم تاسو سفارشیان ګڼئ؟)

قُلْ لِّلّٰهِ الشَّفَاعَةُ جَمِيْعًا ؕ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ

او وایه | خاص د الله دے | (اختیار د) سفارش | ټول | خاص د هغه ده | بادشاهي | د آسمانونو

ورته او وایه چه سفارش خو ټول په ټوله د الله تعالیٰ په اختیار کښې دے هم د هغه په قبضه کښې د آسمانونو

وَالْأَرْضِ ؕ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ۝ وَإِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَحْدَهُ

او د زمکې | بیا | خاص هغه ته به | تاسو واپس کولی شئ | او کله چه | یاد کړے شي | الله | اِک یوا ځې

او د زمکې بادشاهي ده بیا به تاسو هم هغه ته واپس کیږئ. او کله چه ایک یوا ځې د الله ذکر کیږي

اشْمَأَزَّتْ قُلُوْبُ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ ۚ وَإِذَا ذُكِرَ

نو تنګ شي | زړونه | د هغه کسانو | چه ایمان نه لري | په آخرت | او کله چه | یاد کړے شي

نو کوم خلق چه په آخرت ایمان نه لري د هغوي زړونه تنګیږي او کله چه د هغه نه سوا د بل چا ذکر کیږي

الَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖٓ إِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ ۝ قُلِ اللّٰهُمَّ

هغه (معبودان) | چه سوا د هغه نه دي | نو د غه وخت | دوي | خوشحاله شي | او وایه | اے الله

نو (د غه وخت) دوي خوشحالیږي. (اے نبیؐ!) ته او وایه اے الله!

فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ عٰلِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ أَنْتَ

پیدا کوونکیه | د آسمانونو | او د زمکې | پوهه | په پټ | او په ښکاره | هم ته (به)

اے د آسمانونو او د زمکې پیدا کوونکیه! اے په پټو او په ښکاره پوهیدونکیه! هم ته به

تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِىْ مَا كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ۝

فیصله کوے | په مینځ | د بندګانو خپلو کښې | په هغه څه کښې | چه دوي وو | په هغې کښې | چه اختلاف به ئې کولو

د خپلو بندګانو په مینځ کښې د هغه خبرو فیصله کوے چه دوي پکښې اختلاف کولو.

وَلَوْ أَنَّ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مَا فِى الْأَرْضِ جَمِيْعًا

او که چرے وي | د هغه کسانو دپاره | چه ظلم ئې کړیدے | هغه څه | چه په زمکه کښې دي | ټول

او که چرے د ظالمانو سره د زمکې دا ټول مال او متاع او د دې هومره نور هم وي

وَمِثْلَهُ مَعَهُ لَافْتَدَوْا بِهِ مِنْ سُوْٓءِ الْعَذَابِ

او هغومره (نور) وي | د هغې سره | نو خامخا به خوي فديه کښېږدي کړي | هغه (ټول) | د بد | عذاب نه

نو د قيامت په ورځ به د بدترين عذاب نه د بچ کېدو د پاره دا ټول په بدله (فديه) کښې ورکول غواړي

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ط وَبَدَا لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مَا لَمْ يَكُوْنُوْا

په ورځ | د قيامت | او ښکاره به شي | دوي ته | د الله د طرف نه | هغه څه | چه دوي به ئې

او د الله تعالیٰ د طرف نه به هغه څه دوي ته ښکاره شي چه دوي ئې ګمان هم نه کولو۔

يَحْتَسِبُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَبَدَا لَهُمْ سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا وَحَاقَ

ګمان (هم) نه کولو | او ښکاره به شي | دوي ته | بد انجامونه | د هغه څه | چه دوي کسب کړي وو | او راګېر به کړي

او د خپلو بدو اعمالو خرابيانې به ورته راښکاره شي او کوم عذاب پورې چه ئې

بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٤٨﴾ فَاِذَا مَسَّ الْاِنْسَانَ

دوي لره | هغه څه | چه دوي به | په هغې پورې | ټوقې کولې | نو هر کله | چه اورسيږي | انسان ته

خندنې (ټوقې) کولې هغه به ترې چاپېره شي. (د انسان حال خو دا دې چه) کله انسان ته څه تکليف اورسي

ضُرٌّ دَعَانَا ز ثُمَّ اِذَا خَوَّلْنٰهُ نِعْمَةً مِّنَّا لا قَالَ اِنَّمَآ

څه تکليف | نو رابلي مونږ | بيا | کله چه | ورکړو مونږ هغه ته | څه نعمت | د خپل طرف نه | (نو) وائي | بيشکه

نو مونږ رابلي بيا چه کله ورله مونږ د خپل طرف نه څه نعمت ورکړو نو وائي چه دا خو ما ته

اُوْتِيْتُهٗ عَلٰى عِلْمٍ ط بَلْ هِيَ فِتْنَةٌ وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ

راکړې شوي دي ما ته | په پوهه (زما) | (نه) بلکه | دا (خو) | يو ازميښت دې | ليکن | اکثر د دوي

د خپل علم (هنر) په وجه ملاو شوي دي (نه) بلکه دا خو يو ازميښت دې ليکن اکثر خلق

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٤٩﴾ قَدْ قَالَهَا الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَمَآ اَغْنٰى

نه پوهيږي | يقيناً | ويلې وه دا خبره | هغه کسانو | چه مخکښې د دوي نه وو | نو دفع نه کړو

نه پوهيږي۔ هم دا خبره د دوي نه مخکښې هم څه خلقو کړې وه خو کوم عملونه چه هغوي کول

عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿٥٠﴾ فَاَصَابَهُمْ سَيِّاٰتُ مَا

د هغوي نه (عذاب) | هغه څه | چه هغوي به کسب کول | پس اورسيدل هغوي ته | بد انجامونه | د هغه څه

هغه ئې هيڅ په کار رانغلل او (بلکه) څه چه ئې کړي وو د هغې بدې نتيجې ئې مخې ته راغلې

كَسَبُوْا ط وَالَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْ هٰٓؤُلَآءِ سَيُصِيْبُهُمْ

چه هغوي کړي وو | او هغه کسان | چه ظلم ئې کړې دې | د دې خلقو نه | زر ده چه او به رسي هغوي ته (هم)

او په دې خلقو کښې چه کوم ظالمان دي هغوي ته به هم د خپلو عملونو بدې نتيجې

سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا لا وَمَا هُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿٥١﴾ اَوَلَمْ يَعْلَمُوْٓا

بد انجامونه | د هغه څه | چه دوي کړي دي | او نه دي دوي | کمزوري کوونکي (الله لره) | آيا دوي نه پوهيږي

ډير زر مخې ته راشي او دوي الله تعالیٰ عاجزه کولې نه شي آيا دوي ته دا پته نشته چه

اَنَّ اللّٰهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ؕ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ

چه بیشکه | الله | فراخوي | رزق | چاله چه | اوغواړي | او تنګوي (ئې) | بیشکه | په دے کښې

الله تعالىٰ چه د چا دپاره اوغواړي رزق ورله فراخه کوي او تنګوي (کموي) ئې هم هغه؟ یقیناً په دے کښې

ع

لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۵۲﴾ قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا

خامخا نخښے دي | دپاره د هغه قوم | چه ایمان لري | او وایه | اے بندګانو زما | هغه کسانو | (چه) زیاتے کړے دے

د هغه خلقو دپاره لوے نخښے دي څوک چه ایمان راوړي. (اے نبي! زما د طرف نه زما بندګانو ته) او وایه

عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ

په ځانونو خپلو | مه نا امیده کیږئ | د رحمت | د الله نه | بیشکه | الله | بخښي

اے زما هغه بندګانو چا چه په ځان زیاتے کړے دے د الله تعالىٰ د رحمت نه مایوسه کیږئ مه. یقین او کړئ

الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿۵۳﴾ وَاَنِيْبُوْٓا

ګناهونه | ټول | بیشکه | هم هغه دے | ډیر بخښونکے | ډیر مهربان | او راوګرځئ

چه الله تعالىٰ ټول ګناهونه معاف کوي یقیناً هغه ډیر بخښونکے ډیر مهربان دے

اِلٰى رَبِّكُمْ وَاَسْلِمُوْا لَهٗ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَكُمُ الْعَذَابُ

رب خپل ته | او غاړه کیږدئ | هغه ته | مخکښے د دے نه | چه راشي تاسو ته | عذاب

او د عذاب د راتلو نه مخکښے مخکښے تاسو هغه ته رجوع او کړئ او د هغه تابعدار شئ

ثُمَّ لَا تُنْصَرُوْنَ ﴿۵۴﴾ وَاتَّبِعُوْٓا اَحْسَنَ مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ

بیا به | ستاسو مدد نه شي کیدے | او تابعداري او کړئ | د ډیر ښائسته | هغه څه | چه نازل کړے شوي دي | تاسو ته

(ګنی) بیا به ستاسو مدد نه کیږي او ستاسو د رب د طرف نه چه کوم بهترین کلام تاسو ته نازل شوے دے

مِّنْ رَّبِّكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَكُمُ الْعَذَابُ بَغْتَةً وَّاَنْتُمْ

تاسو د رب د طرف نه | مخکښې د دے نه | چه راشي تاسو ته | عذاب | ناڅاپه | او تاسو به

د هغے تابعداري او کړئ مخکښے د دے نه چه په تاسو ناګهاني عذاب راشي او تاسو ته به

لَا تَشْعُرُوْنَ ﴿۵۵﴾ اَنْ تَقُوْلَ نَفْسٌ يّٰحَسْرَتٰى عَلٰى مَا فَرَّطْتُّ

نۀ پوهیږئ | داچه | (اونه) وائي | یو کس | هائے افسوس زما | په هغه څه | چه کوتاهي کړے ده ما

پته هم او نه لګي. هسے نه چه (هغه وخت) بیا یو کس دا او وائي چه افسوس دے زما په هغه کوتاهئ

فِیْ جَنْۢبِ اللّٰهِ وَاِنْ كُنْتُ لَمِنَ السّٰخِرِيْنَ ﴿۵۶﴾ اَوْ تَقُوْلَ

په اړخ (حق) | د الله کښې | او بیشکه | وومه زۀ | د ټوقو کوونکو نه | یا (اونه) وائي

چه ما د الله تعالىٰ په حق کښې کړے ده او رشتیا خبره داده چه ما په حق پورے ټوقے کولے یا دا او وائي

لَوْ اَنَّ اللّٰهَ هَدٰىنِیْ لَكُنْتُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۵۷﴾ اَوْ تَقُوْلَ

که چرے | الله | هدایت کړے وے ماته | نو خامخا به وے زه | د پرهیزګارانو نه | یا (اونه) وائي

که چرے الله تعالىٰ ماته هدایت کړے وے نو زه به هم په متقیانو کښې شامل وے یا

حِيْنَ تَرَى الْعَذَابَ لَوْ اَنَّ لِيْ كَرَّةً فَاَكُوْنَ

کله چه | اووینی | عذاب لره | که چرے وے | زما دپاره | یو ځل تلل (دنیاته) | نو وے به زه

د عذاب د لیدلو په وخت کښې دا او وائی چه که چرے زهٔ یو ځل بیا دنیا ته لاړ م نو زه به

مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ۝ بَلٰى قَدْ جَآءَتْكَ اٰيٰتِيْ فَكَذَّبْتَ بِهَا

د نیکانو نه | ولے نه | یقیناً | راغلی وو تاته | آیتونه زما | نو دروغ او ګڼړل تا | هغے لره

په نیکانو کښې شامل شم. (الله به او فرمائی) ولے نه زما آیتونه تاته راغلی وو خو بیا هغه تا دروغ اوګڼړل

وَاسْتَكْبَرْتَ وَكُنْتَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ۝ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ تَرَى

او تکبر او کړو تا | او ته وے | د کافرانو نه | او په ورځ | د قیامت به | ته اووینے

او ځان دے لوئی اوګڼړلو او کافر شوے. او د قیامت په ورځ به ته هغه خلق اووینے چه

الَّذِيْنَ كَذَبُوْا عَلَى اللّٰهِ وُجُوْهُهُمْ مُّسْوَدَّةٌ ؕ اَلَيْسَ

هغه کسان | چه دروغ ئے ویل په | الله باندے | (چه) د هغوی مخونه به | تک تور (شوی) وی | آیا نه دے

په الله تعالیٰ ئے دروغ تړلی دی (چه) مخونه به ئے تک تور شوی وی آیا

فِيْ جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْمُتَكَبِّرِيْنَ ۝ وَيُنَجِّي اللّٰهُ الَّذِيْنَ

په جهنم کښې | ځائے (د اوسیدو) | دپاره د تکبر کوونکو | او بچ به کړی | الله | هغه کسان

په جهنم کښې د دا سے متکبرینو د اوسیدو ځائے نشته؟ او چا چه تقوی اختیار کړے ده الله تعالیٰ به هغوی

اتَّقَوْا بِمَفَازَتِهِمْ لَا يَمَسُّهُمُ السُّوْٓءُ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ۝

چه او یرېدل (د الله نه) | په سبب د کامیابئ د هغوی | نه به رسی هغوی ته | تکلیف | او نه به هغوی | غمژن شی

د هغوی د کامیابئ او سعادت په وجه د جهنم نه بچ کړی چه نه خو به ورته څه تکلیف رسی او نه به غمژن شی.

اَللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ ؗ وَّهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ وَّكِيْلٌ ۝

الله | پیدا کوونکے | د هر یو | څیز دے | او هغه | په هر | څیز | ذمه وار دے

الله تعالیٰ د هر یو څیز پیدا کوونکے دے او هم هغه د هر یو څیز نګران (ذمه وار) دے۔

لَهٗ مَقَالِيْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا

خاص هغه (سره) دی | کنجیانے | د آسمانونو | او د زمکے | او هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے

د آسمانونو او د زمکے کونجیانے هم د هغه په اختیار کښې دی او چا چه د الله

بِاٰيٰتِ اللّٰهِ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ۝ قُلْ اَفَغَيْرَ اللّٰهِ

په آیتونو | د الله | دغه خلق | هم دوی | (پوره) تاوانیان دی | او وایه | آیا نو سوا | د الله نه

د آیتونو انکار کړے دے هم دغه خلق تاوانیان دی (اے نبی! دوی ته) او وایه چه اے جاهلانو آیا بیا هم

تَاْمُرُوْٓنِّيْٓ اَعْبُدُ اَيُّهَا الْجٰهِلُوْنَ ۝ وَلَقَدْ اُوْحِيَ اِلَيْكَ

تاسو حکم کوئ ما ته | چه زه (ئے) عبادت او کړم | اے | جاهلانو! | او یقیناً | وحی کړے شوے ده | تا ته

تاسو ما ته (هم) دا وایئ چه زهٔ دے د الله نه سوا د بل چا عبادت او کړم؟ حالانکه حقیقت دا دے چه مونږ تا ته

وَاِلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكَ ۚ لَئِنْ اَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ

اوهغه کسانوته (هم) | چه مخکښې ستانه وو | (چه) که چرے | شرک اوکړو تا | نو خامخا برباد به شي

اوستانه مخکښې پیغمبرانو ته هم داوحي کړے وه چه که چرے تا شرک اوکړو نو ټول اعمال به دے ضائع شي

عَمَلُكَ وَلَتَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ۝٦٥ بَلِ اللّٰهَ فَاعْبُدْ وَكُنْ

عمل ستا | او خامخا شے به ته | د تاوان موندونکو نه | (نه) بلکه | د الله | عبادت کوه | او شه

او په تاوانیانو کښې به شامل شے۔ بلکه ته خو خاص (یوازې) د الله عبادت کوه

مِّنَ الشّٰكِرِيْنَ ۝٦٦ وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖ ۖ وَالْاَرْضُ

د شکر گزارو نه | اودوي قدر نه دے کړے | د الله | حق | قدر دهغهٔ | او زمکه

او شکر گزارو کښې شامل شه اودے خلقو د الله هغه شان قدر اُونه کړو څنګه چه پکار وو حالانکه

جَمِيْعًا قَبْضَتُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَالسَّمٰوٰتُ مَطْوِيّٰتٌۢ

ټوله (به) | په موټی دهغهٔ کښې وي | په ورځ | د قیامت | او آسمانونه به | رانغښتلې شوي وي

(هغه دومره لوے ذات دے چه) ټوله زمکه به د قیامت په ورځ دهغه په موټی کښې وي او ټول آسمانونه به دهغه

بِيَمِيْنِهٖ ۭ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ۝٦٧

په ښی لاس دهغهٔ کښې | پاکي (بیان کړئ) دهغه | اوهغه ډیر اوچت دے | دهغه څه نه | چه دوي ئے (ورسره) شریکوي

په ښی لاس کښې رانغښتلې شوي وي هغه پاک ذات دے اودهغه شریکانو نه ډیر اوچت دے چه داخلق ئے ورسره شریکوي

وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ

او پوکے به اووهلې شي | په شپیلۍ کښې | نو بے هوشه به شي | هر هغه څوک | چه په آسمانونو کښې دي | او هر هغه څوک

او شپیلۍ به پوک وهلې شي نو په آسمانونو او زمکه کښې چه څومره خلق دي ټول به مړهٔ شي

فِي الْاَرْضِ اِلَّا مَنْ شَآءَ اللّٰهُ ۭ ثُمَّ نُفِخَ فِيْهِ

چه په زمکه کښې دي | سوا | دهغه چانه | چه غواړي ئے | الله | بیا به | پوکے اووهلې شي | په هغے کښې

سوا دهغه چا نه چه الله دهغوي باقي پاتے کیدل غواړي بیا به په دویم ځل شپیلۍ

اُخْرٰى فَاِذَا هُمْ قِيَامٌ يَّنْظُرُوْنَ ۝٦٨ وَاَشْرَقَتِ الْاَرْضُ

بل کرت | نو ناڅاپه به | دوي | ولاړ وي | گوري به | او روښانه به شي | زمکه

پوک وهلې شي نو ټول به یکدم راپاڅي (او) گوري به او زمکه به د خپل پروردګار

بِنُوْرِ رَبِّهَا وَوُضِعَ الْكِتٰبُ وَجِايْٓءَ بِالنَّبِيّٖنَ وَالشُّهَدَاۗءِ

په نور | درب خپل | او کیخودے به شي | عملنامے | او راوستلې به شي | پیغمبران | او شهیدان

په نور باندے روښانه شي او عملنامے به (مخامخ) کیخودلې شي او پیغمبران او شهیدان (گواهان) به راوستلې شي

وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ۝٦٩ وَوُفِّيَتْ

اوفیصله به اوکړې شي | په مینځ ددوي کښې | په انصاف سره | اوپه دوي باندے به | ظلم نشي کولے | او پوره به ورکړې شي

او ددے خلقو په مینځ کښې په حقه (په انصاف) فیصله اوشي او هیڅ زیاتے به پرے نه کیږي

كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ وَهُوَ اَعْلَمُ بِمَا يَفْعَلُوْنَ ۝ ع

هر يو كس ته (بدله) | دهغه څه | چه دهٔ كړي دي | او هغه (الله) | ښه پوهه دے | په هغه څه | چه دوي (ئے) كوي

او هر يو كس ته به د خپل عمل پوره پوره بدله وركړے شي او دوي چه څه كوي الله تعالىٰ هغه ښه پيژني

وَسِيْقَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِلٰى جَهَنَّمَ زُمَرًا ؕ حَتّٰٓى اِذَا

او اوبه شړلي شي | هغه كسان | چه كفر ئے كړے دے | جهنم ته | ډلے ډلے | تر دے | چه كله

او كافران به ډلے ډلے جهنم ته راخكلی شي تر دے چه كله هغے ته اورسي

جَآءُوْهَا فُتِحَتْ اَبْوَابُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَآ

راشي دوي هغے ته | (نو) پرانستل به شي | دروازے د هغے | او اوبه وائي | دوي ته | څوكيداران د هغے

نو د هغے دروازے به پرانستلی شي او د هغے محافظ ملائكے به ورته اووائي (چه)

اَلَمْ يَاْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنْكُمْ يَتْلُوْنَ عَلَيْكُمْ اٰيٰتِ رَبِّكُمْ

(چه) آيا نه وو راغلي تاسو ته | پيغمبران | ستاسو نه | چه لوستل ئے | په تاسو باندے | آيتونه | د رب ستاسو

آيا تاسو ته هم ستاسو نه پيغمبران نه وو راغلي چه تاسو ته ئے ستاسو د رب آيتونه لوستلي وو

وَيُنْذِرُوْنَكُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا ؕ قَالُوْا بَلٰى وَلٰكِنْ

او يرول ئے تاسو | د ملاقات | د ورځے ستاسو نه | چه دا ده | او به وائي هغوي | ولے نه | ليكن

او د دے ورځے د ملاقات نه ئے يرولي وئ؟ هغوي به اووائي ولے نهٔ (راغلي وو) ليكن

حَقَّتْ كَلِمَةُ الْعَذَابِ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ۝ قِيْلَ ادْخُلُوْٓا

پوره شوے وه | خبره (فيصله) | د عذاب | په كافرانو باندے | او به ويلي شي | داخل شئ

د عذاب فيصله په كافرانو باندے پوره (ثابته) شوه. ورته به اوويلي شي چه د جهنم

اَبْوَابَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ فَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ ۝

دروازو | د جهنم ته | هميشه به يئ | په دے كښې | پس ډير بد | ځائے (د اوسيدو) دے | د تكبر كوونكو

په دروازو د هميشه اوسيدو د پاره داخل شئ پس جهنم د متكبرينو ځائے (د اوسيدو) ډير خراب دے

وَسِيْقَ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ اِلَى الْجَنَّةِ زُمَرًا ؕ حَتّٰٓى

او وران به كړے شي | هغه كسان | چه يره ئے كړے وه | د خپل رب نه | جنت ته | ډلے ډلے | تر دے

او كوم خلق چه د خپل رب نه يريدل هغوي به (هم) ډلے ډلے جنت ته بوتللی شي تر دے

اِذَا جَآءُوْهَا وَفُتِحَتْ اَبْوَابُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا

چه كله | راشي دوي هغے ته | او پرانستل شوي به وي | دروازے د هغے | او اوبه وائي | دوي ته | څوكيداران د هغے

چه كله هغے ته اورسي او دروازے به (د مخكښے نه) پرانستلے شوي وي او د هغے محافظ ملائكے به ورته اووائي

سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ طِبْتُمْ فَادْخُلُوْهَا خٰلِدِيْنَ ۝ وَقَالُوا

سلام دے وي | په تاسو باندے | خوشحاله اوسئ | پس داخل شئ دے ته | هميشه به يئ (دلته) | او اوبه وائي دوي

چه په تاسو دے سلام وي خوشحاله اوسئ تاسو، اوس داخل شئ جنت ته د هميشه د پاره او اوبه وائي (جنتيان)

الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ صَدَقَنَا وَعْدَهٗ وَاَوْرَثَنَا الْاَرْضَ

حمد ونه دي | الله لره | هغه ذات | چه رشتیا ئے کړه موږ سره | وعده خپله | او وارثان ئے کړو موږ | د ز مکے (د جنت)

ټول شکرونه (حمدونه) د هغه الله دي چه موږ سره ئے خپله وعده رشتیا (پوره) کړه او موږ ئے د دے زمکے د جنت دا سے

نَتَبَوَّاُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ نَشَآءُ فَنِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِيْنَ

چه موږ ځائے نیسو | د جنت نه | چرته | چه موږ غواړو | ډیر ښه دے | اجر | د عمل کوونکو

وارثان جوړ کړو چه موږ په جنت کښ چرته غواړو هلته په ډیره کیږو. ثابت شوه چه ښه بدله د نیک عمله خلقو د پاره ده

وَتَرَى الْمَلٰٓئِكَةَ حَآفِّيْنَ مِنْ حَوْلِ الْعَرْشِ يُسَبِّحُوْنَ

او ته به وینے | ملائکے | چه راتاو شوی به وی | چاپیره | د عرش نه | پاکی به وائی

او ته به ملائک وینے چه د عرش نه ګیر چاپیره به ئے حلقه اچولے وی (او) د خپل رب د صفتونو

بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَقِيْلَ

سره د ستائنے | د رب خپل | او فیصله به او کړے شی | په مینځ د دوی کښ | په انصاف سره | او او به ویل شی

سره (سره) به د هغه پاکی وائی او د خلقو په مینځ کښ به په حقه فیصله اوشی او او به ویلے شی چه



الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ

| حمد ونه دي | الله لره | (چه) رب | د مخلوقاتو دے |

ټول حمدونه د هغه الله د پاره دي چه د ټولو جهانونو پروردګار (مالک) دے

آیاتها [۸۵]	سورة المؤمن مكية	ركوعاتها [۹]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په سدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

حٰمٓ ۝ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ۝ غَافِرِ

حٰم | رالیږل | د دے کتاب | د طرفه د (هغه) الله دی | چه ډیر زورور | ډیر پوهه دے | بخښونکے

حٰم دا کتاب د هغه الله د طرف نه نازل شوے دے چه هغه ډیر زورور (غالب) او لوے حکمت والا دے

الذَّنْبِ وَقَابِلِ التَّوْبِ شَدِيْدِ الْعِقَابِ ذِي الطَّوْلِ

د ګناهونو | او قبلونکے | د توبے | سخت | عذاب ورکوونکے | قدرت (طاقت) والا دے

د ګناهونو بخښونکے توبه قبلونکے سخت عذاب ورکوونکے او لوئی طاقت والا دے

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ اِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ۝ مَا يُجَادِلُ

نشته دے | لائق د عبادت | سوا | د هغه نه (بل څوک) | خاص هغه ته | ورګرځیدل دی | جګړه نه کوی

د هغه نه سوا بل هیڅ څوک د عبادت لائق نشته هم د هغه طرف ته (د ټولو) واپسی ده د الله تعالیٰ

فِيٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ اِلَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَلَا يَغْرُرْكَ

په آیتونو | د الله کښې | مکر | هغه خلق | چه کفرئے کړے دے | پس دهوکه دے نه کړی تالره

په آیتونو کښې جګړے هم هغه خلق کوی چه کافران وی نو د دے خلقو

تَقَلُّبُهُمْ فِي الْبِلَادِ ۝ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوْحٍ

اوړیدل راوړیدل دهوی | په ښارونو کښې | دروغژن ګڼړلی وو (پیغمبران) | مخکښے د دوی نه | قوم | د نوح

په ښارونو کښې (په خوشحاله خوشحاله) ګرځیدو راګرځیدو بانده دے دهوکه نه شے. او د دوی نه مخکښے د نوح قوم

وَّالْاَحْزَابُ مِنْۢ بَعْدِهِمْ ۠ وَهَمَّتْ كُلُّ اُمَّةٍۭ بِرَسُوْلِهِمْ

او (نورو) ډلو | وروستو د دوی نه | او قصد کړے وو | هر یو | امت | د خپل پیغمبر په باره کښې

او دهغوی نه پس نورو ډلو هم حق دروغژن ګڼړلے وو او هر یو امت د خپل پیغمبر په باره کښې د اقصد (اراده) کړے وه

لِيَاْخُذُوْهُ وَجٰدَلُوْا بِالْبَاطِلِ لِيُدْحِضُوْا بِهِ الْحَقَّ

چه راونیسی دوی هغه لره | او جګړه ئے کړے وه | په باطله | د دے د پاره چه اونړوی | په د دے سره | حق لره

چه د قتل د پاره ئے راونیسی او د حق (دین) د ناکامه کولو د پاره ئے په ناحقه جګړے کولے

فَاَخَذْتُهُمْ ۠ فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ ۝ وَكَذٰلِكَ حَقَّتْ كَلِمَتُ

پس راونیول ما دوی | پس څنګه | وو | عذاب زما | او دغه شان | پوره شوه | خبره

خو آخیر ما په راونیول نو (ګوره) چه زما عذاب څنګه (سخت) وو؟ او دغه شان د کافرانو په باره کښې

رَبِّكَ عَلَى الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنَّهُمْ اَصْحٰبُ النَّارِ ۝ اَلَّذِيْنَ

د رب ستا | په هغه کسانو | چه کفرئے کړے وو | چه بیشکه دوی | دوزخیان دی | هغه ملائک

ستا د رب دا فیصله پوره شوے ده چه یقیناً دوی دوزخیان دی. کومو فرښتو

يَحْمِلُوْنَ الْعَرْشَ وَمَنْ حَوْلَهٗ يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ

چه پورته کوی | عرش لره | او هغه څوک | چه چاپیره دی د هغے نه | پاکی وائی | سره د ستائینے | د رب خپل

چه عرش اوچت کړے دے او کوم چه تر دے ګیر چاپیره دی هغوی ټول د خپل رب د حمد سره (سره)

وَيُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَيَسْتَغْفِرُوْنَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۚ رَبَّنَا

او ایمان لری | په هغه بانده | او بخښنه غواړی | د هغه چا د پاره | چه ایمان ئے راوړے دے | اے ربه زمونږ

د هغه پاکی (تسبیح) وائی او په هغه ایمان لری او د مومنانو د پاره بخښنه غواړی چه اے زمونږ ربه!

وَسِعْتَ كُلَّ شَيْءٍ رَّحْمَةً وَّعِلْمًا فَاغْفِرْ لِلَّذِيْنَ تَابُوْا

رسیدلے ئے ته | هر یو | څیز ته | په رحمت | او په علم سره | پس بخښنه او کړه | هغه کسانو ته | چه توبه ئے ویستلے ده

ستا رحمت او علم هر یو څیز ته فراخه دے نو چا چه توبه ویستلے ده

وَاتَّبَعُوْا سَبِيْلَكَ وَقِهِمْ عَذَابَ الْجَحِيْمِ ۝ رَبَّنَا

او تابعداری ئے کړے ده | ستا د لارے | او بچ کړه هغوی | د عذاب | د دوزخ نه | اے ربه زمونږ

او ستا په لار روان شوی دی هغوی ته بخښنه او کړه او د دوزخ د عذاب نه ئے بچ کړه. اے زمونږ ربه!

وَاَدْخِلْهُمْ جَنّٰتِ عَدْنِ ِۨ الَّتِيْ وَعَدْتَّهُمْ وَمَنْ

اوداخل کړه دوی لره | جنتونو | دهمیشه اوسیدوته | هغه | چه تاوعده کړے ده دوی سره | او هغه څوک (هم)

دوی د همیشه اوسیدو هغه جنتونو ته داخل کړه چه تا ئے ورسره وعده کړے ده

صَلَحَ مِنْ اٰبَآئِهِمْ وَاَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّيّٰتِهِمْ ؕ اِنَّكَ اَنْتَ

چه نیکان دی | د پلارانو د دوی نه | او د بیبیانو د دوی نه | او د اولاد د دوی نه | یقیناً ته | خاص ته

او دهغوی په پلار نیکه او بیبیانو او اولاد کښې چه کوم نیکان وی (هغوی ورسره هم داخل کړه) یقیناً هم ته

الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۙ⑧ وَقِهِمُ السَّيِّاٰتِ ؕ وَمَنْ تَقِ السَّيِّاٰتِ

ډیرزورآور | حکمت والا ذات ئے | او بچ اوساتے دوی لره | د تکالیفو نه | او څوک | چه بچ کړل تا | د (تکالیفو) تکلیفونو نه

ډیر زورور (غالب) لوئ حکمت والا ئے. او د تکلیفونو (عذابونو) نه ئے بچ کړه او په دغه ورځ چه تا څوک

يَوْمَئِذٍ فَقَدْ رَحِمْتَهٗ ؕ وَذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ⑨ ع

په دغه ورځ | نو یقیناً | تا رحم اوکړو په هغه باندے | او هم دا | ده | کامیابی | ډیره لویه

د بدو (عذابونو) نه بچ کړل نو په هغه تا (لوے) رحم اوکړو او هم دا ډیره لویه کامیابي ده

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُنَادَوْنَ لَمَقْتُ اللّٰهِ اَكْبَرُ

بیشکه | هغه خلق | چه کفر ئے کړے دے | آواز به اوکړے شي هغوی ته | چه غصه | د الله | ډیره لویه ده

کافرانو ته به آواز اوکړے شي چه (نن) ستاسو د خپل ځان نه څومره نفرت دے، دد ے نه زیات نفرت

مِنْ مَّقْتِكُمْ اَنْفُسَكُمْ اِذْ تُدْعَوْنَ اِلَى الْاِيْمَانِ فَتَكْفُرُوْنَ ⑩

د غصے ستاسو نه | خپلو ځانونو ته | کله چه به | رابللی شوئ تاسو | ایمان ته | نو تاسو به کفر کولو

ستاسو نه د الله هغه وخت وو کله به چه تاسو ته د ایمان دعوت درکولے شو او تاسو به انکار کولو

قَالُوْا رَبَّنَآ اَمَتَّنَا اثْنَتَيْنِ وَاَحْيَيْتَنَا اثْنَتَيْنِ فَاعْتَرَفْنَا

اووائي دوی | اے ربه زمونږ | مړ کړو او ستا کړے دے تا په مونږ | دوه ځل | او ژوندو اوکړے دے تا مونږ ته | دوه ځل | پس مونږ اعتراف کوو

دوی به اووائي چه اے زمونږ ربه! تا مونږ دوه ځل مړه کړو او دوه ځل دے راژوندی کړو او س (بس) مونږ

بِذُنُوْبِنَا فَهَلْ اِلٰى خُرُوْجٍ مِّنْ سَبِيْلٍ ⑪ ذٰلِكُمْ بِاَنَّهٗ

د ګناهونو خپلو | نو آیا شته دے | وتلو ته | څه لار | دا | دد ے وجے چه شان دا دے

د خپلو ګناهونو اقرار کوو نو آیا (د دوزخ نه) د وتلو څه لار شته؟ (جواب به ورکړے شي چه) ستاسو دا حالت وو

اِذَا دُعِيَ اللّٰهُ وَحْدَهٗ كَفَرْتُمْ ۚ وَاِنْ يُّشْرَكْ بِهٖ

چه کله به | رابللے شو | الله | ایک یوا ځے | (نو) تاسو به کفر کولو | او که چرے | شرک به کولے شو | دهغه سره

چه کله به الله ایک یوا ځے رابللے شو نو تاسو به انکار کولو او که دهغه سره به څوک شریک مقررولے شو

تُؤْمِنُوْا ؕ فَالْحُكْمُ لِلّٰهِ الْعَلِيِّ الْكَبِيْرِ ⑫ هُوَ الَّذِيْ

(نو) تاسو به ایمان راوړلو | پس فیصله (خو) | د الله ده | چه ډیر لوے ئے | او اوچتے مرتبے والا دے | الله هغه ذات دے

نو تاسو به پرے ایمان راوړلو او س خو فیصله هم د الله ده چه ډیر اوچت شان والا لوے ذات دے (الله) هم هغه ذات دے

يُرِيكُمْ ءَايَٰتِهِۦ وَيُنَزِّلُ لَكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ رِزْقًا ۚ وَمَا يَتَذَكَّرُ

چه ښائي تاسو ته | نخښې خپلې | او نازلوي | ستاسو دپاره | د آسمان نه | رزق | او نصیحت نه اخلي

چه تاسو ته خپلې نخښې ښائي او ستاسو دپاره د آسمان نه رزق رالیږي او نصیحت خو هم هغه خلق مني

إِلَّا مَن يُنِيبُ ۝١٣ فَٱدْعُوا۟ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ

مګر | هغه څوک | چه راګرځي (الله ته) | پس رابللي | الله لره | چه خالص کوونکي یئ | هغه لره | دین (بلنه)

چه د زړه نه (الله ته) رجوع کوي نو (اے خلقو) الله دا سے رابلئ چه ستاسو تابعداري (بلنه) خالص دهغه دپاره وي

وَلَوْ كَرِهَ ٱلْكَٰفِرُونَ ۝١٤ رَفِيعُ ٱلدَّرَجَٰتِ ذُو ٱلْعَرْشِ

اګر که | بد (ئے) ګڼړي | کافران | (الله) اوچتوونکے | د درجو دے | مالک د عرش دے

اګر که په کافرانو (دا خبره) بده لګي. هم هغه (الله) د لوے درجو (مرتبو) والا (او) د عرش مالک دے

يُلْقِى ٱلرُّوحَ مِنْ أَمْرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ

راغورځوي | روح | په خپل حکم سره | په چا | چه اوغواړي | د بندګانو خپلو نه

په خپلو بندګانو کښې چه په چا اوغواړي په خپل حکم سره په هغهٔ وحي رالیږي (د دے دپاره) چه

لِيُنذِرَ يَوْمَ ٱلتَّلَاقِ ۝١٥ يَوْمَ هُم بَٰرِزُونَ ۚ لَا يَخْفَىٰ

د دے دپاره چه هغه یره ورکړي | د ورځ | د ملاقات نه | (په) هغه ورځ | چه دوي به | ښکاره وي | نه به وي پټ

د ملاقات د هغے ورځے نه خلق اویروي په کومه ورځ به چه ټول (د قبرونو نه) بهر راوځي د هغوي هیڅ یو

عَلَى ٱللَّهِ مِنْهُمْ شَىْءٌ ۚ لِّمَنِ ٱلْمُلْكُ ٱلْيَوْمَ ۖ لِلَّهِ ٱلْوَٰحِدِ

په الله باندے | د دوي نه | هیڅ یو څیز | د چا | بادشاهي ده | نن ورځ؟ | خاص د الله | چه ایک یو

څیز به د الله نه پټ نه وي (او به وئیلے شي چه) نن د چا بادشاهي ده؟ (جواب کښې به اوویلے شي چه) صرف د هغه الله

ٱلْقَهَّارِ ۝١٦ ٱلْيَوْمَ تُجْزَىٰ كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ ۚ

ډیر زورور دے | نن ورځ به | بدله ورکړے شي | هر یو | کس ته | د هغه څه | چه هغه کړي دي

چه ایک یو (او) زورور (غالب) دے. نن ورځ به هر یو کس ته د خپلو کړو (عملونو) بدله ملاویږي

لَا ظُلْمَ ٱلْيَوْمَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ ۝١٧ وَأَنذِرْهُمْ

نه به وي هیڅ ظلم | نن ورځ | بیشکه | الله | زر اخستونکے | د حساب دے | او اویروه (دوي)

نن به هیڅ ظلم نه کیږي یقیناً الله ډیر زر حساب اخستونکے دے. او (اے نبي!) دا خلق د یو دا سے

يَوْمَ ٱلْءَازِفَةِ إِذِ ٱلْقُلُوبُ لَدَى ٱلْحَنَاجِرِ كَٰظِمِينَ ۚ

د (هغه) ورځے | نژدے راتلونکے نه | کله به چه | زړونه | د مرو سره وي | غمژن به وي

د مصیبت د ورځے نه اویروه (خبر دار کړه) چه هغه نژدے راتلونکے ده چه زړونه به د غم د وجے غټو مرو ته راشي

مَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنْ حَمِيمٍ وَلَا شَفِيعٍ يُطَاعُ ۝١٨ يَعْلَمُ

نه به وي د ظالمانو دپاره | هیڅ څوک | دوست ګرم | او نه څوک سفارشي | چه خبره ئے اومنلے شي | پوهیږي هغه (الله)

د ظالمانو به نه څوک (همدرد) دوست وي او نه څوک سفارشي چه خبره ئے او منلے شي. الله تعالیٰ

خَآئِنَةَ الْاَعْيُنِ وَمَا تُخْفِي الصُّدُوْرُ ﴿۱۹﴾ وَاللّٰهُ يَقْضِيْ
پہ خیانت | د سترګو | او په هغه څه | چه پټوي ئے | سینے | او الله | فیصله کوي
د سترګو په غلا او د سینو په پټو رازونو ښه پوهیږي او الله حقه فیصله کوي

بِالْحَقِّ ؕ وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَا يَقْضُوْنَ بِشَيْءٍ ؕ
په حقه سره | او هغه کسان | چه دوي ئے رابلي | سوا د هغه نه | هغوي فیصله نشي کولے | د هیڅ یو څیز
او کوم معبودان چه دوي د الله نه سوا رابلي هغوي د هیڅ یو څیز فیصله نشي کولے

ع اِنَّ اللّٰهَ هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ﴿۲۰﴾ اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ
بیشکه | الله | دے | ښه اوریدونکے | (هرڅه) لیدونکے | آیا دوي نه دي ګرځیدلي | په زمکه کښ
یقیناً هم الله هرڅه اوریدونکے دے (او) هرڅه ویني. آیا دا خلق په زمکه کښ ګرځیدلي نه دي

فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ كَانُوْا مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ
چه اوګوري | چه څنګه | شو | انجام | د هغه کسانو | چه وو | مخکښ د دوي نه
چه کتلي ئے وے چه کوم خلق د دوي نه مخکښ وو د هغوي انجام څنګه شو؟

كَانُوْا هُمْ اَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَّاٰثَارًا فِي الْاَرْضِ
وو | هغوي | زیات سخت | د دوي نه | په طاقت کښ | او ډیرو نخښو والا وو | په زمکه کښ
هغوي په طاقت کښ او په زمکه کښ دا باد و په نخښو جوړولو کښ د دوي نه زیات (مضبوط) وو

فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ بِذُنُوْبِهِمْ ؕ وَمَا كَانَ لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ
پس راونیول هغوي | الله | په (وجه د) ګناهونو د هغوي | او نه وو | د هغوي دپاره | د الله نه
نو بیا الله هغوي د خپلو جرمونو په وجه راونیول او هغوي لره د الله نه بچ کوونکے

مِنْ وَّاقٍ ﴿۲۱﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَانَتْ تَّاْتِيْهِمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ
هیڅ څوک بچ کوونکے | دا (څکه) | چه بیشکه هغوي | وو | راتلل په هغوي ته | پیغمبران د خپل | په ښکاره دلیلونو سره
هیڅ څوک (هم) نه وو. دا څکه چه هغوي ته په خپل پیغمبران په ښکاره دلیلونو سره راتلل

فَكَفَرُوْا فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ ؕ اِنَّهٗ قَوِيٌّ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۲۲﴾
نو انکار یه کولو هغوي | پس راونیول هغوي لره | الله | بیشکه هغه | ډیر قوت والا | سخت | عذاب ورکوونکے دے
او هغوي په ترے انکار کولو نو بس (څکه به) الله راونیول یقیناً هغه لوے قوت والا سخت عذاب ورکوونکے دے

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى بِاٰيٰتِنَا وَسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿۲۳﴾ اِلٰى فِرْعَوْنَ
او یقیناً | مونږ لیږلے وو | موسیٰ | په خپلو آیتونو | او دلیل | ښکاره سره | فرعون
او یقیناً مونږ موسیٰ د خپلو نخښو او د واضح دلیل سره فرعون،

وَهَامٰنَ وَقَارُوْنَ فَقَالُوْا سٰحِرٌ كَذَّابٌ ﴿۲۴﴾ فَلَمَّا جَآءَهُمْ
او هامان | او قارون ته | پس او ویل هغوي | (دا) جادوګر دے | ډیر دروغژن | پس هرکله | چه راورو هغه دوي ته
هامان او قارون ته لیږلے وو نو هغوي او ویل چه دا ډیر (لوے) دروغژن جادوګر دے. بیا کله چه هغه دوي ته

بِالْحَقِّ مِنْ عِنْدِنَا قَالُوا اقْتُلُوْٓا اَبْنَآءَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

حق لره | زمونږ د طرف نه | (نو) اوویل دوی | اووژنئ | ځامن | د هغه کسانو | چه ایمان ئے راوړے دے

زمونږ د طرف نه د حق سره راغے نو هغوی اوویل چه کومو خلقو چه د ده سره ایمان راوړے دے

مَعَهٗ وَاسْتَحْيُوْا نِسَآءَهُمْ ؕ وَمَا كَيْدُ الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا

د هغه سره | او ژوندئ پریږدئ | زنانه د هغوی | او نه وو | تدبیر | د کافرانو | مګر

هغوی او وژنئ او ښځے (لونړه) ئے ژوندئ پریږدئ او د کافرانو منصوبے په خلاف د موسیٰ کښې بے اثره لاړے.

فِيْ ضَلٰلٍ ۝ وَقَالَ فِرْعَوْنُ ذَرُوْنِيْٓ اَقْتُلْ مُوْسٰى وَلْيَدْعُ

په بربادئ کښې | او اوویل | فرعون | پریږدئ ما | (چه) زه او وژنم | موسیٰ | او هغه دے راوبلی

او فرعون اوویل ما پریږدئ چه موسیٰ او وژنم او هغه دے (بیا) خپل رب راوبلی

رَبَّهٗ ۚ اِنِّيْٓ اَخَافُ اَنْ يُّبَدِّلَ دِيْنَكُمْ اَوْ اَنْ يُّظْهِرَ

رب خپل | بیشکه زه | یریږم | چه دے (به) بدل کړی | دین ستاسو | یا داچه ښکاره به کړی

ما سره دا یره ده چه دے به ستاسو دین بدل کړی یا به په زمکه کښې

فِي الْاَرْضِ الْفَسَادَ ۝ وَقَالَ مُوْسٰٓى اِنِّيْ عُذْتُ بِرَبِّيْ

په زمکه کښې | فساد | او اوویل | موسیٰ | بیشکه زه | پناه غواړم | په رب خپل

فساد خور کړی او موسیٰ اوویل زه د هر متکبر نه چه د حساب په ورځ ایمان نه لری د خپل رب

وَرَبِّكُمْ مِّنْ كُلِّ مُتَكَبِّرٍ لَّا يُؤْمِنُ بِيَوْمِ الْحِسَابِ ۝ع وَقَالَ

او په رب ستاسو سره | د هر | تکبر کوونکی نه | چه ایمان نه راوړی | په ورځ | د حساب | او اوویل

او ستاسو د رب پناه غواړم او د فرعون د کورنۍ نه یو کس چه (په ابتداء کښې ئے د دعوت د مصلحت په خاطر)

رَجُلٌ مُّؤْمِنٌ ۖۗ مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ اِيْمَانَهٗٓ اَتَقْتُلُوْنَ

یو سړی | مومن (ایماندار) | د کورنۍ | د فرعون نه | چه پټولو ئے | ایمان خپل | آیا تاسو وژنئ

خپل ایمان پټ کړے وو اوویل چه آیا تاسو دا سړے صرف په دے وجه وژنئ

رَجُلًا اَنْ يَّقُوْلَ رَبِّيَ اللّٰهُ وَقَدْ جَآءَكُمْ بِالْبَيِّنٰتِ

سړے | په دے خبره چه وائی | رب زما | الله دے | او یقیناً | هغه راغلے دے تاسو ته | په ښکاره دلیلونو سره

چه دے وائی چه زما رب الله دے؟ حالانکه هغه تاسو ته ښکاره دلیلونو (نخښو) سره راغلے دے

مِنْ رَّبِّكُمْ ؕ وَاِنْ يَّكُ كَاذِبًا فَعَلَيْهِ كَذِبُهٗ ۚ وَاِنْ

د طرف د رب ستاسو نه | او که چرے | وی هغه | دروغژن | نو په هغه باندے وبال دے | د خپلو دروغو | او که چرے

او که چرے هغه دروغژن وی نو د هغه د دروغو نقصان به هم هغه ته رسی او که چرے

يَّكُ صَادِقًا يُّصِبْكُمْ بَعْضُ الَّذِيْ يَعِدُكُمْ ؕ اِنَّ

وی هغه | رښتینے | نو او به رسیږی تاسو ته | بعضے | هغه عذاب | چه هغه ئے وعده کوی تاسو سره | بیشکه

رښتینے وی نو د کوم عذاب چه تاسو سره وعده کوی د هغے څه حصه به تاسو ته اورسیږی

اللّٰهَ لَا يَهْدِىْ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ كَذَّابٌ ۝۲۸ يٰقَوْمِ لَكُمُ

الله | سمه لار نه ښائي | هغه چا ته | چه هغه وي | د حد نه اوړېدونکے | ډير دروغژن | اے زما قومه! | ستاسو

يقيناً الله تعالیٰ دا سے کس ته هدايت نه کوي چه د حد نه اوړېدونکے (او) غټ دروغژن وي اے زما قومه!

الْمُلْكُ الْيَوْمَ ظٰهِرِيْنَ فِى الْاَرْضِ ۚ فَمَنْ يَّنْصُرُنَا

بادشاهي ده | نن ورځ | زورور يئ | په زمکه کښې | پس څوک به | مدداوکړي زمونږ سره

نن ستاسو دا سے بادشاهي ده چه په ملک کښې غالب يئ ليکن که د الله عذاب

مِنْۢ بَاْسِ اللّٰهِ اِنْ جَآءَنَا ۭ قَالَ فِرْعَوْنُ مَآ اُرِيْكُمْ

د عذاب | د الله نه | که چرے | راشي هغه مونږ ته | او وئيل | فرعون | زه نه ښايم تاسو ته

په مونږ باند ے راغے نو بيا به مونږ څوک بچ کوي؟ فرعون او وئيل زه تاسو ته هم هغه راۓ درکوم

اِلَّا مَآ اَرٰى وَمَآ اَهْدِيْكُمْ اِلَّا سَبِيْلَ الرَّشَادِ ۝۲۹ وَقَالَ

مگر | هغه | چه راۓ ده زما | او زهٔ نه ښايم تاسو ته | مگر | لار | د کاميابئ | او اووئيل

کومه چه زه صحيح گنړم او زهٔ تاسو ته هم هغه لار ښايم چه هغے کښې مصلحت او هدايت د ے او هغه

الَّذِىْٓ اٰمَنَ يٰقَوْمِ اِنِّىْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ مِّثْلَ يَوْمِ

هغه کس | چه ايمان ئے راوړے وو | اے زما قومه! | بيشکه زه | يريږم | په تاسو باند ے | پشان | د ورځے

مومن کس او وئيل اے زما قومه زهٔ په تاسو يريږم چه هسے نه چه هغه شان ورځے حملا کت په تاسو راشي څنگه چه پيغمبرانو په مقابله

الْاَحْزَابِ ۝۳۰ مِثْلَ دَاْبِ قَوْمِ نُوْحٍ وَّعَادٍ وَّثَمُوْدَ وَالَّذِيْنَ

د ډله بازي کوونکو | پشان | د حالت | د قوم | د نوحؑ | او د عاد | او د ثمود | او د هغه کسانو

کښې په ډله بازي کوونکو ډلو باند ے راغلے وے يعني ستاسو حال هغه شان نه شي څنگه حال چه د نوحؑ د قوم د عاد د قوم او د ثمود د قوم

مِنْۢ بَعْدِهِمْ ۭ وَمَا اللّٰهُ يُرِيْدُ ظُلْمًا لِّلْعِبَادِ ۝۳۱ وَيٰقَوْمِ

چه د دوي نه وروستو وو | او نه د ے | الله | چه اراده کوي | د ظلم کولو | په بندګانو باند ے | او اے زما قومه!

او د هغوي نه د وروستنو خلقو شو ے وو او الله تعالیٰ په خپلو بندګانو ظلم کول نه غواړي. او اے زما قومه!

اِنِّىْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ يَوْمَ التَّنَادِ ۝۳۲ يَوْمَ تُوَلُّوْنَ مُدْبِرِيْنَ ۚ

بيشکه زهٔ | يريږم | په تاسو | د ورځ | د چغے وهلو نه | هغه ورځ | چه او به تختئ تاسو | شا کوونکي

زهٔ په تاسو د قيامت د هغے ورځے نه يريږم چه په هغے کښې به چغے سور ے وي په کومه ورځ به چه تاسو په شا تختئ

مَا لَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ عَاصِمٍ ۚ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ

نه به وي | ستاسو دپاره | د الله نه | هيڅ څوک بچ کوونکے | او هغه څوک | چه گمراه (ئے) کړي | الله

هيڅ څوک به مو د الله نه بچ کوونکے نه وي او الله تعالیٰ چه څوک گمراه کړي

فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ۝۳۳ وَلَقَدْ جَآءَكُمْ يُوْسُفُ مِنْ قَبْلُ

پس نشته | د هغه دپاره | هيڅ لاره ښودونکي | او يقيناً | راغلے وو تاسو ته | يُوسفؑ | مخکښے د دے نه

لو هغه ته هيڅ څوک هدايت نشي کو لے. او حقيقت دا د ے چه د د ے نه مخکښے تاسو ته يوسفؑ

بِالْبَيِّنٰتِ فَمَا زِلْتُمْ فِيْ شَكٍّ مِّمَّا جَآءَكُمْ بِهٖ ؕ حَتّٰۤى

په ښکاره دلیلونو سره | نو همیشه وئ تاسو | په شک کښ | دهغه څه نه | چه هغه راغلے وو تاسو ته | په هغے سره | تر دے

په ښکاره دلیلونو سره راغلے وو او باوجود د دے تاسو دهغه په راوړو خبرو کښ په شک کښ اخته وئ تر دے

اِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ لَنْ يَّبْعَثَ اللّٰهُ مِنْۢ بَعْدِهٖ رَسُوْلًا ؕ

چه کله | مړ شو هغه | (نو) او ویل تاسو | چه هیڅ کله به راونه لیږی | الله | وروستو د هغه نه | بل پیغمبر

چه کله هغه وفات شو نو تاسو او ویل چه دهغه نه پس به الله تعالیٰ او س بل پیغمبر راونه لیږی

كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ مُّرْتَابُ ﴿۳۴﴾ ۙ الَّذِيْنَ

دغه شان | گمراه کوی | الله | هغه څوک | چه وی هغه | دحد نه اوړیدونکے | شک کوونکے | هغه کسان

دغه شان الله تعالیٰ هغه خلق گمراه کوی چه دحد نه اوړی (او) شک کوی

يُجَادِلُوْنَ فِيْۤ اٰيٰتِ اللّٰهِ بِغَيْرِ سُلْطٰنٍ اَتٰىهُمْ ؕ كَبُرَ

چه جګړه کوی | په آیتونو | د الله کښ | بغیر | د څه دلیل نه | چه راغلے وی دوی ته | ډیره

چه د یو واضح دلیل نه بغیر د الله تعالیٰ په آیتونو کښ جګړے کوی

مَقْتًا عِنْدَ اللّٰهِ وَعِنْدَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ؕ كَذٰلِكَ يَطْبَعُ

دغصه (خبره) ده | په نزد | د الله | او په نزد | د هغه کسانو | چه ایمان ئے راوړے دے | دغه شان | مهر لګوی

دا د الله تعالیٰ او د مومنانو په نزد ډیره د نفرت (غصے) خبره ده دغه شان

اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ﴿۳۵﴾ وَقَالَ فِرْعَوْنُ يٰهَامٰنُ

الله | په ټول | زړهٔ | د تکبر کوونکی | سرکشه باندے | او او ویل | فرعون | اے هامانه

الله تعالیٰ د هر متکبر او سرکش په زړه مهر لګوی او فرعون (خپل وزیر ته) او ویل چه اے هامان!

ابْنِ لِيْ صَرْحًا لَّعَلِّيْۤ اَبْلُغُ الْاَسْبَابَ ﴿۳۶﴾ ۙ اَسْبَابَ

جوړه کړه | زما دپاره | یوه بنګله | (د دے دپاره) چه زه | اورسم | دروازو ته | دروازو

زما دپاره یو لوئ عمارت (محل) جوړ کړه چه زه هغه لاړو ته اورسم چه هغه د آسمان لارے دی

السَّمٰوٰتِ فَاَطَّلِعَ اِلٰۤى اِلٰهِ مُوْسٰى وَاِنِّيْ لَاَظُنُّهٗ

د آسمانونو ته | چه ور ښکاره شم | خدائے | د موسیٰ ته | او بیشکه زهٔ | خامخا ګمان کوم په دغه باندے

بیا د موسیٰ خدائ او وینم او یقین او کړئ چه زه دا موسیٰ دروغژن ګنړم

كَاذِبًا ؕ وَكَذٰلِكَ زُيِّنَ لِفِرْعَوْنَ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ وَصُدَّ

د دروغژن | او دغه شان | ښائسته کړے شوی وو | فرعون ته | بد | د عمل خپل | او منع کړے شوے وو

او دغه شان فرعون ته دهغه بد عمل ښائسته کړے شوے وو او د سمے لارے نه

عَنِ السَّبِيْلِ ؕ وَمَا كَيْدُ فِرْعَوْنَ اِلَّا فِيْ تَبَابٍ ﴿۳۷﴾ ۧ وَقَالَ ع

د (سمے) لارے نه | او نه وو چل ول | د فرعون | مګر | په تباهئ کښ | او او ویل

بند کړے شوے وو او د فرعون تدبیر خو بیکاره وو (برباد وو). او هغه مومن کس او ویل

الَّذِیْٓ اٰمَنَ یٰقَوْمِ اتَّبِعُوْنِ اَهْدِكُمْ سَبِیْلَ

هغه کس | چه ایمان یې راوړے وو | اے زما قومه! | خبره او منئ زما | زه به او ښایم تاسو ته | لار

اے زما قومه! زما خبره او منئ زهٔ به تاسو ته سمه لار او ښایم

الرَّشَادِ ۝ یٰقَوْمِ اِنَّمَا هٰذِهِ الْحَیٰوةُ الدُّنْیَا مَتَاعٌ وَّاِنَّ

د کامیابۍ | اے زما قومه! | بیشکه | دا | ژوند | دُنیوی | (معمولی) فائده ده | او بیشکه

اے زما قومه! دا د دنیا ژوند (خو د څو ورځو) مزے دی او تاسو یقین اوکړئ

الْاٰخِرَةَ هِیَ دَارُ الْقَرَارِ ۝ مَنْ عَمِلَ سَیِّئَةً فَلَا یُجْزٰٓی

آخرت | هم هغه دے | کور | د آرام (همیشه) | چا چه | عمل او کړو | بد | نو بدله به نۀ شي ورکولے هغه ته

چه هم آخرت د اوسیدو اصل ځائے دے۔ چا چه بد عمل کړے وي هغه ته به هم دهغے برابر

اِلَّا مِثْلَهَا ۚ وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰی وَهُوَ

مګر | په شان دهغے | او چا چه | عمل او کړو | نیک | د نارینو نه | یا د زنانو نه | او هغه

بدله ملاویږي او چا چه نیک عمل کړے وي نارینه وي که زنانه (خو) په دے شرط

مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ یَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ یُرْزَقُوْنَ فِیْهَا بِغَیْرِ

مومن وي | نو هم دغه خلق به | داخلیږي | جنت ته | رزق به ور کولے شي دوي ته | په هغے کښې | بغیر

چه مومن موحد وي نو هم دغه خلق به جنت ته داخلیږي (او) هلته به ورته بے حسابه رزق ورکولے شي۔

حِسَابٍ ۝ وَیٰقَوْمِ مَا لِیْٓ اَدْعُوْكُمْ اِلَی النَّجٰوةِ وَتَدْعُوْنَنِیْٓ

د حساب نه | او اے زما قومه! | څه وجه ده ما لره | چه زه را بلم تاسو | خلاصي ته | او تاسو بلئ ما لره

او اے زما قومه! دا لا څنګه خبره ده چه زهٔ تاسو د نجات طرف ته را بلم او تاسو ما اور ته را بلئ؟

اِلَی النَّارِ ۝ تَدْعُوْنَنِیْ لِاَكْفُرَ بِاللّٰهِ وَاُشْرِكَ بِهٖ مَا

اور ته | تاسو بلئ ما لره | د دیته چه زه کفر او کړم | په الله | او شریک کړم | دهغه سره | هغه څه

تاسو ما دے (خبرے) ته را بلئ چه زه دے (هم) د الله نه انکار او کړم او دهغه سره دا سے څیزونه شریک کړم

لَیْسَ لِیْ بِهٖ عِلْمٌ ۡ وَّاَنَا اَدْعُوْكُمْ اِلَی الْعَزِیْزِ الْغَفَّارِ ۝

چه نشته | زما سره | په هغے باندے | هیڅ علم | او زه | را بلم تاسو | زورور (غالب) | او ډیر بخښونکي (ذات) ته

چه زما سره پرے هیڅ علم (دلیل) نشته او زهٔ تاسو یو زورور (غالب) (او) ډیر بخښونکي ذات طرف ته را بلم.

لَا جَرَمَ اَنَّمَا تَدْعُوْنَنِیْٓ اِلَیْهِ لَیْسَ لَهٗ دَعْوَةٌ

خامخا | بیشکه هغه څه | چه تاسو را بلئ ما | هغے ته | نشته | دهغه دپاره | هیڅ حق بلنه

رښتیا خبره خو دا ده تاسو چه ما د چا طرف ته را بلئ هغه نه په دنیا کښې د بلنے لائق دے

فِی الدُّنْیَا وَلَا فِی الْاٰخِرَةِ وَاَنَّ مَرَدَّنَآ اِلَی اللّٰهِ وَاَنَّ

په دنیا کښې | او نه | په آخرت کښې | او بیشکه | واپس زمونږ | الله ته ده | او بیشکه

او نه په آخرت کښې او دا هم حقیقت دے چه زمونږ د ټولو واپسي به الله ته کیږي او دا (هم حقیقت دے)

اَلْمُسْرِفِيْنَ هُمْ اَصْحٰبُ النَّارِ ۝۴۳ فَسَتَذْكُرُوْنَ مَآ اَقُوْلُ

د حد نه تيرېدونکي | هم هغوی دي | اور والا | پس ډېر زر به تاسو يادوئ | هغه څه | چه زه ئے وايم

چه د حد نه پوره اوړېدونکي خلق دوزخيان دي. پس ډېر زر به تاسو زما خبرو پسے ارمان اوکړئ

لَكُمْ ۚ وَاُفَوِّضُ اَمْرِيْٓ اِلَى اللّٰهِ ۚ اِنَّ اللّٰهَ بَصِيْرٌۢ بِالْعِبَادِ ۝۴۴

تاسو ته | او زهٔ سپارم | کار خپل | الله ته | بيشکه | الله | ليدونکے دے | بندګانو لره

او زهٔ خپل کار الله ته سپارم يقينًا الله تعالىٰ ټول بندګان ښه ويني

فَوَقٰىهُ اللّٰهُ سَيِّاٰتِ مَا مَكَرُوْا وَحَاقَ بِاٰلِ فِرْعَوْنَ

پس بچ اوساتلو هغه لره | الله | د آفتونو | د هغه څه نه | چه هغوی ئے تدبير کړے وو | او راګير کړل | فرعونيانو لره

نتيجه دا شوه چه الله تعالىٰ دهٔ لره د هغوی د مکرونو (تدبيرونو) نه بچ اوساتلو او فرعونيان ئے په

سُوْٓءُ الْعَذَابِ ۚ اَلنَّارُ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَّعَشِيًّا ۚ

ناکاره | عذاب | اور | پيش کولے شي دوی | په هغے باندے | سحر | او ماښام

سخت (بد) ترين عذاب راګير کړل ـ اور (دے) چه سحر او ماښام ورته دوی پيش کولے شي

وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ ۣ اَدْخِلُوْٓا اٰلَ فِرْعَوْنَ اَشَدَّ

او په هغه ورځ | چه قائم به شي | قيامت | داخل کړئ | فرعونيان | ډېر سخت

او په کومه ورځ چه قيامت راشي (نو اوبه ويلے شي چه) فرعونيان سخت ترين عذاب کښې داخل کړئ

الْعَذَابِ ۝۴۶ وَاِذْ يَتَحَآجُّوْنَ فِى النَّارِ فَيَقُوْلُ الضُّعَفٰٓؤُا

عذاب ته | او کله چه | دوی به جګړے کوی | په اور کښې | نو وائی به | کمزوری

او کله به چه دوی په دوزخ کښې خپل مينځ کښې جګړه کوی نو هغه کمزوری خلق به هغه چاته او وائی

لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا اِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ اَنْتُمْ

هغه کسانو ته | چه لوئی ئے کړے وه | بيشکه | موږ وو | ستاسو | تابعدار | نو آيا | يئ تاسو

چه ځان ئے لوئی ګڼړلے وو چه موږ خو تاسو پسے روان وو نو آيا تاسو زمونږ نه د عذاب د اور نه

مُّغْنُوْنَ عَنَّا نَصِيْبًا مِّنَ النَّارِ ۝۴۷ قَالَ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا

لرے کوونکي | زمونږ | څهٔ حصه | د | اور نه | او به وائی | هغه کسان | چه لوئی ئے کړے وه

څه حصه لرے کولے شئ ؟ نو مشران به ورته اووائی چه (اوس خو به

اِنَّا كُلٌّ فِيْهَآ ۙ اِنَّ اللّٰهَ قَدْ حَكَمَ بَيْنَ الْعِبَادِ ۝۴۸

بيشکه موږ | ټول يو | په دے کښې | بيشکه | الله | يقينًا | فيصله کړے ده | په مينځ | د بندګانو کښې

مونږ ټول په دے دوزخ کښې پراته يُو الله تعالىٰ د ټولو بندګانو په مينځ کښې (قطعي) فيصله کړے ده.

وَقَالَ الَّذِيْنَ فِى النَّارِ لِخَزَنَةِ جَهَنَّمَ ادْعُوْا رَبَّكُمْ

او اوبه وائی | هغه کسان | چه په اور کښې به وی | څوکيدارانو | د جهنم ته | چه دعا اوغواړئ | د خپل رب نه

او هغه څوک چه په دوزخ کښې به پراته وی هغوی به د دوزخ څوکيدارانو ته اووائی چه د خپل پروردګار نه دعا اوغواړئ

يُخَفِّفْ عَنَّا يَوْمًا مِّنَ الْعَذَابِ ﴿۴۹﴾ قَالُوْٓا اَوَلَمْ تَكُ تَاْتِيْكُمْ
چه کم کړي | زمونږ نه | یوه ورځ | څه عذاب | اوبه وائي هغوی | آیا نه وو راغلي تاسو ته
چه زمونږ نه یوه ورځ لږ غوندې عذاب کم کړي هغوی به ورته اووائي چه ولې (آیا) تاسو ته ستاسو پیغمبران

رُسُلُكُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ۭ قَالُوْا بَلٰى ۭ قَالُوْا فَادْعُوْا ۚ
پیغمبران ستاسو | په ښکاره دلیلونو سره | اوبه وائي هغوی | ولې نه | اوبه وائي (ورته) هغوی | پس (نو) راوبلئ
په ښکاره دلیلونو (نخښو) سره نه وو راغلي؟ هغوی به اووائي چه ولې نه (راغلي وو) نو ملائک به ورته اووائي بیا خو

ع وَمَا دُعٰۗؤُا الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ﴿۵۰﴾ اِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا
اونه ده | دعا | د کافرانو | مګر | په ګمراهۍ کښې | بیشکه مونږ به | خامخا مدد کوو | د پیغمبرانو خپلو
بس هم تاسو دعاء اوغواړئ او د کافرانو دعاء به (په هغه ورځ) بیکاره وي یقین اوکړئ چه مونږ د خپلو پیغمبرانو

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُوْمُ
او د هغه کسانو | چه ایمان ئې راوړے دے | په ژوند | دنیوي کښې | او په هغه ورځ | چه اوبه دریږي
او د مومنانو د دنیا په ژوند کښې هم مدد کوو او په هغه ورځ (به ئې هم کوو) کله به چه ګواهان (ګواهۍ دپاره) اودریږي

الْاَشْهَادُ ﴿۵۱﴾ يَوْمَ لَا يَنْفَعُ الظّٰلِمِيْنَ مَعْذِرَتُهُمْ وَلَهُمُ
ګواهان | په هغه ورځ | چه فائده به نه ورکوي | ظالمانو ته | عذرونه د دوي | او د دوي دپاره
په دغه ورځ به ظالمانو ته د هغوی عذرونه (پیش کول) هیڅ فائده ورنه کړي او د هغوی دپاره به

اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوْۗءُ الدَّارِ ﴿۵۲﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْهُدٰى
لعنت دے | او د دوي دپاره | (ډیر) بد | کور دے | او یقیناً | مونږ ورکړے وو | موسیٰ ته | هدایت
لعنت او ډیر بد کور وي او مونږ موسیٰ ته هدایت ورکړے وو

وَاَوْرَثْنَا بَنِيْٓ اِسْرَاۗءِيْلَ الْكِتٰبَ ﴿۵۳﴾ هُدًى وَّذِكْرٰى
او وارثان کړي وو مونږ | بني اسرائيل | د کتاب | چه هدایت | او نصیحت وو
او بني اسرائيل مو د (هغه) کتاب وارثان جوړ کړي وو چه هغه د عقل مندو خلقو دپاره هدایت او نصیحت وو

لِاُولِي الْاَلْبَابِ ﴿۵۴﴾ فَاصْبِرْ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّاسْتَغْفِرْ
دپاره د عقل مندو | پس صبر کوه | بیشکه | وعده | د الله | رښتنے ده | او بخښنه غواړه
نو (اے نبیؐ!) د صبر نه کار واخله یقین اوکړه چه د الله وعده رښتنے ده او د خپل قصور معافي غواړه

لِذَنْۢبِكَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ بِالْعَشِيِّ وَالْاِبْكَارِ ﴿۵۵﴾ اِنَّ
د خطاګانې خپلې | او پاکي وایه | سره د ستائنې | د رب خپل | بیګا | او صبا | بیشکه
او صبا او بیګاه د خپل رب د حمد سره د هغه تسبیح وایه۔ یقین اوکړئ

الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ بِغَيْرِ سُلْطٰنٍ اَتٰىهُمْ ۙ
هغه کسان | چه جګړے کوي | په آیتونو | د الله کښې | بغیر | د څه دلیل نه | چه راغلے وي دوي ته
چه کوم خلق بغیر د دلیل (سند) نه د الله تعالیٰ په آیتونو کښې جګړے کوي

اِنْ فِیْ صُدُوْرِهِمْ اِلَّا كِبْرٌ مَّا هُمْ بِبَالِغِيْهِ ۚ فَاسْتَعِذْ

نشته | په سینو د هغوی کښې | مګر | لوئی | چه نه دی دوی | رسیدونکی هغې ته | پس پناه غواړه

دهغوی په زړونو کښې دحق دمغلوب کولو یو لوے مقصد دے خو په دغه مقصد کښې دوی هیڅ کله کامیابیدل ے نه شی

بِاللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ۝ لَخَلْقُ السَّمٰوٰتِ

په الله سره | بیشکه | هم هغه دے | ښه اوریدونکے | ښه لیدونکے | خامخا پیدا کول | د آسمانونو

نوته د الله پناه غواړه یقیناً هغه هر څه اوریدونکے هر څه لیدونکے دے یقینی خبره ده چه د آسمانونو

وَالْاَرْضِ اَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ

او د زمکے | ډیر لوے دی | د پیدا کولو | د انسانانو نه | لیکن | اکثر | خلق

او د زمکے پیدایښ د خلقو د پیدا کولو نه ډیر لوے کار دے لیکن اکثر خلق (په دومره خبره هم)

لَا يَعْلَمُوْنَ ۝ وَمَا يَسْتَوِي الْاَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ ۙ وَالَّذِيْنَ

نه پوهیږی | او نه دی برابر | ړوند | او بینا | او هغه کسان

نه پوهیږی او ړوند او بینا برابر نه دی او نه هغه خلق چه

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَلَا الْمُسِيْٓءُ ؕ قَلِيْلًا

چه ایمان ئے راوړے وی | او عمل کوی | نیک | او نه بدی کوونکی | ډیر لږ

ایمان ئے راوړے دے او نیک عملونه کوی او بدکار برابر کیدے شی لیکن ډیر لږ خلق

مَّا تَتَذَكَّرُوْنَ ۝ اِنَّ السَّاعَةَ لَاٰتِيَةٌ لَّا رَيْبَ فِيْهَا

تاسو نصیحت اخلئ | بیشکه | قیامت | خامخا راتلونکے دے | هیڅ شک نشته | په هغے کښې

نصیحت اخلی۔ یقین او کړئ چه قیامت ضرور راتلونکے دے هیڅ شک پکښې نشته

وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝ وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِيْٓ

لیکن | اکثر | خلق | ایمان نه راوړی | او وئیل دی | رب ستاسو | ما بلئ

لیکن اکثر خلق ایمان نه راوړی او ستاسو رب وئیلی دی چه زما نه دعاء غواړئ

اَسْتَجِبْ لَكُمْ ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِيْ

زه به قبلوم | (دعاګانے) ستاسو | بیشکه | هغه کسان | چه ځان لوئی ګنړی | زما د عبادت نه

زه به ستاسو (دعاګانے) قبلوم یقیناً کوم خلق چه زما د عبادت نه ځان لوئی ګنړی

سَيَدْخُلُوْنَ جَهَنَّمَ دٰخِرِيْنَ ۝ اَللّٰهُ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ ع

زر ده چه داخل به شی | جهنم ته | ذلیله | الله | هغه (ذات) دے | چه جوړه کړے ئے | ستاسو دپاره

ډیر زر به هغوی ذلیل او خوار جهنم ته داخل شی. الله هغه ذات دے چه ستاسو دپاره ئے شپه جوړه کړے ده

الَّيْلَ لِتَسْكُنُوْا فِيْهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَذُوْ فَضْلٍ

شپه | چه تاسو آرام او کړئ | په هغے کښې | او ورځ | روښانه | بیشکه | الله | خامخا فضل والا دے

چه تاسو پکښې آرام او کړئ او ورځ ئے روښانه (رڼا والا) پیدا کړے ده حقیقت دا دے چه الله تعالیٰ په خلقو

عَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿٦١﴾ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ

په خلقو باندې | ليکن | اکثر | خلق | شکر نه اوباسي | دغه | الله

فضل کوونکے دے ليکن اکثر خلق شکر نه اوباسي هم دا الله ستاسو رب دے

رَبُّكُمْ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ ۘ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۫ فَاَنّٰى

رب ستاسو دے | پيدا کوونکے | د هر يو | څيز دے | نشته | لائق د عبادت | مګر | هغه | پس کوم خوا

د هر څيز پيدا کوونکے دے د هغه نه سوا بل هيڅ څوک د عبادت لائق نشته نو بيا تاسو کوم خوا د حق نه

تُؤْفَكُوْنَ ﴿٦٢﴾ كَذٰلِكَ يُؤْفَكُ الَّذِيْنَ كَانُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ

تاسو اړولی شئ | دغه شان | اړول کيدل | هغه کسان | چه هغوی وو | چه د آيتونو | د الله نه ئے

اړولی روان يئ؟ دغه شان هغه خلق هم اړولی روان وو چه د الله تعالیٰ د آيتونو نه به ئے انکار کولو

يَجْحَدُوْنَ ﴿٦٣﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ قَرَارًا

انکار کولو | الله | هغه (ذات) دے | چه هغه جوړه کړے ده | ستاسو دپاره | زمکه | ځائے د استوګنے

الله تعالیٰ هغه ذات دے چه زمکه ئے د قرار ځائے جوړ کړے دے

وَّالسَّمَآءَ بِنَآءً وَّصَوَّرَكُمْ فَاَحْسَنَ صُوَرَكُمْ

او آسمان | چت | او صورتونه ئے درکړي دي تاسو ته | نو ښائسته کړي ئے دي | صورتونه ستاسو

او آسمان ئے چت (جوړ کړے دے) او تاسو له ئے شکلونه درکړي دي او ستاسو شکلونه ئے ډير ښائسته جوړ کړي دي

وَرَزَقَكُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ ۭ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ ښ

او رزق ئے درکړے دے تاسو ته | د پاکيزه (څيزونو) نه | دغه | الله | رب ستاسو دے

او پاکيزه رزق ئے درکړے دے هم دا الله ستاسو رب دے

فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٦٤﴾ هُوَ الْحَيُّ لَآ اِلٰهَ

پس ډير بر کت والا دے | الله | چه رب | د مخلوقاتو دے | هغه | (هميشه) ژوندے دے | نشته | حاجت پوره کوونکے

پس لوے بر کت والا دے هغه الله چه د مخلوقاتو رب دے. هم هغه (هميشه) ژوندے دے د هغه نه سوا بل هيڅوک

اِلَّا هُوَ فَادْعُوْهُ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۭ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ

سوا | د هغه نه | پس رابلئ هغه | (چه) خالص کوونکي (يئ) | هغهٔ لره | بلنه | حمدونه دي | د الله دپاره

د بلنے لائق نشته نو تاسو (هم) هغه دا سے رابلئ چه ستاسو بلنه خالص د هغه دپاره وي حمدونه دي هغه الله لره

رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٦٥﴾ قُلْ اِنِّيْ نُهِيْتُ اَنْ اَعْبُدَ الَّذِيْنَ

چه رب | د مخلوقاتو دے | او وايه | (چه) بيشکه زه | منع کړے شوے يم | (د دے نه) چه | زه عبادت او کړم | د هغه چا

چه رب العالمين دے (اے نبي! کافرانو ته) او وايه چه زه د دے خبرے نه منع کړے شوے يم چه کله ماته د خپل رب

تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَمَّا جَآءَنِيَ الْبَيِّنٰتُ مِنْ رَّبِّيْ ۡ

چه تاسو ئے رابلئ | سوا | د الله نه | هر کله | چه راغلل دي ماته | ښکاره دليلونه | د خپل رب د طرف نه

د طرف نه ښکاره دليلونه (نخښے) راغلي دي نو بيا دے هم زه د هغه چا عبادت او کړم چه تاسو ئے د الله نه سوا رابلئ

وَأُمِرْتُ أَنْ أُسْلِمَ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٦٦﴾ هُوَ الَّذِيْ

او حکم شوے دے ماته | (دا) چه | زه تابعدار او سم | د رب | د مخلوقاتو | هم الله هغه (ذات) دے

او ماته دا حکم شوے دے چه زه دے رب العالمین ته سر تیټ کړم (غاړه کیږدم). (الله) هم هغه دے

خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ

چه تاسو ئے پیدا کړی یئ | د خاورے نه | بیا | د نطفے نه | بیا | د غوښے دیوے ټکړے نه

چه تاسو ئے د خاورے نه پیدا کړئ بیا ئے د نطفے نه بیا ئے د وینے دیوے ټکړے نه

ثُمَّ يُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوْٓا أَشُدَّكُمْ ثُمَّ

بیا | هغه راوباسی تاسو | ماشومان | بیا | (تربیت کوی ستاسو) چه اورسی تاسو | طاقت خپل ته | بیا

بیا هغه تاسو د ماشوم په شکل کښ بهر راوباسی بیا (هغه ستاسو پرورش کوی) چه تاسو خپلے ځوانۍ

لِتَكُوْنُوْا شُيُوْخًا ۚ وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّتَوَفّٰى مِنْ قَبْلُ

بالآخر چه شئ تاسو | بوډاګان | او بعضے ستاسو نه | هغه دی | چه مړهٔ شی | مخکښے د دے نه

ته اورسیږئ او بیا بالآخر بوډاګان شئ او بعضے په تاسو کښ د دے نه مخکښے مړهٔ شی

وَلِتَبْلُغُوْٓا أَجَلًا مُّسَمًّى وَّلَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿٦٧﴾ هُوَ الَّذِيْ

او (ساتی تاسو) چه اورسی تاسو | نیټے | مقررے ته | او دے دپاره چه تاسو | دعقل نه کار واخلئ | الله هغه (ذات) دے

او ساتی تاسو د دے دپاره چه تاسو یو مقررے نیټے ته اورسیږئ او چه تاسو د عقل نه کار واخلئ. (الله) هم هغه ذات دے

يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ۚ فَإِذَا قَضٰٓى أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُوْلُ لَهٗ

چه ژوندی کول کوی | او مړه کول کوی | پس هر کله | چه فیصله اوکړی | دیو کار | نو بیشکه | وائی | هغهٔ ته

چه ژوند ورکوی او مرګ ورکوی او کله چه دیو کار فیصله اوکړی نو هغه ته صرف دومره اووائی

ع كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿٦٨﴾ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِ

چه شه | نو هغه اوشی | آیا تهٔ نه ګورے | هغه کسانو ته | چه جګړه کوی | په آیتونو

چه موجود شه پس هغه موجود شی. آیا تا هغه خلق نه دی لیدلی چه د الله تعالیٰ په آیتونو کښ جګړے کوی

اللّٰهِ ؕ أَنّٰى يُصْرَفُوْنَ ﴿٦٩﴾ ۛ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِالْكِتٰبِ وَبِمَآ

دالله کښ | کوم طرف ته | اړولی شی دوی | هغه کسان | چه دروغ ئے ګڼړلے دے | کتاب | او هغه څه

دوی د حق نه څهٔ رنګ اړولی شی دا هغه خلق دی چه دا کتاب ئے هم دروغ ګڼړلے دے او هغه کتابونه هم

أَرْسَلْنَا بِهٖ رُسُلَنَا ۛ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿٧٠﴾ إِذِ الْأَغْلٰلُ

چه مونږ رالیږلی دی | په ځغے (سره) | پیغمبران خپل | پس ډیر زر به | دوی پوهه شی | کله چه | طوقونه

چه مونږ د (نورو) پیغمبرانو سره رالیږلی وو پس ډیر زر به دوی ته پته اولګی کله چه د دوی په څټونو کښ

فِيْٓ أَعْنَاقِهِمْ وَالسَّلٰسِلُ ؕ يُسْحَبُوْنَ ﴿٧١﴾ فِي الْحَمِيْمِ ۙ ثُمَّ

دوی په څټونو کښ وی | او زنځیرونه | راخکل به شی دوی | په ګرمو اوبو کښ | بیا به

طوقونه واچولے شی او په خپو کښ به ئے زنځیرونه (پراته) وی ګرمو اوبو کښ به راخکل شی بیا به

فِى النَّارِ يُسْجَرُوْنَ ۝ ثُمَّ قِيْلَ لَهُمْ اَيْنَمَا كُنْتُمْ

په اور کښې | سوځول شي | بیا به | او ویل شي | دوی ته | (چه) چرته دي هغه څه | چه تاسو به

په اور کښې او سوځول شي بیا به ورته او ویل شي چرته دي د الله نه سوا (ستاسو) هغه (معبودان) چه تاسو به

تُشْرِكُوْنَ ۝ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۗ قَالُوْا ضَلُّوْا عَنَّا بَلْ

شریکول | سوا | د الله نه | او به وائي دوی | (چه) ورک شوهغوی | زمونږ نه | (نه) بلکه

(د الله سره) شریک ګڼړل؟ او به وائي هغه ټول خو زمونږ نه ورک شول (نه) بلکه

لَّمْ نَكُنْ نَّدْعُوْا مِنْ قَبْلُ شَيْـًٔا ۗ كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ

مونږ (خو) نه دي رابللي | مخکښې د دے نه | هیڅ یو څیز | دغه شان | ګمراه کوي | الله

مونږ (خو) د دے نه مخکښې هیڅ یو څیز نه رابللو. دغه شان الله تعالیٰ کافران بے لارے کوي.

الْكٰفِرِيْنَ ۝ ذٰلِكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَفْرَحُوْنَ فِى الْاَرْضِ

کافران | دا | ځکه چه | تاسو به | خوشحالۍ ښکاره کوله | په زمکه کښې

دا (سزا) ځکه ده چه تاسو به په زمکه کښې په ناحقه په ګناهونو خوشحالۍ ښکاره کولے

بِغَيْرِ الْحَقِّ وَبِمَا كُنْتُمْ تَمْرَحُوْنَ ۝ اُدْخُلُوْٓا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ

په ناحقه | او ځکه چه | تاسو به | لوئي کوله | داخل شئ | په دروازو | د جهنم

او (دا ځکه چه) تاسو به په زمکه کښې غرور او لوئي کوله (نو) د جهنم په دروازو د همیشه او سیدو دپاره داخل شئ

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ فَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ ۝ فَاصْبِرْ

همیشه به یئ | په دے کښې | پس ډیر بد دے | ځائے د او سیدو | د تکبر کوونکو | پس (تو) ته صبر کوه

(پس) هغه د تکبر کوونکو دپاره د او سیدو ډیر بد (خراب) ځائے دے. تو (اے نبي!) ته صبر کوه

اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ ۚ فَاِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِىْ

بیشکه | وعده | د الله | رشتنے ده | پس که چرے | مونږ او ښایو تا ته | بعضے | هغه (څه)

(او) یقین او کړه چه د الله تعالیٰ وعده رشتنے ده او س دے کافرانو سره چه مونږ د کوم عذاب وعده کوو که د هغے څه حصه

نَعِدُهُمْ اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَاِلَيْنَا يُرْجَعُوْنَ ۝ وَلَقَدْ

چه مونږ (ئے) وعده کوو د دوی سره | یا مونږ وفات کړو تا | نو خاص مونږ ته به | دوی واپس کول شي | او یقینًا

مونږ تا ته (ستا په ژوند کښې) او ښایو یا که تا وفات کړونو (په هر صورت) هم زمونږ طرف ته به دوی واپس راځي.

اَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّنْ قَبْلِكَ مِنْهُمْ مَّنْ قَصَصْنَا عَلَيْكَ

مونږ لیږلي دي | پیغمبران | مخکښې ستا نه | بعضے د دوی نه | هغه څوک دي | چه مونږ بیان کړي دي | تا ته

او یقینًا مونږ ستا نه مخکښې ډیر پیغمبران لیږلي دي چه په هغوی کښې د بعضو واقعات مونږ تا ته بیان کړي دي

وَمِنْهُمْ مَّنْ لَّمْ نَقْصُصْ عَلَيْكَ ۗ وَمَا كَانَ لِرَسُوْلٍ

او بعضے د دوی نه | هغه دي | چه نه دي بیان کړي مونږ | تا ته | او نه وو (اختیار) | د هیڅ یو پیغمبر

او د بعضو مونږ نه دي بیان کړي او هیڅ یو پیغمبر ته دا اختیار نشته چه د الله

اَنْ يَّاْتِيَ بِاٰيَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ فَاِذَا جَآءَ اَمْرُ اللّٰهِ

چه هغه راوړي | يَوه نخښه | مګر | په حکم | د الله | پس هر کله | چه راشي | حکم | د الله

د اجازت (حکم) نه بغير څه معجزه راوړي (پيش کړي) بيا کله چه د الله حکم راشي

قُضِيَ بِالْحَقِّ وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْمُبْطِلُوْنَ ۝ اَللّٰهُ الَّذِيْ

ع

نوفيصله به او کړے شي | په حقه سره | او تاوانيان به شي | دغه وخت کښې | باطل پرست | الله | هغه ذات دے

نو په حقه به فيصله اوشي او په دغه موقع به باطل پرست خلق ډير تاوانيان شي. الله تعالیٰ هغه ذات دے

جَعَلَ لَكُمُ الْاَنْعَامَ لِتَرْكَبُوْا مِنْهَا وَمِنْهَا

چه پيدا کړي دي | ستاسو دپاره | څاروي | چه تاسو سورلي کوئ | په بعضو دهغے | او بعضے دهغے نه

چه ستاسو دپاره ئے څاروي پيدا کړي دي چه په بعضو تاسو سورلئ کوئ او بعضے خورئ

تَاْكُلُوْنَ ۝ وَلَكُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ وَلِتَبْلُغُوْا عَلَيْهَا

تاسو خورئ | او ستاسو دپاره | په هغے کښې | فائدے دي | او (دے دپاره) چه ورسيږئ تاسو | په هغے باندے

او ستاسو دپاره په دے کښې نورے ډيرے فائدے دي او (يو فائده په کښې دا ده) چه ستاسو په زړونو

حَاجَةً فِيْ صُدُوْرِكُمْ وَعَلَيْهَا وَعَلَى الْفُلْكِ تُحْمَلُوْنَ ۝

يو (داسے) حاجت ته | چه ستاسو په سينو کښې دے | او په هغے باندے | او په کشتو باندے | تاسو سورولي شئ

کښې (چرته د تلو) حاجت وي چه هغے ته په دے او سيږئ او په دے او په کشتو باندے تاسو سواره کړئ

وَيُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ ۖ فَاَيَّ اٰيٰتِ اللّٰهِ تُنْكِرُوْنَ ۝ اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا

او ښائي هغه تاسو ته | نخښے خپلے | نو د کومو | نخښو | د الله نه | تاسو انکار کوئ | آيا نو دوي نه ګرځي

او الله تعالیٰ تاسو ته خپلے نخښے ښائي نو تاسو به د الله د کومے کومے نخښے نه انکار کوئ؟ آيا دوي په زمکه کښې

فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ

په زمکه کښې | پس دوي اوګوري | (چه) څنګه | وو | انجام | د هغه خلقو

نه ګرځي چه اوګوري چه د دوي نه مخکښے کوم خلق وو د هغوي انجام څنګه شو؟

مِنْ قَبْلِهِمْ ۭ كَانُوْٓا اَكْثَرَ مِنْهُمْ وَاَشَدَّ قُوَّةً وَّاٰثَارًا

چه مخکښے وو د دوي نه | هغوي وو | ډير | د دوي نه | او زيات | قوت والا | او نخښو جوړولو والا

هغوي د دوي نه په تعداد کښې هم زيات وو او په طاقت کښې هم سخت وو او په زمکه کښې د عمارتونو په نخښو

فِي الْاَرْضِ فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ۝ فَلَمَّا

په زمکه کښې | پس (عذاب) لرے نه کړو | د هغوي نه | هغه څه | چه هغوي به | کول | پس هر کله

جوړولو کښې هم سخت وو خو (ليکن) بيا هم هغوي چه دا څه کول هيڅ ئے پکار رانغلل او کله چه هغوي ته

جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَرِحُوْا بِمَا عِنْدَهُمْ

چه راغلل هغوي ته | پيغمبران خپل | په ښکاره دليلونو سره | نو خوشحاله شول | په هغه څه | چه د هغوي سره وو

خپل پيغمبران په ښکاره دليلونو سره راغلل نو هغوي په خپل هغه علم باندے ناز (خوشحالي) شروع کړه

مِّنَ الْعِلْمِ وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۸۳﴾

د علم نه | او راګېر کړل | دوی لره | هغه څه | چه وو دوی | چه په هغې پورې به ئې | ټوقې کولې

کوم چه هغوی سره وو او کوم شیز پورې چه ئې ټوقې (خندنې) کولې هم هغې راګېر کړل

فَلَمَّا رَاَوْا بَاْسَنَا قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَحْدَهٗ

پس هر کله | چه دوی اولیدلو | عذاب زمونږ | نو وئې ویل | (چه) مونږ ایمان راوړے دے | په الله | چه یو دے

بیا ئې چه کله زمونږ عذاب اولیدو نو دا ئې اوویل چه مونږ په ایک یو الله ایمان راوړو

وَكَفَرْنَا بِمَا كُنَّا بِهٖ مُشْرِكِيْنَ ﴿۸۴﴾ فَلَمْ يَكُ يَنْفَعُهُمْ

او مونږ کفر کړے دے | په هغه څه | چه مونږ دهغه سره شریکان کړي وو | نو نهٔ وه چه فائده ور کړے وے دوی ته

او دهغه څه مو انکار اوکړو چه مونږ به دهغه سره شریکول. لیکن کله چه هغوی زمونږ عذاب اولیدو نو بیا

اِيْمَانُهُمْ لَمَّا رَاَوْا بَاْسَنَا ؕ سُنَّتَ اللّٰهِ الَّتِيْ قَدْ خَلَتْ

ایمان د دوی | هر کله چه | دوی اولیدلو | عذاب زمونږ | دا دستور | د الله دے | هغه | چه تېر شوے دے

ایمان راوړلو هیڅ فائده ور نکړه د الله تعالیٰ هم دا معمول دے چه دهغه په بندګانو کښې (د پخوانه

فِيْ عِبَادِهٖ ۚ وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۸۵﴾ ع

په بندګانو دهغهٔ کښې | او تاوانیان شول | په دغه وخت کښې | کافران

جاري دے او په دغه موقع د کافرانو تاوان ښهٔ ښکاره شو.

آیاتها [۵۴]	سورة حٰمٓ السّجدة مكّيّة	ركوعاتها [۶]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم.

حٰمٓ ﴿۱﴾ تَنْزِيْلٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴿۲﴾ كِتٰبٌ فُصِّلَتْ

حٰمٓ | رالیږل (دا دے قرآن) | د طرفه د ډیر مهربان | رحم کوونکی نه دی | (دا یو) کتاب دے | چه واضح کړے شوی دی

حامیم. دا کلام دهغه ذات د طرفه رالیږلے کیږي چه هغه ډیر مهربان رحم کوونکے ذات دے دا داسے کتاب دے چه آیتونه ئې

اٰيٰتُهٗ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا لِّقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿۳﴾ بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا ۚ

آیتونه د دے | قرآن دے | عربي ژبے والا | د پاره دهغه قوم | چه پوهیږي | زیرے ورکوونکے | او یروونکے

بلکل واضح کړے شوی دی (او دا یے قرآن (دے) چه په عربي ژبه کښې دے دهغه خلقو د پاره چه پوهه لري (دا قرآن) زیری

فَاَعْرَضَ اَكْثَرُهُمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُوْنَ ﴿۴﴾ وَقَالُوْا قُلُوْبُنَا

پس مخ واړولو | اکثر خلقو د دوی نه | پس دوی | نه اوري | او وائي | (چه) زړونه زمونږ

ور کوونکے هم دے او یروونکے هم دے بیا هم اکثر خلق د دے نه مخ اړوي او آوري (ئې) نه او (پیغمبر ته) وائي چه ته

فِيْٓ اَكِنَّةٍ مِّمَّا تَدْعُوْنَآ اِلَيْهِ وَفِيْٓ اٰذَانِنَا وَقْرٌ

په پردو کښې دي ۔ دهغه څه نه ۔ چه ته رابللے مونږ ۔ هغے ته ۔ او په غوږونو زمونږ کښې ۔ بوج دے

چه مونږ کوم څیز ته رابللے دهغے نه زمونږ زړونه په پردو کښې دي او زمونږ په غوږونو کښې بوج دے

وَمِنْۢ بَيْنِنَا وَبَيْنِكَ حِجَابٌ فَاعْمَلْ اِنَّنَا عٰمِلُوْنَ ۝٥

او زمونږ په مینځ کښې ۔ او ستا په مینځ کښې ۔ پرده ده ۔ پس ته (هم) عمل کوه ۔ بیشکه مونږ (هم) ۔ عمل کوونکی یو

او زمونږ او ستا په مینځ کښې یوه پرده (زورنده) ده (نو) پس ته خپل کار کوه مونږ به خپل کار کوو

قُلْ اِنَّمَآ اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوْحٰٓى اِلَيَّ اَنَّمَآ اِلٰهُكُمْ

او وایه ۔ بیشکه ۔ زه (خو) ۔ یو بنیادم یم ۔ ستاسو غوندے ۔ چه وحی کولے شی ۔ ما ته ۔ چه بیشکه ۔ معبود ستاسو

(اے نبیؐ اته ورته) او وایه چه زهٔ خو هم ستاسو پشان یو انسان (بشر) یم (البته) ما ته دا وحی کیږی چه

اِلٰهٌ وَّاحِدٌ فَاسْتَقِيْمُوْٓا اِلَيْهِ وَاسْتَغْفِرُوْهُ ۗ وَوَيْلٌ

معبود دے ۔ ایک یو ۔ پس برابر (متوجه) شئ ۔ هغه ته ۔ او بخښنه وغواړئ دهغه نه ۔ او تباهی ده

ستاسو معبود ایک یو دے نو هم هغه ته برابر متوجه شئ او بخښنه ترے اوغواړئ او تباهی ده

لِّلْمُشْرِكِيْنَ ۝٦ۙ الَّذِيْنَ لَا يُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ

د مشرکانو دپاره ۔ هغه کسان ۔ چه نه ورکوی ۔ زکات ۔ او هغوی ۔ په آخرت نه باندے

دهغه مشرکانو دپاره چه زکات نه ورکوی او حال ئے دا دے چه د آخرت نه (هم) منکر دی

هُمْ كٰفِرُوْنَ ۝٧ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

هم هغوی ۔ کفر کوونکی دی ۔ بیشکه ۔ هغه کسان ۔ چه ایمان ئے راوړے دے ۔ او عملونه ئے کړی دی ۔ نیک

(البته) چا چه ایمان راوړے دے او نیک عملونه ئے کړی دی

لَهُمْ اَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُوْنٍ ۝٨ ع قُلْ اَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُوْنَ بِالَّذِيْ

دهغوی دپاره ۔ بدله ده ۔ نه ختمیدونکے ۔ او وایه ۔ آیا تاسو ۔ خامخا انکار کوئ ۔ دهغه ذات نه

دهغوی دپاره یقیناً نه ختمیدونکے اجر دے. (ته ورته) او وایه چه آیا تاسو (واقعی) په هغه ذات کفر کوئ

خَلَقَ الْاَرْضَ فِيْ يَوْمَيْنِ وَتَجْعَلُوْنَ لَهٗٓ اَنْدَادًا ۗ

چه پیدا کړے څه ۔ زمکه ۔ په دوه ورځو کښې ۔ او جوړوئ تاسو ۔ هغه لره ۔ شریکان

چه هغه زمکه په دوه ورځو کښې پیدا کړه او تاسو دهغه سره (نور) شریکان جوړوئ

ذٰلِكَ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ۝٩ۚ وَجَعَلَ فِيْهَا رَوَاسِيَ مِنْ فَوْقِهَا

دا دے ۔ رب ۔ د مخلوقاتو ۔ او جوړ کړی دی هغه ۔ په دے کښې ۔ غرونه ۔ د پاسه د دے

هم دغه ذات (خو) د ټولو مخلوقاتو پروردګار دے. او هغه په زمکه کښې د دے د پاسه مضبوط غرونه پیدا کړل

وَبٰرَكَ فِيْهَا وَقَدَّرَ فِيْهَآ اَقْوَاتَهَا فِيْٓ اَرْبَعَةِ

او برکت ئے اچولے دے ۔ په دے کښې ۔ او مقرر کړی ئے دی ۔ په دے کښې ۔ خوراکونه د دے ۔ په څلورو

او برکت ئے پکښې واچولو او په توازن (په اندازه) سره ئے پکښې غذاګانے پیدا کړے او دا ټول کارونه ئے په اندازه د څلورو

اَیَّامٍ ؕ سَوَآءً لِّلسَّآئِلِیْنَ ۝۱۰ ثُمَّ اسْتَوٰۤی اِلَی السَّمَآءِ وَهِیَ
ورځو کښې | برابر دي | دپاره د تپوس کوونکو | بیا | برابر شو (قصد ئې او کړو) | آسمان ته | او هغه
ورځو کښې او کړل او دا تفصیل د تپوس کوونکو دپاره یو برابر (دے) بیا هغه (الله) آسمان (طرف) ته متوجه شو (چه
دُخَانٌ فَقَالَ لَهَا وَلِلْاَرْضِ ائْتِیَا طَوْعًا اَوْ كَرْهًا ؕ
لوګے وو | پس وې وئیل | هغه ته | او زمکې ته | (چه) راشئ دواړه | په خوښه | یا په ناخوښه
په هغه وخت کښې) هغه لوګے وو او آسمان ته او زمکې ته ئې اووئیل دواړه راشئ په رضا یا په زور
قَالَتَاۤ اَتَیْنَا طَآئِعِیْنَ ۝۱۱ فَقَضٰىهُنَّ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ
اووئیل هغې دواړو | (چه) مونږ راغلو | په خوښه | بیا پوره کړل الله هغوی لره | اووه | آسمانونه
هغې دواړو اووئیل مونږ په رضا (خوشحالۍ) راځو۔ بیا الله په دوه ورځو کښې اووه آسمانونه جوړ کړل
فِیْ یَوْمَیْنِ وَاَوْحٰی فِیْ كُلِّ سَمَآءٍ اَمْرَهَا ؕ وَزَیَّنَّا
په دوه ورځو کښې | او حکم ئې اوکړو | په هریو | آسمان کښې | د کار د هغې | او مونږ ښائسته کړے دے
او هر آسمان ته ئې د هغې (مناسب) حکم (کار) اولیږلو او مونږ دا نزدے آسمان په ډیوو سره
السَّمَآءَ الدُّنْیَا بِمَصَابِیْحَ ۖۗ وَحِفْظًا ؕ ذٰلِكَ تَقْدِیْرُ الْعَزِیْزِ
آسمان | دنیوی | په ډیوو سره | او حفاظت مو کړے دے د هغې په حفاظت سره | دا | تدبیر (تقدیر) | د ډیر زورور
ښائسته کړے دے او (د شیطانانو نه) مو محفوظ کړے دے دا د هغه ذات (مقرر شوے) اندازه ده چه هغه ډیر زورور
الْعَلِیْمِ ۝۱۲ فَاِنْ اَعْرَضُوْا فَقُلْ اَنْذَرْتُكُمْ صٰعِقَةً مِّثْلَ
او ډیر پوهه (ذات) دے | پس که چرے | مخ واړوی دوی | نو اووایه | چه زه یرومه تاسو | د یو سخت عذاب نه | پشان
ډیر پوهه دے بیا (هم) که دوی مخ او ګرځولو نو ورته اووایه چه زه ګورے تاسو د یو داسے سخت عذاب نه خبروم
صٰعِقَةِ عَادٍ وَّثَمُوْدَ ۝۱۳ اِذْ جَآءَتْهُمُ الرُّسُلُ مِنْۢ بَیْنِ اَیْدِیْهِمْ
د سخت عذاب | د عاد | او د ثمود | کله چه | راغلل هغوی ته | پیغمبران | د هغوی د وړاندے نه
لکه څنګه سخت عذاب چه په عاد او ثمود راغلے وو کله چه هغوی ته د وړاندے او وروستو نه پیغمبران راغلل
وَمِنْ خَلْفِهِمْ اَلَّا تَعْبُدُوْۤا اِلَّا اللّٰهَ ؕ قَالُوْا لَوْ شَآءَ
او د هغوی د وروستو نه | چه عبادت مه کوئ | سوا | د الله نه (د بل چا) | اووئیل هغوی | که چرے | غوښتلے
چه د الله نه سوا د بل چا عبادت مه کوئ۔ هغوی اووئیل چه که زمونږ رب غوښتلے
رَبُّنَا لَاَنْزَلَ مَلٰٓئِكَةً فَاِنَّا بِمَاۤ اُرْسِلْتُمْ
رب زمونږ | نو خامخا به ئې راکوزے کړے وے | ملائکے | پس بیشکه مونږ | په هغه څه | چه تاسو پورے مو رالیږلی شوی یئ
نو ملائک به ئې رالیږلی وے پس تاسو چه د کوم پیغام سره رالیږلی شوی یئ
بِهٖ كٰفِرُوْنَ ۝۱۴ فَاَمَّا عَادٌ فَاسْتَكْبَرُوْا فِی الْاَرْضِ
په هغې | کفر کوونکی یو | پس هرچه | عادیان وو | نو ځان لوئی او ګڼلو هغوی | په زمکه کښې
مونږ د هغې نه انکار کوو بیا د عاد قوم چه وو نو هغوی خو په ناحقه په زمکه کښې

بِغَيْرِ الْحَقِّ وَقَالُوْا مَنْ اَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً ؕ اَوَلَمْ يَرَوْا

په ناحقه | او وے ويل | څوک دي | زيات (سخت) | زمونږ نه | په قوت کښې | آيا دوی نهٔ کتل

ځان لوئ اوګڼړلو او وے ويل چه څوک دي چه زمونږ نه زيات طاقت والا وی؟ آيا دوی ديته نهٔ کتل

اَنَّ اللّٰهَ الَّذِيْ خَلَقَهُمْ هُوَ اَشَدُّ مِنْهُمْ قُوَّةً ؕ

چه بيشکه | الله | هغه ذات دے | چه پيدا کړی ئے دی دوی | هغه | زيات دے | د دوی نه | په قوت کښې

چه کوم الله چه دوی پيدا کړی دی هغه د دوی نه زيات طاقتور دے

وَكَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يَجْحَدُوْنَ ۝۱۵ فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيْحًا صَرْصَرًا

او دوی وو | چه زمونږ د آيتونو نه | ئے انکار کولو | لو مونږ را وليږله | په دوی باندے | سيلئ | تيزه

او دوی هميشه زمونږ د آيتونو نه انکار کولو۔ بس (نو) مونږ پرے په سپيرهٔ ورځو کښې

فِيْٓ اَيَّامٍ نَّحِسَاتٍ لِّنُذِيْقَهُمْ عَذَابَ الْخِزْيِ فِي الْحَيٰوةِ

په (هغه) ورځو | سپيرو کښې | (دے دپاره) چه مونږ اوڅکوو دوی ته | عذاب | د رسوائئ | په ژوند

يوه تونده سيلئ را وليږله (دے دپاره) چه الله دوی ته د دنيا په ژوند کښې د رسوائئ د عذاب (مزه) اوڅکوی

الدُّنْيَا ؕ وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَخْزٰى وَهُمْ لَا يُنْصَرُوْنَ ۝۱۶

دُنيوی کښې | او خامخا عذاب | د آخرت | زيات د رسوائئ دے | او دَ دوی سره به | مدد نشی کيدے

او د آخرت عذاب خو ډير زيات شرموونکے دے او دَ دوی سره به (څه قسم) مدد هم نه کيږی

وَاَمَّا ثَمُوْدُ فَهَدَيْنٰهُمْ فَاسْتَحَبُّوا الْعَمٰى عَلَى الْهُدٰى

او هرچه | ثموديان وو | نو لاره ښودلے وه مونږ هغوی ته | نو خوښ کړو هغوی | روند والے | په هدايت باندے

او ثموديان چه وو نو هغوی ته (خو) مونږ سمه لار ښودلے وه ليکن هغوی د هدايت (د سمے لارے) په ځائے

فَاَخَذَتْهُمْ صٰعِقَةُ الْعَذَابِ الْهُوْنِ بِمَا كَانُوْا

پس را ونيول دوی لره | چغے | د عذاب | د ذلت والا | په سبب د هغه څه | چه هغوی به

روندوالے (ګمراهي) غوره کړه نو هغوی چه څه کول د هغے د وجے يو شرموونکی عذاب آفت را ونيول

يَكْسِبُوْنَ ۝۱۷ وَنَجَّيْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ۝۱۸ ع

(هميشه) کول | او بچ کړل مونږ | هغه کسان | چه ايمان ئے راوړے وو | او وو هغوی | چه ځان ئے ساتلو

او چا چه ايمان راوړے وو او تقوی ئے اختيار کړے وه هغوی مو بچ کړل

وَيَوْمَ يُحْشَرُ اَعْدَآءُ اللّٰهِ اِلَى النَّارِ فَهُمْ

او په هغه ورځ | چه را جمع به کړے شی | دشمنان | د الله | اور ته | پس هغوی به

او په کومه ورځ چه د الله تعالیٰ دشمنان به اور ته را جمع کړے شی او په ډلو (ډلو) کښې به

يُوْزَعُوْنَ ۝۱۹ حَتّٰٓى اِذَا مَا جَآءُوْهَا شَهِدَ عَلَيْهِمْ

تقسيم کړے شی په ډلو کښې | تر دے | چه کله | راشی دوی هغے (اور) ته | نو ګواهي به اوکړی | په دوی باندے

تقسيم (کړے) شی۔ تر دے چه کله هغوی هغه (اور) ته راورسی نو د هغوی

سَمْعُهُمْ وَأَبْصَارُهُمْ وَجُلُودُهُمْ بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٢٠﴾

غوږونه د دوی | او سترګې د دوی | او څرمنې د دوی | په هغه څه | چه دوی به کول

غوږونه، سترګې او څرمنې به د هغوی خلاف ګواهي ورکړي چه هغوی څه کول

وَقَالُوا لِجُلُودِهِمْ لِمَ شَهِدْتُّمْ عَلَيْنَا ۖ قَالُوا أَنْطَقَنَا

او به وائي دوی | خپلو څرمنو ته | ولې ګواهي او کړه تاسو | په مونږ باندې | او به وائي هغوی | چه ګویا کړو مونږ

او دوی به خپلو څرمنو ته اووائي چه تاسو زمونږ خلاف ګواهي ولې ورکړه؟ هغوی به ورته اووائي چه مونږ ته

اللّٰهُ الَّذِي أَنْطَقَ كُلَّ شَيْءٍ وَهُوَ خَلَقَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ

الله | هغه ذات | چه ګویا کړے دے | هر یو | څیز | او هغه | پیدا کړی وئ تاسو | په اول | ځل

هغه ذات دویلو (د خبرو کولو) طاقت را کړے دے چا چه هر څیز ته ګویائي ورکړے ده او هم هغه تاسو په اول ځل پیدا کړی وئ

وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢١﴾ وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُونَ أَنْ يَشْهَدَ

او هغه ته | تاسو واپس کړے شوئ | او نه وئ تاسو | چه پرده مو کوله | (د دے نه) چه | ګواهي به او کړی

او هم د هغه طرف ته تاسو واپس کړے شوئ او (د ګناه په وخت کښې) تاسو د دے خبرے نه پرده نه کوله

عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَا أَبْصَارُكُمْ وَلَا جُلُودُكُمْ وَلٰكِنْ

په تاسو باندې | غوږونه ستاسو | او نه سترګې ستاسو | او نه څرمنې ستاسو | لیکن

چه ستاسو غوږونه، سترګې او څرمنې به ستاسو خلاف ګواهي ورکړي لیکن

ظَنَنْتُمْ أَنَّ اللّٰهَ لَا يَعْلَمُ كَثِيرًا مِّمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٢٢﴾ وَذٰلِكُمْ

تاسو ګمان کولو | چه بیشکه | الله | نه پوهیږی | په ډیر | هغه څه | چه تاسو (ئے) کوئ | او دا

ستاسو دا ګمان وو چه الله تعالیٰ ته ستاسو د ډیرو اعمالو (خبرو) علم نشته

ظَنُّكُمُ الَّذِي ظَنَنْتُمْ بِرَبِّكُمْ أَرْدٰىكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ

ستاسو ګمان وو | هغه | چه تاسو (ئے) ګمان کړے وو | په خپل رب | چه هلاک ئے کړئ تاسو | پس شوئ تاسو

او د خپل پروردګار په باره کښې ستاسو هم دے ګمان تاسو تباه کړئ او (هم د دے په نتیجه کښې) تاسو په تاوانیانو

مِّنَ الْخٰسِرِينَ ﴿٢٣﴾ فَإِنْ يَّصْبِرُوا فَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ۖ

د ډله تاوانیانو نه | پس که چرے | صبر او کړی دوی | نو (هم) اور | ځائے د اوسیدو | د دوی دے

خلقو کښې شامل شوئ (اوس به د دے خلقو دا حال وی) چه که چرے دوی صبر او کړی نو بیا ئے (هم) اور ځائے د اوسیدو دے

وَإِنْ يَّسْتَعْتِبُوا فَمَا هُمْ مِّنَ الْمُعْتَبِينَ ﴿٢٤﴾ وَقَيَّضْنَا

او که چرے | واپسی غواړی دوی | پس نه به وی | دوی | د واپس کړے شوو نه | او مونږ پیوست لګولی دی

او که دنیا ته واپسي غواړی نو دا مطالبه ئے هم نشی منلے کیدے او مونږ (په دنیا کښې) د دوی سره

لَهُمْ قُرَنَاءَ فَزَيَّنُوا لَهُمْ مَّا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا

د دوی سره | څه ملګری | پس ښائسته کړی دی هغوی | دوی ته | هغه څه | چه وړاندې دے د دوی له دی | او هغه څه

څه شیطانان ملګری مقرر کړی وو نو هغوی به ورته خپل ناکاره عملونه او د تیر شوو مشرانو ناکاره عملونه

خَلْفَهُمْ وَحَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ فِيْٓ اُمَمٍ قَدْ

چه وروستو دَدوی دی | او ثابته شوے ده | په دوی باندے | خبره (فیصله) | په (هغه) ډلو کښې | چه یقیناً

ښائسته ښکاره کول او (اخیر) په دوی باندے (هم) د الله تعالیٰ هغه پخوانۍ فیصله پوره شوه

خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ ۚ اِنَّهُمْ كَانُوْا

تیرے شوی دی | مخکښې دَدوی نه | د پیریانو نه | او د انسانانو نه | بیشکه دوی | وو

کومه فیصله چه د نورو اُمتونو سره شوے ده که پیریان وو او که انسانان یقیناً دا ټول تاوانیان دی.

خٰسِرِيْنَ ۝ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَسْمَعُوْا لِهٰذَا الْقُرْاٰنِ ع

تاوان موندونکی | او وائی | هغه خلق | چه کفر ئے کړے دے | چه مه اورئ | دا | قرآن

او دا کافران یو بل ته وائی چه دا قرآن مه اورئ او ددے (د لوستلو په وخت) کښې شور کوئ

وَالْغَوْا فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُوْنَ ۝ فَلَنُذِيْقَنَّ الَّذِيْنَ

او شور جوړ کړئ | په دے کښې | دے دپاره چه تاسو | غالب شئ | پس خامخا به او څکوو مونږ | هغه کسانو ته

دے دپاره (شاید) چه تاسو غالب شئ۔ پس (نو) مونږ به خامخا دے کافرانو ته

كَفَرُوْا عَذَابًا شَدِيْدًا ۙ وَّلَنَجْزِيَنَّهُمْ اَسْوَاَ الَّذِيْ

چه کفر ئے کړے دے | عذاب | ډیر سخت | او خامخا مونږ به بدله ورکړو هغوی ته | ډیره بده | د هغه څه

د سخت عذاب خوند (مزه) وڅکوو او کومه بد عملونه چه ئے کول

كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝ ذٰلِكَ جَزَآءُ اَعْدَآءِ اللّٰهِ النَّارُ ۚ لَهُمْ

چه دوی به کول | دا | بدله ده | د دشمنانو | د الله | اُور | دَدوی دپاره

د هغے پوره بدله به ورته ورکړو۔ هم دا اُور د الله دَ دشمنانو بدله (سزا) ده دَ دوی دپاره

فِيْهَا دَارُ الْخُلْدِ ۭ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا

په دے کښې | کور | د همیشه (اوسیدو) دے | (ورته کړے شی) بدله | په سبب ددے | چه دوی وو | چه زمونږ د آیتونو نه ئے

په دے کښې د همیشه اوسیدو کور دے دا ددے خبرے سزا (بدله) ده چه دوی به زمونږ د آیتونو نه

يَجْحَدُوْنَ ۝ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا رَبَّنَآ اَرِنَا الَّذَيْنِ

انکار کولو | او به وائی | هغه کسان | چه کفر ئے کړے وو | اے زمونږ ربه! | او ښایه مونږ ته | هغه دوه کسان

انکار کولو او دا کافران به اووائی چه اے زمونږ ربه! په پیریانو او په انسانانو کښې

اَضَلّٰنَا مِنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ نَجْعَلْهُمَا تَحْتَ اَقْدَامِنَا

چه مونږ ئے گمراه کړی وو | د پیریانو | او انسانانو نه | چه مونږ کړو هغوی دواړه | لاندے | د خپو خپلو نه

چه مونږ ئے گمراه کړی وو هغه دواړه مونږ ته او ښایه چه د خپو لاندے ئے کړو

لِيَكُوْنَا مِنَ الْاَسْفَلِيْنَ ﴿۲۹﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ

(دے دپارہ چہ شی هغوی | د ذلیلانو (خکته) خلقونه | بیشکه | هغه کسان | چه وائی | چه رب زمونږ | الله دے

چه په ذلیله (سپک) شی۔ (بل طرف ته) چا چه ویلی وو چه زمونږ رب الله دے

ثُمَّ اسْتَقَامُوْا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةُ اَلَّا تَخَافُوْا

بیا | کلک پاتے شول | راکوزیږی (به) | په هغوی باندے | ملائکے | (چه) مه یریږئ

او بیا په دے خبرہ باندے کلک پاتے شول په هغوی به ملائک راکوزیږی (او ورته به وائی چه) مه یریږئ

وَلَا تَحْزَنُوْا وَاَبْشِرُوْا بِالْجَنَّةِ الَّتِیْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ﴿۳۰﴾ نَحْنُ

او غم مه کوئ | او زیری واخلئ | د جنت | هغے | چه تاسو سره به (ئے) | وعده کولے شوه | مونږ

او مه غم کوئ او په هغه جنت خوشحاله شئ چه تاسو سره ئے وعده کولے شوه۔ مونږ

اَوْلِيٰٓؤُكُمْ فِی الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِی الْاٰخِرَةِ ۚ وَلَكُمْ فِيْهَا

دوستان و ستاسو | په ژوند | دنیوی کښی | او په آخرت کښی | او ستاسو دپارہ | په دے کښی

د دنیا په ژوند کښی هم ستاسو ملګری وو او په آخرت کښی هم او ستاسو دپارہ په دے جنت کښی

مَا تَشْتَهِیْٓ اَنْفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيْهَا مَا تَدَّعُوْنَ ﴿۳۱﴾ ط

هغه څه دی | چه غواړی ئے | زړونه ستاسو | او ستاسو دپارہ | په دے کښی | هغه څه دی | چه تاسو (ئے) غواړئ

هر هغه څیز دے چه ستاسو زړونه ئے غواړی او په دے کښی ستاسو دپارہ هر هغه څیز دے چه تاسو ئے راغواړئ

نُزُلًا مِّنْ غَفُوْرٍ رَّحِيْمٍ ﴿۳۲﴾ ع وَمَنْ اَحْسَنُ قَوْلًا

میلستیا (په ور کولے شی) | د ډیر بخښونکی | ډیر رحم کوونکی (د طرف) نه | او څوک دے | زیات ښائسته | په خبره کښی

د هغه ذات د طرف نه میلستیا ده چه هغه ډیر بخښونکے ډیر مهربان دے۔ او د هغه چا نه به (ښائسته) خبره

مِّمَّنْ دَعَآ اِلَى اللّٰهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَّقَالَ اِنَّنِیْ

د هغه چا نه | چه رابلی (خلق) | الله ته | او عمل کوی | نیک | او وائی | چه بیشکه زه یم

د چا کیدے شی چه د الله طرف ته (خلق) رابلی او (پخپله هم) نیک عمل کوی او دا وائی چه زه

مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿۳۳﴾ وَلَا تَسْتَوِی الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ط اِدْفَعْ

د مسلمانانو نه | او نه دی برابر | نیکی | او بدی | لرے کړه

په فرمانبردارانو کښی شامل یم او (اے نبیؐ!) نیکی او بدی برابر نهٔ دی ته په ښه (خوږه) طریقه

بِالَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ فَاِذَا الَّذِیْ بَيْنَكَ وَبَيْنَهٗ

په هغه طریقه | چه هغه | ډیرہ ښائسته ده | پس په هغه وخت کښی | هغه کس | چه په مینځ ستا کښی | او په مینځ د هغه کښی

بدی دفع کوه لو (په نتیجه کښی به) ستا او د چا تر مینځه چه دشمنی وه هغه به دا سے شی

عَدَاوَةٌ كَاَنَّهٗ وَلِیٌّ حَمِیْمٌ ۝٣٤ وَمَا یُلَقّٰهَآ اِلَّا الَّذِیْنَ

دښمني ده | (دلښېګڼي) ګویا که هغه دے | دوست | ګرم | او نه شي ور کولے دا (خوئی) | مګر | هغه خلقو ته

لکه ستا ډیر همدرد او مخلص دوست. او دا صفت (خوئی) صرف هغه چا ته حاصلیږی څوک چه

صَبَرُوْا ۚ وَمَا یُلَقّٰهَآ اِلَّا ذُوْ حَظٍّ عَظِیْمٍ ۝٣٥ وَاِمَّا

چه صبر ئے کړیدے | او نه شي ور کولے دا (خوئی) | مګر | خاوند | د برخې | لوے ته | او که چرے

د صبر نه کار اخلی او دا صفت هم هغه چا ته ملاویږی چه د لوے نصیب والا وی او که چرے

یَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّیْطٰنِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ

اورسی تا ته | د شیطان نه | څه وسوسه | نو پناه غواړه | په الله سره | بیشکه | هم هغه دے

تا ته د شیطان د طرف نه څه وسوسه اورسیږی نو د الله پناه غواړه یقیناً هغه

السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ ۝٣٦ وَمِنْ اٰیٰتِهِ الَّیْلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ

ښه اوریدونکے | ښه پوهه | او د هغه د نخښو نه | شپه | او ورځ | او نمر

هر څه اوریدونکے په هر څه پوهه دے او شپه او ورځ او نمر او سپوږمۍ د هغهٔ د قدرت د نخښو نه دی

وَالْقَمَرُ ؕ لَا تَسْجُدُوْا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ

او سپوږمۍ ده | تاسو سجده مه کوئ | نمر ته | او نه سپوږمۍ ته | او سجده کوئ | الله ته

تاسو مهٔ نمر ته سجده کوئ او نه سپوږمۍ ته بلکه که تاسو واقعی

الَّذِیْ خَلَقَهُنَّ اِنْ كُنْتُمْ اِیَّاهُ تَعْبُدُوْنَ ۝٣٧ فَاِنِ

هغه (الله) | چه پیدا کړی ئے دی دا ټول | که چرے | تاسو | خاص د هغه | عبادت کوئ | پس که چرے

د الله عبادت کوئ نو سجده هم هغه الله ته کوئ چه دا ټول هر څهٔ ئے پیدا کړی دی

اسْتَكْبَرُوْا فَالَّذِیْنَ عِنْدَ رَبِّكَ یُسَبِّحُوْنَ لَهٗ بِالَّیْلِ

لوئی کوی دوی | نو هغه خلق | چه دی | ستا د رب سره | هغوی پاکی بیانوی | د هغه | په شپے

بیا هم که دا کافر تکبر کوی (نو کوی دے څکه چه) کومے فرشتے ستا د رب سره دی هغوی شپه او ورځ

وَالنَّهَارِ وَهُمْ لَا یَسْـَٔمُوْنَ ۝٣٨ وَمِنْ اٰیٰتِهٖٓ اَنَّكَ تَرَی الْاَرْضَ

او په ورځے کښں | او هغوی | نه ستړی کیږی | د هغه د نخښو نه (دا ده) | چه بیشکه ته | وینے | زمکه

د هغه تسبیح وائی او هغوی هیڅ چرے نه ستړی کیږی او دا هم د هغه د قدرت د نخښو نه یوه نخښه ده چه ته (اے بنده!)

خَاشِعَةً فَاِذَآ اَنْزَلْنَا عَلَیْهَا الْمَآءَ اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ ؕ

عاجزه (اوچه) | پس هر کله | چه مونږ را اولیږو | په هغے باندے | اوبه | نو حرکت شروع کړی | او اوچته سیږی

زمکه وینے چه اوده (خشکه) ده بیا چه څنګه مونږ په هغے باندے باران راوورَوو نو حرکت کښں راشی او تازه شی او پوکه شی

اِنَّ الَّذِيْٓ اَحْيَاهَا لَمُحْيِ الْمَوْتٰى ؕ اِنَّهٗ عَلٰى كُلِّ

بیشکه | هغه ذات | چه راژوندۍ ئے کړه دا | خامخاژوندی کوونکے | د مړو دے | بیشکه هغه | په هر یو

حقیقت دا دے چه کوم ذات دا زمکه ژوندۍ (تازه) کړه هم هغه مړو لره ژوندی کوونکے دے یقیناً هغه په هر

شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ يُلْحِدُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِنَا لَا يَخْفَوْنَ

څیز | قادر دے | بیشکه | هغه کسان | چه کاږه روان دی | په آیتونو زمونږ کښې | نه شی پټیدې لے

څه قادر دے. یقیناً کوم خلق چه زمونږ د آیتونو په باره کښې کږه لاره اختیاروی (الحاد کوی) هغوی زمونږ نه پټیدے نه شی

عَلَيْنَا ؕ اَفَمَنْ يُّلْقٰى فِي النَّارِ خَيْرٌ اَمْ مَّنْ يَّاْتِيْٓ

زمونږ نه | آیا نو هغه څوک | چه غورځولی (په) شی | په اور کښې | غوره دے | یا | هغه څوک | چه راځی په

آیا هغه کس چه اور ته به غورځولے کیږی هغه ډیر غوره دے که هغه څوک چه د قیامت په ورځ به

اٰمِنًا يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اِعْمَلُوْا مَا شِئْتُمْ ۙ اِنَّهٗ بِمَا

امن والا | په ورځ | د قیامت | عمل کوئ | څه چه | ستاسو خوښه وی | بیشکه هغه (الله) | د هغه څه

په امن راشی، ښه زه چه څه مو خوښه وی کوئ خو یقین اوکړئ چه الله تعالیٰ

تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِالذِّكْرِ لَمَّا

چه تاسو ئے کوئ | ښه لیدونکے دے | بیشکه | هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | په ذکر (قرآن) باندے | هرکله چه

ستاسو عملونه ښه وینی یقیناً (هغه خلقو ډیر بد کړی دی) چا چه د نصیحت د کتاب نه انکار کړے دے کله چه

جَآءَهُمْ ۚ وَاِنَّهٗ لَكِتٰبٌ عَزِيْزٌ ۝ۙ لَّا يَاْتِيْهِ الْبَاطِلُ

راغے دوی ته | او بیشکه دا | خامخا یو کتاب دے | عزتمن | نشی راتلے دے ته | باطل

هغه دوی ته راغے او (حالانکه) هغه ډیر عزتمن کتاب دے (چه) باطل خبره ورته نه د وړاندے نه راتلے شی

مِنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهٖ ؕ تَنْزِيْلٌ مِّنْ حَكِيْمٍ

(نه) د وړاندے د دے نه | او نه د وروستو د دے نه | رالیږلے شوے دے | د طرفه د حکمت والا

او نهٔ د وروستو نه. د هغه ذات طرف نه رالیږلے شوے چه ډیر حکمت والا (او) د صفتونو حقدار ذات دے.

حَمِيْدٍ ۝ مَا يُقَالُ لَكَ اِلَّا مَا قَدْ قِيْلَ لِلرُّسُلِ

ستائلی شوی نه | نه ویلی کیږی | تا ته | مگر | هغه څه | چه یقیناً | ویلی شوی وو | پیغمبرانو ته

(اے پیغمبره!) تا ته چه کومے خبرے کیږی هغه ستا نه مخکښے هم پیغمبرانو ته شوے وے

مِنْ قَبْلِكَ ؕ اِنَّ رَبَّكَ لَذُوْ مَغْفِرَةٍ وَّذُوْ عِقَابٍ اَلِيْمٍ ۝

مخکښے ستا نه | بیشکه | رب ستا | د بخښنے والا دے | او عذاب (ورکولو) والا دے | دردناک

یقین اوساته چه ستا رب بخښنه کوونکے هم دے او سخت عذاب ورکوونکے هم دے.

وَلَوْ جَعَلْنٰهُ قُرْاٰنًا اَعْجَمِيًّا لَّقَالُوْا لَوْلَا فُصِّلَتْ

اوکه چیرے | مونږ جوړ کړے وے دا | قرآن | په عجمي ژبه | نو خامخا وئیل به دوي | (چه) ولے نه دي واضح کړې شوي

او که چیرے مونږ دا قرآن په عجمي ژبه کښې نازل کړے وے نو دے خلقو به ضرور دا وئیل چه د دے آیتونه صفا صفا

اٰيٰتُهٗ ؕ ءَاَعْجَمِيٌّ وَّعَرَبِيٌّ ؕ قُلْ هُوَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

آیتونه د دے | آیا (کتاب) عجمي دے | او (پیغمبر) عربي دے | او وایه | دا | د هغه خلقو دپاره | چه ایمان ئے راوړے دے

ولے نه دي بیان شوي؟ (دا لا څنګه خبره ده) چه قرآن دے عجمي وي او پیغمبر دے عربي وي؟ ته ورته او وایه چه

هُدًى وَّشِفَآءٌ ؕ وَالَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ فِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرٌ

هدایت | او شفاء ده | او هغه کسان | چه ایمان نه راوړي | په غوږونو د هغوي کښې | دروندوالے دے

کوم خلق ایمان راوړي دا د هغوي دپاره هدایت او شفاء ده او څوک چه ایمان نه راوړي د هغوي په غوږونو کښې بوج دے

وَّهُوَ عَلَيْهِمْ عَمًى ؕ اُولٰٓئِكَ يُنَادَوْنَ مِنْ مَّكَانٍۭ

او دا | په هغوي باندے | ړوندوالے دے | دغه خلق دي | چه آواز ورته کولے شي | د ځائے

او دا قرآن په هغوي باندے حُجت دے او دا خلق (د حق د اوریدو باوجود داسے دي لکه چه) د ډیر لرے ځائے نه ورته

بَعِيْدٍ ۧ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ فَاخْتُلِفَ فِيْهِ ؕ

لرے نه | او یقینًا | مونږ ورکړے وو | موسیٰ ته | کتاب | نو اختلاف کړے شوے وو | په هغے کښې (هم)

آواز کیږي او (اے نبیؐ ستا نه مخکښې) مونږ موسیٰ ته هم کتاب ورکړے وو نو د هغے په باره کښې (هم داسے) اختلاف شوے وو

وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ لَقُضِيَ

او که چیرے نه وے | خبره (فیصله) | مقرر شوے د مخکښې نه | ستا د رب د طرف نه | نو خامخا فیصله به شوے وه

او که چیرے ستا د رب د طرف نه یوه نیته د مخکښې نه مقرر شوے نه وے نو د دوي په مینځ کښې به

بَيْنَهُمْ ؕ وَاِنَّهُمْ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيْبٍ ۝

د دوي په مینځ کښې | او بیشکه دوي | خامخا دي په شک کښې | د دے نه | په پوخ شک کښې

فیصله شوے وه او یقینًا دوي د دے قرآن په باره کښې په پوخ شک کښې (اخته) دي۔

مَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ اَسَآءَ

چا چه | عمل او کړو | نیک | لو د خپل ځان دپاره (ئے دي) | او چا چه | او کړه بدي

څوک چه نیک کار کوي نو د خپل ځان د فائدے دپاره ئے کوي او څوک چه بد کار (ګناه) کوي

فَعَلَيْهَا ؕ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ۝

نو (نقصان ئے) هم په ده دے | او نه دے ستا رب | (هیڅ) ظلم کوونکے | په بندګانو |

نو نقصان به ئے هم هغه ته رسي او ستا رب په (خپلو) بندګانو (معمولي) ظلم (هم) نه کوي۔

اِلَیۡهِ یُرَدُّ عِلۡمُ السَّاعَةِ ؕ وَمَا تَخۡرُجُ مِنۡ ثَمَرٰتٍ

خاص هغه ته | واپس کولے شي | عِلم | د قیامت | او نه راوځي | هیڅ میوے

د ټول مخلوق د طرف نه د قیامت د علم حواله صرف په الله بانډے ور کولے شي او صرف د هغهٔ په علم سره میوے

مِّنۡ اَکۡمَامِهَا وَمَا تَحۡمِلُ مِنۡ اُنۡثٰی وَلَا تَضَعُ اِلَّا بِعِلۡمِهٖ ؕ

د کخوړو خپلو نه | او نه اخلی حمل | هیڅ یوه زنانه | او نهٔ زیږوی (هغه) (بچی لرم) | مګر | په علم د هغهٔ سره

د خپلو غلافونو نه راوځي او یوه ماده حمل اخلي او بچے زیږوی (بل د هیڅ چا په دے کارونو بانډے تفصیل علم نشته)

وَیَوۡمَ یُنَادِیۡهِمۡ اَیۡنَ شُرَکَآءِیۡ ۙ قَالُوۡۤا اٰذَنّٰکَ ۙ

او په هغه ورځ | چه آواز به او کړی هغه دوی ته | (چه) چرته دی | شریکان زما؟ | او به وائي دوی | خبر در کوو مونږ تاته

او په کومه ورځ به چه الله مشرکانو ته آواز او کړی چه ستاسو په خیال کښ زما هغه شریکان چرته دی؟ نو هغوی به او وائي چه (اے الله) مونږ

مَا مِنَّا مِنۡ شَهِیۡدٍ ﴿ۚ۴۷﴾ وَضَلَّ عَنۡهُمۡ مَّا کَانُوۡا

چه نشته دے زمونږ نه | هیڅ څوک گواه (د دے خبرے) | او ورک به شي | د دوی نه | هغه شریکان | چه دوی به

خوتاته هم دا عرض کوو چه په مونږ کښ هیڅ څوک د دے خبرے گواهي کوونکے نشته او د دے نه مخکښے به چه کوم خدایان را بلل

یَدۡعُوۡنَ مِنۡ قَبۡلُ وَظَنُّوۡا مَا لَهُمۡ مِّنۡ مَّحِیۡصٍ ﴿۴۸﴾

را بلل | پخوا (د دے نه) | او گمان به او کړی دوی | چه نشته دے | د دوی د پاره | څه ځائے د تیښتے

هغه به تر ے (دا سے) ورک شي (چه هیڅ پته به ئے نه لګی) او دوی به یقین او کړی چه (اوس) د خلاصی هیڅ لار نشته

لَا یَسۡـَٔمُ الۡاِنۡسَانُ مِنۡ دُعَآءِ الۡخَیۡرِ ۫ وَاِنۡ مَّسَّهُ الشَّرُّ

نه ستړی کیږی | انسان | د غوښتلو | د خیر نه | او که چرے | اورسیږی دهٔ ته | تکلیف

د (بعضے) انسان دا حال دے چه د خیر په غوښتلو نه ستړی کیږی او چه کله ورته څه تکلیف ورسی

فَیَـُٔوۡسٌ قَنُوۡطٌ ﴿۴۹﴾ وَلَئِنۡ اَذَقۡنٰهُ رَحۡمَةً مِّنَّا مِنۡۢ بَعۡدِ

نو (بیا) مایوسه | نا امیده وی | او که چرے | او څکوو مونږ دهٔ ته | څه مهربانی | د خپل طرف نه | پس

نو بیا دا سے مایوس شي چه هر امید پریږدی او کوم تکلیف چه ورته رسیدلے وو که د هغے نه پس پرے

ضَرَّآءَ مَسَّتۡهُ لَیَقُوۡلَنَّ هٰذَا لِیۡ ۙ وَمَاۤ اَظُنُّ

د (هغه) تکلیف نه | چه رسیدلے وو دهٔ ته | نو خامخا دے وائي | چه دا (خو) | زما (حق) دے | او زهٔ گمان نه کوم

مونږ د خپل رحمت څهٔ مزه او څکوو نو بیا وائي چه دا خو زما حق وو او زهٔ دا خیال نه کوم

السَّاعَةَ قَآئِمَةً ۙ وَّلَئِنۡ رُّجِعۡتُ اِلٰی رَبِّیۡۤ اِنَّ لِیۡ

په قیامت بانډے | قائمیدونکے | او که چرے | زهٔ واپس کړے شوم | رب خپل ته | (نو) بیشکه | وی به زما د پاره

چه قیامت به (لا هم) راشي او که بالفرض زهٔ خپل رب طرف ته واپس بوتللے شوم نو زما یقین دے چه

عِنْدَهٗ لَلْحُسْنٰى ۚ فَلَنُنَبِّئَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِمَا

د هغه سره | خوشحالي | پس خامخا مونږ به خبر کړو | هغه کسان | چه کفر ئې کړے دے | په هغه څه

د هغه سره به هم ما ته خوشحالي ضرور ملاويږي پس مونږ به کافرانو ته ضرور د هغوي د ټولو

عَمِلُوْا ۡ وَلَنُذِيْقَنَّهُمْ مِّنْ عَذَابٍ غَلِيْظٍ ۝٥٠ وَاِذَآ اَنْعَمْنَا

چه دوي کړي دي | او خامخا مونږ به اوڅکوو دوي ته | د عذاب | ډير سخت نه | او کله چه | انعام او کړو مونږ

عملونو خبر ورکوو او ډيو سخت عذاب مزه به ورته څکوو. او کله چه مونږ په (بعضې) انسان باندے

عَلَى الْاِنْسَانِ اَعْرَضَ وَنَاٰ بِجَانِبِهٖ ۚ وَاِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ

په انسان باندے | نو مخ واړوي | او لرے کړي اړخ خپل | او کله چه | اورسيږي ده ته | تکليف

څه احسان اوکړو نو مخ واړوي او ډډه اوکړي او کله چه ورته څه تکليف ورسي

فَذُوْ دُعَآءٍ عَرِيْضٍ ۝٥١ قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كَانَ

نو ښي خاوند د دعاء | پلنے | او وايه | آيا خبر يئ تاسو | که چرے | وي دا (قرآن)

نو بيا بار بار پلنے دعا گانے غواړي (اے نبي! کافرانو ته) او وايه چه لږ دا راته او وايئ که چرے دا (قرآن)

مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ثُمَّ كَفَرْتُمْ بِهٖ مَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ

د طرفه | د الله نه | بيا | کفر کوئ تاسو | په دے باندے | (نو) څوک دے | زيات گمراه | د هغه چا نه

د الله د طرف نه راغلے وي (او) بيا تر دے هم تاسو انکار کوئ نو د هغه چا نه به زيات گمراه څوک وي

هُوَ فِيْ شِقَاقٍۭ بَعِيْدٍ ۝٥٢ سَنُرِيْهِمْ اٰيٰتِنَا فِي الْاٰفَاقِ

چه هغه | په مخالفت (دشمنئ) | لرے کښې وي | زر ده چه مونږ به اوښايو دوي ته | نخښے خپلے | په خوا وشا طرفونو کښې

چه په مخالفت کښې ډير لرے وتلے وي؟ مونږ به ډير زر دوي ته خپل دليلونه د قدرت د عالم په اطرافو کښې هم اوښايو

وَفِيْٓ اَنْفُسِهِمْ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ اَنَّهُ الْحَقُّ ۭ اَوَلَمْ يَكْفِ

او په نفسونو د دوي کښې | تر دے | چه ښه ښکاره شي | دوي ته | چه بيشکه دا | حق دے | آيا نه دی کافي

او د دوي په نفسونو کښې هم تر دے پورے چه دوي ته به دا خبره ښه واضحه شي چه دا قرآن واقعي حق دے

بِرَبِّكَ اَنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ۝٥٣ اَلَآ اِنَّهُمْ فِيْ مِرْيَةٍ

رب ستا | چه بيشکه هغه | په هر څيز | گواه دے | خبردار | بيشکه دوي | په شک کښې دي

آيا ستا د رب دا صفت کافي نه دے چه هغه په هر څيز باندے حاضر ناظر دے؟ ياد ساتئ چه دا خلق

مِّنْ لِّقَآءِ رَبِّهِمْ ۭ اَلَآ اِنَّهٗ بِكُلِّ شَيْءٍ مُّحِيْطٌ ۝٥٤ ع

د ملاقات | د رب خپل نه | خبردار | بيشکه هغه | هر څيز باندے | احاطه کوونکے دے

د خپل رب سره د مخامخ کيدو په باره کښې په شک کښې پراته دي ياد ساته چه هغه هر څيز لره په خپل علم کښې راګيروونکے دے

آیاتها [۵۳] | **سورة الشّوریٰ مکیّة** | رکوعاتها [۵]

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

حٰمٓ ۞ ① عٓسٓقٓ ۞ ② كَذٰلِكَ یُوۡحِیۡۤ اِلَیۡكَ وَاِلَی الَّذِیۡنَ

حٰم | عٓسٓقٓ | دغه شان | وحی کوی | تا ته | او هغه خلقو ته

حٰم عٓسٓقٓ. (اے نبیؑ!) الله چه زورور (غالب) اوحکمت والا ذات دے هغه تا ته وحی رالیږی

مِنۡ قَبۡلِكَ ۙ اللّٰهُ الۡعَزِیۡزُ الۡحَكِیۡمُ ۞ ③ لَهٗ مَا

چه تا نه مخکښې وو | (هغه) الله | (چه) ډیر زورور | لوے حکمت والا دے | هم دهغه (په اختیار کښې) دی | هغه څه

پشان د مخکنو پیغمبرانو څه چه په آسمانونو کښې دی

فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الۡاَرۡضِ ؕ وَهُوَ الۡعَلِیُّ الۡعَظِیۡمُ ۞ ④

چه په آسمانونو کښې دی | او هغه څه | چه په زمکه کښې دی | او هم هغه دے | ډیر اوچت | ډیر لوے

او څه چه په زمکه کښې دی ټول دهغه (په اختیار کښې) دی او هم هغه ډیر اوچت ډیر لوے دے۔

تَكَادُ السَّمٰوٰتُ یَتَفَطَّرۡنَ مِنۡ فَوۡقِهِنَّ وَالۡمَلٰٓئِكَةُ یُسَبِّحُوۡنَ

نژدے دی | آسمانونه | چه اوچوی | د ډېره طرف خپل نه | او ملائکے | تسبیح وائی

داسے ښکاری چه د شرک د قباحت د وجے آسمانونه د ډېره نه اوچوی (خو څکه نه چوی چه) ملائک د خپل رب د حمد سره (سره

بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ وَیَسۡتَغۡفِرُوۡنَ لِمَنۡ فِی الۡاَرۡضِ ؕ اَلَاۤ اِنَّ

سره د حمد | د رب خپل نه | او بخښنه غواړه | دهغه چا دپاره | چه په زمکه (کښې) دی | خبردار | بیشکه

دهغه تسبیح وائی او د زمکے والو دپاره بخښنه غواړی یاد ساتئ چه هم

اللّٰهَ هُوَ الۡغَفُوۡرُ الرَّحِیۡمُ ۞ ⑤ وَالَّذِیۡنَ اتَّخَذُوۡا مِنۡ دُوۡنِهٖۤ

الله | هم هغه | ډیر بخښونکے | ډیر مهربان دے | او هغه کسان | چه جوړ کړی ئے دی | سوا دهغه نه

الله ډیر بخښونکے ډیر رحم کوونکے ذات دے۔ او چا چه د الله تعالیٰ نه سوا نور خدایان

اَوۡلِیَآءَ اللّٰهُ حَفِیۡظٌ عَلَیۡهِمۡ ۖ وَمَاۤ اَنۡتَ عَلَیۡهِمۡ

نور دوستان | الله دے | ساتنه کوونکے | په دوی بانذے | او نه ئے ته | په دوی بانذے

جوړ کړی دی الله په (په سبب د توفیق د توبے ور کولو) دهغوی ساتنه کوونکے دے او په تا بانذے دهغوی

بِوَكِیۡلٍ ۞ ⑥ وَكَذٰلِكَ اَوۡحَیۡنَاۤ اِلَیۡكَ قُرۡاٰنًا عَرَبِیًّا لِّتُنۡذِرَ

ذمه وار | او دغه شان | مونږ وحی کړے ده | تا ته | د قرآن | په عربئ ژبه کښې | (د دے دپاره) چه ته اویروے

هیڅ ذمه واری نشته. او دغه شان مونږ تا ته دا عربی قرآن د وحی په ذریعه رالیږلے دے چه ته د مرکزی کلی (مکے) والا

أُمَّ الْقُرٰى وَمَنْ حَوْلَهَا وَتُنْذِرَ يَوْمَ الْجَمْعِ

اصل د کلو لره | او هغه څوک | چه گیر چاپیره دهغې نه دي | او (چه) ته اویروې | د ورځ | د جمع کولو نه

او د هغې گیر چاپیره نور خلق د هغه ورځې نه خبردار کړې چه خلق به پکښې جمع کړے شي

لَا رَيْبَ فِيْهِ ؕ فَرِيْقٌ فِى الْجَنَّةِ وَفَرِيْقٌ فِى السَّعِيْرِ ۝

چه هیڅ شک نشته | په هغې کښې | یوه ډله به | په جنت کښې وي | او بله ډله به | په بل شوی اور کښې وي

چه د هغې په راتلو کښې هیڅ شک نشته، یوه ډله به جنت ته لاړه شي او بله ډله به جهنم ته لاړه شي

وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَهُمْ أُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلٰكِنْ يُّدْخِلُ

او که چرے | غوښتلے | الله | نو گرځولي به ئې دوی | ډله | یوه | لیکن | هغه داخلوي

او که چرے الله غوښتلے نو دا ټول (خلق) به ئې (په زور) یو جماعت کړي وے لیکن هغه چه

مَنْ يَّشَآءُ فِىْ رَحْمَتِهٖ ؕ وَالظّٰلِمُوْنَ مَا لَهُمْ مِّنْ وَّلِيٍّ

چا لره | چه او غواړي | په رحمت خپل کښې | او ظالمان (چه دي) | نشته | د هغوی دپاره | هیڅ څوک دوست

چا لره او غواړي نو په خپل رحمت کښې ئې داخلوي او د ظالمانو نۀ څوک دوست شته

وَّلَا نَصِيْرٍ ۝ أَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ أَوْلِيَآءَ ۚ فَاللّٰهُ هُوَ

او نۀ مددگار | آیا دوی جوړ کړي دي | سوا د هغۀ نه | نور دوستان | پس الله | هم هغه دے

او نۀ څوک مددگار، آیا دے خلقو د الله نه سوا نور دوستان (مددگاران) جوړ کړي دي؟ رښتیا خو دا دي

الْوَلِيُّ وَهُوَ يُحْيِ الْمَوْتٰى ؗ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ۝ ع

دوست (مددگار) | او هم هغه | ژوندي کوي به | مړي | او هم هغه دے | په هر څیز باندے | قدرت لرونکے

چه (د هر چا) کارساز (دوست) خو صرف الله دے او هم هغه به مړي ژوندي کوي او هم هغه په هر څیز قادر دے

وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيْهِ مِنْ شَىْءٍ فَحُكْمُهٗٓ إِلَى اللّٰهِ ؕ

او هغه | چه اختلاف کوئ تاسو | په هغې کښې | د څۀ څیز نه | او (حواله کړئ) فیصله د هغې | الله ته

او په کومه خبره کښې چه تاسو اختلاف کوئ نو د هغې فیصله هم الله ته حواله کړئ

ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبِّىْ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ۖۗ وَإِلَيْهِ أُنِيْبُ ۝ فَاطِرُ

دغه | الله | رب زما دے | هم په هغه | ما توکل کړے دے | او هم هغه ته | زۀ ور گرځم | (هغه) پیدا کوونکے

هم دغه الله زما رب دے هم په هغه ما توکل کړے دے او هم هغۀ ته زۀ رجوع کوم

السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ؕ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا

د آسمانونو | او د زمکے دے | پیدا کړي ئې دي | ستاسو دپاره | د نفسونو ستاسو نه | بیبیانې

هغه د آسمانونو او د زمکے پیدا کوونکے دے هغه ستاسو دپاره ستاسو د جنس نه جوړے پیدا کړي دي

وَّمِنَ الْأَنْعَامِ أَزْوَاجًا ۚ يَذْرَؤُكُمْ فِيْهِ ؕ لَيْسَ كَمِثْلِهٖ

او د څاروو نه (هم) | جوړے | هغه خورَوي تاسو | په دے (مکه) کښې | نشته دے | د هغه پشان

او د څاروو نې هم جوړے پیدا کړي دي هم په دے طریقه هغه ستاسو نسل خورَوي د هغه پشان

شَیۡءٌ ۚ وَهُوَ السَّمِیۡعُ الۡبَصِیۡرُ (١١) لَهٗ مَقَالِیۡدُ السَّمٰوٰتِ

هیڅ یو څیز | او هم هغه دے | اوریدونکے | لیدونکے | هم دهغه سره دي | کونجیانے | د آسمانونو

هیڅ یو څیز نشته او هم هغه هر څهٔ آوري هر څه ویني. د آسمانونو او د زمکے کونجیانے هم

وَالۡاَرۡضِ ۚ یَبۡسُطُ الرِّزۡقَ لِمَنۡ یَّشَآءُ وَیَقۡدِرُ ؕ اِنَّهٗ

او د زمکے | فراخه کوي | رزق | چالره چه (ئے) | اوغواړي | او تنګوي ئے | بیشکه هغه دے

دهغه (په قبضه کښې) دي (هم) هغه چه چالره اوغواړي رزق ورله فراخه کوي او (چالره چه اوغواړي) تنګوي ئے

بِکُلِّ شَیۡءٍ عَلِیۡمٌ (١٢) شَرَعَ لَکُمۡ مِّنَ الدِّیۡنِ مَا

په هر | څیز باندے | ښه پوهه | هغه مقرر کړي دي | ستاسو دپاره | د دین نه | هغه څهٔ

یقیناً هغه هر څیز ښه پیژني. هغه ستاسو دپاره د دینِ توحید هم هغه طریقه مقرر کړے ده د کوم

وَصّٰی بِهٖ نُوۡحًا وَّالَّذِیۡۤ اَوۡحَیۡنَاۤ اِلَیۡكَ وَمَا

چه وصیت ئے کړے وو | په هغے سره | نوحؑ ته | او هغه | چه مونږ وحی کړے ده | تا ته | او هغه څهٔ

دینِ توحید حکم ئے چه نوحؑ ته کړے وو او د کوم چه (اے نبی!) مونږ تا ته وحی کړے ده او د کوم

وَصَّیۡنَا بِهٖۤ اِبۡرٰهِیۡمَ وَمُوۡسٰی وَعِیۡسٰۤی اَنۡ اَقِیۡمُوا

چه مونږ وصیت کړے وو | په هغے سره | ابراهیمؑ | او موسٰیؑ | او عیسٰیؑ ته | چه قائم اوساتئ

حکم چه مونږ ابراهیمؑ، موسٰیؑ او عیسٰیؑ ته کړے وو (هغه دا) چه تاسو دین قائم کړئ

الدِّیۡنَ وَلَا تَتَفَرَّقُوۡا فِیۡهِ ؕ کَبُرَ عَلَی الۡمُشۡرِکِیۡنَ مَا

دین لره | او ډلے مهٔ جوړوئ | په دے کښې | ګران لګی | په مشرکانو باندے | هغه څه

او ډله بازي (تفرقه) پکښې مه کوئ. هم دا خبره مشرکانو ته ډیره ګرانه ښکاري کومے ته چه

تَدۡعُوۡهُمۡ اِلَیۡهِ ؕ اَللّٰهُ یَجۡتَبِیۡۤ اِلَیۡهِ مَنۡ یَّشَآءُ وَیَهۡدِیۡۤ

چه ته ئے رابلے دوی | هغے ته | الله | غوره کوي | خپل ځان ته | هغه څوک | چه اوغواړي | او لاربنائی

ته هغوی رابلے. د الله چه څوک خوښ شي نو د خپل ځان او د خپل دین دپاره ئے غوره کوي او هدایت

اِلَیۡهِ مَنۡ یُّنِیۡبُ (١٣) وَمَا تَفَرَّقُوۡۤا اِلَّا مِنۢ بَعۡدِ مَا

خپل طرف ته | هغه چا ته | چه را ګرځي | او دوی ډلے ډلے شوي نه وو | مګر | پس | د دینه

صرف هغه چا ته کوي چه څوک ور ګرځي هغهٔ ته. او دا خلق چه (په خپل مینځ کښې) ډلے ډلے شوي دي نو

جَآءَهُمُ الۡعِلۡمُ بَغۡیًۢا بَیۡنَهُمۡ ؕ وَلَوۡلَا کَلِمَةٌ

چه راغے دوی ته | علم | د دوے د ضد نه | په خپل مینځ کښې | او که چرے نه وے | خبره (فیصله)

د حق علم د راتلو نه پس په خپل مینځ کښې د ضد (دشمنۍ) د وجے شوي دي او که چرے ستا د رب د طرف نه

سَبَقَتۡ مِنۡ رَّبِّكَ اِلٰۤی اَجَلٍ مُّسَمًّی لَّقُضِیَ

مقرر د مخکے نه | ستا د رب د طرف نه | تر یو لیټے | مقرر ے پورے | نو خامخا فیصله به شوے وه

د یو مقرر وخت دپاره خبره (فیصله) د مخکښې نه شوے نه وے نو د دوي په مینځ کښې به (اوس)

بَیْنَهُمْ ؕ وَاِنَّ الَّذِیْنَ اُوْرِثُوا الْكِتٰبَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ

په مینځ د دوی کښې | او بیشکه | هغه کسان | چه میراث کښې ورکړے شو هغوی ته | کتاب | وروستو د دوی نه

فیصله شوے وه او د دوی نه وروستو چه کوم خلقو ته کتاب په میراث کښې پاتے شوے دے هغوی د هغه کتاب

لَفِیْ شَكٍّ مِّنْهُ مُرِیْبٍ (١٤) فَلِذٰلِكَ فَادْعُ ۚ وَاسْتَقِمْ

خامخا دی په شک کښې | د هغے (کتاب) نه | په کلک شک کښې | نو د دے (دین) دپاره | ته دعوت کوه | او ټینګ اوسه

په باره کښې په پوخ شک کښې پراته دی۔ پس (نو) (اے نبی) ته هم د دے خبرے (دین توحید) دعوت خلقو ته کوه

كَمَاۤ اُمِرْتَ ۚ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ ۚ وَقُلْ اٰمَنْتُ

لکه څنګه چه | حکم شوے دے تاته | او مه روانیږه | په خواهشاتو د دوی پسے | او وایه | (چه) ما ایمان راوړے دے

او څنګه چه درته حکم شوے دے هم دغسے په (دین) کلک اوسیږه او د دے خلقو خواهشاتو پسے مه ځه او وایه چه ما خو

بِمَاۤ اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنْ كِتٰبٍ ۚ وَاُمِرْتُ لِاَعْدِلَ

په هغه څه | چه رالیږلی دی | الله | د کتاب نه | او ماته حکم کړے شوے دے | چه زه انصاف او کړم

په (هر) هغه کتاب ایمان راوړے دے چه الله نازل کړے دے او ماته دا حکم شوے دے چه ستاسو په

بَیْنَكُمْ ؕ اَللّٰهُ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ ؕ لَنَاۤ اَعْمَالُنَا وَلَكُمْ

ستاسو په مینځ کښې | الله | رب زمونږ دے | او رب ستاسو دے | زمونږ دپاره | زمونږ عملونه دي | او ستاسو دپاره

مینځ کښې انصاف او کړم الله زمونږ هم رب دے او ستاسو هم رب دے مونږ ته په زمونږ د عملونو بدله ملاویږی

اَعْمَالُكُمْ ؕ لَا حُجَّةَ بَیْنَنَا وَبَیْنَكُمْ ؕ اَللّٰهُ یَجْمَعُ

ستاسو عملونه دي | نشته دے | هیڅ جګړه | زمونږ په مینځ کښې | او ستاسو په مینځ کښې | الله به | راجمع کړی

او تاسو ته به ستاسو د عملونو بدله ملاویږی زمونږ او ستاسو په مینځ کښې هیڅ جګړه (بحث) نشته. الله تعالیٰ به مونږ

بَیْنَنَا ۚ وَاِلَیْهِ الْمَصِیْرُ (١٥) ؕ وَالَّذِیْنَ یُحَآجُّوْنَ فِی اللّٰهِ

مونږ ټول | او خاص هغه ته | واپس (تلل) دی | او هغه کسان | چه جګړے کوی | د الله (په توحید) کښې

ټول راجمع کوی او هم د هغه خوا له د ټولو واپس تلل دی او کوم خلق چه د الله تعالیٰ په توحید کښې جګړے (بحثونه) کوی

مِنْۢ بَعْدِ مَا اسْتُجِیْبَ لَهٗ حُجَّتُهُمْ دَاحِضَةٌ

پس | د دے نه | چه قبولیت کړے شوے دے | د هغه | (نو) دلیل د دوی | باطل (کمزورے) دے

پس د دے نه چه د هغه د توحید دعوت منلے شوے دے د هغوی دلیلونه د هغوی د رب په نزد بیکاره (باطل) دی

عِنْدَ رَبِّهِمْ وَعَلَیْهِمْ غَضَبٌ وَّلَهُمْ عَذَابٌ شَدِیْدٌ (١٦)

په نزد | د رب د هغوی | او په هغوی باندے | غضب دے | او د هغوی دپاره | عذاب دے | ډیر سخت

او په هغوی باندے غضب دے او د هغوی دپاره ډیر سخت عذاب دے۔

اَللّٰهُ الَّذِیْۤ اَنْزَلَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ وَالْمِیْزَانَ ؕ وَمَا یُدْرِیْكَ

الله | هغه ذات دے | چه رالیږلے ئے دے | کتاب | په حقه | او تله (هم) | او ته څه خبر کړے

الله هغه ذات دے چه کتاب او میزان (قرآن) ئے په حقه نازل کړی دی او تاته څه پته ده

لَعَلَّ السَّاعَةَ قَرِیۡبٌ ﴿۱۷﴾ یَسۡتَعۡجِلُ بِهَا الَّذِیۡنَ لَا یُؤۡمِنُوۡنَ
کیدے شي | چه قیامت | نزدے وي | زر غواړي | دا (قیامت) | هغه کسان | چه ایمان نه راوړي
کیدے شي چه قیامت نزدے وي۔ کوم خلق چه په قیامت ایمان نه راوړي
بِهَا ۚ وَالَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا مُشۡفِقُوۡنَ مِنۡهَا ۙ وَیَعۡلَمُوۡنَ
په دے | او هغه کسان | چه ایمان ئے راوړے دے | هغوی یریدونکی دي | د دے نه | او هغوی پوهیږي (په دے)
هغوی ئے زر غواړي او چا چه ایمان راوړے دے هغوی د قیامت د راتلو نه یریږي او په دے پوهیږي
اَنَّهَا الۡحَقُّ ؕ اَلَاۤ اِنَّ الَّذِیۡنَ یُمَارُوۡنَ فِی السَّاعَةِ
چه بیشکه دا | حق دے | خبردار | بیشکه | هغه کسان | چه جګړے کوي | د قیامت په باره کښې
چه دا حق دی خبر شئ کوم خلق چه د قیامت په باره کښې جګړے (بحثونه) کوي
لَفِیۡ ضَلٰلٍۭ بَعِیۡدٍ ﴿۱۸﴾ اَللّٰهُ لَطِیۡفٌۢ بِعِبَادِهٖ یَرۡزُقُ مَنۡ
هغوی دي په ګمراهئ | لرے کښې | الله | (پوره) مهربان دے | په بندګانو خپلو | رزق ورکوي | چا ته
هغوی په ګمراهئ کښې ډیر لرے تلی دی. الله په خپلو بندګانو ډیر مهربان دے هغه چه چا لره او غواړي
یَّشَآءُ ۚ وَهُوَ الۡقَوِیُّ الۡعَزِیۡزُ ﴿۱۹﴾ مَنۡ کَانَ یُرِیۡدُ حَرۡثَ ع
چه او غواړي | او هغه | ډیر طاقتور | ډیر غالب دے | څوک چه | وي | چه غواړي | فصل
رزق ورکوي او هم هغه ډیر طاقتور ډیر غالب دے. څوک چه په خپل نیک عمل سره د آخرت فصل غواړي
الۡاٰخِرَةِ نَزِدۡ لَهٗ فِیۡ حَرۡثِهٖ ۚ وَمَنۡ کَانَ یُرِیۡدُ
د آخرت | (نو) مونږ به زیات کړو | د هغه دپاره | په فصل د هغهٔ کښې | او څوک چه | وي | چه غواړي
مونږ به د هغه دپاره د هغه په فصل کښې اضافه کوو او څوک چه صرف د دنیا فصل غواړي
حَرۡثَ الدُّنۡیَا نُؤۡتِهٖ مِنۡهَا وَمَا لَهٗ فِی الۡاٰخِرَةِ
فصل | د دنیا | نو مونږ به ورکړو هغه ته | د دے نه | او نه به وي | د هغه دپاره | په آخرت کښې
نو مونږ به هغه ته هم د هغے (دنیا) نه څه ورکړو او په آخرت کښې به د هغه هیڅ حصه نه وي.
مِنۡ نَّصِیۡبٍ ﴿۲۰﴾ اَمۡ لَهُمۡ شُرَکٰٓؤُا شَرَعُوۡا لَهُمۡ مِّنَ الدِّیۡنِ
څه برخه | آیا شته (دے) د دوی دپاره | شریکان | چه هغوی مقرر کړی دی | د دوی دپاره | د دین نه
آیا د دے خلقو دا سے شریکان شته (دے) چه دا سے دین ئے ورله جوړ کړے دے
مَا لَمۡ یَاۡذَنۡۢ بِهِ اللّٰهُ ؕ وَلَوۡلَا کَلِمَةُ الۡفَصۡلِ
هغه څه | چه حکم نه دے کړے | په هغے باندے | الله | او که چرے نه وے | خبره | د فیصلے (مقرر)
چه الله د هغے اجازت نه دے ورکړے؟ او که چرے (د الله د طرف نه) (د مهلت ورکولو) فیصله نه وے شوے
لَقُضِیَ بَیۡنَهُمۡ ؕ وَاِنَّ الظّٰلِمِیۡنَ لَهُمۡ عَذَابٌ
نو فیصله به کړے شوے وے | د دوی په مینځ کښې | او بیشکه | ظالمان | د دے هغوی دپاره | عذاب
نو د دوی په مینځ کښې به فیصله (اوس) شوے وه او یقین او کړئ چه د ظالمانو دپاره ډیر دردناک عذاب (تیار) دے

اَلِیْمٌ ﴿۲۱﴾ تَرَی الظّٰلِمِیْنَ مُشْفِقِیْنَ مِمَّا كَسَبُوْا وَهُوَ

دردناک | ته به وینې | ظالمان | (چه) یَرېدونکی (به وی) | د هغه څه نه | چه دوی کړی دی | او هغه به

(په هغه وخت به) ته اووینې چه ظالمان به د خپلو عملونو (د وبال) نه یَرېدی (خو) هغه به

وَاقِعٌ بِهِمْ ؕ وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

راپرېوتونکی وی | په دوی باندې | او هغه کسان | چه ایمان ئې راوړې دې | او عملونه ئې کړی دی | نیک

خامخا (ضرور) په دوی راپرېوتونکی وی او چا چه ایمان راوړې دې او نیک عملونه ئې کړی دی

فِیْ رَوْضٰتِ الْجَنّٰتِ ۚ لَهُمْ مَّا یَشَآءُوْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ

په باغیچو | د جنتونو کښې به وی | وی به د دوی دپاره | هغه څه | چه دوی به ئې غواړی | د خپل رب سره

هغوی به د جنتونو په باغیچو کښې وی هغوی ته به د خپل رب سره هر هغه څه ملاوېږی چه هغوی به ئې غواړی

ذٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِیْرُ ﴿۲۲﴾ ذٰلِكَ الَّذِیْ یُبَشِّرُ اللّٰهُ

هم دا | دې | فضل | ډېر لوې | دا | هغه څیز دې | چه زېرې ورکوی (د دې) | الله

هم دا ډېر لوئ فضل دې۔ دا هم هغه څیز (انعام) دې چه د هغې زېرې الله تعالیٰ

عِبَادَهُ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ؕ قُلْ

بندګانو خپلو ته | هغه (بندګان) | چه ایمان ئې راوړې دې | او عملونه ئې کړی دی | نیک | او وایه

خپلو هغه بندګانو ته ورکوی چه ایمان ئې راوړې دې او نیک عملونه ئې کړی دی (اے نبیؐ! کافرانو ته) او وایه

لَّاۤ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَیْهِ اَجْرًا اِلَّا الْمَوَدَّةَ فِی الْقُرْبٰی ؕ وَمَنْ

زه نه غواړم ستاسو نه | په دې | څه اجر (بدله) | مګر | مینه | د خپلولۍ | او چا چه

چه زه تاسو نه په دې (دعوت) هیڅ اجر (بدله) نه غواړم مګر د خپلولۍ د محبت (لحاظ خو اوکړئ)

یَّقْتَرِفْ حَسَنَةً نَّزِدْ لَهٗ فِیْهَا حُسْنًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ

او کړه | څۀ نیکی | نو زیات به کړو مونږ | دۀ لره | په هغې کښې | ښائست | بېشکه | الله دې

او څوک چه نیکی اوکړی مونږ به ورله په نیکۍ کښې ښائست زیات کړو یقین اوکړئ چه الله تعالیٰ

غَفُوْرٌ شَكُوْرٌ ﴿۲۳﴾ اَمْ یَقُوْلُوْنَ افْتَرٰی عَلَی اللّٰهِ كَذِبًا ۚ فَاِنْ

ډېر بخښونکې | ډېر قدردان | آیا دوی وائی | چه ده تړلی دی | په الله باندې | دروغ | نو که چرې

ډېر بخښونکې ډېر قدردان د عمل دې آیا دا خلق وائی چه دې (پېغمبر) په الله باندې دروغ تړلی دی

یَّشَاِ اللّٰهُ یَخْتِمْ عَلٰی قَلْبِكَ ؕ وَیَمْحُ اللّٰهُ الْبَاطِلَ وَیُحِقُّ

اوغواړی | الله | تو مهر به اووهی | په زړۀ ستا | او ورانه به کړی | الله | باطل | او ثابت به کړی

حالانکه که الله تعالیٰ اوغواړی تو (اے نبیؐ!) ستا په زړه به مهر اولګوی (که چرته تا دروغ تړلی وې) او الله تعالیٰ باطل ختموی

الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ ؕ اِنَّهٗ عَلِیْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۲۴﴾ وَهُوَ

حق لره | په خپلو کلمو سره | بېشکه هغه | (ښه) پوهه دې | په رازونو | د سینو | هم (الله)

او په خپلو کلمو سره حق ثابتوی یقیناً هغه د سینو پټ رازونه ښه پېژنی۔

الَّذِىْ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهٖ وَيَعْفُوْا عَنِ السَّيِّاٰتِ

هغه ذات دے | چه قبلوي | توبه | د بندګانو خپلو | او معافي کوي | د بدو (ګناهونو)

او الله هم هغه ذات دے چه د خپلو بندګانو توبه قبلوي او ګناهونه معاف کوي

وَيَعْلَمُ مَا تَفْعَلُوْنَ ۝٢٥ وَيَسْتَجِيْبُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

او پوهيږي | په هغه څه | چه تاسو ئے کوئ | او هغه قبلوي (عمل) | د هغه کسانو | چه ايمان ئے راوړے دے

او تاسو چه څه کوئ هغه ټول الله پيژني. او چا چه ايمان راوړے دے

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَيَزِيْدُهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ؕ وَالْكٰفِرُوْنَ

او عملونه کوي | نيک | او زياتے ورکوي هغوي لره | د فضل خپل نه | او کافران

او نيک عملونه کوي الله د هغوي دعاګانے قبلوي او په خپل فضل ورله زيات (اجر) ورکوي او د کافرانو دپاره

لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ۝٢٦ وَلَوْ بَسَطَ اللّٰهُ الرِّزْقَ

د هغوي دپاره | عذاب دے | ډير سخت | او که چرے | فراخه کړے وے | الله | رزق

ډير سخت عذاب دے او که چرے الله تعالىٰ د خپلو (ټولو) بندګانو رزق فراخولے

لِعِبَادِهٖ لَبَغَوْا فِى الْاَرْضِ وَلٰكِنْ يُّنَزِّلُ بِقَدَرٍ

دپاره د بندګانو خپلو | نو ضرور به هغوي سرکشي کړے وے | په زمکه کښ | ليکن | رالیږي الله | په اندازه

نو ضرور به هغوي په زمکه کښ فساد (سرکشي) کولے ليکن هغه (الله) چه څومره غواړي په هغه اندازه

مَّا يَشَآءُ ؕ اِنَّهٗ بِعِبَادِهٖ خَبِيْرٌ بَصِيْرٌ ۝٢٧ وَهُوَ الَّذِىْ

څومره چه | غواړي | بيشکه هغه | په بندګانو خپلو | په خبردار | ښه ليدونکے دے | او هم الله | هغه ذات دے

رزق رالیږي يقيناً الله تعالىٰ په خپلو بندګانو پوره خبردار ليدونکے ذات دے. او هم الله هغه ذات دے چه

يُنَزِّلُ الْغَيْثَ مِنْۢ بَعْدِ مَا قَنَطُوْا وَيَنْشُرُ رَحْمَتَهٗ ؕ

چه راوروي | باران | وروستو د دے نه | چه نااميده شوي وي دوي | او خوروي | رحمت خپل

د خلقو د نا اميده کيدو نه پس باران راوروي او خپل رحمت خوروي

وَهُوَ الْوَلِىُّ الْحَمِيْدُ ۝٢٨ وَمِنْ اٰيٰتِهٖ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ

او هم هغه دے | کارساز | د صفتونو مستحق | او بعضے د هغه د نخښو د قدرت نه | پيدا کول | د آسمانونو

او هم هغه کارساز او د صفتونو (تعريفونو) مستحق دے. او د هغه د قدرت په نخښو کښ آسمانونه

وَالْاَرْضِ وَمَا بَثَّ فِيْهِمَا مِنْ دَآبَّةٍ ؕ وَهُوَ

او د زمکے دي | او هغه څه | چه خواره کړي ئے دي | په د دواړو کښ | د ژوندي سرو نه | او هغه

او زمکه پيدا کول دي او هغه ساه والا څيزونه هم چه په د دواړو کښ ئے خواره کړي دي او هغه چه

عَلٰى جَمْعِهِمْ اِذَا يَشَآءُ قَدِيْرٌ ۝٢٩ وَمَآ اَصَابَكُمْ مِّنْ مُّصِيْبَةٍ ع

په راجمع کولو د دوي | چه کله ئے | او غواړي | قادر دے | او هغه | چه او رسيږي تاسو ته | څه مصيبت

کله او غواړي نو د دوي په راجمع کولو قادر دے او په تاسو چه څه (قسم) مصيبت هم راځي

فَبِمَا كَسَبَتْ اَيْدِيْكُمْ وَيَعْفُوْا عَنْ كَثِيْرٍ ۝٣٠

نو(هغه وي)په وجه دهغه(عمل) | چه کسب کړي وي | لاسونو ستاسو | او هغه معاف کوي | د ډيرو (ګناهونو)

نو هغه ستاسو د خپلو عملونو نتيجه وي او ډير ګناهونه خو (درته) الله معاف کوي

وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ فِى الْاَرْضِ ۚ وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ

او نه يئ تاسو | عاجزه کوونکی (الله لره) | په زمکه کښې | او نشته ستاسو دپاره | سوا د الله نه

او تاسو په زمکه کښې (الله) عاجزه (کمزورے) کولے نه شئ او د الله نه سوا ستاسو

مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ۝٣١ وَمِنْ اٰيٰتِهِ الْجَوَارِ فِى الْبَحْرِ

څوک دوست | او نه څوک مددګار | او بعضے دهغه دنخښو نه | روانے کشتۍ دي | په درياب کښې

نه څوک دوست شته او نه څوک مددګار. او دهغه دقدرت په نخښو کښې دغرونو پشان کشتۍ دي په درياب کښې

كَالْاَعْلَامِ ۝٣٢ اِنْ يَّشَاْ يُسْكِنِ الرِّيْحَ فَيَظْلَلْنَ رَوَاكِدَ

پشان دغرونو | که چرے | هغه اوغواړي | نو او به دروي | هوا | نو شي به هغه (کشتۍ) | ولاړے

که چرے هغه اوغواړي نو هوا به اودروي چه په هغے سره به دا کشتۍ د درياب په شا ولاړے پاتے شي

عَلٰى ظَهْرِهٖ ۗ اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ۝٣٣

په شا دَدے(درياب) | بيشکه | په دے کښې | خامخا نخښے دي | دپاره د هر | صبر کوونکی | شکر کوونکی

يقيناً په دے کښې د هر صبر کوونکی (او) شکر کوونکی دپاره دَ عبرت نخښے دي

اَوْ يُوْبِقْهُنَّ بِمَا كَسَبُوْا وَيَعْفُ عَنْ كَثِيْرٍ ۝٣٤ وَّيَعْلَمَ

يا به هغه تباه کړي دا کشتۍ | په سبب دهغه څه | چه هغوي کسب کړي دي | او معاف کوي | د ډيرو (ګناهونو) | او (چه) پوهه شي

يا (که هغه اوغواړي) نو دا کشتۍ به د خلقو د بعضو عملونو په وجه تباه کړي او د ډيرو ګناهونو نه الله معاف کوي او کوم خلق

الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِىْٓ اٰيٰتِنَا ۗ مَا لَهُمْ مِّنْ مَّحِيْصٍ ۝٣٥

هغه کسان | چه جګړے کوي | په آيتونو زمونږ کښې | نشته دے | دهغوي دپاره | هيڅ ځائے د تختيدلو

چه زمونږ په آيتونو کښې جګړے (بحثونه) کوي چه هغوي ته پته اولګي چه دهغوي دپاره د خلاصۍ هيڅ ځای نشته.

فَمَآ اُوْتِيْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ فَمَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ

پس هغه څه | چه درکړي شوي دي تاسو ته | څه څيز | نو (هغه خو) فائده | د ژوند | دُنيوي ده

غرض دا چه تاسو ته چه څه درکړے شوي دي هغه (ټول) د دنيا د ژوند سامان دے

وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

او هغه څه | چه دالله سره دي | (هغه) ډير ښه | او پاتے کيدونکی دي | دهغه کسانو دپاره | چه ايمان ئے راوړے دے

او څه چه د الله سره دي هغه دهغه چا دپاره ډير غوره او باقي پاتے کيدونکی دي چه ايمان ئے راوړے دے

وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ۝٣٦ وَالَّذِيْنَ يَجْتَنِبُوْنَ كَبٰٓئِرَ الْاِثْمِ

او په خپل رب باندے | توکل کوي | او هغه کسان | چه ځان بچ کوي | د غټو | ګناهونو نه

او په خپل رب باندے توکل کوي او کوم خلق چه د لويو ګناهونو

وَالۡفَوَاحِشَ وَاِذَا مَا غَضِبُوۡا هُمۡ یَغۡفِرُوۡنَ ۝۳۷ وَالَّذِیۡنَ

او د بے حیایئ نه | او کله چه | غصه شی دوی | نو دوی | معاف کوی | او هغه کسان

او د بے حیایئ نه ځان بچ کوی او کله چه غصه شی نو معاف کوی او کوم خلق

اسۡتَجَابُوۡا لِرَبِّهِمۡ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ ۪ وَاَمۡرُهُمۡ شُوۡرٰی

چه حکم قبلوی | د رب خپل | او قائموی | مونځ | او کار د هغوی | مشوره کول دی

چه د خپل رب خبره (حکم) منی او د مانځه پابندی کوی او خپل کارونه (معاملات) په خپل مینځ کښې

بَیۡنَهُمۡ ۪ وَمِمَّا رَزَقۡنٰهُمۡ یُنۡفِقُوۡنَ ۝۳۸ وَالَّذِیۡنَ اِذَاۤ

په خپل مینځ کښې | او د هغه څه نه | چه مونږ ورکړی دی هغوی ته | خرچ کوی | او هغه کسان | چه کله

په مشورے سره (پوره) کوی او مونږ چه ورته کوم رزق ورکړے دے د هغے نه څه حصه خرچ کوی او کوم خلق چه کله

اَصَابَهُمُ الۡبَغۡیُ هُمۡ یَنۡتَصِرُوۡنَ ۝۳۹ وَجَزٰٓؤُا سَیِّئَةٍ سَیِّئَةٌ

او رسیږی هغوی ته | زیاتے (ظلم) | (نو) هغوی | بدله اخلی | او بدله | د بدئ | بدی وی

ورباندے څه زیاتے اوشی نو خپله بدله اخلی او د بدئ بدله هم هغسے بدی کول دی

مِّثۡلُهَا ۚ فَمَنۡ عَفَا وَاَصۡلَحَ فَاَجۡرُهٗ عَلَی اللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ

په شان د هغے | پس چا چه | معاف اوکړه | او اصلاح ئے اوکړه | لو اجر د هغهٔ | په الله دے | بیشکه هغه

بیا هم چا چه معاف اوکړه او اصلاح ئے اوکړه نو د هغه اجر الله (په خپله) ذمه (اخستلے) دے یقیناً الله

لَا یُحِبُّ الظّٰلِمِیۡنَ ۝۴۰ وَلَمَنِ انۡتَصَرَ بَعۡدَ ظُلۡمِهٖ

نهٔ خوښوی | ظالمان | او چا چه | بدله واخستله | پس | د ظلم کیدو له په دهٔ باندے

ظالمان نه خوښوی او څوک چه (په خپل ځان باندے) د ظلم کیدو نه پس خپله بدله واخلی

فَاُولٰٓئِکَ مَا عَلَیۡهِمۡ مِّنۡ سَبِیۡلٍ ؕ ۝۴۱ اِنَّمَا السَّبِیۡلُ

نو هم دغه خلق | نشته | په دوی باندے | هیڅ ملامتیا | بیشکه | ملامتیا

نو په هغوی باندے هیڅ اِلزام نشته۔ اِلزام خو په هغه خلقو دے

عَلَی الَّذِیۡنَ یَظۡلِمُوۡنَ النَّاسَ وَیَبۡغُوۡنَ فِی الۡاَرۡضِ

په هغه کسانو ده | چه ظلم کوی | په خلقو باندے | او سرکشی کوی | په زمکه کښې

چه په خلقو باندے ظلم کوی او په زمکه کښې بِرناحقه (فساد) خوروی

بِغَیۡرِ الۡحَقِّ ؕ اُولٰٓئِکَ لَهُمۡ عَذَابٌ اَلِیۡمٌ ۝۴۲ وَلَمَنۡ

په ناحقه | هم دغه خلق | د دوی دپاره | عذاب دے | دردناک | او خامخا چا چه

هم دا سے خلقو دپاره دردناک عذاب دے۔

صَبَرَ وَغَفَرَ اِنَّ ذٰلِکَ لَمِنۡ عَزۡمِ الۡاُمُوۡرِ ۝۴۳ وَمَنۡ

صبر اوکړو | او بخښنه ئے اوکړه | نو بیشکه | دا | خامخا د همت (عزیمت) د کارونو نه دی | او هغه څوک

او (بیا هم) چا چه د صبر نه کار واخستلو او معاف ئے اوکړه نو دا د ډیر لوے همت خبره ده او څوک چه

يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ وَّلِيٍّ مِّنْۢ بَعْدِهٖ ؕ وَتَرَى

چه گمراه (ـــ) کړی | الله | نو نشته | دهغه دپاره | هیڅ څوک دوست | پس دهغه نه | او ته به وینې

الله تعالیٰ گمراه کړی نو بیا د الله نه پس دهغه هیڅ څوک مددګار (دوست) نشته او کله چه

الظّٰلِمِيْنَ لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ يَقُوْلُوْنَ هَلْ اِلٰى مَرَدٍّ

ظالمان | کله چه | اووینی هغوی | عذاب لره | (لو) وائی به | آیا شته | واپس تلو ته

ظالمان عذاب اووینی نو ته به ـــ اووینې چه دا به وائی چه آیا د واپس تلو څه لار شته؟

مِّنْ سَبِيْلٍ ۝٤٤ وَتَرٰىهُمْ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا خٰشِعِيْنَ

څه لار | او ته به اووینې دوی | (چه) پیش کولی به شی | په اور باندے | سرونه خکته کوونکی به وی

او ته به دوی اووینې چه دوزخ ته به دا سے پیش (مخامخ) کړے شی چه د ذلت د وجے نه به ـــ سرونه ټیټ کړی وی

مِنَ الذُّلِّ يَنْظُرُوْنَ مِنْ طَرْفٍ خَفِيٍّ ؕ وَقَالَ الَّذِيْنَ

د وجے د ذلت نه | گوری به دوی | په نظر کمزوری سره | او وائی به | هغه کسان

(او) د سترګو په ګوټونو به ګوری او مومنان به اووائی چه

اٰمَنُوْٓا اِنَّ الْخٰسِرِيْنَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ

چه ایمان ـــ ئې راوړے دے | (چه) بیشکه | پوره تاوانیان | هم هغه کسان دی | چه تاوان ـــ ئې کړے دے | ځانونو خپلو ته

واقعی اصل تاوان کښی خو هغه خلق پاتے شول چا چه خپل ځانونه او کور والا

وَاَهْلِيْهِمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اَلَآ اِنَّ الظّٰلِمِيْنَ فِيْ عَذَابٍ

او کورنی خپلے ته | په ورځ | د قیامت | خبردار | بیشکه | ظالمان به وی | په عذاب

(بال بچ) د قیامت په ورځ په تاوان کښی واچول یاد ساتئ چه ظالمان خلق به په دا سے عذاب کښی وی

مُّقِيْمٍ ۝٤٥ وَمَا كَانَ لَهُمْ مِّنْ اَوْلِيَآءَ يَنْصُرُوْنَهُمْ

همیشه کښی | او نه به وی | دوی دپاره | هیڅ څوک (دا سے) دوستان | چه مدد او کړی د دوی (سره)

چه هغه به همیشه وی او د دوی به هیڅ څوک دا سے مددګار نه وی چه د الله نه سوا ـــ

مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ سَبِيْلٍ ۝٤٦

سوا | د الله نه | او هغه څوک | چه گمراه ـــ کړی | الله | پس نشته | دهغه دپاره | څه لار

څه مدد او کړی او څوک چه الله تعالیٰ گمراه (ـــ) کړی دهغه دپاره د هدایت (د خلاصی) هیڅ لار نشته۔

اِسْتَجِيْبُوْا لِرَبِّكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ

قبول کړئ (حکمونه) | د رب خپل | مخکښې د دے نه چه راشی | (هغه) ورځ | چه نشته واپس کیدل

اے خلقو! د خپل رب حکم (خبره) د هغے ورځے د راتلو نه مخکښې مخکښې او منئ چه د الله د طرف نه

لَهٗ مِنَ اللّٰهِ ؕ مَا لَكُمْ مِّنْ مَّلْجَاٍ يَّوْمَئِذٍ وَّمَا لَكُمْ

دهغے | د الله د طرف نه | نشته | ستاسو دپاره | څه ځائے د پناه | په دغه ورځ | او نهٔ به وی | ستاسو دپاره

دهغے واپس کیدل نشته په هغه ورځ به نه ستاسو دپاره د پناه څه ځائے وی او نهٔ به څه انکار کولے شئ

مِّنۡ نَّكِيۡرٍ ۝ فَاِنۡ اَعۡرَضُوۡا فَمَاۤ اَرۡسَلۡنٰكَ عَلَيۡهِمۡ حَفِيۡظًا ؕ

څه انکار | پس که چرې | مخ اړوي دوی | تو نه يې راليږلے موږ ته | په دوي باندې | نګهبان

(اے پيغمبره!) که چرې دا خلق (بيا هم) مخ اړوي نو موږ (خو) ته په دوي باندې څه نګران نه يې مقرر کړې

اِنۡ عَلَيۡكَ اِلَّا الۡبَلٰغُ ؕ وَاِنَّاۤ اِذَاۤ اَذَقۡنَا الۡاِنۡسَانَ مِنَّا

نشته | په تا باندې | مګر | رسول | او بيشکه موږ | چه کله | او څکوو | انسان ته | د خپل طرف نه

ستا په ذمه خو صرف پيغام (احکام) رسول دي او (د انسان حال دا دے چه) کله موږ انسان ته د خپل طرف نه د رحمت

رَحۡمَةً فَرِحَ بِهَا ۚ وَاِنۡ تُصِبۡهُمۡ سَيِّئَةٌ ۢ بِمَا

څه مهرباني | نو دے خوشحاله شي | په هغې باندې | او که چرې | اورسيږي دوی ته | څه تکليف | په وجه د هغه څه

خوند او څکوو نو په هغې باندې خوشحاله (غاوره) شي او که دا سې خلقو ته د خپلو عملونو د وجې څه مصيبت اورسيږي

قَدَّمَتۡ اَيۡدِيۡهِمۡ فَاِنَّ الۡاِنۡسَانَ كَفُوۡرٌ ۝ لِلّٰهِ مُلۡكُ

چه مخکښے ليږلي دي | لاسونو د دوي | نو بيشکه | انسان | ډير ناشکره دے | خاص د الله | بادشاهي د ه

نو بيا هم دغه انسان ډير ناشکره وي. د (ټولو)

السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُ ؕ يَهَبُ لِمَنۡ

د آسمانونو | او د زمکے | هغه پيدا کوي | (هغه) څه | چه غواړي (يې) | ورکوي | چا ته چه

آسمانونو او د زمکے بادشاهي (صرف) د الله ده. هغه چه څه غواړي پيدا کوي يې. چا لره

يَّشَآءُ اِنَاثًا وَّيَهَبُ لِمَنۡ يَّشَآءُ الذُّكُوۡرَ ۝ اَوۡ يُزَوِّجُهُمۡ

اوغواړي | جينکۍ | او ورکوي | چا ته چه | اوغواړي | هلکان | يا جوړه ورکوي دوی ته

چه اوغواړي جينکۍ (لونړه) ورکوي او چالره چه اوغواړي هلکان ورکوي يا ورله

ذُكۡرَانًا وَّاِنَاثًا ۚ وَيَجۡعَلُ مَنۡ يَّشَآءُ عَقِيۡمًا ؕ اِنَّهٗ عَلِيۡمٌ

هلکان | او جينکۍ | او کړي | چالره | چه اوغواړي | شنړ | بيشکه هغه | ښه پوهه

هلکان او جينکۍ (جوړه جوړه) ورکوي او چالره چه اوغواړي نو شنړ ئې (پاتې) کړي يقيناً هغه ښه پوهه

قَدِيۡرٌ ۝ وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ اَنۡ يُّكَلِّمَهُ اللّٰهُ اِلَّا وَحۡيًا

قدرت والا دے | او نه دي ممکن | د يو بشر د پاره | چه خبرے او کړي د هغه سره | الله | مګر | په وحي سره

(پوره) قدرت والا دے او د هيڅ يو انسان د پاره دا ممکن نه دي چه الله تعالیٰ ورسره مخامخ خبرے او کړي مګر دا چه يا خو دوحي په

اَوۡ مِنۡ وَّرَآئِ حِجَابٍ اَوۡ يُرۡسِلَ رَسُوۡلًا فَيُوۡحِىَ بِاِذۡنِهٖ

يا | وروستو | د پردے نه | يا راوليږي هغه | يو ملک | نو هغه وحي اوکړي | په حکم د هغه (الله)

ذريعه بغير د واسطې د ملک نه زړه ته پيغام ورکړي يا د پردے شاته يا ورته يو ملک (فرشته) راوليږي نو هغه ورته د هغه خوښې وحي راوړي

مَا يَشَآءُ ؕ اِنَّهٗ عَلِىٌّ حَكِيۡمٌ ۝ وَكَذٰلِكَ اَوۡحَيۡنَاۤ

څه چه | هغه غواړي | بيشکه هغه | ډير اوچت | د حکمت والا (ذات) دے | او دغه شان | وحي کړے ده موږ

څه چه د الله تعالیٰ خوښه وي يقيناً هغه ډير اوچت شان والا لوے حکمت والا دے او دغه شان موږ په خپل حکم

إِلَيْكَ رُوحًا مِّنْ أَمْرِنَا ۚ مَا كُنتَ تَدْرِي مَا الْكِتَابُ

تاته | د روح (قرآن) | په خپل حکم سره | نه وې ته | چه پوهیدلې | چه څه دې | کتاب

تاته د یو روح وحی کړې ده تا خو نه کتاب پیژندلو

وَلَا الْإِيمَانُ وَلَٰكِن جَعَلْنَاهُ نُورًا نَّهْدِي بِهِ مَن

او نه ایمان | لیکن | جوړ کړو مونږ دا (قرآن) | یو رڼا | چه هدایت کوو مونږ | په دې سره | چا ته

اونه دې تفصیلي ایمان پیژندلو لیکن مونږ دا قرآن یو رڼا جوړه کړې ده چه دې په ذریعه په خپلو بندګانو کښې

نَّشَاءُ مِنْ عِبَادِنَا ۚ وَإِنَّكَ لَتَهْدِي إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٥٢﴾

چه اوغواړو | د خپلو بندګانو نه | او بیشکه ته | هدایت کوې | په طرف د لارې | سمې (نیغې)

چه چاته اوغواړو نو سمه لار ورته ښایو (هدایت کوو) او په دې کښې هیڅ شک نشته چه ته (خلقو ته) سمه لار ښایې

صِرَاطِ اللَّهِ الَّذِي لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا

(چه هغه) لار | د الله (ده) | هغه (الله) | چه د هغه (دپاره) دی | هغه څه | چه په آسمانونو کښې دی | او هغه څه

چه (هغه) د هغه الله لار ده چه د آسمانونو او د زمکې د هر څه مالک دې.

ع فِي الْأَرْضِ ۗ أَلَا إِلَى اللَّهِ تَصِيرُ الْأُمُورُ ﴿٥٣﴾

چه په زمکه کښې دی | خبردار | خاص الله ته | واپس کیږي به | ټول کارونه

خبر شئ چه ټول کارونه (معاملات) په الله ته واپس کیږي.

آیاتها [٨٩]	سورة الزخرف مكية	رکوعاتها [٧]

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکې دې (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دې او خاص مهربان دې شروع کوم.

حم ﴿١﴾ وَالْكِتَابِ الْمُبِينِ ﴿٢﴾ إِنَّا جَعَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا

حٰم | قسم دې په کتاب | وضاحت کوونکي باندې | بیشکه | جوړ کړې دې مونږ دا | قرآن | عربي (ژبه کښې)

حٰم. قسم دې په (دې) واضحه کتاب باندې یقیناً مونږ دا د عربي ژبې قرآن جوړ کړې دې

لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٣﴾ وَإِنَّهُ فِي أُمِّ الْكِتَابِ لَدَيْنَا لَعَلِيٌّ

دې دپاره چه تاسو | پوهه شئ | او بیشکه دا قرآن دې | په اصل | د کتابونو کښې | زمونږ سره | خامخا ډیر اوچت

(دې دپاره) چه تاسو د عقل نه کار واخلئ او حقیقت دا دې چه دا زمونږ سره په لوح محفوظ کښې ډیر اوچتې درجې والا

حَكِيمٌ ﴿٤﴾ أَفَنَضْرِبُ عَنكُمُ الذِّكْرَ صَفْحًا أَن كُنتُمْ

د حکمتونو نه ډک دې | آیا مونږ واړوو | (دا) نصیحت | ستاسو نه | په اړولو سره | په دې (وجه) | چه تاسو یئ

(او) د حکمت نه ډک کتاب دې آیا مونږ ستاسو نه دا نصیحت په دې وجه واړوو او نازلول ئې پریږدو چه تاسو

قَوْمًا مُّسْرِفِيْنَ ﴿٥﴾ وَكَمْ اَرْسَلْنَا مِنْ نَّبِيٍّ فِي الْاَوَّلِيْنَ ﴿٦﴾

يو قوم | د حد نه اوړيدونكي | او ډېر | ليږلي دي مونږ | پيغمبران | په ورومبنو خلقو كښې

د حد نه اوړيدلي خلق يئ؟ او مونږ په پخوانو خلقو كښې ډېر (ډېر) پيغمبران ليږلي وو

وَمَا يَأْتِيْهِمْ مِّنْ نَّبِيٍّ اِلَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٧﴾

او نه به راتلو هغوي ته | هيڅ يو پيغمبر | مگر | هغوي به وو | په دهٔ پورې | چه ټوقې به ئې كولې

او هغوي ته هيڅ يو پيغمبر داسې نه وو راغلے چه هغوي ورپورې ټوقې نه وې كړې

فَاَهْلَكْنَآ اَشَدَّ مِنْهُمْ بَطْشًا وَّمَضٰى مَثَلُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٨﴾

نو هلاك كړل مونږ | زيات سخت | د هغوي نه | په طاقت كښې | او تېر شويدے | مثال (لمونه) | د ورومبنو

پس (بيا) كوم خلق چه په هغوي كښې زورور وو هغه مونږ هلاك كړل او د پخوانو خلقو مثالونه (لمونې) (خو) تېر شوے دي

وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

او كه چرې | ته تپوس اوكړې د دوي نه | (چه) چا | پيدا كړي دي | آسمانونه | او زمكه

او كه چرې ته د دې (مشركانو) نه تپوس اوكړې چه دا ټول آسمانونه او زمكه چا پيدا كړي دي؟

لَيَقُوْلُنَّ خَلَقَهُنَّ الْعَزِيْزُ الْعَلِيْمُ ﴿٩﴾ الَّذِيْ جَعَلَ

(نو) خامخا به دوي وائي | چه پيدا كړي دا (ټول) | ډېر زورور | ښه پوهه ذات | هغه (ذات) | چه جوړه كړې ئې ده

نو دوي به ضرور هم دا وائي چه دا هغه ذات پيدا كړي دي چه ډېر زورور ښهٔ پوهه دے هغه (الله)

لَكُمُ الْاَرْضَ مَهْدًا وَّجَعَلَ لَكُمْ فِيْهَا سُبُلًا

ستاسو د پاره | زمكه | فرش | او جوړې كړې ئې دي | ستاسو د پاره | په هغې كښې | لارې

چه زمكه ئې ستاسو د پاره فرش (جوړه) كړې ده او په هغې كښې ئې ستاسو د پاره لارې جوړې كړې دي

لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿١٠﴾ وَالَّذِيْ نَزَّلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً

د دې د پاره چه تاسو | لار بيا مومئ | او هغه (ذات) | چه راوروله ئې دي | د آسمان نه | اوبه

چه تاسو (پرے) خپل منزل ته اورسيږئ او هغه (الله) چه په يو خاص اندازه ئې اوبه راوروله دي

بِقَدَرٍ ۚ فَاَنْشَرْنَا بِهٖ بَلْدَةً مَّيْتًا ۚ كَذٰلِكَ تُخْرَجُوْنَ ﴿١١﴾

په (يوه) اندازه | نو راژوندي كړيدې مونږ | په هغې سره | ښار | مړ (وچ) | د غه شان به | تاسو (هم) راويستلې شئ

بيا مونږ د هغې په ذريعه اوچه زمكه تازه كړې ده د غه شان به تاسو هم (د قبرونو نه) راوويستلې شئ

وَالَّذِيْ خَلَقَ الْاَزْوَاجَ كُلَّهَا وَجَعَلَ لَكُمْ مِّنَ الْفُلْكِ

او هغه ذات | چه پيدا كړي ئې دي | جوړې | ټولې | او جوړې كړې ئې دي | ستاسو د پاره | د كشتو

او هغه (الله) چه هر قسم جوړې ئې پيدا كړي دي او تاسو د پاره ئې هغه كشتۍ

وَالْاَنْعَامِ مَا تَرْكَبُوْنَ ﴿١٢﴾ لِتَسْتَوٗا عَلٰى ظُهُوْرِهٖ ثُمَّ

او څاروونه | هغه څه | چه تاسو (پرې) سورلي كوئ | (د دې د پاره) چه تاسو برابر شئ | په شاگانو د هغې | بيا

او څاروي پيدا كړي دي چه تاسو پرې سورلي كوئ د دې د پاره چه تاسو د هغې په شا ټينگ (برابر) كيني بيا

تَذْكُرُوْا نِعْمَةَ رَبِّكُمْ اِذَا اسْتَوَيْتُمْ عَلَيْهِ وَتَقُوْلُوْا

یاد کړئ تاسو | نعمت | د رب خپل | کله چه | تاسو برابر کېنئ | په هغې باندې | او ووایئ تاسو

کله چه ور باندې سوارۀ شئ نو (چه) د الله نعمت را یاد کړئ او دا ووایئ چه موږ

سُبْحٰنَ الَّذِيْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهٗ مُقْرِنِيْنَ ﴿۱۳﴾

(چه) پاکي ده | هغه ذات لره | چه تابع کړې ئې دی | زموږ دپاره | دا | او نه وو موږ | دې لره | قابو کوونکي

پاکي وایو د هغه ذات چه دا سورلۍ ئې زموږ تابع کړې ده ګنې زموږ خو دومره همت نه وو چه دا موږ په قابو کښې راوستلې وه

وَاِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ ﴿۱۴﴾ وَجَعَلُوْا لَهٗ مِنْ عِبَادِهٖ

او بیشکه موږ | رب خپل ته | خامخا واپس کیدونکي یو | او دوی جوړه کړې ده | د هغهٔ دپاره | د بندګانو د هغهٔ نه

او یقینًا موږ خپل رب طرف ته واپس تلونکي یو او دې (مشرکانو) د الله تعالیٰ په بندګانو کښې د هغه دپاره

جُزْءًا ؕ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَكَفُوْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۵﴾ؕ اَمِ اتَّخَذَ مِمَّا

حصه | بیشکه | انسان دې | خامخا ډیر ناشکره | ښکاره | آیا هغه نیولې دي | د هغه څه نه

یو جزء مقرر کړې دې یقینًا انسان ښکاره ناشکره دې۔ آیا الله تعالیٰ په مخلوق کښې د ځان دپاره

يَخْلُقُ بَنٰتٍ وَّاَصْفٰكُمْ بِالْبَنِيْنَ ﴿۱۶﴾ وَاِذَا بُشِّرَ اَحَدُهُمْ

چه پیدا کړې ئې دي | لوڼړه | او غوره کړي ئې تاسو | په ځامنو سره | او کله چه | زیرې ورکړې شي | یو تن ته د دوی نه

(خو) لوڼړه خوښې کړې دي او تاسو ئې په ځامنو غوره کړې یئ؟ حالانکه په دوی کښې چه کله یو کس ته

بِمَا ضَرَبَ لِلرَّحْمٰنِ مَثَلًا ظَلَّ وَجْهُهٗ مُسْوَدًّا وَّهُوَ

په هغه څه | چه دې ئې بیانوي | د رحمٰن دپاره | په مثال کښې | نو شي | مخ د دهٔ | تک تور | او وي دې

د هغه (لور) زیرې ورکړې شي چه د هغې نسبت الله ته کوي نو د ده مخ تک تور شي او ډیر غمژن وي

كَظِيْمٌ ﴿۱۷﴾ اَوَ مَنْ يُّنَشَّؤُا فِي الْحِلْيَةِ وَهُوَ فِي الْخِصَامِ

ډک د غم نه | آیا هغه څوک | چه پالل شي | په کالو کښې | او هغه | په جګړه (بحث) کښې

آیا (الله د اسې کمزورې اولاد ځان دپاره غوره کړې دي) څوک چه په ډول او سنګار کښې پالل شي او په وخت د جګړه

غَيْرُ مُبِيْنٍ ﴿۱۸﴾ وَجَعَلُوا الْمَلٰٓئِكَةَ الَّذِيْنَ هُمْ عِبٰدُ

نه وي | ښکاره کوونکې (خپل مقصد لره) | او دوی ګڼړلي دي | ملائکې | هغه | چه هغوی | بندګان

(بحث) کښې خپله خبره هم صفا نه شي کولې؟ او دوی هغه ملائکې چه د رحمٰن بندګان دي

الرَّحْمٰنِ اِنَاثًا ؕ اَشَهِدُوْا خَلْقَهُمْ ؕ سَتُكْتَبُ شَهَادَتُهُمْ

د رحمٰن دي | زنانه | آیا دوی حاضر شوي دي | پیدائش د هغوی ته | زر ده چه او به لیکلې شي | بیان د دوی

زنانه ګڼړلي دي آیا دوی د هغوی د پیدائش په وخت کښې موجود وو؟ زر ده چه (عنقریب) د دوی دا بیان به او لیکلې شي

وَيُسْـَٔلُوْنَ ﴿۱۹﴾ وَقَالُوْا لَوْ شَآءَ الرَّحْمٰنُ مَا عَبَدْنٰهُمْ ؕ

او دوی نه به تپوس او کړې شي | او وائي دوی | که چرې | غوښتلې | رحمٰن | نو موږ به عبادت نه وو کړې د دوی

او د دوی نه به د دې بې دلیله خبرې تپوس کیږي او دوی وائي که چرې رحمٰن غوښتلې نو موږ به د دې (ملائکو) عبادت نه وې کړې

مَا لَهُمۡ بِذٰلِكَ مِنۡ عِلۡمٍ ۚ اِنۡ هُمۡ اِلَّا یَخۡرُصُوۡنَ ۝٢٠

نشته ددوی سره | په دے باندے | هیڅ علم | نه دی دوی | مګر | په توک خبرے کوی

حالانکه دوی سره په دے خبرے هیڅ دلیل نشته (خو) صرف په اټکل باندے روان دی۔

اَمۡ اٰتَیۡنٰهُمۡ كِتٰبًا مِّنۡ قَبۡلِهٖ فَهُمۡ بِهٖ مُسۡتَمۡسِكُوۡنَ ۝٢١

آیا مونږ ور کړے دے دوی ته | مخکے د دے نه | یو کتاب | چه دوی | په هغے باندے | منګولے لګونکی دی

آیا مونږ دوی ته ددے (قرآن) نه مخکښې څه کتاب ور کړے دے چه دوی په هغهٔ سره دلیل نیوونکی دی

بَلۡ قَالُوۡۤا اِنَّا وَجَدۡنَاۤ اٰبَآءَنَا عَلٰۤی اُمَّةٍ وَّاِنَّا

(نه) بلکه | دوی وائی | چه بیشکه مونږ | موندلی دی | پلار نیکه خپل | په یوه طریقه باندے | او بیشکه مونږ

نه بلکه دوی (خو) دا وائی چه مونږ خپل پلار نیکه په یوه طریقه موندلی دی

عَلٰۤی اٰثٰرِهِمۡ مُّهۡتَدُوۡنَ ۝٢٢ وَكَذٰلِكَ مَاۤ اَرۡسَلۡنَا مِنۡ قَبۡلِكَ

د هغوی په نقش قدم | لاره موندونکی یُو | او دغه شان | نه دی لیږلی مونږ | مخکښې ستا نه

او مونږ هم د هغوی په نقش قدم باندے روان یُو او (اے نبی!) مونږ چه ستا نه مخکښې (کله هم)

فِیۡ قَرۡیَةٍ مِّنۡ نَّذِیۡرٍ اِلَّا قَالَ مُتۡرَفُوۡهَاۤ ۙ اِنَّا وَجَدۡنَاۤ

په یو کلی کښې | څوک یَروونکے | مګر | وئیل به | مالداره خلقو د هغے | چه بیشکه مونږ | موندلی دی

په یو کلی کښې یو یَروونکے پیغمبر لیږلے دے نو د هغے مالدارو خلقو به هم دا خبره په دلیل کښې پیش کوله چه مونږ

اٰبَآءَنَا عَلٰۤی اُمَّةٍ وَّاِنَّا عَلٰۤی اٰثٰرِهِمۡ مُّقۡتَدُوۡنَ ۝٢٣ قٰلَ

پلار نیکه خپل | په یوه طریقه باندے | او بیشکه مونږ | د هغوی په قدمونو پسے | روان یُو | او به وئیل (پیغمبر)

خپل پلار نیکه په یوه طریقه موندلی دی او مونږ قدم په قدم د هغوی پسے روان یُو نو پیغمبر (به) ورته او وئیل: تاسو چه خپل پلار نیکه

اَوَلَوۡ جِئۡتُكُمۡ بِاَهۡدٰی مِمَّا وَجَدۡتُّمۡ عَلَیۡهِ اٰبَآءَكُمۡ ؕ

آیا اګر که ما راوړی وی تاسو ته | ښهٔ هدایت | د هغه څه نه | چه تاسو موندلی دی | په هغے باندے | پلار نیکه خپل

په کومه طریقه موندلی دی که ما تاسو ته د هغے نه (هم) غوره طریقه راوړے وی نو بیا به هم (تاسو په هغوی پسے روان یئ)؟

قَالُوۡۤا اِنَّا بِمَاۤ اُرۡسِلۡتُمۡ بِهٖ كٰفِرُوۡنَ ۝٢٤ فَانۡتَقَمۡنَا

او به وئیل هغوی | بیشکه مونږ | په هغه څه | چه تاسو را لیږلی شوی یئ | په هغے | کفر کوونکی یُو | پس مونږ بدله واخستله

هغوی (به) ورته او وئیل چه تاسو چه کوم پیغام راوړے دے مونږ هغه نه منو آخیر دا چه مونږ به د هغوی نه بدله واخستله

مِنۡهُمۡ فَانۡظُرۡ كَیۡفَ كَانَ عَاقِبَةُ الۡمُكَذِّبِیۡنَ ۝٢٥ وَاِذۡ قَالَ

د هغوی نه | نو اُوګوره | (چه) څنګه | شو | انجام | د دروغژن کوونکو | او کله چه | او وئیل

نو (اوس) اوګوره چه د تکذیب کوونکو انجام څنګه شو؟ او (هغه وخت هم د یادولو دے) کله چه

اِبۡرٰهِیۡمُ لِاَبِیۡهِ وَقَوۡمِهٖۤ اِنَّنِیۡ بَرَآءٌ مِّمَّا تَعۡبُدُوۡنَ ۝٢٦

ابراهیمؑ | خپل پلار ته | او خپل قوم ته | (چه) بیشکه زه | بیزاره یم | د هغه څه نه | چه تاسو (ئے) عبادت کوئ

ابراهیمؑ خپل پلار او خپل قوم ته او وئیل چه تاسو چه د چا عبادت کوئ زه د هغے نه بیزاره یم

إِلَّا الَّذِي فَطَرَنِي فَإِنَّهُ سَيَهْدِينِ ﴿٢٧﴾ وَجَعَلَهَا كَلِمَةً

مگر | هغه ذات | چه هغه پیدا کړے یم زه | پس بیشکه هغه | زر دے چه لاره به راښائی ماته | او او گرځوله الله دے لره | یو کلمه

سوا د هغه ذات نه چه زه ئے پیدا کړے یم بس هم هغه به ماته لار ښائی او هم دا خبره الله د هغه په اولاد کښ

بَاقِيَةً فِي عَقِبِهِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٢٨﴾ بَلْ مَتَّعْتُ هَٰؤُلَاءِ

باقی پاتے کیدونکے | په بچو د هغه کښ | دے دپاره چه دوی | او گرځی (توحید ته) | بلکه | ما فائدے ورکړے | دے خلقوته

(باقی) پاتے کړه (د دے دپاره) چه خلق (د شرک نه) رجوع اوکړی اصل خبره دا ده چه مونږ دے خلقوته

وَآبَاءَهُمْ حَتَّىٰ جَاءَهُمُ الْحَقُّ وَرَسُولٌ مُبِينٌ ﴿٢٩﴾ وَلَمَّا

او پلار نیکه د دوی ته | تردے | چه راغے دوی ته | حق | او رسول | ښکاره بیان کوونکے | او هر کله

او د دوی پلار نیکه ته د دونړ مزے (فائدے) ورکړے تر دے چه حق او صفا بیان کوونکے پیغمبر ورته راغے

جَاءَهُمُ الْحَقُّ قَالُوا هَٰذَا سِحْرٌ وَإِنَّا بِهِ كَافِرُونَ ﴿٣٠﴾

چه راغے دوی ته | حق | (نو) او ویل دوی | دا | جادو دے | او بیشکه مونږ | په دے | کفر کوونکی یو

او کله چه ورته حق راغے نو وئے ویل چه دا خو جادو دے او مونږ د دے نه انکار کوو

وَقَالُوا لَوْلَا نُزِّلَ هَٰذَا الْقُرْآنُ عَلَىٰ رَجُلٍ مِنَ الْقَرْيَتَيْنِ

او او ویل دوی | ولے نازل نه کړے شو | دا | قرآن | په یو سړی | د دوو کلو نه

او وے ویل چه دا قرآن د هغه دوو کلو (چه مکه او طائف دے) په یو مالداره سړی باندے ولے نازل نه کړے شو؟

عَظِيمٍ ﴿٣١﴾ أَهُمْ يَقْسِمُونَ رَحْمَتَ رَبِّكَ ۚ نَحْنُ قَسَمْنَا

(چه) لوئے (دے) | آیا دوی | تقسیموی | مهربانی | د رب ستا | مونږ | تقسیم کړی دی

آیا دوی (په) ستا د رب رحمت تقسیموی؟ (حالانکه) هم مونږ د دنیا په ژوند کښ

بَيْنَهُمْ مَعِيشَتَهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۚ وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ

په مینځ د دوی کښ | (سامان د) ژوند د دوی | په ژوند | دنیوی کښ | او مونږ پورته کړی دی | بعضے د دوی نه

د دوی رزق (د دوی د رزق اسباب) د دوی په مینځ کښ تقسیم کړی دی او په یو بل مو

فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ لِيَتَّخِذَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا سُخْرِيًّا ۗ

د پاسه | د بعضو نورو | په درجو کښ | (د دے دپاره) چه اونیسی | بعضے د دوی نه | بعضو لره | خدمتگاران

ورله درجے اوچتے کړی دی د دے دپاره چه دوی د یو بل نه کار (خدمت) واخلی

وَرَحْمَتُ رَبِّكَ خَيْرٌ مِمَّا يَجْمَعُونَ ﴿٣٢﴾ وَلَوْلَا أَنْ يَكُونَ

او مهربانی | د رب ستا | ډیره ښه ده | د هغه څه نه | چه دوی (ئے) راجمع کوی | او که چرے نه وے | (دا خبره) چه شی به

او دوی چه څه جمع کړی دی ستا د رب رحمت د هغے نه ډیر غوره دے او که چرے دا خبره نه وے

النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً لَجَعَلْنَا لِمَنْ يَكْفُرُ بِالرَّحْمَٰنِ

خلق | دله | یوه (په کفر) | نو ضرور به مونږ جوړ کړی وے | د هغه چا دپاره | چه کفر کوی | په رحمٰن

چه ټول خلق به په یوه طریقه (د کفر) روان شی نو د رحمٰن د منکرینو دپاره به مونږ

لِبُيُوتِهِمْ سُقُفًا مِّنْ فِضَّةٍ وَّمَعَارِجَ عَلَيْهَا يَظْهَرُونَ ﴿٣٣﴾

د کورونو دهغوی دپاره | چتونه | دسپینو زرو (نه) | او پوړۍ | چه په هغے باندے | دوی وړ ختېږی

دهغوی د کورونو چتونه هم دسپینو زرو نه جوړے کړی وو او هغه پوړۍ هم چه دوی پرے ختېږی

وَلِبُيُوتِهِمْ أَبْوَابًا وَّسُرُرًا عَلَيْهَا يَتَّكِئُونَ ﴿٣٤﴾ وَزُخْرُفًا

او دپاره د کورونو د دوی | دروازے | او تختونه هم | چه په هغے باندے | دوی تکیا لګوی | او سرۀ زر هم

او د دوی د کورونو دروازے هم او هغه تختونه هم چه دوی پرے آرام کوی او ورکړے به وو مونږه

وَإِنْ كُلُّ ذَٰلِكَ لَمَّا مَتَاعُ الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةُ

او نۀ دی | دا | ټول | مګر | فائده | د ژوند | دُنیوی | او آخرت

سرۀ زر هم او دا هر څه (خو) صرف د دنیا د ژوند (لږ غوندے) سامان دے او فائده دے د آخرت

ع عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُتَّقِينَ ﴿٣٥﴾ وَمَنْ يَّعْشُ عَنْ ذِكْرِ الرَّحْمَٰنِ

په نزد | درب ستا | د متقیانو دپاره دے | او څوک | چه پټے کړی سترګے | دَ نصیحت | د رحمٰن نه

ستا درب سره د متقیانو دپاره دی او څوک چه د رحمٰن د ذکر نه سترګے پټے کړی

نُقَيِّضْ لَهُ شَيْطَٰنًا فَهُوَ لَهُ قَرِينٌ ﴿٣٦﴾ وَإِنَّهُمْ لَيَصُدُّونَهُمْ

نو مونږ په مقرر کړو | په هغه باندے | شیطان | پس هغه به | دهغه دپاره | ملګرے | او بیشکه هغوی | خامخا منع کوی دوی لره

نو مونږ به په هغۀ باندے یو شیطان مسلط کړو نو هغه به د دۀ ملګرے شی او یقیناً دا شیطان دوی لره

عَنِ السَّبِيلِ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ مُّهْتَدُونَ ﴿٣٧﴾ حَتَّىٰ إِذَا

د لارے نه | او ګمان کوی دوی | چه بیشکه دوی | (سمه) لار موندونکی دی | تر دے | چه کله

د سمے لارے نه منع کوی او دوی ګمان کوی (ګڼی) چه دوی په سمه لار روان دی. تر دے چه دا سے کس کله

جَآءَنَا قَالَ يَٰلَيْتَ بَيْنِي وَبَيْنَكَ بُعْدَ الْمَشْرِقَيْنِ

راشی مونږ ته | نو وائی به | هائے ګرمان | چه وے په مینځ زما کښی | او په مینځ ستا کښی | لرے والے | دمشرق او دمغرب (هومره)

زمونږ خواته راشی نو بیا به (خپل شیطان ملګری ته) وائی چه کاش زما او ستا په مینځ کښی دمشرق او دمغرب فاصله وے

فَبِئْسَ الْقَرِينُ ﴿٣٨﴾ وَلَنْ يَّنْفَعَكُمُ الْيَوْمَ إِذْ ظَّلَمْتُمْ

پس ډیر بد | ملګرے ئے (ته) | او هیڅ کله به فائده ونکړی تاسو ته | نن ورځ | هر کله چه | تاسو ظلم کړے دے

(ځکه چه) ته ډیر خراب ملګرے وے او (دوی ته به اوویلی شی) هر کله چه تاسو (په دنیا کښی) ظلم کړے دے نو نن تاسو ته

أَنَّكُمْ فِي الْعَذَابِ مُشْتَرِكُونَ ﴿٣٩﴾ أَفَأَنْتَ تُسْمِعُ الصُّمَّ

(دا خبره) چه تاسو | په عذاب کښی | شریک یئ | آیا نو ته | آورولے شے | کڼرو ته

دا خبره هیڅ فائده نشی درکولے چه تاسو په عذاب کښی د یو بل سره شریک یئ نو بیا (اے نبی!) آیا ته کڼرو ته خپله خبره آورولے شے

أَوْ تَهْدِي الْعُمْىَ وَمَنْ كَانَ فِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٤٠﴾ فَإِمَّا

یا ته لار ښودلے شے | ړندو ته | او هغه چاته | چه وی هغه | په ګمراهئ | ښکاره کښی | پس که چرے

یا ړندو ته او هغه چاته سمه لار ښودلے شے چه په ښکاره ګمراهئ کښی پراته دی.

نَذۡهَبَنَّ بِكَ فَاِنَّا مِنۡهُمۡ مُّنۡتَقِمُوۡنَ ۝٤١ اَوۡ نُرِيَنَّكَ الَّذِىۡ

مونږ یوځو | تا | نو بیشکه مونږ | د دوی نه | بدله اخستونکی یُو | یا به مونږ اوښایو تا ته | هغه څه

نو اے پیغمبره! ته تسلی لره چه که چرے مونږ تا وفات کړو نو بیا به هم مونږ د دوی نه بدله (ضرور) اخلو یا به تا ته مونږ

وَعَدۡنٰهُمۡ فَاِنَّا عَلَيۡهِمۡ مُّقۡتَدِرُوۡنَ ۝٤٢ فَاسۡتَمۡسِكۡ

چه مونږ (ستا نه) وعده کړے ده د دوی سره | نو بیشکه مونږ | په دوی باندے | (ښه) قدرت لرونکی یُو | پس منګولے ولګوه

ستا په ژوند کښې هغه (عذاب) اوښایو د کوم چه مونږ د دوی سره وعده کړے ده ځکه چه مونږ په هر حال کښې په دوی باندے قابو لرونو

بِالَّذِىۡۤ اُوۡحِىَ اِلَيۡكَ‌ۚ اِنَّكَ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسۡتَقِيۡمٍ ۝٤٣

په هغه څه | چه وحی (ستا) کړے شوے ده | تا ته | بیشکه ته ئے | په لاره | نیغه باندے

(اے نبیؐ!) تا ته چه کومه وحی شوے ده هغه مضبوطه راونیسه کره یقیناً ته په سمه لار ئے

وَاِنَّهٗ لَذِكۡرٌ لَّكَ وَلِقَوۡمِكَ‌ۚ وَسَوۡفَ تُسۡــَٔلُوۡنَ ۝٤٤

او بیشکه دا (قرآن) | خامخا نصیحت دے | ستا دپاره (هم) | او ستا د قوم دپاره (هم) | او زر ده | چه تاسو نه به تپوس اوکړے شی

او حقیقت دا دے چه دا (وحی) ستا او ستا د قوم دپاره عزت (نصیحت) دے او ډیر زر به تاسو نه د دے (د حق) تپوس اوشی

وَسۡــَٔلۡ مَنۡ اَرۡسَلۡنَا مِنۡ قَبۡلِكَ مِنۡ رُّسُلِنَاۤ اَجَعَلۡنَا

او ته تپوس اوکړه | د هغه چا نه | چه مونږ لیږلی وو | ستا نه مخکښے | د خپلو پیغمبرانو نه | (چه) آیا مونږ جوړ کړی وو

او تا نه مخکښې چه مونږ څومره پیغمبران لیږلی دی د هغوی نه تپوس اوکړه چه آیا مونږ

مِنۡ دُوۡنِ الرَّحۡمٰنِ اٰلِهَةً يُّعۡبَدُوۡنَ ۝٤٥ ع وَلَقَدۡ اَرۡسَلۡنَا

سوا | د رحمٰن نه | (نور) خدایان | چه د هغوی عبادت کیدے شی | او یقیناً | مونږ لیږلے وو

د رحمٰن نه سوا نور خدایان مقرر کړی دی چه د هغوی دے عبادت اوشی؟ او یقیناً مونږ

مُوۡسٰى بِاٰيٰتِنَاۤ اِلٰى فِرۡعَوۡنَ وَمَلَا۟ئِهٖ فَقَالَ اِنِّىۡ رَسُوۡلُ

موسیٰؑ | په خپلو نخښو سره | فرعون | او د هغه سردارانو ته | نو هغه اُووئیل | چه بیشکه زهٔ | رسول

موسیٰؑ په خپلو نخښو سره فرعون او د هغه سردارانو ته لیږلے وو نو موسیٰؑ وئیل وو چه زهٔ

رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ۝٤٦ فَلَمَّا جَآءَهُمۡ بِاٰيٰتِنَاۤ اِذَا هُمۡ

د رب | د مخلوقاتو یم | پس هر کله | چه دے راغے هغوی ته | په نخښو زمونږ سره | نو دغه وخت | هغوی

د رب العالمین رالیږلے شوے پیغمبر یم (بیا) کله چه هغه زمونږ د نخښو سره دوی ته راغے

مِّنۡهَا يَضۡحَكُوۡنَ ۝٤٧ وَمَا نُرِيۡهِمۡ مِّنۡ اٰيَةٍ اِلَّا هِىَ اَكۡبَرُ

د هٔ پورے | خندا کوله | او مونږ به نهٔ ښودله دوی ته | څه نخښه | مګر | هغه به | لویه وه

لو دوی ورپورے خندا کانے شروع کړے او کومه نخښه به چه مونږ دوی ته ښودله هغه د مخکښې

مِنۡ اُخۡتِهَا‌ۚ وَاَخَذۡنٰهُمۡ بِالۡعَذَابِ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُوۡنَ ۝٤٨

د ملګرے خپلے نه | او مونږ راونیول دوی | په عذاب سره | د دے دپاره چه دوی | واپس شی

نخښے نه لویه وه او مونږ (دوی) په عذاب کښې راونیول د دے دپاره چه مونږ ته رجوع اوکړی

وَقَالُوْا یٰۤاَیُّهَ السّٰحِرُ ادْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ
او وویل دوی | اے | جادوګره! | دعاء او غواړه | زمونږ دپاره | درب خپل نه | په دے وجه | چه هغه لوظ کړے دے
او دوی دا او ویل چه اے جادوګره! ستا رب چه تا سره کوم لوظ کړے دے د هغے په وجه زمونږ دپاره
عِنْدَكَ ۚ اِنَّنَا لَمُهْتَدُوْنَ ۝۴۹ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ الْعَذَابَ
تا سره | بیشکه مونږ به | خامخا هدایت قبلونکی شو | پس هر کله | چه به مونږ لرے کړو | د دوی نه | عذاب
د خپل رب نه دعاء او غواړه یقیناً مونږ به په سمه لار راشو (خو) بیا کله به چه مونږ د دوی نه عذاب لرے کړو
اِذَا هُمْ یَنْكُثُوْنَ ۝۵۰ وَنَادٰی فِرْعَوْنُ فِیْ قَوْمِهٖ قَالَ
نو دغه وخت به | دوی | لوظ ماتولو | او آواز او کړو | فرعون | په قوم خپل کښ | و ئے ویل
نو په هغه وخت کښ به دوی خپل لوظ مات کړو او فرعون په خپل قوم کښ اعلان او کړو (او) و ئے ویل
یٰقَوْمِ اَلَیْسَ لِیْ مُلْكُ مِصْرَ وَهٰذِهِ الْاَنْهٰرُ تَجْرِیْ
اے زما قومه! | آیا نه دے | زما (دپاره) | حکومت | د مصر | او دا | نهرونه هم | بهیږی
چه اے زما قومه! آیا د مصر حکومت زما په قبضه کښ نه دے؟ او دا نهرونه چه زما (د حکم د)
مِنْ تَحْتِیْ ۚ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ ۝۵۱ اَمْ اَنَا خَیْرٌ مِّنْ هٰذَا الَّذِیْ
زما (د حکم د) لاندے؟ | آیا تاسو نه وینئ | آیا زهٔ | غوره یم | د دے کس | هغے نه
لاندے بهیږی (زما په قبضه کښ نه دی)؟ آیا تاسو (دا هر څه) وینئ نه؟ یا بیا دا و منئ چه زهٔ د هغه کس نه ډیر غوره یم
هُوَ مَهِیْنٌ ۙ وَّلَا یَكَادُ یُبِیْنُ ۝۵۲ فَلَوْلَاۤ اُلْقِیَ عَلَیْهِ
چه هغه | ذلیل دے | او نزدے نه دہ | چه ښکاره کړی (مقصد خپل) | پس ولے را او نه غورځولی شو | په دهٔ باندے
چه د هغه هیڅ عزت نشته او خپله خبره هم صفا (ښکاره) نه شی کولے (که چرے دے پیغمبر وے نو)
اَسْوِرَةٌ مِّنْ ذَهَبٍ اَوْ جَآءَ مَعَهُ الْمَلٰٓىِٕكَةُ مُقْتَرِنِیْنَ ۝۵۳
بالاهوګان (کړۍ) | د سرو زرو | یا ولے نه راغی | د دهٔ سره | ملائک | پیوست (ملګری)
په دهٔ باندے د سرو زرو بالاهوګان ولے نه دی اچولی شوی یا قطار په قطار فرښتے ورسره ولے رانغلے
فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهٗ فَاَطَاعُوْهُ ۭ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا فٰسِقِیْنَ ۝۵۴
پس دهٔ بیوقوف کړو | قوم خپل | نو هغوی خبره و منله دهٔ | بیشکه هغوی | وو | یو قوم | نافرمانه
غرض دا چه دهٔ (فرعون) خپل قوم بیوقوفه کړو او هغوی ئے خبره او منله حقیقت دا دے چه هغوی ټول فاسقان وو
فَلَمَّاۤ اٰسَفُوْنَا انْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَاَغْرَقْنٰهُمْ اَجْمَعِیْنَ ۝۵۵
پس هر کله | چه هغوی خفه کړو مونږ | نو مونږ بدله واخستله | د هغوی نه | نو غرق کړل مونږ هغوی | ټول
پس (بیا) هر کله چه هغوی مونږ خفه کړو نو مونږ ترے نه بدله واخستله او ټول مو غرق کړل
فَجَعَلْنٰهُمْ سَلَفًا وَّمَثَلًا لِّلْاٰخِرِیْنَ ۝۵۶ ع وَلَمَّا ضُرِبَ ابْنُ
پس او ګرځول مونږ هغوی | پیشوایان | او نمونه | د وروستنو دپاره | او هر کله چه | یاد کړے شی | ځوئے
او د نورو (راتلونکو) خلقو دپاره مو د عذاب نمونه او د عبرت واقعه جوړه کړه او کله چه د عیسٰی بن

مَرْيَمَ مَثَلًا اِذَا قَوْمُكَ مِنْهُ يَصِدُّوْنَ ۝۵۷ وَقَالُوْٓا

دمریمؑ | په مثال کښې | نو ناګهانه | ستا قوم | دهغه دوجې | شور کوی | او وائی دوی

مریمؑ د بندګۍ کړے په قرآن کښې په طور د مثال ذکر دوی کلو کړے شی نو دهغه وخت ستا قوم شور کوی چه وسے لے عیسیؑ ځوړ کړے شو سے الٰهه شو څه؟

ءَاٰلِهَتُنَا خَيْرٌ اَمْ هُوَ ۭ مَا ضَرَبُوْهُ لَكَ اِلَّا جَدَلًا ۭ

چه آیا زمونږ خدایان | ډیر غوره دی | یا هغه (عیسیؑ) | دوی نه بیانوی هغه لره | تا ته | مګر | د ضد دپاره

او دوی وائی چه آیا زمونږ خدا جوړ کړے شوی خدایان غوره دی که هغه (عیسیؑ) او دوی دا خبر ستا ته صرف د جګړے او د ضد په طور کوی

بَلْ هُمْ قَوْمٌ خَصِمُوْنَ ۝۵۸ اِنْ هُوَ اِلَّا عَبْدٌ اَنْعَمْنَا

بلکه | دوی | یو قوم دے | جګړه کوونکی | نه دے هغه | مګر | یو (داسے) بنده | چه مونږ احسان کړے وو

بلکه دا خلق هسے هم جګړه مار دی عیسیؑ خو بس زمونږ یو بنده وو چه مونږ پرے انعام کړے وو

عَلَيْهِ وَجَعَلْنٰهُ مَثَلًا لِّبَنِيْٓ اِسْرَاۗءِيْلَ ۝۵۹ ۭ وَلَوْ نَشَاۗءُ

په هغه باندے | او مونږ جوړ کړے وو هغه | یو نمونه | دپاره د بنی اسرائیلو | او که چرے | مونږ غوښتلے

او د بنی اسرائیلو دپاره مو یوه نمونه د عبرت جوړه کړے ده۔ او که مونږ غوښتلے

لَجَعَلْنَا مِنْكُمْ مَّلٰۗىِٕكَةً فِي الْاَرْضِ يَخْلُفُوْنَ ۝۶۰ وَاِنَّهٗ

نو خامخا به جوړ کړے وے مونږ | ستاسو په بدله کښې | ملائک | په زمکه کښې | چه خلافت به ئے کولے | او بیشکه هغه

نو ستاسو په بدله کښې به مو فرشتے پیدا کړے وے چه ستاسو په ځائے به په زمکه کښې اوسیدے او یقین او کړئ

لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَاتَّبِعُوْنِ ۭ هٰذَا

خامخا یوه نخښه ده | د قیامت | پس تاسو شک مه کوئ | د هغے (قیامت) په راتلو کښې | او ما پسے راځئ | دا ده

چه نزول د عیسیؑ د قیامت یوه نخښه ده نو تاسو په دے کښې شک مه کوئ او ما پسے راروان شئ هم دا

صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ۝۶۱ وَلَا يَصُدَّنَّكُمُ الشَّيْطٰنُ ۚ اِنَّهٗ لَكُمْ

لار ده | نیغه | او بند دے نه کړی تاسو لره | شیطان | بیشکه هغه دے | ستاسو (دپاره)

نیغه لار ده او شیطان دے هیڅ کله تاسو (د دغے لارے نه) منع نه کړی یقین او ساتئ چه هغه ستاسو

عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ۝۶۲ وَلَمَّا جَاۗءَ عِيْسٰى بِالْبَيِّنٰتِ قَالَ قَدْ

دشمن | ښکاره | او هر کله | چه راغے | عیسیٰؑ | په ښکاره نخښو سره | وئے ویل | چه یقینًا

ښکاره دشمن دے او کله چه عیسیؑ د ښکاره نخښو سره راغے نو خلقو ته ئے او وئیل چه

جِئْتُكُمْ بِالْحِكْمَةِ وَلِاُبَيِّنَ لَكُمْ بَعْضَ الَّذِيْ

زه راغلے یم تاسو ته | د حکمت سره | او (د دے دپاره) چه وضاحت او کړم | تاسو ته | د بعضے | هغه خبرو

ما تاسو ته د حکمت خبرے راوړی دی او د دے دپاره راغلے یم چه تاسو ته د هغه خبرو وضاحت او کړم

تَخْتَلِفُوْنَ فِيْهِ ۚ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ۝۶۳ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ

چه تاسو اختلاف کوئ | په هغے کښې | نو او ویرېږئ | د الله نه | او زما خبره او منئ | بیشکه | الله | هم هغه

چه تاسو پکښې اختلاف کوئ نو بس د الله نه او ویرېږئ او زما خبره او منئ۔ یقینًا الله

رَبِّیۡ وَرَبُّكُمۡ فَاعۡبُدُوۡهُ ؕ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسۡتَقِیۡمٌ ﴿٦٤﴾

رب زما | او رب ستاسو دے | نو عبادت اوکړئ دهغه | دا ده | لاره | نیغه

زما هم رب دے او ستاسو هم رب دے نو هم دهغه عبادت اوکړئ هم دا نیغه لار ده

فَاخۡتَلَفَ الۡاَحۡزَابُ مِنۡۢ بَیۡنِهِمۡ ۚ فَوَیۡلٌ لِّلَّذِیۡنَ

پس اختلاف اوکړو | ډلو | په خپل مینځ کښې | پس تباهي ده | دهغه خلقو دپاره

بیا (هم) (ډیرو) ډلو په خپل مینځ کښې اختلاف اوکړو پس د ظالمانو خلقو دپاره

ظَلَمُوۡا مِنۡ عَذَابِ یَوۡمٍ اَلِیۡمٍ ﴿٦٥﴾ هَلۡ یَنۡظُرُوۡنَ اِلَّا

چه ظلم ئے کړے دے | د | عذاب | د ورځے | دردناکے نه | دوی انتظار نه کوی | مګر

د دردناکے ورځے د عذاب په وجه تباهي ده دا خلق صرف د دے خبرے انتظار کوی چه

السَّاعَةَ اَنۡ تَاۡتِیَهُمۡ بَغۡتَةً وَّهُمۡ لَا یَشۡعُرُوۡنَ ﴿٦٦﴾ اَلۡاَخِلَّآءُ

د قیامت | چه رابه شی دوی ته | ناڅاپه | او دوی به | خبر نه وی | دوستان به

قیامت پرے ناڅاپی راشی او دوی ته به (ئے) پته هم نه وی په دغه ورځ به ټول دوستان

یَوۡمَئِذٍۢ بَعۡضُهُمۡ لِبَعۡضٍ عَدُوٌّ اِلَّا الۡمُتَّقِیۡنَ ﴿٦٧﴾ؕ یٰعِبَادِ ع

په دغه ورځ | بعضے ددوی نه | د بعضو دپاره | دشمنان وی | سوا | د متقیانو نه | اے زما بندګانو

د یو بل دشمنان وی سوا د متقیانو نه (هغوی ته به اووئیل شی چه) اے زما بندګانو

لَا خَوۡفٌ عَلَیۡكُمُ الۡیَوۡمَ وَلَاۤ اَنۡتُمۡ تَحۡزَنُوۡنَ ﴿٦٨﴾ۚ اَلَّذِیۡنَ

نشته دے هیڅ ویره | په تاسو | نن ورځ | او نۀ به تاسو | غمژن شئ | هغه کسان

نن ورځ به په تاسو هیڅ ویره نه راځی او نۀ به غمژن کیږئ دا هغه خلق دی

اٰمَنُوۡا بِاٰیٰتِنَا وَكَانُوۡا مُسۡلِمِیۡنَ ﴿٦٩﴾ۚ اُدۡخُلُوا الۡجَنَّةَ

چه ایمان ئے راوړے وو | په آیتونو زمونږ | او وو دوی | مسلمانان | داخل شئ | جنت ته

چه زما په آیتونو ئے ایمان راوړے وو او همیشه فرمانبردار وو۔ (دوی ته اووئیلے شو چه) تاسو او ستاسو بیبیانے

اَنۡتُمۡ وَاَزۡوَاجُكُمۡ تُحۡبَرُوۡنَ ﴿٧٠﴾ یُطَافُ عَلَیۡهِمۡ بِصِحَافٍ

تاسو | او بیبیانے ستاسو هم | (چه) خوشحاله به کړے شئ تاسو | ګرځولی به شی | په دوی باندے | کاسے

جنت ته خوشحاله خوشحاله ورننوځئ۔ (هلته به) په دوی باندے د سرو زرو د رکیبو

مِّنۡ ذَهَبٍ وَّاَكۡوَابٍ ۚ وَفِیۡهَا مَا تَشۡتَهِیۡهِ الۡاَنۡفُسُ

د سرو زرو | او ګیلاسونه هم | او وی به په دے کښې | هغه څه | چه غواړی ئے | نفسونه

او ګیلاسونو دور چلیږی او هلته به هر هغه څیز وی چه ددوی زړونه ئے غواړی او (چه) سترګے پرے

وَتَلَذُّ الۡاَعۡیُنُ ۚ وَاَنۡتُمۡ فِیۡهَا خٰلِدُوۡنَ ﴿٧١﴾ۚ وَتِلۡكَ الۡجَنَّةُ

او خوندکړے اخلی | سترګے | او تاسو به | په دے کښې | همیشه یئ | او دا | جنت دے

خوند حاصلوی (او دوی ته به او وئیل شی چه) تاسو به دلته (په جنت کښې) همیشه او سیږئ او دا هغه جنت دے

الَّتِيٓ أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۝٧٢ لَكُمْ فِيهَا

هغه | چه در کړے شو تاسو ته (دا) | په وجه د هغه څه | چه تاسو به | کول | ستاسو دپاره | په دے کښ

چه تاسو د خپلو عملونو په وجه ددے وارثان جوړ کړے شوئ په دے کښ ستاسو دپاره

فَاكِهَةٌ كَثِيرَةٌ مِّنْهَا تَأْكُلُونَ ۝٧٣ إِنَّ الْمُجْرِمِينَ فِي عَذَابِ

میوے دی | ډیرے | (چه) د هغے نه | تاسو خورئ | بیشکه | مجرمان به | په | عذاب

ډیرے میوے دی چه تاسو به ئے خورئ۔ البته مجرمان خلق به د دوزخ په عذاب کښ همیشه وی

جَهَنَّمَ خَالِدُونَ ۝٧٤ لَا يُفَتَّرُ عَنْهُمْ وَهُمْ فِيهِ مُبْلِسُونَ ۝٧٥

د جهنم کښ | همیشه وی | نه به شی کمولے (عذاب) | ددوی نه | او دوی به | په هغے کښ | نا اُمیده وی

هغه عذاب به ددوی نه کمیږی نه او دوی به په هغے کښ نا اُمیده پراته وی

وَمَا ظَلَمْنَاهُمْ وَلَٰكِن كَانُوا هُمُ الظَّالِمِينَ ۝٧٦ وَنَادَوْا

او ظلم نه دے کړے مونږ په دوی باندے | لیکن | وو | دوی | ظالمان | او آواز به اوکړی دوی

او مونږ په دوی ظلم نه دے کړے لیکن دوی پخپله ظالمان وو او دوی به (د دوزخ فرشتے ته) آواز اوکړی

يَا مَالِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ ۖ قَالَ إِنَّكُم

(چه) اے مالکه! | فیصله دے اوکړی (د مرګ) | په مونږ باندے | رب ستا | او به وائی هغه | بیشکه تاسو (دلته)

چه اے مالک! ستا رب دے زمونږ فیصله (خبره) ختمه کړی هغه به ورته اووائی تاسو به همیشه

مَّاكِثُونَ ۝٧٧ لَقَدْ جِئْنَاكُم بِالْحَقِّ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَكُمْ لِلْحَقِّ

ایسار یئ | یقیناً | مونږ راوړے وو تاسو ته | حق (دین) | لیکن | ډیر ستاسو نه | حق لره

هم په دے حالت کښ یئ حقیقت دا دے چه مونږ خو تاسو ته حق راوړے وو لیکن په تاسو کښ اکثر خلقو

كَارِهُونَ ۝٧٨ أَمْ أَبْرَمُوٓا أَمْرًا فَإِنَّا مُبْرِمُونَ ۝٧٩

بد ګڼړونکی وو | آیا دوی کلک قصد کړے دے | د یو کار | (نو) بیشکه مونږ | کلک قصد کوونکی یو

حق نه خوښولو. آیا دوی د حق د مقابلے کلکه فیصله کړے ده نو مونږ هم د څه کولو فیصله کوونکی یو

أَمْ يَحْسَبُونَ أَنَّا لَا نَسْمَعُ سِرَّهُمْ وَنَجْوَاهُم ۚ بَلَىٰ

آیا دوی ګمان کوی | چه بیشکه مونږ | نه اورو | پټے خبرے ددوی | او جرګے ددوی | ولے نه

آیا دوی دا خیال دے چه (ګنی) مونږ ددوی پټے خبرے او د سرګوشئ خبرے نه اورو ولے نه اورو،

وَرُسُلُنَا لَدَيْهِمْ يَكْتُبُونَ ۝٨٠ قُلْ إِن كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدٌ

او ملائک زمونږ | ددوی سره دی | چه لیکل کوی | او وایه | که چرے | وی | د رحمٰن (دپاره) | څوئے

او زمونږ فرشتے ددوی سره دی هغوی هر څه لیکی اے پیغمبره! (دوی ته) او وایه که بالفرض د رحمٰن ذات

فَأَنَا أَوَّلُ الْعَابِدِينَ ۝٨١ سُبْحَانَ رَبِّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ

نو زه به وے | اول | د عبادت کوونکو نه | پاک دے | رب | د آسمانونو | او د زمکے

څوک اولاد دے نو د ټولو نه وړومبے به زه (د هغه) عبادت کوونکے وے د آسمانونو او د زمکے مالک (او) د عرش مالک د هغه

رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ۸۲ فَذَرْهُمْ يَخُوْضُوْا وَيَلْعَبُوْا
مالک | د عرش | دهغه څخه | چه دوی ئې بیانوی | پس ته پریږده دوی | چه ورننوځي په (باطل کښې) | او لوبې کوي
تو لو خیر ونه پاک دے چه دوی ئې بیانوی لو (اے نبیٔ!) ته دوی په خپل حال پریږده چه په دے خبرو (شغلونو) کښې
حَتّٰى يُلٰقُوْا يَوْمَهُمُ الَّذِيْ يُوْعَدُوْنَ ۸۳ وَهُوَ الَّذِيْ
ترڅو | چه دوی مخامخ شي | دورځې د دوی | هغې سره | چه دوی سره ئې وعده کولې شي | او هم الله هغه ذات دے
اخته وي او لوبې کوي ترڅو چه د کومې ورځې ورسره وعده شوې ده هغې سره مخامخ شي او هم هغه یو (الله) دے
فِي السَّمَآءِ اِلٰهٌ وَّفِي الْاَرْضِ اِلٰهٌ ؕ وَهُوَ الْحَكِيْمُ
چه آسمان کښې (هم) | معبود دے | او په زمکه کښې (هم) | معبود دے | او هم هغه | لوئ حکمت والا
چه په آسمانونو کښې هم معبود دے او په زمکه کښې هم معبود دے او هم هغه ډیر حکمت والا
الْعَلِيْمُ ۸۴ وَتَبٰرَكَ الَّذِيْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ
ښه پوهه دے | او ډیر برکت والا دے | هغه ذات | چه د هغه (د پاره) ده | بادشاهي | د آسمانونو | او د زمکې
ډیر پوهه دے او لوئ شان دے د هغه ذات چه د هغه په قبضه کښې د آسمانونو او د زمکې
وَمَا بَيْنَهُمَا ۚ وَعِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ ۚ وَاِلَيْهِ
او د هغه څه | چه د دے دواړو په مینځ کښې دي | او (هم) د هغه سره | عِلم | د قیامت دے | او هم هغه ته به
او د دے دواړو په مینځ کښې چه څه دي د هغې حکومت دے او هم د هغه سره د قیامت علم دے او هم هغه ته به
تُرْجَعُوْنَ ۸۵ وَلَا يَمْلِكُ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهِ الشَّفَاعَةَ
تاسو واپس کولې شئ | او اختیار نه لري | هغه کسان | چه دوی ئې رابلي | سوا د هغه نه | د سفارش
تاسو واپس کولې شئ او الله تعالیٰ نه سوا چه دوی کوم معبودان رابلي هغوی د هیڅ سفارش اختیار نه لري
اِلَّا مَنْ شَهِدَ بِالْحَقِّ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ۸۶ وَلَئِنْ
مګر | هغه څوک | چه ګواهي ئې ورکړے ده | د حق | او هغوی | پوهیږي | او که چرے
البته چا چه د حق اقرار ئې کړے وي او د هغې علم ورسره هم وي او که چرے ته د دے خلقو نه
سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ فَاَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ۸۷
ته تپوس او کړے د دوی نه | چه چا | پیدا کړي دي دوی؟ | نو خامخا به دوی وائي | چه الله | پس نو کوم خوا | اړولې شي دوی
تپوس او کړے چه دوی چا پیدا کړي دي؟ نو دوی به خامخا وائي چه الله نو بیا کوم خوا دوی اړولې روان دي د حق نه؟
وَقِيْلِهٖ يٰرَبِّ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ قَوْمٌ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ۸۸
او قسم دے په د هغه وینا (د رسول) | چه اے ربه زما! | بیشکه | دا خلق | (دا سے) قوم دے | چه ایمان نه راوړي
او د پیغمبر په دے وینا قسم دے چه اے زما ربه یقیناً دا داسے خلق دي چه ایمان نه راوړي
ع فَاصْفَحْ عَنْهُمْ وَقُلْ سَلٰمٌ ؕ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ۸۹
پس ته مخ واړوه | د دوی نه | او او وایه | سلام دے (تاسو ته د جدائي) | پس ډیر زر به | دوی پوهه شي
لو (اے نبیٔ!) ته د دوی نه مخ واړوه او ورته او وایه چه (زما تاسو ته) سلام دے څکه چه ډیر زر به دوی ته پته اولګي

رکوعاتها [۳]	سورة الدّخان مکیّة	آیاتها [۵۹]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

حٰمٓ ۝١ وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ۝٢ اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ فِيْ لَيْلَةٍ

حٰمٓ | قسم دے په کتاب | واضحه باندے | (چه) بیشکه مونږ | نازل کړے دے دا | په | شپه

حٰمٓ. په هغه کتاب قسم دے چه حق لره واضح کوونکے دے چه یقیناً مونږ دا (قران) په یوه مبارکه شپه کښ

مُّبٰرَكَةٍ اِنَّا كُنَّا مُنْذِرِيْنَ ۝٣ فِيْهَا يُفْرَقُ كُلُّ اَمْرٍ

مبارکه کښ | بیشکه مونږ | یُو | یَرَوونکی | په دے (شپه) کښ | فیصله کولے شی | د هر یو کار

نازل کړے دے او مونږ خلقو لره خبردار ووونکی (یَرَوونکی) یُو. هم په دے شپه کښ د حکمت هر کار

حَكِيْمٍ ۝٤ اَمْرًا مِّنْ عِنْدِنَا ؕ اِنَّا كُنَّا مُرْسِلِيْنَ ۝٥ رَحْمَةً

حکمت والا | په حکم کولو سره | زمونږ د طرف نه | بیشکه مونږ | یُو | رالیږونکی | د وجے د رحمت

زمونږ په حکم فیصله کیږی یقیناً مونږ پیغمبر رالیږونکی یُو دا ستا د رب رحمت دے

مِّنْ رَّبِّكَ ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۝٦ رَبِّ السَّمٰوٰتِ

د رب ستا نه | بیشکه | هم هغه دے | اوریدونکے | په پوهه (ذات) | رب | د آسمانونو

یقیناً هغه هر څه اوریدونکے په هر څه پوهه دے د آسمانونو او د زمکے

وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۘ اِنْ كُنْتُمْ مُّوْقِنِيْنَ ۝٧ لَآ

او د زمکے | او دهغه څه | چه د دے دواړو تر مینځه دی | که چرے | تاسو یئ | یقین کوونکی | نشته دے

او د دے دواړو په مینځ کښ چه څه دی د هغے مالک (رب) دے که تاسو واقعی یقین لرونکی یئ

اِلٰهَ اِلَّا هُوَ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ؕ رَبُّكُمْ وَرَبُّ اٰبَآئِكُمُ

لائق د بندګۍ | سوا | دهغهٔ نه | ژوندی کول کوی | او مړه کول کوی | رب دے ستاسو | او رب دے | ستاسو د پلار نیکه

دهغه نه سوا هیڅ څوک د عبادت لائق نشته هغه ژوند هم ورکوی او مرګ هم (راولی) هغه ستاسو هم رب دے او ستاسو

الْاَوَّلِيْنَ ۝٨ بَلْ هُمْ فِيْ شَكٍّ يَّلْعَبُوْنَ ۝٩ فَارْتَقِبْ يَوْمَ

پخوانو هم | بلکه | دوی | په شک کښ دی | لوبے کوی | پس انتظار او کړه | د هغه ورځ

د پخوانو پلار نیکه هم رب دے بلکه دوی په شک کښ پراته دی (او) لوبے کوی نو (بس) ته د هغے ورځے انتظار کوه

تَاْتِی السَّمَآءُ بِدُخَانٍ مُّبِيْنٍ ۝١٠ يَّغْشَى النَّاسَ ؕ هٰذَا عَذَابٌ

چه بکار به کړی | آسمان | لوګی | ښکاره | چه پټوی به | خلق | دا دے | عذاب

کله به چه د آسمان نه یو ښکاره لوګے ښکاره شی چه په خلقو به راخور شی دا یو دردناک عذاب دے

اَلِيْمٌ ﴿۱۱﴾ رَبَّنَا اكْشِفْ عَنَّا الْعَذَابَ اِنَّا مُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۲﴾

دردناک | اے ربه زمونږ | ته لرے کړه | زمونږ نه | عذاب | بیشکه مونږ | ایمان راوړونکي یُو

(هغه وخت به خلق او وائي چه) اے زمونږ ربه! مونږ نه دا عذاب لرے کړه مونږ به خامخا ایمان راوړو

اَنّٰى لَهُمُ الذِّكْرٰى وَقَدْ جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۳﴾

څنګه به فائده مند شي | دوی دپاره | نصیحت | او یقینًا | راغلے دے دوی ته | رسول | ښکاره

په دغه وخت به نصیحت دوی له څه فائده ورکړي؟ حالانکه دوی ته حق واضح کوونکے پیغمبر راغلے دے

ثُمَّ تَوَلَّوْا عَنْهُ وَقَالُوْا مُعَلَّمٌ مَّجْنُوْنٌ ﴿۱۴﴾ اِنَّا كَاشِفُوا

بیا | مخ وار ولو دوی | دهغه نه | او وے ویل | دا ته ښودنه کړے شوے دے | لیونے دے | بیشکه مونږ | لرے کوونکی یُو

بیا هم دوی دهغه نه مخ اړوی او وائي چه دا ته ښودنه کړے شوے ده (او) لیونے دے مونږ خو عذاب

الْعَذَابِ قَلِيْلًا اِنَّكُمْ عَآئِدُوْنَ ﴿۱۵﴾ يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ

د عذاب | لږ وخت | بیشکه تاسو | بیا واپس کیدونکی (یئ) | په هغه ورځ | چه مونږ نیول اوکړو | نیول

څه وخته پورے لرے کوو خو تاسو به بیا هم کفر کوئ په کومه ورځ به چه مونږ ډیر سخت نیول اوکړو

الْكُبْرٰى اِنَّا مُنْتَقِمُوْنَ ﴿۱۶﴾ وَلَقَدْ فَتَنَّا قَبْلَهُمْ قَوْمَ

ډیر لوے | بیشکه مونږ | بدله اخستونکی یُو | او یقینًا | مونږ امتحان کړے وو | مخکښے د دوی نه | په قوم

نو (په هغه ورځ به) یقینًا مونږ پوره بدله اخلو او یقینًا مونږ د دوی نه مخکښې

فِرْعَوْنَ وَجَآءَهُمْ رَسُوْلٌ كَرِيْمٌ ﴿۱۷﴾ اَنْ اَدُّوْا اِلَيَّ عِبَادَ

د فرعون | او راغلے وو هغوی ته | یو رسول | عزتمند | چه حواله کړئ | ما ته | بندګان

فرعون او دهغه قوم ازمائلے وو او هغوی ته یو معزز پیغمبر راغلے وو (او ورته ئے ویلی وو چه) دالله بندګان ما حواله کړه

اللّٰهِ ؕ اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ﴿۱۸﴾ وَّاَنْ لَّا تَعْلُوْا عَلَى اللّٰهِ ۚ

د الله | بیشکه زه | ستاسو دپاره | یو رسول یم | امانتدار | او دا چه | سرکشي مه کوئ | د الله خلاف

زه ستاسو (دپاره) یو امانتدار پیغمبر یم او (دا چه) د الله تعالیٰ په مقابله کښې سرکشي مهٔ کوئ

اِنِّيْ اٰتِيْكُمْ بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿۱۹﴾ وَاِنِّيْ عُذْتُ بِرَبِّيْ

بیشکه زه | راوړونکے یم تاسو ته | دلیل | ښکاره | او بیشکه زه | پناه غواړم | په رب خپل

یقینًا زهٔ تاسو ته ښکاره دلیل پیش کوونکے یم او زهٔ د دے خبرے نه د خپل پروردګار او ستاسو د پروردګار پناه غواړم

وَرَبِّكُمْ اَنْ تَرْجُمُوْنِ ﴿۲۰﴾ وَاِنْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا لِيْ

او په رب ستاسو سره | د دے نه | چه تاسو په کتو ووژنئ ما لره | او که چرے | ایمان نه راوړئ تاسو | زما (په دعوت)

چه تاسو ما سنګسار کړئ او که چرے تاسو په ما ایمان نه راوړئ نو بیا زما نه

فَاعْتَزِلُوْنِ ﴿۲۱﴾ فَدَعَا رَبَّهٗٓ اَنَّ هٰٓؤُلَآءِ قَوْمٌ مُّجْرِمُوْنَ ﴿۲۲﴾

تو جدا شئ زما نه | پس هغه دعا او غوښتله | د خپل رب نه | (چه) دا خلق | یو قوم دے | جرم کوونکی

ددے نه شئ بیا موسیٰ خپل رب ته آواز (فریاد) اوکړو چه دا خلق مجرمان دي

فَأَسْرِ بِعِبَادِي لَيْلًا إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ﴿٢٣﴾ وَاتْرُكِ

پس ته بوځه | زما بندګان | د شپې (شپه) | بیشکه تاسو پسې به | د رتلل کیدے شی | او ته پریږده

(الله ورته اوویل چه) زما بندګان د شپې شپې روان کړه ستاسو تعاقب به ضرور کیږی

الْبَحْرَ رَهْوًا ۖ إِنَّهُمْ جُندٌ مُّغْرَقُونَ ﴿٢٤﴾ كَمْ تَرَكُوا

دریاب | ولاړ | بیشکه دوی | لښکر دے | غرق کړے شوے | څومره (ډیر) | پریښودل دوی

او دریاب غلے په قلار (ولاړ) پریږده یقینًا دا لښکر به ډوبولے شی۔ هغوی

مِن جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴿٢٥﴾ وَزُرُوعٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ﴿٢٦﴾ وَنَعْمَةٍ كَانُوا

باغونه | او چینې | او فصلونه | او ځایونه | عزتمند | او نعمتونه | چه وو دوی

ډیر باغونه او چینې پریښودلے او ډیر فصلونه او عزتمند (ښائسته) محلونه (سره پریښودل) او د آرام (او د خوشحالئ) څیزونه

فِيهَا فَاكِهِينَ ﴿٢٧﴾ كَذَٰلِكَ ۖ وَأَوْرَثْنَاهَا قَوْمًا آخَرِينَ ﴿٢٨﴾

په هغے کښې | مزے اخستونکی | دغه شان (اوشوه) | او مونږ میراث کښې ورکړل دغه (څیزونه) | یو قوم | بل ته

چه هغوی پکښې مزے کولے هم دغه شان (د هغوی انجام شو) او مونږ د دے هرڅه وارثان یو بل قوم جوړ کړل

فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَاءُ وَالْأَرْضُ وَمَا كَانُوا مُنظَرِينَ ﴿٢٩﴾ ع

پس اونه ژړل | په دوی باندے | آسمان | او (نه) زمکے | او نه وو دوی | (نور) مهلت ورکړے شوی

بیا نه په دوی باندے آسمان اوژړل او نه زمکے او نه ورله څه مهلت ورکړے شو

وَلَقَدْ نَجَّيْنَا بَنِي إِسْرَائِيلَ مِنَ الْعَذَابِ الْمُهِينِ ﴿٣٠﴾

او یقینًا | مونږ نجات ورکړو | بنی اسرائیلو ته | د عذاب | سپکوونکی نه

او یقینًا بنی اسرائیل مونږ د ذلت د عذاب نه خلاص کړل

مِن فِرْعَوْنَ ۚ إِنَّهُ كَانَ عَالِيًا مِّنَ الْمُسْرِفِينَ ﴿٣١﴾ وَلَقَدِ

د فرعون نه | بیشکه هغه | وو | سرکښی کوونکے | د حد نه اوړیدونکو نه | او یقینًا

یعنی د فرعون نه حقیقت دا دے چه هغه سرکښه او د حد نه اوړیدونکی خلقو کښې وو او مونږ

اخْتَرْنَاهُمْ عَلَىٰ عِلْمٍ عَلَى الْعَالَمِينَ ﴿٣٢﴾ وَآتَيْنَاهُم مِّنَ الْآيَاتِ

مونږ غوره کړی وو دوی | سره د علم نه | په مخلوقاتو باندے | او ورکړی وو مونږ دوی ته | د نخښو نه

دوی ته فضیلت ورکړے وو سره د علم زمونږ نه په نقصاناتو د دوی۔ او دوی ته مونږ دا سے نخښے

مَا فِيهِ بَلَاءٌ مُّبِينٌ ﴿٣٣﴾ إِنَّ هَٰؤُلَاءِ لَيَقُولُونَ ﴿٣٤﴾ إِنْ هِيَ

هغه چه | په هغے کښې وو | از میښت | ښکاره | بیشکه | دا خلق | خامخا وائی | (چه) نه دے دا

ورکړے وے چه په هغے کښې واضح ښکاره از میښت وو یقینًا دا خلق وائی چه بس

إِلَّا مَوْتَتُنَا الْأُولَىٰ وَمَا نَحْنُ بِمُنشَرِينَ ﴿٣٥﴾ فَأْتُوا بِآبَائِنَا

مګر | مرګ زمونږ | وړومبے | او نه یو مونږ | بیا پورته کړے شوی | پس راولئ تاسو | پلار نیکه زمونږه

مرګ (خو) زمونږ (دغه د دنیا) وړومبے مرګ دے او مونږ به دوباره نه ژوندی کیږو که چرے

اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِیۡنَ ۝٣٦ اَهُمۡ خَیۡرٌ اَمۡ قَوۡمُ تُبَّعٍ ۙ وَّالَّذِیۡنَ

که چیرې | یئ تاسو | رشتني | آیا دوی | ډیر غوره دي | یا | قوم | د تبع | او هغه کسان

تاسو رشتني یئ نو زمونږ پلار نیکه راولئ (راپاڅوئ) آیا دا خلق غوره دي یا که د تبع قوم او هغه خلق

مِنۡ قَبۡلِهِمۡ ؕ اَهۡلَكۡنٰهُمۡ ۫ اِنَّهُمۡ كَانُوۡا مُجۡرِمِیۡنَ ۝٣٧

چه مخکې وو د دوی نه | مونږ هلاک کړي دي هغوی | بیشکه هغوی | وو | مجرمان

چه د هغوی نه مخکښې وو؟ مونږ دا ټول هلاک کړي دي (ځکه چه) هغوی یقیني طور مجرمان وو

وَمَا خَلَقۡنَا السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ وَمَا بَیۡنَهُمَا لٰعِبِیۡنَ ۝٣٨

او نه دي پیدا کړي مونږ | آسمانونه | او زمکه | او هغه څه | چه د دې دواړو ترمینځه دي | چه لوبې کوونکي یو

او مونږ آسمانونه او زمکه او د دې په مینځ کښې چه څه دي هسې عبث (بې کاره) نه دي پیدا کړي

مَا خَلَقۡنٰهُمَاۤ اِلَّا بِالۡحَقِّ وَلٰكِنَّ اَكۡثَرَهُمۡ لَا یَعۡلَمُوۡنَ ۝٣٩

نه دي پیدا کړي مونږ دا دواړه | مګر | په حقه سره | لیکن | اکثر د دوی نه | نه پوهیږي

مونږ دا د یو حق مقصد دپاره (په ډیر حکمت) پیدا کړي دي لیکن اکثر خلق نه پوهیږي

اِنَّ یَوۡمَ الۡفَصۡلِ مِیۡقَاتُهُمۡ اَجۡمَعِیۡنَ ۝٤٠ ۙ یَوۡمَ لَا یُغۡنِیۡ

بیشکه | ورځ | د فیصلې | مقرر وخت دے د دوی | ټولو | په کومه ورځ | چه نه به شي لرې کولے

حقیقت دا دے چه د فیصلې ورځ د دے ټولو (هغه) مقرره نیټه ده په کومه ورځ به چه

مَوۡلًی عَنۡ مَّوۡلًی شَیۡـًٔا وَّلَا هُمۡ یُنۡصَرُوۡنَ ۝٤١ ۙ اِلَّا مَنۡ

یو دوست | د بل دوست نه | هیڅ تکلیف هم | او نه به | د دوی | مدد کولے شي | مګر | هغه څوک

یو دوست د بل دوست هیڅ په کار نه راشي او نه به د دوی سره څه مدد کیږي سوا د هغه چا نه

رَّحِمَ اللّٰهُ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الۡعَزِیۡزُ الرَّحِیۡمُ ۝٤٢ اِنَّ شَجَرَتَ

چه رحم (پرې) کړے وي | الله | بیشکه | هم هغه دے | ډیر زورور | ډیر مهربان | بیشکه | اُونه

چه الله تعالی پرې رحم او کړي یقیناً هم هغه ډیر زورور (غالب) او زیات مهربان دے یقین او کړئ چه

الزَّقُّوۡمِ ۝٤٣ ۙ طَعَامُ الۡاَثِیۡمِ ۝٤٤ ۛ كَالۡمُهۡلِ ۛ یَغۡلِیۡ فِی الۡبُطُوۡنِ ۝٤٥ ۙ

د زقوم | دے خوراک | د ګناهګار | پشان د ویلې شوې تالبې | جوش به وهي | په خیټو کښې

د زقوم اُونه به د ګناهګار خوراک وي د ویلې شوې تالبې په شان په خیټو کښې به دا سې خوټکیږي

كَغَلۡیِ الۡحَمِیۡمِ ۝٤٦ خُذُوۡهُ فَاعۡتِلُوۡهُ اِلٰی سَوَآءِ الۡجَحِیۡمِ ۝٤٧

پشان د جوش وهلو | د ګرمو اوبو | او نیسئ دۀ لره | او (بیا) راکاږئ دۀ لره | مینځ | د جهنم ته

لکه چه ګرمې اوبه خوټکیږي (فرشتو ته به اوویلے شي چه) دا راونیسئ او د جهنم مینځ ته ئې راکاږئ

ثُمَّ صُبُّوا فَوْقَ رَأْسِهِ مِنْ عَذَابِ الْحَمِيمِ ﴿٤٨﴾ ذُقْ إِنَّكَ

بیا | واروئ | دپاسه | دسر دده | د عذاب | دگرموا وبو نه | اوڅکه | بیشکه

بیا ورته په سر باندے دگرمو اوبو عذاب توئ کړئ (دا ته به او ویل شي چه) خوند واخله

أَنتَ الْعَزِيزُ الْكَرِيمُ ﴿٤٩﴾ إِنَّ هَٰذَا مَا كُنتُم بِهِ تَمْتَرُونَ ﴿٥٠﴾

ته (خو) وے | ډیر زورور | او عزتمند | بیشکه | دا | هغه څه دي | چه تاسو به په هغے (کښ) شک کولو

ته (خو په دنیا کښ) ډیر زورور (غالب) او عزتمند وے دا هم هغه څه دي چه تاسو به پکښ شک کولو

إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي مَقَامٍ أَمِينٍ ﴿٥١﴾ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴿٥٢﴾

بیشکه | متقیان به | په ځائے | د امن کښ وي | په جنتونو | او په چینو کښ (به وي)

(بل طرف ته) متقیان به یقیناً د امن والا ځائے کښ وي په باغونو او چینو کښ (به وي)

يَلْبَسُونَ مِن سُندُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ مُّتَقَابِلِينَ ﴿٥٣﴾ كَذَٰلِكَ

اغوندي به | د نرو ریښمو نو | او د غټو ریښمو نو نه | یو بل ته به مخامخ وي | دغه شان (به وي)

د ریښمو نرئ او غټے جامے به ئے اغوستلي وي (او) یو بل ته به مخامخ ناست وي د هغوی سره به هم دغه شان معامله کیږي

وَزَوَّجْنَاهُم بِحُورٍ عِينٍ ﴿٥٤﴾ يَدْعُونَ فِيهَا بِكُلِّ فَاكِهَةٍ

او مونږ به په نکاح کړو دوي ته | حُور | ښائسته غټو سترګو والا | دوي به غواړي | په هغے کښ | هر قسم | میوه

او مونږ به ورته غټو غټو سترګو والا ښکلے ښځے واده کړو. دوي به هلته ډیر په اطمینان هر قسم میوے راغواړي

آمِنِينَ ﴿٥٥﴾ لَا يَذُوقُونَ فِيهَا الْمَوْتَ إِلَّا الْمَوْتَةَ الْأُولَىٰ

په امن به وي | نه به څکي دوي | په هغے کښ | مرګ | سوا | د مرګ | د ړومبي نه

کوم مرګ چه ورله په اول ځل راغلے دے د هغے نه سوا د بل مرګ مزه به اونه څکي

وَوَقَاهُمْ عَذَابَ الْجَحِيمِ ﴿٥٦﴾ فَضْلًا مِّن رَّبِّكَ ذَٰلِكَ

او بچ به ساتي الله دوي لره | د عذاب | د جهنم نه | د وجے د فضل | ستا د رب د طرف نه | هم دا

او الله تعالی به ئے د دوزخ د عذاب نه بچ اوساتي دا هر څه به ستا د رب د طرف نه فضل وي (د انسان دپاره)

هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿٥٧﴾ فَإِنَّمَا يَسَّرْنَاهُ بِلِسَانِكَ

ده | کامیابي | ډیره لویه | پس بیشکه | مونږ آسان کړے دے دا (قرآن) | په ژبه ستا

هم دا ډیره لویه کامیابي ده. غرض (اے نبي!) مونږ دا (قرآن) ستا په ژبه دے دپاره آسان کړے دے

لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٥٨﴾ فَارْتَقِبْ إِنَّهُم مُّرْتَقِبُونَ ﴿٥٩﴾ ع

دے دپاره چه دوي | نصیحت واخلي | پس ته انتظار کوه | بیشکه دوي (هم) | انتظار کوونکي دي

چه دا خلق (ترے) نصیحت واخلي. اوس (پس) ته هم انتظار کوه او دوي هم انتظار کوي

آیاتها [٣٧] — # سورة الجاثيه مكيّة — رکوعاتها [٤]

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

حٰمٓ ۝١ تَنۡزِيۡلُ الۡكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الۡعَزِيۡزِ الۡحَكِيۡمِ ۝٢ اِنَّ

حٰمٓ | رالیږل | د (دے) کتاب | د طرفه د الله نه دی | چه ډیر زورور | لوے حکمت والا دے | بیشکه

حٰمٓ. ددے کتاب رالیږل د ډیر زورور (غالب) (او) لوے حکمت والا ذات د طرف نه دی حقیقت دا دے

فِي السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ لَاٰيٰتٍ لِّلۡمُؤۡمِنِيۡنَ ۝٣ وَفِيۡ خَلۡقِكُمۡ

په آسمانونو | او په زمکه کښې | خامخا نخښے دی | د ایمان راوړونکو دپاره | او ستاسو په پیدائش کښې

چه په آسمانونو او په زمکه کښې د مونږ نکو خلقو (مومنانو) دپاره ډیرے نخښے (موجود) دی او (پخپله) ستاسو په پیدائش

وَمَا يَبُثُّ مِنۡ دَآبَّةٍ اٰيٰتٌ لِّقَوۡمٍ يُّوۡقِنُوۡنَ ۝٤

او په هغه څه کښې | چه الله ئے خوروی | د ژوندي سرو نه | نخښے دی | دپاره د (هغه) قوم | چه یقین لری

او په هغه ځناورو کښې چه الله خواره کړی دی دهغه قوم دپاره ډیرے نخښے دی چه یقین کوی

وَاخۡتِلَافِ الَّيۡلِ وَالنَّهَارِ وَمَآ اَنۡزَلَ اللّٰهُ مِنَ السَّمَآءِ

او په تلو راتلو | د شپه | او ورځ کښې | او هغه څه کښې | چه راوروی ئے | الله | د آسمان نه

او د شپے او د ورځے په تلو راتلو کښې او په هغه رزق کښې چه الله دهغے ذریعے د آسمان نه راولیږلے دی

مِنۡ رِّزۡقٍ فَاَحۡيَا بِهِ الۡاَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَا وَتَصۡرِيۡفِ

رزق (باران) | بیا ژوندی کوی | په هغے سره | زمکه | پس | د مرګ دهغے نه | او په اړولو راړولو (چلولو)

بیا ئے په هغے سره زمکه پس د اوچیدو نه تازه کړے ده (په دے کښې) او د هواګانو په ګرځیدو راګرځیدو کښې

الرِّيٰحِ اٰيٰتٌ لِّقَوۡمٍ يَّعۡقِلُوۡنَ ۝٥ تِلۡكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ

د هواګانو کښې | نخښے دی | دپاره د (هغه) قوم | چه عقل لری | دا دی | نخښے (آیتونه) | د الله

دهغه خلقو دپاره ډیرے نخښے دی چه د عقل نه کار اخلی دا د الله تعالیٰ آیتونه دی

نَتۡلُوۡهَا عَلَيۡكَ بِالۡحَقِّ ۚ فَبِاَيِّ حَدِيۡثٍۢ بَعۡدَ اللّٰهِ

(چه) مونږ ئے لولو | په تا باندے | په حقه | پس نو په کومه | خبره | پس | د الله نه

چه مونږ ئے تا ته په حقه (ټیک ټیک) اوروو نو اوس د الله او دهغه د آیتونو نه پس کومه (داسے) خبره ده

وَاٰيٰتِهٖ يُؤۡمِنُوۡنَ ۝٦ وَيۡلٌ لِّكُلِّ اَفَّاكٍ اَثِيۡمٍ ۝٧ يَّسۡمَعُ

او دهغه د آیتونو نه (په) | دوی ایمان راوړی | تباهی ده | د هر | ډیر دروغژن | ډیر ګناهګار دپاره | چه اوری

چه دا خلق (به) پرے ایمان راوړی؟ هر (هغه) دروغژن ګناهګار د تباه شی چه د الله تعالیٰ آیتونه

اٰيٰتِ اللّٰهِ تُتْلٰى عَلَيْهِ ثُمَّ يُصِرُّ مُسْتَكْبِرًا كَاَنْ

آیتونه | د الله | (چه) لوستل شي | ده ته | بیا | کلک پاتې شي | تکبر کوونکې | لکه چه

ورته (کله) اوروله شي (نو) دے ئے واوري خو بیا هم د تکبر د وجې (په کفر بانډې) دا سې کلک وي لکه چه

لَّمْ يَسْمَعْهَا ۚ فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ۝٨ وَاِذَا عَلِمَ

هډو ئے اوریدلی نه وي هغه | پس زیرے ورکړه ده ته | د عذاب | دردناک | او کله چه | پوهه شي

هغه آیتونه ئے هډو اوریدلی نه وي نو دا سې کس ته د دردناک عذاب زیری ورکړه او کله چه زمونږ

مِنْ اٰيٰتِنَا شَيْئًا ۨ اتَّخَذَهَا هُزُوًا ۭ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ

زمونږ د آیتونو نه | په څه څیز | نولیسی دے هغې لره | ټوقې | هم دا خلق دي | (چه) د دوي دپاره | عذاب دے

څه آیتونه ورته معلوم شي نو هغې پورے ټوقې کوي هم دا سې خلقو دپاره سپکوونکے (رسوا کوونکے)

مُّهِيْنٌ ۝٩ ۭ مِنْ وَّرَآئِهِمْ جَهَنَّمُ ۚ وَلَا يُغْنِيْ عَنْهُمْ مَّا

سپکوونکے | د دوي مخے ته | جهنم دے | او لرے به نه کړي | د دوي نه | هغه څه

عذاب دے د دوي مخے ته (وړاندے) دوزخ دے او دوي چه څه کړي دي نه به ئے هغه په کار راشي

كَسَبُوْا شَيْئًا وَّلَا مَا اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْلِيَآءَ ۚ

چه دوي کړي دي | هیڅ مصیبت | او نه هغه څه | چه دوي نیولي دي | سوا | د الله نه | دوستان

او نه هغه څوک چه دوي د الله نه سوا دوستان (مددګاران) جوړ کړي وو

وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۝١٠ ۭ هٰذَا هُدًى ۚ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا

او د دوي دپاره | عذاب دے | ډیر لوے | دا (قرآن) | هدایت دے | او هغه کسان | چه کفرئے کړیدے

او د دوي دپاره ډیر لوے عذاب دے دا (قرآن) (د) هدایت (کتاب) دے او کومو خلقو چه د خپل رب

ع بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ لَهُمْ عَذَابٌ مِّنْ رِّجْزٍ اَلِيْمٌ ۝١١ ۧ اَللّٰهُ

په آیتونو | د رب خپل | د هغوي دپاره | عذاب دے | د عذاب | دردناک نه | الله

د آیتونو نه انکار کړے دے د هغوي دپاره د سخت نه وک (او) دردناک عذاب دے۔ الله تعالی

الَّذِيْ سَخَّرَ لَكُمُ الْبَحْرَ لِتَجْرِيَ الْفُلْكُ فِيْهِ

هغه (ذات) دے | چه تابع کړے ئے دے | ستاسو دپاره | دریاب | چه روانې وي | کشتۍ | په هغې کښې

هغه (ذات) دے چه دریاب ئے ستاسو په کار لګولے دے چه د هغه په حکم پکښې کشتۍ

بِاَمْرِهٖ وَلِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ۝١٢ ۚ

په حکم د هغهٔ | او چه اولټوئ تاسو | د هغهٔ د فضل نه | او (دے دپاره) چه تاسو | شکر اوکړئ

روانې وي او چه تاسو د هغه فضل تلاش کړئ او چه شکر اوباسئ

وَسَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا

او هغه تابع کړي دي | ستاسو دپاره | هغه څه | چه په آسمانونو کښې دي | او هغه څه | چه په زمکه کښې دي | ټول

او په آسمانونو او په زمکه کښې چه څه دي هغه ټول هغه د خپل طرف نه ستاسو په کار لګولي دي

مِّنْهُ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿١٣﴾

دهغه دطرف نه (دی) | بیشکه | په دے کښې | خامخا نخښے دی | دپاره د (هغه) قوم | چه فکر کوی

یقینًا په دے هر څه کښې د هغو خلقو دپاره ډیرے نخښے دی چه سوچ (او فکر) کوی

قُلْ لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يَغْفِرُوْا لِلَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ

اووایه | هغه کسانو ته | چه ایمان ئے راوړے دے | چه بخښنه دے کوی | هغه کسانو ته | چه امید نه ساتی

(اے نبی!) مومنانو ته اووایه چه کوم خلق د الله د ورځو (د راتلو) توقع نه لری

اَيَّامَ اللّٰهِ لِيَجْزِيَ قَوْمًا بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿١٤﴾

د ورځو | د الله | (دے دپاره) چه بدله ورکړی الله | یو قوم ته | په وجه دهغه څه | چه دوی به کول

هغوی ته دے بخښنه کوی (دے دپاره) چه الله یو قوم له د هغوی د عملونو بدله ورکړی

مَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ اَسَاۗءَ فَعَلَيْهَا ۡ

چاچه | عمل اوکړو | نیک | نو د خپل ځان دپاره (ئے کړے) | او چاچه | بد عمل اوکړو | نو (وبال ئے) په هغه باندے دے

چاچه نیک عمل اوکړو نو د خپل ځان (د فائدے) دپاره ئے اوکړو او چاچه بد عمل اوکړو نو نقصان ئے هم په هغه دے

ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ تُرْجَعُوْنَ ﴿١٥﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا بَنِيْٓ اِسْرَاۗءِيْلَ

بیا به | خپل رب ته | تاسو واپس کولی شئ | او یقینًا | ورکړے وومونږ | بنی اسرائیلو ته

بیا به تاسو خپل رب ته واپس کیږئ او یقینًا مونږ بنی اسرائیلو ته

الْكِتٰبَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ وَرَزَقْنٰهُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ

کتاب | او پوهه (حکمت) | او پیغمبری | او رزق ورکړے وومونږ هغوی ته | د پاکیزه څیزونو نه

کتاب او حکومت او نبوت ورکړی وو او پاکیزه رزق مو ورکړے وو

وَفَضَّلْنٰهُمْ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٦﴾ وَاٰتَيْنٰهُمْ بَيِّنٰتٍ مِّنَ الْاَمْرِ ۚ

او غوره کړی وومونږ هغوی | په مخلوقاتو باندے | او ورکړی وومونږ هغوی ته | ښه واضحه | حکمونه د دین

او په مخلوقاتو مو ورله فضیلت (هم) ورکړے وو او د دین په باره کښې مو ورله واضحه دلیلونه (هم) ورکړی وو

فَمَا اخْتَلَفُوْٓا اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَاۗءَهُمُ الْعِلْمُ ۙ بَغْيًا

پس اختلاف نه وو کړے هغوی | مګر | پس د دے نه | چه راغے هغوی ته | علم | د وجے د حسد نه

بیا د علم د راتلو نه پس چه هغوی کوم اختلاف پیدا کړے وو (نو) هغه

بَيْنَهُمْ ۭ اِنَّ رَبَّكَ يَقْضِيْ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا

په خپل مینځ کښې | بیشکه | ستا رب | فیصله به کوی | دهغوی په مینځ کښې | په ورځ | د قیامت | په هغه څه کښې

په خپل مینځ کښې د یو بل سره د ضد په وجه وو یقینًا ستا رب به د هغوی په مینځ کښې د قیامت په ورځ

كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿١٧﴾ ثُمَّ جَعَلْنٰكَ عَلٰى شَرِيْعَةٍ

چه هغوی به په هغے کښې | اختلاف کولو | بیا | مونږ (قائم) کړے ته | په یوه ښکاره لار باندے

دهغه خبرو فیصله اوکړی چه هغوی به په کښې اختلاف کولو بیا (اے نبی!) مونږ ته د دین په یوه ښکاره لار باندے

مِّنَ الْاَمْرِ فَاتَّبِعْهَا وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَ الَّذِیْنَ لَا یَعْلَمُوْنَ ﴿۱۸﴾

د دین | نو ته روان شه په هغې (پسے) | او مه روانیږه | په خواهشاتو | د هغه خلقو پسے | چه نه پوهیږي

قائم کړے نو ته هم په دے روان اوسه او د هغه چا خواهشاتو پسے مه ځه چه (د حقیقت) علم نه لري

اِنَّهُمْ لَنْ یُّغْنُوْا عَنْكَ مِنَ اللّٰهِ شَیْــًٔا ؕ وَاِنَّ الظّٰلِمِیْنَ

بیشکه دوی | هیڅ کله نشي لرے کولے | ستا نه | د الله (د عذاب) نه | هیڅ څیز | او بیشکه | ظالمان

هغوی به د الله په مقابله کښې ستا معمول په کار رانشي او حقیقت دا دے چه ظالمان خلق

بَعْضُهُمْ اَوْلِیَآءُ بَعْضٍ ۚ وَاللّٰهُ وَلِیُّ الْمُتَّقِیْنَ ﴿۱۹﴾ هٰذَا بَصَآئِرُ

بعضے د دوی نه | دوستان | د بعضو دي | او الله | دوست دے | د متقیانو | دا دي | دلیلونه واضح

د یو بل دوستان دي او الله تعالیٰ د متقیانو دوست دے دا (قرآن) د (ټولو) خلقو دپاره

لِلنَّاسِ وَهُدًی وَّرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ یُّوْقِنُوْنَ ﴿۲۰﴾ اَمْ حَسِبَ

دپاره د خلقو | او هدایت | او رحمت دے | دپاره د (هغه) قوم | چه یقین کوي | آیا گمان کړے دے

د عقل مندئ (د بصیرت) خبرے دي او کوم خلق چه یقین لري د هغوی دپاره هدایت او رحمت دے

الَّذِیْنَ اجْتَرَحُوا السَّیِّاٰتِ اَنْ نَّجْعَلَهُمْ كَالَّذِیْنَ

هغه کسانو | چه کړي ئے دي | بد کارونه | چه (گنې) او به گرځو مونږ هغوی | د هغه خلقو په شان

چا چه بد عملونه کړي دي آیا هغوی دا خیال کوي چه مونږ به دوی د هغه چا سره برابر کړو چا چه

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۙ سَوَآءً مَّحْیَاهُمْ

چه ایمان ئے راوړے دے | او عملونه ئے کړي دي | نیک | چه یوشان به وي | ژوند د دوي

ایمان راوړے دے او نیک عملونه ئے کړي دي چه د ټولو ژوند او مرگ برابر شي؟

وَمَمَاتُهُمْ ؕ سَآءَ مَا یَحْكُمُوْنَ ﴿۲۱﴾ وَخَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ

او مرگ د دوي | بد دے | هغه (فیصله) | چه دوي ئے کوي | او پیدا کړي دي | الله | آسمانونه

(دا خو) دوي ډیره خرابه فیصله کوي۔ او الله تعالیٰ آسمانونه او زمکه په حکمت سره

وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ وَلِتُجْزٰی كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ

او زمکه | په حقه سره | او چه بدله ور کړي شي | هر یو | کس ته | د هغه څه | چه هغه کړي دي

(په حقه) پیدا کړي دي او (دے دپاره ئے پیدا کړي دي) چه هر یو کس ته د خپلو عملونو بدله ملاو شي

وَهُمْ لَا یُظْلَمُوْنَ ﴿۲۲﴾ اَفَرَءَیْتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوٰىهُ

او په دوي به | ظلم او نه کړے شي | آیا نو ته خبر ئے | په هغه چا | چه نیولے ئے دے | خدائے ئے خپل | خواهش خپل لره

او هیڅ ظلم به په دوي سره نه کیږي آیا تا هغه څوک هم لیدلے دے چه خپل خواهش ئے خپل معبود جوړ کړے دے

وَاَضَلَّهُ اللّٰهُ عَلٰی عِلْمٍ وَّخَتَمَ عَلٰی سَمْعِهٖ وَقَلْبِهٖ

او گمراه کړے دے هغه لره | الله | سره د علم | او مهر ئے لگولے دے | په غوږونو د هغه | او په زړه د هغه

او سره د علم الله تعالیٰ گمراه کړے دے او په غوږونو او په زړه ئے ورله مهر ولگولے دے

وَجَعَلَ عَلٰى بَصَرِهٖ غِشٰوَةً ؕ فَمَنْ يَّهْدِيْهِ مِنْۢ بَعْدِ اللّٰهِ ؕ

او اچولې ئې ده | په سترګو د هغهٔ | پرده | پس څوک به | لار اوښائي دهٔ ته | پس د الله نه

او په سترګو ئې ورله پرده اچولې ده؟ نو اوس د الله تعالیٰ نه پس څوک دي چه هغه په سمه لار روان کړي؟

اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿٢٣﴾ وَقَالُوْا مَا هِيَ اِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا

آیا نو تاسو نصیحت نه اخلئ؟ | او وائي دوی | (چه) نه دے داژوند | مګر | ژوند زمونږ | دُنیوی

آیا نو تاسو بیا هم سبق (نصیحت) نه اخلئ؟ او دا خلق وائي چه زمونږ ژوند خو بس صرف همدغه دے دنیا دا ژوند دے

نَمُوْتُ وَنَحْيَا وَمَا يُهْلِكُنَآ اِلَّا الدَّهْرُ ۚ وَمَا لَهُمْ

(چه) مړه کیږو | او ژوندي کیږو | او نه هلاکوي مونږ | مګر | زمانه | او نشته د دوی سره

هم په دے دنیا کښې مونږ مرو او ژوندي کیږو او مونږ خو بس دا زمانه هلاکوي حالانکه د دے خبرے

بِذٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۚ اِنْ هُمْ اِلَّا يَظُنُّوْنَ ﴿٢٤﴾ وَاِذَا تُتْلٰى

په دے (خبره) | هیڅ څه علم | نه دي دوی | مګر | ګمان کوي | او کله چه | اولوستل شي

دوی ته هیڅ علم نشته بس تش په ګمان (اندازو) پسے روان دي او کله چه زمونږ واضحه آیتونه

عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ مَّا كَانَ حُجَّتَهُمْ اِلَّآ اَنْ قَالُوا

په دوی باندے | آیتونه زمونږ | ښه واضحه | نو نه وي | دلیل د دوی | مګر | دا (خبره) | چه وائي دوی

دوی ته واورولی شي نو د دے ویناً نه بغیر دوی سره هیڅ دلیل نه وي چه که تاسو رشتني یئ

ائْتُوْا بِاٰبَآئِنَآ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٢٥﴾ قُلِ اللّٰهُ يُحْيِيْكُمْ

(چه) راولئ | پلار نیکه زمونږ | که چرے یئ تاسو | رشتني | او وایه | الله | ژوندي کوي تاسو

نو زمونږ پلار نیکه (ژوندي) راولئ (ورته) او وایه چه هم الله تاسو ته ژوند درکوي

ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ يَجْمَعُكُمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَا رَيْبَ

بیا به | مړه کوي تاسو | بیا به | راجمع کوي تاسو | په ورځ | د قیامت | (چه) نشته دے هیڅ شک

بیا به هم هغه تاسو مړه کوي بیا به مو د قیامت په (هغه) ورځ راجمع کوي چه هیڅ قسم شک پکښې نشته

فِيْهِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٢٦﴾ ع وَلِلّٰهِ مُلْكُ

په هغے کښې | لیکن | اکثر | خلق | نه پوهیږي | او خاص دالله (دپاره) ده | بادشاهي

لیکن اکثر خلق نه پوهیږي او د آسمانونو او د زمکے حکومت یوائے

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ

د آسمانونو | او د زمکے | او په (کومه) ورځ | چه قائم به شي | قیامت | په دغه ورځ به

د الله تعالیٰ دے او په هغه ورځ چه قیامت راشي (قائم شي) په هغه ورځ به باطل پرست خلق

يَّخۡسَرُ الۡمُبۡطِلُوۡنَ ۝ وَتَرٰى كُلَّ اُمَّةٍ جَاثِيَةً ۛ كُلُّ اُمَّةٍ

تاوالیان شی | باطل پرست خلق | او ته به وینې | هر یو | امت | پر مخې پروت | هر یو | امت به

(سخت) تاوان کښې پریوځی او ته به هره ډله وینې چه په گونډو به پریوتی وی هره یوه ډله به خپلې عملنامې

تُدۡعٰۤى اِلٰى كِتٰبِهَا ؕ اَلۡيَوۡمَ تُجۡزَوۡنَ مَا كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ ۝

رابللے کیږی | خپلې عملنامې ته | نن ورځ به | بدله درکولے شی تاسو ته | دهغه څه | چه تاسو به کول

(طرف) ته رابلل کیږی (او ورته به ویلی شی چه) نن به تاسو ته دهغه عملونو بدله ملاویږی چه تاسو به کول

هٰذَا كِتٰبُنَا يَنۡطِقُ عَلَيۡكُمۡ بِالۡحَقِّ ؕ اِنَّا كُنَّا نَسۡتَنۡسِخُ

دا دے | کتاب زمونږ | چه خبرے (به) کوی | ستاسو په باره کښې | په حقه سره | بیشکه | مونږ (به) | لیکل

دا زمونږ هغه (لیکل شوی) کتاب دے چه ستاسو په باره کښې رشتیا خبرے کوی تاسو چه څه عمل کولو

مَا كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ ۝ فَاَمَّا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا

هغه څه | چه تاسو به | کول | پس هغه کسان | چه ایمان ئې راوړے دے | او عملونه ئې کړی دی

هغه ټول (به) مونږ (په فرشتو) لیکل پس چا چه ایمان راوړے دے او نیک عملونه ئې کړی دی

الصّٰلِحٰتِ فَيُدۡخِلُهُمۡ رَبُّهُمۡ فِىۡ رَحۡمَتِهٖ ؕ ذٰلِكَ هُوَ

نیک | پس داخل به کړی هغوی لره | رب خپل | په رحمت خپل کښې | هم دا | ده

هغوی (خو) به خپل رب په خپل رحمت کښې داخل کړی هم دا واضحه

الۡفَوۡزُ الۡمُبِيۡنُ ۝ وَاَمَّا الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا ۛ اَفَلَمۡ تَكُنۡ اٰيٰتِىۡ

کامیابی | ښکاره | او هغه کسان | چه کفر ئې کړے دے | آیا نو نه وو | آیتونه زما

(ښکاره) کامیابی ده او چا چه کفر کړے دے (هغوی ته به او ویلی شی) آیا تاسو ته (به) زما آیتونه

تُتۡلٰى عَلَيۡكُمۡ فَاسۡتَكۡبَرۡتُمۡ وَكُنۡتُمۡ قَوۡمًا مُّجۡرِمِيۡنَ ۝ وَاِذَا

چه لوستلی شو | په تاسو باندے | پس تکبر او کړو تاسو | او وئ تاسو | یو قوم | جرم کوونکی | او کله به چه

نه لوستل کیدل؟ بیا هم تاسو تکبر اوکړو او تاسو مجرمان خلق وئ۔

قِيۡلَ اِنَّ وَعۡدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّالسَّاعَةُ لَا رَيۡبَ فِيۡهَا

اوویلی شو | چه بیشکه | وعده | د الله | رشتیا ده | او قیامت | نشته دے هیڅ شک | په هغې کښې

او کله به چه تاسو ته د پیغمبر په ژبه او ویلی شو چه د الله وعده حقه ده او د قیامت په راتلو کښې هیڅ شک نشته

قُلۡتُمۡ مَّا نَدۡرِىۡ مَا السَّاعَةُ ۙ اِنۡ نَّظُنُّ اِلَّا ظَنًّا

نو تاسو به ویل | چه مونږ نه پوهیږو | چه څه دے | قیامت؟ | مونږ گمان نه کوو | مگر | یو گمان غوندے

نو تاسو به وئیل چه مونږ خو قیامت هډو پیژنو نه (او پس د آوریدلو د دلائلو ستاسو نه) مونږ هسے معمولی

وَّمَا نَحۡنُ بِمُسۡتَيۡقِنِيۡنَ ۝٣٢ وَبَدَا لَهُمۡ سَيِّاٰتُ مَا عَمِلُوۡا

او نه یُو مونږ | یقین کوونکی | او ښکاره به شی | دوی ته | بدیٔ | د هغه څه | چه دوی کړی وو

غوندے گمان کوو او یقین مونږ نه راځی (په وقوع د قیامت) نو د دوی د بدو عملونو ناکاره والے به دوی ته ښکاره شی

وَحَاقَ بِهِمۡ مَّا كَانُوۡا بِهٖ يَسۡتَهۡزِءُوۡنَ ۝٣٣ وَقِيۡلَ

او راگیر به کړی | دوی | هغه څه | چه دوی به | په هغے پورے | ټوقے کولے | او وبه ویلے شی

او د کوم قیامت ذکر اتلو پسے به چه دوی ټوقے کولے د هغے ورځے عذاب به دوی له هر اړخه راگیر کړی. او دوی ته به د الله د طرف نه

الۡيَوۡمَ نَنۡسٰٮكُمۡ كَمَا نَسِيۡتُمۡ لِقَآءَ يَوۡمِكُمۡ هٰذَا

(چه) نن ورځ | هیر وو مونږ تاسو | لکه څنگه چه | تاسو هیر کړے وو | ملاقات | د دے ورځے خپلے | دا

او ویلے شی چه نن مونږ تاسو د غسے په عذاب کښے پریږدو څنگه چه تاسو د دے ورځے ملاقات هیر کړے وو

وَمَاۡوٰٮكُمُ النَّارُ وَمَا لَـكُمۡ مِّنۡ نّٰصِرِيۡنَ ۝٣٤ ذٰلِكُمۡ بِاَنَّكُمُ

او ستاسو ځائے | اور دے | او نشته | ستاسو دپاره | هیڅ څوک مددگاران | دا په دے وجه چه تاسو

او ستاسو د اوسیدو ځائے جهنم دے او ستاسو هیڅ څوک مددگار نشته۔ او دا سزا تاسو له څکه مقرر شوه

اتَّخَذۡتُمۡ اٰيٰتِ اللّٰهِ هُزُوًا وَّغَرَّتۡكُمُ الۡحَيٰوةُ الدُّنۡيَا ۚ

نیولی وو تاسو | آیتونه | د الله | په ټوقو سره | او دهوکه کړی وئ تاسو | ژوند | دُنیوی

چه تاسو به د الله په آیتونو پسے ټوقے کولے او د دنیا ژوند په دهوکه کښے اچولی وئ.

فَالۡيَوۡمَ لَا يُخۡرَجُوۡنَ مِنۡهَا وَلَا هُمۡ يُسۡتَعۡتَبُوۡنَ ۝٣٥

پس نن ورځ | نه به شی ویستلی دوی | د دے نه | او نه به دوی ته | د توبے موقع ورکولی شی

نو نن ورځ به نه دوی د جهنم نه ویستلی شی او نه به د دوی عُذر قبولولے شی. (لورو ستو د ذکر کولو د دلائل عقلیو او وحیو نه ثابت شوه)

فَلِلّٰهِ الۡحَمۡدُ رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَرَبِّ الۡاَرۡضِ

پس خاص دالله دپاره | حمد ونه دی | چه رب دے | د آسمانونو | او رب دے | د زمکے

چه حمد ونه هغه الله پورے خاص دی چه د آسمانونو مالک هم دے او د زمکے مالک هم دے

رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ۝٣٦ وَلَهُ الۡكِبۡرِيَآءُ فِى السَّمٰوٰتِ

او رب دے | د مخلوقاتو | او خاص د هغه (دپاره) | لوئی ده | په آسمانونو

او د ټولو مخلوقاتو پالنهار هم دے او صرف هغه حقدار د عظمتونو او د لوئی دے په آسمانونو

ع وَالۡاَرۡضِ وَهُوَ الۡعَزِيۡزُ الۡحَكِيۡمُ ۝٣٧

او زمکه کښے | او هم هغه دے | ډیر زورور (غالب) | لوے حکمت والا

او زمکه کښے او هم هغه غالب دے او حکمت والا ذات دے۔

آیاتها [۳۵] | **سورة الأحقاف مكيّة** | رکوعاتها [۴]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

حٰمٓ ﴿۱﴾ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ﴿۲﴾ مَا خَلَقْنَا

حٰم | نازلول | د (دے) کتاب | دطرفه دالله نه دی | چه ډیر زورور | لوے حکمت والا دے | نه دی پیدا کړی مونږ

حٰم. دا کتاب دهغه الله د طرف نه رالیږلے شوے دے چه ډیر زورور (غالب) او لوے حکمت والا دے۔

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ وَاَجَلٍ

آسمانونه | او زمکه | او هغه څه | چه د دے دواړو په مینځ کښ دی | مګر | په حقه | او نیټے

مونږ آسمانونه او زمکه او څهٔ چه په دے دواړو کښ دی د یو مقصد او د یو مقرر

مُّسَمًّى ۗ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَمَّآ اُنْذِرُوْا مُعْرِضُوْنَ ﴿۳﴾

مقررے سره | او هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | دهغه څه نه | چه دوی له پرے ویره ورکړے شی | مخ اړوونکی دی

وخت دپاره پیدا کړی دی او کافران د هغه څیز نه مخ اړوی د کوم نه چه خبردار کولے شی۔

قُلْ اَرَءَيْتُمْ مَّا تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَرُوْنِىْ

او وایه | آیا تاسو خبر یئ | د هغه چانه | چه تاسو (ئے) رابلئ | سوا د الله نه | او ښایئ تاسو ماته

(اے نبیٔ! ته دے خلقو ته) او وایه چه آیا تاسو په هغه څیزونو غور کړے دے کوم چه تاسو د الله نه سوا رابلئ

مَاذَا خَلَقُوْا مِنَ الْاَرْضِ اَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِى السَّمٰوٰتِ ۭ

(چه) څه څیز | پیدا کړے دے دوی | د زمکے نه | یا شته دے د دوی | څه حصه | په آسمانونو کښ

ماته خو لږ او ښایئ چه هغوی د زمکے کوم یو څیز پیدا کړے دے یا په آسمانونو کښ

اِیْتُوْنِىْ بِكِتٰبٍ مِّنْ قَبْلِ هٰذَآ اَوْ اَثٰرَةٍ مِّنْ عِلْمٍ

راوړئ ماته | یو کتاب | مخکښ | د دے نه | یا نقل شوے دلیل | د علم

دهغوی څه برخه شته؟ که تاسو واقعی رشتونی یئ نو د دے (قرآن) نه مخکښے د یو کتاب یا د مخکینو پیغمبرانو

اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۴﴾ وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ يَّدْعُوْا

که چرے | یئ تاسو | رشتینی | او څوک دے | زیات ګمراه | د هغه چا نه | چه رابلی

یو روایت ماته پیش کړئ۔ او د هغه چا نه (به) زیات ګمراه څوک وی چه د الله تعالی نه

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَنْ لَّا يَسْتَجِيْبُ لَهٗٓ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ

سوا د الله نه | هغه څوک | چه جواب نشی ورکولے | ده ته | تر ورځے | د قیامته پورے

سوا هغه څوک رابلی چه د قیامت د ورځے پورے (ورله) جواب نشی ورکولے

وَهُمْ عَنْ دُعَآئِهِمْ غٰفِلُوْنَ ۝٥ وَاِذَا حُشِرَ النَّاسُ

او هغوی | د بلنې د دوی نه | ناخبره دي | او کله چه | راجمع (به) کړے شي | خلق

او (بلکه) هغوی ته د دوی د بلنې هډو خبر (هم) نشته. او کله چه (په محشر کښې) خلق راجمع کړے شي

كَانُوْا لَهُمْ اَعْدَآءً وَّكَانُوْا بِعِبَادَتِهِمْ كٰفِرِيْنَ ۝٦ وَاِذَا

(نو) وي به هغوی | د دوی (دپاره) | دشمنان | او وي به هغوی | د عبادت د دوی نه | انکار کوونکی | او کله چه

نو هغوی به د دوی دشمنان شي او د دوی د عبادت (کولو) نه به منکر شي او کله چه دوی ته

تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

لوستل شي | په دوی باندے | آیتونه زمونږ | واضحه | (نو) وائي | هغه کسان | چه کفر نے کړے دے

زمونږ آیتونه پوره وضاحت سره لوستل کیږي نو کافران د هغه حق خبرے باره کښې وائي

لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ هٰذَا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝٧ اَمْ يَقُوْلُوْنَ

د حق په باره کښې | هر کله | چه راغے دوی ته | (چه) دا (خو) | جادو دے | ښکاره | آیا دوی وائي (چه)

کومه چه دوی ته راغلے ده چه دا (خو) ښکاره جادو دے. آیا دوی دا وائي چه (پیغمبر) دا قرآن

افْتَرٰىهُ قُلْ اِنِ افْتَرَيْتُهٗ فَلَا تَمْلِكُوْنَ لِيْ

د ځان نه جوړ کړے دے ده (قرآن) | او وایه | که چرے | ما د ځان نه جوړ کړے وی دا | نو تاسو اختیار نه لرئ | زما د پاره

د ځان نه جوړ کړے دے (اے نبیؐ! ته ورته) او وایه که چرے ما دا د ځان نه جوړ کړی وی نو تاسو ما د الله

مِنَ اللّٰهِ شَيْئًا هُوَ اَعْلَمُ بِمَا تُفِيْضُوْنَ فِيْهِ كَفٰى

د الله نه | د هیڅ څیز | هغه | ښه پوهیږي | په هغه څه | چه تاسو لګیا یئ | په هغے کښې | کافي دے

د عذاب نه محفوظ هم نه شئ بچ کولے. تاسو چه (د قرآن باره کښې) کومے خبرے کوئ هغے باندے الله تعالیٰ ښه

بِهٖ شَهِيْدًا بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ وَهُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ۝٨

(بوا ځے) هغه | ګواه | په مینځ زما | او په مینځ ستاسو کښې | او هم هغه دے | ډیر بخښونکے | ډیر مهربان

پوهه دے زما او ستاسو په مینځ کښې د ګواه جوړیدو دپاره هم هغه کافي دے او هغه ډیر بخښونکے ډیر مهربان دے

قُلْ مَا كُنْتُ بِدْعًا مِّنَ الرُّسُلِ وَمَآ اَدْرِيْ مَا

او وایه | چه نه یم زه | نوے راپیدا شوے | د پیغمبرانو نه | او زهٔ نه پوهیږم | په هغه څه

ته دوی ته او وایه چه زه په پیغمبرانو کښې څه نوے (ناشنا) پیغمبر خو نه یم او ما ته پته نشته چه

يُفْعَلُ بِيْ وَلَا بِكُمْ اِنْ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ

چه کولے به شي | ما سره | او نه تاسو سره | زه نه یم روان | مګر | په هغه څه پسے | چه وحی (ے) کولے شي | ما ته

ما سره به په دنیا کښې څه کیږي او تاسو سره به څه کیږي؟ زهٔ صرف هغه حکم پسے روان یم چه ما ته ئے وحی کیږي

وَمَآ اَنَا اِلَّا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۝٩ قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كَانَ

او نه یم زهٔ | مګر | یره وونکے | ښکاره | او وایه | آیا تاسو خبر یئ | که چرے | وی دا (قرآن)

او زهٔ (خو) صرف یو ښکاره یره وونکے یم. ورته او وایه چه لږ دا راته او وایئ که چرے دا (قرآن)

مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ وَكَفَرْتُمْ بِهٖ وَشَهِدَ شَاهِدٌ

د طرف د الله نه | او تاسو کفر کوئ | په دے | او گواهي کړے ده | يو گواه

دالله د طرف نه وي او تاسو تر دے انکار کړے وي او د بني اسرائيلو يو گواه د دے په شان ديو کتاب (په نازليدو)

مِّنْ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ عَلٰى مِثْلِهٖ فَاٰمَنَ وَاسْتَكْبَرْتُمْ ط

د بني اسرائيلو نه | په شان دد ے (کتاب) باندے | نو ايمان راوړے دے هغه | او تکبر کوئ تاسو

گواهي (هم) ورکړې وي او ايمان ئے پرے هم راوړے وي او تاسو تکبر (سرکشي) کوئ (نو ستاسو به څه انجام وي؟)

اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۟ وَقَالَ الَّذِيْنَ ع

بيشکه | الله | هدايت نه کوي | قوم | ظالمانو ته | او وائي | هغه خلق

يقين او کړئ چه الله تعالىٰ دا سے ظالمان سمے لار ے ته نه رسوي. او کافران د مؤمنانو په باره کښ وائي

كَفَرُوْا لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَوْ كَانَ خَيْرًا

چه کفر ئے کړے دے | هغه کسانو ته | چه ايمان ئے راوړے دے | که چرے | وے دا (دين) | غوره

که چرے (دا دين مثل) څه ښه خبره وے نو دا مؤمنان به دے ته زمونږ نه

مَّا سَبَقُوْنَآ اِلَيْهِ ط وَاِذْ لَمْ يَهْتَدُوْا بِهٖ فَسَيَقُوْلُوْنَ

نو نه به وو مخکښے شوي دوي زمونږ نه | دے ته | او کله چه | دوي لار او نه موندله | په دے (کتاب) | نو زر ده چه وائي به

مخکښې شوي نه وے او کله چه دوي (کافرانو) د دے قرآن نه هدايت حاصل نه کړو نو (اوس به هم دا) وائي چه

هٰذَآ اِفْكٌ قَدِيْمٌ ۟ وَمِنْ قَبْلِهٖ كِتٰبُ مُوْسٰٓى اِمَامًا

(چه) دا | دروغ دي | پخواني | او مخکښے دد ے نه | کتاب | د موسىٰ عليه السلام وو | پيشوا

دا (خو) پخواني دروغ دي. او (حالانکه) دد ے نه مخکښے د موسىٰ کتاب (هم) رهنما (لاره ښودونکي) وو

وَّرَحْمَةً ط وَهٰذَا كِتٰبٌ مُّصَدِّقٌ لِّسَانًا عَرَبِيًّا لِّيُنْذِرَ

او رحمت | او دا | کتاب دے | تصديق کوونکے | په ژبه | د عربي | د دے د پاره چه او ويروي

او رحمت وو او دا (قرآن) هغه کتاب دے چه په عربي ژبه راغلے دي او د مخکښني کتابونو تصديق کوي د دے د پاره چه

الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ۖ وَبُشْرٰى لِلْمُحْسِنِيْنَ ۟ اِنَّ الَّذِيْنَ

هغه کسان | چه ظلم ئے کړے دے | او زيرے دے | نيکانو د پاره | بيشکه | هغه کسان

ظالمان خبردار کړي او د نيکانو د پاره زيرے دے. يقيناً کومو خلقو چه

قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوْا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ

چه وئے فرمايل | چه رب زمونږ | الله دے | بيا | کلک پاتے شول | نو نه به وي هيڅ ويره | په هغوي باندے

داويلي دي چه زمونږ رب الله دے او بيا په دے باندے کلک پاتے شو نو په هغوي به نه څه ويره وي

وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ۟ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ج

او نه به هغوي | غمژن شي | هم دا خلق | جنت والا دي | چه هميشه به وي | په هغے کښ

او نه به (چرته) غمژن شي. هم دا خلق جنتيان دي چه جنت کښ به هميشه اوسيږي

جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝١٤ وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ

بدله په توګه | د هغه څه | چه دوی به کول | او حکم کړے دے مونږ | انسان ته | د مور او پلار سره

دوی ته به د هغه عملونو بدله ملاوېږي کوم به چه دوی کول. او مونږ انسان ته د خپل مور او پلار په باره کښې

اِحْسٰنًا ؕ حَمَلَتْهُ اُمُّهٗ كُرْهًا وَّوَضَعَتْهُ كُرْهًا ؕ وَحَمْلُهٗ

د احسان کولو | پورته کړے وو دغه | مور خپلے | په تکليف سره | او زيږولے وو | په تکليف سره | او پورته کول د دۀ په خيټه

د ښۀ سلوک (کولو) حکم کړے دے. د دۀ مور دۀ له په ډير مشقت سره په (خيټه) کښې ساتلو او بيا ئے په ډير تکليف سره او زيږولو

وَفِصٰلُهٗ ثَلٰثُوْنَ شَهْرًا ؕ حَتّٰۤى اِذَا بَلَغَ اَشُدَّهٗ

او پيونه پرېکول د دۀ | ديرش | مياشتے (دي) | تر دے | چه کله | او رسيدو دے | خپل کلکوال (ځوانۍ) ته

او د دۀ د حمل او د تى نه د پرېکولو موده ديرش مياشتے وى تر دے چه کله دا خپلے پوره ځوانۍ ته او رسيدو

وَبَلَغَ اَرْبَعِيْنَ سَنَةً ۙ قَالَ رَبِّ اَوْزِعْنِيْۤ اَنْ اَشْكُرَ

او او رسيدو | څلويښتو | کالو ته | نو وئے ويل | اے ربه زما | توفيق را کړه ما ته | چه زۀ شکر ادا کړم

او د څلويښتو کالو شو نو دے وائى چه اے زما ربه! ما له توفيق را کړه چه زۀ ستا د هغه نعمت شکر په ادا کړم

نِعْمَتَكَ الَّتِيْۤ اَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلٰى وَالِدَيَّ وَاَنْ اَعْمَلَ

د نعمت ستا | هغه | چه تا کړے دے | په ما باندے | او زما په مور او پلار باندے | او چه زۀ عمل او کړم

چه تا په ما او زما په مور او پلار باندے کړے دے او (دا چه) زۀ (داسے) نيک عمل او کړم

صَالِحًا تَرْضٰىهُ وَاَصْلِحْ لِيْ فِيْ ذُرِّيَّتِيْ ۚؔ اِنِّيْ تُبْتُ

نيک (داسے) | چه ته ئے خوښ کړے | او صلاحيت کېږده | زما د پاره | په بچو زما کښې | بے شکه زۀ | توبه او باسم

چه ته پرے خوشحاله شے. او زما د پاره زما اولاد سم (صالح) کړه. زۀ تا ته توبه او باسم

اِلَيْكَ وَاِنِّيْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ۝١٥ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ نَتَقَبَّلُ عَنْهُمْ

تا ته | او بيشکه زۀ يم | د مسلمانانو نه | دغه | هغه خلق دي | چه قبلوو مونږ | د دوی نه

او زۀ په مسلمانانو (حکم منونکو) کښې شامل يم. دا هم هغه خلق دي چه مونږ به د دوی نيک

اَحْسَنَ مَا عَمِلُوْا وَنَتَجَاوَزُ عَنْ سَيِّاٰتِهِمْ فِيْۤ اَصْحٰبِ الْجَنَّةِ ؕ

زيات ښائسته | هغه عملونه چه دوی کړي دي | او مونږ تېر يدل کوو | د ګناهونو د دوی | (وی به دوی) په جنتيانو کښې

(ښه) عملونه قبول کړو، او ګناهونو نه به ورته معاف کړو (او دوی به) په جنتيانو کښې شامل کړو

وَعْدَ الصِّدْقِ الَّذِيْ كَانُوْا يُوْعَدُوْنَ ۝١٦ وَالَّذِيْ قَالَ

وعده | د رشتياو | هغه | چه دوی سره به هميشه کولے شوه | او هغه کس | چه وئے ويل

(دا هر څه به) د هغه رشتينے وعدے په سبب وی چه دوی سره به کيدله. او هغه کس چه خپل مور او پلار ته

لِوَالِدَيْهِ اُفٍّ لَّكُمَاۤ اَتَعِدٰنِنِيْۤ اَنْ اُخْرَجَ وَقَدْ

مور او پلار خپل ته | افسوس دے | په تاسو دواړو | آيا تاسو وعده کوئ ما سره | چه زۀ به بيا را ويستلے شم | او يقيناً

ئے او ويل چه افسوس دے په تاسو (اُف اُف) آيا تاسو ما سره دا وعده کوئ چه زۀ به د قبر نه بيا (ژوندے) را ويستلے شم

خَلَتِ الْقُرُوْنُ مِنْ قَبْلِيْ ۚ وَهُمَا يَسْتَغِيْثٰنِ اللّٰهَ وَيْلَكَ

تیر شوي دي | نسلونه | مخکښې زمانه | او هغوی دواړو | فریاد کوو | الله ته | تباه به شې

حالانکه زمانه مخکښې ډېر نسلونه تیر شوي دي او مور او پلار ئې الله ته فریاد کوو (او ده ته ئې وئیل)

اٰمِنْ ۖ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ ۚ فَيَقُوْلُ مَا هٰذَآ اِلَّآ

ایمان راوړه | بیشکه | وعده | د الله | حقه ده | نو هغه وائي | نه دي دا | مګر

(چه) کم بخته ایمان راوړه یقین اوکړه چه (یقینًا) د الله وعده رښتنې ده. نو دے ورته وائي چه دا خو

اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ۝ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ

قصے | د پخوانو خلقو | هم دغه | خلق دي | چه پوره شوے ده | په دوی باندے | وینا

د پخوانو خلقو قصے دي. هم دا هغه خلق دي چه د دوی په باره کښې د پیریانو او د انسانانو

فِيْٓ اُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ ۭ

په (هغه) امتونو کښې | چه یقینًا | تیر شوي دي | مخکښې د دوی نه | د پیریانو | او د انسانانو نه

د نورو مخکینو ډلو سره (د الله د عذاب) خبره پوره (ثابته) شوے ده. حقیقت دا دے

اِنَّهُمْ كَانُوْا خٰسِرِيْنَ ۝ وَلِكُلٍّ دَرَجٰتٌ مِّمَّا عَمِلُوْا ۚ

بیشکه دوی | وو | تاوانیان | او د هر چا د پاره | درجے دي | د هغه عملونو په وجه چه کړي ئې دي

چه هم دا خلق تاوان اوچتونکي دي. او د هرے یو ډلے د پاره د هغوی د عملونو په وجه (مختلفے) درجے دي

وَلِيُوَفِّيَهُمْ اَعْمَالَهُمْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ۝ وَيَوْمَ

او چه پوره ورکړي الله دوی ته | (بدله) د عملونو د دوی | او په دوی به | هیڅ ظلم نه کیږي | او په هغه ورځ

او (دا دے د پاره) چه الله تعالی دوی ته د خپلو عملونو پوره بدله ورکړي او په دوی به هیڅ ظلم نه کیږي

يُعْرَضُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَلَى النَّارِ ۭ اَذْهَبْتُمْ طَيِّبٰتِكُمْ

چه پیش به کړے شي | هغه کسان | چه کفر ئې کړے دے | په اور باندے | وړي دي تاسو | مزے خپلے

او په هغه ورځ چه کافران به اور ته پیش کړے شي (نو ورته به اوویلے شي چه) تاسو خپل خوندونه

فِيْ حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا وَاسْتَمْتَعْتُمْ بِهَا ۚ فَالْيَوْمَ تُجْزَوْنَ

په ژوند خپل | دنیوي کښې | او فائدے اخستے دي تاسو | په هغے | پس نن ورځ به | (بدله) درکولی شي تاسو ته

د دنیا په ژوند کښې حاصل کړي دي (او شے ډیرے) فائدے مو ترے اخستلی دي نو نن به تاسو ته

عَذَابَ الْهُوْنِ بِمَا كُنْتُمْ تَسْتَكْبِرُوْنَ فِي الْاَرْضِ

د عذاب | د رسوائۍ | په سبب د دے | چه تاسو به همیشه تکبر کولو | په زمکه کښې

(په بدله کښې) د ذلت عذاب ملاویږي ځکه چه تاسو به په زمکه کښې

ع

بِغَيْرِ الْحَقِّ وَبِمَا كُنْتُمْ تَفْسُقُوْنَ ۝ وَاذْكُرْ اَخَا عَادٍ ۭ

په ناحقه | او په سبب د دے | چه تاسو به نافرماني کوله | او یاد کړه | وړور | د (قوم) عاد

همیشه بر ناحقه تکبر کولو او ځکه چه تاسو به نافرماني کوله. او د قوم عاد وړور (هود) یاد کړه

إِذْ أَنذَرَ قَوْمَهُۥ بِٱلْأَحْقَافِ وَقَدْ خَلَتِ ٱلنُّذُرُ

کله چه | هغه ډیرولو | قوم خپل | په احقاف کښې | او یقیناً | تیر شوی وو | ډیروونکی

کله چه هغه خپل قوم د احقاف (په علاقه کښې) ډیرولو او داسے ډیروونکی د هغه نه

مِنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِۦٓ أَلَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّا ٱللَّهَ ط

مخکښې | د هغه نه | او وروستو د هغه نه | (په دے) چه عبادت مه کوئ | سوا | د الله نه (د بل چا)

مخکښے هم تیر شوی دی او وروستو هم. (دا ئے ورته ویلی وو چه) د الله نه سوا د بل چا عبادت مه کوئ

إِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿٢١﴾ قَالُوٓا۟ أَجِئْتَنَا

بیشکه زه | ډیریږم | په تاسو باندے | د عذاب | د ورځے | لوے نه | او ویل هغوی | آیا ته راغلے ئے موږ ته

ستاسو په باره کښې زه د ډیرے لوئے ورځے د عذاب نه ډیریږم. هغوی ورته او ویل آیا ته موږ له د دے

لِتَأْفِكَنَا عَنْ ءَالِهَتِنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ

د دے د پاره چه ګمراه کړے موږ | د خپلو خدایانو نه | پس ته راوله موږ باندے | هغه (عذاب) | چه وعده کوے موږ سره (د هغے)

د پاره راغلے ئے چه موږ د خپلو خدایانو نه واړوے؟ نو که ته واقعی رښتنے ئے نو هغه عذاب په موږ راوله

إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٢٢﴾ قَالَ إِنَّمَا ٱلْعِلْمُ عِندَ ٱللَّهِ

که چرے | ئے ته | د | رښتینو نه | او ویل هغه | بیشکه | علم (خو) | د الله سره دے

د کوم له چه موږ ډیروے. هغه ورته او ویل: (پوره) علم خو صرف د الله سره دے (چه عذاب به کله راځی)

وَأُبَلِّغُكُم مَّآ أُرْسِلْتُ بِهِۦ وَلَٰكِنِّىٓ أَرَىٰكُمْ قَوْمًا

او زه (خو) رسوم تاسو ته | هغه عقیده | چه زه رالیږلے شوے یم | په هغے | لیکن زه | وینم تاسو | (یو داسے) قوم

او زه چه تاسو ته د کوم پیغام سره رالیږلے شوے یم هغه تاسو ته رسوم لیکن زه وینم چه تاسو داسے خلق یئ چه د ناپوهۍ

تَجْهَلُونَ ﴿٢٣﴾ فَلَمَّا رَأَوْهُ عَارِضًا مُّسْتَقْبِلَ أَوْدِيَتِهِمْ

چه جهالت کوئ | پس هر کله چه | هغوی اولیدلو هغه (عذاب) | پلنه وریځ | چه (مخامخ) راتلونکے وه | میدانونو د دوی ته

خبرے کوئ. بیا هر کله چه دوی هغه (عذاب) اولیدو چه د وریځے په شکل کښې د دوی د میدانونو طرف ته راروان وو

قَالُوا۟ هَٰذَا عَارِضٌ مُّمْطِرُنَا ط بَلْ هُوَ مَا ٱسْتَعْجَلْتُم

نو او ویل دوی | چه دا (خو) | (پلنه) وریځ ده | په موږ باران وروونکے | بلکه | دا (خو) | هغه شے دی | چه تاسو زر غوښتلو

نو دوی او ویل چه دا وریځ ده چه په موږ باندے به باران وروی. نه (بلکه) دا خو هغه (عذاب) دے چه تاسو زر غوښتلو

بِهِۦ ط رِيحٌ فِيهَا عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢٤﴾ تُدَمِّرُ كُلَّ شَىْءٍۭ بِأَمْرِ

هغه | هوا ده | چه په هغے کښې | عذاب دے | دردناک | هلاکوی | هر یو | شیز | په حکم

یوه (داسے) هوا ده چه په کښې (ډیر) دردناک عذاب دے. هر یو شیز (به) د خپل رب په حکم تباه کوی

رَبِّهَا فَأَصْبَحُوا۟ لَا يُرَىٰٓ إِلَّا مَسَٰكِنُهُمْ ط كَذَٰلِكَ نَجْزِى

د خپل رب | پس شول دوی | (داسے) چه نه ښکاریدل | سوا | د کورونو د هغوی نه | د غه شان | موږ بدله ورکوو

پس بیا دوی داسے شول چه د کورونو نه سوائے هیڅ په نظر نه راتلل. داسے مجرمانو ته موږ هم

الْقَوْمَ الْمُجْرِمِيْنَ ۞ وَلَقَدْ مَكَّنّٰهُمْ فِيْمَآ اِنْ مَّكَّنّٰكُمْ

قوم | مجرمانو ته | او یقینًا | مونږ طاقت ور کړے وو دوی ته | په هغه شه کښې | چه مونږ طاقت نه دے درکړے تاسو ته

داسے سزا ورکوو. او (اے موجوده خلقوا) مونږ هغوی ته د هغه څیزونو طاقت ورکړے وو

فِيْهِ وَجَعَلْنَا لَهُمْ سَمْعًا وَّاَبْصَارًا وَّاَفْـِٕدَةً ۖ فَمَآ اَغْنٰى

په هغے کښې | او مونږ ورکړی وو | دوی ته | غوږونه | او سترگے | او زړونه | پس لرے نه کړو

چه د هغے طاقت مو تاسو ته نه دے درکړے، او هغوی ته مونږ غوږونه، سترگے او زړونه ورکړی وو

عَنْهُمْ سَمْعُهُمْ وَلَآ اَبْصَارُهُمْ وَلَآ اَفْـِٕدَتُهُمْ مِّنْ شَيْءٍ

د دوی نه | غوږونه د دوی | او نه سترگو د دوی | او نهٔ زړونه د دوی | هیڅ تکلیف

لیکن نه خو د هغوی غوږونه او سترگے د هغوی په کار راغلے او نهٔ د هغوی زړونه،

اِذْ كَانُوْا يَجْحَدُوْنَ ۙ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَحَاقَ بِهِمْ مَّا

ځکه | چه دوی | انکار کولو | د آیتونو | د الله نه | او راگیر کړل | دوی لره | هغه شه

ځکه چه هغوی د الله د آیتونو نه انکار کولو، او کوم څیز پورے چه ئے خندا کوله

كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ۞ وَلَقَدْ اَهْلَكْنَا مَا حَوْلَكُمْ

چه دوی وو | په هغے پورے | چه تو ئے (خندا) کالے (ئے) کولے | او یقینًا | مونږ هلاک کړی دی | چاپیره ستاسو نه

هم هغے راگیر کړل. او (اے مکے والوا) ستاسو نه چار چاپیره نور کلی هم مونږ تباه کړی دی

مِّنَ الْقُرٰى وَصَرَّفْنَا الْاٰيٰتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ۞ فَلَوْلَا

ډیر کلی | او اړولی راړولی دی مونږ | آیتونه | د دے دپاره چه دوی | رجوع اوکړی | پس (لو) ولے

او بیا بیا مو ورته خپلے نخښے ښکاره کړے وے (د دے دپاره) چه هغوی واپس شی الله ته. بیا چه دوی

نَصَرَهُمُ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ قُرْبَانًا اٰلِهَةً ۭ

مدد اونه کړو د دوی سره | هغه چا | چه دوی نیولی وو | سوا | د الله نه | د نزدیکت د پاره | خدایان

د الله د تقرب حاصلولو د پاره د الله نه سوا نور معبودان جوړ کړی وو هغوی ور سره مدد ولے اونه کړو؟

بَلْ ضَلُّوْا عَنْهُمْ ۚ وَذٰلِكَ اِفْكُهُمْ وَمَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ۞

بلکه | هغوی ورک شول | د دوی نه | او دا وو | دروغ د دوی | او هغه شه وو | چه دوی به د ځان نه جوړول

بلکه هغوی خو د دوی نه ورک شو، او دا د دوی دروغ او د ځان نه جوړے کړے خبرے وے

وَاِذْ صَرَفْنَآ اِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُوْنَ الْقُرْاٰنَ ۚ

او کله چه | راواړوله مونږ | تا ته | یوه ډله | د پیریانو نه | چه اوریدلو ئے | قرآن

او (اے نبی! یاد کړه) کله چه مونږ د پیریانو یوه ډله ستا طرف ته متوجه کړه چه هغوی قرآن واوری

فَلَمَّا حَضَرُوْهُ قَالُوْٓا اَنْصِتُوْا ۚ فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْا

پس هر کله | چه هغوی حاضر شول قرآن ته | نو وئے ویل | چپ شئ | بیا هر کله | چه پوره کړے شو (لوستل) | نو واپس شول

بیا کله چه هغوی د قرآن اوریدو ته حاضر شو نو یو بل ته ئے اوویل چه چپ شئ. بیا چه کله (لوستل) پوره شو

اِلٰى قَوۡمِهِمۡ مُّنۡذِرِيۡنَ ۝٢٩ قَالُوۡا يٰقَوۡمَنَاۤ اِنَّا سَمِعۡنَا كِتٰبًا

قوم خپل ته | ېروونکي | او ويل دوی | اے زموږ قومه! | بېشکه | مونږ اورېدلے دے | يو (نا آشنا) کتاب

لوخپل قوم ته واپس لاړل چه هغوی او ېروی (خبردارے کړی). (هغوی ته ئے) او ويل اے زموږ قومه!

اُنۡزِلَ مِنۡۢ بَعۡدِ مُوۡسٰى مُصَدِّقًا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ

چه نازل کړے شوے دے | پس د موسٰی علیه السلام نه | (چه) تصدیق کوونکے دے | د هغه څه | چه مخکښې دی د دهٔ نه

يقين اوکړئ چه مونږ يو داسے کتاب واورېدلو چه د موسٰی نه وروستو نازل شوے دے (او) د ځان نه

يَهۡدِىۡۤ اِلَى الۡحَقِّ وَاِلٰى طَرِيۡقٍ مُّسۡتَقِيۡمٍ ۝٣٠ يٰقَوۡمَنَاۤ اَجِيۡبُوۡا

لاره ښائي | حق ته | او لارے | نيغے ته | اے زموږ قومه! | قبول کړئ (دعوت)

د مخکنی کتابونو تصديق کوی (او) حقے خبرے او نيغے لارے طرف ته رهنمائي کوی۔ اے زموږ قومه!

دَاعِىَ اللّٰهِ وَاٰمِنُوۡا بِهٖ يَغۡفِرۡ لَكُمۡ مِّنۡ ذُنُوۡبِكُمۡ

د دعوت ورکوونکی | د الله | او ايمان راوړئ | په هغه | او به بخښي هغه | تاسو ته | گناهونه ستاسو

د الله د داعي خبره او منئ او په الله ايمان راوړئ، هغه به ستاسو هر قسمه گناهونه معاف کړي

وَيُجِرۡكُمۡ مِّنۡ عَذَابٍ اَلِيۡمٍ ۝٣١ وَمَنۡ لَّا يُجِبۡ دَاعِىَ اللّٰهِ

او بچ به کړی تاسو | د عذاب | دردناک نه | او چا چه | قبول نه کړو (دعوت) | د دعوت ورکوونکی | د الله

او د دردناک عذاب نه به پناه درکړي. او څوک چه د الله د داعي خبره نه مني

فَلَيۡسَ بِمُعۡجِزٍ فِى الۡاَرۡضِ وَلَيۡسَ لَهٗ مِنۡ دُوۡنِهٖۤ

نو نهٔ دے هغه | عاجزه کوونکے (الله لره) | په زمکه کښې | او نشته | د هغه دپاره | سوا د الله نه

نو هغه د زمکے په مخ (چرته هم) الله عاجزه کولے نشي، او د الله نه سوا (به) د هغه هيڅ څوک

اَوۡلِيَآءُ ؕ اُولٰٓئِكَ فِىۡ ضَلٰلٍ مُّبِيۡنٍ ۝٣٢ اَوَلَمۡ يَرَوۡا اَنَّ اللّٰهَ

دوستان | هم دغه خلق | په گمراهئ | ښکاره کښې دی | آيا دوی نه گوري | چه بېشکه | الله

دوستان (مددگاران) نه وی، داسے خلق په ښکاره گمراهئ کښې (پراته) دی۔ آيا دوی نه گوري چه بېشکه

الَّذِىۡ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ وَلَمۡ يَعۡىَ بِخَلۡقِهِنَّ

هغه ذات دے | چه پيدا کړی ئے دی | آسمانونه | او زمکه | او (هغه) نه دے ستړے شوے | په پيدا کولو د دوی

هغه الله چه آسمانونه او زمکه ئے پيدا کړی دی او د هغے په پيدا کولو (لوغونډے هم) ستړے شوے نه دے

بِقٰدِرٍ عَلٰٓى اَنۡ يُّحۡـىِۦَ الۡمَوۡتٰى ؕ بَلٰٓى اِنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ

قادر دے | په دے چه | ژوندی کړی | مړی | ولے نه | بېشکه هغه | په هر | څيز باندے

ولے هغه (الله) په دے قادر نه دے چه مړی (بيا) راژوندی کړی؟ ولے نه هغه (خو) په هر څيز باندے

قَدِيۡرٌ ۝٣٣ وَيَوۡمَ يُعۡرَضُ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا عَلَى النَّارِ ؕ

(پوره) قادر دے | او په هغه ورځ | چه پيش به کړے شي | هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | په اور باندے

قادر دے۔ او په کومه ورځ چه کافران به اور ته مخامخ (پيش) کړے شي (په هغه ورځ به ترے تپوس اوشي)

اَلَيْسَ هٰذَا بِالْحَقِّ ؕ قَالُوْا بَلٰى وَرَبِّنَا ؕ قَالَ فَذُوْقُوا

آیا نه دے | دا | حق | او به وائی هغوی | ولے نه | قسم دے په خپل رب | او به وائی الله | پس او څکئ

(چه) آیا دا حق (رشتیا) نه دی؟ هغوی به او وائی چه زمونږ په خپل رب قسم دے چه واقعی حق دی. الله به ورته او فرمائی

الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ﴿٣٤﴾ فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ

عذاب | په دے وجه | چه تاسو به کفر کولو | پس ته صبر کوه | لکه څنګه چه | صبر کړے وو

بیا خو د عذاب مزه او څکئ د هغه کفر په بدله کښې چه تاسو به کولو. غرض (تو) (اے نبی!) ته داسے صبر کوه

اُولُوا الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ وَلَا تَسْتَعْجِلْ لَّهُمْ ؕ كَاَنَّهُمْ

مضبوطو ارادو والو | د پیغمبرانو نه | او زر مه غواړه (عذاب) | د دوی د پاره | ګویا چه دوی

لکه څنګه چه نورو اولوا العزم پیغمبرانو صبر کړے وو، او د دوی په پاره کښې تادی (تلوار) مه کوه په کومه ورځ چه

يَوْمَ يَرَوْنَ مَا يُوْعَدُوْنَ ۙ لَمْ يَلْبَثُوْٓا اِلَّا سَاعَةً

په هغه ورځ | چه او وینی | هغه څه | چه دوی سره ئے وعده کولے شی | نه وو پاتے شوی دوی | مګر | یو ساعت

دوی هغه څیز او وینی د کوم چه دوی سره وعده کیږی په هغه ورځ به دوی ته داسے ښکاری لکه چه دوی (په دنیا کښې)

مِّنْ نَّهَارٍ ؕ بَلٰغٌ ۚ فَهَلْ يُهْلَكُ اِلَّا الْقَوْمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿٣٥﴾ ع

د ورځے نه | دا (خو) رسول دی | پس نه به هم هلاک کولے | مګر | قوم | فاسقان

د ورځے یو ساعت نه زیاتے تیر کړے شوی (دا قرآن) د رسولو پیغام دے نو اوس خو به صرف هغه خلق تباه کیږی چه نافرمان دی

آیاتها [٣٨]	سورة محمد مدنية	رکوعاتها [٤]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَضَلَّ

هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | او منع کړی ئے دی (خلق) | د لارے | د الله نه | بیکاره کړی دی الله

کومو خلقو چه کفر اختیار کړے دے او د الله د لارے نه ئے (خلق) منع کړی دی الله د هغوی عملونه

اَعْمَالَهُمْ ﴿١﴾ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

عملونه د هغوی | او هغه کسان | چه ایمان ئے راوړے دے | او عملونه ئے کړی دی | نیک

برباد (ضائع) کړی دی. او چا چه ایمان راوړے دے او نیک عملونه ئے کړی دی

وَاٰمَنُوْا بِمَا نُزِّلَ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّهُوَ الْحَقُّ

او ایمان ئے راوړے دے | په هغه څه | چه نازل کړے شوی دی | په محمد ﷺ | او هم دا دی | حق

او په محمدؐ چه څه نازل شوی دی په هغے ئے ایمان راوړے دے او هم هغه حق دی

مِنْ رَّبِّهِمْ ۙ كَفَّرَ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَاَصْلَحَ بَالَهُمْ ۝٢

دهغوي د رب د طرف نه | (نو) لرے به کړي الله | دهغوي نه | ګناهونه دهغوي | او سم به کړي | حالت دهغوي

چه دهغوي د رب د طرف نه راغلې دي، الله تعالیٰ به دهغوي ګناهونه معاف کړي او دهغوي حالت به درست کړي

ذٰلِكَ بِاَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوا اتَّبَعُوا الْبَاطِلَ وَاَنَّ الَّذِيْنَ

دا حُکه | چه بیشکه | هغه کسان | چه کفرے کړے دے | هغوي روان دي | په باطل پسے | او بیشکه | هغه خلق

دا حُکه چه کافران باطل پسے روان شوي دي او مؤمنان د خپل رب د طرف نه

اٰمَنُوا اتَّبَعُوا الْحَقَّ مِنْ رَّبِّهِمْ ؕ كَذٰلِكَ يَضْرِبُ

چه ایمان ئې راوړے دے | هغوي روان دي | په حق پسے | د خپل رب د طرف نه | دغه شان | بیانوي

راغلې حق پسے روان شوي دي ، دغه شان الله تعالیٰ خلقو ته

اللّٰهُ لِلنَّاسِ اَمْثَالَهُمْ ۝٣ فَاِذَا لَقِيْتُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوا

الله | خلقو د پاره | (مختلف) حالتونه دهغوي | پس هرکله چه | مخامخ شئ تاسو | دهغه کسانو سره | چه کفر ئې کړے دے

دهغوي حالات (مثالونه) بیانوي. او کله چه ستاسو د کافرانو سره مقابله وي (مخامخ شئ)

فَضَرْبَ الرِّقَابِ ؕ حَتّٰٓى اِذَآ اَثْخَنْتُمُوْهُمْ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ ۙۗ

نو او وهئ | څټونه (دهغوي) | تر دے | چه کله | تاسو ئې ډیر سخت وټکوئ قتل کړئ دهغوي | نو کلک کړئ | تړل دهغوي

نو څټونه ئې پرے کړئ، تر دے چه کله ئې تاسو او وژنئ نو (قیدیان) ښه کلک (مضبوط) قید کړئ

فَاِمَّا مَنًّۢا بَعْدُ وَاِمَّا فِدَآءً حَتّٰى تَضَعَ الْحَرْبُ اَوْزَارَهَا ۚۛ

پس یا احسان او کړئ | پس دد نه | او یا (ترے نه) فدیه واخلئ | تر دے | چه کیږدي | جنګ | خپل سامان (وسله)

بیا ورسره یا خو احسان او کړئ یا ترے فدیه واخلئ (او پرېږدئ ئې) تر دے چه جنګ (کوونکي) خپله وسله کوزه کړي

ذٰلِكَ ۛ وَلَوْ يَشَآءُ اللّٰهُ لَانْتَصَرَ مِنْهُمْ وَلٰكِنْ

(حکم) هم دا دے | که چرے | غوښتلے | الله | نو ضرور به ئې بدله اخستے وه | د دوي نه | لیکن

تاسو ته هم دا حکم دے او که چرے الله غوښتلے نو دهغوي نه به ئې پخپله بدله اخستلے وے لیکن (تاسو ته ئې

لِّيَبْلُوَا۟ بَعْضَكُمْ بِبَعْضٍ ؕ وَالَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

چه هغه ازمیښت او کړي | د بعضو ستاسو | په بعضو نورو | او هغه کسان | چه او وژلی شو | په لاره | د الله کښ

حکم ځکه او کړو) چه د یو بل په ذریعه ستاسو ازمیښت او کړي او کوم خلق چه د الله په لاره کښ وژلي (شهیدان) شوي دي

فَلَنْ يُّضِلَّ اَعْمَالَهُمْ ۝٤ سَيَهْدِيْهِمْ وَيُصْلِحُ بَالَهُمْ ۝٥

پس هیڅ کله به | ضائع نه کړي هغه (الله) | عملونه دهغوي | زر دے چه لاره به او ښائي هغوي ته | او سم به کړي | حالت دهغوي

الله تعالیٰ به دهغوي عملونه هیڅ کله ضائع نه کړي. منزل مقصود (جنت) ته به ئې اورسوي او حالت به ئې سم کړي

وَيُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمْ ۝٦ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوٓا

او داخل به کړي دوي لره | جنت ته | چه پیژندګلو ئې کړے ده د هغے | هغوي ته | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے

او هغه جنت ته به ئې داخل کړي چه د هغے پیژندګلو ئې ورته د (مخکښے نه) کړے ده. اے مؤمنانو

اِنْ تَنْصُرُوا اللّٰهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ اَقْدَامَكُمْ ۝ وَالَّذِيْنَ

که چیرے | تاسو مدد او کړو | د الله | (نو) هغه به مدد درکړي ستاسو | او کلک به کړي | قدمونه ستاسو | او هغه کسان

که چیرے تاسو د الله (د دین) مدد او کړئ نو الله به ستاسو مدد او کړي او قدمونه به مو مضبوط کړي. او چا چه

كَفَرُوْا فَتَعْسًا لَّهُمْ وَاَضَلَّ اَعْمَالَهُمْ ۝ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ

چه کفر ئے کړے دے | نو تباهي ده | هغوي لره | او ضائع کړي دي الله | عملونه د هغوي | دا ځکه چه | بیشکه دوي

کفر اختیار کړے دے د هغوي دپاره تباهي ده او الله د هغوي عملونه برباد کړي دي، دا ځکه چه دوي

كَرِهُوْا مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاَحْبَطَ اَعْمَالَهُمْ ۝ اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا

بد ګڼلي دي | هغه څه | چه رالیږلي دي | الله | پس الله ضائع کړل | د دوي عملونه | آیا نو دوي نه دي ګرځیدلي

هغه څیز بد او ګڼلو کوم چه الله تعالی رالیږلے دے، نو الله د دوي عملونه برباد کړل. آیا دوي

فِى الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ

په زمکه کښې | چه اوګوري | چه څنګه | وو | انجام | د هغه کسانو | چه مخکښې وو د دوي نه

په زمکه کښې نه دي ګرځیدلي چه کتلي ئے وے چه د هغه کسانو څه انجام شو چه د دوي نه مخکښې تیر شوي وو

دَمَّرَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ۖ وَلِلْكٰفِرِيْنَ اَمْثَالُهَا ۝ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ

تباهي راوستله | الله | په هغوي باندے | او د کافرانو دپاره | هم داسے (عذابونه) دي | دا ځکه | چه بیشکه | الله

الله په هغوي باندے تباهي راوستله او د کافرانو دپاره هم داسے حالات (عذابونه) دي. دا ځکه چه الله تعالی

مَوْلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَاَنَّ الْكٰفِرِيْنَ لَا مَوْلٰى

دوست | د هغه کسانو دے | چه ایمان ئے راوړے دے | او دا چه بیشکه | کافران چه دي | نشته هیڅ څوک دوست

د مؤمنانو کارساز (دوست) دے او د کافرانو هیڅ څوک کارساز (دوست) نشته.

لَهُمْ ۝ اِنَّ اللّٰهَ يُدْخِلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا ع

د هغوي | بیشکه | الله | داخلوي | هغه کسان | چه ایمان ئے راوړے دے | او عملونه ئے کړي دي

یقین اوکړئ چه چا ایمان راوړے دے او نیک عملونه ئے کړي دي

الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۗ وَالَّذِيْنَ

نیک | (داسے) جنتونو ته | چه بهیږي (په) | لاندے د هغے نه | نهرونه | او هغه کسان

الله تعالی به هغوي داسے جنتونو ته داخل کړي چه لاندے به ئے نهرونه بهیږي.

كَفَرُوْا يَتَمَتَّعُوْنَ وَيَاْكُلُوْنَ كَمَا تَاْكُلُ الْاَنْعَامُ

چه کفر ئے کړے دے | هغوي فائدے اخلي | او خوراک کوي | (داسے) لکه څنګه | چه خوراک کوي | څاروي

او چا چه کفر اختیار کړے دے (هغوي دلته) مزے کوي او داسے خوراک کوي لکه څنګه چه څاروي خوراک کوي

وَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ۝ وَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ هِيَ اَشَدُّ قُوَّةً

او اور | ځائے د اوسیدو | د هغوي دے | او ډیر | د کلو نه | (وو) | چه هغه | زیات وو | په طاقت کښې

او (اخیر) د جهنم اور د هغوي ځائے دے. او څومره ډیر کلي وو چه په طاقت کښې ستا

مِّنْ قَرْيَتِكَ الَّتِيْٓ اَخْرَجَتْكَ ۚ اَهْلَكْنٰهُمْ فَلَا نَاصِرَ لَهُمْ ۝

د کلي ستا نه | هغه | چه ته ئې ويستلے ئې | مونږ هلاک کړل هغوی | پس نه وو هيڅوک مدد کوونکے | د هغوی

د هغه کلي نه مضبوط وو چه ته ئې ويستلے ئې، هغه ټول مونږ هلاک کړل نو (بيا) هيڅ څوک د هغوی مددګار نه وو۔

اَفَمَنْ كَانَ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ كَمَنْ زُيِّنَ لَهٗ

آيا نو هغه څوک | چه وي | په ښکاره دليل | د خپل رب د طرف نه | پشان د هغه چا دے | چه ښائسته کړے شوي وي | هغه ته

(اوس او وايئ) څوک چه د خپل رب د طرف نه په يو واضحه دليل باندے (روان) وي آيا دا د هغه چا پشان کيدے شي

سُوْٓءُ عَمَلِهٖ وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ ۝ مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِيْ وُعِدَ

بد | عمل خپل | او روان وي | په خپلو خواهشاتو پسے | حالت | د جنت | هغے | چه وعده ئې کيږي

چه خپل بد عمل ورته ښائسته (ښکاره) کړے شوي وي او خپلو خواهشاتو پسے روان وي؟ متقيانو سره چه د کوم جنت

الْمُتَّقُوْنَ ۭ فِيْهَآ اَنْهٰرٌ مِّنْ مَّآءٍ غَيْرِ اٰسِنٍ ۚ وَاَنْهٰرٌ

متقيانو سره | په هغے کښ به | نهرونه وي | د (داسے) اوبو | چه نه به وي | خرابيدونکي | او نهرونه به وي

وعده شوے ده د هغے مثال (حال) داسے دے چه په هغے کښ داسے اوبو نهرونه دي چه (هيڅکله) نه خرابيږي

مِّنْ لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهٗ ۚ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ

د (داسے) پيو | چه نه به وي بدل شوي | خوند د هغے | او نهرونه به وي | د (داسے) شرابو | چه خوندور کوونکي به وي

او د داسے پيو نهرونه دي چه خوند ئې (هيڅ کله) نه بدليږي، او د داسے شرابو نهرونه دي

لِّلشّٰرِبِيْنَ ۚ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ عَسَلٍ مُّصَفًّى ۭ وَلَهُمْ فِيْهَا

څکوونکو ته | او نهرونه به وي | د (داسے) شاتو | چه صفا کړے شوي به وي | او وي به د هوی دپاره | په هغے کښ

چه څکوونکو ته به خوند ورکوي او د داسے ګبينتو (شاتو) نهرونه دي چه بلکل صفا ستره دي

مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ وَمَغْفِرَةٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ ۭ كَمَنْ هُوَ

هر قسمه | ميوے | او بخښنه | د خپل رب د طرف نه | (دے) پشان د هغه چا دے | چه هغه

او د هغوی دپاره به هر قسم ميوے وي او د خپل رب د طرف نه به مغفرت (هم وي) آيا دا خلق د هغه چا

خَالِدٌ فِي النَّارِ وَسُقُوْا مَآءً حَمِيْمًا فَقَطَّعَ

هميشه وي | په اور کښ | او څکولے به شي په هغوی باندے | او به | ګرمے | نو ټوټے ټوټے به کړي هغه

پشان کيدے شي چه هميشه به په اور کښ وي او داسے ګرمے (خوټکيدلے) اوبه به پرے څکولی شي

اَمْعَآءَهُمْ ۝ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّسْتَمِعُ اِلَيْكَ ۚ حَتّٰٓى اِذَا خَرَجُوْا

کولمے د هغوی | او بعضے د دوی نه | هغه څوک دي | چه غوږ پړدي | تا ته | تر دے | چه کله | وځي دوی

چه کولمے به ورله ټکړے ټکړے کړي؟ او (اے نبی!) په دوی کښ څه خلق داسے دي چه ستا خبرے آوري

مِنْ عِنْدِكَ قَالُوْا لِلَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ مَاذَا قَالَ

ستا د خوا نه | (نو) وائي | هغه کسانو ته | چه ورکړے شوے د هغوی ته | علم | چه څه او ويل دے (پيغمبر)

تر دے چه کله ستا د خوا (مجلس) نه لاړ شي نو چا ته چه علم ورکړے شوے دے هغوی ته (بطور استهزام) وائي

اِنِفًا ۟ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ طَبَعَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَاتَّبَعُوْٓا

اوس | هم دغه | خلق دي | چه مهر وهلے دے | الله | د دوی په زړونو | او دوی روان دی

چه دے پیغمبر دا اوس څه (سبق) وئیلے وو؟ خبرے او کړے. دا هم هغه خلق دی چه الله تعالیٰ یو له په زړونو مهر لګولے دے او خپلو

اَهْوَآءَهُمْ ﴿١٦﴾ وَالَّذِيْنَ اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًى

په خپلو خواهشاتو پسے | او هغه خلق | چه هدایت ئے موندلے دے | زیات کړی الله هغوی لره | هدایت

خواهشاتو پسے روان دی او چا چه سمه لار موندلے ده الله تعالیٰ هغوی له په هدایت کښې نوره ترقی ورکړی

وَاٰتٰىهُمْ تَقْوٰىهُمْ ﴿١٧﴾ فَهَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّا السَّاعَةَ

او ورکړی الله هغوی ته | تقوٰی د هغوی | پس نه کوی دوی انتظار | مګر | د قیامت

او هغوی ته د هغوی د تقوٰی حصه ورکړی (اوس) آیا دا خلق صرف د قیامت انتظار کوی چه ناڅاپه

اَنْ تَاْتِيَهُمْ بَغْتَةً ۚ فَقَدْ جَآءَ اَشْرَاطُهَا ۚ فَاَنّٰى لَهُمْ

چه هغه راشی دوی ته | ناڅاپه | پس یقینًا | راغلی دی | نخښے د هغے | پس د کوم ځائے نه به وی | دپاره د دوی

پرے راشی (که دا سے وی) نو د هغے نخښے خو راغلی دی بیا کله چه قیامت راشی نو بیا به دوی لره د نصیحت اخستلو موقع

اِذَا جَآءَتْهُمْ ذِكْرٰىهُمْ ﴿١٨﴾ فَاعْلَمْ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

کله چه | راشی هغه دوی ته | نصیحت (اخستل) د دوی | پس ته پوهه شه | په دے چه یقینًا | نشته | لائق د عبادت | سوا | د الله نه

چرته ملاؤ شی؟ پس (تو) (اے نبیؐ) په دے خبره یقین اولره چه د الله تعالیٰ نه سوا بل هیڅ څوک د عبادت لائق نشته

وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْۢبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ

او بخښنه غواړه | د خپلے خطائے | او دپاره د مؤمنانو (سړو) | او دپاره د مؤمنانو ښځو | او الله | پیژنی

او د خپل قصور د معافئ دعاء غواړه او د مؤمنانو سړو او مؤمنانو زنانو دپاره هم معافی غواړه او الله تعالیٰ ستاسو

مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوٰىكُمْ ﴿١٩﴾ ع وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

ځائے د ګرځیدلو ستاسو | او ځائے د آرام ستاسو | او وائی | هغه خلق | چه ایمان ئے راوړے دے

د ګرځیدلو او د آرام ځایونه ټول پیژنی. او مؤمنان وائی چه (د جهاد)

لَوْلَا نُزِّلَتْ سُوْرَةٌ ۚ فَاِذَآ اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ مُّحْكَمَةٌ وَّذُكِرَ

ولے نازل نه کړے شو | یو سورت | پس هر کله چه | نازل کړے شو | یو سورت | کلک حکم والا | او ذکر کړے شو

یو سورت ولے نازل نه شو؟ بیا چه کله یو صفا مضمون والا (محکم) سورت نازل شی او پکښې

فِيْهَا الْقِتَالُ ۙ رَاَيْتَ الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ

په هغے کښې | جنګ | (تو) وینے به ته | هغه کسان | چه د هغوی په زړونو کښې | مرض دے

د جهاد (قتال) ذکر وی نو د چا په زړونو کښې چه مرض دے ته به هغه وینے چه تا ته به

يَّنْظُرُوْنَ اِلَيْكَ نَظَرَ الْمَغْشِيِّ عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ ؕ

(چه) ګوری به | تا ته | پشان د کتلو | د هغه چا چه بے هوشی راغلی وی | په هغه باندے | د | مرګ د وجے

داسے ګوری لکه په چا چه د مرګ د راتلو د وجے بے هوشی راغلی وی. پس د داسے خلقو دپاره

فَاَوْلٰى لَهُمْ ﴿٢٠﴾ طَاعَةٌ وَّقَوْلٌ مَّعْرُوْفٌ فَاِذَا عَزَمَ

پس تباهي ده | دهغوی دپاره | پکار دی حوی لره خبره منل | او وینا | نیکه کول | پس هرکله چه | قطعي فیصله وشوه

تباهي (خرابي) ده. دوی له خود الله حکم منل او ښه وینا کول پکار وو لیکن کله چه د جهاد خبره

الْاَمْرُ فَلَوْ صَدَقُوا اللّٰهَ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ﴿٢١﴾

دکار (د جنګ) | پس که چرے | دوی رښتنے ثابت شوی وے | الله سره | نو خامخا به دا | غوره | دَ دوی دپاره

پخه شوه هغه وخت که دوی د الله سره رښتني وے نو د ورله ډیره ښه وے

فَهَلْ عَسَيْتُمْ اِنْ تَوَلَّيْتُمْ اَنْ تُفْسِدُوْا فِى الْاَرْضِ

پس یقینًا تاسو نه دا امید دے | که چرے | تاسو مخ واړوئ | دا چه فساد به اوکړئ | په زمکه کښ

بیا که تاسو (د جهاد نه) مخ واړولو نو ستاسو نه هم دا توقع ده چه تاسو به په زمکه کښ فساد خوروئ

وَتُقَطِّعُوْٓا اَرْحَامَكُمْ ﴿٢٢﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَعَنَهُمُ اللّٰهُ

او پرے به کړئ | خپلوئ خپلے | هم دا | هغه کسان دی | چه لعنت کړے دے په دوی باندے | الله

او خپلولی به ختموئ. دا هم هغه خلق دی چه الله پرے لعنت کړے دے

فَاَصَمَّهُمْ وَاَعْمٰٓى اَبْصَارَهُمْ ﴿٢٣﴾ اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ

پس کانړه کړی ئے دی حوی | او ړندے کړی ئے دی | سترګے د دوی | آیا نو دوی سوچ نه کوی | په قرآن کښ

او کانړه کړی ئے دی او سترګے ئے ورله ړندے کړی دی. آیا دا خلق په قرآن کښ غور نه کوی

اَمْ عَلٰى قُلُوْبٍ اَقْفَالُهَا ﴿٢٤﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ ارْتَدُّوْا عَلٰٓى اَدْبَارِهِمْ

بلکه په زړونو ئے | تالے دهغے دی | بیشکه | هغه کسان | چه واوړیدل | په خپلو شاګانو

بلکه دَ دوی په زړونو باندے تالے لګیدلی دی. یقینًا کوم خلق چه د هدایت د پوره ښکاره کیدو

مِّنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَى ۙ الشَّيْطٰنُ سَوَّلَ

پس د دے نه | چه ښه ښکاره شو | دوی ته | هدایت | شیطان | ښائسته کړے دے

باوجود هم مرتد شول هغوی ته شیطان (داکار) ښائسته ښکاره کړے دے

لَهُمْ ؕ وَاَمْلٰى لَهُمْ ﴿٢٥﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْا لِلَّذِيْنَ

دوی ته (داکار) | او مهلت ئے ورکړے دے | دوی ته | دا ځکه | چه بیشکه دوی | ویلی وو | هغه کسانو ته

او (اوږده) امیدونه ئے ورکړی دی. دا (هر څه) ځکه (اوشو) چه کومو خلقو د الله رالیږلے دین

كَرِهُوْا مَا نَزَّلَ اللّٰهُ سَنُطِيْعُكُمْ فِىْ بَعْضِ الْاَمْرِ ۚ

چه هغوی بد ګڼړلی دی | هغه څه | چه رالیږلی دی | الله | (چه) زر ده چه مونږ به خبره او منو ستاسو | په بعضے | کارونو کښ

بد ګڼړلے دے نو دے منافقانو هغوی ته دا اوویل چه په بعضو کارونو (معاملاتو) کښ به مونږ ستاسو خبره او منو

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِسْرَارَهُمْ ﴿٢٦﴾ فَكَيْفَ اِذَا تَوَفَّتْهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ

او الله | پیژنی | پټے خبرے دَ دوی | پس څنګه (حال) به وی | کله چه | ساه اخلی دَ دوی نه | ملائک

او (حالانکه) الله تعالیٰ ته د دوی پټے خبرے معلوم دی بیا به په هغه وخت د دوی څه حال وی کله به چه فرښتے

يَضْرِبُوْنَ وُجُوْهَهُمْ وَأَدْبَارَهُمْ ۝۲۷ ذٰلِكَ بِأَنَّهُمُ اتَّبَعُوْا

وهي به | مخونه دَ دوی | او شاګانے دَ دوی | دا ځکه | چه بیشکه دوی | روان دی

د دوی نه ساه اخلی (او) په مخونو او په شاګانو به ئے وهی؟ دا ځکه چه :وی په هغه کارونو پسے روان دی

مَآ أَسْخَطَ اللّٰهَ وَكَرِهُوْا رِضْوَانَهٗ فَأَحْبَطَ

په هغه کارونو پسے | چه خفه کړے ئے دے | الله | او دوی بد ګڼړی | رضا د الله | پس ضائع کړل هغه (الله)

چه الله ئے خفه کړے دے او دوی دَ هغهٔ رضا کول بد ګڼړی نو (ځکه خو) الله

ع أَعْمَالَهُمْ ۝۲۸ أَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ

عملونه دَ دوی | آیا ګمان کوی | هغه کسان | چه د هغوی په زړونو کښ | مرض دے

د دوی عملونه برباد کړل۔ د چا په زړونو کښ چه مرض دے آیا هغوی دا خیال کوی چه (ګنی)

أَنْ لَّنْ يُّخْرِجَ اللّٰهُ أَضْغَانَهُمْ ۝۲۹ وَلَوْ نَشَآءُ لَأَرَيْنٰكَهُمْ

چه هیڅکله به را ښکاره نه کړی | الله | کینے دَ هغوی | او که چرے | مونږ غوښتلے | نو خامخا مونږ به ښودلی وے تاته دوی

الله تعالیٰ به د هغوی پټے کینے را ښکاره نه کړی؟ او (اے نبیؐ!) که چرے مونږ او غواړو نو تاته به دا خلق دا سے او ښایو

فَلَعَرَفْتَهُمْ بِسِيْمٰهُمْ ۚ وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِيْ لَحْنِ الْقَوْلِ ۚ وَاللّٰهُ

نو ضرور به تا پیژندلی وو دوی | په نخښو دَ دوی | او خامخا ته به او پیژنے دوی | په چالاکو | خبرو | او الله

چه ته به دوی د دوی په نخښو او پیژنے او (اوس هم) د خبرو په طرز به ته دوی خامخا پیژنے او الله تعالیٰ

يَعْلَمُ أَعْمَالَكُمْ ۝۳۰ وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتّٰى نَعْلَمَ الْمُجٰهِدِيْنَ

پیژنی | عملونه ستاسو | او خامخا به مونږ ازمیښت کوو په تاسو | تر دے چه | مونږ ښکاره کړو | جهاد کوونکی

ستاسو ټول عملونه ښه پیژنی او مونږ به ضرور په تاسو ازمیښت کوو تر دے چه مونږ دا ښکاره کړو چه څوک

مِنْكُمْ وَالصّٰبِرِيْنَ ۙ وَنَبْلُوَا أَخْبَارَكُمْ ۝۳۱ إِنَّ الَّذِيْنَ

دَ تاسو نه | او صبر کوونکی | او (تر دے چه) مونږ او ازمایو | حالات ستاسو | بیشکه | هغه کسان

په تاسو کښ جهاد کوونکی دی او (څوک) صبر کوونکی دی او چه مونږ ستاسو د حالاتو اندازه واخلو۔ حقیقت دا دے

كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَشَآقُّوا الرَّسُوْلَ

چه کفر ئے کړے دے | او منع کړی ئے دی (خلق) | د لارے | د الله نه | او مخالفت ئے کړے دے | د پیغمبر

چه کوم خلقو د هدایت (حق) د ښکاره کیدو نه پس هم کفر اختیار کړو او خلق ئے د الله د لارے نه منع کړل

مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدٰى ۙ لَنْ يَّضُرُّوا اللّٰهَ شَيْئًا ۚ

پس د دے نه | چه ښکاره شو | دوی ته | هدایت | هیڅ کله به نقصان اونه رسوی دوی | الله ته | د څه څیز

او د پیغمبر مخالفت ئے او کړو هغوی الله تعالیٰ ته هیڅ کله نقصان (ضرر) نشی رسولے

وَسَيُحْبِطُ أَعْمَالَهُمْ ۝۳۲ يٰٓأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا أَطِيْعُوا اللّٰهَ

او زر دے چه هغه (الله) به ضائع کړی | عملونه دَ دوی | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | خبره او منئ | د الله

او ډیر زر به الله تعالیٰ د هغوی عملونه برباد کړی۔ اے مؤمنانو د الله حکم او منئ

وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَلَا تُبْطِلُوْٓا اَعْمَالَكُمْ ۝٣٣ اِنَّ الَّذِيْنَ

او خبره او منئ | د پیغمبر | او مه بربادوئ | عملونه خپل | بیشکه | هغه کسان

او د پیغمبر تابعداري اوکړئ او خپل عملونه مه بربادوئ. یقیناً چا چه

كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ثُمَّ مَاتُوْا وَهُمْ

چه کفر کړے دے | او منع کړي ئې (خلق) | د | لارے | دالله نه | بیا | مړه شوي دي | او حال دا چه دوي

کفر کړے دے او د الله د لارے نه ئې خلق منع کړي دي (او) بیا د کفر په حالت کښې مړه شوي دي

كُفَّارٌ فَلَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ ۝٣٤ فَلَا تَهِنُوْا وَتَدْعُوْٓا

کافران وو | نو هیڅکله به بخښنه اونه کړي | الله | دوي ته | پس تاسو مه ئې همته کیږئ | او دعوت مه ورکوئ

الله تعالیٰ به ئې هیڅ کله معاف نه کړي نو (اے مؤمنانو!) همت مه بایلئ او (دشمن ته)

اِلَى السَّلْمِ ۖ وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ ۖ وَاللّٰهُ مَعَكُمْ وَلَنْ يَّتِرَكُمْ

صلحے ته | او (هم) تاسو (به) | غالب یئ | او الله | تاسو سره دے | او هیڅکله به کم نه کړي هغه

د صلح دعوت (اوّلا) مه ورکوئ او هم تاسو به غالب یئ او الله تعالیٰ تاسو سره دے هغه به هیڅ کله

اَعْمَالَكُمْ ۝٣٥ اِنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ ۭ وَاِنْ تُؤْمِنُوْا

عملونه ستاسو | بیشکه | ژوند | دنیوي (خو) | لوبے | او مشغله ده | او که چرے | تاسو ایمان راوړو

ستاسو عملونه بربادنه کړي. (حقیقت دادے چه دا) دنیوي ژوند خو بس لوبے ټوقے (تماشے) دي او که تاسو ایمان راوړلو

وَتَتَّقُوْا يُؤْتِكُمْ اُجُوْرَكُمْ وَلَا يَسْـَٔلْكُمْ اَمْوَالَكُمْ ۝٣٦

او پرهیزګاره شوئ | نو در به کړي الله تاسو ته | اجرونه ستاسو | او نه به غواړي هغه تاسو نه | مالونه ستاسو

او تقوي مو اختیار کړه نو الله به تاسو ته ستاسو اجر درکړي او تاسو نه به ستاسو مالونه نه غواړي

اِنْ يَّسْـَٔلْكُمُوْهَا فَيُحْفِكُمْ تَبْخَلُوْا وَيُخْرِجْ اَضْغَانَكُمْ ۝٣٧

او که چرے هغه او غواړي تاسو نه دا (مال) | پس زور اوکړي په تاسو | نو تاسو به بخل اوکړئ | او راښکاره به کړي هغه | کینے ستاسو

که هغه تاسو نه ستاسو (ټول) مال او غواړي او تاسو تنګ کړي نو تاسو به د بخل نه کار واخلئ او ستاسو بدنیتي به راښکاره کړي.

هٰٓاَنْتُمْ هٰٓؤُلَاۤءِ تُدْعَوْنَ لِتُنْفِقُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ

خبر شئ تاسو خو | هغه خلق یئ | چه رابللي شئ | (دے دپاره) چه خرچ اوکړئ | په | لاره | د الله کښې

ګوره تاسو داسے خلق یئ چه تاسو ته د الله په لار کښې د خرچ کولو دعوت درکولے شي

فَمِنْكُمْ مَّنْ يَّبْخَلُ ۚ وَمَنْ يَّبْخَلْ فَاِنَّمَا يَبْخَلُ عَنْ نَّفْسِهٖ ۭ

نو بعضے ستاسو کښې | هغه دي | چه بخل کوي | او چا چه | بخل اوکړو | نو بیشکه | هغه بخل کوي | د خپل ځان سره

نو په تاسو کښې بعضے خلق بخل کوي او څوک چه بخل کوي نو (په حقیقت کښې) هغه د خپل ځان سره بخل کوي

وَاللّٰهُ الْغَنِيُّ وَاَنْتُمُ الْفُقَرَاۤءُ ۚ وَاِنْ تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ

او الله دے | بے حاجته | او تاسو یئ | محتاج | او که چرے | تاسو مخ واړولو | نو په بدل کښې به راولي هغه

او الله تعالیٰ ډیر بے نیاز (غني) دے او تاسو محتاج یئ او که تاسو مخ واړوئ نو هغه به ستاسو په ځائ



قَوْمًا غَيْرَكُمْ ۙ ثُمَّ لَا يَكُوْنُوْٓا اَمْثَالَكُمْ ﴿٣٨﴾

يو قوم	تاسو له سوا	بيا به	نه وى هغوى	ستاسو غوندے

يو بل قوم پيدا كړى بيا به هغوى ستاسو غوندے نه وى.

آياتها [۲۹]	سورة فتح مدنيّة	ركوعاتها [۴]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم	د الله	چه ډير مهربان	زيات رحم كونكے دے (شروع كوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع كوم.

اِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِيْنًا ۙ ﴿١﴾ لِّيَغْفِرَ لَكَ اللّٰهُ مَا

بيشكه	مونږ فتح دركړه	تاته	فتحه	ښكاره	دے دپاره چه اوبخښى	تاته	الله	هغه څه

(اے نبى!) يقين اوكړه (چه) مونږ تاته يوه ښكاره فتح دركړے ده (دے دپاره) چه الله تعالى

تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْۢبِكَ وَمَا تَاَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعْمَتَهٗ

چه مخكښې تېر شوى دى	ستا د خطايئ نه	او هغه څه	چه وروستو (پاتے) شوى دى	او (چه) پوره كړى هغه	نعمت خپل

ستا مخكښې او وروستنۍ كوتاهۍ معاف كړى او خپل نعمت په تا پوره كړى

عَلَيْكَ وَيَهْدِيَكَ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ۙ ﴿٢﴾ وَّيَنْصُرَكَ اللّٰهُ نَصْرًا

په تا باندے	او چه وښائى تاته	لاره	نيغه	او چه مدد او كړى ستا	الله	مدد

او په سمه (نيغه) لاره دے روان كړى او الله ستا داسے مدد اوكړى

عَزِيْزًا ﴿٣﴾ هُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ فِيْ قُلُوْبِ الْمُؤْمِنِيْنَ

زبردست	هم هغه (الله) دے	چه راليږلے ئے ده	تسل	په زړونو	د مؤمنانو كښې

چه هغه په ټولو غالب وى. هم الله هغه (ذات) دے چه د مؤمنانو په زړونو كښې ئے اطمينان پيدا كړو

لِيَزْدَادُوْٓا اِيْمَانًا مَّعَ اِيْمَانِهِمْ ۭ وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ السَّمٰوٰتِ

دے دپاره چه زيات كړى هغوى	ايمان	سره	د خپل ايمان	او خاص د الله دى	لښكرے	د آسمانونو

(دے دپاره) چه د هغوى په ايمان كښې د نور ايمان اضافه (زياتوالے) اوشى او د آسمانونو

وَالْاَرْضِ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۙ ﴿٤﴾ لِّيُدْخِلَ الْمُؤْمِنِيْنَ

او د زمكے	او دے	الله	ښه پوهه	لوئے حكمت والا	دے دپاره چه داخل كړى هغه	مؤمنان سړى

او د زمكے ټول لښكرے هم د الله دى او الله تعالى ښه پوهه لوئے حكمت والا دے. (د دے دپاره) چه هغه مومنان سړى

وَالْمُؤْمِنٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ

او مؤمنانے ښځے	هغه جنتونو ته	چه بهيږى (به)	د هغے د لاندے	نهرونه	هميشه به وى

او مومنانے زنانه داسے جنتونو ته داخل كړى چه لاندے به ئے نهرونه بهيږى هميشه به

فِيهَا وَيُكَفِّرَ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ ۭ وَكَانَ ذٰلِكَ عِنْدَ اللّٰهِ

په هغې کښې | او (چه) لرې کړي هغه | د دوی نه | ګناهونه ددوی | او ده | دا (خبره) | په نزد | د الله

په هغې کښې اوسیږي او د هغوی ګناهونه (بدیانې) د هغوی نه لرې کړي او د الله تعالیٰ په نزد

فَوْزًا عَظِيْمًا ۝۵ وَّيُعَذِّبَ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْمُشْرِكِيْنَ

کامیابي | ډیره لویه | او (چه) عذاب ورکړي | منافقانو سړو ته | او منافقانو ښځو ته | او مشرکانو سړو ته

دا ډیره لویه کامیابي ده او (دے دپاره) چه منافقانو سړو او منافقانو ښځو او مشرکانو سړو

وَالْمُشْرِكٰتِ الظَّاۤنِّيْنَ بِاللّٰهِ ظَنَّ السَّوْءِ ۭ عَلَيْهِمْ

او مشرکانو ښځو ته | (هغه) چه ګمان کوونکي دي | په الله باندے | ګمان | بد | هم په دوی باندے دے

او مشرکانو ښځو ته سزا ورکړي چه د الله تعالیٰ په باره کښې ئے بد ګمانیانې کولے. هم په دوی باندے

دَاۤئِرَةُ السَّوْءِ ۚ وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَلَعَنَهُمْ

مصیبت (چکر) | بد | او غضب کړے دے | الله | په دوی باندے | او لعنت ئے کړے دے په دوی

بده ورځ راتلونکے ده او الله تعالیٰ پرے غضب کړے دے او د خپل رحمت نه ئے لرې کړي دي

وَاَعَدَّ لَهُمْ جَهَنَّمَ ۭ وَسَاۤءَتْ مَصِيْرًا ۝۶ وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ

او تیار کړے ئے دے | د دوی دپاره | دوزخ | او بد دے هغه (دوزخ) | ځائے د واپس ورتلو | او خاص د الله دي | لښکرے

او جهنم ئے ورله تیار کړے دے او هغه (جهنم) ډیر بد ځائے دے او د آسمانونو

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ۝۷ اِنَّآ

د آسمانونو | او د زمکے | او دے | الله | ډیر زورور | لوے حکمت والا | بیشکه مونږ

او د زمکے ټولے لښکرے هم د الله دي او الله تعالیٰ ډیر زورور (غالب) ډیر حکمت والا دے۔ (اے نبیؐ!)

اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّمُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ۝۸ لِّتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ

لیږلے ئے ته | ګواهي کوونکے | او زیرے ورکوونکے | او یروونکے | دے دپاره چه تاسو ایمان راوړئ | په الله

مونږ ته ګواهي کوونکے (حق ښکاره کوونکے) زیرے ورکوونکے او یروونکے لیږلے ئے دے دپاره چه (اے خلقو!)

وَرَسُوْلِهٖ وَتُعَزِّرُوْهُ وَتُوَقِّرُوْهُ ۭ وَتُسَبِّحُوْهُ بُكْرَةً

او په پیغمبر د هغهٔ | او (چه) تاسو مدد او کړئ د هغه | او عزت او کړئ د هغه | او (چه) پاکي بیان کړئ د هغه | صبا

تاسو په الله او د هغه په رسول ایمان راوړئ او د هغه مدد او کړئ او د هغه تعظیم (عزت) او کړئ او سحر او ماښام

وَّاَصِيْلًا ۝۹ اِنَّ الَّذِيْنَ يُبَايِعُوْنَكَ اِنَّمَا يُبَايِعُوْنَ اللّٰهَ ۭ

او بیګا | بیشکه | هغه کسان | چه بیعت کوي تاسره | بیشکه | هغوی بیعت کوي | د الله سره

د الله تسبیح (پاکي) بیان کړئ. (اے نبیؐ!) یقیناً کوم خلق چه تاسره بیعت کوي هغوی په حقیقت کښې د الله سره بیعت کوي

يَدُ اللّٰهِ فَوْقَ اَيْدِيْهِمْ ۚ فَمَنْ نَّكَثَ فَاِنَّمَا يَنْكُثُ

لاس | د الله | دپاسه | د لاسونو د هغوی دے | پس چا چه | مات کړو (بیعت) | نو بیشکه | هغه ماتوي (به)

د الله لاس د هغوی د لاسونو دپاسه دے بیا (د دے نه پس هم) چه چا خپل لوظ مات کړو نو د لوظ د ماتولو وبال به

عَلٰی نَفۡسِهٖ ۚ وَمَنۡ اَوۡفٰی بِمَا عٰهَدَ عَلَیۡهُ اللّٰهَ

په خلاف د خپل ځان | او چا چه | پوره کړو | هغه څه | چه لوظ ئے کړے دے | په هغې باندے | د الله سره

هم په هغه راځی او چا چه هغه لوظ پوره کړو چه د الله سره ئے کړے دے

فَسَیُؤۡتِیۡهِ اَجۡرًا عَظِیۡمًا ﴿۱۰﴾ سَیَقُوۡلُ لَكَ الۡمُخَلَّفُوۡنَ

نو زر دے چه هغه به ور کړی دغه | اجر | ډیر لوے | زر ده چه وائی به | تا ته | وروستو پاتے کړے شوی خلق

نو الله به هغهٔ ته ډیر زر ډیر لوے اجر ور کړی. هغه باندیو والا چه (حدیبیه کښې) وروستو پاتے شوی وو

مِنَ الۡاَعۡرَابِ شَغَلَتۡنَاۤ اَمۡوَالُنَا وَاَهۡلُوۡنَا فَاسۡتَغۡفِرۡ لَنَا ۚ

د بانډو والو نه | چه مشغوله کړی وو مونږ | مالونو خپلو | او بال بچ خپل | پس ته بخښنه او غواړه | زمونږ د پاره

اوس به هغوی خامخا تا ته وائی چه مونږ خپل مال دولت او بال بچ مشغوله کړی وو نو زمونږ د پاره بخښنه او غواړه

یَقُوۡلُوۡنَ بِاَلۡسِنَتِهِمۡ مَّا لَیۡسَ فِیۡ قُلُوۡبِهِمۡ ؕ قُلۡ فَمَنۡ

دوی وائی | په خپلو ژبو | هغه څه | چه نشته | په زړونو د دوی کښې | او وایه | پس څوک

دا خلق په خپلو ژبو هغه خبرے کوی چه په زړونو کښې ئے نشته دوی ته او وایه چه که چرے

یَّمۡلِكُ لَكُمۡ مِّنَ اللّٰهِ شَیۡـًٔا اِنۡ اَرَادَ بِكُمۡ ضَرًّا

اختیار لری | ستاسو د پاره | د الله نه | د څه څیز | که چرے | او غواړی هغه | تاسو ته | تکلیف رسول

الله تعالیٰ تاسو ته نقصان رسول غواړی یا فائده رسول غواړی نو څوک دی چه د الله تعالیٰ مخے ته ستاسو

اَوۡ اَرَادَ بِكُمۡ نَفۡعًا ؕ بَلۡ كَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ

یا که | او غواړی هغه | تاسو ته | فائده رسول | بلکه | دے | الله | په هغه څه | چه تاسو ئے کوئ

په باره کښې د څه کولو طاقت لری؟ بلکه تاسو چه څه کوئ الله تعالیٰ د هغے نه پوره

خَبِیۡرًا ﴿۱۱﴾ بَلۡ ظَنَنۡتُمۡ اَنۡ لَّنۡ یَّنۡقَلِبَ الرَّسُوۡلُ وَالۡمُؤۡمِنُوۡنَ

پوره خبردار | بلکه | گمان کړے وو تاسو | (دا) چه | هیڅ کله به واپس رانشی | پیغمبر | او مؤمنان

خبر دار دے بلکه (حقیقت خو دا دے چه) تاسو خو دا خیال کړے وو چه پیغمبر او مسلمانان به

اِلٰۤی اَهۡلِیۡهِمۡ اَبَدًا وَّزُیِّنَ ذٰلِكَ فِیۡ قُلُوۡبِكُمۡ وَظَنَنۡتُمۡ

خپلو کورونو والو ته | همیشه | او ښائسته کړے شوے وو | دا (گمان) | په زړونو ستاسو کښې | او تاسو گمان کړے وو

خپلو کورونو ته هیڅ کله واپس رانشی او هم دا خبره ستاسو په زړونو کښې ښائسته ښکاره کړے شوے وه

ظَنَّ السَّوۡءِ ۖۚ وَكُنۡتُمۡ قَوۡمًۢا بُوۡرًا ﴿۱۲﴾ وَمَنۡ لَّمۡ یُؤۡمِنۡۢ بِاللّٰهِ

گمان | بد | او وئ تاسو | یو قوم | تباه شوی | او چا چه | ایمان را نوړو | په الله

او (هم د دے وجے نه) تاسو بد گمانیانے کولے او اخیر تاسو برباد شوئ. او څوک چه په الله

وَرَسُوۡلِهٖ فَاِنَّاۤ اَعۡتَدۡنَا لِلۡكٰفِرِیۡنَ سَعِیۡرًا ﴿۱۳﴾ وَلِلّٰهِ

او په پیغمبر د هغه | نو بیشکه | مونږ تیار کړے دے | د کافرانو د پاره | اور (بلیدونکے) | او خاص دالله دے

او د هغه په رسول ایمان نهٔ راوړی نو (هغه دے یاد اوساتی) چه د کافرانو د پاره مونږ گرم اور تیار کړے دے.

مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ یَغْفِرُ لِمَنْ یَّشَآءُ وَیُعَذِّبُ

حکومت | د آسمانونو | او د ځمکې | بخښنه کوي | چا ته | چه اوغواړي | او عذاب ورکوي

او د آسمانونو او د ځمکې بادشاهي هم د الله ده هغه چه څوک اوغواړي معاف ئے کړي او چا لره

مَنْ یَّشَآءُ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِیْمًا (١٤) سَیَقُوْلُ الْمُخَلَّفُوْنَ

چا ته | چه اوغواړي | او دے | الله | ډير بخښونکے | ډير مهربان | زر ده چه وائي به | وروستو پاتے کړے شوي خلق

چه اوغواړي عذاب ورکړي او الله ډير بخښونکے ډير مهربان دے (اے مسلمانانو!) کله چه تاسو

اِذَا انْطَلَقْتُمْ اِلٰى مَغَانِمَ لِتَاْخُذُوْهَا ذَرُوْنَا نَتَّبِعْكُمْ ۚ

کله چه | تاسو روان شئ | غنیمتونو پسے | چه تاسو را واخلئ هغه | پريږدئ مونږ | چه لاړ شو تاسو سره

د غنيمت اخستلو پسے ځئ لو دغه وروستو پاتے شوي خلق به (ضرور) تاسو ته وائي چه مونږ هم پريږدئ چه تاسو سره لاړ شو

یُرِیْدُوْنَ اَنْ یُّبَدِّلُوْا كَلٰمَ اللّٰهِ ؕ قُلْ لَّنْ تَتَّبِعُوْنَا كَذٰلِكُمْ

دوي غواړي | چه بدل کړي | کلام | د الله | او وايه | هيڅ کله به نه ځئ تاسو مونږ سره | دغه شان

دوي غواړي چه د الله تعالیٰ خبره بدله کړي (اے نبیؐ!) ته ورته او وايه چه تاسو به هيڅ کله زمونږ سره نه ځئ دغسے

قَالَ اللّٰهُ مِنْ قَبْلُ ۚ فَسَیَقُوْلُوْنَ بَلْ تَحْسُدُوْنَنَا ؕ بَلْ

ويلي دي | الله | مخکښے د دے نه | پس زر ده چه اُو به وائي دوي | (نه نه) بلکه | تاسو حسد کوئ زمونږ سره | (نه) بلکه

الله تعالیٰ د مخکښے نه ويلي دي (په دے خبره به) دوي تاسو ته وائي چه (نه نه) بلکه تاسو زمونږ سره حسد کوئ (نه نه)

كَانُوْا لَا یَفْقَهُوْنَ اِلَّا قَلِیْلًا (١٥) قُلْ لِّلْمُخَلَّفِیْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ

دوي دي | چه نه پوهيږي | مگر | لږ | او وايه | وروستو پاتے کړے شوو ته | د بانډو والو ته

بلکه حقيقت دا دے چه دوي په سمه خبره ډير کم کوز پوهيږي (اے نبیؐ!) د دے وروستو پاتے شوي خلقو ته او وايه چه

سَتُدْعَوْنَ اِلٰى قَوْمٍ اُولِیْ بَاْسٍ شَدِیْدٍ تُقَاتِلُوْنَهُمْ

زر ده چه تاسو به را اوبللی شئ | یو داسے قوم ته | چه سخت جنگ والا دي | (چه) یا خو به جنگ کوئ تاسو د هغوي سره

ډير زر به تاسو ديو داسے قوم سره (د جنگ دپاره) را اوبللی شئ چه ډير سخت جنگیالي به وي (چه) يا خو به ورسره جنگ کوئ

اَوْ یُسْلِمُوْنَ ۚ فَاِنْ تُطِیْعُوْا یُؤْتِكُمُ اللّٰهُ اَجْرًا حَسَنًا ۚ

يا به هغوي اسلام قبلوي | پس که چرے | تاسو خبره او منله | تو در به کړي تاسو ته | الله | اجر | ښائسته

يا به هغوي خبره او مني (مسلمانان به شي) هغه وخت که تاسو خبره او منله نو الله تعالیٰ به درله ډير ښائسته اجر درکړي

وَاِنْ تَتَوَلَّوْا كَمَا تَوَلَّیْتُمْ مِّنْ قَبْلُ یُعَذِّبْكُمْ

او که چرے | مخ واړولو تاسو | لکه څنگه چه | مخ اړولے وو تاسو | مخکښې د دے نه | نو عذاب به درکړي هغه تاسو ته

او که مخ مو واړولو لکه څنگه چه مو پخوا مخ اړولے وو نو (ډير)

عَذَابًا اَلِیْمًا (١٦) لَیْسَ عَلَى الْاَعْمٰى حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْاَعْرَجِ

عذاب | دردناک | نشته | په روند باندے | څه تنگي | او نه په گوډ (شل) باندے

دردناک عذاب به درکړي۔ نه خو په روند باندے څه گناه شته او نه په گوډ (شل)

حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْمَرِيْضِ حَرَجٌ ؕ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ

څه تنګي | او نه په مريض باندے | څه تنګي شته | او څوک چه | خبره او مني | د الله | او د رسول د هغه

او نه په مريض باندے څه ګناه شته او څوک (هم) چه د الله او د هغه د رسول خبره او مني

يُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۚ وَمَنْ يَّتَوَلَّ

نو الله به داخل کړي هغه | (داسے) جنتونو ته | چه بهيږي به | د هغے د لاندے | نهرونه | او چا چه | مخ واړولو

نو الله به ئے داسے جنتونو ته داخل کړي چه لاندے به ئے نهرونه بهيږي، او څوک چه مخ واړوي

يُعَذِّبْهُ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۱۷﴾ لَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ع

نو هغه ته به عذاب ورکړي | عذاب | دردناک | يقينًا | راضي شوي دے | الله | د | مؤمنانو نه

نو دردناک عذاب به ورکړي۔ يقينًا الله تعالیٰ د هغه مؤمنانو نه (ډير) خوشحاله شو

اِذْ يُبَايِعُوْنَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِيْ قُلُوْبِهِمْ

کله چه | هغوي بيعت کولو تاسره | لاندے | د ونے | پس خبر وو الله | د هغه څه نه | چه وو په زړونو د هغوي کښ

کله چه هغوي تاسره د ونے لاندے بيعت کولو او د هغوي زړونو کښ چه څه وو هغه (هم) الله ته معلوم وو

فَاَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ عَلَيْهِمْ وَاَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيْبًا ﴿۱۸﴾ۙ

نو را او ليږله هغه | تسلي | په دوي باندے | او په بدله کښ ئے ور کړه دوي ته | فتح | نزدے

ځکه (خو) ئے په هغوي باندے اطمينان نازل کړو او بدله (انعام) کښ ئے ورله نزدے فتح (د خيبر) ورکړه

وَّمَغَانِمَ كَثِيْرَةً يَّاْخُذُوْنَهَا ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿۱۹﴾

او غنيمتونه | ډير | چه دوي (به) اخلي هغه | او دے | الله | ډير زورور۔ | لوے حکمت والا

او نور ډير غنيمتونه چه هغوي حاصل کړل او الله تعالیٰ ډير زورور (غالب) لوئے حکمت والا دے

وَعَدَكُمُ اللّٰهُ مَغَانِمَ كَثِيْرَةً تَاْخُذُوْنَهَا فَعَجَّلَ لَكُمْ

وعده کړے ده تاسو سره | الله | د غنيمتونو | ډيرو | چه تاسو به اخلئ هغه | نو زر ئے در کړل | تاسو ته

الله تعالیٰ تاسو سره د نورو ډيرو غنيمتونو وعده کړے ده چه تاسو به ئے حاصل کړئ او س دا يو غنيمت ئے

هٰذِهٖ وَكَفَّ اَيْدِيَ النَّاسِ عَنْكُمْ ۚ وَلِتَكُوْنَ اٰيَةً

دا | او بند کړل هغهٔ | لاسونه | د خلقو | تاسو نه | او (د دے د پاره) چه شي (دا) | يوه نخښه

فوري طور (لاس په لاس) در کړو او د خلقو (يهوديانو، اسد او غطفان) لاسونه ئے تاسو نه بند کړل او (دا د دے د پاره) چه دا

لِّلْمُؤْمِنِيْنَ وَيَهْدِيَكُمْ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ﴿۲۰﴾ۙ وَّاُخْرٰى

د مؤمنانو د پاره | او (چه) الله او ښائي تاسو ته | لاره | نيغه | او نور غنيمتونه (دي)

د مؤمنانو د پاره يوه نخښه (نمونه) شي او (چه) الله تاسو په نيغه لاره روان کړي او نور غنيمتونه (لکه فتح د روم او فارس) هم دي

لَمْ تَقْدِرُوْا عَلَيْهَا قَدْ اَحَاطَ اللّٰهُ بِهَا ؕ وَكَانَ اللّٰهُ

چه لاس نه دے برشوے ستاسو | په هغے | يقينًا | احاطه کړے ده | الله | په هغے باندے | او دے | الله

چه ستاسو پرے (لا) لاس نه دے بر شوے ليکن الله هغه په خپل علم کښ راګير کړي دي او الله تعالیٰ

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرًا ۝٢١ وَلَوْ قٰتَلَكُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

په هر | څيز باندے | قادر | او كه چرے | او جنګيدے تاسو سره | هغه كسان | چه كفر ئے كړے دے

په هر څيز باندے پوره قادر دے۔ كه چرے دے كافرانو تاسو سره جنګ كړے وے

لَوَلَّوُا الْاَدْبَارَ ثُمَّ لَا يَجِدُوْنَ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ۝٢٢

نو خامخا به واړوی هغوی | شاګانے | بيا به | او نۀ مومی هغوی | څوک دوست | او نه څوک مددګار

نو ضرور په شا به تختيدلی وے بيا به ئے نه څوک دوست موندلے وو او نۀ څوک مددګار

سُنَّةَ اللّٰهِ الَّتِيْ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلُ ۚ وَلَنْ تَجِدَ

(دا) طريقه | دالله (ده) | هغه | چه تيره شوے ده | مخكښے د دے نه | او هيڅ كله به ته اُو نۀ مومے

لكه څنګه چه دغه دالله دستور دے چه د پخوا نه راروان دے او ته به دالله په دستور كښ

لِسُنَّةِ اللّٰهِ تَبْدِيْلًا ۝٢٣ وَهُوَ الَّذِيْ كَفَّ اَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ

طريقے | دالله لره | هيڅ بدليدل | او هم الله هغه (ذات) دے | چه بند ئے كړل | لاسونه دهغوی | تاسو نه

هيڅ كله څه قسم تبديلي اُو نه مومے. او هم هغه (الله) دے چه د مكے په سرحد باندے ئے دهغوی لاسونه دستاسو نه

وَاَيْدِيَكُمْ عَنْهُمْ بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنْ بَعْدِ اَنْ اَظْفَرَكُمْ

او ستاسو لاسونه | دهغوی نه | په مينځ (وادی) | د مكے كښ | پس د دے نه | چه غالب ئے كړئ تاسو

او ستاسو لاسونه دهغوی نه بند كړل پس د دے نه چه په هغوی ئے تاسو لره غلبه (فتح) دركړے وه

عَلَيْهِمْ ۗ وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرًا ۝٢٤ هُمُ الَّذِيْنَ

په هغوی باندے | او دے | الله | هغه څه لره | چه تاسو ئے كوئ | ليدونكے | هم دا هغه كسان دی

او تاسو چه څه عمل كوئ الله تعالیٰ هغه ښه وينی۔ دا هم هغه خلق دی

كَفَرُوْا وَصَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَالْهَدْيَ

چه كفر ئے كړے دے | او منع كړی ئے وی تاسو | د مسجد حرام نه | او قربانئ هم

چه كفر ئے اختيار كړے دے او تاسو ئے د مسجد حرام نه منع كړی ئے وی او د قربانئ هغه څاروی هم

مَعْكُوْفًا اَنْ يَّبْلُغَ مَحِلَّهٗ ۗ وَلَوْلَا رِجَالٌ مُّؤْمِنُوْنَ

چه بند كړے شوی وو | (د دے نه) چه اورسی | خپل ځائے (د حلالی) ته | او كه چرے نه وے سړی | مؤمنان

چه خپل ځائے ته د رسيدو نه بند كړے شوی وو او كه چرے (په مكه كښ) داسے مسلمانان سړی

وَنِسَآءٌ مُّؤْمِنٰتٌ لَّمْ تَعْلَمُوْهُمْ اَنْ تَطَئُوْهُمْ فَتُصِيْبَكُمْ

او زنانه | مؤمنانے | چه تاسو نه پيژندل هغوی | چه خپلو لاندے به كړئ تاسو هغوی | پس وبه رسيږی تاسو ته

او مسلمانانے ښځے نه وے چه تاسو ئے نه پيژنئ او تاسو به په ناخبرئ كښ هغوی د خپلو خپو لاندے چخړی كړئ او د هغے په وجه به

مِّنْهُمْ مَّعَرَّةٌ ۢ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۚ لِيُدْخِلَ اللّٰهُ فِيْ رَحْمَتِهٖ

دهغوی په وجه | نقصان | بغير | د پوهے نه | د دے د پاره چه داخل كړی | الله | په خپل رحمت كښ

په ناخبرئ كښ تاسو ته نقصان اورسيږی (نو تاسو به الله نۀ وے منع كړی د قتال نه مكوی سره) الله تعالیٰ په خپل رحمت كښ چه ايمان

مَنْ يَّشَآءُ ۚ لَوْ تَزَيَّلُوْا لَعَذَّبْنَا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

چالره | چه اوغواړي | كه چېرے | جدا شول دا مومنان | نو خامخا به مونږ عذاب ور كړو | هغه كسانو ته | چه كفر ئے كړے دے

راولي دی) چالره چه غواړي داخل ئے كړي كه چېرے دغه مسلمانان بېل او ځانته (جدا) شوي وے نو مونږ به مكے والو كښې

مِنْهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ۝ اِذْ جَعَلَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ قُلُوْبِهِمُ

د دوی نه | عذاب | دردناك | هر كله چه | واچولو | هغه كسانو | چه كفر ئے كړے دے | په خپلو زړونو كښې

كافرانو ته ډير دردناك عذاب وركړے وو (هم دا وجه ده) چه كله كافرانو (مسلمانانو د بيت الله نه بند كړل) په خپلو زړونو كښې

الْحَمِيَّةَ حَمِيَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ عَلٰى رَسُوْلِهٖ

ضد (غيرت) | ضد (غيرت) | د جاهليت | نو را اوليږله | الله | تسل خپله | په پيغمبر خپل باندے

ئے د جاهليت (د زمانے) پشان غيرت اوليولو نو الله تعالىٰ په خپل پيغمبر

وَعَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَاَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوٰى وَكَانُوْٓا اَحَقَّ

او په مؤمنانو باندے | او لازمه ئے كړه په هغوی باندے | خبره | د تقوىٰ | او وو هغوی | ډير حقدار

او په مؤمنانو باندے اطمينان نازل كړو او هغوی ئے د توحيد په كلمه ټينګ (قائم) پاتے كړل او (په نسبت د نورو) خلكو مسلمانانو

بِهَا وَاَهْلَهَا ۭ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ۝ لَقَدْ صَدَقَ

د هغے | او اهل د هغے | او دے | الله | په هر يو | شيز باندے | ښه پوهه | يقينًا | رشتيا كړو

هغوی د دے كلمے زيات حقدار وو او (په علم د الله كښې) د دے كلمے اهل هم وو او الله تعالىٰ په هر يو شيز ښه پوهيږي حقيقت دا دے چه

اللّٰهُ رَسُوْلَهُ الرُّءْيَا بِالْحَقِّ ۚ لَتَدْخُلُنَّ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ

الله | خپل رسول ته | خوب | په حقه | (چه) خامخا تاسو به داخليږئ | مسجد حرام ته

الله تعالىٰ خپل پيغمبر ته رشتينے او حق خوب ښودلے دے (چه) (اے مسلمانانو) كله چه الله اوغواړي تاسو به ضرور مسجد حرام ته

اِنْ شَآءَ اللّٰهُ اٰمِنِيْنَ ۙ مُحَلِّقِيْنَ رُءُوْسَكُمْ وَمُقَصِّرِيْنَ ۙ

كله چه | اوغواړي | الله | په امن سره | خرونكي (په ئې) | د خپلو سرونو | او لنډونكي (په ئې د خپلو ويښتو)

په داسے امن او امان سره داخل شئ چه (په تاسو كښې به) چا سرونه خرولي وي او چا به ويښته پرے كړي وي

لَا تَخَافُوْنَ ۭ فَعَلِمَ مَا لَمْ تَعْلَمُوْا فَجَعَلَ مِنْ دُوْنِ ذٰلِكَ

يره به نه ئې | پس خبر وو الله | په هغه څه | چه تاسو نه وئ خبر (په هغے) | نو در كړه هغه | مخكښے د دے نه

(او) هيڅ يره به درسره نه وي الله ته هغه خبرے معلومے دي چه تاسو ته معلومے نه دي نو (ځكه خوئے)

فَتْحًا قَرِيْبًا ۝ هُوَ الَّذِيْٓ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى وَدِيْنِ

فتح | نزدے | هم الله هغه ذات دے | چه را اليږلے ئے دے | پيغمبر خپل | په هدايت | او په دين

د هغے (خوب د پوره كيدلو) نه مخكښے يوه نزدے فتح در كړه. هم الله هغه ذات دے چه خپل پيغمبر ئے د هدايت

الْحَقِّ لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ

حق سره | د دے دپاره چه هغه غالب كړي دے لره | په دينونو | ټولو باندے | او كافي دے | الله

او حق (رشتني) دين سره (د دے دپاره) رااليږلے دے چه هغه (دين) په نورو ټولو دينونو باندے غالب كړي

شَهِيْدًا ﴿٢٨﴾ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ؕ وَالَّذِيْنَ مَعَهٗٓ اَشِدَّآءُ

گواه | محمدؐ | رسول | دالله دے | او هغه کسان | چه دهٔ سره دي | ډير سخت دي

او (په دے خبره) هم دالله گواهي کافي ده. محمدؐ دالله پیغمبر دے او کوم خلق چه د هغه سره (ملگري) دي

عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ تَرٰىهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا

په کافرانو باندے | ډير مهربان دي | په خپل مينځ کښې | ته وينے دوي | رکوع کوونکي | سجده کوونکي

هغوي دکافرانو په مقابله کښې ډير سخت دي او په خپل مينځ کښې (په يو بل باندے) ډير مهربان دي ته په هغوي

يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا ؗ سِيْمَاهُمْ فِيْ وُجُوْهِهِمْ

لټوي دوي | فضل | د الله | او رضا | نخښے د دوي | په مخونو د دوي کښې دي

دالله فضل او د هغه د رضا په طلب کښې (کله) په رکوع او (کله) په سجده کښې وينے د هغوي نخښے د سجدو

مِّنْ اَثَرِ السُّجُوْدِ ؕ ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرٰىةِ ۚۖۛ وَمَثَلُهُمْ

د وجے د نخښو | د سجدو نه | دا | صفت (حال) د دوي دے | په تورات کښې | او صفت (حال) د دوي

داثر د وجے نه د هغوي په مخونو کښې ښکاره دي. دا د هغوي هغه اوصاف (صفتونه) دي چه په تورات کښې وو

فِي الْاِنْجِيْلِ ۚۛ كَزَرْعٍ اَخْرَجَ شَطْـَٔهٗ فَاٰزَرَهٗ فَاسْتَغْلَظَ

په انجيل کښې | پشان د يو فصل دے | چه راو يستلے وي | تيغ خپل | بيا ئے کلک کړي | بيا هغه غټ شي

او په انجيل کښې د هغوي مثال (صفت) دا دے لکه چه يو بوټے وي چه خپل تيغ ئے راوزغون کړو بيا ئے کلک کړو

فَاسْتَوٰى عَلٰى سُوْقِهٖ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيْظَ بِهِمُ

بيا هغه برابر او درېږي | په پنډئ خپله باندے | چه خوشحالوي | زميندارو لره | انجام دا چه غصه کړي هغه | په دوي سره

بيا هغه غټ شو بيا هغه په خپله تنه باندے نيغ او دريدو چه زميندار ان پرے خوشحاله کړي (او)

الْكُفَّارَ ؕ وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

کافران | وعده کړے ده | الله | د هغه کسانو سره | چه ايمان ئے راوړے دے | او عملونه ئے کړي دي

کافران پرے غصه کړي. چا چه ايمان راوړے دے او نيک عملونه ئے کړي دي

الصّٰلِحٰتِ مِنْهُمْ مَّغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِيْمًا ﴿٢٩﴾ ع

نيک | د دوي نه | د بخښنے | او د اجر | ډير لوے |

الله تعالیٰ د هغوي سره د بخښنے او د ډير لوے ثواب وعده کړے ده.

آياتها [۱۸]	سورة الحُجُرٰت مدنيّة	رکوعاتها [۲]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډير مهربان | زيات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيِ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ

اے هغه کسانو چه ایمان موراوړے دے | مه وړاندې کوئ (په مخکښې د حکم) | د الله | او د هغه د پیغمبر

اے مومنانو! د الله او د هغه د پیغمبر نه (په هیڅ یو کار کښې) ځان مه وړاندې کوئ

وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ① يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

او اویریږئ | د الله نه | بیشکه | الله دے | ښه اوریدونکے | ښه پوهه | اے هغه کسانو چه ایمان موراوړے دے

او د الله نه اویریږئ یقینًا الله هر څه آوری په هر څه پوهیږي۔ اے مؤمنانو!

لَا تَرْفَعُوْٓا اَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوْا لَهٗ

مه اوچتوئ | آوازونه خپل | د پاسه | د آواز | د پیغمبر نه | او مه کوئ په زوره وینا | هغه ته

خپل آوازونه د پیغمبر د آواز نه مه اوچتوئ او نه د هغه سره داسے په زوره خبرے کوئ

بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ اَنْ تَحْبَطَ اَعْمَالُكُمْ

په خبرو کښې | په شان د زوره وینا کولو | د بعضو ستاسو بعضو نورو ته | (هسے نه) چه برباد شي | عملونه ستاسو

لکه څنګه چه تاسو خپل مینځ کښې یو بل سره په زوره خبرے کوئ هسے نه چه عملونه مو برباد شي

وَاَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ ② اِنَّ الَّذِيْنَ يَغُضُّوْنَ اَصْوَاتَهُمْ عِنْدَ

او تاسو به | خبر هم نه يئ | بیشکه | هغه کسان | چه ټیټ ساتي | آوازونه خپل | په خوا

او تاسو به (ترے) خبر قدرے هم نه يئ۔ یقین او کړئ کوم خلق چه د الله د پیغمبر په مخکښې خپل آوازونه

رَسُوْلِ اللّٰهِ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ امْتَحَنَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ لِلتَّقْوٰى ۭ

د پیغمبر | د الله کښې | هم دا | هغه کسان دي | چه ازمایلي دي | الله | زړونه د دوی | د تقویٰ دپاره

ټیټ (ځکته) ساتي هم دا هغه خلق دي د چا زړونه چه الله تعالیٰ د پرهیزګارئ دپاره ازمایلي دي

لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ عَظِيْمٌ ③ اِنَّ الَّذِيْنَ يُنَادُوْنَكَ

دپاره د دوی | بخښنه ده | او اجر (دے) | ډیر لوے | بیشکه | هغه کسان | چه آواز کوي تا ته

هم د دوی دپاره بخښنه او ډیر لوئے اجر دے۔ (اے نبیؐ!) کوم خلق چه د حجرو د بهر نه تا ته

مِنْ وَّرَآءِ الْحُجُرٰتِ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ④ وَلَوْ اَنَّهُمْ

وروستو | د کوټو نه | اکثر د هغوی نه | عقل نه لري | او که چرے | هغوی

چغے وهي په هغوی کښې اکثر بے عقله دي۔ او که چرے هغوی (دغه وخت)

صَبَرُوْا حَتّٰى تَخْرُجَ اِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ۭ وَاللّٰهُ

صبر کړے وے | تر دے | چه ته راوځے | هغوی ته | نو خامخا دا به وے | ډیره غوره | د هغوی دپاره | او الله

صبر کړے وے تر دے چه ته ورله پخپله بهر راوتلے وے نو دا به ورله ډیره ښه وه او الله تعالیٰ

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ⑤ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ جَآءَكُمْ فَاسِقٌ

ډیر بخښونکے | ډیر مهربان دے | اے هغه کسانو چه ایمان موراوړے دے | که چرے | راشي تاسو ته | یو ګناهګار

ډیر بخښونکے ډیر مهربان دے۔ اے مؤمنانو که چرے تاسو ته یو فاسق (یو بے اعتبار کس) څه خبر راوړي

بِنَبَاٍ فَتَبَيَّنُوْۤا اَنْ تُصِيْبُوْا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوْا

په څهٔ خبر سره | نو ښه معلومات کوئ | (هسے نه) چه نقصان اورسوئ تاسو | يو قوم ته | په ناپوهئ سره | نو شئ به تاسو

نو (د هغے) پوره تحقيق کوئ هسے نه چه په ناپوهئ کښې څه خلقو ته نقصان اورسوئ او بيا به په

عَلٰى مَا فَعَلْتُمْ نٰدِمِيْنَ ۝٦ وَاعْلَمُوْۤا اَنَّ فِيْكُمْ رَسُوْلَ اللّٰهِ ؕ

په هغه څه | چه تاسو کړے وی | پښيمانه | او پوهه شئ | چه بيشکه | په تاسو کښې | پيغمبر | د الله دے

خپلو کړو باندے پښيمانه يئ. او په دے خبره ځان ښه پوهه کړئ چه ستاسو په مينځ کښې د الله پيغمبر موجود دے

لَوْ يُطِيْعُكُمْ فِىْ كَثِيْرٍ مِّنَ الْاَمْرِ لَعَنِتُّمْ وَلٰكِنَّ

که چرے | هغه او منی ستاسو خبره | په ډيرو | کارونو کښې | نو خامخا په تکليف کښې به پريوتئ تاسو | ليکن

ډيرے خبرے داسے دی که په هغے کښې هغه (نبی) ستاسو خبره او منی نو تاسو به په تکليف کښې اخته شئ ليکن

اللّٰهَ حَبَّبَ اِلَيْكُمُ الْاِيْمَانَ وَزَيَّنَهٗ فِىْ قُلُوْبِكُمْ

الله | خوښ کړے دے | تاسو ته | ايمان | او ښائسته کړے ئے دے (ايمان) | په زړونو ستاسو کښې

الله تعالٰی ستاسو په زړونو کښې د ايمان محبت اچولے دے او هغه ئے ستاسو په زړونو کښې ښائسته کړے دے

وَكَرَّهَ اِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوْقَ وَالْعِصْيَانَ ؕ اُولٰٓئِكَ

او بد ئے ښکاره کړے دے | تاسو ته | کفر | او ګناهونه | او نافرمانی | هم دا خلق

او کفر او ګناه او نافرمانی ئے درته بد ښکاره کړی دی هم داسے خلق

هُمُ الرّٰشِدُوْنَ ۝٧ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَنِعْمَةً ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ

دوی دی | لاره موندونکی | د وجے د فضل | د الله نه | او (د وجے د) نعمت (د الله نه) | او الله | ښه پوهه

په سمه لار روان دی د الله تعالٰی په فضل او نعمت سره او الله تعالٰی په هر څه پوهه (او)

حَكِيْمٌ ۝٨ وَاِنْ طَآئِفَتٰنِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْتَتَلُوْا

لوے حکمت والا دے | او که چرے | دوه ډلے | د | مؤمنانو نه | جنګ اوکړی (په خپل مينځ کښې)

لوے حکمت والا دے او (اے مسلمانانو) که چرے د مسلمانانو يو دوه ډلے په خپل مينځ کښې (د يو بل سره)

فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا ۚ فَاِنْۢ بَغَتْ اِحْدٰىهُمَا عَلَى الْاُخْرٰى

نو تاسو صلح اوکړئ | د هغوی په مينځ کښې | پس که چرے | زياتے اوکړی | يوه له دغه دوارو نه | په بلے ډلے

جنګ اوکړی نو تاسو د هغوی په مينځ کښې صلح اوکړئ بيا که چرے يوے ډلے د بلے ډلے سره زياتے اوکړو

فَقَاتِلُوا الَّتِىْ تَبْغِىْ حَتّٰى تَفِىْٓءَ اِلٰٓى اَمْرِ اللّٰهِ ۚ

نو تاسو جنګ اوکړئ | د هغے ډلے سره | چه زياتے کوی | تر دے | چه رجوع اوکړی هغه | حکم | د الله ته

نو زياتی کوونکی ډلے سره تر هغے پورے او جنګيږئ تر دے چه د الله حکم ته واپس شی

فَاِنْ فَآءَتْ فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَاَقْسِطُوْا ؕ

پس که چرے | رجوع اوکړه هغے | نو صلح اوکړئ | د هغوی (دوارو) په مينځ کښې | په انصاف سره | او انصاف اوکړئ

نو که هغے رجوع اوکړه نو بيا د هغوی تر مينځه په انصاف سره صلح اوکړئ او (په رعايت د حقوقو د يو بل کښې) د انصاف نه کار واخلئ

اِنَّ اللّٰهَ یُحِبُّ الْمُقْسِطِیْنَ ۝۹ اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ

بیشکه | الله | خوښوي | انصاف کوونکی | بیشکه | مومنان | (دیو بل) ورونړه دي

یقیناً الله تعالیٰ انصاف کوونکو سره مینه کوي. حقیقت دا دے چه ټول مسلمانان (دیو بل) ورونړه ورونړه دي

فَاَصْلِحُوْا بَیْنَ اَخَوَیْكُمْ وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ۝۱۰ ع

نو تاسو صلح کوئ | په مینځ | دخپلو دوؤ ورونړو کښې | او ویریږئ | د الله نه | دے دپاره چه په تاسو | رحم او کړے شي

نو تاسو دخپلو دوو ورونړو په مینځ کښې صلح کوئ او د الله تعالیٰ نه ویریږئ چه رحم در باندے او شي.

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا یَسْخَرْ قَوْمٌ مِّنْ قَوْمٍ عَسٰۤی

اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | ټوقے دِ نه کوي | یَو قوم | په بل قوم پورے | کیدے شي

اے مؤمنانو! نه خو دے تارینه په نورو تارینو پورے خندا کوي کیدے شي

اَنْ یَّكُوْنُوْا خَیْرًا مِّنْهُمْ وَلَا نِسَآءٌ مِّنْ نِّسَآءٍ عَسٰۤی

چه وي هغوي | ډیر غوره | د دوي نه | او نهٔ زنانه | په نورو زنانو پورے | کیدے شي

چه هغوي د دوي نه غوره وي او نه دے زنانه په نورو زنانو پورے خندا کوي کیدے شي

اَنْ یَّكُنَّ خَیْرًا مِّنْهُنَّ ۚ وَلَا تَلْمِزُوْۤا اَنْفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوْا

چه هغوي وي | ډیرے غوره | د دوي نه | او عیب مه لګوئ | په خپلو ځانونو باندے | او مه یادوئ یَو بل

چه هغوي د دوي نه غوره وي او مه یو بل له پیغور (طعنه) ورکوئ او مه یو بل ته خراب نومونه اخلئ

بِالْاَلْقَابِ ؕ بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوْقُ بَعْدَ الْاِیْمَانِ ۚ وَمَنْ

په بدو نومونو سره | ډیر بد | نوم | (د) ګناه (والا) دے | وروستو | د ایمان نه | او څوک چه

د ایمان راوړو نه پس خراب نوم کیښودل ډیره بده (د ګناه) خبره ده. او څوک چه

لَّمْ یَتُبْ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ۝۱۱ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا

توبه نهٔ اوباسي | نو هم دغه خلق | دوي دي ظالمان | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے

د دے خبرو نه توبه اُونه باسي هم هغوي ظالمان دي اے مؤمنانو!

اجْتَنِبُوْا كَثِیْرًا مِّنَ الظَّنِّ ۫ اِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ اِثْمٌ

ځان او ساتئ | د ډیرو | ګمانونو نه | بیشکه | بعضے | ګمان | ګناه وي

د ډیرو (بدو) ګمانونو نه ځان بچ اوساتئ (ځکه چه) بعضے ګمانونه ګناه وي

وَّلَا تَجَسَّسُوْا وَلَا یَغْتَبْ بَّعْضُكُمْ بَعْضًا ؕ اَیُحِبُّ اَحَدُكُمْ

او مهٔ لټوئ (عیب) د یو بل | او غیبت دِ نه کوي | بعضے ستاسو نه | د بعضو | آیا خوښوي | یَو کس د تاسو نه

او د یو بل جاسوسي مه کوئ او نه د یو بل غیبت کوئ، آیا په تاسو کښې یو څوک دا (خبره) خوښه کړي چه د خپل

اَنْ یَّاْكُلَ لَحْمَ اَخِیْهِ مَیْتًا فَكَرِهْتُمُوْهُ ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ

دا چه او خوري | غوښه | د ورور خپل | چه مړ وي | پس تاسو بد ګنړئ هغه | او او ویریږئ | د الله نه

مړ ورور غوښه اوخوري؟ د دے (خبرے) نه خو تاسو نفرت کوئ او د الله نه او ویریږئ یقین او کړئ چه الله تعالیٰ ډیر (لوئ)

إِنَّ اللّٰهَ تَوَّابٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢﴾ يَٰٓأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنٰكُمْ

بیشکه | الله | ډیر توبه قبلونکے | ډیر مهربان دے | اے خلقوا | بیشکه | مونږ پیدا کړی یئ تاسو

توبه قبلونکے ډیر مهربان دے اے خلقوا حقیقت داد دے چه مونږ تاسو ټول د یو نارینه او زنانه نه پیدا کړی یئ

مِّن ذَكَرٍ وَأُنثٰى وَجَعَلْنٰكُمْ شُعُوبًا وَقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوٓا ۚ

د (یو) نارینه | او (یوے) زنانه نه | او مونږ جوړ کړی یئ تاسو | خاندانونه (قامونه) | او قبیلے | د دے دپاره چه تاسو یو بل او پیژنئ

او تاسو مو مختلف قامونه او قبیلے (صرف) د دے دپاره جوړ کړی یئ چه یو بل او پیژندے شئ (گنئ) په حقیقت کښ (خو)

إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللّٰهِ أَتْقٰكُمْ ۚ إِنَّ اللّٰهَ عَلِيمٌ

بیشکه | زیات عزتمند په تاسو کښ | په نزد | د الله | زیات پرهیزګاره دے په تاسو کښ | بیشکه | الله دے | به پوهه

د الله تعالی په نزد په تاسو کښ زیات عزتمند هغه څوک دے چه په تاسو کښ زیات متقی وی یقین او کړئ چه الله تعالی په هر څه پوهه

خَبِيرٌ ﴿١٣﴾ قَالَتِ الْأَعْرَابُ ءَامَنَّا ۖ قُل لَّمْ تُؤْمِنُوا وَلٰكِن

به خبردار | وائی | بانډو والا | مونږ ایمان راوړے دے | او وایه | تاسو ایمان نه دے راوړے | لیکن

او د هر څه نه پوره خبر دے. بانډو والا وائی چه مونږ ایمان راوړے دے اے نبی! ته ورته او وایه چه تاسو خو ایمان نه دے راوړے

قُولُوٓا أَسْلَمْنَا وَلَمَّا يَدْخُلِ الْإِيمٰنُ فِى قُلُوبِكُمْ ۖ

او وایئ | چه مونږ اسلام قبول کړے دے | او لا (تر اوسه) نه دے داخل شوے | ایمان | په زړونو ستاسو کښ

البته دا دے وایئ چه مونږ اسلام راوړے دے او ایمان (خو) لا تر اوسه پورے ستاسو په زړونو کښ ننوتے هم نه دے

وَإِن تُطِيعُوا اللّٰهَ وَرَسُولَهُۥ لَا يَلِتْكُم مِّنْ أَعْمٰلِكُمْ

او که چرے | تاسو خبره او منئ | د الله | او د هغه د پیغمبر | نو هغه به نیمګړی نه کړی | د عملونو ستاسو نه

او که چرے تاسو د الله او د هغه د پیغمبر حکم او منلو نو هغه (الله) به ستاسو په عملونو کښ معمولی

شَيْـًٔا ۚ إِنَّ اللّٰهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٤﴾ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ

هیڅ څیز | بیشکه | الله دے | ډیر بخښونکے | ډیر مهربان | بیشکه | مؤمنان (خو) | هغه کسان دی

کمے قدرے هم او نه کړی یقیناً الله تعالی ډیر بخښونکے ډیر مهربان دے. مؤمنان (خو بس) هغه دی

ءَامَنُوا بِاللّٰهِ وَرَسُولِهِۦ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا وَجٰهَدُوا

چه ایمان ئے راوړے دے | په الله | او د هغه په رسول | بیا ئے (هیڅ) شک نه دے کړے | او جهاد ئے کړے دے

چه الله او د هغه رسول ئے د زړه نه منلے دے بیا ئے پکښ هیڅ شک نه دے کړے او خپلو مالونو

بِأَمْوٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِى سَبِيلِ اللّٰهِ ۚ أُولٰٓئِكَ هُمُ الصّٰدِقُونَ ﴿١٥﴾

په خپلو مالونو | او په خپلو ځانونو سره | په لار | د الله کښ | هم دغه خلق | دوی دی | رشتنی

او ځانونو سره ئے د الله په لاره کښ جهاد کړے دے هم دا خلق رشتنے دی۔

قُلْ أَتُعَلِّمُونَ اللّٰهَ بِدِينِكُمْ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا فِى السَّمٰوٰتِ

او وایه | آیا تاسو خبروړ کوئ | الله ته | د خپل ایمان | او الله | پیژنی | هغه څه | چه په آسمانونو کښ دی

(اے نبی! بانډو والا ته) او وایه چه آیا تاسو الله تعالی ته د خپل دین (دیندارئ) خبر ور کوئ حالانکه الله تعالی

وَمَا فِي الْاَرْضِ ط وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ⑯ يَمُنُّوْنَ

او هغه څه | چه په زمکه کښې دي | او الله | په هر یو | څیز باندې | ښه پوهه دے | دوی احسان کوي

(خو) د آسمانونو او د زمکے د هر یو څیز نه واقف دے او الله تعالیٰ په هر یو څیز باندے پوهیږي۔ دوی په تا باندے

عَلَيْكَ اَنْ اَسْلَمُوْا ط قُلْ لَّا تَمُنُّوْا عَلَيَّ اِسْلَامَكُمْ ج

په تا باندے | (دا دے) چه دوی اسلام راوړے دے | او وایه | احسان مه کوئ | په ما باندے | د خپل اسلام (راوړلو)

احسان (زیاته) کوي چه دوی اسلام راوړے دے۔ ته ورته او وایه چه په ما باندے د خپل اسلام (راوړو) احسان مه کوئ

بَلِ اللّٰهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ اَنْ هَدٰىكُمْ لِلْاِيْمَانِ اِنْ

بلکه | الله | احسان کوي | په تاسو باندے | دا دے چه ښودلے ئے تاسو ته (لار) | په طرف د ایمان | که چرے

بلکه که تاسو واقعي (په خپله خبره کښې) رښتني یئ نو دا د الله په تاسو باندے احسان دے چه

كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ⑰ اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ غَيْبَ السَّمٰوٰتِ

تاسو یئ | رښتني | بیشکه | الله | پوهیږي | په پټو خبرو | د آسمانونو

د ایمان لارے ئے درته ښودلے ده۔ یقینًا الله تعالیٰ د آسمانونو او د زمکے هر یو پټ څیز

وَالْاَرْضِ ط وَاللّٰهُ بَصِيْرٌ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ⑱ ع

او د زمکے | او الله | ښه لیدونکے دے | هغه څه (لره) | چه تاسو ئے کوئ |

ښه پیژنی او تاسو چه څه کوئ الله تعالیٰ هغه ښه وینی.

آیاتها [۴۵]	سورة قٓ مكّيّة	رکوعاتها [۳]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

قٓ ج وَالْقُرْاٰنِ الْمَجِيْدِ ① بَلْ عَجِبُوْا اَنْ جَآءَهُمْ

ق | قسم دے په قرآن | لوے شان والا باندے | بلکه | دوی تعجب کوي | په دے چه راغے دوی ته

ق په قرآن مجید باندے قسم دے (چه کافرانو د پیغمبر تکذیب په څه دلیل نه دے کړے) بلکه دوی په دے خبر حیران دي

مُنْذِرٌ مِّنْهُمْ فَقَالَ الْكٰفِرُوْنَ هٰذَا شَيْءٌ عَجِيْبٌ ②

یو ویره ورکوونکے | د دوی نه | پس او ویل | کافرانو | چه دا (خو) | یو څیز دے | ډیر عجیبه

چه دوی ته یو ویروونکی هم د دوی (د جنس) نه (څنګه) راغلے دے نو (بس) کافران وائی چه دا خو ډیره نلشنا (عجیبه) خبره ده

ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا ج ذٰلِكَ رَجْعٌ بَعِيْدٌ ③ قَدْ عَلِمْنَا

آیا کله چه | مونږ مړه شو | او شو | خاورے | دا (خو) | واپسی ده | (د عقل نه) لرے | یقینًا | مونږ پوهیږو

آیا مونږ چه کله مړه شو او خاورے (خاورے) شو (نو لا بیا به ژوندی کړے شو؟) دا بیا ژوندی کیدل خو د عقل نه لرے خبره ده. (حالانکه)

مَا تَنْقُصُ الْاَرْضُ مِنْهُمْ ۚ وَعِنْدَنَا كِتٰبٌ حَفِيْظٌ ﴿٤﴾

په هغه څه | چه کموی ئے | زمکه | د دوی نه | او زمونږ سره دے | یو کتاب | ساتونکے

مونږ د دوی هغه اجزاء پیژنو کوم چه زمکه (خوری او) کموی ئے او زمونږ سره (خو) یو داسے کتاب دے چه هر څه محفوظ ساتی

بَلْ كَذَّبُوْا بِالْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ فَهُمْ فِيْٓ اَمْرٍ مَّرِيْجٍ ﴿٥﴾

بلکه | دوی دروغژن اوګڼړلو | حق لره | هرکله | چه راغے دوی ته | پس دوی دی | په یو کار | ګډوډ کښی

بلکه عجیبه خبره (خو) داده چه کله دوی ته حق (دین) راغے نو دوی هغه دروغ اوګڼړلو نو دوی (اوس) په ګډوډو سر دی

اَفَلَمْ يَنْظُرُوْٓا اِلَى السَّمَآءِ فَوْقَهُمْ كَيْفَ بَنَيْنٰهَا

آیا نو دوی نه ګوری | آسمان ته | د پاسه د دوی | چه څنګه | جوړ کړے دے مونږ هغه

آیا دوی د خپل ځان د پاسه آسمان ته نه دی کتلی چه مونږ هغه څنګه جوړ کړے دے

وَزَيَّنّٰهَا وَمَا لَهَا مِنْ فُرُوْجٍ ﴿٦﴾ وَالْاَرْضَ مَدَدْنٰهَا

او ښائسته کړے دے مونږ هغه | او نشته | هغے لره | څۀ چاودل | او زمکه | غوړولے ده مونږ هغه

او (په ستورو مو) هغه ښائسته کړے دے او هیڅ (قسم) چاودی پکښی نشته او زمکه هم مونږ خوره کړے ده

وَاَلْقَيْنَا فِيْهَا رَوَاسِيَ وَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍ

او اچولی دی مونږ | په هغے کښی | (پاخه) غرونه | او راز رغون کړی دی مونږ | په هغے کښی | د هر قسم | بوټی

او مضبوط غرونه مو پکښی اودرولی دی او هر قسم ښائسته (تازه) بوټی مو پکښی راز رغون کړی دی

بَهِيْجٍ ﴿٧﴾ تَبْصِرَةً وَّذِكْرٰى لِكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيْبٍ ﴿٨﴾ وَنَزَّلْنَا

تازه (ښائسته) | د پاره د پوهه کولو | او د نصیحت | د پاره د هر یو | بنده | رجوع کوونکی | او مونږ راورولی دی

چه مونږ ته د راګرځیدونکی هر بنده د پاره د سترګو د غړولو او د نصیحت (اخستلو) ذریعه ده۔ او مونږ

مِنَ السَّمَآءِ مَآءً مُّبٰرَكًا فَاَنْۢبَتْنَا بِهٖ جَنّٰتٍ وَّحَبَّ

د آسمان نه | اوبه | برکتی | بیا مونږ راز رغون کړل | په هغے سره | باغونه | او دانے

د آسمان نه برکتی اوبه راورولی دی بیا مو په هغے سره باغونه او د ریبلو کیدونکی فصل دانے راز رغون کړی۔

الْحَصِيْدِ ﴿٩﴾ وَالنَّخْلَ بٰسِقٰتٍ لَّهَا طَلْعٌ نَّضِيْدٌ ﴿١٠﴾ رِّزْقًا

د ریبلی شوی فصل | او قجورے | د نګے (لوړے) | چه د هغے دی | غونچکونه | لاندے باندے | (د پاره د) روزی

او د قجورو اوچتے اوځتو نے چه د هغے ګوچی په یو بل کښی جوختے پرتے دی دا هر څه مو د بندګانو د رزق د پاره پیدا کړی دی

لِّلْعِبَادِ ۙ وَاَحْيَيْنَا بِهٖ بَلْدَةً مَّيْتًا ؕ كَذٰلِكَ الْخُرُوْجُ ﴿١١﴾

د بندګانو | او مونږ ژوندے کړے دے | په هغے سره | ښار | مړ (اوچ) | د غه شان | راوتل دی (د قبرونو نه)

او مونږ په هغے (اوبو) او چه زمکه تازه کړے ده بس هم دغه شان به (د قبرونو نه د انسانانو) راوتل هم وی

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوْحٍ وَّاَصْحٰبُ الرَّسِّ وَثَمُوْدُ ﴿١٢﴾

دروغژن ګڼړلی وو | مخکښے د دوی نه | قوم | د نوح | او | کوهی والو | او ثمودیانو

د دوی نه مخکښے د نوح قوم، د کوهی والو او ثمودیانو (پیغمبرانو لره) دروغژن ګڼړلی وو

وَعَادٌ وَّفِرْعَوْنُ وَاِخْوَانُ لُوْطٍ ۝ وَّاَصْحٰبُ الْاَيْكَةِ وَقَوْمُ

او عادیانو | او فرعون | او ورونړو | د لوط | او بنړ والو | او قوم

او عادیانو، فرعون او د لوط ورونړو (قوم) هم او بنړ والو او

تُبَّعٍ ؕ كُلٌّ كَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ وَعِيْدِ ۝ اَفَعَيِيْنَا

د تبع | دے ټولو | دروغژن گڼلی وو | پیغمبران | نو ثابت شو | عذاب زما | آیا نو مونږ ستړی شوی یُو

دتبع قوم هم، دے ټولو پیغمبران دروغژن گڼلی وو نو ځکه (پرے) زما عذاب ثابت شو. آیا مونږ په اول ځل

بِالْخَلْقِ الْاَوَّلِ ؕ بَلْ هُمْ فِيْ لَبْسٍ مِّنْ خَلْقٍ جَدِيْدٍ ۝ ع

په پیدایش | وړومبئ | بلکه | دوی | په شک کښں دی | د پیدایش | نوی نه

پیدا کولو باندے ستړی شو ځه؟ (نه نه) بلکه دا خلق د نوی پیدائش په باره کښں په شک کښں پراته دی

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهٖ

او یقینًا | مونږ پیدا کړے دے | انسان | او پوهیږو | په هغه څه | چه وسوسه اچوی | دۀ ته

او حقیقت دا دے چه مونږ انسان پیدا کړے دے او د دۀ په زړه کښں چه څومره وسوسے راځی

نَفْسُهٗ ۚۖ وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيْدِ ۝ اِذْ يَتَلَقَّى

نفس د دۀ | او مونږ | ډیر نزدے یُو | دۀ ته | د | رگ | د ساه (مرئ) نه | کله چه | اخلی (لیکی)

هغه هم مونږ ته معلومے دی او مونږ خو دۀ ته د دۀ د ساه د رگ نه هم زیات نزدے یُو (هغه وخت هم) کله چه

الْمُتَلَقِّيٰنِ عَنِ الْيَمِيْنِ وَعَنِ الشِّمَالِ قَعِيْدٌ ۝ مَا يَلْفِظُ

دوه اخستونکی | د ښی طرف نه | او د گس طرف نه | ناست (وی) | (انسان) نه اوباسی د خلے نه

عمل لیکونکی دوه فرشتے لیکل کوی یو ښی طرف ته ناسته وی او بل گس طرف ته ، دۀ د خولے نه

مِنْ قَوْلٍ اِلَّا لَدَيْهِ رَقِيْبٌ عَتِيْدٌ ۝ وَجَآءَتْ سَكْرَةُ

څه خبره | مگر | د دۀ سره | یُو څوکے کوونکے | تیار (ناست) وی | او راغله | سختی (بے هوشی)

لا څه (خبره) ویستلے نه وی مگر په هغے یو نگران مقرر وی چه (هر وخت لیکلو ته) تیار وی او د مرگ

الْمَوْتِ بِالْحَقِّ ؕ ذٰلِكَ مَا كُنْتَ مِنْهُ تَحِيْدُ ۝ وَنُفِخَ

د مرگ | په رشتیا | دا دی | هغه څه | چه ته | د هغے نه | تختیدے | او پوکے به او وهلی شی

سختی (خو) په رشتیا راغله دا هم هغه څیز دے چه ته به ترے نه تختیدے، او په شپیلئ کښں به پوک او وهلے شی

فِي الصُّوْرِ ؕ ذٰلِكَ يَوْمُ الْوَعِيْدِ ۝ وَجَآءَتْ كُلُّ نَفْسٍ

په شپیلئ کښں | دا ده | ورځ | دوعدے (دعذاب) | او رابه شی | هر یو | کس

هم دا هغه ورځ (دعذاب) ده چه تاسو سره ئے وعده کیدے شوه او هر یو کس به په دا سے حالت کښں راشی چه

مَّعَهَا سَآئِقٌ وَّشَهِيْدٌ ۝ لَقَدْ كُنْتَ فِيْ غَفْلَةٍ مِّنْ هٰذَا

چه هغه سره به وی | یو راوستونکی | او یُو گواه | یقینًا | وے ته | په غفلت کښں | د دے نه

ورسره به یو راوستونکے فرشته وی او یو گواه، حقیقت دا دے چه ته د دے (ورځے) نه په غفلت کښں پروت وے

فَكَشَفْنَا عَنْكَ غِطَآءَكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيْدٌ ﴿٢٢﴾ وَقَالَ

پس لرے کړه مونږ | ستا نه | پرده ستا | نو نظر ستا | نن ورځ | ډیر تیز دے | او وبه وائي

نو اوس مونږ ستا نه ستا هغه پردے لرے کړے نو نن ستا نظر په تیز شو. او دده ملګري به ووائي چه داده

قَرِيْنُهٗ هٰذَا مَا لَدَيَّ عَتِيْدٌ ﴿٢٣﴾ اَلْقِيَا فِيْ جَهَنَّمَ كُلَّ كَفَّارٍ

ملګري دده | دا دے | هغه څیز | چه ماسره دے | تیار | اوغورځوئ تلسو دواړه | په دوزخ کښ | هر | کافر

هغه عملنامه چه ماسره تیاره پرته ده (حکم به اوشي چه) هر هغه کس جهنم ته اوغورځوئ چه ډیر ناشکره

عَنِيْدٍ ﴿٢٤﴾ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ مُّرِيْبٍ ﴿٢٥﴾ الَّذِيْ جَعَلَ

عِنادي (ضدي) | منع کوونکے | د خیر | او وړاندې وتونکے د حد نه | شک کوونکے | هغه کس | چه جوړ کړے ئې وو

سرکشه (دشمن) وو چه نورو بهٔ ئې هم د نیکئ نه منع کول. د حد نه اووړاندې وتونکے او په شک کښ پروت وو دا هغه کس وو

مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَاَلْقِيٰهُ فِي الْعَذَابِ الشَّدِيْدِ ﴿٢٦﴾ قَالَ

د الله سره | خدائے (معبود) | بل | پس اوغورځوئ دهٔ لره | په عذاب | ډیر سخت کښ | او به وائي

چه د الله سره ئې بل معبود (خدائ) مقرر کړے وو نو (اوس) تاسو دواړه دے سخت عذاب کښ اوغورځوئ دده ملګرے

قَرِيْنُهٗ رَبَّنَا مَآ اَطْغَيْتُهٗ وَلٰكِنْ كَانَ فِيْ ضَلٰلٍ بَعِيْدٍ ﴿٢٧﴾

ملګرے دده | اے زمونږ ربه | ما نه وو ګمراه کړے دے | لیکن | وو دے | په ګمراهئ | لرے کښ

(شیطان) به اووائي چه اے زمونږ ربه اما خو دے نه وو ګمراه کړے بلکه دا (خو) پخپله د حق نه ډیر لرے ګمراهئ کښ پروت وو.

قَالَ لَا تَخْتَصِمُوْا لَدَيَّ وَقَدْ قَدَّمْتُ اِلَيْكُمْ

او به وائي (الله) | جګړے مه کوئ | زما په خوا کښ | او یقینًا | ما (خو) مخکښے در لیږلے وه | تاسو ته

الله تعالیٰ به ورته اووائي چه زما په مخکښے جګړے مه کوئ او ما خو تاسو ته د مخکښے نه د عذاب خبر در لیږلے وو

بِالْوَعِيْدِ ﴿٢٨﴾ مَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ وَمَآ اَنَا بِظَلَّامٍ

(وعده) د عذاب | نه شي بدلیدلے | خبره | زما سره | او نه یم زهٔ | هیڅ ظلم کوونکے

زما په دربار کښ خبره (فیصله) نشي بدلیدے او زهٔ په بندګانو هیڅ ظلم نه کوم

لِّلْعَبِيْدِ ﴿٢٩﴾ يَوْمَ نَقُوْلُ لِجَهَنَّمَ هَلِ امْتَلَاْتِ وَتَقُوْلُ

په بندګانو | په کومه ورځ | چه مونږ به اووایو | دوزخ ته | چه آیا | ته ډک شوے؟ | او هغه به وائي

په کومه ورځ به چه مونږ د جهنم نه تپوس او کړو چه آیا ته ډک شوے؟ او هغه به اووائي چه

هَلْ مِنْ مَّزِيْدٍ ﴿٣٠﴾ وَاُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِيْنَ غَيْرَ بَعِيْدٍ ﴿٣١﴾

آیا | څه زیاتي (نور) شته؟ | او نزدے به کړے شي | جنت | متقیانو ته | نه به وي لرے

آیا څه نور هم شته؟ او متقیانو ته به جنت دومره نزدے کړے شي چه هیڅ لرے به نه وي

هٰذَا مَا تُوْعَدُوْنَ لِكُلِّ اَوَّابٍ حَفِيْظٍ ﴿٣٢﴾ مَنْ

دا دي | هغه څه | چه تاسو سره ئې وعده کولے شوه | د پاره د هر | رجوع کوونکي | حفاظت کوونکي | هغه څوک

(او ورته به او ویلے شي چه) دا هغه څه دي چه تاسو سره ئې په شرط د تقوىٰ وعده کیده (یعني) د هر توبه کوونکي او حفاظت کوونکي د پاره

خَشِيَ الرَّحْمٰنَ بِالْغَيْبِ وَجَآءَ بِقَلْبٍ مُّنِيْبِ ﴿٣٣﴾ ادْخُلُوْهَا

چه يريږي | د رحمٰن نه | بے د ليدلو | او راغلے وي | په زړهٔ | راګرځيدونکي سره | داخل شئ دے ته

(هغه څوک) چه د رحمٰن ذات نه يريدلو په حال د نه ليدلو د هغه کښ او حق ته په راګرځيدونکي زړهٔ سره حاضر شو. تاسو په سلامتيا سره

بِسَلٰمٍ ذٰلِكَ يَوْمُ الْخُلُوْدِ ﴿٣٤﴾ لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ فِيْهَا

په سلامتيا سره | دا ده | ورځ | د هميشوالي | وي به دوي د پاره | هغه څه | چه دوي به ئے غواړي | په هغے کښ

په دے کښ داخل شئ دغه ورځ به د هميشه ژوند وي دوي ته به هر هغه څه ملاويږي چه دوي به ئے غواړي

وَلَدَيْنَا مَزِيْدٌ ﴿٣٥﴾ وَكَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْنٍ

او دي زمونږ سره | (نور) زيات | او څومره (ډير) | هلاک کړي دي مونږ | مخکښ د دوي نه | نسلونه (قومونه)

او زمونږ سره (نور هم) زيات (نعمتونه) دي. او د دوي نه مخکښے مونږ څومره (ډير) قومونه هلاک کړي دي

هُمْ اَشَدُّ مِنْهُمْ بَطْشًا فَنَقَّبُوْا فِي الْبِلَادِ هَلْ

چه وو هغوي | ډير سخت | د دوي نه | په نيولو کښ | پس هغوي ورګرځيدلي وو | په ښارونو کښ | آيا وو

چه هغوي په حمله کولو (نيولو) کښ د دوي نه زيات سخت وو او ښارونه ئے چاڼ کړي وو آيا

مِنْ مَّحِيْصٍ ﴿٣٦﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَذِكْرٰى لِمَنْ كَانَ لَهٗ قَلْبٌ

ځائے د تيختے | بيشکه | په دے کښ | خامخا نصيحت دے | د هغه چا د پاره | چه وي | د هغه | زړهٔ

د هغوي د تيختے (د پناه) ځائ وو؟ يقينًا په دے کښ د هر هغه چا د پاره نصيحت دے د چا چه (روغ) زړهٔ وي

اَوْ اَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيْدٌ ﴿٣٧﴾ وَلَقَدْ خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ

يا ږدي | غوږ | او هغه | حاضر (متوجه) وي | او يقينًا | مونږ پيدا کړي دي | آسمانونه

او په توجه سره خبرے ته غوږ کيږدي. او يقينًا مونږ آسمانونه او زمکه

وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ وَّمَا مَسَّنَا

او زمکه | او هغه څه | چه د دے دواړو په مينځ کښ دي | په شپږو | ورځو کښ | او نه دے رسيدلے مونږ ته

او د دے دواړو په مينځ کښ چه څه دي دا ټول (صرف) په شپږو ورځو کښ پيدا کړي دي او مونږ له هم

مِنْ لُّغُوْبٍ ﴿٣٨﴾ فَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ

څه ستړيوالے | پس صبر کوه | په هغه څه | چه دوي ئے وائي | او پاکي بيانوه | سره د تعريف | د رب خپل نه

ستړي شوي نه يو. نو (اے نبي!) د دوي په خبرو صبر کوه او د خپل رب د حمد سره د هغهٔ تسبيح وايه

قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوْبِ ﴿٣٩﴾ وَمِنَ الَّيْلِ

مخکښ | د راختلو | د نمر نه | او مخکښ | د پريوتلو (د نمر نه) | او د شپے (په څه حصه کښ)

د نمر د راختلو نه مخکښے هم او د پريوتلو نه مخکښے هم او د شپے په څه حصه کښ هم

فَسَبِّحْهُ وَاَدْبَارَ السُّجُوْدِ ﴿٤٠﴾ وَاسْتَمِعْ يَوْمَ يُنَادِ الْمُنَادِ

(بيا) تسبيح وايه د هغه | او پس | د سجدو کولو نه | او واوره | په هغے ورځ | چه آواز به او کړي | آواز کوونکے

د هغهٔ تسبيح وايه او د سجدو (مونځونو) نه پس هم وايه او په (توجه سره) واوره په کومه ورځ به چه يو آواز کوونکے

مِنْ مَّكَانٍ قَرِيْبٍ ﴿۴۱﴾ يَّوْمَ يَسْمَعُوْنَ الصَّيْحَةَ بِالْحَقِّ ؕ ذٰلِكَ

د يو ځائے | نزدے نه | په هغه ورځ | دوی به آوري | چغه | په رشتيا | دا ده

د نزدے ځائے نه آواز او کړی په هغه ورځ به دا خلق دغه چغه (دويمه شپيلۍ) په رشتيا (په يقين سره) واوري دغه به

يَوْمُ الْخُرُوْجِ ﴿۴۲﴾ اِنَّا نَحْنُ نُحْيٖ وَنُمِيْتُ وَاِلَيْنَا الْمَصِيْرُ ﴿۴۳﴾

ورځ | د راوتلو (د قبرونو نه) | بيشکه | هم مونږ | ژوندی کوو | او مړه کوو | او هم زمونږ (طرف) ته | واپس راتلل دي

(د قبرونو نه) د وتلو ورځ وی يقين او کړئ چه هم مونږ ژوندون ورکوو او مرګ هم ورکوو او هم مونږ ته د ټولو واپس ده

يَوْمَ تَشَقَّقُ الْاَرْضُ عَنْهُمْ سِرَاعًا ؕ ذٰلِكَ حَشْرٌ

په هغه ورځ | چه اوبه چوی | زمکه | د دوی نه | په تلوار | دا | راجمع کول دي

په هغه ورځ به زمکه د دوی (د پاسه) نه دا سے اوشليږي چه دوی به زر را او ځی دا (ټول) راجمع کول

عَلَيْنَا يَسِيْرٌ ﴿۴۴﴾ نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا يَقُوْلُوْنَ وَمَآ اَنْتَ

په مونږ باندے | (ډير) آسان | مونږ | ښه پوهه يو | په هغه څه | چه دوی ئے وائي | او نه ئے ته

مونږ ته ډير آسان دی دوی چه څه وائي هغه مونږ ته معلوم دی او (اے نبي!) ته (څه) په دوی (خو)



عَلَيْهِمْ بِجَبَّارٍ ۚ فَذَكِّرْ بِالْقُرْاٰنِ مَنْ يَّخَافُ وَعِيْدِ ﴿۴۵﴾

په دوی باندے | زبردستی کوونکے | پس نصيحت کوه | په قرآن سره | هغه چاته | چه يريږي | د عذاب زمانه

زبردستی کوونکے نه ئے، لو ته د قرآن په ذريعه هر هغه چاته نصيحت کوه چه زما د عذاب نه يريږي

آياتها [٦٠]	سورة الذّٰرِيٰت مكّيّة	ركوعاتها [٣]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډير مهربان | زيات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

وَالذّٰرِيٰتِ ذَرْوًا ﴿۱﴾ فَالْحٰمِلٰتِ وِقْرًا ﴿۲﴾ فَالْجٰرِيٰتِ

قسم دے په الوزوونکو هواګانو | په الوزولو سره | بيا (قسم دے په) پورته کوونکو هواګانو | بوج لره | بيا (قسم دے په) چليدونکو هواګانو

په هغه هواګانو قسم دے چه (دوړه) الوزوی بيا په هغه هواګانو قسم دے چه د وريځو بوج اوچتوی بيا په هغه هواګانو

يُسْرًا ﴿۳﴾ فَالْمُقَسِّمٰتِ اَمْرًا ﴿۴﴾ اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ

په آسانۍ سره | بيا (قسم دے په) تقسيموونکو (هواګانو) | کار لره | بيشکه هغه | چه تاسو سره ئے وعده کولے شی

قسم دے چه په آسانۍ (نرمۍ) سره روانے وی بيا په هغه هواګانو قسم دے چه کار وله تقسيموی چه تاسو سره چه کوم وعده (د قبرونو نه راوتلو) کيږي

لَصَادِقٌ ﴿۵﴾ وَّاِنَّ الدِّيْنَ لَوَاقِعٌ ﴿٦﴾ وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْحُبُكِ ﴿۷﴾

خامخا رشتيا دي | او بيشکه | قيامت | خامخا واقع کيدونکے دے | او قسم دے په آسمان | ستورو والا باندے

هغه يقيناً رشتيا ده او د عملونو بدله يقيناً ملاويدونکے ده. او په هغه آسمان قسم دے چه ګڼر ستوری پکښ دي

إِنَّكُمْ لَفِي قَوْلٍ مُّخْتَلِفٍ ﴿٨﴾ يُؤْفَكُ عَنْهُ مَنْ أُفِكَ ﴿٩﴾

بیشکه تاسو | خامخا په یوه خبره کښې | اختلاف کوونکي یئ | اړولی شي | د هغې نه | هغه څوک | چه اړولی شوی دی

چه تاسو په اختلافي (متضاد) خبرو کښې اخته یئ. د دې نه هم هغه کس اوړي څوک چه (د حق نه) اړولی شوی دی.

قُتِلَ الْخَرَّاصُونَ ﴿١٠﴾ الَّذِينَ هُمْ فِي غَمْرَةٍ سَاهُونَ ﴿١١﴾

هلاک کړے شو | په تو ک خبره کوونکي | هغه کسان | چه هغوی | په غفلت کښې دی | هیروونکي

اټکل (بے دلیله) خبرے کوونکي دِ هلاک شي دا هغه خلق دي چه په غفلت کښې (دا سے) پراته دي (چه) هر څه ئے هیر کړي دي.

يَسْأَلُونَ أَيَّانَ يَوْمُ الدِّينِ ﴿١٢﴾ يَوْمَ هُمْ عَلَى النَّارِ

تپوس کوي دوی | چه کله به وي | ورځ | د جزاء او سزا | په هغه ورځ | چه دوی به | په اور باندے

دوی تپوس کوي چه د بدلے ورځ به کله وي؟ دا به هغه ورځ وي چه دوی به په اور او سوځولے شي

يُفْتَنُونَ ﴿١٣﴾ ذُوقُوا فِتْنَتَكُمْ هَٰذَا الَّذِي كُنتُم بِهِ

سوځولی شي | او څکئ تاسو | (مزه) د سوزش خپل | دا دی | هغه څه | چه تاسو به دے لره

(او ورته به اوویلی شي چه) د خپل شرارت (د سزا) خوند او څکئ دا هغه عذاب دے چه تاسو به (په دنیا کښې)

تَسْتَعْجِلُونَ ﴿١٤﴾ إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴿١٥﴾ آخِذِينَ

زر غوښتلو | بیشکه | متقیان به وي | په جنتونو (باغونو) | او په چینو کښې | اخستونکي به وي

زر غوښتلو. یقیناً متقیان خلق به په جنتونو او په چینو کښې (دا سے) اوسیږي چه کوم نعمتونه ورله

مَا آتَاهُمْ رَبُّهُمْ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا قَبْلَ ذَٰلِكَ مُحْسِنِينَ ﴿١٦﴾

هغه څه | چه ورکوي په ئے دوی ته | رب خپل | بیشکه دوی | وو | مخکښې | د دې نه | نیکي کوونکي

خپل رب ورکوي هغه به اخلي. یقیناً دوی د دے نه مخکښې (په دنیا کښې) نیک عمله وو

كَانُوا قَلِيلًا مِّنَ اللَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ ﴿١٧﴾ وَبِالْأَسْحَارِ هُمْ

وو دوی | ډیر کم | د شپے نه | چه خوب به ئے کولو | او د پیشمنئ په | هم دوی

او د شپے به ډیر لږ اوده کیدل. او د پیشمنئ په وخت کښې به ئے بخښنه غوښتله

يَسْتَغْفِرُونَ ﴿١٨﴾ وَفِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ ﴿١٩﴾

بخښنه غوښتله | او د دوی په مالونو کښې به | حق وو | د غوښتونکو | او د بے نصیبه (تنګ ستو)

او د دوی په مالونو کښې به د غوښتونکو (سوالګرو) او نه غوښتونکو محتاجو (باقاعده) حق وو.

وَفِي الْأَرْضِ آيَاتٌ لِّلْمُوقِنِينَ ﴿٢٠﴾ وَفِي أَنفُسِكُمْ ۚ

او په زمکه کښې | (ډیرے) نخښے دي | د پاره د یقین کوونکو | او ستاسو په نفسونو کښې هم

او د یقین کوونکو د پاره په زمکه کښې ډیرے نخښے دي او په خپله ستاسو په بدنونو کښې هم نو تاسو ولے غور نه کوئ؟

أَفَلَا تُبۡصِرُونَ ٢١ وَفِي ٱلسَّمَآءِ رِزۡقُكُمۡ وَمَا تُوعَدُونَ ٢٢

آیا نو تاسو نه ګورئ | او په آسمان کښ | رزق ستاسو دے | او هغه څه (هم دي) | چه تاسو سره (ئے) وعده کولی شي

او په آسمان کښ ستاسو رزق هم دے او هغه څیز (جنت یا تقدیر د خیر او شر) هم چه تاسو سره ئے وعده کیږي.

فَوَرَبِّ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ إِنَّهُۥ لَحَقٌّ مِّثۡلَ مَآ

پس قسم دے په رب | د آسمان | او د زمکے | (چه) بیشکه دا خبره | خامخا حق ده | پشان | د هغے (خبرو)

نو د آسمان او د زمکے په رب (مالک) قسم دے چه دا (قیامت) دا بے یقیني (حق) دے لکه څنګه چه

ربع

أَنَّكُمۡ تَنطِقُونَ ٢٣ هَلۡ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ضَيۡفِ إِبۡرَٰهِيمَ

چه تاسو ئے | کوئ | آیا | راغلے دے تاته | خبر | د میلمنو | د ابراهیم

تاسو خبرے کوئ (اے نبي!) آیا تاته د ابراهیمؑ د عزتمند و میلمنو خبر را رسیدلے دے؟

ٱلۡمُكۡرَمِينَ ٢٤ إِذۡ دَخَلُواْ عَلَيۡهِ فَقَالُواْ سَلَٰمٗاۖ قَالَ

چه عزتمند وو | کله چه | داخل شو دوی | په هغه باندے | نو او ویل | (چه مونږ) سلام کوو (تاته) | هغه او ویل

کله چه هغوی د ابراهیمؑ خواله راغلل نو سلام ئے ورته او کړو ابراهیم علیه السلام ورته هم سلام او کړو

سَلَٰمٞ قَوۡمٞ مُّنكَرُونَ ٢٥ فَرَاغَ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِۦ فَجَآءَ

سلام (دے په تاسو) | (داخو) یو قوم دے | ناشنا (ناپیژندګلو) | بیا غلے لاړو | خپل کور والو ته | نو راوړې ئے ورلو

(او زړه کښ ئے اوویل چه) دا (خو) څه ناشنا خلق ښکاري- بیا پټ کورته ورغے او یو

بِعِجۡلٖ سَمِينٖ ٢٦ فَقَرَّبَهُۥٓ إِلَيۡهِمۡ قَالَ أَلَا تَأۡكُلُونَ ٢٧

یو خسے | څورب | بیا ئے نزدے کړو هغه | دوی ته | وے ویل | آیا تاسو نه خورئ؟

وریت شوے څورب خسے ئے په تادئ سره راوړو او هغوی ته ئے ورنزدے کړو ورته ئے اوویل تاسو ولے نه خورئ؟

فَأَوۡجَسَ مِنۡهُمۡ خِيفَةٗۖ قَالُواْ لَا تَخَفۡۖ وَبَشَّرُوهُ

نو ده محسوسه کړه | د هغوی نه | یره | هغوی اوویل | مه یریږه | او زیرے ور کړو هغوی ده ته

بیا هغه په خپل زړه کښ یره محسوس کړه هغوی ورته اوویل یریږه مه او دیو (زیر)

بِغُلَٰمٍ عَلِيمٖ ٢٨ فَأَقۡبَلَتِ ٱمۡرَأَتُهُۥ فِي صَرَّةٖ

د یو هلک | پوهه | نو را مخامخ شوه | بي بي د هغهٔ | په یو آواز د چیرا لتیا سره

پوهه هلک زیرے ئے ورله ور کړو- په دے (کښ) د ابراهیم علیه السلام بي بي را مخامخ شوه

فَصَكَّتۡ وَجۡهَهَا وَقَالَتۡ عَجُوزٌ عَقِيمٞ ٢٩ قَالُواْ

نو وے وهلو | خپل مخ (تندے) | او وے ویل | (زه خو) بوډئ یم | شنړه | او ویل هغوی

او خپل تندی له ئے لاس ور کړو او بے اختیاره ئے په تیز آواز سره اوویل چه زه بوډئ (او) شنړه یم. هغوی ورته اوویل

كَذَٰلِكِ قَالَ رَبُّكِۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡحَكِيمُ ٱلۡعَلِيمُ ٣٠

دغه شان (به ته ئے) | ویلي دي | رب ستا | بیشکه | هغه دے | لوے حکمت والا | ښه پوهه

چه ته به هم په دے صفت بانده ئے ستا رب هم داسے ویلي دي یقین او کړئ چه هغه ډیر حکمت والا ښه پوهه ذات دے.

قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ أَيُّهَا الْمُرْسَلُوْنَ ۝ قَالُوْٓا إِنَّآ

اوویل هغه | نو څه دے | (لوے) کارستاسو | اے رالیږلی شوو (فرښتو) | اوویل هغوی | بیشکه مونږ

ابراهیمؑ (فرښتو ته) اوویل چه ستاسو د راتلو مقصد څه دے؟ هغوی ورته اوویل چه مونږ

أُرْسِلْنَآ إِلَىٰ قَوْمٍ مُّجْرِمِيْنَ ۝ لِنُرْسِلَ عَلَيْهِمْ حِجَارَةً

رالیږلی شوی یُو | قوم | مجرمانو ته | چه مونږ را اولیږو | په دوی باندے | کاڼړی

یو مجرم قوم ته رالیږلی شوی یُو چه د آخټکرو داسے کاڼړی پرے راؤ ورو

مِّنْ طِيْنٍ ۝ مُّسَوَّمَةً عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُسْرِفِيْنَ ۝ فَأَخْرَجْنَا

(جوړ شوی) د خټے نه | چه نخښه دار کړے شوی دی | ستا د رب سره | د پاره د حد نه د تیریدونکو | نو ویستل مونږ

چه په هغے به ستا د رب د طرف نه د زیاتی کوونکو د پاره نخښے لګیدلی وی بیا (بس) هلته چه

مَنْ كَانَ فِيْهَا مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝ فَمَا وَجَدْنَا فِيْهَا

هغه څوک | چه وو | په هغے کښې | د مومنانو نه | پس اونهٔ موندلو مونږ | په هغے کښې

څومره مومنان وو هغه ټول ترے مونږ راوویستل او هلته د مسلمانانو د یو کور نه سوا مونږ

غَيْرَ بَيْتٍ مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ ۝ وَتَرَكْنَا فِيْهَآ آيَةً لِّلَّذِيْنَ

سوا | د یو کور | د مسلمانانو نه | او پریخودله مونږ | په هغے کښې | نخښه | د هغه خلقو د پاره

نور کور ونه اونهٔ موندل او مونږ په هغه کلی کښې د هغه خلقو د پاره چه د دردناک عذاب نه یریږی

يَخَافُوْنَ الْعَذَابَ الْأَلِيْمَ ۝ وَفِيْ مُوْسَىٰٓ إِذْ أَرْسَلْنٰهُ

چه یریږی | د عذاب | دردناک نه | او (په واقعه) د موسیٰؑ کښې هم | کله چه | اولیږلو مونږ دهٔ لره

(د عبرت) یوه نخښه پریخودله او د موسیٰؑ په واقعه کښې (هم مونږ نخښه پریخودے ده) کله چه مونږ هغه

إِلَىٰ فِرْعَوْنَ بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ۝ فَتَوَلَّىٰ بِرُكْنِهِ وَقَالَ

فرعون ته | په دلیل | ښکاره سره | لو مخ واړولو هغه | د خپل طاقت په وجه | او ووے ویل

په یو ښکاره دلیل سره فرعون ته لیږلی وو نو هغه د خپل طاقت په وجه (خپلو لښکرو) سره مخ واړولو او ووے ویل

سٰحِرٌ أَوْ مَجْنُوْنٌ ۝ فَأَخَذْنٰهُ وَجُنُوْدَهُ فَنَبَذْنٰهُمْ

چه (دا خو) جادوګر دے | یا لیونے | نو را اونیولو مونږ هغه | او لښکرے د هغهٔ | بیا مو او غورځول دوی

چه دا خو جادوګر یا لیونے دے نو بس مونږ هغه او د هغه لښکرے را اونیولے او ټول مو دریاب ته او غورځول

فِي الْيَمِّ وَهُوَ مُلِيْمٌ ۝ وَفِيْ عَادٍ إِذْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ

په دریاب کښې | او هغه وو | ځان ملامته کوونکے | او په عادیانو کښې هم | کله چه | راولیږله مونږ | په هغوی باندے

او هغه په خپلو کړو وړو پریشانه وو۔ او په عادیانو کښې (هم مونږ نخښه پریخودے ده) کله چه مونږ په هغوی باندے

الرِّيْحَ الْعَقِيْمَ ۝ مَا تَذَرُ مِنْ شَيْءٍ أَتَتْ عَلَيْهِ إِلَّا

سیلۍ | شنډه (بے خیره) | (چه) نه یے پریخودلو | هیڅ یو څیز | چه راتلله | په هغے باندے | مګر

یو داسے بے خیره سیلۍ راؤلیږله چه په کوم څیز به تیریدله (نو) هغه به یے داسے پریخودلو

جَعَلَتْهُ كَالرَّمِيْمِ ۝٤٢ۭ وَفِيْ ثَمُوْدَ اِذْ قِيْلَ لَهُمْ تَمَتَّعُوْا

کروېه ئې هغه | پشان دهډوکي خرهڅرهشوي | او په ثمود یانو کښې هم | کله چه | او ویلې شو | هغوی ته | فائدے واخلئ

لکه هډوکي ریزه ریزه او په ثمود یانو کښې (هم دالله نخښه وه) څه وخت چه ورته او ویلې شو چه لږ (څه) وخته پورے

حَتّٰى حِيْنٍ ۝٤٣ فَعَتَوْا عَنْ اَمْرِ رَبِّهِمْ فَاَخَذَتْهُمُ الصّٰعِقَةُ

ترڅه وخته پورے | تو سرکشي اوکړه هغوی | د حکم | درب خپل نه | پس را ونیول هغوی | تندر (سختے چغے)

مزے واخلئ تو هغوی دخپل رب د حکم نه سرکشي اختیار کړه تو سختے چغے (عذاب) را ونیول

وَهُمْ يَنْظُرُوْنَ ۝٤٤ فَمَا اسْتَطَاعُوْا مِنْ قِيَامٍ وَّمَا كَانُوْا

او هغوی | کتل | پس طاقت نه لرلو دوی | د اودریدلو | او نه وو دوی

او دوی کتل نتیجه دا چه نه خو پکښې د پاڅیدو طاقت پاتے شو او نه ئې مقابله کولے شوه

مُنْتَصِرِيْنَ ۝٤٥ۙ وَقَوْمَ نُوْحٍ مِّنْ قَبْلُ ۭ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا

بدله اخستونکي | او (هلاک کړے وو مونږ) قوم د نوح | مخکښې د دے نه | بیشکه هغوی | وو | قوم

او د دے نه مخکښې مونږ د نوح قوم (هلاک کړے وو) یقیناً هغوی لوے نافرمانه خلق وو

فٰسِقِيْنَ ۝٤٦ؑ وَالسَّمَاۗءَ بَنَيْنٰهَا بِاَيْىدٍ وَّاِنَّا لَمُوْسِعُوْنَ ۝٤٧ ع

نافرمانه | او آسمان | جوړ کړے دے مونږ هغه لره | په طاقت (سره) | او بیشکه مونږ | خامخا فراخي ور کوونکي یو

او آسمان مونږ په خپل قوت سره جوړ کړے دے او یقیناً مونږ هغے لره فراخي ور کوونکي یو

وَالْاَرْضَ فَرَشْنٰهَا فَنِعْمَ الْمٰهِدُوْنَ ۝٤٨ وَمِنْ كُلِّ شَيْءٍ

او زمکه | غوړولے ده مونږ د دے لره | پس څه ښه | غوړوونکي یو (مونږ) | او د هر یو څیز نه

او زمکه مونږ فرش کړے (غوړولے) ده نو مونږ ډیر ښهٔ غوړوونکي یو او د هر یو څیز نه

خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ۝٤٩ فَفِرُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ ۭ

پیدا کړي دي مونږ | جوړے | د دے دپاره چه تاسو | نصیحت واخلئ | پس او تختئ | الله ته

مونږ جوړے پیدا کړي دي (د دے دپاره) چه تاسو نصیحت واخلئ نو تاسو هم د الله طرف ته ورمنډه کړئ

اِنِّىْ لَكُمْ مِّنْهُ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۝٥٠ۚ وَلَا تَجْعَلُوْا مَعَ اللّٰهِ

بیشکه زهٔ | ستاسو دپاره | د هغه د طرف نه | یروونکے | ښکاره یم | او مه جوړوئ | د الله سره

یقین اوکړئ چه زه د هغه د طرف نه ستاسو دپاره یو ښکاره یروونکے یم او د الله تعالیٰ سره

اِلٰهًا اٰخَرَ ۭ اِنِّىْ لَكُمْ مِّنْهُ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۝٥١ۚ كَذٰلِكَ

معبود | بل | بیشکه زهٔ | ستاسو دپاره | د هغهٔ د طرف نه | یروونکے | ښکاره یم | دغه شان

بل معبود مهٔ جوړوئ یقین اوکړئ چه زه د هغه د طرف نه ستاسو دپاره یو ښکاره یروونکے یم دغه شان

مَآ اَتَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا قَالُوْا

نه په راتلو | هغه کسانو ته | چه مخکښې د دوی نه وو | هیڅ یو پیغمبر | مګر ویل به هغوی

د دوی نه پخوانو خلقو ته به چه کوم یو پیغمبر راغی نو هغوی به ورته

سَاحِرٌ اَوْ مَجْنُوْنٌ ﴿٥٢﴾ اَتَوَاصَوْا بِهٖ ۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ

چه (دا خو) جادوګر دے | یا لیونے | آیا دوی بعضو بعضو ته وصیت کړے شوے وو | په دے (خبره) | (نه) بلکه | وو دوی | قوم

جادوګر یا لیونے ویلو آیا دوی یو بل ته د دے خبرے وصیت کړے دے؟ (نه) بلکه دا خلق سرکښه

طَاغُوْنَ ﴿٥٣﴾ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ فَمَآ اَنْتَ بِمَلُوْمٍ ﴿٥٤﴾ وَّذَكِّرْ

سرکښان | پس ته مخ واړوه | د دوی نه | پس نه ئے ته | ملامته (کړے شوے) | او نصیحت کوه ته

خلق دی بس (لو) اے نبیؐ! ته د دوی نه مخ واړوه (بلکل پروا مه کوه) ځکه چه په تا هیڅ ملامتیا نشته

فَاِنَّ الذِّكْرٰى تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٥٥﴾ وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ

پس بیشکه | نصیحت | فائده ورکوی | مؤمنانو ته | او نه دی پیدا کړی ما | پیریان

او نصیحت کوه ځکه چه نصیحت مومنانو ته فائده ورکوی او ما پیریان او انسانان (صرف) د دے د پاره

وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ ﴿٥٦﴾ مَآ اُرِيْدُ مِنْهُمْ مِّنْ رِّزْقٍ

او انسانان | مګر | د دے د پاره چه دوی عبادت او کړی زما | نه غواړم زه | د دوی نه | څه رزق

پیدا کړی دی چه زما عبادت او کړی زه د دوی نه څه رزق نه غواړم

وَّمَآ اُرِيْدُ اَنْ يُّطْعِمُوْنِ ﴿٥٧﴾ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ

او نه غواړم زه د دوی نه | (دا) چه خوراک را کړی ما ته | بیشکه | الله | هم هغه دے | رزق ورکوونکے | خاوند د قوت

او نه دا غواړم چه دوی دے ما ته خوراک را کړی یقیناً الله خو پخپله روزی رسان طاقت والا

الْمَتِيْنُ ﴿٥٨﴾ فَاِنَّ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ذَنُوْبًا مِّثْلَ ذَنُوْبِ

ډیر مضبوط دے | پس بیشکه | د هغه خلقو د پاره | چه ظلم ئے کړے دے | حصه دی (د عذاب) | پشان | د حصو

او مضبوط دے په دے کښې هیڅ شک نشته چه د ظالمانو د پاره هم د عذاب نوبت (مقرر) دے ځنګه چه

اَصْحٰبِهِمْ فَلَا يَسْتَعْجِلُوْنِ ﴿٥٩﴾ فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا

د ملګرو د هغوی | پس زر د دے نه غواړی دوی زما نه | پس تباهی ده | د هغه کسانو د پاره | چه کفر ئے کړے دے

د دوی د ملګرو نوبت راغلے وو نو دوی د دے زما نه عذاب زر نه غواړی غرض (پس) کافرانو د پاره

مِنْ يَّوْمِهِمُ الَّذِيْ يُوْعَدُوْنَ ﴿٦٠﴾ ع

د ورځے د دوی نه | هغه (ورځ) | چه دوی سره ئے وعده کولے شی

د هغے ورځے (په راتلو کښې) ډیره تباهی ده د کومے ورځے چه دوی سره وعده کیږي . .

آیاتها [٤٩]	سورة الطور مكية	ركوعاتها [٢]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

وَالطُّوْرِ ① وَكِتٰبٍ مَّسْطُوْرٍ ② فِيْ رَقٍّ مَّنْشُوْرٍ ③ وَّالْبَيْتِ

قسم دے په طور پاندے | او په کتاب | لیکل شوی پاندے | په پاڼرو | خوروورو کښې | (او) قسم دے په کور

په طور قسم دے او په هغه کتاب قسم دے چه په پراخه پاڼرو کښې لیکلے شوے دے او په

الْمَعْمُوْرِ ④ وَالسَّقْفِ الْمَرْفُوْعِ ⑤ وَالْبَحْرِ الْمَسْجُوْرِ ⑥

آباد کړے شوی پاندے | (او) قسم دے په چت | پورته کړے شوی پاندے | (او) قسم دے په دریاب | ډک کړے شوی پاندے

بیت معمور قسم دے او په اوچت کړے شوی چت قسم دے او په ډک کړے شوی دریاب قسم دے

اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ ⑦ مَّا لَهٗ مِنْ دَافِعٍ ⑧ يَّوْمَ

(چه) بیشکه | عذاب | د رب ستا | خامخا واقع کیدونکے دے | نشته دهغے | هیڅ څوک لرے کوونکے | په هغه ورځ

چه یقیناً ستا د رب عذاب ضرور واقع کیدونکے دے هیڅ څوک د هغے منع کوونکے نشته په هغه ورځ

تَمُوْرُ السَّمَآءُ مَوْرًا ⑨ وَّتَسِيْرُ الْجِبَالُ سَيْرًا ⑩ فَوَيْلٌ

او به خوزیږی | آسمان | په خوزیدو سره | او روان به شی | غرونه په | روانیدو سره | پس تباهی ده

چه آسمان به اولړزیږی او غرونه به روان شی (د خپل ځای نه) نو په دغه ورځ

يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ⑪ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ خَوْضٍ يَّلْعَبُوْنَ ⑫

په دغه ورځ | د دروغژن کوونکو دپاره | هغه کسان | چه هغوی | په فضول خبرو کښې | لوبے کوی

دهغه د تکذیب کوونکو دپاره تباهی ده چه په فضول خبرو کښې لګیا دی لوبے کوی

يَوْمَ يُدَعُّوْنَ اِلٰى نَارِ جَهَنَّمَ دَعًّا ⑬ هٰذِهِ النَّارُ

په هغه ورځ | چه په دیکو دیکو به بوتللے شی دوی | اور | د جهنم ته | په دیکو ور کولو سره | دا دے | اور

په هغه ورځ به دوی د جهنم اور ته په دیکو دیکو ور دیکه کړے شی (او ورته به اوویلے شی چه) دا هغه اور دے

الَّتِيْ كُنْتُمْ بِهَا تُكَذِّبُوْنَ ⑭ اَفَسِحْرٌ هٰذَآ اَمْ اَنْتُمْ

هغه | چه تاسو په دے لره دروغ ګنړلو | آیا نو جادو دے | دا | یا تاسو

چه تاسو به دروغ ګنړلو نو آیا دا جادو دے یا (اوس) تاسو ته څه په نظر نه راځی؟

لَا تُبْصِرُوْنَ ⑮ اِصْلَوْهَا فَاصْبِرُوْٓا اَوْ لَا تَصْبِرُوْا ۚ سَوَآءٌ

(هیڅ) نه وینئ | داخل شئ تاسو دے ته | پس (که) صبر کوئ تاسو | یا (که) صبر نه کوئ | برابره ده

دے ته داخل شئ بیا که تاسو صبر کوئ یا نه کوئ (دواړه خبرے) درله برابرے دی

عَلَيْكُمْ ۚ إِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ۝١٦ إِنَّ

په تاسو باندې | بیشکه | بدله (به) درکولی شي تاسو ته | دهغه څه | چه تاسو به کول | بیشکه

تاسو ته د هم هغه کارونو بدله (سزا) ملاویږي چه تاسو به کول

الْمُتَّقِينَ فِي جَنّٰتٍ وَّنَعِيمٍ ۝١٧ فٰكِهِينَ بِمَآ اٰتٰهُمْ

پرهیزګاران به | په جنتونو | او نعمتونو کښې وي | خوشحالي کوونکي به وي | په هغه څه | چه ور کړي وي دوی ته

متقیان به یقینًا په جنتونو او نعمتونو کښې وي د خپل پروردګار په ورکړه به خوشحاله وي

رَبُّهُمْ وَوَقٰهُمْ رَبُّهُمْ عَذَابَ الْجَحِيمِ ۝١٨ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا

رب خپل | او بچ به ساتلي وي دوی (لره) | رب خپل | د عذاب | د دوزخ نه | خورئ | او څکئ

او په دې چه دوی خپل رب د دوزخ د عذاب نه بچ ساتلي دي (ورته به او ویلی شي چه) د خپلو عملونو په بدله

هَنِيْٓـًٔا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝١٩ مُتَّكِـِٕيْنَ عَلٰى سُرُرٍ

په مزو سره | په سبب د هغه عملونو | چه تاسو به کول | تکیه لګوونکي به وي | په تختونو باندې

به په خوشحالۍ سره خورئ څکئ. حالت به ئې داوي چه په قطار غوړیدلي تختونو باندې به ئې ډډې

مَّصْفُوْفَةٍ ۚ وَزَوَّجْنٰهُمْ بِحُوْرٍ عِيْنٍ ۝٢٠ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

صف صف (کړې شوي) | او واده به کړو مونږ دوی ته | حورې | غټو سترګو والا | او هغه کسان | چه ایمان ئې اوړے دے

(تکیه) وهلي وي او مونږ به د غټو (ښائسته) سترګو والا حورو سره د دوی واده او کړو او چا چه ایمان راوړے دے

وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ بِاِيْمَانٍ اَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ

او تابعداري کړې ده د دوی | بچو د دوی | په ایمان کښې | مونږ به یوځاي کړو | د دوی سره | بچي د دوی

او نیک عملونه ئې کړي دي او د هغوی بچي په ایمان کښې په هغوی پسې روان دي نو مونږ به د هغوی بچي

وَمَآ اَلَتْنٰهُمْ مِّنْ عَمَلِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ ۚ كُلُّ امْرِئٍۢ بِمَا

او کم به نه کړو | د عملونو د دوی نه | هیڅ څیز | هر یو | سړے به | په هغه څه کښې

د هغوی سره یو ځاي کړو او د هغوی په عملونو کښې به هیڅ کمي او نۀ کړو هر کس په خپل عمل کښې

كَسَبَ رَهِيْنٌ ۝٢١ وَاَمْدَدْنٰهُمْ بِفَاكِهَةٍ وَّلَحْمٍ مِّمَّا

چه ده کړي وي | ګانړه (ګیر) وي | او مونږ به زیاتوو دوی لره | میوې | او غوښې | د هغه څه نه

ګانړه (ګیر) وي او ښکلې میوې او غوښې چه د دوی زړۀ غواړي مونږ به ئې (بیا بیا) ورکوو

يَشْتَهُوْنَ ۝٢٢ يَتَنَازَعُوْنَ فِيْهَا كَاْسًا لَّا لَغْوٌ فِيْهَا

چه دوی به ئې غواړي | راکاږي به دوی دیو بل نه | په هغې کښې | کاسې د شرابو | (چه) نه به وي فضول خبرې | په هغې کښې

د دا سې شرابو په جامونو به دیو بل سره خوش طبعي کوي چه په هغې کښې به نه څه فضول خبره وي او نۀ څه

وَلَا تَاْثِيْمٌ ۝٢٣ وَيَطُوْفُ عَلَيْهِمْ غِلْمَانٌ لَّهُمْ كَاَنَّهُمْ

او نۀ څه ګناه | او ګرځي راګرځي به | په دوی باندې | هلکان | (د خدمت د پاره) د دوی | لکه چه هغوی

ګناه او د هغوی چار چاپیره به د هغوی د خدمت د پاره دا سې (ښائسته) ځلمیان (خدمتګاران) ګرځي لکه چه

لُؤْلُؤٌ مَّكْنُوْنٌ ۝٢٤ وَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ يَّتَسَآءَلُوْنَ ۝٢٥

ملغلرے دي | پټے ساتلے شوے | او را مخامخ به شي | بعضے د دوی نه | په بعضو بانډے | (چه) تپوس به کوي حيو بل نه

پټے ساتلے شوے (محفوظ) ملغلرے، او هغوی به يو بل ته متوجه (مخامخ) شي (او) ديو بل نه به تپوس نه کوي

قَالُوْٓا اِنَّا كُنَّا قَبْلُ فِيْٓ اَهْلِنَا مُشْفِقِيْنَ ۝٢٦ فَمَنَّ

وائي به | چه بيشکه | مونږ وو | مخکښے د دے نه | په خپله کورنۍ کښ | ويريدونکی | نو احسان او کړو

وائي به چه مونږ (خو) په خپلو کورونو (دنيا) کښ ډير ويريدلو نو (بس) الله په مونږ بانډے

اللّٰهُ عَلَيْنَا وَوَقٰىنَا عَذَابَ السَّمُوْمِ ۝٢٧ اِنَّا كُنَّا مِنْ قَبْلُ

الله | په مونږ بانډے | او بچ ئے کړو مونږ | د عذاب | د ګرمے هوا نه | بيشکه | مونږ وو | مخکښے د دے نه

احسان او کړو او مونږ ئے د ګرمے هوا د عذاب نه بچ کړو يقيناً مونږ به د دے نه مخکښے (دنيا کښ)

نَدْعُوْهُ ۭ اِنَّهٗ هُوَ الْبَرُّ الرَّحِيْمُ ۝٢٨ فَذَكِّرْ فَمَآ اَنْتَ ع

چه مونږ به رابللو هغه | بيشکه | هغه دے | ډير احسان کوونکے | ډير مهربان | پس ته نصيحت کوه | پس نه ئے ته

د هغه نه به مو دعاګانے غوښتلے يقيناً هم هغه (پوره) احسان کوونکے ډير مهربان دے نو (اے نبیؐ) ته

بِنِعْمَتِ رَبِّكَ بِكَاهِنٍ وَّلَا مَجْنُوْنٍ ۝٢٩ ۭ اَمْ يَقُوْلُوْنَ شَاعِرٌ

په (وجه د) نعمت | د رب خپل | کاهن | او نه ليونے | آيا دوی وائي | چه (دا) يو شاعر دے

نصيحت کوه ځکه چه ته د خپل رب په نعمت سره نه کاهن ئے او نه ليونے ئے آيا دا خلق وائي چه دا

نَّتَرَبَّصُ بِهٖ رَيْبَ الْمَنُوْنِ ۝٣٠ قُلْ تَرَبَّصُوْا فَاِنِّيْ

(چه) مونږ انتظار کوو | په باره د دهٔ کښ | د حادثے | د مرګ | او وايه | انتظار کوئ | پس بيشکه زهٔ (هم)

يو شاعر دے چه مونږ په دهٔ بانډے د زمانے د حادثاتو انتظار کوو ته ورته او وايه چه انتظار کوئ زهٔ هم

مَعَكُمْ مِّنَ الْمُتَرَبِّصِيْنَ ۝٣١ ۭ اَمْ تَاْمُرُهُمْ اَحْلَامُهُمْ بِهٰذَآ

ستاسو سره يم | د انتظار کوونکو نه | آيا حکم کوي دوی ته | عقلونه د دوی | د دے (خبرے)

تاسو سره انتظار کوونکے يم آيا د دوی عقلونه دوی ته دا حکم کوي

اَمْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُوْنَ ۝٣٢ ۚ اَمْ يَقُوْلُوْنَ تَقَوَّلَهٗ ۚ

آيا دي دوی | يو قوم | سرکشه | آيا دوی وائي | (چه) ده د ځان نه جوړ کړے دے دا (کتاب)

بلکه دوی سرکشه خلق دي؟ يا (آيا) دوی وائي چه (دے نبیؐ) دا (قرآن) د ځان نه جوړ کړے دے

بَلْ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ۝٣٣ ۚ فَلْيَاْتُوْا بِحَدِيْثٍ مِّثْلِهٖٓ اِنْ كَانُوْا

(نه) بلکه | دوی ايمان نه راوړي | پس دوی دِ راوړي | يوه خبره | پشان د دے | که چرے | وي دوی

(نه) بلکه دوی (د ضد د وجے) ايمان نه راوړي که دوی واقعی رشتينے وي نو د دے پشان يوه خبره (يو کلام)

صٰدِقِيْنَ ۝٣٤ ۭ اَمْ خُلِقُوْا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ اَمْ هُمُ الْخٰلِقُوْنَ ۝٣٥ ۭ

رشتينے | آيا دوی پيدا کړے شوی دي | بغير د څهٔ فائدے نه | يا دوی | پيدا کوونکی دي (پخپله)

دے جوړ کړي آيا دا خلق عبث پيدا کړے شوی دي يا دوی پخپله (د خپل ځان) پيدا کوونکی دي؟

أَمْ خَلَقُوا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ ۚ بَلْ لَّا يُوْقِنُوْنَ ۝٣٦ أَمْ عِنْدَهُمْ

يا دوی پيدا کړی دی | آسمانونه | او زمکه | (نه) بلکه | دوی يقين نه کوی | آيا دوی سره دی

يا آيا آسمانونه او زمکه دوی پيدا کړی دی؟ (نه) بلکه اصل خبره داده چه دوی يقين نه لری يا ستا د رب

خَزَآئِنُ رَبِّكَ أَمْ هُمُ الْمُصَيْطِرُوْنَ ۝٣٧ أَمْ لَهُمْ سُلَّمٌ

خزانے | د رب ستا | يا دوی | داروغه گان دی | آيا دوی سره ده | يوه اندرپايه

خزانے د دوی سره دی يا دوی د هغے انتظام او څوک کوونکی دی؟ يا دوی سره څهٔ پوړی (اندرپايه) شته

يَّسْتَمِعُوْنَ فِيْهِ ۚ فَلْيَاْتِ مُسْتَمِعُهُمْ بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ۝٣٨

چه دوی غوږ ږدی | په هغے کښ | پس راد ے وړی | غوږ ايخودونکی د دوی | يو دليل | ښکاره

چه په هغے (دوی بره خيژی او) خبرے آوری که داسے وی نو چا چه اوريدلی وی هغه د ے يو واضح دليل راوړی

أَمْ لَهُ الْبَنٰتُ وَلَكُمُ الْبَنُوْنَ ۝٣٩ أَمْ تَسْـَٔلُهُمْ أَجْرًا فَهُمْ

آيا الله د پاره | لونړه دی | او ستاسو | ځامن دی | آيا ته غواړے د دوی نه | څه اجر (بدله) | پس دوی

آيا د الله لونړه دی او ستاسو ځامن؟ آيا (اے نبی) ته د دوی نه څه أجرت غواړے

مِّنْ مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُوْنَ ۝٤٠ أَمْ عِنْدَهُمُ الْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُوْنَ ۝٤١

د وجے د تاوان نه | درانه شوی دی | آيا دوی سره د ے | (علم د) غيبو | پس دوی | ليکل کوی (د هغے نه)

چه د هغے د تاوان د بوج لاندے دوی درانهٔ شوی دی يا دوی سره د غيبو علم د ے چه دوی د هغے نه ليکل کوی

أَمْ يُرِيْدُوْنَ كَيْدًا ۚ فَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا هُمُ

آيا دوی غواړی | مکر کول | پس هغه کسان | چه کفر ئے کړے د ے | هم هغوی دی

آيا دوی څه تدبير (مکر) کول غواړی نو کافران به پخپله په خپل مکرونو کښ

الْمَكِيْدُوْنَ ۝٤٢ أَمْ لَهُمْ إِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ ۚ سُبْحٰنَ اللّٰهِ

په خپل مکر کښ راګير يدونکی | آيا شته د دوی | يو معبود | بغير د الله نه | پاک د ے | الله

راګير شی آيا د الله نه سوا د دوی بل معبود شته الله د هغه شرک نه پاک د ے

عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ۝٤٣ وَإِنْ يَّرَوْا كِسْفًا مِّنَ السَّمَآءِ سَاقِطًا

د هغه څه نه | چه دوی ئے ورسره شريکوی | او که چرے اووينی دوی | يوه ټکره | د آسمان نه | راپريوتونکے

چه دوی ئے کوی او که چرے دوی د آسمان نه يوه ټکره په راپريوتو اووينی

يَّقُوْلُوْا سَحَابٌ مَّرْكُوْمٌ ۝٤٤ فَذَرْهُمْ حَتّٰى يُلٰقُوْا

(نو دوی به وائی) | (چه دا خو) وريځ ده | لاندے باندے | پس ته پريږده دوی | تر د ے | چه ملاقات اوکړی دوی

نو وائی (به) چه دا (خو) قط په قط (ګوره) وريځ ده بس (اے نبی) ته دوی تر هغے پورے (په خپل حال) پريږده

يَوْمَهُمُ الَّذِيْ فِيْهِ يُصْعَقُوْنَ ۝٤٥ يَوْمَ لَا يُغْنِيْ

د ورځے خپلے | هغے سره | چه په هغے کښ به | دوی بے هوشه کړی شی | په هغه ورځ به | لرے نه کړی

چه هغه ورځ سره مخامخ شی چه په هغے کښ به بےهوشه شی په هغه ورځ به

عَنْهُمْ كَيْدُهُمْ شَيْـًٔا وَّلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿٤٦﴾ؕ وَاِنَّ لِلَّذِيْنَ

د دوی نه | مکر د دوی | هیڅ هم | او نه به د دوی سره | مدد کولے شی | او بیشکه | دهغه کسانو دپاره

د دوی چالونه (تدبیرونه) د دوی هیڅ پکار رانشی او نهٔ به ئے مدد کیږی او د دے

ظَلَمُوْا عَذَابًا دُوْنَ ذٰلِكَ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٤٧﴾

چه ظلم ئے کړے دے | عذاب دے | د دے نه سوا | لیکن | اکثر دهغوی | نه پوهیږی

ظالمانو دپاره د دینه مخکښے هم یو عذاب دے لیکن په دوی کښې اکثر نه پوهیږی

وَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَاِنَّكَ بِاَعْيُنِنَا وَسَبِّحْ بِحَمْدِ

او صبر کوه ته | حکم | د رب خپل ته | پس بیشکه ته ئے | زمونږ د سترګو په وړاندے | او پاکی بیانوه | سره د حمد

او ته د خپل رب په حکم باندے کلک او سه ځکه چه ته زمونږ د سترګو وړاندے ئے او کله چه پاڅیږے هغه وخت

ع رَبِّكَ حِيْنَ تَقُوْمُ ﴿٤٨﴾ۙ وَمِنَ الَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَاِدْبَارَ النُّجُوْمِ ﴿٤٩﴾

د خپل رب نه | څه وخت | چه ته پاڅیږے | او د شپے (هم) | پس پاکی بیانوه دهغه | او په وخت دډوبیدلو | د ستورو کښې

د خپل رب د حمد سره دهغهٔ پاکی وایه او د شپے په څه حصه کښې هم پاکی وایه او د ستورو د ډوبیدو نه پس هم وایه

آیاتها [٦٢]	سورة النجم مكية	ركوعاتها [٣]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

وَالنَّجْمِ اِذَا هَوٰى ﴿١﴾ۙ مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوٰى ﴿٢﴾ۚ

قسم دے په ستوری | کله چه | پریوځی | ملګرے ستاسو | نه دے بے لارے | او نه تیروتلے دے

(اے خلقو!) قسم دے په ستوری کله چه د خپل ځائے نه غائب شی ستاسو دا ملګرے (پیغمبر) نه بے لارے شوے دے او نه په خپل

وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى ﴿٣﴾ؕ اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْيٌ يُّوْحٰى ﴿٤﴾ۙ

او خبرے نه کوی دے | د (خپل) خواهش نه | نه دے دا (قرآن) | مګر | وحی چه کولے شی (دهٔ ته)

مقصد کښې خطا شوے دے او دے په خپل خواهش هیڅ خبره نه کوی دا خو خالص د الله حکم دے چه دهٔ ته وحی کیږی دهٔ ته

عَلَّمَهٗ شَدِيْدُ الْقُوٰى ﴿٥﴾ۙ ذُوْ مِرَّةٍ ؕ فَاسْتَوٰى ﴿٦﴾ۙ وَهُوَ

تعلیم ور کړے دے دهٔ ته | سخت | قوتونو والا (جبریل) | (چه) طاقت والا (دے) | نو هغه برابر شو | او هغه وو

یو ډیر مضبوط طاقت والا (فرشتے) تعلیم ور کړے دے چه هغه ډیر قوت والا او خائسته دے بیا هغه مخامخ په اصلی شکل کښې را ښکاره شو

بِالْاُفُقِ الْاَعْلٰى ﴿٧﴾ؕ ثُمَّ دَنَا فَتَدَلّٰى ﴿٨﴾ۙ فَكَانَ قَابَ

په غاړه | او چته باندے | بیا | نژدے شو | نو ښهٔ نژدے شو | نو شو | په مقدار

په داسے حال کښې چه هغه د آسمان په او چته غاړه ولاړ وو بیا را نژدے شو او را کوز شو د افق نه تر دے چه د دوو لیندو تر مینځه

قَوْسَيْنِ اَوْ اَدْنٰى ۝٩ فَاَوْحٰۤى اِلٰى عَبْدِهٖ مَاۤ اَوْحٰى ۝١٠

د دوو لیندو | یا زیات نژدے (دده نه) | نو وحی ئے اوکړه | بنده د الله ته | هغه | چه وحی ئے اوکړه

دوه لیندو برابر او نژدے شو (بلکه) د دے نه هم نه نژدے نو (دغه شان) الله چه خپل بنده ته څه وحی کول غوښتل هغه ئے اوکړه او لیږله څه چه

مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَاٰى ۝١١ اَفَتُمٰرُوْنَهٗ عَلٰى مَا يَرٰى ۝١٢

دروغ نه دی ویلی | زړهٔ | څه چه ئے لیدلی دی | آیا تاسو جګړه کوئ د هغه سره | په هغه څه | چه هغه لیدلی دی

هغه لیدلی دی نو زړهٔ په هغے کښې هیڅ غلطی نه ده کړے آیا (نو تاسو بیا هم د هغه سره په هغه څیز کښې جګړے کوئ چه هغه لیدلی دی

وَلَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰى ۝١٣ عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى ۝١٤

او یقینًا | دهٔ لیدلے وو هغه | یو ځل | بل (هم) | په خوا | د سدرة المنتهٰی کښې

او حقیقت دا دے چه دهٔ هغه (فرښته) یو ځل بل هم لیدلے ده هغه بیرے د ونے په خوا کښې چه د هغے سره د مومنانو د اروا حو

عِنْدَهَا جَنَّةُ الْمَاْوٰى ۝١٥ اِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشٰى ۝١٦

(چه) د هغے سره دهٔ دے | جنة الماوٰی | کله چه | پټ کړو | بیرے لره | هغه څهٔ | چه پټ ئے کړو

او د ملائکو د ختلو انتهاء کیږی هم د هغے سره په خوا کښې جنة الماوٰی ده کوم وخت چه د دے بیرے لره د سرو زرو پتنګانو یا

مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغٰى ۝١٧ لَقَدْ رَاٰى مِنْ اٰيٰتِ رَبِّهِ

نه دے کوږ شوے | نظر | او نه د حد نه تیر و تلے | یقینًا | هغه لیدلی دی | (ځنے) نخښے | د خپل رب

ملائکو پټه کړه (د پیغمبر) نظر نه خو د خپل مقصد نه کوږ شوے دے او نه د مقصد د ځائے نه ورتیر شوے دے یقینًا هغه د خپل رب

الْكُبْرٰى ۝١٨ اَفَرَءَيْتُمُ اللّٰتَ وَالْعُزّٰى ۝١٩ وَمَنٰوةَ الثَّالِثَةَ

لوے (غټے) | آیا تاسو سوچ کړے دے | په (حال د) لات | او د عُزّٰی | او د منات | چه دریم دے

د غټو غټو نخښونه ډیر څه او لیدل آیا تاسو د لات او د عزی (په حقیقت) سوچ کړے دے او د یو بل دریم بُت (په حقیقت)

الْاُخْرٰى ۝٢٠ اَلَكُمُ الذَّكَرُ وَلَهُ الْاُنْثٰى ۝٢١ تِلْكَ اِذًا

بل | آیا وی دے ستاسو د پاره | نارینه | او د هغه د پاره | جینکۍ ؟ | دا (خو) | په دغه وخت کښې

چه لوم ئے منات دے؟ آیا ستاسو خو دے ځامن وی او د هغه (الله) دے لونړه وی؟ دا تقسیم خو

قِسْمَةٌ ضِيْزٰى ۝٢٢ اِنْ هِيَ اِلَّاۤ اَسْمَآءٌ سَمَّيْتُمُوْهَاۤ اَنْتُمْ

تقسیم دے | د بے انصافۍ | نه دی دا | مګر | (تش) نومونه | چه ایښودلی دی تاسو دے لره | تاسو

ډیر د بے انصافۍ دے. د دے حقیقت خو دا دے چه دا خو تش (هغه) نومونه دی چه تاسو

وَاٰبَآؤُكُمْ مَّاۤ اَنْزَلَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ سُلْطٰنٍ ؕ اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ

او پلار نیکه ستاسو | نه دے رالیږلے | الله | په دے | هیڅ (قسم) دلیل | او نه دی روان دوی

او ستاسو پلار نیکه ایښودلی دی الله تعالیٰ د دے په حق کښې هیڅ ثبوت نه دے رالیږلے حقیقت دا دے چه دا (کافر) خلق

اِلَّا الظَّنَّ وَمَا تَهْوَى الْاَنْفُسُ ۚ وَلَقَدْ جَآءَهُمْ

مګر | په ګمان پسے | او په هغه څه پسے | چه غواړی (ئے) | نفسونه | او یقینًا | راغلے دے دوی ته

صرف خپل ګمانونو او نفسانی خواهشونو پسے روان دی حالانکه

مِّنْ رَّبِّهِمُ الْهُدٰى ﴿٢٣﴾ اَمْ لِلْاِنْسَانِ مَا تَمَنّٰى ﴿٢٤﴾

دخپل رب دطرف نه | هدایت | آیا دی | د انسان دپاره | هغه څه | چه دے ئے ارمان کوی

دخپل رب د طرف نه ورته هدایت راغلے دے آیا انسان دپاره هر هغه څه جائز دی چه دے ئے آرزو کوی

ع فَلِلّٰهِ الْاٰخِرَةُ وَالْاُوْلٰى ﴿٢٥﴾ وَكَمْ مِّنْ مَّلَكٍ فِى السَّمٰوٰتِ

پس خاص دالله دپاره دے | آخرت | او دنیا (هم) | او څومره (ډیر ے) | فرشتے دی | په آسمانونو کښې

(نه) ځکه چه آخرت او دنیا (ټول) خو د الله په اختیار کښې دی او په آسمانونو کښې ډیرے فرشتے دی

لَا تُغْنِىْ شَفَاعَتُهُمْ شَيْـًٔا اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ اَنْ يَّاْذَنَ اللّٰهُ

(چه) بکار به رانشی | سفارش دهغوی | هیڅ هم | مگر | وروستو د دے نه | چه اجازت او کړی | الله

چه دهغوی سفارش دچا په کار نشی راتلے البته دچا دپاره چه الله اجازت او کړی

لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَرْضٰى ﴿٢٦﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ

هغه چاته | چه او ئے غواړی | او رضا هی هغه (الله) | بیشکه | هغه کسان | چه ایمان نه راوړی | په آخرت

او (په هغے) رضا وی نو بیا په کار راتلے شی یقیناً کوم خلق چه په آخرت ایمان نه راوړی

لَيُسَمُّوْنَ الْمَلٰٓئِكَةَ تَسْمِيَةَ الْاُنْثٰى ﴿٢٧﴾ وَمَا لَهُمْ بِهٖ

خامخا نومونه پړدی | فرشتو له | په نومونو | د زنانو | او نشته دے د دوی سره | په دے باندے

هغوی په فرشتو د زنانو نومونه پړدی حالانکه هغوی سره په دے خبره هیڅ علم نشته

مِنْ عِلْمٍ ۭ اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ ۚ وَاِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِىْ

هیڅ علم (پوهه) | نه دی روان دوی | مگر | په گمان پسے | او بیشکه | گمان | په کار نه راځی

صرف په گمان پسے روان دی او حقیقت دا دے چه گمان د حق په مقابله کښې بلکل بیکاره دے

مِنَ الْحَقِّ شَيْـًٔا ﴿٢٨﴾ فَاَعْرِضْ عَنْ مَّنْ تَوَلّٰى ۙ عَنْ ذِكْرِنَا

په مقابله د حق کښې | هیڅ هم | پس ته مخ واړوه | د هغه چانه | چه اوړیدلے دے | د نصیحت زمونږ نه

نو (اے نبیؐ) د هغه چا نه مخ واړوه چه زمونږ د نصیحت (یاد) نه ئے مخ اړولے دے

وَلَمْ يُرِدْ اِلَّا الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ﴿٢٩﴾ ذٰلِكَ مَبْلَغُهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ ۭ

او نه غواړی | مگر | ژوند | دنیوی | دا دے | آخیری مقصد د دوی | د علم نه

او د دنیا د ژوند نه سوا بل هیڅ نه غواړی د دا دے خلقو د علم (د پوهے) حد بس هم دومره دے

اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيْلِهٖ ۙ وَهُوَ

بیشکه | رب ستا | هغه | ښه پوهه دے | په هغه چا | چه گمراه شوے دے | د هغه د لارے نه | او هغه

ستا رب هغه څوک هم ښه پیژنی چه د هغے لارے نه اوړیدلے (گمراه) شوے دے او هغه څوک هم ښه پیژنی

اَعْلَمُ بِمَنِ اهْتَدٰى ﴿٣٠﴾ وَلِلّٰهِ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا

ښه پوهه دے | په هغه چا | چه هدایت ئے موندلے دے | او خاص دالله دپاره دی | هغه څه | چه آسمانونو کښې دی | او هغه څه

چه هدایت ئے موندلے دے او د آسمانونو او د زمکے هر څه یوا ځے (خاص) د الله دی

فِى الْاَرْضِ ۙ لِيَجْزِىَ الَّذِيْنَ اَسَآءُوْا بِمَا عَمِلُوْا

چه په زمکه کښې دي | چه هغه بدله ور کړي | هغه کسانو ته | چه بدي ئے کړې ده | په سبب د هغه عملونو | چه هغوي کړي دي

نتيجه داده چه چا بد عملونه کړي دي هغه (الله) به هغوي ته د خپلو عملونو بدله (سزا) ور کړي

وَيَجْزِىَ الَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا بِالْحُسْنٰى ﴿٣١﴾ اَلَّذِيْنَ يَجْتَنِبُوْنَ

او (چه) بدله ور کړي | هغه کسانو ته | چه نيکي ئے کړې ده | په سبب د نيکئ | هغه کسان | چه ځان بچ کوي

او چا چه نيک کارونه کړي دي هغوي له به ښه بدله ور کړي دا (نيکان) هغه خلق دي چه د وړو ګناهونو نه سوا

كَبٰٓئِرَ الْاِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ اِلَّا اللَّمَمَ ؕ اِنَّ رَبَّكَ وَاسِعُ

د غټو | ګناهونو | او د بے حيايئ نه | سوا د وړو ګناهونو نه | بيشکه | ستا رب | فراخه

د غټو غټو ګناهونو او د بے حيايئ (د کارونو) نه ځان بچ کوي يقين او کړه چه ستا رب ډير فراخه

الْمَغْفِرَةِ ؕ هُوَ اَعْلَمُ بِكُمْ اِذْ اَنْشَاَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ وَاِذْ

بخښنے والا دے | هغه | ښه پوهه دے | په تاسو | کله چه | هغه پيدا کړئ تاسو | د زمکے نه | او کله چه

مغفرت (بخښنے) والا دے هغه تاسو ښه پيژنی کله چه ئے تاسو د خاورے نه پيدا کړئ

اَنْتُمْ اَجِنَّةٌ فِىْ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ ۚ فَلَا تُزَكُّوْٓا اَنْفُسَكُمْ ؕ

تاسو | پټ وئ | په خيټو | د مېندو خپلو کښې | نو پاک مه ګڼئ | ځانونه خپل

او تاسو د خپلو مېندو په خيټو کښې ماشومان وئ د خپلو ځانونو صفتونه مه کوئ

هُوَ اَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقٰى ﴿٣٢﴾ اَفَرَءَيْتَ الَّذِىْ تَوَلّٰى ﴿٣٣﴾ ۙ

هم هغه | ښه پوهه دے | په هغه چا | چه پرهيزي | آيا پس تا ليدلے دے | هغه کس | چه مخ ئے اړولے دے

هغه ښه پوهيږي چه متقي څوک دے. (اے نبی) آيا تا هغه کس ليدلے دے چه د حق نه ئے مخ واړولو

وَاَعْطٰى قَلِيْلًا وَّاَكْدٰى ﴿٣٤﴾ اَعِنْدَهٗ عِلْمُ الْغَيْبِ فَهُوَ

او ور کړے ئے دے | (مال) لږ | او منع شوے دے | آيا دے دده سره | علم | د غيبو | نو دے

او لږ غوندے مال ئے خرڅ کړو (خرچ کړو) او (بيا) ئے لاس بند کړو او د رياني عمل نه عاجز شو آيا ده سره د غيبو خبرو علم دے نو دے

يَرٰى ﴿٣٥﴾ اَمْ لَمْ يُنَبَّاْ بِمَا فِىْ صُحُفِ مُوْسٰى ﴿٣٦﴾ ۙ وَاِبْرٰهِيْمَ

وينی | آيا ده ته خبر نه دے ور کړے شوے | د هغه څه | چه وو په صحيفو | د موسیٰ کښې | او د ابراهيمؑ کښې

پوهيږي (چه پهلو دين کښې نجات دے او تو لو دين ته حاجت نشته) آيا ده ته د هغه خبرو خبر نه دے ملاو شوے چه هغه د موسیٰؑ په صحيفو

الَّذِىْ وَفّٰٓى ﴿٣٧﴾ ۙ اَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ﴿٣٨﴾ ۙ وَاَنْ

هغه | چه پوره کړے ئے دے (حق) | دا چه نشي اوچتولے | يو پيټي اوچتوونکے | پيټی | د بل چا | او (دا) چه

کښې ليکے دے او د ابراهيمؑ په صحيفو کښې هم چه هغه پوره وفادار وو (يعني) دا چه هيڅ يو بوج اوچتوونکے د بل چا بوج نشي اوچتولے

لَيْسَ لِلْاِنْسَانِ اِلَّا مَا سَعٰى ﴿٣٩﴾ ۙ وَاَنَّ سَعْيَهٗ

نشته | د انسان دپاره | مګر | هغه څه | چه هغه ئے کوشش کړے دے | او (دا) چه | د ده کوشش به

او دا چه انسان ته به هم هغه څه ملاويږي چه هغه ئے کوشش کړے دے او دا چه د هغه کوشش به

سَوْفَ يُرٰى ﴿٤٠﴾ ثُمَّ يُجْزٰىهُ الْجَزَآءَ الْاَوْفٰى ﴿٤١﴾ وَاَنَّ اِلٰى رَبِّكَ

زر ده | چه او به ليدلے شي | بيا به | بدله ور کړے شي هغه | بدله | پُوره | او (دا) چه | ستا رب ته

ډير زر او کتلے شي بيا به ورته خپله بدله پوره پوره ور کړے شي او دا چه (اخير) ستا د رب خوا ته

الْمُنْتَهٰى ﴿٤٢﴾ وَاَنَّهٗ هُوَ اَضْحَكَ وَاَبْكٰى ﴿٤٣﴾ وَاَنَّهٗ هُوَ اَمَاتَ

(آخيري) رسيدل دي | او (دا) چه | هم هغه | خندول کوي | او ژړول کوي | او (دا) چه | هم هغه | وژل کوي

رسيدل دي او دا چه هم هغه خندول کوي او ژړول کوي او دا چه هم هغه وژل کوي

وَاَحْيَا ﴿٤٤﴾ وَاَنَّهٗ خَلَقَ الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْاُنْثٰى ﴿٤٥﴾

او ژوندي کول کوي | او (دا) چه هغه | پيدا کړي دي | جوړے | نارينه | او زنانه

او ژوندي کول کوي او دا چه هم هغه د نر او ماده (دوه) جوړے پيدا کړي دي (هغه هم صرف)

مِنْ نُّطْفَةٍ اِذَا تُمْنٰى ﴿٤٦﴾ وَاَنَّ عَلَيْهِ النَّشْاَةَ الْاُخْرٰى ﴿٤٧﴾

د نطفے نه | کله چه | هغه واچولے شي (په رحم کښ) | او (دا) چه | هم هغه په ذمه دے | پيدائش | بل

ديو څاڅکي نطفے نه کله چه هغه (په رحم کښ) تو يه کړے شي او دا چه بيا ژوندي کول هم هغه په خپله ذمه اخستي دي

وَاَنَّهٗ هُوَ اَغْنٰى وَاَقْنٰى ﴿٤٨﴾ وَاَنَّهٗ هُوَ رَبُّ الشِّعْرٰى ﴿٤٩﴾

او (دا) چه | هم هغه | مالداره کوي (څوک) | او غريب کوي (څوک) | او (دا) چه | هم هغه | رب دے | د شعرٰي (ستوري)

او دا چه هم هغه (څوک) مالداره کوي او (څوک) غريب کوي او دا چه هم هغه د شعرٰي ستوري مالک دے او دا چه هم هغه

وَاَنَّهٗۤ اَهْلَكَ عَادًا ۨالْاُوْلٰى ﴿٥٠﴾ وَثَمُوْدَا فَمَآ اَبْقٰى ﴿٥١﴾

او (دا) چه هغه | هلاک کړي دي | عاديان | وړومبي | او ثموديان (هم) | پس باقي ئے نه دي پريخودلي (هيڅ څوک)

پخواني (اولني) عاديان تباه کړي دي او ثموديان (ئے هم داسے تباه کړي دي) چه هيڅ څوک ئے (ترے نه) پريخودلي نه دي

وَقَوْمَ نُوْحٍ مِّنْ قَبْلُ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا هُمْ اَظْلَمَ وَاَطْغٰى ﴿٥٢﴾

او قوم | د نوح (هم) | مخکښے د دے نه | بيشکه هغوي | وو | هغوي زيات ظلم کوونکي | او زيات سرکشه

او د دے نه وړاندے د نوح قوم (ئے هم تباه کړے دے) يقيناً هغوي ډير ظالمان او ډير سرکشه وو

وَالْمُؤْتَفِكَةَ اَهْوٰى ﴿٥٣﴾ فَغَشّٰىهَا مَا غَشّٰى ﴿٥٤﴾ فَبِاَيِّ

او (هغه) الټه شوي کلي (هم) | هغه را او غورځول | بيا پټ کړل هغه (کلو له) | هغه څه | چه پټ ئے کړل | پس په کومو

او (هغه) الټه شوي کلي هم را غورځول وو بيا په دغه کلو را چاپير شو هغه څيز چه را چاپير شو نو (اے انسان) ته به

اٰلَآءِ رَبِّكَ تَتَمَارٰى ﴿٥٥﴾ هٰذَا نَذِيْرٌ مِّنَ النُّذُرِ الْاُوْلٰى ﴿٥٦﴾

نعمتونو | د رب خپل کښ به | ته شک کوے | دا | يو يروونکے دے | د يروونکو | وړومبنو نه

د خپل رب په کوم کوم نعمت کښ شک کوے؟ دا (پيغمبر هم) د پخوانو يروونکو (پيغمبرانو) نه يو يروونکے دے

اَزِفَتِ الْاٰزِفَةُ ﴿٥٧﴾ لَيْسَ لَهَا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ كَاشِفَةٌ ﴿٥٨﴾

را نژدے شو | نژدے را تلونکے (آفت) | نشته | هغے لره | سوا | د الله | نه | څوک ښکاره (لرے) کوونکے

کوم آفت چه نژدے را تلونکے دے هغه را نژدے شو د الله تعالٰي نه سوا بل هيڅ څوک د هغے لرے کوونکے (ښکاره کوونکے) نشته

أَفَمِنْ هٰذَا الْحَدِيثِ تَعْجَبُونَ ﴿٥٩﴾ وَتَضْحَكُونَ وَلَا تَبْكُونَ ﴿٦٠﴾

آيا نو د دے | خبرے نه | تاسو تعجب کوئ | او تاسو خندا کوئ | او ژړا نه کوئ

آيا نو تاسو د دے کلام په باره کښ تعجب کوئ او خاندئ او ژړا نه کوئ

وَأَنْتُمْ سَامِدُونَ ﴿٦١﴾ فَاسْجُدُوا لِلّٰهِ وَاعْبُدُوا ﴿٦٢﴾ ع

او تاسو | غافله يئ | پس (نو) سجده اوکړئ | خاص الله ته | او عبادت اوکړئ |

او په غفلت کښ پراته يئ اوس (پس) الله ته سجده اوکړئ او (د هغه) عبادت اوکړئ.

آياتها [٥٥]	سورة القمر مكيّة	ركوعاتها [٣]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډير مهربان | زيات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم.

اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ﴿١﴾ وَإِنْ يَرَوْا آيَةً

(ډير) نزدے شو | قيامت | او اوچاودله | سپوږمۍ | او که چرے | اووينی دوی | (څه) نخښه

قيامت را نزدے شو او سپوږمۍ اوچاودله او (دا دے خلقو حال دا دے) که دوی څه نخښه دالله دقدرت يا معجزه دپيغمبر اووينی

يُعْرِضُوا وَيَقُولُوا سِحْرٌ مُسْتَمِرٌّ ﴿٢﴾ وَكَذَّبُوا وَاتَّبَعُوا

(نو) مخ اړوی | او وائی | (دا) جادو دے | (هميشه) ختميدونکے | او دوی دروغژن گنړی | او روان دی

نو مخ اړوی او دا وائی چه دا خو د هميشه نه راروان جادو دے او حق دروغژن گنړی او خپلو خواهشاتو پسے

أَهْوَاءَهُمْ وَكُلُّ أَمْرٍ مُسْتَقِرٌّ ﴿٣﴾ وَلَقَدْ جَاءَهُمْ

په خپلو خواهشاتو پسے | او هر يو | کار | په خپل وخت کيدونکے دے | او يقيناً | راغلی دی دوی ته

روان دی او د هر يو کار وخت مقرر دے او يقيناً دے خلقو ته (دپخوانو خلقو د) واقعاتو دومره خبرونه را رسيدلی دی چه پکښ

مِنَ الْأَنْبَاءِ مَا فِيهِ مُزْدَجَرٌ ﴿٤﴾ حِكْمَةٌ بَالِغَةٌ فَمَا تُغْنِ

د خبرونو نه | هغه | چه په هغے کښ | زورنه ده | (يا) حکمت دے | پوره رسيدونکے | پس فائده نه ورکوی

ډير (کافی) عبرت پروت دے (او) د حکمت نه ډک خبرے هم چه فصاحت او بلاغت کښ انتهاء ته رسيدلی دی. بيا هم يروونکی

النُّذُرُ ﴿٥﴾ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ يَوْمَ يَدْعُ الدَّاعِ إِلَىٰ شَيْءٍ

يروونکے | پس ته مخ واړوه | د دوی نه | په هغه ورځ | چه رابلل به اوکړی | يو رابلونکے | يو شيز

شيزونو دوی ته هيڅ فائده ورنه کړه نو (اے نبی) ته هم د دوی پرواه مه کوه په کومه ورځ به چه آواز کوونکی (اسرافيل) دوی لره

نُكُرٍ ﴿٦﴾ خُشَّعًا أَبْصَارُهُمْ يَخْرُجُونَ مِنَ الْأَجْدَاثِ كَأَنَّهُمْ

ناشنا ته | کوزے به وی | سترگے د دوی | راوځی به | د قبرونو نه | لکه چه دوی

يو ناخوبه شيز طرف ته (حساب کتاب طرف ته) راوبلی (په هغه ورځ به) سترگے ختکته (ټيټے) نيولی وی (او) د قبرونو نه به داسے راوځی

جَرَادٌ مُّنْتَشِرٌ ۝۷ مُّهْطِعِيْنَ اِلَى الدَّاعِ ؕ يَقُوْلُ الْكٰفِرُوْنَ

ملخان دي | خواره واره | منډې به وهونکي وي | بلونکي ته | وائي به | كافر

لکه خوارهٔ وارهٔ ملخان دیورابلونکي طرف ته به په منډه روان وي کافران به وائي

هٰذَا يَوْمٌ عَسِرٌ ۝۸ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوْحٍ

دا | ورځ ده | ډېره سخته | دروغژن ګڼړلي وو | مخکښې د دوی نه | قوم | د نوح

چه دا خو ډېره سخته ورځ ده د دوی نه مخکښې د نوح علیه السلام قوم (حق) دروغژن ګڼړلے وو

فَكَذَّبُوْا عَبْدَنَا وَقَالُوْا مَجْنُوْنٌ وَّازْدُجِرَ ۝۹ فَدَعَا

پس دروغژن اوګڼړلو هغوی | بنده زمونږ | او وے وئیل | (دا) لیونے دے | او اوزوروَلے شو هغه | پس هغه را اوبللو

لو هغوی زمونږ بنده دروغژن اوګڼړلو او وے وئیل چه دا (خو) لیونے دے او نوح اوزوروَلے شو نو هغه

رَبَّهٗۤ اَنِّيْ مَغْلُوْبٌ فَانْتَصِرْ ۝۱۰ فَفَتَحْنَآ اَبْوَابَ السَّمَآءِ

رب خپل | چه بیشکه زه یم | مغلوب (بے وسه) | تو بدله واخله (زما) | تو مونږ پرانستلے | دروازے | د آسمان

خپل رب ته دعاء اوغوښتله چه زه کمزورے شوے یم نو ته زما بدله واخله نو مونږ د آسمان دروازے د شرپ په

بِمَآءٍ مُّنْهَمِرٍ ۝۱۱ وَّفَجَّرْنَا الْاَرْضَ عُيُوْنًا فَالْتَقَى الْمَآءُ

په اوبو | رابهیدونکو سره | او روانے کړے مونږ | د زمکے نه | چینے | پس یو ځای شوے | اوبه

اوبو سره راپرانستلے او د زمکے نه مو چینے راوبهیوَلے (او دغه شان) ټولے اوبه د هغه کار دپاره رایو ځائے شوے

عَلٰۤى اَمْرٍ قَدْ قُدِرَ ۝۱۲ وَحَمَلْنٰهُ عَلٰى ذَاتِ اَلْوَاحٍ

په (هغه) کار | چه یقینًا | مقرر کړے شوے وو | او مونږ سور کړو هغه (نوحؑ) | په (کشتۍ) | د تختو والا

چه د هغے فیصله شوے وه (یعنی هلاکت د دغه قوم) او مونږ نوحؑ د تختو او د میخونو په یوه کشتۍ کښې سور کړو

وَّدُسُرٍ ۝۱۳ تَجْرِيْ بِاَعْيُنِنَا ۚ جَزَآءً لِّمَنْ كَانَ كُفِرَ ۝۱۴

او میخونو والا کښې | روانه وه | زمونږ د سترګو وړاندے | دپاره د بدلے اخستلو | د هغه چا | چه ناشکري کړے شوے وه د هغهٔ

چه زمونږ د سترګو وړاندے روانه وه (دے دپاره) چه د هغه چا بدله واخستلے شي چه د هغه ناقدري شوے وه

وَلَقَدْ تَّرَكْنٰهَآ اٰيَةً فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ۝۱۵ فَكَيْفَ كَانَ

او یقینًا | مونږ پریخودله (دغه قصه) | یوه نخښه | نو آیا شته | څوک نصیحت اخستونکے | پس څنګه | وو

او یقینًا مونږ د دغه (واقعه) (د عبرت) یوه نخښه جوړه کړه لو آیا څوک نصیحت اخستونکے شته نو اوس سوچ اوکړه

عَذَابِيْ وَنُذُرِ ۝۱۶ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ

عذاب زما | او ویروَل زما | او یقینًا | مونږ آسان کړے دے | قرآن | دپاره د نصیحت | نو آیا شته

زما عذاب او زما ویروَل څنګه وو؟ او حقیقت دا دے چه قرآن مونږ د نصیحت دپاره آسان کړے دے نو آیا

مِنْ مُّدَّكِرٍ ۝۱۷ كَذَّبَتْ عَادٌ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِيْ

څوک نصیحت اخستونکے | دروغژن ګڼړلے وو | عادیانو (خپل پیغمبر) | پس څنګه | شو | عذاب زما

(اوس) څوک نصیحت اخستونکے شته عادیانو هم (پیغمبر) دروغژن ګڼړلے وو نو (او ګوره چه) زما عذاب

وَنُذُرِ ۝١٨ اِنَّآ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيْحًا صَرْصَرًا فِيْ يَوْمِ

اوېرول زما | بېشکه موږ | رالېږله موږ | په هغوی باندې | هوا | ډېره سخته | په ورځ

او ېرول څنګه وو؟ بېشکه موږ په يوه داسې سپېرهٔ ورځ کښې په هغوی باندې يوه

نَحْسٍ مُّسْتَمِرٍّ ۝١٩ تَنْزِعُ النَّاسَ كَاَنَّهُمْ اَعْجَازُ نَخْلٍ

د سپېرهٔ توب | هميشه کښې | چه رابشکل ئې | خلق | لکه چه هغوی | تنې دي | د قجورو

تونده (تېزه) سيلۍ راولېږله چه د هغې ورځ سپېرهٔ توب هميشه وو چه خلق به ئې داسې راغورځول لکه چه هغوی د راوتلو قجورو تنې وي

مُّنْقَعِرٍ ۝٢٠ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِيْ وَنُذُرِ ۝٢١ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا

د بيخ نه وتلې | پس څنګه | وو | عذاب زما | اوېرول زما | او يقينًا | موږ آسان کړې دې

اوس (پس) سوچ اوکړه چه زما عذاب او ېرول څنګه وو؟ او يقينًا موږ قرآن د نصيحت دپاره

ع

الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ۝٢٢ كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ

قرآن | دپاره د نصيحت | نو آيا شته | څوک نصيحت اخستونکې | دروغژن ګڼلي وو | ثموديانو

آسان کړې دې نو (اوس) څوک نصيحت اخستونکې شته؟ ثمودیانو هم حق دروغ ګڼلي وو

بِالنُّذُرِ ۝٢٣ فَقَالُوْٓا اَبَشَرًا مِّنَّا وَاحِدًا نَّتَّبِعُهٗ اِنَّآ

ېروونکو لره | پس اوويل هغوی | آيا بشر | زموږ نه | چه يو دې | روان شو موږ په هغهٔ پسې | بېشکه موږ به يو

او وئې ويل چه آيا موږ په يو داسې کس پسې روان شو چه زموږ نه دې که داسې اوکړو

اِذًا لَّفِيْ ضَلٰلٍ وَّسُعُرٍ ۝٢٤ ءَاُلْقِيَ الذِّكْرُ عَلَيْهِ

دغه وخت | خامخا په ګمراهۍ | او ليونتوب کښې | آيا رالېږلې شوې دې | نصيحت (وحی) | په دهٔ باندې

نو يقينًا موږ (به) په ګمراهۍ او ليونتوب کښې اخته شو آيا په موږ ټولو کښې صرف دا يو کس پاتې شوې وو چه

مِنْۢ بَيْنِنَا بَلْ هُوَ كَذَّابٌ اَشِرٌ ۝٢٥ سَيَعْلَمُوْنَ غَدًا

زموږ د مينځ نه | (نه) بلکه | هغه دې | ډېر دروغژن | لوئی کوونکې | زر ده چه پوهه به شي دوی | صبا

په دهٔ باندې وحی نازل کړې شوه (نه نه) بلکه دا خو ډېر دروغژن او لاف وهونکې (خود پسند) دې

مَّنِ الْكَذَّابُ الْاَشِرُ ۝٢٦ اِنَّا مُرْسِلُوا النَّاقَةِ فِتْنَةً

(چه) څوک دی | ډېر دروغژن | لوئی کوونکې | بېشکه موږ | رالېږونکي | د اوښه يو | دپاره د ازميښت

دوی ته به هم صبا له پته ولګي چه څوک ډېر دروغژن او لاف وهونکې (خود پسند) دې (اې صالحؑ) موږ د دوی د ازميښت دپاره

لَّهُمْ فَارْتَقِبْهُمْ وَاصْطَبِرْ ۝٢٧ وَنَبِّئْهُمْ اَنَّ الْمَآءَ قِسْمَةٌۢ

د دوی | نو ته انتظار کوه د دوی | او (ته) صبر کوه | او خبر کړه دوی | (په دې) چه بېشکه | اوبه | تقسيم شوې دي

يوه اوښه رالېږو پس ته (انجام) ګوره او صبر کوه او دوی خبر کړه چه (د کوهی) اوبه د دوی په مينځ کښې

بَيْنَهُمْ كُلُّ شِرْبٍ مُّحْتَضَرٌ ۝٢٨ فَنَادَوْا صَاحِبَهُمْ

د دوی په مينځ کښې | هر | نمبر د اوبو ته | حاضر کړې شوې ده | پس دوی آواز اوکړو | خپل ملګري ته

تقسيم (کړې) شوي دي (نو) هر نمبر والا به خپل د اوبو نمبر ته حاضرېږي بيا دوی خپل يو ملګري ته راوغوښتلو

فَتَعَاطٰى فَعَقَرَ ﴿۲۹﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِىْ وَنُذُرِ ﴿۳۰﴾ اِنَّآ

نو هغه لاس واچولو | تو زخمي ئے كړه (هغه) | پس څنګه | شو | عذاب زما | او ويرول زما | بيشكه

نو هغه او ښے ته لاس واچولو (راوئے نيوله) او زخمي (قتل) ئے كړه او س (او ګوره چه) زما عذاب او ويرول څنګه وو؟

اَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ صَيْحَةً وَّاحِدَةً فَكَانُوْا كَهَشِيْمِ

مونږ را او ليږله | په دوى باندے | چغه | يوه | پس شو دوى | پشان د دړے شوى (شپول)

مونږ په دوى باندے يوه چغه را اوليږله (چه په هغے سره) دوى دا سے شو لكه د شپول جوړوونكى

الْمُحْتَظِرِ ﴿۳۱﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ

د شپول (جوړوونكى) | او يقينًا | مونږ آسان كړے دے | قرآن | دپاره د نصيحت | نو آيا شته

(د شپول) چوره، او يقينًا مونږ قرآن د نصيحت دپاره آسان كړے دے نو (اوس) څوك

مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿۳۲﴾ كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوْطٍۢ بِالنُّذُرِ ﴿۳۳﴾ اِنَّآ اَرْسَلْنَا

څوك نصيحت اخستونكے | دروغژن ګڼړلى وو | قوم | د لوطؑ | يرووونكو لره | بيشكه مونږ | رالېږلے وو مونږ

نصيحت اخستونكے شته د لوطؑ قوم هم يرووونكى دروغژن او ګڼړل (نو) يقينًا مونږ په هغوى باندے

عَلَيْهِمْ حَاصِبًا اِلَّآ اٰلَ لُوْطٍ ؕ نَجَّيْنٰهُمْ بِسَحَرٍ ﴿۳۴﴾

په دوى باندے | باران د كاڼړو | سوا | د كورنۍ | د لوطؑ نه | بچ كړل مونږ دوى لره | په سحر كښې

د كاڼړو نه ډكه سيلۍ او چلوله. د لوطؑ د كورنۍ نه سوا (چه) هغوى مونږ د سحر په وخت كښې بچ كړل

نِّعْمَةً مِّنْ عِنْدِنَا ؕ كَذٰلِكَ نَجْزِىْ مَنْ شَكَرَ ﴿۳۵﴾ وَلَقَدْ

په مهربانۍ سره | د خپل طرف نه | دغه شان | بدله وركوو مونږ | هغه چا ته | چه شكر كوى | او يقينًا

دا (په هغوى باندے) زمونږ د طرف نه يو نعمت وو شكر ګزاره خلقو ته مونږ هم د غسے بدله وركوو

اَنْذَرَهُمْ بَطْشَتَنَا فَتَمَارَوْا بِالنُّذُرِ ﴿۳۶﴾ وَلَقَدْ رَاوَدُوْهُ

هغه يرولى وو دوى لره | زمونږ د نيولو نه | لو شك او كړو دوى | په يرولو كښې | او يقينًا | هغوى غوښتنه كړے وه د هغه نه

او يقينًا لوطؑ هغوى زمونږ د نيولو نه يرولى هم وو خو هغوى په يرولو كښې شك او كړو او د هغه نه ئے د هغه

عَنْ ضَيْفِهٖ فَطَمَسْنَآ اَعْيُنَهُمْ فَذُوْقُوْا عَذَابِىْ وَنُذُرِ ﴿۳۷﴾

د هغه ميلمنو (په باره كښې) | نو مونږ ورلے كړے | سترګے د هغوى | پس او څكئ | عذاب زما | او ويرول زما

ميلمانه (په بد نيت) او غوښتل نو مونږ ورله سترګے ړندے كړے (چه) زما د عذاب او زما د ويرولو خوند او څكئ

وَلَقَدْ صَبَّحَهُمْ بُكْرَةً عَذَابٌ مُّسْتَقِرٌّ ﴿۳۸﴾ فَذُوْقُوْا عَذَابِىْ

او يقينًا | سحر راغلى وو په دوى باندے | وختى | عذاب | (چه) هميشه (وو) | پس او څكئ | عذاب زما

او سحر وختى په هغوى باندے دائمى عذاب راغے پس زما د عذاب او زما د يرولو خوند او څكئ

وَنُذُرِ ﴿۳۹﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿۴۰﴾

او ويرول زما | او يقينًا | مونږ آسان كړے دے | قرآن | دپاره د نصيحت | نو آيا شته | څوك نصيحت اخستونكے

او يقينًا مونږ قرآن نصيحت دپاره آسان كړے دے نو (اوس) څوك نصيحت اخستونكے شته؟



وَلَقَدْ جَآءَ اٰلَ فِرْعَوْنَ النُّذُرُ ﴿٤١﴾ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا كُلِّهَا

اویقینًا | راغلی وو | فرعونیانو ته | یروېرونکی | دروغ اوګڼړل هغوی | آیتونه زمونږ | ټول

اویقینًا فرعونیانوته هم یروونکی راغلی وو هغوی زمونږ ټولے لخښے دروغ اوګڼړلے نوموږ داسے راونیول

فَاَخَذْنٰهُمْ اَخْذَ عَزِيْزٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿٤٢﴾ اَكُفَّارُكُمْ خَيْرٌ

نوراونیول موږ هغوی | پشان دنیولو | د ډیر زورور | قدرت والا (ذات) | آیاکافران ستاسو (د زمانے) | ډیر ښه دی

لکه څنګه چه دیو زورور (غالب) او ډیر قدرت والا نیول وی آیا ستاسو (د زمانے دا) کافر خلق

مِّنْ اُولٰٓئِكُمْ اَمْ لَكُمْ بَرَآءَةٌ فِى الزُّبُرِ ﴿٤٣﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ

ددغه (تیرشوی) خلقو نه | یا شته ستاسو دپاره | خلاصون (دعذاب نه) | په کتابونو کښ | آیا دوی وائی

دهغوی نه غوره دی یا ستاسو دپاره (د الله) په کتابونو کښ څه معافی لیکلے شوے ده یا دوی وائی

نَحْنُ جَمِيْعٌ مُّنْتَصِرٌ ﴿٤٤﴾ سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّوْنَ

(چه) موږ | یوه (غټه) ډله یو | بدله اخستونکی | زر ده چه ماتے به ورکړی شی | (دغه) ډلے ته | او دوی به واړوی

موږ یوه داسے ډله یو چه خپله بدله اخستلے شو (حقیقت خو دادے چه) ددوی دا ډله به ډیره زر شکست وخوری

الدُّبُرَ ﴿٤٥﴾ بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ اَدْهٰى

شاګانے | بلکه | قیامت | وخت د وعدے ددوی دے | او قیامت | ډیر سخت (هیبتناک)

اوپه شا به اوتختی (صرف دا نه) بلکه ددوی د وعدے (اصل) وخت خو قیامت دے او قیامت ډیر سخت

وَّاَمَرُّ ﴿٤٦﴾ اِنَّ الْمُجْرِمِيْنَ فِىْ ضَلٰلٍ وَّسُعُرٍ ﴿٤٧﴾ يَوْمَ

اوډیر تریخ دے | بیشکه | مجرمان | په ګمراهئ | او په اور کښ دی | په دغه ورځ

او ډیر تریخ څیز دے یقینًا مجرمان په ګمراهئ د دنیا او د آخرت په اور کښ پراته دی په هغه ورځ به

يُسْحَبُوْنَ فِى النَّارِ عَلٰى وُجُوْهِهِمْ ط ذُوْقُوْا مَسَّ سَقَرَ ﴿٤٨﴾

دوی به راښکلی شی | په اور کښ | په مخونو خپلو | اوڅکئ (خوند) | د رسیدو | د دوزخ

دوی په اور کښ پر مخے راښکلی شی (چه اوس) د دوزخ د اور (د سوځولو) خوند واخلئ

اِنَّا كُلَّ شَىْءٍ خَلَقْنٰهُ بِقَدَرٍ ﴿٤٩﴾ وَمَآ اَمْرُنَآ اِلَّا

بیشکه موږ | هر یو څیز | پیدا کړے دے موږ هغه | په یو اندازه | او نه دے زمونږ حکم | مګر

یقینًا موږ هر یو څیز په یو اندازه پیدا کړے دے او زمونږ حکم (د قیامت د راوستلو) خو د سترګے

وَاحِدَةٌ كَلَمْحٍۭ بِالْبَصَرِ ﴿٥٠﴾ وَلَقَدْ اَهْلَكْنَآ اَشْيَاعَكُمْ

یوه شیبه | پشان د رپ | د سترګے | او یقینًا | موږ هلاک کړی دی | ستاسو (غولډے) ډلے

د رپ پشان یوه شیبه ده او یقینًا موږ ستاسو پشان خلق تباه کړی دی

فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿٥١﴾ وَكُلُّ شَىْءٍ فَعَلُوْهُ فِى الزُّبُرِ ﴿٥٢﴾

نو آیا شته | څوک نصیحت اخستونکے؟ | او هر یو څیز | چه کړی دی دوی | په صحیفو کښ (لیک) دی

نو اوس څوک نصیحت اخستونکے شته او څه کار چه دوی کوی، هغه په عملنامو کښ لیکلی شوی دی

وَكُلُّ صَغِيرٍ وَّكَبِيرٍ مُّسْتَطَرٌ ۝٥٣ اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ جَنّٰتٍ

او هر | وړوکے | او غټ (عمل) | ليکلے شوے دے | بيشکه | متقيان به | په جنتونو

او هره وړه او غټه خبره ليکلے شوے ده (البته) متقيان په باغونو او نهرونو کښې دی

وَّنَهَرٍ ۝٥٤ فِيْ مَقْعَدِ صِدْقٍ عِنْدَ مَلِيْكٍ مُّقْتَدِرٍ ۝٥٥ ع

او نهرونو کښې وی | په ځائے | د رشتياو کښې | په نزد | د بادشاه | (پوره) قدرت والا

په مجلس د رشتياؤ کښې به وی چه جنت دے د هغه لوے بادشاه سره چه پوره قدرت والا دے.

رکوعاتها [٣]	سورة الرحمٰن مدنيّة	آياتها [٧٨]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډير مهربان | زيات رحم کولکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم.

اَلرَّحْمٰنُ ۝١ عَلَّمَ الْقُرْاٰنَ ۝٢ خَلَقَ الْاِنْسَانَ ۝٣ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ ۝٤

رحمٰن ذات | ښودلے ئے دے | قرآن | پيدا کړے ئے دے | انسان | ښودلے ئے دے هغه ته | (طريقه د) بيان

(هم) الله مهربان (ذات) (خپل پيغمبر ته) د قرآن تعليم ورکړو هم هغه انسان پيدا کړو هم هغه ورته د خبرو چل اوښودلو

اَلشَّمْسُ وَالْقَمَرُ بِحُسْبَانٍ ۝٥ وَّالنَّجْمُ وَالشَّجَرُ يَسْجُدٰنِ ۝٦

نمر | او سپوږمۍ | (روان دی) په حساب | او بوټی | او اونے | دواړه سجده کوی

نمر او سپوږمۍ په يو مقرر حساب سره روان دی (چليږی) او بوټی او اونے (هم هغه ته) سجده کوی

وَالسَّمَآءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ الْمِيْزَانَ ۝٧ اَلَّا تَطْغَوْا

او آسمان | هغه پورته کړے دے دے لره | او کيخودلے ئے دہ | تله | چه زياتے او نه کړئ تاسو

او آسمان هم هغه اوچت کړے دے او هم هغه تله قائم کړے ده چه تاسو په تول کښې زياتے

فِي الْمِيْزَانِ ۝٨ وَاَقِيْمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ وَلَا تُخْسِرُوا الْمِيْزَانَ ۝٩

په تله کښې | او قائم کړئ | تول | په انصاف سره | او کمی مه کوئ | په تله کښې

(ظلم) او نه کړئ او په انصاف سره سم (برابر) تول کوئ او وزن (تول) کښې کمی مه کوئ او هم هغه

وَالْاَرْضَ وَضَعَهَا لِلْاَنَامِ ۝١٠ فِيْهَا فَاكِهَةٌ ۙ وَّالنَّخْلُ

او زمکه | هغه غوړولے ده دے لره | د پاره د مخلوق | (چه) په دے کښې | ميوے دی | او قجورے

د مخلوق د پاره زمکه جوړه کړے (غوړولے) ده چه په هغے کښې ميوے او د قجورو ونے دی چه په هغے باندے

ذَاتُ الْاَكْمَامِ ۝١١ وَالْحَبُّ ذُو الْعَصْفِ وَالرَّيْحَانُ ۝١٢ فَبِاَيِّ

کسوړو والا | او دانے دی | د بوسو والا | او خوشبويه دی | نو کوم کوم

غلافونه وی او بوسو والا غله ده او خوشبويه ګلونه دی پکښې. اے انسانانو او پيريانو اوس تاسو او وايئ

أَلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۱۳﴾ خَلَقَ الْإِنسَانَ مِن صَلْصَالٍ

نعمتونه | درب خپل | دروغ گنړئ تاسو دواړه؟ | پیدا کړے شوے | انسان | د اوچے خټے نه

چه تاسو دواړه به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ گنړئ؟ هم هغه (الله) انسان لره د ټیکری پشان د ټنګیدے

كَالْفَخَّارِ ﴿۱۴﴾ وَخَلَقَ الْجَانَّ مِن مَّارِجٍ مِّن نَّارٍ ﴿۱۵﴾ فَبِأَيِّ

پشان د ټیکری | او پیدا کړی شوی دی | پیریان | د لمبے (شعلے) | د اور نه | نو کوم کوم

خاورے نه پیدا کړے دے او پیریان ئے د اور د شعلے نه پیدا کړی دی اے انسانانو او پیریانو!

أَلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۱۶﴾ رَبُّ الْمَشْرِقَيْنِ وَرَبُّ الْمَغْرِبَيْنِ ﴿۱۷﴾

نعمتونه | درب خپل | دروغ گنړئ تاسو دواړه؟ | رب دے | د دواړو مشرقونو | او رب دے | د دواړو مغربونو

نو تاسو دواړه به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ گنړئ؟ د دواړو مشرقونو او د دواړو مغربونو رب هم هغه دے

فَبِأَيِّ أَلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۱۸﴾ مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ

نو کوم کوم | نعمتونه | درب خپل | دروغ گنړئ تاسو دواړه؟ | هغه یو ځای روان کړی دی | دوه دریابونه

نو تاسو دواړه به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ گنړئ؟ هم هغه دوه دریابونه داسے ګډ روان کړی دی

يَلْتَقِيَانِ ﴿۱۹﴾ بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيَانِ ﴿۲۰﴾ فَبِأَيِّ أَلَآءِ

چه یو بل سره یو ځای چلیږی | د هغے دواړو په مینځ کښ | یو پرده ده | چه په یو بل زیاتے نه کوی | نو کوم کوم | نعمتونه

چه دیو بل سره یو ځای چلیږی (او بیا) د هغے دواړو په مینځ کښ یو پرده ده چه دواړه په یو بل ور اوړی نه اوس تاسو او وایئ

رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۲۱﴾ يَخْرُجُ مِنْهُمَا اللُّؤْلُؤُ وَالْمَرْجَانُ ﴿۲۲﴾

درب خپل | دروغ گنړئ تاسو دواړه؟ | راوځی | د هغے دواړو نه | ملغلرے | او مرجان

چه تاسو دواړه به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ گنړئ؟ د هغے دواړو دریابونو نه ملغلرے او مرجان راوځی

فَبِأَيِّ أَلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۲۳﴾ وَلَهُ الْجَوَارِ الْمُنشَآتُ

نو کوم کوم | نعمتونه | درب خپل | دروغ گنړئ تاسو دواړه؟ | او د هغه (دپاره) دی | کشتۍ | اوچتے کړے شوے

اوس تاسو او وایئ چه تاسو دواړه به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ گنړئ؟ او هم د هغه (په قبضه کښ) هغه جاړونه (کشتۍ) دی

فِي الْبَحْرِ كَالْأَعْلَامِ ﴿۲۴﴾ فَبِأَيِّ أَلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۲۵﴾

په دریاب کښ | پشان د غرونو | نو کوم کوم | نعمتونه | درب خپل | دروغ گنړئ تاسو دواړه؟

چه په دریاب کښ د غرونو پشان اوچتے روانے وی نو تاسو دواړه به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ گنړئ؟

ع

كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ﴿۲۶﴾ وَيَبْقَىٰ وَجْهُ رَبِّكَ

هر | هغه څوک | چه دی په دے (زمکه) | فنا کیدونکی دی | او باقی به پاتے کیږی | ذات | درب ستا

په زمکه کښ چه څومره مخلوق دے هغه ټول فنا کیدونکے دے او (صرف) ستا د رب ذات به باقی پاتے وی چه

ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ ﴿۲۷﴾ فَبِأَيِّ أَلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۲۸﴾

چه خاوند د لوییٔ | او عزت (ورکولو) دے | نو کوم کوم | نعمتونه | درب خپل | دروغ گنړئ تاسو دواړه؟

د لوییٔ او د احسان خاوند دے اوس تاسو او وایئ چه تاسو دواړه به د خپل رب د کوم کوم احسانانو انکار کوئ؟ په آسمانونو

يَسْـَٔلُهٗ مَنْ فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ كُلَّ يَوْمٍ هُوَ

سوال کوی دغه نه | هغه څوک | چه دی په آسمانونو | او په زمکه کښې | هره | ورځ | هغه دے

او زمکه کښې چه څومره مخلوق دے هغه ټول (هم) دغه نه (خپل حاجتونه) غواړی هر وخت هغه په جدا جدا کارونو

فِىْ شَاْنٍ ۝٢٩ فَبِاَىِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۝٣٠ سَنَفْرُغُ

په (جدا جدا) شان کښې | نو کوم کوم | نعمتونه | د رب خپل | دروغ گنړئ تاسو دواړه؟ | زر ده چه مونږ به فارغ شو

دالوهیت کښې وی اوس تاسو او وایئ چه تاسو دواړه به دخپل رب دَ کوم کوم نعمتونو نه انکار کوئ؟ اے دوؤ درنو ډلوا (انس وجن)

لَكُمْ اَيُّهَ الثَّقَلٰنِ ۝٣١ فَبِاَىِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۝٣٢ يٰمَعْشَرَ

تاسو ته | اے | دوؤ درنو (ډلو) | نو کوم کوم | نعمتونه | د رب خپل | دروغ گنړئ تاسو دواړه؟ | اے ډلے

ډیر زر به مونږ تاسو ته فارغ شو اوس تاسو او وایئ چه تاسو دواړه به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ گنړئ؟

الْجِنِّ وَالْاِنْسِ اِنِ اسْتَطَعْتُمْ اَنْ تَنْفُذُوْا مِنْ اَقْطَارِ

د پیریانو | او انسانانو | که چرے | تاسو طاقت لرئ | چه (بهر) ووځئ | د غاړو (طرفونو)

اے د انسانانو او پیریانو ډلو که چرے ستاسو قدرت وی چه د آسمانونو او د زمکے د غاړو

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ فَانْفُذُوْا ؕ لَا تَنْفُذُوْنَ اِلَّا بِسُلْطٰنٍ ۝٣٣

د آسمانونو | او د زمکے نه | نو ووځئ | نه شئ وتلی تاسو | مگر | په زور سره

(حدودو) نه بهر ووځئ نو ووځئ (خو) نشئ وتلے (مگر په قوت او غلبے سره (او قوت او غلبه ستاسو نشته دے) اے انسانانو او پیریانو!

فَبِاَىِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۝٣٤ يُرْسَلُ عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ

نو کوم کوم | نعمتونه | د رب خپل | دروغ گنړئ تاسو دواړه؟ | راوبه لیږلی شی | په تاسو دواړو باندے | شعلے

اوس تاسو او وایئ چه تاسو دواړه به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ گنړئ؟ په تاسو باندے به د اور شعلے (لمبے)

مِّنْ نَّارٍ ۙ وَّنُحَاسٌ فَلَا تَنْتَصِرٰنِ ۝٣٥ فَبِاَىِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

د اور | او (تور) لوگی | پس بدله به نشئ اخستلے تاسو دواړه | نو کوم کوم | نعمتونه | د رب خپل

او لوخړے (لوگی) راپریخودلی شی بیا به تاسو خپل بچاؤ اونه کړے شئ اوس تاسو او وایئ چه تاسو دواړه به

تُكَذِّبٰنِ ۝٣٦ فَاِذَا انْشَقَّتِ السَّمَآءُ فَكَانَتْ وَرْدَةً كَالدِّهَانِ ۝٣٧

دروغ گنړئ تاسو دواړه؟ | پس کله چه | اوچوی | آسمان | نو شی به | سور (گلاب) | پشان د رنگ شوے) غوړمنے

د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ گنړئ؟ بیا چه کله آسمان اوشلیږی او د سرے غوړمنے پشان تک سور (گلاب) شی

فَبِاَىِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۝٣٨ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُسْـَٔلُ عَنْ ذَنْۢبِهٖۤ

نو کوم کوم | نعمتونه | د رب خپل | دروغ گنړئ تاسو دواړه؟ | په دغه ورځ | تپوس به نه کیږی | د گناه د ده

اوس تاسو او وایئ چه تاسو دواړه به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ گنړئ؟ بیا به په دغه ورځ نه د یو انسان نه (د هغه د علم قبلولو دپاره)

اِنْسٌ وَّلَا جَآنٌّ ۝٣٩ فَبِاَىِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۝٤٠ يُعْرَفُ

د یو انسان نه | او نه د یو پیری نه | نو کوم کوم | نعمتونه | د رب خپل | دروغ گنړئ تاسو دواړه؟ | پیژندلی به شی

د هغه د گناهونو (باره کښې) تپوس کیږی او نه د یو پیری نه اوس تاسو او وایئ چه تاسو دواړه به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ گنړئ؟

الْمُجْرِمُوْنَ بِسِيْمٰهُمْ فَيُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِيْ وَالْاَقْدَامِ ۝٤١

مجرمان | په خپلو نخښو سره | پس نيول به شي دوي | دويختو د تندي | او د قدمونو نه

مجرمان به په خپلو نخښو پيژندے شي بيا به د تندي د ويختو او د خپو نه راونيول شي اے انسانانو او پيريانو!

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۝٤٢ هٰذِهٖ جَهَنَّمُ الَّتِيْ

نو کوم کوم | نعمتونه | د رب خپل | دروغ گنړئ تاسو دواړه؟ | دا دے | دوزخ | هغه

اوس تاسو او وايئ چه تاسو دواړه به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ گنړئ؟ دا دے هغه دوزخ

يُكَذِّبُ بِهَا الْمُجْرِمُوْنَ ۝٤٣ يَطُوْفُوْنَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ

چه دروغ به گنړلو | دے لره | مجرمانو | گرځي راگرځي به دوي | په مينځ دد دے کښې | او په مينځ

چه مجرمانو خلقو به دروغ گنړلو دوي به دد دے دوزخ او د خوټکيدلو (گرمو) اوبو

حَمِيْمٍ اٰنٍ ۝٤٤ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۝٤٥ وَلِمَنْ ع

د خوټکيدلو اوبو سختو کښې | نو کوم کوم | نعمتونه | د رب خپل | دروغ گنړئ تاسو دواړه؟ | او د هغه چا د پاره

په مينځ کښې گرځي اوس تاسو او وايئ چه تاسو دواړه به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ گنړئ؟ او څوک چه (په دنيا کښې) د خپل

خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ ۝٤٦ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۝٤٧

چه ويريږي | د اودريدو نه | خپل رب ته | دوه جنتونه دي | نو کوم کوم | نعمتونه | د رب خپل | دروغ گنړئ تاسو دواړه؟

رب مخے ته د اودريدو نه ويريږي حقه د پاره به دوه باغونه وي اوس تاسو او وايئ چه تاسو دواړه به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ گنړئ

ذَوَاتَآ اَفْنَانٍ ۝٤٨ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۝٤٩ فِيْهِمَا

د ډيرو ښاخونو والا به وي | نو کوم کوم | نعمتونه | د رب خپل | دروغ گنړئ تاسو دواړه؟ | په هغے دواړو کښې به

دواړه باغونه به د ګڼړو ښاخونو والا وي اوس تاسو او وايئ چه تاسو دواړه به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ گنړئ؟ په هغے دواړو کښې به

عَيْنٰنِ تَجْرِيٰنِ ۝٥٠ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۝٥١ فِيْهِمَا

دوه چينے | روانے وي | نو کوم کوم | نعمتونه | د رب خپل | دروغ گنړئ تاسو دواړه؟ | په هغے دواړو کښې به وي

دوه چينے (تسنيم او سلسبيل) بهيږي اوس تاسو او وايئ چه تاسو دواړه به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ گنړئ؟ په هغے دواړو

مِنْ كُلِّ فَاكِهَةٍ زَوْجٰنِ ۝٥٢ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۝٥٣

د هر قسم | ميوے نه | دوه (دوه) قسمه | نو کوم کوم | نعمتونه | د رب خپل | دروغ گنړئ تاسو دواړه؟

کښې به د ډيرو قسمونو ميوے وي نو تاسو دواړه به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ گنړئ؟

مُتَّكِـِٕيْنَ عَلٰى فُرُشٍۭ بَطَآئِنُهَا مِنْ اِسْتَبْرَقٍ ؕ وَجَنَا

تکيا لگونکی به وي | په بسترو باندے | چه د هغے استرونه به وي | د غټو ريښمو نه | او ميوے

(جنتيانو به) په داسے فرشونو (بسترو) تکيا لگولي وي چه د هغے استرونه به د غټو ريښمو نه جوړ وي او د دواړو باغونو ميوے به

الْجَنَّتَيْنِ دَانٍ ۝٥٤ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۝٥٥ فِيْهِنَّ

د دواړو جنتونو به | نزدے وي | نو کوم کوم | نعمتونه | د رب خپل | دروغ گنړئ تاسو دواړه؟ | وي به هغے کښې

نزدے (وړاندے) وي اوس تاسو او وايئ چه تاسو دواړه به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ گنړئ؟ هم په د غے باغونو

قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ ۙ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ اِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَآنٌّ ﴿٥٦﴾

خکته ساتونکې | سترګې خپلې | چه لاس به نه وي وروړے هغوی ته | هیڅ یو انسان | مخکښې د دوی نه | او نه یو پیری

کښ به نظر خکته ساتونکې (د اسې) ښځې وي چه د دے جنتیانو نه مخکښې به ورله نه یو انسان لاس وروړی وی او نه یو پیری

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٥٧﴾ كَاَنَّهُنَّ الْيَاقُوْتُ وَالْمَرْجَانُ ﴿٥٨﴾

نو کوم کوم | نعمتونه | درب خپل | دروغ ګڼرئ تاسو دواړه؟ | لکه چه دې دوی | یاقوت | او مرجان

اوس تاسو او واییئ چه تاسو دواړه به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼرئ؟ د دغه ښځې به د حلے (ښائسته او صفا) وی لکه یاقوت او مرجان

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٥٩﴾ هَلْ جَزَآءُ الْاِحْسَانِ اِلَّا

نو کوم کوم | نعمتونه | درب خپل | دروغ ګڼرئ تاسو دواړه؟ | نه ده | بدله | د احسان (نیکئ) | مګر

نو تاسو دواړه به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼرئ؟ د نیکئ بدله د نیکئ

الْاِحْسَانُ ﴿٦٠﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٦١﴾ وَمِنْ دُوْنِهِمَا

نیکی | نو کوم کوم | نعمتونه | درب خپل | دروغ ګڼرئ تاسو دواړه؟ | او د هغے دواړو نه سوا

نه سوا لور څه ده؟ اوس تاسو او واییئ چه تاسو دواړه به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼرئ؟ او د دغے دوو باغونو نه

جَنَّتٰنِ ﴿٦٢﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٦٣﴾ مُدْهَآمَّتٰنِ ﴿٦٤﴾

دوه (نور) جنتونه دي | نو کوم کوم | نعمتونه | درب خپل | دروغ ګڼرئ تاسو دواړه؟ | دواړه به تک شنه وي

علاوه به دوه باغونه نور وي اوس تاسو او واییئ چه تاسو دواړه به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼرئ؟ دواړه به تک شنه وي

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٦٥﴾ فِيْهِمَا عَيْنٰنِ نَضَّاخَتٰنِ ﴿٦٦﴾

نو کوم کوم | نعمتونه | درب خپل | دروغ ګڼرئ تاسو دواړه؟ | په هغے دواړو کښ به | دوه چینے وي | جوش وهونکی

نو تاسو دواړه به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼرئ؟ په هغے کښ به دوه چینے راخوټیږی

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٦٧﴾ فِيْهِمَا فَاكِهَةٌ وَّنَخْلٌ

نو کوم کوم | نعمتونه | درب خپل | دروغ ګڼرئ تاسو دواړه؟ | په هغے دواړو کښ به | میوے وي | او قجورے

اوس تاسو او واییئ چه تاسو دواړه به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼرئ؟ هم په هغے دواړو کښ به میوے قجورے

وَّرُمَّانٌ ﴿٦٨﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٦٩﴾ فِيْهِنَّ خَيْرٰتٌ

او انار وی | نو کوم کوم | نعمتونه | درب خپل | دروغ ګڼرئ تاسو دواړه؟ | په هغے کښ به | غوره بیبیانے وی

او انار وی نو تاسو دواړه به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼرئ؟ هم په هغے (باغونو) کښ به نیکے

حِسَانٌ ﴿٧٠﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٧١﴾ حُوْرٌ مَّقْصُوْرٰتٌ

ښائسته شکلونو والا | نو کوم کوم | نعمتونه | درب خپل | دروغ ګڼرئ تاسو دواړه؟ | حورے به وی | بندے ساتلے شوے

ښائسته ښځے وی نو تاسو دواړه به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼرئ؟ ښائسته ښځے به

فِى الْخِيَامِ ﴿٧٢﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٧٣﴾ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ

په خیمو کښ | نو کوم کوم | نعمتونه | درب خپل | دروغ ګڼرئ تاسو دواړه؟ | لاس به نه وی وروړی هغوی ته

په خیمو کښ محفوظ ساتلے شوے وی اوس تاسو او واییئ چه تاسو دواړه به د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ ګڼرئ؟ هغوی ته به د دے

إِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَآنٌّ ﴿٧٤﴾ فَبِأَيِّ آلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٧٥﴾

هیڅ یو انسان | مخکښې د دوی نه | او نه یو پیری | نو کوم کوم | نعمتونه | د رب خپل | دروغ گنړئ تاسو دواړه؟

چنتیانو نه مخکښې نه یو انسان لاس وړې وی او نه یو پیری او س تاسو او وایئ چه تاسو دواړه په د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ گنړئ؟

مُتَّكِـِٔينَ عَلٰى رَفْرَفٍ خُضْرٍ وَّعَبْقَرِيٍّ حِسَانٍ ﴿٧٦﴾ فَبِأَيِّ

تکیا لګوونکی به وی | په بالختونو | شنو بالدے | او په قالینونو | ښائسته بالدے | نو کوم کوم

په شنو بالختونو او په ښائسته قالینونو بالدے به ئے تکیا لګولی وی او س تاسو او وایئ چه تاسو دواړه به

آلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٧٧﴾ تَبٰرَكَ اسْمُ رَبِّكَ ذِي الْجَلٰلِ

نعمتونه | د رب خپل | دروغ گنړئ تاسو دواړه؟ | ډیر برکت والا دے | نوم | د رب ستا | چه خاوند دلوے شان

د خپل رب کوم کوم نعمتونه دروغ گنړئ؟ (اے نبی) ستا رب چه د لوے شان والا او اکرام والا دے د هغه نوم ډیر ډیر برکتونو والا دے

وَالْإِكْرَامِ ﴿٧٨﴾

| او د عزت دے |

ع

آیاتها [٩٦]	سورة الواقعة مكّيّة	ركوعاتها [٣]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

إِذَا وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ﴿١﴾ لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا كَاذِبَةٌ ﴿٢﴾ خَافِضَةٌ

کله چه | واقع شی | واقع کیدونکے | نشته | د هغې په واقع کیدلو کښې | څه دروغ | خکته کوونکے

کله چه یقینی واقع کیدونکے واقعه (قیامت) راشی (نو) د هغې په راتلو کښې به هیڅ دروغ نه وی بعضې خلق به لاندے کوی (جهنم ته)

رَّافِعَةٌ ﴿٣﴾ إِذَا رُجَّتِ الْأَرْضُ رَجًّا ﴿٤﴾ وَّبُسَّتِ الْجِبَالُ

پورته کوونکے دے | کله چه | او جړ قولی شی | زمکه | په جړ قولو سره | او ذره ذره به کړی شی | غرونه

او بعضې به او چتوی (جنت ته) کله چه به زمکه په سختو جړ قولو سره او جړ قولی شی په زمکے به زوردار زلزله راشی) او غرونه به مکمل

بَسًّا ﴿٥﴾ فَكَانَتْ هَبَآءً مُّنْبَثًّا ﴿٦﴾ وَّكُنْتُمْ أَزْوَاجًا ثَلٰثَةً ﴿٧﴾

په ذره ذره کولو سره | نو شی به | هغه دوړه | الوتلے (خوره وره) | او شئ به تاسو | جوړے (قسمونه) | درے

طور ریزه ریزه کړے شی بیا به هغه (غرونه) الوتلے شوے دوړه شی او (اے خلقو) تاسو به درے قسمونه شئ (یوه ډله) خو به

فَأَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ ﴿٨﴾ مَآ أَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ ﴿٩﴾ وَأَصْحٰبُ الْمَشْـَٔمَةِ ﴿١٠﴾

نو ښی | لاس | والا | څه ښهٔ حال به وی | د ښی لاس والو | او | گس لاس والا

د ښی لاس والا وی نو ښی لاس والا څومره ښه (خوش نصیبه) خلق دی او (بله ډله به) گس لاس والا وی

مَآ اَصْحٰبُ الْمَشْئَمَةِ ۝٩ وَالسّٰبِقُوْنَ السّٰبِقُوْنَ ۝١٠

څه بد حال به وي | دَ کس لاس والو | او مخکښے کیدونکي ایمان ته | مخکښے (تلونکي به وي جنت ته)

دغه کس لاس والا څومره بد نصیبه خلق دي او (راستي ښ) سابقون (مخکښے کیدونکي) هم هغوی خو دي مخکښے کیدونکي

اُولٰٓئِكَ الْمُقَرَّبُوْنَ ۝١١ فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ۝١٢ ثُلَّةٌ

هم دا خلق | (پوره) نژدے کړے شوي دي (الله ته) | په جنتونو | د نعمتونو کښې (به وي) | (ډیر ے) ډلے به وي

هم دوی د الله مقرب (نژدے) بندګان دي دوی به د نعمتونو په جنتونو کښې وي په دوی کښې به ډیر خلق

مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ ۝١٣ وَقَلِيْلٌ مِّنَ الْاٰخِرِيْنَ ۝١٤ عَلٰى سُرُرٍ

د وړومبنو نه | او لږ به وي | د وروستنو نه | (ناست به وي) په تختونو

د پخوانو نه وي او لږ غونډ ے خلق به پکښې د وروستنو نه وي د سرو زرو د تارونو نه په پنړلي شوو

مَّوْضُوْنَةٍ ۝١٥ مُّتَّكِـِٕيْنَ عَلَيْهَا مُتَقٰبِلِيْنَ ۝١٦ يَطُوْفُ

چه پنړلي شوي به وي (د سرو زرو نه) | تکیا لګوونکي به وي | په هغے باندے | یو بل ته مخامخ | ګرځي راګرځي به

تختونو به ناست وي یو بل ته مخامخ (په ے) تکیا لګولي وي ځوانان هلکان (خدمتګاران)

عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُوْنَ ۝١٧ بِاَكْوَابٍ وَّاَبَارِيْقَ ۙ وَكَاْسٍ

په دوی باندے | هلکان (خادمان) | چه همیشه به ځوانان وي | د ګلاسونو | او جګونو | او د پیالو سره

چه همیشه به په یو حالت وي هغوی به د دوی په خوا کښې ګرځي راګرځي د دا ســے خالص شرابو د پیالو جګونو او جامونو سره

مِّنْ مَّعِيْنٍ ۝١٨ لَّا يُصَدَّعُوْنَ عَنْهَا وَلَا يُنْزِفُوْنَ ۝١٩ وَفَاكِهَةٍ

د خالص شرابو نه | نه به د سر درد راځي په دوی | د هغے د وجے | او نه به التمې کوي | او میوے به وي

چه د هغے په وجه به نه د دوی په سر درد راځي او نه به په زړه ګډیارۀ راولي او د هغه میوو سره (به ګرځي) چه دوی

مِّمَّا يَتَخَيَّرُوْنَ ۝٢٠ وَلَحْمِ طَيْرٍ مِّمَّا يَشْتَهُوْنَ ۝٢١ وَحُوْرٌ

د هغه څۀ نه | چه دوی به خوښوي | او غوښه | د مارغانو به وي | د هغه څۀ نه | چه دوی به ئے غواړي | او حورے به وي

په ئے خوښوي او د مارغانو د غوښو سره چه د دوی زړۀ به ئے غواړي او (د دوی د پاره به) د غټو غټو سترګو والا

عِيْنٌ ۝٢٢ كَاَمْثَالِ اللُّؤْلُؤِ الْمَكْنُوْنِ ۝٢٣ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا

ښائسته (غټو) سترګو والا | په شان | د ملغلرو | پټو ساتلو شوو | بدله (به ورکړې شي) | د هغه څه | چه دوی به

(ښائسته) حورے وي لکه د محفوظ (پټے) ساتلے شوو ملغلرو پشان به ښائسته وي دا هر څه به دوی ته د دوی د عملونو

يَعْمَلُوْنَ ۝٢٤ لَا يَسْمَعُوْنَ فِيْهَا لَغْوًا وَّلَا تَاْثِيْمًا ۝٢٥ اِلَّا قِيْلًا

کول | نه به اوري دوی | په دے کښې | فضول خبره | او نه د ګناه خبره | مګر | وینا

په بدله کښې ملاویږي چه دوی به (په دنیا کښې) کول نه به هلته فضول خبرے وي او نه د ګناه خبرے بس هر طرف له به

سَلٰمًا سَلٰمًا ۝٢٦ وَاَصْحٰبُ الْيَمِيْنِ ۙ مَآ اَصْحٰبُ الْيَمِيْنِ ۝٢٧

سلام | سلام | او ښي لاس والا | څه ښۀ حالت به وي | دَ ښي (لاس) والو (وي به دوی)

د سلام سلام آواز راځي او هغه خلق چه ښي لاس والا به وي څومره ښه (خوش نصیبه) دي ښي لاس والا (هغوی به) د اذغونه

فِيْ سِدْرٍ مَّخْضُوْدٍ ۲۸ وَّطَلْحٍ مَّنْضُوْدٍ ۲۹ وَّظِلٍّ مَّمْدُوْدٍ ۳۰

په بېرو | بے ازغو کښې | او په کيلو | لاندے باندے کښې | او په سورې | اوږد کښې

پا کو بېرو کښې (اوسيږی) او قط په قط (لاندے باندے) کيلو کښې په (اوسيږی) او په اوږدو اوږدو سورو کښې (به وی)

وَّمَآءٍ مَّسْكُوْبٍ ۳۱ وَّفَاكِهَةٍ كَثِيْرَةٍ ۳۲ لَّا مَقْطُوْعَةٍ

او په اوبو | روانے کړے شوو کښې | او په ميوو | ډيرو کښې | چه نه به ختميږی

او په بهيدونکو اوبو کښې به وی او ډيرو ميوو کښې به وی چه نه به ختميږی

وَّلَا مَمْنُوْعَةٍ ۳۳ وَّفُرُشٍ مَّرْفُوْعَةٍ ۳۴ اِنَّآ اَنْشَاْنٰهُنَّ

او نهٔ به منع کيدے شی | او په بسترو | اوچتو کړے شوو کښې | بيشکه مونږ | پيدا کړی دی مونږ هغه (حورے)

او نه به (ددوی نه) منع کولے شی او په اوچتو اوچتو فرشونو کښې به وی يقين او کړی دغه حورے مونږ په

اِنْشَآءً ۳۵ فَجَعَلْنٰهُنَّ اَبْكَارًا ۳۶ عُرُبًا اَتْرَابًا ۳۷

په (خاص) پيدائش سره | پس جوړے کړی دی مونږ هغه | پيغلے | مينه کوونکی | همزولے

(په ناآشنا طريقے) پيدا کړی دی بس پيغلے کړی مو دی دخپلو خاوندانو سره به مينه کوونکی او همزولے به وی

ع لِّاَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ ۳۸ ثُلَّةٌ مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ ۳۹ وَثُلَّةٌ

دپاره د ښی لاس والو | لويه ډله به وی | د وړومبنو نه | او لويه ډله به وی

(دا هرڅه به) د ښی لاس والو دپاره وی په دوی کښې به د پخوانو نه هم ډير خلق وی او د وروستنو نه هم

مِّنَ الْاٰخِرِيْنَ ۴۰ وَاَصْحٰبُ الشِّمَالِ ۙ مَآ اَصْحٰبُ الشِّمَالِ ۴۱

د وروستنو نه | او ګس لاس والا | څه بدحالت به وی | د ګس لاس والو (وی به دوی)

او کوم چه ګس لاس والا دی څومره خراب (بدنصيبه) دی ګس لاس والا

فِيْ سَمُوْمٍ وَّحَمِيْمٍ ۴۲ وَّظِلٍّ مِّنْ يَّحْمُوْمٍ ۴۳ لَّا بَارِدٍ

په ګرمه هوا | او ګرمو اوبو کښې | او په سورې | د (تور) لوګی کښې | (چه) نه به يخ وی

دوی به په ګرمو هواګانو او خوټکيدلو اوبو کښې وی او د تک تور لوګی په سورې کښې به وی چه نه به يخ وی

وَّلَا كَرِيْمٍ ۴۴ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَبْلَ ذٰلِكَ مُتْرَفِيْنَ ۴۵ وَكَانُوْا

او نهٔ به فائده مند | بيشکه دوی | وو | د دے نه | مخکښے | ډير مست (خوشحاله) | او وو دوی

او نهٔ فائده مند. دغه خلق د دے نه مخکښے (په دنيا کښې) ډير خوشحاله (بدمست) وو او ډيره په لويه ګناه

يُصِرُّوْنَ عَلَى الْحِنْثِ الْعَظِيْمِ ۴۶ وَكَانُوْا يَقُوْلُوْنَ ۙ ءَاِذَا

چه هميشوالے به ئے کولو | په ګناه | لويه | او وو دوی | چه ويل به ئے | آيا کله چه

(شرک باندے) کلک وو او ويل به ئے چه آيا کله مونږ مړه شو او خاورے او هډوکی شو نو آيا

مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ۴۷ اَوَ اٰبَآؤُنَا

مړه شو مونږ | او شو مونږ | خاورے | او هډوکی | آيا (بيشکه) مونږ به | خامخا (بيا) راپورته کولی شو | آيا او پلاران زمونږ

مونږ به بيا ژوندی کولے شو؟ او آيا زمونږ پخوا تير شوی پلار

الْاَوَّلُوْنَ ﴿٤٨﴾ قُلْ اِنَّ الْاَوَّلِيْنَ وَالْاٰخِرِيْنَ ﴿٤٩﴾ لَمَجْمُوْعُوْنَ ۥ

وړومبني هم | اووايه | بيشکه | وړومبني | او وروستني | خامخا به راغونډولی شي

نيکه به هم (ژوندي کيږي)؟ اے نبيؐ ته ورته اووايه چه يقيناً وړومبني او وروستني ټول به

اِلٰى مِيْقَاتِ يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿٥٠﴾ ثُمَّ اِنَّكُمْ اَيُّهَا الضَّآلُّوْنَ

مقرر وخت | د ورځے | معلومے ته | بيا | بيشکه تاسو | اے گمراهانو

د يو مقررے ورځ په مقرر شوي وخت راجمع کړے شي بيا به تاسو

الْمُكَذِّبُوْنَ ﴿٥١﴾ لَاٰكِلُوْنَ مِنْ شَجَرٍ مِّنْ زَقُّوْمٍ ﴿٥٢﴾ فَمَالِـُٔوْنَ مِنْهَا

دروغ گڼرونکو | خامخا به خوړونکي يئ | د ونے | د زقوم نه | نو ډکوونکي (به يئ) | د هغے نه

اے دروغ گڼرونکو گمراهانو د زقوم د ونے نه خوراک کوئ او د هغے نه به خپلے خيټے ډکوئ

الْبُطُوْنَ ﴿٥٣﴾ فَشٰرِبُوْنَ عَلَيْهِ مِنَ الْحَمِيْمِ ﴿٥٤﴾ فَشٰرِبُوْنَ شُرْبَ

خيټے | نو څکوونکي (به يئ) | د هغے د پاسه | د خوټکيدلے اوبو نه | پس څکوونکي به يئ | په شان د څکلو

بيا به د هغے د پاسه کړے او به څکئ او هغه څکل به هم داسے وي لکه د سخت تږي (جل وهلي) اوښ پشان

الْهِيْمِ ﴿٥٥﴾ هٰذَا نُزُلُهُمْ يَوْمَ الدِّيْنِ ﴿٥٦﴾ نَحْنُ خَلَقْنٰكُمْ

د تږي (جل وهلي) اوښ | دا ده | ميلمستيا د دوی | په ورځ | د بدلے | مونږ | پيدا کړي يئ تاسو

د قيامت په ورځ به دا د دوی ميلمستيا وی مونږ تاسو پيدا کړي يئ نو تاسو (د دوباره پيدائش) تصديق ولے نه کوئ؟

فَلَوْلَا تُصَدِّقُوْنَ ﴿٥٧﴾ اَفَرَءَيْتُمْ مَّا تُمْنُوْنَ ﴿٥٨﴾ ءَاَنْتُمْ تَخْلُقُوْنَهٗ

نو ولے تصديق نه کوئ تاسو | آيا سوچ کړے دے تاسو | (په) هغه څه | چه تاسو يے څاڅوئ په رحم کښ | آيا تاسو | پيدا کوئ هغه

آيا تاسو (په دے) غور کړے دے چه کومه نطفه تاسو (د ښځو په رحمونو کښ) اچوئ آيا تاسو د هغے نه انسان جوړوئ

اَمْ نَحْنُ الْخٰلِقُوْنَ ﴿٥٩﴾ نَحْنُ قَدَّرْنَا بَيْنَكُمُ الْمَوْتَ

يا مونږ | پيدا کوونکي يو | مونږ | مقرر کړے دے | ستاسو په مينځ کښ | مرگ

يا ئے مونږ جوړوو (پيدا کوو)؟ هم مونږ ستاسو ترمينځه د مرگ فيصله کړے ده

وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوْقِيْنَ ﴿٦٠﴾ عَلٰٓى اَنْ نُّبَدِّلَ اَمْثَالَكُمْ

او نه يو مونږ | عاجز کړے شوي | د دے نه | چه مونږ په بدل کښ راولو | ستاسو غوندے خلق

او مونږ د دے خبرے نه عاجز نه يو چه ستاسو په ځاې ستاسو پشان نور خلق راولو (پيدا کړو)

وَنُنْشِئَكُمْ فِيْ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٦١﴾ وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ النَّشْاَةَ

او مونږ پيدا کړو تاسو | په هغه (شکل) کښ | چه تاسو يے نه پيژنئ | او يقيناً | تاسو پيژنئ | پيدائش

او تاسو بيا په قيامت کښ په داسے يو حالت کښ پيدا کړو چه تاسو يے نه پيژنئ او تاسو ته د خپل وړومبي پيدائش

الْاُوْلٰى فَلَوْلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿٦٢﴾ اَفَرَءَيْتُمْ مَّا تَحْرُثُوْنَ ﴿٦٣﴾ ءَاَنْتُمْ

وړومبني | نو ولے نصيحت نه قبلوئ | آيا تاسو سوچ کړے دے | په هغه څه | چه تاسو يے کرئ | آيا تاسو

پوره پته ده (نو) بيا تاسو نصيحت (سبق) ولے نه اخلئ؟ کله تاسو په دے غور کړے دے چه تاسو چه څه

تَزْرَعُونَهٗٓ اَمْ نَحْنُ الزّٰرِعُوْنَ ﴿٦٤﴾ لَوْ نَشَآءُ لَجَعَلْنٰهُ

رازرغونوئ هغه | یا موږ یو | رازرغونوونکی | که چرے | اوغواړو موږ | نو ضروربه اوګرځوموږ هغه

(تخم) کرئ (نو) آیا هغه تاسو رازرغونوئ یا ئے موږ رازرغونوو؟ که موږ اوغواړو نو هغه به

حُطَامًا فَظَلْتُمْ تَفَكَّهُوْنَ ﴿٦٥﴾ اِنَّا لَمُغْرَمُوْنَ ﴿٦٦﴾ بَلْ نَحْنُ

ریزه ریزه | نو شئ به تاسو | حیران | (چه) بیشکه موږ (خو) خامخا تاوانیان کړی شو | (نه) بلکه | موږ

چوره چوره کړو نو تاسو به ورته حیرانه (پاتے) شئ چه موږ ډیر په تاوان کښې پریوتلو بلکه موږ خو

مَحْرُوْمُوْنَ ﴿٦٧﴾ اَفَرَءَيْتُمُ الْمَآءَ الَّذِيْ تَشْرَبُوْنَ ﴿٦٨﴾ ءَاَنْتُمْ

(خو) محرومه کړے شو | آیا تاسو سوچ کړے دے | په اوبو | هغے | چه تاسو ئے څکئ | آیا تاسو

یو بې نصیبه، آیا کله تاسو غور کړے دے په هغه اوبو چه تاسو ئے څکئ؟ آیا

اَنْزَلْتُمُوْهُ مِنَ الْمُزْنِ اَمْ نَحْنُ الْمُنْزِلُوْنَ ﴿٦٩﴾ لَوْ نَشَآءُ

راورولی دی هغه | د (سپینے) وریځے نه | یا موږ یو | راوروونکی | که چرے | موږ اوغواړو

د وریځو نه هغه (اوبه) تاسو راوروئ یا ئے موږ راوروو؟ که موږ اوغواړو

جَعَلْنٰهُ اُجَاجًا فَلَوْلَا تَشْكُرُوْنَ ﴿٧٠﴾ اَفَرَءَيْتُمُ النَّارَ الَّتِيْ

نو اوبه ګرځوو موږ دا (اوبه) | ترخے | نو ولے تاسو شکر نه کوئ | آیا سوچ کړے دے تاسو | اور ته | هغه

نو دا اوبه به ترخے کړو نو تاسو شکر ولے نه اداء کوئ کله تاسو غور کړے دے په هغه اور کښې

تُوْرُوْنَ ﴿٧١﴾ ءَاَنْتُمْ اَنْشَاْتُمْ شَجَرَتَهَآ اَمْ نَحْنُ الْمُنْشِـُٔوْنَ ﴿٧٢﴾

چه تاسو ئے بلوئ | آیا تاسو | پیدا کړے ده | وُنه د دے | یا موږ یو | پیدا کوونکی

چه تاسو ئے بلوئ آیا د دے ونه تاسو پیدا کړے ده یا موږ پیدا کړے ده؟

نَحْنُ جَعَلْنٰهَا تَذْكِرَةً وَّمَتَاعًا لِّلْمُقْوِيْنَ ﴿٧٣﴾ فَسَبِّحْ بِاسْمِ

موږ | (جوړه) کړے ده دا (ونه) | نصیحت | او فائده | دپاره د صحرا والو | پس پاکی وایه | د نوم

هم موږ دا ونه نصیحت او د مسافرو دپاره د فائدے یوه ذریعه جوړه کړے ده نو اے نبیؑ د خپل لوئے رب

رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ﴿٧٤﴾ فَلَآ اُقْسِمُ بِمَوٰقِعِ النُّجُوْمِ ﴿٧٥﴾ وَاِنَّهٗ ع

د رب خپل | چه لوئے دے | پس دا سے نه ده زۀ قسم کوم | په ځایونو | (د پریوتلو) دستورویانو دے | او بیشکه دا

د نوم پاکی (تسبیح) وایه. نو د ستورو د ډوبیدو په ځایونو قسم دے او که

لَقَسَمٌ لَّوْ تَعْلَمُوْنَ عَظِيْمٌ ﴿٧٦﴾ اِنَّهٗ لَقُرْاٰنٌ كَرِيْمٌ ﴿٧٧﴾

خامخا قسم دے | که چرے | تاسو پوهیږئ | ډیر لوئے | (چه) بیشکه دا | خامخا قرآن دے | عزتمند

تاسو پوهیږئ نو دا ډیر لوئے قسم دے چه دا (قرآن) ډیر عزتمند (لوئے مرتبے والا) کتاب دے

فِيْ كِتٰبٍ مَّكْنُوْنٍ ﴿٧٨﴾ لَّا يَمَسُّهٗٓ اِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ ﴿٧٩﴾

په یو کتاب کښې دے | (چه) محفوظ ساتلے شوے دے | لاس نشی ور وړے لګولے ته | مګر | پاک شوی (خلق)

چه په یو محفوظ کتاب کښې (درج) دے دے ته صرف هم هغه خلق لاس وروړی چه هغوی بنه پاک دی

تَنْزِيْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝٨٠ اَفَبِهٰذَا الْحَدِيْثِ اَنْتُمْ

راليږلے شوے | د رب | د مخلوقاتو دے | آيا نو په دے | خبر (کلام) | تاسو

دا د ټولو جهانونو د رب د طرف نه راليږلے شوے دے نو آيا (اوس) تاسو د دے کلام (خبرے) په باره کښې

مُّدْهِنُوْنَ ۝٨١ وَتَجْعَلُوْنَ رِزْقَكُمْ اَنَّكُمْ تُكَذِّبُوْنَ ۝٨٢ فَلَوْلَآ

سستی کوؤنکی يئ | او تاسو جوړوئ | خپله برخه (روزی) | دا چه تاسو | دروغ گنړئ (حق) | نو ولے نه ده

سستی (بے پروائی) کوئ؟ او تاسو دا خپل روزگار جوړ کړے دے چه دا (کتاب) دروغ گنړئ؟ نو (بیا)

اِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُوْمَ ۝٨٣ وَاَنْتُمْ حِيْنَئِذٍ تَنْظُرُوْنَ ۝٨٤ وَنَحْنُ

کله چه | اورسيږی | (روح) مرئ ته | او تاسو | په دغه وخت کښې | گورئ | او مونږ

دا سے ولے نه کيږی چه کله د (چا) ساه (روح) مرئ ته اورسی او تاسو ورته (په دغه وخت کښې) گورئ

اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْكُمْ وَلٰكِنْ لَّا تُبْصِرُوْنَ ۝٨٥ فَلَوْلَآ اِنْ كُنْتُمْ

ډير نزدے يُو | دهٔ ته | ستاسو نه | ليکن | تاسو نه وينئ | لو ولے نه | که چرے | ئے تاسو

او مونږ ستاسو نه زيات هغهٔ ته نزدے يُو خو تاسو (مونږ) نه وينئ که تاسو سره حساب کتاب نه کيږی او کمزوری نه يئ

غَيْرَ مَدِيْنِيْنَ ۝٨٦ تَرْجِعُوْنَهَآ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝٨٧ فَاَمَّآ اِنْ

چه نه ئے کمزوری (محکوم) | (ولے نه) واپس کوئ دا | که چرے | ئے تاسو | رشتنی | پس که چرے

نو که رشتنی يئ نو دا ساه (روح) راواپس کوئ ولے نه؟ بيا که هغه (مړے)

كَانَ مِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ ۝٨٨ فَرَوْحٌ وَّرَيْحَانٌ ۝ۙ وَّجَنَّتُ نَعِيْمٍ ۝٨٩

وی دا (روح) | د نزدے نيکانو خلقو نه | نو آرام دے | او خوشبوئيه گلونه | او جنت | د نعمتونو دے

د الله په نزديکانو کښې وی نو (د هغه دپاره) آرام (راحت) او خوشبوئيانے (خوراکونه) او د نعمتونو نه ډک باغ (جنت) دے

وَاَمَّآ اِنْ كَانَ مِنْ اَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ ۝٩٠ فَسَلٰمٌ لَّكَ

او که چرے | وی دا (روح) | د ښی طرف والو نه | نو سلام دے وی | په تا باندے

او که هغه (مړے) د ښی لاس والو نه وی لو (هغه ته به او ويل شی چه) په تا باندے د ښی لاس والو

مِنْ اَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ ۝٩١ وَاَمَّآ اِنْ كَانَ مِنَ الْمُكَذِّبِيْنَ

د ښی لاس والو (د طرف) نه | او که چرے | وی دا (روح) | د دروغ گنړونکو

د طرف نه سلام دے او که چرے هغه (مړے) دَ دروغ گنړونکو گمراهانو نه وی

الضَّآلِّيْنَ ۝٩٢ فَنُزُلٌ مِّنْ حَمِيْمٍ ۝٩٣ وَّتَصْلِيَةُ جَحِيْمٍ ۝٩٤ اِنَّ

گمراهانو نه | نو ميلمستيا ده | د خوټکيدلو اوبو نه | او داخليدل دی | په دوزخ کښې | بيشکه

نو د هغه دپاره د خوټکيدلو اوبو ميلمستيا ده او دوزخ ته ننوتل دی يقيناً

هٰذَا لَهُوَ حَقُّ الْيَقِيْنِ ۝٩٥ فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ۝٩٦ ع

هم دا خبرے | خامخا | حق دی | قابل د يقين | پس پاکی وايه | د نوم | د رب خپل | (چه) ډير لوے (دے)

دا (هر څه چه بيان شو) رشتيا او يقينی دی نو (اے نبیؐ) د خپل لوے رب د نوم پاکی وايه

آیاتها [۲۹] **سورة الحديد مدنيّة** رکوعاتها [۴]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ

پاکي وائي | د الله | هغه څه | چه په آسمانونو | او زمکه کښې دي | او هغه دے | ډیر زورور

په آسمانونو او په زمکه کښې چه څومره مخلوق دے (ټول) د الله پاکي بیانوي او هغه ډیر زورور (غالب)

الْحَكِيْمُ ۝١ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ۚ

لوے حکمت والا | خاص دهغه ده | بادشاهي | د آسمانونو | او د زمکے | هغه ژوندي کول کوي | او مره کول کوي

او حکمت والا دے د آسمانونو او د زمکے حکومت هم دهغه دے (هم) هغه ژوندي کول کوي او مره کول کوي

وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ۝٢ هُوَ الْاَوَّلُ وَالْاٰخِرُ وَالظَّاهِرُ

او هغه دے | په هر | څیز باندے | (پوره) قادر | هغه | اول | او آخیر دے | او ښکاره

او هغه په هر څیز باندے پوره قدرت لري هم هغه د ټولو موجوداتو نه مخکښے دے او باقي پاتے کیدونکے دے او ظاهر دے

وَالْبَاطِنُ ۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيْمٌ ۝٣ هُوَ الَّذِىْ خَلَقَ

او پټ دے | او هغه | په هر | څیز باندے | ښه پوهه دے | هم الله هغه (ذات) دے | چه پیدا کړي دي

په دلیلونو سره او پټ دے په اعتبار د ذات سره او هغه په هر څیز باندے ښه پوهه دے هم الله هغه ذات دے (چا) چه

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِىْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ۚ

آسمانونه | او زمکه | په شپږو | ورځو کښې | بیا | برابر شوے دے | په عرش باندے

آسمانونه او زمکه په اندازه د شپږو ورځو کښې پیدا کړل بیا ئے په عرش باندے استواء او کړه

يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِى الْاَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا

هغه پیژني | هغه څه | چه ننوځي | په زمکه کښې | او هغه څه | چه راوځي | د دے نه | او هغه څه

هغه هر هغه څیز پیژني چه زمکه کښې داخلیږي او هغه هم چه د دے نه راوځي او هر هغه څیز (هم پیژني)

يَنْزِلُ مِنَ السَّمَآءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيْهَا ۗ وَهُوَ مَعَكُمْ

چه خکته راځي | د آسمان نه | او هغه څه | چه (ور) خیژي | په دے کښې | او هغه دے | تاسو سره

چه د آسمان نه را کوزیږي او (هغه هم) چه ور خیژي آسمان ته او تاسو چه چرته هم یئ

اَيْنَ مَا كُنْتُمْ ۗ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ۝٤ لَهٗ مُلْكُ

چرته (هم) | چه یئ تاسو | او الله دے | هغه څه لره | چه تاسو ئے کوئ | ښه لیدونکے | خاص دهغه ده | بادشاهي

هغه تاسو سره دے او تاسو چه څه کار هم کوئ الله هغه ویني د آسمانونو

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ﴿۵﴾ يُوْلِجُ
د آسمانونو | او د زمکے | او خاص الله ته | واپس کولے شي | کارونه | ننباسي
او د زمکے حکومت هم د هغه دے او ټول کارونه (معاملات) هم د الله طرف ته واپس کیږي هغه

الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُوْلِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ ؕ وَهُوَ عَلِيْمٌ
شپه | په ورځ کښې | او ننباسي | ورځ | په شپه کښې | او هغه | ښه پوهه دے
شپه په ورځ کښې داخلوي او ورځ په شپه کښې داخلوي او په سینو کښې پټ شوي ټولې خبرے هغهٔ ته

بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۶﴾ اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَاَنْفِقُوْا مِمَّا
په پټو خبرو د سینو | ایمان راوړئ | په الله | او په رسول د هغهٔ | او خرچ او کړئ | د هغه څه نه
ښے معلومے دي په الله او د هغه په رسول ایمان راوړئ او په کوم مال کښې چه الله تاسو

جَعَلَكُمْ مُّسْتَخْلَفِيْنَ فِيْهِ ؕ فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ
چه هغه جوړ کړي يئ تاسو | جانشینان | په هغے کښې | پس هغه کسان | چه ایمان ئے راوړے دے | ستاسو نه
جانشینان جوړ کړي يئ د هغے نه څهٔ حصه (د الله په لار کښې) خرچ کړئ پس چا چه ایمان راوړے دے

وَاَنْفَقُوْا لَهُمْ اَجْرٌ كَبِيْرٌ ﴿۷﴾ وَمَا لَكُمْ لَا تُؤْمِنُوْنَ
او خرچ ئے کړے دے | د هغوی دپاره | اجر دے | ډیر لوے | او څه شوي دي | په تاسو | چه ایمان نه راوړئ
او خرچ ئے کړے دے د هغوی دپاره ډیر لوے اجر دے او (اے خلقو) په تاسو څهٔ شوي دي چه په الله ایمان نه راوړئ

بِاللّٰهِ ۚ وَالرَّسُوْلُ يَدْعُوْكُمْ لِتُؤْمِنُوْا بِرَبِّكُمْ وَقَدْ اَخَذَ
په الله | او پیغمبر | رابلي تاسو | چه تاسو ایمان راوړئ | په رب خپل | او یقینًا | هغه اخستلے ده
حالانکه پیغمبر تاسو له دعوت درکوي چه په خپل رب ایمان راوړئ او که ستاسو باور وي نو هغه تاسو نه

مِّيْثَاقَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۸﴾ هُوَ الَّذِيْ يُنَزِّلُ عَلٰى عَبْدِهٖٓ
وعده ستاسو نه | که چرے | يئ تاسو | مؤمنان | هم الله هغه ذات دے | چه رالیږي | په خپل بنده باندے
مضبوط لوظ هم اخستے دے الله هم هغه (ذات) دے چه په خپل بنده واضحه (ښکاره)

اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ لِّيُخْرِجَكُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ؕ وَاِنَّ
آیتونه | واضحه | چه هغه او باسي تاسو | د تیارو نه | رڼرا ته | او بیشکه
آیتونه (دے دپاره) نازلوي چه تاسو د تیارو د کفر نه رڼرا د توحید ته راوباسي او یقین او کړئ چه

اللّٰهَ بِكُمْ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿۹﴾ وَمَا لَكُمْ اَلَّا تُنْفِقُوْا
الله دے | په تاسو | خامخا ډیر شفقت کوونکے | ډیر مهربان | او څه شوي دي په تاسو | دا چه خرچ نه کوئ
الله تعالیٰ په تاسو ډیر شفقت کوونکے ډیر مهربان دے او (دا) په تاسو څه شوي دي چه د الله په لار کښې

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلِلّٰهِ مِيْرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ
په لاره | د الله کښې | او خاص الله دپاره دي | پاتے کیدل | د آسمانونو | او د زمکے
خرچ نه کوئ (مال نه لګوئ) حالانکه د آسمانونو او د زمکے ټول میراث د الله (دپاره) دے

لَا يَسْتَوِىْ مِنْكُمْ مَّنْ اَنْفَقَ مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ

نشي برابر كيدلے | ستاسو نه | هغه څوک | چه خرچ ئے كړے دے | مخكښے | د فتح نه

په تاسو كښې چه چا د فتح (مكے) نه مخكښے خرچ كړے دے او جنګ

وَقٰتَلَ ؕ اُولٰٓئِكَ اَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ الَّذِيْنَ اَنْفَقُوْا

او جنګ ئے كړے دے | دغه خلق | ډير لوے | درجے والا دي | د هغه خلقو نه | چه هغوي خرچ كړي دي

(جهاد) ئے كړے دے هغوي (د وروستنو) سره برابر نه دي دغه خلق په درجه كښې د هغه چا نه ډير او چت دي

مِنْۢ بَعْدُ وَقٰتَلُوْا ؕ وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ؕ وَاللّٰهُ

وروستو (د دے نه) | او جنګ ئے كړے دے | او د هر يو سره | وعده كړے ده | الله | ښائسته | او الله

چه هغوي وروستو خرچ او جنګ كړے دے او د ښيګړے وعده الله تعالىٰ د ټولو سره كړے ده

بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ١٠ مَنْ ذَا الَّذِىْ يُقْرِضُ اللّٰهَ ع

په هغه څه | چه تاسو (ئے) كوئ | پوره خبر (دار) دے | څوک دے | هغه كس | چه ور كړي | الله ته

او تاسو چه څه كوئ الله تعالىٰ د هغے نه پوره خبردار دے څوک دي چه الله تعالىٰ ته په ښه نيت د حلال او عمده مال نه قرض ور كړي

قَرْضًا حَسَنًا فَيُضٰعِفَهٗ لَهٗ وَلَهٗٓ اَجْرٌ كَرِيْمٌ ١١

قرض | ښائسته | نو غبرګ به كړي الله د دے لره | د هغه دپاره | او د دے د هغه دپاره | اجر | عزت والا

چه د هغے په نتيجه كښې الله هغه قرض لره د قرض ور كوونكي دپاره څو چنده زيات كړي او ډير د عزت والا اجر به ور ته ملاوېږي

يَوْمَ تَرَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ يَسْعٰى نُوْرُهُمْ

په هغه ورځ | چه ته به ووينے | مؤمنان سړي | او مؤمنانے ښځے | (چه) منډے به وهي | رڼا (نور) د هغوي

په كومه ورځ چه ته به مؤمنان سړي او مؤمنانے ښځے وينے چه د هغوي نور به د هغوي وړاندے

بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ بُشْرٰىكُمُ الْيَوْمَ جَنّٰتٌ تَجْرِىْ

په وړاندے د هغوي | او ښي طرفونو ته د هغوي | زيرے ستاسو | نن ورځ | (هغه) جنتونه دي | چه بهيږي به

او د هغوي ښي طرف ته منډے وهي (ورته به ويل شي چه) نن تاسو دپاره خوشحالي ده د (هغه) جنتونو

مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ١٢

لاندے د هغے نه | نهرونه | هميشه به وي | په هغے كښې | هم دا ده | كاميابي | ډيره لويه

چه لاندے تر ے نهرونه بهيږي (او) په هغے كښې به تاسو هميشه اوسيږئ او هم دا ډيره لويه كاميابي ده

يَوْمَ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالْمُنٰفِقٰتُ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوا

په هغه ورځ | چه وائي به | منافقان سړي | او منافقانے ښځے | هغه كسانو ته | چه ايمان ئے راوړے دے

په دغه ورځ به منافقان سړي او منافقانے ښځے مؤمنانو ته او وائي چه لږ مونږ ته انتظار اوكړئ

انْظُرُوْنَا نَقْتَبِسْ مِنْ نُّوْرِكُمْ ۚ قِيْلَ ارْجِعُوْا

انتظار او كړئ مونږ ته | چه مونږ (هم) رڼا واخلو | د رڼا ستاسو نه | او به ويل شي | واپس (لاړ) شئ

چه مونږ هم ستاسو د نور نه څه رڼا حاصل كړو (واخلو) نو هغوي ته به او ويل شي واپس (شاته) لاړ شئ

وَرَآءَكُمْ فَالْتَمِسُوْا نُوْرًا ؕ فَضُرِبَ بَيْنَهُمْ بِسُوْرٍ لَّهٗ

وروستو په شاتلو خپلو | نو اولټوئ | رڼا | پس اوبه وهلی شي | ددوی په مينځ کښی | يو ديوال | چه د هغې به

بيا (هلته) رڼا تلاش کړئ بيا به د هغوی تر مينځه يو ديوال او وهلے شي چه د هغې به

بَابٌ ؕ بَاطِنُهٗ فِيْهِ الرَّحْمَةُ وَظَاهِرُهٗ مِنْ قِبَلِهِ

(يوه) دروازه وی | دهغے دننه طرف | په هغې کښی به | رحمت وی | او بهر طرف د هغې | مخې طرف د هغې نه به

يوه دروازه وی چه د دننه طرف ته به ئے رحمت (جنت) وی او د بهر طرف ته به ئے

الْعَذَابُ ؕ يُنَادُوْنَهُمْ اَلَمْ نَكُنْ مَّعَكُمْ ؕ قَالُوْا بَلٰى

عذاب وی | هغوی به آواز کوی جوی (مؤمنانو ته) | (چه) آیا نه وو مونږ | تاسو سره | دوی به اووائی | ولے نه

مخامخ عذاب (جهنم) وی هغوی به دوی (مؤمنانو) ته آواز او کړی چه آیا مونږ (په دنیا کښی) تاسو سره نه وو (څه)؟ مؤمنان به

وَلٰكِنَّكُمْ فَتَنْتُمْ اَنْفُسَكُمْ وَتَرَبَّصْتُمْ وَارْتَبْتُمْ

ليکن تاسو | په فتنو کښی اچولی وو | ځانونه خپل | او تاسو انتظار کولو | او (پوخ) شک مو کولو

ورته او وائی چه ولے نه وئ ليکن تاسو پخپله خپل ځان په فتنه کښی واچولو او (مونږ په باره کښی مو د حوادثو) انتظار کولو

وَغَرَّتْكُمُ الْاَمَانِيُّ حَتّٰى جَآءَ اَمْرُ اللّٰهِ وَغَرَّكُمْ بِاللّٰهِ

او دهوکه کړی وئ تاسو | آرزوگانو | تر دے | چه راغے | حکم | د الله | او دهوکه کړی وئ تاسو | په الله باندے

او شک کښی پراته وئ او آرزوگانو دهوکه کړی وئ تر دے چه د الله حکم راغے او غټ دهوکه باز (شيطان)

الْغَرُوْرُ ۞ فَالْيَوْمَ لَا يُؤْخَذُ مِنْكُمْ فِدْيَةٌ وَّلَا مِنَ الَّذِيْنَ

دهوکه کوونکی | پس نن ورځ | و به نه اخستلے شي | تاسو نه | څه فديه | او نه | د هغه کسانو نه

د الله په باره کښی دهوکه کړئ نو پس نن به نه تاسو نه څه مالی فديه قبوله کړے شي او نه د کافرانو نه

كَفَرُوْا ؕ مَاْوٰىكُمُ النَّارُ ؕ هِيَ مَوْلٰىكُمْ ؕ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۞

چه کفر ئے کړے دے | ځائے ستاسو | اور دے | هم دا | ستاسو لائق دے | او ډير بد دے | ځائے د ورتلو

ستاسو ځائے اور دے هم هغه ستاسو لائق (ملګرے) دے او دا ډير خراب ځائے دے

اَلَمْ يَاْنِ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ لِذِكْرِ

آیا وخت نه دے راغلے | هغه کسانو ته | چه ایمان ئے راوړے دے | چه نرم شي | زړونه د هغوی | ذکر

آیا د مؤمنانو دپاره (اوس هم) هغه وخت نه دے راغلے چه د هغوی زړونه د الله ذکر (یاد) ته

اللّٰهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ ۙ وَلَا يَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ

د الله ته | او هغه څه ته | چه نازل شوی دی | د حق | ته | او نه دے وی هغوی | پشان د هغه کسانو

او کوم حق چه نازل شوے دے هغے ته نرم شي او هغوی (مؤمنان) د هغه چا پشان جوړ نشي

اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْاَمَدُ

چه ورکړے شوے دے هغوی ته | کتاب | مخکښے د دے نه | نو اوږده شوه | په هغوی باندے | موده

چه هغوی ته د دے نه مخکښے کتاب ورکړے شوے وو بيا په هغوی باندے اوږده موده تيره شوه

فَقَسَتْ قُلُوْبُهُمْ ؕ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿١٦﴾ اِعْلَمُوْٓا اَنَّ

نو سخت شول | زړونه دهغوی | او ډیر | دهغوی نه | نافرمان دی | پوهه شئ | په دے چه بیشکه

نو زړونه ئے سخت شول او ډیر په هغوی کښې (اوس هم) نافرمان دی (اے خلقو) ښه پوهه شئ چه

اللّٰهَ يُحْيِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ

الله | ژوندئ کوی | زمکه | پس | دمرگ دهغے | یقیناً | ښکاره کړی دی مونږ | تاسو ته

الله تعالیٰ زمکه دهغے دا وچیدو نه پس بیا ژوندئ (تازه) کوی یقیناً مونږ ستاسو دپاره (دخپل قدرت)

الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿١٧﴾ اِنَّ الْمُصَّدِّقِيْنَ وَالْمُصَّدِّقٰتِ

نخښے | دے دپاره چه تاسو | دعقل نه کار واخلئ | بیشکه | خیرات کوونکی سړی | او خیرات کوونکی ښځے

نخښے (صفا صفا) بیان کړی دی چه تاسو دعقل نه کار واخلئ یقیناً صدقه کوونکی سړی او صدقه کوونکے ښځے

وَاَقْرَضُوا اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا يُّضٰعَفُ لَهُمْ وَلَهُمْ

او (چه) ور کوی قرض | الله ته | قرض | ښه | زیات به کړے شی دا قرض | دپاره دهغوی | او دهغوی دپاره

او (هغه خوک چه) چه الله ته ئے ښه قرض ور کړے دے دهغوی دپاره به (دا صدقے) څو چنده زیات کړے شی

اَجْرٌ كَرِيْمٌ ﴿١٨﴾ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖٓ

اجر دے | عزتمند | او هغه کسان | چه ایمان ئے راوړے دے | په الله | او په پیغمبرانو دهغه

او ددوی دپاره دعزت اجر دے او چا چه په الله او دهغه په پیغمبرانو ایمان راوړے دے

اُولٰٓئِكَ هُمُ الصِّدِّيْقُوْنَ ۖ وَالشُّهَدَآءُ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ لَهُمْ

هم دغه خلق | دوی دی (پوره) رشتینے | او شهیدان (دی) | په نزد | درب خپل | دپاره دَ دوی

هم دغه خلق دخپل رب په نزد رشتنی او شهیدان دی دهغوی دپاره

اَجْرُهُمْ وَنُوْرُهُمْ ؕ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ

اجر دَ دوی | او رنړا دَ دوی ده | او هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | او دروغ ئے گڼلی دی | آیتونه زمونږ

خپل اجر او خپل نور دے او چا چه کفر کړے دے او زمونږ آیتونه ئے دروغ گڼلی دی

اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ﴿١٩﴾ ع اِعْلَمُوْٓا اَنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا

دغه خلق دی | دوزخ والا | پوهه شئ (په دے) چه بیشکه | ژوند | دنیوی

هغوی دوزخیان دی (په دے) ښهٔ پوهه شئ چه د دنیا دا ژوند خو هسے

لَعِبٌ وَّلَهْوٌ وَّزِيْنَةٌ وَّتَفَاخُرٌۢ بَيْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ

لوبے | او تماشه | او ښائست | او (په یو بل) فخر کول دی | په مینځ ستاسو کښې | او ډیر والے دے (په یو بل)

لوبه تماشه ده او (ظاهری) ښائست او په خپل مینځ کښې په یو بل باندے (ستاسو) فخر کول دی او مال

فِى الْاَمْوَالِ وَالْاَوْلَادِ ؕ كَمَثَلِ غَيْثٍ اَعْجَبَ الْكُفَّارَ

په مالونو | او په بچو کښې | پشان | د (هغه) باران | چه خوشحاله کړی | زمینداران

او اولاد د یو بل نه د ډیرولو کوشش دے. د دے مثال داسے دی لکه باران چه په هغے سره زرغون شوی څیزونه

نَبَاتُهٗ ثُمَّ يَهِيْجُ فَتَرٰىهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَكُوْنُ حُطَامًا ؕ

بوټی دهغے | بیا | هغه وچ شي | نوته وینے هغه | تک زیړ | بیا | شي هغه | ریزه ریزه (چوره)

زمیندارانوته ډیر ښه ښکاري بیا هغه اُوچ شي بیا ئے ته وینے چه تک زیړ پراته دي بیا هغه چوره چوره

وَفِي الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ۙ وَّمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانٌ ؕ

او په آخرت کښې | عذاب دے | ډیر سخت | او بخښنه ده | د طرفه د الله | او رضامندي

(ریزه ریزه) شي او په آخرت کښې (یو خوا) سخت عذاب دے او (بل خوا) د الله د طرف نه مغفرت او رضامندي ده

وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا مَتَاعُ الْغُرُوْرِ ﴿۲۰﴾ سَابِقُوْٓا اِلٰى مَغْفِرَةٍ

او نه دے | ژوند | دنیوي | مګر | سامان | د دهوکے | وړاندے شي دیو بل نه | بخښنے ته

او د دنیا ژوند خو تش د دهوکے سامان دے (اے بندګانو) د خپل رب مغفرت ته او هغه جنت ته

مِّنْ رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ۙ

د خپل رب (د طرفه) | او (هغه) جنت ته | چه د هغے پلنوالے | پشان د پلنوالي | د آسمان | او د زمکے دے

چه د هغے پلنوالے د آسمان او د زمکے برابر دے (هغے ته) دیو بل نه د مخکښے کیدو کوشش او کړئ

اُعِدَّتْ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ ؕ ذٰلِكَ

(چه) تیار کړے شوے دے | دپاره د هغه کسانو | چه ایمان ئے راوړے دے | په الله | او په پیغمبرانو د هغهٔ | دا دے

دا د هغه چا دپاره تیار شوے دے چه په الله او د هغه په رسولانو ئے ایمان راوړے دے دا

فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿۲۱﴾

فضل | د الله | (چه) ورکوي هغه دا | چا ته | چه او غواړي | او الله | خاوند د فضل دے | ډیر لوے

د الله فضل دے هغه ئے چه چا ته غواړي ورکوي ئے او الله د ډیر لوے فضل خاوند دے

مَآ اَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ اِلَّا

نه رسي | څه | مصیبت | په زمکه کښې | او نه ستاسو په نفسونو کښې | مګر

(اے خلقو) هر یو مصیبت چه په زمکه (دنیا) کښې او په تاسو راځي نو هغه ټول

فِيْ كِتٰبٍ مِّنْ قَبْلِ اَنْ نَّبْرَاَهَا ؕ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ

هغه لیکلے دي په یو کتاب کښې | مخکښے د دے نه | چه مونږ پیدا اکړو هغه | بیشکه | دا (کار) | په الله باندے

مخکښے د دے نه چه هغه مونږ پیدا اکړو په یو کتاب کښې لیکل شوے دے یقین او کړئ چه دا خبره الله ته

يَسِيْرٌ ﴿۲۲﴾ لِّكَيْلَا تَاْسَوْا عَلٰى مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوْا

ډیر آسان دے | دے دپاره چه تاسو خفه نشئ | په هغه څه | چه لاړل ستاسو نه | او (چه) خوشحاله نشئ

ډیره آسانه ده (دا دے دپاره تاسو ته وایو) چه تاسو نه کوم څیز لاړ رو (فوت شو) په هغے غم او نهٔ کړئ او څه چه

بِمَآ اٰتٰىكُمْ ؕ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُوْرِ ﴿۲۳﴾

په هغه څهٔ | چه در کړي دي الله تعالىٰ تاسو ته | او الله | نه خوښوي | هر ځان لوے ګنړونکے | فخر کوونکے

الله در کړي دي په هغے باندے غاوړه (مست) نشئ او الله تعالىٰ هیڅ یو غاوړه (تکبر کوونکی) (او) فخر کوونکی نه خوښوي

الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ وَيَأْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ ۗ وَمَنْ يَّتَوَلَّ

هغه کسان | چه بخل کوی | او حکم کوی | خلقو ته | د بخل | او څوک چه | مخ واړوی

(دا داسے خلق دی) چه پخپله هم بخل کوی او نورو خلقو ته هم د بخل سبق ورکوی او چا چه مخ واړولو (نو یاد ساتئ)

فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ۝ لَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلَنَا

نو بیشکه | الله | هم هغه دے | بے نیازه | ستائلے شوے | یقینا | مونږ رالیږلی دی | پیغمبران خپل

(چه) الله تعالیٰ هم د هر چا نه بے نیاز (بے پروا) دے (او) د صفتونو لائق دے حقیقت دا دے چه مونږ خپل پیغمبران

بِالْبَيِّنٰتِ وَاَنْزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتٰبَ وَالْمِيْزَانَ لِيَقُوْمَ

په ښکاره دلیلونو سره | او مونږ رالیږلے دے | د هغوی سره | کتاب | او تله | چه اودریږی

د ښکاره (واضح) نخښو سره رالیږلی دی او د هغوی سره مو کتاب او تله هم نازله کړه چه خلق

النَّاسُ بِالْقِسْطِ ۚ وَاَنْزَلْنَا الْحَدِيْدَ فِيْهِ بَاْسٌ شَدِيْدٌ

خلق | په انصاف | او پیدا کړے دے مونږ | اوسپنه | چه په هغے کښې دے | جنګ | سخت

په انصاف باندے قائم پاتے شی او مونږ اوسپنه راولیږله (پیدا کړه) چه په هغے کښې جنګی طاقت هم دے

وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللّٰهُ مَنْ يَّنْصُرُهٗ وَرُسُلَهٗ

او فائدے | د خلقو د پاره | او دے د پاره چه ښکاره کړی | الله | هغه څوک | چه مدد کوی د هغه | او د رسولانو د هغه

او د خلقو د پاره نور هم فائدے هم دی، او دا دے د پاره چه الله تعالیٰ هغه خلق ښکاره کړی چه بغیر د لیدلو د هغه (د دین)

بِالْغَيْبِ ۗ اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ عَزِيْزٌ ۝ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا ع

بے د لیدلو نه | بیشکه | الله دے | ډیر طاقتور | ډیر زورور | او یقینًا | مونږ لیږلی وو | نوح

او د هغه د پیغمبرانو مدد کوی یقین او کړئ چه الله تعالیٰ ډیر طاقتور ډیر زورور (غالب) دے او یقینًا مونږ نوح

وَّاِبْرٰهِيْمَ وَجَعَلْنَا فِيْ ذُرِّيَّتِهِمَا النُّبُوَّةَ وَالْكِتٰبَ

او ابراهیم | او مونږ جاری کړے وه | په اولاد د دوی کښې | پیغمبری | او کتاب

او ابراهیم (پیغمبران) راولیږل او د هغوی اولاد کښې مو د پیغمبرئ او د کتاب سلسله جاری کړه

فَمِنْهُمْ مُّهْتَدٍ ۚ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ۝ ثُمَّ قَفَّيْنَا

پس بعضے د هغوی نه | سمه لار موندونکی وو | او ډیر | د هغوی نه | نافرمان وو | بیا | مونږ پرله پسے راولیږل

(نو) بیا بعضے په هغوی کښې په هدایت راغلل او ډیر پکښې نافرمانه شول بیا مونږ په هغوی پسے هم

عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ بِرُسُلِنَا وَقَفَّيْنَا بِعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ

روستو په هغوی پسے | (نور) پیغمبران خپل | او ورپسے راولیږلو مونږ | عیسیٰ | ځوئے | د مریم

د هغوی په نقش قدم (پرله پسے) نور ډیر پیغمبران رواولیږل او په هغوی پسے مو عیسیٰ بن مریم راولیږلو

وَاٰتَيْنٰهُ الْاِنْجِيْلَ ۙ وَجَعَلْنَا فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ

او ورکړو مونږ هغه ته | انجیل | او مونږ واچوله | په زړونو | د هغه کسانو کښې

او هغه له مو انجیل ورکړو او څوک چه د هغه په لار روان شول نو د هغوی په زړونو کښې مو نرمی

اتَّبَعُوهُ رَأْفَةً وَّرَحْمَةً ۗ وَرَهْبَانِيَّةَ ابْتَدَعُوهَا

چه روان وو په هغه پسے | نرمي | او مهرباني | او رهبانيت | دځان نه جوړه کړه هغوی دا طريقه

او مهرباني (رحمدلي) پيدا کړه او رهبانيت خو هغوی پخپله ايجاد (جوړ) کړے وو

مَا كَتَبْنٰهَا عَلَيْهِمْ اِلَّا ابْتِغَآءَ رِضْوَانِ اللّٰهِ

نه وو فرض کړے مونږ دا (رهبانيت) | په هغوی باندے | مګر | تلاش کول | د رضاء | د الله

مونږ پرے نه وو فرض کړے مګر هغوی دالله د رضاء د حاصلولو دپاره (پخپله ايجاد کړو) خو بيا ئے

فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا ۚ فَاٰتَيْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

پس هغوی (لحاظ) اونهٔ ساتلو دهغے | پوره | لحاظ ساتل دهغے | پس ورکړو مونږ | هغه کسانو ته | چه ايمان ئے راوړو

دهغے دا سے خيال اونهٔ ساتلے شو څنګه چه دهغے حق وو الغرض (بيا چه) چا چه په هغوی کښې ايمان راوړے وو

مِنْهُمْ اَجْرَهُمْ ۚ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿٢٧﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا

دهغوی نه | اجر دهغوی | او ډير | دهغوی نه | نافرمان وو | اے هغه کسانو چه ايمان مو راوړے دے

هغوی ته مونږ دهغوی (خپل) اجر ورکړو او ډير په هغوی کښې نافرمانه پاتے شول اے مؤمنانو!

اتَّقُوا اللّٰهَ وَاٰمِنُوْا بِرَسُوْلِهٖ يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِنْ رَّحْمَتِهٖ

اوويريږئ | دالله نه | او ايمان راوړئ | په پيغمبر دهغه | دربه کړي هغه تاسو ته | دوه برخے | د رحمت خپل نه

دالله نه اوويريږئ او دهغه په رسول ايمان راوړئ هغه (الله) به تاسو ته د خپل رحمت دوه حصے درکړي

وَيَجْعَلْ لَّكُمْ نُوْرًا تَمْشُوْنَ بِهٖ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۗ وَاللّٰهُ

او جوړه به کړي | تاسو دپاره | رڼړا | چه تاسو به ګرځئ | په هغے سره | او بخښنه به اوکړي | تاسو ته | او الله دے

او هغه رڼړا به درله پيدا (جوړه) کړي چه په هغے کښې به تاسو ګرځئ او بخښنه به درته اوکړي ځکه هغه

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٢٨﴾ لِّئَلَّا يَعْلَمَ اَهْلُ الْكِتٰبِ اَلَّا يَقْدِرُوْنَ

ډير بخښونکے | ډير مهربان | دے دپاره | چه پوهه شي | اهل كتاب | چه دوي قدرت نه لري

بخښنه کوونکے او مهربان ذات دے (دا دے دپاره) چه اهل کتاب و ته پته اولګي چه دالله په فضل کښې هغوی

عَلٰى شَيْءٍ مِّنْ فَضْلِ اللّٰهِ وَاَنَّ الْفَضْلَ بِيَدِ اللّٰهِ

په هيڅ يو څيز | د فضل | دالله نه | او (دا) چه بيشکه | فضل | په لاس | دالله کښې دے

د هيڅ څيز اختيار نه لري او دا چه فضل (خو ټول) صرف د الله په لاس کښې دے هغه ئے چه

يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ ۗ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿٢٩﴾ ع

هغه ورکوي دا (فضل) | چا ته | چه (ئے) اوغواړي | او الله | خاوند د فضل دے | ډير لوے |

چا له اوغواړي ورکوي ئے او الله تعالیٰ د ډير لوے فضل مالک دے

آیاتها [۲۲]	سورة المجادلة مدنیّة	رکوعاتها [۳]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّتِيْ تُجَادِلُكَ فِيْ زَوْجِهَا

یقینًا | واوریدله | الله | خبره | دهغه (زنانه) | چه جګړه ئے کوله تاسره | په باره دخپل خاوند کښ

اے نبی! الله تعالیٰ د هغه زنانه خبره واوریدله چه د خپل خاوند په باره کښ ئے تاسره بحث کولو

وَتَشْتَكِيْٓ اِلَى اللّٰهِ ۖ وَاللّٰهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَا ؕ اِنَّ اللّٰهَ

اوشکایت ئے کولو | الله ته | او الله | اوریدلے | خبرے اترے ستاسو دواړو | بیشکه | الله دے

او الله تعالیٰ ته ئے فریاد کولو او الله تعالیٰ ستاسو د دواړو خبرے اترے اوریدلے یقینًا الله تعالیٰ

سَمِيْعٌۢ بَصِيْرٌ ﴿١﴾ اَلَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْكُمْ مِّنْ نِّسَآئِهِمْ

ښه اوریدونکے | ښه لیدونکے | هغه کسان | چه ظهار کوی | ستاسو نه | د خپلو ښځو سره

د هر څه اوریدونکے هر څه لیدونکے دے په تاسو کښ چه کوم خلق د خپلو ښځو سره ظهار کوی

مَا هُنَّ اُمَّهٰتِهِمْ ؕ اِنْ اُمَّهٰتُهُمْ اِلَّا الّٰٓـِٔيْ وَلَدْنَهُمْ ؕ

(لو) نه دی دوی | میندے دهغوی | نه دی میندے دهغوی | مګر | هغه (زنانه) | چه زیږولی ئے دی دوی لره

(نو په ظهار سره) هغوی (ښځے) د دوی میندے کیږی نه، د دوی میندے خو صرف هغه دی چه دوی ئے زیږولی دی

وَاِنَّهُمْ لَيَقُوْلُوْنَ مُنْكَرًا مِّنَ الْقَوْلِ وَزُوْرًا ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ

او بیشکه دوی | خامخا وائی | بده | خبره | او دروغ (خبره) | او بیشکه | الله دے

او حقیقت دا دے چه دا خلق (شرعًا او عقلًا) ډیره نامناسبه او د حقیقت نه خلاف خبره کوی او الله تعالیٰ

لَعَفُوٌّ غَفُوْرٌ ﴿٢﴾ وَالَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْ نِّسَآئِهِمْ ثُمَّ

خامخا ډیر معاف کوونکے | ډیر بخښونکے | او هغه کسان | چه ظهار کوی | د خپلو ښځو سره | بیا

ډیر معاف کوونکے ډیر بخښونکے دے او کوم خلق چه خپلو ښځو سره ظهار کوی او بیا

يَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مِّنْ قَبْلِ

واپس کیږی | (ما تولود) هغه خبرے ته | چه دوی ویلی ده | نو آزادول | د یو غلام دی | مخکښے د دے نه

د خپلے خبرے نه رجوع کول غواړی نو په هغوی باندے یو بل ته د لاس وروړلو نه مخکښے مخکښے یو غلام آزادول لازم دی

اَنْ يَّتَمَآسَّا ؕ ذٰلِكُمْ تُوْعَظُوْنَ بِهٖ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

چه لاس وروړی دوی دواړه یو بل ته | دا هغه خبره ده | چه نصیحت کولے شی تاسو ته | په دے سره | او الله | په هغه څه | چه تاسو ئے کوئ

(اے مسلمانانو) تاسو ته د دے خبرے نصیحت کیږی او تاسو چه څه کوئ الله تعالیٰ د هغے نه پوره

خَبِيْرٌ ۳ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ

پوره خبردار دے | پس څوک | چه نه مومي (طاقت) | نو روژے نیول دي | دوه میاشتے | پرله پسے

خبردار دے بیا چه څوک غلام نه مومي نو یو بل ته د لاس وروړلو نه مخکښے مخکښے په هغه باندے دوه میاشتے پرله پسے

مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا ۚ فَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَاِطْعَامُ سِتِّيْنَ

مخکښے د دے نه چه لاس وروړي خوا و یو بل ته | پس څوک | چه وس نه لري (د روژے) | نو خوراک ور کول دي | شپیته

روژے نیول (لازم) دي بیا چه څوک د دے (روژو) هم طاقت نه لري نو په هغه باندے شپیتو مسکینانو ته خوراک ور کول

مِسْكِيْنًا ؕ ذٰلِكَ لِتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ؕ وَتِلْكَ حُدُوْدُ

مسکینانو ته | دا | د دے د پاره چه ایمان راوړئ تاسو | په الله | او په رسول د هغهٔ | او دغه دي | حدونه (پولے)

(لازم) دي دا حکم څکه (اوشو) چه تاسو په الله او د هغه په رسول ایمان راوړئ او دغه د الله تعالی پولے (حدونه) دي

اللّٰهِ ؕ وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۴ اِنَّ الَّذِيْنَ يُحَآدُّوْنَ اللّٰهَ

د الله | او د کافرانو د پاره دے | عذاب | دردناک | بیشکه | هغه کسان | چه خلاف کوي | د الله

او د کافرانو د پاره دردناک عذاب دے یقین او کړئ چه کوم خلق د الله او د هغه د رسول مخالفت کوي

وَرَسُوْلَهٗ كُبِتُوْا كَمَا كُبِتَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ

او د رسول د هغهٔ نه | ذلیله کړے شوي دي | لکه څنګه چه | ذلیله کړے شوي وو | هغه کسان | چه مخکښے د دوی نه وو

هغوی به هم د اسے ذلیله شي لکه څنګه چه د هغوی نه مخکښے (پخواني) خلق ذلیله شوي وو

وَقَدْ اَنْزَلْنَآ اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ ؕ وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ۵

او یقینًا | مونږ رالیږلي دي | آیتونه | واضحه | او د کافرانو د پاره دے | عذاب | سپکوونکے

او مونږ (خو) واضحه آیتونه رالیږلي دي او د کافرانو د پاره رسوا کوونکے عذاب دے

يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ جَمِيْعًا فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا ؕ

په هغه ورځ | چه راپا به څوي دوی لره | الله | ټول | نو خبر به ور کړي دوی ته | په هغه څه | چه دوی کړي دي

په هغه ورځ چه الله تعالی به دا ټول بیا راژوندي کړي نو څه چه دوی کړي دي هغه ټول به ورته الله ښکاره کړي

اَحْصٰىهُ اللّٰهُ وَنَسُوْهُ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ۶ ع

راګیر کړي دي هغه | الله | او هېر کړي دي دوی هغه | او الله دے | په هر یو څیز باندے | ګواه (حاضر)

دغه ټول (کارونه) الله تعالی شمار (سنبال) ساتلي دي او دوی هېر کړي دي او الله تعالی په هر څیز ګواه او عالِم دے

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ

آیا ته نه ګورے | چه بیشکه | الله | پوهیږي | په هغه څه | چه په آسمانونو کښې دي | او په هغه څه | چه زمکه کښې دي

آیا تا غور نه دے کړے چه په آسمانونو او زمکه کښې چه څه دي هغه ټول الله تعالی ته معلوم دي

مَا يَكُوْنُ مِنْ نَّجْوٰى ثَلٰثَةٍ اِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ وَلَا خَمْسَةٍ

نه کیږي | یوه جرګه (پټه مشوره) | د دریو کسانو | مګر | هغه | څلورم د دوی وي | او نه د پنځو کسانو

کله هم په دریو کسانو کښې هیڅ پټه جرګه نه کیږي مګر څلورم پکښې الله په اعتبار د خپل علم سره موجود وي او نه په پنځو

إِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ وَلَآ أَدْنٰى مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ أَكْثَرَ إِلَّا هُوَ

مګر | هغه | شپږم د دوی وي | او نه کم | د دې نه | او نه زیات | مګر | هغه

کسانو کښې په جرګه کېږي مګر شپږم ورسره الله موجود وي او نه د دې نه د کمو کسانو او نه د زیاتو په جرګه (دا سې کېږي)

مَعَهُمْ أَيْنَ مَا كَانُوا ۚ ثُمَّ يُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوا

د دوی سره وي | چرته هم | چه وي دوی | بیا به | هغه (الله) خبر ورکړي دوی ته | په هغه څه | چه دوی کړي دي

مګر الله د دوی سره وي چرته هم چه دوی وي بیا به الله د قیامت په ورځ دوی ته او ښائي

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۗ إِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ۝ أَلَمْ تَرَ

په ورځ | د قیامت | بیشکه | الله دے | په هر یو | څیز باندې | ښه پوهه | آیا ته نه ګورې

چه دوی څه کړي وو یقیناً الله تعالیٰ په هر څیز باندې پوره علم لري آیا ته د هغه کسانو حالتِ عجیبه ته نه ګورې

إِلَى الَّذِينَ نُهُوا عَنِ النَّجْوٰى ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا

هغه کسانو ته | چه منع کړې شوي دي | د پټو مشورو (جرګو) نه | بیا | دوی واپس کېږي | هغه څه ته

چه هغوی د پټو جرګو نه منع کړي شوي وو بیا هم هغه څه کوي چه د څه نه

نُهُوا عَنْهُ وَيَتَنٰجَوْنَ بِالْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَتِ

چه منع کړې شوي دي | د هغې نه | او پټې مشورې کوي | د ګناه | او د زیاتي | او د نافرمانۍ

منع کړي شوي وو؟ او د یو بل سره د ګناه او د ظلم او د پیغمبر د نافرمانۍ جرګې کوي

الرَّسُولِ ۫ وَإِذَا جَآءُوكَ حَيَّوْكَ بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ

د پیغمبر | او کله چه | راشي دوی تا ته | نو سلام کوي تا ته | په هغه (الفاظو) | چه سلام نه دے کړے تا ته | په هغې سره

او (اے نبي) کله چه دوی ستا خوا له راشي نو تا ته په داسې طریقه سلام کوي چه په هغه طریقه الله تا ته سلام نه دے کړے

اللّٰهُ ۙ وَيَقُولُونَ فِيٓ أَنْفُسِهِمْ لَوْلَا يُعَذِّبُنَا اللّٰهُ بِمَا

الله | او وائي دوی | په خپلو زړونو کښې | ولې عذاب نه راکوي مونږ ته | الله | په هغه (خبرو)

او په خپلو زړونو کښې وائي چه الله تعالیٰ مونږ له زمونږ په ویناګانو (خبرو) عذاب ولې نه راکوي؟

نَقُولُ ۗ حَسْبُهُمْ جَهَنَّمُ ۚ يَصْلَوْنَهَا ۚ فَبِئْسَ الْمَصِيرُ ۝۸

چه مونږ یې وائیو | کافي دے د دوی د پاره | دوزخ | ورننوځي به دوی هغې ته | پس ډیر بد | ځائے دے (هغه)

د دوی د پاره هم دوزخ کافي دے دوی به هم هغې ته داخلیږي او هغه ډیر خراب (بد) ځائے دے

يٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوٓا إِذَا تَنَاجَيْتُمْ فَلَا تَتَنَاجَوْا بِالْإِثْمِ

اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | کله چه | جرګه کوئ تاسو | نو جرګه مه کوئ | د ګناه

اے مؤمنانو کله چه تاسو په خپل مینځ کښې (یو بل سره) پټې جرګې کوئ نو د ګناه

وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَتِ الرَّسُولِ وَتَنَاجَوْا بِالْبِرِّ وَالتَّقْوٰى ۗ

او د زیاتي | او د نافرمانۍ | د پیغمبر | او (بلکه) جرګه کوئ | د نیکۍ | او د تقوىٰ

او د ظلم او د پیغمبر د نافرمانۍ جرګې مه کوئ بلکه مخلوقِ خدا سره د ښیګړې کولو او د حقوق الله د ادائیګۍ جرګې کوئ

وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْٓ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿٩﴾ اِنَّمَا النَّجْوٰى

او ویریږئ | د الله نه | هغه (الله) | چه د هغه طرف ته به | تاسو راجمع کول شئ | بیشکه | (دا سے) پټے جرگے

او د هغه الله نه ویریږئ چه هغهٔ ته به تاسو ټول ورجمع کیږئ یقیناً دا سے جرگے

مِنَ الشَّيْطٰنِ لِيَحْزُنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَيْسَ

د شیطان (د وسوسے په وجه) نه وی | د دے دپاره چه هغه غمژن کړی | هغه کسان | چه ایمان ئے راوړے دے | او نه دے هغه

خو د شیطان حرکت دے چه هغه (په دے سره) مومنان غمژن کړی حالانکه هغه

بِضَآرِّهِمْ شَيْـًٔا اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ

نقصان رسوونکے هغوی ته | هیڅ هم | مګر | په حکم | د الله | او خاص په الله دے | چه توکل وکړی

د الله تعالیٰ د حکم نه بغیر مومنانو ته هیڅ نقصان نشی رسولے او مومنانو له پکار دی چه بس

الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿١٠﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا قِيْلَ لَكُمْ تَفَسَّحُوْا

مؤمنان | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | کله چه | او وئیل شی | تاسو ته | (چه) فراخی اوکړئ

په الله توکل اوکړی اے مومنانو! کله چه درته او وئیل شی چه په مجلس کښې یو بل ته ځائے پریږدئ

فِى الْمَجٰلِسِ فَافْسَحُوْا يَفْسَحِ اللّٰهُ لَكُمْ ۚ وَاِذَا قِيْلَ

په مجلسونو کښې | نو فراخی اوکړئ | فراخی به راولی | الله | تاسو دپاره | او کله چه | او وئیل شی

نو تاسو ځائے پریږدئ الله تعالیٰ به درله وسعت پیدا کړی او کله چه (درته) او وئیل شی

انْشُزُوْا فَانْشُزُوْا يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ ۙ

چه پاڅئ (د خپل ځائی نه) | نو پاڅئ | او چتوی | الله | هغه کسانو له | چه ایمان ئے راوړے دے | ستاسو نه

چه ځئ (پاڅئ) نو بیا ځئ (پاڅئ) په تاسو کښې چه چا ایمان راوړے دے

وَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

او هغه کسانو له | چه ورکړے شوی دے هغوی ته | علم | په ډیرو درجو سره | او الله | په هغه څه | چه تاسو ئے کوئ

او چا ته چه علم ورکړے شوے دے الله تعالیٰ هغوی په ډیرو درجو سره پورته کړی دی الله تعالیٰ ستاسو د عملونو (کارونو) نه

خَبِيْرٌ ﴿١١﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا نَاجَيْتُمُ الرَّسُوْلَ فَقَدِّمُوْا

ښه خبردار دے | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | کله چه | جرگه کوئ تاسو | د پیغمبر سره | نو وړاندے ئے کړئ

پوره خبردار دے اے مؤمنانو! کله چه تاسو د پیغمبر سره څه پټه جرگه (مشوره) کوئ نو د خپلو

بَيْنَ يَدَيْ نَجْوٰىكُمْ صَدَقَةً ؕ ذٰلِكَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَاَطْهَرُ ؕ

مخکښے | د جرگے خپلے نه | څه خیرات | دا | ډیره غوره ده | ستاسو دپاره | او ډیره پاکونکے ده

پټو جرگو (مشورو) نه مخکښے څه صدقه ورکوئ دا ستاسو دپاره ډیره غوره او ډیره پاکیزه طریقه ده

فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٢﴾ ءَاَشْفَقْتُمْ

بیا که چرے او نه مومئ تاسو (د دے طاقت) | نو بیشکه | الله دے | ډیر بخښونکے | ډیر مهربان | آیا تاسو ویریږئ

او که (بیا) تاسو څه نه مومئ نو یقیناً الله تعالیٰ ډیر بخښونکے ډیر مهربان دے آیا تاسو د دے خبرے نه ویریږئ

أَنْ تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيْ نَجْوٰىكُمْ صَدَقٰتٍ ۚ فَإِذْ

دا چې | مخکښې | د جرګو خپلو نه | خيرات لره | پس (نو) کله چه | د دې نه | چه ور الله دې ور کړئ
چه د خپلو پټو جرګو (مشورو) نه مخکښې څۀ صدقې ور کړئ ؟ بيا چه تاسو

لَمْ تَفْعَلُوا وَتَابَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ فَأَقِيمُوا الصَّلٰوةَ وَآتُوا

اونه کړو تاسو (داکار) | او معافي اوکړه | الله | تاسو ته | نو قائم کړئ | مونځ | او ور کړئ
دا کار اونه کړے شو او الله تعالیٰ در ته معافي اوکړه نو د مانځه پابندي کوئ او زکات ور کوئ

الزَّكٰوةَ وَأَطِيعُوا اللّٰهَ وَرَسُولَهُ ۚ وَاللّٰهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٣﴾ ع

زکات | او خبره او منئ | د الله | او د رسول د هغه | او الله دے | ښۀ خبردار | په هغه څه | چه تاسو ئے کوئ
او د الله او د هغه د پيغمبر خبره (حکم) منئ او تاسو چه څه کار کوئ الله تعالیٰ د هغې نه پوره خبردار دے

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ تَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ

آيا تۀ نۀ کورے | هغه کسانو ته | چه دوستي کوي | د (هغه) قوم سره | چه غضب کړے دے | الله | په هغوي باندے
آيا تا هغه کسان نه دي ليدلي چه داسے قوم (خلقو) سره دوستي کوئ چه په هغوي باندے الله غضب کړے دے

مَا هُمْ مِنْكُمْ وَلَا مِنْهُمْ وَيَحْلِفُونَ عَلَى الْكَذِبِ وَهُمْ

نه دي دوي | ستاسو نه | او نه د هغوي نه | او قسمونه خوري دوي | په | دروغو باندے | او دوي
دوي خو نه ستاسو ملګري دي او نه د هغوي او سره د پوهے په دروغه قسمونه خوري

يَعْلَمُونَ ﴿١٤﴾ أَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا ۖ إِنَّهُمْ

پوهيږي | تيار کړے دے | الله | د دوي دپاره | عذاب | ډير سخت | بيشکه دوي
الله تعالیٰ د دوي دپاره ډير سخت عذاب تيار کړے دے يقيناً

سَاءَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٥﴾ اتَّخَذُوا أَيْمَانَهُمْ جُنَّةً

ډير بد دي | هغه څه | چه دوي ئے | کوي | جوړ کړي دي دوي | قسمونه خپل | ډال
دوي چه څه کوي ډير بد (غلط) دي دوي خپل قسمونه ځان دپاره ډال (جوړ) کړے دے

فَصَدُّوا عَنْ سَبِيلِ اللّٰهِ فَلَهُمْ عَذَابٌ مُهِينٌ ﴿١٦﴾

پس منع کوي خلق | د | لارے | د الله نه | پس د دوي دپاره | عذاب دے | سپکوونکے
او خلق د الله د لارے نه منع کوي ځکه خو دوي دپاره سپکوونکے عذاب دے

لَنْ تُغْنِيَ عَنْهُمْ أَمْوَالُهُمْ وَلَا أَوْلَادُهُمْ مِنَ اللّٰهِ شَيْئًا ۚ

هيڅ کله به لرے نه کړي | د دوي نه | مالونه | او نۀ اولاد د دوي | د الله (د عذاب) نه | څه څيز
د دوي مال او اولاد به د الله په مقابله کښې د دوي هيڅ پکار رانشي

أُولٰئِكَ أَصْحٰبُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خٰلِدُونَ ﴿١٧﴾ يَوْمَ

دغه خلق | اور والا دي | دوي به | په دے (اور) کښې | هميشه وي | په کومه ورځ به چه
دا خلق دوزخيان دي دوي به په هغے کښې هميشه اوسيږي په کومه ورځ به چه الله دوي ټول

يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ جَمِيْعًا فَيَحْلِفُوْنَ لَهٗ كَمَا يَحْلِفُوْنَ لَكُمْ

راپاڅوي چې دوی لره | الله | ټول | نو قسمونه به خوري | هغه ته | لکه څنګه چه | قسمونه خوري چې | تاسو ته

راپاڅوي نو د الله په مخکښې به هم دا سې قسمونه خوري لکه څنګه چه ستاسو په مخکښې قسمونه خوري

وَيَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ عَلٰى شَيْءٍ ؕ اَلَآ اِنَّهُمْ هُمُ

او ګمان کوي دوی | چه بیشکه دوی دي | په څه څیز (فائده مند) باندے | خبردار (واورئ) | بیشکه | هم دوی دي

او دا خیال به کوی چه دوی په څه بنیاد (لګیا) دي . خبر شئ چه یقیناً دوی دروغژن دي۔

الْكٰذِبُوْنَ ۝١٨ اِسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطٰنُ فَاَنْسٰىهُمْ ذِكْرَ

دروغژن | غالب شوے دے | په دوی باندے | شیطان | نو هیر کړے ئے دے دوی نه | یاد

شیطان په دوي باندے قابو موندلے دے (مسلط شوے دے) نو دوی نه ئے د الله یاد هیر کړے دے

اللّٰهِ ؕ اُولٰٓئِكَ حِزْبُ الشَّيْطٰنِ ؕ اَلَآ اِنَّ حِزْبَ الشَّيْطٰنِ

د الله | دغه خلق | دله | د شیطان ده | خبردار | بیشکه | دله | د شیطان

هم دا د شیطان دله ده یاد ساتئ هم د شیطان دله تاوانی ده

هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ۝١٩ اِنَّ الَّذِيْنَ يُحَآدُّوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗٓ اُولٰٓئِكَ

هم هغوی دي | تاوانیان | بیشکه | هغه کسان | چه مخالفت کوی | د الله | او د رسول د هغهٔ | هم دغه خلق دي

یقیناً کوم خلق چه د الله او د هغه د رسول مخالفت کوی هم دوی

فِى الْاَذَلِّيْنَ ۝٢٠ كَتَبَ اللّٰهُ لَاَغْلِبَنَّ اَنَا وَرُسُلِيْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

په ډیر ذلیله خلقو کښې | لیکلی دی | الله | (چه) خامخا غالب کیږم به | زهٔ | او پیغمبران زما | بیشکه | الله دے

په ذلیله خلقو کښې شامل دي الله تعالی دا خبره لیکلے ده چه زه او زما پیغمبران به ضرور غالب کیږو یقیناً

قَوِيٌّ عَزِيْزٌ ۝٢١ لَا تَجِدُ قَوْمًا يُّؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ

ډیر طاقتور | ډیر زورور | ته به اونهٔ مومے | (داسے) یو قوم | چه ایمان راوړي | په الله | او په ورځ | روستنۍ

الله تعالی ډیر طاقتور ډیر غالب دے څوک چه په الله او د آخرت په ورځ ایمان لري ته به هیڅ کله دوی

يُوَآدُّوْنَ مَنْ حَآدَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَوْ كَانُوْٓا

چه (هغوی) په دوستی کوی | د هغه چا سره | چه مخالفت کوی | د الله | او د رسول د هغهٔ | اګرچه | وی دوی

د هغه چا سره په دوستانه کولو اونهٔ ګورے څوک چه د الله او د هغه د رسول مخالفت کوی اګر کهٔ دوي د هغوی

اٰبَآءَهُمْ اَوْ اَبْنَآءَهُمْ اَوْ اِخْوَانَهُمْ اَوْ عَشِيْرَتَهُمْ ؕ اُولٰٓئِكَ

پلاران د هغوی | یا ځامن د هغوی | یا ورونړه د هغوی | یا قبیله (خپلوان) د هغوی | دغه خلق دي

پلاران یا ځامن یا ورونړه یا خاندان والا وی هم دا هغه خلق دي

كَتَبَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الْاِيْمَانَ وَاَيَّدَهُمْ بِرُوْحٍ مِّنْهُ ؕ

چه لیکلے دے الله | په زړونو د دوی کښې | ایمان | او مضبوط کړے ئے دي | په روح سره | د خپل طرف نه

چه الله تعالی د دوی په زړونو کښې د ایمان نور لیکلے دے او په خپل روح سره ئے دوی مضبوط کړي دي

وَيُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ

او داخل به کړي دوی لره | (داسې) جنتونو ته | چه بهیږي (په) | لاندې دهغې نه | نهرونه | همیشه به وي دوی

او الله به دوی داسې جنتونو ته داخل کړي چه دهغې د لاندې (په) نهرونه بهیږي هلته به دوی

فِيْهَا ۗ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ۗ اُولٰٓئِكَ حِزْبُ

په هغې کښې | راضي دے | الله | دَ دوی نه | راضي دي دوی | دهغه (الله) نه | دغه ده | ډله

همیشه اوسیږي الله دَ دوی نه راضي دے او دوی د الله نه راضي شوي دي دا د الله

اللّٰهِ ۗ اَلَآ اِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿٢٢﴾ ع

د الله | خبردار | بیشکه | ډله | د الله | هم دوی دي | کامیاب

ډله ده یاد ساتئ (خبردار) چه هم د الله ډله کامیاب ده.

آیاتها [٢٤]	سورة الحشر مدنيّة	رکوعاتها [٣]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کولکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد دَ نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم.

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۚ وَهُوَ

پاکي بیانوي | د الله | هغه څه | چه په آسمانونو کښې دي | او هغه څه | چه په زمکه کښې دي | او هغه دے

په آسمانونو او زمکه کښې چه څه دي هغه ټول د الله تعالیٰ پاکي وائي او هغه

الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿١﴾ هُوَ الَّذِيْٓ اَخْرَجَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

ډیر زورور | ډیر حکمت والا | هم الله هغه (ذات) دے | چه راوویستل | هغه کسان | چه کفر ئې کړیدے

ډیر غالب ډیر حکمت والا دے (اے مسلمانانو) هم الله هغه (ذات) دے چه کافر اهل کتاب ئې

مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ مِنْ دِيَارِهِمْ لِاَوَّلِ الْحَشْرِ ۗ مَا ظَنَنْتُمْ

د اهل کتابو نه | د (خپلو) کورونو نه | په اول ځل | راغونډولو سره | گمان نه وو کړے تاسو

په وړومبي ځل (راغونډولو سره) د خپلو کورونو نه راوویستل ستاسو خو دا خیال هم نهٔ وو

اَنْ يَّخْرُجُوْا وَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ مَّانِعَتُهُمْ حُصُوْنُهُمْ

چه راوبه وځي دوی | او گمان کړے وو دوی | (چه) بیشکه دوی | بچ کوونکي دي دوی لره | قلاګانې دَ دوی

چه دوی به راووځي او دوی پخپله هم دا خیال کولو چه دَ دوی قلاګانې به دوی د الله د عذاب نه بچ کړي

مِّنَ اللّٰهِ فَاَتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ حَيْثُ لَمْ يَحْتَسِبُوْا ۗ

د الله نه | نو راغے دوی ته | الله | د داسې ځائے نه | چه دوی (ئې) گمان (هم) نه وو کړے

بیا د الله (عذاب) ورباندې د داسې ځائے (طرف) نه راغے چه دَ دوی په گمان کښې هم نهٔ وو

وَقَذَفَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الرُّعْبَ يُخْرِبُوْنَ بُيُوْتَهُمْ بِاَيْدِيْهِمْ

اواوغورځولو هغه (الله) | په زړونو ددوی کښې | رعب | ورانول دوی | کورونه خپل | په لاسونو خپلو

او الله ددوی په زړونو کښې (داسې) رعب واچولو چه خپل کورونه ئې پخپله په خپل لاسونو

وَاَيْدِي الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ فَاعْتَبِرُوْا يٰۤاُولِي الْاَبْصَارِ ۝٢ وَلَوْلَاۤ اَنْ

او په لاسونو | د مومنانو | پس عبرت واخلئ | اے عقل والو! | او که چرے نه وے (داخبره)

او د مسلمانانو په لاسونو ورانول نو اے د سترګو خاوندانو (عقل مندو) عبرت واخلئ او که چرے

كَتَبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمُ الْجَلَآءَ لَعَذَّبَهُمْ فِي الدُّنْيَا ؕ

چه لیکلې دی | الله | په دوی باندے | شړل د خپل وطن نه | نو خامخا به ئې سزا ورکړے وه دوی ته | په دنیا کښې

الله تعالی ددوی په حقله د جلا وطنئ (فیصله) نه وے لیکلے نو دوی ته به ئې هم په دنیا کښې عذاب ورکړے وو

وَلَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ عَذَابُ النَّارِ ۝٣ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ شَآقُّوا

او ددوی دپاره | په آخرت کښې | عذاب | د اور دے | دا ځکه چه | بیشکه دوی | مخالفت کړے وو

او په آخرت کښې دوی دپاره د اور عذاب (تیار) دے دا ځکه چه دوی د الله او د هغه د رسول

اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ۚ وَمَنْ يُّشَآقِّ اللّٰهَ فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ

د الله | او د رسول د هغهٔ نه | او څوک | چه مخالفت کوی | د الله نه | نو بیشکه | الله دے | سخت

مخالفت (دشمنی) کړے ده او څوک (هم) چه د الله تعالی مخالفت کوی نو الله تعالی ډیر سخت عذاب

الْعِقَابِ ۝٤ مَا قَطَعْتُمْ مِّنْ لِّيْنَةٍ اَوْ تَرَكْتُمُوْهَا قَآئِمَةً

عذاب ورکوونکے | هغه | چه تاسو پرے کړی دی | څه ونې د قجورے | یا تاسو پریخودل دی هغه | ولاړے

ورکوونکے دے (اے مسلمانانو!) تاسو چه کومے د کجورو ونے پریکړے یا مو په خپلو جړړو باندے

عَلٰۤى اُصُوْلِهَا فَبِاِذْنِ اللّٰهِ وَلِيُخْزِيَ الْفٰسِقِيْنَ ۝٥ وَمَاۤ

په خپلو بیخونو باندے | نو (داوو) په حکم | د الله | او (دد ے دپاره) چه هغه رسوا کړی | نافرمان خلق | او هغه څه

ولاړے پریخودلے نو دا د الله په حکم سره وو او (مقصد پکښې دا وو) چه د الله تعالی نافرمانه خلق رسوا کړی

اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْهُمْ فَمَاۤ اَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ

چه ورکړی وی | الله | خپل رسول ته | ددوی نه | نو نهٔ دی زغلولی تاسو | په هغے باندے

کوم مال چه الله تعالی ددے بنو نضیر نه خپل رسول ته د جنګ نه بغیر (د مال فئ په طور) ورکړے دے (نو هغه دا سے مال دے)

مِنْ خَيْلٍ وَّلَا رِكَابٍ وَّلٰكِنَّ اللّٰهَ يُسَلِّطُ رُسُلَهٗ عَلٰى مَنْ

هیڅ اسونه | او نه اوښان | لیکن | الله | زورور کوی | پیغمبران خپل | په چا (ئې) چه

(چه) د هغے دپاره نه تاسو اسونه زغلولی دی او نه اوښان لیکن الله چه په چا اوغواړی (نو) خپل پیغمبران پرے

يَشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝٦ مَاۤ اَفَآءَ اللّٰهُ

اوغواړی | او الله | په | هر | څیز | (پوره) قدرت لری | هغه څه | چه واپس کړی دی | الله

مسلط (غالب) کوی او الله تعالی په هر یو څیز پوره قدرت لری کوم مال چه الله تعالی خپل پیغمبر ته

عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْ اَهْلِ الْقُرٰى فَلِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ
په رسول بانــدے | د کلو والو نه | لو(هغه دی) د الله | او د پیغمبر
د (نورو) کلو والو نه بغیر د جنګ نه (د مال فئ په طور) ورکړے دے نو هغه د الله (حق) دے او د پیغمبر

وَلِذِى الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ۙ كَیْ
او د خپلوانو | او د یتیمانو | او د مسکینانو | او د مسافرو دپاره | دے دپاره
او د خپلوانو او د یتیمانانو او د مسکینانو او د مسافرو (حق) دے (دا حکم دے دپاره اوشو) چه

لَا يَكُوْنَ دُوْلَةًۢ بَيْنَ الْاَغْنِيَآءِ مِنْكُمْ ؕ وَمَآ اٰتٰىكُمُ
چه نه وی هغه (مال فئ) | ګردش کوونکے | په مینځ | د مالدارو کښې | ستاسو نه | او څه چه | درکړی دی تاسو ته
دغه مال په تاسو کښې صرف د مالدارو په لاسونو کښې وانه وړی (په مالدارو کښې تقسیم نه کړے شی)

الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ ۚ وَمَا نَهٰىكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا ۚ وَاتَّقُوا
پیغمبر | نو اواخلئ هغه | او څه چه | منع کړی ئے تاسو | د هغے نه | نو منع شئ | او ویریږئ
او پیغمبر چه تاسو له څه درکوی (نو) هغه اخلئ او د څه نه مو چه منع کوی نو د هغے نه منع شئ

اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ۘ ۷ لِلْفُقَرَآءِ الْمُهٰجِرِيْنَ
د الله نه | بیشکه | الله | ډیر سخت | عذاب والا دے | (دا مالونه دی) دپاره د فقیرانو | مهاجرینو
او د الله نه ویریږئ یقیناً الله ډیر سخت عذاب والا دے (دغه مال فئ خو) د هغه محتاجو مهاجرینو

الَّذِيْنَ اُخْرِجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَاَمْوَالِهِمْ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا
هغه کسان | چه ویستلی شوی دی | د کورونو خپلو نه | او د مالونو خپلو نه | چه لټوی هغوی | فضل
خلقو (حق) دے چه هغوی د خپلو کورونو او د مالونو نه راویستلی شوی دی

مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا وَّيَنْصُرُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ؕ اُولٰٓئِكَ
د الله | او رضا (د هغه) | او مدد کوی | د الله (د دین) | او د پیغمبر د هغهٔ | هم دغه خلق
د الله رضا غواړی او د الله او د هغه د رسول مدد کوی هم دا خلق

هُمُ الصّٰدِقُوْنَ ۚ ۸ وَالَّذِيْنَ تَبَوَّؤُ الدَّارَ وَالْاِيْمَانَ
دوی دی | رشتنی | د هغه کسانو (دپاره دی) | چه هغوی آباد شوی دی | په خپلو کورونو کښې | او (راوړے ئے) ایمان
رشتنی دی (او دغه مال فئ) د هغه انصارو (حق) دے چه د دوی (مهاجرینو) (د راتلو) نه مخکښے په دار هجرت کښې دیره دی

مِنْ قَبْلِهِمْ يُحِبُّوْنَ مَنْ هَاجَرَ اِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُوْنَ
مخکښے (د راتلو) د دوی نه | دوی مینه کوی | د هغه چا سره | چه هجرت ئے کړیدے | دوی ته | او نه مومی دوی
(او) ایمان ئے راوړے دے څوک چه د دوی خوا ته (مدینے ته) هجرت اوکړی دوی د هغوی سره مینه کوی

فِيْ صُدُوْرِهِمْ حَاجَةً مِّمَّآ اُوْتُوْا وَيُؤْثِرُوْنَ
په خپلو سینو کښې | څه تنګی (خفګان) | د هغه څه نه | چه ورکړے شوی دی هغوی (مهاجرینو ته) | او دوی غوره کوی
او مهاجرینو ته چه څه ملاویږی دوی د هغے په باره کښې خپلو زړونو کښې څه تنګی (خواهش) نه ساتی

عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ۗ وَمَنْ يُّوْقَ

په خپلو ځانونو باندې | اګرچه | وي | په دوی باندې | لوږه (محتاج) | او څوک چه | بچ او ساتلی شو

او مهاجرینو له په خپل ځان ترجیح ورکوي اګرچه په خپله وږي (محتاج) وي او څوک چه د خپل نفس (طبیعت)

شُحَّ نَفْسِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ⑨ وَالَّذِيْنَ جَآءُوْ

د حرص | د نفس خپل نه | نو همدغه خلق | دوی دي | کامیاب | او دغه کسانو دپاره دي | چه راغلي دي

د بخل نه او ساتلی شو نو هم دا سې خلق کامیاب دي او (دا مال فئ) د هغه چا (دپاره) هم دې چه د دوی

مِنْۢ بَعْدِهِمْ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِاِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ

وروستو د دوی نه | وائي | اې زمونږ ربه | بخښنه او کړه | مونږ ته | او زمونږ ورونړو ته | هغه کسان

(انصارو او مهاجرینو) نه پس راغلل هغوی دا دعاء کوي چه اې زمونږ ربه امونږ او زمونږ هغه ورونړه او بخښه

سَبَقُوْنَا بِالْاِيْمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِيْ قُلُوْبِنَا غِلًّا لِّلَّذِيْنَ

چه مخکښې شوي دي زمونږ نه | په ایمان کښې | او مه پیدا کوه | په زړونو زمونږ کښې | کینه | د هغه کسانو سره

چه زمونږ نه مخکښې ایمان راوړے دے او زمونږ په زړونو کښې د مومنانو دپاره هیڅ بغض (کینه) مه پیدا کوه

اٰمَنُوْا رَبَّنَآ اِنَّكَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ⑩ اَلَمْ تَرَ ع

چه ایمان ئې راوړے دے | اې زمونږ ربه | بیشکه ته ئې | ډیر شفقت کوونکے | ډیر رحم کوونکے | آیا ته نه ګورې

اې زمونږ ربه یقیناً ته ډیر شفقت کوونکے ډیر مهربان ئې (اې نبي!) آیا تا هغه خلق نه دي لیدلي

اِلَى الَّذِيْنَ نَافَقُوْا يَقُوْلُوْنَ لِاِخْوَانِهِمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

هغه کسانو ته | چه منافقت ئې کړے دے | (چه) وائي | خپلو ورونړو ته | هغه کسان | چه کفر ئې کړے دے

چه منافقت ئې اختیار کړے دے چه د اهل کتابو نه خپلو کافرانو ورونړو ته وائي

مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَئِنْ اُخْرِجْتُمْ لَنَخْرُجَنَّ مَعَكُمْ

د اهل کتابو نه | که چرې | او ویستلی شوئ تاسو | نو خامخا مونږ به او وځو | تاسو سره

چه که چرې تاسو (د مدینې نه) او ویستلی شوئ نو مونږ به هم تاسو سره او وځو

وَلَا نُطِيْعُ فِيْكُمْ اَحَدًا اَبَدًا ۙ وَّاِنْ قُوْتِلْتُمْ

او مونږ به خبره نه منو | ستاسو په باره کښې | د هیچا | همیشه | او که چرې | جنګ او کړے شو تاسو سره

او ستاسو په باره کښې به هیڅ کله د چا خبره او نه منو او که تاسو سره جنګ او کړے شو

لَنَنْصُرَنَّكُمْ ۗ وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ⑪ لَئِنْ

نو خامخا به مونږ مدد کوو ستاسو | او الله | ګواهي کوي | چه بیشکه دوی | خامخا دروغژن دي | که چرې

نو مونږ به د رسره ضرور مدد کوو او الله تعالیٰ ګواهي ورکوي چه دا خلق دروغژن دي که چرې هغوی

اُخْرِجُوْا لَا يَخْرُجُوْنَ مَعَهُمْ ۚ وَلَئِنْ قُوْتِلُوْا

او ویستلی شو هغوی | نو نه او ځي دوی | د هغوی سره | او که چرې | جنګ او کړے شو د هغوی سره

(اهل کتاب) او ویستلی شو نو دوی به د هغوی سره نه او ځي او که د هغوی سره جنګ او کړے شو

لَا يَنْصُرُوْنَهُمْ ۚ وَلَئِنْ نَّصَرُوْهُمْ لَيُوَلُّنَّ الْاَدْبَارَ ۟ ثُمَّ

لو مدد له کوي دوی دهغوی | او که چرے | دوي مدد او کړي دهغوی | نو خامخا به واړوي دوی | شاګانے | بیا به

نو دوی به نے مدد نه کوي او که چرے مدد ئے او کړو نو په شا به تختی بیا به د دوي مدد نه کیږي

لَا يُنْصَرُوْنَ ﴿١٢﴾ لَاَنْتُمْ اَشَدُّ رَهْبَةً فِيْ صُدُوْرِهِمْ مِّنَ اللّٰهِ ۚ

د دوی مدد نشي کیدے | خامخا تاسو | ډیر زیات | رعب والایئ | په سینو د دوی کښې | د الله نه

اے مسلمانانو! حقیقت دا دے چه د دوی په زړونو کښې ستاسو ډیره (رعب) د الله ډیرے نه زیات (پروت) دے

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ ﴿١٣﴾ لَا يُقَاتِلُوْنَكُمْ جَمِيْعًا

دا ځکه | چه دوی | (دا سے) قوم دے | چه نه پوهیږي | جنګ به نشي کولے دوی تاسو سره | ټول (په یو ځای)

دا ځکه چه دوی دا سے خلق دي چه پوهه نه لري دا ټول په یو ځائے هم تاسو سره جنګ نشي کولے

اِلَّا فِيْ قُرًى مُّحَصَّنَةٍ اَوْ مِنْ وَّرَآءِ جُدُرٍ ؕ بَاْسُهُمْ بَيْنَهُمْ

مګر | (چه وی) په کلو | قلابندو کښې | یا | وروستو | د دیوالونو نه | جنګ د دوی | په خپل مینځ کښې

مګر په قلابندو (محفوظ) کلو کښې یا د دیوالونو شاته د دوی په خپل مینځ کښې مخالفت (جنګ

شَدِيْدٌ ؕ تَحْسَبُهُمْ جَمِيْعًا وَّقُلُوْبُهُمْ شَتّٰى ؕ ذٰلِكَ

ډیر سخت دے | ته به ګمان کوے په دوی | ډیر (ځائے) والی | او (حال دا چه) زړونه د دوی | جدا جدا دي (ډیر بیل نه) | دا

ډیر سخت دے ته به په دوی دا ګمان کوے چه دوی یو دي حالانکه د دوی زړونه بیل بیل دي دا ځکه

بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُوْنَ ﴿١٤﴾ كَمَثَلِ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ

ځکه چه دوی | (دا سے) قوم دے | چه عقل نه لري | (د دوی حال) پشان د حال | د هغه کسانو (دے) | چه مخکښے وو د دوی نه

چه دوی بے عقله خلق دي د دوی حال د هغه خلقو پشان دے چه د دوی نه ئے لږ مخکښے

قَرِيْبًا ذَاقُوْا وَبَالَ اَمْرِهِمْ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿١٥﴾ ۚ

لږ دے (زمانه کښې) | او څکله هغوی | سزا | د خپل کار | او د دوی دپاره | عذاب دے | دردناک

د خپل کار سزا څکلے ده او د دوی دپاره یو دردناک عذاب دے

كَمَثَلِ الشَّيْطٰنِ اِذْ قَالَ لِلْاِنْسَانِ اكْفُرْ ۚ فَلَمَّا كَفَرَ

پشان د حال | د شیطان | کله ئے چه | او ویل | انسان ته | چه کافر شه | پس هر کله | چه هغه کافر شو

د دوی مثال د شیطان پشان دے چه یو انسان ته وائي چه کافر شه بیا کله چه هغه کافر شي

قَالَ اِنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّنْكَ اِنِّيْٓ اَخَافُ اللّٰهَ رَبَّ

نو او ویل هغه (شیطان) | چه بیشکه زه (خو) | بیزار یم | ستا نه | بیشکه زه (خو) | یریږم | د الله نه | چه رب دے

نو (ورته) وائي چه زه (خو) تا نه بری (بیزاره) یم زه خو د هغه الله نه یریږم چه

الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٦﴾ فَكَانَ عَاقِبَتَهُمَآ اَنَّهُمَا فِي النَّارِ خَالِدَيْنِ

د ټولو جهانونو | پس شو | انجام د هغه دواړو | دا چه بیشکه وي به هغه دواړه | په اور کښې | (چه) همیشه به وي

د ټولو جهانونو رب دے لو د دواړو انجام دا شو چه دواړه به اور کښې وي هلته به همیشه دپاره اوسیږي



فِيْهَا ؕ وَذٰلِكَ جَزٰٓؤُا الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۷﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا

په هغې کښې | او دا ده | سزا (بدله) | د ظالمانو | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | یره کوئ

او د ظالمانو هم دا سزا ده اے مؤمنانو ! د الله نه یَریږئ

اللّٰهَ وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ

دالله نه | او او دے گوری | هر یو کس | چه څه | لیږلی دی هغه مخکښے | د صبا دپاره | او یره کوئ | د الله نه

او هر کس دے دا او گوری چه هغه د صبا دپاره څه عمل مخکښے لیږلے دے او د الله نه یَریږئ

اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌ ۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۸﴾ وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ

بیشکه | الله دے | پوره خبردار | په هغه څه | چه تاسو ئے کوئ | او تاسو مه کیږئ | پشان د هغے کسانو

یقین او کړئ تاسو چه څه کوئ الله د هغے نه پوره خبردار دے او تاسو د هغه خلقو پشان مه کیږئ

نَسُوا اللّٰهَ فَاَنْسٰىهُمْ اَنْفُسَهُمْ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۱۹﴾

چه هغوی هیر کړے وو | الله | لو هیر کړل الله هغوی نه | خپل ځانونه | هم دغه خلق | دوی دي نافرمان

چه الله ئے هیر کړے وو نو الله ترے خپل ځانونه هیر کړل هم دغه خلق نافرمان دی

لَا يَسْتَوِيْٓ اَصْحٰبُ النَّارِ وَاَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ؕ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ

نه دی برابر | دوزخیان | او جنتیان | جنتیان

دوزخان او جنتیان (هیڅکله) برابریدے نشي هم جنتیان

هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴿۲۰﴾ لَوْ اَنْزَلْنَا هٰذَا الْقُرْاٰنَ عَلٰى جَبَلٍ

هم هغوی دی | کامیاب | که چرے | مونږ نازل کړے وے | دا | قرآن | په یو غر باندے

پوره کامیاب دی که چرے مونږ دا قرآن په یو غر باندے نازل کړے وے

لَّرَاَيْتَهٗ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ ؕ وَتِلْكَ

نو خامخا به تا لیدلے وے هغه | عاجزی کوونکے | ټوټے ټوټے کیدونکے | د یَرے | دالله نه | او دغه دی

نو تا به (هغه) لیدلے چه د الله د یَرے نه به عاجزی کوونکے (حکم منونکے) او چاودلے وے

الْاَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ﴿۲۱﴾ هُوَ اللّٰهُ

مثالونه | چه مونږ بیانوو دا | د خلقو دپاره | دے دپاره چه دوی | سوچ (فکر) اوکړی | هغه | الله

او مونږ دا مثالونه خلقو ته دے دپاره بیانوو چه هغوی غور او فکر اوکړی هغه الله هم هغه ذات دے

الَّذِيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ ۚ

هم هغه ذات دے | چه نشته | لائق د عبادت | سوا | د هغهٔ نه | پوهه دے | په (هر) پټ | او په (هر) ښکاره

چه د هغه نه سوا بل هیڅ څوک د عبادت لائق نشته هغه په پټه او په ښکاره هره خبره باندے پوهه دے

هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ ﴿۲۲﴾ هُوَ اللّٰهُ الَّذِيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا

هم هغه دے | عام مهربان | خاص مهربان | هم هغه | الله | هغه ذات دے | چه نشته | هیڅ څوک لائق د عبادت | سوا

هغه ډیر مهربان همیشه رحم کوونکے دے هغه الله هم هغه ذات دے چه د هغه نه سوا بل هیڅ څوک د عبادت لائق نشته

هُوَ الْمَلِكُ الْقُدُّوْسُ السَّلٰمُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ

دهغه نه | بادشاه دے | ډیر پاک دے | سلامتیا والا دے | امن ورکوونکے دے | ساتونکے دے

هغه بادشاه دے ډیر پاک دے سلامتي ورکوونکے دے امن ورکوونکے دے حفاظت کوونکے دے

الْعَزِيْزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ ؕ سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿٢٣﴾

ډیر زورور | زبردست | لویئ والا دے | پاکي ده | الله لره | دهغه څه نه | چه دوی ئے شریکوي

ډیر غالب دے زبردست دے دلویئ مالک دے دهر هغه څه نه پاک دے چه دا خلق ئے ورسره شریکوي

هُوَ اللّٰهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الْاَسْمَآءُ

هم هغه | الله دے | پیدا کوونکے | جوړوونکے | شکلونه ورکوونکے | هم دهغه دي | نومونه

هغه الله هم هغه ذات دے چه پیدا کوونکے، درست جوړوونکے دے، صورت جوړوونکے دے هم دهغه دټولو نه

الْحُسْنٰى ؕ يُسَبِّحُ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَهُوَ

(ډیر) ښائسته | پاکي بیانوي | دهغه | هغه څه | چه په آسمانونو | او په زمکه کښې دي | او هم هغه دے

ښائسته نومونه دي د آسمانونو او د زمکے هر څیز دهغه پاکي وائي او هغه

الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٢٤﴾ ع

| ډیر زورور (غالب) | ډیر حکمت والا |

ډیر غالب ډیر حکمت والا دے

آیاتها [١٣]	سورة المُمتحنة مكّيّة	ركوعاتها [٢]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا عَدُوِّيْ وَعَدُوَّكُمْ اَوْلِيَآءَ

اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | مه نیسئ تاسو | دشمن زما | او دشمن خپل | دوستان

اے مومنانو اکه تاسو زما په لاره کښې د جهاد دپاره او زما رضا د حاصلولو دپاره (د خپلو کورونو نه)

تُلْقُوْنَ اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ وَقَدْ كَفَرُوْا بِمَا جَآءَكُمْ

(چه) ورلیږئ تاسو | هغوي ته | (پیغام) د محبت | او حال دا چه | دوي کفر کړیدے | په هغه څه | چه راغلي دي تاسو ته

وتلي یئ نو زما او خپلو دشمنانو ته د دوستئ پیغام مه لیږئ حالانکه تاسو ته چه کوم

مِّنَ الْحَقِّ ۚ يُخْرِجُوْنَ الرَّسُوْلَ وَاِيَّاكُمْ اَنْ تُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ

د حق نه | او باسي دوي | پیغمبر | او تاسو لره | په دے (وجه) | چه تاسو ایمان راوړئ | په الله

حق دین راغلے دے هغوي د هغے نه انکار کړے دے (او) پیغمبر او تاسو یئ (د مکے نه) صرف

رَبِّكُمْ ۘ اِنْ كُنْتُمْ خَرَجْتُمْ جِهَادًا فِيْ سَبِيْلِيْ وَابْتِغَآءَ
چه رب ستاسو دے | که چرے | تاسو وتلی یئ | د جهاد دپاره | په لار زما کښ | او دپاره د لټولو
په دے وجه ویستلی یئ چه تاسو په خپل رب باندے ایمان راوړے دے تاسو هغوی ته په پټه
مَرْضَاتِيْ ۖ تُسِرُّوْنَ اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ ۖ وَاَنَا اَعْلَمُ بِمَآ
درضا زما | پټ لیږئ تاسو | (پیغام) د محبت | دوی ته | او زهٔ | ښهٔ پوهه یم | په هغه څه
د دوستانے پیغام لیږئ حالانکه څه چه تاسو په پټه کوئ یا ئے په ښکاره کوئ هغه ټول ماته معلوم دی
اَخْفَيْتُمْ وَمَآ اَعْلَنْتُمْ ۚ وَمَنْ يَّفْعَلْهُ مِنْكُمْ فَقَدْ ضَلَّ
چه تاسو ئے پټوئ | او په هغه څه | چه تاسو ئے ښکاره کوئ | او چا چه | او کړو دا کار | ستاسو نه | نو یقینًا | هغه ګمراه شو
او په تاسو کښ چه چا هم دا کار اّئنده کښ اوکړو نو یقینًا هغه د سمے لار نه
سَوَآءَ السَّبِيْلِ ۝ اِنْ يَّثْقَفُوْكُمْ يَكُوْنُوْا لَكُمْ اَعْدَآءً
د سمے | لارے نه | که چرے | دوی پیا مومی (قدرت په تاسو) | نو دوی به شی | ستاسو | دشمنان
ګمراه شو (واوړیدو) که تاسو دوی له په لاس ورشئ نو ستاسو دشمنان به شی
وَّيَبْسُطُوْٓا اِلَيْكُمْ اَيْدِيَهُمْ وَاَلْسِنَتَهُمْ بِالسُّوْٓءِ وَوَدُّوْا
او اوږده به کړی | تاسو ته | لاسونه خپل | او ژبے خپلے | په بدئ سره | او غواړی دوی
او خپل لاسونه او خپلے ژبے به درپسے په بدئ در اوږدے کړی او دوی (خو) دا غواړی
لَوْ تَكْفُرُوْنَ ۝ لَنْ تَنْفَعَكُمْ اَرْحَامُكُمْ وَلَآ اَوْلَادُكُمْ ۚ
کاش! | چه تاسو کفر اوکړئ | هیڅ کله فائده به درنکړی تاسو ته | خپلوان ستاسو | او نه بچی ستاسو
چه تاسو هم کافر شئ د قیامت په ورځ به نه ستاسو خپلوان څه په کار راشی او نه ستاسو بچی (اولاد)
يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۚ يَفْصِلُ بَيْنَكُمْ ۗ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ
په ورځ | د قیامت | فیصله به اوکړی هغه (الله) | ستاسو ترمینځه | او الله | هغه څه لره | چه تاسو ئے کوئ
الله به ستاسو په مینځ کښ فیصله اوکړی او تاسو چه څه کوئ الله هغه ښه وینی
بَصِيْرٌ ۝ قَدْ كَانَتْ لَكُمْ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِيْٓ اِبْرٰهِيْمَ
(ښه) لیدونکے دے | یقینًا | شته | ستاسو دپاره | نمونه | ښائسته | په | ابراهیم
اے مسلمانانو! تاسو دپاره (خو) په ابراهیمؑ او د هغه په ملګرو کښ یوه ښه نمونه ده
وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ ۚ اِذْ قَالُوْا لِقَوْمِهِمْ اِنَّا بُرَءٰٓؤُا مِنْكُمْ
او په هغه خلقو کښ | چه د هغه سره وو | کله چه | اوویل دوی | قوم خپل ته | (چه) بیشکه مونږ | بیزاره یو | ستاسو نه
کله چه هغوی خپل قوم ته وئیل وو چه مونږ تاسو نه او تاسو چه
وَمِمَّا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۫ كَفَرْنَا بِكُمْ
او د هغه څه نه | چه تاسو ئے عبادت کوئ | سوا | د الله نه | مونږ انکار کړیدے | ستاسو (د طریقے) نه
د الله نه سوا د چا عبادت کوئ د هغے ټولو نه بیزاره (بے تعلقه) یو او ستاسو (د عقیدو) نه منکر یو

وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةُ وَالْبَغْضَآءُ اَبَدًا حَتّٰى

او ښکاره شوه | په مینځ زمونږ | او په مینځ ستاسو کښې | دشمنی | او بغض | همیشه | تر دے

او زمونږ او ستاسو تر مینځه تر هغه وخته پورے ښکاره دشمنی او بغض (پیدا شوے) دے تر څو پورے

تُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَحْدَهٗٓ اِلَّا قَوْلَ اِبْرٰهِيْمَ لِاَبِيْهِ

چه تاسو ایمان راوړئ | په الله | چه یو دے | مګر | وینا | د ابراهیمؑ | خپل پلار ته

چه تاسو صرف په الله ایمان رانه وړئ مګر د ابراهیمؑ خپل پلار ته دا خبره کول (مستثنٰی دی)

لَاَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ وَمَآ اَمْلِكُ لَكَ مِنَ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ ؕ

(چه) زه به ضرور بخښنه غواړم | ستا دپاره | او نه لرم زه اختیار | ستا دپاره | د الله نه | د هیڅ څیز

چه زه به ستا دپاره بخښنه ضرور غواړم اګر چه د الله په وړاندے زه ستا دپاره د هیڅ اختیار نه لرم

رَبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا وَاِلَيْكَ اَنَبْنَا وَاِلَيْكَ الْمَصِيْرُ ۝

اے زمونږ ربه! | خاص په تا باندے | مونږ توکل کړے دے | او خاص تا ته | رجوع کړے ده مونږ | او خاص تا ته | واپس کیدل دی

اے زمونږ ربه مونږ په تا باندے توکل کړے دے او هم تا ته مو رجوع کړے ده او هم ستا طرف ته (د ټولو) واپسی ده

رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَاغْفِرْ لَنَا

اے زمونږ ربه! | مه ګرځوه مونږ لره | ازمیښت | دپاره د هغه کسانو | چه کفر ئے کړے دے | او بخښنه او کړه | مونږ ته

اے زمونږ ربه! مونږ د کافرانو دپاره یو ازمیښت مه جوړوه او اے زمونږ ربه مونږ ته بخښنه او کړه

رَبَّنَا ۚ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ

اے زمونږ ربه! | بیشکه | هم ته ئے | ډیر زورور | لوئے حکمت والا | یقینًا | شته | ستاسو دپاره

یقینًا صرف هم ته ډیر غالب لوئے حکمت والا ذات ئے (اے مسلمانانو) یقینًا په دے خلقو کښې ستاسو دپاره

فِيْهِمْ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَنْ كَانَ يَرْجُوا اللّٰهَ وَالْيَوْمَ

په دوی کښې | یوه نمونه | ښائسته | یعنی د هغه چا دپاره | چه امید ساتی | د الله | او د ورځے

(یعنی) د هر هغه چا دپاره چه د الله (د ملاقات) او د آخرت د ورځے امید ساتی یوه بهترینه نمونه (پرته) ده



الْاٰخِرَ ؕ وَمَنْ يَّتَوَلَّ فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ۝

روستنئ | او څوک | چه مخ واړوی | نو بیشکه | الله | (هم هغه) دے | بے نیازه | ستائلے شوے

او چا چه مخ واړولو نو الله تعالٰی هم بے پروا او ستائلے شوے ذات دے

عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّجْعَلَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ الَّذِيْنَ

لږ دے ده | چه الله | پیدا کړی | په مینځ ستاسو کښې | او په مینځ | د هغه کسانو کښې

دا څه لرے (عجیبه) خبره نه ده چه الله تعالٰی ستاسو او د هغه خلقو چه ستاسو ورسره

عَادَيْتُمْ مِّنْهُمْ مَّوَدَّةً ؕ وَاللّٰهُ قَدِيْرٌ ؕ وَاللّٰهُ

چه تاسو (ورسره) دشمنی کړے ده | د دوی نه | دوستانه | او الله دے | پوره قدرت لرونکے | او الله دے

دشمنی ده تر مینځه دوستی (مینه) پیدا کړی او الله تعالٰی پوره قدرت والا دے او الله تعالٰی

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ لَا يَنْهٰىكُمُ اللّٰهُ عَنِ الَّذِيْنَ لَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ

ډیر بخښونکے | ډیر رحم کوونکے | نه منع کوی تاسو | الله | د هغه کسانو نه | چه هغوی جنګ نه دے کړے تاسو سره

ډیر بخښونکے ډیر مهربان دے کومو خلقو چه د دین په باره کښ تاسو سره جنګ نه دے کړے

فِي الدِّيْنِ وَلَمْ يُخْرِجُوْكُمْ مِّنْ دِيَارِكُمْ اَنْ تَبَرُّوْهُمْ

په دین کښ | او نه هغوی ویستلی ئے تاسو | د خپلو کورونو نه | (د دے نه) چه نیکی او کړئ تاسو د هغوی سره

او نه ئے تاسو د خپلو کورونو نه ویستلی یئ د هغوی سره د نیکئ (احسان) او د انصاف کولو نه

وَتُقْسِطُوْٓا اِلَيْهِمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ۝ اِنَّمَا

او انصاف او کړئ | د هغوی سره | بیشکه | الله | خوښوی | انصاف کوونکی | بیشکه

الله تعالیٰ تاسو نه منع کوی الله تعالیٰ (خو) انصاف کوونکو خلقو سره مینه کوی البته

يَنْهٰىكُمُ اللّٰهُ عَنِ الَّذِيْنَ قٰتَلُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ

منع کوی تاسو | الله | د هغه کسانو نه | چه جنګ ئے کړے دے تاسو سره | په دین کښ

الله تعالیٰ تاسو د هغه خلقو سره د دوستئ کولو نه منع کوی چه تاسو سره ئے جنګ کړے دے

وَاَخْرَجُوْكُمْ مِّنْ دِيَارِكُمْ وَظٰهَرُوْا عَلٰٓى اِخْرَاجِكُمْ

او هغوی ویستلی یئ تاسو | د کورونو ستاسو نه | او مدد ئے کړے دے | ستاسو په ویستلو کښ (د کافرو سره)

او د خپلو کورونو نه ئے ویستلی یئ او ستاسو په ویستلو کښ ئے (د نورو خلقو) مدد کړے دے

اَنْ تَوَلَّوْهُمْ ۚ وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ فَاُولٰٓئِكَ

(د دے نه) | چه تاسو دوستی او کړئ د هغوی سره | او چا چه | دوستی او کړه د هغوی سره | نو هم دغه خلق

او چا چه د هغوی سره دوستی او کړه نو هغه ظالمان دی۔

هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا جَآءَكُمُ الْمُؤْمِنٰتُ

دوی دی ظالمان | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | هر کله | چه راشی تاسو ته | مومنانے زنانه

اے مؤمنانو! کله چه ستاسو خواله مسلمانے ښځے هجرت او کړی (راشی)

مُهٰجِرٰتٍ فَامْتَحِنُوْهُنَّ ؕ اَللّٰهُ اَعْلَمُ بِاِيْمَانِهِنَّ ۚ فَاِنْ

هجرت کوونکے | نو امتحان واخلئ د هغوی | الله | پوهه دے | په ایمان د هغوی | نو که چرے

نو از میښت پرے او کړئ (اګر چه) الله تعالیٰ ته د هغوی ایمانونه ښه معلوم دی بیا چه تاسو ته

عَلِمْتُمُوْهُنَّ مُؤْمِنٰتٍ فَلَا تَرْجِعُوْهُنَّ اِلَى الْكُفَّارِ ؕ لَا هُنَّ

معلوم کړئ تاسو هغوی | چه مومنانے دی | نو مه واپس کوئ هغوی | کافرانو ته | نه هغه (ښځے)

پته اولګی چه هغوی (واقعی) مؤمنانے دی نو کافرانو ته ئے واپس مه لیږئ هغوی د هغه کافرانو دپاره

حِلٌّ لَّهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّوْنَ لَهُنَّ ؕ وَاٰتُوْهُمْ مَّآ اَنْفَقُوْا ؕ

روا دی | دوی دپاره | او نه هغه (کافران) | روا دی | د دوی دپاره | او ورکړئ دوی ته | هغه نفقه | چه دوی خرچ کړے دہ

روا نه دی او هغه کافران د هغوی دپاره روا نه دی او هغه کافرانو چه څه خرچ (مهر وغیره) کړے دے هغه ورله تاسو ورکړئ

وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ اِذَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ

او نشته دے څه ګناه | په تاسو باندے | چه نکاح او کړئ تاسو دهغوی سره | کله چه | ور کوئ تاسو هغوی ته

او (بیا) پس د ادائیګئ د مهر نه ددغه زنانو سره په نکاح کولو کښې په تاسو هیڅ ګناه نشته

اُجُوْرَهُنَّ ۭ وَلَا تُمْسِكُوْا بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ وَاسْــَٔلُوْا مَآ

مهرونه دهغوی | او تاسو مه ساتئ | نکاحونه | د کافرو ښځو | او غواړئ | هغه څه

او د کافرو ښځو سره د نکاح تعلقات برقرار مهٔ ساتئ او څومره خرچه مو چه پرے کړے ده هغه (تر ے) او غواړئ

اَنْفَقْتُمْ وَلْيَسْــَٔلُوْا مَآ اَنْفَقُوْا ۭ ذٰلِكُمْ حُكْمُ اللّٰهِ ۭ

چه تاسو خرچ کړی دی | او هغوی دِ (هم) او غواړی | هغه څه | چه هغوی خرچ کړی دی | دا دے | حکم | د الله

او هغوی (کافرانو) چه څومره خرچه کړے ده هغه دے (تاسو نه) او غواړي هم دا د الله فیصله ده

يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝۱۰ وَاِنْ فَاتَكُمْ

فیصله کوی هغه | په مینځ ستاسو کښې | او الله | (ښه) پوهه | (لوے) حکمت والا دے | او که چرے | پاتے شی ستاسو

قائمه ستاسو په مینځ کښې. او الله تعالیٰ ډیر پوهه لوے حکمت والا ذات دے او که چرے ستاسو په ښځو کښې

شَيْءٌ مِّنْ اَزْوَاجِكُمْ اِلَى الْكُفَّارِ فَعَاقَبْتُمْ فَاٰتُوا

څه څیز | د بیبیانو ستاسو نه | کافرانو ته | او (بیا) تاسو له موقع په لاس در شی | نو ور کړئ

یو ښځه مرتده شی او کافرانو د هغے مهر تاسو ته واپس نه کړو (او بیا) تاسو له موقع په لاس در شی او څه مال غنیمت د کافرانو نه حاصل کړئ

الَّذِيْنَ ذَهَبَتْ اَزْوَاجُهُمْ مِّثْلَ مَآ اَنْفَقُوْا ۭ وَاتَّقُوا اللّٰهَ

هغه کسانو ته | چه تلی دی | بیبیانے دهغوی | په شان | دهغه څه | چه هغوی خرچ کړی دی | او ویریږئ | د الله نه

نو د چا ښځے چه مرتدے شوی دی هغوی ته هغه هومره (د مال غنیمت نه) ور کړئ څومره چه هغوی خرچ کړی دی او د هغه الله نه ویریږئ

الَّذِيْٓ اَنْتُمْ بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ ۝۱۱ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا جَاۗءَكَ

هغه ذات | چه تاسو | په هغه | ایمان لرونکی یئ | اے | نبی! | هر کله چه | راشی تا ته

چه تاسو پرے ایمان لرئ اے نبی! کله چه تا له مسلمانے زنانه په دے خبره

الْمُؤْمِنٰتُ يُبَايِعْنَكَ عَلٰٓي اَنْ لَّا يُشْرِكْنَ بِاللّٰهِ شَيْــــًٔا

مؤمنانے زنانه | چه بیعت کوی تاسره | په دے چه | شریک به نهٔ جوړوی | د الله سره | هیڅ څیز

د بیعت کولو دپاره راشی چه د الله سره به هیڅ قسم شرک نه کوی

وَّلَا يَسْرِقْنَ وَلَا يَزْنِيْنَ وَلَا يَقْتُلْنَ اَوْلَادَهُنَّ وَلَا يَاْتِيْنَ

او نه به غلا کوی | او نه به زنا کوی | او نه به وژنی | بچی خپل | او نهٔ به راتلل کوی

او غلا به نه کوی او خپل بچی به نه وژنی او د بهتان اولاد به

بِبُهْتَانٍ يَّفْتَرِيْنَهٗ بَيْنَ اَيْدِيْهِنَّ وَاَرْجُلِهِنَّ وَلَا يَعْصِيْنَكَ

څه بدنامے لګولو ته | چه جوړوی ئے | په مینځ د لاسو خپلو کښې | او د خپو خپلو کښې | او نه به نافرمانی کوی ستا

نه راوړی چه مخ په مخ ئے (په خپلو خاوندانو پورے) په دروغه وتړی او د نیکئ په یو کار کښې به

فِيْ مَعْرُوْفٍ فَبَايِعْهُنَّ وَاسْتَغْفِرْ لَهُنَّ اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

په یو نیک کار کښې | نو بیعت او کړه د هغوی سره | او بخښنه غواړه | د هغوی دپاره | د الله نه | بیشکه | الله دے

ستا نافرمانی نه کوی نو د هغوی سره بیعت او کړه او د الله نه ورله بخښنه او غواړه یقینًا الله

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَوَلَّوْا قَوْمًا

ډیر بخښونکے | ډیر مهربان | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | دوستی مه کوئ | د (هغه) قوم سره

ډیر بخښونکے ډیر مهربان دے اے مؤمنانو ! د هغه خلقو سره دوستی مه کوئ

غَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ قَدْ يَئِسُوْا مِنَ الْاٰخِرَةِ

چه غضب کړے دے | الله | په هغوی باندے | یقینًا | هغوی ناامیده شوی دی | د آخرت نه

چه الله تعالٰی پرے غضب کړے دے هغوی (خو) د آخرت نه داسے مایوسه (نا امیده) شوی دی

كَمَا يَئِسَ الْكُفَّارُ مِنْ اَصْحٰبِ الْقُبُوْرِ ۝ ع

لکه څنګه | چه ناامیده شوی دی | کافران | د | قبرونو والا نه |

لکه څنګه چه کافران د قبرونو والو (د بیا ژوندون) نه نا امیده شوی دی.

آیاتها [۱۴]	سورة الصف مدنيّة	رکوعاتها [۲]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم.

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۚ وَهُوَ

پاکی بیانوی | د الله | هغه څه | چه په آسمانونو کښې دی | او هغه څه | چه په زمکه کښې دی | او هغه دے

څه چه په آسمانونو او په زمکه کښې دی هغه ټول د الله پاکی بیانوی او هغه

الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَا

ډیر زورور | لوے حکمت والا | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | ولے وایئ تاسو | هغه خبرے

ډیر غالب لوے حکمت والا دے اے مؤمنانو ! تاسو داسے خبرے ولے کوئ

لَا تَفْعَلُوْنَ ۝ كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللّٰهِ اَنْ تَقُوْلُوْا مَا

چه نه ئے کوئ تاسو | غټه | د غصے خبره ده | په نزد | د الله | (دا) چه | تاسو وایئ | هغه خبرے

چه کوئ ئے نه د الله تعالٰی په نزد دا ډیره د غصے (ناراضګی) خبره ده چه تاسو داسے خبرے کوئ چه

لَا تَفْعَلُوْنَ ۝ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِهٖ

چه نه ئے کوئ تاسو | بیشکه | الله | خوښوی | هغه کسان | چه جنګ کوی | په لاره د هغه کښې

بیا ئے پوره کوئ نه. حقیقت دا دے چه الله تعالٰی د هغه خلقو سره محبت کوی چه د هغه په لار کښې

صَفًّا كَاَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَّرْصُوْصٌ۝ وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى

صفونه صفونه | (دا سے) لکه چه هغوی | یو دیوال دے | په یو بل کښې نښتلی | او کله چه | اوویل | موسیٰ

دا سے صف تړلی جنګیږی لکه په قلعی پوخ شوی دیوال او هغه وخت یاد کړئ کله چه موسیٰ

لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ لِمَ تُؤْذُوْنَنِيْ وَقَدْ تَّعْلَمُوْنَ اَنِّيْ

قوم خپل ته | اے زما قومه! | ولے تکلیف را کوئ تاسو ما ته | او یقینًا | تاسو پوهیږئ | چه بیشکه زه یم

خپل قوم ته اوویل چه زما قومه! تاسو ما ته تکلیف ولے را کوئ حالانکه تاسو ته ښه پته ده چه زه تاسو ته

رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ ؕ فَلَمَّا زَاغُوْٓا اَزَاغَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ ؕ

پیغمبر | د الله | ستاسو طرف ته | پس هر کله | چه هغوی کاږه شول | (نو) کاږه کړل | الله | زړونه د هغوی

د الله رالیږلے شوے رسول یم بیا کله چه هغوی کوږوالے (ګمراهي) اختیار کړه نو الله تعالیٰ (هم) د هغوی زړونه کاږه کړل

وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ۝ وَاِذْ قَالَ عِيْسَى

او الله | هدایت نه کوی | قوم | نافرمان ته | او کله چه | اوویل | عیسیٰ

او الله تعالیٰ (دا سے) نافرمانو خلقو ته هدایت نه کوی او هغه وخت هم یاد کړه کله چه عیسیٰ

ابْنُ مَرْيَمَ يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ

ځوی | د مریمؑ | اے بنی اسرائیلو! | بیشکه زه | رسول | د الله یم | تاسو ته

بن مریمؑ وئیل وو چه اے بنی اسرائیلو زه تاسو ته د الله رالیږلے شوے (دا سے) پیغمبر یم چه

مُّصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرٰىةِ وَمُبَشِّرًۢا بِرَسُوْلٍ

تصدیق کوونکے (یم) | د هغه څه | چه زما نه مخکښے دی | (د) تورات (نه) | او زیرے ورکوونکے (یم) | د یو پیغمبر

د هغه کتاب تصدیق کوم چه زما نه مخکښے راغلے دے او د یو (دا سے) پیغمبر زیرے درکوم

يَّاْتِيْ مِنْۢ بَعْدِي اسْمُهٗٓ اَحْمَدُ ؕ فَلَمَّا جَآءَهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ

چه راځی به | وروسته زما نه | (چه) نوم د هغه | احمد دے | بیا هر کله | چه هغه راغے هغوی ته | په ښکاره دلیلونو سره

چه زما نه وروستو به راځی چه نوم ئے احمد دے بیا کله چه هغه (پیغمبر) دوی ته د ښکاره دلیلونو سره راغے

قَالُوْا هٰذَا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ۝ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى

(نو) اوویل دوی | دا (خو) | جادو دے | واضح (ښکاره) | او څوک دے | زیات ظالم | د هغه چا نه | چه تړی

نو وئے ویل چه دا خو ښکاره جادو دے او د هغه کس نه به لوئے (زیات) ظالم څوک وی چه

عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ وَهُوَ يُدْعٰٓى اِلَى الْاِسْلَامِ ؕ وَاللّٰهُ

په الله بانده | دروغ | او (حال دا چه) هغه | رابللی کیږی | اسلام ته | او الله

په الله بانده دروغ تړی حالانکه هغه اسلام ته رابللی کیږی او الله

لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ۝ يُرِيْدُوْنَ لِيُطْفِـُٔوْا نُوْرَ اللّٰهِ

هدایت نه کوی | قوم | ظالمانو ته | غواړی دوی | چه مړه کړی | رڼړا | د الله

(دا سے) ظالمانو خلقو ته هدایت نه کوی دا خلق دا غواړی چه په خپلو خولو د الله رڼړا مړه کړی

بِأَفْوَاهِهِمْ وَاللّٰهُ مُتِمُّ نُورِهِ وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُونَ ﴿٨﴾

په خپلو خولو سره | او (حال دا چه) الله | پوره کوونکے | د خپلے رنړا دے | اګر چه | بد ئے ګڼړی | کافران

حالانکه الله (به) خپله رنړا پوره کوی اګر چه کافران ئے بده ګڼړی

هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدٰى وَدِينِ الْحَقِّ

هُم هغه (ذات) | چه رالیږلے ئے دے | پیغمبر خپل | د هدایت سره | او دین | حق سره

هم الله هغه ذات (دے) چه خپل پیغمبر ئے د هدایت او د حق دین سره (د دے دپاره) رالیږلے دے

لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ ﴿٩﴾ ع

(د دے دپاره) چه هغه غالب کړی دا (دین) | په دینونو | ټولو باندے | اګر چه | بد ئے ګڼړی | مشرکان

چه په ټولو دینونو ئے غالب کړی اګر چه مشرکان ئے بد ګڼړی

يٰأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلٰى تِجَارَةٍ تُنْجِيكُمْ

اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | آیا | زه او ښایم تاسو ته | یو (داسے) تجارت | چه بچ کړی تاسو

اے مومنانو! آیا زه تاسو ته یو داسے تجارت او ښایم چه د دردناک عذاب نه مو بچ کړی

مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿١٠﴾ تُؤْمِنُونَ بِاللّٰهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ

د | عذاب | دردناک نه | ایمان راوړئ تاسو | په الله او په رسول د هغه باندے | او جهاد کوئ

(هغه دا دے چه) تاسو په الله او د هغه په رسول ایمان راوړئ او په خپل مال (او دولت)

فِي سَبِيلِ اللّٰهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ ۚ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ

په | لاره | د الله کښ | په خپلو مالونو | او خپلو نفسونو سره | دا | ډیره ښه ده | ستاسو دپاره

او په خپلو نفسونو (ځانونو) سره د الله په لاره کښ جهاد او کړئ دا تاسو دپاره ډیر غوره (ښه) ده

إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١١﴾ يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ

که چرے | یئ تاسو | چه پوهیږئ | معاف به کړی هغه | تاسو ته | ګناهونه ستاسو | او داخل به کړی تاسو

که تاسو پوهیږئ هغه (الله) به ستاسو ګناهونه معاف کړی او داسے جنتونو ته به مو داخل کړی

جَنّٰتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً

(داسے) جنتونو ته | چه بهیږی (به) | د لاندے د هغے نه | نهرونه | او کورونو | پاکیزو (ښکلو) ته

چه د هغے د لاندے (به) نهرونه بهیږی او داسے پاکیزه (ښائسته) کورونو ته (به مو داخل کړی)

فِي جَنّٰتِ عَدْنٍ ۚ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿١٢﴾ وَأُخْرٰى

په جنتونو | د همیشګئ کښ | دا ده | کامیابی | ډیره لویه | او یو بل شیز هم دے

چه هغه به د همیشه همیشه اوسیدو والا جنتونو کښ وی او دا ډیره لویه کامیابی ده او یو بل شیز هم دے

تُحِبُّونَهَا ۖ نَصْرٌ مِنَ اللّٰهِ وَفَتْحٌ قَرِيبٌ ۗ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٣﴾

چه تاسو خوښوئ هغه | مدد دے | د | الله | او فتحه | نژدے | او زیرے ورکړه | مومنانو ته

چه تاسو ئے خوښوئ (او هغه دے) د الله مدد او نژدے فتحه (او اے نبی!) مومنانو ته زیرے ورکړه

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُوْنُوْٓا اَنْصَارَ اللّٰهِ كَمَا قَالَ

اے هغه كسانو چه ايمان مو راوړے دے | شئ | مددګار | د الله (د دين) | لكه څنګه | چه ويلي وو

اے مومنانو ! د الله (د دين) مددګار جوړ شئ لكه څنګه چه

عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيّٖنَ مَنْ اَنْصَارِيْٓ اِلَى اللّٰهِ ط

عيسىٰ | ځوی | د مريمؑ | حواريانو ته | (چه) څوک دي | مددګاران زما | د الله د طرف ته

عيسىٰ بن مريمؑ حواريانو ته ويلي وو چه څوک دي چه الله ته د نږديكت حاصلولو دپاره زما مددګار (ملاتړ) جوړ شي

قَالَ الْحَوَارِيُّوْنَ نَحْنُ اَنْصَارُ اللّٰهِ فَاٰمَنَتْ طَّآئِفَةٌ


او ويل | حواريانو | مونږ يو | مددګاران | د الله (د دين) | نو ايمان راوړو | يو ډلے

حواريانو او ويل چه مونږ د الله (د دين) مددګاري يو بيا په بني اسرائيلو كښې يوے ډلے

مِّنْ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ وَكَفَرَتْ طَّآئِفَةٌ ۚ فَاَيَّدْنَا الَّذِيْنَ

د بني اسرائيلو نه | او كفر او كړو | بلے ډلے | نو مونږ مضبوط كړل | هغه كسان

ايمان راوړو او بلے (يوے) ډلے انكار اوكړو نو چا چه ايمان راوړے وو



اٰمَنُوْا عَلٰى عَدُوِّهِمْ فَاَصْبَحُوْا ظٰهِرِيْنَ ۝ ع

| چه ايمان ئے راوړے وو | په دشمنانو د هغوی باندے | نو شول هغوی | غالب |

مونږ هغوی سره د هغوی د دشمنانو خلاف مدد اوكړو نو هغوی غالب شول

آياتها [١١]	سورة الجمعة مدنية	ركوعاتها [٢]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډير مهربان | زيات رحم كونكے دے (شروع كوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع كوم.

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ الْمَلِكِ

پاكي وائي | د الله | هغه څه | چه په آسمانونو كښې دي | او هغه څه | چه په زمكه كښې دي | (هغه) بادشاه (دے)

د آسمانونو او د زمكے هر يو څيز د (هغه) الله پاكي وائي چه هغه بادشاه دے

الْقُدُّوْسِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ۝١ هُوَ الَّذِيْ بَعَثَ

ډير پاك | ډير زورور | لوے حكمت والا دے | هم الله هغه (ذات) دے | چه رالېږلے ئے دے

ډير پاك دے ډير غالب لوے حكمت والا دے، هم الله هغه ذات دے چه

فِي الْاُمِّيّٖنَ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ وَيُزَكِّيْهِمْ

په اميانو كښې | يو پيغمبر | د هغوی نه | چه لولي | په هغوی باندے | آيتونه د هغه (الله) | او پاكوي هغوی

په اميانو خلقو كښې ئے هم د هغوی نه يو (دا سے) پيغمبر راولېږلو چه هغوی ته د هغه (الله) آيتونه لولي

وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ ۚ وَاِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ

او ښائي هغوی ته | كتاب | او حكمت | او بیشكه | وو هغوی | مخكښې د دې نه

او هغوی پاكوي او كتاب او حكمت (سنت) ورته ښائي حالانكه هغوی د دې نه مخكښې په ښكاره ګمراهۍ كښې

لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ (٢) وَّاٰخَرِيْنَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوْا بِهِمْ ؕ

(خامخا) په ګمراهۍ | ښكاره كښې | او نورو خلقو كښې | د دوی نه | چه لا نه دي يو ځای شوي | د دوی سره

(بوا لله) بوو او په دوی كښې نورو خلقو ته (هم مونږ دا پيغمبر رالېږلے دے) چه لا دوی سره يو ځای شوي نه دي (بلكه وروستو راتلونكې دي)

وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ (٣) ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ

او هغه دے | ډير زورور | ډير حكمت والا | دا دے | فضل | د الله | هغه وركوي | چا ته

او هغه ډير غالب لوے حكمت والا دے دا د الله فضل دے چا ته ئې چه او غواړي وركوي ئې

يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ (٤) مَثَلُ الَّذِيْنَ

چه (ئې) او غواړي | او الله دے | خاوند د فضل | ډير لوے | مثال | د هغه كسانو

او الله تعالیٰ د ډير لوے فضل مالک دے كومو خلقو ته چه په تورات باندے

حُمِّلُوا التَّوْرٰىةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوْهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ

چه ور كړے شوے وو هغوی ته | (ذمه داري د) تورات | بيا | او چه نه كړو هغوی تورات لره | پشان د حال (مثال) | د خر دے

د عمل كولو حكم شوے وو او په تورات پوهه شوے هم وو او بيا ئې سره د علم په تورات عمل اونه كړو د هغوی مثال پشان د يو خر دے

يَحْمِلُ اَسْفَارًا ؕ بِئْسَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا

چه بار كړي | كتابونه | (ډير) بد دے | مثال | د قوم | هغه | چه دروغ ئې ګڼړلي دي

چه كتابونه ئې بار كړي وي كوم خلق چه د الله آيتونه دروغ ګڼړي د هغوی مثال ډير بد (خراب) دے

بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ (٥) قُلْ

آيتونه | د الله | او الله | هدايت نه كوي | قوم | ظالمانو ته | او وايه

او الله تعالیٰ ظالمانو خلقو ته هدايت نه كوي (اے نبي! يهوديانو ته او وايه چه)

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ هَادُوْٓا اِنْ زَعَمْتُمْ اَنَّكُمْ اَوْلِيَآءُ لِلّٰهِ

اے هغه كسانو | چه يهوديان شوي يئ | كه چرے | تاسو خيال كوئ | چه بیشكه تاسو | دوستان يئ | د الله

اے يهوديانو! كه تاسو دا دعوی كوئ چه صرف (هم) تاسو د الله دوستان يئ

مِنْ دُوْنِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ (٦)

سوا د (نورو) خلقو نه | نو آرزو او كړئ | د مرګ | كه چرے | يئ تاسو | رشتني

نور خلق نه دي نو كه تاسو رشتني يئ نو راځئ (بطور مباهله) په ګمراه باندے د دُعا د مرګ او غواړئ

وَلَا يَتَمَنَّوْنَهٗٓ اَبَدًا ۢ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ ؕ وَاللّٰهُ

او آرزو نه كوي دوی د مرګ | هميشه | په وجه د هغه څه | چه مخكښې ليږلي دي | لاسونو د دوی | او الله

او دوی چه كوم عملونه كړي دي (مخكښې ئې ليږلي دي) د هغې په وجه به دوی هيڅ كله د مرګ تمنا اونه كړي

عَلِيۡمٌۢ بِالظّٰلِمِيۡنَ ﴿٧﴾ قُلۡ اِنَّ الۡمَوۡتَ الَّذِىۡ تَفِرُّوۡنَ مِنۡهُ

به پوهه دے | په ظالمانو باندے | اووايه | بيشکه | مرګ | هغه چه | تختئ تاسو | د هغې نه

او الله تعالىٰ ظالمان ښه پيژنى ورته اووايه چه د کوم مرګ نه چه تاسو تختئ

فَاِنَّهٗ مُلٰقِيۡكُمۡ ثُمَّ تُرَدُّوۡنَ اِلٰى عٰلِمِ الۡغَيۡبِ

نو بيشکه هغه | مخامخ کيدونکے دے تاسو سره | بيا به | تاسو واپس کړے شئ | (هغه ذات ته) چه پوهه دے | په پټو

هغه به (خامخا) ستاسو مخے له راشى بيا به تاسو د هغه ذات طرف ته واپس بوتللى شئ چه هغه په پټو

ع وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمۡ بِمَا كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ ﴿٨﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا

او په ښکاره | نو خبر به درکړى تاسو ته | په هغه څه | چه تاسو به کول | اے هغه کسانو چه ايمان مو راوړے دے

او په ښکاره خبرو پوهيږئ نو (بيا) تاسو چه څه کوئ د هغے نه خبر کړى اے مومنانو!

اِذَا نُوۡدِىَ لِلصَّلٰوةِ مِنۡ يَّوۡمِ الۡجُمُعَةِ فَاسۡعَوۡا اِلٰى ذِكۡرِ

کله چه | آواز او کړے شى | د مانځه د پاره | په ورځ | د جمعے | نو ورمنډه کړئ | ياد (ذکر) ته

کله چه د جمعے په ورځ د مانځه د پاره اذان (آواز) اوشى نو د الله يادولو (مانځه) د پاره روان شئ

اللّٰهِ وَذَرُوا الۡبَيۡعَ ؕ ذٰلِكُمۡ خَيۡرٌ لَّكُمۡ اِنۡ كُنۡتُمۡ

د الله | او پريږدئ | اخستل خرڅول | دا | ډيره ښه ده | ستاسو د پاره | که چرے | تاسو

او اخستل خرڅول پريږدئ دا تاسو د پاره ډيره ښه ده که تاسو پوهيږئ

تَعۡلَمُوۡنَ ﴿٩﴾ فَاِذَا قُضِيَتِ الصَّلٰوةُ فَانۡتَشِرُوۡا فِى الۡاَرۡضِ

پوهيږئ | بيا کله چه | پوره کړے شى | مونځ | نو خوارۀ شئ | په زمکه کښې

بيا چه کله مونځ پوره (اداء کړے) شى نو په زمکه کښې خوارۀ شئ

وَابۡتَغُوۡا مِنۡ فَضۡلِ اللّٰهِ وَاذۡكُرُوا اللّٰهَ كَثِيۡرًا لَّعَلَّكُمۡ

او ولټوئ | فضل | د الله | او ذکر کوئ | د الله | ډير | (د دے د پاره) چه تاسو

او د الله فضل تلاش کړئ او الله ډير يادوئ چه کامياب شئ

تُفۡلِحُوۡنَ ﴿١٠﴾ وَاِذَا رَاَوۡا تِجَارَةً اَوۡ لَهۡوَا ۨانۡفَضُّوۡۤا اِلَيۡهَا

کامياب شئ | او کله چه | اووينى دوى | څه تجارت | يا لوبه تماشه | نو ورمنډه کړى | د هغے طرف ته

او (څه خلق) چه کله څه تجارت (سودا) يا څه د تماشے (لوبے) څيز اووينى نو هغے پسے منډے کړى

وَتَرَكُوۡكَ قَآئِمًا ؕ قُلۡ مَا عِنۡدَ اللّٰهِ خَيۡرٌ مِّنَ اللَّهۡوِ

او پريږدى تا | ولاړ | اووايه | هغه څه | چه د الله سره دى | ډير غوره دى | د لوبے نه

او تا ولاړ پريږدى ورته اووايه چه د الله سره چه څه دى هغه د دے تماشو (لوبو)

ع وَمِنَ التِّجَارَةِ ؕ وَاللّٰهُ خَيۡرُ الرّٰزِقِيۡنَ ﴿١١﴾

او د | تجارت نه | او الله | ډير ښه | رزق ورکوونکے دے

او تجارت نه ډير غوره دى او الله تعالىٰ د ټولو نه بهتر رزق ورکوونکے دے۔

آیاتها [۱۱] | **سورة المنٰفقون مدنيّة** | رکوعاتها [۲]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

إِذَا جَآءَكَ الْمُنٰفِقُوْنَ قَالُوْا نَشْهَدُ إِنَّكَ لَرَسُوْلُ

کله چه | راشي تاته | منافقان | (نو) وائي | چه مونږ گواهي کوو | چه بیشکه ته | رسول ئے

(اے نبیٔ!) کله چه منافقين ستا خواله راشي نو وائي چه مونږ گواهي ورکوو چه ته د الله

اللّٰهِ ۘ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ إِنَّكَ لَرَسُوْلُهٗ ۗ وَاللّٰهُ يَشْهَدُ

د الله | او الله | پوهيږي | چه بيشکه ته | رسول دهغه ئے | او الله | گواهي کوي

پيغمبر ئے او الله ته پته ده چه ته (واقعي) د هغه پيغمبر ئے او الله دا گواهي ورکوي

إِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَكٰذِبُوْنَ ۚ اتَّخَذُوْٓا أَيْمَانَهُمْ جُنَّةً

چه بیشکه | منافقان | خامخا دروغژن دي | جوړ کړي دي دوي | قسمونه خپل | ډال

چه دا منافقان دروغژن دي دوي د خپلو قسمونو نه ډال جوړ کړے دے

فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۗ إِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُوْا

پس منع شوي دي | د لار | د الله نه | بیشکه دوي | ډير بد دي | هغه څه | چه دوي ئے

او دهغے په وجه په خپله هم خلق د الله د لارے نه منع کوي يقيناً دوي چه څه کوي هغه

يَعْمَلُوْنَ ۞ ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا فَطُبِعَ

کوي | دا | څکه چه دوي | ايمان راوړے دے | بيا ئے | کفر کړے دے | پس مهر او وهلے شو

ډير بد دي دا څکه چه دوي (په ظاهره) ايمان راوړلو بيا ئے کفر اختيار کړو

عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُوْنَ ۞ وَإِذَا رَأَيْتَهُمْ

په زړونو د دوي | پس دوي | نه پوهيږي | او کله چه | ته او وينے دوي

نو په زړونو ئے مهر ولگيدو نو (اوس) په حق خبره نه پوهيږي او کله چه ته دوي او وينے نو

تُعْجِبُكَ أَجْسَامُهُمْ ۗ وَإِنْ يَّقُوْلُوْا تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ ۗ

نو تعجب کښي اچوي تا | بدنونه د دوي | او که چرے | خبرے کوي دوي | نو ته آورے | خبرے د دوي

دوي څخه (بدنونه) در ته ښائسته او غټ ښکاره شي او که دوي خبرے شروع کړي نو ته ئے (تو جه فصاحت له) خبرو ته غوږ ږدے

كَأَنَّهُمْ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ ۗ يَحْسَبُوْنَ كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِمْ ۗ

لکه چه دوي | لرگي دي | لگولي شوي ديوال ته | دوي گمان کوي | د هرے | چغے (خطرے) | په خپل ځان باندے

دوي داسے دي لکه ديوال ته ارم کړي شوي لرگي (چه ظاهراً غټ وي او مينځ کښې تش وي) هره چغه د خپل ځان په خلاف گڼړي

هُمُ الْعَدُوُّ فَاحْذَرْهُمْ ؕ قٰتَلَهُمُ اللّٰهُ ۫ اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ۝

هم دوی | دشمنان دي | نو ددوی نه ځان ساته | هلاک دې کړی دوی لره | الله | کوم خوا | اړولی (روان) دی

هم دوی ستاسو دشمنان دي نو ځان ترې ساتئ الله دې دوی هلاک کړي کوم خوا الټه روان دي (د حق نه)

وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ

اوکله چه | اوویلی شی | دوی ته | راشئ | چه بخښنه اوغواړی | ستاسو دپاره | پیغمبر | د الله

اوکله چه ورته اوویلی شی چه راشئ چه د الله پیغمبر درله (د الله نه) بخښنه اوغواړی

لَوَّوْا رُءُوْسَهُمْ وَرَاَيْتَهُمْ يَصُدُّوْنَ وَهُمْ مُّسْتَكْبِرُوْنَ ۝

نودوی واړوی | سرونه خپل | اوته به وینې دوی | چه مخ اړوی | او دوی | تکبر کوونکی دی

نو خپل سرونه تاو کړي او ته به دوی وینې چه ډیر په تکبر سره مخ اړوی

سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ اَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ اَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ؕ

برابره ده | په دوی باندے | که ته بخښنه غواړے | دوی دپاره | یا بخښنه نۀ غواړے | دوی دپاره

(اے نبیؐ) ته که دوی له بخښنه غواړے یا نه غواړے د دوی په حق کښې دواړه خبرے برابر دي

لَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ۝

هیڅ کله به بخښنه اونۀ کړی | الله | دوی ته | بیشکه | الله | هدایت نه کوی | قوم | نافرمان ته

الله به هیڅ کله دوی ته بخښنه اونۀ کړی یقین اوکړه چه الله نافرمانه خلقو ته هدایت نه کوی

هُمُ الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ لَا تُنْفِقُوْا عَلٰى مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ

دا هم | هغه کسان دی | چه وائی (یو بل ته) | چه تاسو خرچ مه کوئ | په هغه چا | چه دی | د پیغمبر

دا هم هغه خلق دي چه (خلقو ته) وائی چه کوم خلق د الله د پیغمبر سره (راجمع) دي په هغوی باندے

اللّٰهِ حَتّٰى يَنْفَضُّوْا ؕ وَلِلّٰهِ خَزَآئِنُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

د الله سره | تردے | چه دوی خواره واره شی | اوخاص د الله دی | خزانے | د آسمانونو | او د زمکے

هیڅ خرچه مه کوئ تر دے چه هغوی خواره واره شی حالانکه د آسمانونو او د زمکے ټولے خزانے د الله سره دی

وَلٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَا يَفْقَهُوْنَ ۝ يَقُوْلُوْنَ لَئِنْ رَّجَعْنَآ

لیکن | منافقان | نه پوهیږی | دوی وائی | که چرے | مونږ واپس (لاړ) شو

لیکن منافقان نه پوهیږی دوی وائی چه که چرے مونږ

اِلَى الْمَدِيْنَةِ لَيُخْرِجَنَّ الْاَعَزُّ مِنْهَا الْاَذَلَّ ؕ وَلِلّٰهِ

مدینے ته | نوخامخا به اوباسی | (ډیر) عزتمند | د هغے نه | (ډیر) ذلیل لره | اوخاص د الله (دپاره) دے

مدینے ته واپس لاړو نو (دا) عزتمند خلق به د هغے نه (دا) ذلیله خلق بهر اوشړی حالانکه

الْعِزَّةُ وَلِرَسُوْلِهٖ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَلٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝

عزت | او د هغه د رسول دپاره دے | او د مومنانو دپاره دے | لیکن | منافقان | نه پوهیږی

عزت خو بس د الله دے او د هغه د پیغمبر دے او د مومنانو دے لیکن منافقان نه پوهیږی

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُلْهِكُمْ اَمْوَالُكُمْ وَلَاۤ اَوْلَادُكُمْ

اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | غافل دے نه کړی تاسو | مالونه ستاسو | او نهٔ بچی ستاسو

اے مؤمنانو! ستاسو مال دولت او بچی دے تاسو د الله د یاد نه غافله نه کړی

عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ ۚ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ⑨

د یاد | د الله نه | او چا چه | او کړو | دا (کار) | نو هم دغه خلق | دوی دی | تاوانیان

او چا چه دا ے او کړل نو هم هغوی تاوانیان دی

وَاَنْفِقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ اَحَدَكُمُ

او خرچ کړئ | د هغه څه نه | چه مونږ در کړی دی تاسو ته | مخکښې د دے نه | چه راشی | تاسو کښې یو کس ته

او مونږ چه کوم رزق (مال) تاسو ته در کړے دے د هغے نه څه مال د هغه وخت د راتلو نه مخکښې خرچ کړئ

الْمَوْتُ فَيَقُوْلَ رَبِّ لَوْلَاۤ اَخَّرْتَنِيْۤ اِلٰۤى اَجَلٍ قَرِيْبٍ ۙ

مرګ | نو (بیا) وائی | اے زما ربه | ولے دِ وروستونه کړم زه | تر لیتیے | نزدے پورے

چه په تاسو کښې یو کس له مرګ راشی نو بیا وائی چه اے زما ربه تا ماله لږ نور مهلت ولے رانه کړو

فَاَصَّدَّقَ وَاَكُنْ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ⑩ وَلَنْ يُّؤَخِّرَ اللّٰهُ

چه صدقه مے کړے وے | او شوے وے زه | د نیکانو نه | او هیڅ کله به وروستو نه کړی | الله

چه ما خیرات کړے وے او په نیکانو کښې شامل شوے وے او کله چه د چا مقرر وخت (نیټه) راشی

نَفْسًا اِذَا جَآءَ اَجَلُهَا ۚ وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ⑪ ع

یو کس | کله چه | راشی | نیټه د هغهٔ | او الله | ښه خبردار دے | په هغه څهٔ | چه تاسو ئے کوئ

نو الله تعالیٰ هیڅ کله هغه ته (نور) مهلت نه ورکوی او الله تعالیٰ ستاسو د عملونو نه پوره خبردار دے.

آیاتها [۱۸]	سورة التغابن مدنيّة	رکوعاتها [۲]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم.

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۚ لَهُ الْمُلْكُ

پاکی بیانوی | د الله | هغه څه | چه په آسمانونو کښې دی | او هغه | چه په زمکه کښې دی | خاص د هغه | بادشاهی ده

د آسمانونو او د زمکے هر یو څیز پاکی د الله تعالیٰ وائی هم د هغه بادشاهی ده

وَلَهُ الْحَمْدُ ۖ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ① هُوَ الَّذِيْ

او خاص هغه دپاره | ستاینه ده | او هغه | په | هر | څیز | قدرت لرونکے دے | هم الله هغه (ذات) دے

او هم د هغه دپاره حمد وله دی او هغه په هر څیز پوره قدرت لری هم الله هغه ذات دے

خَلَقَكُمْ فَمِنْكُمْ كَافِرٌ وَّمِنْكُمْ مُّؤْمِنٌ ۭ وَاللّٰهُ بِمَا

چه پیدا کړی یې تاسو | نو بعضې ستاسو نه | کافران دي | او بعضې ستاسو نه | مومنان دي | او الله | د هغه څه

چه تاسو ئے پیدا کړی یئ بیا په تاسو کښې ځنې کافر دي او ځنې مسلمانان . او تاسو چه څه کوئ

تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ۝ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ

چه تاسو ئے کوئ | ښه لیدونکے دے | هغه پیدا کړی دي | آسمانونه | او زمکه | په حقه سره

الله هغه ښه وینی . هغه آسمانونه او زمکه په حقه پیدا کړی دي

وَصَوَّرَكُمْ فَاَحْسَنَ صُوَرَكُمْ ۚ وَاِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ۝ يَعْلَمُ

او صورت ئے جوړ کړیدے ستاسو ته | نو ښائسته ئے جوړ کړی دي | صورتونه ستاسو | او خاص هغه ته | واپس تلل دي | هغه پوهیږی

او ستاسو صورتونه ئے جوړ کړی دي او ستاسو صورتونه ئے ډیر ښائسته جوړ کړی دي او هم هغه ته واپس تلل دي

مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَيَعْلَمُ مَا تُسِرُّوْنَ وَمَا

په هغه څه | چه په آسمانونو | او په زمکه کښې دي | او هغه پوهیږی | په هغه څه | چه تاسو یې پټوئ | او په هغه څه

په آسمانونو او په زمکه کښې چه څه دي هغه ټول هغه ته معلوم دي او تاسو چه څه پټ کوئ او څه چه

تُعْلِنُوْنَ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۝ اَلَمْ يَاْتِكُمْ

چه تاسو ئے ښکاره کوئ | او الله | ښه پوهه دے | په راز د سینو | آیا تاسو ته نه دی راغلی

ښکاره کوئ هغه ورته هم معلوم دي او الله تعالیٰ د زړونو نه خبر دے (هم) پیژنی آیا تاسو ته د هغه خلقو

نَبَؤُا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَبْلُ ۡ فَذَاقُوْا وَبَالَ اَمْرِهِمْ

خبر | د هغه کسانو | چه کفر ئے کړے دے | مخکښې د دے نه | پس هغوی اوڅکله | سزا | د کار خپل

خبرونه (واقعات) نه دی راغلی چه د دے نه مخکښې ئے کفر اختیار کړے وو بیا هغوی د خپلو کارونو سزا اوڅکله

وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝ ذٰلِكَ بِاَنَّهٗ كَانَتْ تَّاْتِيْهِمْ

او د هغوی د پاره | عذاب دے | دردناک | دا څکه | چه بیشکه | وو به | چه راتلل به دوی ته

او د هغوی د پاره دردناک عذاب دے دا هر څه څکه اوشو چه دوی ته به پیغمبران د واضحه دلیلونو سره

رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَقَالُوْٓا اَبَشَرٌ يَّهْدُوْنَنَا ۡ فَكَفَرُوْا

پیغمبران خپل | په ښکاره دلیلونو سره | نو اوویل دوی | چه آیا بشر به | لار ښائی مونږ ته | نو دوی کفر اوکړو

راتلل نو دوی به ویل چه آیا یو انسان به مونږ ته سمه لاره ښائی نو دوی کفر اختیار کړو

وَتَوَلَّوْا وَّاسْتَغْنَى اللّٰهُ ۭ وَاللّٰهُ غَنِيٌّ حَمِيْدٌ ۝ زَعَمَ

او مخ ئے واړولو | او بے پرواه شو | الله | او الله | بے نیازه | ستائلے شوے (ذات) دے | خیال (دعوی) کوی

او مخ ئے واړولو او الله تعالیٰ ئے هم څه پرواه ونه کړه او الله تعالیٰ خو ډیر بے نیازه ستائلے شوے ذات دے کافران خلق

الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنْ لَّنْ يُّبْعَثُوْا ۭ قُلْ بَلٰى وَرَبِّيْ

هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | (دا) چه | هیڅ کله به دوی را پاڅولے شی | او وایه | ولے نه | قسم دے مونږ په خپل رب

دا دعوی (گمان) کوی چه دوی به هیڅ کله بیا ژوندی نه کړے شی ته ورته اووایه ولے نه قسم دے په خپل رب

لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلْتُمْ ؕ وَذٰلِكَ

چه خامخا به تاسو راپاڅولی شئ | بیا به | خامخا تاسو ته خبر درکولی شي | د هغه څه | چه تاسو کړي دي | او دا

تاسو به ضرور بیا ژوندي کولی شئ بیا به درته خپل ټول عملونه اوښودل شي او دا کار

عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ⑦ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَالنُّوْرِ الَّذِيْٓ

په الله باندې | آسان دی | پس ایمان راوړئ | په الله | او په رسول د هغه | او په نور | هغه

الله ته ډیر آسان دی پس (نو) په الله او د هغه په پیغمبر او په هغه رڼا (نور) ایمان راوړئ

اَنْزَلْنَا ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ⑧ يَوْمَ يَجْمَعُكُمْ

چه نازل کړی مونږ | او الله | په هغه څه | چه تاسو يې کوئ | ښه خبردار دی | په هغه ورځ | چه راجمع به کړي هغه تاسو

چه مونږ رالیږلې دی او الله تعالی ستاسو د عملونو نه پوره خبردار دی (دا بیا ژوندون به) په هغه ورځ (وي)

لِيَوْمِ الْجَمْعِ ذٰلِكَ يَوْمُ التَّغَابُنِ ؕ وَمَنْ يُّؤْمِنْۢ بِاللّٰهِ

ورځ | د راجمع کیدو ته | دغه ده | ورځ | د بیلات (او دګټې) | او چا چه | ایمان راوړو | په الله

کله به چه تاسو الله تعالی د جمع کیدو په ورځ راجمع کړي هم دغه د حسرت (افسوس) ورځ ده او چا چه په الله ایمان راوړو

وَيَعْمَلْ صَالِحًا يُّكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّاٰتِهٖ وَيُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ

او عمل يې وکړو | نیک | تو لرې به کړي هغه | د ده نه | ګناهونه د ده | او داخل به کړي ده لره | (داسې) جنتونو ته

او نیک عمل يې اوکړو نو الله به د هغه ګناهونه معاف کړي او داسې جنتونو ته به يې داخل کړي

تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ ذٰلِكَ

چه بهیږي (به) | د لاندې د هغې نه | نهرونه | همیشه به وي | په هغې کښې | همیشه | دا ده

چه د هغې د لاندې به نهرونه بهیږي همیشه به هلته اوسیږي دا

الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ⑨ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ

کامیابي | ډیره لویه | او هغه کسان | چه کفر يې کړیدې | او دروغ يې ګڼلي دي | آیتونه زمونږ

ډیره لویه کامیابي ده او چا چه کفر اختیار کړو او زمونږ آیتونه يې دروغ اوګڼل

اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ⑩ ع

هم دغه خلق | دوزخ (اور) والا دي | همیشه به وي | په هغې کښې | او ډیر بد | ځائ دی (دا)

نو دغه خلق دوزخیان دي هلته به همیشه اوسیږي او هغه ډیر بد ځائ دی

مَآ اَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَمَنْ يُّؤْمِنْۢ بِاللّٰهِ

نه رسي | هیڅ یو مصیبت | مګر | په حکم | د الله | او چا چه | ایمان راوړو | په الله

هیڅ یو مصیبت د الله تعالی د حکم نه بغیر نه راځي او څوک چه په الله ایمان راوړي

يَهْدِ قَلْبَهٗ ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ⑪ وَاَطِيْعُوا

نو هغه به هدایت اوکړي | زړه د ده ته | او الله | په هر یو | څیز باندې | ښه پوهه دی | او خبره او منئ

الله د هغه زړه ته هدایت کوي او الله تعالی په هر یو څیز باندې ښه پوهه دی او د الله خبره (حکم) او منئ

اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ۚ فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَاِنَّمَا عَلٰى رَسُوْلِنَا

د الله | او خبره او منئ | د پیغمبر | پس که چرے | تاسو مخ واړولو | نو بیشکه | په پیغمبر زمونږ باندے

او د پیغمبر خبره (حکم) او منئ که بیا هم تاسو مخ واړولو نو زمونږ د پیغمبر ذمه داری

الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ۞ اَللّٰهُ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۭ وَعَلَى اللّٰهِ

(صرف) رسول دی | ښکاره | الله | نشته هیڅ څوک | لائق د عبادت | سوا | د هغه نه | او خاص په الله دے

خو صرف صفا صفا پیغام رسول دی الله هغه (ذات) دے چه د هغه نه سوا بل هیڅ څوک د عبادت لائق نشته

فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ۞ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِنَّ مِنْ اَزْوَاجِكُمْ

توکل اوکړی | مومنان | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | بیشکه | بعضے ستاسو د زنانو نه

او مومنانو له (خو بس) په الله باندے توکل کول پکار دی اے مومنانو حقیقت دا دے چه ستاسو ښځو

وَاَوْلَادِكُمْ عَدُوًّا لَّكُمْ فَاحْذَرُوْهُمْ ۚ وَاِنْ تَعْفُوْا

او بچو نه | دشمنان دی | ستاسو | نو ځان او ساتئ د هغوی نه | او که چرے | معافی اوکړه تاسو

او بچو کښې بعضے ستاسو دشمنان دی نو د هغوی نه ځان ساتئ او که تاسو معافی اوکړئ

وَتَصْفَحُوْا وَتَغْفِرُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۞ اِنَّمَاۤ

او مخ واړولو تاسو | او بخښنه او کړه تاسو | نو بیشکه | الله دے | ډیر بخښونکے | ډیر مهربان | بیشکه

او ستر گے پرے پټے کړئ او ورته بخښنه نو یقیناً الله تعالیٰ ډیر بخښونکے ډیر مهربان دے یقیناً

اَمْوَالُكُمْ وَاَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ ۭ وَاللّٰهُ عِنْدَهٗۤ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ۞

مالونه ستاسو | او بچی ستاسو (خو) | یو ازمیښت دے | او الله | سره دے | اجر | ډیر لوئے

ستاسو مال او ستاسو بچی (ستاسو دپاره) یو ازمیښت دے او د الله سره ډیر لوئے اجر دے

فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ وَاسْمَعُوْا وَاَطِيْعُوْا وَاَنْفِقُوْا

پس او ویریږئ | د الله نه | څومره چه | وس وی ستاسو | او واورئ | او خبره او منئ | او خرچ کړئ

پس څومره چه مو وس وی د الله نه او ویریږئ او (خبره) آورئ او (حکم) منئ (او مال) لګوئ

خَيْرًا لِّاَنْفُسِكُمْ ۭ وَمَنْ يُّوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ فَاُولٰٓئِكَ

(دا به) غوره وی | ستاسو دپاره | او څوک چه | بچ کړے شو | د بخل (حرص) | د نفس خپل نه | نو هم دغه خلق

دا به ستاسو دپاره غوره وی او څوک چه د خپل نفس د حرص نه بچ او ساتلے شو نو دغه خلق

هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۞ اِنْ تُقْرِضُوا اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا

دوی دی | کامیاب | که چرے | تاسو (قرض) ورکړئ | الله ته | قرض | ښائسته

پوره کامیابه دی که تاسو الله تعالیٰ ته ښه قرض (قرض حسن) ورکړئ

يُضٰعِفْهُ لَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۗ وَاللّٰهُ شَكُوْرٌ

نو هغه (الله) به زيات كړي دا (قرض) | تاسو لره | او بخښنه به اوكړي | تاسو ته | او الله | ډير قدردان

نو الله به ستاسو له سو چنده (زيات) كړي او بخښنه به درته اوكړي او الله تعالىٰ ډير قدردان دَ عمل دے (چه بدلے به دركړي)

حَلِيْمٌ ۙ﴿۱۷﴾ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۱۸﴾ ع

او ډير صبر ناك دے | پوهه دے | په پټو | او په ښكاره | ډير زورور (غالب) | لوے حكمت والا دے

ډير صبر ناك دے (مجرمانو ته مُهلت وركوي) په هره پټه او په هره ښكاره خبره پوهه دے ډير غالب ډير حكمت والا دے

آیاتها [۱۲]	سورة الطّلاق مدنيّة	ركوعاتها [۲]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډير مهربان | زيات رحم كونكے دے (شروع كوم)

خاص په مدد دَ نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع كوم.

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَطَلِّقُوْهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ

اے نبي! | هر كله چه | تاسو طلاق وركوئ | ښځو ته | نو طلاق وركوئ هغوی ته | دهغوی دعدت نه مخكښے

اے نبي! كله چه تاسو خپلو ښځو ته طلاق وركول غواړئ نو دعدت (حيض) دمودے نه مخكښے په زمانه دطهر كښے طلاق وركوئ

وَاَحْصُوا الْعِدَّةَ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ رَبَّكُمْ ۚ لَا تُخْرِجُوْهُنَّ

او شمار كوئ | د عدت | او يريږئ | د الله نه | چه رب دے ستاسو | مه اوباسئ هغوی

او دَ عدت (ورځے) شمارئ او دهغه الله نه يريږئ چه ستاسو رب دے نه خو به تاسو دغه ښځے (دعدت په ورځو كښ)

مِنْۢ بُيُوْتِهِنَّ وَلَا يَخْرُجْنَ اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ

دهغوی د كورونو نه | او نه دی ووځی هغوی (پخپله) | مگر | دا چه | راتلل اوكړی هغوی | څه بے حيائی

دخپلو كورونو نه اوباسئ او نه دے هغوی خپله ووځی البته كه هغوی ښكاره بے حيائی اوكړی (نو بيا ئے په وېستلو كښ

مُّبَيِّنَةٍ ۗ وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ ۗ وَمَنْ يَّتَعَدَّ حُدُوْدَ اللّٰهِ

ښكاره ته | او دغه دي | پولے (حدونه) | د الله | او څوك | چه واوړيږي | د پولو (حدونو) | د الله نه

څه حرج نشته) او دا د الله (مقرر كړی) حدونه دی او څوك چه د الله تعالىٰ د حدونو نه واوړی

فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهٗ ۗ لَا تَدْرِيْ لَعَلَّ اللّٰهَ يُحْدِثُ بَعْدَ

نو يقيناً | هغه ظلم اوكړو | په خپل ځان | ته نه پوهيږے | كيدے شي | چه الله | پيدا كړي | وروستو

نو يقيناً هغه په خپل ځان ظلم اوكړو تا ته پته نشته كيدے شي چه الله تعالىٰ د دے (طلاق رجعي) نه وروسته

ذٰلِكَ اَمْرًا ﴿۱﴾ فَاِذَا بَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَاَمْسِكُوْهُنَّ

د دے نه | څه (بله) خبره | پس كله چه | اورسيږی هغوی | ميتے خپلے ته | نو اوساتئ هغوی

څه لوے خبره (درجوع) پيدا كړي بيا كله چه هغه زنانه خپلے ميتے (ميعاد) ته ورسي نو يا خو ئے تاسو

بِمَعْرُوْفٍ اَوْ فَارِقُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ وَّاَشْهِدُوْا ذَوَیْ عَدْلٍ

په ښه طریقې سره | یا جدا کړئ هغوی | په ښه طریقې سره | او ګواهان اونیسئ | دوه انصاف والا

په ښه طریقه (په خپله نکاح کښ) اوساتئ او یا ئې په ښه طریقه پریږدئ او په خپلو کښ دوه معتبره کسان پرې ګواهان کړئ

مِّنْکُمْ وَاَقِیْمُوا الشَّهَادَةَ لِلّٰهِ ؕ ذٰلِکُمْ یُوْعَظُ بِهٖ

ستاسو نه | او پوره پوره (اداء) کړئ | ګواهي | د الله دپاره | دا خبره ده | چه نصیحت کولے شي | په دے سره

او ګواهي ټیک ټیک د الله دپاره ورکړئ اے خلقو دا هغه خبرے دي چه په دے سره هغه چاته نصیحت کیږي

مَنْ کَانَ یُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ ۬ؕ وَمَنْ یَّتَّقِ اللّٰهَ

هغه چاته | چه ایمان راوړي | په الله | او په ورځ | روستئ | او هغه څوک | چه یریږي | د الله نه

(څوک) چه په الله او د آخرت په ورځ ایمان لري او څوک چه د الله نه یریږي الله به ورله

یَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا ۙ وَّیَرْزُقْهُ مِنْ حَیْثُ لَا یَحْتَسِبُ ؕ

نو هغه به جوړه کړي | ده دپاره | څه لار د خلاصي | او ورته کړي هغه رزق | د هغه ځائے نه | چه د دے په (ــ) ګمان نه کوي

(د مشکل نه) د وتلو څه لاره پیدا کړي او د داسے ځائے نه به ورله رزق ورکړي چه د هغه به پرے ګمان هم نه راځي

وَمَنْ یَّتَوَکَّلْ عَلَی اللّٰهِ فَهُوَ حَسْبُهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بَالِغُ

او چا چه | توکل اوکړو | په الله باندے | نو هم هغه | کافي دے ده له | بیشکه | الله | پوره کوونکے دے

او چا چه په الله توکل اوکړو نو بس هغه ورله کافي دے یقین اوکړئ چه الله خپل کار سرته رسوونکے دے

اَمْرِهٖ ؕ قَدْ جَعَلَ اللّٰهُ لِکُلِّ شَیْءٍ قَدْرًا ۝ وَالّٰٓیِٔیْ

کار خپل | یقینًا | مقرر کړے دے | الله | د هر یو | څیز دپاره | یو (خاص) اندازه | او هغه زنانه

او الله تعالیٰ د هر څیز دپاره یوه اندازه مقرر کړے ده او ستاسو په ښځو کښ چه کومے ښځے

یَئِسْنَ مِنَ الْمَحِیْضِ مِنْ نِّسَآئِکُمْ اِنِ ارْتَبْتُمْ

چه نا امیده شوي دي | د حیض نه | د زنانو ستاسو نه | که چرے | تاسو شک کوئ

د حیض نه مایوسه شوي دي که ستاسو (د هغوی د عدت په باره کښ) شک وي

فَعِدَّتُهُنَّ ثَلٰثَةُ اَشْهُرٍ ۙ وَّالّٰٓیِٔیْ لَمْ یَحِضْنَ ؕ

نو د هغوی عدت | درے | میاشتے دے | او هغه زنانه (هم) | چه حیض نه وي راغلے د هغوی

نو د هغوی عدت درے میاشتے دے او د هغه زنانو چه حیض ئے لا نه دے راغلے (د هغوی هم دغه عدت دے)

وَاُولَاتُ الْاَحْمَالِ اَجَلُهُنَّ اَنْ یَّضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ؕ وَمَنْ

او د حمل والا زنانه | نیټه (عدت) د هغوی | دا دے چه | وزیږوي هغوی | خپل حمل | او څوک چه

او کومے زنانه چه حامله وي د هغوی د عدت نیټه (میعاد) د ماشوم زیږول دي

یَّتَّقِ اللّٰهَ یَجْعَلْ لَّهٗ مِنْ اَمْرِهٖ یُسْرًا ۝ ذٰلِکَ اَمْرُ

یریږي | د الله نه | نو هغه به جوړه کړي | ده له | د کار د ده نه | آساني | دا دے | حکم

او څوک چه د الله نه یریږي الله به د هغهٔ په کار کښ آساني پیدا کړي دا د الله حکم دے

اللّٰهِ اَنْزَلَهٗۤ اِلَيْكُمْ ؕ وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يُكَفِّرْ عَنْهُ

د الله | چه رالیږلی شوی دی | تاسو ته | او څوک | چه ویریږي | د الله نه | لوخفه به لرے کړي | د ده نه

چه تاسو ته ئے رالیږلے دے او څوک چه د الله نه ویریږي الله به د هغه ګناهونه معاف کړي

سَيِّاٰتِهٖ وَيُعْظِمْ لَهٗۤ اَجْرًا ۝ اَسْكِنُوْهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنْتُمْ

ګناهونه دده | او لوئي به کړي | ده له | اجر | اوسوئ تاسو دغه ښځے | چرته چه | تاسو اوسیږئ

او ډیر لوئے اجر به ورله ورکړي دغه (طلاق ئے شوے) ښځے (د عدت په ورځو کښ) د خپل وس (حیثیت) مطابق

مِّنْ وُّجْدِكُمْ وَلَا تُضَآرُّوْهُنَّ لِتُضَيِّقُوْا عَلَيْهِنَّ ؕ

د خپل طاقت مطابق | او ضرر مه ورکوئ هغوی ته | (د دے دپاره) چه تاسو تنګي اوکړئ | په هغوی باندے

په هغه ځائے کښ اوسوئ چرته چه تاسو اوسیږئ او د تنګولو دپاره هغوی ته تکلیف مه ورکوئ

وَاِنْ كُنَّ اُولَاتِ حَمْلٍ فَاَنْفِقُوْا عَلَيْهِنَّ حَتّٰى

او که چرے | وي دغه زنانه | حمل والا | نو خرچ اوکړئ | په هغوی باندے | تر دے

او که دغه ښځے حاملے (امیدوارے) وي نو بیا ورله د ماشوم د زیګولو وخت پورے

يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ۚ فَاِنْ اَرْضَعْنَ لَكُمْ فَاٰتُوْهُنَّ

چه هغوی اوزیګوی | حمل خپل | پس که چرے | هغوی ئے ورکوي | ستاسو دپاره | نو ورکړئ هغوی ته

خرچ خوراک ورکوئ بیا که هغوی ستاسو دپاره دغه ماشوم ته پئ (ئے) ورکوي نو هغوی ته د هغوی

اُجُوْرَهُنَّ ۚ وَاْتَمِرُوْا بَيْنَكُمْ بِمَعْرُوْفٍ ۚ وَاِنْ تَعَاسَرْتُمْ

مزدوري د هغوی | او مشوره اوکړئ تاسو | په خپل مینځ کښ | په ښه طریقه | او که چرے | سختي کوئ تاسو (د یو بل سره)

اجرت ورکړئ او (د اجرت مقررولو دپاره) په خپلو کښ په ښه طریقه مشوره اوکړئ او که تاسو یو بل سره سختي (شروع) کړه

فَسَتُرْضِعُ لَهٗۤ اُخْرٰى ؕ ۝ لِيُنْفِقْ ذُوْ سَعَةٍ مِّنْ سَعَتِهٖ ؕ

نو زر ده چه ئے به ورکړي | هغه (ماشوم) ته | بله زنانه | خرچ دے اوکړي | وس والا | د خپل وس مطابق

نو بله یوه ښځه دے دغه ماشوم ته ئے ورکړي هر وس والا (مالدار) دے د خپل وس مطابق خرچ خوراک (نفقه) ورکړي

وَمَنْ قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهٗ فَلْيُنْفِقْ مِمَّاۤ اٰتٰىهُ

او هغه څوک | چه تنګ کړے شو ے وي | په هغه باندے | د هغه رزق | نو هغه دے خرچ اوکړي | د هغه شانه | چه ور کړي دي هغه

او د چا رزق (لاس) چه تنګ وي نو الله چه ورله څومره (څه) ورکړي دي د هغے نه دے خرچ خوراک (نفقه) ورکړي

اللّٰهُ ؕ لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا مَاۤ اٰتٰىهَا ؕ سَيَجْعَلُ

الله | تکلیف نه ورکوي | الله | هیڅ یو کس ته | مګر | برابر د هغه طاقت | چه ور کړے ئے دے هغه | زر ده چه پیدا به کړي

الله تعالی چه چا ته څومره (څه) ورکړي دي د هغے نه زیات بوج پرے نه اچوي او ډیر زر به

اللّٰهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُّسْرًا ۝ وَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ عَتَتْ عَنْ اَمْرِ

الله | پس | د تنګئ نه | آساني | او ډیر کلي دي | چه نافرماني ئے اوکړه | د حکم

الله تعالی د سختئ نه پس آساني پیدا کړي او ډیر کلي داسے دي چه هغوی د خپل رب

ع

رَبِّهَا وَرُسُلِهٖ فَحَاسَبْنٰهَا حِسَابًا شَدِيْدًا ۙ وَّعَذَّبْنٰهَا

درب خپل | او د پیغمبرانو د هغهٔ | نو مونږ حساب او کړو د هغوی سره | حساب | ډیر سخت | او عذاب ورکړو مونږ هغوی ته

او د هغه د پیغمبرانو د حکم نه سرکشی او کړه نو مونږ ورسره ډیر سخت حساب او کړو او ډیر بد (خراب)

عَذَابًا نُّكْرًا ۝٨ فَذَاقَتْ وَبَالَ اَمْرِهَا وَكَانَ عَاقِبَةُ

عذاب | ډیر بد | پس او څکله هغوی | سزا | د کار خپل | او شو | آخیری انجام

عذاب مو ورکړو نو هغوی د خپلو عملونو سزا وڅکله او د هغوی د عملونو انجام همیشه تاوان شو

اَمْرِهَا خُسْرًا ۝٩ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيْدًا ۙ فَاتَّقُوا

د کار د هغوی | تاوان | تیار کړے دے | الله | د هغوی دپاره | عذاب | ډیر سخت | نو او ویرېږئ

(او په آخرت کښې) الله تعالیٰ د هغوی دپاره ډیر سخت عذاب تیار کړے دے نو اے عقل مندو!

اللّٰهَ يٰٓاُولِي الْاَلْبَابِ ۛۚ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۛ قَدْ اَنْزَلَ اللّٰهُ

د الله نه | اے عقل مندو | یعنی هغه کسانو | چه ایمان (مو) راوړے دے | یقینًا | نازل کړی دی | الله

چه ایمان مو راوړے دے د الله نه او ویرېږئ یقینًا الله تاسو ته یو نصیحت رالیږلے دے

اِلَيْكُمْ ذِكْرًا ۝١٠ رَّسُوْلًا يَّتْلُوْا عَلَيْكُمْ اٰيٰتِ اللّٰهِ مُبَيِّنٰتٍ

تاسو ته | نصیحت | یو پیغمبر | چه لولی هغه | په تاسو باندے | آیتونه | د الله | واضحه

(چه هغه) پیغمبر دے چه تاسو ته د الله واضحه (صفا) آیتونه لولی

لِّيُخْرِجَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

دے دپاره چه هغه راوباسی | هغه کسان | چه ایمان ئے راوړے دے | او عملونه ئے کړے دی | نیک

دے دپاره چه چا ایمان راوړے دے او نیک عملونه ئے کړی دی

مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ؕ وَمَنْ يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ وَيَعْمَلْ

د تیارو نه | رڼرا ته | او چا چه | ایمان راوړو | په الله | او عمل ئے او کړو

هغوی د تیارو نه رڼرا ته راوباسی او څوک چه په الله ایمان راوړی او نیک عمل او کړی

صَالِحًا يُّدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ

نیک | نو داخل به کړی هغه (الله) | (دا سے) جنتونو ته | چه بهیږی (به) | لاندے د هغے نه | نهرونه

نو الله به ئے داسے جنتونو ته داخل کړی چه د هغے د لاندے به نهرونه بهیږی

خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ قَدْ اَحْسَنَ اللّٰهُ لَهٗ رِزْقًا ۝١١ اَللّٰهُ

همیشه به وی | په هغے کښې | همیشه | یقینًا | ښائسته کړے دے | الله | د هٔ له | رزق | الله

هلته به همیشه اوسیږی الله تعالیٰ د هغه دپاره بهترین رزق تیار کړے دے الله تعالیٰ

الَّذِيْ خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ وَّمِنَ الْاَرْضِ مِثْلَهُنَّ ؕ

هغه (ذات) دے | چه پیدا کړی ئے دی | اوه | آسمانونه | او د زمکے نه (هم) | د دے په شان

هغه ذات دے چه اوه آسمانونه ئے پیدا کړی دی او زمکے ئے هم د غومره (پیدا کړی دی)

يَتَنَزَّلُ الْاَمْرُ بَيْنَهُنَّ لِتَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ

را کوزیږی | حکم | په مینځ ددوی کښې | (دے دپاره) چه پوهه شئ تاسو | چه بیشکه | الله | په هر یو

دالله تعالیٰ حکم د دوی په مینځ کښې را کوزیږی چه تاسو په دے پوهه شئ چه الله تعالیٰ په هر یو څیز

شَیْءٍ قَدِیْرٌ ۵ وَّاَنَّ اللّٰهَ قَدْ اَحَاطَ بِكُلِّ شَیْءٍ عِلْمًا ۱۲ ع

څیز باندے | (پوره قدرت لرونکے) دے | او یقینًا | الله | یقینًا | احاطه کړے ده | په هر یو څیز باندے | په علم سره

قادر دے او الله تعالیٰ هر یو څیز په خپل علم کښې راګیر کړے دے

رکوعاتها [۲]	سورة التّحریم مدنيّة	آیاتها [۱۲]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

يٰٓاَيُّهَا النَّبِیُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَآ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكَ ۚ تَبْتَغِیْ

اے نبیؐ! | ته ولے حرام ګرځے | هغه څه | چه حلال کړی دی | الله | ستا دپاره | ته لټوے (غواړے)

اے نبیؐ! اکوم څیز چه الله تعالیٰ ستا دپاره حلال کړے دے ته د خپلو بیبیانو

مَرْضَاتَ اَزْوَاجِكَ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۱ قَدْ فَرَضَ

رضا مندی | د خپلو بیبیانو | او الله دے | ډیر بخښونکے | ډیر مهربان | یقینًا | مقرر کړے دی

دخوشحالولو دپاره هغه (په ځان باندے) ولے بندوے؟ او الله تعالیٰ ډیر بخښونکے ډیر مهربان دے یقینًا

اللّٰهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ اَيْمَانِكُمْ ۚ وَاللّٰهُ مَوْلٰىكُمْ ۚ وَهُوَ

الله | ستاسو دپاره | پرانستل (ماتول) | د قسمونو ستاسو | او الله | دوست ستاسو دے | او هم هغه

الله تعالیٰ ستاسو دپاره د خپلو قسمونو د ټلو (دماتولو) طریقه مقرر کړے ده او الله تعالیٰ ستاسو کارساز دے

الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ۲ وَاِذْ اَسَرَّ النَّبِیُّ اِلٰى بَعْضِ اَزْوَاجِهٖ

ډیر پوهه | او دے حکمت والا دے | او کله چه | پټه کړه | نبیؐ | بعضے | بیبیانو خپلو ته

او هغه ډیر پوهه ډیر حکمت والا دے او هغه وخت یاد کړه کله چه پیغمبر خپلے یو بی بی ته

حَدِيْثًا ۚ فَلَمَّا نَبَّاَتْ بِهٖ وَاَظْهَرَهُ اللّٰهُ عَلَيْهِ

یوه خبره | پس هر کله | چه هغے (بی بی) خبر ورکړو | د هغے خبرے (بل ته) | او ښکاره کړه هغه خبره | الله | په ده (نبی) باندے

د راز یوه خبره او کړه بیا کله چه هغے (بی بی) هغه خبره بل ته او کړه او الله تعالیٰ دا خبره پیغمبر ته ښکاره کړه ؟ •

عَرَّفَ بَعْضَهٗ وَاَعْرَضَ عَنْۢ بَعْضٍ ۚ فَلَمَّا

نو هغه (نبی) او ښودله | یوه خبره | او مخ ئے واړولو | د بلے خبرے نه | پس هر کله چه

نو هغه (پیغمبر) هغے ته څۀ خبره خو ښکاره کړه او څه ئے ښکاره نه کړه بیا کله چه هغه (پیغمبر) هغے (بی بی) ته

نَبَّاَهَا بِهٖ قَالَتْ مَنْ اَنْۢبَاَكَ هٰذَاؕ قَالَ

هغه(نبي) خبر ورکړو هغې(بي بي)ته | دهغه خبر ے | نو اوویل هغې | (چه) چا | خبر در کړو تاته | دد ے | او ویل هغه (نبي)

خبره او کړه نو هغې ورته او ویل چه تاته دا خبره چا او کړه؟ هغه (نبي) ورته او ویل چه ماته هغه ذات او ښودله

نَبَّاَنِیَ الْعَلِیْمُ الْخَبِیْرُ ۝ اِنْ تَتُوْبَاۤ اِلَی اللّٰهِ فَقَدْ

خبرا کړے دے ماته | ډیر پوهه | پوره خبردار (ذات) | که چرے | توبه او باسئ تاسو دواړه | الله ته | نو یقیناً

چه هغه ډیر پوهه ډیر خبردار دے (اے د پیغمبر بیبیانو!) که تاسو الله ته توبه او ویستله (نو دا به ډیره ښه وی) ځکه چه

صَغَتْ قُلُوْبُكُمَاۚ وَاِنْ تَظٰهَرَا عَلَیْهِ فَاِنَّ اللّٰهَ

مائل شوی دی | زړونه ستاسو (تو بے ته) | او که چرے | تاسو مدد کوئ دیو بل | دهغه (نبي) خلاف | نو بیشکه | الله

ستاسو دواړو زړونه (هسے هم توبے ته) مائله شوی دی او که تاسو د پیغمبر په خلاف دیو بل سره مدد او کړه (یاد ساتئ چه)

هُوَ مَوْلٰىهُ وَجِبْرِیْلُ وَصَالِحُ الْمُؤْمِنِیْنَۚ وَالْمَلٰٓئِكَةُ بَعْدَ

هم دهغه دوست دے | او جبریلؑ | او نیکان | مومنان | او فرشتے (هم) | وروستو

چه الله هم دهغهٔ مولیٰ دے جبریلؑ او نیکان مومنان او فرشتے هم د هغه مددګارے دی

ذٰلِكَ ظَهِیْرٌ ۝ عَسٰی رَبُّهٗۤ اِنْ طَلَّقَكُنَّ اَنْ یُّبْدِلَهٗۤ

دد ے نه | مددګار دے | نزدے ده | چه رب دهغه(نبي) | که چرے | هغه طلاق در کړی تاسوته | په بدل کښ به ورکړی هغه ته

که هغه (نبي) تاسو له طلاق در کړی نو (دا څه ګران نه ده چه) الله تعالیٰ به هغه ته ستاسو په ځائے

اَزْوَاجًا خَیْرًا مِّنْكُنَّ مُسْلِمٰتٍ مُّؤْمِنٰتٍ قٰنِتٰتٍ تٰٓئِبٰتٍ

بیبیانے | ډیرے غوره | ستاسو نه | مسلمانانے | مومنانے | حکم منونکے | توبه ویستونکے

داسے بیبیانے ورکړی چه هغه به مسلمانانے، مومنانے، خبره منونکے، توبه ویستونکے

عٰبِدٰتٍ سٰٓئِحٰتٍ ثَیِّبٰتٍ وَّاَبْكَارًا ۝ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا قُوْۤا

عبادت کوونکے | روژه نیوونکے | کونډے | او پیغلے | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | بچ کړئ تاسو

عبادت ګذارے، روژه دارے وی که مخکښے نے خاوندان وو او که پیغلے. اے مومنانو!

اَنْفُسَكُمْ وَاَهْلِیْكُمْ نَارًا وَّقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ

ځانونه خپل | او بال بچ خپل | د (هغه) اور نه | چه خشاک دهغے به | خلق | او ګټے دی

خپل ځانونه او خپل کور والا د هغه اور نه بچ کړئ چه د هغے خشاک (به) خلق او ګټے وی

عَلَیْهَا مَلٰٓئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا یَعْصُوْنَ اللّٰهَ مَاۤ

(مقرر دی) په هغے باندے | فرشتے | سخت خویه | ډیرے سختے | چه نافرمانی نه کوی هغوی | د الله | په هغه څه کښ

په هغے باندے داسے سخت خویه او ډیرے سختے (مضبوطے) فرشتے مقرر دی چه د الله تعالیٰ

اَمَرَهُمْ وَیَفْعَلُوْنَ مَا یُؤْمَرُوْنَ ۝ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ كَفَرُوْا

چه هغه حکم کړے شوی هغوی ته | او کوی هغوی | هغه څه | چه حکم ئے کولے شی هغوی ته | اے هغه کسانو چه کفر مو کړے دے

دیو حکم نافرمانی هم نه کوی او هم هغه څه کوی د څه چه ورته هغه حکم کوی اے کافرانو!

ع لَا تَعْتَذِرُوا الْيَوْمَ ۖ اِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝۷

بهانې (عذر) مه کوئ | نن ورځ | بیشکه | بدله درکولی شي تاسو ته | دهغه څه | چه تاسو به کول

نن بهانې (عذرونه) مه (پیش) کوئ تاسو ته خو بس (صرف) د خپلو عملونو بدله (سزا) ملاویږي

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا تُوْبُوْٓا اِلَى اللّٰهِ تَوْبَةً نَّصُوْحًا ۖ عَسٰى

اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | توبه اوباسئ | الله ته | توبه | خالصه (رشتنې) | نزدے ده

اے مومنانو ! الله تعالی ته رشتنې توبه اوباسئ امید دے چه

رَبُّكُمْ اَنْ يُّكَفِّرَ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَيُدْخِلَكُمْ جَنّٰتٍ

چه رب ستاسو | لرے کړي | تاسو نه | گناهونه ستاسو | او داخل کړي تاسو | (هغه) جنتونو ته

ستاسو رب ستاسو گناهونه معاف کړي او داسے جنتونو ته مو داخل کړي چه

تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۙ يَوْمَ لَا يُخْزِي اللّٰهُ النَّبِيَّ

چه بهیږي (به) | لاندے د هغے | نهرونه | په هغه ورځ | چه نه به رسوا کوي | الله | نبي

د هغے د لاندے (به) نهرونه بهیږي په هغه ورځ به الله پیغمبر

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ ۚ نُوْرُهُمْ يَسْعٰى بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ

او هغه خلق | چه ایمان ئے راوړے دے | د ده سره | رڼرا د دوی به | منډے وهي | وړاندے د دوی نه

او چا چه د هغه سره ایمان راوړے دے نه رسوا کوي د دوی رڼرا به د دوی مخے ته

وَبِاَيْمَانِهِمْ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اَتْمِمْ لَنَا نُوْرَنَا وَاغْفِرْ

او ښی طرف د دوی ته | وائی به دوی | اے زمونږ ربه | ته پوره کړه | زمونږ دپاره | زمونږ رڼرا | او بخښنه اوکړه

او د دوی ښی طرف ته روانه وی (منډے به وهي) وائی به چه اے زمونږ ربه زمونږ دپاره زمونږ رڼرا پوره کړه

لَنَا ۚ اِنَّكَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝۸ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ

مونږ ته | بیشکه ته ئے | په هر یو | څیز باندے | (پوره) قدرت لرونکے | اے نبیؐ !

او مونږ ته بخښنه اوکړه یقیناً ته په هر څیز پوره قدرت لرے اے نبیؐ !

جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ ۖ وَمَاْوٰىهُمْ

جهاد کوه | د کافرانو سره | او منافقانو سره | او سختی کوه | په هغوی باندے | او ځائے د دوی

د کافرانو او منافقانو سره جهاد اوکړه او په دوی باندے سختی اوکړه او د دوی ځائے

جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۝۹ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ

دوزخ دے | او ډیر بد | ځائے د ورتلو دے هغه | بیان کړے دے | الله | یو مثال | د هغه کسانو

دوزخ دے او هغه ډیر بد ځائے دے الله تعالی د کافرانو دپاره

كَفَرُوْا امْرَاَتَ نُوْحٍ وَّامْرَاَتَ لُوْطٍ ط كَانَتَا تَحْتَ

چه کفر ئې کړے دے | د ښځې | د نوحؑ | او د ښځې | د لوطؑ | وے دا دواړه | (لاندے په نکاح کښې)

د نوحؑ د ښځې او د لوطؑ د ښځې مثال بیانوي (چه) دغه دواړه زمونږ د دوو نیکانو بندګانو په نکاح کښې وے

عَبْدَيْنِ مِنْ عِبَادِنَا صَالِحَيْنِ فَخَانَتٰهُمَا فَلَمْ يُغْنِيَا

د دوه بندګانو | زمونږ د بندګانو نه | چه نیکان وو | نو هغې دواړو خیانت اوکړو د هغوی سره | نو هغوی دواړو لرے نه کړو

خو هغوی دواړو د هغوی سره خیانت اوکړو (بے وفائي اوکړه) نو هغوی دواړه

عَنْهُمَا مِنَ اللّٰهِ شَيْئًا وَّقِيْلَ ادْخُلَا النَّارَ

د هغې دواړو (ښځو) نه | د الله (د عذاب) نه | هیڅ شیز | او اوویل شو | (چه) دواړه داخلې شئ | اور ته

د الله د عذاب په دفع کولو کښې د هغوی په هیڅ کار را نغلل او ورته اوویل شو چه نورو داخلیدونکو سره

مَعَ الدّٰخِلِيْنَ ۝١٠ وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا

د داخلیدونکو سره | او بیان کړے دے | الله | یو مثال | د هغه کسانو د پاره | چه ایمان ئې راوړے دے

تاسو دواړه هم دوزخ ته داخلې شئ او د مومنانو د پاره الله د فرعون د ښځې مثال بیانوي

امْرَاَتَ فِرْعَوْنَ ۘ اِذْ قَالَتْ رَبِّ ابْنِ لِيْ عِنْدَكَ

د ښځې | د فرعون | کله چه | اوویل هغې | اے زما ربه | ته جوړ کړه | زما د پاره | ستا په خوا کښې

کله چه هغې خپل رب ته اوویل چه اے زما ربه! زما د پاره د خپل ځان سره (په خوا کښې)

بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ وَنَجِّنِيْ مِنْ فِرْعَوْنَ وَعَمَلِهٖ وَنَجِّنِيْ

یو کور | په جنت کښې | او بچ کړه ما | د فرعون | او د هغه د عمل نه | او بچ کړه ما

په جنت کښې یو کور جوړ کړه او د فرعون او د هغه د عمل نه ما ته نجات را کړه

مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ۝١١ وَمَرْيَمَ ابْنَتَ عِمْرٰنَ الَّتِيْٓ

د قوم | ظالمانو نه | او د مریمؑ | لور | د عمران | هغه

او د ظالمانو خلقو نه هم ما ته نجات را کړه او (بل مثال الله) د عمران د لور مریمؑ (بیانوي) چه

اَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيْهِ مِنْ رُّوْحِنَا وَصَدَّقَتْ

چه بچ ساتلې وه هغې | عزت خپل | نو مونږ پوک اووهلو | په هغې کښې | د روح خپل نه | او تصدیق کړے وو هغې

د خپل عزت (ناموس) حفاظت ئې کړے وو نو مونږ په هغې کښې خپل روح پُوک کړو

بِكَلِمٰتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهٖ وَكَانَتْ مِنَ الْقٰنِتِيْنَ ۝١٢ ع

د خبرو | د رب خپل | او د کتابونو د هغهٔ | او وه هغه | د تابعدارو نه

او هغې د خپل رب د خبرو او د هغه د کتابونو تصدیق کړے وو او هغه په فرمانبردارو خلقو کښې شامله وه.

آیاتہا [۳۰]	سورۃ المُلک مکّیّۃ	رکوعاتہا [۲]

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

خاص پہ نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په نوم د ذَات هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

تَبٰرَكَ الَّذِیۡ بِیَدِهِ الۡمُلۡكُ ۫ وَهُوَ عَلٰی كُلِّ شَیۡءٍ

ډیر برکت والا دے | هغه ذات | چه د هغه په لاس کښې | بادشاهي ده | او هغه | په هر یو | څیز باندے

هغه ذات چه د هغه په لاس کښې بادشاهي ده هغه ډیر برکت (لوئي شان) والا دے او هم هغه په هر یو څیز

قَدِیۡرُ ۙ۟ الَّذِیۡ خَلَقَ الۡمَوۡتَ وَالۡحَیٰوةَ لِیَبۡلُوَكُمۡ

قادر دے | هغه ذات | چه پیدا کړی ئے دے | مرګ | او ژوندن | چه از میښت او کړی په تاسو

قادر دے۔ (هم) هغه مرګ او ژوندن د دے دپاره پیدا کړی دی چه تاسو اوازمائی

اَیُّكُمۡ اَحۡسَنُ عَمَلًا ؕ وَهُوَ الۡعَزِیۡزُ الۡغَفُوۡرُ ۙ۟ الَّذِیۡ

چه کوم یو په تاسو کښې | زیات ښائسته دے | په عمل کښې | او هغه | ډیر غالب | ډیر بخښونکے دے | هغه ذات

چه په تاسو کښې څوک ښائسته عمل کوی او هغه ډیر بخښونکے ډیر مهربان دے۔ هغه

خَلَقَ سَبۡعَ سَمٰوٰتٍ طِبَاقًا ؕ مَا تَرٰی فِیۡ خَلۡقِ

چه پیدا کړی ئے دی | اوه | آسمانونه | لاندے باندے | او په نه وینے ته | په پیدا ایښت

اوه آسمانونه لاندے باندے پیدا کړی دی ته به د رحمن په پیدا ایښت کښې

الرَّحۡمٰنِ مِنۡ تَفٰوُتٍ ؕ فَارۡجِعِ الۡبَصَرَ ۙ هَلۡ تَرٰی مِنۡ فُطُوۡرٍ ۝

د رحمن کښې | هیڅ | نقصان | نو او ګرځوه ته | نظر | آیا | ته وینے | څه | چاودے

هیڅ فرق (نقصان) بیا نه مومے نو بار بار نظر واچوه آیا څه خلل درته ښکاری؟

ثُمَّ ارۡجِعِ الۡبَصَرَ كَرَّتَیۡنِ یَنۡقَلِبۡ اِلَیۡكَ الۡبَصَرُ خَاسِئًا

بیا | واچوه | نظر | دوباره | واپس به شی | تا ته | ستړے | ناکامه (عاجزه)

بیا بار بار نظر واچوه (نو) نظر به دے هر ځل تاته ناکام (ذلیله) ستومانه

وَّهُوَ حَسِیۡرٌ ۝ وَلَقَدۡ زَیَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنۡیَا بِمَصَابِیۡحَ

او هغه به | ستړے وی | او یقینًا | مونږ ښائسته کړے دے | نزدے | آسمان | په ډیوو سره

را واپس شی، او یقینًا مونږ نزدے آسمان (د ستورو) په ډیوو ښائسته کړے دے

وَجَعَلۡنٰهَا رُجُوۡمًا لِّلشَّیٰطِیۡنِ وَاَعۡتَدۡنَا لَهُمۡ عَذَابَ

او مونږ جوړ کړی دی هغه | ویشتونکی | د شیطانانو | او مونږ تیار کړے دے | د هغوی دپاره | عذاب

او دا مود شیطانانو د ویشتلو ذریعه هم جوړه کړے ده، او د هغوی دپاره مونږ د ګرم (سور) اور

السَّعِيْرِ ۝٥ وَلِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ ؕ

د اُور گرم | او هغه کسانو دپاره | چه کفر ئے کړے دے | په رب خپل | عذاب | د دوزخ دے

عذاب تيار کړے دے. او چا چه د خپل رب نه انکار کړے دے د هغوی دپاره د دوزخ عذاب دے

وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۝٦ اِذَآ اُلْقُوْا فِيْهَا سَمِعُوْا لَهَا شَهِيْقًا

او ډير بد | ځائے دے هغه | هر کله به | چه اوغورځولی شی | په هغے کښ | تو دوی به واوری | د هغے | چغے (هنګار)

او هغه ډير بد ځائے دے. کله چه دوی هغے ته اوغورځولے شی نو دوی به د هغے ګرزار آوری

وَّهِيَ تَفُوْرُ ۝٧ لا تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ الْغَيْظِ ؕ كُلَّمَآ اُلْقِيَ

او هغه به | جوش وهی | نزدے ده | چه او به چوی | د غصے نه | هر کله | چه اوغورځولی شی

او هغه به جوش وهی دا سے به ښکاری چه د (ډيرے) غصے د وبے او چوی کله هم چه هغے ته (د کافرانو) یوه ډله اوغورځولی شی

فِيْهَا فَوْجٌ سَاَلَهُمْ خَزَنَتُهَآ اَلَمْ يَاْتِكُمْ نَذِيْرٌ ۝٨

په هغے کښ | یوه ډله | (نو) تپوس به کوی د هغوی نه | څوکيداران د هغے | (چه) آیا نه وو راغلے تاسو ته | څوک يرووونکے

نو د هغے محافظ (څوکيداران) فرشتے به ترے تپوس اوکړی چه وے تاسو ته څوک خبردارکوونکے (يرووونکی) نه وو درغلی؟

قَالُوْا بَلٰى قَدْ جَآءَنَا نَذِيْرٌ ۙ فَكَذَّبْنَا وَقُلْنَا

وائی به دوی | وے نه | يقيناً | راغلے وو مونږ ته | يرووونکے | پس مونږ دروغ اوګڼړلو (هغه) | او اوويل مونږ

هغوی به ورته وائی چه وے نه وو راغل خو مونږ هغوی دروغژن اوګڼړل او ورته مو اوويل

مَا نَزَّلَ اللّٰهُ مِنْ شَيْءٍ ۚۖ اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ

چه نه دے رالیږلے | الله | هيڅ يو څيز | نه يئ تاسو | مګر | په ګمراهئ

چه الله تعالیٰ هيڅ څه نه دی نازل کړی. تاسو خو ډير په لويه ګمراهئ (غلطئ) کښې پراته يئ

كَبِيْرٍ ۝٩ وَقَالُوْا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ اَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا

لويه کښې | او او به وائی دوی | که چرے | مونږ | اوریدلے | يا مونږ پوهيدلے | نو نه به وو مونږ

او دوی به اووائی چه که مونږ دا خبره اوریدلے وے يا مو د عقل نه کار اخستے وے نو (نن به)

فِيْٓ اَصْحٰبِ السَّعِيْرِ ۝١٠ فَاعْتَرَفُوْا بِذَنْۢبِهِمْ ۚ فَسُحْقًا

په | اُور والو | کښې | پس اقرار اوکړو دوی | د ګناه خپلے | پس تباهی ده

په دوزخيانو کښې شامل نه وے بس (دغه شان) به دوی د خپلو جرمونو اعتراف اوکړی، پس په

لِّاَصْحٰبِ السَّعِيْرِ ۝١١ اِنَّ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ

د | اُور والو | دپاره | بيشکه | هغه کسان | چه يريږی | د رب خپل نه | بے د ليدو

دوزخيانو دے د الله لعنت وی. (بل طرف ته) څوک چه بغير د ليدو د خپل رب نه يريږی

لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ كَبِيْرٌ ۝١٢ وَاَسِرُّوْا قَوْلَكُمْ اَوِ اجْهَرُوْا

د هغوی دپاره | بخښنه ده | او اجر (دے) | ډير لوے | او (که) تاسو پټه کړئ | وينا خپله | يا ښکاره کړئ تاسو

د هغوی دپاره يقيناً مغفرت او ډير لوے اجر دے او تاسو که خپله خبره پټه کوئ يا ئے په زوره کوئ

بِهٖ ؕ اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۱۳﴾ اَلَا يَعْلَمُ مَنْ

هغه | بیشکه هغه | ښه پوهه دے | په راز (خبرو) | د سینو | آیا نه پوهیږی | هغه ذات

خو هغه د زړونو په خبرو خبردار دے. آیا هغه ذات نه پوهیږی چا چه

خَلَقَ ؕ وَهُوَ اللَّطِيْفُ الْخَبِيْرُ ﴿۱۴﴾ هُوَ الَّذِىْ جَعَلَ لَكُمُ

چه پیدائش ئے کړے دے | او هغه | ډیر باریک لیدونکے | ډیر خبردار دے | هم هغه ذات دے | چه جوړه کړے ئے ده | ستاسو دپاره

(مخلوق) پیدا کړے دے؟ او هغه خو ډیر باریک بین او (د هر څیز نه) پوره خبردار دے هم الله هغه ذات دے

الْاَرْضَ ذَلُوْلًا فَامْشُوْا فِىْ مَنَاكِبِهَا وَكُلُوْا مِنْ رِّزْقِهٖ ؕ

زمکه | تابع | نو ګرځئ | په طرفونو (لارو) د هغے کښ | او خورئ | د رزق د هغه نه

چه زمکه ئے ستاسو دپاره نرمه (د استعمال قابله جوړه) کړے ده بس تاسو د دے لارو کښ ګرځئ راګرځئ او د هغه رزق خورئ

وَاِلَيْهِ النُّشُوْرُ ﴿۱۵﴾ ءَاَمِنْتُمْ مَّنْ فِى السَّمَآءِ اَنْ يَّخْسِفَ

او خاص هغه ته | ورپاڅیدل دی | آیا په امن یئ تاسو | د هغه ذات نه | چه په آسمان کښ دے | چه ښخ (به) کړی

او د هغه طرف ته به بیا ژوندی ور ځئ. آیا تاسو د دے خبرے نه بے خوفه (بے غمه) یئ چه کوم ذات په

بِكُمُ الْاَرْضَ فَاِذَا هِىَ تَمُوْرُ ﴿۱۶﴾ اَمْ اَمِنْتُمْ مَّنْ

تاسو لره | په زمکه کښ | نو ناګهانه به | هغه | خوزیږی | یا په امن یئ تاسو | د هغه ذات نه

آسمان کښ دے هغه مو په زمکه کښ ښخ کړی، نو دا (زمکه) به ناګهانه په لړزیدو شی. آیا تاسو د دے خبرے نه

فِى السَّمَآءِ اَنْ يُّرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ؕ فَسَتَعْلَمُوْنَ

چه په آسمان کښ دی | چه | راولیږی | په تاسو باندے | د کاڼو باران | نو زر ده چه تاسو به پوهه شئ

بے خوفه یئ چه کوم ذات په آسمان کښ دے هغه در باندے د کاڼو باران راووروی؟ بیا به درته پته ولګی

كَيْفَ نَذِيْرِ ﴿۱۷﴾ وَلَقَدْ كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ

چه څنګه دی | ویرول زما؟ | او یقینًا | دروغ ګڼلی وو (پیغمبران) | هغه کسانو | چه مخکښے د دوی نه وو

چه زما یرول څنګه وو؟ او کوم خلق چه د دوی نه مخکښ وو هغوی هم (حق) دروغ ګڼلے وو

فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ﴿۱۸﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا اِلَى الطَّيْرِ فَوْقَهُمْ

نو څنګه | وو | عذاب زما | آیا دوی نه ګوری | مارغانو ته | د پاسه د دوی

نو (او ګوره چه) زما عذاب څنګه وو؟ آیا دوی د ځان نه بره مارغانو ته نه دی کتلی چه

صٰٓفّٰتٍ وَّيَقْبِضْنَ ؔۘ مَا يُمْسِكُهُنَّ اِلَّا الرَّحْمٰنُ ؕ اِنَّهٗ

(چه) خوروونکی دی (د) وزرو | او بندوی (راټولوی) هغے لره | نه ټینګوی دوی لره | مګر | رحمٰن ذات | بیشکه هغه دے

وزرے ئے خورے کړی وی او راغونډوی ئے، دا د الله تعالٰی نه سوا بل هیڅ چا نه دی راټینګ کړی

بِكُلِّ شَىْءٍۢ بَصِيْرٌ ﴿۱۹﴾ اَمَّنْ هٰذَا الَّذِىْ هُوَ جُنْدٌ لَّكُمْ

د هر یو | څیز | ښه لیدونکے | آیا څوک دے | هغه ذات | چه هغه | لښکر دے | ستاسو

یقینًا هغه هر څیز ښه وینی. آیا د رحمٰن ذات نه سوا بل څوک دی چه ستاسو لښکر شی

يَنْصُرُكُمْ مِّنْ دُوْنِ الرَّحْمٰنِ ؕ اِنِ الْكٰفِرُوْنَ اِلَّا فِيْ غُرُوْرٍ ﴿٢٠﴾

چه مدد او کړی ستاسو | سوا | د رحمٰن ذات نه | نه دي | کافران | مګر | په دهوکه کښې

چه مدد مو اوکړی؟ کافران خو تش په دهوکه کښې پراته دي.

اَمَّنْ هٰذَا الَّذِيْ يَرْزُقُكُمْ اِنْ اَمْسَكَ رِزْقَهٗ ۚ

آیا څوک دے | هغه ذات | چه رزق در کړی تاسو ته | که چرے | بند کړی هغه (الله) | رزق خپل

که الله تعالیٰ رزق بند کړی نو (آیا) بل څوک دی چه تاسو له رزق درکړی؟

بَلْ لَّجُّوْا فِيْ عُتُوٍّ وَّنُفُوْرٍ ﴿٢١﴾ اَفَمَنْ يَّمْشِيْ مُكِبًّا

بلکه | ورننوتی دی دوی | په سرکشئ | او په نفرت کښې | آیا نو هغه څوک | چه ګرځی | پړمخے

لیکن (د دے باوجود هم) دوی په سرکشئ او په نفرت کښې کلک ورننوتی (انخق) دی. آیا څوک چه پړمخے روان وی

عَلٰى وَجْهِهٖٓ اَهْدٰٓى اَمَّنْ يَّمْشِيْ سَوِيًّا عَلٰى صِرَاطٍ

په مخ خپل باندے | ښه لار موندونکے دے | یا هغه څوک | چه ګرځی | برابر (نیغ) | په | لاره

هغه په سمه لار دے؟ یا هغه څوک چه په سمه لار باندے برابر (نیغ) روان وی؟

مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٢٢﴾ قُلْ هُوَ الَّذِيْٓ اَنْشَاَكُمْ وَجَعَلَ لَكُمُ

نیغه باندے | اووایه | چه هغه (الله) | هم هغه دے | چه پیدا کړی یئ تاسو | او جوړ کړی ئے دی | تاسو لره

(اے نبیؐ!) ورته اووایه چه الله هم هغه ذات دے چه تاسو یئ پیدا کړی یئ

السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ؕ قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ﴿٢٣﴾ قُلْ

غوږونه | او سترګے | او زړونه | ډیر لږ | تاسو شکر کوئ | اووایه

او غوږونه او سترګے او زړونه ئے درکړی دی (خو) تاسو ډیر لږ شکر کوئ. اووایه چه

هُوَ الَّذِيْ ذَرَاَكُمْ فِي الْاَرْضِ وَاِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿٢٤﴾

هغه (الله) | هغه دے | چه خواره کړی یئ تاسو | په زمکه کښې | او خاص هغه ته به | تاسو ور جمع کولی شئ

هم هغه ذات دے چه تاسو یئ په زمکه کښې خواره کړی یئ او هم هغه ته به (واپس) ور جمع کیږئ.

وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٢٥﴾ قُلْ

او دوی وائی | چه کله به وی | دا | وعده | که چرے | یئ تاسو | رشتنی | اووایه

او دوی وائی چه که تاسو رشتنی یئ نو (راته اووایئ چه) دا وعده به کله پوره کیږی؟ ته ورته اووایه

اِنَّمَا الْعِلْمُ عِنْدَ اللّٰهِ ۠ وَاِنَّمَآ اَنَا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٢٦﴾ فَلَمَّا

بیشکه | علم | د الله سره دے | او بیشکه | زه (خو) یم | یرووونکے | ښکاره | بیا هر کله چه

چه د دے علم خو صرف د الله تعالیٰ سره دے او زه خو بس یو ښکاره یرووونکے یم. بیا هر کله چه

رَاَوْهُ زُلْفَةً سِيْٓـَٔتْ وُجُوْهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَقِيْلَ

اووینی دوی هغه (عذاب) | نزدے | نو تور (وران) به شی | مخونه | د هغه کسانو | چه کفر ئے کړے دے | او اوبه ویلی شی

دوی اووینی چه قیامت خو نزدے راغے نو د کافرانو مخونه به وران شی او (ورته به) اوویلے شی

هٰذَا الَّذِیْ كُنْتُمْ بِهٖ تَدَّعُوْنَ ﴿۲۷﴾ قُلْ اَرَءَیْتُمْ اِنْ

دا دے | هغه څیز | چه تاسو دے لره غوښتلو | اووایه | آیا کتلی دی تاسو | که چرے

چه دا هغه څیز دے چه تاسو به غوښتلو (اے نبیؐ! دوی ته) اووایه چه (لږ دا راته اووایئ) که چرے

اَهْلَكَنِیَ اللّٰهُ وَمَنْ مَّعِیَ اَوْ رَحِمَنَا ۙ فَمَنْ یُّجِیْرُ

هلاک کړی ما لره | الله | او هغه څوک | چه زما سره دی | یا هغه رحم اوکړی په مونږ بانده | نو څوک به | پناه ورکړی

الله ما او زما ملګری هلاک کړی یا په مونږ بانده رحم اوکړی نو کافران به

الْكٰفِرِیْنَ مِنْ عَذَابٍ اَلِیْمٍ ﴿۲۸﴾ قُلْ هُوَ الرَّحْمٰنُ اٰمَنَّا

کافرانو ته | د عذاب | دردناک نه | اووایه | هغه | رحمٰن دے | مونږ ایمان راوړے دے

د دردناک عذاب نه څوک بچ کړی؟ اووایه چه هغه رحمن ذات دے مونږ هم په هغه ایمان راوړے دے

بِهٖ وَعَلَیْهِ تَوَكَّلْنَا ۚ فَسَتَعْلَمُوْنَ مَنْ هُوَ

په هغه بانده | او هم په هغهٔ | مونږ توکل کړے دے | پس زر ده چه او به پیژنئ تاسو | هغه څوک | چه دے هغه

او هم په هغه مو توکل کړے دے تاسو ته به ډیر زر پته اولګی چه په ښکاره

فِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ﴿۲۹﴾ قُلْ اَرَءَیْتُمْ اِنْ اَصْبَحَ مَآؤُكُمْ

په ګمراهئ | ښکاره کښ | اووایه | آیا خبر ئے تاسو | که چرے | شی (صبا له) | او به ستاسو

ګمراهئ کښ څوک مبتلا وو، ورته اووایه چه لږ سوچ اوکړئ چه که چرے ستاسو دا (د څکلو) او به

غَوْرًا فَمَنْ یَّاْتِیْكُمْ بِمَآءٍ مَّعِیْنٍ ﴿۳۰﴾ ع

وچ | نو څوک دی | چه راوړی تاسو له | او به | روانے (چینه دارے)

لاندے لاړے شی (غائبے شی) نو څوک دی چه تاسو له د چینے او به راولی.

آیاتها [۵۲]	سورة القلم مكّيّة	ركوعاتها [۲]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم.

نٓ وَالْقَلَمِ وَمَا یَسْطُرُوْنَ ﴿۱﴾ ۙ مَآ اَنْتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ

ن | قسم دے په قلم | او په هغه څه | چه دوی (ئے) لیکی | نه ئے ته | په نعمت | د رب خپل

ن، د قلم او دوی چه څه لیکی د هغے قسم دے (چه اے نبیؐ!) د قرآن د بیان په وجه په تا لیولتوب نه دے راغلے

بِمَجْنُوْنٍ ﴿۲﴾ ۚ وَاِنَّ لَكَ لَاَجْرًا غَیْرَ مَمْنُوْنٍ ﴿۳﴾ ۚ وَاِنَّكَ

لیونے | او بیشکه | ستا د پاره دے | خامخا اجر | نه ختمیدونکے | او بیشکه ته ئے

او یقین اوکړه چه ستا د پاره (خو) نه ختمیدونکے (بے انتهاء) اجر دے او یقیناً ستا

لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِيْمٍ ﴿٤﴾ فَسَتُبْصِرُ وَيُبْصِرُوْنَ ﴿٥﴾ بِاَيِّكُمُ الْمَفْتُوْنُ ﴿٦﴾

خامخا په اخلاقو | لوی یو باندے | پس زر ده او به وګورے | او دوی به (هم) اووینی | چه په کوم یو ستاسو باندے | لیونتوب دے

اخلاق ډیر اوچت دی. پس ډیر زر ته به (هم) اووینے او دوی به هم اووینی چه په تاسو کښې کوم یو لیونے دے

اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيْلِهٖ ۠ وَهُوَ

بیشکه | رب ستا | ښه پوهه دے | په هغه چا باندے | چه ګمراه شوے دے | د هغهٔ د لارے نه | او هغه

یقینًا ستا رب هغه څوک هم ښه پیژنی څوک چه د هغه د لارے نه ګمراه شوی دی او هغه څوک هم

اَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِيْنَ ﴿٧﴾ فَلَا تُطِعِ الْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٨﴾ وَدُّوْا لَوْ

ښهٔ پوهه دے | په هدایت موندونکو باندے | پس ته خبره مهٔ منه | د دروغ ګڼړونکو | دوی غواړی | کاش چه

ښه پیژنی چه په سمه لار روان دی نو (اے نبیؐ!) ته (د حق) د دروغ ګڼړونکو خبره مهٔ منه. دوی خو دا غواړی

تُدْهِنُ فَيُدْهِنُوْنَ ﴿٩﴾ وَلَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ مَّهِيْنٍ ﴿١٠﴾

ته نرمی اوکړے | نو دوی به (هم) نرمی اوکړی | او ته خبره مهٔ منه | د هر | قسم خوړونکی | سپک (ذلیله) کس

چه ته نرم شے په مسئله د توحید کښې نو دوی به هم نرم شی په مخالفت نه کولو سره او د داسے هیچ یو کس خبره مهٔ منه چه ډیر قسمونه

هَمَّازٍ مَّشَّآءٍۢ بِنَمِيْمٍ ﴿١١﴾ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ اَثِيْمٍ ﴿١٢﴾

ډیر عیب لګوونکی | ډیر ګرځیدونکی | په چغلی سره | ډیر منع کوونکے | د خیر | د حد نه اوړیدونکی | ډیر ګناهګار

خوری او ذلیله دے عیب لګوونکے چغلی کوونکے د خیر نه منع کوونکے د حد نه اوړیدونکے (زیاتی کوونکے) بد عمله (ګناهګار) دے

عُتُلٍّۢ بَعْدَ ذٰلِكَ زَنِيْمٍ ﴿١٣﴾ اَنْ كَانَ ذَا مَالٍ وَّبَنِيْنَ ﴿١٤﴾

بد خویه | پس د دے نه | بد اصله هم دے | ځکه چه | هغه دے | د مال | او ځامنو والا

بد خویه دے او د دے نه علاوه بد ذاته (هم) دے. صرف په دے وجه (د هغه خبره مهٔ منه) چه دے مالدار دے او ځامن ئے ډیر دی

اِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِ اٰيٰتُنَا قَالَ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿١٥﴾

هر کله | چه لوستلی شی | په دهٔ باندے | آیتونه زمونږ | نو وائی | چه دا خو دروغ قصے دی | د پخوانو (وړومبنو)

کله چه ورته زمونږ آیتونه اولوستلی شی نو وائی چه دا خو د پخوانو خلقو قصے دی

سَنَسِمُهٗ عَلَى الْخُرْطُوْمِ ﴿١٦﴾ اِنَّا بَلَوْنٰهُمْ كَمَا

زر ده چه مونږ به داغ اولګوو | په خرتم (پوزه) د دهٔ باندے | بیشکه | مونږ ازمیښت کړے دے په دوی | لکه څنګه چه

مونږ به ورله ډیر زر په پوزه داغ اولګوو. مونږ په دے مکے والو باندے هم داسے ازمیښت کړے دے

بَلَوْنَآ اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ ۚ اِذْ اَقْسَمُوْا لَيَصْرِمُنَّهَا

مونږ ازمیښت کړے وو | په باغ والو باندے | کله چه | قسم اوکړو هغوی | چه خامخا پریکوی به هغوی هغه (فصل)

لکه څنګه چه مو په باغ والو باندے هغه وخت ازمیښت کړے وو کله چه هغوی قسمونه اوخوړل

مُصْبِحِيْنَ ﴿١٧﴾ وَلَا يَسْتَثْنُوْنَ ﴿١٨﴾ فَطَافَ عَلَيْهَا طَآئِفٌ

سحر وختی | او ان شاء الله ئے اونه ویله | پس راغے (د شپے) | په هغے باندے | یو راتلونکے آفت

چه سحر وختی به (د دے باغ) میوے پریکوی. او ان شاء الله ئے اونه ویله نو بس هغوی لا (د شپے) اوده وو

مِّنْ رَّبِّكَ وَهُمْ نَآئِمُوْنَ ﴿١٩﴾ فَاَصْبَحَتْ كَالصَّرِيْمِ ﴿٢٠﴾

ستا د رب د طرف نه | او هغوی | اوده وو | نو شو هغه | پشان د پریکړے شوی

چه ستا د رب د طرف نه په هغه باغ يو آفت د شپے شپے چکر او وهلو نو هغه (باغ) داسے شو لکه ريبلے شوے فصل

فَتَنَادَوْا مُصْبِحِيْنَ ﴿٢١﴾ اَنِ اغْدُوْا عَلٰى حَرْثِكُمْ اِنْ كُنْتُمْ

بيا آوازلو کړو هغوی يو بل ته | سحر وختی | چه سحر وختی لاړ شئ تلسو | خپل فصل ته | که چرے ئے تاسو

بيا سحر وختی هغوی يو بل ته آوازونه او کړل چه که چرے ميوے پريکوئ نو سحر وختی

صٰرِمِيْنَ ﴿٢٢﴾ فَانْطَلَقُوْا وَهُمْ يَتَخَافَتُوْنَ ﴿٢٣﴾ اَنْ لَّا يَدْخُلَنَّهَا

(فصل) پريکوونکی | پس هغوی لاړل | او هغوی | د يو بل سره ټيټے ټيټے خبرے کولے | چه هيڅ کله داخل نه شی دے (فصل) ته

خپل پټی ته لاړ شئ پس هغوی روان شول او يو بل سره ئے ټيټے ټيټے دا خبرے کولے چه نن ورځ را نه

الْيَوْمَ عَلَيْكُمْ مِّسْكِيْنٌ ﴿٢٤﴾ وَّغَدَوْا عَلٰى حَرْدٍ قٰدِرِيْنَ ﴿٢٥﴾

نن ورځ | په تاسو باندے | څوک مسکين | او هغوی سحر وختی لاړل | په تلوار سره (قصد کوونکی) | (چه ځان ئے) قادر (گنړونکی) وو

يو مسکين هم دے باغ ته رانشی او (بيا) په خپل قدرت غاوره په تيزئ سره سحر وختی باغ ته لاړل نو چه

فَلَمَّا رَاَوْهَا قَالُوْٓا اِنَّا لَضَآلُّوْنَ ﴿٢٦﴾ بَلْ نَحْنُ

پس هر کله | چه هغوی اوليد لو هغه (فصل) | او وئے ويل | چه بيشکه | مونږ خو هير وونکی د لارے يو | (نه) بلکه | مونږ خو

کله ئے هغه باغ اوليد و نو (يو بل ته) ئے او ويل چه مونږ لاره هيره کړے ده. (بيا لږ ساعت پس ئے او ويل چه) نه بلکه مونږ

مَحْرُوْمُوْنَ ﴿٢٧﴾ قَالَ اَوْسَطُهُمْ اَلَمْ اَقُلْ لَّكُمْ لَوْلَا تُسَبِّحُوْنَ ﴿٢٨﴾

محرومه کړے شوی يو | او ويل | مينځنی (هوښيار) د هغوی | آيا نه وو ويلے ما | تاسو ته | چه ولے پاکی نه گنړئ تاسو الله

خوار نصيبه يو. په هغوی کښ چه کوم ښه سړے وو هغه (ورته) او ويل آيا ما تاسو ته نه وو ويلی چه تاسو د الله تسبيح ولے

قَالُوْا سُبْحٰنَ رَبِّنَآ اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿٢٩﴾ فَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ

او ويل هغوی | پاک دے | رب زمونږ | بيشکه | مونږ يو | ظالمان | پس را مخامخ شول | بعضے د هغوی

نه کوئ؟ هغوی او ويل چه زمونږ رب پاک دے (مونږ اوس) د خپل رب تسبيح وايو. يقيناً مونږ ظالمان وو. بيا يو بل ته

عَلٰى بَعْضٍ يَّتَلَاوَمُوْنَ ﴿٣٠﴾ قَالُوْا يٰوَيْلَنَآ اِنَّا كُنَّا

بعضو ته (يو بل ته) | چه يو بل ئے ملامته کول | او ويل هغوی | اے هلاکته زمونږ | بيشکه | مونږ وو

متوجه شول چه يو بل ئے ملامته کولو، (او) وے ويل چه افسوس دے په مونږ باندے، يقيناً مونږ

طٰغِيْنَ ﴿٣١﴾ عَسٰى رَبُّنَآ اَنْ يُّبْدِلَنَا خَيْرًا مِّنْهَآ اِنَّآ

د حد نه اوړيدونکی | اميد دے | چه زمونږ رب | په بدله کښ را کړی مونږ ته | ډير ښه | د دے نه | بيشکه مونږ

د حد نه اوړيدلی وو مونږ اميد لرو چه زمونږ رب مونږ ته د دے په بدله کښ بهتر (ښه) باغ را کړی.

اِلٰى رَبِّنَا رٰغِبُوْنَ ﴿٣٢﴾ كَذٰلِكَ الْعَذَابُ ؕ وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ

خپل رب ته | رغبت کوونکی يو | دغه شان | عذاب وی | او خامخا عذاب | د آخرت

يقيناً مونږ خپل رب ته رجوع کوو، عذاب هم دغه شان وی، او د آخرت عذاب خو (يقيناً)



اَكْبَرُ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ۝ اِنَّ لِلْمُتَّقِيْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ

دیر لوے دے | کاش | چه دوی | پوهیدے | بیشکه | د متقیانو دپاره | د خپل رب سره

دیر لوے دے، کاش که دا خلق پوهیدے. یقیناً د متقیانو دپاره د خپل رب سره

جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ۝ اَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِيْنَ كَالْمُجْرِمِيْنَ ۝

جنتونه | د نعمتونو دی | آیا نو مونږ (به) کړو | مسلمانان | پشان د مجرمانو

د نعمتونو (نه ډک) باغونه دی. آیا مونږ مسلمانان د مجرمانو پشان (محرومه) کړو؟

مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ ۝ اَمْ لَكُمْ كِتٰبٌ فِيْهِ تَدْرُسُوْنَ ۝

څه شوی دی په تاسو | څنګه | فیصله کوئ تاسو؟ | آیا شته تاسو سره | داسے یو کتاب | چه په هغے کښ | تاسو لوستل کوئ

په تاسو څه شوی دی؟ دا څنګه فیصلے کوئ تاسو آیا تاسو سره داسے یو کتاب دے چه په هغے کښ تاسو دا لولئ

اِنَّ لَكُمْ فِيْهِ لَمَا تَخَيَّرُوْنَ ۝ اَمْ لَكُمْ اَيْمَانٌ

(چه) بیشکه | ستاسو دپاره دی | په هغے کښ | هغه څه | چه تاسو ئے خوښوئ | آیا شته ستاسو دپاره | څه قسمونه

چه تاسو ته به هلته هر هغه څه (شفاعتِ شرکیه) ملاویږی چه تاسو ئے خوښوئ؟ یا تاسو زمونږ نه

عَلَيْنَا بَالِغَةٌ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ اِنَّ لَكُمْ لَمَا

په مونږ باندے | رسیدونکی | تر ورځے | دقیامت پورے | چه بیشکه | (وی به) ستاسو دپاره | هغه څه

تر قیامته پورے باقی پاتے کیدونکی قسمونه اخستی دی چه تاسو ته به هر هغه څه ملاویږی چه تاسو ئے فیصله کوئ؟

تَحْكُمُوْنَ ۝ سَلْهُمْ اَيُّهُمْ بِذٰلِكَ زَعِيْمٌ ۝ اَمْ لَهُمْ

چه تاسو ئے فیصله کوئ | تپوس او کړه ددوی نه | چه کوم یو په دوی کښ | د دے (خبرے) | ذمه دار دے | آیا دی د دوی دپاره

(اے نبی!) د دوی نه تپوس او کړه چه په دوی کښ څوک دی چه د دے خبرے ذمه داری ئے اخستے وی؟ آیا د دوی

شُرَكَآءُ فَلْيَاْتُوْا بِشُرَكَآئِهِمْ اِنْ كَانُوْا صٰدِقِيْنَ ۝ يَوْمَ

شریکان؟ | پس را دې ولی دوی | شریکان خپل | که چرے | وی دوی | رشتنی | په هغه ورځ

شریکان (د دے خبرے ذمه دار) دی؟ که دوی رشتنی وی نو خپل شریکان دے راولی؟ په کومه ورځ به

يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ وَّيُدْعَوْنَ اِلَى السُّجُوْدِ فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ۝

چلوے به کړے شی | (پرده) د پنډئ نه | او را او به بللے شی دوی | سجدے (کولو) ته | پس دوی به طاقت نه لری

چه پنډئ (ساق) بربنډ کړے شی، او دوی به سجدے ته راوبللی شی نو دوی به سجده نشی کولے

خَاشِعَةً اَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ۗ وَقَدْ كَانُوْا يُدْعَوْنَ

کوزے به وی | سترګے د دوی | خوریدونکی به وی پدوی باندے | ذلت | او یقیناً | دوی به | رابللی شو

سترګے به ئے ټیټے وی (او) ذلت به پرے راخور وی (حالانکه) دوی به هغه وخت هم

اِلَى السُّجُوْدِ وَهُمْ سٰلِمُوْنَ ۝ فَذَرْنِيْ وَمَنْ يُّكَذِّبُ

سجدے ته (په دنیا کښ) | او دوی | روغ رمټ وو | پس پریږده ما | او هغه څوک | چه دروغ ګنړی

سجدے ته رابللی شو کله چه دوی روغ رمټ وو. پس څوک چه دا کلام دروغ ګنړی

بِهٰذَا الْحَدِيْثِ ؕ سَنَسْتَدْرِجُهُمْ مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٤٤﴾ ۙ

دا | خبره | زر ده چه مونږ به ورو ورو راکاږو دوی | په داسے طریقه | چه دوی به پرے نه پوهیږی

هغه ما ته پریږده مونږ به دوی په دمه دمه په داسے طریقه راولیسو چه دوی ته به پته هم او نه لګی

وَاُمْلِيْ لَهُمْ ؕ اِنَّ كَيْدِيْ مَتِيْنٌ ﴿٤٥﴾ اَمْ تَسْـَٔلُهُمْ اَجْرًا

او زۀ مهلت ور کوم | دوی ته | بیشکه | زما تدبیر (ډلیولو) | ډیر مضبوط دے | آیا ته غواړے د دوی نه | څه بدله

او زۀ دوی له مهلت ور کوم، یقیناً زما تدبیر (ډنیولو) ډیر مضبوط دے آیا (ولے) ته د دوی نه څه اجرت غواړے

فَهُمْ مِّنْ مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُوْنَ ﴿٤٦﴾ اَمْ عِنْدَهُمُ الْغَيْبُ فَهُمْ

نو دوی | د تاوان نه | درانه (شوی) دی | آیا دوی سره | غیب دے | نو دوی

چه دوی د هغے د تاوان (بوج) لاندے درانه (عاجزه) دی یا دوی سره د غیبو علم دے چه دوی

يَكْتُبُوْنَ ﴿٤٧﴾ فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلَا تَكُنْ كَصَاحِبِ الْحُوْتِ ۘ

لیکل کوی د هغے نه | پس ته صبر کوه | فیصلے | د رب خپل ته | او مه کیږه ته | په شان د مهی والا

غرض دا چه ته د خپل رب حکم (فیصلے) ته صبر کوه او د مهی والا پشان مه کیږه،

اِذْ نَادٰى وَهُوَ مَكْظُوْمٌ ﴿٤٨﴾ ؕ لَوْلَآ اَنْ تَدٰرَكَهٗ نِعْمَةٌ

کله چه | آواز او کړو هغه | او هغه وو | غمژن | که چرے نه وے | رسیدلے هغه ته | نعمت

کله چه هغه د غم حالت کښې (خپل رب ته) آواز او کړو که چرے هغه د خپل رب فضل (اجابت د دعا) نه وے

مِّنْ رَّبِّهٖ لَنُبِذَ بِالْعَرَآءِ وَهُوَ مَذْمُوْمٌ ﴿٤٩﴾ فَاجْتَبٰهُ

د طرفه د رب خپل نه | نو خامخا به غورځولے شوے وو | په ځاګه (میدان) | او دے به وے | بد حالے | پس غوره کړو هغه له

راټینګ کړے نو په بد حالت کښې به په یو ډاګ میدان غورځولے شوے وو بیا هغه خپل رب غوره کړو

رَبُّهٗ فَجَعَلَهٗ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿٥٠﴾ وَاِنْ يَّكَادُ الَّذِيْنَ

رب خپل | پس کړو ئے هغه | د نیکانو نه | او بیشکه | نژدے دی | هغه کسان

او په نیکانو کښې ئے شامل کړو، او کافران چه کله د نصیحت خبره واوری

كَفَرُوْا لَيُزْلِقُوْنَكَ بِاَبْصَارِهِمْ لَمَّا سَمِعُوا الذِّكْرَ

چه کفر ئے کړے دے | چه اوښوی تا له مصیبت | په نظرونو خپلو | کله چه | دوی واوریدلو | قرآن (نصیحت)

نو داسے ښکاری چه تا په خپلو (تیزو) نظرونو او ښویوی

وَيَقُوْلُوْنَ اِنَّهٗ لَمَجْنُوْنٌ ﴿٥١﴾ ۘ وَمَا هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿٥٢﴾ ع

او وائی دوی | (چه) بیشکه دا | (خو) خامخا لیونے دے | او نه دے دا (قرآن) | مګر | یو نصیحت | د ټولو جهانونو دپاره

او وائی چه دا خو لیونے دے حالانکه دا خو د ټولو جهانونو دپاره یو نصیحت دے

آیاتها [٥٢]	سورة الحآقة مكّيّة	ركوعاتها [٢]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

اَلْحَآقَّةُ ﴿١﴾ مَا الْحَآقَّةُ ﴿٢﴾ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الْحَآقَّةُ ﴿٣﴾ كَذَّبَتْ

یقینی راتلونکے | څه دے هغه یقینی راتلونکے | او څه پوهه کړے ته | چه څه دے هغه یقینی راتلونکے (آفت) | دروغ وو

هغه حقیقت او آفت چه (ضرور) راتلونکے دے څه دی هغه حقیقت چه (ضرور) راتلونکے دے؟ او ته څه پوهه دے چه هغه آفت څه (څیز) دے

ثَمُوْدُ وَعَادٌۢ بِالْقَارِعَةِ ﴿٤﴾ فَاَمَّا ثَمُوْدُ فَاُهْلِكُوْا بِالطَّاغِيَةِ ﴿٥﴾

ثمودیانو | او عادیانو | ټکوونکے د زړونو | پس هر چه ثمودیان وو | نو هغوی هلاک کړے شول | په (یوه سخته) چغه

چه (ضرور) راتلونکے دے ثمودیانو او عادیانو دغه د زړونو ټکوونکے حقیقت دروغ گڼړلے وو نو ثمودیان خو په یوه سخته چغه تباه کړی شو

وَاَمَّا عَادٌ فَاُهْلِكُوْا بِرِيْحٍ صَرْصَرٍ عَاتِيَةٍ ﴿٦﴾ سَخَّرَهَا

او هر چه عادیان وو | نو هغوی هلاک کړے شول | په سیلئ | ډیرے سختے | د حد نه اوړیدونکے (سره) | مقرر کړے وو الله هغه سیلئ

او عادیان (خو) په داسے سختے (تیزے) سیلئ تباه کړے شو چه الله تعالیٰ هغه (سیلئ) په دوی باندے

عَلَيْهِمْ سَبْعَ لَيَالٍ وَّثَمٰنِيَةَ اَيَّامٍ حُسُوْمًا فَتَرَى الْقَوْمَ

په هغوی باندے | اوه | شپے | او اته | ورځے | پرله پسے | پس لیدلو به تا | قوم

اوه شپے او اته ورځے پرله پسے او چلوله. پس (که ته هلته وے نو) تا به لیدلے چه هغه خلق هلته

فِيْهَا صَرْعٰى كَاَنَّهُمْ اَعْجَازُ نَخْلٍ خَاوِيَةٍ ﴿٧﴾ فَهَلْ تَرٰى

په هغے کښ | پر مخے پراته | لکه چه دوی | تنے | د قجورو | راپریوتلے دی | نو آیا | ته وینے

داسے (مړه) پراته وو لکه د غورځیدلی شوو قجورو ودے تنے نو آیا (اوس) تا ته په هغوی کښ

لَهُمْ مِّنْ بَاقِيَةٍ ﴿٨﴾ وَجَآءَ فِرْعَوْنُ وَمَنْ قَبْلَهٗ

د هغوی نه | څوک پاتے شوی | او راغلے وو | فرعون | او هغه څوک | چه مخکښے د هغه نه وو

څوک باقی پاتی شوی په نظر راځی؟ او فرعون او د هغه مخکښے نورو خلقو

وَالْمُؤْتَفِكٰتُ بِالْخَاطِئَةِ ﴿٩﴾ فَعَصَوْا رَسُوْلَ رَبِّهِمْ فَاَخَذَهُمْ

او اړته شوی کلو والا | په (لویه) گناه سره | پس نافرمانی کړے وه هغوی | د پیغمبر | د خپل رب | نو راونیول هغه دوی را ره

او د اړولے شوو کلو (خلقو) هم (دغه شان) لوے جرم کړے وو (چه) هغوی د خپل رب د پیغمبر نافرمانی کړے وه

اَخْذَةً رَّابِيَةً ﴿١٠﴾ اِنَّا لَمَّا طَغَا الْمَآءُ حَمَلْنٰكُمْ

په نیولو | سختو سره | بیشکه مونږ | هر کله چه | (د حد نه) تیر شو | اوبه | سواره کړی تاسو

نو الله تعالیٰ په ډیر سختو نیولو سره راونیول. کله چه اوبه د حد نه زیاتے شوے نو مونږ تاسو

فِى الْجَارِيَةِ ۙ﴿۱۱﴾ لِنَجْعَلَهَا لَكُمْ تَذْكِرَةً وَّتَعِيَهَآ اُذُنٌ

په (روانه) کشتۍ کښې | دے دپاره چه مونږ کړو هغه | ستاسو دپاره | نصیحت | او یاد او ساتی هغے لره | غوږونه

په یوه جاری کشتۍ کښې سواره کړئ، (دے دپاره) چه مونږ دا واقعه ستاسو دپاره یادګار (نصیحت) جوړ کړو

وَّاعِيَةٌ ﴿۱۲﴾ فَاِذَا نُفِخَ فِى الصُّوْرِ نَفْخَةٌ وَّاحِدَةٌ ۙ﴿۱۳﴾

یاد ساتونکی | پس هر کله | چه پوکے او وهلے شی | په شپیلۍ کښې | پوکے | یو ځل

او یادوونکی غوږونه ئے یاده اوساتی. بیا چه کله یو ځل په شپیلۍ کښې پوک او وهلے شی

وَّحُمِلَتِ الْاَرْضُ وَالْجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةً وَّاحِدَةً ۙ﴿۱۴﴾

او را اوچته کړے شی | زمکه | او غرونه | نو او به ټکولی شی دواړه | په ټکولو | یو ځل سره

او زمکه او غرونه اوچت کړے شی نو دواړه به په یو ځل ذره ذره کړے شی

فَيَوْمَئِذٍ وَّقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ۙ﴿۱۵﴾ وَانْشَقَّتِ السَّمَآءُ فَهِىَ

پس په دغه ورځ به | واقع شی | واقع کیدونکے (آفت) | او او به چوی | آسمان | نو هغه به

نو په دغه ورځ به واقع کیدونکی څیز واقع شی او آسمان به اوچوی او هغه به

يَوْمَئِذٍ وَّاهِيَةٌ ۙ﴿۱۶﴾ وَّالْمَلَكُ عَلٰٓى اَرْجَآئِهَا ؕ وَيَحْمِلُ عَرْشَ

په دغه ورځ | کمزورے وی | او فرشتے به | د هغے په غاړو (وی) | او اوچتوی به | عرش

په دغه ورځ ډیر کمزورے وی او فرشتے به د هغے په غاړو باندے وی او ستا د رب عرش به

رَبِّكَ فَوْقَهُمْ يَوْمَئِذٍ ثَمٰنِيَةٌ ؕ﴿۱۷﴾ يَوْمَئِذٍ تُعْرَضُوْنَ

د رب ستا | د پاسه د دوی | په دغه ورځ | اته (فرشتے) | په دغه ورځ | وړاندے کولے به شئ تاسو

په هغه ورځ اته فرشتو د دوی د پاسه اوچت کړے وی، په هغه ورځ به تاسو (د اسے) حساب ته پیش کړے شئ

لَا تَخْفٰى مِنْكُمْ خَافِيَةٌ ﴿۱۸﴾ فَاَمَّا مَنْ اُوْتِىَ كِتٰبَهٗ

نه به شی پټیدے | ستاسو نه | هیڅ پټیدونکے نفس | پس هغه څوک | چه ورکړے شی هغه ته | عملنامه د هغهٔ

چه ستاسو هیڅ یو څیز به نشی پټیدے بیا چاته چه خپله عملنامه په ښی لاس ورکړے شی

بِيَمِيْنِهٖ ۙ فَيَقُوْلُ هَآؤُمُ اقْرَءُوْا كِتٰبِيَهْ ﴿۱۹﴾ اِنِّىْ ظَنَنْتُ

په ښی لاس خپل سره | نو وائی به هغه | راشئ | اولولئ | عملنامه زما | بیشکه | ما یقین کولو

نو هغه به وائی چه (اے خلقو) راشئ زما عملنامه اولولئ. زما یقین وو چه زهٔ به

اَنِّىْ مُلٰقٍ حِسَابِيَهْ ﴿۲۰﴾ فَهُوَ فِىْ عِيْشَةٍ رَّاضِيَةٍ ۙ﴿۲۱﴾

چه زه | مخامخ کیدونکے یم | د خپل حساب سره | پس هغه به وی | په | ژوند | خوشحاله کښې

د خپل حساب کتاب سره مخامخ کیږم نو (بس) هغه به په خوشحاله (د مزو په) ژوند کښې اوسیږی

فِىْ جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ۙ﴿۲۲﴾ قُطُوْفُهَا دَانِيَةٌ ﴿۲۳﴾ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا

په | جنت | اوچت کښې | میوے د هغے به | نزدے وی | خورئ | او څکئ

په هغه اوچت جنت کښې (به وی) چه د هغے میوے به نزدے (لاندے ځړیدے) وی (ورته به اووئیلے شی چه)

هَنِيْٓـًٔا بِمَآ اَسْلَفْتُمْ فِي الْاَيَّامِ الْخَالِيَةِ ۝ وَاَمَّا مَنْ

په خوشحالۍ سره | په سبب د هغه څه | چه تاسو (مخکښې) لیږلی دی | په ورځو | تیرو شوو کښې | او هغه څوک

د خپلو هغه عملونو په بدله کښې چه په مزو (په خوشحالۍ) خورئ څکئ چه تاسو په تیرو ورځو کښې کړی دی

اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِشِمَالِهٖ ۙ فَيَقُوْلُ يٰلَيْتَنِيْ

چاته ورکړے شو هغه ته | عملنامه د هغهٔ | په ګس لاس خپل سره | نو هغه به وائی | هائے ارمان

او چاته چه خپله عملنامه په ګس لاس ورکړے شی نو هغه به وائی اے کاش چه

لَمْ اُوْتَ كِتٰبِيَهْ ۝ وَلَمْ اَدْرِ مَا حِسَابِيَهْ ۝ يٰلَيْتَهَا

چه نه وے ما ته ورکړے شوے | عملنامه زما | او نهٔ پوهیدلے زهٔ | چه څه دے | حساب زما؟ | اے کاش

ما ته زما عملنامه نه وے راکړے شوے او ما ته هم پته نه وے چه زما حساب کتاب (لا) څه شے دے؟

كَانَتِ الْقَاضِيَةَ ۝ مَآ اَغْنٰى عَنِّيْ مَالِيَهْ ۝ هَلَكَ عَنِّيْ

چه وے دا مرګ | ختموونکے | په کار رانغے | ما لره | مال زما | برباد شو | زمانه

اے کاش چه مرګ زما کار (قصه) ختمه کړے وے زما مال خو زما هیڅ په کار رانغے زما زور (هم)

سُلْطٰنِيَهْ ۝ خُذُوْهُ فَغُلُّوْهُ ۝ ثُمَّ الْجَحِيْمَ صَلُّوْهُ ۝ ثُمَّ

حکومت (زور) زما | اونیسئ دا | پس څټ ته ورله طوق واچوئ | بیا | په دوزخ کښې | ورننباسئ دهٔ لره | بیا

لاړو ختم شو (حکم به اوشی چه) دا راونیسئ او غاړه کښې ئے پټئ (زنځیر) واچوئ بیا ئے دوزخ ته داخل کړئ

فِيْ سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُوْنَ ذِرَاعًا فَاسْلُكُوْهُ ۝ اِنَّهٗ

په هغه زنځیر کښې | چه د هغے اوږدوالے | اویا | ګزه دے | او ترئ دهٔ لره | بیشکه دے

بیا ئے په داسے زنځیر کښې اوترئ چه اوږدوالے ئے اویا ګزه دے یقینًا

كَانَ لَا يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ الْعَظِيْمِ ۝ وَلَا يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ

وو | چه ایمان ئے نه لرلو | په الله | ډیر لوے باندے | او نهٔ ئے تیزول (خلق) | په خوراک (ورکولو)

نه خو ده په هغه لوے الله ایمان لرلو او نهٔ ئے غریب (محتاج) ته د خوراک ورکولو

الْمِسْكِيْنِ ۝ فَلَيْسَ لَهُ الْيَوْمَ هٰهُنَا حَمِيْمٌ ۝ وَّلَا طَعَامٌ

مسکین ته | پس نشته | دهٔ دپاره | نن ورځ | دلته | څوک دوست | او نه څه خوراک

ترغیب ورکولو. لو نه خو نن دلته د ده هیڅ څوک دوست شته او نهٔ د خوراک څه څیز

اِلَّا مِنْ غِسْلِيْنٍ ۝ لَّا يَاْكُلُهٗٓ اِلَّا الْخَاطِـُٔوْنَ ۝ فَلَآ اُقْسِمُ

سوا | د وینو زوو نه | (چه) نه به خوری هغه | مګر | ګناهګاران | پس داسے نهٔ ده زهٔ قسم کوم

سوا د غسلین (وینو زوو) چه د ګناهګارو نه سوا به ئے بل څوک نه خوری، اوس زهٔ قسم کوم

بِمَا تُبْصِرُوْنَ ﴿٣٨﴾ وَمَا لَا تُبْصِرُوْنَ ﴿٣٩﴾ اِنَّهٗ لَقَوْلُ رَسُوْلٍ

په هغه څه | چه تاسو ئې وينئ | او په هغه څه | چه تاسو ئې نه وينئ | بيشکه دا (قرآن) | خامخا وينا ده | د يو رسول

د هغه څه هم چه تاسو ئې وينئ او د هغه څه هم چه تاسو ئې نه وينئ (يعني د ټولو محسوساتو او مغيباتو قسم کوم)، چه يقيناً

كَرِيْمٍ ﴿٤٠﴾ وَّمَا هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍ ؕ قَلِيْلًا مَّا تُؤْمِنُوْنَ ﴿٤١﴾ وَلَا بِقَوْلِ

عزتمند | او نۀ ده دا | وينا | د يو شاعر | ډير لږ | تاسو ايمان راوړئ | او نه ده وينا

دا قرآن د يو عزتمند رسول راوړے کلام دے. او دا د شاعر کلام نه دے (خو) تاسو ډير لږ ايمان راوړئ. او نۀ دا د يو

كَاهِنٍ ؕ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ﴿٤٢﴾ تَنْزِيْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٤٣﴾

د کاهن (ده) | ډير لږ | تاسو نصيحت اخلئ | را ليږلي شوے دے | د طرفه د رب | د ټولو جهانونو نه

کاهن کلام دے (خو) تاسو ډير لږ نصيحت (سبق) اخلئ. (دا خو) د ټولو جهانونو د رب د طرف نه نازل شوے دے

وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ الْاَقَاوِيْلِ ﴿٤٤﴾ لَاَخَذْنَا مِنْهُ

او که چرے | ده تړلې وے | په مونږ پاندے | (دروغ) خبرے | بعضے | نو مونږ به خامخا نيولے وو | د ده نه

او که (بالفرض) دے پيغمبر په مونږ پاندے څه دروغ خبرے جوړے کړے وے نو مونږ به د ده

بِالْيَمِيْنِ ﴿٤٥﴾ ثُمَّ لَقَطَعْنَا مِنْهُ الْوَتِيْنَ ﴿٤٦﴾ فَمَا مِنْكُمْ

ښے لاس | بيا به | خامخا مونږ پرے کړے وو | د ده | رګ د زړه (شه رګ) | پس نه به وو ستاسو نه

ښے لاس نيولے وو (او) بيا به مونږ ترے د زړۀ رګ پرے کړے وو نو بيا به په تاسو کښې

مِّنْ اَحَدٍ عَنْهُ حٰجِزِيْنَ ﴿٤٧﴾ وَاِنَّهٗ لَتَذْكِرَةٌ

هيڅ څوک | د ۀ لره | بچ کوونکے | او بيشکه دا (قرآن) | خامخا نصيحت دے

هيڅ څوک داسے نه وو چه مونږ ئې د دې (کار) نه منع کړے وے او يقين اوکړئ چه دا د متقيانو دپاره يو نصيحت دے

لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٤٨﴾ وَاِنَّا لَنَعْلَمُ اَنَّ مِنْكُمْ مُّكَذِّبِيْنَ ﴿٤٩﴾

د متقيانو دپاره | او بيشکه مونږ | خامخا پوهيږو | چه بيشکه | ستاسو نه | دروغ ګڼړونکي دي

او مونږ ته ښه پته ده چه په تاسو کښې دروغ ګڼړونکي خلق هم دي

وَاِنَّهٗ لَحَسْرَةٌ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿٥٠﴾ وَاِنَّهٗ لَحَقُّ

او بيشکه دا | خامخا افسوس دے | په کافرانو | او بيشکه دا | خامخا حق دے

او يقيناً دا (قرآن) د کافرانو دپاره د حسرت سبب دے او يقيناً دا بلکل

ع الْيَقِيْنِ ﴿٥١﴾ فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ﴿٥٢﴾

يقيني | پس پاکي وايه | د نوم | د رب خپل | ډير لوے |

يقيني حق دے نو (پس) ته د خپل لوے رب د نوم پاکي وايه۔

رکوعاتها [٢] | سورة المعارج مكيّة | آياتها [٤٤]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

سَاَلَ سَآئِلٌۢ بِعَذَابٍ وَّاقِعٍ ۙ﴿۱﴾ لِّلْكٰفِرِيْنَ لَيْسَ لَهٗ

اوغوښتلو | یو غوښتونکی | عذاب | واقع کیدونکے | په کافرانو | نشته دے | د هغے

یو غوښتونکی هغه عذاب اوغوښتلو چه په کافرانو راتلونکے دے (او) هیڅ څوک د هغے

دَافِعٌ ۙ﴿۲﴾ مِّنَ اللّٰهِ ذِي الْمَعَارِجِ ؕ﴿۳﴾ تَعْرُجُ الْمَلٰٓئِكَةُ

هیڅ څوک لرے کوونکے | د الله د طرف نه | چه آسمانونو والا دے | (یره) خیژی | فرشتے

دفع کوونکے نشته۔ هغه به د هغه الله د طرف نه راشی چه هغه د آسمانونو مالک دے فرشتے

وَالرُّوْحُ اِلَيْهِ فِيْ يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهٗ خَمْسِيْنَ اَلْفَ

او روح | هغه ته | په (داسے) ورځ کښې | چه دے | مقدار د هغے | پنځوس | زره

او روح القدس د هغه طرف ته په داسے ورځ کښې خیژی چه د هغے مقدار پنځوس زره

سَنَةٍ ۚ﴿۴﴾ فَاصْبِرْ صَبْرًا جَمِيْلًا ﴿۵﴾ اِنَّهُمْ يَرَوْنَهٗ بَعِيْدًا ۙ﴿۶﴾

کاله | پس ته صبر کوه | صبر | ښائسته | بیشکه دوی | وینی هغه | لرے

کاله دے (ورځ دقیامت) تو (اے نبی!) ته په ډیره ښه طریقه صبر کوه دا خلق (خو) هغه (عذاب) لرے ګنړی

وَّنَرٰىهُ قَرِيْبًا ؕ﴿۷﴾ يَوْمَ تَكُوْنُ السَّمَآءُ كَالْمُهْلِ ۙ﴿۸﴾ وَتَكُوْنُ

او وینو مونږ هغه | نزدے | په هغه ورځ | چه شی به | آسمان | په شان د ویلی شوے تانبے | او شی به

او مونږ ئے نزدے وینو (دا عذاب به) په هغه ورځ (وی) چه آسمان به د ویلی شوے تانبے پشان شی

الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ ۙ﴿۹﴾ وَلَا يَسْئَلُ حَمِيْمٌ حَمِيْمًا ﴿ۚ۱۰﴾ يُّبَصَّرُوْنَهُمْ ؕ

غرونه | پشان د رنګدارے وړئ | او تپوس به نه کوی | یو دوست | د بل دوست (نه) | ښودلی کیږی به خوی یو بل ته

او غرونه به د رنګینی وړئ پشان شی او هیڅ یو دوست به د بل دوست تپوس نه کوی حالانکه یو بل به ورته ښودلے شی

يَوَدُّ الْمُجْرِمُ لَوْ يَفْتَدِيْ مِنْ عَذَابِ يَوْمِئِذٍۢ بِبَنِيْهِ ۙ﴿۱۱﴾

غواړی به | مجرم | کاش | چه دے فدیه کښې ورکړی | د | عذاب | د دغه ورځے نه | ځامن خپل

مجرم به دا غواړی چه د هغه ورځے د عذاب نه د خلاصی دپاره خپل ځامن په فدیه کښې ورکړی

وَصَاحِبَتِهٖ وَاَخِيْهِ ۙ﴿۱۲﴾ وَفَصِيْلَتِهِ الَّتِيْ تُـْٔوِيْهِ ۙ﴿۱۳﴾ وَمَنْ

او ښځه خپله | او ورور خپل | او خاندان خپل | هغه | چه پناه ورکوی ده ته | او هغه څوک

او خپله ښځه او خپل ورور او خپل هغه خاندان چه ده ته به ئے پناه ورکوله او د زمکے

فِی الْاَرْضِ جَمِیْعًا ۙ ثُمَّ یُنْجِیْهِ ۝۱۴ كَلَّا ؕ اِنَّهَا لَظٰی ۝۱۵

چه په زمکه کښې دی | ټول | بیا | بچ کړی خپل ځان | هیڅ کله نه | بیشکه هغه (خو) | اُور دے لمبے دی

ټول او سیدونکی خلق (په فدیه کښې ورکړی) بیا خپل ځان خلاص کړی. لیکن داسے هرګز نشی کیدی یقیناً هغه خو دا سے

نَزَّاعَةً لِّلشَّوٰی ۝۱۶ تَدْعُوْا مَنْ اَدْبَرَ وَتَوَلّٰی ۝۱۷

راویستونکے دے | څرمنو لره | هغه چاته | چه شا کړے ئے وه | او مخ ئے اړولے دے

(د ګرمولمبو) اور دے چه څرمن به راوباسی هر هغه چاته به آواز کوی چه هغه شا کړے وه او مخ ئے اړولے وو (د عمل نه)

وَجَمَعَ فَاَوْعٰی ۝۱۸ اِنَّ الْاِنْسَانَ خُلِقَ هَلُوْعًا ۝۱۹

او مال ئے جمع کړے وے | بیا ئے محفوظ کړے وے | بیشکه | انسان | پیدا کړے شوے دے | ډیر حرصناک

او مال ئے جمع کړے وو او بیا ئے په خپلو کښې سنبال کړے وو حقیقت دا دے چه انسان ډیر بے صبره حرصناک پیدا کړے شوے دے

اِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ جَزُوْعًا ۝۲۰ وَّاِذَا مَسَّهُ الْخَیْرُ مَنُوْعًا ۝۲۱

کله چه | اورسیږی ورته | تکلیف | (نو) ډیر فریاد کوونکے دے | او کله چه | ورسیږی ورته | خیر (فائده) | (نو) ډیر منع کوونکے دے

کله (هم) چه ورته څه تکلیف اورسی نو ډیر فریادونه کوی (پریږدی) او کله چه پرے خوشحالی راشی نو بیا بخیل شی

اِلَّا الْمُصَلِّیْنَ ۝۲۲ الَّذِیْنَ هُمْ عَلٰی صَلَاتِهِمْ دَآئِمُوْنَ ۝۲۳

سوا | د مونځ ګذارو نه | هغه کسان | چه هغوی | په مونځونو خپلو پابند ے | همیشوالے کوی.

مګر هغه مونځ ګذار دا سے نه دی کوم چه خپل مونځونه همیشه ادا کوی

وَالَّذِیْنَ فِیْٓ اَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُوْمٌ ۝۲۴ لِّلسَّآئِلِ وَالْمَحْرُوْمِ ۝۲۵

او هغه کسان | چه په مالونو د هغوی کښې | حصه ده | معلومه (مقرره) | د پاره د غوښتونکی | او د بے نوا (بے نصیبه)

او د چا په مالونو کښې چه یو معلوم (مقرر) حق دے د سوال کوونکو (هم) او د نه سوال کوونکو (هم).

وَالَّذِیْنَ یُصَدِّقُوْنَ بِیَوْمِ الدِّیْنِ ۝۲۶ وَالَّذِیْنَ هُمْ مِّنْ عَذَابِ

او هغه کسان | چه تصدیق کوی | د ورځے | د جزاء | او هغه کسان | چه هغوی | د عذاب

او کوم چه د قیامت د ورځے تصدیق کوی او د خپل

رَبِّهِمْ مُّشْفِقُوْنَ ۝۲۷ اِنَّ عَذَابَ رَبِّهِمْ غَیْرُ مَاْمُوْنٍ ۝۲۸

د رب خپل نه | یریدونکی وی | بیشکه | عذاب | د رب د دوی | بے خطرے نه دے

رب د عذاب نه یریږی. یقیناً د هغوی د رب عذاب د نه یریدو څیز نه دے.

وَالَّذِیْنَ هُمْ لِفُرُوْجِهِمْ حٰفِظُوْنَ ۝۲۹ اِلَّا عَلٰٓی اَزْوَاجِهِمْ

او هغه کسان | چه هغوی | د خپلو شرمګاهو لو | حفاظت کوونکی دی | مګر | په بیبیانو خپلو باندے

او کوم چه د خپلو شرمګاهو لو (د حرامو نه) حفاظت کوی سوا د خپلو ښځو

اَوْ مَا مَلَكَتْ اَیْمَانُهُمْ فَاِنَّهُمْ غَیْرُ مَلُوْمِیْنَ ۝۳۰ فَمَنِ

او په هغه چا باندے | چه مالکان (ئے شوی) | ښے (لاس) د دوی | پس بیشکه دوی | نه دی ملامته کړے شوی | پس چا چه

او د خپلو وینزو نه ځکه چه په دا سے خلقو هیڅ ملامتیا نشته البته کوم خلق چه

ابْتَغٰى وَرَآءَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْعٰدُوْنَ ﴿۳۱﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ

ولټولو | سوا | د دے نه | نو دغه خلق | دوی دی | د حد نه اوړېدونکی | او هغه کسان | چه هغوی

د دے نه علاوه بله طريقه اختيار وی نو هغوی د حد نه اوړېدلی خلق دی او کوم چه

لِاَمٰنٰتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رٰعُوْنَ ﴿۳۲﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ بِشَهٰدٰتِهِمْ

د امانتونو خپلو | او د وعدو خپلو | خيال ساتونکی دی | او هغه کسان | چه هغوی | په ګواهو خپلو باندے

د خپلو امانتونو او د خپلو وعدو خيال ساتی او کوم خلق چه خپلے ګواهئ په صحيح طريقه

قَآئِمُوْنَ ﴿۳۳﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ﴿۳۴﴾ اُولٰٓئِكَ

ولاړ (قائم) وی | او هغه کسان | چه هغوی | د مونځونو خپلو | حفاظت کوی | هم دغه خلق

اداء کوی او کوم خلق چه د خپلو مونځونو پوره حفاظت کوی . هم دغه خلق به

ع

فِىْ جَنّٰتٍ مُّكْرَمُوْنَ ﴿۳۵﴾ فَمَالِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا قِبَلَكَ

په جنتونو کښې به | عزتمند وی | پس څه وجه ده | هغه کسانو لره | چه کفر ئے کړے دے | چه ستا طرف ته

په جنتونو کښې په عزت سره اوسيږی. (اے نبی!) په دے کافرانو باندے څه شوی دی چه ستا طرف ته

مُهْطِعِيْنَ ﴿۳۶﴾ عَنِ الْيَمِيْنِ وَعَنِ الشِّمَالِ عِزِيْنَ ﴿۳۷﴾ اَيَطْمَعُ

راځغلی | د ښی طرف نه | او د ګس طرف نه | ډلے ډلے | آيا طمع کوی

منډے وهی ـ د ښی او د ګس طرف نه ډلے ډلے کېدونکی دی آيا په دوی کښې

كُلُّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ اَنْ يُّدْخَلَ جَنَّةَ نَعِيْمٍ ﴿۳۸﴾ كَلَّا

هر يو | سړے | د دوی نه | دا چه | داخل به کړے شی | جنت | د نعمتونو ته | هيڅکله نشی کيدے

هر يو کس دا طمع لری چه هغه به د نعمتونو جنت ته داخل کړے شی. هيڅ کله دا نشی کيدے

اِنَّا خَلَقْنٰهُمْ مِّمَّا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۹﴾ فَلَآ اُقْسِمُ بِرَبِّ الْمَشٰرِقِ

بيشکه مونږ | پيدا کړی دی دوی | د هغه څه نه | چه دوی پوهيږی | پس زه قسم کوم | په رب | د مشرقونو

يقيناً مونږ دوی د دا سے څيز نه پيدا کړی دی چه دوی ئے پخپله (هم) پيژنی. (او س) زه د مشرقونو

وَالْمَغٰرِبِ اِنَّا لَقٰدِرُوْنَ ﴿۴۰﴾ عَلٰٓى اَنْ نُّبَدِّلَ خَيْرًا مِّنْهُمْ

او د مغربونو | بيشکه مونږ | خامخا قدرت لرونکی يو | په دے چه | مونږ بدل کښېراولو | غوره | د دوی نه

او د مغربونو د مالک قسم کوم چه يقيناً مونږ په دے خبره قادر يو چه د دوی په ځائے د دوی نه ښه خلق (اطاعت کوونکی) راولو

وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوْقِيْنَ ﴿۴۱﴾ فَذَرْهُمْ يَخُوْضُوْا وَيَلْعَبُوْا حَتّٰى

او نه يو مونږ | کمزوری کړے شوی | پس پريږده دوی | چه مشغول يږی | او لوبے کوی | تر دے چه

او مونږ عاجزه نه يو. پس ته دوی پريږده چه په باطل کښې مشغوله وی او لوبے تماشے کوی تر دے

يُلٰقُوْا يَوْمَهُمُ الَّذِىْ يُوْعَدُوْنَ ﴿۴۲﴾ يَوْمَ يَخْرُجُوْنَ

دوی مخامخ شی | د خپلے ورځے | هغے سره | چه دوی سره ئے وعده کولے شی | په هغه ورځ | چه راووځی به دوی

چه د هغے ورځے سره مخامخ شی چه وعده ئے ورسره کيږی. په هغه ورځ به دوی

مِنَ الْاَجْدَاثِ سِرَاعًا كَاَنَّهُمْ اِلٰى نُصُبٍ

د قبرونو نه | په منډه | لکه چه دوی | نخښو(معبودانو) ته

د خپلو قبرونو نه داسے زر (په منډه) راوځی لکه چه یو ے نخښے پسے

يُّوْفِضُوْنَ ۝ خَاشِعَةً اَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ؕ

منډے وهی | ټیټے به وی | سترگے د دوی | خور به وی په دوی باندے | ذلت

منډے وهی ۔ سترگے به ئے ټیټے وی او ذلت به پرے راخور وی ۔

ع ذٰلِكَ الْيَوْمُ الَّذِیْ كَانُوْا يُوْعَدُوْنَ ۝

دا ده | ورځ | هغه | چه د دوی سره به ئے | وعده کولے شوه |

دا هم هغه ورځ ده چه د دوی سره به ئے وعده کیده ۔

آیاتها [۲۸] | سورة نوح مكّيّة | رکوعاتها [۲]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم ۔

اِنَّاۤ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖۤ اَنْ اَنْذِرْ قَوْمَكَ مِنْ قَبْلِ

بیشکه | مونږ لیږلے وو | نوح | خپل قوم ته | چه اویروه | قوم خپل | مخکښں د دے نه

یقینًا مونږ نوح خپل قوم ته لیږلے وو چه خپل قوم دے خبردار کړه مخکښے

اَنْ يَّاْتِيَهُمْ عَذَابٌ اَلِیْمٌ ۝ قَالَ يٰقَوْمِ اِنِّیْ لَكُمْ

چه راشی په دوی باندے | عذاب | دردناک | او وئیل هغه | اے زما قومه | بیشکه زه یم | ستاسو دپاره

د دے نه چه دردناک عذاب پرے راشی، (نو) هغه (خپل قوم ته) او وئیل چه اے زما قومه! زه ستاسو دپاره

نَذِیْرٌ مُّبِیْنٌ ۝ اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاتَّقُوْهُ وَاَطِیْعُوْنِ ۝

یو یروونکے | ښکاره | دا چه | تاسو عبادت اوکړئ | د الله | او اویرېږئ د هغه نه | او خبره او منئ زما

یو ښکاره یروونکے یم چه د الله عبادت اوکړئ او د هغه نه اویرېږئ او زما خبره او منئ

يَغْفِرْ لَكُمْ مِّنْ ذُنُوْبِكُمْ وَيُؤَخِّرْكُمْ اِلٰۤى اَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ

و به بخښی هغه | تاسو ته | گناهونه ستاسو | او مهلت به درکړی تاسو ته | تر نیټے | مقررے پورے

الله به ستاسو گناهونه معاف کړی او یو مقررے نیټے پورے به (په امن سره د ژوند تیرولو) مهلت درکړی

اِنَّ اَجَلَ اللّٰهِ اِذَا جَآءَ لَا يُؤَخَّرُ ۘ لَوْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۝

بیشکه | نیټه | د الله | هرکله | چه راشی | (نو) نشی وروستو کیدے | کاش | چه تاسو | پوهیدلئ

یقینًا د الله قطعی مقرره نیټه چه کله راشی نو بیا وروستو کیږی نه. کاش چه تاسو پوهیدلئ

قَالَ رَبِّ اِنِّیْ دَعَوْتُ قَوْمِیْ لَیْلًا وَّنَهَارًا ۝٥ فَلَمْ یَزِدْهُمْ

اوویل هغه | اے رب زما | بیشکه ما | را وبللو ما | قوم خپل | شپه | او ورځ | پس زیات نه کړو دوی لره

نوح اوویل چه اے زما ربه ما خپل قوم ته د شپے او د ورځے دعوت (د توحید) ور کړو، لیکن زما د دعوت په نتیجه کښ

دُعَآءِیْٓ اِلَّا فِرَارًا ۝٦ وَاِنِّیْ كُلَّمَا دَعَوْتُهُمْ لِتَغْفِرَ لَهُمْ

رابللو زما | مګر | تیخته | او بیشکه زه | هر کله چه | رابللی دی ما دوی لره | چه ته بخښنه او کړے | دوی ته

دهغوی تیخته لوره هم زیاته شوه، او ما چه کله هم دوی ته دعوت ور کړے دے چه ته ورته بخښنه او کړے

جَعَلُوْٓا اَصَابِعَهُمْ فِیْٓ اٰذَانِهِمْ وَاسْتَغْشَوْا ثِیَابَهُمْ

نو دوی کیخودے دی | ګوتے خپلے | په غوږونو خپلو کښ | او را تاو لے کړے ئے دی | جامے خپلے

نو دوی خپلے ګوتے په خپلو غوږونو کښ کیخودے دی او خپلے جامے ئے د ځان نه را تاو کړے دی

وَاَصَرُّوْا وَاسْتَكْبَرُوا اسْتِكْبَارًا ۝٧ ثُمَّ اِنِّیْ دَعَوْتُهُمْ جِهَارًا ۝٨

او ټینګ شوی دی | او لوئی ئے کړے ده | په لوئی کولو سره | بیا | بیشکه | ما رابللے دی دوی | په زوره

او په خپله شرکی نیره ډیر ټینګ شوی دی او تکبر ئے شروع کړے دے بیا ما دوی ته په زوره هم دعوت ور کړے دے

ثُمَّ اِنِّیْٓ اَعْلَنْتُ لَهُمْ وَاَسْرَرْتُ لَهُمْ اِسْرَارًا ۝٩ فَقُلْتُ

بیا | بیشکه ما | په ښکاره وینا کړے ده | دوی ته | او ما پټه وینا کړے ده | دوی ته | په پټه | پس او ویل ما

بیا مے ورته په ښکاره خبره هم کړے ده او پټ پټ مے هم پوهه کړی دی نو ما ورته او ویل

اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ؕ اِنَّهٗ كَانَ غَفَّارًا ۝١٠ یُّرْسِلِ السَّمَآءَ

بخښنه او غواړئ | د خپل رب نه | بیشکه هغه | دے | ډیر بخښونکے | هغه به را اولیږی | د آسمان نه

چه د خپل رب نه بخښنه او غواړئ یقین او کړئ چه هغه ډیر بخښونکے دے. نو بیا به ډیر باران به

عَلَیْكُمْ مِّدْرَارًا ۝١١ وَّیُمْدِدْكُمْ بِاَمْوَالٍ وَّبَنِیْنَ وَیَجْعَلْ

په تاسو باندے | باران پرله پسے | او مدد به او کړی ستاسو | په مالونو | او په ځامنو سره | او جوړ به کړی

درباندے را ووروی - او مال اولاد به درله زیات کړی۔

لَّكُمْ جَنّٰتٍ وَّیَجْعَلْ لَّكُمْ اَنْهٰرًا ۝١٢ مَا لَكُمْ لَا تَرْجُوْنَ

ستاسو دپاره | باغونه | او جوړ به کړی | ستاسو دپاره | نهرونه | څه شوی دی په تاسو | چه تاسو امید نه لرئ

او باغونه به درله پیدا کړی، او نهرونه به درله جاری کړی، دا په تاسو څه شوی دی چه

لِلّٰهِ وَقَارًا ۝١٣ وَقَدْ خَلَقَكُمْ اَطْوَارًا ۝١٤ اَلَمْ تَرَوْا كَیْفَ

دالله دپاره | د عزت | او یقینًا | هغه پیدا کړی ئے تاسو | په مختلفو حالتونو (مرحلو) | آیا تاسو نه ګورئ | چه څنګه

دالله د عظمت (عزت) عقیده نه ساتئ حالانکه هغه تاسو په مختلف مرحلو کښ پیدا کړی یئ. آیا تاسو (بطور تعجب) نه دی کتلی

خَلَقَ اللّٰهُ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ طِبَاقًا ۝١٥ وَّجَعَلَ الْقَمَرَ فِیْهِنَّ

پیدا کړی دی | الله | اوه | آسمانونه | لاندے باندے | او جوړه کړے ئے ده | سپوږمۍ | په هغے کښ

چه الله تعالیٰ اوه آسمانونه څنګه لاندے باندے پیدا کړی دی؟ او سپوږمۍ ئے پکښ

نُوْرًا وَّجَعَلَ الشَّمْسَ سِرَاجًا ﴿۱۶﴾ وَاللّٰهُ اَنْۢبَتَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ

روښانه | او جوړ کړے ئے | نمر | ډیوه بلیدونکے | او الله | راټوکولے ئے تاسو | د زمکے نه

روښانه او نمر ئے پکښې ډیوه (جوړه) کړے ده. او الله تعالیٰ تاسو د زمکے نه په یو خاص طریقه

نَبَاتًا ﴿۱۷﴾ ثُمَّ یُعِیْدُكُمْ فِیْهَا وَیُخْرِجُكُمْ اِخْرَاجًا ﴿۱۸﴾ وَاللّٰهُ

په راټوکولو سره | بیا به | واپس کوی تاسو | په دے کښې | او راوباسی به تاسو | په راویستلو سره | او الله

رازرغون کړی یئ. بیا به مو هغه دوباره هم دے (زمکے) ته بوځی، او (هم د دے نه به) مو بیا راوباسی. او الله تعالیٰ

جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ بِسَاطًا ﴿۱۹﴾ لِّتَسْلُكُوْا مِنْهَا سُبُلًا

گرځولے ده | ستاسو دپاره | زمکه | فرش (غوړیدلے) | چه تاسو گرځئ | د هغے نه | په لارو

زمکه ستاسو دپاره فرش جوړه کړے ده، چه تاسو د هغے په پلنو لارو

فِجَاجًا ﴿۲۰﴾ قَالَ نُوْحٌ رَّبِّ اِنَّهُمْ عَصَوْنِیْ وَاتَّبَعُوْا مَنْ ع

پلنو کښې | او وئیل | نوح | اے زما ربه | بیشکه دوی | نافرمانی کړے ده زما | او روان شوی دی | په هغه چا پسے

گرځئ (راگرځئ) نوح او وئیل چه اے زما ربه حقیقت دا دے چه دے خلقو زما خبره اونه منله او هغه چا پسے روان شو

لَّمْ یَزِدْهُ مَالُهٗ وَوَلَدُهٗۤ اِلَّا خَسَارًا ﴿۲۱﴾ وَمَكَرُوْا مَكْرًا

چه نه دی زیات کړے هغه لره | مال د هغهٔ | او اولاد د هغهٔ | مگر | تاوان | او مکرونه جوړ کړل دوی | مکرونه

چه هغوی ته خپل مال او اولاد د نقصان (تاوان) نه سوا بل څه فائده نه ده ورکړے او دوی ډیر لوے لوے

كُبَّارًا ﴿۲۲﴾ وَقَالُوْا لَا تَذَرُنَّ اٰلِهَتَكُمْ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا

ډیر لوے | او او وئیل دوی | هیڅ کله مه پریږدئ تاسو | خدایان خپل | او هیڅ کله مه پریږدئ | وَد

مکرونه جوړ کړل او (یو بل ته ئے) او وئیل چه خپل خدایان (معبودان) هیڅ کله مه پریږدئ مه وَد

وَّلَا سُوَاعًا ۙ۬ وَّلَا یَغُوْثَ وَیَعُوْقَ وَنَسْرًا ﴿۲۳﴾ وَقَدْ اَضَلُّوْا

او نه سواع | او نه یَغوث | او یَعوق | او نسر | او یقینًا | گمراه کړل دوی

او سواع پریږدئ او مه یغوث یعوق او نسر. او (د دغه شان) دوی ډیر خلق گمراه کړل

كَثِیْرًا ۚ۬ وَلَا تَزِدِ الظّٰلِمِیْنَ اِلَّا ضَلٰلًا ﴿۲۴﴾ مِمَّا خَطِیْٓـٰٔتِهِمْ

ډیر خلق | او ته مه زیاتوه | ظالمانو لره | مگر | گمراهی | په وجه | د گناهونو د دوی

او (اے ربه) ته د دوی گمراهی نوره هم زیاته کړه. اخیر دوی د خپلو گناهونو د وجے

اُغْرِقُوْا فَاُدْخِلُوْا نَارًا ۙ۬ فَلَمْ یَجِدُوْا لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ

غرق کړے شول دوی | پس داخل کړے شول | اور ته | پس اونه موندل دوی | دځان دپاره | بیوا

غرق کړے شو (او) بیا اور ته داخل کړے شو، لو د ځان دپاره ئے

اللّٰهِ اَنْصَارًا ﴿۲۵﴾ وَقَالَ نُوْحٌ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْاَرْضِ

د الله نه | څوک مددگاران | او او وئیل | نوحؑ | اے زما ربه! | ته مه پریږده | په زمکه باندے

د الله تعالیٰ نه سوا بل هیڅ څوک مددگار اونهٔ موندلو، او نوحؑ او وئیل اے زما ربه! په مخ د زمکے

مِنَ الْكٰفِرِيْنَ دَيَّارًا ﴿۲۶﴾ اِنَّكَ اِنْ تَذَرْهُمْ يُضِلُّوْا

د کافرانو (نه) | هیڅ یو کور آباد | بیشکه ته | که چرے | پریږدے دوی | نو گمراه به کړی

یو کافر هم آباد پرے نږدے (آباد پاتے نکړے) که چرے ته دوی پاتے کړے نو ستا بندګان به

عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوْٓا اِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا ﴿۲۷﴾ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ

بندګان ستا | او اَو به نه زیږوی دوی | مګر | بدکاره | کافر (ناشکره) | اے زما ربه | بخښنه اوکړه | ماته

ګمراه کړی او صرف بدکاره کافران (ناشکره) به اوزیږوی. اے زما ربه! ما هم او بخښه

وَلِوَالِدَيَّ وَلِمَنْ دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِنًا وَّلِلْمُؤْمِنِيْنَ

او زما مور او پلار ته | او هغه چا ته | چه داخل شوی دی | زما کور ته | مومن | او مومنانو سړو ته

او زما مور او پلار هم او هر هغه څوک هم او بخښه چه زما کور ته د ایمان په حالت کښ داخل شوی دی او ټول مومنان سړی

وَالْمُؤْمِنٰتِ ؕ وَلَا تَزِدِ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا تَبَارًا ﴿۲۸﴾ ع

او مومنانو ښځو ته | او ته مه زیاتوے | ظالمانو لره | مګر | تباهی |

او مومنانے ښځے او بخښه. او د ظالمانو خلقو دپاره تباهی (بربادی) لوره هم زیاته کړه.

آیاتها [۲۸]	سورة الجن مکیّة	رکوعاتها [۲]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم.

قُلْ اُوْحِيَ اِلَيَّ اَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ فَقَالُوْٓا

او وایه (چه) | وحی کړی شوے ده | ماته | چه بیشکه | اوریدلے دے | یو ډلے | د پیریانو نه (قرآن) | نو اوویل هغوی

(اے نبی! (خلقو ته) او وایه چه ماته وحی شوے ده چه د پیریانو یو ډلے (قرآن) په غور سره واوریدو نو (خپل قوم ته ئے) اوویل

اِنَّا سَمِعْنَا قُرْاٰنًا عَجَبًا ﴿۱﴾ يَّهْدِيْٓ اِلَى الرُّشْدِ فَاٰمَنَّا

بیشکه | مونږ واوریدلو | یو قرآن | عجیبه | لار ښائی هغه | د نیکئ (طرف ته) | پس مونږ ایمان راوړو

چه مونږ خو یو داسے ناشنا قرآن اوریدلے دے چه د سمے لارے طرف ته ښودنه کوی نو مونږ ورباندے ایمان راوړو

بِهٖ ؕ وَلَنْ نُّشْرِكَ بِرَبِّنَآ اَحَدًا ﴿۲﴾ وَّاَنَّهٗ تَعٰلٰى جَدُّ

په هغے باندے | او هیڅ کله به مونږ شریک نه کړو | د خپل رب سره | هیڅ څوک | او دا چه بیشکه | اوچت دے | شان

او مونږ به د خپل رب سره هیڅ کله څوک شریک نه کړو او دا چه زمونږ د رب شان خو ډیر اوچت دے

رَبِّنَا مَا اتَّخَذَ صَاحِبَةً وَّلَا وَلَدًا ﴿۳﴾ وَّاَنَّهٗ كَانَ يَقُوْلُ

د رب زمونږ | نه ده نیولے هغه | ښځه | او نه | اولاد | او دا چه بیشکه | ویل به همیشه

نه ئے ښځه شته او نه ئے بچی. او دا چه زمونږ بے وقوفه خلقو به د الله په باره کښ د حد نه زیاتی

سَفِيْهُنَا عَلَى اللّٰهِ شَطَطًا ﴿٤﴾ وَّاَنَّا ظَنَنَّآ اَنْ لَّنْ تَقُوْلَ

بےوقوفوزمونږ | په الله باندے | ناحقه خبره | او(دا چه) بیشکه | مونږ گمان کړےوو | چه هیڅ کله به اُونه وائي

(ناحقه) خبرے کولے. او دا چه زمونږ خو دا گمان وو چه انسانان او پیریان به په الله تعالی باندے

الْاِنْسُ وَالْجِنُّ عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا ﴿٥﴾ وَّاَنَّهٗ كَانَ رِجَالٌ

انسانان | او پیریان | په الله باندے | دروغ | او دا چه بیشکه | وو | څه سړی

هیڅ کله دروغ نه جوړوی . او دا چه د انسانانو څه کسانو به

مِّنَ الْاِنْسِ يَعُوْذُوْنَ بِرِجَالٍ مِّنَ الْجِنِّ فَزَادُوْهُمْ

د انسانانو نه | چه پناه ئے غوښتله | د څه سړو | د پیریانو نه | پس هغوی زیاته کړه دوی لره

د پیریانو د څهٔ کسانو نه پناه غوښتله نو د هغوی سرکشی ئے نوره هم زیاته کړه

رَهَقًا ﴿٦﴾ وَّاَنَّهُمْ ظَنُّوْا كَمَا ظَنَنْتُمْ اَنْ لَّنْ يَّبْعَثَ اللّٰهُ

سرکشی | او دا چه بیشکه هغوی | گمان کړےوو | لکه (څنگه) | چه تاسو گمان کړےدے | چه هیڅ کله به را پورته نه کړی | الله

او دا چه هغوی (د انسانانو) هم دا گمان (عقیده) وه څنگه چه ستاسو عقیده ده چه الله تعالی به

اَحَدًا ﴿٧﴾ وَّاَنَّا لَمَسْنَا السَّمَآءَ فَوَجَدْنٰهَا مُلِئَتْ حَرَسًا

هیڅ څوک | او دا چه بیشکه مونږ لاس پورے لو | آسمان ته | پس او موندلو مونږ هغه | چه ډک کړےشوےوو | د څوکیدارانو

هیڅ څوک د مرگ نه پس بیا ژوندی نه کړی. او دا چه مونږ آسمان او لټولو نو هغه مو د سختو څوکیدارانو

شَدِيْدًا وَّشُهُبًا ﴿٨﴾ وَّاَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَاعِدَ

سختو | او د شعلو نه | او دا چه بیشکه مونږ به کیناستلو | د هغے (نه) | د ناستے په ځایونو کښ

او د شعلو نه ډک او موندلو او دا چه مخکښے به مونږ د خبرو اوریدو د پاره د آسمان په بعضو ځایونو کښ کیناستلو

لِلسَّمْعِ ؕ فَمَنْ يَّسْتَمِعِ الْاٰنَ يَجِدْ لَهٗ شِهَابًا رَّصَدًا ﴿٩﴾

د پاره د اوریدو | پس څوک | چه غوږ پردی | اوس | نو مومی هغه | د ځان د پاره | یوه شعله | تیاره (په انتظار)

لیکن اوس چه څوک څه اوریدل غواړی نو د ځان د پاره یو شعله تیاره بیا مومی

وَّاَنَّا لَا نَدْرِيْٓ اَشَرٌّ اُرِيْدَ بِمَنْ فِي الْاَرْضِ

او دا چه بیشکه | مونږ نه پوهیدلو | آیا د څه شر | اراده کړے شوے ده | په هغه چا | چه په زمکه کښ دی

او دا چه مونږ ته پته نه وه چه آیا د زمکے والو باره کښ د شر اراده شوے ده

اَمْ اَرَادَ بِهِمْ رَبُّهُمْ رَشَدًا ﴿١٠﴾ وَّاَنَّا مِنَّا الصّٰلِحُوْنَ

یا اراده کړے ده | په هغوی باندے | رب خپل | د هدایت | او دا چه بیشکه بعضے زمونږ نه | نیکان دی

یا د هغوی رب د هغوی په باره کښ د هدایت اراده کړے ده. او دا چه په مونږ کښ څه خلق نیکان دی

وَمِنَّا دُوْنَ ذٰلِكَ ؕ كُنَّا طَرَآئِقَ قِدَدًا ﴿١١﴾ وَّاَنَّا ظَنَنَّآ

او بعضے زمونږ نه | علاوه دی | د دے نه | وو مونږ | په لارو | مختلفو | او دا چه بیشکه گمان کړےوو مونږ

او څه دا سے (یعنی نیکان) نه دی او مونږ په مختلفو لارو روان یو. او دا چه زمونږ دا خیال وو چه

اَنْ لَّنْ نُّعْجِزَ اللّٰهَ فِى الْاَرْضِ وَلَنْ نُّعْجِزَهٗ هَرَبًا ﴿١٢﴾

داچه | هیڅکله به مونږ عاجزه نه کړو | الله | په زمکه کښې | او هیڅکله به مونږ عاجزه نه کړو هغه | په تیښته

نه مونږ په زمکه کښې الله تعالیٰ عاجزه کولے شو او نهٔ ئے (بل ځائے ته) په تیښته عاجزه کولے شو.

وَّاَنَّا لَمَّا سَمِعْنَا الْهُدٰۤى اٰمَنَّا بِهٖ ؕ فَمَنْ يُّؤْمِنْۢ

او دا چه بیشکه | کله چه | مونږ واوریدو | هدایت | تو مونږ ایمان راوړو | په هغے باندے | پس چا چه | ایمان راوړو

او دا چه کله مونږ د هدایت خبره واوریدله مونږ پرے ایمان راوړلو. پس څوک چه په خپل رب ایمان راوړی

بِرَبِّهٖ فَلَا يَخَافُ بَخْسًا وَّلَا رَهَقًا ﴿١٣﴾ وَّاَنَّا مِنَّا الْمُسْلِمُوْنَ

په رب خپل | نو نه ډیریږی | د کمی نه | او نه د زیاتی نه | او دا چه بیشکه بعضے زمونږ نه | فرمانبردار دی

نو هغه (په) نه د نقصان نه یریږی او نهٔ د زیاتی (ظلم) نه او دا چه په مونږ کښې څه خلق مسلمانان دی

وَمِنَّا الْقٰسِطُوْنَ ؕ فَمَنْ اَسْلَمَ فَاُولٰٓئِكَ تَحَرَّوْا رَشَدًا ﴿١٤﴾

او بعضے زمونږ نه | ظالمان دی | پس چا چه | اسلام راوړلو | نو دغه خلقو | او موندله | تیښه لار

او څه په مونږ کښې (اوس هم) ظالمان دی نو چا چه اسلام راوړے دے هغوی دهدایت لار تلاش کړے ده

وَاَمَّا الْقٰسِطُوْنَ فَكَانُوْا لِجَهَنَّمَ حَطَبًا ﴿١٥﴾ وَّاَنْ لَّوِ اسْتَقَامُوْا

او هر هغه څوک چه ظالمان دی | نو وی به هغوی | د دوزخ | خشاک | او دا چه | که چرے | دوی قائم او سیږی

او کوم چه ظالمان دی هغوی د دوزخ خشاک (لرګی) دی. او دا (وحی راته هم شوے ده) چه که دا خلق (مکے والا)

عَلَى الطَّرِيْقَةِ لَاَسْقَيْنٰهُمْ مَّآءً غَدَقًا ﴿١٦﴾ لِّنَفْتِنَهُمْ

په | لار | نو خامخا به مونږ او څکوو به دوی باندے | اوبه | ډیرے | چه ازمیښت او کړو مونږ د دوی

په تیغه لاره باندے کلک (ولاړ) پاتے شو نو مونږ به (ضرور) په ډیرو (پریمانه) اوبو باندے خړوب کړو دوی

فِيْهِ ؕ وَمَنْ يُّعْرِضْ عَنْ ذِكْرِ رَبِّهٖ يَسْلُكْهُ عَذَابًا

په دے کښې | او څوک چه | مخ واړوی | د ذکر | د رب خپل نه | نو هغه (الله) به ننباسی ده لره | عذاب

(دے دپاره) چه مونږ په دے سره دوی او ازمايو. او چا چه د خپل رب د نصیحت نه مخ واړولو نو هغه به ئے ډیر سخت

صَعَدًا ﴿١٧﴾ وَّاَنَّ الْمَسٰجِدَ لِلّٰهِ فَلَا تَدْعُوْا مَعَ اللّٰهِ اَحَدًا ﴿١٨﴾

سخت ته | او دا چه بیشکه | جماتونه | د الله دی | پس مه رابلئ تاسو | د الله سره | (بل) هیڅ څوک

عذاب ته داخل کړی. او دا (وحی راته هم شوے ده) چه جماتونه خاص د الله دی نو د الله سره بل هیڅوک مه رابلئ

وَّاَنَّهٗ لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللّٰهِ يَدْعُوْهُ كَادُوْا يَكُوْنُوْنَ

او دا چه بیشکه | هر کله | او دریدو | بنده | د الله | چه رابلی هغهٔ لره | نو نزدے ده | چه شی دوی

او دا چه کله د الله بنده د هغه رابللو دپاره (د عبادت دپاره) او دریږی نو (دا سے معلومیږی چه) دا خلق پړے

ع

عَلَيْهِ لِبَدًا ﴿١٩﴾ قُلْ اِنَّمَاۤ اَدْعُوْا رَبِّىْ وَلَاۤ اُشْرِكُ بِهٖۤ

په هغه باندے | راپنډ | او وایه | (چه) بیشکه | زهٔ رابلم | رب خپل | او نهٔ شریکوم زه | د هغه سره

راپنډ شی. اے نبیؐ! او وایه چه زه خو صرف خپل رب رابلم او د هغه سره هیڅ څوک نه شریکوم.

اَحَدًا ﴿٢٠﴾ قُلْ اِنِّیْ لَآ اَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَّلَا رَشَدًا ﴿٢١﴾

هیڅ څوک | او وایه | (چه) بیشکه زه | اختیار نه لرم | ستاسو دپاره | د څه نقصان | او نه د څه فائدے

او وایه چه زه ستاسو دپاره نه د څه نقصان اختیار لرم او نه د څه بنیګړے (هدایت)

قُلْ اِنِّیْ لَنْ یُّجِیْرَنِیْ مِنَ اللّٰهِ اَحَدٌ ۙ وَّلَنْ اَجِدَ

او وایه | چه بیشکه زه | هیڅ کله به بچ نه کړی ما لره | د الله نه | هیڅ څوک | او هیڅ کله به زه اُونه مومم

او وایه چه ما د الله تعالیٰ نه هیڅ څوک نشی بچ کولے (پناه نشی را کولے) او د هغه نه سوا زما هیڅ

مِنْ دُوْنِهٖ مُلْتَحَدًا ﴿٢٢﴾ اِلَّا بَلٰغًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِسٰلٰتِهٖ ؕ

د هغه نه سوا | څه ځائے د پناه | مگر (زما کار) | رسول دی | د الله د طرف نه | او د هغه پیغامونه (رسول دی)

د پناه ځائے نیشته . البته د الله د طرف نه (احکام) رسول او د هغه پیغامونه رسول زما ذمه داری ده.

وَمَنْ یَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَاِنَّ لَهٗ نَارَ جَهَنَّمَ

او څوک چه | نافرمانی کوی | د الله | او د رسول د هغهٔ | نو بیشکه | د هغه دپاره | اور | د دوزخ دے

او څوک چه د الله او د هغه د رسول نافرمانی کوی نو د هغه دپاره د دوزخ اور دے چه هلته به

خٰلِدِیْنَ فِیْهَآ اَبَدًا ﴿٢٣﴾ حَتّٰٓی اِذَا رَاَوْا مَا یُوْعَدُوْنَ

همیشه به وی | په هغے کښ | همیشه | تر دے | چه کله | اووینی دوی | هغه څه | چه وعدے ورکولے شی د دوی سره

همیشه همیشه اوسیږی. (داخلق به نافرمانی کوی) تر دے چه کله دوی هغه عذاب اووینی د کوم چه ورسره

فَسَیَعْلَمُوْنَ مَنْ اَضْعَفُ نَاصِرًا وَّاَقَلُّ عَدَدًا ﴿٢٤﴾ قُلْ

لو زر ده چه پوهه به شی دوی | چه څوک | زیات کمزورے دے | مدد کوونکے | او (زیات) کم دی | په شماره کښ | او وایه

وعده کیږی نو (هغه وخت به) دوی ته پته اولګی چه د چا مددګار کمزورے دے او د چا تعداد کم دے

اِنْ اَدْرِیْٓ اَقَرِیْبٌ مَّا تُوْعَدُوْنَ اَمْ یَجْعَلُ لَهٗ

زه نه پوهیږم | چه آیا نزدے دے | هغه څه | چه وعدے کولے شی تاسو سره | یا به مقرروی | د هغے دپاره

ورکه او وایه چه ما ته پته نشته چه د کوم څیز وعده تاسو سره کیږی آیا هغه نزدے دے یا زما رب د هغے

رَبِّیْٓ اَمَدًا ﴿٢٥﴾ عٰلِمُ الْغَیْبِ فَلَا یُظْهِرُ عَلٰی غَیْبِهٖٓ اَحَدًا ﴿٢٦﴾ ۙ

رب زما | موده لرے | هغه پوهه دے | په غیبو | پس هغه نه خبروی | په خپل غیب باندے | هیڅ څوک

دپاره څه لرے نیټه مقرر کړے ده) هغه د غیبو خبرے پیژنی او خپل غیب باندے هیڅ څوک نه خبروی

اِلَّا مَنِ ارْتَضٰی مِنْ رَّسُوْلٍ فَاِنَّهٗ یَسْلُكُ مِنْۢ بَیْنِ یَدَیْهِ

لیکن | څوک چه | غوره کړی هغه | د رسولانو نه | نو بیشکه هغه | روان کړی | مخکښے د هغهٔ نه

لیکن یو پیغمبر چه (د ځان دپاره ئے) غوره کړے وی نو د هغه نه مخکښے

وَمِنْ خَلْفِهٖ رَصَدًا ﴿٢٧﴾ ۙ لِّیَعْلَمَ اَنْ قَدْ اَبْلَغُوْا رِسٰلٰتِ

او وروستو د هغهٔ نه | چوکیداران | چه پوهه شی هغه | چه | یقیناً | دوی رسولی دی | پیغامونه

او وروستو دپاره د حفاظت دوی محافظان لګوی. د دے دپاره چه هغه ښکاره کړی چه پیغمبرانو د خپل رب پیغامونه رسولی دی



رَبِّهِمْ وَاَحَاطَ بِمَا لَدَيْهِمْ وَاَحْصٰى كُلَّ شَيْءٍ عَدَدًا ﴿۲۸﴾

درب خپل | او هغه احاطه کړے ده | په هغه څه | چه کوی سره دی | او هغه شمار کړے | هر یو څیز | په شمار سره

او هغه د دوی په هر څه احاطه کړے ده او هر یو څیز ئے پوره پوره شمار کړے دے.

رکوعاتها [۲]	سورة المزّمّل مكّيّة	آياتها [۲۰]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم.

يٰٓاَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ ﴿۱﴾ قُمِ الَّيْلَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۲﴾ نِّصْفَهٗٓ اَوِ انْقُصْ

اے څادر اغوستونکیه | پاڅه (او دریږه) | د شپے | مګر | لږ | نیمه د هغے | یا کم کړه

اے څادر (جامه) کښې ځان رانغښتونکیه! د شپے دلږ حصے نه سوا باقی شپه (د الله په عبادت کښې) او دریږه

مِنْهُ قَلِيْلًا ﴿۳﴾ اَوْ زِدْ عَلَيْهِ وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِيْلًا ﴿٤﴾

د هغے نه | لږ | یا زیات کړه | په هغے باندے | او په قلاره لوله | قرآن | په قلاره لوستلو سره

د شپے نیمه حصه یا د دے نه څه کم کړه یا ئے د دے نه زیات کړه او قرآن په دمه دمه (صفا صفا) لوله

اِنَّا سَنُلْقِيْ عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيْلًا ﴿۵﴾ اِنَّ نَاشِئَةَ الَّيْلِ

بیشکه مونږ به | زر ده چه واچوو | په تا باندے | یو وینا | درنه | بیشکه | پاڅیدل | د شپے

یقیناً مونږ په تا باندے یو درون کلام نازلوو. یقیناً د شپے پاڅیدل داسے عمل دے چه نفس ورسره ښه

هِيَ اَشَدُّ وَطْاً وَّاَقْوَمُ قِيْلًا ﴿٦﴾ اِنَّ لَكَ فِي النَّهَارِ

هغه دی | ډیر زیات | پامال کوونکی | او زیات سیده کوونکی وی | د خبرے | بیشکه | وی به ستا د پاره | په ورځ کښې

پیمال کیږی او خبره هم ډیره په ښه طریقے سره سیده کوی (او د قرآن لوستلو د پاره هم ډیر مناسب دے) یقیناً د ورځے ستا

سَبْحًا طَوِيْلًا ﴿۷﴾ وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلْ اِلَيْهِ تَبْتِيْلًا ﴿۸﴾

مشغولتیا | اوږده | او یادوه | نوم | درب خپل | او ځان جدا کړه | د هغه طرف ته | په ځان جدا کولو سره

ډیره (اوږده) مشغولا وی، او د خپل رب نوم یادوه او د هر چا نه جدا شه، او هغه ته پوره توجه اوکړه

رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَاتَّخِذْهُ

(هغه) رب دے | د مشرق | او د مغرب | نشته دے | هیڅ لائق د عبادت | سوا | د هغه نه | پس ته او نیسه هغه

هغه د مشرق او د مغرب مالک دے د هغه نه سوا بل هیڅ څوک د عبادت لائق نشته نو هم هغه (خپل)

وَكِيْلًا ﴿۹﴾ وَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَاهْجُرْهُمْ هَجْرًا جَمِيْلًا ﴿۱۰﴾

کارساز | او صبر کوه | په هغه څه | چه دوی ئے وائی | او پریږده دوی | په پریخودلو | ښو سره

کارساز جوړ کړه. او دا کافران چه څه وائی په هغے د صبر نه کار واخله، او ډیره په ښه (مناسبه) طریقه د هغوی نه جدا شه

وَذَرۡنِیۡ وَالۡمُکَذِّبِیۡنَ اُولِی النَّعۡمَةِ وَمَهِّلۡهُمۡ قَلِیۡلًا ﴿۱۱﴾ اِنَّ

اوپریږده ما | سره دَ دروغ ګڼرونکو | نعمتونو والا | او مهلت ورکړه هغوی ته | لږ | بیشکه

اودغه دروغ ګڼرونکی چه دعیش او عشرت (نعمتونو) مالکان دی دهغوی معامله په ما بانډې پریږده. اولږ مهلت ورله ورکړه

لَدَیۡنَاۤ اَنۡکَالًا وَّجَحِیۡمًا ﴿۱۲﴾ وَّطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ وَّعَذَابًا

زموږ سره دی | بیړۍ (زنځیرونه) | او ګرم اور | او خوراک | په مرئ کښې انختونکے | او عذاب

یقین او کړه چه زموږ سره بیړۍ (زنځیرونه) او ګرم اور دے او په مرئ کښې انختونکی خوراک دے

اَلِیۡمًا ﴿۱۳﴾ یَوۡمَ تَرۡجُفُ الۡاَرۡضُ وَالۡجِبَالُ وَکَانَتِ الۡجِبَالُ

دردناک | په هغه ورځ | چه اوجړقیږی | زمکه | او غرونه | او شی به | غرونه

او دردناک عذاب دے (دا به) په هغه ورځ (وی) چه زمکه او غرونه به اوجړقیږی او غرونه به داسے شی

کَثِیۡبًا مَّهِیۡلًا ﴿۱۴﴾ اِنَّاۤ اَرۡسَلۡنَاۤ اِلَیۡکُمۡ رَسُوۡلًا ۙ شَاهِدًا عَلَیۡکُمۡ

ډیری | دشګے بهیدونکے | بیشکه | موږ رالیږلے دے | تاسو ته | یو پیغمبر | ګواهی کوونکے | په تاسو باندے

لکه دشګو ډیری (ریګ). اے خلقو څنګه چه موږ فرعون ته یو رسول لیږلے وو دغه شان موږ تاسو ته

کَمَاۤ اَرۡسَلۡنَاۤ اِلٰی فِرۡعَوۡنَ رَسُوۡلًا ﴿۱۵﴾ فَعَصٰی فِرۡعَوۡنُ

لکه څنګه چه | موږ لیږلے وو | فرعون ته | پیغمبر | پس نافرمانی او کړه | فرعون

هم یو پیغمبر رالیږلے دے چه په تاسو ګواهی اوکړی۔ خو (بیا) فرعون

الرَّسُوۡلَ فَاَخَذۡنٰهُ اَخۡذًا وَّبِیۡلًا ﴿۱۶﴾ فَکَیۡفَ تَتَّقُوۡنَ اِنۡ

د (هغه) پیغمبر | پس رانیولو موږ هغه | په نیولو | سخت سره | پس څنګه به | بچ شئ تاسو | که چرے

دهغه رسول خبره اونه منله نو موږ ډیر کلک رانیولو۔ که تاسو (هم) انکار اوکړی

کَفَرۡتُمۡ یَوۡمًا یَّجۡعَلُ الۡوِلۡدَانَ شِیۡبًا ﴿۱۷﴾ السَّمَآءُ مُنۡفَطِرٌۢ

کفر اوکړو تاسو | دهغے ورځے نه | چه کړی به هغه | ماشومان | بوډاګان | آسمان به | اوچوی

نو دهغے ورځ نه به څنګه بچ کیږئ چه ماشومانو له به بوډاګان جوړ کړی (او په هغے سره به) آسمان اوچوی

بِهٖ ؕ کَانَ وَعۡدُهٗ مَفۡعُوۡلًا ﴿۱۸﴾ اِنَّ هٰذِهٖ تَذۡکِرَةٌ ۚ فَمَنۡ شَآءَ

په دغه ورځ | ده | وعده د هغه | پوره شوے | بیشکه | دا دے | نصیحت | پس دچا چه | خوښه وی

د الله وعده خو به ضرور پوره کیږی، یقیناً دا (قرآن) یو نصیحت دے اوس چه څوک غواړی

اتَّخَذَ اِلٰی رَبِّهٖ سَبِیۡلًا ﴿۱۹﴾ اِنَّ رَبَّکَ یَعۡلَمُ اَنَّکَ تَقُوۡمُ ع

اودے نیسی هغه | خپل رب ته | لار | بیشکه | ستا رب | پوهیږی | چه بیشکه ته | اودریږے

نو خپل رب ته (درسیدو) لار دے اختیار کړی. (اے نبی!) یقیناً ستا رب ته پته ده چه ته او ستا څه ملګری

اَدۡنٰی مِنۡ ثُلُثَیِ الَّیۡلِ وَنِصۡفَهٗ وَثُلُثَهٗ وَطَآئِفَةٌ

نژدے | دوه حصو ته | د دریو حصو د شپے نه | او نیمه حصه دهغے | یا دریمه حصه دهغے | او یوه ډله

دشپے په دریو حصو کښې تر دوو حصو او (کله) تر نیمے شپے او (کله) دریمے حصے د شپے پورے

مِنَ الَّذِيْنَ مَعَكَ ۭ وَاللّٰهُ يُقَدِّرُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ ۭ عَلِمَ

دهغه خلقو نه (هم) | چه تاسره دي | او الله تعالىٰ | اندازه كوي | دشپے | او دورځے | پوهه دے هغه

(په مانځه) كښې ولاړ يئ. او د شپے او د ورځے ټيک اندازه خو صرف الله لګوي

اَنْ لَّنْ تُحْصُوْهُ فَتَابَ عَلَيْكُمْ فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ

چه هيڅ كله تاسو نشئ پوره كولے دا | نو مهرباني اوكړه هغه | په تاسو | پس لولئ | هغه څه | چه آسان وي

هغه ته پته ده چه تاسو دا اندازه پوره ترسره كولے نه شئ نو په تاسو ئے مهرباني اوكړه اوس تاسو دومره قرآن لولئ

مِنَ الْقُرْاٰنِ ۭ عَلِمَ اَنْ سَيَكُوْنُ مِنْكُمْ مَّرْضٰى ۙ وَاٰخَرُوْنَ

د قرآن نه | پوهه دے هغه | په دے | چه وي به | ستاسو نه | بيماران | او څه نور (خلق هم)

څومره چه (درته) آسان وي. الله ته پته ده چه په تاسو كښې به څه خلق بيماران وي او څه به داسے خلق وي

يَضْرِبُوْنَ فِى الْاَرْضِ يَبْتَغُوْنَ مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ ۙ وَاٰخَرُوْنَ

چه سفر (به) كوي | په زمكه كښې | (چه) لټوي به | دَ فضل | د الله نه | او څه نور (خلق هم) دي

چه د الله د فضل په تلاش كښې به په زمكه كښې سفر كوي. او څه به داسے وي چه

يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ڮ فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ ۙ

چه جنګيږي | په لاره | د الله كښې | پس لولئ | هغه څه | چه آسان وي | د دے (قرآن) نه

د الله په لاره كښې به جنګ كوي نو (بس) تاسو دومره قرآن لولئ څومره چه (درته) آسان وي

وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاَقْرِضُوا اللّٰهَ

او قائموئ | مونځ | او وركوئ | زكات | او وركړئ (قرض) | الله ته

او د مانځه پابندي كوئ او زكات وركوئ او الله تعالىٰ ته ښه قرض وركړئ.

قَرْضًا حَسَنًا ۭ وَمَا تُقَدِّمُوْا لِاَنْفُسِكُمْ مِّنْ خَيْرٍ

قرض | ښائسته | او هغه | چه تاسو مخكښے ليږئ | د خپلو ځانو دپاره | څه نيكي

او تاسو چه د خپل ځان دپاره څه قسم نيكي (هم) مخكښې ليږئ

تَجِدُوْهُ عِنْدَ اللّٰهِ هُوَ خَيْرًا وَّاَعْظَمَ اَجْرًا ۭ

نو تاسو به بيا مومئ هغه | د الله سره | هم هغه | ډير غوره | او ډير لوے دے | په اجر وركولو كښې

هغه به د الله سره بيا مومئ (چه هغه به ستاسو دپاره) ډيره ښه وي او اجر به ئے هم ډير زيات وي

وَاسْتَغْفِرُوا اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝٢٠ ع

او بخښنه غواړئ | د الله نه | بيشكه | الله دے | ډير بخښونكے | ډير مهربان

او د الله نه بخښنه غواړئ. يقيناً الله تعالىٰ ډير بخښونكے ډير مهربان دے.

آیاتها [۵۶]	سورة المدثر مكية	رکوعاتها [۲]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

يٰۤاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ ﴿١﴾ قُمْ فَاَنْذِرْ ﴿٢﴾ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ﴿٣﴾ وَثِيَابَكَ

اے ځان رانغښتونکیه! | ودریږه (پاڅه) | پس اویروه (خلق) | او خاص دخپل رب | لوئی بیان کړه | او خپلے جامے

اے په جامه کښې ځان رانغښتونکیه! پاڅه او (خلق دالله نه) اویروه. او د خپل رب لوئی بیان کړه. او خپلے جامے

فَطَهِّرْ ﴿٤﴾ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ ﴿٥﴾ وَلَا تَمْنُنْ تَسْتَكْثِرُ ﴿٦﴾ وَلِرَبِّكَ

پاکے ساته | او پلیتئ نه | ډډه اوکړه | او احسان مه کوه | چه (بدل پرے) ډیر غواړے | او دخپل رب دپاره

پاکے ساته او د ګندګئ نه لرے اوسیږه او احسان (په دے نیت) مه کوه چه بیا به پرے ډیر حاصل کړے.

فَاصْبِرْ ﴿٧﴾ فَاِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُوْرِ ﴿٨﴾ فَذٰلِكَ يَوْمَئِذٍ يَّوْمٌ

صبر کوه | پس کله چه | پوکی او وهلی شی | په شپیلۍ کښې | نو دا به | په دغه ورځ | ورځ به وی

او دخپل رب (د رضا) دپاره د صبر نه کار واخله بیا کله چه په شپیلۍ کښې پو کے ووهلی شی نو هغه ورځ به

عَسِيْرٌ ﴿٩﴾ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ غَيْرُ يَسِيْرٍ ﴿١٠﴾ ذَرْنِيْ وَمَنْ خَلَقْتُ

ډیره سخته | په کافرانو باندے به | نه وی آسانه | پریږده ما | او هغه څوک | چه ما پیدا کړی دی

ډیره سخته ورځ وی، د کافرانو دپاره به آسانه نه وی. او د هغه کس معامله په ما پریږده چه هغه ما

وَحِيْدًا ﴿١١﴾ وَّجَعَلْتُ لَهٗ مَالًا مَّمْدُوْدًا ﴿١٢﴾ وَّبَنِيْنَ شُهُوْدًا ﴿١٣﴾

یواځے | او ورکړے دے ما | هغه ته | مال | ډیر (خوراور) | او ځامن | حاضر

یواځے پیدا کړو او ډیر مال مے ورله ورکړو او (داسے) ځامن مے ورله ورکړه چه (هر وخت) د هغه مخے ته موجود وی

وَّمَهَّدْتُّ لَهٗ تَمْهِيْدًا ﴿١٤﴾ ثُمَّ يَطْمَعُ اَنْ اَزِيْدَ ﴿١٥﴾

او تیار کړی دی ما | دهغه دپاره | هر قسم سامان (په تیار ولو سره) | بیا | هغه طمع لری | چه زه (نور هم) زیات ور کړم

او هر قسم سامانونه مے ورله تیار (ور کړل) بیا (لا) هغه دا طمع (لالچ) هم کوی چه زه ورله نور زیات ور کړم

كَلَّا ؕ اِنَّهٗ كَانَ لِاٰيٰتِنَا عَنِيْدًا ﴿١٦﴾ سَاُرْهِقُهٗ صَعُوْدًا ﴿١٧﴾

چرے نه | بیشکه | هغه دے | زمونږ د آیتونو سره | دشمنی کوونکے | زر ده چه زه به هغه او خیژوم | په سخت غر باندے

هیڅ کله (دا سے نشی کیدے) دا زمونږ د آیتونو دشمن (جوړ شوے) دے. ډیر زر به ئے زه په سخته چړائی باندے او خیژوم

اِنَّهٗ فَكَّرَ وَقَدَّرَ ﴿١٨﴾ فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴿١٩﴾ ثُمَّ

بیشکه هغه | سوچ او کړو | او اندازه ئے اولګوله | پس هلاک دے کړے شی هغه | څنګه | اندازه ئے اولګوله | بیا

یقیناً ده سوچ او کړو او اندازه ئے اولګوله. نو دا دے تباه شی څنګه اندازه ئے اولګوله بیا دے

قُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ۝٢٠ ثُمَّ نَظَرَ ۝٢١ ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ ۝٢٢

هلاک دې کړی شي هغه | څنګه | اندازه ئې ولګوله | بیائې | او کتل | بیائې | تندې تریو کړو | او خوله ئې ورانه کړه

تباه شي څنګه اندازه ئې ولګوله بیائې نظر واچولو (غور ئې اوکړو) بیائې تندې تریو کړو او خوله ئې ورانه (بوټه) کړه

ثُمَّ اَدْبَرَ وَاسْتَكْبَرَ ۝٢٣ فَقَالَ اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ يُّؤْثَرُ ۝٢٤

بیائې | شا کړه | او تکبر ئې اوکړو | نو او ئې ویل | (چه) نه دې دا | مګر | جادو | نقل کولې شي

بیائې شا کړه او تکبر ئې اوکړو. بیائې اوویل چه دا خو دا سې جادو دې چه د پخوانو را روان دې

اِنْ هٰذَآ اِلَّا قَوْلُ الْبَشَرِ ۝٢٥ سَاُصْلِيْهِ سَقَرَ ۝٢٦ وَمَآ اَدْرٰىكَ

نه دې دا | مګر | خبره | د انسان | زر ده چه زه به داخل کړم دغه ره | دوزخ ته | او ته څه پوهه کړې

دا خو بس د بنیادم کلام دې ډیر زر به مونږ دغه لره سقر (دوزخ) ته داخل کړو او تا ته څه پته ده چه

مَا سَقَرُ ۝٢٧ لَا تُبْقِيْ وَلَا تَذَرُ ۝٢٨ لَوَّاحَةٌ لِّلْبَشَرِ ۝٢٩

چه څه دې سقر (دوزخ)؟ | چه نه باقي پاتې کوي | او نه پریږدي | سوځوونکې دې | د څرمنې (د انسان)

سقر (دوزخ) څه څیز دې؟ نه به هغه څوک باقي پاتې کوي او نه به ئې پریږدي بشري (څرمنې) به ورله او سوځوي

عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ ۝٣٠ وَمَا جَعَلْنَآ اَصْحٰبَ النَّارِ اِلَّا

په هغې باندې (مقرر دي) | نورلس (فرښتې) | او مونږ نه دي مقرر کړي | د اور ساتونکي | مګر

په هغې باندې نورلس (محافظ) فرښتې مقرر دي. او مونږ د دوزخ حفاظت کوونکې

مَلٰٓئِكَةً ۪ وَّمَا جَعَلْنَا عِدَّتَهُمْ اِلَّا فِتْنَةً لِّلَّذِيْنَ

فرښتې | او نه دي جوړ کړي مونږ | شمار د هغوی | مګر | ګواز میښت | د پاره د هغه کسانو

ملائک مقرر کړي دي او د هغوی تعداد (شمیره) مو صرف د کافرانو د ازمیښت د پاره

كَفَرُوْا ۙ لِيَسْتَيْقِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ وَيَزْدَادَ

چه کفر ئې کړې دې | د دې د پاره چه یقین او کړي | هغه کسان | چه ورکړې شوې دې هغوی ته | کتاب | او (چه) زیات شي

مقرر کړې ده (نتیجه به دا شي) چه اهل کتاب پرې یقین او کړي او د مومنانو په ایمان کښې

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِيْمَانًا وَّلَا يَرْتَابَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا

د هغه کسانو | چه ایمان ئې راوړې دې | ایمان | او (چه) شک او نه کړي | هغه کسان | چه ورکړې شوې دې هغوی ته

نوره اضافه اوشي او اهل کتاب او مومنان (په دې خبرو کښې) شک او نه کړي

الْكِتٰبَ وَالْمُؤْمِنُوْنَ ۙ وَلِيَقُوْلَ الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ

کتاب | او مومنان هم | او د دې د پاره چه اووائي | هغه کسان | چه د هغوی په زړونو کښې | مرض دې

او د چا په زړونو کښې چه مرض دې او کوم خلق

وَّالْكٰفِرُوْنَ مَاذَآ اَرَادَ اللّٰهُ بِهٰذَا مَثَلًا ۭ كَذٰلِكَ يُضِلُّ

او کافران هم | چه د څه | اراده کړې ده | الله | په دې | مثال سره | دغه شان | ګمراه کوي

چه کافران دي هغوی دا او وائي چه د دې عجیبه خبرې (مثال) نه د الله څه مراد دې؟ دغه شان

اللّٰهُ مَنْ يَّشَآءُ وَيَهْدِىْ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَمَا يَعْلَمُ جُنُوْدَ

الله | چالره | چه اوغواړي | او لاره ښائي | چاته چه | اوغواړي | او نه پیژني | لښکرے

الله چه چالره اوغواړي گمراه کوي او چالره چه اوغواړي هدايت ورکوي او ستا درب لښکرے

رَبِّكَ اِلَّا هُوَ ؕ وَمَا هِىَ اِلَّا ذِكْرٰى لِلْبَشَرِ ۞ كَلَّا

درب ستا | مگر | هغه | او نه دے دا | مگر | نصيحت | دپاره دانسان | چرے نه

دهغه نه سوا بل هيڅ څوک نه پيژني، او دا (خبرے) خو دانسانانو دپاره بس يو نصيحت دے. خبردار!

وَالْقَمَرِ ۞ وَالَّيْلِ اِذْ اَدْبَرَ ۞ وَالصُّبْحِ اِذَآ اَسْفَرَ ۞

قسم دے په سپوږمۍ | او (قسم دے) په شپه | کله چه | شاگرځي | او (قسم دے) په صبا | کله چه | روښانه شي

قسم دے دسپوږمۍ او (قسم دے) دشپے څه وخت چه په تيريدو شي او (قسم دے) په صبا کله چه دڅغے رڼا خوره شي

اِنَّهَا لَاِحْدَى الْكُبَرِ ۞ نَذِيْرًا لِّلْبَشَرِ ۞ لِمَنْ شَآءَ

بیشکه دا | خامخا يو دے | دلويو څيزونو نه | ويروونکی دے | انسان لره | دهغه چا دپاره | چه غواړي

چه يقيناً دا (قرآن ياقيامت) په هغه لويو لويو څيزونو کښ يو څيز دے چه ټولو انسانانو دپاره ويروونکی دے

مِنْكُمْ اَنْ يَّتَقَدَّمَ اَوْ يَتَاَخَّرَ ؕ ۞ كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا

ستاسو نه | چه مخکښے شي | يا وروستو شي | هريو | کس | په بدله دهغه څه کښ

په تاسو کښ دهر هغه چا دپاره چه يا مخکښے تلل غواړي (ايمان ته) يا وروستو کيدل غواړي (کفر ته)، هريو کس دخپلو عملونو په

كَسَبَتْ رَهِيْنَةٌ ۞ اِلَّآ اَصْحٰبَ الْيَمِيْنِ ۞ فِىْ جَنّٰتٍ ؕ

چه هغه کړي دي | گانړه دي | مگر | د ښي طرف والا | په جنتونو کښ به وي

وجه گانړه دي، سوا د ښي لاس والو نه (چه هغوی د ايمان او عمل په وجه ځان خلاص کړے دے)، چه هغوی به په جنتونو کښ وي

يَتَسَآءَلُوْنَ ۞ عَنِ الْمُجْرِمِيْنَ ۞ مَا سَلَكَكُمْ فِىْ سَقَرَ ۞

تپوس به کوي هغوی | د مجرمانو نه | چه څه څيز را داخل کړي يئ تاسو | په دوزخ کښ

تپوس به کوي د مجرمانو نه چه تاسو دوزخ ته کوم څيز راوستلی يئ؟

قَالُوْا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّيْنَ ۞ وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ

وائي به هغوی | چه نه وو مونږ | د مونځ گذارو نه | او نه وو مونږ | چه خوراک مو ورکوو

هغوی به ورته وائي چه مونږ به مونځ نه کولو او مسکينانو ته به مو خوراک نه ورکولو.

الْمِسْكِيْنَ ۞ وَكُنَّا نَخُوْضُ مَعَ الْخَآئِضِيْنَ ۞ وَكُنَّا نُكَذِّبُ

مسکينانو ته | او وو مونږ | چه مشغوليدو | د مشغولتيا کوونکو سره | او مونږ | دروغ گڼرله

او کوم خلق چه به په فضول خبرو کښ اخته وو مونږ به ورسره يکښ هم مشغوله پراته وو. او مونږ به

بِيَوْمِ الدِّيْنِ ۞ حَتّٰىٓ اَتٰىنَا الْيَقِيْنُ ۞ فَمَا تَنْفَعُهُمْ

ورځ | د بدلے | تر دے | چه راغے مونږ ته | يقين (مرگ) | پس فائده به نه ورکوي هغوی ته

د بدلے ورځ دروغ گڼرله، تر دے چه هغه يقيني خبره (مرگ) راباندے راغے لو (پس) دا سے خلقو ته به

شَفَاعَةُ الشّٰفِعِيْنَ ۝ فَمَا لَهُمْ عَنِ التَّذْكِرَةِ مُعْرِضِيْنَ ۝

سفارش | د سفارش کوونکو | پس څه شوی دی په دوی | چه د نصیحت نه | مخ اړوونکی دی

دسفارش کوونکو سفارش هیڅ فائده نه ورکوی.(اوس) په دے خلقو څه شوی دی چه د نصیحت نه (دا سے) مخ اړوی؟

كَاَنَّهُمْ حُمُرٌ مُّسْتَنْفِرَةٌ ۝ فَرَّتْ مِنْ قَسْوَرَةٍ ۝ بَلْ يُرِيْدُ

لکه چه دوی | خره دی | تختیدونکی | چه تختیدلی وی | د زمری نه | بلکه | اراده لري

لکه چه دوی وحشی (تختیدونکی) خره دی، چه د زمری نه تختی. بلکه په دوی کښ

كُلُّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ اَنْ يُّؤْتٰى صُحُفًا مُّنَشَّرَةً ۝ كَلَّا

هریو | سړے | د دوی نه | چه ورکړے شی هغه ته | پاڼړے | خورے ورے | هیچرے نه

هریو کس دا غواړی چه هغه ته دے پرانستلی شوے صحیفے ورکړے شی. هرګز دا سے نشی کیدے

بَلْ لَّا يَخَافُوْنَ الْاٰخِرَةَ ۝ كَلَّا اِنَّهٗ تَذْكِرَةٌ ۝ فَمَنْ

بلکه | دوی نه ویریږی | د آخرت نه | هرګز نه | بیشکه دا (قرآن) | یو نصیحت دے | پس څوک

بلکه اصل خبره دا ده چه دوی د آخرت نه نه ویریږی. یقیناً خبره دا ده چه دا قرآن یو نصیحت دے

شَآءَ ذَكَرَهٗ ۝ وَمَا يَذْكُرُوْنَ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ

چه غواړی | نو هغه دے یاد کړی دا | او دوی نه یادوی | مګر | دا چه | اوغواړی | الله

نو (اوس) دچا چه خوښه وی نو دا دے یاد کړی (نصیحت دِ واخلی) او نصیحت به دا خلق هله واخلی چه (کله) الله اوغواړی

هُوَ اَهْلُ التَّقْوٰى وَاَهْلُ الْمَغْفِرَةِ ۝ ع

هغه | لائق دے | چه (خلق ترے) اوویریږی | او لائق دے | چه بخښنه (ترے اوغوښتلے شی)

هم هغه دے خبرے لائق دے چه دهغه نه یره اوکړے شی او هم هغه دے لائق دے چه بخښنه ترے اوغوښتلے شی

آیاتها [۴۰]	سورة القیٰمة مکیة	رکوعاتها [۲]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم.

لَآ اُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ ۝ وَلَآ اُقْسِمُ بِالنَّفْسِ اللَّوَّامَةِ ۝

زه قسم کوم | په ورځ | د قیامت | او زه قسم کوم | په نفس | ملامته کوونکی

زه د قیامت په ورځ قسم خورم او زه په هغه نفس قسم خورم چه (په ګناه باندے) ملامته کول کوی

اَيَحْسَبُ الْاِنْسَانُ اَلَّنْ نَّجْمَعَ عِظَامَهٗ ۝ بَلٰى قٰدِرِيْنَ

آیا ګمان کوی | انسان | چه هیڅ کله به مونږ جمع نه کړو | هډوکی د ده | ولے نه | (مونږ) قادر یو

آیا انسان دا ګمان کوی چه مونږ به دهغه هډوکی راجمع نه کړے شو؟ ولے نه (ضرور به ئے راجمع کړو)، حالانکه مونږ

عَلٰۤی اَنۡ نُّسَوِّیَ بَنَانَهٗ ﴿٤﴾ بَلۡ یُرِیۡدُ الۡاِنۡسَانُ لِیَفۡجُرَ

په دے چه | مونږ برابر کړو | دهغه د ګوتو سرونه | بلکه | غواړي | انسان | چه ګناه اوکړي

په دے قادره یو چه دهغه د ګوتو پندونه (سرونه) هم برابر جوړ کړو. اصل خبره داده چه انسان دا غواړي چه هغه دے

اَمَامَهٗ ﴿٥﴾ یَسۡـَٔلُ اَیَّانَ یَوۡمُ الۡقِیٰمَةِ ﴿٦﴾ فَاِذَا بَرِقَ الۡبَصَرُ ﴿٧﴾

مخکښے حقیامت نه | تپوس کوي | چه کله به وي | ورځ | د قیامت | پس کله چه | اوبریښي | ستر ګے

مخکښے دراتلو دقیامت نه الکار اوکړي دحق نه تپوس کوي چه دقیامت ورځ به کله راځي؟ بیا کله چه ستر ګے اوبریښي

وَخَسَفَ الۡقَمَرُ ﴿٨﴾ وَجُمِعَ الشَّمۡسُ وَالۡقَمَرُ ﴿٩﴾ یَقُوۡلُ

او تندر او نیسي (توره شي) | سپوږمۍ | او جمع کړے شي | نور | او سپوږمۍ | وائي به

او سپوږمۍ تندر او نیسي (توره شي) او نور او سپوږمۍ را یو ځائے کړے شي. هغه وخت به انسان وائي

الۡاِنۡسَانُ یَوۡمَئِذٍ اَیۡنَ الۡمَفَرُّ ﴿١٠﴾ کَلَّا لَا وَزَرَ ﴿١١﴾

انسان | په دغه ورځ | (چه) چرته دے | ځائے د تیختے | چرے نه | نشته دے | هیڅ پناه (بچ کیدل)

چه اوس چرته اوتختم - نه (بیشک) هیڅ د پناه ځائے نشته

اِلٰی رَبِّکَ یَوۡمَئِذِ الۡمُسۡتَقَرُّ ﴿١٢﴾ یُنَبَّؤُا الۡاِنۡسَانُ یَوۡمَئِذٍ

ستا رب ته | په دغه ورځ | قرار دے | خبر به ورکړے شي | انسان ته | په دغه ورځ

په دغه ورځ هم ستا رب سره د خلقو تیکاڼه ده. په هغه ورځ به هر انسان ته هر هغه څه اوښودلے شي

بِمَا قَدَّمَ وَاَخَّرَ ﴿١٣﴾ بَلِ الۡاِنۡسَانُ عَلٰی نَفۡسِهٖ

دهغه څه | چه مخکښے لیږلي دي | او وروستو پریښودلي دي | بلکه | انسان | خپل ځان لره

چه هغه مخکښے لیږلي دي یا ئے وروستو پریښودلي دي. بلکه ده هر انسان اندامونه به پخپله په خپل ځان

بَصِیۡرَةٌ ﴿١٤﴾ وَّلَوۡ اَلۡقٰی مَعَاذِیۡرَهٗ ﴿١٥﴾ لَا تُحَرِّکۡ بِهٖ لِسَانَکَ

لیدونکے دے | اګرچه | پیش کړي | بهانے خپلے | ته مه خوزوه | په دے (قرآن) سره | ژبه خپله

ګواه ورکوي اګر که بهانے لټوي (اے نبی!) ته (د قرآن) د زر زر یادولو دپاره خپله ژبه

لِتَعۡجَلَ بِهٖ ﴿١٦﴾ اِنَّ عَلَیۡنَا جَمۡعَهٗ وَقُرۡاٰنَهٗ ﴿١٧﴾ فَاِذَا

چه ته تلوار کوے | په دے | بیشکه | په مونږ باندے | د دے جمع کول دي | او د دے لوستل دي | پس کله چه

مه خوزوه یقین اوکړه چه د دے جمع کول (یادول) او د دے لوستل زمونږ ذمه داري ده بیا کله چه ئے

قَرَاۡنٰهُ فَاتَّبِعۡ قُرۡاٰنَهٗ ﴿١٨﴾ ثُمَّ اِنَّ عَلَیۡنَا بَیَانَهٗ ﴿١٩﴾ کَلَّا

مونږ اولولو دا | نو ته روان شه | په لوستلو د دے پسے | بیا | بیشکه | په مونږ باندے | د دے بیانول دي | چرے نه

مونږ اولولو نو ته د هغے پیروي کوه بیا د دے وضاحت (پوهه کول) هم زمونږ کار دے خبردار!

بَلۡ تُحِبُّوۡنَ الۡعَاجِلَةَ ﴿٢٠﴾ وَتَذَرُوۡنَ الۡاٰخِرَةَ ﴿٢١﴾ وُجُوۡهٌ یَّوۡمَئِذٍ

بلکه | تاسو مینه کوئ | د دنیا سره | او پریږدئ تاسو | آخرت | (بعضے) مخونه به | په دغه ورځ

(اے کافرانو) اصل خبره داده چه تاسو د دنیا سره مینه کوئ او آخرت پریږدئ. په هغه ورځ به ډیر مخونه

نَّاضِرَةٌ ﴿۲۲﴾ اِلٰى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ﴿۲۳﴾ وَوُجُوهٌ يَّوْمَئِذٍۢ بَاسِرَةٌ ﴿۲۴﴾

تازه وی | خپل رب ته به | کتونکی وی | او (بعضی) مخونه به | په دغه ورځ | بدرنګه (خرپړ) وی

خوشحاله (تازه) وی، خپل رب ته به ګوری، او ډیر مخونه به په هغه ورځ وران (بې رونقه) وی

تَظُنُّ اَنْ يُّفْعَلَ بِهَا فَاقِرَةٌ ﴿۲۵﴾ كَلَّآ اِذَا بَلَغَتِ

ګمان به کوی | چه اوبه کړے شی | د دوی سره | ملا ماتوونکے (سختی) | چرے نه | کله چه | اورسیږی (روح)

دا ګمان به کوی چه د دوی سره به داسے سختی کیږی چه ملا به ورته ماته کړی خبردار اکله چه سا (روح)

التَّرَاقِيَ ﴿۲۶﴾ وَقِيْلَ مَنْ ۜ رَاقٍ ﴿۲۷﴾ وَّظَنَّ اَنَّهُ الْفِرَاقُ ﴿۲۸﴾

مرئ ته | او او وئیلی شی | (چه) څوک شته | دم اچوونکے | او دے به ګمان او کړی | چه دا (وخت) دے | (د) جدائی

مرئ ته اورسیږی او دا او وئیلی شی چه څوک دم اچوونکے شته؟ او انسان به پوهه شی چه دا د جدائی وخت دے

وَالْتَفَّتِ السَّاقُ بِالسَّاقِ ﴿۲۹﴾ اِلٰى رَبِّكَ يَوْمَئِذِ ۨالْمَسَاقُ ﴿۳۰﴾ ع

او یو ځائے به شی | پنډئ | د بلے پنډئ سره | ستا رب ته | په دغه ورځ | روانیدل دی

او یوه پنډئ به د بلے پنډئ سره یو ځائے شی (په کفن کښ)، په دغه ورځ به هم ستا رب طرف ته تلل وی

فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلّٰى ﴿۳۱﴾ وَلٰكِنْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى ﴿۳۲﴾ ثُمَّ

پس نه تصدیق کړے دے | او نه مونځ کړے دے | لیکن | دروغ ګڼړلے دے (حق) | او مخ ئے اړولے دے | بیا

(د دے باوجود) انسان خو نه خبره اومنله او نه ئے مونځ اوکړو لیکن حق ئے دروغ اوګڼړلو او مخ ئے واړولو

ذَهَبَ اِلٰى اَهْلِهٖ يَتَمَطّٰى ﴿۳۳﴾ اَوْلٰى لَكَ فَاَوْلٰى ﴿۳۴﴾ ثُمَّ

لاړلو | خپل کور ته | چه فخر ئے کولو | پس تباهی ده | تالره | پس تباهی ده (تالره) | بیا

بیا په تکبر سره خپل کور والو ته لاړو. بربادی ده ستا د پاره بیا بربادی ده ستا د پاره، بیا (واوره)

اَوْلٰى لَكَ فَاَوْلٰى ﴿۳۵﴾ اَيَحْسَبُ الْاِنْسَانُ اَنْ يُّتْرَكَ سُدًى ﴿۳۶﴾

هلاکت دے | تالره | پس هلاکت دے | آیا ګمان کوی | انسان | چه دے به پریخودے شی | بیکاره

بربادی ده ستا د پاره، بیا بربادی ده ستا د پاره، آیا انسان دا ګمان کوی چه دے به هم داسے بیکاره پریخودے شی

اَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِّنْ مَّنِيٍّ يُّمْنٰى ﴿۳۷﴾ ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً

آیا نه وو دے | یو څاڅکے | د | منی | چه اچولے شی په رحم کښ | بیا | دے شو | یوه ټوټه (د وینے)

(آیا) دا د منی یو څاڅکے نه وو چه (د مور رحم کښ) اچولے شوے وو؟ بیا د وینے یوه ټوټه شوه

فَخَلَقَ فَسَوّٰى ﴿۳۸﴾ فَجَعَلَ مِنْهُ الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ

بیا پیدا کړو هغه (الله) | بیا ئے برابر کړو | بیا ئے جوړے کړے | د دے نه | دوه جوړے | سړی

نو بیا الله دے جوړ کړو او اندامونه ئے ورله برابر کړل. (او سم برابر ئے کړو) بیا ئے هم د دے نه د سړی

وَالْاُنْثٰى ﴿۳۹﴾ اَلَيْسَ ذٰلِكَ بِقٰدِرٍ عَلٰٓى اَنْ يُّحْيِۦَ الْمَوْتٰى ﴿۴۰﴾ ع

او ښځه | آیا نه دے | دغه (ذات) | قدرت لرونکے | په دے | چه (بیا) ژوندی کړی | مړی

او د ښځے دوه قسمه جوړ کړل آیا هغه (الله) په دے خبره قادر نه دے چه مړی را ژوندی کړی؟

آیاتها [۳۱] | سورة الدّهر مدنيّة | رکوعاتها [۲]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

هَلْ اَتٰى عَلَى الْاِنْسَانِ حِيْنٌ مِّنَ الدَّهْرِ لَمْ يَكُنْ

یقیناً | راغلے دے | په انسان باندے | یو وخت | د زمانے نه | چه نه وو دے

یقیناً په انسان باندے دا سے وخت هم راغلے دے چه هغه څه

شَيْئًا مَّذْكُوْرًا ۝ اِنَّا خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنْ نُّطْفَةٍ

څه څیز | یاد کړے شوے | بیشکه | مونږ پیدا کړے دے | انسان | د یو ے نطفے

د ذکر (یادولو) قابل څیز نه وو. یقیناً مونږ انسان د یو ے مخلوطے نطفے نه پیدا کړو

اَمْشَاجٍ ۖ نَّبْتَلِيْهِ فَجَعَلْنٰهُ سَمِيْعًا بَصِيْرًا ۝ اِنَّا

ګډ ے وډے نه | (چه) مونږ ازمیښت او کړو په دے باندے | پس جوړ کړو مونږ دے لره | اوریدونکے | لیدونکے | بیشکه

(چه) مونږ ئے وازمایو. بیا مونږ دے دا سے جوړ کړو چه آوری هم او وینی هم. یقیناً

هَدَيْنٰهُ السَّبِيْلَ اِمَّا شَاكِرًا وَّاِمَّا كَفُوْرًا ۝ اِنَّآ اَعْتَدْنَا

مونږ ښودلے ده ده ته | لار | یا به | شکر ګذار وی | یا به | ناشکره (وی) | بیشکه | مونږ تیار کړی دی

مونږ ده ته لاره اوښودله چه یا خو شکر ګذار جوړ شی یا ناشکره. یقیناً مونږ

لِلْكٰفِرِيْنَ سَلٰسِلَا۠ وَاَغْلٰلًا وَّسَعِيْرًا ۝ اِنَّ الْاَبْرَارَ يَشْرَبُوْنَ

کافرانو دپاره | زنځیرونه | او طوقونه | او بل کړے شوے اور | بیشکه | نیکان (خلق) | څښکی به دوی

د کافرانو دپاره زنځیرونه او د غاړے طوقونه او ګرم اُور تیار کړے دے. یقیناً نیکان خلق به

مِنْ كَاْسٍ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُوْرًا ۝ عَيْنًا يَّشْرَبُ بِهَا

دا سے ډکے پیالۍ | چه وی به | ګډون د هغے | د کافورو | یوه چینه ده | چه څښکی به | د هغے نه

د دا سے شرابو ډک جامونه څښکی چه کافور به پکښې اچولی شوی (ګډ شوی) وی دا یوه چینه ده چه د هغے نه به

عِبَادُ اللّٰهِ يُفَجِّرُوْنَهَا تَفْجِيْرًا ۝ يُوْفُوْنَ بِالنَّذْرِ وَيَخَافُوْنَ

بندګان | د الله | چه دوی روانوی به هغے لره | په روانولو سره | هغوی پوره کوی | نذر (خپل) | او ویریږی

د الله (خاص) نیکان بندګان څښکی (او چه) کوم خوا ئے غواړی بهیوی به ئے دا هغه خلق دی چه خپل نذرونه پوره کوی

يَوْمًا كَانَ شَرُّهٗ مُسْتَطِيْرًا ۝٧ وَيُطْعِمُوْنَ الطَّعَامَ

د (هغه) ورځې نه | چه دے | شر د هغې | خور اُور (هر طرف ته) | او دوی ورکوی | خوراک

او د هغې ورځ نه ویریږی چه د هغې سختی به هر طرف ته خوره وی. او هغوی د الله په مینه کښې

عَلٰى حُبِّهٖ مِسْكِيْنًا وَّيَتِيْمًا وَّاَسِيْرًا ۝٨ اِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ

په مینه د هغه (الله) | مسکین ته | او یتیم ته | او قیدی ته | بیشکه | مونږ خوراک درکوو تاسو ته

مسکینانو یتیمانو او قیدیانو ته خوراک ورکوی، (او هغوی ته وائی چه) مونږ خو تاسو ته صرف

لِوَجْهِ اللّٰهِ لَا نُرِيْدُ مِنْكُمْ جَزَآءً وَّلَا شُكُوْرًا ۝٩ اِنَّا

د پاره د رضاء | د الله | نه غواړو مونږ | تاسو نه | څه بدله | او نه څه شکریه | بیشکه

د الله رضا حاصلولو د پاره خوراک درکوو مونږ تاسو نه څه بدله غواړو او نهٔ څه شکر گذاری مونږ

نَخَافُ مِنْ رَّبِّنَا يَوْمًا عَبُوْسًا قَمْطَرِيْرًا ۝١٠ فَوَقٰىهُمُ

مونږ یریږو | د خپل رب نه | په هغه ورځ | چه ډیره تریو مخې (سخته) | (او) ترخه ده | پس بچ به کړی دوی لره

د خپل رب نه د هغه ورځ په باره کښې یریږو چه ډیره سخته او ترخه به وی. نو (د دے په نتیجه کښې)

اللّٰهُ شَرَّ ذٰلِكَ الْيَوْمِ وَلَقّٰىهُمْ نَضْرَةً وَّسُرُوْرًا ۝١١

الله | د سختئ | د دغه | ورځې نه | او ورّبه کړی دوی ته | تازگی | او خوشحالی

الله به دا سے خلق د هغې ورځې د مصیبت نه بچ کړی او تازگی او خوشحالی به ورله ورکړی.

وَجَزٰىهُمْ بِمَا صَبَرُوْا جَنَّةً وَّحَرِيْرًا ۝١٢ مُّتَّكِـِٕيْنَ

او بدله به ورکړی دوی ته | په دے وجه | چه صبر کړے وو دوی | جنت | او ریښم | ډډے لگوونکی به وی

او د دوی د صبر په بدله کښې به ورله جنت او ریښم ورکړی، دوی به هلته په اوچتو تختونو باندے

فِيْهَا عَلَى الْاَرَآئِكِ ۚ لَا يَرَوْنَ فِيْهَا شَمْسًا وَّلَا زَمْهَرِيْرًا ۝١٣

په هغې کښې | په تختونو باندے | نه به وینی دوی | په هغې کښې | نوّر (گرمی) | او نه (سخته) یخنی

ډډے لگولی (ناست) وی. او نه به هلته نوّر (گرمی) وینی او نه یخنی

وَدَانِيَةً عَلَيْهِمْ ظِلٰلُهَا وَذُلِّلَتْ قُطُوْفُهَا تَذْلِيْلًا ۝١٤

او رازوړند به وی | په دوی باندے | سوری د هغې | او را کوزے کړے شوی به وی | میوے د هغې | په را کوزولو سره

او د هغې باغونو سوری به په دوی باندے (لاندے) رازوړند وی، او میوے به ئے هم راټیټې (تابع) وی

وَيُطَافُ عَلَيْهِمْ بِاٰنِيَةٍ مِّنْ فِضَّةٍ وَّاَكْوَابٍ كَانَتْ

او گرځولے به شی | په دوی باندے | لوښی | د سپینو زرو نه | او گیلاسونه (پیالے) | چه (جوړ به) وی

او په دوی باندے به د سپینو زرو لوښی او د شیشو (نه جوړ شوی) گیلاسونه (پیالے) گرځولے شی

قَوَارِيْرَا ﴿١٥﴾ قَوَارِيْرَا مِنْ فِضَّةٍ قَدَّرُوْهَا تَقْدِيْرًا ﴿١٦﴾

د شیشو نه | شیشے به (جوړے وی) | د سپینو زرو نه | چه اندازه کړے به ئے وی هغے لره | په مناسب طریقے

شیشے به هم د سپین زرو (نه جوړے) وی (چه) په اندازه باندے به ئے پیمانه کړی وی

وَيُسْقَوْنَ فِيْهَا كَاْسًا كَانَ مِزَاجُهَا زَنْجَبِيْلًا ﴿١٧﴾ عَيْنًا

او څکولے به شی په دوی باندے | په هغے کښ | د کے پیالئ | چه وی به | ګډون د هغے | د سونډو | هغه یوه چینه ده

او هلته به په هغوی باندے (دداسے شرابو) جامونه څکولی شی چه سونډ به پکښ اچولی شوی وی دا هلته یوه چینه ده

فِيْهَا تُسَمّٰى سَلْسَبِيْلًا ﴿١٨﴾ وَيَطُوْفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ

په هغے کښ | چه ولے کیږی هغے ته | سلسبیل | او ګرځی راګرځی به | په دوی باندے | هلکان

چه نوم ئے سلسبیل دی او په دوی به (دخدمت دپاره) داسے هلکان ګرځی راګرځی چه همیشه به هلکان وی

مُّخَلَّدُوْنَ ۚ اِذَا رَاَيْتَهُمْ حَسِبْتَهُمْ لُؤْلُؤًا مَّنْثُوْرًا ﴿١٩﴾

همیشه ځوانان | کله چه | او وینے ته هغوی | نو ته به خیال کوے په هغوی باندے | د ملغلرو | خورو شوو

کله چه ته هغه او وینے نو ته به دا محسوس کړے چه هغه خورے ورے ملغلرے دی

وَاِذَا رَاَيْتَ ثَمَّ رَاَيْتَ نَعِيْمًا وَّمُلْكًا كَبِيْرًا ﴿٢٠﴾ عٰلِيَهُمْ

او کله چه | او وینے ته | هغه ځائے | نو او به وینے ته | نعمت | او بادشاهی | ډیره لویه | دپاسه د دوی به وی

او (حقیقت دادے چه) ته کله هغه ځائے او وینے نو تا ته به نعمتونه او لوئی حکومت په نظر راشی د هغوی پاسنے

ثِيَابُ سُنْدُسٍ خُضْرٌ وَّاِسْتَبْرَقٌ ۫ وَّحُلُّوْٓا اَسَاوِرَ

جامے | د نرو ریښمو | شنے | او (لاندے طرف) د غټو ریښمو | او اچولے شوے به وی دوی ته | باهوګان (بنګړی)

لباس به د نرو شنو ریښمو او لاندینی لباس به د غټو ریښمو وی او د سپین زرو باهوګان به ورته اغوستلی شوے وی

مِنْ فِضَّةٍ ۚ وَسَقٰهُمْ رَبُّهُمْ شَرَابًا طَهُوْرًا ﴿٢١﴾ اِنَّ هٰذَا

د سپینو زرو نه | او څکوی به په دوی باندے | رب خپل | شراب | ډیر پاکیزه | بیشکه | دا

او خپل رب به پرے ډیر پاکیزه او یه (شراب) څکوی او (ورته به وائی چه) یقینًا دا

كَانَ لَكُمْ جَزَآءً وَّكَانَ سَعْيُكُمْ مَّشْكُوْرًا ﴿٢٢﴾ اِنَّا نَحْنُ ع

ده | ستاسو دپاره | بدله | او دے | کوشش ستاسو | قبول کړے شوے | بیشکه | مونږ

ستاسو بدله (انعام) دے او ستاسو د محنت (لن) قدر شوے دے (اے نبیؐ!) یقینًا

نَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ تَنْزِيْلًا ﴿٢٣﴾ فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ

نازل کړے دے | په تا باندے | قرآن | په نازلولو سره | پس ته صبر کوه | فیصلے | د خپل رب ته

هم مونږ په تا باندے دا قرآن لږ لږ رالیږلے دے نو (بس) ته د خپل رب حکم ته صبر کوه (کلک اوسه)

وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ اٰثِمًا اَوْ كَفُوْرًا ۝ وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ

او خبره مه منه | د دوی نه | د هیڅ ګناهګار | او د ناشکره | او یادوه | نوم | د رب خپل

او په دے خلقو کښې د ګناهګار او د ناشکره (کافر) خبره مه منه او سحر او ماښام

بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ۝ وَمِنَ الَّيْلِ فَاسْجُدْ لَهٗ وَسَبِّحْهُ لَيْلًا

سحر | او ماښام | او د شپے | سجده کوه | هغه ته | او پاکی وایه د هغه | په شپے

د خپل رب نوم یادوه. او د شپے په څۀ حصه کښې هغه ته سجده کوه او د شپے

طَوِيْلًا ۝ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ يُحِبُّوْنَ الْعَاجِلَةَ وَيَذَرُوْنَ وَرَآءَهُمْ

اوږده کښې | بیشکه | دا خلق | مینه کوی | د دنیا سره | او پریږدی | وروستو د ځان نه

د اوږد وخت پورے د هغه پاکی بیانوه یقینًا دا خلق د دنیا سره مینه کوی او خپل مخے ته یوه

يَوْمًا ثَقِيْلًا ۝ نَحْنُ خَلَقْنٰهُمْ وَشَدَدْنَآ اَسْرَهُمْ ۚ وَاِذَا

یوه ورځ | درنه | مونږ | پیدا کړی دی دوی | او مونږ مضبوط کړی دی | جوړونه د دوی | او کله چه

درنه ورځ پریږدی مونږ دوی پیدا کړی دی او د دوی جوړونو (بندونه) مو مضبوط کړی دی او مونږ چه کله

شِئْنَا بَدَّلْنَآ اَمْثَالَهُمْ تَبْدِيْلًا ۝ اِنَّ هٰذِهٖ تَذْكِرَةٌ ۚ

اوغواړو مونږ | بدل کښې به راولو | پشان د دوی | په بدلولو سره | بیشکه | دا | یو نصیحت دے

اوغواړو د دوی په ځائے به د دوی پشان نور پیدا کړو یقینًا دا یو نصیحت دے

فَمَنْ شَآءَ اتَّخَذَ اِلٰى رَبِّهٖ سَبِيْلًا ۝ وَمَا تَشَآءُوْنَ اِلَّآ

پس څوک | چه غواړی | او دے نیسی | رب خپل ته | لار | او نه غواړئ تاسو | مګر

اوس څوک چه غواړی تو خپل رب ته (د رسیدو) لار دے جوړه کړی او تاسو خو بس هغه څه غوښتلی شئ

اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۝ يُّدْخِلُ مَنْ

دا چه | اوغواړی | الله | بیشکه | الله | دے | ډیر پوهه | ډیر حکمت والا | داخلوی | هغه چا ته

چه الله ئے اوغواړی. یقینًا الله تعالٰی ډیر پوهه ډیر حکمت والا دے. هغه چه څوک

يَّشَآءُ فِيْ رَحْمَتِهٖ ؕ وَالظّٰلِمِيْنَ اَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ۝ ع

چه (وسے) غواړی | په رحمت خپل کښې | او ظالمان | تیار کړے دے هغه | د دوی د پاره | عذاب | دردناک

اوغواړی په خپل رحمت کښې ئے داخل کړی او د ظالمانو د پاره هغه (ډیر) دردناک عذاب تیار کړے دے

آیاتها [۵۰]	سورة المرسلٰت مكّيّة	ركوعاتها [۲]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

وَالْمُرْسَلٰتِ عُرْفًا ۝۱ فَالْعٰصِفٰتِ عَصْفًا ۝۲

قسم دے په هواګانو چلولے شوو | نرمو (پرله پسے) | بیا (قسم دے) په تیزو چلیدونکو هواګانو | په تیزه چلیدو سره

دهغه هواګانو قسم دے چه په نرمۍ سره (پرله پسے) چلیږی بیا (په هغه هواګانو قسم دے چه) په تیزه الوزی او په هغه

وَّالنّٰشِرٰتِ نَشْرًا ۝۳ فَالْفٰرِقٰتِ فَرْقًا ۝۴ فَالْمُلْقِيٰتِ

قسم دے په خورونکو هواګانو | په خورولو سره | بیا قسم دے په جدا کوونکو هواګانو | په جدا کولو سره | بیا قسم دے په هواګانو راغورځوونکو

هواګانو قسم دے چه وریځے خوروی بیا په هغه هواګانو قسم دے چه وریځے (دیو بل نه) جدا جدا کوی بیا په هغه هواګانو قسم دے چه

ذِكْرًا ۝۵ عُذْرًا اَوْ نُذْرًا ۝۶ اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ لَوَاقِعٌ ۝۷

باران لره | دپاره د عذر | یا دپاره د ویرولو | بیشکه هغه څه | چه وعده ئے کولے شی تاسو سره | خامخا واقع کیدونکی دی

باران را غورځوی دپاره د ختمولو د سوکرے او دپاره د ویره ور کولو (بحضوته) یقیناً هغه څیز به ضرور واقع کیږی د کوم چه تاسو سره

فَاِذَا النُّجُوْمُ طُمِسَتْ ۝۸ وَاِذَا السَّمَآءُ فُرِجَتْ ۝۹ وَاِذَا

پس کله چه | ستوری | بے نوره کړی شی | او کله چه | آسمان | او شلولے شی | او کله چه

وعده کیږی نو کله چه ستوری بے نوره کړے شی او کله چه آسمان کولاؤ کړے شی او کله چه

الْجِبَالُ نُسِفَتْ ۝۱۰ وَاِذَا الرُّسُلُ اُقِّتَتْ ۝۱۱ لِاَيِّ يَوْمٍ

غرونه | والوځولے شی | او کله چه | پیغمبرانو ته | وخت مقرر کړے شی | د کومے | ورځے دپاره

غرونه ریزه ریزه کړے شی او کله چه د پیغمبرانو د جمع کیدو وخت راشی (دا کارونه) کومے ورځے ته

اُجِّلَتْ ۝۱۲ لِيَوْمِ الْفَصْلِ ۝۱۳ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا يَوْمُ

وروستو کړے شوی وو | ورځے | د فیصلے ته | او څه پوهه کړے ئے ته | چه څه ده | ورځ

وروستو کړے شوی دی؟ د فیصلے ورځے ته. او تا ته څه پته ده چه د فیصلے ورځ څه څیز دے؟

الْفَصْلِ ۝۱۴ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۝۱۵ اَلَمْ نُهْلِكِ الْاَوَّلِيْنَ ۝۱۶

د فیصلے | تباهی ده | په دغه ورځ | دپاره د دروغ ګڼړونکو | آیا نه دی هلاک کړی مونږ | وړومبنی

په دغه ورځ د حق دروغ ګڼړونکو دپاره تباهی ده. آیا (ولے) مونږ پخوانی خلق تباه کړی نه دی؟

ثُمَّ نُتْبِعُهُمُ الْاٰخِرِيْنَ ۝١٧ كَذٰلِكَ نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِيْنَ ۝١٨

بیابه | راولو مونږ په دوی پسے | وروستنی خلق | دغه شان | کوو مونږ | د مجرمانو سره

بیا به په هغوی پسے دا وروستني هم بوځو د مجرمانو سره مونږ هم دغه شان کار کوو

وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۝١٩ اَلَمْ نَخْلُقْكُّمْ مِّنْ مَّآءٍ مَّهِيْنٍ ۝٢٠

تباهي ده | په دغه ورځ | دپاره د دروغ ګڼړونکو | آیا مونږ نه یئ پیدا کړی تاسو | د اوبو | سپکو نه

پس په دغه ورځ د حق دروغ ګڼړونکو دپاره تباهي ده، آیا (ولے) مونږ تاسو د سپکو اوبو نه پیدا کړی نه یئ؟

فَجَعَلْنٰهُ فِيْ قَرَارٍ مَّكِيْنٍ ۝٢١ اِلٰى قَدَرٍ مَّعْلُوْمٍ ۝٢٢ فَقَدَرْنَا ۝

بیا اوساتلے مونږ هغه | په یو ځائے | محفوظ کښی | تر یو اندازے | معلومے پورے | پس اندازه اولګوله مونږ

بیا مونږ هغه (اوبه) د یو مقرر وخت پورے په یو محفوظ (مضبوط) ځائے کښی کیخودے بیا مونږ اندازه مقرر کړه

فَنِعْمَ الْقٰدِرُوْنَ ۝٢٣ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۝٢٤ اَلَمْ نَجْعَلِ

نو ښه | اندازه کوونکی یو (مونږ) | تباهي ده | په دغه ورځ | دپاره د دروغ ګڼړونکو | آیا نه ده جوړه کړے مونږ

نو مونږ ډیره ښه اندازه مقرروونکی یو. پس په دغه ورځ د حق دروغ ګڼړونکو دپاره تباهي ده آیا مونږ

الْاَرْضَ كِفَاتًا ۝٢٥ اَحْيَآءً وَّاَمْوَاتًا ۝٢٦ وَّجَعَلْنَا فِيْهَا رَوَاسِيَ

زمکه | راغونډوونکے | ژوندو لره | او مړو لره | او مونږ جوړ کړی دی | په دے کښی | غرونه

زمکه راټغښتونکی جوړه کړے نه ده؟ د مړو هم او د ژوندو هم، او مونږ په هغے کښی اوچت اوچت

شٰمِخٰتٍ وَّاَسْقَيْنٰكُمْ مَّآءً فُرَاتًا ۝٢٧ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ

اوچت اوچت | او مونږ څکولی دی په تاسو باندے | اوبه | تنده ماتوونکی | تباهي ده | په دغه ورځ

غرونه پیدا کړی دی او په تاسو باندے مو خوږے اوبه څکولی دی، پس په دغه ورځ د حق دروغ ګڼړونکو

لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۝٢٨ اِنْطَلِقُوْٓا اِلٰى مَا كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ۝٢٩ اِنْطَلِقُوْٓا

دپاره د دروغ ګڼړونکو | لاړ شئ | هغه څه ته | چه تاسو به | هغه | دروغ ګڼړلو | لاړ شئ

دپاره تباهي ده، (دوی ته به اوویلے شی چه) ځئ (لاړ شئ) هغه څیز طرف ته چه تاسو به دروغ ګڼړلو لاړ شئ

اِلٰى ظِلٍّ ذِيْ ثَلٰثِ شُعَبٍ ۝٣٠ لَّا ظَلِيْلٍ وَّلَا يُغْنِيْ

سوری ته | چه دریو څانګو والا دے | (چه) نه هغه سورے ورکوونکے دے | او نه هغه بچ کول کوی

هغه سوری طرف ته چه درے څانګو والا دے چه نه پکښی یخ سورے شته او نه د اور

مِنَ اللَّهَبِ ۝٣١ اِنَّهَا تَرْمِيْ بِشَرَرٍ كَالْقَصْرِ ۝٣٢ كَاَنَّهٗ

د شعلے (ګرمئ) نه | بیشکه هغه (اور) | اوولی | انګار بڅرکی | پشان د بنګلو | لکه چه هغه دی

د تاو نه څوک بچ کوی. یقیناً هغه (اور) (به) د یو یو دنګے ماڼئ هومره لوے لوے شعلے (انګار) وولی

جِمٰلَتٌ صُفْرٌ ۝٣٣ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۝٣٤ هٰذَا يَوْمُ

اوښان | زیړ (بے مهاره) | تباهي ده | په دغه ورځ | دپاره د دروغ ګڼړونکو | دا | هغه ورځ ده

دا به په ښکاری لکه چه هغه زیړ رنګ اوښان دی پس په دغه ورځ د حق دروغ ګڼړونکو دپاره تباهي ده

لَا يَنْطِقُوْنَ ۝٣٥ وَلَا يُؤْذَنُ لَهُمْ فَيَعْتَذِرُوْنَ ۝٣٦ وَيْلٌ

چه دوی به خبرے نه کوی | او نه به اجازت ور کولے شی | دوی ته | چه عذرونه پیش کړی | تباهی ده

دا دا سے ورځ ده چه (په هغے کښی به) دا خلق خبرے نشی کولے او نه به ورته اجازت ور کولے شی چه څه عذر پیش کړی

يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۝٣٧ هٰذَا يَوْمُ الْفَصْلِ ۚ جَمَعْنٰكُمْ

په دغه ورځ | دپاره د دروغ گنړونکو | دا ده | ورځ | د فیصلے | جمع کړی ئے مونږ تاسو

پس په دغه ورځ د حق دروغ گنړونکو دپاره تباهی ده. دا د فیصلے ورځ ده مونږ تاسو

وَالْاَوَّلِيْنَ ۝٣٨ فَاِنْ كَانَ لَكُمْ كَيْدٌ فَكِيْدُوْنِ ۝٣٩ وَيْلٌ

او ورومبنی خلق | پس که چرے | وی | ستاسو دپاره | څه مکر | نو جوړ کړئ زما خلاف | تباهی ده

او پخوانی خلق راجمع کړی دی اوس که تاسو سره څه تدبیر وی نو زما خلاف ئے او کړئ. پس په دغه

يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۝٤٠ اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِىْ ظِلٰلٍ وَّعُيُوْنٍ ۝٤١

په دغه ورځ | دپاره د دروغ گنړونکو | بیشکه | متقیان به وی | په | سورو | او چینو کښی

ورځ د حق دروغ گنړونکو دپاره تباهی ده. یقیناً متقیان خلق به په سورو او په چینو کښی وی

وَّفَوَاكِهَ مِمَّا يَشْتَهُوْنَ ۝٤٢ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا هَنِيْٓـًٔا بِمَا

او په میوو (کښی) | د هغه څه نه | چه دوی به ئے غواړی | خوری | او څکئ | په خوشحالئ سره | په سبب د هغه څه

او د خپلے خوښے په میوو کښی به وی (او ورته به او ویلے شی چه) تاسو چه کوم عملونه کول د هغے په بدله کښی

كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝٤٣ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ ۝٤٤ وَيْلٌ

چه تاسو به کول | بیشکه مونږ | دغه شان | بدله ورکوو | نیکی کوونکو ته | تباهی ده

په مزه خورئ او څکئ. یقیناً مونږ نیکانو خلقو ته هم دا سے بدله ورکوو. پس په دغه

يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۝٤٥ كُلُوْا وَتَمَتَّعُوْا قَلِيْلًا اِنَّكُمْ

په دغه ورځ | دپاره د دروغ گنړونکو | خورئ | او فائده واخلئ | لږه موده | بیشکه تاسو یئ

ورځ د حق دروغ گنړونکو دپاره تباهی ده (اے کافرانو) لږ وخت (یو څو ورځے) او خورئ او مزے او کړئ یقیناً تاسو

مُّجْرِمُوْنَ ۝٤٦ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۝٤٧ وَاِذَا قِيْلَ

مجرمان | تباهی ده | په دغه ورځ | دپاره د دروغ گنړونکو | او کله چه | او ویلے شی

مجرمان یئ په دغه ورځ د حق دروغ گنړونکو دپاره تباهی ده او کله چه دوی ته او ویلے شی

لَهُمُ ارْكَعُوْا لَا يَرْكَعُوْنَ ۝٤٨ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ

دوی ته | (چه) رکوع او کړئ | نو رکوع نه کوی دوی | تباهی ده | په دغه ورځ

چه رکوع او کړئ نو دوی رکوع نه کوی پس په دغه ورځ د حق دروغ گنړونکو دپاره

لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۝٤٩ فَبِاَىِّ حَدِيْثٍۭ بَعْدَهٗ يُؤْمِنُوْنَ ۝٥٠

دپاره د دروغ گنړونکو | پس په کومه یوه | خبره به | پس د دے نه | دوی ایمان راوړی |

تباهی ده اوس د دے نه پس به دوی په کومه خبره ایمان راوړی؟

آياتها [٤٠]	سورة النبا مكيّة	ركوعاتها [٢]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډير مهربان | زيات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

عَمَّ يَتَسَآءَلُوْنَ ﴿١﴾ عَنِ النَّبَاِ الْعَظِيْمِ ﴿٢﴾ الَّذِيْ هُمْ فِيْهِ

دڅه باره کښې | دوی تپوس کوی (ديو بل نه) | د خبر | لوئے باره کښے | هغه | چه دوی | پکښې

داکافران خلق د کوم څيز باره کښې (عبث) تپوسونه کوی دهغه لوئے خبر (قيامت) په باره کښې تپوسونه کوی چه دوی پکښې

مُخْتَلِفُوْنَ ﴿٣﴾ كَلَّا سَيَعْلَمُوْنَ ﴿٤﴾ ثُمَّ كَلَّا سَيَعْلَمُوْنَ ﴿٥﴾ اَلَمْ نَجْعَلِ

اختلاف کوونکی دی | هيڅ کله نه | ډير زر به دوی پوهه شی | بيا | هيڅ کله نه | ډير زر به دوی پوهه شی | آيا مونږ نه دی جوړه کړے

اختلاف کوی هيڅ کله داسے عبث تپوسونه نه دی پکار ډير زر به دوی ته پته اولګی بيا هيڅ کله دا اختلاف نه دے پکار ډير زر به دوی ته پته اولګی

الْاَرْضَ مِهٰدًا ﴿٦﴾ وَّالْجِبَالَ اَوْتَادًا ﴿٧﴾ وَّخَلَقْنٰكُمْ اَزْوَاجًا ﴿٨﴾

زمکه | فرش (غوړيدلے) | او غرونه | ميخونه | او پيدا کړی دی مونږ تاسو | جوړے جوړے

(چه عذاب د قيامت حق دے) آيا مونږ زمکه فرش نه ده جوړه کړے او غرونه مونږ دے ميخونه کړی دی او تاسو مو (د ښځے او سړی)

وَّجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتًا ﴿٩﴾ وَّجَعَلْنَا الَّيْلَ لِبَاسًا ﴿١٠﴾ وَّجَعَلْنَا

او ګرځولے دے مونږ | خوب ستاسو | آرام | او ګرځولے ده مونږ | شپه | پرده (جامه) | او ګرځولے ده مونږ

د جوړے په شکل پيدا کړی يئ او ستاسو خوب مو د آرام ذريعه ګرځولے دے او شپه مو د پردے سبب ګرځولے دے

النَّهَارَ مَعَاشًا ﴿١١﴾ وَّبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعًا شِدَادًا ﴿١٢﴾ وَّجَعَلْنَا

ورځ | وخت د ګټے | او مونږ جوړ کړی دی | ستاسو د پاسه | اوه آسمانونه | کلک | او مونږ جوړه کړے ده

او ورځ مو د رزق د ګټلو وخت جوړ کړے دے او ستاسو د پاسه مو اوه اسمانونه جوړ کړی دی او يو پړ قيدونکے

سِرَاجًا وَّهَّاجًا ﴿١٣﴾ وَّاَنْزَلْنَا مِنَ الْمُعْصِرٰتِ مَآءً ثَجَّاجًا ﴿١٤﴾

ډيوه | پړه قيدونکے | او راوروله دی مونږه | د ډکو (درنو) وريځو نه | اوبه | رابهيدونکے

ډيوه (نمر) جوړ کړے دے او د درنو وريځو نه مو ډيرے بهيدونکے اوبه راوروله دی

لِّنُخْرِجَ بِهٖ حَبًّا وَّنَبَاتًا ﴿١٥﴾ وَّجَنّٰتٍ اَلْفَافًا ﴿١٦﴾ اِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ

چه مونږ راوباسو | په هغے سره | دانے | او بوټی | او باغونه | ډير ګڼړ | بيشکه | ورځ | د فيصلے

چه په هغے سره مونږ غله (دانه) او بوټی (ګياه) او ګوره ګوره باغونه راوزغون کړی دی نو په دے عظيم قدرتونو دالله د ليل او نيسئ چه

كَانَ مِيْقَاتًا ﴿١٧﴾ يَّوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ فَتَاْتُوْنَ اَفْوَاجًا ﴿١٨﴾

دے | يو وخت مقرر | په هغه ورځ | چه پوک به او وهلی شی | په شپيلئ کښې | نو راځئ به تاسو | ډلے ډلے

د فيصلے ورځ يو وخت مقرر دے په دغه ورځ به په شپيلئ کښې (په دويم ځل) پوکے او وهلے شی نو تاسو به ډلے ډلے راځئ

وَّفُتِحَتِ السَّمَآءُ فَكَانَتْ اَبْوَابًا ﴿۱۹﴾ وَّسُيِّرَتِ الْجِبَالُ فَكَانَتْ
اوپرانستل به شي | آسمان | نو شي به هغه | دروازے | اوروان به كړے شي | غرونه | نو شي به هغه
او آسمان به پرانستلے شي نو دروازے به پكښې جوړے شي او غرونه به روان كړے شي نو دشګو ګل په شان به بے حقيقته شي

سَرَابًا ﴿۲۰﴾ اِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَادًا ﴿۲۱﴾ لِّلطَّاغِيْنَ مَاٰبًا ﴿۲۲﴾
په شان د ځلېدونكي شګے | بيشكه | دوزخ | دے | ځائے د څوكۍ | دپاره د سركشو | ځائے د ورتلو دے
يقينًا جهنم ځائے د انتظار د كافرانو دے دا د سركشو ځائے دے

لّٰبِثِيْنَ فِيْهَآ اَحْقَابًا ﴿۲۳﴾ لَا يَذُوْقُوْنَ فِيْهَا بَرْدًا وَّلَا شَرَابًا ﴿۲۴﴾
اوسيږي به | په هغے كښې | ډيره موده | نه به څكي دوي | په هغے كښې | يخوالے | او نه د څكلو څه څيز
چه دوي به پكښې تر نامعلومه اوږدے زمانے پورے اوسيږي نه به پكښې د يخنۍ مزه څكي او نه د څكلو څيز

اِلَّا حَمِيْمًا وَّغَسَّاقًا ﴿۲۵﴾ جَزَآءً وِّفَاقًا ﴿۲۶﴾ اِنَّهُمْ كَانُوْا لَا يَرْجُوْنَ
مګر | خوټكيدونكے اوبه | او وينځے زوے | بدله | پوره پوره | بيشكه دوي | وو | چه اميد ئے نه ساتلو
سوا د ګرمو (يشېدونكے) اوبو او وينو زوونه دا پوره بدله موافق د عمل د دوي ده ځكه دوي به د آخرت د حساب عقيده

حِسَابًا ﴿۲۷﴾ وَّكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا كِذَّابًا ﴿۲۸﴾ وَكُلَّ شَيْءٍ اَحْصَيْنٰهُ
د حساب | او دروغژن ئے ګڼل | آيتونه زمونږ | په دروغژن ګڼلو سره | او هر يو | څيز | راګير كړے دے مونږ
نه لرله او زمونږ آيتونه ئے بلكل دروغژن ګڼل وو او مونږ يو يو څيز په ليكلو سره محفوظ ساتلے دے

كِتٰبًا ﴿۲۹﴾ فَذُوْقُوْا فَلَنْ نَّزِيْدَكُمْ اِلَّا عَذَابًا ﴿۳۰﴾ اِنَّ لِلْمُتَّقِيْنَ ع
په ليكلو كښے | پس او څكئ (عذاب) | پس هيڅ كله نه زياتوو مونږ تاسو له | مګر | عذاب | بيشكه | متقيانو دپاره
نو اوس مزه او څكئ مونږ تاسو له د عذاب نه علاوه نور هيڅ نه زياتوو. يقينًا د متقيانو دپاره ځائے د سيل

مَفَازًا ﴿۳۱﴾ حَدَآئِقَ وَاَعْنَابًا ﴿۳۲﴾ وَّكَوَاعِبَ اَتْرَابًا ﴿۳۳﴾ وَّكَاْسًا دِهَاقًا ﴿۳۴﴾
كاميابي ده | يعني باغونه | او انګور | او پيغلے جينكۍ | همزولے | او پيالۍ | ډكے ډكے
او كاميابۍ دے. يعني باغونه او انګور او همزولے پيغلے جينكۍ به وي او پوره ډك ډك جامونه به وي.

لَا يَسْمَعُوْنَ فِيْهَا لَغْوًا وَّلَا كِذّٰبًا ﴿۳۵﴾ جَزَآءً مِّنْ رَّبِّكَ عَطَآءً
نه به اوري دوي | په هغے كښې | عبث خبرے | او نه دروغژن كول | بدله | ستا د رب د طرف نه | وركړه
دوي به هلته څه عبث او دروغ خبرے نه اوري. دا بدله به ستا د رب د طرف نه بدله

حِسَابًا ﴿۳۶﴾ رَّبِّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا الرَّحْمٰنِ
په حساب | (چه) رب | د آسمانونو | او د زمكے (دے) | او د هغه څه | چه د دے دواړو په مينځ كښې دي | رحمٰن ذات دے
پوره پوره انعام وي چه د آسمانونو او د زمكے او په دے دواړو كښې چه څه دي د هغے ټولو رب (مالك) دے

لَا يَمْلِكُوْنَ مِنْهُ خِطَابًا ﴿۳۷﴾ يَوْمَ يَقُوْمُ الرُّوْحُ وَالْمَلٰٓئِكَةُ
دوي به اختيار نه لري | د هغه سره | د خبرو كولو | په هغه ورځ | چه او به دريږي | روح | او (نور ے) فرشتے
ډير مهربان دے څوك به د هغه په مخكښې (بلا اجازت) خبرے د قدرے هم نه شي كولے په د غه ورځ به روح الامين

صَفًّا ۚ لَّا يَتَكَلَّمُوْنَ اِلَّا مَنْ اَذِنَ لَهُ الرَّحْمٰنُ وَقَالَ

صف ترل | خبرے به نه شي کولے | مګر | هغه څوک | چه اجازت او کړي | هغه ته | رحمٰن ذات | او ووئيلے وي هغه

او نورے فرښتے قطار په قطار او دريږي هيڅ څوک به خبرے نه شي کولے البته چا ته چه رحمٰن ذات اجازت او کړي

صَوَابًا ۞ ذٰلِكَ الْيَوْمُ الْحَقُّ ۚ فَمَنْ شَآءَ اتَّخَذَ اِلٰى رَبِّهٖ مَاٰبًا ۞

حقه خبره | دا | ورځ | حقه ده | پس څوک | چه غواړي | اودے نيسي | خپل رب ته | لار د ورتلو

او هغه خبره هم سمه او کړي دا ده حقه ورځ او س چه څوک غواړي نو خپل رب سره دے ځان ته ځاے جوړ کړي

اِنَّآ اَنْذَرْنٰكُمْ عَذَابًا قَرِيْبًا ۚۖ يَّوْمَ يَنْظُرُ الْمَرْءُ مَا

بيشکه مونږ | يرولي يئ تاسو | د عذاب | نزدے له | په هغه ورځ | وينې به | هر سړے | هغه عمل

حقيقت دا دے چه مونږ تاسو د نزدے راتلونکي عذاب نه يرولي يئ. په دغه ورځ به هر سړے خپل هغه عملونو ته

قَدَّمَتْ يَدٰهُ وَيَقُوْلُ الْكٰفِرُ يٰلَيْتَنِيْ كُنْتُ تُرٰبًا ۞

چه مخکښې ليږلي دي | لاسونو د ده | او وائي به | کافر | هاے ارمان دے زما | چه وے زه | خاورے

ګوري چه ده مخکښے ليږلي دي او کافر به وائي چه کاش زه خاورے شوے وے

ع

آياتها [۴۶]	سورة النّٰزِعٰت مكّيّة	ركوعاتها [۲]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډير مهربان | زيات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم.

وَالنّٰزِعٰتِ غَرْقًا ۙ وَّالنّٰشِطٰتِ نَشْطًا ۙ وَّالسّٰبِحٰتِ

قسم دے ويستونکو فرښتو | په سختۍ سره | او قسم دے ويستونکو فرښتو | په نرمۍ سره | او قسم دے په لامبو وهونکو فرښتو

په هغه فرښتو قسم دے چه د کافرانو روحونه په سختۍ سره راکاږي او په هغه فرښتو قسم دے چه د مسلمانانو روحونه په نرمۍ سره را ايزي

سَبْحًا ۙ فَالسّٰبِقٰتِ سَبْقًا ۙ فَالْمُدَبِّرٰتِ اَمْرًا ۞

په تيزۍ سره | بيا قسم دے په مخکښې کيدونکو فرښتو | په مخکښې کيدو سره | بيا قسم دے په انتظام کوونکو فرښتو | د هغه کارونو

او په هغه فرښتو قسم دے چه په فضاء کښې لامبو وهي او بيا په تيزۍ سره د يو بل نه مخکښې کيږي بيا چه کوم حکم ورته شوے وي د هغے

يَوْمَ تَرْجُفُ الرَّاجِفَةُ ۙ تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ ۞ قُلُوْبٌ يَّوْمَئِذٍ

په هغه ورځ | چه او به خوزيږي | خوزيدونکے | زر به راشي په هغے پسے | وروستو راتلونکي | زړونه به | په دغه ورځ

د پوره کولو انتظام کوي (چه هغه ورځ به خامخا راځي چه) په هغه ورځ به هر لړزيدونکي شيز (يا زمکه) او لړزيږي ورپسے به

وَّاجِفَةٌ ۙ اَبْصَارُهَا خَاشِعَةٌ ۞ يَقُوْلُوْنَ ءَاِنَّا لَمَرْدُوْدُوْنَ

درزيږي | سترګے د دوي به | ټيټے وي | وائي به | آيا مونږ به | خامخا واپس کولے شو

يو بل جرق (زوردار اواز) راشي په دغه ورځ به ډير زړونه درزيږي (ږيږيږي) سترګے به ئے ټيټے وي کافران به وائي

فِي الْحَافِرَةِ ۝١٠ ءَاِذَا كُنَّا عِظَامًا نَّخِرَةً ۝١١ قَالُوْا تِلْكَ اِذًا

زور (ورومبۍ) حالت ته؟ | آیا کله چه | شو مونږ | هډوکی | زاړه (رژیدلی) | وائي دوی | چه دا (خو) | په دغه وخت

چه آیا مونږ به بیا راوګرځولی کیږو؟ آیا په هغه وخت کښې کله چه مونږ زاړه (رژیدلی) هډوکی شو؟ وائي چه دا خو به

كَرَّةٌ خَاسِرَةٌ ۝١٢ فَاِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَّاحِدَةٌ ۝١٣ فَاِذَا هُمْ

واپسی وی | د تاوان | پس بیشکه | دا (خو) به | چغه وی | یوه | پس دغه وخت به | دوی وی

د تاوان نه ډکه واپسی وی حقیقت دا دے چه دا به یوه زوره داره چغه وی (دویمه شپیلی) نو ناڅاپه به ټول خلق

بِالسَّاهِرَةِ ۝١٤ هَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ مُوْسٰى ۝١٥ اِذْ نَادٰىهُ رَبُّهٗ

په یوه ډاګه | آیا | راغلے دے تاته | خبر | د موسیٰ | کله چه | آواز او کړو هغه ته | رب خپل

په ډاګه او هواره زمکه (میدان محشر) ته جمع کیږی اے نبی! آیا تاته د موسیٰ خبر رارسیدلے دے؟ کله چه

بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى ۝١٦ اِذْهَبْ اِلٰى فِرْعَوْنَ اِنَّهٗ طَغٰى ۝١٧

په میدان | پاک | د طوی کښې | چه لاړ شه | فرعون ته | بیشکه هغه | سرکشي کړے ده

هغه ته خپل رب د طوی په پاک میدان کښې آواز کړے وو چه فرعون له ورشه ځکه چه هغه سرکشه شوے دے

فَقُلْ هَلْ لَّكَ اِلٰى اَنْ تَزَكّٰى ۝١٨ وَاَهْدِيَكَ اِلٰى رَبِّكَ

نو ورته او وایه | آیا شته ستا (شوق) | چه ته پاک شے | او زه او ښایم تاته لار | ستا د رب طرف ته

او ورته او وایه! چه آیا تاته د پاکیدو خواهش لرے (چه) زه در ته خپل رب ته لار او ښایم چه ته ترے نه

فَتَخْشٰى ۝١٩ فَاَرٰىهُ الْاٰيَةَ الْكُبْرٰى ۝٢٠ فَكَذَّبَ وَعَصٰى ۝٢١ ثُمَّ

چه ته او یریږے | نو ده او ښودله هغه ته | لویه | نخښه | نو هغه دروغ او ګڼړله | او نافرماني ئے او کړه | بیا ئے

اویریږے نو موسیٰ ورته لویه نخښه او ښودله خو بیا هم هغه موسیٰ دروغژن او ګڼړلو او نافرماني ئے او کړه بیا ئے

اَدْبَرَ يَسْعٰى ۝٢٢ فَحَشَرَ فَنَادٰى ۝٢٣ فَقَالَ اَنَا رَبُّكُمُ الْاَعْلٰى ۝٢٤

شا کړه | کوشش ئے او کړو | نو را جمع ئے کړل (خلق) | بیا ئے آواز او کړو | نو وئے ویل | چه زه یم | رب ستاسو | اوچت

شا کړه حق ته او تدبیر (د مقابلے) ئے شروع کړو، بیا ئے خلق را جمع کړل او اعلان ئے او کړو، چه زه ستاسو اوچت (لوئے) رب یم

فَاَخَذَهُ اللّٰهُ نَكَالَ الْاٰخِرَةِ وَالْاُوْلٰى ۝٢٥ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً

پس راونیولو هغه لره | الله | په سزا | د آخرت | او دنیا | بیشکه | په دے کښې | خامخا عبرت دے

نتیجه دا شوه چه الله تعالیٰ د دنیا او د آخرت په سزا کښې راونیولو حقیقت دا دے چه په دے واقعه کښې د هغه چا د پاره

لِّمَنْ يَّخْشٰى ۝٢٦ ءَاَنْتُمْ اَشَدُّ خَلْقًا اَمِ السَّمَآءُ بَنٰىهَا ۝٢٧

د هغه چا د پاره | چه یریږی | آیا تاسو | ډیر سخت یئ | په پیدائش کښې | که آسمان | چه جوړ کړے دے هغه

لوے عبرت دے چه د الله نه یریږی اے انسانانو! آیا ستاسو پیدائش ګران دے او که آسمان، هم هغه دا آسمان

رَفَعَ سَمْكَهَا فَسَوّٰىهَا ۝٢٨ وَاَغْطَشَ لَيْلَهَا وَاَخْرَجَ ضُحٰىهَا ۝٢٩

اوچت کړے ئے دے | چت د هغے | بیا ئے برابر کړے هغه | او تیاره کړے ئے ده | شپه د هغے | او راویستلے ئے ده | رڼا د هغے

جوړ کړے دے د هغے چت ئے اوچت کړے دے بیا ئے برابر کړے دے او د هغے شپه ئے تیاره جوړه کړے ده او ورځ ئے

وَالۡاَرۡضَ بَعۡدَ ذٰلِكَ دَحٰىهَا ؕ﴿۳۰﴾ اَخۡرَجَ مِنۡهَا مَآءَهَا

او زمکه (ئے هم) | د دے نه وروستو | غوړولے ده | راویستلے ئے دی | د دے نه | اوبه د دے

او زمکه (ئے هم) ورله روښانه کړے ده او د هغے نه پس ئے زمکه غوړولے (خوره کړے) ده. هم د دے زمکے نه ئے اوبه او ګیاګانے

وَمَرۡعٰىهَا ﴿۳۱﴾ وَالۡجِبَالَ اَرۡسٰىهَا ۙ﴿۳۲﴾ مَتَاعًا لَّكُمۡ وَلِاَنۡعَامِكُمۡ ﴿۳۳﴾

او ګیاه د دے | او غرونه ئے | او درولی دی | د پاره د فائدے | ستاسو | او د څارو و ستاسو

راویستلے دی او غرونه ئے پرے د پاسه او درولی دی. دا ټول ئے ستاسو او ستاسو د څارو و د فائدے د پاره کړی دی

فَاِذَا جَآءَتِ الطَّآمَّةُ الۡكُبۡرٰى ۖ﴿۳۴﴾ يَوۡمَ يَتَذَكَّرُ الۡاِنۡسَانُ

پس کله | چه راشی | (سیلاب) هنګامه | ډیره لویه | په هغه ورځ به | یادوی | انسان

نو کله چه هغه لویه هنګامه (آفت) راشی. (نو) په دغه ورځ به هر انسان خپل ټول کارونه (عملونه) را یادوی.

مَا سَعٰى ۙ﴿۳۵﴾ وَبُرِّزَتِ الۡجَحِيۡمُ لِمَنۡ يَّرٰى ﴿۳۶﴾ فَاَمَّا مَنۡ

هغه څه | چه څه کوشش کړی وی | او ښکاره به کړے شی | دوزخ | هغه چا د پاره | چه ویني ئے | نو چا چه

او دوزخ به کتونکو ته راښکاره کړے شی، نو چا چه سرکشی کړی وی

طَغٰى ۙ﴿۳۷﴾ وَاٰثَرَ الۡحَيٰوةَ الدُّنۡيَا ۙ﴿۳۸﴾ فَاِنَّ الۡجَحِيۡمَ هِىَ الۡمَاۡوٰى ؕ﴿۳۹﴾

سرکشی کړے څه | او غوره کړے ئے | ژوند | دنیوی | نو بیشکه | دوزخ | د هغه ځائ د اوسیدو دے

او د دنیا ژوند ئے غوره کړے وی نو دوزخ به د هغه د اوسیدو ځائے وی.

وَاَمَّا مَنۡ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ وَنَهَى النَّفۡسَ عَنِ الۡهَوٰى ۙ﴿۴۰﴾

او هغه څوک | چه یریدلی وی | د اودریدلو | د خپل رب نه | او منع کړی ئے وی | خپل نفس | د خواهش نه

او څوک چه په موقع د کتنه کښې د خپل رب مخے ته د اودریدلو (پیشو) نه یریدلے وی او خپل نفس ئے د خواهشاتو نه منع کړے وی

فَاِنَّ الۡجَنَّةَ هِىَ الۡمَاۡوٰى ؕ﴿۴۱﴾ يَسۡـَٔلُوۡنَكَ عَنِ السَّاعَةِ اَيَّانَ

نو بیشکه | جنت | د هغه د اوسیدو ځائ دے | دوی تپوس کوی ستا نه | د قیامت په باره کښې | چه کله دی

نو جنت به د هغه د اوسیدو ځائے وی اے نبی! دا خلق ستا نه د قیامت تپوس کوی چه کله به راځی؟

مُرۡسٰىهَا ؕ﴿۴۲﴾ فِيۡمَ اَنۡتَ مِنۡ ذِكۡرٰىهَا ؕ﴿۴۳﴾ اِلٰى رَبِّكَ مُنۡتَهٰىهَا ؕ﴿۴۴﴾

راتلل د هغے | څه کښې ئے | ته | د یاداشت د هغے نه | خاص ستا رب ته | د هغے (د علم) انتهاء ده

(نو) ستا دے خبرے بیانولو سره څه کار دے (چه وخت معینه د قیامت څه دے)؟ (بلکه) انتهاء د علم د قیامت خو الله ته کیږی.

اِنَّمَاۤ اَنۡتَ مُنۡذِرُ مَنۡ يَّخۡشٰىهَا ؕ﴿۴۵﴾ كَاَنَّهُمۡ يَوۡمَ

بیشکه | ته (خو) | یروونکی ئے | هغه چا | چه یریږی د هغے نه | ګویا که دوی | په کومه ورځ

(او) څوک چه د دے نه یریږی نو ته صرف هغه ته (د دلیلونو د قیامت) خبردارے ور کوونکے ئے په کومه ورځ چه دوی قیامت او وینی

يَرَوۡنَهَا لَمۡ يَلۡبَثُوۡۤا اِلَّا عَشِيَّةً اَوۡ ضُحٰىهَا ﴿۴۶﴾ ع

چه او به وینی هغه (قیامت) | چه دوی وخت نه دے تیر کړے | مګر | یو ماښام (مازیګر دے) | یا یو څاښت پښان د مازیګر

نو دا سے به ورته ښکاره شی لکه چه دوی په دنیا کښې صرف د لور د زیرے یا څاښت هومره وخت تیر کړے دے

آیاتها [٤٢]	سورة عبس مكيّة	رکوعها [١]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

عَبَسَ وَتَوَلّٰىٓ ۝١ اَنْ جَآءَهُ الْاَعْمٰى ۝٢ وَمَا يُدْرِيْكَ لَعَلَّهٗ

تندے تریو کړو هغه | او مخ ئے واړولو | د دے سوب | چه راغے هغه ته |ړوند | او ته څه خبر کړے | چه کیدے شي چه

نبیؐ خفه شو او مخ ئے واړولو (ځکه) چه یو ړوند ورته راغے او اے نبي! تا ته څه پته ده؟

يَزَّكّٰىٓ ۝٣ اَوْ يَذَّكَّرُ فَتَنْفَعَهُ الذِّكْرٰى ۝٤ اَمَّا مَنِ اسْتَغْنٰى ۝٥

پاک شي | یا نصیحت قبول کړي | نو فائده به ورکړي هغه | نصیحت | لیکن | هغه څوک چه | بے پروا کړے ئے ځان خپل

چه کیدے شي دے پاکي حاصل کړي، یا به نصیحت قبول کړي او (او) څوک چه بے پرواوي، نو ته په هغه پسے

فَاَنْتَ لَهٗ تَصَدّٰى ۝٦ وَمَا عَلَيْكَ اَلَّا يَزَّكّٰى ۝٧ وَاَمَّا مَنْ

نو ته | هغه ته | ور مخکښ کیږے | نشته | په تا باندے (ګناه) | که هغه پاک نشي | او هغه څوک

لګیدلے یے حالانکه که هغه پاکي حاصل نه کړه نو په تا باندے څه ذمه داري (الزام) نشته، او څوک چه تا له په منډه

جَآءَكَ يَسْعٰى ۝٨ وَهُوَ يَخْشٰى ۝٩ فَاَنْتَ عَنْهُ تَلَهّٰى ۝١٠ كَلَّآ

چه راغے تا ته | په منډه کښې چه منډے وهي | او هغه | یریږي | نو ته | د هغه نه | غفلت کوے | هیڅ کله نه

راغے او هغه (د الله نه) یریږي نو ته د هغه نه بے پرواشوے۔ هیڅکله دا سے نه بکار یقیناً دا خصلت د تو چه کولو ثابت کوونکي ته خیر

اِنَّهَا تَذْكِرَةٌ ۝١١ فَمَنْ شَآءَ ذَكَرَهٗ ۝١٢ فِيْ صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ ۝١٣

یقیناً دا | یو نصیحت دے | پس هر چا چه | خوښه وي | نو دا نصیحت دے یاد کړي | (دا لیکلي شوے دے) په صحیفو | عزت مندو

نصیحت دے نو اوس څوک چه غواړي نو دا دِ کړدے یاد کړي دا په داسے پاڼو کښې لیکلے شوے دے چه هغه ډیر عزتمندے دي

مَّرْفُوْعَةٍ مُّطَهَّرَةٍ ۝١٤ بِاَيْدِيْ سَفَرَةٍ ۝١٥ كِرَامٍ بَرَرَةٍ ۝١٦ قُتِلَ

اوچتو | پاکو کښې | په لاسونو | د لیکونکو کښې دي | (چه) عزتمند دي | نیکان دي | هلاک دے شي

اوچتے مرتبے والا پاکیزه دي د داسے لیکونکو فرشتو په لاسونو کښې دي چه هغوی عزتمند او نیکان دي،

الْاِنْسَانُ مَآ اَكْفَرَهٗ ۝١٧ مِنْ اَيِّ شَيْءٍ خَلَقَهٗ ۝١٨ مِنْ نُّطْفَةٍ

انسان | دے څومره غټ ناشکره دے | د کوم یو څیز نه | پیدا کړے دے الله | د نطفے نه

انسان دے تباه شي څومره غټ ناشکره دے (لږ سوچ دے اوکړي چه) د څه شي نه الله پیدا کړے دے. د نطفے ډیو څاڅکي

خَلَقَهٗ فَقَدَّرَهٗ ۝١٩ ثُمَّ السَّبِيْلَ يَسَّرَهٗ ۝٢٠ ثُمَّ اَمَاتَهٗ

پیدا کړے دے هغه | نو بیا ئے اندازه کړے دے هغه | بیا ئے | لاره | آسانه کړے ده هغه ته | بیا ئے | مړ کړے دے

نه ئے پیدا کړے دے. بیا ئے په یوه خاص اندازه جوړ کړے دے بیا ئے ورله لار هم آسانه کړه بیا ئے مړ کړو

فَاَقْبَرَهٗ ۝۲۱ ثُمَّ اِذَا شَآءَ اَنْشَرَهٗ ۝۲۲ كَلَّا لَمَّا يَقْضِ مَآ

نوقبر ته ئې ورکړے | بیا | کله چه | اوغواړي هغه | راژوندے به ئې کړي | یقیني خبرده | چه ئې نه دے پوره کړے څه | هغه څه

او قبر ته ئې ورسولو، بیا چه هغه کله اوغواړي بیا به ئې راپورته کړي یقیني خبره داده چه الله ده ته د څه حکم کړے وو

اَمَرَهٗ ۝۲۳ فَلْيَنْظُرِ الْاِنْسَانُ اِلٰى طَعَامِهٖٓ ۝۲۴ اَنَّا صَبَبْنَا الْمَآءَ

چه حکم ئې ورته کړے وو | پس او دې ګوري | انسان | خپل خوراک ته | چه بیشکه مونږ را توے کړے دي | اوبه

په هغې ئې عمل نه دے کړے نو انسان له پکار دي چه لږ خپل خوراک ته اوګوري۔ چه مونږ د برے له بنه

صَبًّا ۝۲۵ ثُمَّ شَقَقْنَا الْاَرْضَ شَقًّا ۝۲۶ فَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا حَبًّا ۝۲۷

په را توے کولو سره | بیا | چولے ده مونږ | زمکه | په چولو سره | نو زرغون کړے مونږ | په هغې کښې | دانے

ډیرے اوبه راوروله دي بیا مو زمکه په عجیبه طریقے سره شیرے کړه بیا مونږ په هغې کښې غلے

وَّعِنَبًا وَّقَضْبًا ۝۲۸ وَّزَيْتُوْنًا وَّنَخْلًا ۝۲۹ وَّحَدَآئِقَ غُلْبًا ۝۳۰ وَّفَاكِهَةً

او انګور | او سبزیانے | او خونه | او قجورے | او باغونه | ګڼړ (ګڼ) | او میوے

او انګور او ترکاري او زیتون او قجورے او ګڼ ګڼ باغونه. او میوے او ګیاګانے را زرغون کړل

وَّاَبًّا ۝۳۱ مَّتَاعًا لَّكُمْ وَلِاَنْعَامِكُمْ ۝۳۲ فَاِذَا جَآءَتِ الصَّآخَّةُ ۝۳۳

او ګیاه | د پاره د فائدے | ستاسو | او د څارووو ستاسو | پس کله چه | راشي | غوږونه کڼروونکے (سخت اواز)

او دا ټول مو ستاسو او ستاسو د څارووو د فائدے د پاره کړے دي. نو کله چه هغه غوږونه شلوونکے چغه راشي،

يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ اَخِيْهِ ۝۳۴ وَاُمِّهٖ وَاَبِيْهِ ۝۳۵ وَصَاحِبَتِهٖ

په هغه ورځ به | تختي | سرے | د ورور خپل نه | او د مور خپلے نه | او د پلار خپل نه | او د ښځے خپلے نه

په دغه ورځ به په دوي کښې هر سرے د خپل ورور نه او د خپلے مور او پلار نه، او د خپلے ښځے او بچو نه تختي

وَبَنِيْهِ ۝۳۶ لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَاْنٌ يُّغْنِيْهِ ۝۳۷

او د ځامنو خپلو نه | د هر یو | سړي به وي | د دوي نه | په دغه ورځ | یو داسے حالت | چه هغه به ئې بے پروا کوي

(ځکه چه) په دغه ورځ به په دوي کښې هر سړي سره د خپل ځان داسے فکر وي چه د نورو (د غم) نه به ئې غافله کړے وي

وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ مُّسْفِرَةٌ ۝۳۸ ضَاحِكَةٌ مُّسْتَبْشِرَةٌ ۝۳۹

بعضے مخونه به | په دغه ورځ | روښانه وي | خندیدونکي به وي | خوشحاله به وي

په دغه ورځ به بعضے مخونه روښانه وي (پر قیسږي به) خاندي به (او) خوشحاله به وي،

وَوُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ ۝۴۰ تَرْهَقُهَا قَتَرَةٌ ۝۴۱

او بعضے مخونه به | په دغه ورځ (داسے وي) | چه په هغې به | دوړه وي | پټ کړي به وي هغې لره | توروالي

او په دغه ورځ به بعضے مخونه داسے وي چه خاورے به پرے پریوتي وي (خړ به وي) توروالي به پټ کړي وي۔

اُولٰٓئِكَ هُمُ الْكَفَرَةُ الْفَجَرَةُ ۝۴۲

| هم دغه خلق | دي دوي | کافران | بدکاران (نافرمان) |

(د غم تیاره به پرے خوره شوے وي) دا به هغه خلق وي چه کافران (او) بدعمله (نافرمان) وو۔

ع

آیاتها [٢٩]	سورة التكوير مكّيّة	ركوعها [١]

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

اِذَا الشَّمۡسُ كُوِّرَتۡ ۝١ وَاِذَا النُّجُوۡمُ انۡكَدَرَتۡ ۝٢ وَاِذَا الۡجِبَالُ

کله چه | نمر | را ونغښتلے شی | او کله چه | ستوری | بے نوره شی | او کله چه | غرونه

چه کله نمر را ونغښتلے شی۔ او چه کله ستوری خړ شی (را وغورزیږی) او چه کله غرونه روان کړے شی

سُيِّرَتۡ ۝٣ وَاِذَا الۡعِشَارُ عُطِّلَتۡ ۝٤ وَاِذَا الۡوُحُوۡشُ حُشِرَتۡ ۝٥

روان کړے شی | او کله چه | دلسو میاشتو بلاربے اوښے | پریښودل شی | او کله چه | ځنګلی ځناور | راجمع کړی شی

او چه کله د لسو میاشتو بلاربے اوښے بے کاره پریښودلے شی، او چه کله ځنګلی ځناور راجمع کړے شی

وَاِذَا الۡبِحَارُ سُجِّرَتۡ ۝٦ وَاِذَا النُّفُوۡسُ زُوِّجَتۡ ۝٧ وَاِذَا

او کله چه | دریابونه | لمبه کړے شی | او کله چه | روحونه | یوځائے کړے شی (د بدنونو سره) | او کله چه

او چه کله دریابونه لمبه کړے شی او چه کله د خلقو جوړئ جوړئ جوړی کړی شی او چه کله

الۡمَوۡءٗدَةُ سُئِلَتۡ ۝٨ بِاَىِّ ذَنۡۢبٍ قُتِلَتۡ ۝٩ وَاِذَا الصُّحُفُ

ژوندئ ښخے کړے شوے | تپوس او کړے شی | چه په کومه ګناه | هغه وژلے شوے وه | او کله چه | عملنامے

ژوندئ ښخے شوے نه تپوس او کړے شی، چه هغه په کوم جرم وژلی شوے وه، او چه کله عملنامے

نُشِرَتۡ ۝١٠ وَاِذَا السَّمَآءُ كُشِطَتۡ ۝١١ وَاِذَا الۡجَحِيۡمُ سُعِّرَتۡ ۝١٢

پرانستلے شی | او کله چه | د آسمان نه | پوستکے او یستلے شی | او کله چه | دوزخ | سور کړے شی

پرانستلے شی، او چه کله د اسمان نه پوستکی ویستلی شی، او چه کله دوزخ بل (غوړنده) کړے شی او چه کله

وَاِذَا الۡجَنَّةُ اُزۡلِفَتۡ ۝١٣ عَلِمَتۡ نَفۡسٌ مَّاۤ اَحۡضَرَتۡ ۝١٤

او هر کله چه | چه جنت | را نزدے کړے شی | نو پوهه به شی | هر یو نفس | په هغه څه چه دے حاضر کړی وی

جنت را نزدے کړے شی نو (هغه وخت به) هر سړی ته پته اولګی چه څه عمل ئے د ځان سره راوړے دے۔ نو زه په هغه ستورو قسم وی

فَلَاۤ اُقۡسِمُ بِالۡخُنَّسِ ۝١٥ الۡجَوَارِ الۡكُنَّسِ ۝١٦ وَالَّيۡلِ اِذَا

پس حلف ئے کوم قسم کوم | په وروستو کیدونکو | سیده تلونکو | پټیدونکو ستورو | او په شپه | کله چه

چه شا طرف ته واپس کیدونکی دی او روان دی چه بنکاره کیږی ځائے او په تلو تلو پټیدونکی دی او زما قسم په شپه قسم وی چه کله هغه په ختیدو

عَسۡعَسَ ۝١٧ وَالصُّبۡحِ اِذَا تَنَفَّسَ ۝١٨ اِنَّهٗ لَقَوۡلُ رَسُوۡلٍ كَرِيۡمٍ ۝١٩

شا کړی | او په صبا | هر کله چه | ساه واخلی | بیشکه دا | وینا | د یو فرشتے | عزتمند دے ده

شی (تیره شی) او په صبا ئے قسم وی چه کله ساه واخلی (را وخیژی) چه یقیناً دا قرآن د یو عزتمند فرشتے را وړے شوے کلام دے

ذِیْ قُوَّةٍ عِنْدَ ذِی الْعَرْشِ مَکِیْنٍ ﴿٢٠﴾ مُّطَاعٍ ثَمَّ اَمِیْنٍ ﴿٢١﴾

چه طاقت والا ده | د عرش والا سره | او مرتبې والا ده | خبره ئې منلې کیدے شي هلته | امانتدار دے

چه هغه د قوت والا ده (او) د عرش د مالک سره ئې مرتبه ډیره اوچته ده، هلته د هغې خبره منلې کیږي (او) امانتدار ده

وَمَا صَاحِبُکُمْ بِمَجْنُوْنٍ ﴿٢٢﴾ وَلَقَدْ رَاٰهُ بِالْاُفُقِ الْمُبِیْنِ ﴿٢٣﴾

او نه دے ملګرے ستاسو | لیونے | او یقینًا | ده لیدلے ده هغه | په کناره | ښکاره و واضحه باندې

او (اے مکے والو) ستاسو سره او سیدونکے (ملګرے) څه لیونے خو نه دے. او یقینًا ده (خو) هغه د اسمان په ښکاره غاړه لیدلے ده

وَمَا هُوَ عَلَی الْغَیْبِ بِضَنِیْنٍ ﴿٢٤﴾ وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَیْطٰنٍ رَّجِیْمٍ ﴿٢٥﴾

او نه دے دے | په غیب (وحی) | بخل کوونکے | او نه ده | دا | وینا (کلام) | د شیطان | رټلی شوی

او دا نبي د غیبو په بیانولو کښې بخیل نه دے او نه دا قرآن د یو رټلی شوی شیطان کلام دے۔

فَاَیْنَ تَذْهَبُوْنَ ﴿٢٦﴾ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِکْرٌ لِّلْعٰلَمِیْنَ ﴿٢٧﴾

پس چرته | روان یئ تاسو | نه دے | دا | مګر | نصیحت د پاره | د مخلوق

نو بیا تاسو کوم خوا روان یئ دا قرآن خو د ټولے دنیا د خلقو د پاره یو نصیحت دے یعنې په تاسو کښې

لِمَنْ شَآءَ مِنْکُمْ اَنْ یَّسْتَقِیْمَ ﴿٢٨﴾ وَمَا تَشَآءُوْنَ

د هغه چا د پاره | چه غواړی | ستاسو نه | چه برابر روان شي | او نه شئ غوښتلے تاسو

د هر هغه کس د پاره چه په سمه لار تلل غواړی، او تاسو هیڅ هم نه شئ غوښتلے

اِلَّآ اَنْ یَّشَآءَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿٢٩﴾

مګر | دا چه | او غواړی | الله | چه رب | د مخلوقاتو دے |

مګر دا چه الله رب العالمین ئې او غواړی۔

ع

آیاتها [١٩]	سورة الانفطار مكيّة	ركوعها [١]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

اِذَا السَّمَآءُ انْفَطَرَتْ ﴿١﴾ وَاِذَا الْکَوَاکِبُ انْتَثَرَتْ ﴿٢﴾ وَاِذَا

کله چه | آسمان | او چوی | او کله چه | ستوری | او دوریږی | او کله چه

کله چه آسمان او چوی او چه ستوری او دوریږی او چه دریابونه د یو بل سره

الْبِحَارُ فُجِّرَتْ ﴿٣﴾ وَاِذَا الْقُبُوْرُ بُعْثِرَتْ ﴿٤﴾ عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا

دریابونه | ګډ کړے شي یو بل سره | او کله چه | قبرونه | راو سپړ دل شي | (نو) پوهه به شي | هر یو نفس | په هغه څه

په بهیدو را یو ځای شي، او چه قبرونه راولړولی شي او مړی تر ے راوچت کړے شي. نو (په دغه وخت به) هر سړی ته پته اولګی

قَدَّمَتْ وَاَخَّرَتْ ۝۵ يٰٓاَيُّهَا الْاِنْسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ

چه مخکښې ئے لېږلي دي | او وروستو ئے پرېښودلي دي | اے انسان! | ته څه څیز دهوکه کړے ئے | د خپل رب

چه هغه څه عمل مخکښې لیږلے دے او څه ئے وروستو پرېښودلے دے اے انسانه! ته د خپل هغه عزتمند رب

الْكَرِيْمِ ۝۶ الَّذِيْ خَلَقَكَ فَسَوّٰىكَ فَعَدَلَكَ ۝۷

عزتمند په باره کښې | هغه ذات | چه ته ئے پیدا کړے ئے | بیا ئے برابر کړے ئے ته | بیا ئے ښیغ قد والا کړے ئے ته

په باره کښې کوم څیز دهوکه کړې ئے، چه ته ئے پیدا کړے بیا ئے برابر کړے بیا ئے ښیغ قد والا ئے کړے

فِيْٓ اَيِّ صُوْرَةٍ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ ۝۸ كَلَّا بَلْ تُكَذِّبُوْنَ

په کوم صورت کښې | چه غوښتل هغه | جوړ کړے ئے ته | هیڅ کله دا سے نه دهٔ چکار | بلکه | تاسو دروغژن گنړئ

په کوم صورت (شکل) کښې چه ئے خوښه وه په هغے کښې ئے پیدا کړے هیچرے دا سے نه دهٔ چکار، بلکه تاسو خو دین

بِالدِّيْنِ ۝۹ وَاِنَّ عَلَيْكُمْ لَحٰفِظِيْنَ ۝۱۰ كِرَامًا كَاتِبِيْنَ ۝۱۱

قیامت لره | او بیشکه | مقرر دي په تاسو | حفاظت کوونکي فرښتے | چه عزتمند دے | لیکونکي دي

(جزاء او سزا) دروغژن گنړئ، حالانکه په تاسو باندے دا سے نګران فرښتے مقرر دي چه ډیر ے عزتمند ے لیکونکي دي

يَعْلَمُوْنَ مَا تَفْعَلُوْنَ ۝۱۲ اِنَّ الْاَبْرَارَ لَفِيْ نَعِيْمٍ ۝۱۳ وَاِنَّ

پوهیږي | په هغه څه | چه تاسو ئے کوئ | بیشکه | نیکان | خامخا وي به | په نعمتونو کښې | او بیشکه

تاسو چه څه کوئ په هغے پوهیږي. یقین او کړئ چه نیکان به په نعمتونو کښې وي او بدکار خلق به

الْفُجَّارَ لَفِيْ جَحِيْمٍ ۝۱۴ يَّصْلَوْنَهَا يَوْمَ الدِّيْنِ ۝۱۵ وَمَا هُمْ عَنْهَا

بدکاران | وي به خامخا | په دوزخ کښې | ورننوځي به هغے ته | په ورځ | د جزاء | او نه به وي دوي | د هغے نه

په دوزخ کښې وي. چه د قیامت (د جزاء) په ورځ به ورته ورننوځي. او دوي به د هغے نه

بِغَآئِبِيْنَ ۝۱۶ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا يَوْمُ الدِّيْنِ ۝۱۷ ثُمَّ مَآ اَدْرٰىكَ

پټیدونکي | او ته څه پوهه کړے ئے | چه څه ده | ورځ | د جزاء | بیا | ته څه پوهه کړے ئے

پټیدے نه شي. او تا ته څه پته ده چه د جزاء ورځ څنګه (څه څیز) ده. بیا تا ته څه پته ده

مَا يَوْمُ الدِّيْنِ ۝۱۸ يَوْمَ لَا تَمْلِكُ نَفْسٌ لِّنَفْسٍ شَيْئًا

چه څه ده | ورځ | د جزاء | هغه ورځ | چه اختیار به نه لري | هیڅ یو نفس | د بل نفس د پاره | د څه څیز

چه د جزاء ورځ څنګه ده؟ په دغه ورځ به هیڅ یو کس د بل کس د پاره د څه څیز اختیار نه لري

وَالْاَمْرُ يَوْمَئِذٍ لِّلّٰهِ ۝۱۹

او ټول اختیار به | په دغه ورځ | یوازے د الله وي

او اختیارات (حکم) به ټول یوازے (صرف) د الله وي.

آیاتها [۳۶]	سورة المطفّفین مکیّة	رکوعها [۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

وَیْلٌ لِّلْمُطَفِّفِیْنَ ۙ﴿۱﴾ الَّذِیْنَ اِذَا اکْتَالُوْا عَلَی النَّاسِ یَسْتَوْفُوْنَ ۠﴿۲﴾

تباهي ده | د کمی کوونکو دپاره | هغه کسان | چه کله | پیمانه اخلي | د خلقو نه | نو پوره ئے اخلي

په ناپ تول کښ کمی کوونکو دپاره لویه بربادي ده. چه حالت ئے دا دے چه د خلقو نه (د ځان دپاره) پیمانه ئے

وَاِذَا کَالُوْهُمْ اَوْ وَّزَنُوْهُمْ یُخْسِرُوْنَ ؕ﴿۳﴾ اَلَا یَظُنُّ اُولٰٓئِكَ

اوکله چه | پیمانه ورکوي هغوی ته | یا تول ورکوي هغوی له | نو کم (ئے) ورکوي | آیا یقین نه کوي | دغه خلق

پوره پوره اخلي او چه کله خلقو ته څه په ناپ یا تول ورکوي نو کم ئے ورکوي، آیا دا خلق دا سوچ نه کوي

اَنَّهُمْ مَّبْعُوْثُوْنَ ۙ﴿۴﴾ لِیَوْمٍ عَظِیْمٍ ۙ﴿۵﴾ یَّوْمَ یَقُوْمُ النَّاسُ

چه یقیناً دوی به | بیا را پاڅولے شي | لوئے کښ | په ورځ | په هغه ورځ | چه او به دریږي | خلق

چه دوی به په یوه لویه ورځ بیا راژوندی کیږي په هغه ورځ چه ټول خلق به

لِرَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ؕ﴿۶﴾ کَلَّآ اِنَّ کِتٰبَ الْفُجَّارِ لَفِیْ سِجِّیْنٍ ؕ﴿۷﴾

رب | د مخلوقاتو ته | هرګز نه | بیشکه | عملنامے | د بدکارو | خامخا دي | په سجین کښے

درب العالمین مخے ته ولاړ وي، هرګز دا سے نه ده پکار (واوره!) یقیناً د بدکارو خلقو عملنامے په سجین کښ دي

وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا سِجِّیْنٌ ؕ﴿۸﴾ کِتٰبٌ مَّرْقُوْمٌ ؕ﴿۹﴾ وَیْلٌ یَّوْمَئِذٍ

او ته څه پوهه کړے | چه څه شے دے | سجین | (دا) یو کتاب دے | لیکلے شوے | تباهي ده | په دغه ورځ

او تا ته څه پته ده چه سجین څه شے دے یو لیکلے شوی دفتر دے په دغه ورځ دروغژن ګڼړونکو

لِّلْمُکَذِّبِیْنَ ۙ﴿۱۰﴾ الَّذِیْنَ یُکَذِّبُوْنَ بِیَوْمِ الدِّیْنِ ؕ﴿۱۱﴾ وَمَا یُکَذِّبُ

د دروغژن ګڼړونکو دپاره | هغه کسان | چه دروغژن ګڼړي | ورځ | د جزاء له | او دروغژن نه ګڼړي

دپاره تباهي ده چه د جزاء ورځ دروغژنه ګڼړي او دغه ورځ هم هغه کس دروغژنه ګڼړي

بِهٖٓ اِلَّا کُلُّ مُعْتَدٍ اَثِیْمٍ ۙ﴿۱۲﴾ اِذَا تُتْلٰی عَلَیْهِ اٰیٰتُنَا

دے له | مګر | هر یو | د حد نه اوړیدونکے | ډیر ګناهګار | کله چه | لوستل شي | په ده باندے | آیتونه زمونږ

چه د حد نه اوړیدلی وي او ګناهګار وي۔ چه حالت ئے دا دے چه کله ده ته زمونږ آیتونه اولوستل شي

قَالَ اَسَاطِیْرُ الْاَوَّلِیْنَ ؕ﴿۱۳﴾ کَلَّا بَلْ ٚ رَانَ عَلٰی قُلُوْبِهِمْ

(نو وائي) | (دا خو) قصے دي | د وړومبنو | هیڅ چرے داسے نه ده | بلکه | زنګ راغلے دے | په زړونو د دوی

نو دے وائي چه دا خو د پخوانو خلقو قصے دي، هرګز دا سے نه ده بلکه حقیقت دا دے چه د دوی د بدو عملونو په وجه

مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿١٤﴾ كَلَّآ إِنَّهُمْ عَنْ رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ

دهغه څه | چه دوی به | کول | هیڅ کله داسې نه ده | بیشکه دوی به | د خپل رب نه | په دغه ورځ

د دوی په زړونو باندې زنګ لګیدلې دې. یقیناً دا خلق به په دغه ورځ د خپل رب د دیدار نه

لَّمَحْجُوبُونَ ﴿١٥﴾ ثُمَّ إِنَّهُمْ لَصَالُوا الْجَحِيمِ ﴿١٦﴾ ثُمَّ يُقَالُ

خامخا په پردو کښې وي | بیا | بیشکه دوی | خامخا ورننوتونکي دي | دوزخ ته | بیا | او به ویلې شي

محروم کړې شي بیا به دوی دوزخ ته داخل شي بیا به ورته (هلته) او ویلې شي چه

هٰذَا الَّذِي كُنْتُمْ بِهِ تُكَذِّبُونَ ﴿١٧﴾ كَلَّآ إِنَّ كِتٰبَ الْأَبْرَارِ

(چه) دا | هغه څه دي | چه تاسو به دې لره دروغ ګڼړل | هرګز نه | بیشکه | عملنامه | د نیکانو

دا هغه څیز دی چه تاسو به دروغژن ګڼړلو. دا هم واورئ (خبردارا) چه یقیناً د نیکانو عملنامې په

لَفِي عِلِّيِّينَ ﴿١٨﴾ وَمَآ أَدْرٰكَ مَا عِلِّيُّونَ ﴿١٩﴾ كِتٰبٌ مَّرْقُومٌ ﴿٢٠﴾

خامخا په علیین کښې ده | او ته څه پوهه کړې | چه څه څیز دې علیین | دا یو کتاب دې | لیکلې شوې

علیین کښې دي. او تا ته څه پته ده چه علیین څه څیز دې. دا (هم) یو داسې لیکلې شوې دفتر دې

يَّشْهَدُهُ الْمُقَرَّبُونَ ﴿٢١﴾ إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِي نَعِيمٍ ﴿٢٢﴾ عَلَى الْأَرَآئِكِ

چه حاضر یږي هغه ته | نژدې کړې شوې ملائک | بیشکه | نیکان | خامخا به وي | په نعمتونو کښې | (ناست به وي) په تختونو

چه مقرب فرشتې ئې ګوري یقین او کړئ چه نیکان خلق به په لویو نعمتونو کښې وي، په تختونو به ناست وي نظاره

يَنْظُرُونَ ﴿٢٣﴾ تَعْرِفُ فِي وُجُوهِهِمْ نَضْرَةَ النَّعِيمِ ﴿٢٤﴾ يُسْقَوْنَ

ګوري به | ته به پیژنې | په مخونو دهغوی کښې | تازګي | د نعمتونو | څکولې به شي په هغوی باندې

(سیلونه) به کوي، ته به دهغوی د مخونو نه د نعمتونو (د راحت) تازګي معلومه وې دا سې خالص شراب به پرې څکولې شي

مِنْ رَّحِيقٍ مَّخْتُومٍ ﴿٢٥﴾ خِتٰمُهُ مِسْكٌ وَفِي ذٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ

خالص شراب | مهر وهلې شوي | چه د هغې مهر به | مشک وي | او په دې کښې دې | رغبت (مینه) او کړي

چه مهر به پرې لګیدلې وي هغه مهر به ئې هم د مشکو وي او هم دا هغه څیز دې چه رغبت (شوق) کوونکو

الْمُتَنَافِسُونَ ﴿٢٦﴾ وَمِزَاجُهُ مِنْ تَسْنِيمٍ ﴿٢٧﴾ عَيْنًا يَّشْرَبُ بِهَا

رغبت (مینه) کوونکي | او د هغې ګډون به وي | د تسنیم د اوبو نه | (چه دا یوه) چینه ده | چه څکي به | هغې لره

لره په دې کښې رغبت (شوق) کول پکار دي د هغې شرابو سره به د تسنیم اوبه ګډولې شي چه دا یوه داسې چینه ده

الْمُقَرَّبُونَ ﴿٢٨﴾ إِنَّ الَّذِينَ أَجْرَمُوا كَانُوا مِنَ الَّذِينَ اٰمَنُوا

نژدې شوي خلق | بیشکه | هغه کسان | چه جرمونه ئې کړي دي | دوی وو | په هغه خلقو پورې | چه ایمان ئې راوړی دې

چه د الله نژدې بندګان به د هغې نه اوبه څکي، یقیناً مجرمانو خلقو به په مومنانو پورې

يَضْحَكُونَ ﴿٢٩﴾ وَإِذَا مَرُّوا بِهِمْ يَتَغَامَزُونَ ﴿٣٠﴾ وَإِذَا انْقَلَبُوا

چه خندا ئې کوله | او کله چه | تیریدل دوی | په هغوی باندې | نو سترګې به ئې وهلې | او کله به چه | واپس شول دوی

خاندل، او کله به چه د هغوی په خوا تیریدل نو یو بل ته به ئې سترګې وهلې (اشارې به ئې کولې) او چه کله به

اِلٰٓى اَهْلِهِمُ انْقَلَبُوْا فَكِهِيْنَ ﴿٣١﴾ وَاِذَا رَاَوْهُمْ قَالُوْٓا اِنَّ

خپلو کورونو ته | تو واپس کیدل به | خوشحالي کوونکي | او کله به چه | دوي اوليدل هغوي لره | نو ويل به ئے | چه بيشکه

خپلو کورونو ته واپس تلل نو هم به ئے مسلمانانو پورے توقے کولے او په دے به ئے اظهار د خوشحالۍ کوو. او کله به ئے چه هغوي

هٰٓؤُلَآءِ لَضَآلُّوْنَ ﴿٣٢﴾ وَمَآ اُرْسِلُوْا عَلَيْهِمْ حٰفِظِيْنَ ﴿٣٣﴾ فَالْيَوْمَ

دا خلق | خامخا گمراهان دي | او دوي نه وو ليږلي شوي | په هغوي باندے | حفاظت کوونکي | پس نن ورځ

اوليدل نو ويل به ئے چه هم دا خلق پوره گمراهان دي، حالانکه دوي په دے مسلمانانو باندے نگرانان نه وو مقرر کړی شوي

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنَ الْكُفَّارِ يَضْحَكُوْنَ ﴿٣٤﴾ عَلَى الْاَرَآئِكِ

هغه کسان | چه ايمان ئے راوړے وو | په کافرانو پورے به | خندا کوي | په تختونو (په ناست وي)

پس نن ورځ به مومنان په کافرانو پورے خنداگانے کوي په تختونو به ناست وي



يَنْظُرُوْنَ ﴿٣٥﴾ هَلْ ثُوِّبَ الْكُفَّارُ مَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴿٣٦﴾

گوري به | آيا | بدله ورکړے شوه | کافرانو ته | د هغه څه | چه هغوي به | کول

گوري به چه ايا کافرانو ته د هغوي د عملونو پوره پوره بدله ملاؤ شوه که نه؟ (بدله واقعي ملاو شوه)

آياتها [٢٥]	سورة الانشقاق مكيّة	ركوعها [١]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډير مهربان | زيات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم.

اِذَا السَّمَآءُ انْشَقَّتْ ﴿١﴾ وَاَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ﴿٢﴾ وَاِذَا

هر کله | چه آسمان | اوچوي (اوشليږي) | او غوږ به ئے کيخودے دے | رب خپل ته | او هم دا پرے لازم ده | او کله چه

څه وخت چه آسمان اوشليږي، او د خپل رب حکم ته غوږ کيخودے دے او دا پرے لازم هم ده (چه هم دا اوکړي) او کله چه

الْاَرْضُ مُدَّتْ ﴿٣﴾ وَاَلْقَتْ مَا فِيْهَا وَتَخَلَّتْ ﴿٤﴾ وَاَذِنَتْ

زمکه | راښکلے شي | او اوبه غورځوي | هغه څه | چه په دے کښې دي | او خالي شي | او غوږ به ئے اومني

زمکه راښکلي شي او څه چه په کښې دي هغه هر څه بهر را غورځوي او خالي به شي او د خپل رب حکم

لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ﴿٥﴾ يٰٓاَيُّهَا الْاِنْسَانُ اِنَّكَ كَادِحٌ اِلٰى رَبِّكَ

د رب خپل | او دا ورسره لائق دي | اے | انسانه! | بيشکه ته | مشقت کوونکے ئے | خپل رب ته

ته ئے غوږ ايښے دے او دا پرے لازم هم ده. (نو د هغه وخت به انسان ته حقيقت معلوم شي) اے انسانه ته د خپل رب طرف ته

كَدْحًا فَمُلٰقِيْهِ ﴿٦﴾ فَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِيَمِيْنِهٖ ﴿٧﴾

په مشقت کولو سره | نو خامخا کيدونکے ئے د هغه سره | نو هغه څوک | چه ورکړے شي هغه ته | عملنامه خپله | په ښي لاس د هغه کښے

په خپل عمل سره پوره کوشش کوے تر دے چه ته به ورسره خامخا شے يا چا ته چه خپله عملنامه په ښي لاس کښې ورکړی شي.

فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَّسِيْرًا ۙ﴿۸﴾ وَّيَنْقَلِبُ اِلٰٓى اَهْلِهٖ

نو زر ده | چه حساب به لو کړے شي ده حضره | حساب | ډیر آسان | او واپس به شي | خپل اهل ته

نو هغه سره به ډير اسان حساب کتاب او شي، او خپلو خپلوانو (کور والو) ته به خوشحاله خوشحاله ورشي

مَسْرُوْرًا ؕ﴿۹﴾ وَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ وَرَآءَ ظَهْرِهٖ ۙ﴿۱۰﴾ فَسَوْفَ

خوشحاله خوشحاله | او هغه څوک | چه ورکړے شي هغه ته | عملنامه د هغهٔ | وروستو د شا د هغهٔ نه | نو زر ده

او چا ته چه خپله عملنامه د هغه د شا د غاړے نه ورکړے شي، نو هغه به ځان له مرګ

يَدْعُوْا ثُبُوْرًا ۙ﴿۱۱﴾ وَّيَصْلٰى سَعِيْرًا ؕ﴿۱۲﴾ اِنَّهٗ كَانَ فِيْٓ اَهْلِهٖ مَسْرُوْرًا ؕ﴿۱۳﴾

چه غواړي به هغه | هلاکت | او داخل به شي | ګرم اور ته | بیشکه دے | وو | په خپل اهل کښې | خوشحاله خوشحاله

(هلاکت) غواړي او دوزخ ته به ورننوځي یقیناً دے په دنیا کښې په خپلو خپلوانو (کور والو) کښې ډیر خوشحاله او سیدو

اِنَّهٗ ظَنَّ اَنْ لَّنْ يَّحُوْرَ ۚ﴿۱۴﴾ بَلٰٓى ۚ اِنَّ رَبَّهٗ كَانَ بِهٖ

بیشکه دهٔ | ګمان کولو | چه هیڅکله به دے نه واپس کیږي (الله ته) | ولے نه؟ | بیشکه | رب د دهٔ | وو | دهٔ لره

(او) دا ئے خیال (ګمان) وو چه دے به ګنی (الله ته) واپس نه ورځي، ولے نه؟ یقیناً د ده رب (د ده کارونو) ته لیدل کتل نو

بَصِيْرًا ؕ﴿۱۵﴾ فَلَآ اُقْسِمُ بِالشَّفَقِ ۙ﴿۱۶﴾ وَالَّيْلِ وَمَا وَسَقَ ۙ﴿۱۷﴾

لیدونکے | پس حاجت نشته | زهٔ قسم کوم | د ماښام په سرخۍ | او په شپه | او په هغه شے | چه راجمع کړي دے شپے

زما دے قسم وي په شفق (د ماښام په سرخۍ) باندے او په شپه باندے او په هغه څه باندے چه شپه ئے راغونډ کړي

وَالْقَمَرِ اِذَا اتَّسَقَ ۙ﴿۱۸﴾ لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَنْ طَبَقٍ ؕ﴿۱۹﴾ فَمَا

او په سپوږمۍ | کله چه | پوره شي | (چه) خامخا تاسو به خیژئ | درجه درجه یو حالت نه د بل حالت ته | پس څه شوي دي

او په سپوږمۍ باندے چه کله پوره شي چه تاسو به خامخا د یو منزل (حالت) نه بل منزل (حالت) ته ورخیژئ

لَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۙ﴿۲۰﴾ وَاِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْاٰنُ لَا يَسْجُدُوْنَ ؕ﴿۲۱﴾

دوي لره | چه ایمان نه راوړي | او کله چه | اولوستلے شي | په دوي باندے | قرآن | سجده نه کوي

نو بیا په دے خلقو څه شوي دي چه ایمان نه راوړي او چه کله ورته قرآن اولوستلے شي نو سجده نه کوي

بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُكَذِّبُوْنَ ۠ۖ﴿۲۲﴾ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا

بلکه | هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | تکذیب کوي | او الله | ښه پوهه دے | په هغه څه

بلکه دا کافران خو حق دروغژن ګنړي او دوي چه په زړونو کښې څه خبرے پټے ساتي هغه الله ته ښے معلومے دي

يُوْعُوْنَ ۙ﴿۲۳﴾ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ۙ﴿۲۴﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ

چه خوندي ئے زړونو کښې پټوي | پس زیرے ورکړه دوي ته | د عذاب | دردناک | مګر | هغه کسان

نو ته دوي ته د دردناک عذاب زیرے واوروه، البته چا چه ایمان راوړے دے

ع اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ اَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُوْنٍ ۠﴿۲۵﴾

چه ایمان ئے راوړے دے | او عملونه ئے کړي دي | نیک | هغوي دپاره | اجر دے | نه ختمیدونکے (بے انتها)

او نیک عملونه ئے کړي دي هغوي ته به نه ختمیدونکے اجر او ثواب ملاویږي.

ركوعها [١]	سورة البروج مكية	آیاتها [٢٢]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم.

وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْبُرُوْجِ ۝١ وَالْيَوْمِ الْمَوْعُوْدِ ۝٢ وَشَاهِدٍ

قسم دے په آسمان | د غټو ستورو (برجونو) والا | او قسم دے په هغه ورځ | چه وعده ئے شوے ده | او قسم دے په گواه

زما قسم دے په هغه آسمان چه د ستورو د ښکاره کیدو ځایونه پکښې دي او په هغه ورځ چه وعده ئے شوے ده. او په هر حاضر (گواه)

وَمَشْهُوْدٍ ۝٣ قُتِلَ اَصْحٰبُ الْاُخْدُوْدِ ۝٤ النَّارِ ذَاتِ الْوَقُوْدِ ۝٥

او په هغه چا چه گواهي ورباندے اوکړے شي | هلاک کړے شول | خندقونو | والا | اور | د ډیر خشاک والا

او په هغه چا چه خلق ورته حاضر یږي چه یقیناً د خندقونو کنستونکي هلاک شول یعنې د هغه اور والا چه د ډیر خشاک نه وو کړے وو

اِذْ هُمْ عَلَيْهَا قُعُوْدٌ ۝٦ وَّهُمْ عَلٰى مَا يَفْعَلُوْنَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ

کله چه | دوی | د هغې په څواکښې | ناست وو | او دوی | په هغه څه | چه کول ئے | د مومنانو سره

کله چه دوی د هغې په غاړه ناست وو، او د مومنانو سره ئے چه څه کول د هغې نظاره ئے کوله

شُهُوْدٌ ۝٧ وَمَا نَقَمُوْا مِنْهُمْ اِلَّآ اَنْ يُّؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ الْعَزِيْزِ

پخپله گواهان وو | او دوی انتقام نه اخستلو | د هغوی نه | مگر | د دے | چه ایمان ئے راوړے وو | په (هغه) الله | چه غالب

او هغوی مومنانو ته صرف د دے خبرے سزا ورکوله چه هغوی په هغه الله ایمان راوړے وو

الْحَمِيْدِ ۝٨ الَّذِيْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۗ وَاللّٰهُ

ستائلے شوے دے | هغه ذات | چه د هغه ده | بادشاهي | د آسمانونو | او د زمکے | او الله

چه غالب او د صفتونو حقدار دے (او هغه ذات) چه د هغه په قبضه کښې د آسمانونو او د زمکے بادشاهي ده.

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ۝٩ اِنَّ الَّذِيْنَ فَتَنُوا الْمُؤْمِنِيْنَ

په هر | څیز باندے | گواه (حاضر) دے | بیشکه | هغه کسان | چه تکلیف ئے ورکړے دے | مومنانو ته

او الله تعالیٰ هر څه وینی (هر څه نه خبردار دے) یقین اوکړئ چه کومو خلقو چه مومنانو سره

وَالْمُؤْمِنٰتِ ثُمَّ لَمْ يَتُوْبُوْا فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمْ

او مومنانو ښځو ته | بیا ئے | توبه نه ده ویستلے | نو د هغوی دپاره | عذاب | د دوزخ دے | او د هغوی دپاره

او مومنانو ښځو ته تکلیف ورکړے دے او بیا ئے توبه نه ده ویستلے نو د هغوی دپاره د دوزخ عذاب دے

عَذَابُ الْحَرِيْقِ ۝١٠ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

عذاب دے | د اور سوزولو | بیشکه | هغه کسان | چه ایمان ئے راوړے دے | او عملونه ئے کړي دي | نیک

او هغوی ته په د سوزولو اور عذاب ملاویږي یقیناً چا چه ایمان راوړے دے او نیک عملونه ئے کړي دي

لَهُمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ؕ ذٰلِكَ الْفَوْزُ

دهغوی دپاره | دا سے جنتونه دی | چه بهیږی به | دلاندے دهغے نه | نهرونه | دا ده | کامیابی

دهغوی دپاره دا سے جنتونه تیار دی چه لاندے به ئے نهرونه بهیږی، هم دا ډیره لویه

الْكَبِيْرُ ۝١١ ؕ اِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيْدٌ ۝١٢ ؕ اِنَّهٗ هُوَ يُبْدِئُ

ډیره لویه | بیشکه | نیول | ستا د رب | خامخا ډیر سخت دی | بیشکه | هم هغه | اول خل پیدا کول کوی

کامیابی ده. حقیقت دا دے چه ستا د رب نیول ډیر سخت دی هم هغه په اول خل (مخلوق) پیدا کوی

وَيُعِيْدُ ۝١٣ ۚ وَهُوَ الْغَفُوْرُ الْوَدُوْدُ ۝١٤ ۙ ذُو الْعَرْشِ الْمَجِيْدُ ۝١٥

او دوباره ئے پیدا کوی | او هغه دے | ډیر بخښونکے | ډیر مینه کوونکے | مالک د عرش | لوئی شان والا دے

او هم هغه به ئے بیا پیدا کوی، او هم هغه ډیر بخښونکے مینه کوونکے دے. د عرش مالک دے لوئی شان والا دے

فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ ۝١٦ ؕ هَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ الْجُنُوْدِ ۝١٧ ۙ فِرْعَوْنَ

کوونکے دے | د هغه څه | چه غواړی ئے | آیا | راغلے دے تاته | خبر | د لښکرو | د فرعون

څه چه غواړی هغه کوی. آیا تاته د لښکرو خبر رارسیدلے دے؟ یعنی د فرعون

وَثَمُوْدَ ۝١٨ ؕ بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ تَكْذِيْبٍ ۝١٩ ۙ وَّاللّٰهُ

او د ثمود | بلکه | هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | په دروغژن گڼلو کښې (اخته) دی | او الله

او ثمود یانو د لښکرو؟ دد ے باوجود کافران د حق په دروغژن گڼلو کښې مشغول (اخته) دی حالانکه الله تعالی

ع مِنْ وَّرَآئِهِمْ مُّحِيْطٌ ۝٢٠ ۚ بَلْ هُوَ قُرْاٰنٌ مَّجِيْدٌ ۝٢١ ۙ فِيْ لَوْحٍ مَّحْفُوْظٍ ۝٢٢

د دوی د هر طرف نه | احاطه کوونکے دے | بلکه | دا | قرآن دے | لوئی شان والا | په لوح محفوظ کښې لیکلے شوے

د هر طرف نه دوی راګیر کړی دی بلکه دا خو دا سے لوئی شان والا قرآن دے چه لوح محفوظ کښې لیکلے شوے دے.

آیاتها [١٧]	سورة الطارق مكيّة	ركوعها [١]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په نوم د ذکلوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم.

وَالسَّمَآءِ وَالطَّارِقِ ۝١ ۙ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الطَّارِقُ ۝٢ ۙ النَّجْمُ

قسم دے په آسمان | او د شپے په راتلونکی | او ته څه پوهه کړے | چه څه شیز دے | د شپے راتلونکے | (هغه) ستورے دے

په اسمان او د شپے په راتلونکے باندے قسم دے، او تاته څه پته ده چه د شپے راتلونکی شیز څه دے

الثَّاقِبُ ۝٣ ۙ اِنْ كُلُّ نَفْسٍ لَّمَّا عَلَيْهَا حَافِظٌ ۝٤ ؕ فَلْيَنْظُرِ

ځلیدونکے | نشته هیڅ یو نفس | مګر | په هغه باندے مقرر دے | یو حفاظت کوونکے | پس اودے ګوری

هغه یو پر قیدونکے ستورے دے چه دا سے یو نفس نشته چه نگران (محافظ) پرے مقرر نه وی نو اوس انسان

الْاِنْسَانُ مِمَّ خُلِقَ ۝ خُلِقَ مِنْ مَّآءٍ دَافِقٍ ۝ يَّخْرُجُ

انسان | چه څه شيز نه | پيدا کړے شوے دے | پيدا کړے شوے دے | د اوبو | توپ وهونکو نه | چه راوځي هغه

دِ دا سوچ او کړي چه دے د څه شيز نه پيدا شوے دے؟ دے خو د يو داسے توپ وهونکو اوبو نه پيدا شوے دے

مِنْۢ بَيْنِ الصُّلْبِ وَالتَّرَآئِبِ ۝ اِنَّهٗ عَلٰى رَجْعِهٖ لَقَادِرٌ ۝

د مينځ | د ملا | او د سينو د هډوکي نه | بيشکه هغه | دده په واپس کولو | خامخا قادر دے

چه هغه د ملا او د سينے د هډوکي د مينځ نه راوځي يقيناً هغه (الله) دده په بيا پيدا کولو پوره قادر دے په کومه

يَوْمَ تُبْلَى السَّرَآئِرُ ۝ فَمَا لَهٗ مِنْ قُوَّةٍ وَّلَا نَاصِرٍ ۝

په ورځ | چه ښکاره به کړے شي | رازونه | نو نه به وي | دده دپاره | هيڅ طاقت | او نه څوک مددګار

ورځ به چه رازونه (ټول پټ خبرے) راښکاره شي۔ نو د دے (انسان) سره به نه څه طاقت وي او نه څوک مددګار

وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الرَّجْعِ ۝ وَالْاَرْضِ ذَاتِ الصَّدْعِ ۝ اِنَّهٗ

قسم دے په آسمان | ډک د باران نه | او قسم دے په زمکه | چاودونکے | بيشکه دا

قسم دے په هغه آسمان چه د باران نه ډک دے، او په زمکه چه چوي۔ چه يقيناً

لَقَوْلٌ فَصْلٌ ۝ وَّمَا هُوَ بِالْهَزْلِ ۝ اِنَّهُمْ يَكِيْدُوْنَ كَيْدًا ۝

خامخا يو کلام دے | فيصله کوونکے | او نۀ دے | دا | ټوقه (فضول خبره) | بيشکه دوي | چلونه کوي | چلونه

دا (قرآن) د حق او باطل په مينځ کښ يو فيصله کوونکے کلام دے او دا څه فضول خبره نه ده. يقيناً دوي هم خپل فريب او

وَّاَكِيْدُ كَيْدًا ۝ فَمَهِّلِ الْكٰفِرِيْنَ اَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًا ۝ (ع)

او زه (هم) تدبير کوم | پوره تدبير | پس مهلت ورکړه | کافرانو ته | مهلت ورکړه دوي ته | لږه موده

ګيد کښ لګيا دي، او زه هم تدبير کوم، نو اے نبي! دے کافرانو ته لږ نور مهلت ورکړه او څه موده دے په خپل حال پريږده.

آیاتها [۱۹] | سورة الاعلیٰ مكية | رکوعها [۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډير مهربان | زيات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلَى ۝ الَّذِيْ خَلَقَ فَسَوّٰى ۝

پاکي بيان وه | د نوم | د رب خپل | چه ډير لوړ او چت دے | هغه ذات | چه پيدا کړے ئے (هر څيز) | نو برابر کړے ئے دے

د خپل رب د لوړ نوم پاکي بيان وه چه مخلوق ئے پيدا کړے دے او بيا ئے برابر کړے دے او هغه ذات چه د هر

وَالَّذِيْ قَدَّرَ فَهَدٰى ۝ وَالَّذِيْٓ اَخْرَجَ الْمَرْعٰى ۝

او هغه ذات | چه اندازه ئے مقرر کړے ده | بيا ئے لار (ورته) ښودلے ده | او هغه ذات | چه راويستلے ئے ده | ګياه (بوټي)

يو څيز اندازه ئے مقرر کړے ده بيائے ورته لاره (د ژوند تيرولو) ښودلے ده، او هغه ذات چه (د زمکے نه ئے) بوټي راز راز غون کړي دي

فَجَعَلَهٗ غُثَآءً اَحْوٰى ۝٥ سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنْسٰٓى ۝٦ اِلَّا مَا شَآءَ

نو بیا ئے گرځولې دی هغه | بوس | تک تور | زر ده چه مونږ به او لولو تاته | لو تا نه به نه هېرېږی | مګر | هغه | چه او غواړی

بیا ئے هغه تک تور بوس کړی دی اے نبی! مونږ به تاته دا قرآن لولو بیا به تا نه نه هېرېږی، سوا د هغے نه چه الله

اللّٰهُ ؕ اِنَّهٗ يَعْلَمُ الْجَهْرَ وَمَا يَخْفٰى ۝٧ وَنُيَسِّرُكَ لِلْيُسْرٰى ۝٨

الله | بیشکه هغه | پوهېږی | په ښکاره | او په هغه څه | چه پټ وی | او مونږ به آسان کړو تاته | تلل په اسانه طریقه

ئے او غواړی (منسوخ کول) یقیناً هغه په ښکاره او په پټو څیزونو پوهېږی او مونږ تاته د خیر د اعمالو او د هغے د لارے توفیق در کوو

فَذَكِّرْ اِنْ نَّفَعَتِ الذِّكْرٰى ۝٩ سَيَذَّكَّرُ مَنْ يَّخْشٰى ۝١٠

پس نصیحت کوه | که چرے | فائده ور کوی | نصیحت | زر ده چه نصیحت به واخلی | هغه څوک | چه یرېږی

نو نصیحت جاری ساته څو پورے چه د نصیحت کولو د فائدے اُمید وی څوک چه د الله نه یرېږی هغه به نصیحت قبول کړی

وَيَتَجَنَّبُهَا الْاَشْقَى ۝١١ الَّذِيْ يَصْلَى النَّارَ الْكُبْرٰى ۝١٢ ثُمَّ

او ځان به ساتی د دے نه | ډیر بدبخته | هغه کس | چه ننوځی به هغه | اور | لوے ته | بیا به

او هغه غټ بدبخته (بد نصیبه) به ترے نه ځان لرے ساتی چه لوے اُور ته به داخلېږی، چه په هغے به

لَا يَمُوْتُ فِيْهَا وَلَا يَحْيٰى ۝١٣ قَدْ اَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى ۝١٤ وَذَكَرَ

نه مری | په هغے کښې | او نه به ژوندے وی | یقیناً | کامیاب شو | هغه څوک | چه ځان ئے پاک او ساتلو | او یاد ئے کړو

بیا نه مری او نه به ژغېږی یقیناً هغه کس کامیاب شو چه ځان ئے پاک کړو او د خپل رب نوم

اسْمَ رَبِّهٖ فَصَلّٰى ۝١٥ بَلْ تُؤْثِرُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ۝١٦ وَالْاٰخِرَةُ

نوم | د رب خپل | او مونځ ئے او کړو | بلکه | تاسو غوره کوئ | ژوند | دنیوی | او آخرت

ئے یاد کړو او مونځ ئے او کړو۔ لیکن تاسو (خو) د دنیا ژوند غوره کوئ حالانکه آخرت

خَيْرٌ وَّاَبْقٰى ۝١٧ اِنَّ هٰذَا لَفِي الصُّحُفِ الْاُوْلٰى ۝١٨

ډیر غوره دے | او ډیر پائیدار دے | بیشکه | دا | خامخا | په صحیفو | پخوانو کښې شته

ډیر غوره او پائیدار دے. یقیناً دا خبره (مضمون) په وړومبنو صحیفو کښې لیک دے

صُحُفِ اِبْرٰهِيْمَ وَمُوْسٰى ۝١٩ ع

په صحیفو | د ابراهیمؑ | او د موسیٰؑ کښې |

یعنی د ابراهیمؑ او د موسیٰؑ په صحیفو کښې۔

آیاتها [٢٦]	سورة الغاشية مكّيّة	ركوعها [١]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

هَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ الْغَاشِيَةِ ۝١ وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ خَاشِعَةٌ ۝٢

آيا | راغلې دې تاته | خبر | د پټوونکې عذاب | بعضې مخونه به | په دغه ورځ | ذليله وي

آيا تاته د هغې قيامت خبر را رسيدلې دې چه په ټولو به را خورشي په دغه ورځ ډير مخونه به ذليله وي

عَامِلَةٌ نَّاصِبَةٌ ۝٣ تَصْلٰى نَارًا حَامِيَةً ۝٤ تُسْقٰى مِنْ عَيْنٍ

محنت كوونكې | ستړي ستومانه به وي | داخليږي به | اور | ګرم ته | څكولې به شي په هغوي باندې (اوبه) | د چينې

سخت محنت كوونكې او ستړي به وي چه ګرم اور ته به داخليږي د خوټكيدونكې چينې اوبه به پرې

اٰنِيَةٍ ۝٥ لَيْسَ لَهُمْ طَعَامٌ اِلَّا مِنْ ضَرِيْعٍ ۝٦ لَّا يُسْمِنُ

خوټكيدونكې نه | نه به وي | د هغوي دپاره | څه خوراك | مګر | د ازغي دار بوټي نه | چه نه به ئې څربوي

څكولې شي د دوي دپاره به د ازغي دار بوټي نه بغير بل څه خوراك نه وي چه په هغې سره به نه څربيږي

وَلَا يُغْنِيْ مِنْ جُوْعٍ ۝٧ وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ نَّاعِمَةٌ ۝٨ لِّسَعْيِهَا

او نه به لرې كوي ترې | لوږه | بعضې مخونه به | په دغه ورځ | تازه وي | په خپل كوشش باندې به

او نه به ئې لوږه ختميږي په دغه ورځ به ډير مخونه تازه (خوشحاله) وي او د خپل محنت (په وجه) به

رَاضِيَةٌ ۝٩ فِيْ جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ۝١٠ لَّا تَسْمَعُ فِيْهَا لَاغِيَةً ۝١١ فِيْهَا

خوشحاله وي | او په جنت | اوچت كښې به وي | په هغې كښې | نه به اوري | فضول خبره | په هغې كښې به وي

خوشحاله (پوره مطمئن) وي په اوچت (عاليشان) جنت كښې به وي چه پكښې به هيڅ فضول خبره نه اوري

عَيْنٌ جَارِيَةٌ ۝١٢ فِيْهَا سُرُرٌ مَّرْفُوْعَةٌ ۝١٣ وَّاَكْوَابٌ مَّوْضُوْعَةٌ ۝١٤

يوه چينه | روانه (بهيدونكې) | په هغې كښې به وي | تختونه | اوچت كړې شوي | او ګلاسونه به وي | كيښودلې شوي

او په هغې كښې به يوه بهيدونكې چينه وي او پكښې به اوچت اوچت تختونه وي او په سمون ايښودلې شوي ګلاسونه به وي

وَّنَمَارِقُ مَصْفُوْفَةٌ ۝١٥ وَّزَرَابِيُّ مَبْثُوْثَةٌ ۝١٦ اَفَلَا يَنْظُرُوْنَ

او بالختونه به وي | قطار په قطار لږيدلې | او قالينونه به وي | غوړيدلې | آيا نو دوي نه ګوري

او قطار قطار تكيه ګانې به لګيدلې وي او غوړيدلې قالينونه به وي آيا دا خلق او بيا نو ته نه ګوري

اِلَى الْاِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ ۝١٧ وَاِلَى السَّمَآءِ كَيْفَ رُفِعَتْ ۝١٨

اوښ ته | چه څنګه پيدا كړې شوې دې | او آسمان ته | چه څنګه | اوچت كړې شوې دې

چه څنګه پيدا كړې شوي دي او آسمان ته (نه ګوري) چه څنګه اوچت كړې شوې دې

وَاِلَى الْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ ۝١٩ وَاِلَى الْاَرْضِ كَيْفَ سُطِحَتْ ۝٢٠

او غرونو ته | چه څنګه | او درولې شوي دي | او زمكې ته | چه څنګه | غوړولې شوې ده

او غرونو ته (نه ګوري) چه څنګه او درولې شوي دي او زمكې ته (نه ګوري) چه څنګه غوړولې شوې ده

فَذَكِّرْ اِنَّمَآ اَنْتَ مُذَكِّرٌ ۝٢١ لَسْتَ عَلَيْهِمْ بِمُصَيْطِرٍ ۝٢٢

پس ته نصيحت كوه | بيشكه | ته (خو) ئې | نصيحت كوونكې | نه ئې ته | په دوي باندې | نګران

او بس (اې نبي!) ته نصيحت كوه (څكه چه) ته خو بس نصيحت كوونكې ئې ته په دوي باندې د زور كولو دپاره نه ئې مسلط

إِلَّا مَنْ تَوَلّٰى وَكَفَرَ ﴿٢٣﴾ فَيُعَذِّبُهُ اللّٰهُ الْعَذَابَ الْاَكْبَرَ ﴿٢٤﴾

لیکن | هغه څوک | چه مخ ئې واړولو | او کفر ئې اوکړو | نو وربه کړي هغه ته | الله | عذاب | لوئې

کړے شوے خو چا چه مخ واړولو او کفر ئې اوکړو نو الله تعالیٰ به هغه ته ډیر لوے عذاب ورکړي

ع إِنَّ إِلَيْنَآ إِيَابَهُمْ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُمْ ﴿٢٦﴾

بیشکه | مونږ ته | د دوی (واپس) راتلل دي | بیا | بیشکه | په مونږ باندے | حساب د دوی دے

یقین اوکړئ چه د دوی واپس راتلل (هم) مونږ ته دي بیا یقیناً د دوی سره حساب کول زمونږ ذمه داري ده

آیاتها [٣٠]	سورة الفجر مكّيّة	ركوعها [١]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

وَالْفَجْرِ ﴿١﴾ وَلَيَالٍ عَشْرٍ ﴿٢﴾ وَّالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ ﴿٣﴾ وَالَّيْلِ إِذَا يَسْرِ ﴿٤﴾

قسم دے په سحر | او په شپو | لسو | او په جفت | او په طاق | او په شپه | کله چه | تیریږي

د صبا په وخت قسم دے او په لسو شپو (د رمضان یا د ذوالحجے) قسم دے او په جفت او په طاق (عدد د رکعاتو) قسم دے

هَلْ فِيْ ذٰلِكَ قَسَمٌ لِّذِيْ حِجْرٍ ﴿٥﴾ اَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ

آیا شته | په دے کښې | پرخه | د پاره د عقل والو | آیا ته نه گورے | چه څنګه | کار کړے وو | ستا رب

او په شپه چه کله په تیریدو شي چه یقیناً په دے مبارک اوقاتو کښې د عقلمندو د پاره پوره پرخه ده۔ آیا ته نه گورے چه ستا رب

بِعَادٍ ﴿٦﴾ إِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ ﴿٧﴾ الَّتِيْ لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا

د عاد سره | یعني د ارم سره | چه ستنو والا (لوړ قد والا) وو | هغه | چه نه دي پیدا کړے شوي | په شان د هغوي

د عاد یعني د ارم قوم سره څه اوکړل چه د ستنو غوندے د لوړ قد والا وو چه د هغوی په شان مضبوط خلق نور

فِي الْبِلَادِ ﴿٨﴾ وَثَمُوْدَ الَّذِيْنَ جَابُوا الصَّخْرَ بِالْوَادِ ﴿٩﴾ وَفِرْعَوْنَ

په ښارونو کښې | او ثمود | هغه کسان | چه تراشلي وے هغوي | ګټے | په وادئ کښې | او فرعون

په ښارونو کښې نه وو پیدا کړے شوي او د ثمود د هغه قوم سره چه په وادي قری کښې ئې د کورونو د پاره ګټے تراشلے

ذِي الْاَوْتَادِ ﴿١٠﴾ الَّذِيْنَ طَغَوْا فِي الْبِلَادِ ﴿١١﴾ فَاَكْثَرُوْا فِيْهَا

خاوند د میخونو | هغه کسان | چه سرکشي ئې کړے وه | په ښارونو کښې | نو ډیر کړے ئې وو | په هغے کښې

او د میخونو والا فرعون سره (ئې څه اوکړل)؟ دا ټول هغه خلق وو چه په ملکونو کښې ئې سرکشي شروع کړے وه

الْفَسَادَ ﴿١٢﴾ فَصَبَّ عَلَيْهِمْ رَبُّكَ سَوْطَ عَذَابٍ ﴿١٣﴾ إِنَّ رَبَّكَ

فساد | نو را اوغورزوله | په هغوی باندے | رب ستا | کوره | د عذاب | بیشکه | رب ستا

او ډیر فساد ئې پکښې خور کړے وو نو ستا رب پرے د عذاب یو کوړه را اخلاصه کړه یقیناً ستا رب دا

لَبِالْمِرْصَادِ ﴿١٤﴾ فَاَمَّا الْاِنْسَانُ اِذَا مَا ابْتَلٰىهُ رَبُّهٗ

خامخا په تاک کښې دے | پس هر چه | انسان دے | کله چه | ازمیښت لو کړی په هغه باندے | رب خپل

تول په نظر کښې ساتلی دی لیکن د انسان حال خو دا دے چه کله ئے خپل رب ازمائی

فَاَكْرَمَهٗ وَنَعَّمَهٗ ۙ فَيَقُوْلُ رَبِّيْٓ اَكْرَمَنِ ﴿١٥﴾ وَاَمَّآ اِذَا

پس عزت ورله ورکړی | او نعمت ورله ورکړی | نو دے وائی | چه زما رب | ماله عزت را کړے دے | او هر کله چه

او عزت ورله ورکړی او نعمت پرے او کړی نو دے وائی چه زما رب ماله ډیر عزت را کړے دے او کله چه ئی

مَا ابْتَلٰىهُ فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهٗ ۙ فَيَقُوْلُ رَبِّيْٓ اَهَانَنِ ﴿١٦﴾

ازمیښت لو کړی په هغه باندے | نو تنګ کړی | په ده باندے | رزق دده | نو دے وائی | چه زما رب | زه رسوا کړے یم

دا ے ازمائی چه د رزق تنګی پرے راولی نو بیا دے وائی چه زه خپل رب بے عزته (ذلیله) کړے یم

كَلَّا بَلْ لَّا تُكْرِمُوْنَ الْيَتِيْمَ ﴿١٧﴾ وَلَا تَحٰٓضُّوْنَ عَلٰى طَعَامِ

هرګزنه | بلکه | تاسو عزت نه کوئ | د یتیم | او نه تیزوئ تاسو (خلق) | په خوراک

حالانکه خبره هرګز دا سے نه ده بلکه تاسو د یتیم عزت نه کوئ او مسکین ته په خوراک ورکولو

الْمِسْكِيْنِ ﴿١٨﴾ وَتَاْكُلُوْنَ التُّرَاثَ اَكْلًا لَّمًّا ﴿١٩﴾ وَّتُحِبُّوْنَ الْمَالَ

د مسکین | او تاسو خورئ | میراث | په ډیرو خوړلو سره | او تاسو مینه کوئ | د مال سره

یو بل ته ترغیب نه ورکوئ او د میراث مال (ناحق) ټول خورئ او د مال سره د حد نه زیاته

حُبًّا جَمًّا ﴿٢٠﴾ كَلَّآ اِذَا دُكَّتِ الْاَرْضُ دَكًّا دَكًّا ﴿٢١﴾ وَّجَآءَ

مینه ډیره | هرګزنه | کله چه | هواره کړے شی | زمکه | په پوره هوارېدلو سره | او راشی

مینه کوئ هرګز دا سے نه ده پکار کله چه زمکه ریزه ریزه کړے شی او ستا رب

رَبُّكَ وَالْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا ﴿٢٢﴾ وَجِايْٓءَ يَوْمَئِذٍۭ بِجَهَنَّمَ ۙ يَوْمَئِذٍ

رب ستا | او فرشتے | قطار په قطار | او راوستلے شی | په دغه ورځ | دوزخ | په دغه ورځ به

او قطار په قطار فرشتے راشی او دوزخ به په دغه ورځ رامخامخ کړی شی نو په دغه ورځ به انسان پوهه شی

يَّتَذَكَّرُ الْاِنْسَانُ وَاَنّٰى لَهُ الذِّكْرٰى ﴿٢٣﴾ يَقُوْلُ يٰلَيْتَنِيْ

نصیحت قبلوی | انسان | او څه فائده به ورکړی دغه ته | نصیحت | وائی به | هائے ارمان زما

خو د پوهیدو موقع به چرته وی؟ وائی به کاش! چه د خپل دے ژوند د پاره مے

قَدَّمْتُ لِحَيَاتِيْ ﴿٢٤﴾ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُعَذِّبُ عَذَابَهٗٓ اَحَدٌ ﴿٢٥﴾

چه ما مخکښې لیږلے وے | د خپل ژوند د پاره | پس په دغه ورځ | عذاب به نه شی ورکولے | د هغه د عذاب په شان | هیڅ څوک

څه مخکښې رالیږلی وے بیا به په دغه ورځ د الله د عذاب په شان هیڅ څوک عذاب ورکولو والا نه وی

وَّلَا يُوْثِقُ وَثَاقَهٗٓ اَحَدٌ ﴿٢٦﴾ يٰٓاَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ﴿٢٧﴾

او نه به تړل کولے شی | د هغه د تړلو په شان | هیڅ څوک | اے نفسه | اطمینان والا

او نه به څوک د الله د تړلو په شان (مضبوط) تړل کولے شی (نیکانو خلقو ته به او وئیلے شی چه) اے نفس مطمئنه

ارْجِعِيْٓ اِلٰى رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً ﴿۲۸﴾ فَادْخُلِيْ فِيْ عِبٰدِيْ ﴿۲۹﴾

وا پس شه | خپل رب طرف ته | خوشحاله | خوښ (خپل رب ته) | پس داخل شه | زما په بندګانو کښې

واپس شه خپل رب طرف ته داسې چه ته هم خوشحاله ئې او هغه هم ستا نه خوشحاله دے او زما په نیکانو بندګانو کښې شامل شه

وَادْخُلِيْ جَنَّتِيْ ﴿۳۰﴾

او داخل شه | زما جنت ته |

او زما جنت ته داخل شه.

آیاتها [۲۰]	سورة البلد مكّيّة	ركوعها [۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم.

لَآ اُقْسِمُ بِهٰذَا الْبَلَدِ ﴿۱﴾ وَاَنْتَ حِلٌّ بِهٰذَا الْبَلَدِ ﴿۲﴾ وَوَالِدٍ

(داسې نه ده) زه قسم کوم | په دے | ښار | او ته به | داخل شې | په دے | ښار کښې | او قسم کوم په پلار

زه په دے ښار د مکې قسم کوم او تا لره به قتال حلال کړے شي په دے کښې پس هجرت نه او داخل به شې او زه قسم کوم په پلار (آدم)

وَّمَا وَلَدَ ﴿۳﴾ لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِيْ كَبَدٍ ﴿۴﴾ اَيَحْسَبُ

او په هغه چا | چه پیدا شوده | یقیناً | پیدا کړے دے مونږ | انسان | په محنت کښې | آیا دے ګمان کوی

او د هغه په اولاد چه یقیناً مونږ انسان په سختۍ (مشقت) کښې پیدا کړے دے آیا د هغه دا خیال دے چه

اَنْ لَّنْ يَّقْدِرَ عَلَيْهِ اَحَدٌ ﴿۵﴾ يَقُوْلُ اَهْلَكْتُ مَالًا لُّبَدًا ﴿۶﴾

چه هیڅ کله به قادر نه شي | په ده باندے | هیڅ څوک | دے وائي (چه) | برباد کړے دے ما | مال | ډیر

په ده باندے (کښې) د چا وس نه رسي دے پخپله وائي چه ما (خو) ډیر مال خرچ کړے (برباد کړے) دے

اَيَحْسَبُ اَنْ لَّمْ يَرَهٗٓ اَحَدٌ ﴿۷﴾ اَلَمْ نَجْعَلْ لَّهٗ عَيْنَيْنِ ﴿۸﴾

آیا دے ګمان کوی | چه | نه وینی ده لره | هیڅ څوک | آیا نه دی جوړے کړے مونږ | ده له | دوه سترګے

آیا د ده دا خیال دے (کښې) چه هیڅ چا نه دے لیدلے؟ آیا مونږ ده له دوه سترګے او یوه ژبه او دوه شونډے

وَلِسَانًا وَّشَفَتَيْنِ ﴿۹﴾ وَهَدَيْنٰهُ النَّجْدَيْنِ ﴿۱۰﴾ فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ ﴿۱۱﴾

او یوه ژبه | او دوه شونډے | او ښودلی دی مونږ ده ته | دوه لارے | پس نه دے اوړیدلے | په کنډاو (سخته لار)

نه دی ورکړی؟ او مونږ ورته دوه لارے (د خیر او شر) ښودلی دی خو دے بیا هم (د دین) په کنډاو (سخته لار) ور نغلو

وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الْعَقَبَةُ ﴿۱۲﴾ فَكُّ رَقَبَةٍ ﴿۱۳﴾ اَوْ اِطْعٰمٌ فِيْ يَوْمٍ

او ته څه پوهه کړے | چه څه شیز دے کنډاو (سخته لار) | آزادول | د سټ دی | یا خوراک ور کول دی | په ورځ

او تا ته څه پته ده چه کنډاو (سخته لار) څه شیز دے؟ (لوواوره چه دا څه یا) انسان د غلامۍ، جهل او مظلومیت نه آزادول دی

ذِىْ مَسْغَبَةٍ ۝۱۴ يَّتِيْمًا ذَا مَقْرَبَةٍ ۝۱۵ اَوْ مِسْكِيْنًا ذَا مَتْرَبَةٍ ۝۱۶ ثُمَّ

د لوږه کښې | یتیم | رشته دار ته | یا مسکین | په خاورو کښې ناست ته | بیا

یا د لوږے په ورځو کښې خوراک ورکول دی یو یتیم ته چه خپلوان وی یا یو مسکین ته چه خاورو کښې ناست وی بیا په هغه

كَانَ مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا

شی دے | د هغه کسانو نه | چه ایمان ئے راوړے دے | او نصیحت کوی یو بل ته | د صبر کولو | او نصیحت کوی یو بل ته

خلقو کښې هم شامل وی چا چه ایمان راوړے دے او یو بل ته په مشقت او تکلیف باندے د صبر کولو پخه خبره کوی او

بِالْمَرْحَمَةِ ۝۱۷ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ ۝۱۸ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا

د رحم کولو | دغه خلق | ښی طرف والا دی | او هغه خلق | چه کفر ئے کړے دے

(مخلوق خدا سره د نیکړے کولو د پاره) یو بل ته د رحم کولو پخه خبره کوی هم دا خلق خوش نصیبه دی او چا چه زمونږ د آیاتو نه

بِاٰيٰتِنَا هُمْ اَصْحٰبُ الْمَشْئَمَةِ ۝۱۹ عَلَيْهِمْ نَارٌ مُّؤْصَدَةٌ ۝۲۰

زمونږ په آیاتو | هغوی دی | گس طرف والا | وی به په هغوی باندے | اور | بند کړے شوے

انکار کړے دے هغوی ډیر بد نصیبه دی په هغوی باندے به اور د هر طرف نه چاپیره وی (را بند شوی وی)

آیاتها [۱۵]	سورة الشمس مكّيّة	ركوعها [۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

وَالشَّمْسِ وَضُحٰىهَا ۝۱ وَالْقَمَرِ اِذَا تَلٰىهَا ۝۲ وَالنَّهَارِ اِذَا

قسم دے په نور | او په رنړا د هغے | او قسم دے په سپوږمۍ | کله چه | راشی هغهٔ پسے | او قسم دے په ورځ | کله چه

په نور او د هغے په رنړا قسم دے او په سپوږمۍ (قسم دے) کله چه په نور پسی راخیژی او په ورځ قسم دے کله چه

جَلّٰىهَا ۝۳ وَالَّيْلِ اِذَا يَغْشٰىهَا ۝۴ وَالسَّمَآءِ وَمَا بَنٰىهَا ۝۵

ښکاره کړی هغهٔ لره | او قسم دے په شپه | کله چه | پټ کړی هغهٔ لره | او قسم دے په آسمان | او په هغه (ذات) | چه جوړ کړے ئے دے

نمر را ښکاره کړی او په شپه قسم دے کله چه لمر پټ کړی او په آسمان او د هغے په جوړوونکی قسم دے

وَالْاَرْضِ وَمَا طَحٰىهَا ۝۶ وَنَفْسٍ وَّمَا سَوّٰىهَا ۝۷ فَاَلْهَمَهَا

او قسم دے په زمکه | او په هغه ذات | چه خوره کړے ئے ده | او قسم دے په نفس | او په هغه ذات | چه برابر کړے ئے دے | بیا ئے ښودلی دی هغه ته

او په زمکه او د هغے په خوروونکی (خوروونکی) قسم دے او په نفس او د هغے په برابر جوړوونکی ذات قسم دے چه بیا ئے ور ته

فُجُوْرَهَا وَتَقْوٰىهَا ۝۸ قَدْ اَفْلَحَ مَنْ زَكّٰىهَا ۝۹ وَقَدْ خَابَ

نافرمانیانے د هغهٔ | او پرهیزگاری د هغهٔ | یقینًا | کامیاب شو | هغه څوک | چه پاک ئے کړو دا (نفس) | او یقینًا | نامراده شو

ښه او بد ښودلی دی یقینًا هغه څوک کامیاب شو چه خپل نفس ئے پاک کړو او یقینًا هغه څوک ناکام (برباد) شو

مَنْ دَسّٰىهَا ﴿١٠﴾ كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ بِطَغْوٰىهَآ ﴿١١﴾ اِذِ انْۢبَعَثَ

هغه څوك | چه تباه ئے كړو دا (نفس) | دروغژن ګڼړلي وو | ثمود یانو | په وجه د سر كشۍ خپلے | كله چه | راپاڅيدو

چه خپل نفس ئے ګنده كړو (په ګناهونو) ثمود قوم د خپلے سر كشۍ په وجه خپل پيغمبر دروغژن ګڼړلے وو څه وخت چه

اَشْقٰىهَا ﴿١٢﴾ فَقَالَ لَهُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ نَاقَةَ اللّٰهِ وَسُقْيٰهَا ﴿١٣﴾

بدبخته د هغوى | پس او وئيل | هغوى ته | پيغمبر | د الله | خيال اوساتئ د اوښے | د الله | او د نمبر د څكلو د هغے

د هغوى نه يو بدبخته كس (د اوښے د ذبح كولو په نيت) راپاڅيدو نو د الله رسول ورته او وئيل چه د الله د اوښے او د هغے

فَكَذَّبُوْهُ فَعَقَرُوْهَا ﴿١٤﴾ فَدَمْدَمَ عَلَيْهِمْ رَبُّهُمْ

نو هغوى دروغژن اوګڼړلو هغه | پس او وژله دوى هغه (اوښه) | نو تباهي راوستله | په دوى باندے | رب خپل

د اوبو د نمبر خيال اوساتئ نو هغوى (صالح) دروغژن اوګڼړلو او اوښه ئي او وژله نتيجه دا شوه چه د هغوى د ګناهونو په وجه الله تعالىٰ

بِذَنْۢبِهِمْ فَسَوّٰىهَا ﴿١٤﴾ وَلَا يَخَافُ عُقْبٰهَا ﴿١٥﴾ ع

په وجه د ګناهونو د دوى | بيا ئے برابر كړه هغه تباهي | او نه يريږلو الله | د انجام د دے نه |

پرے تباهي راوستله نو ټول ئي برباد كړل او الله تعالىٰ د هغوى د دے انجام هيڅ پروا اونه كړه۔

ركوعها [١]	سورة الّيل مكّيّة	آياتها [٢١]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډير مهربان | زيات رحم كوونكے دے (شروع كوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع كوم۔

وَالَّيْلِ اِذَا يَغْشٰى ﴿١﴾ وَالنَّهَارِ اِذَا تَجَلّٰى ﴿٢﴾ وَمَا خَلَقَ

قسم دے په شپه | كله چه | راخوريږي | او قسم دے په ورځ | كله چه | روښانه شي | او قسم دے په هغه ذات | چه پيدا كړي ئے دي

په شپه قسم دے كله چه راخوره شي او په ورځ قسم دے كله چه روښانه شي او په هغه ذات قسم دے چه نارينه

الذَّكَرَ وَالْاُنْثٰى ﴿٣﴾ اِنَّ سَعْيَكُمْ لَشَتّٰى ﴿٤﴾ فَاَمَّا مَنْ اَعْطٰى

نارينه | او زنانه | بيشكه | محنت ستاسو | مختلف دے | پس هغه څوك | چه مال ئے وركړو

او زنانه ئے پيدا كړي دي چه حقيقت دا دے چه ستاسو محنتونه (كوششونه) مختلف دي نو چا چه (د الله په لار كښې)

وَاتَّقٰى ﴿٥﴾ وَصَدَّقَ بِالْحُسْنٰى ﴿٦﴾ فَسَنُيَسِّرُهٗ لِلْيُسْرٰى ﴿٧﴾

او پرهيزګاره شو | او رشتيا ئے اوګڼړله | خائسته خبره | نو ډير زر به مونږ آسان كړو هغه ته | لار د آسانۍ

مال وركړو او تقوىٰ ئے اختيار كړه او د ډيرو لوئے خائسته خبرے (كلمة التوحيد) ئے رشتيا اوګڼړله نو مونږ به ورته د خائسته خصلتونو اختيارولو

وَاَمَّا مَنْۢ بَخِلَ وَاسْتَغْنٰى ﴿٨﴾ وَكَذَّبَ بِالْحُسْنٰى ﴿٩﴾ فَسَنُيَسِّرُهٗ

او هغه څوك | چه بخل ئے اوكړو | او بے پروا شو | او دروغژنه ئے اوګڼړله | خائسته خبره | نو ډير زر به مونږ آسان كړو هغه ته

توفيق وركړو او چا چه بخل اوكړو او ځان ئے (د الله نه) بے پروا كړو او د ډيرے لوئے خائسته خبرے ئے دروغژنه اوګڼړله نو مونږ به ورته

لِلْعُسْرٰى ۝١٠ وَمَا يُغْنِيْ عَنْهُ مَالُهٗٓ اِذَا تَرَدّٰى ۝١١ اِنَّ عَلَيْنَا

لار د سختۍ | او بکار به رانه شي | د ده | مال خپل | کله چه | هلاك شي | بیشکه | په مونږ باندے دي

دبدو خصلتونو لار آسانه کړو او (دا سے کس) چه کله مړ شي نو خپل مال به ورله هیڅ فائده ورنه کړي یقیني خبره دا ده

لَلْهُدٰى ۝١٢ وَاِنَّ لَنَا لَلْاٰخِرَةَ وَالْاُوْلٰى ۝١٣ فَاَنْذَرْتُكُمْ نَارًا

خامخا لاره ښودل | او بیشکه | زمونږ دپاره دي | آخرت | او دنیا | پس یره مه ږه تاسو | د هغه اور نه

چه لاره ښودل زمونږ ذمه واري ده او دا هم یقیني خبره ده چه آخرت او دنیا دواړه زمونږ په قبضه کښې دي نو زه تاسو د داسے

تَلَظّٰى ۝١٤ لَا يَصْلٰىهَآ اِلَّا الْاَشْقَى ۝١٥ الَّذِيْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى ۝١٦

چه لمبے وهي | نه به داخلیږي هغے ته | مگر | ډیر بد بخته | هغه کس چه | دروغژن یے گنړلے وو (حق) | او مخ یے اړولے وو

اور نه یروم چه لمبے وهي هغے ته به هغه لوے بد بخته ننوځي چه حق یے دروغژن گنړلے دے او د نیک عمل نه یے مخ

وَسَيُجَنَّبُهَا الْاَتْقَى ۝١٧ الَّذِيْ يُؤْتِيْ مَالَهٗ يَتَزَكّٰى ۝١٨

او زر ده چه بچ به او ساتلے شي د هغے نه | زیات پرهیزگاره | هغه کس | چه ورکوي | مال خپل | چه پاك شي

اړولے وو او هغه لوے پرهیزگار کس به تر ے لرے او ساتلے شي چه خپل مال د ځان پاکولو دپاره خرچ کوي

وَمَا لِاَحَدٍ عِنْدَهٗ مِنْ نِّعْمَةٍ تُجْزٰٓى ۝١٩ اِلَّا ابْتِغَآءَ وَجْهِ

او نشته | هیڅ یو کس لره | د ده سره | څه احسان | چه د هغے بدله ورکولے شي | مگر | لټول | د رضا

حالانکه په ده باندے د چا څه داسے احسان نه وي چه بدل یے خلاصولے شي بس صرف د خپل

رَبِّهِ الْاَعْلٰى ۝٢٠ وَلَسَوْفَ يَرْضٰى ۝٢١

د رب خپل | چه اوچت دے | او خامخا ډیر زر به | خوشحاله شي |

اوچت رب رضا یے لټوله او ډیر زر به دے د خپل رب نه راضي شي۔

آیاتها [١١] | سورة الضحٰى مكّيّة | ركوعها [١]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

وَالضُّحٰى ۝١ وَالَّيْلِ اِذَا سَجٰى ۝٢ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا

قسم دے د سلعت په وخت | او قسم دے په شپه | کله چه | پوره راخوره شي | چه نه یے پریښودلے ته | رب خپل | او نه یے درسره

(اے نبي!) د ورځ په رڼا قسم دے او په شپه قسم دے کله چه راخوره شي چه نه خو ته خپل رب پریښودلے یے

قَلٰى ۝٣ وَلَلْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْاُوْلٰى ۝٤ وَلَسَوْفَ يُعْطِيْكَ

دشمني کړے ده | او خامخا آخرت | ډیر غوره دے | ستا دپاره | د دنیا نه | او خامخا ډیر زر به | درکړي تاته

او نه درنه خفه دے (او نه یے درسره دشمني ده) / او یقیناً آخرت ستا دپاره د دنیا نه ډیر بهتر دے او یقین او کړه چه

رَبُّكَ فَتَرْضٰى ۝٥ اَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيْمًا فَاٰوٰى ۝٦

رب ستا | نو ته به خوشحاله شې | آیا نه وے موندلے هغه ته | یتیم | نو ځائے ئے درکړو

ستا رب به تا له (هغه څه) درکړي چه ته به پرے خوشحاله شې آیا الله تعالی ته یتیم پیا نه موندلے نو ځائے ئے درکړو

وَوَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدٰى ۝٧ وَوَجَدَكَ عَآىِٕلًا

او موندلے ؤ هغه ته | بے خبره | نو لار ئے اوښودله (تا ته) | او موندلے وے هغه ته | محتاج

او د شرائعو له نه ئے نا خبره پیا موندلے نو لار د شرائعو ئے درته اوښودله او محتاج ئے پیا موندلے

فَاَغْنٰى ۝٨ فَاَمَّا الْيَتِيْمَ فَلَا تَقْهَرْ ۝٩ وَاَمَّا السَّآىِٕلَ

نو بے پرواه (مالدار) ئے کړے | پس هغه څوک | چه یتیم دے | نو غصه (ورله) مه کوه | او هغه څوک | چه سوال کوونکے دے

نو مالداره ئے کړے نو (اوس ته هم) یتیم ته غصه مهٔ کوه او سوال گر (محتاج)

ع فَلَا تَنْهَرْ ۝١٠ وَاَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ۝١١

نو مه رټه (هغه) | او کوم چه | نعمت دے | ستا د رب | نو هغه بیان کړه

مهٔ رټه او د خپل رب د نعمتونو (د ښودلی شوی شرائعو) بیان کوه۔

آیاتها [٨]	سورة الانشراح مكيّة	رکوعها [١]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

اَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ ۝١ وَوَضَعْنَا عَنْكَ وِزْرَكَ ۝٢

آیا مونږ نه دے پراخستے | ستا د پاره | سینه ستا | او لرے کړے دے مونږ | ستا نه | بوج ستا

اے نبی! آیا مونږ ستا سینه (معارف ته) نه ده پراخستلے؟ او ستا مو هغه بوج هم لرے کړو چه

الَّذِيْٓ اَنْقَضَ ظَهْرَكَ ۝٣ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ۝٤

هغه چه | ماته (درنه) کړے ئے ده | ملا ستا | او اوچت کړے دے مونږ | ستا د پاره | ذکر (یاد) ستا

ستا ملا ئے ماته کړے وه (چه هغه بوج د نبوت دے) او ستا نوم (یاد) مو (په خو اخلاقو) اوچت کړے دے

فَاِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ۝٥ اِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ۝٦

پس بیشکه | د سختۍ سره | آسانتیا وی | بیشکه | د سختۍ سره | آسانتیا وی

حقیقت دا دے چه (دُنیوی) سختونه سره آسانتیا هم وی یقیناً (دینی) سختونه سره آسانتیا هم وی

ع فَاِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ ۝٧ وَاِلٰى رَبِّكَ فَارْغَبْ ۝٨

پس کله چه | فارغ شې ته | نو ځان ستړے کړه (په عبادت) | او خپل رب ته | رغبت کوه

پس نو کله چه فارغ شې ته (د دعوت نه) نو په عبادت ځان ستړے کوه او خپل رب سره زړهٔ او لگوه (خپل رب ته رغبت کوه)

آیاتها [۸] | سورة التين مكّيّة | رکوعها [۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

وَالتِّيْنِ وَالزَّيْتُوْنِ ۝۱ وَطُوْرِ سِيْنِيْنَ ۝۲ وَهٰذَا الْبَلَدِ

قسم دے په انځر | او قسم دے په خونهٔ | او قسم دے په طور سینا | او قسم دے په دے | ښار

په انځر او په زیتون قسم دے او د سینا طور (غر) قسم دے او په دے امن والا ښار

الْاَمِيْنِ ۝۳ لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِيْٓ اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ ۝۴

د امن والا | یقینا | مونږ پیدا کړے دے | انسان | په ډیر ښائسته | صورت کښې

قسم دے چه یقینا مونږ انسان په ډیر ښایسته صورت (ډهانچه) کښې پیدا کړے دے

ثُمَّ رَدَدْنٰهُ اَسْفَلَ سٰفِلِيْنَ ۝۵ اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

بیا اولس کړے مونږ دے | ډیر لاندے | د لاندنو نه | مګر | هغه خلق | چه ایمان ئے راوړے دے | او عملونه ئے کړی دی

بیا مونږ دے د ټولو نه لاندینۍ حالت (دوزخ) ته بوځو مګر خوک چه ایمان راوړی او نیک

الصّٰلِحٰتِ فَلَهُمْ اَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُوْنٍ ۝۶ فَمَا يُكَذِّبُكَ

نیک | نو د هغوی دپاره | اجر دے | نه ختمیدونکے (بې انتهاء) | پس څه شیز دے | چه دروغژن کړخوی تا ره

عملونه او کړی نو د هغوی دپاره نه ختمیدونکے اجر مقرر دے نو بیا (اے انسانه!) هغه کوم یو څیز دے چه

بَعْدُ بِالدِّيْنِ ۝۷ اَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَحْكَمِ الْحٰكِمِيْنَ ۝۸ ع

پس د دے نه | په باره د جزاء کښې | آیا نه دے | الله | پخه فیصله کوونکے | د ټولو فیصله کوونکو نه

تا د جزاء او د سزا په دروغ ګڼړلو آماده کوی آیا الله تعالیٰ د ټولو نه لوئے حاکم نه دے؟

آیاتها [۱۹] | سورة العلق مكّيّة | رکوعها [۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِيْ خَلَقَ ۝۱ خَلَقَ الْاِنْسَانَ

او لوله | په نوم | د خپل رب | هغه ذات | چه پیدائش ئے کړے دے | پیدا کړے ئے دے | انسان

(اے نبی!) د خپل هغه رب په نوم (قرآن) او لوله چه ټول مخلوق ئے پیدا کړے دے (او خاص کر) انسان ئے د وینے د یو ټوټے

مِنْ عَلَقٍ ۝٢ اِقْرَاْ وَرَبُّكَ الْاَكْرَمُ ۝٣ الَّذِىْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ۝٤

دو ټنی دیو تو ټی نه | او لوله | او ستا رب دے | ډیر عزتمند | هغه ذات | چه تعلیم ئې ور کړے دے | په قلم سره

(د چکه وینې) نه پیدا کړے دے او لوله او ستا رب ډیر لوئی زیات کرم (عزت) والا دے هغه د قلم په ذریعه تعلیم ور کړے دے

عَلَّمَ الْاِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ۝٥ كَلَّآ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَيَطْغٰىٓ ۝٦

ښودلے ئې دی | انسان ته | هغه څه | چه هغه ترې نه پوهیدو | هر گز نه! | بیشکه | بعضے انسان | خامخا سرکشي کوی

انسان ته ئې هغه څه تعلیم ور کړے دے چه مخکښې ئې نه پیژندل حقیقت دا دے چه انسان صرف د دے وجې نه کاره

اَنْ رَّاٰهُ اسْتَغْنٰى ۝٧ اِنَّ اِلٰى رَبِّكَ الرُّجْعٰى ۝٨ اَرَءَيْتَ

د دے وجه | چه ویني ځے خپل ځان | چه بے پرواه دے | بیشکه | ستا رب ته | واپسی ده | آیا تا لیدلے دے

سرکشي کوی چه خپل ځان بے حاجته (مالدار) ګنړی یقیناً ستا رب ته د ټولو ور ګرځیدل دی آیا تا هغه کس

الَّذِىْ يَنْهٰى ۝٩ عَبْدًا اِذَا صَلّٰى ۝١٠ اَرَءَيْتَ اِنْ كَانَ

هغه کس | چه منع کوی | بنده لره | کله چه | مونځ کوی هغه | آیا تا لیدلے دے | که چرے | وی هغه

لیدلے دے چه یو بنده کله مونځ کوی نو دے ئې منع کوی لږ دا خو اوو ایه چه (ګوره) که دا بنده

عَلَى الْهُدٰىٓ ۝١١ اَوْ اَمَرَ بِالتَّقْوٰى ۝١٢ اَرَءَيْتَ اِنْ كَذَّبَ

په هدایت | یا حکم کوی | د پرهیزګارئ | آیا تا لیدلی دی | که چرے | دروغژن او ګنړی دے

په هدایت وی یا د تقوٰی حکم ور کوی (نو دا منع کول ګمراهی نه ده؟) لږ دا خو اوو ایه چه (ګوره) که دا منع کوونکے حق دروغژن ګنړی

وَتَوَلّٰى ۝١٣ اَلَمْ يَعْلَمْ بِاَنَّ اللّٰهَ يَرٰى ۝١٤ كَلَّا لَئِنْ لَّمْ يَنْتَهِ ۝٥

او مخ واړوی | آیا دے نه پوهیږی | چه بیشکه | الله | ویني (ګوری) | هر ګز نه! | که چرے منع نه شی دے

او د نیک عمل نه مخ اړوی آیا ده ته پته نشته چه الله ئې وینی خبردار دے که دے منع نه شو نو

لَنَسْفَعًۢا بِالنَّاصِيَةِ ۝١٥ نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ خَاطِئَةٍ ۝١٦

نو خامخا به ئې کش مونږ دے | د تندی د ویښتو نه | تندے | دروغژن | ګناهګار |

مونږ به ئې د تندی د څڼوکی نه راکاږو هغه څڼوکے چه دروغژن او خطاکار دے

فَلْيَدْعُ نَادِيَهٗ ۝١٧ سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ ۝١٨ كَلَّا

پس را او دې غواړی دے | خپل مجلس والا | زر ده چه مونږ به راوغواړو | زبانیه (د دوزخ فرشتے) | هر ګز نه!

نو دے دِ خپل ملګری راوغواړی مونږ به هم د دوزخ فرشتے راوغواړو - ګوره

لَا تُطِعْهُ وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ ۝١٩ ۩

خبره مه منه دده | او سجده کوه | او نزدے شه الله ته |

ته د ده خبره مه منه او (الله ته) سجده کوه او (هغه ته) ځان نزدے کړه.

آیاتها [٥] **سورة القدر مكّيّة** رکوعها [١]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

اِنَّاۤ اَنْزَلْنٰهُ فِيْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ ۝١ وَمَاۤ اَدْرٰىكَ مَا

بیشکه | مونږ نازل کړے دے دا قرآن | په شپه | د قدر کښې | او ته څه پوهه کړے | چه څه ده

یقیناً مونږ دا قرآن په لیلة القدر کښې نازل کړے دے او تا ته څه پته ده چه لیلة القدر څو مره

لَيْلَةُ الْقَدْرِ ۝٢ لَيْلَةُ الْقَدْرِ ۙ خَيْرٌ مِّنْ اَلْفِ شَهْرٍ ۝٣ تَنَزَّلُ

شپه | د قدر | شپه | د قدر | ډیره غوره ده | د | زرو | میاشتو نه | را کوزیږی

(او چته شپه ده)؟ لیلة القدر د زرو میاشتو نه هم ډیره غوره ده په دغه شپه

الْمَلٰٓئِكَةُ وَالرُّوْحُ فِيْهَا بِاِذْنِ رَبِّهِمْ ۚ مِنْ كُلِّ

فرشتے | او روح | په دے کښې | په حکم | د خپل رب | د هر

فرشتے او روح الامین د خپل رب په حکم د هر خیر والا کار د پاره را کوزیږی او څوک چه

اَمْرٍ ۝٤ سَلٰمٌ ۛ هِيَ حَتّٰى مَطْلَعِ الْفَجْرِ ۝٥ ع

کار په باره کښې | سلامتي ده | دا | تر د | راختلو | د صبا پورے ده

الله یادوی هغوی ته سلام کوی دا شپه د صبا د راختلو پورے د امن او سلامتي والا وی۔

آیاتها [٨] **سورة البيّنة مدنيّة** رکوعها [١]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

لَمْ يَكُنِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ وَالْمُشْرِكِيْنَ

نه وو | هغه خلق | چه کفر ئے کړے دے | د اهل کتابو نه | او مشرکان

کافرانو خلقو یعنی اهل کتابو او مشرکانو طلب د بعثت د رسول نه پرینښودلو تر دے چه

مُنْفَكِّيْنَ حَتّٰى تَاْتِيَهُمُ الْبَيِّنَةُ ۝١ رَسُوْلٌ مِّنَ اللّٰهِ يَتْلُوْا

پریښودونکی | تر دے | چه راغے دوی ته | ښکاره دلیل | پیغمبر | د الله (د طرف نه) | چه لولی

هغه واضحه دلیل ورته راغے یعنی د الله رسول چه پاکیزه صحیفے ورته لولی

صُحُفًا مُّطَهَّرَةً ﴿٢﴾ فِيهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ ﴿٣﴾ وَمَا تَفَرَّقَ

صحيفې | پاکې | چه په هغې کښې دي | حکمونه (مضمونونه) | مضبوط (درست) | اوله دي وړلې وړلې هوسې

چه په هغې کښې محکم آياتونه (حکمونه) ليکلي شوي دي او اهل کتابو هم

الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتٰبَ إِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَةُ ﴿٤﴾

هغه کسان | چه ورکړے شوے وو | کتاب | مګر | پس د دے نه | چه راغلے دوي ته | واضحه دليل

د ښکاره دليل د راتلو نه پس جدا لاره اختيار کړه حالانکه دوي ته هم

وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللّٰهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ ﴿٥﴾

او حکم نه وو شوے دوي ته | مګر | د دے چه عبادت او کړي دوي | د الله | چه خالص کوونکي به وي | هغه لره | دين

دا حکم شوے وو چه د الله عبادت د دے دا سے او کړي چه بندګي هغه لره خالص کړي (او)

حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوا الزَّكٰوةَ وَذٰلِكَ دِينُ

(او) چه يو مخيز به وي | او پابندي به کوي | د مانځه | او ورکوي به | زکات | او دا دے | دين

د باطل نه حق ته راواوړي او د مانځه پابندي وکوي او زکات وورکوي هم دا رښتينے دين دے

الْقَيِّمَةِ ﴿٥﴾ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتٰبِ وَالْمُشْرِكِينَ

مضبوط | بيشکه | هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | د اهل کتابو نه | او مشرکانو نه

يقيناً کافران يعنې اهل کتاب او مشرکان به هميشه هميشه د پاره

فِي نَارِ جَهَنَّمَ خٰلِدِينَ فِيهَا أُولٰئِكَ هُمْ شَرُّ الْبَرِيَّةِ ﴿٦﴾

وي به په اور | د دوزخ کښې | هميشه به وي | په هغې کښې | هم دا خلق | دوي دي | بدترين | د مخلوق نه

د دوزخ په اور کښې پراته وي هم دا خلق د ټول مخلوق نه بد تر دي

إِنَّ الَّذِينَ اٰمَنُوا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ أُولٰئِكَ هُمْ خَيْرُ

يقيناً | هغه کسان | چه ايمان ئے راوړے دے | او عملونه ئے کړي دي | نيک | هم دا خلق | دوي دي | بهترين

يقيناً چا چه ايمان راوړے دے او نيک عملونه ئے کړي دي هم دا په ټول مخلوق کښې بهترين خلق دي

الْبَرِيَّةِ ﴿٧﴾ جَزَاؤُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِي

د ټول مخلوق نه | بدله د دوي | د خپل رب سره | جنتونه | د هميشه دي | چه بهيږي به

د دوي بدله د خپل رب سره دا سے د هميشه اوسيدو جنتونه دي چه

مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ خٰلِدِينَ فِيهَا أَبَدًا رَضِيَ اللّٰهُ

د لاندې نه د هغې نه | نهرونه | هميشه به وي | په هغې کښې | هميشه | خوشحاله به وي | الله

لاندې ئے به ترې نهرونه بهيږي (او) دوي به په هغې کښې هميشه هميشه اوسيږي الله تعالیٰ به د دوي نه

عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهُ ﴿٨﴾

دوي نه | او دوي به خوشحاله وي | د هغه نه | دا دي | د هغه چا د پاره | چه ويريږي | د خپل رب نه

خوشحاله وي او دوي به د هغه خوشحاله وي دا هر څه د هغه چا د پاره دي چه د خپل رب نه ويريږي

آیاتها [۸]	سورة الزلزال مدنيّة	رکوعها [۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډېر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا ۝١ وَأَخْرَجَتِ الْأَرْضُ أَثْقَالَهَا ۝٢

هرکله | چه اوخوزولے شی | زمکه | په خوزولو دهغے سره | او راوباسی | زمکه | بوجونه خپل

کله چه په زمکه باندې سخته زلزله راشی (او جر قولے شی) او زمکه خپل بوجونه بهر راوغورزوی

وَقَالَ الْإِنْسَانُ مَا لَهَا ۝٣ يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا ۝٤

او اوبه وائی | انسان | چه څه اوشو | په دے | په دغه ورځ | بیانوی به دا | خبرونه (حالات) خپل

او انسان به اووائی چه دا په دے څه اوشو؟ په دغه ورځ به زمکه خپل ټول حالات بیان کړی

بِأَنَّ رَبَّكَ أَوْحَىٰ لَهَا ۝٥ يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا ۝

ځکه چه | ستا رب به | حکم اوکړی | دے ته | په دغه ورځ | بهر به راوځی | خلق | ډلے ډلے

ځکه چه ستا رب به ورته هم دا حکم کړے وی په دغه ورځ به خلق ډلے ډلے راووځی

لِّيُرَوْا أَعْمَالَهُمْ ۝٦ فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ

چه اوښودلے شی دوی ته | عملونه خپل | پس چا چه | اوکړه | په اندازه | د درے

چه خپل عملونه ورته اوښودلے شی نو (پس) چا چه د یو درے برابر

خَيْرًا يَرَهُ ۝٧ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ ۝٨

څه نیکی | (نو) اوبه وینی هغه | او چا | چه اوکړه | په اندازه | د درے | څه بدی | (نو) اوبه وینی هغه

څه نیکی کړی وی هغه به هم اووینی او چا چه د یو درے برابر څه گناه کړی وی هغه به هم اووینی.

آیاتها [۱۱]	سورة العٰديٰت مكيّة	رکوعها [۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډېر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

وَالْعٰدِيٰتِ ضَبْحًا ۝١ فَالْمُوْرِيٰتِ قَدْحًا ۝٢ فَالْمُغِيْرٰتِ

قسم دے په منډه وهونکو اسونو | چه شنهېږی | بیا قسم دے په اور ویستونکو اسونو په سمو وهلو سره | بیا قسم دے په حمله کوونکو اسونو

قسم دے په هغو اسونو چه منډے وهی او شنهېږی (شنهېږی) بیا (هغه) چه په خپلو سمو وهلو سره داور بسری الوځوی بیا د

صُبْحًا ۝٣ فَاَثَرْنَ بِهٖ نَقْعًا ۝٤ فَوَسَطْنَ بِهٖ جَمْعًا ۝٥

په وخت د صبا کښې | نو راوچتوي | په هغې سره | دوړې | بیا ورننوځي | په هغې سره | په ډله کښې

سحر په وخت کښې په دشمن باندې حمله کوي بیا په هغې سره دوړې راپورته کړي بیا هم په هغه وخت د دشمن په ډلبګر کښې ورننوځي

اِنَّ الْاِنْسَانَ لِرَبِّهٖ لَكَنُوْدٌ ۝٦ وَاِنَّهٗ عَلٰى ذٰلِكَ لَشَهِيْدٌ ۝٧

چه یقینا | انسان | د خپل رب | ډیر ناشکره دے | او بیشکه دے | په دے (کار) | خامخا ګواه دے

چه یقینا انسان د خپل رب ډیر ناشکره دے او دے پخپله د دے خبرے ګواه (هم) دے

وَاِنَّهٗ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيْدٌ ۝٨ اَفَلَا يَعْلَمُ اِذَا بُعْثِرَ

او بیشکه دے | په مینه | د مال کښې | خامخا ډیر سخت دے | آیا نو دے نه پوهیږي | کله به چه | راپاڅولے شي

او حقیقت دا دے چه دے د مال په مینه کښې ډیر کلک (سخت) دے آیا دے هغه وخت نه پیژني کله به چه

مَا فِى الْقُبُوْرِ ۝٩ وَحُصِّلَ مَا فِى الصُّدُوْرِ ۝١٠

هغه څوک | چه په قبرونو کښې دي | او را ښکاره به کړے شي | هغه څه | چه په سینو کښې دي

د قبرونو نه مړي راپاڅولے شي او په سینو کښې چه څه دي هغه به را ښکاره کړے شي یقینا

اِنَّ رَبَّهُمْ بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّخَبِيْرٌ ۝١١

بیشکه | رب د دوي | په دوي باندے | په دغه ورځ | خامخا پوره خبر دے |

د دوي رب په دغه ورځ د دوي (د حالت) نه پوره خبر دے.

آیاتها [١١]	سورة القارعة مكّيّة	ركوعها [١]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم.

اَلْقَارِعَةُ ۝١ مَا الْقَارِعَةُ ۝٢ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الْقَارِعَةُ ۝٣

(هغه) زړه ټکوونکے (عذاب) | څه دے | هغه ټکوونکے (عذاب) | او ته څه پوهه کړے | چه څه دے | زړه ټکوونکے (عذاب)

زړونه ټکوونکے (واقعه را یاده کړه) هغه زړه ټکوونکے واقعه څه څیز دے او تا له څه پته ده چه هغه زړونه ټکوونکے واقعه څه شے دے؟

يَوْمَ يَكُوْنُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوْثِ ۝٤ وَتَكُوْنُ الْجِبَالُ

په دغه ورځ | شي به | خلق | په شان د پتنګانو | خوَرو وَرو | او شي به | غرونه

په دغه ورځ به ټول خلق د خوَرو وَرو پتنګانو په شان شي او غرونه به د شینډلي شوي

كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوْشِ ۝٥ فَاَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهٗ ۝٦

په شان د (رنګینې) وړۍ | شینډلے شوے | پس هغه څوک | چه درنے شوے | تلے د هغه

(د تلیت شوے) رنګینې وړۍ په شان شي نو د چا تله (د عمل) چه درنے راوخیژي

فَهُوَ فِيْ عِيْشَةٍ رَّاضِيَةٍ ۝ وَاَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ ۝

نو وی به هغه | په ژوند | خوشحاله (غوره) کښې | او هغه څوک | چه سپکے شوے | تلے د هغه

نو هغه به ښه په مزو (دخوشئ په ژوندگئ) کښې وی او د چا (دعمل) تله چه سپکے راوخیژی

فَاُمُّهٗ هَاوِيَةٌ ۝ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا هِيَهْ ۝ نَارٌ حَامِيَةٌ ۝ ع

نو د هغه ځائ به | هاویه وی | او څه پوهه کړے ته | چه هغه څه شے دے؟ | هغه اور دے | سخت گرم

نو د هغه ځائ هاویه دے او تاته څه پته ده چه هاویه څه شے دے؟ دا یو گرم اور دے.

رکوعها [۱]	سورة التكاثر مكّيّة	آیاتها [۸]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم.

اَلْهٰىكُمُ التَّكَاثُرُ ۝ حَتّٰى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ ۝ كَلَّا

غافله کړی یئ تاسو | ډیر والی (د مال په یو بل باندے) | تر دے | چه ورسیدئ تاسو | مقبرو ته | هر گز داسے نه ده پکار

تاسو په یو بل باندے (د مال د) ډیر والی حرص غافله کړی یئ تر دے چه قبرستان ته اورسیدئ گوره

سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۝ ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۝ كَلَّا

ډیر زر به | تاسو پوهه شئ | بیا | هر گز داسے نه ده پکار | ډیر زر به | تاسو پوهه شئ | یقیناً

ډیر زر به تاسو پوهه شئ بیا گوره ډیر زر به تاسو ته پته اولگی یقیناً که تاسو په علم یقینی سره پوهه لرے

لَوْ تَعْلَمُوْنَ عِلْمَ الْيَقِيْنِ ۝ لَتَرَوُنَّ الْجَحِيْمَ ۝ ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا

که چرے | تاسو پوهه لرئ | په یقینی پوهه | خامخا تاسو به اووینئ | دوزخ | بیا | خامخا تاسو به اووینئ دا

نو تاسو به خامخا جهنم د لرے نه په دنیا کښې اووینئ او بیا به دیقین په سترگو یعنی په مشاهدے سره

عَيْنَ الْيَقِيْنِ ۝ ثُمَّ لَتُسْئَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيْمِ ۝ ع

د یقین په سترگو | بیا | خامخا تاسو نه به تپوس کیږی | په دغه ورځ | د نعمتونو په باره کښې

خامخا جهنم لره اووینئ په آخرت کښې او بیا به ستاسو نه په دغه ورځ د نعمتونو باره کښې خامخا تپوس کیږی.

رکوعها [۱]	سورة العصر مكّيّة	آیاتها [۳]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم.

وَالْعَصْرِ ۝١ إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ ۝٢ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا

قسم دے پہ زمانہ (مانام) | بیشکه | انسان | خامخا په تاوان کښې دے | مګر | هغه کسان | چه ایمان یې راوړے دے

په زمانے قسم دے چه یقیناً انسان په لوئے تاوان کښې دے سوا د هغه خلقو نه چه ایمان یې راوړے دے

ع

وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ۝٣

او عملونه یې کړی دی | نیک | او وصیت یې کړے دے یو بل ته | د حق | او وصیت یې کړے دے یو بل ته | د صبر کولو

او نیک عملونه یې کړی دی او یو بل ته یې د حق د منلو نصیحت کړے دے او یو بل ته یې د صبر کولو نصیحت کړے دے۔

آیاتها [۹]	سورۃ الھمزۃ مکیّۃ	رکوعها [۱]

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

شروع په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

شروع په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ ۝١ الَّذِي جَمَعَ مَالًا وَعَدَّدَهُ ۝٢

تباهي ده | د هر | پیټی شا غیبت کوونکی | مخامخ طعنه کوونکی دپاره | هغه کس | چه جمع کوی | مال | او شماری هغه

د هر هغه چا دپاره لویه تباهي (خرابي) ده چه پیټی شا په خلقو عیبونه لګوی او مخامخ پیغورونه ورکوی دا هغه کس دے چه

يَحْسَبُ أَنَّ مَالَهُ أَخْلَدَهُ ۝٣ كَلَّا لَيُنبَذَنَّ

ګمان کوی | چه بیشکه | مال د ده به | همیشه او ساتلی د ده لره | هرګز داسے نه ده | خامخا به اوغورزولے شی

مال راجمع کوی او بیا یې شماری دا خیال کوی چه د ده مال به د ده سره همیشه وی هیڅ چرے نه هغه به په

فِي الْحُطَمَةِ ۝٤ وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْحُطَمَةُ ۝٥

په حطمه کښی | او ته څه پوهه کړے | چه څه خبره دے | حطمه

حطمه اور کښی خامخا غورزولے شی او تا ته څه پته ده چه حطمه څه شے دے

نَارُ اللَّهِ الْمُوقَدَةُ ۝٦ الَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى الْأَفْئِدَةِ ۝٧

دا اور | د الله دے | بل کړے شوے | هغه | چه ورخیژی به | په زړونو باندے

دا د الله تعالیٰ بل کړے شوے هغه اور دے چه په زړونو به ورخیژی (اودوی به)

ع

إِنَّهَا عَلَيْهِم مُّؤْصَدَةٌ ۝٨ فِي عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍ ۝٩

بیشکه دا به وی | په دوی باندے | راټول کړے شوے | په ستنو | اوږدو کښی |

دا اور به اوږدو اوږدو ستنو کښی راګیر کړے شوی وی، دا اور به په دوی د هر طرف نه راټول کړے شوے وی

آیاتها [٥]	سورة الفِیل مکّیّة	رکوعها [١]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

خاص په نوم	د الله	چه ډیر مهربان	زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

اَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِاَصْحٰبِ الْفِيْلِ ۝١ اَلَمْ يَجْعَلْ

آیا ته نه گورے	چه څنګه	کار کړے وو	رب ستا	د هاتیانو والا سره	آیا وے نه ګرځو

ته په طور د تعجب نه ګورے چه ستا رب د هاتیانو والا سره څنګه سلوک اوکړو آیا هغه د دوی

كَيْدَهُمْ فِيْ تَضْلِيْلٍ ۝٢ وَّاَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا اَبَابِيْلَ ۝٣

چل ول د هغوی	بیکاره	او رالیږلی	په هغوی باندے	مارغان	ولے ولے

تدبیرونه (چلونه) ناکامه (بیکاره) نه کړل؟ او په هغوی باندے ئے ولے ولے مرغۍ راپرېښودلے

تَرْمِيْهِمْ بِحِجَارَةٍ مِّنْ سِجِّيْلٍ ۝٤ فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّاْكُوْلٍ ۝٥

چه ویشتل به ئے هغوی	په کاڼرو	کوم څه کړے شوو له پخو کیږي	لو کړل ئے هغوی	په شان د بوسو	خوړل شوو

چه د خاورو په پخو کاڼرو به ئے ویشتل نو داسے ئے کړل لکه خوړل شوی بوس۔

آیاتها [٤]	سورة قُریش مکّیّة	رکوعها [١]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

خاص په نوم	د الله	چه ډیر مهربان	زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

لِاِيْلٰفِ قُرَيْشٍ ۝١ اٖلٰفِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَآءِ وَالصَّيْفِ ۝٢

تعجب دے په مینه د قریشو	مینه د هغوی	د سفر	د ژمی	او اوړی سره

تعجب پکار دے په قریشو چه ډیر سره د مره مینه کوی چه د ژمی او د اوړی سفر سره عادت شوی دی

فَلْيَعْبُدُوْا رَبَّ هٰذَا الْبَيْتِ ۝٣ الَّذِيْٓ اَطْعَمَهُمْ

نو پکار دے چه هغوی عبادت او کړی	د رب	د دے	کور	هغه (رب)	چه خوراک ئے ورکړے دے دوی له

لو دوی له پکار دہ چه دوی عبادت او کړی د هغه رب (مالک) چه هغه د لوږے په حالت کښې دوی

مِّنْ جُوْعٍ ۝٤ وَّاٰمَنَهُمْ مِّنْ خَوْفٍ ۝٥

	د لوږے نه	او امن ئے ورکړے دے دوی له	د یرے نه	

ماړه کړی دی (دوی له ئے خوراک ورکړے دے) او د یرے امان نه ئے محفوظ کړی دی.

آیاتها [٧] | سورة الماعون مكية | ركوعها [١]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

اَرَءَيْتَ الَّذِىْ يُكَذِّبُ بِالدِّيْنِ ۞١ فَذٰلِكَ الَّذِىْ

آیا تا لیدلے دے | هغه کس | چه دروغژن گنړي | دین لره | نو دا | هغه کس دے

آیا تا هغه کس لیدلے دے چه دین دروغژن گنړي؟ نو دا هغه کس دے

يَدُعُّ الْيَتِيْمَ ۞٢ وَلَا يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ ۞٣

چه دیکے ورکوي | یتیم ته | او نه راتیزوي (خلق) | په خوراک | د مسکین باندې

چه یتیم ته دیکے ورکوي او مسکین ته د خوراک ورکولو ترغیب (قدرے هم) نه ورکوي

فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّيْنَ ۞٤ الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ ۞٥

نو تباهي ده | د مونځ کوونکو دپاره | هغه کسان | چه هغوي | د خپل مانځه نه | بے خبره دي

نو (بیا) داسے مونځ گزار د تباه شي چه هغوي د خپلو مونځونو نه بے خبره (غافله) دي

الَّذِيْنَ هُمْ يُرَآءُوْنَ ۞٦ وَيَمْنَعُوْنَ الْمَاعُوْنَ ۞٧ ع

هغه کسان | چه هغوي | ریاکاري کوي | او منع کوي | د عام ضرورت څیزونه

یعنې داهغه خلق (دي) چه هغوي په خپلو عملونو کښې ریاکاري کوي او د معمولي (عام د ضرورت) څیز دورکولو نه هم انکار کوي.

آیاتها [٣] | سورة الكوثر مكية | ركوعها [١]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

اِنَّآ اَعْطَيْنٰكَ الْكَوْثَرَ ۞١ فَصَلِّ لِرَبِّكَ

بے شکه | مونږ درکړي دي تاته | کوثر (ډیر د فائدې څیز) | نو مونځ کوه | د خپل رب دپاره

اے نبی! یقین او کړه چه مونږ تاته ډیر لوئے خیر (کوثر) درکړے دے نو (اوس) ته د خپل رب دپاره مونځ کوه

وَانْحَرْ ۞٢ اِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْاَبْتَرُ ۞٣ ع

او قرباني کوه | بیشکه | دشمن ستا | هم هغه دے | بے خبره (بے نامه)

او قرباني کوه (او) یقین اوکړه چه ستا دشمن به بے نومه وي

آیاتها [٦]	سورة الكٰفرون مكيّة	ركوعها [١]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

قُلْ يٰۤاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ ۝١ لَاۤ اَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ ۝٢ وَلَاۤ اَنْتُمْ

اووایه | اے کافرانو | زه عبادت نه کوم | دهغه څه | چه تاسو ئے عبادت کوئ | او نه تاسو

(اے نبیؐ! کافرانو ته) اووایه! چه اے کافرانو! زه دهغه څیز عبادت نه کوم چه تاسو ئے عبادت کوئ او نه تاسو

عٰبِدُوْنَ مَاۤ اَعْبُدُ ۝٣ وَلَاۤ اَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدْتُّمْ ۝٤

عبادت کوونکی یئ | دهغه څه | چه زه ئے عبادت کوم | او نه یم زه | عبادت کوونکے | دهغه څه | چه تاسو ئے عبادت کوئ

دهغه چا عبادت کوئ چه زه ئے عبادت کوم او نه زه آئنده دهغه څیز عبادت کوونکے یم چه تاسو ئے عبادت کوئ

وَلَاۤ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَاۤ اَعْبُدُ ۝٥ لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ ۝٦ ع

او نه تاسو | عبادت کوونکی یئ | دهغه څه | چه زه ئے عبادت کوم | ستاسو دپاره | ستاسو دین دے | او زما دپاره | زما دین دے

او نه تاسو آئنده دهغه چا عبادت کوونکی یئ چه زه ئے عبادت کوم ستاسو دپاره ستاسو دین دے او زما دپاره زما دین دے۔

آیاتها [٣]	سورة النصر مدنيّة	ركوعها [١]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ ۝١ وَرَاَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُوْنَ

هر کله | چه راشی | مدد | د الله | او فتح | او ته اووینے | خلق | چه داخلیږی

اے نبیؐ! کله وخت چه د الله تعالیٰ مدد او فتح راشی او ته خلق اووینے چه د الله په دین کښې ډلے ډلے داخلیږی

فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ اَفْوَاجًا ۝٢ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ

په دین | د الله کښې | ډلے ډلے | نو پاکی بیانوه | سره د حمد | د رب خپل | او بخښنه غواړه دهغه نه

نو د خپل رب د حمد سره سره د هغه پاکی بیانوه او بخښنه ترے غواړه

اِنَّهٗ كَانَ تَوَّابًا ۝٣ ع

| بیشکه هم هغه | دے | بنه توبه قبلوونکے |

یقین اوکړه چه هغه ډیر معافی کوونکے دے۔

آیاتها [٥] | سورة اللّهب مكّيّة | ركوعها [١]

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

تَبَّتۡ يَدَاۤ اَبِىۡ لَهَبٍ وَّتَبَّ ؕ مَاۤ اَغۡنٰى عَنۡهُ مَالُهٗ

هلاك شول | دواړه لاسونه | د ابو لهب | او هلاك دِ شی | پکار رانغے | د هغه | مال د هغه

د ابولهب لاسونه دِ مات شی او هغه دِ هلاك شی ، نه خو ئے مال پکار رانغے

وَمَا كَسَبَ ؕ سَيَصۡلٰى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ۚ ۖ وَّامۡرَاَتُهٗ ؕ

او هغه څه | چه ګټلی ئے وو | ډیر زر به داخل شی | اُور ته | د لمبو والا | او ښځه د هغهٔ (هم)

او نه هغه څه چه ګټلی ئے وو ډیر زر به هغه د لمبو والا اور ته داخل شی او ښځه به (ئے هم داخله شی)

حَمَّالَةَ الۡحَطَبِ ۚ فِىۡ جِيۡدِهَا حَبۡلٌ مِّنۡ مَّسَدٍ ٪ ع

راوچتوونکے | د لرګو ده | د هغے په څټ کښې به وی | رسۍ | د قجورو د پوستکی

چه خشاك ئے اوچت کړے ګرځی د هغے په غاړه کښې به یوه مضبوطه غښتلی رسۍ وی۔

آیاتها [٤] | سورة الإخلاص مكّيّة | ركوعها [١]

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

قُلۡ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ۚ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ۚ لَمۡ يَلِدۡ ۙ

ته اووایه! | هغه | الله | اِك یو دے | الله | بے حاجته دے | نه ئے اولاد زیږولے دے

اے نبیؐ (خلقو ته) اووایه چه الله اِك یو دے (داسے ذات دے) چه ټول د هغه محتاج دی او هغه د چا محتاج نه دے

وَلَمۡ يُوۡلَدۡ ۙ وَلَمۡ يَكُنۡ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ٪ ع

او نه هغه زیږولے شوے دے | او نشته | د هغهٔ | برابر | هیڅ څوك

نه د هغه اولاد شته او نهٔ هغه د چا اولاد دے او هیڅ څوك د هغهٔ برابر نشته۔

آیاتها [٥] | سورة الفلق مكية | ركوعها [١]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ۙ﴿١﴾ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ۙ﴿٢﴾

ته ووایه | زه پناه غواړم | په رب | د رڼاکاره کولو | د شر | د هغه څه نه | چه هغه پیدا کړی دی

اے نبیؐ ووایه چه زه د هغه مالک پناه غواړم چه رڼاکاره کول د څیزونو کوی د هر هغه څیز د شر نه چه هغه پیدا کړی دی

وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ اِذَا وَقَبَ ۙ﴿٣﴾ وَمِنْ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ

او د شر | د تیارے د شپے نه | کله چه | هغه راخوره شی | او د شر | د پو کوونکو ښځو نه

او د تورے شپے د تیارے د شر نه (پناه غواړم) چه کله راخوره شی او په غوټو کښې د پو کوونکو د شر نه

(ع) فِی الْعُقَدِ ۙ﴿٤﴾ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ ﴿٥﴾

په غوټو کښې | او د شر | د حسد کوونکی نه | کله چه | هغه حسد کوی

پناه غواړم او حسدګر چه کله حسد شروع کړی د هغهٔ د شر نه پناه غواړم۔

آیاتها [٦] | سورة الناس مكية | ركوعها [١]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کوونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ۙ﴿١﴾ مَلِكِ النَّاسِ ۙ﴿٢﴾ اِلٰهِ النَّاسِ ۙ﴿٣﴾

ته ووایه | زه پناه غواړم | په رب | د خلقو | په بادشاه | د خلقو | په معبود | د خلقو

اے نبیؐ ووایه چه زه د ټولو خلقو د رب پناه غواړم د ټولو خلقو د بادشاه (پناه غواړم) د ټولو خلقو د معبود (پناه غواړم)

مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ ۙ الْخَنَّاسِ ۙ﴿٤﴾ الَّذِیْ یُوَسْوِسُ

د شر | د ډیرو وسوسو اچونکی | پټیدونکی نه | هغه | چه وسوسے اچوی

د هغه وسوسے اچونکی د شر نه چه وروستو کیږی (پټیږی) او د خلقو په سینو کښې

(ع) فِیْ صُدُوْرِ النَّاسِ ۙ﴿٥﴾ مِنَ الْجِنَّةِ وَ النَّاسِ ﴿٦﴾

په سینو | د خلقو کښې | د پیریانو | او د انسانانو نه

وسوسے اچوی د پیریانو نه وی او کهٔ د انسانانو نه وی۔

الحمدلله تمت ترجمة هذا الجزء الأخير بتوفيق الله وفضله يوم السبت ٢٩ أگست ٢٠١٥ الموافق ١٤ ذي القعدة ١٤٣٦ قبل صلاة الظهر بجامعة تبليغ القرآن — اللهم وفقنا لإتمام نشره كما وفقتنا لابتدائه.

دعاء ختم القرآن

صدق الله العلي العظيم ۝ وصدق رسوله النبي الكريم ۝ ونحن على ذلك من الشاهدين ۝
ربنا تقبل منا انك انت السميع العليم ۝ اللهم ارزقنا بكل حرف من القرآن حلاوة وبكل
جزء من القرآن جزاء اللهم ارزقنا بالالف الفة وبالباء بركة وبالتاء توبة وبالثاء ثوابا
وبالجيم جمالا وبالحاء حكمة وبالخاء خيرا وبالدال دليلا وبالذال ذكاء وبالراء رحمة
وبالزاء زكوة وبالسين سعادة وبالشين شفاء وبالصاد صدقا وبالضاد ضياء وبالطاء
طراوة وبالظاء ظفرا وبالعين علما وبالغين غنى وبالفاء فلاحا وبالقاف قربة و
بالكاف كرامة وباللام لطفا وبالميم موعظة وبالنون نورا وبالواو وصلة وبالهاء
هداية وبالياء يقينا ۔ اللهم انفعنا بالقرآن العظيم ۝ وارفعنا بالآيات والذكر الحكيم ۝
وتقبل منا قراءتنا وتجاوز عنا ما كان في تلاوة القرآن من خطا او نسيان او تحريف
كلمة عن مواضعها او تقديم او تاخير او زيادة او نقصان او تاويل على غير ما انزلته
عليه او ريب او شك او سهو او سوء الحان او تعجيل عند تلاوة القرآن او كسل او سرعة
او زيغ لسان او وقف بغير وقوف او ادغام بغير مدغم او اظهار بغير بيان او مد او
تشديد او همزة او جزم او اعراب بغير ما كتبه او قلة رغبة ورهبة عند آيات
الرحمة او آيات العذاب فاغفر لنا ربنا واكتبنا مع الشاهدين ۝ اللهم نور قلوبنا بالقرآن
وزين اخلاقنا بالقرآن ونجنا من النار بالقرآن وادخلنا في الجنة بالقرآن اللهم اجعل
القرآن لنا في الدنيا قرينا وفي القبر مونسا وعلى الصراط نورا وفي الجنة رفيقا ومن
النار سترا وحجابا والى الخيرات كلها دليلا فاكتبنا على التمام وارزقنا اداء بالقلب
واللسان وحب الخير والسعادة والبشارة من الايمان ۝ وصلى الله تعالى على خير
خلقه محمد مظهر لطفه ونور عرشه سيدنا محمد وآله واصحابه اجمعين
وسلم تسليما كثيرا كثيرا ابدا

قاری فضل کریم عارف

فارغ التجوید مدرسہ دار القراء جامعہ اشرفیہ پشاور
فارغ التحصیل وفاق المدارس پاکستان
ایم اے اسلامیات پشاور یونیورسٹی
[illegible] اوقاف صوبہ خیبر پختونخواہ

تاریخ 1/11/2-18

باسمہ تعالی

تصحیح نامہ

بندہ نے زیر نظر پشتو ترجمہ قرآن موسومہ "تعلیم الکتاب" کا قرآنی متن لفظاً بلفظاً بغرض تصحیح پڑھا، جو اغلاط سامنے آئیں ان کی نشاندہی کی، جن کی درستگی کے بعد بفضلہ تعالی مذکورہ قرآنی متن کتابت، حرکات و علامات سے پاک اور تلاوت کے لئے لائق اعتماد ہے۔

واللہ الموفق للصواب ومنہ الاستمداد والیہ المرجع والمآب

قاری فضل کریم عارف

محکمہ اوقاف، حج، مذہبی و اقلیتی امور حکومت خیبر پختونخوا پشاور



رجسٹریشن سرٹیفکیٹ

تصدیق کی جاتی ہے کہ [illegible] پشاور نے خیبر پختونخوا اشاعت قرآن مجید (اغلاط سے پاک پرنٹنگ اور ریکارڈنگ) ایکٹ 2013 کی دفعہ 8 اور خیبر پختونخوا اشاعت قرآن مجید (اغلاط سے پاک پرنٹنگ اور ریکارڈنگ) رولز 2013 کے ضابطہ 5 کے تحت اپنا مترجم قرآن مجید رجسٹر کروالیا ہے۔

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

محمد ﷺ — احمد ﷺ — حامد ﷺ — محمود ﷺ — قاسم ﷺ

عاقب ﷺ — فاتح ﷺ — شاهد ﷺ — حاشر ﷺ

متقی ﷺ — بشیر ﷺ — داعٍ ﷺ — شافٍ ﷺ — هادٍ ﷺ

ماحٍ ﷺ — منجٍ ﷺ — ناهٍ ﷺ — رسول ﷺ

نبی ﷺ — امی ﷺ — تهامی ﷺ — هاشمی ﷺ — ابطحی ﷺ

عزیز ﷺ — حریص ﷺ — رءوف ﷺ — رحیم ﷺ

طٰه ﷺ — مجتبیٰ ﷺ — طٰس ﷺ — مرتضیٰ ﷺ — متوسط ﷺ

مصطفیٰ ﷺ — یٰس ﷺ — اولیٰ ﷺ — مزمل ﷺ

ولی ﷺ — مدثر ﷺ — متین ﷺ — مصدق ﷺ — طیب ﷺ

ناصر ﷺ — منصور ﷺ — سید ﷺ — آمر ﷺ

حجازی ﷺ — نزاری ﷺ — صادق ﷺ — امین ﷺ — عبداللہ ﷺ

لا اله الا الله محمد ﷺ رسول الله

كليم الله	حبيب الله	نجي الله	صفي الله	خاتم الانبياء
عادل	بارّ	شكور	مقتصد	
رسول الراحة	منير	مبلغ	خطيب	عالم
حق	مبين	مطيع	اول	
اخر	ظاهر	باطن	ناطق	رسول الرحمة
منيب	حكيم	فصيح	مذكر	
مطهر	قريب	خليل	عربي	جواد
صاحب	عادل	شهيد	قائم	
شفيع	مؤمن	مضري	حافظ	غني
حجة	مختار	نور	نبي الرحمة	
رسول الملاحم	جامع	فتاح	امام	قرشي

القرآن الكريم

اشاعت اسلامي كتب پلورنځى

اسحاقزي ماركيټ لاندېني پوړ بوازي خلور لارى جلال آباد ښار

0789514907 , 0770277501 , 0310-8360534

العلم پبلیکیشنز



091-2580325 - 2590315

0333-4833436 / 0322-9241690